کشف الباری
عما فی
صحیح البخاری
تصنیف
حضرت مولانا سلیم اللہ خان
شیخ الحدیث جامعہ فاروقیہ کراچی

كتاب الايمان

په تاليفي لحاظ سره جلد نمبر ۲

تاليف:- صدر وفاق المدارس شيخ الحديث جامعه فاروقيه كراچي
سليم الله خان مدظله العالى
ترتيب وتحقيق:- مولانا نور البشر مدظله العالى
پښتو مترجم:- مولانا شاه فيصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم،

خصوصيات

- د احاديثو تخريج
- د تعليقات بخاري تخريج كول
- د اسماء الرجال مختصر تعارف
- د گرانو لغاتو لغوى صرفى او نحوى حل
- ماقبل باب سره د ربط په باره كښې پوره تحقيق
- د حديث د مختلفو جملو په صورت كښې ترجمه
- د شرحې دهرې خبرې په حاشيه كښې حواله وركول
- د ترجمة الباب مقصد په بيانولو كښې پوره تحقيق
- د مختلفو مذاهب تحقيقى بيان او بيا د مذهب حنفى ترجيح
- د بخارى د اردو او د عربئ د شروحاتو خلاصه او جامع كتاب
- د حديث اطراف بيان چې په بخارى كښې دا حديث په كوم كوم ځائې كښې دې

فهرست مضامين

شمیره	مضمون	صفحه
	(تقريظات الاعلام)	۳۷
	د مرتب درخواست	۳۹

۲- بَابٌ مِنَ الْإِيمَانِ أَنْ يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ

رجال الحديث ۴۲
مسدد بن مسرهد
يحي بن سعيد القطان
قتادة بن دعامه سدوسی
حسين معلم
حضرت انس رضی الله عنه
قوله: لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ: ۴۵
يو اشكال او د هغې جواب ۴۶
دخپل ورور دپاره دخپل خوښ څيزخوښولو څه مطلب دې ۴۶
دحديث پاك يو مقصد ۴۷
دحديث پاك يو بل مطلب ۴۷
د«لايؤمن» مفهوم ۴۷

۷- بَابٌ حُبُّ الرَّسُولِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْإِيمَانِ

رجال الحديث ۴۹
ابو الزناد عبدالله بن ذكوان مدنى قرشى
عبدالرحمن بن هرمز اعرج مدنى قرشى
يعقوب بن ابراهيم دورقى
ابن عليه
③ عبدالعزيز بن صهيب: ۵۱
دحديث شرح ۵۱
په حديث پاك كښې د قسم صيغه راوړلو وجه ۵۲
محبت معنى او ددې قسمونه ۵۲
حضرت ابوبكر صديق ﷺ واقعه ۵۴

صفحه | مضمون | شمیره

حضرت عبدالله بن عبدالله بن أبی رضی الله عنه واقعه ۵۴
دحضرت عبدالله بن زیدبن عبد ربه واقعه ۵۵
دحضرت عبدالله بن حذافه سهمی رضی الله عنه واقعه ۵۵
دحضرت خبیب رضی الله عنه واقعه ۵۶
دیوې صحابیه واقعه ۵۶
د والد او ولد دتخصیص اوپه یوبل باندې دتقدیم وجه ۵۷
دوالد په مفهوم کښې ام دخول ۵۸
په حدیث کښې د والد او ولد سره د خپل نفس ذکر ولې نشته؟ ۵۸
آیا په حدیث کښې دمحبت نه مراد تعظیم دې؟ ۵۸
دشیخ ابوالخراز رحمه الله واقعه ۵۸
دحضرت عمر رضی الله عنه واقعه، په هغې اشکال اودهغې جواب ۵۹

۸= بَاب حَلَاوَةِ الْإِيمَانِ

دترجمه مقصود اودماقبل سره ربط ۶۱
قوله: ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ: ۶۳
فائده: ۶۳
دحلاوت نه حسی حلاوت مراد دې که معنوی؟ ۶۳
دحضرت گنگوهی رحمه الله دخپل مرشدپه نوم خط ۶۴
دحلاوت نه حسی مراد اخستل زیاته غوره ده ۶۴
دحضرت مولانا فضل الرحمن گنج مراد آبادی رحمه الله یوه واقعه ۶۴
قوله: أَنْ يَكُونَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا: ۶۵
په خطیب باندې دانکار وجه ۶۶
قوله: وَأَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ: ۶۹
د نبی کریم صلی الله علیه وسلم محبوبیت ۷۱

۹= بَاب عَلَامَةُ الْإِيمَانِ حُبُّ الْأَنْصَارِ

دماقبل سره ربط ۷۱
په ترجمة الباب باندې یواعتراض اودهغې جواب اود ترجمة مقصود ۷۲
رجال الحدیث
ابوالولید هشام بن عبدالملک

Scanned with

شميره	مضمون	صفحه

فائده (طيالسى).. ۷۲

شعبه ۷۳

عبدالله بن عبدالله بن جبر

قوله: آية الإيمان حب الأنصار: ۷۳

انصار ۷۴

آيا دمهاجرينو رضى الله عنهم محبت د ايمان نښه نه ده؟ ۷۵

دانصاروسره محبت دايمان اوبغض دنفاق نښه ده په دې باره کښې ضروری وضاحت ۷۵

دحضرت علی رضي الله عنه اوحضرت معاويه رضي الله عنه په مينځ کښې د اختلاف په نوعيت باندې دلالت

کونکې يوه واقعه ۷۵

باب (بلا ترجمة) ۷۲

په دې مقام کښې د بلا ترجمه باب ذکر کولو مقصد ۷۹

قوله: ابوادريس عائذالله بن عبدالله: ۸۰

قوله: عبادة بن صامت رضي الله عنه: ۸۱

قوله: وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا وَهُوَ أَحَدُ النُّقَبَاءِ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ: ۸۱

دانصاروپخوانې تاريخ ۸۱

دانصارو داسلام راوړلو ابتداء ۸۲

قوله: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ: ۸۴

قوله: عصابة: ۸۴

قوله: بَايِعُونِي: ۸۴

په حديث الباب کښې د ذکرشوی بيعت واقعه کله پيښه شوې وه؟ ۸۵

قوله: عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا: ۸۹

قوله: وَلَا تَسْرِقُوا: ۸۹

قوله: وَلَا تَزْنُوا: ۸۹

قوله: وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ: ۹۰

داولاد دقتل وجه اودقرآن عجيبه طرزبيان ۹۰

قوله: وَلَا تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ: ۹۱

قوله: وَلَا تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ: ۹۲

شميره	مضمون	صفحه

.... ٩٣
اشكال او جواب ٩٤
په حديث كښې د منهياتو په ذكرباندې اكفتاء ولې اوكړې شوه ٩٤
قوله: فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ: ٩٥
قوله: وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ: ٩٥
آيا كه د شرك په وجه چاته د قتل سزا وركړې شى نودا دده دپاره كفاره كيدې شى؟ ٩٧
حدود كفارات دى او كه صرف زواجر؟ ٩٩
دهغه چا دلائل چه حدود كفارات او سواتر گنړى ١٠٠
څوك چه حدودو ته زواجروائى دهغوى دلائل ١٠٣
دحضرت عباده رضي الله عنه وغيره د احاديثونه جوابونه ١٠٤
دحضرت عباده رضي الله عنه او حضرت ابوهريره رضي الله عنه په روايت كښې تعارض او دهغې ازاله ... ١٠٧
دحدود دكفاره كيدو او نه كيدو په باره كښې دحضرت كشميرى رحمه الله قول فيصل ....
قوله: وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَتَرَهُ اللَّهُ فَهُوَ إِلَى اللَّهِ إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَإِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ فَبَايَعْنَاهُ عَلَى ذَلِكَ: ١٠٨

١٠ - بَابٌ مِنَ الدِّينِ الْفِرَارُ مِنَ الْفِتَنِ

د ترجمة الباب مقصد اود ماقبل سره ربط: ١٠٨
رجال الحديث ....
امام مالك بن انس: ١١٠
عبدالرحمن بن عبدالله: ١١٠
تنبيه ١١٠
عبدالله بن عبدالرحمن بن الحارث بن ابى صعصعه ....
حضرت ابوسعيد خدرى رضى الله عنه ....
قوله: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا: ١١٢
شعف ١١٢
قوله: مواقع القطر: ١١٢
د غنم د تخصيص وجه ١١٢
قوله: يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ: ١١٣
د فتنه نه څه مراد دى؟ ١١٣

شميره	مضمون	صفحه
	د فتنو د زماني سره متعلق ارشادات نبوی	۱۱۴
	تنبيه	۱۱۵
	عزلت اوخلوت غوره دې؟ اوكه اختلاط او جلوت؟	۱۱۵

۱۱ - بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَعْلَمُكُمْ بِاللَّهِ وَأَنَّ الْمَعْرِفَةَ فِعْلُ الْقَلْبِ

شميره	مضمون	صفحه
	قوله: لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ﴾:	۱۱۸
	فائده	۱۱۹
	قوله: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَرَهُمْ أَمَرَهُمْ مِنَ الْأَعْمَالِ بِمَا يُطِيقُونَ:	۱۲۲
	قوله: إِنَّا لَسْنَا كَهَيْئَتِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ:	۱۲۳
	دعصمت انبياء مسئله:	۱۲۴
	قوله: إِنَّ اللَّهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ:	۱۲۴
	د ((مَا تَقَدَّمَ وَمَا تَأَخَّرَ)) نه څه مراد دې؟	۱۲۷
	يو سوال او دهغې جواب:	۱۲۸
	چه ټول پيغمبران عليهم السلام معصوم دی نو صرف د نبی ﷺ تخصيص ولې اوكړې شو؟	۱۲۸
	قوله: فَيَغْضَبُ حَتَّى يُعْرَفَ الْغَضَبُ فِي وَجْهِهِ:	۱۲۸
	دغضب وجه:	۱۲۸
	قوله: ثُمَّ يَقُولُ إِنَّ أَتْقَاكُمْ وَأَعْلَمَكُمْ بِاللَّهِ أَنَا:	۱۲۹
	دحديث باب نه مستفاد مسائل:	۱۲۹

۱۲ - بَابُ مَنْ كَرِهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ

شميره	مضمون	صفحه
	أَنْ يُلْقَى فِي النَّارِ مِنَ الْإِيمَانِ	۱۳۰
	په حديث مكرر كيدو باندې اعتراض او ددې جواب:	۱۳۲

۱۳ - بَابُ تَفَاضُلِ أَهْلِ الْإِيمَانِ فِي الْأَعْمَالِ

شميره	مضمون	صفحه
	اولنې بحث د ترجمې غرض	۱۳۲
	دويم بحث:	۱۳۳
	دريم بحث:	۱۳۳
	څلورم بحث	۱۳۴
	پنځم بحث	۱۳۵

شمیره	مضمون	صفحه

قوله: يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ ثُمَّ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى أَخْرِجُوا مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ ۱۴۰
مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ: ۱۴۰
داعمالو وزن ۱۴۲
قوله: فَيُخْرَجُونَ مِنْهَا قَدِ اسْوَدُّوا فَيُلْقَوْنَ فِي نَهَرِ الْحَيَا أَوِ الْحَيَاةِ شَكَّ مَالِكٌ فَيَنْبُتُونَ كَمَا ..... الخ .. ۱۴۳
قوله: قَالَ وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا عَمْرٌو الْحَيَاةِ وَقَالَ خَرْدَلٍ مِنْ خَيْرٍ: ۱۴۳
دوهيب دتعليقي روايت فائده ۱۴۲
قوله: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ عَلَيَّ ... الخ ... ۱۴۸
يوه شبه او د هغې جواب ......

۱۴ - بَابُ الْحَيَاءُ مِنَ الْإِيمَانِ

دما قبل سره ربط ۱۵۰
د ترجمة مقصد ۱۵۱
قوله: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ ۱۵۲
قوله: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ فَإِنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الْإِيمَانِ: ۱۵۳

۱۵ - بَابُ فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ

د ترجمة الباب د حديث سره مناسبت ۱۵۵
د ترجمې مقصد ۱۵۵
تنبيه ۱۵۷
قوله: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا ۱۵۸
يو اشكال او د هغې جواب ۱۵۸
د نبي كريم ﷺ د وفات نه پس د اهل عرب اود دوى د ارتداد صورتونه ۱۵۹
آيا د ذمي او معاهد سره قتال كولې شى؟ ۱۶۱
زنديق او دده حكم ۱۶۴
د تارك صلاة حكم ۱۶۴
د ارتداد د قائلينو دليلونه ۱۶۶
د امام مالك او امام شافعى رحمهما الله استدلال ۱۶۶
داحنافو رحمهم الله استدلال ۱۷۰
دامام احمد او امام شافى رحمهما الله خوندوره مناظره ۱۷۱

شميره	مضمون	صفحه

قوله: إلابحق الإسلام: ۱۷۱

قوله: وحسابهم على الله: ۱۷۲

فائده ۱۷۲

۱۲ - بَاب مَنْ قَالَ إِنَّ الإِيمَانَ هُوَ الْعَمَلُ

دعمل نه څه مراد دي؟ ۱۷۲

د ترجمې مقصد ۱۷۳

جنت ته ميراث ولې وئيلې شوې دې؟ ۱۷۴

په آيت مذكوره او حديث كښې تعارض او ددې دفعيه ۱۷۲

قوله: وَقَالَ عِدَّةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى (فَوَرَبِّكَ لَنَسْئَلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ)

عَنْ قَوْلِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّه: ۱۷۷

تنبيه: ۱۸۰

قوله: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ فَقَالَ إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ حَجٌّ مَبْرُورٌ: ۱۸۰

حج مبرور: ۱۸۱

د حديث شريف د ترجمة الباب سره مطابقت: ۱۸۱

۱۷ - بَاب إِذَا لَمْ يَكُنْ الإِسْلَامُ عَلَى الْحَقِيقَةِ وَكَانَ عَلَى الاِسْتِسْلَامِ أَوْ الْخَوْفِ مِنْ الْقَتْلِ

دامام العصرحضرت علامه انور شاه كشميرى رحمه الله رائې ۱۸۳

دعلامه سندهى رائې ۱۸۴

دشيخ الاسلام شبيراحمد عثمانى رحمه الله رائې ۱۸۵

تنبيه: ۱۹۱

قوله: أن رسول الله ﷺ أعطى رهطاً وسعد جالس: ۱۹۲

قوله: فترك رسول الله ﷺ رجلاً هو أعجبهم إلي: ۱۹۲

قوله: فقلت يارسول الله مالك عن فلان: ۱۹۲

قوله: فوالله إني لأراه مؤمناً: ۱۹۲

قوله: فقال أومسلماً: ۱۹۳

تنبيه ۱۹۴

شمیره	مضمون	صفحه

ایا په دې حدیث سره د حضرت جعیل (رض) نه د ایمان نفي کیږي؟ ۱۹۵
قوله: فَسَكَتُّ قَلِيلًا ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَعْلَمُ مِنْهُ فَعُدْتُ لِمَقَالَتِي فَقُلْتُ مَالَكَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللهِ: ۱۹۵
قوله: ثُمَّ قَالَ يَاسَعْدُ إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ خَشْيَةَ أَنْ يَكُبَّهُ اللهُ فِي النَّارِ: ۱۹۶
دحضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه د اصرار وجه ۱۹۷
د نبی کریم ﷺ د «أومسلماً» ونيلو سره د تردید وجه ۱۹۷
دوه اصلاحات ۱۹۸
قوله: وَرَوَاهُ يُونُسُ وَصَالِحٌ وَمَعْمَرٌ وَابْنُ أَخِي الزُّهْرِيِّ عَنِ الزُّهْرِيِّ: ۱۹۸

۱۸ - بَابُ إِفْشَاءُ السَّلَامِ مِنَ الْإِسْلَامِ

د ترجمې مقصود ۲۰۰
حضرت عماربن یاسر رضي الله عنه ۲۰۱
فضائل اومناقب ۲۰۱
قوله: ثَلَاثٌ مَنْ جَمَعَهُنَّ فَقَدْ جَمَعَ الْإِيمَانَ: ۲۰۲
قوله: الْإِنْصَافُ مِنْ نَفْسِكَ: ۲۰۲
قوله: وَبَذْلُ السَّلَامِ لِلْعَالَمِ: ۲۰۲
قوله: وَالْإِنْفَاقُ مِنَ الْإِقْتَارِ: ۲۰۳
دعماربن یاسر (رض) د اثر تخریج ۲۰۳
قوله: قتیبه بن سعید: ۲۰۴
قوله: أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ: ۲۰۵

۱۹ - بَابُ كُفْرَانِ الْعَشِيرِ وَكُفْرٍ دُونَ كُفْرٍ

دکفرلغوی معنی ۲۰۶
د کفراطلاقات ۲۰۶
یو اشکال اودهغې جواب ۲۰۹
«کفردون کفر» دچاقول دی؟ ۲۱۳
د ترجمې مقصود ۲۱۵
قوله: فِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲۱۵
قوله: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْلَمَةَ: ۲۱۶

شميره	مضمون	صفحه

قوله: عَنْ مَالِكٍ: ۲۱۲
قوله: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ: ۲۱۲
قوله: عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ: ۲۱۷
قوله: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: ۲۱۸
يو اهمه فائده: ۲۱۸
قوله: قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيتُ النَّارَ: ۲۱۹
قوله: فَإِذَا أَكْثَرُ أَهْلِهَا النِّسَاءُ: ۲۱۹
يو اشكال او دهغې جواب: ۲۲۱
قوله: يَكْفُرْنَ: ۲۲۱
قوله: قِيلَ أَيَكْفُرْنَ بِاللهِ؟ ۲۲۲
قوله: قَالَ يَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ: ۲۲۲
قوله: وَيَكْفُرْنَ الْإِحْسَانَ لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ: ... ۲۲۲
په حديث كښې د اختصار مسئله: ۲۲۲

۲۰- بَابُ الْمَعَاصِي مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ وَلَا يُكَفَّرُ صَاحِبُهَا بِارْتِكَابِهَا إِلَّا بِالشِّرْكِ

د ترجمة الباب مقصود: ۲۲۴
د حضرت شيخ الهند رحمه الله رائې: ۲۲۵
يو اشكال او دهغې ازاله: ۲۲۶

۲۱- باب ﴿وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا﴾

قوله: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْمُبَارَكِ: ۲۲۹
قوله: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ: ۲۲۹
قوله: حَدَّثَنَا أَيُّوبُ: ۲۳۰
قوله: وَيُونُسُ: ۲۳۰
قوله: عَنِ الْحَسَنِ: ۲۳۰
قوله: عَنِ الْأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ: ۲۳۳
قوله: قَالَ ذَهَبْتُ لِأَنْصُرَ هَذَا الرَّجُلَ: ۲۳۴
قوله: فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرَةَ: ۲۳۴

شميره	مضمون	صفحه
	....	٢٣٤
	قوله: ابوبكره رضى الله عنه:	٢٤٠
	قوله: فَقَالَ أَيْنَ تُرِيدُ:	٢٤٠
	قوله: قُلْتُ أَنْصُرُ هٰذَا الرَّجُلَ:	٢٤٠
	قوله: قَالَ ارْجِعْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ إلخ:	٢٤٠
	كه په مسلمانانو كښې اختلاف پيداشى نو اعتزال پكاردې او كه يو ډلې سره كيدل؟	٢٤١
	آيا د جمل په واقعه كښې صحابه كرام رضى الله عنهم د دنيوى مقصد د پاره جنگيدل	٢٤١
	دصحابو رضى الله عنهم د مشاجراتو په باره كښې د امت موقف	٢٤٢
	قوله: فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ:	٢٤٣
	قوله: فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هٰذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ:	٢٤٣
	قوله: قَالَ إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ:	٢٤٣
	دقصد مراتب	٢٤٥
	رجال الحديث	
	حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ:	٢٤٦
	حَدَّثَنَا شُعْبَةُ:	٢٤٦
	حَدَّثَنَا واصل الاحدب:	٢٤٦
	عَنِ الْمَعْرُورِ:	٢٤٦
	قَالَ لَقِيتُ أَبَاذَرٍّ:	٢٤٧
	قوله: بِالرَّبَذَةِ:	٢٤٩
	قوله: وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ وَعَلَى غُلَامِهِ حُلَّةٌ:	٢٤٩
	قوله: فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذٰلِكَ:	٢٥٠
	قوله: فَقَالَ إِنِّي سَابَبْتُ رَجُلًا:	٢٥٠
	قوله: فَعَيَّرْتُهُ بِأُمِّهِ:	٢٥١
	قوله: فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَاذَرٍّ أَعَيَّرْتَهُ بِأُمِّهِ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ:	٢٥١
	قوله: إِخْوَانُكُمْ خَوَلُكُمْ:	٢٥٢
	قوله: جَعَلَهُمُ اللّٰهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ:	٢٥٣
	قوله: فَمَنْ كَانَ أَخُوهُ تَحْتَ يَدِهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ:	٢٥٣

شميره	مضمون	صفحه

۲۲ - بَاب ظُلْمٌ دُونَ ظُلْمٍ

د ترجمة الباب مقصد او د ماقبل سره ربط ۲۵۴
حَدَّثَنَا أَبُوالْوَلِيدِ: ۲۵۵
قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ: ۲۵۵
ح قَالَ وحَدَّثَنِي بِشْرٌ: ۲۵۵
دوه اهمې فائدې ۲۵۶
بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ أَبُومُحَمَّدٍ الْعَسْكَرِيُّ: ۲۵۶
قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ: ۲۵۶
عَنْ سُلَيْمَانَ: ۲۵۸
عَنْ إِبْرَاهِيمَ: ۲۵۹
عَنْ عَلْقَمَةَ: ۲۶۱
عَنْ عَبْدِاللّٰهِ: ۲۶۳
فائده ۲۶۶
قوله: قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ﴾ قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ: .. ۲۶۶
د حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم د ویرې سبب ۲۶۷
په آیت کښې د ظلم نه د شرك مراد اخستلو قرینه څه ده؟ ۲۶۷
د آیت د تفسیر په سلسله کښې د معتزلو موقف او د هغې تردید ۲۶۸
د حدیث الباب د ترجمة الباب سره مطابقت ۲۷۲

۲۳ - بَاب عَلَامَةِ الْمُنَافِقِ

د ترجمې مقصود ۲۷۳
حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ أَبُوالرَّبِيعِ: ۲۷۴
قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ: ۲۷۴
قَالَ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ أَبُوسُهَيْلٍ: ۲۷۵
عَنْ أَبِيهِ: ۲۷۵
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: ۲۷۶
قوله عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ: ۲۷۶

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ:	۲۷۷
	قوله: وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ:	۲۷۷
	قوله: وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ:	۲۷۸
	رجال الحديث	
	حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ عُقْبَةَ:	۲۷۸
	قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ:	۲۸۱
	عَنْ الْأَعْمَشِ:	۲۸۲
	عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ:	۲۸۲
	عَنْ مَسْرُوقٍ:	۲۸۳
	قوله: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ.. إلخ:	۲۸۴
	يو اشكال او دهغې جواب:	۲۸۴
	په دواړو حديثونو كښې د ذكرشوى مجموعى ننبو شمار:	۲۸۵
	آيا چه ذكرشوې ننبې په مومن كښې موجود شى نوهغه به حقيقت كښې منافق وى؟	۲۸۲
	قوله: تَابَعَهُ شُعْبَةُ عَنْ الْأَعْمَشِ:	۲۹۱

۲۴ = بَاب قِيَامُ لَيْلَةِ الْقَدْرِ مِنْ الْإِيمَانِ

شمیره	مضمون	صفحه
	د ابواب سابقه سره ربط او مناسبت	۲۹۲
	حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ:	۲۹۳
	قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ:	۲۹۳
	قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ:	۲۹۳
	عَنْ الْأَعْرَجِ:	۲۹۳
	عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه:	۲۹۳
	قوله: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَقُمْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا....الخ:	۲۹۴
	د ليلة القدر وجه تسميه	۲۹۴
	په شرط او جزا كښې د صيغو د اختلاف وجه	۲۹۵
	د ,,مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ،، نه كوم گناهونه مراد دى؟	۲۹۷
	د ترجمة الباب اثبات	۲۹۸

شميره	مضمون	صفحه

۲۵- بَاب الجِهَادُ مِنْ الإِيمَانِ

دذكرشوى باب دماقبل اومابعد بابونوسره تعلق ۲۹۹
حَدَّثَنَا حَرَمِيُّ بْنُ حَفْصٍ: ۳۰۱
قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الوَاحِدِ: ۳۰۱
قَالَ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ: ۳۰۳
قَالَ حَدَّثَنَا أَبُوزُرْعَةَ بْنُ عَمْرِوبْنِ جَرِيرٍ: ۳۰۳
قوله: سَمِعْتُ أَبَاهُرَيْرَةَ رضى الله عنه عن النبى ﷺ قال: ۳۰۴
قوله: انْتَدَبَ اللَّهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ: ۳۰۴
قوله: لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا إِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي: ۳۰۵
قوله: أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْغَنِيمَةٍ أَوْأُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ: ۳۰۵
يو اشكال ۳۰۶
دعلامه كرمانى رحمه الله جواب ۳۰۶
دابن عبدالبر. قرطبى اوتورپشتى رحمهم الله رائي ۳۰۶
دحافظ ابن حجر رحمه الله جواب ۳۰۷
داولنى اشكال صحيح جواب ۳۰۹
د دويم اشكال جواب ۳۰۹
د مشقت وجوه ۳۰۹
قوله: وَلَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ: ۳۱۰
آيا د نبى ﷺ د شهادت تمنا كولو سره د كفر غلبه لازميږى ۳۱۲

۲۶- بَاب تَطَوُّعُ قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ الإِيمَانِ

د ترجمې مقصد ۳۱۲
رجال الحديث ....
حدثنا اسماعيل: ۳۱۳
قال حدثنى مالك: ۳۱۳
عن ابن شهاب: ۳۱۳
عن حميدبن عبدالرحمن: ۳۱۳

شمیره	مضمون	صفحه
	....	۳۱۴
	عن أبی هريرة رضی الله عنه:	
	قوله: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا... الخ:	۳۱۴

۲۷- بَابٌ صَوْمُ رَمَضَانَ احْتِسَابًا مِنَ الْإِيْمَانِ

شمیره	مضمون	صفحه
	د قیام رمضان په صوم رمضان باندې د تقدیم څو وجوه	۳۱۴
	ابن سلام	۳۱۵
	محمد بن فضیل:	۳۱۵
	يحی بن سعيد انصاری	
	ابوسلمه	۳۲۰
	قوله: قال رسول الله ﷺ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيْمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ:	۳۲۲

۲۸- بَابٌ الدِّيْنُ يُسْرٌ وَقَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الدِّيْنِ إِلَى اللّٰهِ الْحَنِيْفِيَّةُ السَّمْحَةُ

شمیره	مضمون	صفحه
	ما قبل سره ربط	۳۲۳
	كتاب الايمان سره ددې باب مناسبت	۳۲۴
	قوله: وَقَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الدِّيْنِ إِلَى اللّٰهِ الْحَنِيْفِيَّةُ:	۳۲۴
	قوله: حنيفية:	۳۲۵
	قوله: السمحة:	۳۲۲
	په بخاری شریف کښې د معلقاتو نوعيت	۳۲۷
	دذکرشوی تعليق تخريج	۳۲۷
	قوله: إِنَّ الدِّيْنَ يُسْرٌ:	۳۳۲
	دين په كوم حيثيت سره آسان دې؟	۳۳۲
	قوله: وَلَنْ يُشَادَّ الدِّيْنَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ:	۳۳۹
	قوله: فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا:	۳۴۲
	قوله: وَأَبْشِرُوا:	۳۴۳
	قوله: وَاسْتَعِينُوا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ:	۳۴۳
	يو اشكال او دهغې جواب	۳۴۴
	بل اشكال او دهغې جواب	۳۴۵

شميره	مضمون	صفحه

۲۹ - بَابُ الصَّلَاةُ مِنَ الْإِيمَانِ وَقَوْلُ اللهِ تَعَالَى: وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ

د ترجمة الباب دماقبل بابونو سره ربط ۳۴۲
دترجمة الباب مقصد ۳۴۲
د آيت كريمه شان نزول ۳۴۷
يواشكال اودهغې جواب ۳۴۸
دحضرت شيخ الهند رحمه الله جواب ۳۴۹
قوله: يَعْنِي صَلَاتَكُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ: ۳۵۲
ددې اشكال څو جوابونه ۳۵۳
تنبيه ۳۶۰
قوله: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَوَّلَ مَا قَدِمَ الْمَدِينَةَ نَزَلَ عَلَى أَجْدَادِهِ: ۳۶۸
قوله: نَزَلَ عَلَى أَجْدَادِهِ أَوْقَالَ أَخْوَالِهِ مِنَ الْأَنْصَارِ: ۳۶۹
د نبى كريم د قرنيكه هاشم د نكاح واقعه ۳۶۹
قوله: وَأَنَّهُ صَلَّى قِبَلَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ عَشَرَ شَهْرًا أَوْسَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا: ۳۷۰
بيت المقدس ته د استقبال موده ۳۷۱
د تحويل قبلې حكم په كومه مياشت كښې راغلې وو؟ ۳۷۳
نبى كريم ﷺ بيت المقدس ته استقبال په قرآنى حكم كړې ووكه په خپل اجتهاد؟ ۳۷۴
اولنې بحث د نسخ د واقع كيدو امكان ۳۷۵
دويم بحث نسخ السنت بالقرآن جائز ده كه نه؟ ۳۷۷
قوله: وَأَنَّهُ صَلَّى أَوَّلَ صَلَاةٍ صَلَّاهَا صَلَاةَ الْعَصْرِ: ۳۷۹
تحويل دقبلې په كوم جمات كښې اوپه كوم مونځ كښې شوې وو؟ ۳۷۹
قوله: وَصَلَّى مَعَهُ قَوْمٌ فَخَرَجَ رَجُلٌ مِمَّنْ صَلَّى مَعَهُ فَمَرَّ عَلَى أَهْلِ مَسْجِدٍ وَهُمْ رَاكِعُونَ: ۳۸۱
نوروخلقو ته دتحويل قبلې خبروركونكې څوك وو؟ ۳۸۱
د دويم جمات نه كوم جمات مراد دې؟ ۳۸۲
يواشكال اودهغې جواب ۳۸۲
تنبيه ۳۸۴
داهل قباء د منسوخ قبلې طرف ته د مونځ د ادا كولوحكم ۳۸۴
په دار الحرب كښې داسلام قبلونكى حكم ۳۸۵

شميره	مضمون	صفحه
	قوله: فَقَالَ أَشْهَدُ بِاللهِ لَقَدْ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ مَكَّةَ فَدَارُوا كَمَا هُمْ	۳۸۵
	قِبَلَ الْبَيْتِ:	۳۸۶
	آيا په مانځه كښې په مخ كرځولو سره عمل كثيرنه راځى؟	۳۸۶
	ديوكس په خبر باندې قطعى قبله پريخودل څنګه جائز شو؟	۳۸۷
	قوله: وَكَانَتِ الْيَهُودُ قَدْ أَعْجَبَهُمْ إِذْ كَانَ يُصَلِّي قِبَلَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ وَأَهْلُ الْكِتَابِ:	۳۸۹
	قوله: فَلَمَّا وَلَّى وَجْهَهُ قِبَلَ الْبَيْتِ أَنْكَرُوا ذَلِكَ:	۳۸۹
	قوله: قَالَ زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ فِي حَدِيثِهِ هَذَا:	۳۹۰
	قوله: أَنَّهُ مَاتَ عَلَى الْقِبْلَةِ قَبْلَ أَنْ تُحَوَّلَ رِجَالٌ وَقُتِلُوا:	۳۹۲
	قوله: فَلَمْ نَدْرِ مَا نَقُولُ فِيهِمْ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى وَمَا كَانَ اللهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ:	۳۹۲
۳۰	بَابُ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ	۳۹۲
	دماقبل سره ربط:	۳۹۳
	د ترجمة الباب مقصد	۳۹۴
	رجال الحديث	۳۹۴
	قَالَ مَالِكٌ:	۳۹۵
	دوه اشكالات اوهغې جوابونه	۳۹۶
	قوله: إِذَا أَسْلَمَ الْعَبْدُ فَحَسُنَ إِسْلَامُهُ يُكَفِّرُ اللهُ عَنْهُ كُلَّ سَيِّئَةٍ كَانَ زَلَفَهَا:	۳۹۶
	قوله: زَلَفَهَا:	۳۹۶
	په حديث باب كښې دامام بخارى رحمه الله تصرف	۳۹۷
	دكتابت حسنه سره د متعلقه حصې حذف كولووجه	۳۹۷
	په طاعاتو، قرباتو، اوعباداتود اجراوثواب ترتب	۳۹۷
	د كفر په زمانه كښې په اعمال حسنه باندې داجراوثواب ترتب خلاف قواعد نه دى	۳۹۸
	دكفردزمانې په نيكو اعمالو داسلام راوړلو نه پس د اجراوثواب دترتب دلائل	۳۹۹
	دكفردزمانې په معاصى او جرائمو به داسلام راوړلونه پس مواخذه وى	۴۰۱
	امام احمد رحمه الله اود دوى د متبعينو (رحمهم الله) دلائل	۴۰۲
	دجمهورود طرفه دذكرشوو دلائلوجواب	۴۰۲
	د جمهورو دلائل	۴۰۴
	قوله: وَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ الْقِصَاصُ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ:	۴۰۵

صفحه	مضمون	شميره
۴۰۵	ايا په نيکئ کښې صرف د اووه سوو پورې زيادت کيږي؟	
۴۰۶	قوله: وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ اللَّهُ عَنْهُ:	
۴۰۷	رجال الحديث	
	اسحاق بن منصور	
	عبدالرزاق بن همام	
	همام بن منبه	
۴۱۲	قوله: إِذَا أَحْسَنَ أَحَدُكُمْ إِسْلَامَهُ فَكُلُّ حَسَنَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةٍ:	

۳۱- بَاب أَحَبُّ الدِّينِ إِلَى اللَّهِ أَدْوَمُهُ

صفحه	مضمون	شميره
۴۱۶	د مخکنی باب سره ددې باب ربط:	
۴۱۷	دترجمة الباب مقصد:	
۴۱۸	رجال الحديث	
۴۲۲	هشام بن عروه:	
۴۲۶	عائشه رضى الله عنها:	
۴۲۶	قوله: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا امْرَأَةٌ:	
۴۲۸	قوله: قَالَ مَنْ هَذِهِ قَالَتْ فُلَانَةُ تَذْكُرُ مِنْ صَلَاتِهَا:	
۴۲۹	قوله: قَالَ مَهْ عَلَيْكُمْ بِمَا تُطِيقُونَ:	
۴۳۰	قوله: فَوَاللَّهِ:	
۴۳۰	قوله: لَا يَمَلُّ اللَّهُ حَتَّى تَمَلُّوا:	
۴۳۲	قوله: وَكَانَ أَحَبَّ الدِّينِ إِلَيْهِ مَا دَامَ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ:	

۳۲ = بَاب زِيَادَةِ الْإِيمَانِ وَنُقْصَانِهِ

صفحه	مضمون	شميره
۴۳۴	د ترجمې مکرر کيدو اشکال او د هغې جواب:	
۴۳۷	وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿وَزِدْنَاهُمْ هُدًى﴾ (الكهف: ۱۳)....الخ	
۴۳۸	يو اشکال او دهغې جواب	
۴۳۹	رجال الحديث	
۴۳۹	مسلم بن ابراهيم:	
۴۴۱	هشام	

شمیره	مضمون	صفحه

.... ۴۴۴
قتادہ ۴۴۴
انس ۴۴۵
قوله: قَالَ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ شَعِيرَةٍ مِنْ خَيْرٍ وَيَخْرُجُ ۴۴۶
قوله: قَالَ أَبُو عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ أَبَانُ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ ۴۴۶
د مذکوره تعليق مقصد ۴۴۷
يو اشکال او دهغې جواب ۴۴۷
رجال الحديث ۴۴۷
ابان ۴۵۰
تنبيه ۴۵۱
رجال الحديث ۴۵۱
الحسن بن الصباح: ۴۵۲
جعفر بن عون: ۴۵۴
ابوالعميس ۴۵۴
قيس بن مسلم: ۴۵۶
طارق بن شهاب: ۴۵۷
تنبيه ۴۵۷
عمر بن الخطاب: ۴۵۸
سَمِعَ جَعْفَرَ بْنَ عَوْنٍ: ۴۵۹
قوله: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ آيَةٌ فِي كِتَابِكُمْ تَقْرَءُونَهَا لَوْ عَلَيْنَا مَعْشَرَ الْيَهُودِ نَزَلَتْ لَاتَّخَذْنَا ۴۵۹
قوله: قَالَ عُمَرُ قَدْ عَرَفْنَا ذٰلِكَ الْيَوْمَ وَالْمَكَانَ الَّذِي نَزَلَتْ فِيهِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۴۵۹
آيا د حضرت عمر (رض) جواب. سوال سره مطابقت لری ۴۵۹
ورځ د عرفې نې خنګه اختر اوګرځوله؟ ۴۶۰

۳۳ - بَابُ الزَّكَاةُ مِنَ الْإِسْلَامِ

وَقَوْلُهُ عزوجل: وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ... الخ ۴۶۱
تيرو شوو بابونو سره ربط ۴۶۱
د ترجمة الباب مقصود ۴۶۲

شمیره	مضمون	صفحه

قوله: ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ..الخ ۴۶۲
رجال الحديث ۴۶۳
اسماعيل: ۴۶۳
مالك بن انس: ۴۶۳
ابوسهيل بن مالك: ۴۶۳
ابيه: ۴۶۳
طلحه بن عبيدالله: ۴۶۴
قوله: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرَ الرَّأْسِ يُسْمَعُ دَوِيُّ ۴۶۵
د ,,رجل،، نه څوك مراد دي؟ ۴۶۶
قوله: مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ: ۴۶۶
قوله: ثَائِرَ الرَّأْسِ: ۴۶۶
قوله: يُسْمَعُ دَوِيُّ صَوْتِهِ وَلَا يُفْقَهُ مَا يَقُولُ: ۴۶۷
قوله: وَلَا يُفْقَهُ مَا يَقُولُ: ۴۶۷
قوله: حَتَّى دَنَا: ۴۶۷
قوله: فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ: ۴۶۷
قوله: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ: ۴۶۸
قوله: فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا قَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ: ۴۶۹
د وتر د وجوب متعلق په امام اعظم رحمه الله باندې اعتراض او د هغې جواب ۴۷۰
د يوسف بن خالد سمتى رحمه الله واقعه ۴۷۰
د نفل عبادت شروع كولو نه پس ددې پوره كول واجب دى او كه نه؟ ۴۷۲
تنبيه ۴۷۳
د حنفيانو دلائل ۴۷۵
يو سوال او د هغې جواب ۴۷۹
د حنفيانو دمذهب وجوه ترجيح ۴۸۰
قوله: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِيَامُ رَمَضَانَ قَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ؟...الخ: . ۴۸۰
آيا د ,,رمضان،، لفظ سره د ,,شهر،، لفظ استعمالول ضرورى دي؟ ۴۸۰
قوله: قَالَ وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الزَّكَاةَ قَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا: ۴۸۱

صفحه	مضمون	شميره
۴۸۲	په دوو حديثونو كښې تعارض او ددې دفعيه	
۴۸۴	قوله: قَالَ فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ وَاللّٰهِ لَا أَزِيدُ عَلَىٰ هَذَا وَلَا أَنْقُصُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ:	
۴۸۴	آيا د مذكوره فرائضو نه علاوه نور واجبات ادا كول ضروري نه دي؟	
۴۸۴	آيا ..فلاح.. دپاره د منهياتو پرينبودل ضروري نه دي؟	
۴۹۱	آيا د امر خير په پرينبودو باندې قسم خوړل صحيح دي؟	
۴۹۱	قوله: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ:	
۴۹۱	آيا د غير الله قسم خوړل صحيح دي؟	

۳۴ = بَابُ اتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ مِنَ الْإِيمَانِ

صفحه	مضمون
۴۹۵	د ذكر شوي باب د ماقبل سره مناسبت
۴۹۲	رجال الحديث
۴۹۲	احمد بن عبدالله بن على المنجوفى:
۴۹۷	روح
۵۰۳	الحسن بن ابى الحسن الانصارى:
۵۰۳	محمد بن سيرين
۵۰۵	قوله: حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنِ الْحَسَنِ وَمُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ:
۵۰۲	قوله: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا
۵۰۲	د فقهاؤ دلائل
۵۰۸	د حديث باب نه په مذكوره مسئلې باندې استدلال
۵۰۹	قوله: إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا:
۵۰۹	د ترجمة الباب اثبات
۵۱۰	قوله: وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا وَيَفْرُغَ مِنْ دَفْنِهَا:
۵۱۰	قوله: فَإِنَّهُ يَرْجِعُ مِنَ الْأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ:
۵۱۰	د قيراط تحقيق
۵۱۱	قوله: تَابَعَهُ عُثْمَانُ الْمُؤَذِّنُ قَالَ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ:
۵۱۲	قوله: عثمان المؤذن:

شمیره	مضمون	صفحه

۳۵- بَاب خَوْفِ الْمُؤْمِنِ مِنْ أَنْ يَحْبَطَ عَمَلُهُ وَهُوَلَا يَشْعُرُ

آیا په بې علمئ کښې د کفر د کلمې اطلاق موجب د کفر دې؟ ۵۱۵
د ترجمة الباب ماخذ ۵۱۲
د مذکوره آیت نه د علامه زمخشری غلط استدلال ۵۱۲
قوله: وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ التَّيْمِيُّ: ۵۲۰
قوله: مَا عَرَضْتُ قَوْلِي عَلَى عَمَلِي إِلَّا خَشِيتُ أَنْ أَكُونَ مُكَذِّبًا: ۵۲۲
ددې قول مطلب ۵۲۲
قوله: وَقَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ: ۵۲۳
قوله: أَدْرَكْتُ ثَلَاثِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۵۲۴
د ابن ابی ملیکه رحمه الله ددې اثر تخریج ۵۲۴
قوله: كُلُّهُمْ يَخَافُ النِّفَاقَ عَلَى نَفْسِهِ: ۵۲۵
قوله: مَا مِنْهُمْ أَحَدٌ يَقُولُ إِنَّهُ عَلَى إِيمَانِ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ: ۵۲۵
آیا ,,إيماني كإيمان جبرئيل،، جمله د امام ابو حنیفه رحمه الله نه ثابت ده؟ ۵۲۲
قوله: وَيُذْكَرُ عَنِ الْحَسَنِ مَا خَافَهُ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا أَمِنَهُ إِلَّا مُنَافِقٌ: ۵۲۸
د حضرت حسن بصری رحمه الله د اثر تخریج ۵۲۸
د حضرت حسن بصری رحمه الله قول ئې په صیغې د تمریض سره ولې ذکرکړې دې؟ ۵۲۹
قوله: وَمَا يُحْذَرُ مِنَ الْإِصْرَارِ عَلَى التَّقَاتُلِ وَالْعِصْيَانِ مِنْ غَيْرِ تَوْبَةٍ لِقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ: ۵۳۰
د ترجمې مقصود سره انطباق ۵۳۱
رجال الحديث ۵۳۲
محمد بن عرعرة: ۵۳۲
شعبه ۵۳۳
زبید ۵۳۳
ابووائل: ۵۳۴
عبدالله ۵۳۵
قوله: سَأَلْتُ أَبَا وَائِلٍ عَنِ الْمُرْجِئَةِ: ۵۳۵

شميره	مضمون	صفحه
		۵۳۲
	د ارجاء نه څه مراد دي؟	۵۳۲
	ضروری تنبیه	۵۳۷
	قوله: فَقَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ:	۵۳۷
	سباب	۵۳۸
	فسوق	۵۳۸
	د مرجئه تردید	۵۳۹
	آیا دي حدیث سره د خوارجو تائید کیږی؟	۵۳۹
	تحقیقی جواب	۵۴۰
	یو اشکال او د هغې جواب	۵۴۱
	د مرجئه دوه مغالطې او د هغې ازاله	۵۴۲
	اعراض به د خپل محل نه څنګه جدا کیږی؟	۵۴۴
	رجال الحدیث	۵۴۴
	قتیبه بن سعید:	۵۴۴
	اسماعیل بن جعفر:	۵۴۴
	حمید:	۵۴۸
	انس	۵۴۸
	عبادة بن الصامت:	۵۴۸
	قوله: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يُخْبِرُ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ:	۵۴۸
	قوله: فَقَالَ إِنِّي خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ وَإِنَّهُ تَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ فَرُفِعَتْ وَعَسَى ..الخ:	۵۴۸
	آیا حق طلب کول مذموم دی؟	۵۵۰
	قوله: الْتَمِسُوهَا فِي السَّبْعِ وَالتِّسْعِ وَالْخَمْسِ:	۵۵۰
	د احادیثو او آثارو ترجمة الباب سره انطباق	۵۵۱
	۳۲ = بَابُ سُؤَالِ جِبْرِيلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْإِيمَانِ وَالْإِسْلَامِ وَالْإِحْسَانِ وَعِلْمِ السَّاعَةِ	
	قوله: وَبَيَانِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ:	۵۵۳
	د ترجمة الباب ما قبل سره مناسبت	۵۵۴
	د ترجمة الباب مقصد	۵۵۴

Scanned with

شميره	مضمون	صفحه

تنبيه ۵۵۲
قوله: وَمَا بَيَّنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِوَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ مِنَ الْإِيمَانِ: ۵۵۷
رجال الحديث ۵۵۷
مسدد ۵۵۷
اسماعيل بن ابراهيم: ۵۵۷
ابوحيان التيمي: ۵۵۸
ابوزرعه ۵۵۹
ابوهريرة رضي الله عنه: ۵۵۹
قوله: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَارِزًا يَوْمًا لِلنَّاسِ: ۵۶۰
قوله: فَأَتَاهُ رجل: ۵۶۱
د طلب علم آداب ۵۶۱
د ..فخذيه.. ضمير كوم طرف ته راجع دې؟ ۵۶۲
د حضرت جبرئيل عليه السلام راتلل كله شوى وو؟ ۵۶۳
قوله: فَقَالَ ما الإيمان؟: ۵۶۳
د سلام نه كولو اشكال او د هغې جواب ۵۶۳
په طريقه د خطاب كښې تعارض او ددې ازاله ۵۶۴
د خطاب د طريقې اشكال او ددې جواب ۵۶۴
قوله: قَالَ الْإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ: ۵۶۶
يو اشكال او د هغې جواب ۵۶۷
قوله: وَمَلَائِكَتِهِ: ۵۶۷
قوله: وَكُتُبِهِ: ۵۶۸
كتابونه او صحيفې څومره دى؟ ۵۶۹
قوله: وَبِلِقَائِهِ: ۵۶۹
د الله تعالى د رؤيت مسئله ۵۷۱
قوله: وَرُسُلِهِ: ۵۷۵
..رسول.. او ..نبى.. څه ته وائى؟ ۵۷۵
د انبياو او رسولانو تعداد ۵۷۶

شميره	مضمون	صفحه
	قوله: وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ:	۵۷۶
	فائده	۵۷۷
	قدر يا تقدير	۵۷۷
	فرقه قدريه	۵۷۸
	قوله: قَالَ مَا الْإِسْلَامُ:	۵۷۹
	قوله: الْإِسْلَامُ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا تُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا:	۵۷۹
	قوله: وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ:	۵۸۰
	قوله: وَتُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ:	۵۸۰
	قوله: وَتَصُومَ رَمَضَانَ:	۵۸۰
	قوله: قَالَ مَا الْإِحْسَانُ:	۵۸۱
	د ,,احسان،، لغوی معنی او ددې قسمونه	۵۸۱
	مقام مشاهده او مقام مراقبه	۵۸۱
	قوله: قَالَ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ:	۵۸۲
	د ,,احسان،، دوه مختلف تشريح	۵۸۲
	نحوی اعتبار سره د دواړو تقريرونو په مينځ کښې تفريق	۵۸۴
	فائده	۵۸۵
	د صوفيه په نيز د ,,فإن لم تكن تراه فإنه يراك،، تشريح	۵۸۵
	د صوفيه حضراتو په تشريح باندې اعتراضات	۵۸۵
	د مذکوره اعتراضاتو جوابونه	۵۸۶
	تبصره او محاکمه	۵۸۷
	په قرآن کريم کښې د ايمان، اسلام او احسان ذکر	۵۸۷
	قوله: قَالَ مَتَى السَّاعَةُ:	۵۸۸
	قيامت سره د متعلق سوال، د ماقبل سره ربط	۵۸۸
	يوه شبه او د هغې جواب	۵۹۰
	قوله: قَالَ مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ:	۵۹۱
	قوله: وَسَأُخْبِرُكَ عَنْ أَشْرَاطِهَا:	۵۹۲
	قوله: إِذَا وَلَدَتِ الْأَمَةُ رَبَّهَا:	۵۹۳

Scanned with

شمیره	مضمون	صفحه
	د مذکوره جملې مطلبونه	۵۹۴
	قوله: وَإِذَا تَطَاوَلَ رُعَاةُ الإِبِلِ الْبُهْمُ فِى الْبُنْيَانِ:	۵۹۵
	قوله: فِى خَمْسٍ لَايَعْلَمُهُنَّ إِلَّا اللّٰهُ ثُمَّ تَلَا النَّبِىُّ صلى الله عليه وسلم إِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ الآيَة:	۵۹۷
	آیا مغیبات په پنځو امورو کښې منحصر دی؟	۵۹۷
	آیا په اکوان غیبیه باندې اطلاع حاصلیدل ممکن نه دی؟	۵۹۹
	مسئله د علم غیب	۶۰۱
	د اهل سنت والجماعت د عقیدې خلاصه	۶۰۲
	د مولوی احمد رضاخان بریلوی او دده د متبعینو عقیده	۶۰۲
	د بریلوی حضراتو دلائل او دهغې جوابونه	۶۰۳
	د اهل السنت والجماعت دلیلونه	۶۱۴
	یو اهم تنبیه	۶۱۷
	قوله: ثُمَّ أَدْبَرَ فَقَالَ رُدُّوهُ فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا فَقَالَ هٰذَا جِبْرِيلُ:	۶۱۷
	فائده	۶۱۹
	قوله: جَاءَ يُعَلِّمُ النَّاسَ دِينَهُمْ:	۶۲۰
	قوله: أَبُوعَبْدِاللّٰهِ جَعَلَ ذٰلِكَ كُلَّهُ مِنَ الإِيمَانِ:	۶۲۱
	باب (بلاترجمه)	۶۲۱
	د حضرت شیخ الهند رحمه الله تقریر	۶۲۳
	قوله: أَنَّ هِرَقْلَ قَالَ لَهُ:	۶۲۲
	خرم فی الحدیث	۶۲۲
	په حدیث باب کښې خرم دچا د طرفه واقع شوې دې؟	۶۲۷
	ماقبل سره مناسبت	۶۲۸
	د ترجمة الباب مقصد	۶۲۸
	یو اشکال او د هغې جواب	۶۲۹
	دحدیث باب اهمیت	۶۳۷
	قوله: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:	۶۳۸
	قوله: الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ لَا يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ:	۶۳۹
	د مشتبهات تحقیق	۶۴۱
		۶۴۲

تنبیه

شمیره	مضمون	صفحه
	قوله: فَمَنْ اتَّقَى الْمُشَبَّهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ:	۲۴۲
	قوله: وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ:	۲۴۷
	قوله: ..الحمى..	۲۴۸
	قوله: أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى أَلَا إِنَّ حِمَى اللَّهِ فِي أَرْضِهِ مَحَارِمُهُ:	۲۴۹
	فائده	۲۵۰
	قوله: أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا..الخ:	۲۵۰
	محل عقل	۲۵۲
	د امام بخاری رحمه الله مقصد	۲۵۳
	یو اشکال او د هغې جواب	۲۵۳
	ماقبل باب سره ربط او مناسبت	۲۵۴
	تنبیه	۲۵۴
	قوله: كُنْتُ أَقْعُدُ مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ يُجْلِسُنِي عَلَى سَرِيرِهِ:	۲۲۱
	ددې اعزاز وجه څه وه؟	۲۲۱
	قوله: فَقَالَ أَقِمْ عِنْدِي حَتَّى أَجْعَلَ لَكَ سَهْمًا مِنْ مَالِي فَأَقَمْتُ مَعَهُ شَهْرَيْنِ:	۲۲۲
	قوله: ثُمَّ قَالَ إِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ لَمَّا أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:	۲۲۲
	حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ابو جمره ته دا حدیث ولې واورولو؟	۲۲۳
	وفد عبدالقیس د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې کله راغلې وو؟	۲۲۳
	د عبدالقیس قبیلې اسلام	۲۲۲
	وفد عبدالقیس په څومره کسانو باندې مشتمل وو؟	۲۲۸
	فائده	۲۲۹
	قوله: قَالَ مَنِ الْقَوْمُ أَوْ مَنِ الْوَفْدُ:	۲۲۹
	قوله: قَالُوا رَبِيعَةُ:	۲۷۰
	غیر خزایا ولا ندامی:	۲۷۲
	قوله: ..ندامی..	۲۷۲
	قوله: فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا لَا نَسْتَطِيعُ أَنْ نَأْتِيَكَ إِلَّا فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ وَبَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هَذَا الْحَيُّ..الخ:	۲۷۳
	قوله: فَمُرْنَا بِأَمْرٍ فَصْلٍ نُخْبِرْ بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا وَنَدْخُلْ بِهِ الْجَنَّةَ:	۲۷۴
	نبی کریم ﷺ وفد ته د یو څیز حکم اوفرمائیلو او که د متعدد امورو؟	۲۷۲

صفحه	مضمون	شميره
۲۷۲	په ماموراتو کښې اجمال او تفصيل کښې تفاوت او ددې وضاحت	
۲۸۱	په حديث باب کښې د حج ذکر ولې نشته؟	
۲۸۳	قوله: وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ عَنِ الْحَنْتَمِ وَالدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ وَرُبَّمَا قَالَ الْمُقَيَّرِ:	
۲۸۳	قوله: حنتم:	
۲۸۴	قوله: الدباء:	
۲۸۴	قوله: النقير:	
۲۸۴	قوله: المزفت:	
۲۸۵	قوله: وَقَالَ احْفَظُوهُنَّ وَأَخْبِرُوا بِهِنَّ مَنْ وَرَاءَكُمْ:	
۲۸۵	د ترجمة الباب مقصد	
۲۸۷	د ترجمة الباب تحليل	
۲۸۸	قوله: فَدَخَلَ فِيهِ الْإِيمَانُ وَالْوُضُوءُ وَالصَّلَاةُ وَالزَّكَاةُ وَالْحَجُّ وَالصَّوْمُ وَالْأَحْكَامُ:	
۲۹۱	قوله: وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى ﴿قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَى شَاكِلَتِهِ﴾:	
۲۹۲	قوله: نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا صَدَقَةٌ:	
۲۹۳	قوله: وَقَالَ (النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ:	
۷۰۵	قوله: إِذَا أَنْفَقَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ:	
۷۰۲	قوله: إِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللَّهِ إِلَّا أُجِرْتَ عَلَيْهَا حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فِي امْرَأَتِكَ:	
۷۰۸	مخکنی باب سره ربط او مناسبت	
۷۰۸	د ترجمة الباب مقصود	
۷۰۹	قوله: الدِّينُ النَّصِيحَةُ لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ:	
۷۰۹	د مذکوره معلق حديث تخريج	
۷۰۹	امام بخارى رحمه الله موصولاً ولې ددې حديث تخريج اونکړو؟	
۷۱۰	قوله: النصيحة:	
۷۱۱	قوله: النصيحة لله:	
۷۱۱	قوله: النصيحة لكتاب الله:	
۷۱۱	قوله: النصيحة للرسول ﷺ:	
۷۱۲	قوله: النصحية لائمة المسلمين:	

صفحه	مضمون	شميره
۷۱۲	قوله: النصيحة لعامة المسلمين:	
۷۱۲	قوله: إذا نصحوا لله ورسوله:	
۷۱۹	قوله: بَايَعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ:	
۷۲۵	قوله: سَمِعْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ يَوْمَ مَاتَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ قَامَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ:	
۷۲۵	قوله: وَقَالَ عَلَيْكُمْ بِاتِّقَاءِ اللَّهِ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَالْوَقَارِ وَالسَّكِينَةِ حَتَّى يَأْتِيَكُمْ أَمِيرٌ فَإِنَّمَا:	
۷۲۵	قوله: فَإِنَّمَا يَأْتِيكُمُ الْآنَ:	
۷۲۲	قوله: ثُمَّ قَالَ اسْتَعْفُوا لِأَمِيرِكُمْ فَإِنَّهُ كَانَ يُحِبُّ الْعَفْوَ:	
۷۲۲	قوله: ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ أُبَايِعُكَ عَلَى الْإِسْلَامِ فَشَرَطَ عَلَيَّ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ فَبَايَعْتُهُ عَلَى هَذَا:	
۷۲۲	قوله: وَرَبِّ هَذَا الْمَسْجِدِ إِنِّي لَنَاصِحٌ لَكُمْ:	
۷۲۲	قوله: ثُمَّ اسْتَغْفَرَ وَنَزَلَ:	
۷۲۷	د كتاب الايمان خاتمه او براعت اختتام	
۷۲۹	مآخذ ومراجع	

فهرس اسماء من ترجمهم على حروف الهجاء

شمیره	مضمون	صفحه
۱	⇐ ابان بن یزید العطار	۴۴۷
۲	⇐ ابراهیم بن حمزه	۲۲۴
۳	⇐ ابراهیم بن سعد ابواسحاق	۱۴۴
۴	⇐ ابراهیم بن یزید تیمی	۵۲۰
۵	⇐ ابراهیم بن یزید نخعی	۲۵۹
۶	⇐ ابراهیم ابن ابی ملیکه	۵۲۳
۷	⇐ ابن اخی الزهری (محمد بن عبدالله بن مسلم)	۱۹۹
۸	⇐ ابن علیه (اسماعیل بن ابراهیم بن مقسم)	۵۰
۹	⇐ ابو ادریس خولانی (عائذ الله بن عبدالله)	۸۰
۱۰	⇐ ابو اسحاق اسماعیل بن جعفر بن ابی کثیر	۲۷۴
۱۱	⇐ ابو اسحاق سبیعی (عمرو بن عبدالله)	۳۲۲
۱۲	⇐ ابو امامه اسعد بن سهل بن حنیف	۱۴۲
۱۳	⇐ ابو انس (مالك بن ابی عامر)	۴۴۳
۱۴	⇐ ابو بکره رضی الله عنه	۲۳۴
۱۵	⇐ ابو جمره (نصر بن عمران)	۲۵۹
۱۶	⇐ ابو حیان التیمی (یحیٰ بن سعید بن حیان)	۵۵۸
۱۷	⇐ ابو ذر غفاری رضی الله عنه (جندب بن جناده)	۲۴۷
۱۸	⇐ ابو الربیع (سلیمان بن داود عتکی)	۲۷۴
۱۹	⇐ ابو روح (الحرمی بن عماره)	۱۵۴
۲۰	⇐ ابو زرعه بن عمرو بن جریر	۳۰۳
۲۱	⇐ ابو الزناد (عبدالله بن ذکوان)	۴۹
۲۲	⇐ ابو سعید خدری رضی الله عنه (سعد بن مالك بن سنان)	۱۱۱
۲۳	⇐ ابو سلمه بن عبدالرحمن بن عوف	۳۲۰
۲۴	⇐ ابو سهیل (نافع بن مالك بن ابی عامر)	۲۷۵

شمیرہ	مضمون	صفحہ
۲۵	⇦ ابو العمیس (عتبہ بن عبداللہ)	۴۵۴
۲۶	⇦ ابو قلابہ جرمی (عبداللہ بن زید)	۲۰
۲۷	⇦ ابو مسعود بدری (عقبہ بن عمرو)	۷۰۳
۲۸	⇦ ابو نعمان (محمد بن الفضل السدوسی الملقب بعارم)	۷۲۰
۲۹	⇦ ابونعیم (الفضل بن دکین)	۲۳۰
۳۰	⇦ ابووائل (شقیق بن سلمہ)	۵۳۴
۳۱	⇦ ابوالولید طیالسی (ہشام بن عبدالملک)	۷۲
۳۲	⇦ احمد بن عبداللہ بن علی المنجوفی	۴۹۲
۳۳	⇦ احمد بن یونس تمیمی	۱۷۸
۳۴	⇦ احنف بن قیس تمیمی	۲۳۳
۳۵	⇦ اسحاق بن منصور کوسج	۴۰۷
۳۶	⇦ اسماعیل بن ابی اویس	۴۲۳
۳۷	⇦ اسماعیل بن جعفر مدنی	۲۷۴
۳۸	⇦ اعرج (عبدالرحمن بن ہرمز)	۲۹۳
۳۹	⇦ اعمش (سلیمان بن مہران)	۲۵۸
۴۰	⇦ انس بن مالک ؓ	۴۴
۴۱	⇦ ایوب بن ابی تمیمہ کیسان سختیانی	۷۲
۴۲	⇦ براء بن عازب ؓ	۳۲۷
۴۳	⇦ بشر بن خالد عسکری	۲۵۲
۴۴	⇦ جریر بن عبداللہ بجلی ؓ	۷۱۹
۴۵	⇦ جعفر بن عنون	۴۵۲
۴۶	⇦ جندب بن جنادہ (او کوری ابو ذر غفاری ؓ)	۲۴۷
۴۷	⇦ حجاج بن منہال انماطی بصری	۲۹۸
۴۸	⇦ الحرمی بن حفص بن عمر عتکی	۳۰۱
۴۹	⇦ الحرمی بن عمارہ (او کوری ابو روح)	۱۵۴
۵۰	⇦ الحسن بن ابی الحسن یسار البصری	۲۳۰

شمیره	مضمون	صفحه
۵۱	⇐ الحسن بن الصباح البزار	۴۵۱
۵۲	⇐ حسین المعلم	۴۴
۵۳	⇐ حماد بن زید بن درهم	۲۲۹
۵۴	⇐ حمید بن ابی حمید الطویل	۵۴۴
۵۵	⇐ حمید بن عبدالرحمن بن عوف	۳۱۳
۵۶	⇐ روح بن عبادة قیسی	۴۹۷
۵۷	⇐ زبید بن الحارث الیامی	۵۲۳
۵۸	⇐ زکریا بن ابی زائده	۲۲۴
۵۹	⇐ زهیر بن معاویه	۳۲۰
۶۰	⇐ زیاد بن علاقه	۷۲۳
۶۱	⇐ زید بن اسلم قرشی مدنی	۲۱۲
۶۲	⇐ سالم بن عبدالله بن عمر	۱۵۱
۶۳	⇐ سعد بن ابی وقاص ؓ (سعد بن مالک بن وهیب)	۱۹۰
۶۴	⇐ سعد بن مالک بن سنان (اوگورئ ابوسعید خدری ؓ)	۱۱۱
۶۵	⇐ سعید بن ابی سعید المقبری	۳۳۱
۶۶	⇐ سعید بن المسیب	۱۷۹
۶۷	⇐ سفیان بن سعید الثوری	۲۸۱
۶۸	⇐ سلیمان بن حرب	۱۳۱
۶۹	⇐ سلیمان بن داود عتکی (اوگورئ ابو الربیع)	۲۷۴
۷۰	⇐ سلیمان بن مهران (اوگورئ الاعمش)	۲۵۸
۷۱	⇐ شقیق بن سلمه (اوگورئ ابو وائل)	۵۲۴
۷۲	⇐ صالح بن کیسان	۱۴۵
۷۳	⇐ طارق بن شهاب ؓ	۴۵۲
۷۴	⇐ طلحه بن عبیدالله ؓ	۴۲۴
۷۵	⇐ عائذالله بن عبدالله (اوگورئ اوادریس خولانی)	۸۰
۷۶	⇐ عامر بن سعد بن وقاص	۱۹۰

شمیرہ	مضمون	صفحہ
۷۷،	⇦ عبادہ بن الصامت ﷜	۸۰
۷۸،	⇦ عبدہ بن سلیمان	۱۹۰
۷۹،	⇦ عبدالرحمن بن عبداللہ بن عبدالرحمن بن الحارث بن ابی صعصعہ	۱۱۰
۸۰،	⇦ عبدالرحمن بن المبارك الطفاوی	۲۲۹
۸۱،	⇦ عبدالرحمن بن ہرمز (اوګوریٔ الاعرج)	۲۹۳
۸۲،	⇦ عبدالرزاق بن ہمام الصنعانی	۴۰۸
۸۳،	⇦ عبدالسلام بن مطہر الازدی	۳۲۸
۸۴،	⇦ عبدالعزیز بن صہیب	۵۱
۸۵،	⇦ عبداللہ بن ذکوان (اوګوریٔ ابوالزناد)	۴۹
۸۶،	⇦ عبداللہ بن زید جرمی (اوګوریٔ ابوقلابہ)	۲۰
۸۷،	⇦ عبداللہ بن عباس	۲۱۸
۸۸،	⇦ عبداللہ بن عبدالرحمن بن الحارث بن ابی صعصعہ	۱۱۰
۸۹،	⇦ عبداللہ بن عبداللہ بن جبر	۷۳
۹۰،	⇦ عبداللہ بن عبیداللہ (اوګوریٔ ابن ابی ملیکہ)	۵۲۳
۹۱،	⇦ عبداللہ بن مرہ ہمدانی کوفی	۲۸۲
۹۲،	⇦ عبداللہ بن مسعود ﷜	۲۲۳
۹۳،	⇦ عبداللہ بن مسلمہ	۱۰۹
۹۴،	⇦ عبداللہ بن یزید خطمی ﷜	۷۰۱
۹۵،	⇦ عبدالواحد بن زیاد بصری	۳۰۱
۹۶،	⇦ عبدالوہاب ثقفی	۷۲
۹۷،	⇦ عتبہ بن عبداللہ (اوګوریٔ ابوالعمیس)	۴۵۴
۹۸،	⇦ عثمان بن الہیثم المؤذن	۵۱۲
۹۹،	⇦ عدی بن ثابت انصاری	۷۰۰
۱۰۰،	⇦ عروہ بن الزبیر	۴۱۸
۱۰۱،	⇦ عطاء بن یسار ہلالی مدنی	۲۱۷
۱۰۲،	⇦ عقبہ بن عمرو ﷜ (اوګوریٔ ابومسعود بدری)	۷۰۳

Scanned with

شمیره	مضمون	صفحه
۱۰۳	علقمه بن قیس نخعی	۲۲۱
۱۰۴	علقمه بن وقاص اللیثی	۲۹۲
۱۰۵	علی بن الجعد	۲۵۵
۱۰۶	عمار بن یاسر ﷛	۲۰۱
۱۰۷	عماره بن القعقاع	۳۰۳
۱۰۸	عمر بن الخطاب ﷛	۴۵۷
۱۰۹	عمر بن علی بن عطاء مقدمی	۳۲۹
۱۱۰	عمرو بن خالد	۳۵۹
۱۱۱	عمرو بن عبدالله (اوگورئ ابواسحاق سبیعی)	۳۲۲
۱۱۲	عمرو بن یحیی مازنی	۱۴۰
۱۱۳	عوف بن ابی جمیله الاعرابی	۵۰۱
۱۱۴	غندر (محمد بن جعفر)	۲۵۷
۱۱۵	الفضل بن دکین (اوگورئ ابونعیم)	۲۳۰
۱۱۶	قبیصه بن عقبه	۲۷۸
۱۱۷	قتاده بن دعامه	۴۳
۱۱۸	قتیبه بن سعید ثقفی	۵۴۴
۱۱۹	قیس بن ابی حازم بجلی	۷۱۳
۱۲۰	قیس بن مسلم جدلی	۴۵۴
۱۲۱	مالك بن ابی عامر (اوگورئ ابوانس)	۴۴۳
۱۲۲	مالك بن انس	۳۹۴
۱۲۳	محمد بن ابراهیم تیمی	۲۵۷
۱۲۴	محمد بن جعفر (اوگورئ غندر)	۱۵۷
۱۲۵	محمد بن زید بن عبدالله بن عمر	۱۲۱
۱۲۶	محمد بن سلام بیکندی	۵۰۳
۱۲۷	محمد بن سیرین	۱۹۹
۱۲۸	محمد بن عبدالله بن مسلم (اوگورئ ابن اخی الزهری)	۱۴۴

شمیره	مضمون	صفحه
١٢٩	⇦ محمد بن عبیدالله المدنی	١٤٤
١٣٠	⇦ محمد بن عرعره	٥٣٢
١٣١	⇦ محمد بن الفضل السدوسی (اوکورئ ابو النعمان)	٧٢٠
١٣٢	⇦ محمد بن فضیل بن غزوان ضبی	٣١٥
١٣٣	⇦ محمد بن المثنی عنزی	٢١
١٣٤	⇦ مسدد بن مسرهد	٤٢
١٣٥	⇦ مسروق بن الاجدع	٢٨٣
١٣٦	⇦ مسلم بن ابراهیم فراهیدی	٤٣٩
١٣٧	⇦ معرور بن سوید اسدی	٢٤٢
١٣٨	⇦ معن بن محمد الغفاری	٣٣١
١٣٩	⇦ نافع بن مالك (اوکورئ ابوسهیل)	٢٧٥
١٤٠	⇦ نصر بن عمران (اوکورئ ابو جمره)	٢٥٩
١٤١	⇦ نعمان بن بشیر رضی الله عنهما	٢٣٢
١٤٢	⇦ واصل بن حیان الاحدب	٢٤٢
١٤٣	⇦ واقد بن محمد بن زید بن عبدالله بن عمر	١٥٧
١٤٤	⇦ وهیب بن خالد بن عجلان	١٤٣
١٤٥	⇦ هشام بن ابی عبدالله دستوائی	٤٤١
١٤٦	⇦ هشام بن عبدالملك (اوکورئ ابوالولید طیالسی)	٧٢
١٤٧	⇦ هشام بن عروه	٤١٨
١٤٨	⇦ همام بن منبه	٤١٤
١٤٩	⇦ یحیی بن سعید الانصاری	٣١٨
١٥٠	⇦ یحیی بن سعید القطان	٧١٣
١٥١	⇦ یحیی بن سعید بن حیان (اوکورئ ابوحیان تیمی)	٥٥٨
١٥٢	⇦ یحیی بن عماره مازنی	١٤٠
١٥٣	⇦ یعقوب بن ابراهیم	٥٠
١٥٤	⇦ یونس بن عبید بن دینار عبدی بصری	٢٣٠

(تقريظات الاعلام)

تقريظ شيخ الحديث بدار العلوم الامدادية بشاور ونائب رئيس وفاق المدارس حضرة العلامة مولانا محمد حسن جان المدنی أطال الله عمرهم ونفعنا بعلومهم

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لوليه، والصلاة والسلام على نبيه وصفيه، سيدنا محمد وآله وصحبه، على من اتبع هداه فی شؤن حياته وهديه،

وبعد فإن الجامع الصحيح للإمام البخاری رحمه الله تعالى، يمتاز بميزات قيمة من بين كتب الحديث ويعتبره العلماء أصح الكتب بعد كتاب الله تعالى وقد شرحه المشائخ بشروح نيرة مستبينة فی كل عصر حتى فاق فی ذلك على جميع كتب السنة وقد شرحه فی عصرنا هذا فضيلة الشيخ مولانا سليم الله خان المحترم حفظه الله تعالى، شرحاً مفصلاً من كل ناحية فی اللغة السائدة فی عامة البلاد ،،الأردو،، وقد ترجمه إلى لغة بشتو السائدة فی مقاطعة سرحد والغانستان أخونا فی الله وصاحبنا مولانا شاه فيصل المحترم فی لغته الفصحى وقد أجاد فی ذلك فلله دره وعليه مثوبته وأجره.

محمد حسن جان

٣/١٢/١٤٢٧ھجری ٢٩/١٢/٢٠٠٦م

Scanned with

تقريظ شيخ الحديث بدار العلوم اكوره ختك حضرة العلامة مغفور الله (باباجى) مدظلهم العالى وطال بقاءهم فينا

باسمه تعالى،

حامداً، مصلياً، مسلماً!

أما بعد فإن كتاب ،كشف البارى شرح البخارى،، للعلامة المحقق صاحب القوة القدسية، بقية السلف، قدوة العلماء، إمام المحدثين فى هذا الزمان، مولانا سليم الله خان مدظله ،شرح جامع نافع ليس فيه تطويل ممل و لااختصار مخل، مشتمل على زبدة ما فى الزبر المتطاولة ومغنى عنها، وفيه حقائق و دقائق فائقة وتوجيهات نفيسة ومزين من نكات الأكابرين، وفيه حل معاقد وكشف المغالق وتحرير الدعاوى بأحسن ترجيح وإقامة الدلائل بأوضح وجه وترجيح الراجح بالطريق الأوكد مجتنب عن مذهب البغى والإعتساف ومصداق قول الشاعر

ففى كل لفظ روض من البغى ولى كل سطر منه عقد من الدرر

وكيف لا يكون كذلك ومصنفه أجل فحول العلماء وأكملها، جامع الكمالات العلمية والعملية ومكارم العادات والأخلاق ومن كراماته مقبولية تصنيفه بين العوام والخواص فى مدة قليلة ومن كراماته وحسن إخلاصه أن أعطاه الله معاونين فاضلين جيدين فحلين فى العلم والعمر المتيقظين صاحبا القلم والتحرير الزكيين المستوقدين المدرسين فى الجامعة الفاروقية ، الالمعى ابن الحسن العباسى، ونور البشر بارك الله فى علومهما وعمرهما.

لايدرك الواصب المطرى خصائصه وأيك سابقاً فى كل ما وصفا

ولا يحتاج ذاته الأقدس إلى التعريف والتشهير ولا كتابه الجامع على الجامع، ولكن لفرط محبتى و شوقى حررت هذه الكلمات وإن كان فيها نقصاً لقصور علمى وقلة تجربتى فى هذا الباب وأرى أن الشرح وجامعه وحياته المباركة والمعاونين له من نعم الله تعالى على المعلمين والمتعلمين فحمد الله على نعمه،

ولما كان الشرح باللغة الأردية وإن كانت هذه اللغة شائعة لكن فى الإقليم السرحدى كثيراً من المتعلمين والمعلمين لايفهون اللغة الأردية، ولا يستفيدون منها، فلتوسيع دائرة الإستفادة إعتنى الزكى المحقق الفاضل شاه فيصل مدظله خريج وفاق المدارس والجامعة إمداد العلوم بشاور بترجمته باللغة السليمانية الفصحى البشاورية

ولقد أجاد فيها أفاد، ولله دره، والله المسئول أن يجعل سعيه مقبولاً وجهده من الباقيات الصالحات.

وأنا العبد الأحقر مغفور الله مدرس جامعة حقانية اكوره ختك. ٢٦ جمادى الأخرى ١٤٢٧هجرى.

بسم الله الرحمن الرحيم

د مرتب درخواست

اللهم لك الحمد، لا أحصي ثناءً عليك أنت كما أثنيت على نفسك اللهم صل وسلم وبارك على سيدنا محمد النبي الأمي وعلى آله وصحبه وتابعيهم ومن تبعهم بإحسان من الأئمة المجتهدين والعلماء المحدثين إلى يوم الدين

الحمدلله ! دالله تعالى ډيره لويه مهرباني ده.چه هغوى صرف په خپل فضل سره خپل كمزورى بنده ته توفيق وركړلو.چه نن د استاذ الاساتذه شيخ شيوخ الحديث حضرت مولانا سليم الله خان صاحب دامت فيوضاتهم وبركاتهم د صحيح بخارى د درسى افاداتو د دويم جلد عالمانو،اود علم دين طالبانواود علوم حديث د تگوپه خدمت كښې ددې د وړاندې كولوسعادت حاصلوى.

دحضرت شيخ الحديث دامت بركاتهم د درسى افاداتو نه خاص خاص مستفيدين د خپل استعداد مطابق فائده حاصلوى.خوحقيقت دا دې.چه د دې نه فائده اخستل اهل علمو دپاره اوس ممكن شو.دا درسى افادات چه دې ته ,,لآلي مكنونه،،ونيل به بالكل صحيح وى. په اصل كښې دا د شيخ الاسلام حضرت مولانا سيد حسين احمد مدنى نورالله مرقده دعلومو او فنونواودحضرت شيخ صاحب په نيمه‌صدئ باندې دمحيط تدريسى تجربو.اود بې شميره كتابونواودحديث د شروحاتود مطالعې نچوړ دې.

په دې جلد كښې هم الحمد لله د هغه ټولو امورو التزام شوې دې.د كومو التزام چه په اولنى جلد كښې شوې وو.ددې امورو تفصيل مونږ د اولنى جلد په شروع كښې ذكر كړې دې.

دا كارلكه څنگه چه لوستونكو ته ښه معلومه ده.ډير علمى كار دې.ددې دپاره د وسيع مطالعة علمى پوخوالى او استحضار ضرورت دې.حالانكه احقر د ټولو خبرو نه خالى دې. ددې باوجود داسې علمى كار ته ملاتړل دخپلو مشفقو استاذانو.د دعاګانو او خاص كر د حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم‌نظر عنايت، اعتماد ،توجه‌حوصله افزائى او داډګيرنې او دعاګانو نتيجه ده.

صرف احتمال نه دې بلكه عين ممكن ده.چه په دې كښې غلطيانې شوى وى. عالمانو ته درخواست دې.چه په غلطيانو باندې د خبريدو په صورت كښې دې دا د مرتب خامى اوګنړى اوددې غلطيانونه دې مونږ خبر كړى.اودخپلو مفيدو مشورو او تجويزونو نه دې هم مونږ مستفيد كړى.احقربه ډير احسان منونكې وى.

دكتاب د ترتيب ،تحقيق نه واخله تر كمپوزنګ پروف ريډنګ (د مسودې تصحيح) او بيا د طباعت پورې په دې ټولومرحلو كښې ما سره زما مخلص ملګرو او دوستانوچه كوم تعاون كړې دې په دې باندې زه د دوی ټولواحسان منونكې يم. اود ټولو دوستانو او معززينودپاره دعاګو يم.الله تعالی دې دوی ته علمي اوعملي ترقئ ملاو كړی اودوی ته دې ډيره بهترينه جزاء وركړی.

په آخر كښې محترمو لوستونكوته درخواست كوم.چه د حضرت شيخ الحديث صاحب دامت بركاتهم د صحت او عافيت دپاره په خصوصيت سره دعاګانې كوی. دغه شان د مرتب دپاره هم دعا كوئ.چه ددې كار زر ترزره د پوره كولو توفيق ورته وركړی.اوپه خپل دربار كښې ورته د قبوليت شرافت وركړی.او د صاحب تقرير دپاره د بنده دپاره اود د بنده دموركلار دپاره.او د استاذانو او ټولو ملګرو اودوستانودپاره ئې د آخرت ذخيره اوګرځوی.آمين.

نورالبشر بن محمد نورالحق
استاذ جامعه فاروقيه
ورفيق شعبه تصنيف وتاليف جامعه

ضروری وضاحت ازمترجم

① صرف د دويم او دريم جلد په ترجمه كښې ماسره زما محترم ورور مولانا برهان الدين صديقي فاضل دارالعلوم كراچئ هم برخه اخستې ده.اوهغوی هم د څه حصې ترجمه كړې ده. نود خپل خان د دعا درخواست سره سره درنه د هغوی د دعا دپاره هم طلب كوم.

② په كشف الباری پښتو جلددويم وغيره كښې چه د كشف الباری د اولنو جلدونود صفحاتوپه ارقامو كومې حوالې وركړې شوی دی.نوهغه د كشف الباری اردو دی. چونكه پورته په متن كښې دكشف الباری د جلد او باب حوالې وركړې شوی دی ده. ددې وجې هغې ته په مراجعت كښې څه مشكل نشته.بيا هم كه موقع ملاو شوه.نو د پښتو كشف الباری د صفحو ارقام به په كښې اوليكو.

٢- بَاب مِنْ الْإِيمَانِ أَنْ يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ

وراندې بيان شوې دي چه امام بخارى رحمه الله دلته په تراجم كښې كله د اسلام ذكر كړې دې او كله د ايمان .كله ئې دا موخر كړې دې او كله مقدم كړې. دا د انبساط او انشراح برقرار ساتلو دپاره د دوى تفنن دې.

په دې باب كښې هم ونيلې شى چه چونكه دلته ئې حديث كښې ،،لا يؤمن أحدكم،، كښې د ايمان ذكر وراندې وو. ددې وجې امام بخارى رحمه الله ،،من الإيمان،، مقدم كړلو او په وراندينى باب كښې د نبى ﷺ ارشاد ،،تطعم الطعام وتقرأ السلام على من عرفت ومن لم تعرف،، كښې د ايمان يا د اسلام ذكر موجود نه وو .نوځكه ئې هلته د ،،من الإسلام،، موخر كړلو. دغه شان هلته ئې ،،من الإسلام،، اوونيل او دلته ئې ،،من الإيمان،، لفظ راوړلو . ځكه چه په وراندينى باب كښې د اطعام طعام او قراءت سلام ذكروو .كوم چه ظاهرى اعمال دى.اودهغې د اسلام سره تعلق دې.او دلته د محبت ذكر دې.كوم چه يو باطنى عمل دې.اود زړه سره تعلق ساتى. نو ځكه ئې دلته د ،،من الإيمان،، ذكر اوكړلو . ځكه چه د ايمان تعلق هم د زړه سره وى.

د ماقبل او ما بعد سره ربط: تركومې پورې چه د ربط تعلق دې.نووراندې خودلې شوى دى چه انسان دپاره خو اول ددې خبرې اهتمام كول پكار دى.چه نورو ته د تكليف رسولونه منع شى. د دې ذكر په ،،باب من سلم المسلمون من لسانه ويده،، كښې ذكرشو.او د هغې نه پس دويم نمبرددې وو.چه دې د نورو سره د مواسات او غمخوارئ معامله اوكړى. د دې ذكر په ،،تطعم الطعام وتقرأ السلام،، كښې راغلې وو.ددې نه پس اوس د مساوات ذكر دې.چه سړې كوم څيز د خپل ځان دپاره خوښوى.هغه د نورو دپاره هم خوښ كړى.نوځكه د مواسات نه پس دلته د مساوات بيان كولې شى.

[٣] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ شُعْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ (١) عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ

---

(١) الحديث أخرجه مسلم فى صحيحه فى كتاب الإيمان باب الدليل على أن من خصال الإيمان أن يحب لأخيه المسلم ما يحب لنفسه من الخير رقم ١٧٩ و ١٨٠ والنسائى فى سننه فى كتاب الإيمان وشرائعه باب علامة الإيمان رقم (٥٠١٩) و(٥٠٢٠) والترمذى فى جامعه فى كتاب صفة القيامة باب (بلا ترجمة) رقم (٢٥١٥) وابن ماجه فى سننه فى المقدمة باب فى الإيمان رقم ٦٦)_

رجال الحديث

① مسدد:دا مسدد بن مسرهد بن مسربل بن مرعبل بن ارندل بن سرندل بن غرندل بن ماسك بن مستورد اسدى دى.(١)

دا هم ونيلې شى چه ددوى نوم عبد الملك بن عبدالعزيز دى او مسدد يې لقب دى.(٢)
د حماد بن زيد ،سفيان بن عيينه،او يحى بن سعيد قطان رحمهم الله نه يې علم حاصل كړې دې
اود دوى نه چه چا احاديث اوريدلى دى.په هغوى كښې ابوحاتم رازى، ابوداود، محمد بن يحى ذهلى،ابوزرعه او اسماعيل بن اسحاق رحمهم الله د غرونو پشان محدثين دى.(٣)
حافظ ابن حجر رحمه الله د دوى په باره كښې فرمائيلى دى.چه دې ثقه او حافظ وو.د تولو نه وړاندې په بصره كښې دوى ،،مسند،، ليكلې وو.(٤)په رمضان ٢٢٨ﻫ كښې دوى وفات شوى وو.(٥)

② يحى:دا يحى بن سعيد بن فروخ القطان تميمى دې.ددوى كنيت ابوسعيد دې.(٦)
ددوى په جلالت قدر اوتوثيق باندې د تولو اتفاق دې.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى،،ثقة متقن حافظ إمام قدوة،،(٧)
د يحى انصارى ،محمدبن عجلان ،سفيان ثورى ابن ابى ذئب امام مالك او امام شعبه رحمهم الله وغيره نه ئې احاديث اوريدلى دى.
د دوى نه چه چا حديث اوريدلى دى.په هغوى كښې ددوى خپل استاذ حضرت سفيان ثورى،سفيان بن عيينه،شعبه،عبدالرحمن بن مهدى، امام احمد ، امام يحى بن معين ،امام على بن المدينى ،امام اسحاق بن راهويه.امام ابوبكر بن ابى شيبه رحمهم الله او د دوى نه علاوه نور اعلام محدثين شامل دى.(٨)

---

(١) عمدة القارى(١\١٣٩)_
(٢) تقريب التهذيب (ص.٥٢٨) قم الترجمة (٦٥٩٨)_
(٣) عمدة القارى (١\١٣٩)_
(٤) تقريب (٥٢٨.)_
(٥) تهذيب الكمال (٢٧\٤٤٧)_
(٦) تقريب (٢.٥٩١) رقم ٧٥٥٧)_
(٧) المصدر السابق)_
(٨) عمدة (١١٠\١٤)_

امام يحى بن معين رحمه الله فرمائى چه امام يحى القطان رحمه الله شل كاله داسې تيركړى وو چه روزانه به ئې يوقرآن پاك ختمولو (١)
اسحاق بن ابراهيم شهيدى رحمه الله فرمائى چه ما يحى بن سعيد القطان ليدلې وو چه هغوى به د مازيگردمانځه نه پس په خپل جمات كښې د منارۀ سره ډډه لگوله اوبيا به دوى ته مخامخ على بن المدينى، شاذكونى، عمروبن على، احمد بن حنبل او يحى بن معين رحمهم الله اودريدل اود ماښامه پورې به ئې ترې نه د احاديثو په باره كښې تپوسونه كول دوى به په خپله هم چاته د كيناستلو نه وئيل اونه به په دوى كښې چاته دا همت وو چه هغه به ناست وو ددوى تعظيم او قدر به د هغوى په زړونوكښې دومره زيات وو(٢)
په كال ١٢٠ هـ كښې د دوى ولادت شوې وو اوپه كال ١٩٨هـ كښې وفات شوې وو (٣)
عفان بن مسلم رحمه الله فرمائى چه يوكس د يحى بن سعيد دوفات نه شل كاله وړاندې خوب ليدلې وو، ،بشر يحى بن سعيد بأمان الله يوم القيامة، ، (٤)

③ **شعبه:** دا امير المومنين فى الحديث شعبه بن الحجاج بن الورد العتكى الازدى دې د دوى حالات په ، ،باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده، ، لاندې ذكرشوې دې.

④ **قتادة:** دا قتاده بن دعامه بن قتاده بن عزيز سدوسى بصرى دې د دوى كنيت ابوالخطاب دې اود مور نه ړوند پيدا شوې وو (٥)
په صحابو رضى الله عنهم كښې ئې دحضرت انس بن مالك، حضرت عبدالله بن سرجس، حضرت ابوالطفيل عامربن واثله رضى الله عنهم نه احاديث اوريدلى دى دغه شان دحضرت سعيد بن مسيب، حسن بصرى ابوعثمان او محمد بن سيرين رحمهم الله نه هم د احاديثو سماع كړې ده (٦)
ددوى نه د سلمان تيمى، ايوب سختيانى، اعمش، شعبه او اوزاعى رحمهم الله نه علاوه نورو ډيرو حضراتو كسب فيض كړې دې (٧)
ددوى په جلالت شان، حفظ ، توثيق فضل وشرف او اتقان باندې اجماع ده (٨)
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى چه دې حافظ، ثقه، او ثبت دې خو مدلس دې په دوى باندې د

---

(١) تهذيب الكمال(٣١\٣٤٠)_
(٢) تهذيب الكمال (٣١\٣٤٢)_
(٣)عمدة القارى (٣١\١٤٠)_
(٤) تهذيب الكمال (٣١\٢٤٣)_
(٥) عمدة(١١\١٤٠)_
(٦) المصدرالسابق_
(٧) المصدرالسابق_
(٨) المصدرالسابق_

قدري كيدو تهمت هم شته.(١)
خوددې باوجود اصحاب صحاح دوی حجت تسليم کړې دې خاص کرچه کله دوی دتحديث تصريح اوکړی.(٢) په ٦٠هـ يا ٦١هـ کښې پيدا شوې وو اوپه ١١٧هـ يا ١١٨هـ کښې وفات شوی دی.(٣)

⑤ حسين معلم: دوی د حسين بن ذکوان مُکتّب معلم بصری دې.قتاده.عطاء بن ابی رباح او نافع مولی ابن عمر ﷺ نه روايت کوی.
اوددوی په شاګردانوکښې شعبه بن الحجاج.عبدالله بن المبارك.يحی القطان.او يزيد بن هارون وغيره حضرات دی.
يحی بن معين.ابوحاتم.اونسائی دوی ته ثقه ونيلی دی.(٤)حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.،،ثقة ربما وهم،،(٥)

⑥ انس رضی الله عنه: دا مشهوراومعروف صحابی رضی الله عنه دې.د رسول الله ﷺ خاص خادم او حضرت انس بن مالك بن نضربن ضمضم بن زيد بن حرام بن جندب بن عامر بن غنم خزرجی انصاری رضی الله عنه دې(٦)
رسول الله ﷺ ددوی کنيت ابوحمزه کيخودې وو.خکه چه دوی د حمزه نومې يوه سبزی ډيره زياته خوښوله.(٧)
حضرت انس رضی الله عنه د نبی کريم ﷺ لس کاله خدمت کړې دې.او د نبی ﷺ نه ډير احاديث اوريدلی دی.ددوی نه يو زر دوه سوه شپږ اتيا احاديث نقل دی.په دې کښې يو سل اته شپيتۀ احاديث متفق عليه دی.اوامام بخاری رحمه الله په درې اتيا احاديثو کښې متفرد دې.او امام مسلم رحمه الله په يو اويا احاديثو کښې متفرد دې.(٨)
دحضرت انس مور بی بی حضرت ام سليم رضی الله عنها ددوی دپاره د نبی ﷺ نه د دعا درخواست کړې وو.نو نبی ﷺ دوی په مال ،اولاد او اوږد عمر دپاره اوپه دې کښې د برکت دعا کړې وه. هم دا وجه وه.چه د حضرت انس رضی الله عنه عمرد سلو نه زيات وو.په بصره کښې د ټولو صحابو نه په آخره کښې دوی وفات شوی وو.په اولاد کښې د برکت دا حال وو.چه حجاج

---

(١) حافظ ذهبی رحمه الله په ميزان الإعتدال (٣٨٥\٣) کښې فرمانيلی دی.چه ..ورمی بالقدر.. اوپه تذکرة الحفاظ (١\١٢٤) کښې په جزم سره فرمائی.چه ..کان يری القدر..
(٢) ميزان الإعتدال (٣\٣٨٥) رقم ٦٨٦٤)_
(٣) عمدة (١\١٤٠) وتهذيب الکمال (٣٣\٥١٧)_
(٤) تهذيب الکمال (٦\٣٧٢. ٣٧٣)_
(٥) تقريب التهذيب (ص.١٦٦) رقم ١٣٢٠)_
(٦) تهذيب الأسماء واللغات(١\١٢٧)_
(٧) جامع ترمذی .کتاب المناقب باب مناقب لأنس بن مالك رضی الله عنه رقم ٣٨٣٠)_
(٨) تهذيب الأسماء (١\١٢٧)_

کله بصرۀ ته راتلو.نود حضرت انس ﷺ ملو ته نزدې په خپل لاس خپل اولاد دفن کړی وو.په مال کښې د برکت اثر دا وو چه ددوی باغ به په کال کښې دوه خله میوه کوله.[1]

په کال ٩٣ ھ کښې کله چه د دوی عمر یوسل دیرش کاله وو.[2]

او بصره کښې وفات شو.امام محمد بن سیرین رحمه الله ورته غسل ورکړلو.او د بصرۀ نه یونیم فرسخ لرې په خپل کور کښې دفن کړې شو.[3]

دلته دوه سندونه دی.دامام بخاری رحمه الله د استاذ مسدد او د هغوی د استاذ یحی .هغه ((عن شعبة عن قتادة عن أنس عن النبی ﷺ)) روایت کوی.

اوبیا یحی بل استاذحسین معلم دې.کوم چه ((حدثنا قتادة عن أنس عن النبی ﷺ)) سره نقل کوی.

امام بخاری رحمه الله د اولنی سند نه پس دویم سند ددې دپاره ذکر کړلو چه په اولنی سند کښې شعبة عن قتادة دی.او په دویم سند کښې ((عن حسین المعلم حدثنا قتادة)) دې.شعبه رحمه الله ..عن.. استعمال کړې دې.په کوم کښې چه د انقطاع او اتصال دواړو احتمال شته.او حسین معلم د تحدیث صیغه استعمال کړې ده.نوځکه مصنف رحمه الله دواړه جمع نکړل.بلکه جدا جدا ئې ذکر کړل.خو که دا تصریح هم نه وه.نو بیا هم ،،شعبة عن قتادة،، کښې د تدلیس څه احتمال نه وو. ځکه چه شعبه د تدلیس په مسئله کښې ډیر سخت دې.[4]

بلکه ددوی خودا حال دې چه قتاده اګرچه مدلس دې.خو که دوی د قتاده معنعن روایت نقل کوی.نودا ګنړلی شی.چه قتاده په دې روایت کښې تدلیس نه دې کړې.ګنی شعبه رحمه الله به ترې روایت هیڅ کله نه کولو.یعنی د قتاده رحمه الله کوم روایت چه په ..عن.. سره وی.که دا روایت شعبه نقل کړی.نو دا د دې خبرې ضمانت دې.چه دلته قتاده تدلیس نه دې کړې.[5]

قوله: لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ: په تاسو کښې هیڅ څوك تر هغه وخته پورې مومن نشی جوړیدې.ترڅوچه هغه د خپل ورور دپاره هغه څیز خوښ نکړی.کوم چه دې د خپل ځان دپاره خوښوی.دا حدیث د امام ابوحنیفه رحمه الله په پنځو منتخبو احادیثو کښې یوحدیث دې.اود امام ابوداود په څلورو منتخبو احادیثو کښې یو حدیث

---

[1]) عمدة القاری (١\١٤٠) وتهذیب الأسماء (١\١٢٧)_

[2]) تهذیب التهذیب (١\٣٧٨ . ٣٧٩)-

[3]) عمدة القاری (١\١٤٠)_

[4]) امام شعبه رحمه الله فرمانی.التدلیس أخوالکذب.. مقدمة ابن الصلاح ص.٣٥) دغه شان فرمانی. ((لأن أقع من السماء فانقطع أحب إلی من أن أدلس (سیرأعلام النبلاء (٧\٢٢٠) دوی د تدلیس په باره کښې تردې پورې بیان کړی دی ((لأن أزنی أحب إلی من أن أدلس سیر أعلام النبلاء (٧\٢١٠)_

[5]) قال عبدالرحمن بن مهدی:قال شعبة کنت أتفقد فم قتادة فإذا قال سمعت أو حدثنا تحفظته وإلا ترکته انظر سیرأعلام النبلاء (٧\٢١٥) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمانی...روایة شعبة عن قتادة مأمون فیها من تدلیس قتادة لأنه کان لا یسمع منه إلا ما سمعه .. فتح الباری (١\٥٩) کتاب الإیمان باب حب الرسول من الإیمان)_

دي.كه چيرته په دي حديث باندي عمل اوكړي شي.چه كله د چا سره څه معامله كولي شي.نو سوچ كولي شي.كه زه د ده په ځائي ووم.نو آيا ما به دا څيزخوښولو.كوم چه زه دده سره كول غواړم.نود هر فساد جرړه به كټ شوي وه.د مساوات دا عمل د كمال ايمان مقتضي دي.په دي باندي د مرجئه ترديد هم اوشو.هغوي وائي چه په طاعت باندي څه فائده نه ملاويږي.

يواشكال او د هغې جواب دلته يو اشكال كيږي.چه نبي ﷺ اوفرمائيل چه په تاسو كښي هيڅ څوك مومن نشي جوړيدي.ترهغه وخته پوري چه ترڅو هغه د خپل ورور دپاره هغه څيز نه وي خوښ كړي. كوم چه د خپل خان دپاره خوښوي.نو كه يو كس شرابي وي.يا غل وي نوآيا تر هغه وخته پوري به مومن نه وي.چه تر څوچه هغه د خپلو نورو ورونړو دپاره شراب او غلا خوښه نكړي.دا خبره خو د عقل نه خلاف ده.

ددي جواب دا دي چه د نسائي په روايت كښي الفاظ دا دي.((لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ من الخير))(١) په دي كښي ،،من الخير،، الفاظ دي.نو په اعتراض كښي د شرابو او سرقه مسئله دلته نشي چليدي.

دخپل ورور دپاره دخپل خوښ څيزخوښولو څه مطلب دي. دويم اشكال دا كيږي.چه دا ني اوفرمائيل.چه په تاسو كښي هيڅ څوك ترهغه وخته پوري مومن نشي جوړيدي.ترڅو چه دخپل ورور دپاره هغه څيز خوښ نكړي. كوم چه د خپل خان دپاره خوښوي.ددي څه مطلب دي؟ آيا ددي مطلب دا دي.چه ده سره كوم څيز وي.چه تر څو پوري هغه بل ته ورنكړي.او په خپله خالي لاس پاتې نشي.نوترهغه وخته پوري دي مومن نشي جوړيدي؟ نودا معنى مراد اخستل خو صحيح نه دي.ځكه چه په يو ځائي كښي هم اسلام خپل منونكي په دي نه دي مكلف كړي.چه او بيا هغه هم په دي طريقه چه بغير ددي نه ايمان متحقق نشي .دغه شان دا ونيل هم صحيح نه دي.چه دده خواهش پكار دي.چه كوم څيز ما سره دي.بعينه هم دا څيز زما د ورور سره هم وي. چونكه يو څيز چه كله يو سره وي.نو هغه بل چاته نشي ملاويدلي. كه ته اووائي.چه مطلب دا دي.چه ددي نظير بل ورور ته ملاؤ شي.داصل ملاويدل مراد نه دي.نو بيا هم معنى نه صحيح كيږي.بيا خو به د هركمال او خوبۍ خواهش دهر چا دپاره ضروري وو.

نوددي جواب دا دي.چه په اصل كښي ددي حديث مفهوم باندي پوهه شئ.د حديث مفهوم دا دي چه په كومه طريقه تاسو دخپل خان دپاره دا خواهش كوئ.چه زما عزت دي برقرار وي.ما سره دي انصاف كولي شي.كه زه څه بنه كار اوكړم.نود هغې داد گيرنه دي راته ملاؤ شي.زما دل شكنني دي اونكړي شي.زه دي د خپلو حقوقو نه محروم نكړي شم.هم دا جذبه پكار ده.چه ستا د بل ورور دپاره هم وي چه د هغه عزت نفس برقرار وي.د هغه سره انصار كولي شي كه هغه قابل تعريف كار اوكړي چه د هغه حوصله افزائي اوكړي شي.هغه ته دي

١) سنن نسائي (٢٢٧٠) كتاب الإيمان وشرائعه باب علامة الإيمان رقم ٥٠٢٠)_

هم د هغه حقوق ملاؤ شي.د حديث د مفهوم د وضاحت نه پس اوس څه اشكال نه واردېږي
اوګورئ په قرآن مجيد كښې د ناپ تول په سلسله كښې د تطفيف ذكر راغلې دې.دغه شان
پوهه شه.چه په نورو معاملاتو كښې هم تطفيف كېږي.خلق د خپل خان دپاره ددې خبرې
خواهش لري.چه زمونږ د عزت نفس خيال دې اوساتلې شي.اود نورو خلقود عزت نفس
خيال دې ونشي ساتلې.د خپل خا دپاره ددې مطالبه كولې شي.چه زمونږ حقوق دې مونږ ته
پوره ملاؤ شي.اود نورو د حقوقو دوی څه خيال نه ساتي.«وقس على هذا» نو لكه څنګه چه په
تول او ناپ كښې تطفيف ممنوع دې.دغه شان په دې معاملاتو كښې هم ددې نفی شوې
ده.(١)

دحديث پاک يو مقصد يوه خبره دا هم شوې ده.چه په اصل كښې ددې حديث پاك مقصد او
مدعا دا ده.چه تاسو د چا سره حسد مه كوئ.دحاسد خواهش دا وی.چه د محسود عليه سره
كوم كمال دې.هغه كمال د هغه سره باقی پاتې نشی.برابر ده كه ماته حاصل وی اوكه نه.نبی
ﷺ د «لايؤمن أحدكم حتى يحب لأخيه مايحب لنفسه» عنوان اختيار كړلو.اومقصد ئې ا دې.چه
تاسو د خپل ورور نه د هغه د خوبئ او صفت د زائله كولو خواهش مه كوئ.ستاسو خواهش
خو دا پكار دې.چه لكه څنګه چه الله تعالى تاسو ته نعمتونه دركړی دی.دغه شان دې د
هغه سره هم نعمتونه وی.تاسو دهغهٔ نه د هغې د زوال تمنا مكوئ.(٢)

دحديث پاک يو بل مطلب: د حديث يو مطلب داهم بيان شوې دې.چه دا ارشاد د مشورې په
باره كښې دې.كه يو كس ستا نه مشوره اوغواړی.نوخپل خان د هغه په ځائې فرض كړه.اودا
سوچ اوكړه.كه ته دده په ځائې وې.نو د خپل خان دپاره به دې كوم څيز خوښولو.نو چه كوم
څيز د خپل خان دپاره خوښوې.هم د هغې مشوره وركړه.(٣)

امام غزالی رحمه الله يوه واقعه ليكلې ده.چه يو كس ته چا شكايت اوكړلو.چه زما په كور كښې
مګې دی.چه ډېر زيات ترې تنګ شوې يم.او ډېر مو پريشانه كوی.څه كول پكار دی؟ نو
هغوی ورته مشوره وركړه.چه د مګو علاج دا دې.چه ته يوه پيشو اوساته.هغه ورته
اوونيل ما سره ويره ده.چه هسې نه د پيشو آواز واوری.اود ګاونډی كور ته لاړې نشی.
اوكوم تكليف چه ماته اوس ملاويږی.هغه به ګاونډی ته ملاويږی.نو په دې صورت كښې به
د خپل ورور دپاره د هغه څيز خوښونكې شم.كوم چه د خپل خان دپاره نه خوښوم.(٤)

د«لايؤمن» مفهوم بهرحال دلته دكمال ايمان نفی مراد دې.او مقصد دا د.چه په كامل

---

(١) فضل البارى (١١\٣٣٤، ٣٣٥)_
(٢) امداد البارى (٤\٣٦٤)_
(٣) فضل البارى (١١\٣٣٥) وامداد البارى (٤\٣٦٥)_
(٤) فتح الملهم (١١\٦٤٧) كتاب الإيمان باب الدليل على أن من خصال الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه من الخير)_

مومن كښې دا جذبه پكار ده.(١) يا دا ونيلې شي چه دا د((تنزيل الناقص بمنزلة المعدوم))د باب نه دې او تنبيه او تذكير مقصود دې مطلب دا دې كه په مومن كښې دا صفت نه وي نو د ده ايمان د څه كار نه دې؟ دايمان سره دا صفت ضرور پكار دې ددې نه بغير يوكس د مومن ونيلو مستحق نه دې دا ((تنزيل الناقص بمنزلة المعدوم))دې.(٢)

دحضرت سليمان عليه السلام دعا ﴿ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَهَبْ لِيْ مُلْكًا لَّا يَنْبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْ بَعْدِيْ ﴾ باندې اشكال وارديږي چه هغه ددې حديث سره منافى ده.ددې نه جواب دا دې چه مونږ د حديث كوم مفهوم او مقصد بيان كړلو.د هغې نه پس دا اشكال باقى نه پاتې كيږي.دغه شان ته داسې اووايه چه دحضرت سليمان عليه السلام دعا د جواز د بيان دپاره وه.يا هغه د أمورو طبيعه د قبيلې څنې وه.(٣)

٧-بَاب حُبُّ الرَّسُولِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ الْإِيمَانِ

په وړاندينى باب كښې ((من الإيمان)) مقدم كړې وو.او دلته ئې ((من الإيمان)) موخر كړې دې.دا هم هغه تفنن دې.امام بخارى رحمه الله خو اول دا ثابته كړه.چه د خلقو د ضرر نه خپل ځان بچ ساتل پكار دى.ددې نه ئې دا ثابته كړه.چه مواسات په خپل مينځ كښې كول پكار دې.او د نورو خلقو خيال ساتل او ځان خبرول پكاردى.ددې نه پس ئې مساوات بيان كړو چه د خپل ورور دپاره هم هغه څيز خوښول پكار دى.كوم چه تاسو د خپل ځان دپاره خوښوئ.او اوس د هغې نه پس د مساوات وړاندينۍ درجه بيانوى.چه د رسول الله ﷺ سره د خپل ذات نه زيات محبت كول پكار دى.

په اصل كښې د محبت مركز خو دالله تعالى ذات دې.هغه خالق،مالك رازق دې مدبر اوقيوم دې.خو الله تعالى ته د ټولو نه زيات نزدې محمد ﷺ دې.دوى په مخلوق كښې د ټولونه زيات الله تعالى ته نزدې دى.او د الله تعالى د صفاتو د ټولو نه لوئې مظهردې.نو د محبت اصل مركز د الله تعالى ذات دې.و بيا د رسول الله ﷺ ذات دې.نو د رسول الله سره محبت د خپل ذات سره د محبت نه هم زيات ساتل پكار دى.

[٣] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنْ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ

نبى كريم ﷺ فرمائى چه قسم دې په هغه الله دچا په لاس كښې چه زما روح دې.هيڅ څوك نشي مومن كيدې ترڅو چه دهغه په نيز زه د خپل پلار.اواولاد نه زيات محبوب نشم.

---

(١) فتح الملهم (٥٣٥\١) كتاب الإيمان باب الدليل على أن من خصال الإيمان أن يحب لأخيه المسلم ما يحب لنفسه من الخير)_

(٢) فيض البارى (٨٢\١) باب من الإيمان ...)_

(٣) تقرير بخارى (١٢٢\١)_

رجال الحديث

① ابواليمان: د دوى حالات په ..بدء الوحى..د شپږم نمبر حديث لاندې تيرشوى دى.

② شعيب: ددوى حالات هم د ..بدء الوحى..د شپږم نمبر حديث په ضمن كښې تير شوى دى.

③ ابوالزناد: دا عبدالله بن ذكوان مدنى قرشى دې.ابوعبدالرحمن ددوى كنيت دې.او ابوالزناد د كنيت په صورت كښې ددوى لقب دې.[1]

په دې باندې به دوى خفه كيدلو.خو دوى هم په دې كنيت پشان نوم باندې مشهور دى.[2]
د دوى په جلالت قدر او امامت باندې اتفاق دې.حضرت سفيان ثورى رحمه الله به دوى ته امير المومنين فى الحديث وئيل.ابوحاتم رحمه الله به فرمائيل.
«ثقة صاحب سنة وهوممن تقوم به الحجة إذا روى عن الثقات»[3]
ددوى شمار اګرچه په صغاروتابعينو رحمهم الله كښې كيږى.خو د دوى نه ډيرو تابعينو روايت كړې دې.او داد دوى په خصوصيات كښې ده.چه دوى د يو صحابى نه هم روايت نه دې اوريدلې.خوددې باوجود به تابعينو ددوى نه روايت كول.[4]
امام احمد رحمه الله فرمائى.چه ابوالزناد په فقه كښې د ربيعه نه پورته دې.[5]
امام بخارى رحمه الله فرمائى.چه دحضرت ابوهريره رضي الله عنه په اسانيدو كښې د ټولو نه اصح سند د «أبوالزنادعن الأعرج عن أبي هريرة رضي الله عنه» دې.[6]
د شپږشپيته كالوپه عمر كښې په ۱۳۰ هـ يا ددې نه پس وفات شوې دې رحمه الله[7]

④ أعرج: دا ابوداود عبدالرحمن بن هرمز مدنى قرشى دې.دا تابعى دې.او ابوسلمه او عبدالرحمن بن القارى وغيره نه روايت كوى.ددوى نه دامام زهرى.يحى انصارى.اويحى بن ابى كثير رحمهم الله نه علاوه نوروحضراتو روايت كړې دې.ددوى په توثيق باندې د ټولواتفاق دې[8]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.«ثقة ثبت عالم»[9] په ۱۱۷ هـ كښې ددوى وفات شوې دې.[10]

---

[1] تقريب التهذيب (ص.۷۲۷) الكنى من الألقاب)_
[2] عمدة القارى (۱۴۲\۱)-
[3] المصدر السابق)_
[4] عمدة (۱۴۳\۱)_
[5] المصدر السابق)_
[6] المصدر السابق)_
[7] تقريب (ص.۲۰۲) رقم ۳۳۰۲) وعمده (۱۴۳\۱)_
[8] عمدة القارى(۱۴۳\۱)_
[9] تقريب التهذيب(۲۵۲) رقم ۴۳۲)_
[10] عمدة (۱۱۴۳) وتقريب (۳۵۲)_

⑤ حضرت ابوهريرة رضي الله عنه: ددوى حالات وړاندې د شعب الايمان د حديث په ضمن كښې تير شوى دى

[١٥] حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ عَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وحَدَّثَنَا آدَمُ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ (١) قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ

رجال الحديث

① يعقوب بن ابراهيم: دا ابويوسف يعقوب بن ابراهيم بن كثير بن زيد بن افلح عبدى دورقى دې.ثقه حافظ اومتقن وو.د ليث بن سعدليدل ئې كړى دى.ابن عيينه .يحى القطان.يحى بن ابى كثير رحمه الله اود نورو حضراتو نه ئې حديث روايت كړې دې.د دوى نه به ددوى ورور احمد بن ابراهيم .ابوحاتم.او ابوزرعه روايت كولو.په ٢٥٢ھ كښې دوى وفات شوى دى.(٢) رحمه الله رحمة واسعة

② ابن عُلَيَّه: دا اسماعيل بن ابراهيم بن مقسم (بكسر الميم وسكون القاف وفتح السين المهملة بعدها ميم) اسدى بصرى دې. دابن عُلَيَّه په نوم باندې مشهور دې. عُلَيَّه په اصل كښې د دوى د مور نوم دې.هم هغوى طرف ته منسوب دې.دوى به په دې نوم باندې خفه كيدلو.خو چونكه مشهور شوې وو پرې،ددې وجې به محدثينو رحمهم الله ورته اسماعيل بن عليه وئيل.البته امام شافعي رحمه الله چه به كله د دوى نه روايت كولو.نوفرمائيل به ئې.((أخبرنا إسماعيل الذى يقال له ابن علية))(٣)

امام شعبه رحمه الله به دوى ته سيد المحدثين وئيل.

امام احمد رحمه الله به فرمائيل.((إليه المنتهى في التثبت بالبصرة))

د دوى په جلالت شان باندې اتفاق دې.عبدالعزيزبن صهيب .ايوب سختيانى نه علاوه د نورو محدثينو نه ئې اوريدل كړى دى.په ١٩٣ھ يا ١٩٤ھ كښې په بغداد كښې وفات شوې دې.(٤) رحمه الله رحمة واسعة.

---

١)الحديث أخرجه مسلم فى صحيحه كتاب الإيمان باب وجوب محبة رسول الله ﷺ .. رقم ١٧٧و ١٧٨) والنسائى فى سننه فى كتاب الإيمان وشرائعه باب علامة الإيمان رقم (٥٠١٧و ٥٠١٨) وابن ماجه فى المقدمة باب فى الإيمان رقم ٦٧)_

٢) عمدة القارى (١\١٤٥)_

٣) شرح نخبة الفكر(١٣٩) معرفة من نسب إلى غيره أبيه)_

٤) عمدة القارى (١\١٤٥) وتقريب التهذيب (١٠٥) رقم ٤١٦)_

③ عبدالعزيزبن صهيب: دا عبدالعزيز بن صهيب بنانى بصرى دې تابعى دې. دحضرت انس رضی الله عنه نه ئې احاديث اوريدلى دى. شعبه رحمه الله به د دوى نه روايت كولو.او فرمائيل به ئې «هوعندى لى أنس أحب إلى من قتادة» د دوى په توثيق باندې اتفاق دې.اصحاب اصول سته د د دوى روايات نقل كړى دى.
قاضى اياس بن معاويه رحمه الله به خانله د عبدالعزيزبن صهيب رحمه الله شهادت قبلولو.په كال ۱۳۰ه كښې وفات شوى دى. رحمه الله رحمة واسعة (۱)

④ آدم: دوى آدم بن ابى اياس دى.او د دوى حالات د «باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده»، لاندې تيرشوى دى.

⑤ شعبه: د دوى حالات په «باب المسلم من سلم المسلمون..» كښې راغلى دى.

⑥قتادة رضی الله عنه ⑦حضرت انس رضی الله عنه: ددې دواړو حالات په مخكنى باب كښې مونږ ليكلى دى.

دحديث شرح : امام بخارى رحمه الله دلته اولنې روايت د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه نقل كړې دې.په دې كښې د "والذى نفسى بيده لايؤمن أحدكم حتى أكون أحب إليه من والده وولده" الفاظ موجود دى.
دويم روايت د حضرت انس رضی الله عنه دې.ددې ئې دوه سندونه بيان كړى دى.اولنې سند، عبدالعزيز بن صهيب عن أنس، په سند سره.دې.اود دويم سند ئې د ،،عن قتادة عن أنس رضی الله عنه،، په طريق سره نقل كړې دې.اودلته تحويل دې.(۲) خو امام بخارى رحمه الله چه د حديث كوم الفاظ نقل كړى دى.د عبدالعزيزبن صهيب په سند سره ئې نه دى نقل كړى.د قتاده د روايت الفاظ بعينه هم هغه دى.كوم چه د حضرت ابوهريره رضی الله عنه د روايت الفاظ دى.صرف په هغې كښې د «والناس أجمعين» زيادت دې.په خلاف د عبدالعزيزبن صهيب د روايت.په هغې كښې «لايؤمن أحدكم حتى أكون أحب إليه من أهله وماله» راغلى دى.دا الفاظ د ابوهريره رضی الله عنه د روايت مطابق نه دى.اودامام بخارى رحمه الله مقصد د ابوهريره رضی الله عنه د روايت تائيد دې.هغه د «قتادة عن أنس» د روايت د سند په الفاظو سره كيرى.اود «عبدالعزيزبن صهيب» د روايت په الفاظو سره نه كيرى.ددې وجې ئې د عبدالعزيز د روايت الفاظ ذكر نكړل.(۳)

---

۱) عمدة القارى (۱\۱۴۵) وتقريب (۳۵۷) رقم ۴۱۰۲)_
۲) د تحويل پوره بحث د بدء الوحى د پنځم حديث لاندې تير شوې دې...عبدالعزيز بن صهيب عن انس رضی الله عنه.. دا د روايت الفاظ نه دى.نوځكه ئې ..عبدالعزيز بن صهيب رحمه الله د روايت الفاظ نه دى ذكر كړې (فتح البارى (۱\۵۹)_
۳) فتح البارى (۱\۵۹)_

په حديث پاک کښې د قسم صيغه راوړلو وجه دلته کښې يو سوال پيدا کيږي.چه نبي ﷺ قسم اوخوړلو اووې فرمائيل.چه په تاسو کښې هيڅ سړې مومن نشي کيدې.ترڅو چه زه هغه ته د پلار او اولاد نه زيات محبوب نشم.د نبي ﷺ په وينا باندې خو په هرصورت کښې يقين کولې شي نو بيا د ،،والذي نفسي بيده،،د قسم صيغه نبي ﷺ ولې استعمال کړې ده؟
ددې يو جواب خو دا ورکړې شوې دې.چه دا خبره اهمه ده او اهمه خبره د تاکيد په طريقه ذکر کولې شي.نوځکه نبي ﷺ د تاکيد په طور ذکر کولودپاره د قسم صيغه استعمال کړله. چه د قسم نه تاکيد پيدا شي.(١)
دويم جواب دا دې.چه په اصل کښې د محبت معامله لګه غوندې نازکه وي.د سړي د خپل خان.خپل اولاد او خپل مور پلار سره زيات محبت وي.په دې محبتونو باندې د نبي ﷺ محبت غالب کول ګران کار دې.نوځکه نبي ﷺ قسم اوخوړلو.او وې فرمائيل چه تر څو پورې د مور پلار.اولاد او ټولوپه مقابله کښې زما محبت زيات نه وي.نو تر هغه وخته پورې ستاسو ايمان صحيح نه دې.ددې اشکال لرې کولو دپاره چه د مور پلار.اولاد او خان سره محبت غيراختياري دې.اوپه باقي ټولو محبتونو باندې غالب وي.نود نبي ﷺ محبت به څنګه غالب شي؟ نو نبي ﷺ قسم اوکړلو. او وې فرمائيل.چه دا معمولي خبره مه ګڼړئ.دا ضروري ده.زه قسم کوم او وايم.چه ددې نه بغير کار نه کيږي.
د محبت معنى او ددې قسمونه دلته په عالمانو کښې خبرې شوې دي.چه دلته محبت نه کوم محبت مراد دې؟ اول تاسو د محبت معنى اوددې قسمونه زده کړئ. بيا به دې نه پس پوهه شئ.چه دلته د محبت کوم قسم مراد دې.
امام راغب رحمه الله نقل کړې دي.چه محبت :،،إرادة ماتراه أوتظنه خيراً،،ته وائي.(٢)
يعنى په کوم څيز چه ته د خير ګمان کوې.اودهغې ته اراده اوکړې.نودا محبت دې.
بيا د محبت څو قسمونه دي.
① يو محبت طبعي دې.لکه د اولاد .مور پلار اويا خپل خان سره محبت شو.د دې محبت منشا قرب دې.دخپل خان سره قرب خو معلومه دې.دغه شان د خپل مور پلار سره .ځکه چه دې د هغوى جزء دې.اود بعضيت او جزئيت د وجې د دوى سره ډير زيات نزديکت وي. دغه شان په خپل اولاد کښې هم د جزئيت او بعضيت قرابت موجود دې.نود دوى سره هم محبت زيات وي.دې محبت ته محبت طبعي وائي اودا غير اختياري دې.
② دې نه علاوه يوبل محبت.،محبت احسان،، دې.الإنسان عبدالإحسان،، چه يو کس مونږ سره احسان اوکړي مونږسره ښه سلوك اوکړي.نو زمونږدهغه سره محبت پيدا شي.چونکه احسان کوم چه د دې محبت سبب دې هغه اختياري فعل دې.نو ځکه دا محبت هم اختياري دې.
③ يو محبت ..محبت جمالي.. دې.په دې کښې د محبت سبب جمال وي.او دا هم

---

(١) فتح الباري (١\٥٨) وعمدة القاري(١\١٤٣)_
(٢) المفردات في غريب القرآن (١٠٥)_

اختياري وي.څکه چه ته په خپل اختيا باندې دغه ښکلي څيز ته ګورې.د هغې آواز طرف ته غوږ اږدې.او په خپل اختيار باندې د هغه سره ګډون او ربط قائم ساتې. نو هرکله چه ته په خپل اختيار سره دا ټول کارونه کوې.نو ونيلې شي.چه دا محبت جمالي هم اختياري دې.

④يومحبت دې ..محبت كمالي.. يعنې دچا د څه کمال د وجې د هغه سره محبت کول وي. لوئ لوئ د کمال خاوندان تير شوي دي.اومونږ د هغوی واقعات.د هغوی د علومو او مهارتونوپه کتابونو کښې لوستنه کړې ده.دهغوی سره زمونږ محبت دې چه دهغوی ذکر راشي.نود ادب خيال ساتو.په زړه کښې دننه هغوی ته ميلان پيدا کيږي.اوچه څوك هغوی په بدئ سره ياد کړي.نود دفاع دپاره تياريږو. اود هغوی په شان کښې ګستاخئ اوريدو ته بيخي تيارنه يو.نودهغوی دکمال د وجې مونږ ته دا محبت دهغوی سره پيدا شوې دې.دا هم اختياري دې. څکه چه مونږ د هغوی کمالات اويدلو لوستلو او په هغې کښې مو غور او فکر کړي دي. اودا ټول کارونه اختياري دي.نودا محبت هم اختياري شو.

⑤ددې نه علاوه يو بل محبت دې...محبت عقلي،، په دې کښې دا وي.چه نفع او نقصان سرې ويني.او بيا هغه د فائدې په صورت کښې محبت کوي.لکه که زمونږ په لاس کښې يو غټ زخم راشي.او ددې خبرې ويره وي.چه دا به ښه نشي.ود بدن نورو حصو ته به سرايت اوکړي.اومونږ به هلاك شو.نو مونږ ډاکټر ته ورشو.او هغه ته درخواست کوو.چه آپريش اوکړئ.اوهغه ورته اووائي.چه دا اوليکه.چه په آپريشن کښې څه نقصان راشي.نو زه به د هغې ذمه وار نه يم.دې ورته دا هم اوليکي.څکه چه ده ته خپله فائده په نظر راځي.اګرچه طبعاً غوښې کټ کول اود هډوکي ماتول ئې خوښ نه وي.خو چونکه په دې کښې ورته فائده په نظر راځي. نو څکه دده د دې آپريشن او د دې څيرې کولو سره عقلي محبت وي.

خلاصه دا چه د محبت پنځه قسمونه دي.

① حب طبعي② حب احساني ③ حب کمالي④ حب جمالي⑤ حب عقلي [1]

اوس به تاسو دلته پوهه شئ.چه دلته کوم محبت مراد دې؟

قاضي بيضاوي رحمه الله فرمائي.،،المراد بالحب هنا الحب العقلي الذى هو إيثار ما يقتضى العقل السليم رجحانه وإن كان على خلاف هوى النفس،كالمريض يعاف الدواء بطبعه فينفر عنه،،[2]

يعنې دلته د محبت نه عقلي محبت مراد دې.په کوم کښې چه د عقل سليم مقتضى ته ترجيح ورکولې شي.اګرچه د خپل خواهش خلاف وي.لکه مريض چه دوائي د خپل طبعيت په اعتبار سره نه خوښوي.اوددې نه تختي.

امام خطابي رحمه الله هم فرمائي.چه دلته طبعي نه بلکه اختياري محبت مراد دې.[3] يعنې دا سوچ کول پکار دي.که د نبي ﷺ مونږ تابعداري اوکړو.اود نبي ﷺ سره محبت اوساتو.نوپه دې کښې زمونږ نفع او فائده ده.اوکه مونږ د نبي ﷺ تابعداري اونکړو.اود دوی سره محبت

---

[1]) فضل الباري (۳۳۶\۱)_

[2]) فتح الباري (۶\۱) باب حلاوة الإيمان)_

[3]) فتح الباري(۵۹\۱) باب حب الرسول من الإيمان)_

اونه ساتو.نوزمونږ نقصان دې.د دنيا فائده هم په دې کښې ده.چه د نبی ﷺ تابعدارى اوکړې شی چه دا سوچ اوکړې.نوته به دنبی ﷺ سره محبت شروع کړې.دا محبت عقلی دې. دلته خلقوپه يوه غلط فهمئ کښې پريوخی.اوهغه غلط فهمی دا ده چه کيدې شی د امام خطابى او امام بيضاوى رحمهماالله مقصد دا وى.چه حب عقلى دې حاصل کړې شى.او هم په دې دې قناعت او اکتفا اوکړې شى.خوا خبره صحيح نه ده.د هغوى منشا دا ده. چه د نبی ﷺ سره دا سوچ کول چه دوى سره محبت کول د الله تعالى سره محبت کول دى. او د نبی ﷺ سره محبت کول د دوى په تابعدارئ باندې آماده کونکې او تيزونکې ده.او په ې باندې مونږ ته فائده رسى.نقصان نه رسى.نوچه دا سوچ اوکړى.محبت به ورسره کولې شى.
بيا دې په دې کښې حب احسانى هم شامل کړې شى.چه د نبی ﷺ په مونږ باندې بې شميره احسانات دى.دوى مونږ د ظلمت د تيرو نه راويستې يو.اود هدايت په کهولاؤ لاره باندې ئې اودرولې يو.دوى مونږ دالله تعالى د حکمونو نه خبر کړى يو.دوى زمونږ د خير خيگړې دپاره ډير مشقتونه زغملى دى.بغير د څه لالچ نه،دخپل څه ذاتى مقصد نه بغير ئې زمونږ د کاميابئ او فلاح دپاره تکليفونه برداشت کړى دى.اوخپل ځان ئې په امتحاناتو کښې اچولې دې.نودا حب احسانى دې ورسره هم شامل کړې شى.
بيا دې ورسره حب کمالى هم شامل کړې شى.چه نبی ﷺ ته الله تعالى کوم کمالات ورکړې دى. هغه د ,,بعد از خدا بزرگ توئى قصه مختصر،،مطابق په مخلوق کښې چه چاته هم دغه کمالات نه دى ورکړې شوى.
دغه شان د نبی ﷺ د جمال تصورکولې شى.اوحب جمالى دې ورسره هم شامل کړې شى.
نوهرکله چه ته ددې حب عقلى سره حب احسانى،حب کمالى او حب جمالى هم جمع کړې.نوبيا به دا محبت عقلى دومره ترقى اوکړى.چه محبت طبعى به هم ددې په مقابله کښې هيڅ نه وى.([1])

دحضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه واقعه اوګورئ حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه په غزوه بدر کښې موجود دې.او د دوئ خوئې عبدالرحمن د کافرانود لښکرد طرفه د مقابلې دپاره اعلان کوى.(چه څوك به زما مقابلې ته راوځى) نوحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د نبی ﷺ نه اجازت غواړى. خونبی ﷺ اجازت نه ورکوى.([2]) د دوى محبت عقلى ترقى کړې وه.او دې مقام ته رسيدلې وو.چه د محبت طبعى اقتضاء هلته باقى پاتې نه وو.

حضرت عبدالله بن عبدالله بن أُبی رضي الله عنه واقعه حضرت عبدالله يو صحابى دې.کوم چه د عبدالله بن ابى ابن سلول راس المنافقين خوئې وو.دوى مخلص او صادق الايمان صحابى وو.په يوه موقعه عبدالله بن ابى ابن سلول رئيس المنافقين اوونيل(لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ)

---

[1]) نبی ﷺ سره د محبت داهميت په باره کښې داحقرمترجم په تاليف ..دمنبرګلونه.. کښې ..په امت باندې دخپل پيغمبر ﷺ سره د مينې وجوب.. په موضوع باندې ليکلې شوې تقريرد کتلو قبل دې.

[2]) الإستيعاب في معرفة الأصحاب بهامش الإصابة-(١٢٠٠.٤.٣٩٩)_

نو نبی ﷺ ته دا خبره اورسیدله چه کهل د قران کریم په ذریعه ددې خبرې تصدیق اوشو.نو حضرت عمر رضی الله عنه د نبی ﷺ نه د دې منافق د ختې وهلو اجازت اوغوښتلو.خو نبی ﷺ ورته اجازت ورنکړلو.

حضرت عبدالله رضی الله عنه نبی ﷺ ته تشریف یوړلو او عرض ئې اوکړلو. یارسول الله! ماته معلوم شوې ده چه تاسو د عبدالله بن ابی (زما د پلار) قتل کول غواړئ.که ستاسو دا اراده وی.نوماته حکم اوکړئ چه زه تاسو ته دهغه سر راوړم...نبی ﷺ منع کړلو.او ورته ئې اورمائیل مونږ به هغه سره د نرمئ معامله کوو.([1])

دلته په خوئې کښې محبت طبعی باقی پاتې نه وو.بلکه حب عقلی چه دایمان محبت دې.هغه غالب شوې وو.

دحضرت عبدالله بن زیدبن عبد ربه واقعه دغه شان حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه دې په خوب کښې هم دوی ته د اذان کیفیت خودلې شوې وو.دوی په خپل پټی کښې کار کولو چه خوئې ئې راغلو.نود رسول الله ﷺ د وفات خبر ئې ورته ورکړلو.چه دا ئې واوریدلو.نوسمدستی ئې دعا اوکړله.اې الله په کومو سترګو چه مې د رسول الله ﷺ لیدل کړی وو..اوس د هغوی ﷺ نه پس په دې سترګو بل څیز لیدل نه غواړم.ته زما د سترګو نظر بوځه. نو د هغوی نظر لاړلو.①دا هم هغه حب عقلی دې.کوم چه ترقی اوکړله.اوهم دې مقام ته راورسیدلو .کوم ته چه حب طبعی رسیږی.

دحضرت عبدالله بن حذافه سهمی رضی الله عنه واقعه حضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنه په یوه موقع د رومیانو سره قید شو.اتیا کسان دوی سره وو.د روم بادشاه حضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنه ته اووئیل.چه ته اسلام پریږده.اونصرانیت قبول کړه.زه به تا په خپل حکومت کښې شریك کړم.حضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنه دې پیشکش ته لته ورکړله.هغوی د حضرت عبدالله رضی الله عنه په سولئ باندې د خیژولو اوپه غشو باندې د ویشتلوحکم اوکړلو.نوهغه د سولئ سره اوتړلې شو.خودهغه په مخ باندې څه اثر نه وو.نودوی د هغه خانې راکوز کړې شو. اوبیا ئې په یوکړی کښې د اوبو ګرمولوحکم اوکړلو.کله چه اوبه ښه په جوش شوې یو قیدی ئې په هغې کښې ورواچولو.سمدستی دهغه غوښه د بدن نه جدا شوه.اوهډوکې په کښې ښکاره کیدل شروع شو.حضرت عبدالله ته اووئیلې شو.که اسلام نه پریږدې.اونصرانیت نه قبلوې.نوپه دې کښې به غورځولې شې.کله چه هغه د کړی طرف ته روان کړې شو.نودې په ژړا شو.هغوی دا اوکنړل.چه اوس دې اووریدلو.اوخپل دین به پریږدی.نو واپس ئې راؤغوښتلو.اوتپوس ئې ترې اوکړلو.چه ته ولې ژاړې.نوحضرت عبدالله بن حذافه رضی الله عنه جواب ورکړلو.چه زه په دې خبره ژاړم.چه زما صرف یو روح د الله تعالی په لار کښې قربانی کیږی.افسوس چه زما سل روحونه وو.او یو یو دالله په لار کښې اخستې شو.نوهغه ډیر حیران شو.او بیا ئې اووئیل.که زما تندې دې ښکل کړلو.نو زه به تا آزاد کړم.دوی ورته اوفرمائیل.صرف مابه نه آزادوئ.بلکه زما ټول ملګری به آزادوې.نو هغه ورسره وعده

---

[1]) سیرة ابن هشام بهامش الروض الأنف (٢١٨\٢)غزوة بنی المصطلق)_

اوكړله.دوی د هغه د سر نه بوسه واخستله.اوټول آزاد شول.مدينې منورې ته راورسيدل.
حضرت عمر رضی الله عنه ته چه کله دا واقعه معلومه شوه.نوهغوی دحضرت عبدالله تندی نه بوسه
واخستله.(١)

دحضرت خبيب رضی الله عنه واقعه دحضرت عاصم بن ثابت رضی الله عنه په اميرئ کښې نبی ﷺ يوه سريه
ليږلې وه.چه په هغې کښې خبيب بن عدی رضی الله عنه هم وو.تفصيلی واقعه به په مغازی کښې د
غزوه رجيع په بيان کښې راشی.دلته کښې صرف دومره اوپيژنئ.چه حضرت خبيب کله
کافرانو دقتل دپاره بوتل.نو ابوسفيان چه تراوسه پورې مسلمان شوی نه وو. حضرت خبيب
رضی الله عنه ته اووئيل.،،أتحب أن محمدا أعندنا الآن مكانك نضرب عنقه وأنك في أهلك،، يعنی ته دا
خوښوې.چه هته په خپل کور کښې وې.او په دې وخت کښې مونږ سره محمد (ﷺ) وو.
اومونږ (معاذالله) هغه قتلولو.نوحضرت خبيب رضی الله عنه ورته فرمائی.،،والله ما أحب أن محمدا الآن في
مكانه الذی هو فيه تصيبه شوكة تؤذيه وأنا جالس في أهلي،، يعنی په الله قسم چه زه دومره خبره هم
نشم برداشت کولې.چه زه په خپل کور کښې ناست يم.او زما محبوب محمد ﷺ ته هلته په
خپل مقام کښې د يوازغی تکليف اورسی.په دې باندې ابوسفيان اووئيل.،،ما رأيت من
الناس أحدا يحب أحدا كحب أصحاب محمد محمدا،، يعنی د نبی ﷺ ملګری چه څنګه د هغوی سره
محبت کوی.داسې محبت اوتعظيم مادبل چا نه دې ليدلې.(٢)

ديوې صحابيه واقعه: د يوې انصاری ميرمنې واقعه قاضی عياض رحمه الله په .الشفاء،، کښې
ليکلې ده.چه د احد په ورځ د دغې ښځې خاوند .پلار ،او ورور شهيدان شوی وو.کله چه
هغې ته د دې ټولو د شهادت خبر ملاؤ شو.نودې تپوس اوکړلو.چه رسول الله ﷺ څنګه
دې؟نو ورته اوخودلی شو.چه الحمد لله نبی ﷺ صحيح سلامت دې.نو هغې اووئيل.چه ماته
نبی ﷺ اوښائې.کله چه ئې نبی ﷺ اوليدلو.نوبې اختياره ئې د خولې نه اووتل.،،كل مصيبة
بعدك جلل،، يعنی چه تاسو روغ رمټ ئې.نوبيا هرمصيبت ورکوټې دې.(٣)

دا د صحابه کرامو رضی الله عنهم هغه محبت عقلی وو.چه دې سره حب احسانی.حب کمالی. اوحب
جمالی هم شامل شوې وو.دکومې په وجه چه دغه محبت داسې محبت جوړ شوې وو.چه حب
طبعی ددې په مقابله کښې هيڅ نه وو.

علامه قسطلانی رحمه الله ددې محبت نوم حب ايمانی،،کيخودې دې.(٤)بعضې حضرات دې ته
..حب عشقی،، وائی.(٥)،،حب ايمانی.يا حب عشقی هغه عقلی محبت وو. کوم چه ترقی

---

(١) الإصابة (٢\٢٩٦، ٢٩٧) رقم الترجمة (٤٦٢٢)_
(٢) سيرة ابن هشام على هامش ..الروض الأنف .. (٢\١٦٨، ١٦٩)_ ذكر يوم الرجيع في سنة ثلاث..)_
(٣) فتح البارى (١\٦٤٣) سيرة ابن هشام (٢\١٤٣) غزوة أحد قبيل غزوة حمراء الأسد..)_
(٤) ارشاد السارى (١\٩٧)_
(٥) درس بخارى.ازعلامه عثمانى رحمه الله (١\١٦٦)_

اوکړله.اودې مقام ته راورسیدلو.ځکه په قرآن مجید کښې فرمائی.﴿قُلْ إِنْ كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ اقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَا أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُوا حَتَّىٰ يَأْتِيَ اللَّهُ بِأَمْرِهِ﴾[1] دلته کښې هم ددې څیزونوذکردې.چه کوم سره محبت طبعی کولې شی.خوهغه دایمان محبت (که ته ورته حب ایمانی وائې اوکه حب عشقی.یاحب عقلی) په دې طبعی محبت باندې غالب شوې وو.

دلته په حدیث کښې ئې «لايؤمن أحدكم حتى أكون أحب إليه من والده وولده والناس أجمعين» فرمائیلی دی.دلته په مقابله کښې د والد او ولد محبت دې.او اشاره دې خبرې ته ده.چه هغه حب عقلی حاصلول پکار دی. دکوم حب عقلی سره چه دا ټول محبتونه جمع کولې شی.او بیا هغه ترقی کوی.دحب طبعی نه هم پورته شی.اودحب طبعی ددې په مقابله کښې هیڅ حیثیت پاتې نشی.

بعضې حضراتودا هم فرمائیلی دی.چه دلته محبت طبعی مراد دې.ځکه چه مقابله د والد او ولد د محبت سره شوې دې.او دقران مجید په آیت کښې د آباء،ابناء،اخوان ،ازواج ،عشیره،اموال،تجارت،اوکورونوسره ورکړې شوې ده.اودا ټول محبتونه چونکه طبعی دی.نوځکه به دالله اود رسول د محبت نه هم طبعی مراد وی.[2]

خوبیا به هغه اشکال راځی.چه محبت طبعی خو غیر اختیاری وی. او د غیراختیاری امورو انسان نشی مکلف کولې.نوځکه غوره خبره هغه ده.کومه چه تاته د محبت د تعریف اوددې دقسمونو نه پس اوخودلې شوه.چه دلته خطابی او بیضاوی رحمهما الله چه څنګه محبت عقلی او اختیاری مراد اخستې دې.هلته کښې ئې ترې ته مراد واخله.خودا کوتاهی اوستې مکوئ.چه په محبت عقلی باندې اکتفاء اوکړئ.نه بلکه منشاء او مقصد دا دې.چه د محبت عقلی سره نور محبتونه هم جمع وی.اوکله چه ورسره هغه جمع شی.نوبیا به دا محبت عقلی ترقی اوکړی.نوددې نه به محبت ایمانی اومحبت عشقی جوړ شی.اودا به په محبت طبعی باندې هم غالب شی.

د والد او ولد دتخصیص اوپه یوبل باندې دتقدیم وجه دلته په روایت کښې د والد او ولد ذکردې.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه ددې وجه دا ده.چه د عاقل په نیزد دا دواړه د اهل اومال نه اوچت دی.بلکه بعضې دځپل ځان نه هم اوچت وی.ځکه خو د حضرت ابوهریره رضي الله عنه په حدیث کښې د ،،نفس،، ذکرنشته.[3]

بیا په ذکرشوو روایاتوکښې د ،،والد،، ذکر وړاندې اود ولد روسته دې. او داسې روایات هم شته.چه په هغې کښې د ،،ولد،، ذکر وړاندې دې.او د ،،ولد،، روسته دې.[4] دهریو

---

[1] سورة توبه: ۲۴)_

[2] تقریر بخاری(۱۲۳\۱)_

[3] فتح البارى(۵۹\۱)_

[4] ملاحظه:صحيح مسلم،كتاب الإيمان باب وجوب محبة رسول الله ﷺ ...)_

توجیه کیدې شي په کوم خانې کښې چه د ..والد.. ذکر وړاندې دې نودا ددې وجې چه والد په وجود کښې هم د ولد نه مقدم دې اوپه مرتبه کښې هم .اوپه کوم خانې کښې چه د ..ولد.. ذکر مقدم دې نوهلته به ونیلی شي چه د شفقت اومحبت په باره کښې چونکه ولد په والد باندې مقدم وی یعنی د والد محبت چه د ولد سره څومره زیات وی نود ولد محبت د والد سره دومره زیات نه وی نوځکه د ولد ذکرپه دې روایت کښې مقدم راغلې دې.(۱)

دوالد په مفهوم کښې ام دخول بیا سوال دا پیدا کیږی چه آیا د ..والد.. په مفهوم کښې ..ام.. هم داخلیږی که نه؟ نوکه د ..والد.. نه ..من له الولد.. مراد وی نوپه دې کښې ..ام.. هم داخله ده بلکه ددې معنی په اعتبارسره په کښې اجداد جدات اوددې نه د پورته سلسلهٔ خلق هم داخلیږی خکه چه د ولادت تعلق ددې ټولو سره دې داسې هم ونیلی شي چه په والدینوکښې صرف په پلارباندې اکتفاء اوکړې شوه څوپه دې کښې مور هم داخله ده.(۲)

په حدیث کښې د والد او ولد سره د خپل نفس ذکر ولې نشته؟ دلته کښې دا سوال هم کیږی چه د والد اوولد سره سره د خپل نفس ذکر ولې اونکړې شو؟حالانکه د نبی ﷺ سره محبت د خپل نفس نه هم زیات ساتل ضروری دې.

ددې جواب دا دې چه د حضرت انس رضی اللہ عنہ په حدیث کښې د والد او ولد نه پس د،،والناس أجمعین،،الفاظ راغلی دی ددې په عموم کښې نفس هم داخل دې.(۳)

ددې نه علاوه د حضرت عبدالله بن هشام رضی اللہ عنہ په حدیث کښې د ،،نفس،، ذکرهم شته.(۴)

ایا په حدیث کښې دمحبت نه مراد تعظیم دې؟ قاضی عیاض رحمہ اللہ فرمائی چه دلته په حدیث کښې د ،،لایؤمن أحدکم حتی أکون أحب إلیه من والده وولده والناس أجمعین،،نه مراد دا دې چه د نبی ﷺ تعظیم د والداو ولد نه زیات پکار دې لکه چه دهغوی په نیزدا د ایمان دصحت شرط دې.

خوصاحب د،،المفهم.. دا خبره رد کړې ده چه دتعظیم وجود دنفس ایمان دپاره ضروری ده. بلکه دلته خبره دکمال ایمان کیږی نوددې نه هم هغه حب ایمانی اوحب عشقی مراد ده.(۵)

دشیخ ابوالخراز رحمہ اللہ واقعه شیخ ابوالقاسم قشیری رحمہ اللہ د شیخ ابوسعید خراز رحمہ اللہ نه نقل کړی دی چه دوی یوځل نبی ﷺ په خوب کښې اولیدلو اوعرض ئې اوکړلو،،یارسول الله شغلتني محبة الله عن محبتك،،یعنی دالله تعالی محبت زه ستا د محبت نه بند کړې یم نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل ،،یامبارك من أحب الله فقد أحبني،،څوك چه د الله تعالی سره محبت

---

(۱) فتح الباری(۵۹\۱)_
(۲) المصدرالسابق)_
(۳) فتح الباری (۵۹\۱)_
(۴)صحیح بخاری کتاب الأیمان والنذور باب کیف کانت یمین النبی ﷺ رقم ۶۶۳۲)_
(۵) فتح الباری(۵۹\۱)_

كوى نوهغه زما سره محبت كونكې دې.
يو مطلب خو ددې دا وو.چه كله ستا دالله تعالى سره محبت دې نوستا زما سره هم محبت شته.د فكر ضرورت نشته.اود تشويش څه خبره نه ده.دالله تعالى د محبت په ضمن كښې زما محبت هم راځى.
اوددې يوبل مطلب دا هم دې.چه څوك د الله تعالى سره محبت كوى.هغه به زما سره خامخا محبت كوى.ته څنګه وائې.چه دالله تعالى محبت زه ستا د محبت نه ايسار كړې يم؟ چه دالله تعالى سره محبت كوى.هغه به زما سره څنګه محبت نه كوى.نوستا دپاره پكار دى.چه ته الله تعالى طرف ته متوجه نې.اوددې كاراهتمام درله پكار دې.([1])
بهرحال د عرض كولومقصد دادې.چه په اصل كښې د محبت مركز خو دالله تعالى سبحانه وتعالى ذات دې.ځكه چه د محبت ټول اسباب على وجه الكمال په ده كښې موجود دى.اونبى ﷺ چونكه دالله تعالى په صفاتو موصوف دې.اودهغه دصفاتو مظهردې.دغه شان د نورټول مخلوق په مقابله كښې الله تعالى ته نزدې دې.نوځكه د نبى ﷺ سره محبت هم ضرورى شو.بيا څوك چه د نبى ﷺ په اسوه حسنه باندې چليږى.اودالله تعالى دصفاتو نقل كونكى دى.اود دوى په تعليماتو او هداياتوعمل كونكى دى.نودهغوى سره على قدرالمراتب هم هغه هومره محبت پكار دې.([2])
دحضرت عمر رضي الله عنه واقعه په هغې اشكال اودهغې جواب دحضرت عمر رضي الله عنه واقعه ده.چه هغوى اوونيل.،،يا رسول الله لأنت أحب إلى من كل شئ إلا من نفسى،،يا رسول الله زما تاسو سره دهرڅيز نه زيات محبت دې.سوادخپل خان نه،نونبى ﷺ اوفرمائيل،،لا والذى نفسى بيده حتى أكون أحب إليك من نفسك،،ترهغه وخته پورې خبره نه سميږى.ترڅو پورې چه زه تاته دخپل خان نه هم زيات محبوب نه شم.نوحضرت عمر رضي الله عنه عرض اوكړلو.اوس تاسوسره زمادخپل خان نه هم زيات محبت شو.نونبى كريم ﷺ اوفرمائيل،،الآن ياعمر،،يعنى اوس ياعمره خبره ټيك شوه.([3])
دلته عام طور شارحين او محدثين هم دا خبره كوى.چه په اصل كښې حضرت عمر ته د خپل خان سره محبت د نبى ﷺ په مقابله كښې زيات نه محسوس كيدلو.كله چه ورته نبى ﷺ تنبيه وركړله.نوهغوى سوچ اوكړلو.او د سوچ او فكر نه پس په هغوى باندې دا خبره څرګنده شوه.چه زه د نبى ﷺ د عزت دپاره خپل عزت قربانى كولې شم.په كوم ځائې كښې چه د نبى ﷺ د خولې يو څاڅكې غورځيږى. هلته زه خپل خان قربانى كولې شم.نو زما يقيناً د نبى ﷺ سره د خپل خان نه زيات محبت دې.وراندې دوى ته ددې څرګندتيا او

---

[1]) داحقرمترجم په نيزكه ددې نه داسې تعبيراوشى.چه ته دالله تعالى سره محبت كوې.نودالله تعالى هريوحكم به منې.اودالله تعالى په حكمونوكښې يوحكم دا هم دې.چه تاسودخپل پيغمبر ﷺ سره محبت كوئ.نويقينى ده چه ته به زما سره محبت كوې)
[2]) فضل البارى(١١٠٠٤٠٣٤٠،٣٤١)_
[3]) صحيح بخارى كتاب الأيمان و النذورباب كيف كانت يمين النبى ﷺ رقم (٦٦٣٢)_

انشراح نه وو شوې او كله چه نبى ﷺ دا خبره اوكړله نوهغوى سوچ اوكړلو او د سوچ نه پس ئې انشراح صدر اوشو.[1]

خودا توجيه چه كومو شارحينو كړې ده زړه پرې نه مطمئن كيږى څكه چه حضرت عمر ﷺ د لوې مرتبې صحابى ﷺ دې چه د حضرت ابوبكرصديق ﷺ نه پس د هغوى درجه ده په ټول امت باندې هغوى ته فضيلت حاصل دې. آيا د دوى د نبى ﷺ د ذات سره د خپل ځان نه زيات محبت نه وو. يقيناً وو.نوبيا ئې ،،إلامن نفس،، ولې اووئيل

دلته به تاسوته د احنافو اصول استعمالول پكار راځى.په دې طريقه به مسئله آسانه اوسهل شى.داحنافو اصول دا دى.چه په مستثنى كښې د مستثنى منه خلاف حكم نه وى.بلكه مستثنى د مسكوت عنه په حكم كښې وى.[2]

لكه چه حضرت عمر ﷺ اوفرمائيل.چه تاسو زما په نيز د هرڅيز نه محبوب ئې. وړاندې وائى.،،إلامن نفس،، خو زه د خپل ذات په باره كښې څه نشم وئيلې.په دې كښې زه خاموش يم.دا مطلب نه دې.چه تاسو سره زما د خپل ذات نه زيات محبت نه دې.خپل ذات چه څومره محبوب دې.دومره راته ته محبوب نه ئې.بلكه مراد دا دې.چه زه دخپل ذات په باره كښې څه نشم وئيلې.

په اصل كښې حضرت عمر ﷺ د نبى ﷺ عاشق وو.اودمحبت دا خواهش وى.چه د محبوب د ژبې نه دا واورې.چه تالره زما سره د خپل ځان نه هم زيات محبت كول پكار دې.حضرت عمر ﷺ هم ددې آرزو لرله.چه نبى ﷺ اوفرمائى.چه تالره زما سره دخپل ځان نه هم زيات محبت پكاردې.نو نبى ﷺ هم دغه شان اوفرمائيل. نو حضرت عمر ﷺ سمدستى عرض اوكړلو.چه حضرت تاسو سره زما د خپل ځان نه هم زيات محبت دې.هغه وړاندې هم وو.خو هغوى د دې اظهار اونكړلو.په دې باره كښې ئې سكوت اختيار كړلو.چه د نبى ﷺ د ژبې نه ئې د محبت د زيادت مطالبه واوريدله.نوخوند ورته ملاؤ شو.نو دهغوى دا مقصد پوره شو.اوبيا ئې صراحت اوكړلو.[3] والله سبحانه اعلم

كه د رسول الله ﷺ سره د محبت زيادت كه دنفس ايمان دپاره شرط وى اوكه د كمال ايمان دپاره ضرورى اوګرځولې شى.كه دمحبت نه عقلى محبت مراد وى او كه بل محبت،خوپه هرحال كښې د مرجئه ترديد كيږى.چه محبت د رسول ﷺ كوم چه يوه نيكى ده.هغه د نفس ايمان يا د كمال ايمان فائده وركوى.[4]

---

[1]) فتح البارى(٥٢٨\١١) كتاب الأيمان والنذور باب كيف كانت يمين النبى ﷺ)_

[2]) فضل البارى(٣٤٢\١١) دغه شان كشف الأسرارلعبدالعزيز البخارى (١٢٢\٣)_

[3]) فضل البارى(٣٤١\١١-٣٤٢)_

[4]) امام العصرحضرت كشميرى رحمه الله فرمائى وليعلم أن حب النبى ﷺ ينبغى أن يكون من حيث ذاته الشريفة لا من حيث أنه هدانى .والقصر عليه ليس بذاك.فهو محبوب لذاته المباركة الطيبة. و محبوب لأجل أوصافه الحسنة وملكاته الفاضلة وأخلاقه الكاملة أيضاً (فيض البارى ٨٣\١، ٨٤)_

٨ = باب حلاوة الإيمان

[۱۶] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ عَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ أَنْ يَكُونَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَأَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ [۲۱، ۶۰۴۱، ۶۵۴۲]

دترجمه مقصود اوماقبل سره ربط حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه ،،حلاوت،، دايمان د ثمراتو ځنې دې.چونکه په ماقبل کښې ئې دا خودلي وو.چه دنبي ﷺ سره محبت دايمان جزء دې.اوس دا خودل غواړي.چه په دې محبت کښې په کوم څيزباندې خوږوالې او حلاوت پيدا کيږي؟(۱)

حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائي.چه امام بخاري رحمه الله په دې ترجمة الباب کښې د مرجئو ددې خيال ترديدکوی.چه طاعات فائده مند نه دی.او معاصي مضر نه دی.نودا يې ثابته کړه.چه د اعمالو په ذريعه په ايمان کښې حلاوت او خوند پيدا کيږي.دغه شان په وړاندې باب کښې ،،وآية النفاق بغض الأنصار،، حديث نه دا ښائي.چه معاصي مضر دی.(۲)

رجال الحديث

① **محمدبن المثنى**: دا ابو موسى محمد بن المثنى بن عبيد عنزي بصري دې. د ،،زمن،، په لقب سره هم مشهور دې.اصلي شهرت ددوی په نوم او کنيت سره دې.

دوی د سفيان بن عيينه.وکيع بن الجراح،اسماعيل بن عليه او قطان رحمهم الله نه احاديث اوريدلي دی.او د دوی نه علم زده کونکو کښې ابوزرعه ،ابوحاتم، محمد بن يحى ذهلي او محاملي رحمهم الله وغيره دی.

خطيب رحمه الله فرمائي.چه دوی ثقه او ثبت دی.ټول د حديث امامان د دوی احاديث قابل احتجاج شماري.بغداد ته ئې تشريف يوړلو.اوهلته ئې د حديث درس ورکړلو.او بيا بصرة ته واپس لاړلو.اوهلته په ۲۵۲ھ کښې وفات شو.

دوی او مشهور محدث محمد بن بشار المعروف په ،،بندار،، هم په يو کال يعنی ۱۶۷ھ کښې پيدا شوی دی.اوهم په يوکال يعنی ۲۵۲ھ کښې وفات شوی دی.
داصول سته مصنفينو رحمهم الله ددوی احاديث په خپلو صحاحوکښې نقل کړی دی. (۳)

---

(۱) فتح البارى(۱\۶۰)_
(۲) الأبواب والتراجم لصحيح البخارى (ص.۳۱) از حضرت شيخ الحديث قدس سره)_
(۳) عمدة القارى (۱\۱۴۶) وتقريب (ص.۵۰۵) رقم ۶۲۶۴)_

④ عبدالوهاب الثقفي : دوی عبدالوهاب بن عبدالحمید بن الصلت ثقفي بصری دې.
ابو محمد ئې کنیت دې.
دوی د یحی انصاري،ایوب سختیاني او ددوی نه علاوه د نورو ډیر عالمانو نه احادیث لوستې دی.ددوی نه داحادیثو په اوریدونکو کښې امام شافعي،امام احمد ،امام یحی بن معین او امام علي بن المدیني ﷺ غوندې دعلم ستنې دی
دوی ثقه دی.البته دخپل وفات نه څه درې څلورکاله وړاندې ددوی په حافظه کښې تغیر راغلې وو.
اصحاب صحاح سته ددوی داحادیثو تخریج کړې دې.په کال ۱۰۸ھ کښې پیدا شوې وو.اوپه کال ۱۹۴ھ کښې وفات شو.(١)

③ ایوب:دوی ایوب بن ابی تمیمه کیسان سختیاني بصری دې.ددوی کنیت ابوبکر دې.
دوی حضرت انس رضي الله عنه لیدلې وو.اود عمربن سلمه جرمي ،ابوعثمان نهدي، حسن بصري، محمد بن سیرین، ابوقلابه او امام مجاهد ﷺ اود ډیرو محدثینو نه ئې روایت کړې دې.
دې روایت کونکی کښې پخپله حضرت محمد بن سیرین،عمروبن دینار ، قتاده، اعمش، سفیان ثوري،سفیان بن عیینه،حماد بن سلمه بن دینار.او حماد بن زید بن درهم ﷺ دی.دغه شان امام ابوحنیفه ﷺ هم دې.

حافظ ابن حجر ﷺ فرمائی.،،ثقة ثبت حجة من کبار الفقهاء العباد،،تولو اصحاب صحاحو ددوی نه احادیث اخستی دی.
په کال ۶۶ھ کښې پیدا شوې وو.اوپه کال ۱۳۱ ھ کښې وفات شوې وو.(٢)

④ابوقلابه:دا مشهورتابعي ﷺ عبدالله بن زیدجرمي دې.په خپل کنیت باندې مشهور دې.د حضرت ثابت بن قیس بن ضحاك انصاري رضي الله عنه،حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه سوا د نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم نه هم روایت کوی.ددوی په توثیق باندې د امامانو اتفاق دې.

حافظ ابن حجر ﷺ فرمائی.ثقة فاضل كثير الإرسال،، عجلي ﷺ فرمائي ،،فيه نصب يسير،،
په کال ۱۰۴ھ کښې د قضا په منصب نه اوتختیدلو اوپه شام کښې وفات شو (٣)
⑤ د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه تذکره وړاندې تیره شوې ده.

---

١) عمدة القاري(١\١٤٦) وتقريب (ص.٥٠٥) رقم ٤٢٦٤)_
٢) عمدة القاري (١\١٤٦، ١٤٧) وتقريب (ص.١١٧) رقم ٦٠٥)_
٣) عمدة القاري (١\١٤٧) وتقريب (ص.٣٠٤) رقم ٣٣٣٣)_

قوله ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ:(١) درې څيزونه کوم چه په سړی کښې وی.نوهغه به دایمان خوند بیا مومی.

ثلاث د ،،ثلاث خصال،، یا ،،خصال ثلاث،، په تقدیرکښې دی.ددې دواړو تقدیرونو نه پس دا اشکال باقی نه پاتې کیږی.چه،ثلاث،،نکره ده.دا مبتدا څنګه واقع شوې ده؟(٢)

فائده دا خبره دې معلومه وی.چه په هرځانې کښې دنکره کیدل ممنوع نه دی.بلکه نکره چونکه کاشفه نه وی.نوځکه ددې په مبتدا جوړولو کښې څه فائده نه وی. ځوکه دنکره په مبتدا ګرځولوکښې څه فائده وی.نوبیا چه نکره مبتدا جوړه کړې شی.په دې کښې څه اشکال نشته.

علامه رضی رحمه الله لیکلی دی،،إذا حصلت الفائدة فاخبرعن أی نكرة شئت وذلك لأن الغرض من الكلام إفادة المخاطب فإذا حصلت جاز الحكم سواء تخصص المحكوم عليه بشئ أولا،،(٣) ،،حلاوة،، خوږوالی اوشیرین ته وائی.

دلته نبی کریم ﷺ د ایمان دپاره حلاوت ثابت کړې دې.دمومن چه ایمان طرف ته کوم رغبت وی.د هغې ئې د خوږ څیزسره تشبیه ورکړې ده.اودا ئې ثابته کړې ده.چه څنګه د شهدود خوږوالی احساس هغه څوك کولې شی.چه هغه په صحت روغ وی.دغه شان د ایمان د حلاوت ادراك هم هغه څوك کولې شی.څوك چه صحیح وی.دشهدود حلاوت محسوسولو دپاره جسمانی صحت لازمی دې.اود ایمان دحلاوت معلومولو دپاره روحانی صحت ضروری دې.که په یوکس د صفراء غلبه وی.نوشهد هم هغه ته تراخه ښکاری.دغه شان که روحانی صفراء په چا کښې وی.نوهغه ته د ایمان حلاوت نه محسوسیږی.هغه ته په د اوامر شرعیه په تعمیل کښې مشکلات وی.که ده کښې روحانی مرض موجود نه وی.او د احکامو پوره کول دده دپاره څه ګران نه وی.

دحلاوت نه حسی حلاوت مراد دې که معنوی؟ دلته دا بحث شوې دې چه ددې نه حسی حلاوت مراد دې که معنوی؟

امام نووی رحمه الله فرمائیلی دی.چه عالمانو رحمهم الله ددې نه معنوی اوباطنی حلاوت مراد اخستې

---

(١) الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى كتاب الإيمان باب من كره أن يعود فى الكفر كما يكره أن يلقى فى النار من الإيمان .رقم ٢١) (وفى كتاب الأدب باب الحب فى الله رقم ٦٠٤١) وفى كتاب الإكراه باب من اختار الضرب والقتل والهوان على الكفر رقم ٦٩٤١) والنسائى فى كتاب الإيمان وشرائعه باب طعم الإيمان رقم (٤٩٩٤) وباب حلاوة الإيمان رقم ٤٩٩١) وباب حلاوة الإسلام رقم ٤٩٩٢) والترمذى فى جامعه فى كتاب الإيمان باب (بدون ترجمة بعد باب ما جاء فى ترك الصلاة رقم ٢٦٢٤ وابن ماجه فى سننه فى كتاب الفتن باب الصبرعلى البلاء رقم ٤٠٣٣)_

(٢) فتح البارى(٦٠/١)_

(٣) شرح رضى على الكافية (٨٨/١، ٨٩)_

دي اوددي نه په طاعاتوكولوسره خوند محسوسول.اودالله او د رسول ﷺ د راضى كولو دپاره قربانى كول.اودي ته د دنيا په ټولوخيزونو ترجيح وركول.دشريعت داحكامو په پوره كولوانشراح او انبساط موجود كيدل.(١)

دحضرت گنګوهى رحمه الله دخپل مرشدپه نوم خط حضرت گنګوهى رحمه الله دخپل مرشد په نوم خط اوليكلو اوپه هغې كښې ئې ورته اوليكل.چه الله تعالى په خپل فضل اورحم سره ماته درې نعمتونه راكړل.

① زما كيفيت دا دې.چه په ما باندې د مدح اومذمت څه اثرنه كيږى.كه څوك مې تعريف كوى اوكه مذمت ماته ټول برابردى.

② دالله تعالى نه سوا د بل چانه د نفعې اونقصان رارسيدو ته مې څه خيال نه وى.

③ امورشرعيه ماته امور طبعيه گرځيدلى دى.(٢)

هم دادې((استلذاذبالطاعات اوانشراح صدراوانبساط)).چه بياتنګى نه محسوسيږى . چه سړې اوګې شى.نودهغه خوراك ته زړه كيږى.دغه شان چه كله د مونځ وخت راځى.نوطبعيت مونځ طرف ته مائله كيږى.

دحلاوت نه حسى مراد اخستل زياته غوره ده خوابن ابى حمزه رحمه الله چاچه د بهجة النفوس،،په نوم باندې دمنتخب بخارى شرح ليكلې ده. هغوى فرمائى.چه صوفياء كرامو رحمهم الله دلته د حلاوت نه حسى حلاوت مراد اخستې دې. اوهم دا صحيح ده.ځكه چه دوى دحديث ظاهر بغيرد څه تاويل نه اخستې دې.هغوى فرمائى. ،،وهذا أمرلايدركه إلا من وصل إلى ذلك المقام فلا يليق إدعاء أنه غيرمراد،،

وإذا لم تر الهلال فسلم لأناس رأوه بالأبصار(٣)

ترجمه: كه تامياشت اونه ليدله.نوچاچه ليدلې وى.دهغوى خبره اومنه.

تو نه ديدى گهے سليمان را پس چه دانى زبان مرغان را

ترجمه: نوپه لفظ د حلاوت كښې د څه تاويل ضرورت نشته.

ذوق اين باده ندانى بخدا تانه چشى

دحضرت مولانا فضل الرحمن گنج مراد ابادى رحمه الله يوه واقعه دحضرت مولانا فضل الرحمن گنج مراد آبادى رحمه الله واقعه وراندې هم تيره شوې ده.دحضرت شاه محمد اسحاق رحمه الله شاګرد وو. ډيرلوئې عالم .محدث. صوفى.او محقق وو.دوفات په وخت كښې ئې دا تاكيد كړې

---

(١) عزاه النووى رحمه الله إلى العلماء انظر شرحه على صحيح مسلم (٤٩/١) كتاب الإيمان باب بيان خصال من اتصف بهن وجد حلاوة الإيمان_

(٢) مكاتيب رشيديه (ص.١٠)_

(٣) فتح الملهم (٢٣/١١)كتاب الإيمان باب بيان خصال من اتصف بهن وجه حلاوة الإيمان)_

وو چه ما سره د حديثو لوستل كوئ. نودوفات په وخت كښې ورته د صحيح مسلم وغيره كتابونو لوستل كولې شو.(١)دوى فرمائى كله چه زه سجده كوم نوداسې معلوميږى لكه چه الله تعالى زاسره مينه اوكړله.(٢)

ښكاره خبره ده چه الله تعالى د ټولو محبتونو مركزدې اودهغه د محبوبيت به څه وائې. اودهغه شان محبوبيت څنگه بيانولې شى.دا دانسان د طاقت خبره نه ده. كه دهغه د طرفه سرې په سجده كښې داسې خبره محسوس كړى نوبيا دهغې سجدې دكيفيت څه اندازه لگيدې شى.غالبا دوى هم په دې خبره كښې ددې بيان كړې دې چه دا حلاوت حسى دې.

بهرحال كوم حضرات چه دحلاوت نه معنوى حلاوت مراد اخلى.هغوى فرمائى چه ايمان چونكه امر معنوى دى.نوددې حلاوت به هم معنوى وى.خودا حضرات فرمائى چه نه! دحلاوت لفظ چه كوم طرف ته اشاره كوى.اوددې نه چه كومه معنى متبادره ده.هغه حلاوت حسيه دې.نوهم دا به مراد اخستې شى.

قوله: أَنْ يَكُونَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا: هغه درې خبرې چه دهغې نه پس د حلاوت ادراك كيږى.د هغې بيان كيږى.په هغې كښې يوه خبره دا ده.چه د انسان دالله اودهغه د رسول سره محبت د ما سوا نه زيات شى.يعنى د دنيا او ما فيها نه زيات محبت ئې الله او دهغه رسول سره وى.

وړاندې خودلې شوى دى.چه د محبت د اصل مركز الله تعالى دې.دالله تعالى محبت اصل دې.اودهغه د رسول محبت د دې فرع ده.نوهغه هم شامل كړې شو. تاسو په دې كښې د نورو اولياؤ او صالحانو محبت هم شاملولې شئ.

ما سواهما،، كښې ،،هما،، ضميرالله او رسول طرف ته راجع دې.دلته دالله تعالى او رسول دواړو ضمائرجمع كړې شوى دى.په دې باندې يواشكال كيږى.چه امام مسلم (٣)ابوداود (٤)اوامام نسائى (٥) ﷺ دحضرت عدى بن حاتم ﷺنه يو روايت نقل كړې دې.چه يوكس رسول الله ﷺ ته راغلو.هغه خطبه اووئيله.او وې وئيل.،،**من يطع الله ورسوله فقد رشد ومن يعصهما فقد غوى**،، نو نبى ﷺ اوفرمائيل.،،**بئس الخطيب أنت قل ومن يعص الله ورسوله**،، ددې روايت نه معلوميږى.چه الله اود الله درسول ضمير يوځائې ذكركول نه دى ښكار.يعنى دواړه په يوضمير كښې جمع كول نه دى ښكار.اوس اشكال دا كيږى.چه دلته خو نبى ﷺ دواړه په

---

(١) تذكره حضرت مولانا فضل الرحمن گنج مراد آبادى (ص.٦٠، ٩١)_

(٢) نيل المراد فى السفر إلى كنج مرادآباد شامل در ارواح ثلاثه تذكره..(ص.١٢٠)_

(٣) صحيح مسلم(٢٨٦\١) كتاب الجمعة فصل فى إيجازالخطبة وإطالة الصلاة)_

(٤) سنن أبى داود كتاب الصلاة تفريع أبواب الجمعة باب الرجل يخطب على قوس رقم ١٠٩٩ وكتاب الأدب باب بلا ترجمة (بعد باب لايقال خبثت نفسى رقم ٤٩٨١)_

(٥) سنن نسائى (٧٨\٢) كتاب النكاح باب ما يكره من الخطبة)_

یوضمیر کښې جمع کړی دی.بلکه الله تعالی په قرآن پاك کښې په یوخائې کښې جمع کړی دی ﴿ إِنَّ اللَّهَ وَمَلَٰئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ ۚ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴾ (١)
اودحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په حدیث کښې دی.،، من يطع الله و رسوله فقد رشد ومن يعصهما فإنه لايضر إلا نفسه،،(٢)
دحضرت عدی بن حاتم رضی الله عنه دحدیث په بناء د بعضې عالمانو رحمهم الله رائې دا ده.چه دممانعت روایت د جواز په روایاتو باندې مقدم دې.ځکه چه د ممانعت روایت قولی دې.اوداجازت روایات فعلی دی.اوقول ته په فعل باندې ترجیح وی. دغه شان دا روایت مانع دې.او نور روایات مجیز دی.اودممانعت روایات د اجازت په روایاتوباندې راجح وی. اوبله دا چه دا روایت ناقل عن الاصل دې.او نور روایات باقی علی الاصل دی ددې مطلب دا دې چه اصل په اشیاؤ کښې اباحت دې.نوچه د کوم روایاتونه جمع فی الضمیر معلومیږی. هغه به په اصل باندې حمل کولې شی.اود ممانعت روایت چونکه ناقل عن الاصل وی.نوځکه به دا ونیلی شی.چه هم ممانعت دې.چه دې ته به په اجازت باندې ترجیح وی.بله داچه د ممانعت روایت یوه قاعده کلیه ده.چه داسې مه وائې.اود اباحت دروایاتو نه قاعده کلیه نشی مستفاد کیدې.(٣)

په خطیب باندې دانکار وجه: دامام نووی رحمه الله رائې دا ده.چه په دې خطبه ورکونکی کس باندې د نبی صلی الله علیه وسلم دانکار وجه دا وه.چه هغه په ،،من يعصهما،، کښې داختصارنه کار واخستلو .حالانکه په خطبه کښې تطویل مطلوب وی.ځکه چه دځې مقصد وعظ او زجر وی. اوپه دې کښې تفصیل مفید وی.اونبی صلی الله علیه وسلم چه په کوم ځائې کښې جمع فی الضمیر کړې ده.نوهغه د تعلیم مقام دې.اوپه تعلیم کښې ایجاز او اختصارمفید وی.(٤)
په دې باندې اشکال کیږی.چه دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت ته اشاره تیره شوه. اوهغه دخطبې په باب کښې وارد شوې دې.
ددې جواب دادې.چه ددې تعلق دنکاح خطبة سره دې.اوپه نکاح کښې ایجازمطلوب وی.(٥)
شیخ عزالدین عبدالسلام رحمه الله یوجواب دا ورکړې دې.کوم چه په اصل کښې قاضی عیاض رحمه الله ذکر کړې دې.هغه دا چه جمع فی الضمیرد نبی صلی الله علیه وسلم دپاره جائز وه.اود نبی صلی الله علیه وسلم سره خاص وه.ځکه چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه د تسویه بین الله والرسول امکان نه وو.په خلاف د

---

(١) سورة الأحزاب (٥٦)_
(٢) سنن أبی داود کتاب الصلاة أبواب الجمعة باب الرجل يخطب على قوس رقم ١٠٩٧. (١٠٩٨)_
(٣) فتح الباری(٦١/١١)_
(٤) شرح نووی علی صحیح مسلم (٢٨٦/١١) کتاب الجمعة فصل فی إيجاز الخطبة وإطالة الصلاة)_
(٥) المصدرالسابق)_

نوروكسانوخكه چه دهغوى په حق كښې دا خطره شته.چه ددوى په زړونوكښې دواړه په ضميركښې دجمع كولو د وجې دتسويه خيال تيرنشى (١)

دريم جواب بعضې عالمانو ﷺ دې ته نزدې نزدې وركړې دې.چه اصل كښې كيدې شى نبى ﷺ په هغه وخت كښې انكاركړې وو.چه په هغه ځائې كښې څوك داسې كس موجود وو.چه دهغه متعلق دا خيال وو.چه دجمع فى الضمير په وجه به هغه ته د تسويه خيال پيدا شى.(٢)

څلورم جواب دا وركړې شوې دې.چه متكلم دخپل كلام دعموم نه خارج وى. نوممانعت دعامو خلقو دپاره دې.نبى ﷺ په دې كښې داخل نه دې.نوكه د نبى ﷺ نه جمع فى الضمير منقول وى.نودغه روايات به د ممانعت د رواياتو سره معارض نشى ګڼړلې.(٣)

پنځم جواب امام طحاوى ﷫ كړې دې.هغوى فرمائى.چه په اصل كښې نبى كريم ﷺ ددې وجې انكار اوكړلو.چه خطيب بې موقع وقف اوكړلو.څكه چه هغه ،،من يطع الله ورسوله فقد رشد ومن يعصهما،، اووئيل.ددې دا معنى جوړه شوه.چه اطاعت او نافرمانى كونكى دواړه راشد دى.(٤)

خودامام طحاوى ﷫ دا جواب محل نظر دې.څكه چه د ابن ابى دنيا په روايت كښې دى. ((قال ومن يعص الله ورسوله فقد غوى))(٥)دغه شان د مسلم په روايت كښې دى.((قل ومن يعص الله ورسوله)) ددې روايت نه متبادردا ده.چه دانكار وجه دواړه په يوضمير د تثنيه كښې جمع كول وو.اګرچه دامام طحاوى ﷫ د جواب هم احتمال شته.خو نبى ﷺ چه ،،قل ومن يعص الله ورسوله فقد غوى،، اوفرمائيل. كوم چه جدا جدا ذكر دى.ددې نه دا په پوهه كښې راځى.چه د نبى ﷺ انكارددې وجې وو.چه خطيب دواړه په ضمير كښې جمع كړى وو.

شپږم جواب بعضې عالمانو ﷺ دا وركړې دې.چه په اصل كښې نبى ﷺ چه ،،ما سواهما،، كښې د جمع ضمير راوړې دې.هغه يوه جمله ده.اوپه يوه جمله كښې د ضميرپه ځائې ظاهرراوړل مناسب نه دى.خود خطيب په قصه كښې دوه جملې دى.چه په هغې كښې د ضمير په ځائې ظاهر راوړل مكروه او ناخوښه نه دى.(٦)

خو په دې جواب باندې اعتراض شوې دې.چه دضمير په ځائې اسم ظاهر راوړلو نه خودا نه

---

(١) المصدرالسابق وفتح البارى(١\٦١)_
(٢) زهرالربى على المجتبى للسيوطى (٢\٧٩)_
(٣) فتح البارى(١\٦٢)_
(٤) فتح الملهم (١/٤٣٦) كتاب الإيمان باب بيان خصال من اتصف بهن وجد حلاوة الإيمان)_
(٥)پورته حواله)_
(٦) فتح البارى (١/٦١)_

لازميږي.چه دضمير راوړل مکروه دی.يا خاص کرچه دنبی ﷺ نه جمع ثابته وی.(١)البته دا ونيلی شی.چه دخطيب واقعه يوه خاص واقعه ده. دکومې نه چه عمومی حکم نشی راويستې نو ممکن ده.چه په دغه مجلس کښې داسې خلق وو.چه د هغوی په باره کښې د تسويه ويره وه.ددې وجې په هغه باندې انکاراوکړې شو.(٢)

اووم جواب دا ورکړې شوی دې.چه نبی ﷺ دلته جمع فی الضمير اوکړله.اودې خبرې ته ئې اشاره اوکړله.چه کاميابی او فلاح دپاره هغه محبت ضروری او معتبر دې.کوم چه د دواړو محبتونو نه مرکب وی.دالله تعالی محبت هم ضروری دې.اود رسول ﷺ محبت هم ضروری دې هريومستقل نه دې.بلکه يوچه دبل سره مربوط وی نو دا معتبردې.

بلکه چه په خطيب باندې ئې اعتراض اوکړلو.نو نبی ﷺ دې خبرې ته اشاره اوکړله.چه «احدالعصيانين» دانسان دپاره مهلك او مضردې.که د الله تعالی نافرمانی وکړی.اوکه د رسول الله ﷺ نافرمانی اوکړی.(٣)

بعضې حضراتوفرمائيلی دی.چه.په اصل کښې دالله تعالی او د رسول ﷺ د نومونو نه عدول مناسب نه دې.اګرچه د اختصارپيش نظرمقام د ضميرمقتضی وی.نبی ﷺ خطيب ته د الله او رسول مکرر راوړلو دپاره تنبيه اوکړله.(٤)

حضرت علامه شبيراحمدعثمانی رحمه الله د امام غزالی رحمه الله نه نقل کړې دې. چه په کومه طريقه به رسول الله ﷺ تهذيب نفوس کولو.که په انسان کښې تکبريا نفاق وی.نودهغې د ويستلو او لرې کولو دپاره به ئې علاج خودلو.يا په مانځه کښې به کوتاهی وه.نودهغې د صحيح کولودوائی به ئې خودله.اودغه شان به نبی ﷺ د تهذيب الفاظ طرف ته هم توجه کوله.چه متاسب الفاظ استعمالول پکاردی.

نبی ﷺ په يوځائې کښې فرمائيلی دی.،،لايغلبنكم الأعراب على اسم صلاتكم العشاء وإنما يسمونها العتمة لأنهم يعتمون عن الإبل أو قال بالإبل،، (٥)باناريچيانو به ،،عتمة،، وئيل.نو نبی ﷺ اوفرمائيل.چه تاسو ،،عتمة،،مه وائې.بلکه ..عشاء.. وائې.

دغه شان دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه منقول دی.چه يوکس رسول الله ﷺ ته خطاب کولو.او وئې وئيل.،،ماشاء الله وشئت،،نبی ﷺ ورته اوفرمائيل. ،،جعلتنی لله نداً بل ماشاء الله

---

(١) فتح الباری(٦١\١و ٦٢)_

(٢) فتح الباری(٦١\١ و ٦٢)_

(٣) فتح الباری(٦١\١)_

(٤) فتح الباری(٦٤\١)_

(٥) مسند الحميدی(٢٨٥\٢) أحاديث عباالله بگن عمربن الخطاب رضي الله عنه رقم ٦٣٨ ومسند أحمد (١٠\٢و١٩) ومجمع الزوائد (٣١٤\١) كتاب الصلاة باب فی اسم العشاء)_

وحده،، (١)يعني تاخو زه دالله تعالى سره شريك جوړ كړم.بلكه ،،ماشاءالله وحده،،وايه.دغه شان نبي فرمائيلي دی.،،لاتقولوا ماشاءالله وشاء فلان،ولكن قولوا: ما شاءالله ثم شاء فلان،،(٢)

په دې طريقه په قرآن پاك كښې هم فرمائيلي شوى دى.﴿لَا تَقُولُوا رَاعِنَا وَقُولُوا انْظُرْنَا﴾ (٣)،،راعنا،، مه وائي بلكه ،،انظرنا،، وائي.دصحابه كرامو په ذهن كښې هغه غلطه معنى كومه چه يهودو اخستله. (٤)هغه هرګز مراد نه وه.خود داسې لفظ استعمال كوم چه د غلطې معنى موهم وي.خلاف ادب وو.ددغه غلطې معنى د وهم نه بچ كولوډپاره الله تعالى صحابه كرامو ته خبرداري وركړلو.اوو ې فرمائيل.چه داسې لفظ مه استعمالوئ

دغه شان نبى كريم ﷺ فرمائيلي دی.،،ولايقولن أحدكم للعنب الكرم،فإن الكرم الرجل المسلم،، (٥)يوكس دې انګورته ،،كرم،، نه وائي.ځكه چه ،،كرم،، خو په اصل كښې مسلمان سړى ته ونيلي شى.

دا تهذيب الفاظ دې.اودا ياد ساتئ.چه دتهذيب الفاظ په سلسله كښې چه كومه نهي راغلې.نودهغې نه نهي شرعى مراد نه وى.چه په هغې سره حرمت او مكروه تحريمى ثابت كړې شى.بلكه دا د آدابوتعليم وى.اوددې معنى دا وى.چه د تهذيب الفاظ په سلسله كښې چه د كوم څيز نه منع كولې شى.نودهغې استعمال خلاف اولى وى.

دلته هم چه نبى ﷺ خطيب ته ،،بئس الخطيب أنت،،فرمائيلي وو.ددې مطلب دا وو.چه تادواړه په يو ضميركښې جمع كړل.اګرچه ددې استعمال جائز دې.ليكن خلاف اولى دې.ددې په مقابله كښې غوره دا دى.چه ته دواړه جدا جدا ذكركړې. (٦)

قوله: وَأَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ: دويم خصلت اودويم څيزدا دې.چه كه سړې دچا سره محبت كوى.چه صرف دالله تعالى د رضا دپاره كوى.يعنى دمال ومنال.حسن اوجمال وغيره دوجې محبت نه كوى. بلكه چه د څه دينى سبب په وجه وى.مثلاً چه د چا اطاعت او تابعدارى دهغه دتقوى اود چا د علم او دين دوجې محبت وى.دا حب لله دې.

---

(١) درمنثور(٣٥١١)_
(٢) سنن ابى داود.كتاب الأدب باب لايقال:خبثت نفسى،رقم ٤٩٨٠)_
(٣) سورة البقرة:١٠٤)_
(٤) بعضې يهوديانوبوشرارت پيدا كړې وو.چه د نبى ﷺ مجلس ته به راغلل.نوبه لفظ د،،راعنا،، به نې نبى ﷺ ته خطاب كولو.ددې معنى دهغوى په عبرانئ ژبه كښې خيرې وې.اوهغوى به دا هم په دې نيت باندې ونيل ـ په عربئ كښې ددې ښه معنى وه.نوځكه به مسلمانانو نبى ﷺ ته د دغه ښه معنى په نيت باندې خطاب كولو.نو الله تعالى ددې نه منع كړل.(معارف القران (٣٨٠١١)_
(٥) صحيح مسلم (٢٣٨.٢٣٧١٢) كتاب الألفاظ باب كراهة تسمية العنب كرماً)_
(٦) فتح الملهم (٦٣٧١١)_

يحى بن معاذ رازى رحمه الله فرمائى ،،حقيقة الحب فى الله أن لايزيد بالبر ولاينقص بالجفاء،،(١) يعنى حب فى الله دا دې چه نه دحسن سلوك دوجې په هغې كښې اضافه كيږى.اونه د بې وفائې په وجه په هغې كښې كمې اونقصان نه راځى.

امام مالك رحمه الله فرمائى چه ،،المحبة فى الله من واجبات الإسلام وهو دأب أولياء الله تعالى،،(٢)دالله تعالى دپاره محبت كول دالله تعالى د احكام واجبو څنې دې اوداولياء كرامو رحمهم الله عمل دې. وړاندې ئې دلته دالله اود رسول محبت ذكر كړې دې.اوكله چه دالله تعالى اود رسول ﷺ محبت په ټولو محبتونوباندې غالب وى.نوښكاره خبره ده چه د اهل الله سره كوم محبت وى.هغه به هم په اخلاص باندې مبنى وى.،،أن يحب المرء لايحبه إلالله،،په اصل كښې ،،أن يكون الله ورسوله أحب إليه مما سواهما،، اثردې.بيا ښكاره ده چه كله دالله تعالى اود رسول محبت غالب شى. اود اهل الله سره محبت په اخلاص باندې مبنى وى.نوبيا ښكاره ده.چه ددې نتيجه به هم دا وى.چه دسړى به دكفر نه نفرت وى.ددې وجې ئې فرمائيلى دى.چه «وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ» يعنى كفرته واپس كيدل ورته داسې ناخوښه ښكارى.لكه چه څنګه دا نه خوښوى.چه په اوركښې اوغورځولې شى.

دا په هغه وخت كښې كيږى.چه كله د انسان په زړه كښې دالله تعالى اودهغه د رسول ﷺ محبت دومره زيات شى.چه دالله تعالى اودهغه د رسول ﷺ نه سوا هر يو څيزدهغې په مقابله كښې بې حقيقته اوهيڅ نه وى.

په حديث الباب كښې د ،،عود فى الكفر،، ذكر دې.نودا دهغه زمانې په لحاظ سره وئيلې شوې دې.چه خلقو به كفرپريخودل او په اسلام كښې به داخل شول. نو څكه دهغوى په حق كښې داسې اوئيلى شو.چه ،،عود فى الكفر،، دهغوى دپاره دومره مكروه اوناخوښه كيدل پكار دى.چه لكه څنګه چه په اور كښې غورځيدل ناخوښه وى.

خوپه مونږ باندې د عود لفظ صادق نه راځى.څكه چه مونږ خو وړاندې په كفر كښې نه يو پاتې شوى.بلكه د اول نه مسلمانان راروان يو.نوپه دې صورت كښې به عود د صيرورت په معنى كښې اخستې شى اومعنى به دا وى چه ،،يكره أن يصير فى الكفر كما يكره أن يقذف فى النار،، يعنى كافرجوړيدل سړى ته داسې ناخوښه شى لكه څنګه چه په اور كښې غورځيدل ناخوښه ګڼړى.او عود د صيرورت په معنى په قرآن كښې هم استعمال شوې دې.ارشاد دې.﴿أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا﴾(٣) يعنى كافرانو دا خبره حضرت شعيب عليه السلام اودپه هغه باندې ايمان راوړونكو كسانوته كړې وه.حالانكه حضرت شعيب عليه السلام كله هم دهغوى په دين باندې نه وو

---

١) شرح كرمانى (١٠١١١)

٢) پورته حواله)_

٣) سورة أعراف:٨٨ قال القرطبى رحمه الله ..أى لتصيرن إلى ملتنا.. الجامع لأحكام القرآن (٢٥٠١٧)_

پاتې شوې.نودلته عود په معنی د صیرورت دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دحدیث په یو سند کښې د،،بعد أن أنقذه الله،، تصریح هم راغلې ده (۱) دوی فرمائي.چه د انقاذ یو صورت دا دې.چه د اول نه الله تعالی د کفر نه بچ ساتلې وی.چه دمسلمان په کور کښې پیدا شوی وی.اوبیا په اسلام باندې قائم وی.دویم صورت دا دې.چه دکفر دتیرو نه په حقیقت کښې الله تعالی راویستې وی.په اولنی صورت کښې ..عود..د ..صیرورت..په معنی کښې اخستې شی.اوپه دویم صورت کښې ..عود.. په خپله اصلی معنی باندې برقراروی.(۲)

د نبی کریم ﷺ محبوبیت حضرت مولانا شبیر احمد عثمانی رحمه الله یوه خبره لیکلې ده.چه په قرآن کریم کښې په کوم کوم ځائې کښې دحضرت موسی علیه السلام ذکر راځي.نوهلته محسوسیږی چه د محبت سره دحضرت موسی علیه السلام ذکر کیږی.په یوځائې کښې خو ښکاره موجود دی ﴿وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي﴾ (۳)خود نبی کریم ﷺ په باره کښې داسې قسم مضمون ماته نه دې ملاؤ شوې.ددې وجې مې په زړه کښې یوخاص قسم تشویش او طلب وو.ځکه چه دنبی کریم ﷺ مقام یقیناً چه د حضرت موسی علیه السلام دمقام نه اوچت دی.

فرمائي چه کله راته د قرآن کریم آیت ﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ﴾ (۴) مخې ته راغلو.اوما په دې کښې غور اوکړلو.نوزما زړه یخ شو. ځکه چه په دې کښې ونیلی شوی دی.که تاسو دالله تعالی سره دمحبت کولو دعوه کوئ.نوزما تابعداری اوکړئ.که زما تابعداری مو اوکړله.نو یواځې دا نه چه دالله تعالی سره به ستاسود محبت دعوی مقبول او معتبره وی.بلکه زما د تابعدارئ نتیجه اوثمره به تاسو ته دا ملاؤ شی.چه تاسو به دالله تعالی محبوبوبین جوړشئ.اولږ غوراوکړئ.چه د چا په اقتداء کولو سره نور خلق دالله تعالی محبوب جوړیږی.نو بیا به د هغه د محبوبیت څه شان وی؟ (۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۹= بَاب عَلَامَةُ الْإِيمَانِ حُبُّ الْأَنْصَارِ

دماقبل سره ربط ددې باب چه دماقبل سره کوم ربط دې.هغه وړاندې بیان شوې دې.چه د رسول الله ﷺ سره محبت من باب الایثاردې.اودمساوات نه پس د ایثار درجه ده. اوبیا په دې کښې دترقئ صورت دا دې.چه د نبی ﷺ سره نه بلکه د دوی سره چه د چا تعلقات وی.نودهغوی سره هم محبت ساتل پکار دی.اوهم ددې دپاره امام بخاری رحمه الله د ،،علامة الإيمان حب الأنصار،،باب قائم کړلو.

---

(۱) صحیح البخاری کتاب الأدب باب الحب فی الله رقم (۶۰۴۱)_

(۲) فتح الباری (۱\۶۲)-

(۳) سورة طه (۳۹)_

(۴) سورة آل عمران (۳۱)_

(۵) فضل الباری(۱\۳۴۶، ۳۴۷)_

په ترجمة الباب باندې يواعتراض اودهغې جواب اود ترجمة مقصود ددې باب په ترجمه باندې اشکال دا دې چه علامت د دې علامت نه خارج وی نودا ترجمه د کتاب الايمان سره مناسب نه ده ځکه چه امام بخاری رحمه الله خو دهغه څيزونوبيان کوی چه هغه د ايمان خصال.اعمال او شعب وی

علامه ابن المنير رحمه الله (۱)ددې جواب ورکړې دې چه امام بخاری رحمه الله ددې ترجمې نه دا خودل غواړی چه صرف تصديق کافی نه دې ترڅو پورې چه په اعمالو کښې دهغې نښه نه وی.دانصاروسره محبت چونکه دتصديق نښه ده.ځکه ئې دا ذکر کړله.بيا په دې باندې اشکال دا کيږی چه دلته خو د تصديق وغيره ذکر هم نشته.نودا مقصد بعيد معلوميږی.

مولانا محمديونس صاحب فرمانی.چه زما په خيال کښې داصل اشکال جواب دا دې چه په اصل کښې علامت د ذوالعلامة تابع وی.ګورئ نه چه ګرمی د اور نښه ده.نوچه څومره اور وی.هغه هومره به ګرمی وی.نودګرمئ کمې زياتې د اور د کمی زياتی نښه ده.دغه شان اوګنړئ چه دانصارو سره محبت دايمان نښه ده.نوچه په حب انصار کښې څومره کمې زياتې وی.هغه هومره به په ايمان کښې هم کمې زياتې وی.نومصنف رحمه الله ډير په لطيفه طريقه د ترجمة الباب نه دايمان کمی زياتی ته اشاره اوکړله.والله سبحانه اعلم

[۱۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَبْرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَنَسًا (۲) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آيَةُ الْإِيمَانِ حُبُّ الْأَنْصَارِ وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الْأَنْصَارِ [۳۵۷۳]

رجال الحديث

①**ابوالوليد:**دوی ابوالوليد هشام بن عبدالملك طيالسی باهلی بصری رحمه الله دې دامام مالك. شعبه. حمادبن سفيان بن عيينه رحمهم الله وغيره نه ئې سماع کړې ده.د دوی نه ابوزرعه. ابوحاتم.اسحاق بن راهويه.محمد بن يحی او محمد بن مسلم رحمهم الله روايت کړې دې

علماء د جرح اوتعديل دوی لره ثقه ګر خولی دی په کال ۱۳۶هـ کښې پيدا شوې وو.اوپه کال ۲۲۷هـ کښې وفات شوې وو

فائده طيالسی طيالسه طرف ته منسوب دې کومه چه د طيلسان جمع ده.دوی به د طيلسان (ټوپۍ) خرڅولوکارکولو.(۳)

---

۱) ارشاد السارى(۸۹/۱)_

۲) الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه فى كتاب مناقب الأنصار باب حب الأنصار من الإيمان رقم ۳۷۸٤ ومسلم فى صحيحه فى كتاب الإيمان باب الدليل على أن حب الأنصار وعلى رضي الله عنه من الإيمان وعلاماته وبغضهم من علامات النفاق والنسائى فى كتاب الإيمان وشرائعه باب علامة الإيمان)_

۳) عمدة القارى (۱۵۰/۱) وتقريب (۵۷۳) ترجمه رقم ۷۳۰۱_

③ **شعبه** دوى شعبه بن الحجاج دى.د دوى حالات وړاندې په ،،باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده،، كښې تيرشوې دى.

④ **عبدالله بن عبدالله بن جبر** جبرد جيم په فتحه او د باء په سكون سره ونيلى شى.ددوى نوم اوددوى دپلار نوم يو دې.د نيكه نوم نې دمدينې خلق جابر ښائى.

او اهل عراق ورته جبر وائى.دوى د مدينې وو.دحضرت عمراوحضرت انس رضي الله عنهما نه نې احاديث اوريدلى دى.ددوى نه امام مالك.مسعر او شعبه رحمهم الله وغيره روايت كړې دې.

دوى ثقه دى.او ددوى احاديث په صحيح بخارى.مسلم.ترمذى.ابوداود اونسائى كښې دى.[1] رحمهم الله

⑤ **حضرت انس** دحضرت انس رضي الله عنه حالات مونږ وړاندې ذكر كړى دى.

قوله: آية الإيمان حب الأنصار: دايمان نښه دانصاروسره محبت دې.

د ،،آيت،،معنى په لغت كښې ،،نښه،،ده.[2]

ابوالبقاء عكبرى رحمه الله ،،إنه الإيمان حب الأنصار،، ليكلى دى.يعنى ،،ان،، حرف مشبه بالفعل دې.اوددې نه پس ضمير،ضميرشان دې.،،الإيمان،، مبتدء او،،حب الأنصار،،خبر دې.[3]

خوشارحين رحمهم الله فرمائى.چه په ټولونسخوكښې دغه شان په ټولومسانيدو او مستخرجاتوكښې ،،آية الإيمان،،دې.نود عكبرى رحمه الله بيان تصحيف دې.[4]

بيا په دې باندې اشكال هم كيږى.چه ددې صورت نه دا لازميږى.چه ايمان په حب الانصار كښې منحصر دې.حالانكه ايمان صرف د حب الانصارپه دائره كښې منحصر او محدود نه دې.خودا اشكال په مشهور روايت ،،آية الإيمان حب الأنصار،، باندې هم راځى.ځكه چه مسند او مسند اليه معرفه دى.اوددې نه هم د حصر فائده حاصليږى. اوبيا په بعضې رواياتوكښې دحصر سره،،الأنصار لايحبهم إلا مؤمن[5]،،باندې هم وارديږى.

ددې اشكال جواب دا دې.چه دا حصرادعائى دې.لكه چه اووائې ،،زيد الطالب،،چه طالب علم خوبس زيد دې.ځكه چه دطلب علم وصف په ده كښې د نورو په نسبت ممتاز دې.نه به وائې چه نور هډو طالبان نه دى.كه دې خو زيد دې.يا وائى ،،مافى الدار إلا زيد،، په كور كښې خوبس زيد دې.بل څوك نشته.حالانكه دهغه ښځه اوبچى په كښې هم وى.خولكه چه د

---

[1]) عمدة(۱۱-۱۵۰) وتقريب (۳۰۹) ترجمه (۳٤۱۳)_
[2]) فتح البارى(۶۳۱۱)_
[3]) فتح البارى(۶۳۱۱)_
[4]) پورته حواله)_
[5]) صحيح بخارى كتاب مناقب الأنصار باب حب الأنصار من الإيمان رقم ۳۷۸۳)_

هغوی وجود د زید تابع دې.مستقل وجود ئې نشته.(۱)
دویم جواب دا دې.چه دا حصر اضافی دې.ددې کسانوپه اعتبارسره په حب انصار کښې ایمان منحصر دی.کوم کسان چه دانصارو سره صرف درسول الله ﷺ سره دمددکولوپه وجه بغض ساتی.نودداسې کسانوایمان په حب انصارکښې منحصردې.ترڅو پورې چه دهغوی په زړونوکښې دانصارومحبت نه وی پیدا شوې .دوی مومنان نشی جوړیدې.ځکه په حقیقت کښې ددوې دا بغض ساتل د انصارو سره بغض ساتل نه دی. بلکه نبی کریم ﷺ سره بغض ساتل دی.(۲)
دریم جواب دا دې.چه دا دعلامات خاصه په شان دی.چه په کښې اطراد خو کیدې شی. خوانعکاس نشی کیدې.یعنی چه په کوم ځائې کښې نښه موجود وی. نو ذوالعلامه به خامخا موجود وی.خودا ضروری نه ده.چه په کوم ځائې کښې علامات مرتفع وی.اوموجود نه وی.نود ذوالعلامه به هم وجود نه وی.(۳)
کله چه نبی ﷺ مدینې منورې ته هجرت اوکړلو.نو انصارو د دوی ﷺ سره په خپل مال اوجان سره دغمخوارئ اومواسات معامله اوکړله.هرځیزئې نبی ﷺ او کومو صحابوﷺ چه د نبی ﷺ سره هجرت کړې وو.پیش کړلو.ددې نتیجه دا شوه.چه دعربو دعلاقو خلق د انصارو دشمنان شول.دا دشمنی چونکه د نبی ﷺ سره د مدد په وجه پیدا شوې وه.نوځکه د نفاق یوه نښه اوګرځولې شوه.ځکه چه په حقیقت کښې دا دالله تعالی د رسول سره دشمنی ده.اوددې سبب په وجه د دوی سره محبت کول چونکه د رسول الله ﷺ سره محبت دې.نودا دایمان نښه اوګرځولې شوه.
انصار انصار،،یا خود ،،ناصر،، جمع ده.لکه څنګه چه ،اصحاب، د ،صاحب، جمع ده. اویا د ،،نصیر،،جمع ده.لکه څنګه چه ،اشراف، د ،،شریف،، جمع ده.(۴)
انصارد اوس او خزرج د قبیلو لقب دې.اوبیا ددې اطلاق د دوی په اولاد ، خلفاؤاوموالیو باندې هم بالتبع کیږی.نبی کریم ﷺ چه کله هجرت اوکړلو.او مدینې منورې ته راغلو.نو دې دواړو قبیلو په خپل مال او جان سره د نبی ﷺ مدد اوکړلو.نوځکه نبی ﷺ دوی ته دا لقب ورکړلو.اود نبی ﷺ د راتلو نه وړاندې دا خلق د ،بنو قیله، په نوم باندې مشهوراوپه دې لقب سره متعارف وو.ځکه چه قیله یوه ښځه وه.چه د هغې نه اوس او خزرج خواره شوی وو.خوکله چه نبی ﷺ ورته د انصارو لقب ورکړلو.نودهغوی اولنې نوم او لقب ورک شو. نو اوس چه د انصارو اطلاق په کوم ځائې کښې هم کیږی.هم دا قبیلې به ترې مراد وی.(۵)

---

۱) فتح الباری (۱\۶۳)_
۲) فتح الباری (۱\۶۳)_
۳) پور ته حواله)_
۴) فتح الباری(۱\۶۳)_
۵) عمدة القاری (۱\۱۵۱)_

ايا دمهاجرينو رضى الله عنهم محبت د ايمان نښه نه ده؟ دلته يوسوال پيدا کيږي.چه د انصاروسره محبت ته ئې د ايمان نښه اووئيله. او د مهاجرينو ﷺ سره محبت ته ئې دايمان نښه نه ده وئيلې.ولې د مهاجرينو ﷺ سره محبت دايمان نښه نه ده؟

نوددې جواب دا دې.چه په اصل کښې دمهاجرينو ﷺ معامله بالکل ښکاره او واضحه وه.چه هغوی د نبی ﷺ دخاندان سره تعلق ساتلو.اوهغوی داسلام د ترقئ دپاره هجرت کړې وو.اوتکليفونه ئې زغملی وو.خپل بال بچ ئې پريخودې وو. او د اسلام په وجه دربه در شوی وو.نودهغوی سره دمحبت معامله خوبيخی ښکاره وه. البته دانصارو په باره کښې دا وه.چه دهغوی چونکه دنبی ﷺ د خاندان سره تعلق نه وو.اوهغوی دهجرت وغيره تکليفونه هم نه وو زغملی.نودا شبه کيدې شوه.چه کيدې شی.د ايمان نښه دمهاجرينو سره محبت وی.او د انصارو سره محبت نه وی. نو په دې وجه نبی ﷺ په خصوصيت سره د انصارو ذکر اوکړلو.

دويم جواب دا دې.چه هرکله د انصاروسره محبت دايمان نښه اوګرځولې شوه.نود مهاجرينو ﷺ سره محبت خو به په طريق اولی دايمان نښه وی.دانصارو سره محبت د دليل په طور پيش کړې شو.چه هرکله دوی د نبی ﷺ د خاندان سره تعلق هم نه ساتی.اود هجرت سختئ ئې هم نه دی برداشت کړې.نوچه دوی سره محبت د ايمان نښه ده.نود مهاجرينو ﷺ سره محبت خويه په طريق اولی د ايمان نښه ګرځولې شی.دددې وجې صرف دانصارو ذکر راغلې دې.دمهاجرينو نه دې راغلې.

دانصارو سره محبت دايمان اوبغض دنفاق نښه ده.په دې باره کښې يوضروری وضاحت دلته يوه خبره د پوهيدو قابله ده.چه دلته دانصارو سره محبت دايمان نښه اود دوی سره بغض دنفاق نښه اوګرځولې شوه.چه دانصارو سره محبت ،،من حيث أنهم أنصار الله وأنصار رسوله،، دايمان نښه ده.اوهم په دې حيثيت سره ددوی سره دشمنی کول د نفاق نښه ده.

ددې نه معلومه شوه.که په څه بله وجه دانصارو سره اختلاف پيښ شی.نوهغه به دنفاق نښه نه وی.

ګورئ هرکله چه په جنګ جمل کښې د حضرت علی ﷺ د حضرت طلحه. حضرت زبيراو حضرت عائشې ﷺ سره مقابله راغلې وه.يا په جنګ صفين کښې د حضرت معاويه ﷺ سره مقابله اوشوه.نوپه هغه وخت کښې دانصارو ﷺ اکثريت د حضرت علی ﷺ سره وو.دلته هرګز دا نشی وئيلې.چه په حضرت طلحه،حضرت زبير،حضرت عائشه اوپه حضرت معاويه ﷺ کښې دنفاق نښه بيا موندې شوه.ځکه چه ددې حضراتو په زړونو کښې بغض نه وو. بلکه درائې اختلاف وو.په رونړوکښې بلکه د پلار او ځوئې په مينځ کښې د رائې اختلاف وی.خوبغض نه وی.

دحضرت علی ﷺ اوحضرت معاويه ﷺ په مينځ کښې د اختلاف په نوعيت باندې دلالت کونکې يوه واقعه دروم بادشاه چه کله اوکتل.چه حضرت معاويه ﷺ د حضرت علی ﷺ سره په جنګ لګيا دې.نوهغه په بعضې علاقو باندې د قبضه کولو اراده اوکړله. نو حضرت معاويه ﷺ هغه ته اوليکل.،،والله لئن لم تنته وترجع إلى بلادك لأصطلحن أنا وابن عمي عليك ولأخرجنك

من جميع بلادك ولأضيقن عليك الأرض بما رحبت،،(١) يعنى كه تاسو منع نشوئى اوخپل ملك ته واپس لاړنړئ نوزه به دخپل ترة خونى سره صلح اوكړم اوبيا به تاسو دخپل ملك نه هم اوباسم اوپه هغه وخت كښې به تاسو باندې زمكه تنګه كړم سره ددې نه چه دا فراخه ده.

دحضرت معاويه رضي الله عنه دا ليكل په دې خبره دلالت كوى چه دحضرت على رضي الله عنه سره د هغوى په زړه كښې بغض نه وو. والله سبحانه وتعالى اعلم.

باب (بلا ترجمة)

دا بغيرترجمة باب دې اودا اولنئ موقعه ده چه بغيرترجمة باب په كښې راغلې دې.ددې متعلق تفصيل په مقدمه كښې تيرشوې دې.دلته چونكه په اول ځل باندې دا راغلې دې نوخكه لږ په وضاحت سره ددې بيان كوم.

① بعضې علمان رحمهم الله فرمائى چه مصنف رحمه الله سهوه شوې دې.

② بعضې حضرات فرمائى. چه دمصنف رحمه الله سهو نه ده بلكه دكاتب سهو ده. مصنف رحمه الله چه كومه ترجمه قائمه كړې وه.دكاتب نه هغه پاتې شوې ده.

③ بعضې حضرات فرمائى چه دا د راوى تصرف دې.(٢)

④ حافظ بن حجر رحمه الله په بعضې مقاماتو كښې دا وئيلى دى چه مصنف رحمه الله قصداً بياض پريخودې دې.اود ترجمة قائمولو اراده ئې وه.خوروسته ورته موقع نه ده ملاؤ شوې.(٣)

⑤ عام شارحين رحمهم الله په داسې موقعه باندې فرمائى چه دا باب ،،**كالفصل من الباب السابق**،، يعنى د سابقه باب نه دا يوفصل دې.اودهغې سره دا مربوط دې.علامه كرمانى رحمه الله (٤) حافظ ابن حجر رحمه الله (٥) علامه عينى رحمه الله (٦) شيخ الاسلام زكريا انصارى رحمه الله ،علامه قسطلانى رحمه الله (٧) شيخ نورالحق رحمه الله (٨) اوشاه ولى الله رحمه الله (٩) ددې قاعدې تصريح كړې ده.حافظ ابن حجر رحمه الله تقريباً

---

(١) البداية والنهاية (١١٩/٨) ترجمة معاوية رضي الله عنه وذكرشئ من أيامه وما ورد فى مناقبه وفضائله)_

(٢) فتح البارى(٥٦١/٦) باب بلاترجمة بعد باب كنية النبى صلى الله عليه وسلم)_

(٣) فتح البارى(٥٥٨/١) كتاب الصلاة باب (بلا ترجمة بعد باب إدخال البعير فى المسجد للعلة.. دغه شان (٢٠/٨) كتاب المغازى باب بلا ترجمة بعد باب منزل النبى صلى الله عليه وسلم يوم الفتح (٢٢/٨) باب بلا ترجمة بعد باب مقام النبى صلى الله عليه وسلم بمكة زمن الفتح)_

(٤) شرح كرمانى رحمه الله (٦٤/١)

(٥) فتح البارى(٦٤/١)

(٦) عمدة القارى(١٥٢/١)-

(٧) ارشاد السارى(٩٩/١)-

(٨) تيسيرالقارى(٢٠/١، ٢١)-

(٩) مقدمة لامع الدرارى (٣٢/١) الأصل العشرون)_

په څلوېښتو څايونوکښې ددې صراحت کړې دې څودا قاعده په هرځاې کښې نه چليږی په بعضې مواقعو کښې دا قاعده ګرانه ده

④ حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى چه بعضې څايونوکښې امام بخاری رحمه الله د تشحيذ اذهان دپاره ترجمه حذف کوی.(١) دناظرينو د طبعيت تيزولو دپاره. د هغوی په ذهن کښې د جلاء پيدا کولو دپاره.دهغوی د متوجه کولو دپاره.چه تاسوسوچ اوکړئ اود مقم مناسب څه ترجمه اولګوئ څوشرط دا دې چه ترجمه مکررنه وی.اودمقام مناسب وی لکه په کتاب الطهارة کښې ئې يوه ترجمه منعقد کړې ده.،،باب من الكبائران لايستترمن بوله،، په دې کښې ئې د ابن عباس رضي الله عنهما حديث نقل کړې دې چه په هغې کښې د دوو کسانويه عذاب قبرکښې داخته کيدو ذکر دې په دې پسې امام بخاری رحمه الله يوه بله ترجمه منعقد کړې ده.،،باب ماجاء فى غسل البول،، ددې لاندې ئې هم دا حديث تعليقاً ذکرکړې دې.ددې نه پس ئې يو باب بغيرترجمه منعقد کړې دې.اوپه هغې کښې ئې هم هغه دابن عباس رضي الله عنهما حديث مطولا بالسند نقل کړې دې. اوس دلته ،،كالفصل من الباب السابق ،،قاعده نه جاری کيږی دلته کښې څو به ((تشحيذالاذهان)) هم ګنړلې شى.اوڅه مناسب ترجمه به مقرر کول وی.مثلاً دا به وئيلې شى.چه ،،باب كون البول موجباً لعذاب القبر،،

په دې باندې اشکال کيږی.چه دا ترجمه څو مکرر شوه.څکه چه امام بخاری رحمه الله په ابواب الجنائز کښې په دې باندې د عذاب قبرترجمه منعقد کړې ده.

د دې جواب دا دې.چه دلته بحيثيت مسائل غسل. اودس. او طهارت. ذکر دې.اوهلته په ابواب الجنائزکښې دجنازې د مسائلوپه حيثيت ذکر دې.اودا تکرار مضرنه دې.هم د يو عنوان لاندې راوړل به مضر وو.

⑤ شيخ الهند رحمه الله فرمائى.چه امام بخاری رحمه الله کله دتکثيرفوائد په غرض ترجمه حذف کوی.(٢) په باب کښې چه کوم روايت ذکر وی.دهغې د تيرې شوې ترجمې سره ربط هم وی.اود هغې د لاندې نور تراجم هم منعقد کيدې شى.مثلاً هم دا باب راواخله.چه امام بخاری رحمه الله اول يوه ترجمه منعقده کړې ده.،،باب علامة الإيمان حب الأنصار،، ددې نه پس باب بلاترجمه راوړې.اوددې نه پس د حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه حديث نقل کوی.،،بايعونى على أن لا تشركوا بالله شيأ ولا تسرقوا ولا تزنوا ولا تقتلوا أولادكم ولاتأتو ببهتان تفترونه بين أيديكم وأرجلكم ولا تعصوا فى معروف....،، ددې د ماقبل سره ربط هم دې.څکه چه دا وئيلې شى.چه هرکله د انصارو سره محبت د ايمان نښه ده.نود معاصى اوګناهونو نه پرهيزبه په طريق اولى سره دايمان

---

١) مقدمة لامع الدرارى (٣٢٨\١) الأصل الخامس والعشرون)_

٢) مقدمة لامع الدرارى (٣٢٩\١) الأصل السادس والعشرون)_

نښه وي.اودباب نه پس مستقله ترجمه هم قائمولي شي.مثلاً ،،الإجتناب من الكبائر من الإيمان،، يا ،،البيعة على ترك الكبائر من الإيمان،، وغيره نوامام بخاري رحمه الله دتکثيرفوائد په غرض دلته ترجمه حذف کړې ده

⑧ يوه وجه دا بيان شوې ده چه بعضې وخت په سابقه بابونو کښې يا په باب سابق کښې يواشکال پيدا کيږي.نوامام بخاري رحمه الله بلا ترجمه باب راوړي.اوداسې يو روايت نقل کړي چه په هغې سره دهغه اشکال خاتمه کيږي.(١) لکه هم دې ځائې کښې اوګورئ.چه امام بخاري رحمه الله تراوسه پورې کوم تراجم قائم کړل.دهغې نه دا معلوميږي.چه اعمال په ايمان کښې داخل دی.په دې باندې د مرجئو ترديدخو اوشو.خوکيدې شي.چه معتزله او خوارج ددې نه خپل مسلک ثابت کول شروع کړي.نوامام بخاري رحمه الله دهغوې دخيال د ترديد دپاره باب بلا ترجمه راوړل.اوپه دې کښې ئې د حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه حديث پيش کړلو په کوم کښې چه دا دی ،،ومن أصاب من ذلك شيأ فعوقب في الدنيا فهو كفارة له ومن أصاب من ذلك شيأ ثم ستره الله فهو إلى الله: إن شاء عفا عنه وإن شاء عاقبه،،که الله تعالى د چا معاصي او جرائم پټ کړل.نودالله تعالى اختيار دې.که غواړي نو معاف به ئې کړي.اوکه غواړي نو عذاب به ورکړي.نود معتزلو او خوارجو دا وينا چه مرتکب د کبيرة د ايمان د دائرة نه خارج دې غلطه ده.نودهغوی دمسلک ترديد ئې اوکړلو.

⑨ شاه ولي الله رحمه الله فرمائي.چه امام بخاري رحمه الله په بعضې ځايونوکښې د ،،باب،، د محدثينود قول ،،ح،، په ځائې استعمالوی.(٢) ددې په کتاب بدء الوحي کښې صرف يو مثال دې اوصرف د يوباب دپاره مستقله قاعده مقرر کول بعيده معلوميږي.اوهلته ددې قاعدې داستعمال نه بغيرد باب صحيح توجيه کيدې شي.نوددې څه ضرورت نه معلوميږي

⑩ بعضې عالمان رحمهم الله فرمائي.چه امام بخاري رحمه الله د رجوع الى الاصل دپاره باب بلا ترجمه راوړي.دا د مشائخو رحمهم الله په نيز مشهوره ده.اوددې وضاحت دا دې چه امام بخاري رحمه الله يوه ترجمه قائمه کړي اوددې نه پس څه ابواب يا يو يا د يو نه زيات بابونه ضمني طورتبعاً ذکر کړي.اوبيا اصل ته دعود دپاره امام بخاري رحمه الله باب بلا ترجمه راوړي.(٣) لکه ،،باب فضل اللهم ربنا لك الحمد،، نه پس چه کوم باب راځي کيدې شي چه په دې کښې هم دا توجيه اوکړې شي.

⑪ يوقول دا هم دې چه امام بخاري رحمه الله بعضې وخت کښې باب بلا ترجمه د تکثيرطرق دپاره هم ذکرکوی لکه چه اوس په ،،باب ما جاء في غسل البول،، کښې چه ذکر شو.ددې نه پس

---

١) تقرير بخاري (١\١٢۶)_
٢) مقدمة لامع (١\٣٠٨) الأصل السابع)_
٣) مقدمة لامع (١\٣۶٧) الأصل السادس والخمسون)_

چه كوم باب بلا ترجمه راځي.علامه عيني رحمه الله ليكلي دي چه اصل باب خو وړاندينۍ دې.اودهغې په ذيل كښې چه كوم روايت دې.هم هغه روايت په بل سند سره ذكر كوى.(۱)
په دې توجيهاتوكښې چه دسهو مصنف سهوكاتب.اوسهوراوى كوم توجيهات دى.هغه ډيرې كمزورې دې.البته د بياض قول گذاره كوى.خكه چه دهغې دليل موجود دې.چه قاضي ابوالوليد باجى مالك رحمه الله د حافظ ابوذرعبدالرحيم بن احمد هروى رحمه الله نه اوهغه د ابواسحاق ابراهيم بن احمد مستملي نه نقل كوى.چه هغوى په فرمائيل.،، **إستنسخت كتاب البخاري من أصله الذى كان عند صاحبه محمد بن يوسف الفربرى رحمه الله فرأيت فيه أشياء لم تتم،وأشياء مبيضة منها تراجم لم يثبت بعدها شيأ ومنها أحاديث لم يترجم لها فأضفنا بعض ذلك إلى بعض**،(۲)په باقي توجيهاتوكښې د ټولو نه زياته رانجه او جارى د،،**الباب كالفصل من الباب السابق**،، توجيه ده.ددې نه پس د تشخيذ اذهان توجيه ده.والله سبحانه وتعالى اعلم.

په دې مقام كښې د بلا ترجمه باب ذكر كولو مقصد دلته كښې چه امام بخارى بلا ترجمه باب منعقد كړې دې.نوددې مقصد څه دې؟

دحضرت شيخ الهند رحمه الله رائې اوس د ،،باب بلا ترجمه،،د اسبابو لاندې ذكرشوه

شراح كرام رحمهم الله عام طور دې ته ،،**كالفصل من الباب السابق**،، وائي.اودماقبل ترجمة سره دا مربوط گرخوى.

دحافظ ابن حجر رحمه الله رائې دا ده.چه امام بخارى رحمه الله په ماقبل كښې دا خودلى وو.چه دانصارو سره محبت دايمان نښه ده.او اوس په دې باب كښې د حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه په حديث كښې دې طرف ته اشاره كوى.چه حضراتو انصارو ته د انصارو لقب وركولو ابتدائى وجه څه وه؟د حضرت عباده رضي الله عنه د حديث نه معلوميږى.چه ددې سبب د نبى صلى الله عليه وسلم په دست راست باندې د نصرت بيعت كول وو.(۳)

شيخ الحديث حضرت زكريا رحمه الله نورالله مرقده فرمائى.چه امام بخارى رحمه الله وړاندې دا خودلى وو.چه حب انصار دايمان نښه ده.اوس په دې باب كښې په دې خبره تنبيه وركول غواړى.چه د انصارو سره محبت د ايمان نښه ولې ده؟ نود باب د روايت نه معلومه شوه.چه ددې سبب د حضرات انصارو د نبى صلى الله عليه وسلم په لاس باندې د نصرت او اعانت په غرض سره بيعت كول وو.چونكه هغوى د نبى صلى الله عليه وسلم سره د نصرت او اعانت دپاره بيعت كړې وو.نودهغوى سره محبت كول په حقيقت كښې دالله تعالى سره محبت كول دى.(۴)

دحضرت شيخ الحديث رحمه الله دا ارشاد د حضرت علامه كرمانى رحمه الله په كلام كښې هم موجود

---

(۱) مقدمة لامع (۳۱۸/۱، ۳۱۹)_ الأصل السابع عشر)_
(۲) هدى السارى مقدمة فتح البارى (ص.۸) الفصل الثانى فى بيان موضوعه والكشف عن مغزاه فيه)_
(۳) فتح البارى (۶۴/۱) تقرير بخارى شريف (۱۲۵/۱)
(۴) تقرير بخارى شريف(۱۲۵/۱)_

دي. هغوی چه کوم کلام کړي دي. اودهغې په آخر کښې ئې کومه خبره کړې ده. هغه د حضرت شيخ رحمه الله مويده ده.[١]

[١٨] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو إِدْرِيسَ عَائِذُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا وَهُوَ أَحَدُ النُّقَبَاءِ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ بَايِعُونِي عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا تَسْرِقُوا وَلَا تَزْنُوا وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ وَلَا تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ وَلَا تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَتَرَهُ اللَّهُ فَهُوَ إِلَى اللَّهِ إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَإِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ فَبَايَعْنَاهُ عَلَى ذَلِكَ

[٣٦٧٩، ٣٦٨٠، ٣٧٧٧، ٣٨٩٣، ٣٩١٣ و ٤٠٢٣، ٣٩٣٤، ٣٩٩٧، ٤٨٧٨، ٤٩٢٧، ٥٠٣٠](٢)

رجال الحديث

دابواليمان او شعيب رحمهما الله حالات د باب بدء الوحى د شپږم نمبر حديث لاندې تيرشوى دى.

دامام زهرى رحمه الله مختصر ذكر دباب بدء الوحى د دريم حديث لاندې تير شوې دې.

قوله: ابوادريس عائذالله بن عبدالله: دوى ابوادريس خولانى دمشقى دى. دنبى ﷺ په ژوند کښې د حنين د واقعه په ورځ باندې پيدا شوې وو.

دحضرت عبدالله بن مسعود. حضرت معاذ. حضرت ابودرداء. اوحضرت عباده بن صامت رضي الله عنهم غوندې جليل القدرصحابه كرامو رضي الله عنهم نه ئې احاديث اوريدلى دى. دحضرت ابودرداء رضي الله عنه نه پس دشام عالم هم دوى وو. عبدالملك دوى د دمشق قاضى هم مقرر كړې وو. په كال ٨٠هـ

---

[١] شرح كرمانى رحمه الله () ١٠٣.

[٢] الحديث أخرجه البخارى فى كتاب مناقب الأنصار باب وفود الأنصار إلى النبى ﷺ بمكة وبيعة العقبة رقم (٣٨٩٢) و (٣٨٩٣) وفى كتاب التفسير سورة الممتحنة باب إذا جاءك المؤمنات يبايعنك .. رقم (٤٨٩٤) وفى كتاب الحدود كفارة رقم (٦٧٨٤) وباب توبة السارق رقم (٦٨٠١) وفى كتاب الديات باب قول الله تعالى ..ومن أحياها .. رقم ٦٨٧٣) وفى كتاب الفتن باب قول النبى ﷺ سترون بعدى أموراً تنكرونها .. رقم ٧٠٥٥) وفى كتاب الأحكام باب كيف يباع الإمام الناس رقم ٧١٩٩ وباب بيعة النساء رقم ٧٢١٣ وفى كتاب التوحيد باب فى المشيئة والإرادة رقم ٧٤٦٨ ومسلم فى كتاب الحدود باب الحدود كفارات لأهلها والنسائى فى كتاب البيعة باب البيعة على الجهاد وباب البيعة على فراق المشرك وباب ثواب من وفى بما بايع عليه .. والترمذى فى جامعه فى كتاب الحدود باب ما جاء أن الحدود كفاره لأهلها رقم ١٤٣٩ وابن ماجه فى كتاب الحدود باب الحد كفارة رقم ٢٦٠٣).

کښې وفات شوی وو اصحاب صحاح ستهٔ دوی نه روایات نقل کړی دی.(۱)

قوله عبادة بن صامت رضي الله عنه: دا مشهور انصاری صحابی ابوالولید عباده بن صامت بن قیس بن اصرم انصاری خزرجی دې.

په بیعت عقبه اولی او ثانیه کښې شریك شوې وو.بیا په بدر ،احد ،خندق او نورو ټولو غزاګانو کښې د نبی ﷺ سره شریك وو.دوی د انصارو په دولسو نقیبانو کښې یو وو.رسول الله ﷺ دوی او حضرت ابو مرثد غنوی ﷺ ورونړه جوړ کړی وو. نبی ﷺ دوی د صدقاتو ذمه وار هم جوړ کړې وو.اهل صفه ته به دوی قرآن کریم هم خودلو.

کله چه د شام علاقه فتح شوه.نو حضرت عمر ﷺ دوی او حضرت معاذ او حضرت ابوالدرداء ﷺ هلته کښې اولیږل.چه خلقوته د دین تعلیم ورکړی.نو حضرت عباده په حمص کښې حضرت معاذ په فلسطین کښې اوحضرت ابودرداء ﷺ په دمشق کښې دیره شول.

دحضرت عباده نه یو سل یو اتیا احادیث نقل دي.په دې کښې شپږ احادیث متفق علیه دی.اودوه احادیثوکښې امام بخاری متفرد دې.او په دو کښې امام مسلم.

د دوه اویا کالو په عمرکښې په کال ۳۴هـ کښې په بیت المقدس یا رمله کښې دوی وفات شوی وو.(۲)

قوله وَكَانَ شَهِدَ بَدْرًا وَهُوَ أَحَدُ النُّقَبَاءِ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ: حضرت عباده ﷺ په جنګ بدر کښې شریك شوې وو.اودوی په لیلة العقبه کښې د انصارو د سردارانو نه یو وو.

دانصاروپخوانۍ تاریخ: انصار په اصل کښې د یمن اوسیدونکی او د قحطان د خاندان نه وو.په یمن کښې چه کله مشهور سیلاب راغلو.چه سیل عرم ورته وائی.نودا خلق د یمن نه بهر شو.او مدینه کښې آباد شول.دا دوه ورونړه وو.اوس او خزرج،ټول انصار هم د دې دوو خاندانو څنی دی.دا خاندان چه کله یثرب ته راغلل.نودلته د.یهودیانو زبردست اقتدار او اثر وو.خواږ شا مقامات ددوی په قبضه کښې وو.او دولت او مال ورسره وو.د آل او اولاد د کثرت د وجې شل یوویشت قبیلې جوړې شوې وې . ددې وجې نې ترلرې لرې پورې کلی آباد کړی وو.انصارڅه مودې پورې د یهودو نه جدا وو.خوچه د یهودو اثر او رسوخ نې اولیدل.نوآخر دا چه ددوی حلیف جوړ شول .ترڅه وخته پورې دا حالت وو.خوبیا انصار هم زیات شو.ددوی خاندان خور شو.او اقتدار ورته حاصل شو.نویهودود آئنده حالاتو په تناظرکښې دا معاهده ماته کړه.

په یهودیانوکښې یوسردار فطیون په نوم پیدا شو.هغه ډیرعیاش اوبدکاره وو.هغه دا حکم جاری کړې وو.چه کله پیغله جینئ چاته واده کیږی.نو اول به دده سره شپه تیروی.یهودو دا خبره برداشت کړې وه.خوکله چه د انصارو نوبت راغلو . نو هغوی انکار اوکړلو.

---

(۱) عمدة القاری(۱۵۳|۱) وتقریب (ص.۳۸۹) رقم ۳۱۱۵)_

(۲) تهذیب الأسماء واللغات (۲۵۶|۱. ۲۵۷) وعمدة القاری (۱۵۳|۱) وتقریب (ص.۲۹۲) رقم ۳۱۷)_

په دغه زمانه كښې د انصارو سرداريوكس مالك بن عجلان وو.كله چه دهغه خور واده شوه نو هغه هم د وادهٔ په ورځ د كور نه بهرته اووتله.اودخپل ورو مالك بن عجلان مخكښې برېنډه تيره شوه.مالك ته غيرت ورغلو .راپاسيدلو.اوخورئې ډيره ملامته كړه.هغې ورته اووئيل. تيك ده خو چه صبا ته به څه كيږى.هغه خودئ نه هم زياته د شرم خبره ده.په دويمه ورځ د رواج مطابق د مالك خورناوې كړې شوه.اود فطيون خلوت ګاه ته لاړله.نومالك هم د زنانو جامې واغوستې اوپه ملګروكښې ورسره شو.اوفطيون ئې قتل كړل.اوشام طرف ته اوتختيدلو. دلته د غسانيانوحكومت وو.او ابوجبله حكمران وو.هغه چه دا حالات واوريدل. نولوئې لښكرئې راوستل.اود اوس او خزرج سرداران ئې راوغوښتل.او هغوى ته ئې انعامونه وركړل.اوبيا ئې د يهوديانو سردارانو ته دعوت اوكړلو .او يو يو ئې په دهوكه باندې قتل كړل.د يهوديانو زور اوس ختم شو.اوانصارو قوت حاصل كړلو.

انصاروپه مدينه كښې اوددې نه ګيرچاپيره ډيرې قلعه ګانې جوړې كړې وې. اوس او خزرج ترځه وخته پورې په خپل مينځ كښې متفق وو.خوبيا دعربود فطرت مطابق په خپلوكښې جنګونه شروع شول.اوسخت خونړى جنګونه اوشول.دټولو نه په آخرى جنګ كښې چه جنګ بعاث ورته وئيلې شى.داسې سخته جګړه اوشوه. چه د دواړو قبيلو نامتو كسان مړه شول. اوس انصار دومره كمزورى شو.چه دوى قريشو ته قاصد اوليږل.چه مونږ خپل حليف جوړ كړئ.خوابوجهل خبره ختمه كړه.

انصاراګرچه بت پرست وو.خود يهوديانوسره يوځائې پاتې شوى وو.نوځكه د نبوت او آسمانى كتابونو نه څه ناڅه خبر وو.يهودو سره اګرچه انصارو يوقسم تربوورولى ساتله. خود هغوى دعلمى فضل اوكمال قائلين وو.كله چه به په انصارو او يهوديانو كښې جګړه وه.نو يهوديانو به وئيل.نزدې چه آخرى پيغمبر به راشى. مونږ به دهغه تابعدارى اوكړو.اودهغه سره به ملګرى شو.او تاسو به دعاديانو او ثموديانو په شان هلاك كړو.دغه شان دمدينهٔ انصار دنبوت اونبى د بعثت نه څه ناڅه واقف وو.(۱)

دانصارو داسلام راوړلو ابتداء دنبى كريم ﷺ دا معمول وو.چه د حج په ورځوكښې به د قبيلو سردارانو ته ورتلل.اود اسلام دعوت به ئې وركولو.په يوولسم كال د نبوت چه كله د حج موسم راغلو.نود انصارو څه خلق مكې مكرمې ته راغلل.نبى ﷺ هغوى ته تشريف يوړلو. اوداسلام دعوت ئې ورته وركړلو.اودقرآن پاك تلاوت ئې ورته اوكړلو.هغوى په خپل مينځ كښې اووئيل په الله قسم چه دا هغه پيغمبر ﷺ دې.دكوم چه به يهوديانو ذكركولو.ګورئ چه داسې اونشى.چه يهود تاسو نه په دې سعادت كښې وړاندې شى. نودې ټولو هم په دغه مجلس كښې ايمان راوړلو.دا شپږ حضرات وو.(۲)

كله چه دويم كال راغلو.كوم چه د نبوت دولسم كال وو نونبى ﷺ سره دملاقات دپاره دولس كسان حاضرشول.دا دولس كسان د نبى په خدمت كښې حاضرشول.اود شپې په منى

---

(۱) دتفصيل دپاره اوګورئ سيرة النبى ﷺ (۱\۱۵۵. ۱۵۶)_

(۲) سيرت ابن هشام (۱\۲۶۶. ۲۶۷) بدء اسلام الأنصار)_

کښې د عقبۀ سره نې د نبي ﷺ په لاس باندې بيعت اوکړلو دا دانصارو اولنې بيعت وو.او دې ته ،،بيعة عقبه اولى،، وائى.[1]

کله چه دا حضرات مدينې منورې ته واپس لاړل نونبي ﷺ دوى سره حضرت مصعب بن عمير رضي الله عنه اوليږلو چه دوى ته د قرآن تعليم ورکړى.[2]

کله چه دريم کال راغلو کوم چه د نبوت ديارلسم کال وو.نودانصارو کم او زيات اويا کسان مکې مکرمې ته راغلل.اود نبي ﷺ په لاس نې بيعت اوکړلو په دغه موقع حضرت عباس رضي الله عنه هم وو هغوى په دې موقع باندې يوه خطبه اوونيله.او وې ونيل چه محمدتاسوته درتلل غواړى.اوپه دې باندې کلك دې.که تاسو خلق د دې ذمه وارى اخلئ.چه تاسو به دده پوره حفاظت کوئ.نو دربه شى.گنى دې هم دلته په مکه کښې پريږدئ.دده خپل خپلوان به دده حمايت او حفاظت کوى. انصارو وعده اوکړه.اوددې نه پس دوى بيعت اوکړو دې ته ،،بيعت عقبه ثانيه.. وائى.[3]

کله چه ټولو بيعت اوکړلو.نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل.چه حضرت موسى عليه السلام په بنى اسرائيلوکښې دولس نقيبان مقرر کړى وو.دغه شان زه هم د جبرئيل عليه السلام په اشاره باندې په تاسو کښې دولس نقيبان مقرر کوم.اوهغه دولسو ته مخاطب شو.او وې فرمائيل تاسودخپل قوم کفيل او ذمه وار نې.[4]

بهرحال دلته ،،وكان شهد بدراً وهو أحد النقباء ليلة العقبة،، کښې دحضرت عباده بن صامت رضي الله عنه منقبت بيان شوې دې.چه دوى په بدرکښې هم شريك شوى وو. اوددې نه علاوه په دولسو نقيبانو کښې يونقيب دې هم وو.[5]

---

[1]) سيرت ابن هشام (۱\۲۷۹)_

[2]) سيرت ابن هشام (۱\۲۶۹)_

[3]) سيرت ابن هشام (۱\۲۷۳)_

[4]) طبقات ابن سعد(۱\۲۲۲، ۲۲۳) ذكرالعقبة الآخرة وهم السبعون الذين بايعوا رسول الله ﷺ)_

[5]) يوه ضرورى تنبيه:دمدينې منورې دا کسان چه اول اول نې اسلام راوړې وو.د سيرت بعضې مصنفينو رحمهم الله د دوى د قبول اسلام دا واقعه د بيعت عقبه اولى په عنوان سره کړې ده دا عنوان د سيرت کتونکودپاره په هغه وخت کښې د پريشانئ سبب جوړيږى کله چه دوى په نورو کتابونو کښې اوګورى چه په بيعت عقبه اولى کښې دولس کسان وو ددې اختلاف روايت په سبب بعضې مصنفين په بيعت عقبه ثانيه کښې دولس کسان او بعضې درې اويا کسان بيانى.حالانکه اصلى صورت دا دې چه کومو شپږو يا اته کسانوچه په شروع شروع کښې اسلام راوړې وو.د هغوى د اسلام قبلولو واقعه ته بيعت عقبه اولى عنوان نه بلکه . .په اول کښې دانصارو اسلام قبلول.عنوان ورکول پکار دى اوپه دويم کال چه يوولس يا دولس کسان په خدمت کښې حاضر شوى وو دا بيعت عقبه اولى ده کومو کسانوچه د انصارو په اول کښې دايمان راوړلو ته د بيعت عقبه نوم ورکړې دې ددې خل بيعت ته د بيعت عقبه عنوان ورکوى يعنى يو بيعت عقبه اولى.دويم هغه بيعت عقبه چه په هغې کښې دولس کسانو ايمان راوړې وو.او دريم هغه بيعت عقبه چه په هغې کښې درې اويا کسان په اسلام مشرف شوى وو او دا درې واړه واقعات د يوکال (بقيه حاشيه په راروانه صفحه....

قوله: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَحَوْلَهُ عِصَابَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ:

دلته د ،،أن رسول الله...،،نه وړاندي ,قال, مقدر دي اودا ,,قال.. په،،أن عبادة بن الصامت رضي الله عنه،، کښي د ،،أن،، دپاره خبر دي.او ،،وكان شهد بدراً وهو أحد النقباء ليلة العقبة،، جمله ,جمله معترضه ده.لکه چه عبارت به داسي وی ،،أن عبادة بن صامت رضي الله عنه (وكان شهد بدراً وهو أحد النقباء ليلة العقبة) قال أن رسول الله ﷺ قال...،،اودا د محدثينو رحمهم الله عادت وی.چه په کوم ځاني کښي ,,قال.. مکرر راشي.نوهلته يو حذف کوی.البته د هغې تلفظ خامخا کوی.

قوله: ،،عصابة،،: ددې اطلاق دلسو نه ترڅلويښتو پورې کيږی.اوکله مجازاً د څلويښتو نه په زياتو باندې هم ددې اطلاق کيږی.دبدر په موقع نبی ﷺ دعا کړې وه.اودا ئې فرمائيلی وو.،،اللهم إنك إن تهلك هذه العصابة من أهل الإسلام لاتعبد في الأرض،،(۱) اې الله که دمسلمانانودا جماعت هلاك شی.نوپه زمکه به ستا عبادت کونکې څوک پاتې نشی.دلته نبی ﷺ د درې سوه اوديارلس کسانو په جماعت باندې د ،،عصابة،، اطلاق کړې دې.

دنسائی شريف په يو روايت کښې دی.چه دلته د ،،عصابة،، په ځاني د ,, رهط.. لفظ هم راغلي دې.اوددې اطلاق د دريو نه واخله ترلسو پورې کيږی.

قوله: بَايِعُونِي: د نبی ﷺ په لاس باندې په مختلفو طريقو بيعت شوې دې.بيعت په اصل کښي وعده او معاهده وی.چه دالله رسول يا هغه کس چه د الله د رسول تابعدار وی.دهغه پوره تابعداری اوکړې شی.

رسول الله ﷺ په مرګ باندې هم بيعت اخستې وو.(۲) ددې مطلب هم هغه بيعت على الجهاد دې.چه مونږ به د الله تعالى د دين اوچتولو دپاره د کافرانو سره جنګ کوو.تردې چه مونږ ته مرګ راشي.يا دالله تعالى دين غالب شي.

دغه شان د صلاة او زکاة د پابندئ دپاره هم نبی ﷺ بيعت اخستې دې.(۳) د فواحشو او منکراتوپه ترك باندې ئې هم بيعت اخستې وو.(۴) دغه شان د هرمسلمان په خيګړه باندې(۵)

...بقيه حاشيه د تيرمخ) د فاصلې په حساب سره په موسم حج کښې پيښې شوی دی. او کومو کسانو چه په اول کښې د انصارو داسلام قبلولو واقعه د..ابتداء اسلام انصار.. په عنوان سره ذکرکړې ده.هغوی د يوولسوکسانو بيعت ته بيعت عقبه اولی او د دری اوياکسانو بيعت ته بيعت عقبه ثانيه عنوان ورکړې دې حاشيه سيرت النبی ﷺ ازعلامه سيدسليمان ندوی رحمه الله (۱۵۷\۱)_

(۱) سنن نسائی (۱۸۲\۲) كتاب البيعة باب البيعة على فراق المشرك)_

(۲) سنن نسائی (۱۱۸۰) كتاب البيعة باب البيعة على النصح لكل مسلم)_

(۳) سنن نسائی (۱۸۲\۲) كتاب البيعة باب البيعة على فراق المشرك)_

(۴) كما في حديث الباب)_

(۵) سنن نسائی (۱۸۰\۲) كتاب البيعة باب البيعة على النصح لكل مسلم)_

اوپه دې خبره چه كله موقع راشي.نوكلمه دحق به ادا كوو.او كتمان د حق به نه كوو.(۱)
خلاصه دا چه څومره بيعتونه دى.نوپه ټولوكښې دالله تعالى دحكم په پوره كولو باندې دعمل كولو وعده كولې شى.اودا معاهده وى.چه مونږ به دالله تعالى دحكمونو پابندى كوو.ددې وجې قرآن كريم فرمائيلى دى.﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ﴾ (۲) دا كوم بيعت چه د پيغمبر ﷺ سره كيږى.نوچونكه دالله تعالى داحكاماتو پوره كولودپاره كيږى.نولكه چه دا بيعت دالله تعالى سره كيږى. بيعت على الجهاد . بيعت على الاسلام.بيعت دپاره د پابندئ د شريعت كوم چه د صوفياء كرامو ﷺ په نيزرائج دې په دې كښې د شريعت د پابندئ اود توبة الفاظ خو عام طور استعماليږى.خود موقعه اومحل په مناسبت سره بعضې وخت د خاصو خبرو ذكر په كښې هم راځى.لكه د ښځونه دبيعت اخستلو په وخت كښې دا لوظ اخستې شوې وو.چه دوى به په مړى باندې وير(ژړا) نه كوى.ځكه چه په ښځوكښې عام طور د وير عادت وى. او د حضرت جرير ﷺنه د مسلمانانود خيرخواهئ وعده اخستې شوې وه.ځكه چه په هغه كښې ئې ددې خاص صلاحيت محسوس كړې وو.دې بيعت ته بيعت سلوك يا بيعت احسانى وائى.د دې مقصد د شريعت په تابعدارئ كښې دكمال په ذريعه ولايت خاصه او وصول الى الله مقام ته رسيدل دى.هم دا ذريعه ده دالله تعالى د نسبت حاصلولو،كوم خلق چه ددې نه انكاركوى.يا جاهلان دى.اويا ئې ځان په زور جاهلان كړى دى.

دحضرت عباده ﷺبه حديث كښې دى.چه نبى ﷺ صحابوﷺ ته اوفرمائيل چه ،،بايعونى،، نو هغوى عرض اوكړلو.،،بايعناك يارسول الله،،چونكه بيعت على الاسلام شوې وو.خونبى ﷺ بيا ،،بايعونى،، اوفرمائيل.اوبيعت ئې واخستل.حالانكه بيعت على الاسلام اخستې شوې وو. اوهلته د جهاد موقع نه وه.نوځكه دې ته بيعت احسان وئيلى شى
يوبيعت د تبرك دپاره وى.لكه د وړوكى ماشوم .اويا ديو لوئې بزرگ نه د تبرك په قصد بيعت واخستې شى.دغه شان دالله تعالى د ولى په لاس د توبة په غرض هم په بيعت كولو كښې څه قباحت نشته.والله اعلم
كوم كسان چه د مال اوزر يا دځپل شهرت دپاره دبيعت سلسله جارى كوى اود سنت تابعدارئ سره دهغوى څه تعلق نه وى.ددوى نه بيعت كول د ګمراهئ او ضلالت نه سوا بل څه نه دى.ددې وجې هغه حضرات چه اهل الله وى.چه د بيعت كومه سلسله قائموى.هغوى د بيعت اجازت وركولو ډير زيات اهتمام كوى.هغوى هريوكس ته اجازت نه وركوى.ځكه چه په دې سره ګمراهى او فساد خوريږى.
په حديث الباب كښې د ذكرشوى بيعت واقعه كله پيښه شوې وه؟ رسول الله ﷺ چه د كوم

(۱) سنن نسائى (۱۸۰/۱۲) كتاب البيعة باب البيعة على النصح لكل مسلم)۔
(۲) سورة الفتح ⑩۔

بیعت په باره کښې فرمانیلی وو چه ،،بایعونی علی أن لا تشرکوا بالله شیأ،،..دا په کوم وخت کښې واقع شوې وو په دې کښې اختلاف دې

د قاضی عیاض رحمه الله اوددوی د متبعینو رائې دا ده چه دا بیعت العقبة د هجرت نه وړاندې په لیلة العقبه کښې واقع شوې وو.[1]

دحافظ ابن حجر رحمه الله رائې دا ده.چه دا بیعت د لیلة العقبه په شکل یوبل بیعت دې.کوم چه د هجرت بلکه د فتح مکه نه پس واقع شوې دې.[2] حافظ رحمه الله دا خبره په مختلفو طریقو سره مبرهن او مدلل کړې ده.

ددوی اولنې دلیل دا دې.چه د بیعت العقبه الفاظ جدا دی.او ددې بیعت الفاظ جدا دی د بیعة العقبه الفاظ ابن اسحاق رحمه الله نقل کړی دی.،،أبایعکم علی أن تمنعونی مما تمنعون منه نسائکم و أبنائکم،،[3]

دغه شان د بخاری شریف په روایت کښې دی.،،دعانا النبی ﷺ فبایعناه فقال فیما أخذ علینا أن بایعنا علی السمع والطاعة فی منشطنا ومکرهنا وعسرنا ویسرنا..،،[4]

دغه شان په مسند احمد اوطبرانی کښې دی.دحضرت عباده او ابوهریره رضی الله عنهما په مینځ کښې خبرې اوشوې.نوحضرت عباده رضی الله عنه اوفرمانیل.،،یا أباهریرة إنك لم تکن معنا إذ بایعنا رسول الله ﷺ علی السمع والطاعة فی النشاط والکسل،وعلی النفقة فی العسر والیسر،وعلی الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر،وعلی أن نقول فی الله تبارك وتعالی ،ولا نخاف لومة لائم فیه،وعلی أن ننصر رسول الله ﷺ إذا قدم علینا یثرب ،فنمنعه مما نمنع منه أنفسنا وأزواجنا وأبناءنا،ولنا الجنة فهذه بیعة رسول الله ﷺ التی بایعنا علیها..،،[5]

دویم دلیل دا دې.چه ددې روایت په بعضې طرقو کښې واقع دی.،،لاننتهب،،[6] ددې نه نهبة العساکر مراد ده.په جهاد کښې چه کله مال غنیمت جمع شی.نوپه دغه وخت کښې بعضې مجاهدین تونګې لګول شروع کړی.اولوټ مارکوی.ددې نه منع کړې شوې ده.اودجهاد مشروعیت دهجرت نه پس شوې دې.نومعلومه شوه.چه دا په لیلة العقبه کښې نه وه.بلکه دهجرت نه پس بیعت کښې شوې وو.

---

[1]) فتح الباری(۱۱\٦٦)_

[2]) پورته حواله)_

[3]) سیرت ابن هشام (۱۱\۲۷۵) البیعة الثانیة الکبری بالعقبة)_

[4]) صحیح بخاری کتاب الفتن باب قول النبی ﷺ ..سترون بعدی أمورا تنکرونها..)_

[5]) مسند أحمد (۵\۳۲۵) ومجمع الزوائد(۵\۲۲٦) کتاب الخلافة باب لا طاعة فی معصیة)_

[6]) صحیح بخاری کتاب مناقب الأنصار.باب وفود الأنصار إلی النبی ﷺ بمکة: وبیعة العقبة رقم ۳۸۹۳)_

دریم دلیل دا دې چه د نبی ﷺ سره چه دلته د کوم بیعت تذکره ده.نوپه دې بیعت کښې د سورۃ ممتحنه د آیت ذکرپه بعضې طرقو کښې راغلې دې په بخاری کتاب الجهاد کښې دی ،،وقرءهذه الآیة کلها،،(۱)اوپه کتاب التفسیرکښې دی ،،وقرأ آیة النساء(۲)اود صحیح مسلم په روایت کښې دی ،،فتلی علینا آیة النساء أن لایشرکن بالله شیأ الخ، (۳)اودسنن نسائی په روایت کښې دی ،،ألاتبایعونی علی ما بایع علیه النساء أن لا تشرکوا بالله شیأ،،(۴)اودطبرانی په روایت کښې دی ،،بایعنا رسول الله ﷺ علی ما بایع علیه النساء یوم فتح مکة،،(۵)اودغه شان د مسلم په روایت کښې دی ،،أخذ علینا رسول الله ﷺ کما أخذ علی النساء(۶)اوښخو د حدیبیه نه پس د فتح مکه په ورځ باندې بیعت کړې وو.اودا بیعت د ښځو دبیعت موافق واقع شوې وو.نوهرکله چه دښځو بیعت د فتح مکې نه پس واقع شوې دې.نوښکاره ده.چه دا بیعت روسته شوې دې
څلورم دلیل دا دې.چه ابن ابی خیثمه په خپل تاریخ کښې د..عمروبن شعیب عن ابیه عن جده.. په سند سره نقل کړی دی.چه ،،قال رسول الله ﷺ أبایعکم علی أن لا تشرکوا بالله شیأ،، (۷)ددې نه ښکاره معلومه شوه.چه حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه په دې بیعت کښې شریك وو.اودوی د حضرت ابوهریره رضی الله عنه داسلام قبولوسره نزدې مسلمان شوې وو.اوحضرت ابوهریره رضی الله عنه په اوومه هجری کښې مسلمان شوې وو.
دغه شان د طبرانی په یو روایت کښې دحضرت جریر رضی الله عنه نه نقل دی.چه ،،بایعنا رسول الله ﷺ علی مثل ما بایع علیه النساء،، (۸) اودحضرت جریر رضی الله عنه اسلام ډیر روسته راوړې ي. واقدی رحمه الله لیکلی دی.چه دې په ۱۰ ھ کښې مسلمان شوې وو.(۹)
بهرحال ددې ټولو دلائلو یوځائې کولو نه دا معلومیږی.چه په دې حدیث کښې چه د کوم بیعت ذکردې.نوهغه دهجرت نه پس یا دفتح مکه نه پس شوې دې.اوپه اصل کښې حضرت عباده رضی الله عنه په بیعة عقبه کښې شریك وو.اودا یواهم بیعت وو.چونکه په دې سره د اسلام د ترقۍ بنیاد کیخودې شو.خکه ئې ددې تذکره کوله.(۱۰)

---

۱) صحیح بخاری کتاب الحدود باب الحدود کفارة رقم ۶۷۸۴)_
۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر.سورة الممتحنة باب إذا جاءک المومنات یبایعنک رقم ۴۸۹۴)_
۳) صحیح مسلم (۷۳\۲) کتاب الحدود باب الحدود کفارات لأهلها)_
۴) سنن نسائی (۱۸۱\۲) کتاب البیعة باب البیعة علی الجهاد)_
۵) فتح الباری (۶۶\۱)_
۶) صحیح مسلم (۷۳\۲) کتاب الحدودباب الحدود کفارات لأهلها)_
۷) فتح الباری (۶۷\۱)_
۸) پورته حواله)_
۹) ابن سعد رحمه الله فرمانی...أسلم فی السنة التی قبض فیها النبی ﷺ. طبقات (۲۲\۶) ترجمة جریربن عبدالله)
۱۰) فتح الباری (۶۷\۱)_

علامه عينى رحمه الله د حافظ ابن حجر د دلائلو ترديد كړې دې.اوپه دې باندې ئې دليل پيش كړې دې چه دا بيعت .بيعت دليلة العقبه وو.چه په دې حديث كښې د ،،وحوله عصابة،،الفاظ دى اود ،،عصابة،، تفسيرپه دوولسو نقيبانوسره شوې دې.اودنسائى په روايت كښې د ،،رهط،،لفظ دې.د كوم اطلاق چه په لسو يا ددې نه كمو باندې كيږى كه دا بيعة العقبه نه ووبلكه بل بيعت وو.نو په دې كښې به په زرګونو خلقو شركت كړې وو.صرف د عصابه يا رهط د شركت څه سوال دې؟ (۱)

دغه شان علامه عينى رحمه الله يودليل دا پيش كړې دې چه دنسائى په روايت كښې دى. ،،بايعت رسول الله ﷺ ليلة العقبة فى رهط،،الفاظ راغلى دى.((بايعت رسول الله ﷺ ليلة العقبة فى رهط)) په دې كښې د ((ليلة العقبة)) تصريح شته.(۲) نومعلومه شوه.چه دا د اولنى بيعت ذكر دې.اوتركومې پورې چه د طبرانى په روايت كښې د ،،يوم فتح مكة،، تصريح ده.نوددې نه دا نه لازميږى.چه دا بيعت اوهغه بيعت يو وي وى.بلكه كيدې شى.چه دواړه جدا جدا وى.اوحضرت عباده رضي الله عنه دويم بيعت كښې هم شريك وو.كوم چه د فتح مكه په موقع باندې شوې وو.(۳)

دريم دليل علامه عينى رحمه الله دا پيش كړې دې.چه د صنابحى رضي الله عنه په روايت كښې ددې بيعت ذكر داسې راغلې دې.،،إنى من النقباء الذين بايعوا رسول الله ﷺ وقال: بايعناه على أن لا نشرك بالله شيأ.،،(۴)

په دې روايت كښې حضرت عباده رضي الله عنه تصريح كوى.چه زه په بيعت كونكو نقيبانو كښې ووم.او بيا فرمانى.،،بايعناه على أن لا نشرك بالله..،، ددې نه معلومه شوه. چه دا بيعت په ليلة العقبه كښې شوى وو.(۵)

تركومې پورې چه د حافظ رحمه الله په ،،لانتهب،،باندې داستدلال تعلق دې.نودا حافظ رحمه الله د مال غنيمت سره خاص كړې دې.اوفرمانيلى ئې دى.چه دجهاد مشروعيت روسته شوې وې.نو ددې تعلق د ليلة العقبه سره نه دې.بلكه د روستنى بيعت سره دې.

علامه عينى رحمهما الله فرمانى.چه دا د مال غنيمت سره خاص كول تحكم دې. اودلغت

---

(۱) عمدة القارى (۱۵۸\۱)_

(۲)علامه عينى اوحافظ قسطلانى رحمهما الله هم دا الفاظ نقل كړى دى.خود سنن نسائى په مطبوعه نسخوكښې د ..ليلة العقبة.. تصريح چرته نشى موندې.عمدة (۱۵۸\۱) وارشاد السارى (۱۰۱\۱)_

(۳) عمدة القارى(۱۵۹\۱)_

(۴) صحيح بخارى كتاب مناقب الأنصارباب وفود الأنصار رقم ۳۸۹۳ وصحيح مسلم (۷۳\۲) كتاب الحدود باب الحدود كفارات لأهلها)_

(۵) عمدة (۱۵۹\۱)_

مخالف دي بلكه په دې ((التهاب في المغانم وغيرها)) دواړه داخل دي.(١)
تركومې پورې چه د آيت د تلاوت تعلق دې اوپه هغې باندې چه حافظ رحمه الله استدلال كړې دې نوچه بيعت نساء په فتح مكه كښې شوې وو نوعلامه عينى رحمه الله فرمائي چه د عقبه اولى د بيعت په موقع باندې د آيت تلاوت نه وو شوې اوپه رواياتوكښې چه د آيت د تلاوت كوم ذكردې نوپه دې كښې احتمال شته چه حضرت عباده رضي الله عنه په روستنو بيعتونوكښې شريك شوې وو اوپه هغې كښې د آياتونو تلاوت شوې وو دكوم ذكرچه حضرت عباده رضي الله عنه دخپل بيعت په واقعه كښې بيان كړې ده.(٢)والله سبحانه اعلم

قوله: عَلَى أَنْ لَا تُشْرِكُوا بِاللَّهِ شَيْئًا: يعنى زما په لاس باندې بيعت اوكړئ په دې خبره چه د الله تعالى سره به څوك نه شريكوئ.
د شرك اطلاق ، شرك فى الذات شرك فى الافعال شرك فى العبادات ټولوته شامل دې اوكله رياء ته هم شامليږى په حديث كښې دې ته شرك اصغروئيلې شوې دې په ظاهره ددې نه دلته هم شرك اكبر مراد دې ځكه چه په كتاب اوسنت كښې كله د شرك لفظ واخستې شى نوددې نه هم دا مراد وى علامه طيبى رحمه الله دا په شرك اصغرباندې محمول كړې دې.(٣)

قوله: وَلَا تَسْرِقُوا: اوپه دې خبره باندې چه غلا به نه كوئ د گناه كبيره ده ددې سزا په قرآن كښې لاس كټ كول بيان شوى دى.(٤)

قوله: وَلَا تَزْنُوا: زنا هم گناه كبيره ده كه زانى غيرمحصن وى نودده سزا په قرآن كښې سل كوړې راغلى دى.(٥)اوكه محصن وى نوپه حديث كښې ددې سزا رجم راغلې دې پخپله نبى كريم ﷺ رجم كړې دې.(٦)

---

(١) پورته حواله_
(٢) پورته حواله_
(٣) فتح البارى (١\٦٥)_
(٤) قال الله تعالى: ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾(سورة المائدة \٣٨)_
(٥) قال الله تعالى:﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ (سورة نور\٢)_
(٦) قال عمربن الخطاب رضي الله عنه وهو جالس على منبر رسول الله ﷺ إن الله قد بعث محمداً ﷺ بالحق وأنزل عليه الكتاب فكان مما أنزل عليه آية الرجم قرأناها ووعيناها وعقلناها فرجم رسول الله ﷺ ورجمنا بعده فأخشى إن طال بالناس زمان أن يقول قائل ما نجد الرجم فى كتاب الله فيضلوا بترك فريضة أنزلها الله وإن الرجم فى كتاب الله حق على من زنى إذا أحصن من الرجال والنساء إذا قامت البينة أو كان الحبل أو الإعتراف صحيح مسلم (٢\٦٥) كتاب الحدود باب حد الزناء) درجم سره متعلقه د ټولوضرورى اوتفصيلى مباحثوديپاره اوګورئ (تكمله فتح الملهم (٢\٤١٨- ٤٣٣)_

قوله وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ: خپل بچي مه قتلوئ.

په عربو کښې دبچو قتلولويو رواج وو.هغوی به خپل بچي ژوندي ښخول. نو نبی کريمﷺ ددې نه منع اوکړله.ځکه چه اول خوقتل جرم دې اوبيا خود ماشومانو قتل په څو وجوهو سره ډير قبيح دې اول خوددې وجې چه ماشومان بې گناه دی.دويم دا چه دا ډيرشنيع فعل دې چه ژوندې په قبرکښې دفن کولې شی.دريمه دا چه په دې کښې دقتل سره دصله رحمۍ کټ کول دی.څلورمه وجه دا ده.چه ماشومان غريبانان کمزوری وی.هغوی داسې نه وی.چه مزاحمت او مقابله اوکړی. اوخپل خان بچ کړی.هسې هم د بې گناه قتل په هرصورت کښې ناجائزدې که اولاد وی اوکه غيراولادوی.زما مطلب دا دې.چه د اولاد تخصيص د پورتنو وجوهو دوجې اوشو.گنی هسې هم عام قتل ناجائز دې.که ورکوټې وی اوکه لوئې.ماشوم وی اوکه بالغ وی.()

داولاد دقتل وجه اودقران عجيبه طرزبيان ددې نه پس په دې پوهه شئ.چه عربو به د درې وجو ماشومان قتل کول. جينکئ خو به نې د شرم د وجې قتل کولې.په قرآن پاك کښې دی. ﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ۝ يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ ۚ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ۗ﴾()

اوبعضې وخت به هغوی ددې ويرې په وجې بچی قتل کول.چه د لوږې د وجې به ورسره دخپل خان د هلاکت ويره وی.الله تعالی ددې نه منع اوکړله.ارشاد فرمائی. ﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُم مِّنْ إِمْلَاقٍ ۖ﴾()

اوبعضې وخت به نې ددې وجې قتل کول.چه مونږ خو به په څه طريقه باندې گذاره اوکړو. خو زمونږ بچی به څه کوی.د بچو د لوږې ويره اواحساس به ددوی د قتل سبب گرځيدلو په دې دواړو صورتونوکښې د قتل فعل د جينکو پورې خاص نه وو.بلکه هلکان اوجينکئ ټول به نې قتل کول.الله تعالی ددې نه منع اوفرمائيله. ارشاد دې. ﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُم مِّنْ إِمْلَاقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ۖ﴾()

بيا دلته سوچ اوکړئ چه الله تعالی په اول ځائې کښې ،،نرزقكم وإياهم،، اوپه دويم ځائې کښې ،،نرزقهم وإياكم،، ددې وجې فرمائيلی دی.چه په اولنی صورت کښې خو ورسره خپل فکر وو. نو الله تعالی هغه فکرلرې کړلو.اووې فرمائيل چه تاسو د کومې خبرې فکر کوئ. مونږ تاسو ته هم روزی درکوو.اوڅوك چه تاسو زيږولی دی.هغوی ته هم روزی ورکوو.اوپه دويم

() فتح الباری(۱۱\۶۴، ۶۵) عمدة القاری(۱۱\۱۵۹)_
() سورة النحل (۵۸، ۵۹)_
() سورة الانعام\۱۵۱)
() سورة اسراء:۳۱)_

صورت كښې خپل فكرخو نه وى بلكه دبچو فكروى چه ددوى په وجه به زمونږ روزى كمه شى اوهغوى به هم د لوږې اوفاقه ښكارشى نوځكه ئې اول د بچو د روزئ وعده اوكړله او ارشادئې اوكړلو ،،نحن نرزقهم وإياكم،، چه مونږ دوى ته هم روزى وركوو اوتاسو ته هم.(١)ددې نه د قرآن كريم په سياق كښې د تبديلئ عجيبه اندازه كيږى والله اعلم

قوله وَلَا تَأْتُوا بِبُهْتَانٍ تَفْتَرُونَهُ بَيْنَ أَيْدِيكُمْ وَأَرْجُلِكُمْ: اوتاسوداسې بهتان مه لګوئ كوم چه تاسودخپلو لاسونو اوپښوپه مينځ كښې جوړ كړې وى بهتان هغه دروغو ته وائى كوم چه اوريدونكې چپ كړى.(٢)

بيا دلته سوال كيږى چه صرف ،،لاتأتوا ببهتان،، وئيل كافى وو د ،،تفترونه،، اود ،،بين أيديكم وأرجلكم،، راوړلو څه ضرورت وو؟

ددې جواب دا دې چه ددې فعل شنيع د مزيد قباحت اوشناعت ښكاره كولو دپاره داطناب دا طريقه اختيار كړې شوه.(٣)بيا د،،بين أيديكم وأرجلكم،، مختلف معانى بيان شوى دى.

علامه كرمانى رحمه الله فرمانى چه ددې مطلب دادې ،،لاتأتوا ببهتان من قبل أنفسكم،، او ،،أيدى،، او ،،ارجلكم،، د ذات نه كنايه ده.ځكه چه اكثرافعال هم ددې نه صادريږى كله داسې كيږى چه سړى ته دقولى جنايت دوجې سزا ملاويږى. خونيلى شى ،،هذا بما كسبت يداك،، (٤)

يومطلب دا بيان شوې دې چه د ،،ما بين الأيدى والأرجل،، جوړ شوې بهتان نه زړه مراد دې اومطلب دادې چه په خپل زړه كښې په چا باندې بهتان مه لګوئ. (٥)

امام خطابى رحمه الله فرمانى چه ،،بين أيديكم وأرجلكم،، نه مراد دا دې چه ،،لاتبهتوا الناس بالمعايب كفاحا مواجهة،، يعنى په خلقو باندې مخامخ په مخامخ بهتان مه لګوئ اودا داسې دى لكه چه وئيلى شى ،،فعلت هذا بين يديك،،(٦)

علامه تيمى رحمه الله په دې باندې اعتراض كړې دې اوفرمائيلى ئې دى چه دا صحيح نه ده. ځكه چه عربيان دا خووائى چه ،،فعلته بين أيدى القوم،، خو دا نه وائى. چه ،،فعلته بين أرجلهم،، ددوى نه دا چرته منقول نه دى.(٧)

---

١) تفسيرابن كثير(٢\١٨٨) سورة انعام)_
٢) شرح كرمانى(١\١٠۶)_
٣)شرح كرمانى (١\١٠۶)_
٤) شرح كرمانى(١\١٠۶)_
٥) شرح كرمانى(١\١٠۶)_
٦) شرح كرمانى(١\١٠۶)_
٧) شرح كرمانى(١\١٠۶)_

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دعلامه خطابی رحمه الله قول ته غلط ونیل تیك نه دی.خکه چه دا خو صحیح دی چه ،،فعلته بین أرجلهم،، نه وائی.خو په ،،فعلته بین أیدی القوم وأرجلهم،، ونیلو کښې څه قباحت نشته.لکه چه مراد او مقصود خو د ،،أیدی،، ذکر دې.او،،ارجل،، د تاکید دپاره راوړلې شوې دې.(١)

عارف ابن ابی جمره رحمه الله فرمائی.چه کیدې شی.د ،،بین أیدیکم،، نه مراد حال وی.اود ،،بین أرجلکم،، نه مراد مستقبل وی.دوی اشاره کړې ده په ،،بین أیدیکم،، سره دې خبرې ته چه فی الحال هم تاسو بهتان مه لګوئ.او په ،،أرجلکم،، کښې اشاره ده روانیدو ته.اومطلب دا دې.چه ددې ځائې نه بل خواه ته لاړ شئ.نوهم په مستقبل کښې په بل وخت کښې بهتان مه لګوئ.(٢)

بعضې حضراتو فرمائیلی دی.چه په اصل کښې دا د بیعة النساء په باره کښې بیان شوې وو.کیدل به دا چه ښځې به زنا اوکړله.بچې به ئې اوزیږلو.اوبچې به ئې بل چاته منسوب کړلو.نو ددې نه منع کړې شول.اودا زنا به ددوی د لاسونو او پښو په مینځ کښې کیدله.خوکله چه دا د سړو دپاره استعمال کړې شوه.نو ددې د تاویل ضرورت پیښ شو.(٣)

قوله: <u>وَلَا تَعْصُوا فِي مَعْرُوفٍ</u>: اوپه ښه کارکښې نافرمانی مه کوئ.

بعضوفرمائیلی دی.چه معروف دې ته وائی.،،ما عرف حسنه من الشارع أمراً اونهیاً،،(٤)یعنی د کوم څیزحسن چه د شارع نه معلوم وی.برابره ده که د امرد قبلیې ځنی وی اوکه دنهی ځنې.

اوبعضو فرمائیلی دی.چه دمعروف معنی مشهور ده.یعنی د شارع نه ددغه کار کول ثابت او مشهور وی.(٥)بعضې فرمائی.چه ددې نه مراد طاعات دی.(٦)

بعضوفرمائیلی دی.چه ددې نه مراد .بر. او تقوی ده.(٧)

بعضو فرمائیلی دی.چه ،،هومالم ینه الشارع فیه،، یعنی هغه څیزچه په هغې کښې د شارع د طرفه نهی نه وی راغلې.(٨)

---

(١) شرح کرمانی (١\١٠۶)_
(٢) فتح الباری (١\۶۵)_وعمدة القاری (١\١۶٠)
(٣) فتح الباری(١\۶۵)-
(٤) فتح الباری (١\۶۵)_
(٥) عمدة القاری (١\١۵۵)_
(٦) عمدة القاری(١\١۵۵)_
(٧) عمدة القاری(١\١۵۵)_
(٨) عمدة القاری (١\١۵۵)_

صاحب د ،،النهايه،، ابن الاثير رحمه الله فرمائي چه ،،وهواسم جامع لكل ماعرف من طاعة الله والتقرب إليه والإحسان إلى الناس ،وكل ماندب إليه الشرع ونهى عنه من المحسنات والمقبحات،،(١)يعني معروف يوه جامع كلمه ده. کومه چه تولو امورو شرعيه ته شامل ده. برابره ده كه هغه فرائض وى اوكه مندوبات وى. كه اخلاق او آداب وى اوكه هغه امور وى. دكومو نه چه شريعت مطهره منع كړې ده

بيا پوهه شئ چه په دې كښې دې په دې خبره تنبيه وركړې شوې ده چه په مخلوق كښې دچا په داسې ځيزكښې تابعدارى كول چه په هغې كښې دالله تعالى نافرمانى وى.جائز نه دى.خكه چه نبى ﷺ فرمائيلى دى.،،لاتعصوا فى معروف،، دچا په بنه كار كښې مخالفت مه كوئ.نومعلومه شوه.چه په غيرمعروف كښې به نافرمانى كولې شى.خكه چه په حديث كښې راغلى دى.،،لاطاعة فى معصية الله إنما الطاعة فى المعروف،،(٢)

په بعضې روایاتوكښې راغلى دى.چه ،،لاطاعة لمخلوق فى معصية الخالق،،(٣)

ددې حديث په بعضې طرقو كښې د ،،لاتعصوني فى معروف،، الفاظ دى.(٤)

اشكال او جواب: دلته يواشكال كيږى.هغه دا چه رسول الله ﷺ صرف د معروف حكم كوى. نوبيا ئې دا څنګه اوفرمائيل.چه په نيكئ كښې زما نافرمانى مه كوى.

ددې جواب دا دې.چه په اصل كښې نبى كريم ﷺ دا دې پورتنئ قاعدې ته د اشاره كولو دپاره فرمائيلې دى.چه ،،لاطاعة لمخلوق فى معصية الخالق،،(٥)

امام نووى رحمه الله د ،،لاتعصوا فى معروف،، معنى بيانوى.اوفرمائى.چه ددې معنى دا ده.،،لاتعصوني ولاأحداولي الأمرعليكم في المعروف،،(٦)يعنى زما نافرمانى مكوئ.دغه شان چه ستاسوحاكمان چه دنيكئ كوم حكم كوى.نود هغوى نافرمانى مكوئ. لكه چه د معروف قيد د نبى ﷺ دپاره

---

(١) النهاية لابن الأثير رحمه الله (٣\٢١٦) مادة (عرف)_

(٢) صحيح مسلم (٢\١٢٥) كتاب الإمارة باب وجوب طاعة الأمراء فى غير معصية وتحريمها فى المعصية وسنن نسائى (٢\١٨٦) كتاب البيعة باب جزاء من أمر بمعصية فأطاع وسنن أبي داود كتاب الجهاد باب في الطاعة رقم ٢٦٢٥) وصحيح بخارى كتاب أخبارالأحاد باب ما جاء فى إجازة خبرالواحد الصدوق رقم (٧٢٥٧

(٣) درمنثور (١\١٧٧) آيت (ياايهاالذين أطيعوا الله وأطيعوا الرسول واولى الامرمنكم) ومجمع الزوائد (٥\٢٢٦) كتاب الخلافة باب لا طاعة فى معصية)_

(٤) صحيح بخارى كتاب مناقب الأنصار باب وفود الأنصار إلى النبي ﷺ بمكة وبيعة العقبة رقم ٣٨٩٢)_

(٥) فتح البارى(١\٦٥)_

(٦) فتح البارى(١\٦٥)-

نه دي بلكه د روستو راتلونكو امرانو او خليفه ګانو دپاره دي.چه په نيكئ كښې دهغوئ تابعدارى لازم ده.

په دې باندې داسې پوهه شئ.چه نبى ﷺ ،،لاتعصونى فى معروف،، ددې دپاره نه وو وئيلى.چه د نبى ﷺ نه ددې خبرې د صادريدو احتمال وو چه د غيرمعروف حكم اوكړى بلكه ددې دپاره ئې داسې وئيلى وو چه د دوى نه پس به خلفاء راځى. او د هغوى نه پس به نور خلفاء راځى اوهغوى به هم بيعت كوى.د نبى ﷺ نه خو ددې خبرې احتمال نشته.چه دخلاف معروف حكم به وركړى.خو نور خلق چه روسته به بيعت اخلى.په هغوى كښې خو ددې امكان موجود دې.نو دهغوى خيال ساتلو سره نبى ﷺ وفرمائيل. ،،لاتعصونى فى معروف،، لكه څنګه چه په قرآن كريم كښې دى. ﴿لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾[1]د پيغمبر ﷺ نه د شرك د صدور څه امكان نه وى.خونورو ته تنبيه وركول مقصود دى.كه دوى د شرك ارتكاب اوكړلو.نوددوى اعمال به ضائع او برباد شى.نودغه شان دلته هم.يوجواب دا وركړې شوې دې.چه ،،لاتعصونى فى معروف،، نبى ﷺ ددې وجې څكه اونه فرمائيل.چه د نبى ﷺ نه د معصيت د امر څه امكان نه وو.بلكه د سامعينو د تطييب قلوب دپاره نبى ﷺ داسې اوفرمائيل.لكه چه ددې خبرې تنبيه ئې وركړله.چه ددوى زړونه خوشحاله كړل.چه زه تاسو ته هم د نيكئ حكم كوم.دكوم چه د شريعت نه حسن معلوم شوې وى.اود شريعت نه د كوم ثبوت وى.[2]

په حديث كښې د منهياتو په ذكرباندې اكتفاء ولې اوكړې شوه دلته دويم اشكال دا دې.چه نبى ﷺ ،،**لاتشركوا بالله شيأ، ولاتسرقوا، ولاتزنوا، ولا تقتلوا أولادكم ولاتأتوا ببهتان تفترونه بين أيديكم وأرجلكم ولا تعصوا فى معروف**،، ذكراوكړلو.دا ټول منهيات دى.د اوامرو.فرائضو واجباتو نبى ﷺ ذكراونكړل.دا خو نامكمله بيعت دې.

ددې جواب دا دې.چه دغور كولوضرورت دې.څكه چه نبى ﷺ ،،**ولاتعصوا فى معروف**،، فرمائيلى دى.ددې معنى دا ده.چه دكوم څيز زه حكم دركوم.هغه به معروف وى.اودهغې كول به ضرورى وى.نوپه دې كښې مونځ روژه حج زكاة اوټول فرائض او واجبات راغلل.[3]

قوله فَمَنْ وَفَى مِنْكُمْ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ: كوم كس چه په تاسوكښې د دې بيعت تقاضې پوره كړى اوپه خپلوعدو اومعاهدو باندې وفا اوكړى نودهغه اجرپه الله تعالى باندې دې.

ياد ساتئ.چه دا وجوب استحسانى دې.وجوب حتمى نه دې.په الله تعالى باندې څه څيز

---

[1]) الزمر.٦٥)

[2]) عمدة القارى(١١/١٦٠)_

[3]) فتح البارى(١/٦٥) وعمدة القارى(١/١٦٠)_

واجب نه دي (۱)هغه مختار كل دي. ﴿ لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ ﴾ (۲)
دا بيله خبره ده.چه هغه كومه خبره اوكړى.نودهغې پوره كول يقينى خبره ده. په دې تيقن باندې دلالت دپاره د ،،على،،صيغه استعمال شوې ده.لكه چه دا خودلى شي.كه تاسو وعده پوره كړئ اود بيعت په مقتضى باندې عمل اوكړئ نودالله تعالى د طرفه اجر اوثواب يقينى دې الله تعالى استحساناً په خپل خان باندې دا واجب كړې دې.

قوله وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا فَعُوقِبَ فِي الدُّنْيَا فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ: كوم كس چه په دې گناهونو كښې د يوې ارتكاب اوكړى.اوبيا هغه ته په دنيا كښې سزا وركړې شى.نوهغه به دده دپاره كفاره شى.

ايا كه د شرك په وجه چاته د قتل سزا وركړې شى نودا دده دپاره كفاره كيدې شى؟ په دې باندې اشكال دا دې.چه د حديث په شروع كښې دى.،،بايعونى على أن لاتشركوا بالله شيأ،، او د،،فهو كفارة له،،نه معلوميږى.چه كه يوكس د شرك په وجه قتل كړې شى.نودا قتل به د مشرك دپاره معافى كونكې اونجات ذريعه ثابته شى.حالانكه په قرآن پاك كښې دالله تعالى ارشاد دې. ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ (۳)

امام نووى رحمه الله فرمائى.چه دا حديث عام مخصوص البعض دې.او ،،ومن أصاب من ذلك شيأ فعوقب فى الدنيا فهو كفارة له،، كښې ،ذلك، نه مراد ،،ما سوى الشرك،، دې.دشرك خو نه معافى شته.اونه ددې څه كفاره شته.ددې تخصيص هم په دې آيت ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ (۴)

بعضې حضراتوفرمائيلى دى.چه د ،ذلك، ،اشاره د شرك نه علاوه نورو څيزونو ته ده.څكه چه خطاب مسلمانانو ته دې.ددې تائيد دمسلم د روايت نه كيږى.په هغې كښې راخى.،،ومن أتى منكم حداً،،(۵)ښكاره ده كه د شرك په وجه چيرته قتل كړې شى.نودې ته حدنشى وئيلې.(۶)

خوپه دې جواب باندې اعتراض دې.چه په حديث كښې ،،فمن وفى،، كښې ،فاء، دپاره دترتب د ما بعد على ما قبل باندې ده.په دې كښې تخصيص نه وى. نوددې نتيجه به دا وى.چه كوم كس دا تقاضې پوره كړى.نوالله تعالى به هغه ته اجر وركړى.اوخوك چه په دې كښې د

---

۱) فتح البارى(۶۵\۱)_
۲) سورة الأنبياء ۲۳_
۳) سورة النساء(۴۸. ۱۱۶)-
۴) شرح نووى على صحيح مسلم (۷۳\۲) كتاب الحدود باب الحدود كفارات لأهلها)_
۵) صحيح مسلم (۷۲\۲) كتاب الحدود باب الحدود كفارات لأهلها)_
۶) فتح البارى(۶۵\۱)_

كوم يو څيز ارتكاب هم اوكړي.كه هغه شرك ولې نه وي.اوپه هغه باندې په دنيا كښې سزا جاري شوه نودا به د هغه دپاره كفاره وي.

بيا چه مسلمانانوته خطاب شوې دې.نوددې نه دا نه لازميږي.چه دوى دې د شرك نه اونه ويرولى شي.لكه چه مسلمانانوته وئيلى شي.چه تاسو شرك مكوئ.د مسلم په روايت كښې د..حد..لفظ راغلې دې.

نوددې جواب دا دې.چه دلته د حد نه اصطلاحى حد مراد نه دې.څكه چه دا خو يوعرفى حادث څيز دې.بلكه ددې نه‌مراد قابل سزا څيز دې.([1])

دعلامه طيبى رحمه الله قول مونږ وړاندې ذكركړې دې.چه دلته هغوى د شرك نه شرك اصغريعنى ريا مراد اخلى.څكه چه د شرك اكبر دپاره څه كفاره نشته. او هغوى فرمائى چه دلته ،،شيأ،،نكره راغلې ده.نوپه دې كښې دې خبرې طرف ته اشاره موندې شي.چه څكه چه د ،،لاتشركوابالله شيأ،،د دې معنى ده،،اى شركاًايا ماكان،،([2])

خوپه دې باندې اعتراض دې.چه دشارع په عرف كښې چه چيرته هم د مطلق شرك اطلاق كيږي.نوددې‌نه مراد مقابل د توحيد يعنى شرك اكبر اخلى.په قرآن او احاديثو كښې په ډيرو ځايونوكښې دا لفظ راغلې دې.په دې باندې د شرك اكبر نه علاوه بله معنى نه منطبق كيږي.([3])

ددې جواب دا وركولې شى.اكرچه عام طور ددې نه شرك اكبرمراد اخستې شى. خو د جمع او تطبيق دپاره كه مونږ د مجاز ارتكاب اوكړو.اوددې نه مجازاً شرك اصغرمراد واخلو. نوددې ګنجائش هم شته.اوپه دې كښې څه حرج نشته.([4])

دا جواب صحيح كيدې شو.خوپه حديث الباب كښې دى.،،ومن أصاب من ذلك شيأ فعوقب فى الدنيا،،چه كوم كس په دې څيزونوكښې دكوم څيزارتكاب اوكړي. او بيا ده ته په دې باندې په دنيا كښې سزا ملاؤ شي.نولكه چه په دې څيزونوباندې دنياوى سزا مقرر ده.حالانكه په ريا باندې دنياوى سزا مقرر نه ده.([5])

ددې نه معلومه شوه.چه دلته د شرك نه هم شرك اكبر مراد دې.اودا مخصوص دې يا خوپه آيت قرآنى ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ﴾ سره اويا په اجماع سره.([6])

---

[1]) فتح البارى(١١\٦٥)_
[2]) الكاشف عن حقائق السنن (١١\١٤) رقم ١٨)_
[3]) فتح البارى(١١\٦٥)-
[4]) فتح البارى(١١\٦٥)_
[5]) فتح البارى (١١\٦٥)_
[6]) قاله العينى رحمه الله فى العمدة(١ج\١٥٧)_

حدودكفارات دي اوكه صرف زواجر ددې نه پس پوهه شئ چه ددې حديث پاك نه معلوميږي. چه په شريعت كښې دكومو گناهونو حدود واقع شوي دي كه دهغې حدود په دغه مرتكب باندې قائم كړې شي نودا كفاره جوړيږي امام بخاري رحمه الله په كتاب الحدود كښې په دې حديث د ،،باب الحدود كفارة،، ترجمه منعقد كړې ده (۱)

امام شافعي رحمه الله په((كتاب الأم)) كښې په دې حديث باندې د ((باب أن الحدود كفارة)) ترجمه منعقد كړې ده.(۲)

چه دا مسئله مختلف فيها ده چه حدودكفارات دي اوكه نه.د مجاهد .زيدبن اسلم.سفيان ثوري.امام شافعي امام احمد .امام بخاري اودمحدثينو رحمهم الله رائې ده چه حدود كفارات دي. دسعيدبن مسيب.صفوان بن سليم.ابومحمد البغوي او ابوعبدالله بن تيميه . رائې د اده چه كفارات نه دي.(۳)

حافظ ابن حجر رحمه الله اوصاحب د عقيدة السفاريني رحمه الله هم دا د علامه ابن حزم رحمه الله نه هم نقل كړه دي.(۴)خودا وهم دې.علامه موصوف په خپل كتاب ،،المحلى،، كښې تصريح كړې ده چه حدود كفارات دي.صرف حدمحاربه كفاره نه ده.(۵)

د احنافو رحمهم الله څه مسلك دې.په دې كښې لږ غوندې اختلاف معلوميږي. اګرچه په متاخرينو كښې داختلاف تذكره نشته.علامه ابن الهمام.په فتح القدير كښې(۶)اوهم د دوى په اتباع كښې علامه زين بن نجيم رحمه الله په البحرالرائق كښې (۷)اوعلامه علاؤ الدين سكي رحمه الله په درمختاركښې(۸)ليكلي دي.چه زمونږ په نيزحدود كفارات اوسواترنه دي بلكه زواجردي. دصاحب هدايه رحمه الله دكلام نه معلوميږي.چه په حدودو كښې دوه فائدې دي. يودا چه حدود زواجر دي.اوبل داچه سواتردي.اولنى مقصد اصلي دې اودويم مقصد ضمني اوتبعي دې دوى فرمائي.،،والمقصدالأصلي من شرعه الإنزجارعما يتضرر به العباد، والطهارة ليست أصلية فيه،بدليل شرعه في حق الكافر،،(۹)

---

۱) بخاري شريف (۱۰۰۳\۲)_
۲)كتاب الأم (۱۳۸\۶) كتاب الحدود وصفة النفي)_
۳) عقيدة السفاريني.(۳۲۰\۱۱) وفتح الباري(۶۸\۱۱)
۴) عقيدة السفاريني (۳۲۰\۱۱) وفتح الباري(۶۸\۱۱)
۵) المحلى لإبن حزم رحمه الله(۱۲۴\۱۱) كتاب الحدود .مسألة :هل الحدود كفارة لمن أقيمت عليه أم لا مسألة (۲۱۶۶)
۶) ۲\۵) كتاب الحدود)_
۷) (۲\۵)-
۸) (۱۵۴\۳) فاتحة كتاب الحدود)_
۹) هدايه(۳\۵) مع شرح فتح القدير كتاب الحدود)_

صاحب دعنايه رحمه الله فرمائی چه ددې نه معلوميږی چه د حدودو دوه مقاصد دی.يواصلی اوهغه ،،الانزجارعما يتضرر به العباد،، خكه چه ددې مشروعيت عام دې.اودويم مقصد غيراصلی دې.يعنی،طهارة عن الذنوب،، (۱)

علامه ابن الهمام رحمه الله په دې دويم مقصد باندې اعتراض كړې دې.اوليكلی ئې دی،،وهو خلاف المذهب فإن المذهب أن الحد لايعمل فى سقوط إثم قبل سببه أصلاً،،(۲)يعنی داحنافو رحمهم الله مذهب دا دې چه دحدد گناه په ساقطولوكښې څه كاركردگی نشته.دا صرف د زجرد پاره دې.ستر دپاره نه دې.

خوحضرت كشميری رحمه الله فرمائی.چه په بدائع باب التعزير(۳) كښې ئې حدودوته كفارات وئيلی دی.دغه شان په ردالمختاركښې ئې د ملتقط الفتاوی نه نقل كړی دی.كه په حج كښې يوكس جنايت اوكړی.اوجزاء وركړی.نوگناه ترې ساقطه شوه.خوپه دې شرط چه عادت ئې جوړ نكړی.(۴)گنی گناه نه ساقطيږی.

دغه شان نجم الدين نسفی رحمه الله په التيسير، كښې تصريح كړې ده.كه حدقائم كړې شواو ددې نه پس هغه كس ددې گناه د ارتكاب نه منع شو.نودا به دده دپاره كفاره شی(۵)

دغه شان يوحنفی عالم رحمه الله ،قاضی ابوالحسن طالقانی رحمه الله دې د امام قدوری رحمه الله شاگرد او زبردست عالم دې.اود قاضی ابوالطيب طبری شافعی رحمه الله سره ئې يوځل مناظره اوشوه.په دغه مناظره كښې علامه ابوالحسن طالقانی رحمه الله دا تصريح كړې ده.چه دحدودو مشروعيت د گناه د پټولواوستردپاره شوې دې.(۶)

---

(۱) العناية بهامش الهداية مع شرح فتح القدير(۳\۵) كتاب الحدود)_

(۲) فتح القدير(۵\۳.۲)_

(۳) بدائع الصنائع (۷\۶٤) كتاب الحدود فصل: وأما صفته أى صفة التعذير)_

(۴) كذا فى فيض البارى(۱\۸۲) بحث نفيس فى أن الحدود كفارات أم لا والذى فى ردالمحتارهو: قال صاحب الملتقط فى كتاب الأيمان إن الكفارة ترفع الإثم وإن لم توجد منه التوبة من تلك الجناية اه (انظر(۲\۲۱۷) كتاب الحج باب الجنايات)_

(۵) فيض البارى(۱\۸۶) بحث نفيس فى أن الحدود كفارات أم لا وفى ردالمحتار(۲\۲۱۷) ويؤيده (أى يويد ماقاله صاحب الملتقط ما ذكره الشيخ نجم الدين النسفى فى تفسيره ..التيسير.. عند قوله تعالى..فمن اعتدى بعد ذلک فله عذاب اليم.. أى اصطاد بعد هذا الابتداء (لعل الصواب الإبتلاء كما فى الحاشية)قيل: هو العذاب فى الآخرة مع الكفارة فى الدنيا إذا لم يتب منه فإنها لا ترفع الذنب عن المصر.اه وهذا تفصيل حسن وتقييد مستحسن يجمع به بين الأدلة والروايات والله أعلم اهه أى فيحمل ما فى الملتقط على غيرالمصروما فى غيره على المصر..)_

(۶) طبقات الشافعية الكبرى لإبن السبكی(۳\۱۸۳. ۱۸٤) دامناظره دص.۱۸۳ نه تر۱۸۹ پورې خوره ده.

حضرت کشمیری رحمه الله فرمائی چه ،،ولم یتحقق عندی ما مذهب الحنفیة بعد،،[۱] زما په نیزتراوسه پورې دا خبره تحقیق ته نه ده رسیدلې چه داحنافو رحمهم الله په دې باره کښې څه مذهب دې.وجه دا ده.چه روسته متاخرین حضرات خودا لیکی.چه حدودو سواترنه دی زواجردی خودامام ابوحنیفه رحمه الله اوصاحبینو رحمهما الله نه په دې باره کښې څه صراحت منقول نه دې.امام طحاوی رحمه الله په مشکل الآثارکښې ددې حدیث متعلق بحث کړې دې.خودیوعلمی انداز بحث ئې کړې دې.اواختلاف وغیره ته ئې څه تعرض نه دې کړې.(نوددې نه هم معلومیږی. چه زمونږ د اسلافو نه په دې کښې اختلاف منقول نه دې)

دهغه چا دلائل چه حدود کفارات او سواترګنړی ددې حضراتویودلیل دقرآن کریم آیت دې.چه ﴿فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللهِ﴾[۲] ددې نه معلومیږی چه صیام شهرین توبه ده.اودا د توبې په حیثیت مقرر شوی دی.اوددې روژو نیول هم توبه ده.

دویم دلیل دحضرت عباده بن صامت رضی الله عنه دباب حدیث دې.

دریم دلیل دحضرت علی رضی الله عنه حدیث دې.چه ،،من أصاب حداً فعجل عقوبته فی الدنیا فالله أعدل من أن یثنی علی عبده العقوبة فی الآخرة،، [۳]

څلورم دلیل د حضرت ابوتمیمه هجیمی رضی الله عنه روایت دې.چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.((إن الله عزوجل إذا أراد بعبد خیراً عجل له عقوبة ذنبه فی الدنیا وربنا تبارک وتعالی أکرم من أن یعاقب علی ذنب مرتین))[۴] پنځم دلیل دحضرت خزیمه بن ثابت رضی الله عنه حدیث دې.((من أصاب ذنباً أقیم علیه حد ذلك الذنب فهو کفارته))[۵] شپږم دلیل دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روایت دې.چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی.((ما عوقب رجل علی ذنب إلا جعله الله کفارة لما أصاب من ذلك الذنب))[۶]

---

[۱]) فیض الباری(۱\۸۶)_

[۲]) سورة النساء(۹۲)_

[۳]) سنن ترمذی کتاب الإیمان باب ما جآء لا یزنی الزانی وهو مؤمن رقم ۲۶۲۶ وأخرجه الحاکم أیضا فی مستدرکه (۱\۷) کتاب الإیمان فائدة تعجیل العقوبة فی الحدود (۲\۴۴۵) کتاب التفسیر .تفسیر حم عسق (۴\۲۶۲) خاتمة کتاب التوبة والإنابة وصححه وأقره الذهبی رحمه الله)_

[۴]) مجمع الزوائد (۶\۲۶۵) کتاب الحدود والدیات باب هل تکفر الحدود الذنوب أم لا قال الهیثمی وفیه هشام بن لاحق ترک أحمد حدیثه وضعفه ابن حبان وقال الذهبی قواه النسائی ولهذا الحدیث طرق فی مواضعها مجمع الزوائد (۶\۲۶۶)_

[۵]) مسند أحمد (۵\۲۱۴ .۲۱۵) وسنن دارمی (۲\۲۲۷) کتاب الحدود باب الحد کفارة لمن أقیم علیه)_

[۶]) مجمع الزوائد (۶\۲۶۵) قال الهیثمی رواه الطبرانی فی الأوسط وفیه یاسین الزیات وهو متروک) دا خبره دې ښکاره وی.چه حافظ دې حدیث ته د عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما روایت ونیلې دی.حالانکه په مجمع الزوائد کښې ابن عمر دې.دغه شان دفتح الباری مصحح د فتح الباری په حاشیه کښې لیکلی دی چه د ریاض په مخطوطه نسخه کښې ،،ابن عمر،، دې.والله اعلم (فتح الباری (۱\۶۸)_

اووم دليل دحضرت خزيمه بن معمرانصاري رضي الله عنه حديث دي.دوى فرمائي. ((رجمت إمرأة في عهد رسول الله ﷺ فقال الناس حبط عملها، فبلغ ذلك النبي ﷺ فقال هو كفارة ذنوبها وتحشر على ما سوى ذلك))(١)

خوك چه حدودو ته زواجروائى دهغوى دلائل ددې حضراتو اولنى دليل آيت محاربه دى.﴿ إِنَّمَا جَزَٰٓؤُا۟ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓا۟ أَوْ يُصَلَّبُوٓا۟ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ أَوْ يُنفَوْا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ ۚ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْىٌ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ مِن قَبْلِ......﴾(٢)

په دې آيت كښې د دقطع طريق اوډاكې د مختلفوحالاتو په اعتبار سره سزا متعين شوې ده. فقهاؤ ددې ترتيب دا خودلې دې.كه دا خلق صرف د قتل مرتكب شوى وى.نو ددوئ سزا دا ده.﴿أَن يُقَتَّلُوٓا۟﴾ اوكه دوى د قتل سره د مالونو د لوټ كولو هم مرتكب شوى وى.نو د دوى سزا ﴿يُصَلَّبُوٓا۟﴾ ده.چه دوى په سولئ كړې شي.اوكه دوى صرف د مالونو لوټ كړې وى.اود قتل نوبت نه وى راغلې.نو ددوى سزا ﴿تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ﴾ ده.يعنى ددوى لاسونه اوپښې دې د مختلف طرفونو نه كټ كړې شي.اوكه دوى نه قتل كړې وى.اونه د مالونو لوټ كول.خوددې تيارى ئې كړې وى.اوپه دې باندې ئې اقدام كړې وى.نوبت نه د قتل راغلى وى.اونه د مالونو لوټ كولو.نود داسې خلقو سزا ده.﴿أَوْ يُنفَوْا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ ۚ﴾ چه دوى وطن نه اوشړلى شي.(٣)

وړاندې فرمائي. ﴿ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْىٌ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝﴾يعنى دا سزا دوى دپاره د دنيا په اعتبار سره رسوائى ده.اوپه آخرت كښې د دوى دپاره عذاب عظيم دې.

ګورئ دلته دوه ډلې خو هغه دى.خوك چه قتلولې او په سولئ كولى شي. او دوه ډلې هغه دى.كوم چه قتلولې نشى.البته پښې لاسونه ئې كټ كولې شي. او پريخودې شي.اوبله ډله هغه ده.چه د پښو لاسونو كټ كولو نه بغيرد وطن نه اوشړلى شي.په دې طريقه په دوى باندې حد جارى كولې شى.كه چيرته حدود كفارات وې.نو بيا د ﴿وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ۝﴾وعيد ولې بيان شوې دې.دا وعيد په دې خبره دلالت كوى.چه د حد جارى كيدو نه پس ددوى ګناه نه ده معاف شوې.ددې وجې خو ئې فرمائيلى دى ﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُوا۟ مِن قَبْلِ....﴾ يعنى كه دوى توبه اوباسى نود آخرت ګناه به ورته معاف شى

خوپه دې باندې اشكال دا دې.چه د آيت محاربه د نزول په بآره كښې اختلاف دې.چه دا د كفارو مرتدينو په باره كښې نازل شوې دې كه د مطلق ډاكوانو په باره كښې. برابره ده كه

(١)مجمع الزوائد (٦\٢٦٥) وفيه يحيى بن عبدالحميد الحمانى وهو ضعيف قاله الهيثمى)_
(٢) سورة مائدة: ٣٣،٣٤)_
(٣) معارف القرآن (١٢١\٣)_

هغه مومن وی اوکه کافر وی (۱)
دامام بخاری رحمه الله رائي دا ده چه د مرتدينو كفارو په باره كښې دا آيت نازل شوې دې «باب المحاربين من أهل الكفر والإرادة» كښې امام بخارى ددې دپاهر حديث درج كړې دې (۲)
اوكه دا عام اومنلې شي لكه څنګه چه د جمهورو عالمانو رائي ده نو بيا هم دا ونيلې شي چه بيادآيت عموم دحضرت عباده رضي الله عنه وغيره په احاديثو سره مخصوص دې يا دا چه دا حديث بيان او تفسير دآيت دې.
بيا په دې آيت باندې استدلال كولوباندې اشكال دې هغه داسې چه ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن قَبْلِ.....﴾ نه چه دكومې استثناء ذكر شوې دې دهغې تعلق د مرګ دنيوى سزا سره دې څكه چه وړاندې راځى ﴿مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ﴾ يعنى چه كوم كسان ستاسو په قيد كښې د راتلو نه وړاندې توبه اوباسى نودهغوى په باره كښې دا ارشاد دې ﴿فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ (۳)
د دوى توبه به قبوله شي او د جرم سزا به په دوى باندې نشى قائمولې (۴)
بعضې حضراتو د آيت سرقه نه استدلال كړې دې ﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝ فَمَن تَابَ مِن بَعْدِ ظُلْمِهِ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ ۗ﴾ (۵)
په دې آيت كښې د جزاء او نكال دپاره د «قطع أيدى» حكم دې اونكال ونيلې شى داسې سزا ته كومه چه د عبرت دپاره وركولې شي او د كومې نه چه زجر مقصود وى (۶)
معلومه شوه چه په حدودو كښې اصل زجر دې اوددې نه پس د توبة ذكر دې د فائې تعقيبية سره د تائبين ذكرشوې دې ددې نه معلوميږى چه د سزا نه پس دبيا د توبې ضرورت باقى پاتې دې.
دغه شان د حد قذف په سلسله كښې د الله تعالى ارشاد دې ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ۝ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا﴾ (۷)

---

۱) الجامع لأحكام القرآن للقرطبى (۱۶\۱۵۰.۱٤۸) المسألة الأولى (فتح البارى (۱۲\۱۰۹. ۱۱۰) كتاب الحدودمد باب المحاربين من أهل الكفر والردة)_
۲) صحيح بخارى كتاب الحدود باب المحاربين من أهل الكفر والردة رقم (۶۸۰۲)_
۳) سورة مائده: ۳٤)
٤) معارف القرآن (۳\۱۲۲)_
۵) سوره مائده:۳۸. ۳۹)_
۶) النهاية(۵\۱۱۷)
۷) النور: ٤)_

چه په حد قذف كښې چه كله اتيا كوړې لګولې شوى وى اوحدود كفارات دى.نوبيا د ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا﴾ استثناء د څه دپاهر ده.

دغه شان په سورة نساء كښې دى. ﴿وَالَّذَانِ يَأْتِيَانِهَا مِنْكُمْ فَآذُوهُمَا فَإِنْ تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ تَوَّابًا رَحِيمًا﴾ (۱) دلته ايذاء كومه چه د حد قائم مقام ده.هغه موجود شوې دې اود ګناه كفاره شوې ده.نو بيا د ﴿فَإِنْ تَابَا﴾ څه مقصد دې؟

ددې حضرات دريم دليل د حضرت ابواميه المخزومى ﷺ روايت دې.دوى فرمائى.چه رسول الله ﷺ ته مخامخ يوكس راوستې شو.هغه د غلا اقرار كولو.خو هغه سره د غلا څه سامان نه وو ملاؤ شوې.نبى ﷺ ورته اوفرمائيل كيدې شى تا غلا نه وى كړې.هغه كس بيا اقرار اوكړلو.دغه شان درې خله د اقرار كولو نه پس نبى ﷺ د لاس كټ كولوحكم اوكړلو ددې نه پس هغه كس نبى ﷺ ته راوستې شو.نو نبى ﷺ ورته اوفرمائيل.((قل أستغفرالله وأتوب إليه)) هغه كس اووئيل.((أستغفرالله وأتوب إليه)) ددې نه پس نبى ﷺ دعا اوكړله.او وې فرمائيل.((اللهم تب عليه))(۲)

ددې نه معلوميږى.چه د سزا نه پس هم د توبې ضرورت باقى پاتې كيږى.

ددې حضراتو څلورم دليل د بنو مخزوم د ښځې واقعه ده.د كومې سفارش چه حضرت اسامه بن زيد ﷺ كړې وو.نو نبى ﷺ د خفګان اظهاركړې وو.او فرمائيلې ئې وو.په دې حديث كښې حضرت عائشه ﷺ فرمائى.((فحسنت توبتها))(۳) معلومه شوه.چه د حد د جارى كولو نه پس د توبې ضرورت وى.

دغه شان د حضرت ماعز ﷺ په باره كښې نبى ﷺ فرمائيلى وو.((لقد تاب توبة لو قسمت بين

---

(۱) النساء۱۶_

(۲) سنن نسائى (۱۲\۲۵٤) كتاب قطع السارق باب تلقين السارق وسنن أبى داود كتاب الحدود باب فى التلقين فى الحد رقم (٤۳۹۸۰) وسنن ابن ماجه كتاب الحدود باب تلقين السارق رقم (۲۵۹۷) ومسند أحمد (۵\۲۹۳)_

(۳) صحيح بخارى كتاب الشهادات باب شهادة القاذف والسارق والزانى رقم (۲۶٤۸) وكتاب أحاديث الأنبياء باب (بلا ترجمة) رقم (۳٤۷۵) وكتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ باب ذكر أسامة بن زيد ﷺ رقم (۳۷۳۲) وكتاب المغازى باب (بلا ترجمة) رقم (٤۳۰٤) وكتاب الحدود باب إقامة الحدود على الشريف والوضيع رقم (۶۷۸۷) باب كراهية الشفاعة فى الحد إذا رفع إلى السلطان رقم (۶۷۸۸) وكتاب الحدود باب توبة السارق رقم (۶۸۰۰) وصحيح مسلم كتاب الحدود باب قطع السارق الشريف ونحوه وسنن نسائى (۱۲\۲۵۵، ۲۵۶) كتاب قطع السارق باب ما يكون حرزاً وما لا يكون وسنن أبى داؤد كتاب الحدود باب فى الحد يشفع فيه رقم (٤۳۷۳) وسنن ترمذى كتاب الحدود باب ما جآء فى كراهية أن يشفع فى الحدود رقم (۱٤۳۰)_

أمة لوسعتهم» (۱) دې کس داسې توبه اوويستله.که چرته په ټول امت تقسيم کړې شي.نو د ټولو دپاره به کافي شي.دلته کښې نبي ﷺ ددوی د توبې باقاعده ذکر کړې دې.حالانکه په هغه باندې حد جاري شوې وو.که په حد سره ګناه معاف شوې وه.نو بيا د «لقد تاب توبة» ونيلو څه ضرورت وو؟

دحضرت عباده رضی الله عنه وغيره د احاديثونه جوابونه اوس يوسوال دا دې چه د حضرت عباده رضی الله عنه وغيره د احاديثو نه دا معلوميږي.چه حدود کفارات دی.نوآخر د هغې نه به جواب څه وی؟

علامه ابن همام رحمه الله جواب ورکړې دې.چه د حضرت عباده وغيره حديث به په دې حمل کولې شي.چه دغه کس د عقوبت او سزا سره سره توبه هم کړې وه.ځکه چه ظاهری حالت هم دا دې.چه سړی ته کله سزا ورکولې شي.نو په هغه وخت کښې توبه اوباسي.اودا توبه کفاره ګرځي.دا د مسلمان د شان نه لرې خبره ده.چه هغه دې وهلې شي.اودهغه روح دې ووځي اوهغه دې د خپلې ګناه نه توبه نه اوباسي.(۲)

دويم جواب دامام طحاوی رحمه الله د کلام نه ماخوذ دې.چه د بعضې جرمونو دوه سزا ګانې وی. دنيوی او اخروی نو کيدې شي.چه په دنيا کښې د حدودو په قائميدو سره دنياوی سزا خو ختم شي.خو اخروی سزا باقی وی.او د توبې په وجه د هغې ازاله کيږی.(۳)

او دريم جواب بعضې عالمانو دا ورکړې دې.چه په اصل کښې دا سزاګانې د «من باب المصائب» دی.اودا خبره په احاديثو کښې ښکاره راغلې ده.چه مصائب کفاره ده.نوددې جرمونو سزاګانوته چه کفاره ونيلې شوې ده.هغه په دې لحاظ سره ده.چه په مسلمان باندې يو مصيبت راځي.او مصيبت د ګناهونو رژونکې وی.نودا کوږې ددې ګناهونو دپاره کفاره ده. خودا ضروری نه ده.چه د کومې ګناه ده ارتکاب کړې وی.دهغې کفاره شي.(۴) بلکه ممکن ده.چه ددغه ګناه تکفير اوشي.اوداهم ممکن ده چه دځه نورو ګناهونو تکفير اوشي.

خو حافظ رحمه الله فرمائي.چه په حديث کښې «ومن أصاب من ذلك شيأ ثم ستره الله» الفاظ دی.د مصائبوخو دګناهونو د سترسره څه تعلق نشته.نو «ثم ستره الله» به څه معنی وی.(۵)

حضرت کشميری رحمه الله فرمائي.چه بعضې مصائب داسې وی.چه دهغې سترمطلوب وی. لکه قبائحوته شهرت ورکول.نوپه داسې صورت کښې به د «ثم ستره الله» معنی صحيح شي.(۶)

---

(۱) صحيح مسلم كتاب الحدود باب من إعترف على نفسه بالزناء)_
(۲) فتح القدير(۵\۳) كتاب الحدود)_
(۳) شرح مشكل الآثار للطحاوى (۵\۴۲۶) باب بيان مشكل ما روى عن رسول الله ﷺ فيمن أصاب ذنباً فى الدنيا فعوقب به وفيمن أصاب ذنباً فى الدنيا فستره الله عزوجل عليه فى الدنيا وعفا عنه)_
(۴) فيض البارى(۱\۸۸)_
(۵) فتح البارى (۱\۶۸)_
(۶) فيض البارى(۱\۸۸)_

خو وړاندې مونږ دحضرت خزيمه بن ثابت ﷺ حديث ذکر کړې وو په هغې کښې دی.((من أصاب ذنباً أقيم عليه حد ذلك الذنب فهو كفارته))(١)
په دې کښې دحد تصريح موجود ده.نو مصائب مراد اخستل معلومه شوه. چه صحيح نه دی.((كما صرح بذلك العلامة الكشميري رحمه الله))(٢)

دحضرت عباده ﷺ او حضرت ابوهريره ﷺ په روايت کښې تعارض اودهغې ازاله يو سوال دا دې چه د حضرت عباده ﷺ وغيره د رواياتو نه معلوميږی.چه حدود کفارات دی.اود حضرت ابوهريره ﷺ نه يو روايت منقول دې.چه نبی ﷺ فرمائيلی دی.((ما أدرى الحدود كفارات أم لا))دا روايت د حضرت عباده ﷺ د روايت سره معارض دې.

دحضرت ابوهريره ﷺ روايت امام بزار رحمه الله (٣)امام حاکم (٤)اوامام ابن حزم ظاهری موصولاً نقل کړې دې(٥)((عبدالرزاق عن معمر عن ابن أبي ذئب عن سعيد المقبري عن أبي هريرة ﷺ عن النبي ﷺ))
امام بخاری رحمه الله په تاريخ کبير کښې تعليقاً ذکر کړی دی.او فرمائی.((وقال عبدالرزاق عن معمر عن ابن أبي ذئب عن سعيد عن أبي هريرة ﷺ عن النبي ﷺ))(٦)
قصه دا ده.چه دحضرت ابوهريره ﷺ په روايت کښې اختلاف دې.چه دا حديث موصول دې اوکه مرسل..عبدالرزاق دا موصولاً نقل کړې دې.امام دارقطنی رحمه الله فرمائی.چه ددې سند دې.((هشام عن معمر عن ابن أبي ذئب عن الزهري أن رسول الله ﷺ قال :ما أدرى عزير كان نبياً أم لا وتبع لعيناً كان أم لا،والحدود كفارات لأهلها أم لا كما أخرجه البخاري في تاريخه))(٧)
امام بخاری رحمه الله فرمائی.چه د هشام دا روايت اصح دې.او بيا فرمائی.چه دا حديث د نبي ﷺ نه ثابت نه دې.خکه چه بی ﷺ فرمائيلی دی.((الحدود كفارة))(٨)
دارقطنی رحمه الله چه دامام عبدالرزاق د تفرد کومه دعوه کړې ده.په هغې باندې اشکال دا دې.

---

(١) مسند أحمد (٥\٢١٤، ٢١٥) وسنن دارمی (٢\٢٣٧) كتاب الحدود الحد كفارة لمن أقيم عليه)_
(٢) فيض لاباري (١\٨٨)_
(٣) كشف الأستار عن زوائد البزار للهيثمي (٢\٢١٢، ٢١٣) كتاب الحدود باب (بلا ترجمة قبل باب قتل الصبر كفارة لما قبله رقم ١٥٤٢ و١٥٤٣)
(٤) والحاكم في المستدرک (١\٣٦) كتاب الإيمان تبع و ذوالقرنين أكانا نبيين أم لا و(٢\١٤) كتاب البيوع (٢\٤٥٠) كتاب التفسير سورة الدخان)_
(٥) والمحلى (١١\١٢٥) كتاب الحدود هل الحدود كفارة لمن أقيمت عليه أم لا؟)_
(٦) التاريخ الكبير(١\١٥٣) ترجمة محمد بن عبدالرحمن بن أبي ذئب القرشي رقم ٤٥٥)_
(٧) تاريخ كبير (١\١٥٣)_
(٨) المصدر السابق)_

چه آدم بن ابى اياس رحمه الله ددوى متابعت كړې دې امام حاكم رحمه الله د «آدم بن أبي إياس حدثنا ابن أبي ذئب عن المقبري عن أبي هريرة رضي الله عنه» په سند سره هم دا روايت ذكركړې دې اودا ئې «صحيح على شرط الشيخين» ګرځولې دې. حافظ ذهبى رحمه الله هم دوى سره موافقت كړې دې.(۱)

دغه شان حافظ ابن حزم ظاهرى رحمه الله هم ددې حديث تصحيح كړې ده.(۲)

بهرحال كه دا روايت صحيح نه وى بلكه معلول وى لكه څنګه چه د امام بخارى رحمه الله او دارقطنى رحمه الله رائې ده نو بيا ددې جواب آسان دې چه د عبدالرزاق روايت د حضرت عباده رضي الله عنه د روايت سره معارضه نشى كولې.

اوكه دا روايت صحيح اومنلې شى لكه څنګه چه د امام حاكم رحمه الله او ابن حزم رحمه الله وغيره رائې ده نوبيا په دې صورت كښې به د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت د ابوعباده رضي الله عنه د روايت سره معارض وى.

ددې جواب ابن حزم او قاضى عياض رحمهما الله دا وركړې دې چه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت مقدم دې نبى صلى الله عليه وسلم ته اول دا معلومه نه وه چه حدود كفارات دى اوكه نه دى؟ خو ورسته ورته دا اوخودلې شوه چه حود كفارات دى.(۳)

په دې باندې اشكال وارديږى چه دا خلق وائى چه د حضرت عباده رضي الله عنه په روايت كښې چه د كوم بيعت ذكردې هغه بيعة العقبه ده نو دا حديث د هجرت نه وړاندې شو او حضرت ابوهريره رضي الله عنه په اووم كال د هجرت مسلمان شوې وو نودا حديث روستنې دې.

ابن حزم رحمه الله دا جواب وركړې دې چه كيدې شى د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت د مراسيل صحابود زمرې نه وى دوى په خپله د نبى صلى الله عليه وسلم نه نه وى اوريدلې بلكه د داسې صحابى نه ئې اوريدلې وى چا چه د نبى صلى الله عليه وسلم نه د هجرت نه وړاندې اوريدلې وى.(۴)

په دې باندې اشكال كيږى چه د حدودو مشروعيت د هجرت نه پس شوې دې نو بيا د مشروعيت نه وړاندې دنبى صلى الله عليه وسلم دارشاد چه «ما أدري الحدود كفارات أم لا» څه مطلب كيدې شى.

ابن حزم رحمه الله ددې دا جواب وركړې دې چه نبى صلى الله عليه وسلم ته د هجرت نه وړاندې دا خودلې شوې وه چه د بعضې معاصى او جرائمو دپاره به حدود مقرركولې شى. لكه چه په دې حديث كښې نبى صلى الله عليه وسلم ته د وخت نه وړاندې د مشروعيت نه وړاندې د دې د وجود خبر وركړې شوې وو چه حدود به مقرر كيږى خو ماته معلومه نه ده چه دا به كفارات وى اوكه نه!(۵)

---

(۱) مستدرک حاكم (۱۲\۴۵۰) كتاب التفسير .تفسير سورة الدخان)_
(۲) المحلى (۱۱\۱۲۵)_
(۳) فتح البارى (۱\۶۶)_
(۴) المحلى(۱۱\۱۲۵)_
(۵) المصدالسابق)_

خوابن حزم رحمه الله په دې جواب کښې بنکاره تکلف دې.زړه ته په دې باندې اطمينان نه ملاويږي

حافظ ابن حجر رحمه الله د سره دا احتمال رد کړې دې چه دا روايت به د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په مراسيلو کښې وي هغوی فرمائي.چه دوی د سماع تصريح کړې ده نو لکه چه د دوی په نيز حضرت ابوهريره رضي الله عنه دا روايت په خپله د نبي ﷺ نه اوريدلې دې.اود ۷ هجرئ نه پس يعنې د اسلام راوړلو نه پس ئې اوريدلې دې.خو دوی فرمائي چه ددې باوجود د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت مقدم دې.اود حضرت عباده رضي الله عنه حديث ددې نه پس دې.(١)كما سبق تفصيله

خو علامه عيني رحمه الله فرمائي.چه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د سماع تصريح خو اول په دې باندې محمول کيدې شي.چه اول دوی دا حديث د يو صحابي نه اوريدلې وي.او بيا ئې روسته د نبي ﷺ نه هم اوريدلې وي.ددې نه علاوه دا هم ممکن ده.چه د نبي ﷺ نه ئې بيخي هډو اوريدلې نه وي.خو د سماع تصريح ئې په دې وجې کړې وي.چه د صحابي نه اوريدلې شوې خبره قطعي او يقيني وی.«لأن الصحابة کلهم عدول»(٢)

دلته کښې دا خبره قابله د توجه ده.چه حافظ رحمه الله دا فرمائيلی دی.چه حضرت ابوهريره رضي الله عنه د نبي ﷺ نه د اوريدو صراحت کړې دې.حالانکه مونږ سره چه کوم مراجع دی.په هغې کښې په هيڅ يو کښې مونږ ته ددې تصريح نه ده ملاؤ شوې.امام حاکم دا حديث په درې اسانيدو سره نقل کړې دې.امام بزار په دوو سندونو سره نقل کړې دې.ابن حزم دا د عبدبن حميد په واسطه سره ذکر کړې دې.(٣)

دغه شان حافظ ابن کثير رحمه الله دا حديث د ابن عساکر په حواله سره نقل کړې دې.(٤)په دې کښې په يو مقام کښې هم د سماع صراحت موجود نه دې.

بيا حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.چه «وقد أخرجه أحمد عن عبد الرزاق عن معمر»(٥)حالانکه په مسند احمد کښې هم دا روايت نشته.

بيا علامه نورالدين هيثمي رحمه الله په مجمع الزوائد کښې (په کوم کښې چه ئې د مسند احمد احاديث زوائد هم راوړی دی) ددې روايت ذکرکړې کړې دی.او صرف د بزار حواله ئې ورکړې ده.د مسند احمد حواله ئې نه ده ورکړې.(٦)والله سبحانه أعلم وعلمه أتم وأحكم.

---

(١) فتح الباري(١\ج٦٦)_

(٢) عمدة القاري(١\١٥٨)_

(٣) دا ټولې حوالې مونږ وړاندې په تفصيل سره ذکرکړی دی۔

(٤) تفسيرابن کثير(٤\١٤٤) تفسير سورة الدخان)_

(٥) فتح الباري(١\٦٦)_

(٦) مجمع الزوائد(٦\٢٦٥) کتاب الحدود باب هل تکفرالحدود الذنوب أم لا)_

د علامه عيني رحمه الله رجحان دې طرف ته دې چه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث د صحت په هغه معيار باندې نه دې کوم چه د حضرت عباده رضي الله عنه د حديث دې نو په دې دواړو کښې هډو تعارض نشته چه جمعې او تطبيق ته ضرورت پيښ شي.(۱)

حضرت مولانا بدر عالم صاحب ميرټهي رحمه الله فرمائي چه په دواړو کښې په دې طريقه تطبيق ممکن دې چه د حضرت عباده رضي الله عنه په حديث کښې چه کوم «فهو كفارة له» دې دا قطعي حکم نه دې بلکه يو امر مرجو دې او مطلب دا دې که چرته په ده باندې حد جاري شو نو دالله تعالى نه اميد دې چه هغه به ددې کفاره شي د دې تائيد د حضرت علي رضي الله عنه د حديث نه کيږي «من أصاب حدا فعجل عقوبته في الدنيا فالله أعدل من أن يثني على عبده العقوبة في الآخرة ومن أصاب حداً فستره الله عليه وعفا عنه فا الله أكرم من أن يعود إلى شئ قد عفا عنه» (۲) ددې حديث نه معلوميږي چه حدود کفاره کيدل څه يقيني خبره نه ده بلکه چه د الله تعالى عدل ته کتلې شي نو دا اميد کيدې شي چه دوباره به پرې سزا نه وي لکه څنګه چه په دنيا کښې پرې پرده اچوي دغه شان به پرې په آخرت کښې هم پرده واچوي او سزا به ورته ورنکړي بښکاره خبره ده چه په حالت سترکښې هيڅ څوك هم ددې قائل نه دې. چه دده کفاره به شي بلکه اختلاف خود حد جاري کيدو نه پس دې.(۳)

دغه شان دوی فرمائي چه په دې روايت کښې جزاء «فالله أعدل...الخ» ده دغه شان په دې حديث کښې دويمه جزاء «فالله أكرم من أن يعود ...الخ» ده حالانکه د بخاري په روايت او په دې روايت کښې شرط متحد دې لکه چه د «فهو كفارة له» کومه چه په بخاري کښې د اولنی شرط جزاء ده) معنى هغه ده کومه چه د «فالله أعدل من أن يثني على عبده العقوبة في الآخرة» ده دغه شان په دويمه جمله کښې چه کومه مختلفه جزاء ده دهغې مفهوم هم يو مآل طرف ته راجع دې.(۴)

دحدود دکفاره کيدو او نه کيدو په باره کښې دحضرت کشميري رحمه الله قول فيصل حضرت کشميري رحمه الله فرمائي چه د حد جاري کولونه پس درې حالات کيدې شي.

دحد جاري کيد نه پس به يا خو محدود توبه کوي اويا به نه کوي که توبه اونکړي نو دوباره به يا ددې ګناه نه بچ کيږي او يا نه که دې توبه اوباسي نوبيا خو په اتفاق سره دا حد دده دپاره کفاره ده اوکه توبه اونه باسي خو ده ته عبرت حاصل شوې وي او دوباره د داسې ګناه اعاده نه کوي نوبيا هم دا حد کفاره ګرځي اوکه ده توبه هم نه وی کړې اود جرائمو د

---

۱) عمده (۱۵۸/۱)_

۲) سنن ترمذی کتاب الايمان باب ما جاء لا يزنى الزانى وهو مؤمن رقم ۲۶۲۶)_

۳) البدرالساری حاشية فيض الباری (۸۹/۱ و ۹۰)_

۴) المصدرالسابق)_

ارتكاب نه هم نه منع كيږى.نو د داسې كس دپاره حدود كفاره نه جوړيږى.(۱)والله أعلم

قوله وَمَنْ أَصَابَ مِنْ ذَلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَتَرَهُ اللَّهُ فَهُوَ إِلَى اللَّهِ إِنْ شَاءَ عَفَا عَنْهُ وَإِنْ شَاءَ عَاقَبَهُ فَبَايَعْنَاهُ عَلَى ذَلِكَ: اوكه څوك د جرائمو ارتكاب كوى.اوبيا الله تعالى په ده باندې پرده واچوى نو دې الله تعالى ته سپارلې شوې دې كه خوښه ئې شي معاف به ئې كړى.اوكه خوښه ئې شى.نوسزا به وركړى.

امام مازنى رحمه الله فرمائى چه په دې سره د معتزلو او خوارجو دواړو ډلو ترديد كيږى.ځكه چه دا دواړه فريقه وائى.چه مرتكب د كبيره د ايمان نه خارج دې.حالانكه دلته د مرتكب كبيره متعلق نبى ﷺ د معافى امید ساتى.اودې ((تحت المشية)) كښې داخلوى.

دغه شان په دې كښې مرجئه ترديد هم دې.دوى وائى.چه ايمان وى نو گناهونه څه ضرر نه رسوى.حالانكه نبى ﷺ دلته فرمائى.((وإن شاء عاقبه)) الله ته اختيار دې.كه غواړى نو سزا به وركړى.(۲)والله سبحانه وتعالى أعلم وعلمه أتم وأحكم

۱۰ = بَابٌ مِنَ الدِّينِ الْفِرَارُ مِنَ الْفِتَنِ

امام بخارى رحمه الله باب منعقد كړې دې.چه د فتنو نه تيخته دايمان يوه شعبه ده.

د ترجمة الباب مقصد اود ماقبل سره ربط امام بخارى رحمه الله چه تراوسه پورې د كومو امورو ذكر اوكړلو.اوهغه ايجابى او ثبوتى وو.اوس دلته دوى د يو سلبى امر ذكر كوى.چه د دين په شعبو او شاخونو كښې ((فرار من الفتن))هم داخل دې.يعنى دخپل استوگنې ځائې پريخودل او د دين د حفاظت دپاره دشت او غر ته تلل.دا هم د دين يوه شعبه ده.(۳)

دغه شان په ماقبل كښې دا بيان شوې وو.چه انصارو د نبى ﷺ په لاس باندې بيعت اوكړلو.او هغوى ته ئې د څو څيزونو د پريخودو حكم كړې وو.اوس دا وائى .چه صرف په دغه امورو باندې اكتفا نه ده.بلكه په وخت د ضرورت دوطن پريخودل هم په دين كښې داخل دى.اودا عبادت دې.(۴)

وړاندې مونږ څو خله بيان كړې دې.چه د بابونو مقصد د مرجئه ترديد دې. دوى وائى. ((لاتضرمع الإيمان معصية)) چه ايمان وى.نوهيڅ گناه نقصان نه رسوى.نو امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې دا فرمائى.چه د مرجنو دا عقيده څنگه صحيح كيدې شى.ځكه كه د معصيت څه اثر نه وو.نو بيا د فتنو نه دتختيدو څه ضرورت پيښيدلو.حالانكه په حديث

---

(۱) فيض البارى (۱۱\۹۳)_
(۲) فتح البارى(۱۱\۶۸)-
(۳) تقرير بخارى شريف(۱۱\۱۳۰)_
(۴) امداد البارى (۱۴\۴۵۰)_

كښې په صراحت سره ذكر دى چه د فتنو نه تختيدل اوداسې ځاى ته تلل هم په دين كښې مطلوب دى په كوم ځاى باندې چه فتنې اثر انداز نه وى.

دلته امام بخارى «من الايمان» يا «من الإسلام» نه دى فرمائيلى بلكه «من الدين» ئې فرمائيلى دى ددې وجه دا ده چه د امام رحمه الله په نيز دين، ايمان او اسلام كښې ترادف دې قال الله تعالى: ﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللهِ الْإِسْلَامُ﴾ (١) نو كوم څيز چه په دين كښې داخل وى هغه به په ايمان او اسلام كښې داخل وى.(٢) په ترجمه كښې ئې د «من الايمان» يا «من الإسلام» په ځائې «من الدين» لفظ دحديث پاك په اتباع كښې فرمائيلې دې.(٣)

[٨] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي صَعْصَعَةَ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (٤) أَنَّهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنْ الْفِتَنِ [(٣٣٠٠، ٣٤٠٥، ٦١٣٠) ٦٦٧٧ وانظر: ٥٨٣]

رجال الحديث

① عبدالله بن مسلمه: دا عبدالله بن مسلم بن قعنب قعنبى حارثى بصرى رحمه الله دې. ددوى كنيت ابوعبدالرحمن دې. دامام مالك، ليث بن سعد، مخرمه بن بكير، ابن ابى ذئب رحمه الله نه روايت كوى.

ددوى په توثيق او جلالت شان باندې اتفاق دې. د موطاء په راويانو كښې يو راوى دې ابن المدينى او يحى بن معين رحمه الله د موطاد روايت په سلسله كښې په دوى باندې څوك مقدم كړى نه دى. مستجاب الدعوات وو. امام مالك رحمه الله ته اوخودلې شو. چه عبدالله بن مسلمه راغلو، نوامام مالك رحمه الله اوفرمائيل. «قوموا بنا إلى خير أهل الأرض»

امام بخارى او امام مسلم رحمهما الله د دوى نه ډير احاديث نقل كړى دى. په ٢٢١هـ كښې په

---

(١) آل عمران:٩١)_

(٢) فتح البارى(١\٦٩)_

(٣) المصدر السابق)_

(٤) الحديث أخرجه البخارى فى مواضع اخرى وانظر كتاب بدء الخلق باب خيرمال المسلم غنم يتبع بها شعف الجبال رقم ٣٣٠٠ وكتاب المناقب باب علامات النبوة فى الإسلام رقم ٣٦٠٠ وكتاب الرقاق باب العزلة راحة من خلاط السوء رقم ٦٤٩٥) وكتاب الفتن باب التعرب فى الفتنة رقم ٧٠٨٨ وأخرجه النسائى فى كتاب الإيمان وشرائعه باب الفرار بالدين من الفتن (٢\٢٧٢) وأبوداود فى كتاب الفتن والملاحم باب ما يرخص فيه من البداوة فى الفتنه (٤٢٦٧) وابن ماجه فى كتاب الفتن باب العزلة رقم ٣٩٨٠)_

مکه مکرمه کښې وفات شوې وو.(۱) رحمه الله رحمة واسعة

۲ مالك: دوى امام دارالهجرة عالم المدينه امام مالك بن انس بن مالك بن ابى عامربن عمروالاصبحى المدنى دې کنیت ئې ابوعبدالله دی.
اهل السنة والجماعة په څلورو امامانومتبوعينوکښې يوامام دې.اوداما م شافعى اوامام محمد رحمهما الله استاذ دې.
ددوى ولادت په مدينه کښې په ۹۳ھ کښې شوې و.او هم هلته په ۱۷۹ھ کښې د دوى وفات شوې وو.په دين کښې د لويو متصبينو او حاکمانو نه لرې اوسيدل. هارون الرشيد دوى نه دحديث اوريدو دپاره دوى راوبلل.نو دوى ورته اوفرمائيل .«العلم يؤتى» چه علم ته خلق راځى. علم خلقو ته نه ورځى.هارون الرشيد دوى ته ورغلل.او ديوال سره ئې ډډه اولګوله امام مالك رحمه الله اوفرمائيل.«يا أميرالمومنين من إجلال رسول الله إجلال العلم» يعنى اې اميرالمومنين ! د رسول الله احترام دا دې.چه دحديث احترام اوکړې شى.نو هارون الرشيد دوى ته په ادب باندې کيناستلو.بيا ورته دوى حديث واوروِلو.
ددوى مناقب بيشماره دى.مختلفو حضراتو دوى باندې مستقل کتابونه ليکلى دى.علامه سيوطى رحمه الله پرې «تزيين الممالك بمناقب الإمام مالك» ليکلې دې.حافظ ابن عبدالبر په «الانتقاء»کښې ددوى تفصيل ذکر ليکلې دې.(۲)

۳ عبدالرحمن بن عبدالله: دوى عبدالرحمن بن عبدالله بن عبدالرحمن بن الحارث بن ابى صعصعه دې.(۳)
دوى به د خپل والد عبدالله بن عبدالرحمن بن ابى صعصعه .عطاءبن يسار .عمروبن عبدالعزيز.او امام زهرى رحمهم الله نه روايت کولو.
او دوى نه سفيان بن عيينه. عبدالعزيز بن عبدالله بن ابى سلمه الماجشون . امام مالك. يحى بن سعيد انصارى رحمهم الله وغيره د حديث روايت کړې دې.(۴)
امام ابوحاتم او امام نسائى رحمهما الله دوى ته ثقه وئيلى دى.ابن ابن حبان رحمه الله هم دې په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې.(۵)
تنبيه سفيان بن عيينه رحمه الله ددوى نوم د عبدالرحمن په ځاې عبدالله بن عبدالرحمن بن ابى

---

(۱) عمدة القارى (۱۶۱\۱) وتقريب التهذيب (ص.۳۲۳) رقم الترجمة (۳۶۲۰)_
(۲) تقريب التهذيب (۵۱۶رقم ۶۴۲۵ والأعلام للزرقانى (۲۵۸\۵)_
(۳) فتح البارى(۶۹\۱)_
(۴) تهذيب الكمال(۱۷\ ۲۱۶)_
(۵) تهذيب الكمال (۱۷\۲۱۷)_

صعصعه خودلې دي.(۱)ابن المدینی رحمه الله فرمائی چه دا د دوی وهم دې.(۲)امام دارقطنی رحمه الله فرمائی ددوی د نوم په باره کښې دامام مالک رحمه الله نه څه اختلاف منقول نه دې.(۳)
خوابن حبان رحمه الله په کتاب الثقات کښې فرمائی چه ((وخالفهم مالك فقال: عبدالله بن عبدالرحمن بن أبي صعصعة))(۴)والله أعلم.
په ۱۳۹هـ کښې دخلیفه ابوجعفر المنصور په دور خلافت کښې دوی وفات شوی دی.(۵)
رحمه الله رحمة واسعة.
⑤د ذکرشوی راوی والد دوی عبدالله بن عبدالرحمن بن الحارث بن آبی صعصعه دی.
امام نسائی اوابن حبان ددوی توثیق کړې دې.ددوی قر نیکه په جاهلیت کښې قتل شوې وو.اوددوی نیکه حارث په غزوه احد کښې شریك شوې وو.اوپه جنګ یمامه کښې دحضرت خالد رضی الله عنه په سرکردګئ کښې جنګیدلو تردې چه شهیدشو.(۶)
ابوسعیدالخدری رضی الله عنه مشهور صحابی دې.ددوی نوم او نسب دا دې سعدبن مالك بن سنان بن عبید بن ثعلبه بن عبید بن الابجر انصاری خزرجی .ددوی په نیکونوکښې چه ابجردې.نو دهغوی نوم خدرة وو.دوی هغه طرف ته منسوب دی.
دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه پلار حضرت مالك بن سنان رضی الله عنه په غزوه احد کښې شهید شوې و، .پخپله دوی هم په دې غزا کښې د شرکت دپاره تلې و.خود کم عمرئ په وجه واپس شوې وو.ددې نه پس دوی تقریباً په دولس غزاګانوکښې د نبی صلی الله علیه وسلم سره شرکت کړې وو.
حضرت ابوسیعد خدری رضی الله عنه د څلورخلفاؤ او دخپل پلار نه حدیث اوریدلی وو .اوددوی نه چه چا روایت کړې دې.په هغوی کښې د حضرت ابن عمراو حضرت ابن عباس رضی الله عنهم نه علاوه دتابعینو رحمهم الله یو لوئې شمارهم شامل دې.
دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه ټول یوولس سوه اویا احادیث نقل دی.په دې کښې شپږ څلویښت احادیث متفق علیه دی.اوامام بخاری رحمه الله په شپاړس احادیثوکښې متفرد دې. اوامام مسلم په دوه پنځوس احادیثوکښې متنفرد دې.
دحضرت ابوسعیدخدری رضی الله عنه شمارپه فقهاؤ او فضلاؤ صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې کیږی.حنظله بن ابی سفیان جمحی دخپلو استاذانو نه نقل کوی.چه په کم عمر صحابو کښې دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه زیات افقه او اعلم بل څوك نه وو.

---

(۱) عمدة القاری(۱۶۱\۱)_
(۲) المصدرالسابق)_
(۳) عمدة القاری(۱۶۱\۱)_
(۴) کتاب الثقات(۶٤\۷)_
(۵) تهذیب الکمال (۲۱۷\۱۷) وعمدة القاری(۱۶۱\۱)_
(۶) عمدة (۱۶۱\۱)_

ډېرې مناقب او فضائل يې شميره دي په ۶۴هـ يا ۷۴هـ کښې د جمعې په ورځ په مدينه منوره کښې دوی وفات شوی وو او په بقيع کښې ښخ شوی وو.()

قوله قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ أَنْ يَكُونَ خَيْرَ مَالِ الْمُسْلِمِ غَنَمٌ يَتْبَعُ بِهَا شَعَفَ الْجِبَالِ وَمَوَاقِعَ الْقَطْرِ يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنَ الْفِتَنِ: رسول الله ﷺ فرمائيلی دی هغه زمانه نزدې ده چه د مسلمان غوره مال به چيلئ وی. هغه به ورسره وی اود غرونو په درو اود باران په ځايونو کښې به دې خپل دين د فتنو نه بچ کوی اوتختی به.

دلته «خيرمال المسلم» منصوب دې کوم چه د «يكون» خبر واقع شوې دې. او «غنم...» اسم دې ددې وجې مرفوع دې د اصيلى په نسخه کښې ددې عکس دې. يعنی «خير» د اسم په وجه مرفوع دې او «غنماً» منصوب دې ځکه چه د «يكون» دپاره خبر واقع شوې دې.

ابن مالك فرمائي چه دلته «خير» او «غنم» دواړه مبتدا او خبر دی او مرفوع هم وئيلی شی په دې صورت کښې به د «يكون» ضمير ضميرشان وی.

حافظ رحمه الله فرمائي چه دا نحوی توجيه خو کيدې شی خوداسې روايت منقول نه دی.()

شعف: دا د شعفة جمع ده ددې معنی د غر سوکه ده.()

قوله مواقع القطر: يعنی هغه مقامات په کومو چه باران زيات کيږی لکه خوړونه ميدانانونه او ځنګلونه وغيره.

دلته د «غنم» ذکر ددې وجې نه دې شوې چه په دې باندې انحصار مقصود دې چه مختصر غوندې سامان واخلی اولاړ شی.()

دغنم دتخصيص وجه دچيلئ تخصيص ددې وجې شوې دې چه چيلئ يو داسې خناور دې چه «سهل الإنقياد» وی په دې کښې عاجزی وی چه دې سره تعلق ساتی. په ده کښې به عاجزی پيدا کيږی. اوچيلئ په بوتلوکښې هم سپکه ده اوانسان که دا اوچته کړی نو غرته لاړ شی اوخلوت نشينی اختيارولې شی بيا په چيلئ کښې خصوصی خبره دا ده چه دا «كثيرالمنفعة» ده او «قليل المؤنة» ده که دې دپاره ته د دانې او ګياه انتظام اونکړې شی نو هم دا اخواه ديخواه ګرځی او ګذاره کوی بيا ددې پئ د غذا او د مشروب دواړه کار

() تهذيب الأسماء واللغات (۲\۲۳۷) وعمدة القارى(۱\۱۶۱)_
() المصدرالسابق)_
() المصدرالسابق)_
() درس بخارى (۱\۱۸۱)_

ورکوي اوددې ويخته په جامو کښې په کارراخي ددې نه علاوه د چيلي نسل هم زيات
وي.دغذا دپاره ديوې چيلي ذبح كول هم آسان دی په خلاف د اوښ .خکه چه په دې کښې
آساني نشته.()

قوله يَفِرُّ بِدِينِهِ مِنْ الْفِتَنِ: «بدينه» کښې «باء» سببيه ده او «من الفتن» کښې «من»
ابتدائيه دي.()او مطلب دا دې چه کوم کس د دين د حفاظت دپاره اوتختي
امام نووي رحمه الله فرماني چه په دې حديث باندې دترجمة الباب دپاره استدلال محل د
نظردې خکه چه د حديث نه دا نه لازميږی چه فرار په دين کښې شامل دې بلکه دا ثابتيږی.
چه فرار د صيانة للدين دپاره دې.()
بعضي عالمانو جواب ورکړې دې چه دلته دا اشکال په هغه وخت کښې کيدې شي چه په
ترجمه کښې «من الدين الفرار من الفتن» کښې «من» تبعيضيه يا جنسيه اومنلې شي اوکه
«من» ابتدائيه اومنلې شي.نو بيا په روايت او ترجمه کښې مطابقت شته خکه چه ددې
معنی به دا وی.«الفرار من الفتن منشؤه الدين»()اوپه حديث کښې هم دا ذکر دی.«يفر بدينه
من الفتن أي بسبب دينه»
حضرت مولانا سيد فخرالدين رحمه الله فرماني.چه د امام بخاری رحمه الله د ذوق مطابق چه دا د
تبعيض دپاره اوګڼلې شي.نودا مناسب دی.اوداسې به ونيلي شي. چه دين د دوو څيزونو نه
عبارت دې.يو حقيقت ايمانيه يعني تصديق قلبی او بل اعمال .د فتنو اثر براه راست په
تصديق باندې نه پريوخی.بلکه دا اثر د اعمالو د پريخود په صورت کښې ښکاره کيږی.د
دې وجې په «يفر بدينه» کښې د دين نه مراد اعمال دی. نومعلومه شوه.چه د اعمالو حفاظت
د دين اهمه شعبه ده.اوس حاصل د ترجمة دا شو. چه «من شعب الدين: الفرار لأجل الدين من
الفتن» يعنی «لا يكون ذلك الفرار لغرض من أغراض الدنيا بل يكون متمحضاً لأجل حفظ الدين وهو عبارة
عن مجموع الأعمال الوجودية والسلبية والأفعال والتروك والفرار من التروك» والله أعلم.

د فتنه نه څه مراد دی؟ دا خبره ياد ساتل پکار دی.چه د «فتن» نه مراد په عرف د
شريعت کښې دادې.چه د ديني امورو مخالفت عام شي اود دين حفاظت ګران شي.
اوددې اسباب او ذرائع مفقود شي.نو کمزورو ته اجازت دې چه هغوی د دين د

() امداد البارى(٤\٤٥٢)_
() فتح البارى(١\٦٩)_
() المصدر السابق)_
() فتح البارى(١\٦٩، ٧٠)_

حفاظت دپاره اوتختی.(١)

د فتنو د زمانې سره متعلق ارشادات نبوی د فتنو په باره کښې د رسول الله ﷺ ډير ارشادات دی نبی ﷺ فرمائیلی دی.

((بادروا بالأعمال فتناً كقطع الليل المظلم يصبح الرجل مؤمناً ويمسى كافراً أويمسى مؤمناً ويصبح كافراً يبيع دينه بعرض من الدنيا))(٢)يعنی داسې فتنې راتلونکې دی.چه هغه به د تورې شپې د حصو پشان وی هم په يوه ورځ کښې به داسې انقلاب راشی.چه د صبا په وخت کښې به يو سړی مومن وی او د ماښام به هغه كافر وی.يا دماښام به مومن وی.اود صبا به كافر شی.د دنيا د معمولی څيز دپاره به خپل دين خرڅوی.د داسې فتنو د راتلو نه وړاندې نيك اعمال كوئ.

په يو روايت کښې دی.**((إن بين يدى الساعة فتناً كقطع الليل المظلم ،يصبح الرجل فيها مؤمناً ويمسى كافراً ويمسى مؤمناً ويصبح كافراً القاعد فيها خير من القائم ،الماشي فيها خير من الساعي فكسروا قسيكم، وقطعوا أوتاركم، واضربوا سيوفكم بالحجارة فإن دخل يعني-على أحد منكم فليكن كخيرابني آدم))**(٣)

يعنی د قيامت نه وړاندې به د تورې شپې د حصو پشان فتنې راشی.سړی به د صبا په وخت کښې مومن وی.اودماښام به كافر وی.اود ماښام به مومن وی اود صبا په وخت کښې به كافر وی.په داسې موقع کښې به ناست د ولاړ په مقابله کښې ښه وی.او روان به منډه وهونکی په مقابله کښې غوره وی.نوتاسو په داسې موقع باندې خپلې ليندې ماتې كړئ.اوخپلې تورې په ګټو اووهئ.(يعنی خپلې تورې ګټوته راپريږدئ چه د استعمال قابلې پاتې نشی) اوكه په تاسوكښې په يوكس باندې فتنه راشی.نو د حضرت آدم ﷺ په دوو ځامنوكښې د هابيل كردار ادا كړئ.

دغه شان ګله چه د نبی ﷺ نه تپوس اوشوچه په داسې موقع به مونږ څه كوو؟ نو نبی ﷺ ورته اوفرمائيل.**((كونوا أحلاس بيوتكم))**(٤)په خپلو كورنوكښې د ټاټ پشان پراته اوسئ.

په يوروايت کښې دی.چه نبی ﷺ فرمائيلی دی.چه داسې زمانه راتلونکې ده. چه په هغې کښې خپل دين باندې په استقامت سره صبر كونكي به داسې وی.لكه چه ده سكروټكه نيولې وی.(٥) په يو روايت کښې نبی ﷺ فرمائيلی دی.يوه زمانه به داسې راشی.چه كوم كس په دين باندې عمل كوی.نو هغه ته به د پنځوس كسانو برابر اجر ملاويږی.(٦)

---

(١) درس بخاری از شيخ الاسالم علامه عثمانی رحمه الله (١\١٨١)_
(٢) صحيح مسلم (١\٧٥) كتاب الإيمان باب الحث على المبادرة بالأعمال قبل تظاهر الفتن)_
(٣) سنن أبی داود كتاب الفتن باب فی النهی عن السعی فی الفتنة رقم ٤٢٥٩)_
(٤) سنن أبی داود كتاب الفتن باب فی النهی عن السعی فی الفتنة رقم ٤٢٦٢ .١٢٩)
(٥) سنن ترمذی كتاب الفتن باب (٧٣ رقم ٢٢٦٠. ١٣٠)
(٦) وسنن أبی داود كتاب الملاحم باب الأمر والنهی رقم ٤٣٤١ وجامع الترمذی كتاب التفسير باب ومن سورة المائدة رقم ٣٠٥٨ وسنن ابن ماجه كتاب الفتن باب قول تعالى ((ياايها الذين آمنوا عليكم أنفسكم)) رقم ٤٠٤١)

دلته په حديث باب كښې هم د داسې فتنو د مواقع ذكر دې چه په داسې مواقعو كښې سړى نه پكار دى چه دخپل دين د حفاظت دپاره د غر سوكو ته لاړ شى.اود باران د وريدو ځايونوته لاړ شى اوهلته په سادګۍ سره ګذاره كوى او د خپل دين حفاظت كوى.

تنبيه دا خبره ضرور په ذهن كښې كينوئ چه دلته د رهبانيت تعليم نشى وركولي .ځكه چه دا رهبانيت خو يو بدعت وو.كوم چه نصاراؤ پخپله ايجاد كړې وو.خو بيا ئې د هغې صحيح حق ادا نكړلو. اوهغه ئې پوره نكړې شو.

رهبانيت په حقيقت كښې د حضرات انبياء عليهم السلام د اسوه حسنه نه خلاف دې. پيغمبرانو عليهم السلام به په آبادوكښې ژوند تيرول.اوپه آبادوكښې به اوسيدل.اودخلقو د اصلاح كوشش به ئې كول.هغوى نه دځنګل لار اختيار كړې وه .اونه ئې د غر سوكه خپل د استوګنې ځائې جوړ كړې وو.

بيا دا رهباينيت د تخليق عالم د حكمت سره هم منافى دې.الله تعالى چه انسان پيدا كړې دې. نودې ئې د تجرد ژوند تيرولو اود مخلوق خدا نه د جدا اوسيدو دپاره نه دې پيدا كړې. ځكه چه په دې كښې د نسل انقطاع ده.اونظام عالم درهم برهم كول دى.نو رهبانيت كوم چه نصارى د بدعت په صورت كښې ايجاد كړې وو.د اسلام په نيز خوښ نه دې.دلته چه څه ذكر كولې شى.نو دا وختى او د هنګامى صورت په مناسبت سره دى.كه حالات داسې راشى.چه سړې په آبادۍ كښې دخپل دين حفاظت نشى كولې.نو بيا ده ته دعذر او مجبورۍ په وجه اجازت وركړې شوې دې.چه هغه د دين د حفاظت دپاره «شعف الجبال» يا «مواقع القطر»طرف ته لاړ شى.

عزلت اوخلوت غوره دې؟ اوكه اختلاط او جلوت؟ ددې نه پس پوهه شئ چه په حديث باب كښې په دې خبره استدلال شوې دې. چه عزلت او خلوت نشنى د جلوت او اختلاط نه غوره اوبهتره ده.

كه فتنې واقع كيږى.اويوسړې د فتنو په لرې كولو قادر نه وى.نو دده په ذمه د حالاتو په مناسبت سره د فتنو مغلوبه كول او لرې كول فرض عين يا فرض كفايه ده.اوكه سړې د هغې په مغلوبه كولوباندې قادر نه وى.نودهغه دپاره تنهائى او ځانلوالې اختيارول غوره او افضل دى.(¹)

اوكه د فتنو زمانه نه وى.نو بيا غوره څه دى؟ په دې كښې اختلاف دې.

امام شافعى اود نورو عالمانو ﷺ دا رائې ده.چه اختلاط غوره دې.ددې وجه دا ده.چه په دې طريقه به د مسلمانانو جمع ډيره وى.او د ډيرو فوائدو د حاصلولوموقع به ورته ملاؤ شى او ډيرداسې د نيكۍ كارونه دى.كوم چه په تنهائې او ځانلوالى كښې ګران وى.(²)

---

¹) عمدة القارى(۱۶۳/۱)_

²) المصدر السابق)_

دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل دی «المؤمن الذی یخالط الناس ویصبر علی أذاهم أعظم أجرا من المؤمن الذی لا یخالط الناس ولا یصبر علی آذاهم» (۱) یعنی چه په خلقو کښې اوسیدل او دهغوی تکلیف زغمل او دهغوی اصلاح کول. دا غوره دی ددې خبرې نه چه انسان تنهائی اختیار کړی. دویمه وجه په دې ده چه عزلت او خانلوالې غوره دې خکه چه انسان خانله والې اختیار کړی نوددې په وجه دې د ډیرو ګناهونو نه نجات بیا مومی د غلط نظرنه بچ شی. د غیبت. الزام . اوغلطوخبرو کولونه ورته حفاظت ملاؤ شی. دغه شان د ګناه په مجلسونوکښې شرکت او ددې د زیاتولود ګناه نه بچ کیږی یعنی د ګناهګارانو د ډلې د زیادت سبب نه ګرځی.(۲)

علامه نووی رحمه الله فرمائی.«والمختار تفضیل الخلطة لمن لایغلب علی ظنه الوقوع فی المعاصی» (۳) یعنی چه په خپل دین کښې ورته دنقصان ویره نه وی. نو اختلاط غوره او افضل دې.

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.«والمختار فی عهدنا تفضیل الإنعزال لندور خلو المحافل عن المعاصی» (۴) یعنی زمونږ په زمانه کښې عزلت اوخانلوالې غوره اوافضل دې. خکه چه عام مجالس ډیر شاذ او نادر د ګناهونو او معاصی نه خالی وی.

علامه عینی رحمه الله فرمائی.«أنا موافق له فیما قال فإن الإختلاط مع الناس فی هذا الزمان لا یجلب إلا الشرور» (۵) والله أعلم وعلمه أتم وأحکم.

۱۱ = بَاب قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَعْلَمُكُمْ بِاللّٰهِ وَأَنَّ الْمَعْرِفَةَ فِعْلُ الْقَلْبِ لِقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى: وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ (۶)

دعامو شارحینو رائې دا ده چه دلته دوه ترجمې دی. یوه «أنا أعلمکم بالله» او دویمه «أن المعرفة فعل القلب» او آیت مبارکه د دویمې ترجمې دلیل دې. د اولنۍ ترجمې مطلب دا دې چه زه په تاسو کښې د ټولو نه زیات عالم یم په الله تعالی باندې. اوپه دویمه ترمه کښې خودلې شوی دی چه معرفت د زړه فعل دې.

---

(۱) سنن ابن ماجه کتاب الفتن باب الصبر علی البلاء رقم ۴۰۴۳ وجامع الترمذی کتاب صفة القیامة باب ۵۵ رقم (۲۵۰۷)_
(۲) عمدة القاری(۱\۱۶۳)_
(۳) فتح الباری(۱۳\۴۳) کتاب الفتن باب التعرب فی الفتنة)_
(۴) شرح کرمانی (۱\۱۱۱)_
(۵) عمدة القاری (۱\۱۶۳)_
(۶) البقرة:۲۲۵)_

دلته دا اشكال دې چه دا ترجمه په كتاب الايمان كښې ولې راغله؟دلته خو د علم او معرفت ذكر دې اودا په كتاب العلم كښې ذكركول پكار وو
ددې جواب وركړې شوې د.چه په اصل كښې امام بخارى رحمه الله دا دلته ددې دپاره ذكر كړې دې چه دوى په اوله ترجمه كښې د مرجئو رد كوى اوپه دويمه ترجمه كښې د كراميه.هغه په دې طريقه چه «أعلم» صيغه د اسم تفضيل ده.ددې نه ثابته شوه چه د علم مختلف درجې دى.او علم بالله ته ايمان وائى.اوهركله چه د علم مختلفې درجې دى نو معلومه شوه.چه د ايمان به هم مختلفې درجې وى.اود ايمان مختلفې درجې به ددې وجې وى چه د اعمالو په وجه به فرق رځى.چه د چا اعمال زيات وى نودهغه ايمان به هم زيات وى اوچه د چا اعمال كم وى.د هغه ايمان به هم كم وى.نو د مرجيه رد اوشو ځكه چه دوى وائى چه د اعمالو د ايمان سره څه تعلق نشته.ددې ځائې نه معلوميږى.چه د اعمالو په كمى زياتى سره په ايمان كښې هم كمې زياتې راځى.نو اوس دا ترجمه د كتاب الايمان سره مناسب شوه.
بيا «وأن المعرفة فعل القلب» په دې سره د كراميه رد كوى.ځكه چه د هغوى وينا ده.چه په ژبه باندې «لاإله إلا الله» وئيل كافى دى.امام بخارى رحمه الله فرمائى چه «لاإله إلا الله» په ژبې سره وئيل كافى نه دى.ځكه چه ايمان د معرفت نوم دې.او معرفت د زړه فعل دې.نو د زړه تصديق ضرورى شو.دا د عامو شارحينو خبره وه.كومه چه بيان شوه.(١)
ددې نه پس په دې پوهه شئ:چه په اصل كښې دلته يو بيان د علم دې.اوبل بيان د معرفت دې.علم او معرفت متقارب دى.اګرچه په دواړو كښې لفظاً او معنى فرق شته.خو يو دبل په ځائې استعماليدې شى.
په دواړو كښې لفظى فرق دا دې.چه د «علم» دوه معفوله وى.«علمت زيداً فاضلاً» اود معرفت يو مفعول وى.«عرفت زيداً»
په دې دواړو كښې معنوى فرق دا دې.چه معرفت دې ته وائى.چه په قوت حافظه كښې څه صفت يا څه صورت محفوظ وى.كله چه ذى صفت يا ذى صورت مخامخ راشى.نوهغه صورت په ذى صورت باندې منطبق شى.دې انطباق ته معرفت وائى.اهل كتابوته د نبى ﷺ د صفاتود سابقه كتابونو په ذريعه علم وو.كله چه نبى ﷺ تشريف راوړلو.نو هغوى دغه صفات په نبى ﷺ باندې منطبق بيا موندل.نو هغوى ته د نبى ﷺ معرفت حاصل وو.«كما قال تعالى: ﴿يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءَهُمْ﴾ (٢)دغه شان د يهودو تقبيح او تشنيع كوى.اوقرآن پاك فرمائى ﴿فَلَمَّا جَاءَهُمْ مَّا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهِ﴾(٣)

---

١) فضل البارى(١١\٣٦٨)_
٢) سورة البقرة:١٤٦)_
٣) سورة البقرة:٨٩)_

دوی ته د رسول الله ﷺ د صفاتو علم وو.اوكله چه محمد ﷺ تشريف راوړلو .نو دوی دغه صفات په نبی ﷺ باندې منطبق اوليدل.خودې بدبختو ددې باوجود كفر اوكړلو.

بهرحال د علم تعلق د ((ثبوت الصفة للذات)) سره وی.نوا په منزله د تصديق شو.((علمت زيدا فاضلاً))زيد خو د وړاندې نه معلوم وو.اود زيد دپاره د فاضل د صفت ثبوت معلوم شو.دلته په علم كښې د صفت ثبوت د ذات دپاره اوشو.اوهم دا په تصديق كښې كيږی.چه هلته د محمول دموضوع دپاره ثبوت معلوم وی.اود موضوع او محمول په مينځ كښې د نسبت علم حاصل وی.حالانكه په معرفت كښې صرف د ذات علم وی.نو هغه په منزله د تصور دې خكه چه په دې كښې ((عرفت زيداً)) كله اوونيلى شی.نو زيد چه يوكس دې دهغه معرفت حاصل وی. اوبنكاره خبره ده.چه د يوكس صرف معرفت تصور دې.(۱)

دلته امام بخاری رحمه الله خو اول دا نقل كړی وو.چه ((أنا أعلمكم بالله)) مطلب دا وو.چه ((أعلم)) صيغه د اسم تفضيل ده.او ((علم))ايمان دې.اوهركله چه په علم كښې درجات مختلف دی.نو په ايمان كښې به هم درجات مختلف وی.اودايمان په درجاتو كښې اختلاف په اعمالوكښې د تفاوت په وجه دې.نوپه ايمان كښې به زيادت اونقصان راخی.اودا هم ثابته شوه.چه اعمال د ايمان جزء دې.او قابل دپاره د زيادت او نقصان هم دې.

خوپه دې باندې اعتراض كيږی.چه چا ونيلی دی.چه علم ايمان دې.ددې اعتراض د لرې كولودپاره امام بخاری رحمه الله اوفرمائيل.((وأن المعرفة فعل القلب)) علم اختياری هم وی او غير اختياری هم.اود ايمان دپاره معرفت بالقلب ضروری دې.يعنی هغه معرفت بالقلب كوم چه اختياری وی.او دلته د علم نه هم دغه مراد دې.نو هركله چه د علم نه هم معرفت بالقلب اختياری مراد دې.نوبيا دې ته ايمان ونيلوكښې څه قباحت نشته.نو مونږ دا ونيلی شو.چه علم يعنی معرفت بالقلب اختياری كښې چونكه درجات متفاوت وی.اوهغه ايمان دې.نود ايمان درجات به هم متفاوت وی.او هركله چه د ايمان درجات متفاوت وی.نوددې وجه به هم دا وی.چه په اعمالو كښې تفاوت وی.نو معلومه شوه.چه اعمال په ايمان كښې داخل شو.بلكه د امام بخاری رحمه الله د قول مطابق اعمال د ايمان جزء دې.يا د احنافو د موقف مطابق به داسې ونيلی شی.چه اعمال دايمان اثر او ددې فرع ده.د ايمان سره ددې زور تعلق دې.او داعمالو د كمی زياتی په وجه په ايمان كښې د كمی زياتی حكم لګولې شی.

قوله لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ﴾: دلته دعوی ده.((أن المعرفة فعل القلب)) او دليل دا دې. ﴿وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ﴾ دا آيت د ايمان (قسم) سره متعلق دې ﴿لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا كَسَبَتْ قُلُوبُكُمْ﴾(۲) او پورته د ايمان

---

(۱) فضل البارى(۱\۳۶۷)_

(۲) سورة البقرة:۲۲۵)_

خبره روانه وه.په دواړو کښې مطابقت نشته

حضرت شاه ﷫ فرمائی.چه په اصل کښې په دې آیت سره امام بخاری ﷫ «أن المعرفة فعل القلب»دا دعوی نه ثابتوی.بلکه ددې آیت نه صرف دا ثابتول غواړی.چه د «کسبت»اضافت «قلوبکم»ته شوې دې.اوهرکله چ د «کسبت» نسبت «قلوب»ته شوې دې.نو معلومه شوه.چه کسب د قلب کاردې.او کسب یو فعل دې.نوگویا چه د قلب دپاره فعل ثابت شو.او هرکله چه د قلب دپاره فعل ثابت شو.نو بیا که معرفت د قلب فعل ثابت کړې شی.دا څه عجیبه خبره نه ده.(۱)

حافظ ابن حجر﷫ فرمائی.چه امام بخاری ﷫ غالباً د مشهور تابعی زید بن اسلم ﷫ تفسیر طرف ته اشاره کوی.هغوی فرمائی.چه ﴿لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيٓ أَيْمَانِكُمْ﴾ مطلب دا دې.چه که یو کس دا اوائی ﷺ «إن فعلت كذا فأنا كافر» نوکه ده دا جمله هم دغه شان اووئیله.څه نیت ئې نه وو کړې.او بیا ئې هغه کار اوکړلو.نو په دې باندې په هغه مواخذه نشته.او که په زړه کښې ئې د کافر کیدو اراده او نیت هم وو.او دده عقیده وه.چه په داسې کولوسره انسان کافر کیږی .نو په دې صورت کښې ددغه کار په کولوسره دې کافر کیږی. لکه چه حضرت زید بن اسلم ﷫ د «كسبت قلوبكم»تفسیر په عقیدې سره کړې دې.او عقیده او معرفت بالقلب یوځیزدې.نو «كسبت قلوبكم» نه معرفت بالقلب ثابت کیدې شی.(۲) دا توجیه د اولنۍ توجیه نه وزنی ده.

حضرت شیخ الاسلام علامه شبیر احمد عثمانی ﷫ فرمائی.چه ددې آیت په تفسیر کښې ددې نه هم زیات ښکاره د حضرت ابن عباس ﷠ او امام مجاهد﷫ وغیره اثر دې.«هو أن يحلف على الشيء وهو يعلم أنه كاذب»(۳)مطلب دا دې.که یوسړی د یوې خبرې په کیدو باندې قسم اوخوړلو.حالانکه ده ته ددې خبرې علم اویقین وی.چه دې دروغژن دې.نو مواخذه به ئې کیږی.گنی نه به کیږی.گورئ دلته د کسب تفسیر په علم سره شوې دې.نوځکه د مواخذهٔ دپاره «وهو يعلم أنه كاذب»ئې شرط اوگرځولو.نو معلومه شوه.چه علم او معرفت د زړه فعل دې.ځکه چه د کسب نسبت ئې قلب ته کړې دې.اود کسب نه مراد علم دې.او علم او معرفت دواړه یو ځیز دې.(۴)

فائده دلته یوه ضمنی مسئله بیانوم په دې کښې اختلاف دې.چه د تولو نه وړاندې په

---

(۱) فیض الباری(۱\۹۵)-

(۲) فتح الباری(۱\۷)_

(۳) تفسیر ابن کثیر(۱\۲۶۷)_

(۴) فضل الباری(۱\۳۷۰)_

انسان باندې څه واجب شوى دى؟
آيا د ټولو نه وړاندې معرفت ضرورى او واجب دى اوكه نظر او استدلال؟ يوه ډله ددې خبرې قائله ده چه معرفت ضرورى دې.او بله ډله ددې قائله ده.چه نظر او استدلال اول واجب شوې دې.(١)

امام الحرمين رحمه الله فرمائى چه په دې دواړو كښې په حقيقت كښې څه اختلاف نشته.ځكه چه د مقصود په لحاظ سره په اول فرصت كښې معرفت د ټولونه اول واجب دې. او د اشتغال او ادا په اعتبارسره قصد الى النظر اول واجب دې.سړې اول په نظر او استدلال كښې مشغول وى.بيا ددې نه پس معرفت ته اورسى.(٢)

امام الحرمين دا هم ليكلى دى.چه په دې خبره اجماع ده.چه معرفت د دليل او برهان په ذريعه حاصلول واجب دى.(٣)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله په دې باندې اعتراض كړې دې.او فرمانيلى ئې دى.چه په اوله زمانه كښې چه به كوم كسان اسلام كښې داخليدل.نوبغير د څه نظراواستدلال نه به په اسلام كښې داخليدل.ددې نه سوا كه آيت قرآنى ﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا﴾(٤)

اوكه حديث شريف چه «كل مولود يولد على الفطرة» كه د نظر وړاندې كړې شى.نو نظر اواستدلال دا بحث هډو پاتې كيږى نه.لا پاتې د دې د اول واجب او آخر واجب بحث شو.(٥)

بيا عارف ابن ابى جمره رحمه الله د ابوالوليد باجى مالكى رحمه الله په واسطه سره د ابوجعفر سمنانى (كوم چه د اشاعرو په اكابرينوكښې دى.او مسلكاً حنفى دې) نه نقل كړى دى.(٦) دوى فرمائى.چه دا مسئله د معتزلو د مسائلو څنې ده.په غلطۍ سره د اهل سنت په مسلك كښې نقل كولې شى.(٧)

---

(١) فتح البارى(٧٠/١١)_
(٢) المصدر السابق)_
(٣) المصدر السابق)_
(٤) الروم:٣٠)_
(٥) المصدر السابق)_
(٦) الفوائد البهية(ص.١٥٩)_
(٧) فتح البارى(١٧/١١)_

[۲۰] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ قَالَ أَخْبَرَنَا عَبْدَةُ عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ عَائِشَةَ (۱) قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَرَهُمْ أَمَرَهُمْ مِنَ الْأَعْمَالِ بِمَا يُطِيقُونَ قَالُوا إِنَّا لَسْنَا كَهَيْئَتِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ فَيَغْضَبُ حَتَّى يُعْرَفَ الْغَضَبُ فِي وَجْهِهِ ثُمَّ يَقُولُ إِنَّ أَتْقَاكُمْ وَأَعْلَمَكُمْ بِاللَّهِ أَنَا

رجال الحديث

① محمد بن سلام: دوى ابوعبدالله محمد بن سلام بن الفرج السلمى البيكندى دى. د ابن عيينه او ابن المبارك رحمهماالله نه ئې احاديث اوريدلى دى. اود دوى نه لويو محدثينو دامام بخارى وغيره رحمهم الله غوندې د احاديثو سماع كړې ده.(۲)

د علم په طلب كښې ئې تقريباً څلوېښت زره روپۍ خرچ كړې وى. اودومره ئې بيا ددې په خورولو كښې خرچ كړى دى.(۳)

فرمائى چه ددوى مجالسو ته به پيريان هم حاضريدل.(۴) په خپله ددوى نه نقل دى. دوى فرمائى چه ماته د پنځه زرو نه زيات واړه احاديث ياد دى.(۵) په علم پسې ئې ډير سفرونه كړى دى. او په مختلفو بابونو كښې ئې تصانيف هم پريخودى دى.(۶)

د وخت به ئې څومره قدر كولو. ددې اندازه ددې نه اولګوئ چه يوځل ئې د يو استاذ نه حديث اوريدل. د املاء په مجلس كښې د دوى قلم مات شو. چونكه د هغې په جوړولو او صحيح كولو باندې وخت لګيدلو، او حديثونه پاتې كيدل. نو آواز ئې اولګولو. چه يو قلم به په يو دينار (اشرفۍ) باندې څوك راكړى؟ وئيلى شى چه ډير قلمونه دوى ته راغلل.(۷)

په كال ۲۲۵ه كښې وفا شوې وو.(۸)

---

(۱) لم يخرجه أصحاب الأصول الستة سوى البخارى رحمه الله)_

(۲) عمدة القارى (۱\۱۶۵)_

(۳) تهذيب الكمال (۲۵\۳۴۳)_

(۴) سير أعلام النبلاء (۱۰\۶۲۹)_

(۵) عمدة (۱\۱۶۵)_

(۶) المصدر السابق)_

(۷) عمدة (۱\۱۶۵) وسير أعلام النبلاء (۱۰\۶۲۹)_

(۸) تاريخ كبير بخارى (۱\۱۱۰) وتهذيب الكمال (۲۵\۳۴۴) وسير أعلام النبلاء (۱۰\۶۳۰) وعمدة القارى (۱\۱۶۵) وتذكرة الحفاظ (۲\۴۲۲) وخلاصة الخزرجى (ص.۳۴۰) والأعلام للزركشى (۶\۱۴۶) ياد دى وى. چه په تهذيب التهذيب (۹\۳۱۳) او تقريب التهذيب (ص.۴۸۲) كښې د وفات كال ۲۲۷ ذكردې كوم چه په ظاهره صحيح نه دى.

Scanned with

ددوی د پلار نوم «سلام» د لام په تخفیف سره وو.صاحب د مطالع لیکلی دی.چه د زیاتو عالمانو په نیزد لام په تشدید سره دې.خوامام نووی رحمه الله ددې تعقب کړې دې.اوفرمائیلی ئې دی چه د زیاتو عالمانو په نیزبه تخفیف د لام سره دې.بیا په خپله د محمد بن سلام نه ددوی د والد صاحب د نوم په باره کښې د تخفیف اللام تصریح موجودده.اوامام منذری رحمه الله خو قاعده یو رساله لیکلې ده.او په هغې کښې دوی تشدید لام ته ترجیح ورکړې ده لیکن حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه «ولكن المعتمد خلافه» یعنی ددې مخالف قول معتمد دې.()

② **عبدة:** دوی عبده بن سلیمان بن حاجب بن زراره کلابی کوفی دې.بعضې خلقو وئیلی دی.چه ددوی نوم عبدالرحمن دې.او عبده ئې لقب دې.

دهشام بن عروه او اعمش وغیره تابعینونه ئې سماع کړې ده.او ددوی نه امام احمد وغیره احادیث اوریدلی دی.

امام احمد رحمه الله ددوی په باره کښې فرمائی«ثقة ثقة وزيادة مع صلاح»

په کوفه کښې په کال ۱۸۷ھ یا ۱۸۸ھ کښې وفات شوې وو.() رحمة الله علیه

د هشام . عروه او حضرت عائشې رضی الله عنها مختصرحالات وړاندې په بدء الوحی کښې د دویم حدیث لاندې تیر شوی دی.

قوله: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَرَهُمْ أَمَرَهُمْ مِنَ الْأَعْمَالِ بِمَا يُطِيقُونَ قَالُوا إِنَّا لَسْنَا كَهَيْئَتِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ: رسول الله صلى الله عليه وسلم چه به کله صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د یو څیز حکم کولو. نو د داسې اعمالوحکم به ئې کولو.چه د کومو به هغوی طاقت لرل.صحابو به عرض کولو.یا رسول الله زمونږ حالت ستاسو پشان نه دې.

په اکثرو روایاتوکښې دلته «أمر»دوه خله واقع شوې دې.او مطلب ددې هم هغه دې.کوم چه اوس وړاندې بیان شو.په دې صورت کښې به دویم «أمرهم»جواب وی.

خو په بعضې روایاتو کښې په د احادیثو په نورو کتابونوکښې «أمرهم»یو خل راغلی دی.په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه چه کله به رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابو ته د داسې اعمالو حکم کولو.چه د کوم د کولوبه په هغوی کښې طاقت وو .نو هغوی به فرمائیل. یارسول الله مونږ ستاسو پشان نه یو.یعنی تاسو خو زمونږ د آسانتیا دپاره حکم کوئ.اود ګرانو اعمالو حکم نه راکوئ.مونږ ته خو ګرانو اعمالو ضرورت دې ستاسو په «مغفورله»خو نه یو.

بهرحال په اولنی صورت کښې «إذا أمرهم»شرط دې .او «أمرهم من الأعمال بما يطيقون»جواب

() فتح البارى(۷۱\۱)_

() عمدة القارى(۱۶۵\۱) وتقريب (۳۶۹\۲) رقم الترجمة (۴۲۶۹)_

اول دي او ((قالوا: إنا لسنا...)) جواب ثاني دي
اويه دويم صورت كښې ((إذا أمرهم من الأعمال بما يطيقون)) شرط دې او ((قالوا: إنا لسنا كهيئتك)) جواب دې.

دلته د ((بما يطيقون)) نه داسې اعمال مراد دي.كوم چه ټول عمر كولې شي. څكه په حديث كښې راځي ((أحب الأعمال إلى الله أدومها وإن قل))[١] دالله تعالى په نيز د ټولو نه زيات خوښ عمل هغه دې كوم ته چه دوام حاصل وي.اګرچه هغه كم وي.نو ((بما يطيقون)) معنى به وي.چه كوم ټول عمر كولې شي.د نوافلودومره اهتمام كول پكار دي.چه هغه ټول عمر كولې شي.
دا فرائض كوم چه شريعت مقرر كړي دي.دا ټول هغه دي.كوم چه سړې ټول عمر كولې شي.

دا په ((بما يطيقون)) كښې داخل دي.كه ددې په باره كښې څوك اووائي.چه دا خو زمونږ په طاقت كښې نشته.اومونږ دومره نشو كولې.نو دا دده سركشي ده.اود نفس او شيطان ګمراه كول اود غفلت په وجه دې داسې خبره كوي. ګنې الله تعالى چه كوم فرائض په ذمه باندې لګولي دي.او د كوم چه ئې مكلف جوړ كړي دي.هغه د انسان په طاقت كښې داخل دي.اودې ئې ټول عمر كولې شي.

قوله: إِنَّا لَسْنَا كَهَيْئَتِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ: حضرات صحابه كرامو ﷺ د زيات عمل خواهش ښكاره كړلو.او وې فرمائيل. حضرت مونږ ستاسو پشان نه يو.الله تعالى خو تاسوته ټول وړاندينى او روستنى ګناهونه معاف كړي دي.
په يو اوږد حديث كښې دي.چه څه خلق د نبى ﷺ بيبيانو ته راغلل.اودنبى ﷺ د عبادت په باره كښې ئې تپوس اوكړلو.كله چه هغوى ته د نبى ﷺ د عبادت كيفيت اوخودلې شو.نو ((كأنهم تقالوها)) هغوى دغه عبادت كم اوګنړل.او وې وئيل.((فأين نحن من النبى ﷺ قد غفر الله له ما تقدم من ذنبه وما تأخر)) بيا په هغوى كښې يوكس اووئيل.((أما أنا فأنا أصلى الليل أبدا)) او دويم اووئيل.((أنا أصوم الدهر أبدا)) او دريم او.ئيل.((أنا أعتزل النساء فلا أتزوج أبدا)) كله چه نبى ﷺ تشريف راوړلو.نو دوى ته ټولې خبرې بيان كړې شوې.نو نبى ﷺ اوفرمائيل ((أنتم الذين قلتم كذا وكذا؟ أما والله إنى لأخشاكم لله، وأتقاكم له، لكنى أصوم وأفطر، وأصلى وأرقد، وأتزوج النساء، فمن رغب عن سنتى فليس منى))[٢]

---

[١] صحيح مسلم (۱\۲۶۶) كتاب صلاة المسافرين وقصرها باب فضيلة العمل الدائم من قيام الليل وغيره)_
[٢] صحيح البخارى (۲\۷۵۷) كتاب النكاح باب الترغيب فى النكاح رقم ۵۰۶۳ وصحيح مسلم (۱\۴۴۹) كتاب النكاح باب إستحباب النكاح وسنن النسائى (۲\۶۹) كتاب النكاح باب النهى عن التبتل)_

بهرحال دې حضراتو چه څه وئيلي وو.نو په دې جذبه ئې وئيلي وو.چه د نبی ﷺ دپاره د مغفورالذنب او معصوميت ضمانت موجود دې.اود مغفرت د اعلان په وجه نبی ﷺ ته د زيات عبادت څه ضرورت نشته.او زمونږ سره څه ضمانت نشته. د دې وجې زمونږ دپاره په اعمالوکښې زيات کوشش کول پکاردې.هغوی ته احساس اوشو.چه زمونږ حصه په دين کښې ډيره کمه ده.کومه چه کيدې شی زمونږ د نجات دپاره کافی نه وی.والله اعلم

دعصمت انبياء مسئله: ددې حديث شريف نه دا معلوميږی.چه د نبيانوعليهم السلام نه د گناهونواو عصيان صدور کيږی.

په دې خبره اجماع ده.چه پيغمبران عليهم السلام د نبوت نه وړاندې اود نبوت نه پس د کفر نه معصوم دی.د دوی نه کفر نشی کيدې.په دې خبره هم اجماع ده. چه پس د نبوت نه د دوی نه په قصد سره گناه نشی کيدې.البته په سهو سره ترې واړه گناهونه صادر کيدې شی که نه .نوپه دې کښې اختلاف دې.

د اشاعرو په نيز د پيغمبرانو نه واړه گناهونه په سهو سره څه چه په قصد سره هم صادريدې شی.د نبوت نه وړاندې هم او پس هم،حلانکه ماتريديه ددې نه مطلقاً انکار کړې دې.حافظ عراقی ،تقی الدين سبکی وابواسحاق اسفرائينی، او قاضی عياض ﷺ دا قول اختيار کړې دې.بيا چه څوك دا وائی.چه صغائرترې کيدې شی. هغوی دا هم وائی.چه د پيغمبرانو نه هغه صغائرنشی صادريدې.کوم چه په خست دلالت کوی.[۱]والله أعلم

قوله: إِنَّ اللَّهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ:دلته سوال دا دې.چه ددې جملې څه مطلب دې؟ خکه چه په دې کښې کښې د ذنب نسبت نبی ﷺ ته شوی دې.هم دا سوال د قراان کريم په آيت باندې هم وارديږی.کوم کښې چه راغلی دی. ﴿لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾ [۲]په دې آيت کښې چه نبی ﷺ ته د ذنب کوم نسبت شوې دې.نو ددې نه يو جواب دا ورکړې شوې دې.چه دلته د امت گناهونه مراد دی.[۳]

خودا جواب ډير زيات کمزورې دې.خکه چه اگرچه بعضې مفسرينو يواحتمال داضرورذکر کړې دې.خو د احاديثو په رنړا کښې چه کوم تفسير جمهورو مفسرينو اختيارکړې دې.هغه صحيح دې.جمهورو مفسرينودلته د ذنب نسبت نبی ﷺ ته کړې دې.ددې وجه دا ده.چه د بخاری په حديث کښې دی.چه کله د صلح حديبيه په موقع دا آيت ﴿إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا ۝ لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾ [۴] نازل شو.نوصحابو ﷺ عرض اوکړلو.«هنيئاً مريئاً فمالنا» يارسول الله تاسوته دې مبارك شی.دا خو ستاسود د مغفرت خبره ده.زمونږ دپاره څه دی. نو

---

[۱] فيض البارى مع حاشيه البدرالسارى(۱\۹۵، ۹۶) والنبراس شرح شرح العقائد(ص،۲۸۳، ۲۸٤)_

[۲] سورة الفتح ۲)_

[۳] التفسير القرطبى (۱۶\۲۶۳)_

[۴] الفتح:۱ \۲)

الله تعالى آيت نازل كړلو ﴿ لِيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ﴾ [1] نو معلومه شوه چه صحابه كرام ﷺكوم چه د قرآن پاك اولنى مخاطبين وو هغوى د «ليغفرلك» معنى «ليغفرلأمتك» نه ده ګڼړلې دغه شان كه هغوى غلط پوهه شوى وو.نو دهغوى د تپوس نه پس به نبى ﷺ ورته تنبيه وركړې وه.چه تاسو غلط پوهه شوې ئي.ددې معنى خو ده. «ليغفرلأمتك» خونبى ﷺ ورته څه تنبيه ورنكړله .بكله د امت دپاره مستقل آيت نازل شو.[2]

دويم جواب دقاضى عياض ﷫ دې.اوشاه صاحب ﷫ هم دا اختيار كړې دې.دوى فرمائى. چه يو دې معصيت او يو دې خطاء او يو دې ذنب.معصيت شديد وى.نافرمانى ته وائى. ددې نه كمه درجه د خطاء ده.ددې معنى غلطى ده. اوددې نه كمه درجه د ذنب دهزددې معنى عيب دې.د معصيت او خطاء نه پيغمبران عليهم السلام معصوم موى.او ذنب چه كوم څيز ته وائى.هغه يو معمولى څيز دې.كوم چه د معصيت يا د خطا برابرنه دې البته دا د دوى دشان په اعتبارسره ددوى دپاره معيوب تصور كولې شى.دا دعصمت منافى نه دې.[3]

په دې جواب باندې دا اعتراض كيږى.چه په قرآن مجيد كښې ﴿إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا﴾ [4] راغلى دى.اوپه دې كښې ټول معاصى داخل دى؟

ددې جواب دا وركولې شى.چه د ذنب كومه معنى پورته بيان كړې شوه.هغه په هغه وخت كښې ده.كله چه دا د معصيت په مقابله كښې استعمال كړې شى. اګرچه د معصيت سره تقابل نه وى.نوپه دې كښې عموم هم پيدا كيږى.

دريم جواب دا وركړې شوې دې.چه يو اصول دى.«حسنات الأبرار سيئات المقربين»

ددې مثال باندې داسې پوهه شئ.چه د خلقو دوه طبقې دى.عوام او خواص.د عوامو دپاره قانون وى.اود هغه قانون د لاندې دفعات وى.په هغوى باندې دا ذمه وارى وى.چه هغوى به ددغه قانونى ددفعاتو مخالفت نه كوى.خو چه كوم خواص دى.نو دهغوى دپاره صرف د قانون نه بلكه د مزاج هم خيال ساتل پكاروى.كوم چه د حكومت او سلطنت خواص وى.د هغوى ذمه وارى صرف دا نه وى.چه د قانون خلاف ورزى نه كوى بلكه د هغوى دپاره ددې پابندى هم ضرورى ده.چه هغوى د بادشاه د مزاج خلاف څه حركت هم نه كوى اګرچه هغه په قانونى مواخذه كښې نه راځى.

اوګورئ حضرت يعقوب ﷺ ﴿إِنِّي لَيَحْزُنُنِي أَنْ تَذْهَبُوا بِهِ وَأَخَافُ أَنْ يَأْكُلَهُ الذِّئْبُ﴾ [5] وئيلى وو.كوم چه په ظاهره د توكل خلاف وو.نوځومره كلونو پورې ورته د حضرت يوسف ﷺ د جدائې غم

---

[1] سورة الفتح \٢)_
[2] سورة الفتح \٥) صحيح البخارى كتاب المغازى باب غزوة الحديبية رقم ٤١٧٢)_
[3] فيض البارى(١\٩٦)_
[4] الزمرا \٥٣)_
[5] سورة يوسف:١٣)_

زغم وړېه غاړه شو.

دحضرت موسى ﷺ نه سوال شوې وو «أي الناس أعلم؟» دهغې په جواب كښې هغوى فرمائيلي وو «أنا»([1]) نو په هغوى باندې كوم خاڼې سفرونه اوكړې شول.اودحضرت خضر ﷺ په خدمت كښې حاضر كړې شو.

د يونس ﷺ په باره كښې په قرآن پاك ښې راځي. ﴿وَذَا النُّونِ إِذ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَن لَّن نَّقْدِرَ عَلَيْهِ﴾ ([2]) دحضرت يونس ﷺ دا عقيده هرګز نه وه.چه دالله تعالى په هغه باندې قدرت نشته.كلا وحاشا .داسې خبره هيڅ كله نه وه.البته د هغه د عمل نه داسې مترشح كيده.نو په هغوى باندې عتاب نازل شو.

دغه شان د حضرت عبدالله بن ام مكتوم واقعه ده.هغوى به د نبى خدمت كښې حاضريدلو د نبى ﷺ خاص سړې وو.او نبى په هغه وخت كښې د قريشو د سردارانو سره د ايمان او اسلام په باره كښې خبرې كولې.نوپه دغه موقع باندې حضرت عبدالله بن ام مكتوم راغلو نو نبى ﷺ ته نامناسبه معلومه شوه.نو نبى ﷺ ورته د خفګان اظهاراوكړلو.خو د الله شرك په مقابله كښې د يو مومن سره داسې سلوك كول دالله تعالى په نيز د مواخذه سبب اوګرځيدلو. اود سورة عبس اولنى آياتونه «عبس وتلى...» نازل شو([3]) دلته په «ما تقدم من ذنبك وما تأخر» كښې مقصد هم دا دې.چه ستاسو نه چه ستاسود مقام او ستاسو د شان او ستاسو د مرتبې نه د كمې درجې كوم كارونه صادرشوى دى.اګرچه په هغې كښې څه قباحت يا غلطى او عيب نه وو.خوبيا هم الله تعالى اوفرمائيل.چه مونږ هغه تاسو ته معاف كړې دى.دهغې نه مراد ګناه نه ده.ددې وجې نه صحابه كرامو ﷺ ددې آيت نه استدلال اوكړلو.چه ﴿لِّيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾ ([4])

څلورم جواب دا وركړې شوې دې چه كومو خلقو ته د مشاهدهٔ حق كيفيت حاصل وى.د هغوى دپاره د ښوخورول هم ګران وى.د قضائې حاجت دپاره كيناستل ورته ګران وى.د بيبيانو سره اختلاط ورته هم مشكل وى.ځكه چه هغوى ته هروخت دا خيال وى.چه الله تعالى ماته ګورى.دا كيفيات په عامو اولياء كرامو ﷺ باندې هم راځي.ددې نه اندازه اولګوئ.چه د نبى ﷺ كيفيت به څنګه وو؟

په دې آيت كښې چه داسې كوم كيفيات به په نبى ﷺ باندې د مشاهده حق په وجه راتلل.او په هغې كښې د امور طبعيه پوره كولو كښې به كومه تنګى راتله.د هغې دپاره ورته اوفرمائيلى شو.چه ﴿لِّيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾ ددې نه حقيقى ذنوب مراد نه دى.([5])

---

[1]) الصحيح البخارى كتاب التفسير سورة الكهف باب ((وإذا قال موسى لفتاه .. رقم ٤٧٢٥)_
[2]) الأنبياء (٨٧)_
[3]) سنن ترمذى كتاب التفسيرباب ومن سورة عبس رقم ٣٣٣١)_
[4]) روح المعانى (٢٦\٩۶)_
[5]) امداد البارى(٤\٤۶٣)_

پنځم جواب دا دي چه دا خطاب د تشريف اوتكريم دي چه د قيامت په ورځ كله په ميدان حشركښې د حساب كتاب په انتظارخلق په تكليف كښې مبتلا وى. نو خلق به ددغه پريشانئ په حالت كښې حضرت آدم عليه السلام ته ورشى.آدم عليه السلام به ورته د خپل قصور ذكر اوكړى. بيا به خلق حضرت نوح عليه السلام ته ورشى هغه به هم د خپل قصر ذكر وكړى. دغه شان به نورو پيغمبرانو عليهم السلام ته ورشى او په آخر كښې به د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شى.(١)

چونكه د مقام دا شفاعت د نبى ﷺ دپاره متعين دي چه چرته دوى هم داسې قسم عذر پيش نكړى.نو ځكه نبى ﷺ ته د «ماتقدم وما تأخر» د مغفرت سند د وړاندې نه ورکړې شو.لكه چه نبى ﷺ ته د وړاندې نه دا اطمينان وركړې شو.چه تاسو د هغه وخت د شفاعت دپاره تيار شئ.اوخلقوته څه عذر مكوئ.لكه څنګه چه به نور پيغمبران عليهم السلام كوى شپږم جواب دا دي چه دلته د «ذنب» نه مراد اجتهادى غلطى ده.اومطلب دا دي چه ستاسو تولې هغه خطاګانې كومې چه د اجتهاد په طور ستاسو نه شوى دى.معاف دى.

اووم جواب استاذ محترم حضرت شيخ الاسلام رحمه الله دا وركړې دي.دوى فرمائى چه د ستارمعنى د ستر ده.او د غفار معنى هم د ستر ده.نو د «ليغفرلك الله»معنى به دا وى چه الله تعالى ساتر يعنى مانع به وى «بين الذنب وبين النبى ﷺ» يعنى ذنب به نبى ﷺ ته نه پريږدى. څنګه چه د حضرت يوسف عليه السلام په باره كښې په قرآن كښې دى. ﴿كَذٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوْٓءَ وَالْفَحْشَآءَ ۭ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلَصِيْنَ﴾ (٢)

د پيغمبرانو عليهم السلام دپاره الله تعالى دګناهونو او ددوى په مينځ كښې ساتر وى.اود غيرنبى دپاره «بين المذنب والجزاء» دلته مراد دي چه ګناهونه به ستاسو درزسيدوته نه پريږدى.

د «ما تقدم وما تاخر» نه څه مراد دي؟ ما د عموم دپاره ده.او«متقدم اومتأخر»د كل د احاطه نه كنايه ده.

د «ماتقدم»نه مراد قبل ازنبوت اود «ماتأخر»نه مراد بعد ازنبوت مراد دي.
يا قبل ازهجرت او بعد ازهجرت مراد دي.
يا قبل ازفتح مكه او بعد ازفتح مكه مراد دي
ددې نه علاوه نور هم ډيراقوال دى.(٣)

---

(١) صحيح مسلم (١\١٠٨. ١٠٩)_ كتاب الإيمان باب إثبات الشفاعة وإخراج الموحدين من النار)_
(٢) يوسف: ٢٤)_
(٣) ددې ټولواقوالودپاره اوګورئ تفسيرقرطبى(٦\٢٦٢. ٢٦٣)_

يوسوال اودهغې جواب د ((ماتقدم))مغفرت خو په پوهه كښې راځي خود ((ماتأخر))مغفرت به څنګه وى؟

ددې جواب دا دې چه د مغفرت دپاره د ګناه وجود ضرورى نه دې خكه چه د ((مغفرة))معنى ده پټول او پرده اچول. د((ما تقدم)) مغفرت خوښكاره دې.اود ((ماتاخر)) دمغفرت به دا مطلب وى.چه ستاسو او ګناهونو او ذنوب په مينځ كښې به پرده واچولې شى.دې دپاره چه ستاسو نه ګناه صادرنشى.(١)

يوجواب دا وركړې شوې دې چه د مخلوق په لحاظ سره اګرچه بعضې څيزونه ((ما تقدم)) دى او بعضې څيزونه ((ما تاخر)) دى.خو دالله تعالى د علم په لحاظ سره ټول څيزونه په يووخت كښې موجود دى.((ماتقدم)) او ((ماتاخر)) نه دى.نوپه دې لحاظ سره د مغفرت وعده كړې شوې ده.(٢)

خودا جواب صحيح نه دې.خكه چه د مواخذه او محاسبه تعلق او د مغفرت تعلق د الله تعالى د علم سره نه وى.بلكه د فعل د ظهور سره وى.والله اعلم

چه ټول پيغمبران عليهم السلام هركله معصوم دى نو صرف د نبى ﷺ تخصيص ولې اوكړې شو؟ ددې نه پس په دې باندې پوهه شئ.چه لكه څنګه د نبى ﷺ مغفرت شوې دې.

دغه شان د نورو پيغمبرانو عليهم السلام مغفرت هم شوې دې.نوپه قرآن پاك كښې الله تعالى د نبى ﷺ دمغفرت اعلان ولې كړې دې؟

ددې جواب دا دې.چه چونكه د قيامت په ورځ به د محشرد سختئ نه د نجات دپاره نبى ﷺ سفارشى جوړيږى.نوځكه په دنيا كښې دا اعلان اوشو.چه ستاسو نه به څه تپوس نه كيږى.(٣)

قوله: فَيَغْضَبُ حَتَّى يُعْرَفَ الْغَضَبُ فِي وَجْهِهِ: نبى ﷺ به غصه شو.تردې چه د غضب او غصې آثاربه د نبى ﷺ په مخ مبارك كښې ښكاره شول.

دغضب وجه نبى به عام طور غصه نه كوله البته كه د فطرت نه خلاف به چه څه خبره وه. نوبى ﷺ به په هغې باندې غصه كيدلو.هم دا صورت دلته پيش شوې دې.دلته د اعمالو كثرت اهتمام د فطرت نه خلاف وو.خكه چه بنيادم هغه نشى پوره كولې .كه يو كس لوظ اوكړى.چه زه به ټول عمر روژې نيسم.نوهغه به په دې باندې ترڅو پورې قائم وى.يوكس دا لوظ اوكړى.چه زه به ټوله شپه نفلونه كوم.اواوده كيږم به نه نوهغه به په دې باندې ترڅو پورې پابند وى.چه يوكس دا لوظ اوكړى چه زه به د لونډتوب ژوند تيروم.اوهيڅ كله به وادة

---

(١) ارشاد السارى(١١٠٣)_
(٢) امداد البارى(٤٦٤\١٤)_
(٣) فيض البارى(١١\٩٦)_

نه كوم.نوهغه به تركومې پورې د پاكدامنئ ژوند تيروي.چونكه صحابه كرامو﷢ داسې قسم خبرې كړې وې.اودا د فطرت انسانى خلاف وې.ځكه نبى ﷺ خفه شو.(١)

بعضې حضراتودا فرمائيلى دى.چه خفګان ددې وجې راغلې وو.چه هغوى د نبى ﷺ عمل كم ګنړلې وو.(٢)

بعضې حضراتودا فرمائيلى دى.چه نبى ﷺ ددې وجې خفه شوې وو چه هغوى د نبى ﷺ د ګناهونو مغفرت زيرې سبب ګنړلې وو.ځكه نبى ﷺ ته د زيات عبادت او عمل ضرورت نشته اوزمونږ دپاره خو د زيات عبادت او نوافلواهتمام پكار دې. حالانكه دزيرى اوريدل ديو سليم الفهم او شريف الطبع دپاره د زيادت فى العبادة سبب جوړيږى.هم دا وجه ده.كله چه حضرت عائشې﷞ نبى ته عرض اوكړلو.اې د الله رسوله! ستاسومغفرت خو شوې دې.تاسو ولې دومره محنت كوئ. اوخان په مشقت كښې اچوئ.نونبى ﷺ ورته په جواب كښې اوفرمائيل.((أفلا أكون عبداً شكوراً))(٣)

قوله: <u>ثُمَّ يَقُولُ إِنَّ أَتْقَاكُمْ وَأَعْلَمَكُمْ بِاللَّهِ أَنَا</u>: بيا نبى ﷺ اوفرمائيل.په تاسوكښې دټولونه زيات ويردونكې اوزيات عالم په الله تعالى باندې زه يم.

نبى ﷺ په ((أعلمكم)) باندې قوت علميه اوبه ((أتقاكم)) سره قوت عمليه ته طرف اشاره اوكړله.اومطلب داوو.چه په اعمالوكښې دمجاهدې كولوسبب دوه قوتونه دى.يوقوت علميه او بل قوت عمليه،په دې دواړوكښې زه ستاسو نه زيات يم.نوددې باوجود هركله چه زه په مجاهده كښې مبالغه نه كوم.نوتاسو څوك ئې. چه دا لار اختياروئ.(٤)والله سبحانه وتعالى أعلم

دحديث باب نه مستفاد مسائل: ① ددې حديث نه يوه فائده دا حاصله شوه.چه په اعمال صالحه سره په درجاتو كښې ترقى كيږى.اوګناهونه معاف كيږى.چونكه صحابه كرامو﷢ چه دخپل ځان دپاره د درجود ترقئ كومه لاره اختيار كړې وه.هغه زيادت فى العبادة وو.نو نبى په هغې باندې انكار اونكړلو.بلكه په غلو فى العبادة باندې ئې انكاراوكړلو.

② دويمه فائده ترې دا حاصله شوه.چه بنده الله تعالى څومره موفق جوړ كړى.اوده ته د څومره عبادت او ورادو كولوتوفيق وركړى.نودهغې د برقرارساتلودپاره هغه دپاره مواظبت او پابندى پكارده.

③ دريمه فائده دا معلومه شوه.چه شارع د عزيمت او رخصت كوم حدود مقرر كړى.اودا اعتقاد ساتل پكاردى.چه كوم جهت آسان او دشريعت موافق وى.هغه اختيارول د نورو

---

(١) فيض البارى(۹۷\۱)_
(٢) امدادالبارى(۴۶۱\۴. ۴۶۲)_
(٣) فتح البارى(۷۱\۱)_
(٤) فتح البارى(۷۱\۱)_

جهتونو په مقابله کښې اولی دي.کوم چه په مشقت کښې غورځول کوی.اودشریعت د منشاء نه خلاف وی

④ څلورمه خبره دا معلومه شوه چه په عبادت وغیره کښې میانه روی اختیارول پکار دی اوبیا په هغې باندې مداومت کول پکار دی.داسې مبالغه نه چه وړاندې لاړ شی.نو سړی هغه عمل پریخودلوته مجبوره شی

⑤ پنځمه خبره دا معلومه شوه چه حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم به په عبادت کښې زیات رغبت کول.اود زیاتو نیکو طالبان وو

یوه فائده ددې حدیث نه دا معلومه شوه.چه دشریعت خلاف ورزئ په صورت کښې خفګان کول مشروع دې.بله دا که پوهه سړې غلطی اوکړی نودهغه د خبردارکولو او هوښیارولو دپاره په هغه باندې انکار کول صحیح دی.

بله فائده ترې دا حاصله شوه.چه سړې د ضرورت په اندازه خپل فضیلت بیانولې شی.خو په دې شرط چه فخراومباهات اود تکبر ګډون په کښې نه وی

ددې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه نبی ﷺ ته د کمال انسانیت مرتبه حاصله وه.ځکه چه دا کمال په قوت علمیه اوقوت عملیه پورې منحصردې.اودې دواړو قوتونو ته نبی ﷺ په «أعلمکم»او«أتقاکم»سره اشاره اوکړله.(١)والله أعلم

۱۲ =بَابٌ مَنْ كَرِهَ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُلْقَى فِي النَّارِ مِنَ الْإِيمَانِ

ولته د«من کره» نه وړاندې «کراهة» مصدرمحذوف دې.او«من الإيمان» خبر دې.تقدیرد عبارت به دا وی«باب کراهة من کره العود فی الکفر ککراهة الإلقاء فی النار من شعب الإیمان»(٢)

د ماقبل سره ربط علامه عینی رحمه الله فرمائیلی دی.چه ددې باب د ماقبل سره مناسبت دا دې. چه په ماقبل کښې صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبی ﷺ نه د زیادت فی العبادة اجازت غوښتې وو. اوددې وجه ښکاره ده.چه حلاوت ایمان وو.اوس په دې حدیث کښې هم دحلاوت اود حلاوت داسبابو بیان دې.(٣)

دا هم وئیلی شی.چه دا باب د ماقبل باب فائده او ثمره ده.ځکه چه په ما قبل کښې د الله تعالی د معرفت اوعلم بیان وو اوښکاره خبره ده.چه دچا په زړه کښې څومره دالله تعالی معرفت وی.نو هم هغه هومره به دهغه ایمان قوی وی.اوهم هغه هومره به دهغه د کفرنه

---

(١) فتح الباری(٧١/١)_

(٢) عمدة القاری(١٦٧/١)_

(٣) المصدرالسابق)_

نفرت اوكراهت وى.په دې باب كښې ددغه كراهت بيان دې (۱)
دا هم ونيلى شى.چه امام بخارى رحمه الله ((فرارمن الفتن))ته دين ونيلى وو دلته ((فرارمن الكفر))
ته هم دين وائى نولكه څنګه چه يوكس ته ((فرارمن الفتن)) پكار دى نودغه شان هغه دپاره
((فرارمن الكفر))هم ضرورى دې.(۲)

د ترجمې مقصد دا ترجمه هم د سابقه تراجمو پشان ددې مقصد دپاره منعقد شوې ده.چه د مرجئو ترديد اوشى.په دې طريقه چه ايمان دپاره د قوت اودحلاوت ضرورت دې اوقوت اوحلاوت په ايمان كښې په اعمالو سره راځى.چه اعمال نه وى.نوايمان به بې خونده اوبې لذته وى.اوچه اعمال وى.نوبه ايمان كښې به حلاوت او طاقت وى نومعلومه شوه چه اعمال دايمان جزء دې.(۳)

حضرت شيخ الحديث صاحب رحمه الله فرمائى.چه دامام بخارى رحمه الله عادت دې .چه دوى اضداد ذكركوى.ددغه عادت مطابق ئې دلته دا باب ذكركړې دې.چه څومره چه چا كښې ايمان قوى وى.نوهم هغه هومره به په هغه كښې د ايمان د ضد نه نفرت وى لكه چه دامام بخارى رحمه الله مقصددا دې.چه طاعات په ايمان كښې زيادت كوى.نود كفرنه نفرت هم دايمان د زيادت سبب دې.اودا هم دايمان يوه شعبه ده.(۴)والله أعلم

[۶] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(۵) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ مَنْ كَانَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَمَنْ أَحَبَّ عَبْدًا لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَمَنْ يَكْرَهُ أَنْ يَعُودَ فِي الْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْقَذَهُ اللَّهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُلْقَى فِي النَّارِ [رقم۶]

رجال الحديث

① سليمان بن حرب: دا ابوايوب سليمان بن حرب بن بجيل ازدى واشحى بصرى دې. د شعبه .حمادين وغيره نه ئې د حديث سماع كړې ده.اوددوى نه امام احمد .امام ذهلى، امام حميدى او امام بخارى احاديث اوريدلى دى
ابوحاتم رحمه الله فرمائى چه دوى په امامانوكښې دې.تدليس نه كوى.په رجالو باندې هم ددوى كلام شته اود فقه سره هم مناسبت لرى.د دوى تقريباً لس زره احاديث دى.ما ددوى په لاس

---

(۱) امدادالبارى(۴۶۸\۴)_
(۲) تقريربخارى (ص.۱۳۱)_
(۳) ايضاح البخارى(۲۸۱\۳)_
(۴) تقريربخارى شريف (۱۳۱\۱)_
(۵) ددې حديث تخريج مخكې د ((باب حلاوة الإيمان)) لاندې تيرشوې دې

کښې چرته کتاب نه دې لیدلې.زه بغداد کښې د دوی درس حدیث ته حاضر شوې ووم.چه دحاضرینود شمار اندازه مې اولګوله.نو تقریباً څلویښت زره وو.
دمکې قاضی هم پاتې شوې دې.په کال ۱۴۰ه کښې پیدا شوې وو.اوپه ۲۲۴ ه کښې په بصره کښې وفات شوې وو.(۱) رحمة الله علیه.

۲ **شعبه:** ددې حالات د «باب من سلم المسلمون من لسانه ویده» په ضمن کښې لاندې تیرشوی دی.

۳ **قتادة:** ددوی حالات په «باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه» دلاندې تیر شوی دی.

۴ **حضرت انس رضی الله عنه:** ددوی حالات هم د پورتنی باب دلاندې تیرشوی دی

په حدیث مکررکیدو باندې اعتراض اوددې جواب دا حدیث په وړاندې «باب حلاوة الإیمان» کښې تیرشوې دې.اودلته ئې دا دوباره راوړلو. ددې په مکرر راوړلو باندې اعتراض شوې دې.
ددې جواب دا دې.اګرچه بنیادی طور دا حدیث هم هغه دې.خو ددې په سند او متن کښې فرق شته.په سند کښې دحضرت انس رضی الله عنه نه سوا باقی ټول راویان مختلف دی.ځکه چه دحدیث باب راویان دې. سلیمان بن حرب، شعبه، قتاده. او د سابقه حدیث راویان دی محمد بن مثنی ،عبدالوهاب ثقفی ،ایوب سختیانی. او ابوقلابه جرمی رحمهم الله.
بیا په متن کښې هم فرق دې.ځکه چه په حدیث الباب کښې چه کوم درې څیزونه بیان شوی دی.د دې په شروع کښې «من کان الله و رسوله ..» او«من أحب عبداً..» او«من یکره أن یعود ..» اود سابقه باب په حدیث کښې په دې درې واړه ځایونوکښې د «أن» لفظ دې.دغه شان په سابقه حدیث کښې د «بعد أن أنقذه الله» جمله نشته.اوپه دې حدیث کښې شته.ددې نه علاوه په حدیث باب کښې د «یلقی» لفظ شته.اوپه سابقه حدیث کښې د «یقذف» لفظ دې.والله أعلم
دحدیث تفصیلی تشریح د «باب حلاوة الإیمان» لاندې تیره شوې ده.

۱۳- بَاب تَفَاضُلِ أَهْلِ الْإِيمَانِ فِي الْأَعْمَالِ

په دې ترجمه کښې څو مباحث دی.
اولنی بحث د ترجمې غرض دامام بخاری رحمه الله ددې ترجمې د انعقاد نه مرجئو باندې رد دې.اودا بنائی چه مرجئه دا وائی چه دایمان دپاره داعمالو څه ضرورت نشته.که اعمال نه وی. نوهم ایمان ته څه نقصان نه رسی.نودا ثابتوی چه دا دعوی غلطه ده.بلکه اعمال فائده رسوی.ځکه چه داعمالو په وجه داهل ایمان په درجاتوکښې تفاضل راځی. هم دا وجه ده.چه د چا اعمال زیات وی.هغه به وړاندې جنت ته داخلیږی.اوکوم مسلمانان چه جهنم ته

---

(۱) عمدة القاری(۱۱/۱۶۸)_

وړواچولى شى.نوپه هغوى كښې به هم هغه كسان وړاندې راويستې شى.دچا اعمال چه زيات وى.(۱)

دغه شان مرجئه وائى.چه داعمالو هډو څه اثرنشته.نه په طاعت باندې څه فائده رسى.اونه په ګناه باندې څه نقصان.نوكه چرته داسې وه.نو بيا داخلق د اعمالو په وجه ولې جهنم ته اچولى شى؟ لكه څنګه چه د باب په روايت كښې ذكردى.

دمرجئو پشان په حديث الباب سره په خوارجو او معتزلو باندې هم رد كيږى.هغه داسې چه د كبائرو د ارتكاب باوجود دوى د دوزخ نه راويستې شى.

حالانكه د خوارجو او معتزلو په نيزمرتكب د كبيرۀ به مخلد فى النار وى.(۲)

يا داونيلى شى.چه امام بخارى رحمه الله دا بيانول غواړى.چه داعمالوپه وجه د اهل ايمان په ايمان كښې تفاوت او تفاضل پيدا كيږى.په دې صورت كښې به «ل» سببيه وى.اومقصد به دا وى.چه په اعمالوكښې په زيادت اونقصان سره په ايمان كښې تفاضل زيادت او نقصان راځى.(۳)

دويم بحث دويم بحث دا دې.چه امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې د حضرت ابو سعيد خدرى رضى الله عنه كوم حديث بيان كړې دې.په دې كښې د «تفاضل فى الايمان»بيان دې.ددې نه نې په «مثقال حبة من خردل من ايمان»سره تعبيركړې دې.په دې كښې د «تفاضل فى الأعمال» ذكرنشته.نو روايت د ترجمة الباب سره مطابق نشو.

ددې جواب دا دې.چه امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب سره دا خودلى دى.چه په حديث كښې د«من خردل من ايمان» كښې دايمان نه مراد اعمال دى.په دې باندې دايمان اطلاق ددې وجې كړې دې.چه په دې باندې دايمان تكميل كيږى.اودايمان نه چه اعمال مراد اخستې شى.نوپه دې باندې هم ددې روايت دويم لفظ قرينه ده.په هغې كښې «من خردل من ايمان»په ځائې «من خردل من خير»راغلى دى.او«خير» وائى.عمل ته.(۴)

دريم بحث دريم بحث دا دې.چه امام بخارى رحمه الله دكتاب الايمان په اول كښې دټولونه وړاندې چه كومه ترجمه منعقد كړې ده.په هغې كښې وو.«باب قول النبى صلى الله عليه وسلم بنى الإسلام على خمس وهو قول وفعل ويزيد وينقص»نوهركله چه امام بخارى رحمه الله دايمان د زيادت اونقصان مسئله بيان كړې ده.نودوباره ددې مسئلې بيانول څو تكراردې؟

---

۱) تقريربخارى (۱۳۲\۱)_
۲) تقريربخارى(ص.۱۳۲)_
۳) عمدة القارى(۱۶۸\۱)_
۴) فتح البارى (۷۳\۱)_

نوددې جواب دا دې چه اولنی ترجمه خو ترجمه جامعه ده اوراروان تراجم د هغې تفصيل اوتوضيح دی.نوپه دې باندې دتکراراشکال نه واردیږی.
دویم جواب دا دې چه امام بخاری رحمه الله هلته «يزيد وينقص» تبعاً ذکر کړې وو.اودلته ئې مستقلاً ذکر کوی.هلته «بنى الإسلام على خمس» حدیث مقصود دې او ترجمة الباب ئې هم د هغې دپاره راوړې وو اودلته زیادت او نقصان بیانول مقصود دی
بعضې دا هم وئیلی دی.چه هلته د زیادت اونقصان تعلق داسلام سره وو. اودلته د زیادت او نقصان تعلق د ایمان سره دې.نوتکرار نشته
څلورم بحث څلورم بحث دا دې چه امام بخاری رحمه الله وړاندې په صفحه ① باندې یوه ترجمه منعقد کړې وه.«باب زيادة الإيمان ونقصانه»اعتراض دا دې چه دهغه باب مقصد هم په ایمان کښې د زیادت او نقصان بیان وو.اوکومه ترجمه چه ئې دلته منعقد کړې ده.نوددې مقصد هم دا دې.نودا خو تکرارشو.
ددې یوجواب دا دې.چه دلته په اعمالوکښې داهل ایمانو تفاوت بیانول مقصود دی.اوهلته امام بخاری رحمه الله خو په ایمان کښې یعنی نفس تصدیق کښې د کمی زیاتی بیان کوی.(١)
دویم جواب دا دې.چه هلته امام بخاری رحمه الله په نفس ایمان کښې د کمی اوزیادت بیان کړې دې.اوپه راروانه ترجمه کښې د مومن به په اعتبارسره د کمی اوزیاتی ثبوت ورکوی.(٢)
خودا جواب صحیح نه معلومیږی.ځکه امام بخاری رحمه الله ترجمه منعقد کړې ده.د «زيادة في الإيمان ونقصانه» چه په ایمان کښې زیادت اونقصان راځی.اودمومن به په اعتبارسره خو زیادت راځی.خونقصان نه راځی.بلکه په کمی سره خو ایمان مفقود کیږی.
چونکه د مومن به نه مراد هغه امور دی.په کوموباندې ایمان راوړلو باندې چه سړې مکلف وی.نود ایمان بالله نه پس مطالبه ده.دایمان بالملائکه.اوبیا ایمان بالرسل اوبیا ایمان بالکتب اوبیا ایمان باليوم الآخراو بیا ایمان بالقدر.نوکه یوکس داسې وی.چه هغه ته اول د ایمان بالله علم وی.او بیا ورته د ایمان بالملائکه علم حاصل شی.نودده په مومن به کښې زیادت راغلو.اوچه بیا ورته د ایمان بالرسل علم اوشو. نوبیا ئې په ایمان نوره اضافه اوشوه اوچا بیا ورته د ایمان الکتب علم اوشو نوپه ایمان کښې ئې نوره اضافه اوشوه.خوکه یوکس په ذکرشوو څیزونوکښې په یوڅیز باندې ایمان پریږدی.نوپه ایمان کښې کمی نه راځی.بلکه ایمان ختمیږی.ځکه چه په کومو څیزونو باندې ایمان راوړل ضروری دی.په هغې کښې که په یوڅیز باندې ایمان پریخودې شی نوټول ایمان ختم شو ځکه چه د ایمان د تحقق دپاره التزام د طاعت ضروری دې یعنی دهغه ټولوڅیزونو تسلیم کول اومنل په کومو چه ایمان راوړل ضروری وی.داسې نه ده چه په بعضو ایمان راوړی اوپه بعضې رانوړی.دا

---

(١) فتح الباری(١٠٣/١) کتاب الإیمان باب زیادة الإیمان ونقصانه)_
(٢) لامع الدراری (٥٩/١)_

خوعين كفردي ﴿أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ﴾ (۱) نوځکه «باب زيادة الإيمان ونقصانه» کښې د مومن به په اعتبارسره په زيادت باندې حمل کول هډو صحيح نه دی.اګرچه بعضې اکابرينو امامانو دا توجيه کړې ده (۲)
دريم جواب دا دې چه چونکه دايمان د زيادت او نقصان مسئله مختلف فيها ده.اوداامام بخاری رحمه الله دا عادت دې چه په کومه مسئله کښې اختلاف وی اوسخت اومشهور وی. اوداامام بخاری رحمه الله رجحان يو طرف ته وی.اوبل طرف خلق زور لګوی اودلائل پيش کوی. نوبيا امام بخاری رحمه الله دخپلې مدعی ثابتولو دپاره مختلفې طريقې اختياروی.اوپه مختلفو ارخونوباندې خپله مدعی ثابتوی .دغه شان ئې دلته په کتاب الايمان کښې مصنف رحمه الله هم دا طريقه اختيارکړې ده.اودا ئې په مختلف انداز سره ثابته کړې ده.چه اعمال په ايمان کښې داخل دی. لکه څنګه چه په کتاب التوحيد کښې دالله تعالی د صفاتو په اثبات کښې کړی دی.اوصفت کلام دپاره ئې ډيرتراجم منعقد کړی دی.په ابواب الخمس کښې امام بخاری رحمه الله د يوې مدعی د ثابتولو دپاره چه په خمس کښې دامام اختيار شته. څلور بابونه قائم کړی دی.نودا دامام بخاری رحمه الله عادت دې چه کومه مسئله مختلف فيها وی.او اختلاف په کښې شديد وی.اود بل دطرف نه هم خپل زور خودلی شی.نوامام بخاری رحمه الله هم خپل زور ښائی.اوچه کوم طرف د دوی په نيز راجح وی.هغه په مختلفوطريقو سره ثابتوی نوپه ايمان کښې د زيادت اونقصان په مختلف فيها مسئله کښې دامام بخاری رحمه الله رائې د زيادت اونقصان دثبوت په حق ده.نوځکه ددې دثبوت دپاره مختلف ابواب ذکرکوی.والله أعلم.

پنځم بحث پنځم بحث دا دې.چه امام بخاری رحمه الله ددې باب لاندې دحضرت ابوسعيد خدری رضی الله عنه حديث ذکرکړې دې.اوکوم باب چه په (ص.۱۱) باندې راځی.يعنی «باب زيادة الإيمان ونقصانه» نوهلته ئې د حضرت انس رضی الله عنه روايت نقل کړې دې.دواړه روايتونه په مضمون کښې مشترک دی.
اولنې سوال دا دې.چه امام بخاری رحمه الله په دواړو باندې جدا جدا ترجمه ولې منعقده کړه.
دويم سوال دا دې.چه امام بخاری رحمه الله دحضرت ابوسعيدخدری رضی الله عنه حديث په دې باب کښې ذکرکړې دې.اوددې الفاظ دا دی.«أخرجوا من كان فى قلبه مثقال حبة من خردل من إيمان» اود حضرت انس رضی الله عنه کوم حديث چه په «باب زيادة الإيمان ونقصانه» کښې راځی نوپه هغې کښې د «وزن شعيرة من خير» او «وزن برة من خير» او «وزن ذرة من خير» الفاظ راغلی دی.او «خير» عمل ته وائی نودحضرت انس رضی الله عنه حديث ددې ترجمې يعنی «باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال» سره

---

(۱) سورة البقرة:۸۵_
(۲) كما جزم بذلک السندی رحمه الله فی حاشيته علی صحيح البخاری انظر(۱\۳۰) واختاره شيخ الهند فی تراجمه أنظر تقريربخاری شريف (۱\۱۴۶)_

مناسب وو.ځکه چه په دې کښې دخیریعنی دعمل ذکردې اوحضرت ابوسعیدخدری رضي الله عنه حدیث د هغه ترجمې سره مناسب وو.کومه چه وړاندې راځي.نوچونکه دحضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه په روایت کښې د ایمان ذکروو.اوپه دې ترجمه کښې هم د ایمان د زیادت او نقصان ذکرشوې دې.نوحضرت امام بخاری رحمه الله دحضرت انس رضي الله عنه حدیث په «باب تفاضل الأعمال» کښې اودحضرت ابوسعیدخدری رضي الله عنه روایت په راروان «باب زیادة الإیمان ونقصانه» کښې ولې ذکرنکړل.

دریم سوال دا دې.چه مصنف رحمه الله په دواړو ځایونوکښې یولفظ اصالةً اوبل تعلیقاً ذکرکړې دې.دحضرت ابوسعیدخدری رضي الله عنه په حدیث کښې ئې د «خردل من خیر» لفظ تعلیقاً راوړې دې.او«من إیمان»ئې په اصل روایت کښې ذکرکړې دې. اودحضرت انس رضي الله عنه په روایت کښې ئې د «من إیمان»لفظ تعلیقاً راوړې دې.او«من خیر»ئې اصالة ذکرکړې دې.

اوس سوال دا دې.چه امام بخاری رحمه الله لره پکار وو.چه دوی دحضرت ابو سعیدخدری رضي الله عنه حدیث کښې د «من خیر»لفظ اصالةً ذکرکړې وو.ځکه چه دخیر نه مراد عمل دې.اوپه ترجمه کښې د اعمالو په اعتبار سره تفاضل بیانولې شی.او «من إیمان»ئې تعلیقاً راوړې وې.دغه شان دحضرت انس رضي الله عنه په روایت کښې ئې «من إیمان» اصالةً راوړې وې.ځکه چه په نفس ایمان کښې زیادت اونقصان بیانول مقصود دی.او«من خیر»ئې تعلیقاً ذکرکړې وو.

حافظ ابن حجر رحمه الله د اولنو دواړوسوالونو دا جواب ورکړې دې.چه په اصل کښې دحضرت ابوسعیدخدری رضي الله عنه اوحضرت انس رضي الله عنه په روایتونوکښې د دواړو خبرو احتمال شته.کیدې شی.چه تفاضل ایمان فی الاعمال مراد وی.اوکیدې شی.چه تصدیق کښې زیادت اونقصان مراد وې.چونکه دواړه احتمالات وو.نومصنف رحمه الله په دواړو احتمالاتوباندې ترجمه قائمه کړه.چونکه دحضرت انس رضي الله عنه په روایت کښې د موزوناتو تفاوت په «شعیرة، برة، ذرة»سره بیان شوې دې.ددې وجې امام بخاری رحمه الله په ایمان قائم بالقلب کښې د کمی اوزیادت د اظهار دپاره «زیادة الإیمان ونقصانه»ترجمه منقعده کړه.اودا ئې اوخودل.چه په تصدیق کښې کمې اوزیادت کیږی. اودحضرت ابوسعیدخدری رضي الله عنه په حدیث کښې تفاوت فی الموزونات نشته.نوځکه ئې په دې باندې د «تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال»ترجمه قائمه کړه.(١)

امام العصرعلامه انورشاه کشمیری رحمه الله فرمائی.چه ددې جواب نه خودا معلومه شوه.چه دحضرت انس رضي الله عنه په روایت باندې ئې د ایمان د زیادت اونقصان ترجمه ولې قائمه کړه.خو ددې خبرې جواب اونه شو.چه دحضرت ابوسعیدخدری رضي الله عنه په روایت باندې ئې د «تفاضل

(١) فتح الباری(١\١٠٣) کتاب الإیمان باب زیادة الإیمان ونقصانه)-

أهل الإيمان فى الأعمال» ترجمه ولې قائمه كړې شوه. (۱)
حضرت شاه صاحب رحمه الله دويم جواب كړې دې چه په اصل كښې دامام بخارى رحمه الله وراندې دحضرت ابوسعيدخدرى رضى الله عنه تفصيلى روايت دې كوم چه امام بخارى رحمه الله په كتاب التوحيدكښې (۲) كړې دې اوامام مسلم په كتاب الايمان كښې تخريج كړې دې (۳) په دغه تفصيلى روايت كښې داعمالوتذكره ده چه خلق به په موقف كښې جمع وى بيا به الله تعالى تجلى اوكړى خلق به په سجده پريوځى پل صراط به اولګولې شى خلق به د هغې نه تيريږى بيا به جنتيان جنت او دوزخيان دوزخ ته داخل شى بيا به جنتيان دخپلو جهنميانو ورونړو په حق كښې الله تعالى ته عرض اوكړى «ربنا كانوا يصومون معنا ويصلون ويحجون فيقال لهم أخرجوا من عرفتم فتحرم صورهم على النار فيخرجون خلقا كثيرا قد أخذت النار إلى نصف ساقيه وإلى ركبتيه ثم يقولون ربنا ما بقى فيها أحد ممن أمرتنا به فيقول ارجعوا فمن وجدتم فى قلبه مثقال دينار من خير فأخرجوه فيخرجون خلقا كثيرا ثم يقولون ربنا لم نذر فيها أحدا ممن أمرتنا ثم يقول ارجعوا فمن وجدتم فى قلبه مثقال نصف دينار من خير فأخرجوه فيخرجون خلقا كثيرا ثم يقولون ربنا لم نذر فيها ممن أمرتنا أحدا ثم يقول ارجعوا فمن وجدتم فى قلبه مثقال ذرة من خير فأخرجوه فيخرجون خلقا كثيرا ثم يقولون ربنا لم نذر فيها خيرا فيقول الله عزوجل شفعت الملائكة وشفع النبيون وشفع المؤمنون ولم يبق إلا أرحم الراحمين فيقبض قبضة من النار فيخرج منها قوما لم يعملوا خيرا قط قد عادوا حمما فيلقيهم فى نهر فى أفواه الجنة يقال له نهر الحياة فيخرجون كما تخرج الحبة فى حميل السيل» (۴) چونكه په دې روايت كښې په اعمالوكښې دتفاوت بيان دې نوځكه امام بخارى رحمه الله دحضرت ابوسعيدخدرى رضى الله عنه په روايت مختصره باندې دتفاوت وتفاضل فى الاعمال باب منعقد كړو. حقيقت دا دې چه دشاه صاحب رحمه الله دا جواب د حافظ ابن حجر رحمه الله دجواب نه اقوى اوارجح دې (۵)
بهرحال چه د دواړو حضراتو جوابونه ملاؤ كړې شى نودا معلوميږى چه دحضرت انس رضى الله عنه په روايت باندې نې ددې وجې د زيادت ونقصان فى الايمان ترجمه قائمه كړه چه په دې كښې دتفاوت فى الايمان ذكردې اودحضرت ابوسعيد خدرى رضى الله عنه په روايت باندې نې د تفاضل فى الاعمال ترجمه ځكه قائمه كړه چه د هغوى په روايت مفصله كښې د اعمالو ذكردې.

---

(۱) فيض البارى(۱/۱۰۰)_
(۲) صحيح بخارى(۲/۱۱۰۷، ۱۱۰۸) كتاب الرد على الجهمية وغيرهم باب قول الله تعالى(وجوه يومئذ ناضرة إلى ربها ناظرة) رقم ۷۴۳۹)_
(۳) صحيح مسلم (۱/۱۰۲، ۱۰۳) كتاب الإيمان باب رؤية المؤمنين فى الآخرة ربهم سبحانه وتعالى)_
(۴)مسلم كتاب الايمان باب معرفة الرؤية)_
(۵) فيض البارى(۱/۱۰۰)_

اوس سوال دا پاتې کيږى.چه امام بخارى رحمه الله داسې ولې اوکړلو.چه د حضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه په روايت کښې ئې «من خردل من إيمان» اصل اوګرځولو .او «من خردل من خير» ئې په متابعت سره ذکرکړلو.اودحضرت انس رضي الله عنه په روايت کښې ئې ددې په عکس باندې ذکرکړل.

ددې جواب دا دې.چه په اصل کښې دحضرت ابوسعيدخدرى رضي الله عنه د تفصيلى روايت نه معلومه شوه.چه په دې کښې دکوم تفاوت ذکردې.دهغې نه تفاوت فى الاعمال مراد دې.نو امام بخارى رحمه الله د «من إيمان» روايت اصل اوګرځولو.اوپه «خردل من خير» سره ئې د هغې شرح اوکړله.اودا ئې اوخودل.چه د «من إيمان» نه مراد «من خير» دې.

يا داسې اووايه.چه داعمالوپه سلسله کښې ئې د «من خير» په ځائې «من إيمان» روايت اصل اوګرځولو.نوپه دې سره امام بخارى رحمه الله د ايمان اوعمل په مينځ کښې مضبوط تعلق ښکاره کول غواړى. اوپه دې کښې د مرجئو زبردست رد دې.ځکه چه دوى د اعمالو د ايمان سره هيڅ تعلق منى نه.اود نبى صلى الله عليه وسلم په نيزتعلق دومره قوى دې.چه نبى صلى الله عليه وسلم په اعمالوباندې د ايمان اطلاق کوى.(١)

اودحضرت انس رضي الله عنه په روايت کښې چونکه تفاوت فى الموزونات نه تفاوت فى نفس الايمان والتصديق مراد دې.نوامام بخارى رحمه الله وړاندې «من خير» روايت ذکرکړلو.اوبيا ئې تعليقاً د «من إيمان» لفظ راوړلو.اوددې شرح ئې اوکړه.(٢)والله سبحانه وتعالى أعلم.

[٢٢] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ(٣) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى أَخْرِجُوا مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَيُخْرَجُونَ مِنْهَا قَدِ اسْوَدُّوا فَيُلْقَوْنَ فِي نَهَرِ الْحَيَا أَوِ الْحَيَاةِ شَكَّ مَالِكٌ فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي جَانِبِ السَّيْلِ أَلَمْ تَرَ أَنَّهَا تَخْرُجُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً قَالَ وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا عَمْرٌو الْحَيَاةِ وَقَالَ خَرْدَلٍ مِنْ خَيْرٍ [٦١٩٢]

---

(١) ايضاح البخارى(٣\٢٨٤. ٢٨٥)_

(٢) فيض البارى(١\١٠٠. ١٠١)_

(٣) هذا الحديث أخرجه البخارى فى كتاب التفسير ،سورة النساء باب (إن الله لا يظلم مثقال ذرة رقم ٤٥٨١ وسورة القلم باب يوم يكشف عن ساق رقم ٤٩١٩ وفى كتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار رقم ٦٥٦٠ و باب الصراط جسر جهنم رقم ٦٥٧٤ وفى كتاب التوحيد باب قول الله (وجوه يومئذ ناضرة إلى ربها ناظرة) رقم٧٤٣٨. ٧٤٣٩ومسلم فى صحيحه فى كتاب الإيمان باب رؤية المؤمنين فى الآخرة ربهم سبحانه وتعالى)

رجال الحديث

①اسماعيل: دوى عبدالله بن اسماعيل بن ابى اويس عبدالله بن عبدالله بن اويس بن مالك بن ابى عامر اصبحى مدنى دى.
دا د امام مالك رحمه الله خورئې دې.دوى دخپل ماما يعنى امام مالك رحمه الله نه او د خپل پلار.او ورور عبدالمجيد ،اوابراهيم بن سعد .سليمان بن بلال.اوددوى نه علاوه د نورو حضراتو نه احاديث اوريدلى دى.
او دوى نه په روايت كونكوكښې امام بخارى ،امام مسلم.امام دارمى رحمهم الله نه علاوه نور حافظان دى.د دوى احاديث امام بخارى.امام مسلم اوابن ماجه په خپلوخپلو كتابونوكښې نقل كړې دى.اوامام نسائى د دوى تضعيف كړې دې . نو ځكه هغوى ددوى نه حديث نه دى اخستې.امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى.((محله الصدق وكان مغفلاً))
دامام يحيى بن معين رحمه الله نه منقول دى.دوى فرمائى.چه اسماعيل او ددوى پلار دواړه ضعيفان دى.ددوى نه دا هم نقل دى.چه ((اسماعيل صدوق ضعيف العقل ليس بذلك)) مطلب دا دې.چه دوى په حديث كښې صحيح تصرف نشى كولې.اونه دخپل كتاب نه علاوه دبل كتاب قراءت اوادا صحيح كولې شى.
ابوالقاسم لالكائى رحمه الله فرمائى.امام نسائى.چه په دې باندې كلام كړې دې. نومبالغه ئې كړې ده.دهغه مبالغې دوجې دوى متروك ګرځول لازميږى.كيدې شى .امام نسائى ته د دوى داسې حالات ښكاره شوى وى.چه هغه نورو ته نه وى ښكاره شوى.ځكه چه د نورو حضراتو د كلام نه صرف دومره معلوميږى.چه دوى ضعيف دى.
بيا دابن معين رحمه الله نه د دوى تعريف هم منقول دې.دغه شان به امام احمد اوامام بخارى رحمهما الله هم د دوى تعريف كولو.(1)
حافظ ابن حجر رحمه الله چه ددوى په باره كښې په تقريب كښې كوم فيصله كن قول ذكركړې دې. هغه دا دې.((صدوق أخطأ فى أحاديث من حفظه))(2)
حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلى دى.چه اسماعيل بن ابى اويس امام بخارى رحمه الله ته خپل روايات وركړل.اودوى ته ئې اوونيل.چه په دې احاديثوكښې چه كوم قابل احتجاج وى.په هغې باندې نښه اولګوه.چه هغه صرف دهغه احاديثو روايت كوى.او د نورو روايت پريږدى.
د دې واقعه نه معلوميږى.چه امام بخارى رحمه الله د دوى كوم احاديث په خپل صحيح كښې نقل كړى دى.هغه منتخب اوصحيح احاديث دى.دغه شان ددې واقعه نه دا خبره هم معلوميږى. چه د صحيح بخارى نه سوا په نورو كومو كتابونو كښې چه ددوى احاديث ذكر

---

(1) عمدة القارى(۱۱\۱۶۹)_
(2) تقريب التهذيب(۱۰۸) رقم الترجمة ۴۶۰_

دى.هغه قابل احتجاج نه دى.ځکه چه امام نسائى او نورو امامانو ﷺ دې ضعيف ګرځولې دې.البته که ددوى متابعت موجود وى. نوقابل احتجاج کيدې شى.(۱)

۳ مـالك:ددوى حالات وړاندې د «باب من الدين الفرار من الفتن» په ضمن کښې تيرشوى دى.

۳ عمروبن يحيى المازني:دوى عمروبن يحيى بن عماره بن ابى حسن المازنى المدنى رحمه الله دى.دخپل پلار نه علاوه د نورو محدثينو نه روايت کوى.اوددوى نه چه چا سماع کړې ده.په هغوى کښې ديحيى بن سعيد انصارى نه علاوه نور تابعين دى.
امام ابوحاتم رازى اوامام نسائى رحمهما الله ددوى توثيق کړې دې.په کال ۱۴۰ﻫ کښې ئې وفات شوى دى.(۲)

۴ يحيى: دوى يحيى بن عماره بن ابى حسن المازنى المدنى دى.دحضرت ابوسعيد خدرى اوحضرت عبدالله بن زيد انصارى رضي الله عنهما نه ئې احاديث اوريدلى دى. او د دوى نه ددوى خوى او امام زهرى رحمه الله احاديث اوريدلى دى.
بعضې حضراتو ددوى پلارحضرت عماره صحابى ګرځولې دې.خو دا صحيح نه ده.بلکه ددوى نيکه حضرت ابوالحسن صحابى رضي الله عنه وو.(۳)

حضرت ابوسعيدخدرى رضي الله عنه: ددوى حالات وړاندې د «باب من الدين الفرار من الفتن» په ضمن کښې تيرشوى دى.

قوله: يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ ثُمَّ يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى أَخْرِجُوا مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ :جنتيان به جنت ته داخل شى.اوجهنميان به جهنم ته داخل شى.بيا به الله تعالى ارشاد اوفرمائى.د چا په زړه کښې چه د اورى د دانې هومره ايمان هم وى. هغه د اور نه راوباسئ. ددې نه معلوميږى.چه اعمال به تللى شى.

داعمالو وزن: دلته داعمالو دوزن مسئله نشته.خوضمناً بيانولې شى.
په دې کښې اختلاف دې.چه اعمال به تللى شى اوکه صحائف؟

دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما (۴) وامام بخارى رحمه الله (۵) رائې دا ده.چه اعمال به تللى شى.حافظ ابن حجر رحمه الله دا د اهل سنت نه نقل کړى دى.(۶)

(۱) هدى السارى(۳۹۱)_
(۲) عمدة القارى(۱۶۹\۱) وتقريب (۴۲۸) رقم ۵۱۳۹)_
(۳) عمدة القارى(۱۶۹\۱) وتقريب (۵۹۴) رقم ۷۶۱۲) وتقريب (۴۰۸) رقم ۴۸۴۲)_
(۴) تفسير کبير(۱۴\۲۵) وتفسير قرطبى (۱۶۶\۷)_
(۵) صحيح بخارى آخرى باب)_
(۶) فتح البارى(۵۳۸\۱۳)_

دحضرت عمر رضي الله عنه نه نقل دى چه اعمال به تللى شى.[1] علامه قرطبى رحمه الله دا قول اختيار كړې دې.[2] اوامام فخرالدين رازى رحمه الله دا قول د عامو مفسرينو رحمهم الله نه نقل كړې دې.[3]
بلكه دوى يو روايت نقل كړې دې په كوم كښې چه د اعمالو د تللو صراحت موجود دې.[4]
دغه شان په سنن ترمذى او مسند احمد كښې يو روايت دې حضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهما فرمائى چه يوكس به د قيامت په ورځ راوستې شى. اودده وړاندې به يوكم سل رجسترې پرانستې شى. هر رجستر به د سترګو دنظر په اندازه لوئې وى. بيا به ده ته اووئيلې شى چه زما فرشتوخو په تا باندې څه ظلم نه دې كړې. آيا په دې كښې داسې څه څيز شته. چه ته ترې انكار كوې. هغه به اووائى .نه. بيا به يوكاغذ راوويستې شى په هغې به كلمه شهادت وى. هغه سړې به اووائى. ددې رجسترو په مقابله كښې به ددې څه وزن وى. خوچه كله هغه كاغذ كيخودې شى. نو په ټولو رجسترو به درنه شى.[5]
اشكال كيدې شى چه د اعمالوصحيفې چه تللى شى. دا خو په ذهن كښې راځى. خواعمال دا خود قبيلې د اعراضو نه دى. ددې د تللو به څه صورت وى؟
په يوه زمانه كښې دا اشكال وو. خونوو تحقيقاتو دا اشكال د جرړې نه اوويستلو. آواز په ټيپ كښې محفوظ كولې شى. شمسى شعاګانې په آلاتوكښې محفوظ كولې شى. ددې پيمائش كولې شى. د حرارت او برودت تول كولې شى. دې ټولوتحقيقات دا اشكال دسرنه ختم كړلو. خوچه په كومه زمانه كښې دا تحقيقات نه وو. په هغه زمانه كښې خلقو دا جواب وركړې وو چه دا اعراض به داجسامو په صورت كښې كړې شى. اوددې نه به جسم جوړ كړې شى. اوبيا به تللى شى.[6]
دريم قول دا دې چه د اعمالو خاوندان به تللى شى.[7]
اوددې دليل په صحيحينو كښې دحضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت دې. «انه ليأتى الرجل العظيم السمين يوم القيامة لايزن عندالله جناح بعوضة»[8]

---

[1] تفسيرقرطبى(۷\۱۶۵)_
[2] المصدرالسابق)_
[3] تفسير كبير(۱٤\۱۶۵)_
[4] سئل رسول الله ﷺ عما يوزن يوم القيامة فقال الصحف . تفسيركبير(۱\۲۵)_
[5] جمع ترمذى كتاب الإيمان باب ما جآء فيمن يموت وهو يشهد أن لا إله إلا الله رقم ۲۳۹) ومسند أحمد (۲\۲۱۳)_
[6] فتح البارى(۱۳\۵۳۹) كتاب التوحيد باب قول الله تعالى: ونضع موازين القسط ليوم القيامة)_
[7] تفسير ابن كثير(۲\۲۰۲) سورة الأعراف آيت ﴿والوزن يومئذالحق﴾_
[8] الصحيح البخارى كتاب التفسير سورة الكهف باب ﴿ أولئک الذين كفروا بآيات ربهم ولقائه فحبطت أعمالهم﴾ رقم ٤۷۲۹) وصحيح مسلم (۱۲\۳۷۰) كتاب صفات المنافقين باب صفة القيامة والجنة والنار)_

دغه شان د نبى ﷺ نه نقل دى ((الرجل أثقل فى الميزان يوم القيامة من أحد))[1]

دغه شان فرمائى ((والذى نفسى بيده لهما(يعنى الساقين) أثقل فى الميزان من أحد))[2]
خودا دواړه روايتونه په خپل ظاهر باندې نه دى محمول د صحيحينو د روايت نه بې قدرى مراده اود دويم روايت نه دحضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه په نيز قدراو منزلت بيان شوې دې حافظ ابن كثير رحمه الله فرمائيلى دى كيدې شى چه د بعضو اعمال تللى شى اود بعضو عمل نامې اوبعضې په خپله تللى شى.[3] والله أعلم.

قوله فَيُخْرَجُونَ مِنْهَا قَدِ اسْوَدُّوا فَيُلْقَوْنَ فِي نَهَرِ الْحَيَا أَوِ الْحَيَاةِ شَكَّ مَالِكٌ فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي جَانِبِ السَّيْلِ أَلَمْ تَرَ أَنَّهَا تَخْرُجُ صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً: بيا به د خلق د جهنم نه راويستې شى دوى به سوزيدلى او تور شوى وى بيا به د باران يعنى ژوند په نهركښې واچولې شى (امام مالك ته شك دې) نو دوى به يا داسې راټوكيږى. لكه څنګه چه تخم د خوړ په غاړه باندې راټوكيږى ولې تاسو نه ګورئ چه څنګه زيړ زيړ راټوكيږى.

((حيا)) بالقصر، ددې معنى باران دې اود حياة معنى ژوند دې باران هم د ژوند سبب وى چه باران اوشى نو په زمكه كښې ژوند پيدا شى انسانانو ته روزى اوغله اوخوراك ملاؤ شى نو د زمكې د ژوند سبب هم دې اود وونو باغونود ژوند سبب هم دې نودغه شان به د انسانانو د ژوند سبب هم وى ددې وجې كه دلته د ((حياة)) لفظ راغلى وى نوځه باك نشته څكه چه دغه نهربه د دې جنهميانود ژوند سبب اوګرځى ددوى بدنونه كوم چه په جهنم كښې د كوئلې پشان سوزيدلى او تور شوى وى په دې نهر كښې د غوزخولو نه پس به په هغې باندې دغوښې اوځرمنې پيدا كيدل شروع شى اودهغوى د بدنونو حالت به ښه شى[4]

راوى وائى چه دا يا ((نهرالحياة)) دې او يا ((نهرالحيا)) دې امام مالك څوك چه دا روايت د عمروبن يحيى مازنى رحمه الله نه نقل كوى دوى ته شك شوې دې چه ((نهرالحيا)) دې اوكه ((نهر الحياة)) دې خو وړاندې امام بخارى رحمه الله د وهيب د روايت حواله وركړې ده هغوى په دغه روايت كښې د عمروبن يحيى مازنى نه د شك نه بغير ((نهرالحياة)) نقل كړې دې

بيا په دې باندې پوهه شئ چه يو ((حبة)) بفتح الحاء دې ددې معنى د عامې دانې ده ددې جمع ((حبّ)) او ((حبوب)) راځى اويو دې ((حبة)) بكسر الحاء[5] ددې ((حبة)) خصوصيت دا دې چه دې ته

---

[1] مسند أحمد(١\١١٤) مسند على بن أبى طالب رضى الله عنه)_
[2] مسند احمد(١\١١٤) مسند عبدالله بن مسعود رضى الله عنه)_
[3] تفسير ابن كثير(٢\٢٠٢) سورة الأعراف آيت «والوزن يومئذ الحق »)_
[4] فتح البارى(١\٧٢)_
[5] عمدة القارى(١\١٧٠)_

لره غونډې موقع ملاؤ شي.اودا چرته اونخلي. اونمي ورته ملاؤ شي.نو سمدستي راټوکيږي.
نو ددې جملې معنی دا شوه چه په روانو اوبوکښې په غاړه باندې چه څنګه دا ځنګلي بوټي راخيژي چه سمدستي راخيژي.نودغه شان به دا خلق هم تروتازه شي. او سمدستي به راټوکيږي.[۵۷۲۷]

قوله قَالَ وُهَيْبٌ حَدَّثَنَا عَمْرٌو الْحَيَاةِ وَقَالَ خَرْدَلٍ مِنْ خَيْرٍ: وهيب:دوی وهيب بن خالد بن عجلان باهلي بصري رحمه الله دی.د ايوبختياني. ابوحازم. سلمه بن دينار. جعفر صدق.منصوربن معتمر.موسی بن عقبه. يحيی بن سعيد انصاري رحمهم الله غونډې حضراتو نه روايت کوی.
او دوی نه چه چا احاديث اوريدلی دی.په هغوی کښې اسماعيل بن عليه. ابوداود طيالسي. يحيی بن سيعدالقطان غونډې د علم ستنې دی.
امام يحيی بن معين دوی لره په دوی بصری مشائخوکښې اهم ترين شماری.

ابوداود طيالسي رحمه الله فرمائي.((حدثنا وهيب وكان ثقة))

امام عجلي رحمه الله دوی لره ((ثقة ثبت)) ګرځوی.

ابوحاتم رحمه الله فرمائي.((ما أنقى حديثه لا تكاد تجده يحدث عن الضعفاء))ونيلی شي.چه دامام شعبي رحمه الله نه پس په رجالوباندې دوی نه زيات بل څوک عالم نه وو.

په کال ۱۶۵ھ يا ۱۶۹ھ کښې وفات شوې دې. رحمه الله رحمة واسعة(۱)
دوهيب دتعليقي روايت فائده مؤلف رحمه الله د وهيب تعليقي روايت ذکرکړو.اوپه دې کښې ئې په دوو خبرو باندې تبيه ورکړه.يوه دا چه وهيب هم دا حديث د عمروبن يحيی نه نقل کړې دې.لکه څنګه چه ئې امام مالك نه نقل کوی.خو مالك ئې په شك سره نقل کوی. اووهيب ئې بغيرد شك نه په ((الحياة))سره نقل کوی.اودا قاعده ده.چه د روايت مشکوکه په مقابله کښې روايت مجزومه راجح وی.

دويمه په دې خبره باندې تنبيه ده.چه د وهيب په روايت کښې ((من خير)) دې.اود مالك په روايت کښې ((من إيمان))دې.اومؤلف رحمه الله د ايمان شرح په خير سره اوکړه.لکه وړاندې چه دې طرف ته اشاره تيره شوې ده.
علامه قسطلاني رحمه الله فرمائي.چه د وهيب دا روايت امام بخاری په کتاب الرقاق کښې موصولا ذکرکړې دې.(۲)دا خبره خو صحيح ده.چه د وهيب روايت په کتاب الرقاق کښې موصولا راځي.خوهلته د وهيب په روايت کښې د ((من خردل من إيمان)) الفاظ دی.د ((من خردل من خير)) الفاظ نه دی.

---

(۱) تهذيب الكمال(۳۱\۱۶۸) رقم الترجمة (۶۷۶۹)_
(۲) ارشاد الساری(۱\۱۰۶)_

حافظ رحمه الله فرمائی چه مؤلف باندې اعتراض شوې دې چه د وهيب روايت كو چه دلته تعليقاً ذكركړې دې نودا ئې د «من خردل» په الفاظو سره ذكركړې دې اوموصولاً چه ئې پخپله كوم روايت نقل كړې دې په هغې كښې د «من ايمان» الفاظ دى.(١)

حافظ رحمه الله فرمائى چه داعتراض څه خبره نشته.ځكه چه ابن ابى شيبه په خپل منصف كښې د وهيب روايت نقل كړې دې په هغې كښې د «من خردل من خير» الفاظ دى.اودلته مصنف رحمه الله تعليقاً هم دغه روايت ته اشاره كړې ده.دكتاب الرقاق روايت ته ئې اشاره نه ده كړې.(٢)

[٢٣] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ عَلَيَّ وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ وَمِنْهَا مَا دُونَ ذَلِكَ وَعُرِضَ عَلَيَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ يَجُرُّهُ قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ الدِّينَ (٣) [٣٤٨٨، ٦٦٠٦، ٦٦٠٧، ٦٦٠٨]

رجال الحديث

① محمدبن عبيدالله: دوى ابوثابت محمدبن عبيدالله بن محمد بن زيدمدنى دى.دوى د آل عثمان مولى وو.د لويو محدثينو نه ئې داحاديثو سماع كړې ده.اود دوى دامام بخارى رحمه الله لويو محدثينو روايات اخستى دى.(٤)

حافظ رحمه الله دوى ثقه ګرځولى دى.(٥)

② ابراهيم بن سعد: دوى ابواسحاق ابراهيم بن سعدبن ابراهيم بن عبدالرحمن بن عوف زهرى مدنى نزيل بالغداد دى.په ١١٠ھ كښې پيدا شوى وو.دخپل پلار ،امام زهرى،هشام بن عروه وغيره رحمهم الله نه ئې احاديث اوريدلى دى.اود دوى نه امام شعبه،عبدالرحمن بن

---

(١) صحيح بخارى كتاب الرقاق باب صفة الجنة والنار رقم (٦٥٦٠)_

(٢) فتح البارى(٧٣\١)_

(٣) هذا الحديث أخرجه البخارى ههن وفى كتاب فضائل الصحابة باب مناقب عمربن الخطاب رضي الله عنه رقم ٣٦٩١ وفى كتاب التعبير باب القميص فى المنام رقم ٧٠٠٨ وباب جر القميص رقم ٧٠٠٩ ومسلم فى صحيحه (٢٧٤\٢) كتاب الفضائل باب من فضائل عمر رضي الله عنه والنسائى فى سننه (٢٦٩\٢) كتاب الإيمان وشرائعه باب زيادة الإيمان ونقصانه والترمذى فى جامعه فى كتاب الرؤيا باب فى رؤيا النبى صلى الله عليه وسلم اللبن والقميص رقم ٢٢٨٥ . ٢٢٨٦)_

(٤) عمدة القارى(١٧٣\١.) وتقريب (٤٩٤) رقم الترجمة (٦١١٠)_

(٥) تقريب التهذيب (٤٩٤) رقم الترجمة (٦١١٠)_

مهدی وغیره رحمهم الله د یرومحدثینو رحمهم الله روایت کړې دې
امام احمد رحمه الله فرمائی «ثقة حجة تكلم فيه بلا قادح»
بغداد ته ئې تشریف اوړې وو هلته د هارون الرشید دطرفه د بیت المال نګران پاتې شوې وو په کال ۱۸۳ه یا ۱۸۵ه کښې وفات شوې وو
د دوی پلار سعدبن ابراهیم د تابعینوځنې وو اوپه مدینه کښې قاضی پاتې شوې وو رحمهما الله رحمة واسعة.(١)

④ صالح: ددوی ابومحمد یا ابوالحارث صالح بن کیسان مدنی دی.(٢)
په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې ورته د حضرت عبدالله بن زبیر، حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهم د لیدلوسعادت حاصل دې بلکه یحیی بن معین رحمه الله فرمائی چه ددې دواړو نه ورته سماع هم حاصله ده.(٣)

ددوی په ثقاهت او جلالت شان باندې اتفاق دې.(٤)
علامه عینی رحمه الله فرمائی چه دوی د طلب علم شروع د لس کم سل کالو په عمر کښې کړې وه او د یو سل شپتو کالو په عمر کښې وفات شوی وی.(٥)
امام حاکم رحمه الله فرمائی چه د اویا کالو په عمر کښې دوی د علم طلب شروع کړې وو د امام زهری رحمه الله نه ئې د نوی کالو په عمر کښې احادیث اوریدلی دی. او د یو سل شپتو کالو نه په زیات عمر کښې د دوی وفات شوې دې.(٦)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی که رته د امام حاکم خبره اومنلې شی نو بیا دوی په خوانانو صحابو رضی الله عنهم کښې ګنړل پکار دی ځکه چه دوی مدنی وو اودا هم منل پکار دی چه د نبی صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت کښې به د دوی عمر د دیرشو کالو نه زیات وو اود حاکم د قول مطابق که دوی د اویا الو په عمر کښې د علم طلب شروع کړې وی نودا منل به پکار وی چه ددې نه پس دوی تقریباً د نوی کالو نه زیات ژوندې پاتې شوې دې په دې صورت کښې خو به دوی د حضرت سعد بن ابی وقاص او حضرت عائشې رضی الله عنها نه احادیثو اوریدونکو کښې وو ځکه چه د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه وفات په ۵۵ه کښې او د حضرت عائشې رضی الله عنها وفات په ۵۹ه کښې شوې دې اود دوی وفات د ۱۴۰ه نه پس د ۱۶۰ کالو نه په زیات عمر کښې شوې وو که وفات په ۱۴۰ه کښې او عمر ۱۶۰ کاله هم اومنلې

(١) عمدة القاري(١٧٣\١) وتقريب (٨٩) رقم (١٧٧)_
(٢) عمدة القاري(١٧٣\١) وتقريب (٢٧٣) رقم (٢٨٨٤)_
(٣) تهذيب الكمال (٧٩\١٣) رقم (٢٨٣٤)_
(٤) عمدة القاري (١٧٣\١) وتهذيب الكمال (٨١\١٣-٨٢)_
(٥) عمدة (١٧٣\١)_
(٦) تهذيب الكمال (١٣ج٨٣) وسير أعلام النبلاء (٤٥٦\٥)_

شي نو سن هجري او عمر كښي د ۲۰ كالو فرق دې.سن هجرى كمه ده.او عمر دې نه ۲۰ كاله زيات دې ن كه دوى د ۷۰ كالو په عمر كښې د علم طلب شروع كړې وى.نو د شلو كالو د فرق په چه به دوى پكاردہ چه په ۵۰ھ كښې وو.او وفات ئې چونكه د ۱۶۰ كالو په عمر كښې ۱۴۰ ھ كښې شوې دې.نو دا هم لازميږى.چه چه دوى به د ۱۵۰ هنه پس ۹۰ كاله ژوندى وو.ددې ذكرشوى حساب مطابق به په ۱۰ھ كښې چه دهغې نه څومياشتې وړاندې نبى ﷺ وفات شوې وو.به د دوى عمر ۳۰ كاله وو.نو د حاكم خبره صحيح نه ده.()

په ۱۴۰ھ كښې وفات شوى وو.()

④ ابن شهاب: دوى محمد بن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب زهرى(متوفى ۱۲۳ھ) دى. ددوى

حالات په((بدالوحى))كښې د دريم حديث په ضمن كښې تيرشوى دى.

⑤ ابوامامه بن سهل: دوى ابوامامه اسعدبن سهل بن حنيف دى.دوى د ليدلو په اعتبارسره صحابى وو.البته د نبى ﷺ نه د دوى براه راست روايت نه دې شوې.بلكه دوى د حضرات صحابه كرام ﷺ په واسطه سره روايت كوى.په كال ۱۰۰ھ كښې د دوه پنځوس كالو په عمر كښې وفات شوې وو ﷺ ()

⑥ حضرت ابوسعيد خدري رحمه الله: ددوى الات په ((باب من الدين الفرر من الفتن))لاندې تيرشوى دى.

قوله: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُونَ عَلَيَّ وَعَلَيْهِمْ قُمُصٌ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ وَمِنْهَا مَا دُونَ ذٰلِكَ وَعُرِضَ عَلَيَّ عُمَرُبْنُ الْخَطَّابِ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ يَجُرُّهُ قَالُوا فَمَا أَوَّلْتَ ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ الدِّينَ:

رسول الله ﷺ فرمائى.چه يوځل زه اوده وو.ما په خوب كښې خلق وليدل.چه هغى ماته مخامخ راوستې شى.او دوى قميصونه اچولى دى په دې كښې بعضې قميصونه تر سينو پورې دى او بعضې د دې نه كم دى او عمربن الخطاب ﷺ ماته راوستې شو.دده داسې قميص وو چه هغه ده په خان پسې رابنكل (يعنى ديربنكته وو)صحابو ﷺ تپوس اوكړو. يارسول الله تاسو د دې څه تعبير كوئ نو نبى ﷺ اوفرمائيل دين.

) سير أعلام النبلاء (۴۵۶/۵)_

) المصدر السابق)_

) المصدر السابق)_

نبی کریم ﷺ دلته په خوب کښې د قمیص لیدو تعبیر په دین سره بیان کړې دې.کیدې شی.
چه دا نبی ﷺ د قرآن کریم نه استنباط کړې وی.په قران پاك کښې دی.﴿ وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ﴾[١]
لکه څنګه چه د ظاهری لباس په ذریعه انسان د بې شرمئ او عریانئ نه بچ کیږی.د یخنئ او
ګرمئ نه محفوظ وی.دغه شان د دین لباس هم هر قسم حفاظت کوی. اولکه څنګه چه
ظاهری لباس پټونکې دې.دغه شان تقوی او دین د ټولو بې حیاګانو. فحشاء او کمزوریانو
دپاره پرده ده.خلاصه دا چه لکه څنګه انسان د قمیص په ذرعه بدن د ګرمئ او یخنئ نه
محفوظ ساتی.دغه شان ددین په ذریعه ددنیا اود آخرت د مکروهاتو نه محفوظ اوسیږی.[٢]
دلته د دین نه مراد اعمال دی.ددې معنی په اعتبار سره دا روایت د ترجمة الباب سره
مطابق دې.چه د قمیص تعبیر دین دې.ناو د دین نه مراد اعمال دی نو په قمیصونوکښې
خلق مختلف المراتب لیدل ددوی په اعمالوکښې په مختلف المراتب کیدو باندې دلیل
دې.[٣]په اعمالو کښې د تفاوت په سبب د اهل ایمان په درجاتوکښې تفاوت ښائی.چه د
اعمالو د ایمان سره ژور تعلق دې.نو د مرجئو خیال غلط شو.چه نه طاعت فائده رسوی.
اونه معصیت نقصانی دې.والله سبحانه أعلم.

بینا: دا لفظ په اصل کښې «بین»دې.په آخر کښې الف او کله «ما»زیاته شی.او«بینهما»
ونیلې شی.اودا د ظروف زمان څنی دې.
په اصل کښې «بین»اوختونو طرف ته مضاف کیږی.دا مضاف حذف کړی.او ددې په عوض
کښې «الف»یا «ما»راوړی.نوددې اعراب د ظرف زمان وی.[٤]
قمص: دا د قمیص جمع ده.
«ثدی»د ثاء په ضمه دال په کسره او یائې مشدده سره د «ثدی»جمع ده. «ثدی»«بکسر الثاء
المثلثة»هم مع راځی.د «ثدی»لفظ مذکر هم استعمالیږی.او مونث هم.[٥]
بیا د «ثدی»لفظ صرف ښځو پورې خاص دې.او که په سړو باندې هم ددې اطلاق کیږی.
په دې کښې اختلاف دې.د بعضې حضراتو دا وینا ده.چه د «ثدی»د ښځو پورې خاص
دې.اود سړو دپاره د «ثندوة»لفظ استعمالیږی.او د نورو حضراتو وینا ده.چه د «ثدی»لفظ
مشتر دې.په سړی او ښځه دواړو باندې د دې اطلاق کیږی.د حدیث باب نه په ظاهره هم

---

[١] الأعراف (٢٦)_
[٢] درس بخاری (١٩٦\١)_
[٣] فتح الباری(٧٤\١)_
[٤] معجم النحو (٩١. ٩٢)_
[٥] مختار الصحاح)_

ددوى تائيد كيږى اګرچه ونيلې شى چه دلته د سرو دپاره مجازاً د ((ثدى)) د لفظ استعمال شوې دې ()

يوه شبه او د هغې جواب دلته چونكه په حديث كښې د حضرت عمر رضي الله عنه فضيلت بيان شوې دې او د دوى دين كامل بلكه اكمل خودلې شوې دې په دې سره دې چاته دا شبه نه كيږى چه د دوى مقام او مرتبه د حضرت صديق اكبر رضي الله عنه نه هم اوچته شوه

ددې نه جواب دا دې چه دلته نبى ﷺ صرف د درې قسمه خلقو ذكر كړې دې يعنى ((منها مايبلغ الثدى ومنها ما دون ذلك)) او د حضرت عمر رضي الله عنه كيفيت ئې په ((وعليه قميص يجره)) سره ذكر كړې دې دلته د نبى ﷺ مقصود حصر نه دې خكه چه بنكاره ده مسلمانان صرف په درې قسمه نه وى بلكه د اختصار په وجه نبى ﷺ د مثال په طور يا د څه بل مصلحت په وجه صرف د دريو ذكر اوكړو ()

يا اختراض خو به په هغه وخت كښې صحيح وو چه حضرت صديق اكبر رضي الله عنه هم خودلې شوې وو او د هغوى قميص د حضرت عمر رضي الله عنه د قميص نه كم وو

يو جواب دا هم وركړې شوې دې چه حضرت عمر رضي الله عنه په كوم مقام او كومه مرتبه كښې خودلې شوې دې دغه مقام صرف د هغوى دپاره خاص شوې نه ده چه ګنى هغه سره به په دغه مرتبه كښې څوك شريك نه وى ()

يوجواب دا هم دې چه د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه په افضليت باندې د اهل سن والجماعت اجماع ده اودا دليل قطعى دې ()نوپه خبر واحد باندې به اجماع ته ترجيح وى.

دا هم ونيلې شوى دى چه حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ته فضيلت كلى حاصل وو كه د دې سره په جزئى فضائلو كښې چاته څه امتياز حاصل وى نودا د حضرت ابوبكرد افضليت سره څه منافى نه ده.

دلته هم د حضرت عمر رضي الله عنه يو جزئى فضيلت بيان شوې دې بيشكه د حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه دا فضيلت د پسخيدو لائق دې اوكه په دې كښې ورته حضرت ابوبكرصديق هم اوپسخيږى نو څه قباحت په كښې نشته

ګورئ په حديث كښې راغلى دى چه د قيامت په ورځ به درې قسمه خلق د مشكو په ډيرو باندې وى د دوى به دا حالت وى چه اولين او آخرين به هغوى ته پسخيږى يوبه په هغوى كښې مروذن وى څوك چه په شپه او ورځ كښې پنځه وخته خلق مانځه طرف ته رابلى دويم هغه امام چه خلق ترې خوشحاله وى او دريم هغه كس چه غلام وى دخپل رب حق هم ادا

) مجمع بحار الأنوار(۱\۲۸۵) وفتح البارى(۱\۷٤)_
) مجمع بحار الأنوار(۱\۲۸۵)_
) المصدرالسابق)_
) عمدة القارى(۱۰\۱۷۵)_

كوى او د خپل مالك حق هم پوره كوى.(١)

په دې حديث كښې اوګورئ چه چرته د موذن مرتبه او چرته د اولين او آخرين .چه ددې په عموم كښې انبياء.صديقين.او شهداء، هم داخل دى نو په وړته پسخيږى آيا ددې معنى به دا وى چه موذنين د انبياؤ اوصديقينو نه هم افضل دى نه بلكه دا د مؤذنينو يو جزئى فضيلت دې او حضرات انبياؤ عليهم السلام ته كلى فضيلت حاصل دې دغه شان حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ته كلى فضيلت حاصل دې.

چونكه حضرت عمر رضي الله عنه ته د خلافت د فرائضو پوره كولو يوه اوږده زمانه په لاس رغلې وه.ددې په وجه د حضرت عمر رضي الله عنه په اعمالو كښې زيادت راغلو او د هغوى د كوششونو په نتيجه كښې اسلام ته ډير عزت ملاؤ شو.اود كافرانو ملا ماته شوه.د هغوى حوصلې اوبيللې.نوځكه د حضرت عمر رضي الله عنه دا فضيلت جزئى فضيلت دې په دې سره د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه مرتبه نه كميږى.يوخو ددې وجې چه حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ته كوم فضيلت حاصل دې.هغه په تواتر سره ثابت دې.اود حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه دا فضيلت خبر واحد دې.د متواترمقابله خبر واحد چرته كولې شى؟(٢)

دويمه خبره دا هم ده.چه كله نبى ﷺ وفات شو.په هغه وخت كښې د حضرت اسامه د لښكر روانولوپه باره كښې اختلاف پيدا شو.تولو دا ونيل.چه نبى ﷺ اوس اوس وفات شوې دې.حالات ډير نازك دى.په داسې موقع دومره لوئې لښكر ليږل خپل ځان دپاره خطروته دعوت وركول دى.دا لښكر دې روان نكړې شى.په دغه موقعه حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه وو.چه دوى افرمائيل.دا نشى كيدې.چه رسول الله ﷺ په خپله يو لښكر روان كړې وى.او هغې ته ئې په خپله ترتيب وركړې وى.اود هغې طرف نبى ﷺ پخپله مقرر كړې وى.هغه دغه طرف ته روان نكړې شى.ددې مطلب خو به دا وى.چه زمونږ دشمنان به دا اوګنړى چه د محمد ﷺ نه پس د هغه ملګرى كم همته شول.په دوى كښې بزدلى پيدا شوه.اوس دوى د خپل پيغمبر ﷺ په فيصله باندې عمل كولوكښې شك كوى.دا خبره مونږ نشو برداشت كولې.چه دشمن ته د داسې سوچ موقع وركړو.ددې وجې دا لښكر په هر صورت كښې روانول پكار دى.اوحضرت ابوبكر رضي الله عنه هغه لښكر روان كړل.يقينى خبره ده.چه په دشمنانو ددې ډير لوئې اثر اوشو.اوهغوى په دې پوهه شو.چه د مسلمانانود پيغمبر ﷺ دوفات نه پس په دوى كښې څه كم همتى نه ده پيدا شوې.(٣)

دغه شان كله چه نبى ﷺ وفات شو.نو استقامت چا خودلې وو؟د حضرت عمر رضي الله عنه غوندې بهادر شخصيت دا حال وو.چه هغوى توره په لاس ولاړ وو او دا ئې ونيل چه چا ډااوونيل.چه محمد ﷺ وفات شو.نو د هغه څټ به قلم كولې شى.خو حقيقت دادې.چه د كومو ثابت

---

(١) امع ترمذى كتاب صفة الجنة باب (بدون ترجمة) بعد باب ما جآء فى كلام الحور العين رقم ٢٥٦٦)_

(٢) عمدة القارى(١١/١٧٥)_

(٣) البداية والنهاية (٦/٣٠٤، ٣٠٥) فى تنفيذ جيش أسامة بن زيد رضي الله عنهما)_

قدمي ثبوت حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه وركړو هغه بل چاته نه وو كړي. راغلو د نبي ﷺ د وفات اعلان ئې اوكړو او وې فرمائيل «من كان منكم يعبد محمداً فإن محمداً قد مات ومن كان منكم يعبد الله فإن الله حي لا يموت»(١) په تولو صحابوﷺ كښې سكون پيدا شو.او ددې مسئلې په باره كښې چه په هغوى كښې كومه پريشاني وه.هغه پورته شوه(٢)

په كوم وخت كښې چه د منكرينو زكاة مسئله پيدا شو.نو حضرت عمربن خطاب رضي الله عنه حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته عرض اوكړو.«يا خليفة رسول الله ﷺ تألف الناس وارفق بهم» په دې باندې حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه چه كوم جواب وركړې دې «أجبار في الجاهلية وخوار في الإسلام إنه قد إنقطع الوحي وتم الدين أينقص وأنا حي؟» د حضرت ابوبكر رضي الله عنه دا عزم اودا حوصله د دوى د كلي فضيلت دليل دې.ددې وجې به حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت ابوبكرصديق «ليلة الغار» او «يوم الردة» يادوله.او دا آرزو به ئې كوله.كاش چه زما د ټول عمر اعمال د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه د يوې ورځې او يوې شپې عمل ته اورسي.(٣)

دصلح حديبيه په موقع حضرت عمر رضي الله عنه ته د صلحې په وجه څومره پريشاني وى.اونبى ﷺ څمره په څړه سينه هغه صلح كړې وه.او نبى څورمه په وضاحت سره دا پيژندل.چه چه دا صلحه كومه چه په ظاهره ټيټيدل دى.هم دا به په حقيقت كښې د دين دترقئ او عروج سبب جوړيږى.حضرت عمر رضي الله عنه نبى كريم ﷺ ته ورغلو. اود خپلې پريشانئ اظهارئې ورته اوكړو. او بيا حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ته ورغلو .او د خپلې پريشانئ اظهار ئې ورته اوكړو.نو حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه ورته هم هغه جوابونه وركړل.كوم چه ورته نبى ﷺ وركړى وو.(٤)

خلاصه دا چه دحضرت عمر رضي الله عنه د فضيلت كوم ذكر چه دلته راغلې دې.په دې سره د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه فضيلت نه متاثره كيږى.دا فضيلت جزئى دې.اود حضرت ابوبكر رضي الله عنه فضيلت كلي دې .والله أعلم وعلمه أتم وأحكم.

۱۴=باب الحياء من الإيمان

دما قبل سره ربط ددې نه وړاندې باب كښې د «تفاضل إيمان في الأعمال» بيان وو.په دې باب كښې هم ددې څيز بيان كولې شى په كوم سره چه په ايمان كښې زيادت پيدا كيږى.او هغه حيا ده.(٥)

(١) صحيح بخارى (١٢٠\٦٤) كتاب المغازى باب مرض النبى ﷺ ووفاته)_
(٢) المصدر السابق)_
(٣) مشكاة المصابيح (٥٥٦\٢)كتاب المناقب باب مناقب أبى بكر رضي الله عنه الفصل الثالث)
(٤) صحيح بخارى(٣٨٠\١١) كتاب الشروط باب الشروط فى الجهاد والمصالحة مع أهل الحرب)_
(٥) صحيح بخارى (٣٨٠\١١) كتاب الشروط باب الشروط فى الجهاد والمصالحة مع أهل الحرب)_

د ترجمة مقصد امام بخارى رحمه الله دا ښائى چه اعمال د جوارحو خو د ايمان جزء دي.چه دې خو حيا هم كوم چه د زړه فعل دي.دا هم د ايمان جزء دي.او هركله چه دا دايمان جزء دې نو ثابته شوهچه ايمان مركب دي.او چه دا مركب شو نو قابل دپاره د زيادت او نقصان هم شو امام بخارى رحمه الله ((من))تبعيضيه ګرځولې دې.

مونږ چه دلته ايمان مركب نه منو.وايو چه ((من))دلته ابتدائيه دې چه حياء دايمان نه پيدا كيږى دا د ايمان ثمره او فرع ده.دې ته جزء ونيل صحيح نه دى.يا داسې ونيلې شو.چه حياء د كامل ايمان جزء دې.اود ايمان كامل په تركيب كښې زمونږ هم څه اختلاف نشته.دغه شان په دواړو صورتونو كښې د مرجئو ترديد ښكاره دې.والله أعلم

[۲۳]حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنْ الْأَنْصَارِ وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ فَإِنَّ الْحَيَاءَ مِنْ الْإِيمَانِ()[۵۷۶۷]

رجال الحديث

① <u>عبدالله بن يوسف:</u> دوى عبدالله بن يوسف تنيسى دى.د دوى حالات د ((بدء الوحى))د دويم حديث په ضمن كښې تيرشوى دى.

② <u>مالك بن انس:</u>د امام مالك رحمه الله حالات د ((باب من الدين الفرار من الفتن))د لاندې تيرشوى دى.

③ <u>ابن شهاب:</u>دوى محمد بن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب زهرى رحمه الله دى. د دوى حالات د ((بدء الوحى))د دريم حديث لاندې تيرشوى دى.

④ <u>سالم بن عبدالله:</u>دوى ابوعمريا ابوعبدالله سالم بن عبدالله بن عمربن الخطاب قرشى عدوى مدنى دى.جليل القدر تابعى او د مدينې منورې په اووه مشهورو فقهاو كښې يو دې.

دخپل پلار حضرت ابوايوب انصارى،حضرت رافع بن خديج،حضرت ابوهريره، حضرت عائشې رضي الله عنها نه ئې احاديث اوريدلى دى.ددوى نه علاوه د تابعينو رحمهم الله نه ئې هم احاديث

) الحديث أخرجه البخارى فى كتاب الدب أنضا باب الحياء رقم ۶۱۸۱ ومسلم فى صحيحه فى كتاب الإيمان باب بيان عدد شعب الإيمان والنسائى فى سننه فى كتاب الإيمان و شرائعه باب الحياء وأبوداود فى سننه فى كتاب الأدب باب فى الحياء رقم ۴۷۹۵ والترمذى فى جامعه فى كتاب الإيمان باب ما جآء أن الحياء من الإيمان رقم ۲۶۱۵ وابن ماجه فى المقدمة باب فى الإيمان رقم ۵۸)_

اخستي دی اود دوی نه په روایت کونکو کښې هم ډیر تابعین دی. لکه عمروبن دینار، نافع مولی ابن عمر، زهری، موسی بن عقبه، حمیدالطویل، عبیدالله العمری او صالحبن کیسان رحمهم الله وغیره

د دوی په جلالات شان، امامت، زهد او علومرتبه باندې اتفاق دې حضرت سعید بن المسیب رحمه الله فرمائی چه د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما سره د ټولو نه زیات مشابه د دوی خوئې حضرت سالم وو او د حضرت عمر رضی الله عنه سره مشابه د دوی خوئې حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وو

د امام اسحاق بن راهویه رحمه الله په نیز «الزهری عن سالم عن أبیه» اصح الاسانید دې.

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به د خپل خوئې سره ډیر محبت کولو ترديې چه خلقو به دوی په دې باندې ملامته کولو چه په لاره کښې به ئې ورسره کله ملاقات اوشو نوحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به خپل خوئې ښکلولو . اوفرمائیل به ئې «ألا تعجبون من شیخ یقبل شیخاً»

د ۱۰۶ هـ په آخر کښې په مدینه منوره کښې وفات شو. رحمه الله رحمة واسعة(۱)

قوله <u>أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنْ الْأَنْصَارِ وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ</u>: نبی کریم ﷺ د انصارو نه د یوکس په خوا کښې تیر شو. هغه خپل ورور ته د حیا په وجه نصیحت کولو.

دا انصاری کس او د دوی ورور څوک وو. ددوی نوم معلوم نه دې. حافظ رحمه الله فرمائی «ولم أعرف أسم هذین الرجلین الواعظ وأخیه»(۲)

انصاری صحابی رضی الله عنه خپل ورور ته نصیحت کولو چه دومره زیاته حیا مکوه. څك چه ته داسې حیا کوې .نوبه دې کښې به تاته تاوان وی.

هم دا روایات وراندې په کتاب الادب کښې په باب الحیاء کښې د احمد بن یونس په سند سره راځی. هلته د «وهو یعظ أخاه» په ځائې «وهو یعاتب أخاه» الفاظ راغلی دی. کیدې شی چه عتاب ئې هم کړې وی او نصحیت ئې ورته هم کړې وی. بعضې راویانو وعظ او نصیحت ذکرکړې دې او بعضو عتاب ذکرکړې دې. خو چونکه د حدیث مخرج یو دې ددې وجې اقرب هم دا معلومیږی چه د د روایانو د تعبیر اختلاف دې. څوك چه پرې ځنګه پوهه شوې دی نو هغه هم هغه شان تعبیر کړې دې بعضو دا ګڼړلی دی چه وعظ او نصیحت مقصود وو. نوځك هغه د «یعظ» لفظ ذکر کړې دې او بعضو دا ګڼړلی دی چه ملامته کوی ئې نو هغه «یعاتب» نقل کړی دی.(۳)

---

(۱) تهذیب الأسماء واللغات (۱\۲۰۷، ۲۰۸) وعمدة القاری (۱\۱۷۵) وتقریب التهذیب (۲۲۶) رقم ۲۱۷۶)_

(۲) فتح الباری (۱\۷٤)_

(۳) المصدرالسابق)_

قوله فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهُ فَإِنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الْإِيمَانِ:

نبي كريم ﷺ اوفرمائيل دې پريږده خکه چه حيا خو د ايمان يوه شعبه ده.
داسې معلوميږي چا چه نصيحت كول او ملامتيا كوله هغه په حياء باندې عالم نه وو.
هغه نه په ديني اعتبارسره د حياء علم نه وو. چې په حياء كولوكښې صورة انسان خپل حق پريږدی خوپه حقيقت كښې دده په دې كښې ډيره فائده وی. خكه چه په دې سره د ايمان په شعبه كښې ترقي كيږي.دا يوهمسلمه قاعده ده.چه كوم انساني جوهر زيات استعماليږي. په هې كښې طاقت پيدا كيږي.گورئ كه يوكس په خپل لاس سره د تولو نه زيات كار كوی نوپه دې جوهر كښې به قوت پيدا شي.

د حياء په باره كښې تفصيلي كلام وړاندې د «باب أمور الإيمان» لاندې تير شوې دې دلته دومره خبره نوره هم زده كړه.چه په حديث كښې دی.«إن مما أدرك الناس من كلام النبوة إذا لم تستحي فافعل ما شئت»اوپه يو روايت كښې دی.«فاصنع ما شئت»(۱)
عالمان فرمائي چه ددې مطلب دا دې.چه د حياء په استحسان باندې د تولو انبياء عليهم السلام اجماع پاتې شوې ده.حيا يو داسې څيز دې.چه عقل هم ددې د حسن اقرار كړې دې.اوددې اهميت دومره دې.چه كله هم ددې حكم نه دې منسوخ شوی.
زمونږ استاذ محترم شيخ الادب والفقه حضرت مولانا اعزاز علي ﷫ د چا چه زه ډير ممنون او احسان مند يم اودخپلې كم پوهئ او غفلت باوجود چه د هغوی نه ما كوم خير كثر حاصل كړې دې.د هغې اعتراف لازمي دی.هغوی به په دې حديث كښې د نكتۀ په طور باندې فرمائيل.مولی صاب! دا امر د وجوب دپاره دې.كله چه په تاسو كښې بې حيائی راشي.نو بيا به تباهيانې شروع كيدل ضروري شي.دا خود حضرت مولانا د نكتې يوه خبره وه.او يقيني ن ده.چه حالات او واقعات ددې تائيد كوی.
خو عالمانو ليكلي دی.چه دلته انشاء په معنی د خبر كښې ده.او معنی دا ده. كه تاسو حيا نه كوئ.نو بيا به خپله خوښه كوئ.(۲)
يو شاعر دې معنی طرف ته اشاره كړې ده.

إذا لم تخش عاقبة الليالى	ولم تستحى فاصنع ما تشاء
فلا والله ما فى العيش خير	ولا الدنيا إذا ذهب الحياء
يعيش المرأ ما استحياء بخير	و يبقى العود ما بقى اللحاء

يعنی كه ته د شپو د انجام نه نه ويريږې.اوتاته شرم نه درځي.يعنی كه د شپې په تيرو كښې

---

(۱) صحيح بخاری كتاب الأنبياء باب (بلا ترمة بعد باب حديث الغار) رقم ۳٤۸۳) و ۳٤۸٤) وكتاب الأدب باب إذا لم تستحي فاصنع ما شئت رقم ۶۱۲۰)_
(۲) التمهيد لما فی الموطا من المعاني والأسانيد (۲۰\۱۲۰)_

ته د غلطو كارونو د انجام نه نه ويريږي.او و ستا نه حيا لاړه شي.نو بيا چه دې څه خوښه وي هغه كوه.په الله قسم په هغه ژوند كښې څه خير نشته.په كوم كښې چه حيا نه وي.او په هغه دنيا كښې څه خير نشته.چه حيا تلې وي.ترڅو چه سړې شرم كو.نو هغه به د خيريت ژوند تيروي.اودا يو حقيقت دې.چه د خاښ ژوند تر هغه وخته پورې وي.ترڅو چه په دې باندې پوستكې وي.

١٥ = بَابٌ فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه لفظ د ((باب)) روايۃ منون دې.په دې صورت كښې به تقدير دا وى.((باب فى تفسير قوله تعالى..))او اضافت هم صحيح دې.يعنى ((باب تفسير قوله تعالى..))(١)

علامه عينى رحمه الله فرمائى.چه په باب باندې څه اعراب نه وى.بلكه دا به مبنى برسكون وى.((كتعديد الأسماء من غير تركيب)) هغوى خو اول ددې نه انكاركړې دې.چه دا روايۃ منون دې.دويم هغوى فرمائى كه د روايت او درايت نه خلاف وى .نوداسې روايت مقبول نه وى.خو دومره ده.كه په كلام نبوت كښې داسې څه څيز واقع شى.نود درايت مطابق به په كښې تاويل كولې شى.(٢)

علامه عينى رحمه الله په دې خبره هم اعتراض كوى.چه حافظ رحمه الله تقدير ((باب فى تفسير قوله تعالى))يا ((باب تفسير قوله تعالى)) راويستې دې.علامه عينى رحمه الله فرمائى.چه دا حديث ددې آيت تفسير نشى كيدې.څكه چه اول خو دا كتاب التفسير نه دې.چه امام بخارى رحمه الله د آيت تفسير بيانول غواړى.بلكه دلته خو امام بخارى رحمه الله په مرجؤ باندې رد كول غواړى.څوك چه اعمالو ته هيڅ اهميت نه وركوى.دويمه دا چه ددې آيت په باره كښې د حضرت انس رضى الله عنه روايت دې رضى الله عنه.چه دا آيت ((آخر ما نزل من القرآن)) دې.اوپه دې كښې څه شك نشته.چه حديث مذكور فى الباب ((امرت أن أقاتل الناس..))متقدم دې.او متقدم د متاخر تفسير نشى كيدې.(٣)

خو حقيقت دا دې.چه د علامه عينى رحمه الله دا خبره كمزورې ده.څك كه چرته د تفسير په ضمن كښې په مرجئو باندې رد كول وو.نو نو په كتاب الايمان كښې ددې تفسير په بيانولو باندې څه اعتراض نشى كيدې امام بخارى رحمه الله د مرجئو رد كوې او ځاې په ځاې ئې كوى.دغه شان د معتزلو. خوارجو. جهميو.كراميو رد كوى كه د يو آيت تفسير داسې وى.چه په هغې كښې په مرجئو باندې رد وى. نو په دې باندې ولې اعتراض كولې شى.چه هغه په كتاب اليمان كښې بيان كړې شى.

---

(١) فتح البارى (١٧٥)_

(٢) عمدة القارى (١/١٧٧. ١٧٨)_

(٣) المصدر السابق)_

دغه شان عينى رحمه الله چه كومه دويمه خبره كړې ده.هغه هم صحيح نه ده.ولې دا څه ضرورى ده چه د آيت د نزول نه پس چه نبى ﷺ د هغې په تفسير كښې څه حديث بيان كړى.نو هغې ته به تفسير ونيلې شى.بلكه دا هم كيدې شى چه نبى ﷺ اول يوه خبره كړې وى.او روسته د هغې مطابق آيت نازل شوې وى.نو د نبى ﷺ دغه متقدم ارشاد ددې آيت دپاره په منزله د تفسير كيدې شى.

د ترجمة الباب د حديث سره مناسبت امام بخارى رحمه الله د ترجمة لاندې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما حديث «قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ فَإِذَا فَعَلُوا ذٰلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللّٰهِ» تخريج كړې دې.په آيت مترجم بها او روايت مذكوره كښې مناسبت دا دې.چه په آيت كښې د توبې ذكر دې.او د توبې نه مراد «توبة عن الشرك والكفر» ده.دكوم نه چه په روايت كښې په شهادت توحيد و رسالت سره تعبير شوې دې.دغه شان په آيت كښې ئې ﴿فخلوا سبيلهم﴾ فرمائيلى دى.اود تخلية السبيل نه هم هغه مراد دې.كوم نه چه په حديث كښې په «عصموا مني دماءهم وأموالهم» سره تعبير كړې دې.يعنى د شرك او كفر نه توبه ويستلو او د توحيد رسالت شهادت وركولو او مونځ كولو او زكاة وركولو سره د انسان جان او مال محفوظ كيږى.او ددې لاره پرانستې شى.يعنى ن ده ته به څوك تعرف نه كوى.

د ترجمې مقصد امام بخارى رحمه الله په دې ترجمې سره په مرجئ باندې رد كړې دې.څوك چه د اعمالو د اهميت نه انكار كوى.امام بخارى رحمه الله فرمائى چه د اعمالو دومره زيات اهميت دې.چه د توبه عن الشرك والكفر سره سره ئې اقامت صلاة او ايتاء الزكاة هم د تخليه سبيل .عصمت مال و دم دپاره موقوف عليه اوګرځوله.[1]

دغه شان دا هم ونيلى شى.چه امام بخارى رحمه الله بالاشاره د صلاة او زكاة په ايمان كښې د داخليدو استدلال كړې دې.څكه چه تخليه سبيل يعنى عدم تعرض او عصمت د مال او دم ئې د توبه عن الكفر والشرك يعنى د توحيد او رسالت د اقرار سره سره په اقامت صلاة او ايتاء الزكاة باندې مرتب كړې دى.اود انسان جان او مال محفوظ كيږى.په ايمان سره.نو معلومه شوه چه دا څيزونه په ايمان كښې داخل دې.[2]

---

[1] فتح البارى(١ ٧٥) وعمدة القارى(١١٧٨)_

[2] ارشاد السارى(١٠٨)_

[۲۵] حَدَّثَنَا عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمُسْنَدِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو رَوْحٍ الْحَرَمِيُّ بْنُ عُمَارَةَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ وَاقِدِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ فَإِذَا فَعَلُوا ذٰلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللّٰهِ [۲۷۸۶]

رجال الحديث

① عبدالله بن محمد المسندي: ددوی حالات د((باب أمور الدين))په ضمن کښې تیرشوی دی

② ابورح الحرمی بن عمارة: د دوی کنیت ابو روح دے او ((حرمی))د نسبت په وزن اسم علم دے.د پلار نوم ئې عماره او د نیکه نوم ئې ((نابت))وو.د یو قول مطابق ((ثابت))وو : دوی کنیت ابوحفصه وو.نابوروح الحرمی بن عماره بن ابی حفصه نابت یا ثابت العتکی البصری امام شعبه.شداد بن سعید او قرة بن خالد سدوسی وغیر نه ئې احادیث روایت کړی دی او د دوی په شاګردانوکښې علی بن ابن المدینی.ابراهیم بن محمد بن عرعره .عبدالله بن محمد مسندی.عبیدالله بن عمر قواریری.محمدبن بشار بندار.عمروبن علی الفلاس او محمدّ بن ابی بکر مقدمی وغیره ﷺ دی.(۱)

امام یحیی بن معین رحمه الله دوی ((صدوق))ګرځولی دی.(۲)

امام ابوحاتم رحمه الله دوی د عبدالصمد بن عبدالوارث او وهیب بن جریر په درجه کښې ګرځولی دی.(۳) (ابوحاتم عبدالصمد بن عبدالوارث او وهب بن جریر دواړه ((صدوق)) او ((صالح الحديث))ګرځولی دی.(۴) ابن حبان رحمه الله دوی په ثقاتو کښې ذکر کړی دی.(۵) دغه شان امام دارقطنی رحمه الله دوی ثقه ګرځولی دی.(۶)

د دوی احادیث د جامع ترمذی نه سوا په باقی ټولو امهات الکتب کښې موجود دی.(۷)

---

(۱) تهذیب لکمال (۵\۵۵۶، ۵۵۷) ترجمه (۱۱۶۹)_
(۲) المصدر السابق)_
(۳) المصدر السابق)_
(۴) تهذیب الکمال (۱۸\۱۰۲) (۱۸\۱۲۳)_
(۵) کتاب الثقات لابن حبان (۸\۲۱۶)_
(۶) سنن دارقطنی (۱\۱۸۱) باب التیمم رقم ۲۲)_
(۷) عمدة القاری(۱\۱۷۹) وتقریب (۱۵۶\۲) رقم الترجمة (۱۱۷۸)_

په كال ۲۰۱ھ كښې دوى وفات شوى وو (۱)

تنبيه علامه كرمانى رحمه الله ته ددوى په ترجمه كښې يو عجيب و غريب وهم لاحق شوې دې دوى فرمائى چه «أبو روح.. كنيته واسمه ثابت و، الحرمى... نسبته وهو ابن عمارة..»(۲) لكه چه دوى فرمائى چه «الحرمى» د دوى حرم طرف ته نسبت دې او د دوى نوم ثابت «بالثاء المثلثة» دې ئو كنيت ئې ابو روح دې حالانكه مونږ وړاندې بيان كړې دې چه ابو روح د دوى كنيت دې او «الحرمى» د نسبت په وزن باندې د دوى نوم دې اود دوى د نيكه نوم «نابت» وو «بالنون بعدها ألف وبعدها باء موحدة ثم تاء مثناة» يا «ثابت» بالثاء المثلثة» دې د د نيكه كنيت ئې ابوحفصه دې.

ددې وهم سبب دا معلوميږى چه په اصل كښې علامه كرمانى رحمه الله چرته دا ليكلې شوې كتلى دى.«الحرمى بن عمارة بن أبي حفصة واسمه نابت» نو علامه دا گنړلى دى چه د «اسمه» ضمير حرمى ته راجع دې.او دوى د نابت په ځائې ثابت لوستې دې.او دا ئې د دوى نوم گرځولې دې.او حرمى ئې د نسبت په صورت كښې ليدلې دې.او نسبت ئې گرځولې دې حالانكه ددوى حرم طرف ته نسبت كول ممكن نه دى.ځكه چه د دوى ولادت پرورش او بيا استوگنه او ددې نه پس وفات په بصره كښې شوى دى.

ترڅو پورې چه د نابت او ثابت اختلاف دې.نو نابت» بانون صحيح قول دې اگرچه د ثابت قول هم موجد دې (۳) والله أعلم.

① **شعبه:** د دوى حالات د «باب من سلم المسلمون من لسانه ويده» د لاندې تير شوى دى

② **واقد بن محمد:** دوى واقد بن محمد بن زيد بن عبدالله بن عمر بن خطاب العدوى المدنى دى.دوى د صفوان بن سيم.عبدالله بن ابى مليكه.محمد بن المنكدر .نفعمولى ابن عمر رضي الله عنه او د خپل پلار محمد بن زيد بن عبدالله بن عمر بن خطاب رضي الله عنه نه روايت كوى د دوى په شاگردانو كښې امام شعبه.د دوى ورور عاصم بن محمد بن زيد او ددوى خوئې عثمان بن واقد عمرى دى.

امام احمد .امام يحيى بن معين او امام ابوحاتم رحمهم الله دوى لره ثقه گرځولى دى.

③ **محمد بن زيد:** دوى محمد بن زيد بن عبدالله بن عمر بن خطاب عدوى مدنى دى. دوى د خپل نيكه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت كوى.

دوى د خپل نيكه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه علاوه د حضرت سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل،

---

(۱) المصدراسابق)_

(۲) شرح كرمانى(۱۲۱\۱)_

(۳) فتح البارى(۷۵\۱) وعمدة القارى (۱۷۹\۱)_

عبدالله بن زُبير ،عبدالله بن عباس او عبدالله بن عمروبن العاص رضي الله عنهم نه احاديث اوريدلي دي بيا د دوى په شاګردانوكښې امام اعمش.بشاربن كدام او ددوى خونې دي.
امام ابوزرعه رحمه الله فرمائي.دوى ثقه وو.دغه شان ابوحاتم او ابن حبان رحمهما الله هم دوى لره ثقه ګرځولي دي.
ددوى احاديث د صحاح سته ټولو مصنفينو رحمهم الله نقل كړي دي.(۱)

⑥حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما: ددوى حالات د كتاب الايمان په شروع كښې د ((دعاؤكم إيمانكم)) لاندې تير شوى دي.

قوله: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ:

((أمرت)) مجهول صيغه ده.چونكه فاعل مشهور او معروف ې.څكه نه دې ذكر شوې. وجه دا ده.چه نبى ﷺ ته حكم كونكې د الله تعالى نه سوا بل څوك نشى كيدې.نو تقديربه دا وى ((أمرني الله بأن أقاتل...)) دغه شان كه صحابى رضي الله عنه اووائى .((أمرنا)) نو ددې مطلب به دا وى چه نبى ﷺ مونږ ته حكم كړې دې.څكه چه هم نبى ﷺ د هغوى دپاره مشرح او بيانونكې وو.البته كه په تابعينوكښې څوك ((أمرنا بكذا)) اووائى.نوپه دې كښې د امر كونكى نه يقينى طور صحابى مراد نشى كيدې .بلكه يو احتمال دې.(۲)
بهر حال دلته نبى ﷺ فرمائي.چه ماته حكم شوې دې.چه زه خلقو سهر قتال كوم.ترڅو چه دې خبرې ګواهى وركړى.چه د الله تعالى نه سوا بل څوك معبود نشته.او محمد ﷺ د الله تعالى رسول دې.مونځ قائموى.او زكاة وركوى.كله چه دا درې واړه كارونه اوكړى.نو زما نه نې خپله وينه او خپل مال محفوظ كړل.مګر د اسلام په كښې .او ددوى حساب په الله تعالى دې.

يو اشكال او د هغې جواب په دې باندې اشكال كيدې شى.چه دا حديث څنګه صحيح كيدې شى حالانكه د حضرات شيخينو رضي الله عنهما د منكرينو زكة په باره كښې كله مناظره شوې وه.نو حضرت عمر رضي الله عنه فرمانيلي وو .((كيف تقاتل الناس وقد قال رسول الله ﷺ)) ((وقد قال رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الْإِسْلَامِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ)) په دې باندې

---

۱) تهذيب الكمال (۲۵\۲۲۶. ۲۲۸).
۲) تهذيب الكمال (۲۵\۲۲۶. ۲۲۸).

حضرت ابوبكر ﷛ فرمائيلى وو «والله لأقاتلن من فرق بين الصلاة والزكاة، فإن الزكاة حق المال»[۱]
سوال دا دې چه حضرت ابن عمر ﷠ سره چه دا حديث موجد وو نو هغوى خپل پلار حضرت ابوبكر ﷛ سره مناظرې ته ولې پريخودو اودا روايت ئې ورته ولې نه بيانولو او دا ئې ورته ولې نه بيانول چه نبى كريم ﷺ چه لكه څنګه د ترمقاتلې دپاره شهادت توحيد او رسالت ضرورى ګرځولې دې نودغه شان ئې اقامت صلاة او ايتاء الزكاة هم ضرورى ګرځولې دې. اوبيا هركله چه حضرت ابوبكر ﷛ چه په قياس باندې استدلال كولو اودا ئې اوفرمائيل «والله لأقاتلن من فرق بين الصلاة والزكاة فإن الزكاة حق المال» فرمائيل نوحضرت ابن عمر ﷠ ددوى تائيد ولې اونكړلو اودا ئې ولې بيان نكړل چه په حديث پاك كښې په صراحت سره دا موجود دى چه عصمت د مال او دم د توحيد او رسالت اقرار سره سره په اقامت صلاة او ايتاء الزكاة باندې هم موقوف دې.
حافظ ابن حجر ﷫ ددې دا جواب وركړې دې. كيدې شى چه حضرت ابن عمر ﷠ د مناظرې په وخت كښې موجود نه وو. اوكه موجود وو. كيدې شى. چه دا روايت ورته په دغه وخت كښې ياد نه وو. اودا هم ممكن ده. چه روسته ئې دا روايت د شيخينو ﷠ نه نقل كړې وى.[۲]
د نبى كريم ﷺ د وفات نه پس د اهل عرب اود دوى د ارتداد صورتونه په دې كښې د لږ غوندې زيات وضاحت دپاره د مرتدينو متعلق څه تفصيل بيانوم. چه معلومه شى. چه د نبى ﷺ دوفات نه پس د ارتداد څنګه صورت وو. اود شيخينو ﷠ د خبرو تعلق د كوم سره وو؟
د بخارى شريف په كتاب الزكاة كښې راځى. چه كله نبى ﷺ وفات شو. نو په عربو كښې ارتداد خور شو. په هغه وخت كښې صديق اكبر ﷛ د مرتدينو خلاف لښكرليږلو. نو حضرت عمر ﷛ منع كړو. او دا ئې اوونيل. ته دهغه كسانو سره قتال كوې چه «لا إله إلا الله» وائى. او ددې په وج د حديث په نص سره دوى محفوظ المال والدم دى. نو بيا دوى ته د تعرض څه ګنجائش نشته. حضرت ابوبكر ﷛ اوفرمائيل. «والله لأقاتلن من فرق بين الصلاة والزكاة فإن الزكاة حق المال» تردې چه د حضرت عمر ﷛ سينه پرانستې شوه او هغوى د حضرت ابوبكر صديق ﷛ سره موافقت اوكړو.[۳]
د علامه خطابى. ابن حزم او قاضى عياض ﷭ وغيره د كلام كتلو نه معلوميږى. چه د نبى كريم ﷺ د وفات نه پس خلق په پنځو قسمونو كښې تقسيم شوى وو.
د ټولې نه لنې جماعت خو په دين باندې قائم وو. دويم نمبر باندې هغه ډله وه. چه ټول شريعت ئې منلو خو صرف د زكاة نه ئې انكار كولو. ددې نه پس دريمه ډله هغه وه. كمه چه مرتده شوې وه. او د دين اسلام نه اوړيدلې وه. بيا ددوى لاندې دوه ډلې وې. يو خو هغه خلق

---

[۱] صحيح بخارى كتاب الزكاة باب وجوب الزكاة رقم ۱۳۹۹ و ۱۴۰۰)_
[۲] فتح البارى (۷۶/۱۱)_
[۳] صحيح بخارى كتاب الزكاة باب وجوب الزكاة رقم ۱۳۹۹ و ۱۴۰۰)_

او چا چه د نبوت کاذبه تابعداری کړې وه لکه مسیلمه کذاب، اسعود عنسی، سجاح او طلیحه وغیر. او دویمه ډله هغه وه کومه چه د خپل پلار نیکه دین نه واپس شوه او پنځم پوړ مختصره ډله وه. کومه چه نه یو خوا وه او نه بل خوا. بلکه د غالبې ډلې په انتظار کښې وه چه څوك غالب شی. د هغوی سره به شی.()

علامه ابن حزم رحمه الله هغه خلق په یوه ډله کښې شمار کړی دی چه مرتد شوی وو. نو په دې طریقه د هغوی په نیز څلور قسمونه جوړیږی. که د مرتدینو دواړه قسمونه دا جدا شمار کړې شی. و دا ټول پنځه قسمونه شول.()

حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه چه د مرتدینو خلاف لښك تیا کړلو. نو حضرت عمر رضی الله عنه پرې اعتراض اوکړلو. او دا ئې اوونیل. «**کیف تقاتل الناس وقد قال رسول الله ﷺ أمرت أن أقاتل الناس حتی یقولوا لا إله إلا الله فمن قالها فقد عصم مني ماله ونفسه إلا بحقه وحسابه علی الله**» او دا خلق «لا إله إلا الله» وائی.

په دې باندې خو اتفاق دې چه دحضرات شیخینو رضی الله عنهما مناظره د هغه کافرانو په باره کښې نه وه. څوك چه د خپل پلار نیکه دین نه واپس شوی وو. او نه د هغه کافرانو په باره کښې وه. څوك چه د نبوت کاذبه د مدعیانو تابعدار شوی وو. بلکه دا مناظره د منکرین زکاة په باره کښې وه.

اوس دلته اشکال دا دې. چه زکاة د اسلام په فرائضو کښې دې. که څوك ددې نه انکار اوکړی نو مرتد کیږی. ځکه چه د دین په ضروریاتو کښې د یو امر ضروری نه انکار کول ارتداد دې نو هرکله چه دا خلق مرتد شول. نو بیا حضرت عمر رضی الله عنه ته دا اشکال ولې راغلو. چه هغوی حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه سره مناظره شروع کړه.

حضرت مولانا ګنګوهی رحمه الله ددې دا جواب کړې دې. او هم دا حضرت شیخ الحدیث غوره کړې دې. چه په اصل کښې د منکرین زکاة دوه ډلې وې. یوه ډله خو د فرضیت نه منکره وه چه د زکاة د فرضیت نه منکره شوې وه. او دویمه ډله د فرضیت قائله وه. خو د زکاة د ادا کول نه ئې انکار کولو. او دا ئې ونیل چه د زکاة ورکول د نبی ﷺ په زمنه پورې خاص وه. ځکه چه الله تعالی فرمائیلی دی ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ﴾ ()نبی ﷺ ته په خصوصیت سره په دې آیت کښې د صدقې اخستلو. او بیا د تطهیر او د تزکیه حکم شوې دې د هغوی خیال وو چه مونږ به په خپله زکاة ورکوو.

) فتح الملهم (۱۱۹۰/۱. ۱۹۱) کتاب الإیمان باب الأمر بقتال الناس حتی یقولوا لا إله إلا الله إلخ وشرح نووی علی صحیح مسلم (۳۸/۱)_

) فتح الملهم (۱۹۰/۱)_

) سورة التوبة :۱۰۳)_

دې دواړ قسمه ډلو ذکر علامه ابی په شرح د مسلم کښې کړې دے.[1]

حضرت ګنګوهي رحمه الله فرمائي چه د حضرات شیخینو رضي الله عنهما مناظره په اول قسم کښې نه وه چا چه مطلقاً د فرضیت زکاة نه انکار کړې وو بلکه په دويم قسم کښې وه حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه د هغوی د بغاوت په وجه په هغوی باندې د حملې کولو د جواز قائل و. او حضرت عمر د کلمې وئیلو په وجه او د تاویل کولو په وجه هغوی معصوم المال والدم ګرځول.[2]

خو عام شراح کام خطّابی. قاضی عیاض. امام نووی او علامه عینی رحمهم الله وغیره دا وائی چه د مطلقاً منکرین زکاة په باره کښې مناظره شوې وه.[3]

په دې باندې اعتراض کیدې شی چه مطلقاً د منکرین زکاة په باره کښې څنګه مناظره کیدې شوه. که نن هم څوک د زکاة د فرضیت نه انکار اوکړی نوهغه کافر. مرتد او مباح الدم ګرځی. **ددې جواب** امام خطابی او د دوی په اتباع کښې نورو حضراتو دا ورکړې دې. چه زمونږ او د هغوی په زمانه کښې فرق و. چونکه د هغوی زمانه د نزول وحی او شریعت سره نزدې وه. او په هغې کښې د نسخې اوتبدیلئ احکام جاری و. اوبله دا چه هغوی چونکه قریب العهد بالاسلام وو. اود دین د امورو نه پوره خبر نه و. نو ددې وجې د هغوی عذر قبول کړې شو. اودهغوی تکفیر اونکړې شو. خو د هغې په عکس نن صبا معامله مختلف ده. اوس دین خور شوې دې. په مسلمانانو کښې د زکاة د فرضیت علم هر خاص اوعام ته شوې دې. ددې فرضیت د مسلمانانو عالم هم پیژنی. او جاهل هم. نو که نن څوک ددې د فرضیت نه انکار اوکړی. دهغه عذر به قبول نه وی. والله أعلم.[4]

ایا د ذمی او معاهد سره قتال کولې شی؟ ددې حدیث نه معلومه شوه چه څوک د «لا إله إلا الله محمد رسول الله» قائل وی. مونځ کوی. او زکاة ورکوی نو هغه سره به قتال نشی کولې. او د باقی ټولو سره به قتال کولې شی.

په دې باندې دا اشکال کیږی. که څوک جزیه ورکوی. نوهغه سره قتال نشی کولې دغه شان چا سره چه معاهده شوې وی. د هغه سره هم قتال نشی کولیې. او د دې حدیث تقاضا دا ده. چه د هرکس دې قتال کولې شی. مګر دا چه د توحید او رسالت قائل وی. موځ کوی. او زکاة ورکوی.

---

[1] شرح أبي (١\١٠٤) كتاب الإيمان أحاديث أمرت أن أقاتل الناس حتى يقولوا لا إله إله الله)_

[2] لامع الرارى (٥\١١١. ١٢) كتاب الزكاة)_

[3] شرح نوى على صحيح مسلم (١\٣٨. ٣٩) كتاب الإيمان باب الأمر بقتال الناس .. وأعلام الحديث للخطابى (١\٧٤) وعمدة القارى (٨\٢٤٤) كتاب الزكاة باب وجوب الزكاة)_

[4] أعالم الحديث للخطابى (١\٧٤٢) كتاب الزكاة باب وجوب الزكة وعمدة القارى (٨\٢٤٧) وشرح نوى على صحيح مسلم (١\٣٩)_

ددې اشكال عالمانو شپږ جوابونه ورکړی دی ① يو جواب علامه طيبی دا ورکړې دې چه کيدې شی چه دا حديث په ابتدا کښې وی اود جزيه اومعاهدې حکم روسته راغلی وی.()
② دويم جواب دوی دا ورکړې دې چه ممکن ده.چه دا حديث عام مخصو منه البعض وی او«أمرت أن أقاتل انسا..» کښې د «ناس»نه ټول خلق مراد نه وی.لکه څنګه چه په (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ) کښې دی.چه ټول جنات او ټول انسانان عبادت نه کوی.دغه شان دلته د«الناس»نه مودی الجزيه اومعاهد مخصوص مراد وی.()
③دريم جواب علامه طيبی رحمه الله دا ورکړې دې.چه د جموعه شهادتين.اقامت صلاة او ايتاء الزکاة نه اعلاء کلمة الله اود دين غلبه او د مخالفينو اظهارد عجز مراد دې.دا مقصود په بعضې خلقوکښې په قول اوفعل سره حاصليږی.اوپه بعضوکښې د جزيه په ورکولوبندې حاصليږی اوپه بعضوکښې په معاهدې سره حاصليږی.()
④يوجواب دا ورکړې شوې دې.چه دا م دې.خوددې نه خاص خلق مراد دی.په دې صورت کښې به د «الناس»نه مشرکان مراد وی.()
په دې جواب کښې اودعلامه طيبی رحمه الله په دويم جواب کښې فرق دا دې.چه هلته «الناس» عام مخصوص منه البعض دی.يعنی لفظ عام دې. اوددې نه بعضې يعنی مودی الجزيه او معاهد مخصوص مراد دې.اوپه دې جواب باندې به مطلب دا وی.چه لفظ د «ناس» خو عام دې.خو ددې نه مخصوص خلق مراد دی اوهغه مشرکن دی.نو اوس مطلب دا راووتل چه مشرکانو سره د قتل او قتال حکم شته.البته دا چه ايمان راوړی.مونځ کوی.او زکاة ورکوی.اود مودی الجزيه سره ددې تعلق نشته.ځکه چه جزيه د مشرك نه نشی اخستې.خو دا خبره دې معلومه وی.چه دا مسئله مختلف فيها ده.
امام شافعی اوامام احمد رحمهما الله خو ددې خبرې قائل دی چه جزيه د اهل کتابو نه اخستې شی برابره خبره ده که عربی وی اوکه عجمی ()
امام مالك رحمه الله فرمانی چه په عجموکښې به د هر کافر نه جزيه اخستې شی که عربی وی اوکه عجمی.که تغلبی وی اوکه کتابی يا غير کتابی وی البه ددوی په نيز د مرتد نه جزيه نشی اخستې.()

) الكشاف عن حقائق السنن(١٢٩\١) كتاب الإيمان الفصل الأول)
) الكشاف (١٢٨\١)
) الكشاف عن حقائق السنن (١٢٨\١)
) شرح كرمانى (١٢٢\١)
) الجامع لأحكام القرآن للقرطبى (١١٠\٨)
) تفسير قرطبى (١١٠\٨)

امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى چه دهركافر نه به جزيه اخستې شي برابره ده كه مشرك وى اوكه اهل كتاب وى اوپه عربوكښې به صرف د اهل كتابو نه جزيه اخستې شى د مشرك نه به نشى اخستې (¹)لكه چه امام ابوحنيفه رحمه الله د عجميانو په مسئله كښې د امام مالك رحمه الله سره دي او د عربو په مسئله كښې د امام شافعى او امام احمد رحمهماالله سره دي

دا جواب په كوم كښې چه د «ناس» نه مشركان مراد اخستې شوى دى صرف دامام شافعى او امام احمد رحمهماالله په مسلك باندې منطبق كيږى ددې نورو امامانو د مسلك مطابق ددې جواب دا وركولې شى چه جزيه ادا كونكې عارضى او وختى طور د جزيه په سبب محفوظ كيږى اوكه جزيه وركول پريږدى نوددې لاندې هغه هم راخى نوهغه هميشه دپاره محفوظ نه شو بلكه د يو عارض په وجه محفوظ شو

يواعتراض دا كيږى چه معاهده خو هر كس سره كيږى لكه څنګه چه كتابى سره كيږى دغه شان مشرك سره هم كيږى اودا شرعى قاعده ده چه معاهد ته تعرض نشى كولې نو اوس كه حديث د مشركانو سره خاص كړې شى نو مطلب به دا راوځى چه د هر مشرك سره دې قتال او قتال كولې شى البته دا چه هغه ايمان راوړى حالانكه كه مشرك معاهد وى نو ده سره مطلقاً قتال نشى كولې.

ددې جواب دا دې چه معاهده د تاخير القتال دپاره وى د ترك القتال دپاره نه وى او د حديث پاك نه دا معلوميږى چه قتال به ترك كولې نشى دا ترې نشى راوتلې چه قتال به موخر كولې نشى (²)

⑤ پنځم جواب نې دا وركړې دې چه «أمرت أن أقاتل الناس» كښې د قتال مراد عام دې كه واقعة قتال وى اوكه ددې قائم مقام وى يعنى جزيه وغيره (³)

⑥ شپږم جواب دا دې چه اصل مقصود دا دې چه په ټوله دنيا كښې اسلام خور شى ددې يو صورت خو دا دې چه ټول مسلمانان شى او دويم صورت دا دې چه جزيه ادا كوى څكه چه د جزيې په ادا كولوكښې د وركونكى ذلت وى او هيڅ يوكس د ذلت اختيارولو ته تيار نه وى نو جزيه وركونكى ته به دا خيال راځى چه دا ټول مصيبت د كفر په وجه برداشت كوم نو هم دا كفر پريږده او ايمان راوړه لكه چه جزيه ادا كول د اسلام راوړلو سبب دې (⁴)

اونرځو پوړې چه د معاهد تعلق دې نو د هغه سره د تاخير قتال معامله ده د ترك قتال نه ده (⁵) كما مرسابقاً، حافظ ابن حجر رحمه الله دا آخرى جواب د ټولو نه غوره ګرځولې دې

(¹) احكام القرآن للجصاص (۹۱\۳) باب أخذ الجزية من أهل الكتاب)
(²) فتح البارى (۷۷\۱)_
(³) شرح كرمانى (۱۲۲\۱)_
(⁴) الكاشف عن حقائق السنن (۱۲۸\۱، ۱۲۹)_
(⁵) فتح البارى (۷۷\۱)_

زنديق او دده حكم ددې حديث نه په دې باندې استدلال كړې شوې دې چه د زنديق توبه مقبوله دد.

دزنديق تعريف بعضوخلقو كړې دې چه «المبطن للكفر المظهر للإسلام كالمنافق»(١) بعضو وئيلى دى «من لا دين له»(٢)

صاغانى رحمه الله نقل كړى دى چه دا «زن دين» نه معرب دې(٣) يعنى د ښځو پشان مذهب او دين لرونكې. دا د ښځو عادت وى چه په زړه كښې ئې يو څه وى او په ژبه ئې بل څه وى.

د زنديق توبه قبليږى او كه نه؟ په دې كښې د عالمانو پنځه اقواله دى.

① يو قول دا دې چه دده توبه مطلقاً قبول دد.هم دا د امام شافعى رحمه الله صحيح او منصوص قول دې.

② دويم قول دا دې چه دده توبه او دده رجوع الى الاسلام معتبر نه دد.البته كه دده رجوع رښتيا وى.نو عندالله به دده دپاره نفع بخش وى.دا د مالكيانو قول او د امام شافعى رحمه الله يوه (وجه) دد.د امام ابوحنيفه رحمه الله نه ددې دواړو اقوالو مطابق يو يو قول منقول دې.

③ كه د داعيانو څخې وى.نو دده توبه مقبوله نه دد.البته د عوامو توبه به قبوله وى.دا هم د شوافعو يوه .. وجه.. دد.

④ څلورم قول دا دې كه زنديق د قتل دپاره گرفتار شو.او اوس توبه كوى.نو دده توبه قبوله نه دد.او كه د مخكښې نه ئې توبه اوكړله.او بيا په دد باندې د صدق فى التوبه علامات هم ښكاره شو.نو دده توبه به معتبر وى.دا د امام مالك رحمه الله يو قول او د امام شافعى رحمه الله يوه .. وجه.. دد.

⑤ يو قول دا دې چه يو ځل دده توبه قبول دد.كه بار بار توبه كوى.نو مقبول نه دد. دا هم د شوافعو يوه ..وجه.. دد.

ياد ساتئ:چه د اقوالو دا اختلاف د هغه زنديق په باره كښې دې.كوم چه ښكاره مسلمان وى او په باطن كښې ئې كفر پټ كړې وى.او ددې علم په دې طريقه كيدې شى.چه دده په كفر باندې څه شواهد معلوم شى.يا پخپله دې اقرار اوكړى.(٤) والله اعلم.

د تارك صلات حكم اوس ددې نه پس په مسئله پوهه شئ.كه يو سړې مونځ په دې وجه پريږدى.چه هغه ددې د فرضيت قائل نه دې.نو هغه په اتفاق د مسلمانانو كافر او مباح الدم دې.(٥)

---

(١) مجمع بحار الأنوار(٢\٤٣٨)_

(٢) المصدر السابق)_

(٣) تاج العروس (٦\٣٧٣)_

(٤) عمدة القارى(١\١٨٢)_

(٥) المغنى لابن قدامة (٢\١٥٦) باب الحكم فيمن ترك الصلاة)_

خوکه د تکاسل او تهاون په وجه ئې پريږدى.د سستۍ او کاهلۍ په وجه ئې نه کوى.نو دده په باره کښې اختلاف دې.په دې کښې دعالمانو څلور اقوال دى:
امام احمد بن حنبل رحمهما الله ، په شوافعو کښې د منصورفقيه نه علاوه نور ډير حضرات، عبدالله بن المبارک او اسحاق بن راهويه وغيره فرمائى.چه دا سړې مرتد شو او د ردت په وجه به دې قتلولې شى.(۱)
امام مالک او امام شافعى رحمه الله فرمائى.چه دا سړې مرتد نشو.خو د کوم جرم ارتکاب ئې چه کړې دې.د هغې سزا دا ده.چه دې قتل کړې شى.(۲)
ابن شهاب زهرى، امام ابوحنيفه، امام مزنى او داوٗد ظاهرى رحمهم الله فرمائى.چه دې به نشى قتلولې.بلکه په زبردست قيد کښې به اچولې شى.او سزا به ورکولې شى.(۳)«يسجن فيضرب حتى يتوب أو يموت»
علامه ابومحمد ابن حزم ظاهرى رحمه الله فرمائى.چه مونځ نه کول يو منکر امر دې.او د منکر ازاله د«من رأى منكم منكراً فليغيره بيده، فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه»(۴) په وجه واجب ده.او ددې صورت دادې.چه د منکر مرتکب ته به
تاديبى سزا ورکولې شى.او تاديبى کوړې په حديث کښې لس وارد شوى دى.نو کله چه مونځ نه کوى.نو هغه ته به لس کوړې لګولې شى.که مونځ اوکړى.نو فبها . اوکه نه کوى.نو دا يو نوې منکر اومونديې شو.نو بيا به لس کوړې لګولې شى.دغه شان به مسلسل وهلې شى.او د مونځ تلقين به ورته کولې شى.يا به دې مونځ کوى.يا دې مړشى.خو د مړ کولو قصد به نشى کولې.بيا دا تاديبى سزا به تر هغه وخته پورې جارى وى.ترکومه پورې چه د مونځ وخت باقى وى.خو کله چه د مونځ وخت اوځى.نو چونکه ددوى په نيز چه کوم مونځ د وخت تيريدلو په وجه فوت شى.د هغې قضاء ممکن نه ده.(۵) په دې وجه اوس ددې مونځ دپاره تاديب نشته.البته دويم مونځ د کوم وخت چه اوس داخل شوې دې.د هغې دپاره به تاديبى سزا شروع کولې شى.او دا سزا به چونکه د مونځ په وختونو کښې وى.نو د نمر د زوال نه پس به د تارکِ صلاة وهل تکول شروع کولې شى.او تر نيمې شپې پورې به شروع

---

(۱) المجموع شرح المهذب (۳\۱۶)_
(۲) المصدرالسابق)_
(۳)المغنى لابن قدامة (۲\۱۵۶) والمجموع (۳\۱۶) والمحلى(۱۱\۳۷۶)_
(۴) صحيح مسلم (۱\۵۱) كتاب الإيمان باب بيان كون النهى عن المنكر من الإيمان .. وسنن نسائى (۲\۲۶۹) كتاب الإيمان وشرائعه باب تفاضل أهل ا لإيمان .. وسنن أبى داود كتاب الصلاة باب الخطبة يوم العيد رقم ۱۱۴۰) وسنن ترمذى كتاب الفتن باب ما جاء فى تغيير المنكربااليد أوباللسان أو بالقلب رقم ۲۱۷۲) وسنن ابن ماجه كتاب الفتن باب الأمر بالمعروف والنهى عن المنكر،رقم (۴۰۱۳)
(۵) المحلى(۲\۲۳۵) وأما من تعمد ترک الصلاة حتى خرج وقتها)_

وي.ددې نه پس چونكه ددوى په نيز د مونځ وخت نشته.(١) نو تر صبا پورې به وهل موقوف كولې شي.او د صبا راختلو نه پس به بيا د سحر مونځ دپاره وهلې شي.كه مونځ اوكړي.نو ډيره ښه ده.ګنې وهلې به شي.ترديې چه نمر راوخيژي.د نمر راختلو نه پس به وهل موقوف كولې شي.څكه چه زواله پورې د هيڅ فرض وخت نه دې.(٢)

د ارتداد د قائلينو دليلونه امام احمد رحمه الله چه قصداً مونځ پريخودونكې كافر ګرځوي.او ارتداداً د قتل حكم لګوي.ددوى او ددوى د متبعينو استدلال د نبي كريم ﷺ د هغه ارشاداتو نه دې.په كومو كښې چه ترك صلاة باندې د ذمې د براءت او د كفر اطلاق شوې دې.لكه ارشاد دې.((إن بين الرجل و بين الشرك والكفر ترك الصلاة))(٣)

اوحضرت بريده رضي الله عنه مرفوع حديث دې.((إن العهد الذى بيننا و بينهم الصلاة، فمن تركها فقد كفر))(٤)

حضرت ابوالدرداء رضي الله عنه فرمائي.((أوصانى خليلى ﷺ أن لا تشرك بالله شيئاً و إن قطعت و حرقت، ولا تترك صلاة مكتوبة متعمداً، فمن تركها متعمداً فقد برءت منه الذمة، ولا تشرب الخمر فإنها مفتاح كل شر))(٥)

كوم حضرات چه د تارك صلاة دنه كافر كيدو قائل دى.هغوى دا وائي.چه ترك صلاة معصيت دې.كفر نه دې.او په كومو احاديثو كښې چه د كفر اطلاق شوې دې.هغه خو يا په مستحل باندې محمول دې.يا دهغې نه مراد دا دې.چه دده فعل د كافرانو د فعل سره مشابه دې.يا دا مطلب دې.چه د مؤمن علامت خاصه مونځ دې.كه يو مؤمن مونځ پريږدي.نو په ده كښې او كفر كښې به هيڅ څيز فارق نه وى.هم ددې ترك صلاة په وجه سړې د كافر مشابه كيږى.دده فعل د كافرانو پشان كيږى.(٦)

د امام مالك او امام شافعى رحمهما الله استدلال: بيا امام مالك او امام شافعى رحمهما الله چه ددې خبرې قائل دى.چه تارك صلاة نه كافر كيږى.البته د ترك صلاة په وجه به دې حداً قتل كولې شي.ددوى ړومبې استدلال خو د آيت قرآنى نه دې. ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ

(١) المحلى (١٣\١٦٤) أوقات الصلاة)_

(٢) المحلى (١١\٣٧٩، ٣٨٠) مسئله تارك الصلاة عمداً)_

(٣) صحيح مسلم (١\٦١) كتاب الإيمان باب بيان إطلاق الكفر على من ترك الصلاة .. وسنن نسائى (١\٨١) كتاب الصلاة باب الحكم فى تارك الصلاة.. وسنن أبي داود كتاب السنة باب رد الإرجاء رقم ٤٦٧٨ وسنن ترمذى كتاب الإيمان باب ما جآء فى ترك الصلاة رقم ٢٦١٨، ٢٦٢٠) وسنن ابن ماجه كتاب إقامة الصلاة والسنة فيها باب ما جاء فيمن ترك الصلاة رقم ١٠٧٨)_

(٤) سنن نسائى (١\٨١) كتاب الصلاة باب الحكم فى تارك الصلوات وجامع ترمذى كتاب الإيمان باب ما جآء فى ترك الصلاة رقم ٢٦٢١) وسنن ابن ماجه كتاب إقامة الصلاة والسنة فيها باب ما جآء فيمن ترك الصلاة رقم ١٠٧٩)_

(٥) سنن ابن ماجه كتاب الفتن باب الصبر على البلاء رقم ٤٠٣٤)_

(٦) شرح نووى على صحيح مسلم (١\٦١) كتاب الإيمان باب بيان إطلاق إسم الكفرعلى من ترك الصلاة)_

وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ ﴾(١)په دې آیت کښې د سبیل د تخلیـة دپاره د شرك او كفر نه توبه. او اقامت د صلاة او ایتاء زکاة لازم ګرځولې شوې ده.نوکه څوك مونځ قائم نکړی نو د قتل نه به نه بچ کیږی.

دغه شان ددې حدیث باب نه هم ددوی استدلال دې چه په دې کښې دی چه «قال أمرتُ أن أقاتل النَّاسَ حتّى يشهدوا أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله ويقيموا الصلاة ويؤتوا الزكاة فإذا فعلوا ذلك عصموا مني دماءهم وأموالهم»

په دې حدیث کښې د عصمت دماء او اموال دپاره شهادت د توحید او رسالت. اقامت صلاة او ایتاء زکاة ضروری ګرځولی شوی دی.نوکه یوکس مونځ قائم نکړی.نو هغه به محفوظ الدم او محفوظ المال نه وی.یعنی دې به بې دریغه قتلولې شی.

ترکومه پورې چه دده د نه کافر کیدو تعلق دې.نو دا حضرات د حضرت عباده بن الصامت ﷛ د روایت نه استدلال کوی.هغوی فرمائی.چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل «خمس صلوات كتبهن الله عزوجل على العباد، فمن جاء بهن لم يضيع منهن شيئا استخفافا بحقهن، كان له عند الله عهد أن يدخله الجنة، و من لم يأت بهن فليس له عند الله عهد، إن شاء عذبه و إن شاء أدخله الجنة»(٢) په دې حدیث کښې تارك صلاة تحت المشیئت داخل کړې شوې دې.که چرې الله تعالی اوغواړی. نو دوی ته به سزا ورکوی.اوکه اوغواړی.نو په جنت کښې به داخل کړی.که دې کافر شو.نو جنت ته د داخلیدو به څه مطلب وی؟

د مذکوره دلائلو جواب: امام نووی ﷬ طرف ته د تارك صلاة د قتل په سلسله کښې دا استدلال منسوب دې.(٣) چه په حدیث باب کښې دا ونیلی شوی دی.چه خلقو سره د قتال حکم دې. خو داچه د توحید او رسالت شهادت ورکړی.مونځ اوکړی.او زکاة ورکړی .ددې نه معلومه شوه.چه کوم کس مونځ نه کوی.هغه سره به قتال کولې شی.

خو دا استدلال ضعیف دې.چه دا علامه ابن دقیق العید ,,چه دا یو ډیر لوئې شافعی عالم دې.. ضعیف ګرځولې دې.هغه فرمائی.چه د داسې حدیثونو نه په قتل باندې استدلال غلط دې.ځکه چه قتال او قتل دوه جدا جدا څیزونه دی.د قتال معنی د جنګ کولو ده.د وژلو نه ده.او د قتل معنی د وژلو ده.او په حدیث کښې قتال راغلې دې.دا به د قتل په معنی کښې نشی اخستلې.(٤)

---

(١) التوبة:٥)_

(٢) موطا امام مالک کتاب الصلاة اللیل باب الأمربالوتر رقم ١٤. وسنن نسائی (١/٨٠) کتاب الصلاة باب المحافظة على الصلوات الخمس وسنن إبن داود فی کتاب الوترباب فیمن لم یوتر رقم ١٤٢٠ وسنن ابن ماجه کتاب إقامة الصلاة والسنة فیها باب ما جآء فی فرض الصلوات الخمس والمحافظة علیها رقم (١٤٠١)

(٣) عمدة القاری(١/١٨١)_

(٤) درس بخاری از شیخ الاسلام علامه شبیراحمد عثمانی (١/٢٠٢)_

ددې بهترين شاهد د حديث هغه الفاظ دى كوم نې چه د سترې په باب كښې فرمائيلې دى.«إذا كان أحدكم يصلى فلا يدع أحداً يمر بين يديه وليدرأه ما استطاع فإن أبى فليقاتله فإنما هو شيطان» (۱) يعنى كله چه په تاسو كښې څوك مونځ كوى.نو څوك دې دخپلې مخې نه تيريدو ته نه پريږدى اوچه څومره كيدې شى.هغه دې دفع كوى اومنع كوى.كه بيا هم هغه نه منع كيږى بلكه د تيريدو قصد ئې كړې وى.نو هغه سره دې قتال اوكړى.خكه چه هغه شيطان دې

صف ظاهره ده چه دلته د قتال نه قتل مراد نه دې.دغه شان په «أمرت أن أقاتل» كښې د قتال نه هم قتال مراد دې.قتل مراد نه دې.لكه چه د تارك الصلاة قتل د حديث نه ثابت نه دې.ددې وجې د تارك صلاة د قتل دپاره په دې حديث باندې استدلال كول صحيح نه دى.

دويم دليل د قرآن كريم آيت دې. ﴿وَإِنْ طَآئِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اقْتَتَلُوْا فَأَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدٰهُمَا عَلَى الْأُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ إِلٰٓى أَمْرِ اللهِ﴾ (۲)په دې آيت كښې د مقاتله نه هر گز قتل مراد نه دې.دغه شان به تارك صلاة سره قتال كولې شى.خو قتلولې به نشى.هم دا وجه ده.ه امام بيهقى رحمه الله د مام شافعى رحمه الله قول نقل كړې دې.«ليس القتال من القتل بسبيل قد يجوز أن يحل قتال المسلم ولا يحل قتله» (۳) يعنى قتال او قتل دواړه يو څيز نه دې.د قتال د جواز نه د قتل جواز نه لازميږى.خكه چه داسې كيدې شى.چه قتال جائز وى.او قتل نا جائز وى.

اوس حاصل دا شو.چه د تارك صلاة سره جنگيږئ.قتال ورسره كوئ.كه د يو كلى خلقو په اتفاق سره مونځ پريخودلو.نوامام به د هغوى سره قتال كوى.ددې په باره كښې د امام ابوحنيفه رحمه الله نه څه صراحت نشته.البته د امام محمد رحمه الله نه نقل دى.كه د كلى خلق آذان پريږدى.نو د وخت امام به د هغوى سره قتال كوى.دغه شان تارك ختنه سره به هم امام د وخت قتال كوى.(۴) نوهركله چه داذان او ختنه غوندې څيزونو په پريخودو سره دا حكم دې.حالانكه دا د مونځ نه په كمه درجه كښې دى.نود مونځ په پريخود خو به په طريق اولى سره ورسره قتال كولې شى.خلاصه دا چه د تارك صلاة قتل ددې حديث نه نه ثابتيږى.

د علامه ابن دقيق العيد رحمه الله پشان علامه ابن حزم ظاهرى رحمه الله هم دا استدلال رد كړې دې.(۵)

دا خبره دې معلومه وى.چه امام نووى رحمه الله غوندې محقق كس ته ددې استدلال نسبت كول

---

۱) صحيح مسلم (۱۱/۱۹۶) كتاب الصلاة باب سترة المصلى والندب إلى السترة والنهى عن المرور بين يدى المصلى ..)_

۲) الحجرات:۹)_

۳) سنن كبرى للبيهقى (۱۸۸/۸) كتاب قتال أهل البغى باب الخلاف فى قتال أهل البغى)_

۴) فتح الملهم (۱۹۲/۱) كتاب الإيمان باب الأمر بقتال الناس حتى يقولوا:لا إله إلا الله)_

۵) المحلى لابن حزم (۳۷۸/۱۱) مسألة تارك الصلاة عمداً حتى يخرج وقتها)_

صحيح نه معلوميږي.چه هغوی به د تارك صلاة د قتل دپاره په حديث باب كښې په لفظ د «أقاتل» سره استدلال كړې وی.څكه چه هغوی خو به دومره فرق پيژني.چه قتال يو څيز دې اوقتل بل څيزدې.بيا د امام شافعي رحمه الله قول به هم د هغوی نه پټ نه وی.نو هغوی طرف ته ددې استدلال نسبت كول صحيح نه معلوميږي.البته ددې حديث نه هغوی د تارك الصلاة سره په قتال كولو باندې استدلال ضرور كړې وی.خو هغه استدلال په «أقاتل» سره نه دې.بلكه په «فإذا فعلوا ذلك عصموا منى دمائهم وأموالهم» سره دې.() لكه چه د دوی په نيز د عصمت مال و جان دواړو ترتب به په هغه وخت كښې وی.كله چه دا درې واړه امور متحقق شي يعنى عصمت دجان او مال به هله وی.چه اقرارد شهادتينو.اقامت صلاة او ايتاء الزكاة درې واړه وی.نو چه يوجزء فوت شي.نو عصمت به هم فوت كيږي.

وړاندې تفصيل دې.كه اولنې جزء فوت شي.نو مجموعه د عصمت به فوت وی نه به دده جان محفوظ وی.اونه به ئې مال محفوظ وی.اوكه دويم جزء يعنى صلاة فوت شي.نوپه دغه وخت كښې به د مال عصمت منتفي نه وی.بلكه د دم عصمت به ختم شي.اوكه دريم جزء يعنى ايتاء الزكاة فوت شي.نوعصمت دمال به ختم شي.د دم عصمت نه پورته كيږي.كله چه درې واړه وی.نوهرڅه به وی.اوكه درې واړه نه وی.نو څه به هم نه وی.نه به عصمت د دم وی.اونه به عصمت د مال وی.اوكه يو جزء صلاة فوت شي.نوعصمت د دم به پورته شي.اوكه ايتاء الزكاة فوت شي.نو عصمت د مال به ختم شي.()

ددې تقرير په صورت كښې اګرچه د ابن دقيق العيد اوابن حزم رحمهما الله تقرير څه فائده نه وركوی.البته احناف څنګه چه د تارك الصلاة دقتل منكر دی.هغوی دا وئيلی شي.چه دلته په حديث كښې د تارك الصلاة د معصوم او محفوظ الدم مطلب دادې.چه ده سره به مقاتله كولې شي.

دغه شان دا هم وئيلی شي.چه احناف هم دده دغيرمعصوم الدم قائل دی.څكه چه داحنافو په نيز دده حكم دا دې.چه دې به په سخت قيد كښې واچولې شي او سزا به وركولې شي.

«حتى يتوب أو يموت» () مراد دا دې.چه تارك الصلاة زمونږ په نيز هم معصوم الدم نه دې.فرق صرف دومره دې.چه نور امامان مهلت نه وركوی.بلكه سمدستى د قتل حكم وركوی.او امام ابوحنيفه رحمه الله مهلت وركوی .او فرمائي.چه سخت سخت ئې اووهئ.د مرګ پرواه ئې مكوئ.پريږدئ چه مړ شي.خو تادی مكوئ.په قيد كښې ئې واچوئ.وږې ئې ساتئ.دومره ئې

() شرح نووى على صحيح مسلم (۱\۱٦) كتاب الإيمان باب بيان إطلاق إسم الكفرعلى من ترك الصلاة والمجموع شرح المهذب (۳\۱۷) كتاب الصلاة فرع فى مذاهب العلماء فيمن ترك الصلاة تكاسلاً مع إعتقاده وجوبها)_

() درس بخارى(۱\٤ ۲۰)_

() ردالمحتار(۱\۲۵۹) كتاب الصلاة)_

اووهي چه وينه ترې روانه شي اوبيا ني هم جان محفوظنه دي ((حتى يتوب أو يموت)) ترخويوزې چه دآيت قرآنى ﴿فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَخُذُوهُمْ وَاحْصُرُوهُمْ وَاقْعُدُوا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ﴾(۱) تعلق دې نو يقيناً چه ددې نه په ظاهره هم دا معلوميږى چه تارك الصلاة قتل كړى خكه چه په دې ښكاره د ((أقتلوا)) لفظ دې هم دا وجه ده چه علامه ابن قيم رحمه الله هم په دې آيت باندې د تارك الصلاة په قتل باندې استدلال كړې دې (۲)

ددې جواب دا دې چه په آيت كښې د ((أقتلوا)) نه مراد قتل نه دې بلكه قتال دې ددې اولني قرينه دا ده چه حديث باب مقتبس دې د سورة براءت ددې آيت نه اوپه آيت كښې دقتل ذكر دې اوپه حديث كښې دقتال ذكر دې نواوس دوه صورتونه دى يا خو په آيت كښې قتل نه قتال مراد واخستې شى او حديث ددې تفسير اوګرخولې شى اويا چه په حديث كښې د قتال كوم لفظ راغلې دې د هغې نه د آيت په وجه قتل مراد واخستې شى عقلى قرائن دا ښئى چه په ايت كښې قتال مراد دې خكه چه حديث د آيت مفسر او شرح وى نولكه چه نبى ﷺ تنبيه وكړه چه په آيت كښې د قتل صبراً مراد نه دې بلكه قتال مراد دې اودا سې تجوزات په لغت كښې شائع دى.

دويمه قرينه دا ده چه د تارك الزكاة د قتل هيخوك قائل نه دى البته كه تارك الزكاة يوه ډله وى نوبيا امام ته د هغوى سره د قتال او محاربې حكم دې اودا مسئله اجماعي ده اوهركله چه په تارك الزكاة باندې دعدم قتل اجماع ثابته شوه نواوس به ګورو چه په قرآن پاك كښې د تخليه سبيل كوم درې شرطونه مذكور دى په هغې كښې زكاة هم شته نوكه په آيت كښې لفظ دقتل هم په خپله معنى باندې واخستې شى نوتارك الزكاة قتل ترې هم لازميږى حالانكه ټول په دې متفق دى چه دده د قتل حكم نشته نوخامخا به دا منل وى چه په آيت كښې هم قتال مراد دې او حديث به د آيت تفسير اوګرخولې شى ددې نه دامام بخارى رحمه الله دقت نظر معلوميږى چه په ترجمة الباب كښې ئې آيت راوړلو او ددې لاندې ئې ((أمرت أن أقاتل الناس)) حديث راوړلو ددوى مطلب دا دې چه خپل اشكال لرې كړى او پوهه شى چه په آيت كښې لكه چه لفظ د ((قتل)) دې خو مراد ترې ((قتال)) دې لكه څنګه چه حديث باب ددې وضاحت اوكړلو (۳)

داحنافو رحمهم الله استدلال احناف دتارك الصلاة په عدم قتل باندې د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حديث باندې استدلال كوى ((قال رسول الله ﷺ لا يحل دم امرئ مسلم يشهد أن لا إله إلا

(۱) التوبة: ۵)_
(۲) فتح الملهم (۱/۱۹۵) كتاب الإيمان باب الأمر بقتال الناس حتى يقولوا لا إله إلا الله)_
(۳) درس بخارى (۱/۲۰۳، ۲۰۴)_

الله وأن رسول الله إلا بإحدى ثلاث النفس بالنفس، والثيب الزاني والمفارق لدينه التارك للجماعة»[۱] په دې حديث شريف كښې دا خودلې شوى دى چه صرف په درې صورتونوكښې د يو مسلمان وژل جائزدى يا خوچه بل څوك قتل كړى نو به قصاص كښې به دې قتل كولې شى يا محصن زن اوكړى نو رجم كولې به شى.ياد دين نه مرتدشى نو د ارتداد په وجه به قتلولې شى.

دامام احمد او امام شافعى رحمهما الله خوندوره مناظره د تارك صلاة دتكفير اوعدم تكفير په باره كښې دامام احمد او امام شافعى رحمهماالله په مينځ كښې د يوې مناظرې ذكربه دلته د خوند نه خالى نه وى.

وائى چه امام احمد رحمه الله يوځل دامام شافعى رحمه الله سره د تارك صلاة په باره كښې مناظره اوكړه.امام شافعى رحمه الله د هغوى نه تپوس اوكړو آيا د تارك صلاة تكفير به كولې شى؟نو امام احمد رحمه الله اوفرمائيل.آو.د ده تكفير به كولې شى. امام شافعى رحمه الله ترې تپوس اوكړو نو بيا به دې څنګه مسلمانيږى؟ هغوى ورته جواب وركړو.چه كلمه اووائى.نو مسلمان به شى.امام شافعى رحمه الله ورته اوفرمائيل.هغه كس خو كلمه وائى.د كلمې نه خو منكر نه دې.نو امام احمد رحمه الله اوفرمائيل.چه مونځ اوكړى.نو مسلمان به شى.امام شافعى رحمه الله ورته اوفرمائيل .د كافر مونځ خو نه صحيح كيږى.او نه د مونځ په ذريعه هغه په اسلام كښې داخليدې شى.په دې باندې امام احمد رحمه الله چپ شو.[۲]

قوله: إلا بحق الإسلام: خوپه حق داسلام... يعنى دا خبره نه ده.چه چونكه ته كلمه وائې.مونځ كوې.او زكاة وركوې.نو اوس ته بيخى معصوم شوې.داسې نه ده.بلكه ددې ټولو كارونو باوجود كه ته غلا اوكړه.نو ستا لاس به كټ ككولې شى.كه قتل عمد دې اوكړو نو په قصاص كښې به قتل ته كولې شې.كه په چا دې په دروغه د زنا تهمت ا ولګولو.نو اتيا كوړې به درته لګولې شى.دغه شان په بل څه جرم باندې په تا باندې تعزيرى سزا جارى كولې شى.لكه چه د «إلا بحق الإسلام»مطلب دا شو.چه شهادت د توحيد او رسالت ،اقامت د صلاة او ايتاء الزكاة سره سړې معصوم الدم ګرځى.خودا ده.چه هم اسلام ددې د قتل حكم وركړى.لكه قاتل د نفس .يا محصن زناكار.نو د اسلام باوجود به دې قتل كولې شى.[۳]

---

[۱] صحيح بخارى كتاب الديات باب قول الله تعالى ﴿أن النفس بالنفس والعين بالعين﴾ رقم ۶۸۷۸ وصحيح مسلم (۵۹/۲) كتاب القسامة باب ما يباح به دم المسلم وسنن نسائى (۱۶۴/۲، ۱۶۵) كتاب المحاربة باب ذكر ما يحل به دم المسلم وسنن أبى داود كتاب الحدود باب الحكم فيمن إرتد رقم ۴۳۵۲ وسنن ترمذى كتاب الديات باب ما جاء لا يحل دم إمرئ مسلم إلا بإحدى ثلاث رقم ۱۴۰۲ وسنن ابن ماجه كتاب الحدود باب لا يحل دم إمرئ مسلم إلا فى ثلاث رقم ۲۵۳۴)_

[۲] طبقات الشافعية الكبرى(۲۲۰/۱۱) مناظرة بين الإمام الشافعى وأحمد رحمهما الله)_

[۳] ارشاد السارى(۱۰۸/۱)_

قوله وحسابهم على الله: اود دوى حساب الله تعالى ته حواله دى.
يعنى مونږ خو د ظاهر مكلف يونو كه څوك په ظاهره مسلمان وى نو هغه سره به : مسلمانانو پشان سلوك او معامله كوو اوكه مسلمان نه وى نو د مسلمانانو پشان معامله به ورسره نه كوو اګرچه هغه په باطن كښې هرڅنګه وى ځكه چه مونږ د باطن مكلف نه يو باطن الله تعالى ته حواله دې (١)

فائده ((على)) عموماً دوجوب دپاره راځى دلته د((على))استعمال شوى دى حالانكه په الله تعالى باندې خو د چا حساب واجب نه دې نه جزاء او سزا واجب ده اونه ثواب واجب دې په الله تعالى باندې هيڅ څيز واجب نه دې نو ددې وجې مونږ وايو ((وحسابهم موكول الى الله)) يعنى ددوى حساب كتاب الله تعالى ته حواله دې البته د ((على))د استعمال حكمت به : وى لكه چه اشاره شوې ده چه د دوى حساب كتاب متحقق الوقوع دې ددې د واقع كيدو : يقينيت په وجه ددې نه په لفظ د((على)) سره تعبير اوكړې شو كوم چه د وجوب دپاره راځى

۱۲ = بَاب مَنْ قَالَ إِنَّ الْإِيمَانَ هُوَالْعَمَلُ

لِقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى ﴿وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيٓ اُورِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ﴾ (٢) وَقَالَ عِدَّةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْئَلَنَّهُمْ اَجْمَعِيْنَ ۝ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ (٣) عَنْ قَوْلِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَقَالَ ﴿لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ﴾ (٤)

دا باب د هغه كس د مسلك په بيان كښې دې څوك چه دا وائى چه ايمان خو بس عمل دې **دعمل نه څه مراد دې؟** په دې كښې د عالمانو درې اقوال دى.

① حضرت ګنګوهى او حضرت انورشاه كشميرى رحمهما الله فرمائى چه ددې نه عمل قلب مراد دې.(٥) ② علامه سندهى رحمه الله فرمائى چه ددې نه اعمال جوارح مراد دى.(٦)
③ اود شراح كرامو دا رايه ده چه ددې نه ټول اعمال د قلب او د جوارح مراد دى.(٧)

---

١) ارشاد السارى(١\١٠٨)_
٢) الزخرف:٧٢)_
٣) الحجر ٩٢)_
٤) الصافات:٦١)_
٥) لامع الدرارى (١ ٥٦١. ٥٥٢) وفيض البارى(١:١٠٩)_
٦) حاشية السندى على صحيح البخارى(١ ٢٢)
٧) عمدة القارى(١ ١٨٣. ١٨٤)

د ترجمې مقصد حضرت گنگوهى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب سره د سلفو نه يو اشکال لرې کړې دې او هغه دا دې چه د سلفو نه منقول دى «الايمان قول وعمل» اشکال دا کيږى چه دا بيخى د بداهت نه خلاف خبره ده ځکه چه ايمان خو د تصديق قلبى نوم دې امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب سره د هغې جواب طرف ته اشاره کړې ده او دا ئې خودلى دى چه سلف خو دا وائى چه ايمان د عمل نوم دې خو ددې نه عمل قلبى يعنى تصديق باطنى مراد دې نو د هغوى قول د بداهت نه خلاف نشو (۱)

خو د ترجمې نه دا غرض دمولف رحمه الله د مخکنو او روستنو بابونو تصريح نه خلاف دې امام بخارى رحمه الله په مختلفو بابونوکښې دا ثابته کړې ده چه اعمال صلاة، زکاة او جهاد وغيره په ايمان کښې داخل دى نو بيا دا ونيل چه مؤلف د عمل نه تصديق قلبى او عمل قلب مراد اخلى او دا ښائى چه سلفو د عمل نه مراد عمل قلب يعنى تصديق اخستې دې دا په خپله د خپلو تصريحاتو نه خلاف دې.

حضرت کشميرى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله دا خودل غواړى چه ايمان صرف د علم او معرفت نوم نه دې ځکه چه دا معرفت خو د جحود سره هم جمع کيدې شى بلکه ايمان د عمل قلب نوم دې يعنى په زړه سره تسليمول او په زړه سره منل ايمان دې (۲)

علامه سندهى رحمه الله فرمائى چه په اصل کښې ګڼرو خايونوکښې په ايمان باندې د عمل عطف شوې دې او عطف په مغايرت باندې دلالت کوى نو ددې نه دا شبه کيدې شوه چه اعمال د ايمان نه خارج دى نوامام بخارى رحمه الله دا شبه لرې کړه او دا ئې اوخودل چه اعمال په ايمان کښې داخل دى او داعمالو چه په ايمان باندې کوم عطف شوې دې نو دا د قبيلې د عطف الخاص على العام ځنې دې چه مقصود ئې استيفاء او استقصاء دې د مغايرت په غرض باندې عطف نه دې شوې او ددې دليل مؤلف دا پيش کړې دې چه الله تعالى د جنت حاصلول په عمل باندې مرتب کړې دې او دا بيخى ښکاره خبره ده چه جنت صرف په ظاهرى عمل نه مرتب کيږى بلکه په ايمان باندې مرتب کيږى نو اوس معنى دا راووته چه د جنت حصول لکه څنګه چه په ايمان قلبى باندې وى دغه شان په ظاهرى اعمالو باندې هم وى نو لکه چه امام بخارى رحمه الله دا اوخودل چه په عطف سره په ايمان او عمل کښې مغايرت مقصود نه دې بلکه دا تخصيص بعد التعميم دې (۳)

دعامو شارحينو رحمهم الله رائې دا ده چه دلته عمل عام دې که عمل جوارح وى او که عمل قلب وى لکه چه د امام بخارى رحمه الله مقصد په دې ترجمې سره دا خودل دى چه عمل په ايمان کښې داخل دې هرڅنګه عمل چه وى دا خبره مؤلف د آيت مذکوره او روايت د مجموعې نه

---

۱) لامع الدرارى (۱/۱۱۱. ۵۶۲)_

۲) فيض البارى (۱/۱۰۹. ۱۱۰)_

۳) حاشية السندى (۱/۲۲. ۲۳)_

ثبته کړه او د دوی مقصد په هغه خلقوباندې رد دې څوك چه وائی «الإیمان قول بلا عمل» هغوی د ایمان تعریف کوی چه دا دقول لسان نوم دې د قول قلب نوم نه دې عمل د ایمان نه خارجوی ()

دا هم ونیلی شی چه امام بخاری رحمه الله په جهمیو باندې رد هم کوی څوك چه صرف معرفت ته که اختیاری وی او که غیر اختیاری وی ایمان وائی نو هرکله چه امام بخاری رحمه الله اوخودله چه ایمان خو د عمل نوم دې نوددې نه معلومه شوه چه په ایمان کښې د کوم معرفت اعتبار شوې دې هغه اختیاری دې د معرفت اختیاری نه بغیرپه دې باندې د عمل اطلاق نه صحیح کیږی نو د جهمیو خیال هم غلط شو ()

امام بخاری رحمه الله په ترجمة الباب کښې درې آیاتونه پیش کړی دی.

اولنې ایت ﴿وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ () په دې آیت کښې دا ونیلې شوی دی چه دا جنت کوم چه تاسو ته ملاویږی دا د عمل په وجه دې او تولو ته علم دې چه جنت د ایمان په وجه ملاویږی او هرکله چه جنت د ایمان په وجه ملاویږی اودلته ئې د عمل په وجه وئیلی دی نو معلومه شوه چه د عمل نه مراد ایمان دې او ﴿بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ اود ﴿بما کنتم تؤمنون﴾ په معنی دی نوکه ایمان نه وی او اعمال ډیر وی هم جنت نه ملاویږی خو که دلته ایمان وی اویوعمل هم نه وی نو جنت ملاویږی که د اول نه وی اوکه په آخر کښې وی بهرحال د جنت د تلو دارومدار په اصل ایمان باندې دې او په ایمان باندې د عمل اطلاق ددې وجې شوې دې چه د ایمان تعلق ظاهر وی برابره ده که داسې وی چه «اطلاق الجزء علی الکل» وی او که «اطلاق الفرع علی الأصل» وی په دې سره به د مرجئو تردید اوشی.

جنت ته میراث ولې وئیلې شوې دې؟ دلته یو اشکال خو دا دې چه په دې آیت کښې جنت ته میراث ونیلې شوې دې چه جنت به تاسو ته په میراث کښې درکولې شی سوال دا دې چه میراث خو هغې ته وائی چه کله د چا خپل نزدې رشته دار وفات شی او ترکه پریږدی نو هغه ترکه د هغه خپلو خپلوانو ته په میراث کښې ملاویږی په جنت کښې خو دا خبره نشته هلته څوك وفات شوی دی؟ او د چا په ملك کښې وو؟ چه د هغه په وفات سره اوس اهل ایمان ته په میراث کښې ملاویږی؟

عالمانو ددې مختلف جوابونه ورکړی دی.

① یو جواب دا ورکړې شوې دې چه دلته اصل کښې د عطاء جنت تشبیه د میراث سره ورکړې شوې ده () اوپه دوو خبرو کښې تشبیه ورکړې شوې ده

) الأبواب والتراجم لصحیح البخاری(۳۳. ۳٤)
) عمدة القاری()۱۸۳/۱. ۱۸٤) _
) الزخرف:۷۲) _
) الکشاف للزمخشری (٤/۲۶۳)

یوه دا چه میراث هغه وی چه په هغې کښې دوام وی یوکس ته چه کوم څیز په وراثت کښې ملاؤ شي نو هغه همیشه دپاره د هغه شی په هغې کښې فسخ. اقاله .ابطال او انکار نه وی.دغه شان چه کله جنت ملاؤ شي نو همیشه دپاره به وی ددې په عطاء کښې فسخ. اقاله ابطال او انکار څه هم نه وی

دویمه خبره دا ده چه میراث کله وارث ته ملاویږی په دې کښې تصرف کولو کښې به جنتیان آزاد وی.چه څنګه تصرف غواړی په دوی به هیڅ قسم پبندی نه وی ﴿وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِيٓ أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ﴾ (١)

③علامه عینی رحمه الله فرمائی چه په حدیث کښې راغلی دی چه په جنت او جهنم دواړو ځایونو کښې د هرمومن او کافر دپاره ځائې وی.کوم خلق چه جنت ته لاړ شي نو هغوی ته به په جهنم کښې هغه ځایونه اوخودلی شی.کوموکښې چه به کافران وی اودا به ورته اووئیلی شي که ایمان نه وې.نو تاسو به دلته وئې.نو هغوی به دالله تعالی شکر ادا کړی چه هغه مونږ ته هدایت کړې وو.او د جهنم د عذاب نه ئې بچ کړو.دغه شان به کافرانو ته د هغوی د جنت ځایونه اوخودلی شی. کوم چه مومنانو ته ملاؤ شوی وی اوکله چه هغوی د جنت محلات اوګوری.نو افسوس به کوی.هغوی به پریشانه شي چه کاش مونږ ایمان راوړې وې.او مونږ ته د جنت دا ځائې ملاؤ شوې وې اګرچه دلته مورث (بفتح الراء) کافر دې چه دده حصه په جنت کښې وه.خو د کفر په وجه هغه ده ته ملاؤ نشوه نو هغه مومن طرف ته منتقل شوه.(٢)

③ دویمه خبره علامه عینی رحمه الله دا کړې ده.چه دلته مورث (بفتح الراء) الله تعالی دې دا جنت د الله تعالی ملك وو.هغه تاسو ته درکړلو.لکه چه تشبیها ئې د اعطاء خداوندی نه په میراث سره تعبیراوکړو.اووئیلی شوی دی.چه لکه څنګه میراث مورث ته نه واپس کیږی.دغه شان کله چه الله تعالی دا جنت ورکړی نوبیا به ئې واپس نه اخلی.(٣)

③ قاضی بیضاوی رحمه الله فرمائی چه دلته ئې د میراث اطلاق په وجه کړې دې چه لکه څنګه مورث مړشی.خودهغه ترکه باقی وی دغه شان د اهل جنت عمل خو ختم شو خود هغې جزاء او ثواب دجنت په صورت کښې باقی دې نوځکه مجازا ئې ترې په میراث سره تعبیر اوکړو لکه چه میراث د مورث د وفات نه پس باقی وی.نودغه شان جنت کوم چه به د ثواب په صورت کښې وی.هغه به د عمل ختمیدو نه پس هم باقی وی.(٤)

③ حضرت دغه عبدالقادر رحمه الله فرمائی چه ﴿وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ د

---

(١) سورة حم سجدة:٣١)_

(٢)درمنثور (٨٥\٣) آیت « ونودوا أن تلكم الجنة أورثتموها بما كنتم تعملون » وعمدة القاری (١٨٤\١)_

(٣) عمدة القاری(١٨٤\١) _

(٤) تفسیر بیضاوی مع حاشیة شیخ زاده (٣٠٤\٤)_

حضرت آدم ﷺ په اعتبار سره ونيلې شوى دى.يعنى «المورث هو أبونا آدم ﷺ» ځکه چه په اول کښې جنت هغوى ته ملاؤ شوې وو.بيا هغوى د جنت نه اوويستې شو.او دنيا ته ئې تشريف راوړلو اواوس به په آخره کښې د هغوى اولاد ته دا جنت ورکولې شى.(۱) دا بيله خبره ده چه حضرت آدم ﷺ به هم په جنت کښې وى.خو بهرصورت دهغوى اولاد ته ورکولې شى لکه څنګه چه ميراث د پلار اولاد ته ملاويږى.نوځکه پرې د ميراث اطلاق اوشو

په ايت مذكوره او حديث كښې تعارض او ددې دفعيه دلته دويم اشكال دا كيږى.چه په حديث کښې راغلى دى.چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى«لن يدخل أحدا عمله الجنة قالوا ولا أنت يا رسول الله؟قال: لا،ولا أنا إلا أن يتغمدني الله بفضل ورحمة»(۲)

نوپه حديث کښې خودا ونيلې شوى دى.چه دعمل په بنياد څوك جنت ته نشى تلې اوپه آيت کښې دا دې.چه د عمل په وجه باندې جنت ملاويږى.

ددې اشكال هم عالمانو ﷺ ډير جوابونه ورکړى دى.

① يو جواب دا ورکړې شوې دې.چه دلته «باء» د سبب دپاره نه ده.بلكه د مصاحبت او ملابست دپاره ده.په سببيت کښې خو دا وى.چه سبب د مسبب دپاره دليل جوړيږى.او مسبب په سبب باندې موقوف وى.دلته کښې دا صورت مراد نه دې.چه ستاسو عمل د جنت تلو دپاره دليل او موقوف عليه دې.اودعمل په وجه به جنت ته داخليږئ.بلكه دا د مصاحبت او ملابست دپاره ده.اومطلب دا دې.چه ستاسود عمل سره به تاسو ته جنت ملاويږى.دا جنت به ستاسو عمل سره مصاحب او ملابس وى.تاسو ته دا جنت د عمل سره درکولې شى.ولې درکولې شى.نو دا د الله تعالى کار دې.دهغه رحمت او احسان دې په عمل باندې ددې ملاويدل موقوف نه دى.اونه عمل ددې د ملاويدو دليل دې.اوس اشكال ختم شو.ځکه چه په حديث کښې چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى «لن يدخل أحداً عمله الجنة» هلته د سببيت نفى ده.او دلته په آيت ﴿وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيٓ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾ کښې چه څه ونيلې شى.دلته سببيت نه دې.بلكه مصاحبت او ملابست دې.(۳)

② بعضې حضرات فرمائى.چه په آيت کښې «باء» د مقابلې دپاره ده چه جنت د عمل په مقابله کښې خو دې.خو په عمل باندې موقوف نه دې.عمل ددې دپاره دليل نه دې.مطلب دا شو.چه ستاسو په عمل کښې دومره صلاحيت نشته چه دا د جنت دپاره حقيقى سبب جوړ شى ستاسو اعمال ددې قابل نه دى.چه په دې باندې د جنت استحقاق پيدا شى.دا خو د الله

---

(۱) موضح القرآن (تفسير آيت «ونودوا أن تلكم الجنة أورثتموها بما كنتم تعملون»)_

(۲) صحيح بخارى كتاب المرضى باب تمنى المريض الموت رقم ۵۶۷۳ وكتاب الرقاق باب القصد والمداومة على العمل رقم ۶۴۶۳) و(۶۴۶۴) وصحيح مسلم (۲\۳۷۶، ۳۷۷) كتاب صفة المنافقين باب لن يدخل أحد الجنة بعمله بل برحمة الله تعالى)_

(۳) عمدة القارى(۱\۱۸۴)_

تعالى رحمت او فضل دې.چه هغه ستاسو عمل قبول كړو.او تاسو ته ئې په انعام كښې جنت دركړو.()

③ يوجواب دا هم كيدې شى.چه ته «بما» هم د سببيت دپاره واخلى.اود ﴿بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ۝﴾ معنى لكه څنګه چه په اول كښې خودلې شوې ده.﴿بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ۝﴾ شى او عمل په معنى د ايمان شى.نوبيا څه اشكال نه راځى.ځكه چه دا خو ښكاره ده.چه د نفس ايمان نه بغير جنت نشى ملاويدې.اودا هم ښكاره ده چه نفس ايمان وى.نو ضرور به ملاويږى.دا نشى كيدې.چه نفس ايمان موجود وى.او جنت دې ملاؤ نشى.كه په اول كښې ملاؤ شى.نوهم اوكه په اول كښې نه وى.نو په آخر كښې به ملاويږى.بهر حال د ايمان مقتضى جنت دې.اودا د نفس ايمان په بنياد ملاويږى.نوكه دلته نفس ايمان مراد واخستې شى.او باچه د سببيت دپاره اوګرځولې شى. په دې كښې څه قباحت هم نشته.والله أعلم.

قوله: وَقَالَ عِدَّةٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْئَلَنَّهُمْ أَجْمَعِيْنَ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ عَنْ قَوْلِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ: څه عالمانو ﷺ دالله تعالى د دې ارشاد ﴿عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ۝﴾ تفسير په «عن قول لا إله إلا الله» سره كړې دې.

ددې نه وړاندې دى.﴿لَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖٓ أَزْوَاجًا مِّنْهُمْ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ۝ وَقُلْ إِنِّيْٓ أَنَا النَّذِيْرُ الْمُبِيْنُ۝ كَمَآ أَنْزَلْنَا عَلَى الْمُقْتَسِمِيْنَ۝ الَّذِيْنَ جَعَلُوا الْقُرْاٰنَ عِضِيْنَ۝ فَوَرَبِّكَ لَنَسْئَلَنَّهُمْ أَجْمَعِيْنَ۝ عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ۝﴾()

يعنى مونږ چه دې كافرانو ته مختلف نعمتونه وركړى دى.دې طرف ته مه ګوره.اومه په دوى باندې غم كوه.البته مومنانو دپاره خپل اړخ نرم ساته.او وړته اووايه.چه زه ښكاره ويريونكې يم.اوتاسو ته ښايم.چه عذاب به خامخا نازليږى. لكه څنګه چه مونږ په هغه خلقو باندې نازل كړې وو.چاچه د الله تعالى احكام ئې حصې حصې كړل.يعنى قرآن پاك ئې ټكړې ټكړې كړو.نوستا په پروردګار قسم چه مونږ به ضرور ددوى نه ددوى داعمالو تپوس كوو. چونكه دلته د وړاندې نه د كافرانو ذكر راروان وو.نوځكه ډيرو سلفو ﷺ د ﴿عَمَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ۝﴾ تفسير په «لا إله إلا الله» سره كړې دې.

بيا په دې قول «لا إله إلا الله» كښې عموم دې.برابره ده كه قول بالقلب مراد واخستې شى.اوكه قول باللسان.كه قول بالقلب مراد واخستې شى.نو بيا د كراميؤ ترديد هم كيږى.او كه قول باللسان واخستې شى.نوبيا به دا ونيلې شى.چه د قول باللسان نه مراد هغه قول دې.كوم چه مع التصديق وى.د تصديق قلب نه بغيرصرف د ژبې ګواهۍ لره څه اعتبارنشته.

() عمدة القارى(۱۱\۱۸٤)_

() الحجر:۸۸-۹۳)_

﴿لِمِثْلِ هٰذَا فَلْيَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ﴾ (١)

دلته د ((مثل هذا)) نه مراد ((الفوز العظيم)) دې كوم چه ماقبل ذكر شوې دې.او ((فوز عظيم)) نه مراد جنت دې.نو مطلب دا شو.چه د جنت دپاره عمل كوئ.دا خپل هدف جوړ كړئ.او مقصد اوګرځوئ ښكاره ده.چه د جنت دپاره نې كوم عمل اصل ګرځولې دې.نو هغه دايمان عمل دې.نود ﴿فليعمل العاملون﴾ معنى دا شوه.((فليؤمن المؤمنون)) اودلته د عمل اطلاق په ايمان باندې شوې دې. امام بخارى رحمه الله هم دا خودل غواړى.

[٢٦] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَا حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ قَالَ حَدَّثَنَا ابْنُ شِهَابٍ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ فَقَالَ إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ حَجٌّ مَبْرُورٌ [٣٢٧]

رجال الحديث

① احمد بن يونس: دوى احمد بن عبدالله بن يونس بن عبدالله بن قيس تميمى يربوعى كوفى دى.ابوعبدالله ئې كنيت دې.ددوى د پلار نوم عبدالله دې.خود نيكه په نسبت يعنى احمد بن يونس سره مشهور شوې دې.ونيلې شى.چه داد فضيل بن عياض رحمه الله مولى وو دوى دامام مالك.ابن ابى ذئب .ليث بن سعد او فضيل بن عياض رحمهم الله نه علاوه د نورو حضراتو نه احاديث اوريدلى دى.

او د دوى په شاګردانوكښې ابوزرعه.ابوحاتم.ابراهيم حربى. بخارى مسلم او ابوداود رحمهم الله دى.ابوحاتم رحمه الله فرمائى.((كان ثقة متقناً))

امام احمد رحمه الله دوى ته د شيخ الاسلام لقب وركړې دې.د څلورنوى كالو په عمر كښې په ربيع الثانى كښې په كال ٢٢٧هـ كښې وفات شوې وو.رحمه الله رحمة واسعة (٢)

② موسى بن اسماعيل: دوى ابوسلمه موسى بن اسماعيل منقرى تبوذكى بصرى دى. د دوى حالات په ((بدء الوحى)) كښې د څلورم حديث لاندې تيرشوى دى.

③ ابراهيم بن سعد: دوى د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضى الله عنه كروسې دې ددوى حالات د ((باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال)) حديث لاندې تيرشوى دى.

④ ابن شهاب: دوى امام زهرى رحمه الله دى.ددوى حالات وړاندې د ((بدء الوحى)) د دريم

---

(١) الصافات:٦١)_

(٢) عمدة القارى(١\١٨٦) وتقريب (ص.٨١) رقم ٦٣)_

حديث لاندې تير شوی دی.

⑤ سعيد بن المسيب: دوی امام التابعين.فقيه الفقهاء .احد فقهاء السبعة حضرت سعيد بن المسيب بن حزن بن ابى وهب بن عمروبن عائذ بن عمران بن مخزوم بن يقظه بن مره قرشى مخزومى رحمه الله دی.دده پلار او نيکه دواړه صحابيان رضی الله عنهما وو.د مکې د فتحې په موقع ئې اسلام قبول کړې وو.

په مسيب کښې يا مفتوح هم وئيلې شی.او مکسور هم.فتحه مشهور ده. اګرچه په خپله د حضرت سعيد بن المسيب رحمه الله نه نقل دی.چه دوی به د فتحه په وئيلو باندې خفه کيدلو.

سعيد بن المسيب رحمه الله د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت نه دوه کاله پس پيدا شوې وو.يو قول دا دې چه څلور کاله پس پيدا شوې وو.

دوی د حضرت عمر.حضرت عثمان.حضرت علی .حضرت سعدبن ابی وقاص.حضرت ابن عباس. حضرت ابن عمر.حضرت جبيربن مطعم.حضرت عبدالله بن زيد بن عاصم.حضرت حکيم بن حزام.حضرت معاويه.حضرت عبدالله بن عمروبن العاص.حضرت ابوموسی اشعری. حضرت صفوان بن اميه.حضرت مسور بن مخرمه .حضرت جابربن عبدالله. حضرت ابوسعيد خدری،حضرت زيد بن ثابت.حضرت عثمان بن ابی العاص.حضرت ابوهريره، حضرت عائشې او حضرت ام سلمې رضی الله عنهن نه علاوه د نورو ډيرو صحابو رضی الله عنهم نه احاديث اوريدلی دی.

ددوی نه په روايت کونکو کښې ډير لوئې لوئې عالمان تابعين دی.لکه عطاء بن ابی رباح. محمد الباقر.عمروبن دينار.يحيی الانصاری. امام زهری رحمهم الله وغيره.

ددوی په امامت .جلالت شان او علم او فضيلت او وجوه خير کښې په تقدم باندې د ټولو عالمانو رحمهم الله اتفاق دې.

محمدبن يحيی بن حبان فرمائی.((كان رأس أهل المدينة فى دهره،المقدم عليهم فى الفتوى سعيدبن المسيب،ويقال له فقيه الفقهاء))

امام قتاده رحمه الله فرمائی.((ما رأيت أحداً أعلم بحلال الله وحرامه من سعيد بن المسيب رحمه الله))

امام مكحول رحمه الله فرمائی.چه زه د علم په طلب کښې ټوله دنيا کښې ګرځيدلې يم.خود حضرت سعيدبن المسيب رحمه الله نه لوې عالم ما نه دې ليدلې.

علی بن المدينی رحمه الله فرمائی((لا أعلم أحداً فى التابعين أوسع علماً من سعيد بن المسيب)) دغه شان فرمائی((وهو عندی أجل التابعين))

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی.((أفضل التابعين سعيد بن المسيب رحمه الله))

حضرت سعيد بن المسيب رحمه الله چه به کله هم څه فتوی ورکوله.نو فرمائيل به ئې.((اللهم سلمنى وسلم منى))

ابوحاتم رحمه الله فرمائی.((ليس فى التابعين أنبل من سعيد بن المسيب رحمه الله ،وهو أثبتهم فى أبى هريرة رضی الله عنه))

حافظ فرمائي چه دحضرت ابوهريره رضي الله عنه داحاديثو د ټولو نه لوئي عالم حضرت سعيد بن المسيب و..اودوى د حضرت ابوهريره رضي الله عنه خوم وو.
حضرت سعيدبن المسيب رحمه الله به سركارى تنخواه نه اخستله بلكه د تيلو كاروبار به ئي كولو.دوى ځلوېښت حجونه كړى وو.
خلاصه دا چه د حضرت سعيدبن المسيب رحمه الله د دين .افضل اوشرف. امامت فى العلم او جلالت شان په باره كښې دسلفو اوخلفو ټولواتفاق دې.(۱)

تنبيه امام نووى رحمه الله فرمائي.(۲) چه امام احمد بن حنبل وغيره دوى لره فضل التابعين ګرځولي دى.نودا د علوم شريعت په اعتبار سره دى.ګنى مطلق افضليت حضرت اويس قرنى رحمه الله ته حاصل دې.د چا په باره كښې چه په مسلم شريف كښې مرفوع حديث دې چه حضرت عمر رضي الله عنه فرمائيل.((سمعت رسول الله ﷺ يقول:إن خيرالتابعين رجل يقال له أويس،وله والدة وكان به بياض، فمروه فليستغفرلكم))(۳)

دحضرت سعيدبن المسيب رحمه الله وفات په كال ۹۳ھ يا ۹۴ھ كښې شوې دې.دغه كال ته ((سنة الفقهاء))ونيلي شى.ځكه چه په دې كښې ډير فقهاء وفات شوى وو.والله أعلم(۴)

حضرت ابوهريره رضي الله عنه :د دوى تفصيلى حالات وړاندې په كتاب الايمان كښې د ((باب أمورالايمان)) لاندې تيرشوى دى.

قوله أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ فَقَالَ إِيمَانٌ بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ قِيلَ ثُمَّ مَاذَا قَالَ حَجٌّ مَبْرُورٌ: د نبى كريم ﷺ نه دا تپوس څو ځله ګنړوحضراتو كړې دې.او نبى ﷺ هريو ته مختلف جواب وركړې دې.ددې تفصيل وړاندې په ب((باب إطعام الطعام من الإسلام)) لاندې تيرشوې دې.

په دې حديث كښې تاسو ګورئ چه په دويمه درجه كښې جهاد ذكر شوې دې. او ددې نه پس حج.حالانكه ترتيب ددې په عكس پكار وو.ځكه چه جهاد فرض كفايه دې.اوحج د اسلام ركن دې.او فرض عين دې.
ددې يو جواب قاضى عياض رحمه الله وركړې دې.دوى فرمائي چه دا د ابتدائى وخت قصه وه.دجهاد فرضيت وړاندې شوې وو.او دحج فرضيت وروسته شوې دې. نوځكه ئي جهاد

---

(۱)دا ټول تفصيل دتهذيب الأسماء واللغات (۲۱۹/۱. ۲۲۱.) نه ماخوذ دى ـ
(۲)المصدرالسابق)ـ
(۳) صحيح مسلم (۳۱۱/۲) كتاب الفضائل باب من فضائل أويس القرنى رحمه الله)ـ
(۴) تهذيب الأسماء واللغات (۲۲۰/۱)ـ

مقدم کړې دي.(۱)
دا هم کیدې شي چه دا د هغه وخت مسئله ده کله چه جهاد مستقل رکن وي.یعنی الله دې نکړي که کافران حمله اوکړي.نود هرکس په حق کښې جهاد فرض عین ګرځي.اوپه حج باندې مقدم کيږي.(۲)
یا ددې وجې جهاد مقدم کړې شوې دې.چه د حج نفع لازمي ده.اوجهاد نفع متعدی ده.(۳)
حج مبرور بعضې حضرات فرمائی چه حج مبرور حج مقبول ته وائی.او بعضې عالمان رحمهم الله فرمائی. چه ((المبرور الذی لایخالطه إثم))
بعضې حضرات وائی((المبرور الذی لا رياء فيه))(۴)والله أعلم.
د حدیث شریف د ترجمة الباب سره مطابقت امام بخاری رحمه الله په دې روایت سره صرف دا خودل غواړي.چه په حدیث پاك کښې د نبی ﷺ نه تپوس اوشو.چه((أی العمل أفضل))نو نبی په جواب کښې فرمائی .((إيمان بالله))معلومه شوه.چه ایمان عمل دې.د عمل نه سوا بل څيز نه دې.او هم دا ترجمه ده.(۵)والله سبحانه وتعالى أعلم.

۱۷ = بَابٌ إِذَا لَمْ يَكُنِ الْإِسْلَامُ عَلَى الْحَقِيقَةِ وَكَانَ عَلَى الِاسْتِسْلَامِ أَوِ الْخَوْفِ مِنَ الْقَتْلِ

لِقَوْلِهِ تَعَالَى ﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا﴾(۱) فَإِذَا كَانَ عَلَى الْحَقِيقَةِ فَهُوَ عَلَى قَوْلِهِ جَلَّ ذِكْرُهُ ﴿إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ﴾(۲)

دلته امام بخاری رحمه الله ((إذا لم يكن الإسلام على الحقيقة))اوفرمائيل.دا جمله شرطيه ده.ددې جزاء ذکر نه ده.بیا په آخرکښې ((فإذا كان على الحقيقة فهو على قوله جل ذكره)) کښې جزاء موجود ده.سوال دا دې.چه د اولنۍ جملې جزا ولې نشته؟
اکثر شارحين رحمهم الله دلته یوتقریر کوی.خوپه هغه تقریرد پوهیدو دپاره د هغې نه وړاندې دوه خبرې د تمهید په طور باندې زده کړئ.

---

۱) شرح نووی (۱\۶۳) کتاب الإیمان باب بیان کون الإیمان بالله تعالى أفضل الأعمال)_
۲) عمدة القاری(۱\۱۸۹)_
۳) المصدرالسابق)_
۴) فتح الباری(۱\۷۸، ۷۹)_
۵) عمدة القاری(۱\۱۸۶)_
۶) الحجرات: ۱۴)_
۷) آل عمران:۱۹)_

يو خودا چه دلته «اذا لم يكن الإسلام على الحقيقة» كښې لفظ د «حقيقت» اكثرشارحين ﷬ د مجاز په مقابله كښې اخلى.اودا فرمائى چه دلته د حقيقت نه مراد حقيقت شرعيه دې مجاز شرعى مراد نه دې.

دويمه خبره دا ده.چه امام بخارى ﷫ دلته كومه ترجمه قائمه كړې ده.په دې سره د دوى مقصد ديو اعتراض دفع كول دى.هغه دا چه ته دا وائې.چه ايمان او اسلام متحد دى.او د قرآن مجيد په دې آيت كښې دى. ﴿قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ۭ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا﴾ دې نه معلوميږى چه ايمان او اسلام متحد نه دى

ددې آيت شان نزول دا دې.چه د بنو اسدځه خلق د قحط سالۍ په زمانه كښې خپلوځارور اوبال بچ سره مدينې منورې ته راغلل.او د نبى ﷺ مخامخ ئې دا احسان كولو.چه مونږ بغيرد قتال نه ايمان راوړې دې.اوس مونږ پريشان يو.مونږ سره امداد اوكړئ.ددوى په باره كښې دا آيت نازل شو.(١) ښكاره ده.چه ددې اعرابو نه د ايمان نفى شوې ده.خو ددې اسلام ثابت كړې شوې دې.چه ايمان خو په تاسو كښې نشته.البته تاسوداوئيلې شئ.چه مونږاسلام قبول كړې دې.ددې نه معلوميږى.چه ايمان او اسلام يو څيز نه دې.

د اكثروشارحينو ﷬ رائې دا ده.چه دامام بخارى د دې ترجمة الباب نه مقصود ددې اعتراض لرې كول دى.نو شارحينو ﷬ دا تقرير كړې دې.چه اسلام په دوه قسمه وى.يو هغه اسلام كوم چه په حقيقت شرعيه باندې مبنى وى.او هم دا اسلام عندالشرع اوعندالله معتبردې.يعنى چه په رښتينې زړه ئې اسلام قبول كړې وى.ناوانقياد باطنى ئې اختيار كړې وى.او يو اسلام هغه دې.چه په هغې كښې صرف استسلام ظاهرى او انقياد صورى وى.د مال په طمع كښې يا د قتل د ويرې په وجه سرې په ظاهره كلمه اووائى.او مسلمان شى.اود ايمان او اسلام حقيقت شرعيه په ده كښې موجود نه وى.

دې حضراتو دامام بخارى ﷫ د دې ترجمې تقدير د عبارت دا بيان كړې دې. «اذا لم يكن الإسلام على الحقيقة الشرعية بل كان على الإستسلام الظاهرى والإنقياد الصورى لأجل الخوف من القتل وطمع المال : فهوليس بمتحد مع الإيمان بل هو مغايرله لقوله تعالى ﴿قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا ۭ قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا﴾

وإذا كان على الحقيقة الشرعية المعتبرة عند الشارع فهوعلى قوله جل ذكره ﴿اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ﴾ أى فهو متحد مع الإيمان» دين او اسلام ﴿اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ﴾ سره متحد دى.اودامام بخارى ﷫ په نيز لكه څنګه چه وړاندې تير شو.دين اوايمان متحد دى .او قاعده ده.چه «متحد المتحد متحد» نتيجه دا راووته.چه اسلام او ايمان متحد دى.هم دا دامام بخارى ﷫

---

(١) درمنور(٦/١٠٠) الحجرات)_

په دې ځائې کښې مقصود دې ( )

وامام العصرحضرت علامه انور شاه كشميرى رحمه الله **رائې** حضرت علامه انورشاه كشميرى رحمه الله دلته يو بل تقرير کړې دې.هغوى دلته حقيقت د مجاز په مقابله کښې نه دې اخستې بلکه حقيقت ئې په معنى د نفس الامر او واقع اخستې دې.دغه شان هغوى دا ترجمه د څه اعتراض يا سوال جواب نه دې ګرځولې بلکه هغوى فرمائيلى دى.چه دامام بخارى رحمه الله ددې ترجمې نه دلته د يوې مستقلې مسئلې بيانول مقصود دى.چه کوم اسلام معتبر نافع او منجى عندالله دې.اوکوم غير معتبر اوغيرنافع دې.نوهغوى فرمائيلى دى. چه کوم اسلام واقعى او نفس الامرى نه وى.يعنى په صدق دل او استسلام او دباطن په انقياد سره نه وى.بلکه د طمعې يا ويرې نه صرف رسمى او اسمى استسلام او صرف ظاهرى او صورى انقياد وى.نوهغه عندالله غيرمعتبر او غيرنافع دې. ﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ اٰمَنَّا﴾ کښې هم دا اسلام مراد دې.او کله چه اسلام واقعى اونفس الامرى وى. يعنى په صميم قلب او صدق نيت سره استسلام او د باطن انقياد وى.نوهغه اسلام معتبر. مرضى عندالله او منجى اونافع دې.او ﴿إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْإِسْلَامُ﴾ کښې هم دا اسلام مراد دې.په دې تقرير سره تقديرد عبارت داسې شو.((إذا لم يكن الإسلام على الحقيقة أي في الواقع ونفس الأمر بل كان على الإستسلام الظاهري بسبب الخوف من القتل فلا ينفع لقوله تعالى ﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ اٰمَنَّا﴾ وإذا كان الإسلام على الحقيقة أي في الواقع ونفس الأمر فهو على قوله جل ذكره ﴿إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْإِسْلَامُ﴾ أي فهو المعتبر والمرضى عند الله والمنجى والنافع في الآخرة))( )

که غور اوکړې شى.نود حضرت شاه صاحب او نوروعامو شارحينو په تقرير کښې لفظى فرق دې.اصلى اومعنوى څه فرق نشته.نتيجه د دواړو يوه ده.

د دواړو په تقريرونو کښې يو فرق دا دې.چه حضرت شاه صاحب حقيقت په معنى د واقع او نفس الامر اخستې دې.اوعامو شارحينوحقيقت په مقابله د مجاز کښې اخستې دې.دويم فرق دا دې.چه عامو شارحينودا باب د سوال مقدر جواب ګرځولې دې.اوحضرت شاه صاحب رحمه الله دا يوه مستقله مسئله ګرځولې ده.

مآل او نتيجه د دواړو يوه ده.ځکه چه واقعى او نفس الامرى اسلام هم په هغه وخت کښې وى.کله چه د اسلام حقيقت شرعيه متحقق وى.ګنى نه به وى.

سوال دا دې.چه حضرت شاه صاحب د عامو شارحينو دتقرير نه عدول ولې اوکړو.حالانکه مآل اونتيجه د دواړو يوه ده.

ددې وجې داخودلې شوې ده.چه دعامو شارحينو په تقريباندې اشکال وارديږى.چه هرکله داسلام حقيقت شرعيه متحقق نه دې.نو بيا شارع ﷺ دوى دپاره اسلام ځنګه ثابت کړې

) فضل البارى (١\٣٩٦، ٣٩٧)_

) فيض البارى (١\١١٠و ١١١)_

دي.اودا ئې ځنګه فرمائيلي دي ﴿وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا﴾
خوهم دا اشكال دحضرت شاه صاحب په تقريرباندې هم وارديږي.چه هركله ددغه اعرابو اسلام واقعي. معتبر .مرضي عندالله او منجي اونافع نه وو.نودهغوى دپاره ځنګه الله تعالى ﴿وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا﴾ اوفرمائيل.[١]
دريمه رائې دريمه رائې بعضې حضراتو پيش كړې ده.چه دلته امام بخارى رحمه الله داعتراض جواب نه وركوى.بلكه داسلام دوه حيثيتونه بيانوى.
يوداسلام حيثيت صرف د دنياوى احكامو په اعتبار سره دې.اوبل حيثيت ئې د دنيوى احكامو سره سره د اخرت داحكامو په اعتبار سره هم دې.
نو وائي.چه كله اسلام په حقيقت باندې نه وى.نوهغه اسلام به صرف په دنيوى احكامو كښې معتبراومعتدبه وى.اوكله چه اسلام په حقيقت باندې وى. نو هغه به عندالله اوپه آخرت كښې هم معتبر .مرضي اومعتد به وى.
په دې تقرير به تقديرى عبارت داسې وى.
((إذا لم يكن الإسلام على الحقيقة بل كان على الإستسلام الظاهرى أوالخوف من القتل فيعتد به فى الأحكام الدنيوة لقول تعالى ﴿قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا﴾ فإذا كان على الحقيقة فهو على قوله جل ذكره ﴿إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْإِسْلَامُ﴾ أى فهو مرضى ومعتدبه عندالله تعالى))
ددې حضراتو په تقرير برابره ده كه د حقيقت نه حقيقت شرعيه مراد واخستې شى.لكه ځنګه چه اكثرو شارحينو اخستې دې.اويا د حقيقت نه مراد نفس الامر واخستې شى.لكه ځنګه چه حضرت شاه صاحب رحمه الله اخستې ده.نوپه سره څه فرق نه پريوځي.[٢]
دعلامه سندهى رائې دعلامه سندهى رحمه الله رائې دا ده.چه امام بخارى رحمه الله د نافع اوغيرنافع بحث نه دې چيړلې.بلكه دوى خو دا ښائي.چه د اسلام دوه اطلاقات دى.يو اطلاق حقيقي يعنى چه اسلام اووائي.او ددې نه حقيقت شرعيه مراد وى.دا خو دايمان مرادف دې.او ﴿إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْإِسْلَامُ﴾ كښې هم دا ذكر دې.اودويم اطلاق ددې په استسلام او انقياد باندې كيږي. برابره ده كه دغه استسلام او انقياد د طمع في الغنيمة په وجه وى.يا د قتل د ويرې د وجې وى.اوهم دا اسلام په آيت كريمه ﴿قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا﴾ كښې وارد دې.
علامه سندهى رحمه الله فرمائي.چه دامام بخارى رحمه الله مطلب دا دې.كه د اسلام نه ددې حقيقت شرعيه مرادفه للايمان مراد نه شى.بلكه اسلام د استسلام او انقياد په معنى كښې واخستې شى.اوهغه استسلام اوانقياد د طمع فى الغنيمة يا خوف من القتل نه ناشى وى.نو په باندې د اسلام اطلاق جائز دې.دليل په دې آيت كريمه ﴿قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا﴾ دې.اعرابو د اسلام دعوه كړې وه.اوپه هغوى كښې د ايمان حقيقت نه وو.او دا اوونيلى شو.چه تاسو

[١] فضل البارى (١١\٣٩٨)_
[٢] فضل البارى (١١\٣٩٩)_

((أسلمنا)) وائي يعنى په تاسو كښې ايمان نشته.
علامه موصوف فرمائى چه داسلام ددې دواړو اطلاقاتو معلوميدونه پس په نصوصو كښې چه په ظاهره كوم تعارض په نظر راځى هغه ختم شو.په دې طريقه چه چرته اسلام عين دين ګرځولې شوې دې.نو هلته اسلام حقيقى او ددې حقيقت شرعيه مراد دې.او چرته چه په اسلام او ايمان كښې فرق كړې شوې دې.هلته اسلام لغوى مراد دې يعنى ظاهرى استسلام اوانقياد .كوم چه مجاز شرعى دې.

ددې نه پس په دې پوهه شئ:چه علامه سندهى رحمه الله فرمائى.((أوالخوف من القتل)) دا په ((استسلام)) باندې معطوف نه دې.ځكه چه دا دهغې مقابل نه دې. بلكه ددې معطوف عليه محذوف دې.اوهغه د استسلام علت دې.تقدير د عبارت به دا وى.((وكان على الاستسلام لطمع فى الغنيمة أوالخوف من القتل))(١)والله اعلم.

دشيخ الاسلام شبيراحمد عثمانى رحمه الله رائې په تيرو شوو تولو تقريرونو كښې يوه خبره مشتركه ده.چه دغه اعرابيان كوم چه دنبى ﷺ په خدمت كښې حاضر شوى وو.منافقان شماركړې شوى دى.
علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى.چه دامام بخارى رحمه الله ددې ترجمې نه مقصود هم هغه د ايمان او اسلام مراتب بيانول دى.او هغوى دا ښائى.چه دايمان او اسلام ډير مراتب دى.اوپه هغې كښې په خپل مينځ كښې تفاوت دې.
ددې خبرې زده كولو دپاره اول دوه خبرې زده كړئ.
① اولنئ خبره خو دا ده.چه په آيت كريمه ﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَٰكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا﴾ كښې د سلف مفسرينو اختلاف دې.چه په دې آيت كښې د اعرابو دپاره اسلام ثابت كړې شوې دې.او د دوى نه د ا يمان نفى شوې ده.اودوى بې ايمانه ګرځولى شوى دى.اوكه د دوى نه د مطلق ايمان نفى نه ده شوې.بلكه دايمان د يوخاص مقام نفى ترې شوې ده.كه اول مراد وى.نودا اسلام دهغوى دپاره غيرنافع دې.په دې به ورته اجر او ثواب نه ملاويږى.او كه دويم مراد وى.نو نافع به وى.اوپه دې به ورته اجراوثواب ملاويږى.
دحضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنهما حسن بصرى، ابن سيرين،ابراهيم نخعى، محمد الباقر، حمادبن زيد ،امام احمد بن حنبل، سهل بن عبدالله تسترى، اوابوطالب مكى رحمهم الله وغيره ډيرو مفسرينو هم دا رائې ده.چه اسلام دهغوى په حق كښې مفيد دې.اوپه هغې باندې به اجراو ثواب ملاويږى.هغوى ته منافقان نه دى وئيلى شوى.
② اودويم قول چه په دې آيت كښې د اسلام نه مراد ظاهرى اطاعت او انقياد دې .كوم چه په څه طمع باندې مبنى وى.ياد خان د ويرې د وجې هغه ښكاره كولې شى.علامه ابن تيميه رحمه الله ليكلى دى.چه هم دا دامام بخارى، محمدبن نصر مروزى رحمهما الله رائې ده.حافظ ابن

(١)حاشية السندى على صحيح بخارى (١\٢٣و ٢٤)_

كثير رحمه الله هم په خپل تفسير كښې ليكلى دى.چه دامام بخارى په نيزدا اعراب منافقان وو.[١]
علامه ابن تيمه اول قول اختيار كړې دې.اوپه دې باندې ئې تفصيلى كلام كړې دې.او
هغوى د اسلام د معتبر كيدو درې دليلونه پيش كړى دى.

① اولنې دليل خو دا دې.چه الله تعالى ددې عرابيانو سره كوم انداز خطاب اختيار كړې
دې.هغه د منافقانو د انداز خطاب نه بيخى جدا دې.دوى سره ډير د نرمۍ انداز اختيار كړې
شوې دې.ارشاد شوې دې. اعرابيان وائى.«آمنا» ته ورته اووايه. «لم تؤمنوا» بلكه دا وائې
﴿اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِىْ قُلُوْبِكُمْ﴾ ددې په خلاف دمنافقانوپه باره كښې سخت انداز اختيار
كړې شوې دې.ارشاد دې.
﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَمَا هُمْ بِمُؤْمِنِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَمَا يَخْدَعُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ فِىْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللّٰهُ مَرَضًا وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ بِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ﴾ (٢) دغه
شان په بل ځائې كښې دى. ﴿اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ﴾ (٣)

② دويم دليل دا دې.چه الله تعالى داسې ارشاد كړې دې.﴿وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِىْ قُلُوْبِكُمْ﴾
تراوسه پورې ايمان ستاسو په زړونوكښې نه خلط شوې.دلته د «لما» استعمال شوې دې.او
ددې استعمال د داسې امردپاره كيږى.كوم چه لا تراوسه پورې واقع شوې نه وى.خو ددې
واقع كيدو اميد وى.اوددې انتظار وى.لكه «قام الأمير ولما يركب» كښې وائى.چه امير
اودريدلې دې.خو تراوسه پورې په سورلۍ نه دې سورشوې.خودده د سوريدو انتظار كولې
شى.او زر به سور شى.
ددې نه معلومه شوه.چه ايمان دهغوى په زړونو كښې نه وو داخل شوې.خودهغې د داخليدو
توقع او اميد وو.الله تعالى چه اعرابو ته دا اوفرمائيل.چه تاسو﴿اٰمَنَّا﴾ مه وائې. بلكه
﴿اَسْلَمْنَا﴾ وائې.دا صرف ددې وجې چه اعرابو د خپل ځان دپاره داسې مرتبه ثابته كړې وه.
كومه چه تر اوسه پورې هغوى ته نه وه حاصله. يعنى رسوخ فى الايمان.نو الله تعالى د هغې
نفى اوكړه.چه تاسو ته دا مقام نه دې حاصل.البته تاسو پاس شوې ئې.او د اسلام په احاطه
كښې راغلې ئې.

③ دريم دليل دا دې.چه الله تعالى وړاندې فرمائى﴿وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا﴾ كه تاسو د الله او د هغه د رسول اطاعت اوكړئ.نو ستاسو په اعمالو كښې به څه

---

[١] تفسير ابن كثير(٤/٢١٩) سورة الحجرات)
[٢] سورة بقرة:٨-١٠)_
[٣] سورة منافقون:١)_

كمي اونكړي. يعنى د ټولو اجراو ثواب به تاسو ته ملاو شي. دا پخپله ددې خبرې دليل دې. چه د هغوى اطاعت مقبول دې. حالانكه د منافق څه اطاعت مقبول نه وى.

دويمه خبره دا ده. چه امام بخارى رحمه الله دا كوم ارشاد فرمائيلې دې. چه ((إذا لم يكن الإسلام على الحقيقة)) دلته د حقيقت نه مراد د حقيقت هغه معنى مراد نه ده.. كومه چه د مجاز په مقابل كښې ونيلې شي. بلكه ددې نه حقيقت په معنى د كمال مراد ده. لكه څنګه چه د ابن حبان په حديث كښې دى. ((لايبلغ عبد حقيقة الإيمان حتى يحب للناس مايحب لنفسه من الخير)) [1]

دغه شان د يو صحابى رضي الله عنه حارثه نه نبى صلى الله عليه وسلم تپوس اوكړو. ((كيف أصبحت يا حارثة؟)) نو هغوى جواب وركړ ((أصبحت مؤمنا حقا)) نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. ((أنظر ما تقول فإن لكل قول حقيقة فما حقيقة إيمانك)) نو هغوى جواب وركړو. ((عزفت نفسي عن الدنيا فأسهرت ليلي وأظمأت نهاري وكأني أنظر عرش ربي بارزا وكأني أنظر إلى أهل الجنة يتزاورون فيها وكأني أنظر إلى أهل النار يتضاغون فيها)) [2] يعنى زما نفس د دنيا نه اوړيدلې دې. زما شپه په شوګيره كښې او زما ورځ په لوږه كښې تيريږى. صورت دا دې چه لكه زه د خپل رب عرش ښكاره وينم. او زه اهل جنت وينم. چه د يو بل زيارت كوى. او اهل جهنم په چغو سورو كښې وينم. نبى صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل. ((يا حارثة عرفت فالزم)) اې حارثه ! يقينى تا د ايمان حقيقت پيژندلې دې. هم په دې باندې قائم اوسه.

په دې حديث باندې علامه نور الدين هيثمى رحمه الله د ((باب في حقيقة الإيمان وكماله)) ترجمه قائمه كړې ده. [3]

دغه شان مخكښې د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما قول تيرشوې وو. ((لايبلغ العبد حقيقة التقوى حتى يدع ماحاك في الصدر)) [4] په دې درې واړه احاديثو كښې (په كومو كښې چه اولنى دوه مرفوع دى. او آخرې يو حديث موقوف دې) د حقيقت معنى كمال دې.

---

[1])الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان (۱۱\٤۰۰) كتاب الإيمان باب ما جاء في صفات المؤمنين .ذكر البيان بأن نفي الإيمان عمن لا يحب لأخيه ما يحب لنفسه إنما هو نفي حقيقة الإيمان لا الإيمان نفسه رقم ۲۳٥)_

[2])المعجم الكبير للطبرانى (۳\۲٦٦و ۲٦۷) رقم ۳۳٦۷) وكشف الأستار عن زوائد البزار (۱\۲٦) رقم ۳۲ كتاب الإيمان باب حقيقة الإيمان وكماله)) ښكاره دې وى. چه په معجم طبرانى كښې دا حديث د حارث بن مالك نه مروى دې. او هم په حديث كښې ((كيف أصبحت يا حارث)) دى ((حارثة)) نه دى علامه هيثمى رحمه الله په مجمع الزوائد(۱\٥۷)كتاب الإيمان باب في حقيقة الإيمان وكماله)) كښې ((عن الحارث بن مالك الأنصارى أنه مر بالنبى صلى الله عليه وسلم فقال له كيف أصبحت يا حارثة)) نقل كړى دى. او د مسند بزار په روايت كښې دا حديث د حضرت انس رضي الله عنه نه مروى دې.((وقد نقله الهيثمى في المجمع أيضاً (۱\٥۷) او په دې كښې ((أن النبى صلى الله عليه وسلم لقى رجلاً يقال له حارثة...)) فتنبه..)_~

[3])مجمع الزوائد (۱\٥۷) كتاب الإيمان)_

[4])ابتداء د كتاب الايمان باب قول النبى صلى الله عليه وسلم بنى الإسلام على خمس..)_

چه حافظ ابن كثير او علامه ابن تيميه رحمهما الله د امام بخاري
اوس ددې نه پس په دې پوهه شئ چه د هغوی په نيز دا آيت د منافقانو په باره کښې دې. د ر
رحمه الله طرف ته دا نسبت کړې دې. خکه چه د بخاري په کتاب التفسير کښې د سورة
تصريح چرته هم مونږ ته ملاو نشوه. که دې حضراتو صرف د امام بخاري رحمه الله دا ترجمه
حجرات لاندې ددې آيت تفسير نشته. چه آيت د ضعفاء المسلمين په حق
کتلې وی. او دا حکم نې لګولې وی. نو دا يقيني نه ده. ددې ترجمې مطلب
کښې اومنلې شی. لکه څنګه چه د محققينو او اکثرو مفسرينو رائې ده.
بيخی ښکاره دې.

خلاصه دا چه د امام بخاري رحمه الله مسلك هم د جمهورو مفسرينو او محققينو عالمانو رحمهم الله
مطابق دې. او هغوی ددې ترجمې نه دا خودل غواړی. چه ايمان کښې د زيات او نقصان په
اعتبار سره مراتب متفاضله دی. او بعضې مرتبې دومره کمزورې وی. چه هغه وی نو هم:
دې کس نه د ايمان نفی جائز ده. يعنی دده ايمان دومره کمزورې وی. چه هغه په تعبير کښې
کالعدم ګرځولې شی. اګرچه فی نفسه په ده کښې ايمان موجود وی. لکه څنګه چه يو کس:
سختې بيمارئ په وجه ډير کمزورې شوې او تپ شوې وی. نو خلق وائی. چه په ژوندونی مړې
دې. حالانکه په هغه کښې اوس هم ساه موجود وی. د هغه په مال کښې ميراث نشی جاری
کيدې. او نه د هغه د ښځې سره نکاح جائز وی. غرض په ډيرو احکامو کښې هغه ژوندې
شمارلې شی. او په واقع کښې هم فی نفسه تراوسه پورې په هغه کښې روح موجود وی. خو:
ډير ضعف او کمزورئ په وجه خلقو هغه کالعدم شمارلې وی. او مړ ورته وائی. تردې چه
شريعت هم هغه ته په دې نظر کتل شروع کړی. هم دا وجه ده. چه په مرض الموت کښې:
وصيت او اقرار وغيره مسائل فی الجمله کښې هم دا نظر معتبر دې. د حديث الفاظ
«وقدكان لفلان» په دې شاهد دی.

دغه شان امام بخاري رحمه الله دلته هم دا ثابتول غواړی. چه د ايمان بعضې مراتب دومره ناقص
.کمزورې او ضعيف وی. چه هغه موجود وی. بيا هم ترې د ايمان مطلق نفی کولې شی لکه
څنګه چه په دې آيت ﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا﴾ کښې ئې نفی شوې ده. دا خلق فی نفسه مومنان
وو. خو ضعفاء المومنين وو. د هغوی ايمان کمزورې او ضعيف وو. لکه چه هډو کښې ايمان
نه وی. د هغوی نه ئې د مطلق ايمان نفی کړې ده. چه ﴿قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوا﴾ دی. هم په دې آيت کښې
ئې د ايمان د نفی علت ته هم اشاره کړې ده. چه ﴿وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ﴾ يعنی تراوسه
پورې ستاسو په زړونو کښې ايمان مضبوط شوې نه دې. خکه دا کالعدم دې.

ددې تقرير په بناء به د دې ترجمې مطلب دا وی «إذا لم يكن الإسلام على الحقيقة أى على وجه
الكمال وكان على الإستسلام أو الخوف من القاتل أى بل كان الإسلام على وجه الإستسلام الظاهرى بسبب
طمع أو على وجه الخوف من القتل يعنى قبل الإسلام بسبب من الأسباب على وجه الخلوص ليس فيه رائحة
النفاق لكن الإسلام بقى الآن على الظاهر و الجلود فقط ولما يدخل الإيمان فى القلوب ولم تخالط قلبه بشاشة
الإيمان فهو فى أدنى مراتب الإيمان كأنه على شرف الموت وبه رمق حتى إنه يصح أن ينفى عنه إسم الإيمان لأنه لم

بلغ حد المطلوب والمرضی عندالله لقوله تعالی ﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ اٰمَنَّا ..﴾ الآیة فإن هذه الأعراب کانوا مؤمنین عالمین لم تکن فیهم النفاق لکن إیمانهم الآن علی الظاهر والجلود ولما یدخل الإیمان فی قلوبهم ولم تخالط بشاشة القلوب فکان إیمانهم فی أدنی مرتبة الإیمان حتی إن الله تعالی نفی عنهم إسم الإیمان وإن کانوا شاملین فی مطلق الإیمان وإذا کان الإسلام علی الحقیقة أی علی وجه الکمال ورسوخه یعنی وجاوز إسلامه الحاجز ورسخ فی جذر القلوب وخالطت قلبه بشاشة الإیمان وفیه مراتب ومدارج لا تعد ولا تحصی فهو علی قوله جل ذکره ﴿إِنَّ الدِّیْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْإِسْلَامُ﴾ أی فهو علی مرتبة الإیمان وهو لحری أن یطلق علیه إسم الإیمان والجدیر بأن یسمی بالدین المرضی لأنه بلغ مبلغ المطلوب وامرضی عندالله فإن المراد بالإسلام فی هذه الآیة الاسلام الحقیقی الراسخ فی جذر القلوب»،

حاصل د کلام دا دا شو.چه مونږ دا خبره نه منو.چه دا آیت د منافقانو په باره کښې نازل شوې دې.اونه مونږ دا خبره منو.چه دلته امام بخاری د څه سوال جواب ورکوی.چه د اسلام هغه درجه عندالله معتبر ه.کوه چه حقیقت شرعیه او نفسی الامری او واقعی ده اود اسلام هغه درجه عندالله معتبر نه ده.کومه چه لفظی .اسمی صوری او ظاهری وی.بلکه مولف ﷫ ددې ترجمة الباب نه دا ثابتول غواړی.چه د اسلام مختلف مراتب دی.یو ددې ابتدائی درجه ده.په دې درجه کښې دې دومره کمزورې وی.چه دا موجود وی.هم ترې د ایمان نفی کولې شی. لکه چه هډو ایمان نشته.حالانکه ایمان موجودوی.خو د نشتوالی په درجه کښې وی.دا تنزیل الناقص بمنزلة المعدوم ده.اودویم کمال ایمان دې او ددې لاندې ډیرې مختلف درجات دی.حضرت امام بخاری ﷫ د اسلام مختلف درجات ثابت کړل.دایمان مختلف نې اوخودل.څکه چه د هغوی په نیز ایمان او اسلام مترادف دی.[1] والله سبحانه وتعالی أعلم وأحکم.

[۲۷] حَدَّثَنَا أَبُو الْیَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَیْبٌ عَنِ الزُّهْرِیِّ قَالَ أَخْبَرَنِی عَامِرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِی وَقَّاصٍ عَنْ سَعْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ [2] أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ أَعْطٰی رَهْطًا وَسَعْدٌ جَالِسٌ فَتَرَکَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا هُوَ أَعْجَبُهُمْ إِلَیَّ فَقُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا لَکَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللّٰهِ إِنِّی لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ أَوْ مُسْلِمًا فَسَکَتُّ قَلِیلًا ثُمَّ غَلَبَنِی مَا أَعْلَمُ مِنْهُ فَعُدْتُ

---

[1] د تفصیل دپاره اوګورئ فضل الباری (۱\۳۹۹ و ۴۰۳)۔

[2] الحدیث أخرجه البخاری فی کتاب الزکاة أیضاً باب قول الله تعالی ﴿لا یسألون الناس إلحافاً﴾ رقم ۱۴۷۸ ومسلم فی صحیحه (۱\۸۵) فی کتاب الإیمان باب تألف قلب من یخاف علی إیمانه لضعفه .. و (۱\۳۳۷ و ۳۳۸) کتاب الزکاة باب إعطاء المؤلفة ومن یخاف علی إیمانه إن لم یعط .. والنسائی فی سننه (۲\۲۶۶) کتاب الإیمان وشرائعه باب تاویل قول الله عزو جل ﴿قالت الأعراب آمنا..﴾ وأبوداود فی سننه فی کتاب السنة باب الدلیل علی زیادة الإیمان ونقصانه رقم ۴۶۸۳ و ۴۶۸۵)۔

لِمَقَالَتِي فَقُلْتُ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللَّهِ إِنِّي لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ أَوْ مُسْلِمًا ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَعْلَمُ مِنْهُ فَعُدْتُ لِمَقَالَتِي وَعَادَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ يَا سَعْدُ إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ خَشْيَةَ أَنْ يَكُبَّهُ اللَّهُ فِي النَّارِ وَرَوَاهُ يُونُسُ وَصَالِحٌ وَمَعْمَرٌ وَابْنُ أَخِي الزُّهْرِيِّ عَنِ الزُّهْرِيِّ [ر:۳۰۸]

رجال الحديث

① ابواليمان: دا ابواليمان حكم بن نافع بهرانى حمصى دې.ددوى حالات په ((بدء الوحى)) كښې د شپږم نمبر حديث لاندې تيرشوى دى.

② شعيب:دا شعيب بن ابى حمزه دې.دوى حالات هم په ((بدء الوحى)) كښې د شپږم نمبر حديث لاندې تيرشوى دى.

③ زهري:د امام محمد بن مسلم بن عبيدالله بن عبدالله بن شهاب زهرى مدنى رحمه الله مختصر تذكره د ((بدء الوحى))د دريم نمبر حديث لاندې تيره شوې ده.

④ عامربن سعدبن ابى وقاص: دوى د مشهور صحابى حضرت سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه خوئي دې.په صحابو كښې ئې د خپل پلار نه علاوه د حضرت عثمان ،حضرت جابربن سمره او نورو صحابو رضي الله عنهم نه روايت كړې دې.او د دوى نه حضرت سعيد بن المسيب،سعدبن ابراهيم او امام زهرى وغيره د حديث روايت كړې دې.

ثقه او كثير الحديث وو.په ۱۰۳ه يا ۱۰۴ه كښې په مدينه كښې وفات شوې وو. په اصول سته كښې د دوى د رواياتو تخريج شوې دې.(۱) رحمه الله تعالى.

⑤ سعد:دوى د نبى ﷺ مشهور صحابى رضي الله عنه احد العشرة المبشرين بالجنة د ايران فاتح ،د عراق گورنرحضرت سعدبن ابى وقاص بن مالك بن وهيب بن عبد مناف بن زهره بن كلاب الزهرى دى.ابواسحاق ددوى كنيت دې.،حضرت عمر رضي الله عنه چه په خپل مرض الوفات كښې دخليفه منتخب كولودپاره دكومو شپږو صحابو رضي الله عنهم انتخاب كړې وو.په هغوى كښې يودې هم دې.قديم الاسلام وو.د څلورو يا شپږو كسانو نه پس ئې د اوولس كالو په عمر كښې اسلام راوړې و.،دالله تعالى په لار كښې دټولو نه وړاندې تير ويشتي او وينه بيونكې دوى وو.د فارس الاسلام په لقب سره مشهوروو.د نبى ﷺ سره ئې دجنگ بدر،احداوخندق نه علاوه په نورو ټولو غزاگانو كښې هم شركت كړې دې.

نبى ﷺ د احد په ورځ دوى ته فرمائيلى وو.((ارم فداك أبي وأمي)) امام زهرى رحمه الله به فرمائيل: حضرت سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه د احد په ورځ يوزر غشى ويشتى وو.دحضرت عثمان رضي الله عنه

---

(۱) عمدة القارى(۱۹۲/۱) رقم ۳۰۸۹)_

د شهادت نه پس حضرت سعد رضي الله عنه دمسلمانانو په خيل مينځ كښې چه څومره جنګونه شوى وو دهغې نه ئې ډډه كړې وه په يو كښې ئې هم شركت نه وو كړې.
مستجاب الدعوات وو.ددوى د استجاب دعا واقعه په بخارى كښې موجود ده.(۱)
دحضرت سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه نه دوه سوه اويا احاديث نقل دى.په دې كښې پنځلس متفق عليه دى په پنځو احاديثو كښې امام بخارئ او په اتلسو كښې امام مسلم متفرد دې.
ددوى نه په روايت كونكو كښې حضرت ابن عمر.حضرت ابن عباس حضرت جابر بن سمره حضرت سائب بن يزيد او حضرت عائشه رضي الله عنهم دى.
په تابعينوكښې د دوى خونې محمد .ابراهيم.عامر.مصعب ددوى لور عائشه او ډيرو حضراتو ددوى نه د حديثو روايت كړې دې.
د مشهور قول مطابق په كال ۵۵ه كښې د مدينه منوره نه اووه يا لس ميله لرې په مقام عقيق كښې وفات شوى وو.اود مينې منورې په مقبره بقيع كښې دفن شوى وو.
د وفات په وخت كښې دوى يوه زړه د ورئ څغه راوويسته.اووې فرمائيل ما په دې كښې كفن كړئ.ځكه چه د بدر دجنګ په موقع ما دا څغه اغوستې وه.اود نن ورځې دپاره ما دا پټه كړې وه.(۲) رضى الله عنه وأرضاه وجعلنا ممن يحبه

تنبيه په صحيح بخارى كښې دى.چه يو خل د نبى ﷺ په خدمت كښې يوې ميرمنې (ښځې) يو نقش دار څادر په خپله جوړ كړې وو پيش كړو.او عرض ئې اوكړو .چه دا ما خاص ستاسو دپاره جوړ كړې دې.نبى ﷺ ته ضرورت هم وو.نبى ﷺ كورته دننه تشريف يوړو.او هغه څادر ئې د لنګ په طور سره واچولو.يوصحابى رضي الله عنه هغې ته كوتې وراورې.هغه ئې خوښ شو.او عرض ئې اوكړو.يا رسول الله دا څادر څومره ښكلې دې.دا ماته راكړئ.نبى ﷺ هغه څادر هغه ته وركړو.نورو صحابو رضي الله عنهم په هغه باندې انكاراوكړو.چه تاته معلومه ده.چه نبى ﷺ سوال كونكې خالى لاس نه واپس كوى.نبى ﷺ ته ددې ضرورت هم وو.ځكه ئې واچولو.خو تا ترې بيا هم هغه څادر اوغوستلو؟هغوى اووئيل.په اصل كښې زه دا څادر په خپل كفن كښې استعمالول غواړم.ددې وجې ما د دوى نه اوغوستو.(۳)
دا څادر غوستونكې څوك وو؟ د دوى په باره كښې شارحينو رحمهم الله درې اقوال ليكلى دى.يوقول دا دې.چه دا حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه وو.دويم قول دا دې.چه دا حضرت

---

(۱) يوكس دحضرت سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه په باره كښې شكايت كړې وو چه دوى دجهاددپاره نه ځى مال غنيمت په انصاف سره نه تقسيموى.اونه فيصله صحيح كوى.حضرت سعدبن ابى وقاص رضي الله عنه چه دا واوريدو.نو وې فرمائيل.((اللهم إن كان عبدك هذا كاذباً قام رياء وسمعة فأطل عمره وأطل فقره وعرضه بالفتن)) نودا درې واړه خيرې هغه كس ته اولګيدلې.اوګورئ.صحيح بخارى (۱\۱۰٤) كتاب الأذان باب وجوب القراءة للإمام والمأموم فى الصلوات كلها فى الحضر والسفروما يجهرفيها وما يخافت)
(۲) تهذيب الأسماء واللغات (۱\۲۱۳، ۲۱٤) وتقريب (۲۳۲) رقم ۲۲۵۹)_
(۳) صحيح بخارى شريف (۱\۱۷۰) كتاب الجنائز باب من إستعد الكفن فى زمن النبى ﷺ فلم ينكر عليه)_

سعد بن ابی وقاص ﷺ وو.او دريم قول دا دې چه دا اعرابی صحابی وو.خو دريم قول د سند په لحاظ سره ضعيف د.(١)

اوس صرف دوه قوله باقی پاتې شو.که هغه کس حضرت عبدالرحمن بن عوف ﷺ وی.نوبيا خو څه اشکال نشته.اوکه هغه کس حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ وو .نودا اشکال کيدې شی چه هغوی د کفن دپاره صرف د چغې ذکر کړې و.د ازار ذکر ئې نه دې کړې. خو ونيلې شی چه دلته صرف د ورئ د چغې ذکردې.ځکه چه ددې معامله پته وه.او د څادر معامله ممکن ده چه پته نه وه.نوځکه ئې د هغې د ذکر باقاعده ضرورت اونه ګڼړلو.والله أعلم.

قوله: أن رسول الله ﷺ أعطى رهطاً وسعد جالس: چه رسول الله ﷺ يوې ډلې ته تحفې ورکړې.اوحضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ ناست وو.

د((رهط))اطلاق د دريو نه واخله تر لسو کسانو باندې کيږی.قزاز ﷺ فرمائی.چه کله ددې نه په زياتو باندې هم ددې اطلاق کيږی.(٢)

قوله: فترك رسول الله ﷺ رجلاً هو أعجبهم إلي: نورسول الله ﷺ يو سړې پريخودو.هغه ماته د ايمان او اسلام او نيکئ په اعتبارسره د ټولونه زيات خوښ وو.

دا کس کوم چه نبی ﷺ پريخودو.اوهغه ته ئې څه ورنکړو.ددوی نوم حضرت جعيل بن سراقه ضمری وو.(٣)

قوله: فقلت يارسول الله مالك عن فلان؟: ما عرض اوکړو يا رسول الله تاسو باندې څه اوشو.چه د فلانی نه تاسو اعراض کوئ.په کتاب الزکاة کښې هم دا روايت راروان دې.په هغې کښې دی. ((فقمت إليه فساررته فقلت مالك عن فلان))چه زه اودريدم.او ما رسول الله ﷺ ته په پټه اووئيل.يارسول الله چه تاسو د فلانی نه ولې اعراض کوئ.ددې نه معلومه شوه.چه د مشر په خبره څه اعتراض وی.نو په پټه دې ورته ونيلې شی.ځکه چه په مشرانو باندې په مجلس کښې اعتراض کولو سره انتظام خرابيږی.نظم او نسق بربادېږی.ددې نه دا هم معلومه شوه.چه چاته څه نصيحت کول وی.نوخانله دې ورته کولې شی.ځکه چه دا خو هم دخيرخواهئ خبره وه.چه حضرت تاسو داسې کس پريږدئ.کوم چه ماته د ټولونه زيات مستحق ښکاری.(٤)

قوله: فوالله إني لأراه مؤمناً: په الله قسم چه ماته خو دې مومن ښکاری.يا زه ئې مؤمن ګڼړم.

---

(١) فتح الباری(١٤٣\٣، ١٤٤) وعمدة القاری(٦٢\٨)_
(٢) فتح الباری(٧٩\١)_
(٣) سماه الواقدی فی المغازی فتح الباری(٨٠\١)_
(٤) فتح الباری(٨٠\١)_

«أراه» كښې په همزه باندې ضمه يا فتحه ده.؟ علامه قرطبى رحمه الله فرمائى.چه همزه د ضمې سره ضبط شوې ده.نوپه دې صورت كښې به دا د «أظن» په معنى كښې وى.(١)

امام نووى رحمه الله فرمائى.چه دا لفظ «أراه» بفتح الهمزة دې.او «أراه» د «أعلم» په معنى باندې دې.اوپه همزه باندې ضمه جائز نه ده.څكه چه په دې صورت كښې به دا د «أظن» په معنى كښې وى.حالانكه په حديث كښې وراندې راغى.«ثم غلبنى ما أعلم منه» بيا صرف يو ځل نه بلكه دوه درې ځله دوى مسلسل ددې خبرې اعاده كړې ده.كه هغوى ته په خپله خبره باندې يقين نه وو.نو اصرار به ئې ولې كولو.معلومه شوه.چه حضرت سعدبن ابى وقاص رضى الله عنه دخپل علم او يقين په وجه دا وئيل.چه زه دې مومن پيژنم.(٢)

خوپه دې باندې اشكال كيدې شى.چه دلته د«ما أعلم»معنى د«ما أظن»وى .څكه چه دعلم اطلاق په ظن غالب باندې هم كيږى.لكه چه په آيت كريمه كښې دى. ﴿فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ﴾(٣)

بيا كه دا اومنلې شى.چه دلته د علم او يقين كيفيت دې.خوممكن ده.چه ددې مقدمات ظنى وى.څكه چه انسان په يقين سره دچا متعلق دانشى پيژندې .چه دې مومن دې.د ظن او گمان درجه ورته حاصليږى.نوپه دې صورت كښې به مسئله هم نظرى پاتې كيږى.يقينى نه(٤)

اگرچه په حديث كښې لفظ د «إن»او لام تاكيد په دې خبره دلالت كوى.چه دوى يقينى خبره كوى.لكه چه هغه ديقين درجې ته رسيدلې وى.

«أراه» بضم الهمزة د «أظن» په معنى اخستلونه بعضې عالمانودا استنباط كړې دې.چه په امرمظنون باندې قسم كيدې شى.

خودا استنباط صحيح نه دې.څكه چه دلته په مظنون باندې قسم نه دې.بلكه د ظن په وجدان باندې قسم دې.مظنون يقينى نه دې.خود ظن وجود يقينى دې.په كوم چه هغوى قسم خوړلې وو.

قوله: فقال أومسلماً: تولو شارحينو رحمهم الله دا لفظ«أو» بسكون الواوضبط كړې دې.اوبعضې حضراتو دا «أو»بفتح الهمزه والواو ضبط كړې دې.او همزه ئې استفهاميه او واو ئې عاطفه گرخولې دې.لكه چه په دې صورت كښې ددې معطوف عليه محذوف دې.اوتقدير د عبارت دا دې.«أتقول هذا وكونه مسلماً أظهر يا أتقوله مومنا ولا تقوله مسلماً»

---

(١) فتح البارى(١١\٨٠)_
(٢) شرح نووى (١١\٨٥) كتاب الإيمان باب تألف قلب من يخاف على إيمانه)_
(٣) سورة الممتحنة:١٠)_
(٤)فتح البارى(١١\٨٠)_

خو قاضى عياض رحمه الله دا قول غلط گرځولې دې.(۱)

بيا «أو» بسكون الواو يا خو د تنويع دپاره دې لكه چه دوى دا خودل غوښتل چه ايمان يو باطنى څيز دې او ددې محل زړه دې د كوم چه انسان ته خبر نه وى نوپه داسې څيز باندې قسم خوړل او جزم او يقين سره څنگه حكم لگوې؟ كيدې شى چه صرف مسلم وى مومن نه وى كه په جزم او يقين سره حكم لگول وى نود مسلمان كيدو حكم اولگوه د مومن كيدو حكم مه لگوه اوداسې وايه «إني لأراه مسلماً» يا «أو» د تشريك دپاره دې يعنى په يقين سره د مومن كيدو حكم مه لگوه څكه چه تاسو ته ددې څه خبر دې؟ بلكه په تردد سره د «مومناً» سره د «أومسلماً» لفظ زياتى كړه اوداسې وايه «إني لأراه مومناً أومسلماً»(۲)

«أو» عاطفه دپاره د تنويع او «أو» عاطفه دپاره د تشريك په دې كښې فرق ښكاره دې د تنويع په صورت كښې به صرف يولفظ وى يعنى د «مومناً» په ځائې به «مسلماً» وى او د تشريك په صورت كښې به دواړه الفاظ د تردد په طور وى د «مؤمناً» د لفظ سره به د «أومسلماً» اضافه وى.(۳)

خوددې دواړو احتمالاتو په يو حديث سره ترديد كيږى كوم چه ابن الاعرابى په خپل معجم كښې روايت كړې دې په هغې كښې د «أو» په ځائې د «بل» لفظ راغلې دې په هغې كښې دى «لا تقل مؤمن بل مسلم»(۴) معلومه شوه چه په حديث باب كښې «أو» د بل په معنى د پاره د اضراب دې.(۵)

تنبيه په فيض البارى كښې د «أومسلماً» تشريح كوى اوليكى «وقرأه الشيخ العيني رحمه الله بهمزة الإستفهام وواو العطف»(۶)

دغه شان په فضل البارى كښې دى چه علامه حافظ بدرالدين عينى رحمه الله دا بفتح الواو ضبط كړې دې او «أومسلماً» همزه د استفهام دپاره دې او واود عطف دپاره .. (۷) خود ډير لټون باوجود په عمدة القارى كښې راته دا خبره ملاؤ نشوه. بلكه د حديث الباب د تشريح د

---

۱) فتح البارى(۱۱\۱۹٤)_
۲) فتح البارى(۱۱\۸۰)_
۳) فضل البارى(۱۱\٤۰٤، ٤۰۵)_
۴) فتح البارى(۱۱\۸۰)_
۵) المصدر السابق)_
۶) فيض البارى(۱۱\۱۱۲)_
۷) عمدة القارى(۱۱\۱۹٤)_

لاندې د هغوی عبارت دا دې.((قال القاضي هو بسكون الواو على أنها،، أو،، التي للتقسيم والتنويع أو للشك والتشريك ومن فتحها أخطأ وأحال المعنى))(١)بيا هم دا حديث په كتاب الزكاة كښې د ((باب قول الله تعالى: لا يسألون الناس إلحافا))لاندې هم راغلې دې.خوپه دې كښې هغوی داسې قسم څه تشريح نه ده كړې.فتنبه

ايا په دې حديث سره د حضرت جعيل نه د ايمان نفى كيږى؟ بيا صاحب تحرير د((أو مسلما)) نه دا استنباط كړې دې.چه نبى ﷺ ددې كس نه دايمان نفى كړې ده.(٢)

امام نووى رحمه الله فرمائى.په دې كښې داسې څه خبره نشته.چه نبى ﷺ د ده دايمان نفى كړې ده.بلكه دايمان قطعى حكم لګولو نه نهى ده.اودا تاكيد دې چه داسلام لفظ ونيل غوره دى.څكه چه داسلام تعلق دظاهرسره وى.اودايمان تعلق دباطن سره وى.بيا هم په دې حديث كښې د نبى ﷺ دا مبارك الفاظ چه ((وغيره أحب إلى منه))د دوى په ايمان باندې دلالت كوى.(٣)

علامه كرمانى رحمه الله په دې جواب باندې اوپه ((أو مسلما))ددې په تشريح باندې اعتراض كړې دې.كه د((أو مسلما))هم دا تشريح وى.كومه چه امام نووى رحمه الله كړې ده.يعنى چه ايمان او اسلام جدا جدا څيزونه دى.دايمان تعلق باطن سره دې.اود اسلام تعلق ظاهرسره دې.نوبيا خو حديث دمؤلف دترجمې مطابق نه دې.څكه چه په ترجمه كښې خو دا مقصود دې.چه اعمال ايمان دې.دغه شان بيا نبى ﷺ چه د حضرت سعد رضی الله عنه خبره رد كړه.نوددې څه فائده هم نه پاتې كيږى.(٤)

داولنى اشكال نه جواب دا دې.چه امام بخارى خپله ترجمه د ((أومسلما))نه ثابته كړه.هغه داسې چه نبى ﷺ په ظاهره دايمان نفى كړې ده.خو د اسلام اثبات ئې كړې دې.اواسلام هم دعمل نوم دې.

اود دويم اشكال جواب دا دې.چه د نبى ﷺ د رد كولوفائده ښكاره ده.اوهغه فائده دا ده.چه كله دچا په باره كښې په يقين سره يوه خبره معلومه نه وى.نوقطعى حكم لګول نه دى پكار.بلكه داسې خبره كول پكار دى.چه دهغې علم ورته وى.تا ته دچا د باطنى ايمان په باره كښې څه علم دې؟ددې حكم لګول نه دى پكار.ظاهر داطاعت نوم دې.نوهم ددې حكم لګوه.

قوله: فَسَكَتُّ قَلِيلًا ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَعْلَمُ مِنْهُ فَعُدْتُ لِمَقَالَتِي فَقُلْتُ مَا لَكَ عَنْ فُلَانٍ فَوَاللَّهِ إِنِّي لَأَرَاهُ مُؤْمِنًا فَقَالَ أَوْ مُسْلِمًا ثُمَّ غَلَبَنِي مَا أَعْلَمُ مِنْهُ فَعُدْتُ

---

(١) عمدة القارى(١٩٤/١)_
(٢) شرح نووى)_
(٣) شرح نووى (٨٥/١)_
(٤)شرح كرمانى (١٣٠/١)_

لِمَقَالَتِي وَعَادَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: زه د لږ ساعت دپاره چپ پاتې شوم بيا په ما باندې دغه خيال غالب شو د کوم چه ورباندې نه ماته علم وو نو ما دوباره خپله خبره اوکړه او عرض مې اوکړو. يارسول الله په تاسو باندې څه شوى دى چه تاسو د فلانى کس نه ډډه کوئ؟ په الله قسم چه زه خو دې مومن وينم نبى ﷺ اوفرمائيل «او مسلماً» بيا لږ وخت پس هغه خيال ماته بيا راغلو او هغې په ما باندې غلبه اوکړه ما هغه خبره دوباره اوکړه نبى ﷺ دا خل هم هغه خبره دوباره اوکړه.

په صحيح بخارى کښې د کتاب الزکاة په روايت کښې په بل سند سره ددې نه پس دا الفاظ دى «أقبل أي سعد» دا د «أقبل» صيغه هم کيدې شى چه د باب افعال نه د امر صيغه وى «أقبل» په دې صورت کښې به مطلب دا وى چه اې سعد ما طرف ته متوجه شه څه چه زه وايم هغه واوره اودا هم کيدې شى چه د «قبول» نه وى د امر صيغه «اقبل» او مطلب دا وى چه اې سعد څه چه زه وايم هغه قبول کړه.(۱)

د مسلم شريف په بعضې سندونوکښې د «أقتالاً أي سعد» الفاظ راغلى دى. (۲) اې سعد ولې د جنګ اراده دې ده چه ته باربار دا خبره کوې اوپه خپله خبره ټينګ ولاړ ئې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په مسلم شريف کښې «اقبالاً أي سعد» الفاظ هم مروى دى.(۳) دا الفاظ زمونږ سره په مطبوعه د مسلم شريف په نسخوکښې نه دى خو دا لفظ يا خو د باب افعال مصدر دې اومفعول مطلق دې تقديرد عبارت دا دې. «أقبل على إقبالاً» يعنى اې سعد زما طرف ته ښه متوجه شه اويا دا د «قبالاً» نه دې يعنى همزه داستفهام دې او «قبالاً» د باب مفاعله نه مصدر دې او مطلب دا دې «أتقابلنى قبالاً بهذه المعارضة» (۴) آيا په دې معارضه سره زما مقابله کول غوارې والله أعلم.

قوله ثُمَّ قَالَ يَاسَعْدُ إِنِّي لَأُعْطِي الرَّجُلَ وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ خَشْيَةَ أَنْ يَكُبَّهُ اللّٰهُ فِي النَّارِ: بيا نبى ﷺ اوفرمائيل اې سعد بعضې وخت کښې زه يوکس ته څه ورکړم حالانکه دده نه بغير بل کس دده په مقابله کښې زما زيات خوښ وى مطلب دا چه دا مه ګنړه چاته چه زه ورکوم نوهغه به زما زيات خوښ او محبوب وى اوچه څوک پريږدم نوهغه به مې خوښ نه وى بلکه کله ددې په عکس وى چاته په ورکولو کښې مصلحت وى اوهغه

(۱) فتح البارى ۳\۳٤۳ كتاب الزكاة باب قول الله تعالى «لا يسألون الناس إلحافا»_

(۲) صحيح مسلم (۱\۸۵) كتاب الإيمان باب تألف قلب من يخاف على إيمانه)_

(۳) فتح البارى(۳\۳٤۳)_

(۴) فتح البارى(۳\۳٤۳)_

دا که ده ته ورنکړې شي.نو دې اسلام ته نزدې نه راځي. بلکه جهنم ته به غورځولې شي.اوزه دجهنم نه د بچ کولو دپاره داسې کوم.اوپه هغه باندې خرچ کوم.چه د اسلام سره ئې تعلق پیدا شي.او په مزه مزه کلك مسلمان شي.

دحضرت سعد بن ابی وقاص ﷛ د اصرار وجه دلته اشکال دا کیږی.چه کله په اول خل نبی ﷺ دې منع کړ.نو حضرت سعد بن ابی وقاص ﷛ په دويم خل او په دريم خل اصرار ولې کولو؟

ددې اشکال جواب دا دې.چه په اصل کښې په حضرت سعد ﷛ باندې د هغوی د خیګړې جذبه غالبه وه.اود هغه دپاره دومره شفقت وو.چه د هغې د غلبې په وجه د خیګړې او شفقت په وجه ئې د نبی ﷺ خبرو طرف ته داسې توجه اونکړه. لکه څنګه چه پکار وه.په دې وجه هغوی خپله خبره بار بار اعاده کړه.

د نبی کریم ﷺ د «اومسلماً» وئیلوسره د تردید وجه دويم اشکال دا دې.چه حضرت جعیل ﷛ یو ممتاز صحابی وو.د هغوی د ایمان په خپله نبی ﷺ تعریف اوکړو.محمد بن هارون رویانی ﷫ په خپل مسند کښې په صحیح سند سره د ابوسالم جیشانی ﷫ په واسطه د حضرت ابوذر ﷛ نه نقل کړی دی.چه رسول الله ﷺ د حضرت جعیل ﷛ په باره کښې زما نه تپوس اوکړو.«کیف تری جعیلاً؟»ته جعیل ﷛ باندې څنګه ګمان کوې.ما ورته عرض اوکړو.«کشکله من الناس یعنی المهاجرین»زه دې د نورو مهاجرینو په شان یو عام مهاجرګنړم.بیا نبی ﷺ د یو بل کس په باره کښې تپوس اوکړو.«فکیف تری فلاناً؟»فلانې کس څنګه ګنړې؟ نو ما عرض اوکړو.«سید من سادات الناس»هغه خو په لویو او سردارانو خلقو کښې دې.نو نبی ﷺ اوفرمائیل.«فجعیل ﷛ خیرمن ملأ الأرض من فلان»[1]که د داسې کسانو نه ټوله دنیا ډکه شي.نوهم حضرت جعیل ﷛ ددې ټولو نه غوره دې.نوهرکله چه حضرت جعیل ﷛ ته د نبی ﷺ په نیز دا مقام حاصل وو .نو دهغوی دپاره پکارده .چه په دې باندې څه اعتراض نه وو.چه حضرت سعد ﷛ په ده باندې د مومن اطلاق اوکړو.

ددې نه جواب دا دې.چه د نبی ﷺ دا انکار د حضرت جعیل ﷛ دپاره نه وو .بلکه څنګه چه وړاندې بیان اوشو.چه دا انکار د حضرت سعدبن ابی وقاص ﷛ په طرز کلام باندې وو. ښکاره ده.چه ایمان یو پټ خیز دې.زړه د هغې محل دې. هریوکس ته ددې علم نه وی.بیا د نبی ﷺ په موجودګۍ کښې دا زړه ورتیا کول چه په پوره یقین سره دا ونیل.چه «فوالله إني لأراه مومناً» مناسب نه وو.لکه چه نبی ﷺ حضرت سعد ﷛ ته د خبرو کولوطریقه ښائی.چه په دې پټو خیزونوباندې داسې په یقین سره قسم کول او فیصله کول صحیح نه ده.

یوځل دیو انصاری ماشوم وفات شو.نوحضرت عائشې ﷞ د نبی ﷺ وړاندې دا اووئیل.

---

[1]) عمدة القاری(۱۱/۱۹۵) وفتح الباری (۱/۸۰)_

«طوبى لهذا عصفور من عصافير الجنة لم يعمل السوء ولم يدركه» نو نبى ﷺ په دې باندې زورنه وركړه.او وې فرمائيل.«اوغير ذلك ياعائشة»[1]دلته ګوريئ د انصارى صحابى ﷜ ماشوم وفات شوې دې.اود مسلمانانوماشوم كه وفات شى.نودده په جنتى كيدو باندې اجماع ده.[2]خو ددې باوجود نبى ﷺ په حضرت عائشه ﷞ باندې انكار اوكړو.دلته كښې هم هغه اصلاح مقصود ده.چه خبره په سوچ اوفكرسره كول پكار دى.په داسې پټو خبرو كښې داسې حتمى او يقينى دعوه كول د ادب نه خلاف اونامناسب دى.والله أعلم.

دوه اصلاحات دلته نبى ﷺ د حضرت سعد ﷛ د دوو غلطو اصلاح كړې ده.يوه خو هم دا لفظى غلطى كومه چه اوس ذكر شوه.دويمه غلطى دا وه.چه حضرت سعد ﷛دا ګنړل چه نبى ﷺ مال وغيره هغه چاته زيات وركوى .څوك چه ددوى خوښ وى.او چاته چه نه وركوى. نو هغوى د نبى ﷺ نه وى خوښ او محبوب نه وى.د حضرت سعد ﷛ ددې خيال اصلاح نبى ﷺ اوكړه.او وې فرمائيل.چه ګوره كه زه چاته نه وركوم.نو ددې وجه دا نه وى.چه هغه زما خوښ نه دې.او چاته چه وركوم.نو هغه زما خوښ دې. بلكه چه چاته وركوم .نوپه دې كښې د هغه خيګړه پټه وى.او چاته چه نه وركوم.نو د هغه په ايمان باندې زه اعتماد كوم.[3]

«يكب»د باب نصر نه دې.ددې معنى ده.پړ مخې غورځول.دا متعدى دې. او كله چه د باب افعال نه راشى.نو لازمى وى.اودا د الفاظ غريبه څنى دې.چه د زيادت نه پس په معنى كښې كمې پيدا شى.اوچه ترڅوپورې لفظ كم وو.نو معنى ئې زياته وه.چه د باب مجرد نه وو.نو متعدى وو.اوچه كله د مزيد نه شو.نولازم شو.[4]

قوله: وَرَوَاهُ يُونُسُ وَصَالِحٌ وَمَعْمَرٌ وَابْنُ أَخِي الزُّهْرِيِّ عَنِ الزُّهْرِيِّ: دا روايت د يونس بن يزيد ايلى. صالح بن كيسان.معمربن راشد او ابن اخى الزهرى ﷭ نه مروى دې. او دا څلور واړه حضرات په خپل خپل سند سره دا حديث د امام زهرى ﷫ نه روايت كوى.

د يونس بن يزيد ايلى روايت عبدالرحمن بن عمر الزهرى الملقب به «رسته» په كتاب الايمان كښې موصولاً تخريج شوې دې.[5]د يونس بن يزيد حالات په بدء الوحى كښې د پنځم حديث لاندې تير شوى دى.

---

[1] صحيح مسلم (۲\۲۳۷) كتاب القدر باب معنى : كل مولود يولد على الفطرة وحكم موتى أطفال الكفار وأطفال المسلمين وسنن نسائى (۱\۲۷۶) كتاب الجنائز باب الصلاة على الصبيان)_

[2] شرح نووى على صحيح مسلم (۲\۳۳۷)_

[3] عمدة القارى(۱\۱۹۵) وفتح البارى (۱\۸۰)_

[4] عمدة (۱\۱۹۳) وفتح البارى(۱\۸۱)_

[5] فتح البارى (۱\۸۱) تغليق التعليق (۲\۳۲، ۳۳)_

د صالح بن کیسان رحمه الله روایت وراندې په بخاری کښې په کتاب الزکاة کښې موصولاً تخریج شوې دې (۱) د صالح بن کیسان حالات په کتاب الایمان کښې د «باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال» لاندې تیرشوی دی.

د معمربن راشد رحمه الله حدیث امام احمد (۲) او امام حمیدی رحمه الله (۳) کښې تخریج کړې دې اوداما م معمربن راشد رحمه الله حالات په بدء الوحی کښې دپنځم حدیث لاندې تیر شوی دی.

دابن اخی الزهری روایت په مسلم شریف کښې موصولاً مروی دې.(۴)

ابن اخی الزهری دوی دامام زهری وراره محمد بن عبدالله بن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله بن شهاب زهری مدنی رحمه الله دی.(۵) دوی دخپل محترم تره امام زهری رحمه الله نه احادیث اوریدلی دی.اود دوی نه په روایت کونکو کښې یعقوب بن ابراهیم .دراوردی او قعنبی رحمهم الله دی.(۶) ابن ابی حاتم رحمه الله ددوی په باره کښې فرمائی.«ليس بالقوي يكتب حديثه»(۷)

ابن معین رحمه الله فرمائی چه دوی ضعیف دی.(۸)

ابن معین رحمه الله دا هم فرمائی«ليس بذلك القوي»(۹)

ددې اقوالو په وجه بعضې حضراتو په امام بخاری او امام مسلم رحمهما الله باندې دا اعتراض کړې دې.چه دوی د داسې ضعیف راوی روایات په خپلو کتابونو کښې ولې نقل کړی دی؟ خو حقیقت دا ددې.چه دی معمولی غوندې کمزورې ضرور دې.خو د دوی په باره کښې د توثیق اقوال هم منقول دی.امام ابوداود رحمه الله فرمائی«ثقة سمعت أحمد يثني عليه»(۱۰)

امام یحی بن معین رحمه الله نه دا هم مروی دی.«هو أمثل من أبي اويس»(۱۱)

امام ذهلی رحمه الله دامام زهری په شاګردانو کښې دوی په دویمه طبقه یعنی محمد بن اسحاق او فلیح په درجه کښې شمار کړی دی.اودا ئې ذکرکړی دی.چه د دوی درې احادیث داسې

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الزکاة باب قول الله تعالی:(لايسألون الناس إلحافا) رقم ۱۴۷۸)_

(۲) مسند أحمد(۱\۱۷۶) مسند سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه)_

(۳) مسندالحمیدی (۱\۳۷) أحادیث سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه رقم ۶۸و ۶۹)_

(۴) مسلم شریف (۱\۳۷) کتاب الإیمان باب تألف قلب من یخاف علی إیمانه)_

(۵) تقریب (۴۹۰) رقم ۶۰۴۹)_

(۶)عمدة القاری (۱\۱۹۶)_

(۷) هدی الساری (۴۴۰) الفصل التاسع فی سیاق أسما من طعن فیه من رجال البخاری)_

(۸) المصدرالسابق)_

(۹) المصدرالسابق)_

(۱۰) المصدرالسابق)_

(۱۱) عمدة (۱\۱۹۶) وهدی الساری(۴۴۰)_

دى. چه د هغې اصل نه ملاويږى.(۱)
دلته د غور خبره دا ده.چه امام زهلى رحمه الله داامام زهرى رحمه الله د احاديثو د ټولو نه لوئې پيژندونكې وو.هغوى د دوى د ټولو احاديثو خودنه كړې ده.په كومو باندې چه دمحدثينو رحمهم الله د طرفه انكار ثابت دې.(۲)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه په ظاهره چه كومو حضراتو د دوى تضعيف كړې دې.نو هغوى هم ددې احاديثو په بنياد باندې كړې دې.د كوم ذكر چه امام ذهلى رحمه الله كړې دې.(۳)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه د دوى يو څو احاديث په صحيح بخارى كښې دى.او ددې متابعت موجود دې.(۴)
علامه عينى رحمه الله فرمائى.د دوى د خوى په لمسون باندې ددوى غلامانو دې قتل كړې وو.(۵) امام نووى رحمه الله ددوى د وفات كال ۱۵۲ھ خودلې دې.(۶) رحمه الله رحمة واسعة

۱۸=بَاب إِفْشَاءُ السَّلَامِ مِنْ الْإِسْلَامِ

وَقَالَ عَمَّارٌ ثَلَاثٌ مَنْ جَمَعَهُنَّ فَقَدْ جَمَعَ الْإِيمَانَ الْإِنْصَافُ مِنْ نَفْسِكَ وَبَذْلُ السَّلَامِ لِلْعَالَمِ وَالْإِنْفَاقُ مِنْ الْإِقْتَارِ))

د ترجمې مقصود امام بخارى رحمه الله لكه څنګه چه وړاندې ډير اعمال كوم د فرائضو د قبيلې څنى وو.يا د واجباتو دقبيلې.د ايمان جزء خودلې دې.اودايمان تركيب ئې ثابت كړې دې.اوددې قابل للزيادة والنقصان راروان دى.دغه شان دلته هم دا ښائى.چه افشاء السلام يو داسې عمل دې.كوم چه مسنون دې.فرض يا واجب نه دې.دا هم په اسلام كښې داخل دې.اودايمان يوجزء دې.اود مرجئو دا خبره چه داعمالو دايمان سره څه تعلق نشته.غلطه ده.بيا چونكه داامام بخارى رحمه الله په نيز اسلام دايمان سره يو يا متلازم دى.نوهركله چه دا داسلام جزء ثابت شو.نوښكاره ده.چه د ايمان دپاره به هم جزء وى.
د افشاء السلام مطلب دې.چه مطلقاً د سلام خورول چه په دې كښې د څه وخت يا د سړى قيد نه وى.يعنى يوسړې برابره ده كه خپل وى اوكه پردې او اجنبى وى.كه د بل وطن وى.اوكه دخپل وطن.هريوته دې سلام كولې شى.دغه شان دوخت هم څه قيد نشته.هروخت په هرځائې كښې سلام كولې شى.(د مستثنيانو وجوهات نور دى)

(۱) هدى السارى(ص.۴۴۰)_
(۲) هدى السارى(۴۴۰)_
(۳) المصدرالسابق)_
(۴) المصدرالسابق)_
(۵) عمدة (۱\۱۹۶)_
(۶) المصدرالسابق)_

حضرت عماربن ياسر رضي الله عنه دوى مشهور صحابى ابواليقظان عماربن ياسربن عامربن مالك بن كنانه عنسى رضي الله عنه دى.

ددوى پلارياسر دخپلو دوو ورونړو حارث او مالك سره د يمن نه مكي ته د خپل ورور په لتون كښې راغلى وو.دواړه ورونړه حارث اومالك خو يمن ته واپس شول.خوياسرهم په مكه كښې پاتې شو.اود ابوحذيفه بن المغيره حليف شو. ابو حذيفه دخپلې وينځې سميه بنت خياط نكاح هم دده سره اوكړه.دكومې نه چه حضرت عمار رضي الله عنه په ٥٧ ق‌هـ كښې پيدا شو.اوابوحذيفه دې آزاد كړو.دا حضرات د ابوحذيفه د مرګه پورې يوځائې وو.ددې نه پس چه كله نبى ﷺ مبعوث شو.نو حضرت ياسر،حضرت سميه او حضرت عمار رضي الله عنهم په اسلام مشرف شول.

چونكه په اول كښې ئې اسلام راوړې وو.ددې وجې ورته د كافرانود طرفه ډير تكليفونه رسولى شول.اودوى په صبر اوشكرسره هرڅه زغمل.دې حضراتو ته چه به كله تكليفونه وركولى شول.اونبى ﷺ به ددوى په خواه كښې تيرشو.نو نبى ﷺ به ورته فرمائيل.«صبرا يا آل ياسر فإن موعدكم الجنة»([1])

حضرت سميه رضي الله عنها ته د حق په لاره كښې د ټولو نه اول د شهادت شرافت ملاو شوې دې.دالله تعالى دشمن ابوجهل دوى په شرمګاه كښې په نيزه باندې اووهله.د هغې د وجې دا شهيده شوه.

حضرت عمار رضي الله عنه حبشې طرف ته هم هجرت كړې وو.اود مدينې دهجرت سعادت ورته هم حاصل وو.د بدراواحد نه واخله په ټولو غزاګانو كښې شريك پاتې شوې دې.

په اسلام كښې د ټولو نه اول جمات جوړونكې هم دوى‌دى.

فضائل اومناقب د دوى په باره كښې نبى ﷺ فرمائيلى دى.«إن الجنة تشتاق إلى ثلاثة،على وعمار وسلمان رضي الله عنهم»([2])

يوځل دوى د نبى ﷺ په خدمت كښې حاضرشو.اود داخليدو اجازت ئې اوغوښتلو.نبى ﷺ ئې آواز اوپيژندلو.نو وې فرمائيل.«مرحباً بالطيب المطيب»([3])

دغه شان نبى ﷺ فرمائيلى دى.«ملئ عمار إيماناً إلى مشاشه»([4])مشاش په اصل كښې د نرم هډوكى سرته وائى.اومطلب دا دې.چه حضرت عمار رضي الله عنه د سرنه واخله تر پښو پورې ټول ايمان دې.ايمان ددوى د بدن هريواندام ته رسيدلې دې.

---

[1]) مستدرك للحاكم (٣\٣٨٣) كتاب معرفة الصحابة باب ذكر مناقب عماربن ياسر رضي الله عنه)_

[2]) جامع ترمذى كتاب المناقب باب مناقب سلمان الفارسى رضي الله عنه رقم ٣٧٩٧)_

[3]) جامع ترمذى كتاب المناقب باب مناقب عماربن ياسر رضي الله عنه رقم (٣٧٩٨)_

[4]) سنن ابن ماجه المقدمة باب فضل عماربن ياسر رضي الله عنه رقم (١٤٧)_

نبى ﷺ فرمائيلى دى.((من أبغض عماراً أبغضه الله ومن عادى عماراً عاداه الله))(۱)
دحضرت عمارمناقب بې شميره دى.د نبى ﷺ د پيشنګوئ مطابق (۲)
د جنګ صفين په موقع په ۳۷هـ كښې دوى شهيدشوى وو.درې نوى كاله ددوى عمر
وو.ددوى نه تقريباً دوه شپيته احاديث مروى دى.(۳)((رضى الله عنه وأرضاه))

قوله: ثَلَاثٌ مَنْ جَمَعَهُنَّ فَقَدْ جَمَعَ الْإِيمَانَ: حضرت عمار ﷺ فرمائى درې خيزونه داسې دى چه كوم كس دا جمع كړى. نودې دايمان جمع كونكې دې.يعنى دا درې صفات چه په كوم مومن كښې موجود وى.نوهغه به كامل الايمان وى.

قوله: الْإِنْصَافُ مِنْ نَفْسِكَ: په دې كښې دا هم كيدې شى.چه ((من))په معنى د((فى)) وى.لكه څنګه چه په قرآن پاك كښې دى.﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ﴾ (۴)

اويه دې كښې ((من))ابتدائيه هم ګرځولې شى.په دې صورت كښې به دلته ((نفسك))د فاعل په معنى وى.يعنى انصاف داسې پكاردې.چه هغه ستا دنفس نه پيدا شوې وى.ستا زړه ته په هغې باندې اماده كونكې وى.بعضې وخت كښې داسې وى.چه سړې ددې وجې انصاف كوى. كه انصاف اونكړى.نوافسر به مې ملامته كړى.او اوبه نيوې شم.بدنامى به مې اوشى او شهرت به مې خراب شى. دلته دا فرمائى چه د افسر ويره يا د بدنامئ ويره دې د انصاف كولو باعث نشى. بلكه پكارده چه ستا نفس تا په انصاف كولوباندې اماده كړى.

اوكه د ((فى))په معنى باندې وى.نو((نفسك))به د مفعول به په درجه كښې وى.او ددې مطلب به دا وى.چه د خپل ذات په باره كښې تا دپاره دانصاف نه كار اخستل پكار دى.بعضې وخت كښې داسې وى.چه سړې د نورو په حق كښې خو انصاف كوى.خوچه كله ئې خپله خبره راشى.نوبيا انصاف نه كوى.بلكه خپل نفس سره دمحبت په وجه د ده خيال ساتى. نو دلته وئيلې شى.چه تالره پكار دى.چه دخپل ذات په باره كښې هم دانصاف نه كار واخلې. خپل نفس آزاد پريخودل نه دى پكار.بلكه پكارده چه دې ماموراتو باندې عمل كونكې او د منهياتو نه ځان ساتونكې وى.

قوله: وَبَذْلُ السَّلَامِ لِلْعَالَمِ: سلام ټولې دنيا دپاره استعمالول.
مطلب دا دې.چه د كشراومشر.مالداراوغريب ټولوته سلام كوه.په دې كښې د دوست ياچه

---

(۱) تاريخ بغداد (۱۱/۱۵۲) ومسند أحمد(۴/۹۰) ومستدرک للحاکم (۳/۳۸۹)_
(۲)نبى ﷺ د دوى په باره كښې فرمائيلى وو أبشرعمار تقتلک الفئة الباغية.. سنن ترمذى كتاب المناقب باب مناقب عماربن ياسر ﷺ رقم ۳۸۰۰)_
(۳) دا ټول تفصيل په تهذيب الكمال (۲۱/۲۱۵. ۲۲۷) اوالأعلام للزركلى (۵/۳۶) نه اخستى شوى دى._
(۴) سوة الجمعة ⑨_

دوست نه وی. که پیژنګلو وی اوکه نه وی څه فرق نه دی کول پکار.
شریعت دسلام اچول د سلام دجواب نه غوره ګرځولې دې حالانکه ابتداء بالسلام سنت ده او رد د سلام واجب دې اوقاعده دا ده چه فرض د واجبو نه غوره دی او واجب د سنتو نه افضل دی خودلته ابتداء بالسلام کوم چه سنت دی د رد السلام نه کوم چه واجب دی غوره دی د سلام جواب ورکول څکه واجب دی چه د سلام جواب نه ورکولو باندې د سلام اچونکی زړه ماتیږی اودسلام جواب نه ورکونکی تکبر ښکاره کیږی اوتکبر او د زړه ماتول دواړه ناجائز دی.

قوله وَالْإِنْفَاقُ مِنَ الْإِقْتَارِ: اودغریبۍ او فقیرۍ باوجود خرچ کول

د «اقتار» معنی د «افتقار» ده وئیلی شی «اقتر الرجل اذا افتقر» بیا دلته «من» خو د «فی» په معنی کښې دې اومطلب دا دې چه کله قحط سالی وی. اوخلق په فقرکښې اخته وی په دغه صورت کښې د انفاق نه کار اخله.

دویم صورت دا هم کیدې شی چه دا د «عند» په معنی وی اود «انفاق عند الاقتار» مطلب به دا وی چه کله انسان په غریبۍ کښې اخته وی نوپه هغه وخت کښې هم انفاق کول پکار دی څکه چه په دغه حالت کښې الله تعالی په رزق کښې برکت اوچوی اوزیادت په کښې کوی په قرآن مجید کښې ارشاد دې ﴿ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ ﴾ [۱] کوم کس چه غریب وی هغه دپاره خرچ کول پکار دی دهغه مال نه کوم چه لرډیر الله تعالی ده ته ورکړې وی دغه شان ارشاد دې ﴿ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا ﴾ [۲] ددې نه معلومه شوه که یوکس غریب وی اوبیا هم دالله تعالی په لارکښې خرچ کوی نوالله تعالی به دده په رزق کښې برکت واچوی او فقیری به ئې په مالدارۍ بدله کړی.

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه د حضرت عمار رضی الله عنه دا اثر دایمان ټولونیکو ته شامل دې څکه چه دا دایمان خصال یا خو بدنی دی اویا مالی په دې اثرکښې چه د انفاق کوم لفظ راغلې دې دا مالی خصلتونوته اشاره ده کوم چه په الله تعالی باندې بهروسه ده او زهد دی اوکم اومیدنو لره متضمن دی.

یا د خصال بدنی تعلق به یا دالله تعالی سره وی اویا به د بندګانوسره وی. نو د حقوق الله طرف ته اشاره کولودپاره اووئیلی شو «الانصاف من نفسک» اوحقوق العباد طرف ته د اشارې کولودپاره اووئیلی شو «وبذل السلام للعالم» [۳]

دعماربن یاسر رضی الله عنه د اثر تخریج دحضرت عمار رضی الله عنه دا اثر امام احمد بن حنبل رحمه الله په کتاب

---

[۱]) سورة الطلاق :۷)_
[۲]) المصدرالسابق)_
[۳]) عمدة القاری(۱۱\۱۹۸)_

الايمان كښې امام عبدالرزاق په خپل مصنف كښې (١) ابن حبان په ((روضة العقلاء)) كښې او يعقوب بن شيبه په خپل مسند كښې موصولاً نقل كړې دې.(٢)

بيا دا اثر په مسند بزار كتاب العلل لابن ابى حاتم او شرح السنة للبغوى كښې دعبدالرزاق په حواله مرفوعاً نقل دې.(٣)

امام بزاردې واسطې ته غريب ونيلى دى.امام ابوزرعه رحمه الله فرمائى.چه دا اثرمرفوع روايت كول صحيح نه دى.(٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.كه د فن حديث په اعتبارسره اوكتې شى. نو مرفوع روايت معلول دې.ځكه چه امام عبدالرزاق په آخر عمركښې متغيرشوې وو.اود مسند بزار اوكتاب العلل راوى حسن بن عبدالله كوفى دغه شان د شرح السنة راوى احمد بن كعب واسطى دامام عبدالرزاق نه هم په آخرى عمر كښې استفاده كړې وه.البته دا خبره ده.چه دحضرت عمار رضي الله عنه دا قول اګرچه په دوى باندې موقوف دې.خو دا د مرفوع په حكم كښې دې.ځكه چه دا خبره داسې ده.كومه چه رائې سره نشى وئيلې.(٥)

[٢٨] حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ حَدَّثَنَا اللَّيْثُ عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الْخَيْرِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ [ر:١٢]

رجال الحديث

قوله: قتيبه بن سعيد: دوى شيخ الاسلام راوية الاسلام ابورجاء قتيبه بن جميل بن طريف ثقفى دى. ابن عدى فرمائى.چه د دوى نوم يحيى دې.اوقتيبه ئې لقب دې.حافظ ابن منده رحمه الله فرمائى.چه د دوى اصلى نوم على دې.

دوى په ١٤٨ھ يا ١٤٩ ھ يا ١٥٠ھ كښې پيدا شوى وو.دوى دامام مالك. ليث بن سعد شريك .حماد بن زيد .اوبوعوانه .ابن لهيعه .اوعبدالله بن المبارك رحمهم الله وغيره نه استفاده كړې ده.اود دوى نه روايت كونكو كښې امام حميدى. نعيم بن بن حماد .امام احمد بن حنبل.يحيى بن معين .على بن المدينى.ابن نمير .اوبكربن ابى شيبه .امام بخارى. امام مسلم.امام ابوداود .امام نسائى.اوامام ترمذى رحمهم الله غوندې اساطين حديث شامل دى.

---

١) مصنف عبدالرزاق (١٠\٣٨٦) كتاب الجامع باب إفشاء السلام رقم (١٩٤٣٩)_
٢) تغليق التعليق(٢\٣٦. ٣٧)_
٣) فتح البارى(١\٨٣)_
٤) فتح البارى(١\٨٣)
٥) المصدر السابق)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دوى ثقه اوثبت دى

امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى.((قتيبة ثقة))

امام نسائى رحمه الله فرمائى.((ثقة صدوق))

وامام قتيبه دپلار صاحب بيان دي چه ما رسول الله ﷺ په خوب كښې اوليدلو .چه ددوى په لاس مبارك كښې يوه صحيفه ده.ما عرض اوكړو.اې دالله رسوله په دې صحيفه كښې څه دى؟ نو هغوى راته اوفرمائيل.په دې كښې دعالمانو ﷺ نومونه دى.ماورته عرض اوكړو.ما ته ئې راكړئ.چه زه په كښې دخپل خوى نوم اوګورم.ماچه په هغې كښې اوكتل.نوپه هغې كښې ددوى نوم وو.

دوى په كال ۲۴۰ھ كښې وفات شوى وو.()

دليث بن سعد .يزيد بن ابى حبيب.ابوالخيراوحضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه حالات وړاندې د ((باب إطعام الطعام من الإسلام)) لاندې تيرشوى دى.

قوله: أَيُّ الْإِسْلَامِ خَيْرٌ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ: داحديث باب بعينه وړاندې په باب ((إطعام الطعام من الإسلام)) كښې تيرشوې دې.هلته دامام بخارى رحمه الله استاذ عمروبن خالد تميمى وو.اودلته قتيبه بن سعيد دې.امام بخارى رحمه الله د تكثيرطرق په غرض باندې خپل دواړه استاذان جدا جدا ذكركړى دى.اودا دامام بخارى رحمه الله عادت دې.چه دوى يوحديث مكرر نه راوړى.چه چرته ضرورت پيښيږى.نوهلته دتكثير طرق په غرض په سند كښې تبديلى راولى.

دلته دا اشكال كيدې شى.چه هركله صرف تكثيرد طرق مقصودوو.نودا خو داسې هم ممكن وه.چه يوځل ئې ترجمه منعقد كړې وه.اودا ئې فرمائيلى وو.((باب إطعام الطعام والسلام من الإسلام)) اوددې لاندې ئې د خپلو دواړو شيوخو احاديث نقل كړى وو.خوداسې ئې نه دى كړى.

علامه كرمانى رحمه الله دا جواب وركړې دې.چه ممكن ده.چه عمروبن خالد دا حديث د((إطعام الطعام)) په ضمن كښې ذكركړې وى.اوقتيبه د ,,سلام،،لاندې ذكر كړې وى. نو د خپلو استاذانو په تابعدارئ كښې امام بخارى رحمه الله په دې باندې جدا جدا ترجمه قائمه كړه ده.()

خودا جواب صحيح نه معلوميږى.ځكه چه اول خو ددې نه دا لازميږى.چه د اول نه دا ثابته وى.چه ددې دواو استاذانو مدون كتابونه موجود وى.په كوموكښې چه دوى د اطعام الطعام او سلام بابونه قائم كړى وى.اودهغې لاندې ئې دا حديث ذكركړى وى.حالانكه چه كومو

() سيرأعلام النبلاء (۱۱\۱۳. ۲٤) وتهذيب الكمال (۲۳\۵۲۳) وتقريب التهذيب (ص.٤٥٤) رقم (۵۵۲۲) وعمدة القارى(۱\۱۹۹)_

() شرح كرمانى (۱\۱۳٤)_

كسانود دوى حالات ليكلى دى.نو په هغوى كښې چا هم ددې ذكرنه دى كړې.
بيا د دې نه دا هم لازميږى چه امام بخارى رحمه الله دتراجمو په وضع كښې د نورو تقليد
كوى حالانكه دا خبره معلومه او مشهوره ده.چه دوى د تراجمو په وضع كښې دچا تقليد نه
كوى.بلكه د احاديثو نه پخپله مسائل مستنبط كوى.اوپه هغې تراجم منقعد كوى.
بيا كه د علامه كرمانى رحمه الله خبره اومنلې شى.اودا تسليم كړې شى.چه يقيناً ددې دواړو
استاذانو په دې بابونو باندې تصنيفات شته.نوبيا هم دمصنف رحمه الله دپاره دهغې جمع كول
ممكن دى.نوسوال بعينه برقرار پاتې كيږى.
بهرحال داونيلې شى.چه په ظاهره دامام بخارى رحمه الله د طريقې نه دا معلوميږى.چه دوى
شعب ايمان شمارل غواړى.نوځكه دهرې شعبې دپاره جدا جدا باب قائموى.(١)والله أعلم

١٩ = بَاب كُفْرَانِ الْعَشِيرِوَكُفْرٍدُونَ كُفْرٍ

دكفرلغوى معنى دكفرلغوى معنى پټول دى.وئيلى شى.«كفريكفر كفراً : ستراً»
شپې ته كافر وائى.«لأنه يستربظلمته كل شئ»سمندر ته هم كافر وائى.«لسترة ما فيه»زميندار ته
هم كافر وائى.«لسترة البذرفى الأرض»
«كفريكفر كفراً وكفوراً وكفراناً» كفركول.دا دايمان ضد اونقيض دې.په دې كښې هم د نعمت
پټول اود هغې حق نه ادا كول دى.كافردالله تعالى نعمت پټوى. اودهغې نه انكار كوى.دهغه
ربوبيت كوم چه د هغه خاص صفت دې.هغه پټوى. او غيرته دهغې نسبت كوى.لكه چه:
وائى.ربوبيت دالله تعالى خاص صفت نه دې. نور هم په دې شريك دى.(٢)
علامه راغب اصفهانى رحمه الله فرمائى.«والكفران فى جحود النعمة أكثراستعمالاً والكفر فى الدين أكثر
والكفور فيهما جميعاً»(٣)
د كفراطلاقات ددې نه پس په دې پوهه شئ.چه په شريعت كښې دكفردوه دوه اطلاقه دى
يواطلاق خوپه كفرحقيقى.كفراصلى اوكفربالله باندې كيږى ددې صورت دا دې .چه انسان
د هغه څيزونو قصداً عمداً انكار اوكړى.كوم چه په ايمان كښې ضرورى وى.لكه دالله تعالى
د ربوبيت نه انكار اوكړى.ياد فرشتو يا دآخرت د ورځې نه انكار اوكړى
ددې دويم اطلاق ددې نه په ښكته درجه يعنى په معاصى اوګناهونو باندې كيږى.دا كفر
فرعى غير اصلى دې.د اولنى په وجه سړى دايمان د دائرې نه اوځى. اود دويم قسم په
ارتكاب سره دايمان نه نه اوځى.اودا هغه كفر دې.دكوم چه په حديثوكښې په معاصى

---

(١) فتح البارى(٨٢/١)_
(٢) لسان العرب (١٤٤/١٥.١٤٧)_
(٣) مفردات القرآن (٤٣٤)_

باندې اطلاق شوې دې رسول الله ﷺ فرمائيلى دى «سباب المسلم فسوق وقتاله كفر»[۱] دلته قتال ته كفر ونيلې شوې دې

دغه شان ارشاد دې «بين الرجل وبين الشرك ترك الصلاة»[۲] په بعضې رواياتو كښې دى «من ترك الصلاة متعمداً فقد كفر جهاراً»[۳]

دغه شان نياحت ته كفر ونيلې شوې دې ارشاد دې «اثنتان فى الناس هما بهم الكفر: الطعن فى النسب والنياحة على الميت»[۴]

كه د يوسړى قدرت كيږى اوبيا هم دې حج اونكړى.نود دامې كس په باره كښې د نبى ﷺ ارشاد دې «فلا عليه أن يموت يهودياً أو نصرانياً»[۵]

په دې ټولو رواياتوكښې هم دا كفر غيراصلى مراد دې.كوم ته چه كفر دون كفر هم ونيلى شى. دلته په دې ټولو رواياتوكښې دا تاويل شوې دې.چه دلته دكفراطلاق په هغه كس باندې شوې دې.څوك چه دا څيزونه حلال ګڼړى.يا دلته د كفراطلاق په دې معنى شوې دې.چه «فعل فعل الكفر» يا «فإنه قد قارب الكفر»

ددې تاويلاتو اوس څه ضرورت پاتې نشو.بلكه دا به ونيلى شى.چه د كفر ډيرې مرتبې او درجې دى.په دې كښې بعضې درجې د ايمان نه ويستونكى دى. اودا دكفردټولونه اوچته درجه ده.اونورې هغه مرتبې دى.چه دايمان نه ويستونكې نه دى.

دغه شان په شرك كښې هم تفصيل دې.يوشرك هغه دې.چه هغه مخرج عن الملة دې.هم ددې په باره كښې الله تعالى فرمائيلى دى. ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ﴾[۶] اود قرآن كريم په يوبل آيت كښې ارشاد دې.﴿فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا﴾[۷] په دې كښې د شرك نه مراد ..ريا.. ده.كومه چه مخرج عن الملة نه ده.دا شرك دون شرك دې.[۸]په دې كښې د شرك نه مراد ..ريا.. ده.كومه چه مخرج عن الملة نه ده.دا شرك دون شرك دې.

---

[۱]) صحيح بخارى كتاب الإيمان باب خوف المؤمن أن يحبط عمله وهو لا يشعر رقم ۴۸)_
[۲]) صحيح مسلم (۶۱\۱) كتاب الإيمان بب بيان إطلاق إسم الكفر على من ترك الصلاة)_
[۳]) مجمع الزائد(۲۹۵\۱) كتاب الصلاة باب فى تارك الصلاة وفيض القدير بشرح الجامع الصغير (۶۲۱۶\۱۰)_
[۴]) صحيح مسلم (۵۸\۱) كتاب الإيمان باب إطلاق إسم الكفرعلى الطعن فى النسب والنياحة)-
[۵]) جامع الترمذى كتاب الحج باب ما جاء فى التغليظ فى ترك الحج رقم ۸۱۲)_
[۶]) النساء: ۴۸، ۱۱۶)_
[۷]) سورة الكهف :۱۱۰)_
[۸]) سورة الكهف :۱۱۰)_

هم دغه حال د ظلم هم دي.په دې کښې يو هغه دې.کوم چه مخرج عن الملة دې. کوم چه د قرآن پاك په آيت ﴿وَالْكٰفِرُوْنَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ﴾(۱) کښې بيان شوې دې.حالانکه د ظلم يوه درجه هغه ده.کومه چه مخرج عن الملة نه ده.تردې چه د هغې نسبت پيغمبرانوعليهم السلام ته هم شوې دې.لکه څنګه چه د حضرت آدم ﷺ قول دې. ﴿رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا﴾(۲)

دغه شان د حضرت يونس ﷺ دعا ده. ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّيْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ﴾(۳)په دې دواړو آياتونوکښې دظلم نه مراد ظلم دون ظلم دې.هغه ظلم مراد نه دې.کوم چه مخرج عن الملة دې.

دغه شان د نفاق په باره کښې هم تفصيل دې. يونفاق هغه دې.کوم چه په ﴿اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِى الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ﴾(۴)کښې بيان شوې دې.اودا مخرج عن الملة دې.اوپه «أربع من كن فيه كان منافقاً خالصاً»(۵)کښې د نفاق نه مراد ..نفاق دون نفاق مراد دې.مخرج عن الملة نفاق مراد نه دې.

خلاصه دا چه په کفرکښې هم اعلى درجه وى.کوم چه د اسلام د دائرې نه ويستونکې ده او نور درجات ښکته کوى.کوم چه داسلام نه خارجونکې نه وى.دغه شان شرك. ظلم.نفاق کښې هم اعلى درجې وى.کومې چه مخرج عن الملة وى.اوددې نه ښکته نورې ډيرې درجې وى.کومې چه د اسلام نه خارجونکې نه وى.

دايمان او کفرمثال دنور او ظلمت پشان دې.په قرآن مجيد کښې آيت دې. ﴿اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ﴾(۶)دلته د ظلمات نه مراد کفردې.اود نور نه مراد ايمان دې لکه څنګه چه په محسوساتوکښې ورځ صرف نور دې.اوشپه صرف تيارۀ ده. نودغه شان ايمان صرف نور دې.اوکفرصرف تيارۀ ده.بيا په دې محسوساتوکښې هم يوه درجه هغه ده.چه نه صرف نور وى.اونه صرف تيارۀ وى.لکه د صبا صادق د راختونه پس نه صرف تيارۀ باقى پاتې کيږى.اونه صرف نور.دصرف نور راتلل خود نمر راختوسره راځى.اود ظلمت محضه خاتمه د صبا په راختو سره کيږى. اوس په مينځ کښې چه دا يوه نيمه ګنته ده.نودا د نور او ظلمت نه مخلوط ده. شريعت هم د صبا په مانځه کښې دجهرى قرات حکم کړې دې.اودا وخت ئې د شپې حصه ګرځولې ده.اود روژه دار دپاره ئې د صبا راختونه پس خوراك حرام کړې دې.حالانکه روژه د ورځې عبادت دې.او ورځ د نمر په راختو سره

---

(۱) البقرة: ۲۵٤)_
(۲) الأعراف :۲۳)_
(۳) الأنبياء :۸۷)_
(۴) النساء:۱٤۵)_
(۵) صحيح البخارى (۱۰/۱) كتاب الإيمان باب علامة المنافق)_
(۶) البقرة:۲۵۷)

شروع کیږی.لکه چه من وجه په دې کښې شپه ده.او من وجه په کښې ورځ ده.نودغه شان اوګنړه چه ایمان نور محض دې اوکفر ظلمت محض دې خولکه څنګه چه د ورځې او شپې په مثال کښې د نور محضه او ظلمت محضه په مینځ کښې یوه حصه هغه هم ده.کومه چه نه نور محضه ده.اونه ظلمت محضه.بلکه ددې حیثیت بین بین دې.دغه شان د ایمان او کفرپه مینځ کښې هم یوه بین بین درجه ده.

یوسړی د ((لااله إلا الله محمد رسول الله)) اقرار ښه په اخلاص او د زړه په یقین سره کوی.خو ورسره ورسره د ګناه ارتکاب هم کوی.نود تصدیق او اقرار سره سره د ګناهونو په دې ارتکاب کښې ایمان کوم چه نور محضه دې.اوکفر کوم چه ظلمت محضه دې.د دواړه ګډون په وجود کښې راځی.

بیا دا اختلاط لکه څنګه چه په مومن کښې وی.دغه شان په کافر کښې هم وی.ګورئ حضرت اشج عبدالقیس ﷛ د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضرشو دمسلم په روایت کښې دی.چه نبی ﷺ اوفرمائیل.((إن فیك لخصلتین یحبهما الله الحلم والإناة))[1] په یو روایت کښې دی.چه هغوی تپوس اوکړو.((أقدیماً کانا أم حدیثاً)) چه دا خویونه په ما کښې دوړاندې نه موجود وو.که نه اوس پیدا شوی دی؟نو نبی ﷺ ورته اوفرمائیل.((بل قدیما)) چه دا خصلتونه د وړاندې نه موجود وو.نوهغه دالله تعالی شکرادا کړو.او وئې وئیل.((الحمدلله الذی جبلنی علی خلتین یحبهما))[2] ښکاره ده.چه حلم او اناءة دواړه خوښ خصلتونه دی.دکوموچه اسلام ترغیب ورکړې دې.اودا په کافرکښې موجود دی.د وینا مطلب دا دې.چه دایمان او کفرپه مینځ کښې داسې ډیر درجات دی.چه په هغې کښې د ایمان سره دکفر درجات اوشاخونه هم موجود وی.اودکفرسره دایمان شاخونه هم موجود وی.

یواشکال اودهغې جواب دلته یوسوال دا دې.که په مومن کښې د کفرخصلت راشی.نود((فقد کفر))حکم لګوی.اودا وائی.((کفر دون کفر))خوکه په کافرکښې د ایمان خصلت راشی.نو هلته د ((فقد آمن))حکم نه لګوی.؟

ددې یومعقول جواب دې.هغه دا چه ایمان نوم دې د روحانی صحت او تندرستئ.اوکفرنوم دې د روحانی مرض اوبیمارئ.چه په بدنی صحت اوبیمارئ باندې قیاس کړې شی.

ګورئ یوکس من کل الوجوه روغ دې.خوددې باوجود دسردچکرشکایت ورته پیدا شی.هغه دا وائی.چه زه بیمار یم.حالانکه دهغه لاس صحیح وی.زړه ئې صحیح سالم وی.معده ئې صحیح وی.په یواعتبارسره هم ده کښې مرض نه وی.صرف په یو اعتبارسره په ده کښې مرض پیدا شوې دې.اوخلق وائی.چه فلانې بیمار دې.نودغه شان چه په مومن کښې من

---

[1] صحیح مسلم (۱\۳۵) کتاب الإیمان باب الأمر بالإیمان بالله تعالی ورسوله ﷺ.)_

[2] مسندأحمد(۴\۲۰۶) ومجمع الزوائد (۹\۳۸۷) کتاب المناقب باب ماجاء فی الأشج ورفقته ﷡ (۵\۶۴) کتاب الأشربة باب جواز الإنتباذ فی کل وعاء)_

جميع الجهات ايمان موجود دې.که د ترك صلاة په وجه په ده کښې بيماری پيدا شی.نو
د ((فقد کفر)) اطلاق به پرې کيدې شی.
خوچه کله يوسړې بيمار وی.داسې چه دده په لاس باندې زخم وی.په غوږ ئې درد وی.د زړه
حرکت ئې هم غيرمعتدل وی.اود سردچکرشکايت ورته هم وی.په څواعتباراتو سره دې
ناجوړه دې.خو ملتيازې ئې بيخی صحيح دی.اواجابت ئې بيخی صحيح دې.دده په معده
کښې څه فرق نشته.نو من جميع الجهات د مرض نه پس که په ده کښې يوه جهت صحيح
هم وی.نوآياده ته څوك صحتمند وائی؟نه وائی.نودغه شان چه يوسړې کافروی.اومن جميع
الجهات روحانی بيماراو په روحانی مرض کښې اخته وی.نوکه په ده کښې دايمان
يوخصلت يا روحانی صحت راشی.نوپه ده باندې د ((فقد آمن))اطلاق نه کيږی.

دلته امام بخاری رحمه الله ((کفران العشيروکفر دون کفر))اوونيل.دوی دا ښائی.چه کفران العشيرهم
په حقيقت کښې کفر دون کفرکښې داخل دې.خکه چه لکه څنګه وړاندې بيان شوې دې.چه
کفرپه اصل کښې پټولو ته وائی.په الله تعالی باندې کفرکونکې دالله تعالی دنعمتونو پټولو
مرتکب کيږی.لکه چه ښځه د خاوند نافرمانی کوی.نودا هم د خاوند د نعمتونو او
احساناتو د پټولو مرتکبه کيږی.نوپه دې کښې هم ستر موجود دې.خوپه دواړوکښې د
استعمال په اعتبارسره فرق کولې شی.چه د کفراطلاق په کفربالله باندې کيږی.اوددې نه
لاندې مرتبې دی.په هغې باندې د کفردون کفر اطلاق کيږی.دکفران اطلاق په کفر بالله
باندې نه کيږی.بلکه په کفردون کفرباندې کيږی.

عشير: دفعيل په وزن د((معاشر)) په معنی دې.لکه څنګه چه ((أکيل)) د مؤاکل په معنی دې.
معاشرت ، مخالطت ته اوملازمت ته وائی.دلته مراد خاونددې.چا سره چه ښځه ژوند
تيروی.([1])

بيا په ((کفر دون کفر)) کښې کوم ((دون)) دې.نو ددې دوه معانی راځی.کله دغير په معنی
راځی. اوکله ((أدنی من الشئ)) په معنی کښې استعماليږی.علامه راغب اصفهانی رحمه الله په
مفردات القرآن کښې په دواړو معانيوکښې علی سبيل السواء د قرآنی آياتونو لاندې راوړې
دی.([2]) حافظ ابن حجررحمه الله ((دون))د اقرب په معنی کښې راجح ګرځولې دې.([3])
اوعلامه کشميری رحمه الله د ((غير)) په معنی کښې راجح ګرځولې دې([4]) لکه چه دحافظ رحمه الله په
نيزدلته د کفر مختلف مراتب بيانول مقصود دی.اوعلامه کشميری رحمه الله په نيز دکفرد
مختلفو قسمونو په ګوته کول مقصود دی.

---

[1]) عمدة القاری(۱۱\۲۰۰)_
[2]) المفردات فی غريب القرآن(ت۱۷۶)_
[3]) فتح الباری(۱\۸۷) کتاب الإيمان باب ظلم دون ظلم)_
[4]) فيض الباری(۱\۱۱٤)_

حضرت شاه صاحب چه ((دون)) د ((غير)) په معنى اخستې دى نو ددې دپاره ئې څو قرائن ذکر کړى دى

اولنئ قرينه .هغوى د باب روايت بيان کړې دې خکه چه په روايت کښې دى. ((أريت النار فإذا أكثر أهلها النساء يكفرن: قيل أيكفرن بالله ؟ قال يكفرن العشير ويكفرن الإحسان)) نبى ﷺ چه کله زنانو ته د کفرنسبت اوکړو.نوصحابوﷺ تپوس اوکړو چه ددې نه کفربالله مراد دې.نو نبى ﷺ دا جواب ورنکړو.چه کفربالله مراد دې اوکه نه دې.البته دا ئې اوفرمائيل چه ((يكفرن العشير)) حضرت شاه ﷫ فرمائى.چه ددې نه معلومه شوه.چه دا دکفربالله يو بل قسم دې.دکوم په باره کښې چه صحابوﷺ تپوس کړې وو.نو نبى ﷺ ((كفران العشير)) اوفرمائيل.اود ((يكفرن بالله)) تائيد ئې اونکړو.نومعلومه شوه.چه کفران العشير د کفر جدا قسم دې.نوکفربالله او کفران العشير د يوبل نه جدا جدا دى.

بله قرينه حضرت شاه صاحب﷫ دا بيان کړې ده.چه په بعضې نسخوکښې د((كفر دون كفر)) په ځائې ((كفر بعد كفر)) راغلى دى.دا د ((بعد)) لفظ په دې دلالت کوى.چه ((دون)) په معنى کښې د ((غير)) په معنى دې.يعنى بعديت په غيريت باندې دلالت کوى.چونکه د ((بعد)) لفظ په يوه نسخه کښې راغلې دې.نوچه دواړه نسخې يوبل سره مطابق شى.نود ((دون)) نسخه به د ((غير)) په معنى کښې اخستې شى.

دريمه قرينه شاه صاحب﷫ دا بيان کړې ده.چه په آيت کريمه ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ ([1])کښې په اتفاق سره دون په معنى دغير کښې دې.نوهرکله چه په آيت کښې دون په معنى د ،،غير،، دې.نو په ((کفردون کفر)) کښې به هم ((دون)) په معنى د ((غير)) کښې اخستې شى.

څلورمه قرينه ئې دا بيان کړې ده.چه وړاندې ترجمه راځى.((باب المعاصى من أمر الجاهلية ولا يكفر صاحبها بارتكابها إلا بالشرك)) يعنى دمعاصى په ارتکاب سره سړى ته کافر نشى وئيلې.البته دا چه دې د شرك ارتکاب اوکړى.نوپه دې صورت کښې به ده ته کافر وئيلې شى.حضرت شاه صاحب﷫ فرمائى.که په کفرکښې مختلف مراتب اوګرخولى شى.نودا کيدې شى.چه دکفر يوقسم هغه دې.چه د هغې په ارتکاب سره سړى ته کافر وئيلې شى.اوبل قسم هغه دې.دکوم په ارتکاب سره چه ورته کافر نشى وئيلې حضرت شاه صاحب﷫ فرمائى.که په کفرکښې دغه شان دوه قسمه اونشى ګرځولې بلکه يوقسم په مختلفو مرتبو کښې اوګرخولې شى .نوپه عاصى باندې دکافرپه اطلاق کښې تحجر ولې دې؟حالانکه هم ديوې نوع مبداء داشتقاق په دې کښې موجود ده.اوپه کوم ځائې کښې چه مبتدا د اشتقاق

---

[1]) النساء:٤٨، ١١٦)_

موجود وى نوهلته پكارده چه د عمل مشق اوكړى.(۱)
خودحضرت شاه صاحب رحمه الله په دې تول تقرير باندې اعتراض شوې دې. علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى چه زما په نيزد حافظ رحمه الله مذهب مختار دې يعنى چه ((دون))په معنى د ((أقرب))او ((أدون))په معنى د ښكته درجې اوپست اوكمتردې.
اولنۍ وجه دا ده.چه ددې ترجمې نه دامام بخارى رحمه الله كوم اصل مقصود دې.اود څه د وجې چه ئې دا ترجمه په كتاب الايمان كښې ذكر كړې ده.اوذكركول ئې مناسب وو.هغه دا ده.چه په كفركښې مراتب بيان كړى.اوددې په ضد يعنى ايمان كښې په مراتبو باندې استدلال اوكړى.اودا مقصود په هغه وخت كښې حاصليدې شى.اوچه د((غير)) معنى واخستې شى نو دا مقصود نشى حاصليدې. ځكه چه دغير په صورت كښې مغايرت ثابتيدې شى خو مقصود نه حاصليږى.بيا مصنف رحمه الله د كتاب الايمان په شروع كښې دايمان په بابونوكښې دايمان مختلفې مرتبې ثابتې كړې.نواوس په ((باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال))او ((باب إذا لم يكن الإسلام على الحقيقة..)) كښې هم دا ثابت كړل.نواوس مناسب دا معلوميږى.چه دلته په كفركښې د مراتبو بيانول مقصود وى.مغايرت مقصودنه وى.
بله وجه دا ده.كه چرته ((دون)) په معنى د ((غير)) شى.نوبيا به د ((كفردون كفر)) معنى دا وى.چه يوكفر مغاير وى دبل كفر نه.اومغايرت په دواړو صورتونو كښې متحقق كيږى. برابره ده كه اول غټ وى ا ودويم وركوټې.يا اول وركوټې اودويم غټ.بهرصورت يودبل مغاير دې.ددې وجې د((كفردون كفر))اطلاق په وركوټى اوغټ كفرباندې كيدې شى.خوچه ((دون)) په معنى د((غير))واخستې شى.نوخلاف مقصودهم په دې كښې داخليږى.ځكه چه كوموحضراتو د ((كفردون كفر))جمله استعمال كړې ده.ځكه چه هغوى مقصود هم دا دې.چه د كفر اكبر لاندې دكفرنورې درجې هم دى.دا مقصود نه دې.چه يوكفرد بل كفربيخى مغاير دې.(كوم چه د ..دون)) په معنى د ..غير.. اخستلو حاصل دې)په خلاف دمعنى اقرب، يعنى ښكته. معمولى.اوادنى درجې والا.نوپه دې صورت كښې به دا معنى وى.چه يوكفر دبل كفر نه ادنى اوكمتردې.نوهم ددې اطلاق په وجه به صرف په وركوټى كفرباندې كيږى. په لوئې كفرباندې به نه كيږى.
دريمه وجه دا ده.چه ((اقرب)) او ((ادون)) د دې اصلى معنى ده نوخلاف الاصل طرف ته دتګ څه ضرورت نشته.(۲)
ترڅو پورې چه دحضرت شاه صاحب رحمه الله د قرائنو تعلق دې.نود اولنۍ قرينې نه جواب دا دې.چه كفران العشيرد كفرنه سوا يوبل مستقل نوع ګرځول دې ته څه ضرورت نشته.بلكه دا كفربالله طرف ته يوه پورئ ده.اود يوې كمې درجې شعبه ده.هم دا وجه ده.چه كله

---

(۱) فيض البارى (۱/۱۱۶، ۱۱۷)_
(۲) فضل البارى(۱/۴۱۹)_

صحابوﷺ ((أيكفرن بالله)) اوونيل اوتپوس ني اوكړو نو نبى ﷺ دهغي نفى نه ده كړې بلكه دهغي دنفى اواثبات نه ني سكوت اختيار كړو او((يكفرن العشير)) ني اوفرمانيل يعنى په ظاهر كفربالله نه كوى خودديې په مبادى او ددي په يوه شعبه كښې اخته دى.

په دويمه قرينه كښې حضرت شاه صاحبؒ د ((كفربعد كفر)) نسخه پيش كړې ده نودا قرينه زمونږ دپاره زياته فائده منده ده خكه چه ((قبل)) او((بعد)) عام طور دمراتبو خودلو دپاره راځي.

په دريمه قرينه حضرت شاه صاحبؒ د مفسرينو اجماع اواتفاق نقل كړې دې چه په ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ﴾ كښې ((دون)) په معنى د ((غير)) دې.

خوحقيقت دا دې چه ددې قول نسبت هم حضرت شاهؒ ته مشكوك ښكاري خكه چه اجماع خو لويه خبره ده يومفسرهم په دې مقام كښې دون په معنى دغير كښې راجع نه دې گرځولي امام راغب ددې آيت په تفسير كښې دون په معنى د ((اقل)) خودلې ده اوبيا ني صيغه د ((قيل)) په تمريض سره د ((غير)) په معنى بيان كړې ده فرمانى ((وقوله ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ﴾ أى ما كان أقل من ذلك وقيل ما سوى ذلك..))[١]

څلورمه قرينه حضرت شاه صاحبؒ چه وړاندې كوم باب راځي ((باب المعاصى من أمر الجاهلية ولا يكفر صاحبها بارتكابها إلا بالشرك)) پيش كړې ده چه دكفريو هغه قسم دې چه دهغي ارتكاب سره سړې ته كافر وئيلى شى اويوهغه قسم دې د كوم په ارتكاب سره چه سړى ته كافرنشى وئيلې نوددې جواب دا دې چه لكه څنگه دانواعويه اختلاف سره داطلاقاتو اختلاف وى اود احكامو هم مختلف مراتب وى نودغه شان په يوقسم څيزكښې د مراتبويه اختلاف سره هم د اطلاق اختلاف راتلې شى اومختلف احكام پرې مرتب كيدې شى.[٢]

((كفردون كفر)) دچاقول دې؟ دلته دا بحث دې چه ((كفر دون كفر)) دچا الفاظ دى؟

حافظ ابن حجرؒ دا دحضرت عطاء بن ابى رباحؒ قول گرځولي دې دوى فرمانى ((واما قول المصنف: وكفر دون كفر، فأشار إلى أثر رواه أحمد فى كتاب الإيمان من طريق عطاء بن أبى رباح وغيره))[٣]

حضرت شاه صاحبؒ فرمانى چه ابن كثيرؒ د ابن عباسؓ نه داقول نقل كړې دې كيدې شى چه حافظ صاحبؒ ته ددې علم نه وى شوې . ددې وجې هغوى ددې قول نسبت عطاء ته كړې دې.[٤]

---

[١] المفردات فى غريب القرآن(ص۱۷۶)_
[٢] فضل البارى(۱\۴۲۰، ۴۲۲)_
[٣] فتح البارى(۱\۸۳)_
[٤] فيض البارى(۱\۱۱۴)_

خوعلامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله فرمائى چه دحضرت ابن عباس رضى الله عنهما نه د «كفر دون كفر» الفاظ بعينه مروى نه دى بلكه د هغوى نه د ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ﴾[1] په تفسير كښې «أى كفر لا ينقل عن الملة» منقول دى.ددې مطلب دا دې چه كفرورکوټې اوغټ وى نوغټ كفرد ملت نه ويستونكې دې.اوورکوټې د ملت نه ويستونكې نه دې.معلومه شوه چه دكفرانواع اواقسام دى.اوهم ددې نه حضرت عطاء استنباط كړې دې.او«كفر دون كفر» ئې فرمائيلى دى.دحضرت ابن عباس رضى الله عنهما نه هم ددې مفهوم يوه بله جمله هم منقول ده.«هو بهم كفر ليس كالكفر بالله وملائكته ورسله» يعنى دا عمل دكفريوه شعبه ده.ددې جملې نه هم «كفر دون كفر» مستنبط كيږى.

ددې تقريرنه ښكاره ثابته شوه.چه د «كفر دون كفر» ماخذخود حضرت ابن عباس رضى الله عنهما نه منقول دې.خوبيخى دا الفاظ د هغوى نه منقول نه دى.دا الفاظ هم دعطاء دى.كوم چه هغوى د حضرت ابن عباس رضى الله عنهما دقول نه مستنبط كړې او اخذ كړې دى.نوځكه حافظ رحمه الله دا الفاظ هم عطاء ته منسوب كړى دى.حضرت ابن عباس رضى الله عنهما ته ئې نه دى منسوب كړى.

باقى چه كومه دا خبره اوشوه.چه حافظ رحمه الله ته به د حضرت ابن عباس رضى الله عنهما د كلام علم نه وو.زما په نيزصحيح نه ده.صرف توهم دې.ځكه چه پخپله چه وړاندې لاړ شې نو په «باب ظلم دون ظلم» كښې حافظ دابن عباس رضى الله عنهما د قول حواله وركړې ده.چه دا د ابن عباس رضى الله عنهما د قول نه ماخوذ دې.معلومه شوه.چه د ابن عباس رضى الله عنهما قول حضرت حافظ رحمه الله ته ورياد وو.اوحضرت عطاء بن ابى رباح رحمه الله نه صرف دا جمله منقول نه ده.بلكه داسې قسم درې جملې ترې منقول دى.«كفر دون كفر، ظلم دون ظلم، نفاق دون نفاق»[2]

خودواقعې حقيقت هم دا دې.چه د «كفر دون كفر» قول هم د ابن عباس رضى الله عنهما نه منقول دې.اوصرف استنباط نه بلكه صراحة دهغوى نه منقول دى.لكه څنګه چه امام حاكم په مستدرك كښې روايت نقل كړې دې.«عن طاوس قال قال ابن عباس رضى الله عنهما انه ليس بالكفر الذى يذهبون إليه، إنه ليس كفرا ينقل عن الملة ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ﴾ كفر دون كفر»[3]

دغه شان علامه سيوطى رحمه الله په درمنثور كښې نقل كړى دى.«وأخرج سعيد بن منصور، والفريابى وابن المنذر وابن ابى حاتم والحاكم وصححه والبيهقى فى سننه عن ابن عباس رضى الله عنهما فى قوله ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ

[1] المائدة: ٤٤)_
[2] فضل البارى(۱۱\٤۱۲. ٤۱۳)_
[3] مستدرك للحاكم (۲\۳۱۳) كتاب التفسير.تفسيرسورة المائدة قال الحاكم هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه قال الذهبى فى تلخيص المستدرك: صحيح)_

أَنْزَلَ اللهُ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ۝﴾ ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللهُ فَأُولٰئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ۝﴾ ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللهُ فَأُولٰئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ۝﴾ (۱) «قال كفر دون كفر وظلم دون ظلم وفسق دون فسق»

معلومه شوه چه دا قول د حضرت عطاء استنباط نه دې بلکه دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه منقول دې.البته دا خبره ده چه حافظ ابن کثیردا قول ددې اياتونو په تفسيرکښې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه دې نقل کړې. والله أعلم.

د ترجمې مقصود امام بخارى رحمه الله په دې ترجمة الباب سره دا بيانوى چه دکفرمختلف درجات دى.يوه په کښې دکفر د ټولو نه لويه درجه ده.اوددې نه لاندې نورې ډيرې درجې دى.نوهرکله چه د کفر مختلف درجات دى.نودغه شان به ددې د ضد يعنى ايمان هم مختلف درجات وى.ځکه چه دا قاعده ده.چه کله د يو څيز مختلف درجات وى نودهغې د ضد به هم مختلف درجات وى.نوکه کفرراشى.نو اصلى ايمان چه «ايمان بالله والملائكة والكتب والرسل» به هم خى.اوکه ايمان اصلى راشى.نوکفر به هم خى.دغه شان که «كفر دون كفر» راشى.نوددې په مقابله کښې چه دايمان کوم خصلت وى.هغه به ختم شى.دخاوند ناشکرئ ته په حديث کښې کفران وئيلى شوى دى.اودا کفرګرځولې شوې دې.اودا «كفر دون كفر» دې.نوکه ناشکرى راشى. نو دکفريوه شعبه به راشى.اود ايمان يوه شعبه يعنى دخاوند د نعمت شکريه ختم شى.نولکه څنګه چه دکفر مختلف درجات دى.نودغه شان به د ايمان هم مختلف درجات وى.

لکه چه امام بخارى رحمه الله تراوسه پورې د ايمان اواسلام مختلف درجات ثابت کړل.اود مختلفو مراتبو داثبات نه دامام بخارى رحمه الله مقصود دا وو.چه ايمان مرکب دې.اودا قابل للزيادت والنقصان دې.اوس امام بخارى رحمه الله دايمان ضد بيانوى.چه په کفرکښې مختلف درجات دى.اوهرکله چه په کفرکښې مختلف درجات دى.نودغه شان به ددې په ضد يعنى ايمان کښې هم مختلف درجات وى. اوچونکه په ايمان اوکفرکښې يا تقابل تضاد دې.اويا تقابل عدم وملکه.که تقابل تضاد واخستې شى.نو کفراو ايمان ضدين دى.اوکه تقابل دعدم وملکه اومنلې شى.نو ايمان اوکفر به متقابلين وى.اود ضدينو او متقابلينو قانون دا دې.چه ديو ضد او متقابل دپاره چه کوم حکم ثابتيږى.هغه به د بل ضد اومتقابل دپاره هم ثابتيږى.نوهرکله چه په کفرکښې مختلف درجات دى.په ايمان کښې به هم مختلف مراتب او درجات وى.اول په مثبت انداز کښې امام بخارى رحمه الله خپله مدعا پيش کوله.او اوس په منفى انداز کښې خپله مدعا پيش کوى.

قوله: فِيهِ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [ر:۲۹۸]

حضرت ابوسعيدخدرى رضي الله عنه مشهور صحابى دې.د دوى حالات وړاندې د «باب من الدين

(۱) الدرالمنثور فى التفسير بالمأثور(۲\۲۸۶) سورة المائدة)_

الفرار من الفتن)) لاندي تيرشول.
دلته چه امام بخاری رحمه الله دحضرت ابوسعيد خدری رضی الله عنه كوم حديث ته اشاره كړې ده.دا هغه حديث دي.كوم چه امام بخاری رحمه الله په كتاب الحيض كښې راوړې دې.((يامعشر النساء تصدقن فإني أريتكن أكثرأهل النار فقلن ولم يارسول الله قال تكثرن اللعن وتكفرن العشير))[1]
قاضي ابن العربی رحمه الله فرمائي.دا احتمال هم شته.چه ددې نه مراد د حضرت ابوسعيد خدری رضی الله عنه يوبل حديث ((من لم يشكر الناس لم يشكر الله))[2] مراد وى.[3]
خوحافظ ابن حجراو علامه عينى رحمهما الله ددې خبرې ترديد كړې دې. اوفرمائيلى ئې دى.چه دا خبره لرې ده.اوظاهرهم دا دې.چه ددې نه د كتاب الحيض حديث ته اشاره ده.دغه شان د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په حديث الباب كښې د ((يكفرن العشير)) د الفاظو نه هم ددې تائيد كيږى.[4]

[۲۹]: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ عَنْ مَالِكٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيتُ النَّارَ فَإِذَا أَكْثَرُ أَهْلِهَا النِّسَاءُ يَكْفُرْنَ قِيلَ أَيَكْفُرْنَ بِاللَّهِ قَالَ يَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ وَيَكْفُرْنَ الْإِحْسَانَ لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ [۲۹۰۱،۳۰۳۰۰،۱۰۰۴،۷۱۵،۴۳۱]

رجال الحديث

قوله: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ: دعبدالله بن مسلمه قعنبى رحمه الله حالات وړاندې د ((باب من الدين الفرار من الفتن)) لاندې تيرشوى دى.

قوله: عَنْ مَالِكٍ: دامام مالك بن انس رحمه الله حالات هم په وړاندينى باب كښې تيرشوى دى.

قوله: عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ: دوى ابواسامه يا ابوعبدالله زيدبن اسلم قرشى عدوى مدنى دى.دحضرت عمر رضی الله عنه مولى او مشهور فقيه دې.دوى دخپل پلار. حضرت عمر.حضرت انس. حضرت جابر.حضرت سلمه بن الاكوع رضی الله عنهم وغيره نه احاديث نقل كړى دى.اوددوى نه په روايت كونكو كښې د دوى خوئې اسامه بن زيد.ايوب سختيانى.اسماعيل بن عياش. امام زهرى.امام مالك.اومعمر وغيره رحمهم الله دى.

---

[1]) صحيح بخارى (۱۱/٤٤) كتاب الحيض باب ترك الحائض الصوم رقم ۳۰٤)_
[2]) جامع ترمذى كتاب البر والصلة باب ما جاء فى الشكر لمن أحسن إليك رقم ۱۹۵۵)_
[3])فتح البارى (۱/۸۳)_
[4]) فتح البارى(۱ج۸۳)_

امام احمد بن حنبل رحمه الله ابوزرعه، ابوحاتم، محمد بن سعد، امام نسائي، او ابن خراش رحمهم الله دوی لره ثقه ګرځولی دی.

یوځل دوی حدیث اورول، نو یوکس ترې تپوس اوکړو «یاأباأسامة ممن هذا؟» نودوی ورته جواب ورکړو «یاابن أخي ماکنانجالس السفهاء ولانحمل عنهم الأحادیث»

د دوی شخصیت ډیر د رعب وو، چه ترڅو پورې به نې حدیث بیانول، نوپه خپله خوښه به نې بیانول، اوچه کله به چپ شو، نوپه چا کښې به دا همت نه وو، چه به نې ورته د حدیث اورولو درخواست کړې وې.

ددوی په زرین اقوالوکښې دی «ابن آدم اتق الله یحبك الناس وإن کرهوا»(۱)

د دوی به باقاعده په مسجد نبوی کښې حلقه وه، حضرت علی بن الحسین رحمه الله دنورو مجلسونو نه تیریدلو، اود دوی په حلقه کښې به کیناستلو، یوځل نافع بن جبیر رحمه الله دوی ته اووئیل «تخطی مجالس قومك إلی عبد عمربن الخطاب رضی الله عنه» چه ته دخپل قوم د مجلسونو نه تیریږې، اود حضرت عمربن الخطاب دغلام مجلس کښې کینې، نو دوی ورته جواب ورکړو.

«إنمایجلس الرجل إلی من ینفعه فی دینه» چه سړې دهغه چا سره کینی، چه د چانه ورته په دین کښې فائده رسی.(۲) دوی په کال ۱۳۶هـ کښې وفات شوی وو.(۳) رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

قوله: عَنْ عَطَاءِبْنِ يَسَارٍ: دوی ابومحمد عطاء بن یسار هلالی مدنی اودام المومنین حضرت میمونې رضی الله عنها مولی وو.

دوی دحضرت ابی بن کعب، اسامه بن زید، جابر بن عبدالله، عبدالله بن عمر، عبدالله بن عمروبن العاص، عبدالله بن عباس، عبدالله بن مسعود رضی الله عنهم نه علاوه د نورو ډیرو صحابو رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله نه دحدیثو روایت کړې دې.

اود دوی نه چه چا روایت کړې دې، په هغوی کښې حبیب بن ابی ثابت، زید بن اسلم، صفوان بن سلیم، او عمروبن دینار رحمهم الله وغیره دی.

امام یحیی بن معین، امام ابوزرعه، اوامام نسائی رحمهم الله د دوی په باره کښې فرمائی «ثقة»

امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائی «کان ثقة کثیرالحدیث»

حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی «ثقة فاضل صاحب مواعظ وعبادة»

ددوی د وفات په باره کښې مختلف اقوال دی، راجح قول دا دې، چه ددوی وفات په کال ۹۴هـ کښې شوې دې.(۴)

---

(۱) ددوی تولو تفصیلاتو دپاره اود زیات تفصیل دپاره اوګورئ تهذیب الکمال (۱۰\۱۲، ۱۸)_

(۲) التاریخ الکبیر للبخاری (۳\۳۸۷) رقم ۱۲۸۷)_

(۳) المصدرالسابق)_

(۴) تهذیب الکمال (۲۰\۱۲۵، ۱۲۷) وتقریب التهذیب (ص۳۹۲، رقم ۴۶۰۵)_

قوله: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: ترجمان القرآن .ابن عم رسول الله ﷺ .حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ددوى مختصر حالات مونږ وړاندې ((بدء الوحي)) کښې د دريم حديث لاندې ذکر کړې دی.البته دلته په يوه اهمه فائده باندې خان پوهه کړئ.

يوه اهمه فائده دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما شميريه وړو صحابو رضي الله عنهم کښې کيږی. خکه چه دوی دهجرت نه درې کاله وړاندې پيدا شوې وو.د نبی ﷺ د وفات په وخت کښې ددوی عمر صرف ديارلس کاله وو.زيات وخته پورې دنبی ﷺ د صحبت نه براه راست فيضياب شوې نه دې.ددې وجې دوی زيات روايات د نورو صحابو رضي الله عنهم نه اوريدلې شوی دی.اودا په مراسيلو کښې شمارلې شی.وړاندې مونږ په خو ځايونو کښې بيان کړې دې چه مراسيل صحابه رضي الله عنهم په اتفاق سره مقبول دی.

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما براه راست د نبی ﷺ نه څومره احاديث اوريدلی دی.په دې کښې اختلاف دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه دغندر د روايت مطابق حضرت ا بن عباس رضي الله عنهما د نبی ﷺ نه براه راست صرف نهه احاديث اوريدلی دی.(١)

امام يحيى القطان رحمه الله فرمائی.چه صرف دلسو احاديثو سماع ثابته ده.(٢)

امام غزالی رحمه الله په ((المستصفى)) کښې ليکلی دی.((قيل أنه لم يسمع من رسول الله ﷺ إلا أربعة أحاديث لصغر سنه))(٣)

حافظ رحمه الله فرمائی.چه دا خبره قابل دنظر ده.خکه چه صرف په صحيحينو کښې داسې احاديث لس دی.په کومو کښې چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د سماع تصريح کړې ده.دغه شان په دې مقدارباندې هغه احاديث دی.په کومو کښې چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د نبی ﷺ د فعل د مشاهدې ذکر کړې دې.اوبيا ئې هغه بيان کړی دی.دغه شان په دې شمارباندې هغه احاديث دی.کوم چه دصريح په حکم کښې دی.بيا دا تفصيل صرف د صحيحينو د رواياتو متعلق دې. خکه چه د صحيحينو نه علاوه د حديثو په نورو کتابونو کښې داسې قسم احاديث راغلی دی.(٤)

ابن قيم رحمه الله فرمائی.چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما براه راست د نبی ﷺ نه شلو ته نزدې احاديث اوريدلی دی.(٥)

---

(١) تهذيب التهذيب (٢٧٩\٥) ترجمة عبدالله بن عباس رقم ٤٧٤)_

(٢) المصدر السابق)_

(٣) المستصفى (١٧٠\١١) المرسل مقبول عندمالک وأبي حنيفة رحمهما الله)_

(٤) تهذيب ا لتهذيب(٢٧٩\٥)_

(٥) الوابل الوصيب و رافع الكلم الطيب (ص.١٢٦) وتهذيب سنن أبي داود (٢٥٠\١٣)كتاب الصيام باب الرخصة في ذلک (أي في الإحتجام للصائم)_

صاحب د خلاصه علامه صفي الدين احمد خزرجي رحمه الله ليكي ((سمع من النبي ﷺ خمسة وعشرين حديثاً وباقي حديثه عن الصحابة رضي الله عنهم)) (١)

قوله قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيتُ النَّارَ: (٢) نبي كريم ﷺ اوفرمائيل ماته جهنم اوخودلې شو. دا دجهنم دخودلو واقعه ياد معراج ده يا د خوب اويا د كسوف؟ والله اعلم ظاهره داده چه دكسوف واقعه ده. خكه چه امام بخارى رحمه الله دصلاة الكسوف په باب كښې هم دا حديث نقل كړې دې.

قوله فَإِذَا أَكْثَرُ أَهْلِهَا النِّسَاءُ: نوهلته زيات شمارد ښځو وو.

ددې نه معلوميږي چه په جهنم كښې به ښځې زياتې وى خوامام بخارى رحمه الله په بدء الخلق كښې نقل كړې دى ((لكل واحد منهم زوجتان)) (٣) چه دهريو به دوه بيبيانې وى ددې نه حضرت ابوهريره رضي الله عنه په دې خبره باندې استدلال كړې دې چه ښځې به په جنت كښې د سړو په نسبت زياتې وى. (٤)

ددې تعارض په جواب كښې حضرت شاه انورشاه كشميرى رحمه الله فرمائى چه د ((لكل واحد منهم زوجتان)) نه مراد ((من الحور العين)) دى. (٥) لكه ځنګه چه هم بخارى شريف كښې دا قيد په بله واسطه كښې دې. (٦) نو دحورعين د كثرت نه دا نه لازميږي چه په جنت كښې به د دنيوى ښځو زيادت وى.

خوپه دې باندې اشكال دې چه د طبرانى په روايت كښې دى ((إن أدنى أهل الجنة يسعى على

---

(١) خلاصة تذهيب تهذيب الكمال للخزرجي (ص٢٠٣)_

(٢) الحديث أخرجه البخاري في كتاب الصلاة باب من صلى وقدامه تنور أو نار أو شئ مما يعبد فأرا به الله رقم ٤٣١ وفي كتاب الأذان باب رفع البصر إلى الإمام في الصلاة رقم ٧٤٨ وفي كتاب الكسوف باب صلاة الكسوف جماعة رقم ١٠٥٢ وفي كتاب بدء الخلق باب صفة الشمس والقمر رقم ٣٢٠٢ وفي كتاب النكاح باب كفران العشير رقم ٥١٩٧ ومسلم في صحيحه (١\٢٩٨ و٢٩٩ كتاب الكسوف والنسائي في سننه (١\٢٢١) كتاب الكسوف باب قدر القراءة في صلاة الكسوف وأبوداود في سننه في كتاب الصلاة باب من قال أربع ركعات رقم ١١٨١ و(١١٨٣) والترمذي في جامعه في كتاب الصلاة باب ما جاء في صلاة الكسوف رقم ٥٦٠)

(٣) صحيح بخارى (١\٤٦٠) كتاب بدء الخلق باب ما جآء في صفة الجنة وأنها مخلوقة)_

(٤) په صحيح مسلم كښې دمحمد بن سيرين رحمه الله نه روايت دې ((إما تفاخروا وإما تذاكروا الرجال في الجنة أكثر أم النساء فقال أبوهريرة رضي الله عنه أولم يقل أبوالقاسم ﷺ إن أول زمرة تدخل الجنة على صورة القمرليلة البدروالتي تليها على صورة أضوء كوكب دري في السماء لكل إمرئ منهم زوجتان إثنتان يرى مخ سوقهما من وراء اللحم وما في الجنة غرب (٢\٣٧٩) كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها)_

(٥) فيض الباري (٤\٩) كتاب بدء الخلق باب ما جاء في صفة الجنة)_

(٦) صحيح بخارى (١\٤٦١) بدء الخلق باب ما جآء في صفة الجنة..)_

زوجتین من نساء الدنیا»(١) دغه شان ابن عساکر رحمه الله د حضرت حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه روایت نقل کړي دي «سمعت رسول الله ﷺ یقول: یزوج المؤمن فی الجنة ثنتین وسبعین زوجة سبعین من نساء الآخرة وثنتین من نساء الدنیا»(٢) دغه شان حافظ رحمه الله د ابویعلی رحمه الله په حواله سره د حضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث نقل کړي دي. «فیدخل الرجل علی ثنتین وسبعین زوجة مما ینشئ الله وزوجتین من ولد آدم»(٣)

په دې ټولو احادیثو کښې تصریح ده چه «زوجتین من نساء الدنیا» به وي دحور العین نه به نه وي.نو اشکال دوباره راغلو.چه هرکله دیوجنتي دوه ښځې وي.نو بیا خو به دښځو شمارد سړو نه زیات وي.نو دا وینا څنګه ټیک شوه.چه په جهنم کښې به د ښځو شمار زیات وي.

ددې یوجواب دا ورکړې شوې دې چه په حدیث کښې چه دا دي.چه «فإذا أکثر أهلها النساء» یا «فرأیت أکثر أهلها النساء» الفاظ راغلي دي.نو دا دهغه وخت د شاهدې مطابق وو.چه تراوسه پورې د ښځو شمار زیات دې.په دې حدیث کښې دټولو ښځو ذکر نه دې.اونه دټولو زمانو په اعتبارسره ذکر شوې دې.نوددې حدیث د «لکل واحد منهم زوجتان» سره څه تعارض نشته.(٤)

دویم جواب دادې.چه «أکثر أهل النار» دا د ابتداء په اعتبارسره.اود سزا خوړلو نه پس چه جنت ته لاړې شي.نوبیا «أکثر أهل الجنة» شي.(٥) دریم جواب دا دې.چه ښځې «أکثر أهل النار» به بالقوة وي.خوالله تعالی به ئې معاف کړي. اودوی به «أکثر أهل الجنة» شي.(٦)
خلاصه دا چه په جهنم کښې د ښځو اکثریت په وجه په جنت کښې ددوی د کثریت نه نفي نه لازمیږي.نودحضرت ابوهریره رضی الله عنه د «لکل واحد منهم زوجتان» نه دا استدلال بیخي صحیح دې.چه په جنت کښې به د ښځو اکثریت وي.
البته دلته دحضرت ابوهریره رضی الله عنه په استدلال باندې دیوبل حدیث په وجه اشکال کیږي.دکوم الفاظ چه دا دي.«أن رسول الله ﷺ قال: إن أقل ساکني الجنة النساء»(٧) په حدیث کښې د ښځود «أکثر أهل الجنة» صراحة نفي ده.نودحضرت ابوهریره رضی الله عنه استدلال څنګه صحیح شو؟

---

(١) مرقاة شرح مشکاة (٣٢٠\١٣) باب صلاة الخسوف)_
(٢) درمنثور (٣٩\١١)_
(٣) فتح الباری(٣٢٥\٦) کتاب بدء الخلق باب ما جاء في صفة الجنة وأنها مخلوقة)_
(٤) فیض الباری(٩\٤)_
(٥) مرقاة المفاتیح(٣٢٠\١٣)_
(٦) مرقاة المفاتیح (٣٢٠\١٣)_
(٧) صحیح مسلم (٣٥٢\٢) کتاب الذکر والدعاء والتوبة والإستغفار باب أکثر أهل الجنة الفقراء وأکثر أهل النار النساء)_

ددې جواب دا دې چه محققینو عالمانو ﷭ دا حدیث روایت بالمعنی ګرځولې دې او فرمائیلی ئې دی چه په اصل کښې یو راوی چه هغه حدیث کتلې دې په کوم کښې چه د ښځو «أکثرأهل النار» ذکر راغلې دې نودا استدلال ئې ترې کړې دې چه ښځې به «أقل ساکنی أهل الجنة» وی [1] والله أعلم.

یواشکال اودهغې جواب دبخاری په هغه روایت باندې اشکال دلته دا کیږی په کوم کښې چه «ولکل إمرئ زوجتان من الحور العین» راغلی دی په دې باندې دا اشکال کیږی چه په جنت کښې به دهرجنتی صرف دوه حورې وی حالانکه په نورو روایاتوکښې دی چه د اویا نه به زیاتې حورې ملاویږی بلکه په بعضې روایاتوکښې د پنځو سوو حورو ذکردې اوپه بعضې روایاتوکښې د سلو حورو تذکره ده.[2] نودا تعارض به څنګه لرې کولې شی؟

ددې جواب دا دې چه د پنځو سوو حورو ذکر ابوالشیخ په کتاب العظمة کښې کړې دې حالانکه حافظ عراقی ﷫ دهغوی نه د سلو حورو تذکره نقل کړې ده اوهم ددې سلو حورو ذکر ابونعیم په حلیه کښې هم کړې دې.[3] حقیقت دا دې چه دا احادیث قوی نه دی هم دا وجه ده چه حافظ ابن قیم﷫ فرمائی «لیس فی الأحادیث الصحیحة زیادة علی زوجتین سوی ما فی حدیث أبی موسی الأشعری ﵁ إن فی الجنة لخیمة من لؤلؤة له فیها أهلون یطوف علیهم»[4]

اوکه دا احادیث صحیح اومنلی شی نوجواب دا دې چه زوجتین کم مقدار دې چه کم ازکم به ورته دوه حورې ملاویږی.[5] یا د «زوجتین» نه تثنیه مراد نه ده بلکه تکثیراوتعظیم مراد دې لکه څنګه چه په «لبیك وسعدیك» کښې تثنیه مراد نه ده.[6]

د دې نه علاوه دا هم وئیلی شوی دی چه دوه حورې به ډیر د اوچتې درجې وی لکه څنګه چه شهزادګۍ وی اوباقی به عامې حورې وی اوبیا به په دې حوروکښې دجنتیانو په اعتبارسره کمې زیاتې کیږی بعضې جنتیانو ته به اویا اویا دوه اویا حورې ملاویږی او بعضو ته به سل او بعضو ته به پنځه سوه. والله یضاعف لمن یشاء والله أعلم.

قوله: یکفُرنَ: یعنی ښځې ناشکری کوی.

---

[1] فتح الباری(۶\۳۲۵)_

[2] ددې روایاتو دپاره اوګورئ درمنثور(۱\۳۹، ۴۰) وإتحاف السادة المتقین (۱۰\۵۴۵، ۵۴۷) صفة الحورالعین والولدان)_

[3] إتحاف السادة المتقین(۱۰\۵۴۶)_

[4] فتح الباری(۶\۳۲۵) کتاب بدء الخلق باب ما جاء فی صفة الجنة وأنها مخلوقة)_

[5] فتح الباری(۶\۳۲۵)_

[6] المصدرالسابق)_

قوله قِيلَ أَيَكْفُرْنَ بِاللَّهِ؟: اووئيلى شو.يا رسول الله ايا دالله تعالى ناشكرى كوى؟

قوله قَالَ يَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ: نبى ﷺ اوفرمائيل دخاوندناشكرى كوى.ددې نه معلوم شوه چه((كفردون كفر))مراد دې.اودكفرمختلف درجات دى.

قاضى ابن عربى رحمه الله په دې مقام كښې يوه نكته ليكلې ده.دوى فرمائى چه دلته ئې كفران العشير د يوې دقيقې نكتې دوجې ذكركړې دې.هغه دا ده.چه نبى ﷺ فرمائيلى دى ((لوأمرت احداًأن يسجدلأحدلأمرت المرأة ان تسجدلزوجها))(١)

لكه چه دخاوند حق ئې دالله تعالى دحق سره ملاؤ كړلو.نوچه دچا حق دومره زيات وى.چه دده حق دالله تعالى دحق سره ذكركولې شى.اوبيا دده په حق كښې ښځه كوتاهى كوى.نودداسې ښځې نه څه اميد كيدې شى.چه هغه به دالله تعالى په حق كښې كوتاهى نه كوى.نوځكه ئې دخاوند په حق كښې دكوتاهئ كولونه په كفرسره تعبير اوكړو.(٢)

قوله وَيَكْفُرْنَ الْإِحْسَانَ لَوْأَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا قَالَتْ مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًاقَطُّ: يعنى ښځې د احسان ناشكرى كوى.كه ته په دوى كښې دچا سره ټول عمراحسان كوې.اوبيا څه معمولى غوندې دناخوښئ خبره راشى.نووائى.چه ما تا سره چرته هم دخير ورځ نه ده ليدلې.ماته په دې كور كښې څه ملاؤ شو.چه دكوم وخت نه راغلې يم.نومصيبتونه دى.اوزه يم.وغيره وغيره.

په حديث كښې داختصارمسئله: حديث باب د يواوږد حديث ټوكړه ده.كوم چه امام بخارى رحمه الله په كتاب الكسوف كښې په تفصيل سره ذكر كړې دې.ددې نه معلوميږى.چه مصنف رحمه الله د حديث داختصار د جواز قائل دې.(٣) دې ته ((خرم)) وائى.

په دې مسئله كښې اختلاف دې.چه په حديث كښې اختصار جائز دې اوكه نه دې.دعالمانو رحمهم الله په دې مسئله كښې څلور مذاهب دى.

① يومسلك خودا دې.چه دا مطلقاً جائز نه دې.ځكه چه دا د روايت بالمعنى د باب نه دې.كوموحضراتو چه روايت بالمعنى ناجائزګرځولې دې.هغوى اختصارفى الحديث هم ناجائز ګرځولې دې.

② دويم مسلك دا دې.چه مطلقاً جائز دې.كه دې ته روايت بالمعنى وائې.اوكه نه وائې.خو دا جوازپه داسې صورت باندې مقيد دې.چه دمحذوف حصه دمذكور حصې سره داسې

---

(١) سنن ابن ماجه كتاب النكاح باب حق الزوج على المرأة رقم ١٨٥٢) ورقم ١٨٥٣ وسنن أبى داود كتاب النكاح باب حق الزوج على المرأة رقم ٢١٤٠ وسنن دارمى كتاب الصلاة باب النهى أن يسجد لأحد رقم ١٤٦٣ و ١٤٦٤ ومستدرك حاكم (١٧٢/٤) كتاب البر والصلة باب حق الزوج على الزوجة)_

(٢) فتح البارى(٨٣/١)_

(٣) فتح البارى(٨٤/١)_

تعلق نه وي په کوم سره چه د حذف په وجه په معنی کښې خلل راخي لکه چه مستثنی منه ذکر کړي اومستثنی حذف کړې شي.که داسې قسم خلل وي.نو بيا په اتفاق سره اختصارفي الحديث جائز نه دې.

③ که هغه روايت يو خل مکمل روايت کړې شوې وي.برابره ده که اختصارکونکی راوی مکمل روايت کړې وي يا بل چا.نوبيا په دې روايت کښې اختصار جائز دې.گنی نه دې.

④ څلورم قول دا دې.که دحديث په ماقبل اومابعدکښې داسې تعلق وي.چه د اختصار کولو په صورت کښې په معنی کښې خلل راخي.نواختصارکول جائزنه دی.گنی دعالم کس دپاره چه دکلام د مدارجو نه خبر وي.اختصارکول جائز دی

په دې کښې دا آخری قول يعنی څلورم قول يعنی جمهورومسلك دې.(١)

امام نووی رحمه الله د قاضی عياض رحمه الله نه نقل کړی دی.چه امام مسلم رحمه الله مطلقاً د جواز قائل دې.(٢)

امام مسلم طرف ته ددې قول نسبت کول وهم دې.بلکه دوی دجمهورو دقول پشان د عارف اوعالم دپاره دجواز قائل دې.دې طرف ته هغوی اشاره کړې ده.«أو أن نفصل ذلك المعنى من جملة الحديث على اختصاره إذا أمكن»(٣)په دې کښې چه دامکان کوم قيد لګولې شوې دې.په دې کښې هم دې طرف ته اشاره ده.والله أعلم.

٢٠ = بَابُ الْمَعَاصِي مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ وَلَا يُكَفَّرُ صَاحِبُهَا بِارْتِكَابِهَا إِلَّا بِالشِّرْكِ

لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ))(٤)

جاهليت: امام نووی دجاهليت تشريح کوی.او فرمائی.«والمراد من الجاهلية ما كان في الفترة قبل الإسلام»(٥)

خويه دې باندې اشکال کيږی.چه امام بخاری رحمه الله د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړی دی.

---

(١) مقدمة فتح الملهم (٨٣) فروع لها تعلق بالرواية بالمعنى)_
(٢) شرح نووی علی صحيح مسلم(٣١١)_
(٣) مقدمة صحيح مسلم (٣١١)_
(٤) النساء:٤٨٠)_
(٥) شرح نووی علی صحيح مسلم (٧٠١١) كتاب الإيمان باب تحريم ضرب الخدود وشق الجيوب والدعاء بدعوى الجاهلية وتهذيب الأسماء واللغات (٥٧\٣) مادة (جبل)_

دوى فرمائى ((سمعت أبي يقول في الجاهلية أسقنا كاسا دهاقا))[1] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دهجرت نه
درې كاله وړاندې د نبوت په لسم كال پيدا شوې وو.
دغه شان امام بخارى رحمه الله دعمروبن ميمون رحمه الله نه نقل كړى دى.((رأيت في الجاهلية قردة اجتمع
عليها قردة قد زنت فرجموها فرجمتها معهم))[2] اوعمروبن ميمون تابعى رحمه الله دې.[3]
دغه شان امام مسلم دصحيح مسلم په مقدمه كښې ليكلى دى.((وهذا ابوعثمان النهدى
وأبورافع الصائغ وهما ممن أدرك الجاهلية))[4]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام نووى رحمه الله په يقين سره دا خبره كړې ده چه د جاهليت نه
په هرمقام كښې دبعثت نه وړاندې زمانه مراد وى.حافظ رحمه الله فرمائى چه په دې تعميم كښې
نظردې ځكه چه وړاندې كوم اقوال مونږ ذكركړل.په دې كښې يوقول دحضرت ابن
عباس رضي الله عنهما دې.اوهغوى دبعثت نه پس پيدا شوى وو.دغه شان عمروبن ميمون .ابوعثمن
نهدى اوابورافع تابعين دى.نودا يقين صحيح نه دې چه دجاهليت اطلاق صرف په ماقبل
البعثت باندې كيږى.
حافظ رحمه الله فرمائى چه دجاهليت اطلاق په څو زمانو باندې كيږى.

① يواطلاق په هغه زمانه كيږى.كومه چه ((ما بين مولد النبى ﷺ الى مبعثه)) نودا ((باب أيام
الجاهلية))نه هم دا مراد دې.

② يواطلاق هغه دې.په كوم باندې چه امام نووى رحمه الله جزم كړې دې.يعنى د ما قبل البعثت
زمانې ته جاهليت وائى.

③ كله ددې اطلاق په ماقبل فتح مكة باندې هم كيږى.

④ كله دجاهليت نه مراد پخپله د مبتلى به د اسلام نه وړاندې زمانه مراد وى. او كله چه
هغه مسلمان شى.نودهغې نه لرې شى.[5] والله أعلم

اوس ددې نه پس په دې باندې پوهه شئ.چه دلته د امر نه مراد جاهليت يعنى دكفر د زمانې
څيزونه دى.دې ته جاهليت ځكه وائى.چه هغه خلق د جهالت په تيرو كښې وو.هغوى سره د
علوم نبوت رڼړا نه وه.اصل علم خوهغه دې.كوم چه دالله تعالى اودهغه د رسولانو نه حاصل
شى.اوكوم چه ددې خلاف وى هغه سراسر جهل دې.
دترجمة الباب مقصود په دې باب كښې امام بخارى رحمه الله دا ښائى.چه دكوم څيزنه چه مونږ په

---

[1]) صحيح بخارى(١\٥٤١) كتاب بنيان الكعبة باب أيام الجاهلية)_
[2]) صحيح بخارى(١\٥٤٣) بنيان الكعبة باب القسامة فى الجاهلية)_
[3]) تهذيب الكمال(٢٢\ ٢٦١و ٢٦٧) _
[4]) مقدمة صحيح مسلم(١\٢٣)_
[5]) فتح البارى(٧\١٤٩) كتاب مناقب الأنصار باب أيام الجاهلية)_

سابقه ترجمه كښې په «كفر دون كفر» سره تعبير كړې وو كومه چه د كفرحقيقي نه ښكته درجه ده دا ټول معاصي دي اودجاهليت داموروخني دي خو «لايكفر صاحبها بارتكابها إلا بالشرك» يوسړې ددې په ارتكاب سره نه كافر كيږي خكه چه معاصي په ارتكاب سره دكفرسوال نه پيدا كيږي الله تعالى فرمائي. ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ (١) مادون الشرك الله تعالى د مشيت لاندې ګرځولې دې كه الله تعالى اوغواړي نوهغه به معاف كړي معاصي ټول په مادون الشرك كښې داخل دي اودكفراوشرك دپاره د معاف كيدو ګنجائش نشته والله تعالى أعلم

دحضرت شيخ الهند رحمه الله رائې حضرت شيخ الهندفرمائي چه په دې باب كښې دوه ترجمې دي «المعاصي من أمرالجاهلية» اوبله ترجمه «ولايكفر صاحبها بارتكابها إلا بالشرك» په دې مقام كښې مقصود اوله دې دويمه ترجمه ئې د تقديري دخل د دفع كولو دپاره راوړې ده. مطلب دا دې چه لكه څنګه د ابواب سابقه نه معلومه شوه چه اعمال خيرد امور ايمانيه څنې دې اوپه ايمان كښې داخل دي نودغه شان معاصي دجاهليت امر دې يعني په امور شركيه كښې شمارلى شي دابواب سابقه نه د نيكئ داعمالو حاجت او ضرورت ثابتيدلو اوس د دې باب نه د معاصي قباحت اومضرت ثابت شو اوپه دې سره په مرجئو باندې رد اوشو خودا ويره وه چه كيدې شي ددې ترجمې نه معتزله او خوارج فائده واخلي نوځكه مؤلف روسته «ولايكفر صاحبها بارتكابها» اوفرمائيل. اوبطور دفع ئې د هغوي دروازه بنده كړه. چه دخوارجو پشان به د معصيت په ارتكاب سره دهغه دكفرحكم نشي لګولې يا د معتزلو پشان به دې د ايمان نه خارج نشي ګرځولې

بيا «لِقَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ وَقَوْلِ اللهِ تَعَالَى إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ» د اولنئ ترجمې سره متعلق دې او«قول الله» د دويمې ترجمې دليل دې اوددې نه پس ئې دحضرت ابوذر رضي الله عنه حديث ذكركړې دې كوم چه ښكاره ترجمې سره مطابق اومربوط ښكاري بيا چه كله دا خيال اوكړي چه په دې واقعې سره دحضرت ابوذر رضي الله عنه په كمال ايماني كښې د شك كولو ګنجائش نشته پخپله نبي ﷺ هغه ته دتجديد ايمان حكم نه وو كړې اونه ئې هغه ضعيف الايمان ګرځولې وو حالانكه د معصيت ارتكاب ترې شوې وو نومعلومه شوه چه خوارج او معتزله چه مرتكب د معصيت دايمان نه خارج ګرځوي په هيڅ صورت كښې صحيح نه دي اودغه شان د ابوذر رضي الله عنه د حديث د ترجمې د دويم جزء سره هم مطابقت راځي خكه چه په دې باب سره دمرجئو .خوارجواو معتزلو بطلان ثابت شوې دې

---

(١) النساء: ٤٨، ١١٦.

بيا امام بخاري رحمه الله «بارتكابها» اووئيل اوداعتقاد صورت ئې راوېستلو. خکه که څوك دمعاصي اعتقاد كوي.نوهغه به داعتقاد معصيت يعنى دهغې د صحيح گڼرلو دوجې كافر شي.خودا دهغه معاصي حكم دې دكوم معصيت كيدل چه په نص صريح اوقطعي سره ثابت شوې وي.اودكوم څيزېه معصيت كيدو كښې چه اختلاف وي.هغه په دې كښې داخل نه دې.

يواشكال اودهغې ازاله امام بخاري رحمه الله د «ولايكفرصاحبها بارتكابها إلا بالشرك» باندې د دليل په طور. ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ﴾ (۱) پيش كړې دې.په دې باندې اعتراض كيږي.چه په آيت كښې خودلې شوي دي.چه دشرك بښنه نه كيږي.اوددې نه سوا د نورو گناهونو بښنه كيږي. كوم چه دشرك نه كم وي. سوال دا دې.چه بخښش لكه څنگه چه دمشرك نه كيږي. دغه شان دكافرهم نه كيږي.حالانكه شرك اوكفريو نه دې.داسې كيدې شي.چه كافر دې وي.او مشرك دې نه وي.مثلاً دا چه څوك الله تعالى نه مني.نوهغه به شريك څه اومني. نو ښكاره ده.چه دې كافرخو دې.خومشرك نه دې.حالانكه بخښنه دده هم نه كيږي.نوبيا ئې د «لايغفرأن يشرك به» سره «لايغفرأن يكفربه» ولې اونه وئيل؟

ددې يوجواب دا دې.چه په دې مقام كښې خو دشرك غيرمغفوركيدو ذكر دې.اوترڅوچه دكفر دغيرمغفور كيدو تعلق دې نودهغې دلائل په نورو آياتونو كښې ذكردي.ديوآيت نه دټولومسائل ثابتيدل ضروري نه دي.(۲)

دويم جواب دا دې.چه دلته د مادون الشرك د مغفرت امكان موجود دې.اوچه ما دون الكفرېه معنى د ادنى اوكم باندې واخستې شي.نومعنى به دا شي.چه د شرك نه لاندې چه څومره گناهونه دي.هغه معاف كيدې شي.اودكفر بعضې صورتونه خو شرك دې.لكه عبادت دبتانو،سجده غيرالله ته.هغه خوپه آيت كښې داخل دي.اوكوم صورتونه چه شرك نه دې.نوهغه چونكه د شرك نه لوئې گناهونه دي.نوځكه دهغې غيرمغفوركيدل په دلالة النص سره ثابت شو.چه هركله شرك نه معاف كيږي.نوددې نه لويه گناه به څنگه معاف شي.(۳)

دريم جواب دا دې.چه دشرك دوه معانى دي.يوه خوددې حقيقي معنى ده. او بل مطلق كفر ته وائي.كوم چه شرك اوكفردواړو ته شامل دې.په روح المعاني كښې دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه هم دا دريم احتمال نقل كړې شوې دې.(۴)

څلورم او اصلي جواب دا دې.چه په شرك اوكفركښې اگرچه دعموم خصوص مطلق نسبت دې.خود مصداق په اعتبارسره د نبي ﷺ په زمانه كښې په دې كښې فرق نه وو.څوك چه به

---

(۱) النساء:۴۸، ۱۱۶)_
(۲) بيان القرآن(۱۲۲\۱)_
(۳) بيان القرآن (۱۲۲\۱)_
(۴) المصدرالسابق)_

مشرك وو هغه به كافر وو. اوخوك چه به كافروو. هغه به مشرك وو. په مصداق كښې داتحاد په وجه ئې دلته كفر جدا ذكرنكړو.

ددې تفصيل دا دې چه دنبی ﷺ په زمانه كښې به كافران يا عام مشركان وو. يا به مجوس وو. اويا به يهود او نصارى وو. په دې كښې ديهودواو نصارى په باره كښې اشكال كيدې شي چه دوى ته مشرك څنګه ونيلى شى؟

نوپوهه شئ: چه نصارى اګرچه د دوى دعوى د توحيد وه. خو قرآن كريم ددوى شرك پيش كړې دې. فرمائى. ﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ﴾

(۱)دوى په حقيقت كښې دتثليث منونكى وو. اوپه دروغه او دهوكه باندې د توحيد ثابتولو كوشش كوى.

دغه شان ديهودو په باره كښې قرآن كريم كښې صفا صفا وينا ده. چه ﴿وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ابْنُ اللّٰهِ﴾(۲) يهودهم كافران وو. څكه چه هغوى به د نبى ﷺ د نبوت نه انكار كولو. اود نبى ﷺ د نبوت نه انكار كونكې بداهةً كافر دې. خو ورسره ورسره مشرك هم دې. څكه چه حضرت عزير عليه السلام ئې دالله تعالى څوئې ګڼړلو.

نن صبا يهوديان وائى. چه مونږ خو حضرت عزير عليه السلام دالله تعالى څوئې نه ګڼړو. خو د دوى د انكار نه دا نه لازميږى. چه د قران د نازليدو په وخت كښې چه كوم يهود وو. هغوى هم د حضرت عزير عليه السلام دالله تعالى څوئې نه ګڼړلو. يقيناً هلته داسې يهود موجود وو. چا چه حضرت عزير عليه السلام دالله تعالى څوئې ګڼړلو. ګنى په كومه بې باكئ سره چه يهودواو نصارئ په اسلام باندې اعتراضات كړې وو. چه هغې ته اوكتې شى. نودا خبره په عقل كښې نه راځى. چه قرآن كريم به څه غلطه دعوه كړې وى. اوهغوى به په هغې باندې اعتراض نه وى كړې. (نوهركله چه د هغوى اعتراض نشته. معلومه شوه. چه په هغوى كښې به دا عقيده موجود وه. ازمترجم) (۳)

بهرحال ثابته شوه. چه دهغه زمانې يهود اونصارى چه څنګه كافر وو. دغه شان مشركان هم وو. حاصل دا چه د نبى ﷺ په زمانه كښې چه دمصداق په اعتبارسره په كفراوشرك كښې اتحاد وو. نوقرآن پاك صرف دشرك ذكراوكړو. د كفرد ذكر كولو ئې څه ضرورت نه وو ګڼړلې.

---

(۱) المائدة: ۷۳_

(۲) التوبة: ۷۳_

(۳) د تفصيل دپاره اوګورئ فضل البارى (۱۱/۴۲۴، ۴۲۸)_

۲۱ - باب ﴿وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا﴾ فَسَمَّاهُمُ الْمُؤْمِنِينَ

دا آيت زمونږ په نسخوکښې خو «باب المعاصي من أمرالجاهلية» د لاندې ذکر دې دابوذرپه روايتونو کښې داسې دې اوابومحمداصيلی په خپل روايت کښې دا دمستقلې ترجمې سره ذکرکړې دې اودهغې نه پس ئې دحضرت ابوبکره ﷺ حديث ذکرکړې دې.() که دې ته مستقله ترجمه اوونيلې شي.نودا به د سابقه ترجمې تکمله شي.

بهرحال مصنف رحمه الله اول دا بيان کړې وو.چه دمعاصی په ارتکاب سره څوك نه کافر کيږی.البته دشرك په ارتکاب سره کافر کيږی.اوس هم دا خبره په دليل سره بيانوی چه گوری دالله تعالى ارشاد دې. ﴿وَإِنْ طَآئِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا﴾() که دمسلمانانو په دوو ډلوکښې جنگ اوجدال.قتل اوقتال اوشی.نو د دوی په مينځ کښې روغه راولئ دوه ډلې چه په يوبل باندې تورې چلوی.الله تعالى دوی ته مومنان وئيلی دی.حالانکه د مومن سره قتال کفر دې.په حديث کښې دی.«سباب المسلم فسوق وقتاله کفر»() نومعلومه شوه.چه مومن دمعاصی په وجه نه کافرکيږی.هم دا خبره امام بخاری رحمه الله کوی. اوفرمائی. «فسماهم المؤمنين» الله تعالى دوی ته يعنی طائفتين متاتلتين ته مومنان وئيلی دی.ددې نه معلومه شوه.چه کوم کس د زړه نه تصديق اوپه ژبه اقرار کوی.نوداسې کس ته على الاطلاق مومن وئيلی شي.هم دا داحنافواومتکلمين رحمهم الله رائې ده. ()خوعام طورسلف وائی. چه داسې کس ته مطلقاً مومن خونيلې شي.خومومن مطلق نشی وئيلې.داسې کس مومن خو دې.خوپه ده باندې د قيد نه بغير د مومن اطلاق صحيح نه دې.بلکه په قيد سره به ده ته مومن ناقص الايمان وئيلې شي.()

ترکومې پورې چه دمصنف رحمه الله على الاطلاق د «فسماهم المؤمنين» ونيل دی.کيدې شي.چه دا د فريق اول دپاره موید اوگنړلې شي.ځکه چه مصنف رحمه الله صرف ..المومنين.. ذکرکړی دی.خوسلفو دا وئيلی شي.چه دمصنف رحمه الله ټول ابواب کوم چه دوی په ټول کتاب کښې خواره کړی دی.هغه په دې خبره دلالت کوی.چه د معصيت مرتکب مومن خو دې.خوکامل مومن نه دې بلکه ناقص الايمان دې.ځکه چه په ايمان کښې کمال خود اعمالو په وجه

() فتح الباری (۸۵۱۱)_

() الحجرات:۹)_

() صحيح بخاری کتاب الإيمان باب خوف المؤمن أن يحبط عمله وهو لايشعر رقم ٤٨)_

() شرح الفقه الاکبر(ص.۱۰۲، ۱۰۳) مطبوعه دارالکتب العلمية بيروت ١٤٠٤ هـ ١٩٨٤)_

() مجموع فتاوی شيخ الاسلام أحمد بن تيمية (۱۵۱۱۳)_

راځي نوحقيقي او مطلق مومن خو هغه دي چا سره چه د تصديق اواقرار سره سره اعمال هم وي اوچا سره چه اعمال نه وي نوهغه مطلق مومن نه دې بلکه مومن ناقص الايمان دې والله أعلم بحقيقة الأمر.

[۳۰] حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْمُبَارَكِ حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ حَدَّثَنَا أَيُّوبُ وَيُونُسُ عَنِ الْحَسَنِ عَنِ الْأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ ذَهَبْتُ لِأَنْصُرَ هَذَا الرَّجُلَ فَلَقِيَنِي أَبُو بَكْرَةَ فَقَالَ أَيْنَ تُرِيدُ قُلْتُ أَنْصُرُ هَذَا الرَّجُلَ قَالَ ارْجِعْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ قَالَ إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ [٦٣٨١، ٦٦٧٢]

رجال الحديث

قوله: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْمُبَارَكِ: دوى ابوبكرعبدالرحمن بن المبارك بن عبدالله بن عيشى طفاوى رحمه الله دى. داسماعيل بن عليه، حماد بن زيد او يحيى القطان رحمهم الله وغيره نه دحديث روايت كوى. ددوى نه په روايت كونكو كښې امام بخارى، امام ابوداود او نور لوئې محدثين رحمهم الله دى.

امام ابوحاتم رحمه الله د دوى په باره كښې فرمائى چه دوى ثقه دى.

امام ابن حبان رحمه الله هم دوى په خپل كتاب الثقات كښې ذكركړى دى.

په ۲۲۸ھ يا ۲۲۹ھ كښې وفات شوى وو.() رحمه الله رحمة واسعة.

قوله: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ: دوى حماد بن زيد بن درهم ازدى بصرى دى. ددوى كنيت ابواسماعيل دې. اوددوى نيكه دسجستان نه په قيد كښې راغلې وو.

په ۹۸ھ كښې پيدا شوې وو. دايوب سختيانى، ثابت بنانى، عمروبن دينار، يحيى القطان ،اوابن سيرين رحمهم الله نه علاوه د نورو ډيرو محدثينو رحمهم الله نه ئې علم حديث حاصل كړې دې او ددوى نه په روايت كونكوكښې سفيان ثورى ،سفيان بن عيينه، عبدالله بن المبارك، يحيى القطان، اوامام وكيع رحمهم الله وغيره دى.

امام عبدالرحمن بن مهدى رحمه الله فرمائى: ((الأئمة فى الحديث أربعة، الأوزاعى، ومالك بن أنس وسفيان الثورى وحماد بن زيد))

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى: ((حماد بن زيد أحب إلينا من عبدالوارث، حماد بن زيد من أئمة المسلمين من أهل الدين والإسلام وهو أحب إلى من حماد بن سلمة))

) تهذيب الكمال(۱۷\۳۸۲. ۳۸٤) وخلاصة تذهيب تهذيب الكمال للخزرجى (ص. ۲۳٤) وتقريب التهذيب (ص. ۲٤۹) رقم الترجمة (۳۹۹٦) وعمدة القارى(۱۱ \ ۲۱۰)۔

امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى. «حماد بن زيد فى أيوب أكبر من كل من روى عن أيوب»
امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائى. «حماد بن زيد بن درهم ويكنى أبا إسماعيل وكان عثمانيا وكان ثقة ثبتا حجة كثير الحديث»
امام حماد بن زيدته بعضې كسانو ضرير ليكلى دى.چه داول نه دوى نابينا وو.نودوى به تول احاديث په يادو باندې اوږول.البته بعضې حضراتودا ليكلى دى.چه په آخرى عمر كښې نابينا شوې وو.
حماد بن زيد رحمه الله ترشلوكالو پورې دايوب سختيانى رحمه الله سره وو. او د هغوى نه به ئې فيض حاصلول. خالد بن خداش رحمه الله فرمائى. «كان حماد بن زيد من عقلاء الناس وذوى الألباب»
حضرت حماد بن زيد فرمائى. «لئن قلت، إن عليا أفضل من عثمان لقد قلت إن أصحاب رسول الله ﷺ قد خانوا»
دجمعې په ورځ به لسم رمضان ۱۷۹ه كښې وفات شوى وو.(۱)
قوله: حَدَّثَنَا أَيُّوبُ: دوى ايوب بن ابى تميمه كيسان سختيانى بصرى دى.دوى حالات وړاندې په كتاب الايمان كښې د «باب حلاوة الإيمان» لاندې تير شوى وو.
قوله: وَيُونُسُ: دوى ابوعبيد يونس بن عبيدالله بن دينار عبدى بصرى دى.دحضرت حسن بصرى، محمد بن سيرين،اوعطاء رحمهم الله وغيره به ئې دحديث روايت كولو..اود دوى نه هشيم. شعبه. يزيد بن زريع وغيره محدثينو رحمهم الله دحديث روايت كړې دې.
هشام بن حسان رحمه الله فرمائى. «ما رأيت أحدا يطلب العلم يريد به وجه الله تعالى إلا يونس بن عبيد»
امام احمد .ابوحاتم.اونورو عالمانو رحمهم الله ددوى توثيق كړې دې.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى. «ثقة ثبت فاضل ورع» په ۱۳۹ه يا ۱۴۰ه كښې وفات شوى وو.(۲) رحمه الله رحمة واسعة.
قوله: عَنْ الْحَسَنِ: دوى مشهورتابعى حسن بصرى رحمه الله دى.ددوى شجره نسب دا ده. ابوسعيد الحسن بن ابى الحسن يساربصرى رحمه الله.
ددوى پلار يسار دحضرت زيدبن ثابت.يا دجابربن عبدالله ياد جميل بن قطبه يا دابواليسر مولى وو.ددوى د مور نوم خيره وو.هغه د ام المومنين حضرت ام سلمه رضي الله عنها ازاده كړې وينځه

---

(۱) تهذيب الكمال (۷\۲۳۹) وعمدة القارى (۱۱\۲۱۰) وتقريب التهذيب (ص.۱۷۸) رقم ۱۴۹۸) وخلاصة التهذيب للخزرجى(ص.۹۲)_
(۲) ددوى د تفصيلى واقعاتو اوحالاتو دپاره اوګورئ تهذيب الكمال(۳۲\۵۱۷ ۵۳۴) وعمدة القارى(۱۱\۲۱۰) وخلاصة الخزرجى (ص.۴۴۱) وتقريب التهذيب (ص.۶۱۳) رقم ۷۹۰۹)_

وه.(١) حضرت حسن بصرى رحمه الله چه كله پيدا شو نو دحضرت عمر رضي الله عنه په خلافت كښې دوه كاله باقي وو .د پې رودولو په زمانه كښې به اكثرداسې كيدل.چه ددوى مور به دځه كار دپاره بهرته تلې وه.اودوى به ژړل.نوحضرت ام سلمه رضي الله عنها به د لوبولو دپاره ددوى په خوله كښې خپل تې وركړلو.نوونيلى شي.چه په هغې كښې به پې راوتل.اودوى به څكل.دحضرت حسن بصرى رحمه الله د حكمت او فصاحت هم دا وجه خودلې شي.(٢)

حضرت حسن بصرى رحمه الله فرمائى.چه مونږ په خراسان كښې جهاد كړې وو. په دې موقع مونږ سره درې سوه صحابه كرام رضي الله عنهم وو.دوى دحضرت عبدالله بن عمر ،حضرت انس،حضرت قيس بن عاصم رضي الله عنهم وغيره صحابه كرامو نه احاديث اوريدلى دى.(٣)

هشام بن حسان رحمه الله فرمائى.چه حضرت حسن بصرى رحمه الله يوسل ديرش صحابه كرام ليدلى وو.( )

دحضرت انس رضي الله عنه نه ديوې مسئلې په باره كښې تپوس اوشو.نوهغوى ورته اوفرمائيل.«سلوا مولانا الحسن» خلقو ورته اووئيل.«يا أبا حمزة نسألك تقول: سلوا الحسن مولانا؟» مونږ ستاسو نه تپوس كوو.اوتاسو راته دحسن بصرى رحمه الله نه دتپوس كولو وائې.نوحضرت انس رضي الله عنه اوفرمائيل.«سلوا مولانا الحسن فإنه سمع وسمعنا فحفظ ونسينا»(٥)

امام محمدبن سعد رحمه الله فرمائى.«كان الحسن رحمه الله جامعاً عالماً رفيعاً فقيهاً ثقة حجة مأموناً ناسكاً كثير العلم فصيحاً جميلاً وسيماً»(٦)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.«ثقة فقيه فاضل مشهور»(٧)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.«سيد التابعين في زمانه بالبصرة كان ثقة في نفسه حجة رأساً في العلم والعمل عظيم القدر وقد بدت منه هفوة في القدر لم يقصدها لذاتها فتكلموا فيه فما إلتفت إلى كلامهم لأنه لما حوقق عليه تبرأ منها... نعم كان الحسن كثير التدليس فإذا قال في حديث عن فلان ضعف لحاجة(٨) ولا سيما عمن قيل

---

(١) تهذيب الكمال (٦\٩٥-٩٧)_

(٢) المصدر السابق)_

(٣) تهذيب الكمال(٦\١٢٤)_

(٤) عمدة القارى (١١\٢١٠)_

(٥) تهذيب الكمال(٦\١٠٤)_

(٦) طبقات ابن سعد(٧\١٥٧)_

(٧) تقريب التهذيب(١٦٠) رقم ١٢٢٧)_

(٨)كذا فى ميزان الإعتدال(١\٥٢٧) قال محققه هذا فى هه وفي س وخ. غير مقروءة ..قلت ولعل الكلمة ضعف أحتجاجه ..كذا فى هامش خلاصة الخزرجى (ص.٧٧) نقلاً عن الميزان)_

إنه لم يسمع منهم كأبي هريرة رضي الله عنه ونحوه، فعدوا ما كان له عن أبي هريرة رضي الله عنه جملة المنقطع» والله أعلم، [1] يعني حضرت حسن بصري رحمه الله په بصره كښې دخپلې زمانې سيدالتابعين وو. في نفسه ثقه .اودعلم اوعمل په اعتبارسره ډير داوچتې اولونې درجې خاوند وو. دتقديرپه باره كښې ددوی نه بغيرد قصد نه يوه غلطی شوې و.خكه څه حضراتو ددوی په باره كښې كلام كړې دې دكوم چه څه اعتبارنشته.خكه چه دوی ت د دې خبرې تحقيق شوې وو نوهغوی ښكاره د براءت اظهاركړې وو.البته دا خبره ده.چه حضرت حسن رحمه الله به ډيرزيات تدليس كولو.نوچه په كوم حديث كښې دوی داسې اووائی.«عن فلان» نوپه هغې باندې استدلال كمزورې كيږی. بيا خاص كرچه كله عنعنه د داسې كس نه وی.دچا په باره كښې چه دحديث امامانو تصريح وی چه د دوی دهغه سره ملاقات نه دې شوې.لكه حضرت ابوهريره رضي الله عنه وغيره.نوددوی هغه روايات كوم چه «عن أبي هريرة رضي الله عنه» په عنوان سره مروی دی.هغه په منقطعاتوكښې شماردی.

محمدبن سعد رحمه الله فرمائی.«وكان ما أسند من حديثه و روى عمن سمع منه فحسن حجة وما أرسل من الحديث فليس بحجة» [2]

امام علي بن المدينی رحمه الله فرمائی.«ومرسلات الحسن البصري التي رواها عنه الثقات صحاح ما أقل ما يسقط منها» [3] يعنی دحضرت حسن رحمه الله مرسلات كوم چه د ثقاتو نه مروی دی.هغه ټول صحيح دی.ډيركم په هغې كښې داسې دی.چه هغه ساقط اوناقابل احتجاج دی.

امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی.«كل شيء قال الحسن: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم وجدت له أصلاً ثابتاً ما خلا أربعة أحاديث» [4]

يوخل دوی حديث اورول.اووې فرمائيل.«قال رسول الله صلى الله عليه وسلم» نوهيثم بن عبيد عرض اوكړو. «فلوكنت تسنده إلى من حدثك» كه تاسو دهغه كس ذكر هم كولو.چا چه تا ته حديث اورولی وی. نو خومره به ښه وه.نوحضرت حسن بصری رحمه الله ورته اوفرمائيل.«أيها الرجل ما كذبنا ولا كُذبنا ولقد غزونا غزوة إلى خراسان ومعنا فيها ثلاث مائة من أصحاب محمد صلى الله عليه وسلم» [5]

يونس بن عبيد رحمه الله فرمائی.چه ما دحضرت حسن بصری رحمه الله نه تپوس اوكړو.«يا أبا سعيد، إنك تقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم وإنك لم تدركه؟» نوحضرت حسن رحمه الله اوفرمائيل «يا ابن أخي، سألتني عن

---

[1]) ميزان الإعتدال (١\٥٢٧)_
[2]) طبقات ابن سعد(٧\١٥٧، ١٥٨)_
[3]) تهذيب الكمال(٦\١٢٤) وتهذيب التهذيب(٢\٢٦٦)_
[4]) تهذيب الكمال(٦\١٢٤)_
[5]) تهذيب الكمال(٦\١٢٤)_

شئ ما سألنى أحد قبلك ولولا منزلتك منى ما أخبرتك إنى لى زمان كما ترى ، وكان لى حمل الحمامم – كل شئ سمعتنى أقول قال رسول الله ﷺ فهو عن على بن أبى طالب رضي الله عنه غير أنى فى زمان لا أستطيع أن أذكر علياً»[1]

حافظ ابن حجر رحمه الله نقل کوی «قال البزار كان يروى عن جماعة لم يسمع منهم فيتجوز ويقول حدثنا وخطبنا يعنى قومه الذين حدثوا وخطبوا بالبصرة»[2]

په ۱۱۰ھ کښې وفات شوې وو.لس کم سلو کالوته نزدې عمر ئې وو.په صحاح سته کښې ددوی روايات مروی دی.[3] رحمه الله رحمة واسعة[4]

قوله عَنْ الْأَحْنَفِ بْنِ قَيْسٍ: دوی ابوبحرد احنف بن قیس بن معاويه بن حصين تميمى سعدی دی.احنف د دوی لقب دې.اصلی نوم ئې ضحاك يا صخردې.

دنبی ﷺ زمانه ئې رالاندې کړې وه.خونبی ﷺ سره ئې صحبت نه دې شوې.البته د نبی ﷺ نه ددوی دپاره غائبانه دعا منقول ده.

ددې تفصيل دا دې.چه حضرت احنف بن قيس رحمه الله د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کښې طواف کولو،چه د بنوليث يوسړی ددوی لاس اونيولو.او ورته ئې اووئيل.«ألا أبشرك؟» آيا تاته زيرې نه درکوم.په دې باندې دوی اوفرمائيل. «بلى» نوهغه ورته اووئيل.تاته به ياد وی.کله چه نبی ﷺ زه ستاسو قوم بنو سعد ته د دعوت دپاره اوليږم.اوزه لاړم ستاسو قبيلې ته مې دعوت ورکړو.نوتا اووئيل. «إنه ليدعو إلى خير وما أسمع إلا حسناً» زه چه نبی ﷺ ته راغلم.نو توله قصه مې ورته بيان کړه.نو نبی ﷺ اوفرمائيل.«اللهم اغفر للأحنف» احنف بن قيس رحمه الله فرمائی.«فما شئ عندى أرجى من ذلك»

حضرت احنف بن قيس رحمه الله په حلم کښې ډيرمشهور وو.کله چه دوی حضرت عمر رضي الله عنه ته راغلو.نوتريوکال پورې هغوی په ده باندې بنه ازمينښتونه اوکړل .اوپه آخرکښې ئې ورته اووئيل.ما په تاباندې يوکال ازمينښتونه اوکړل. ستاسو ظاهرمې اوتلل.ماته په تاسوکښې صرف خيرپه نظرراغلو.اميددې چه ستاسوباطن به هم د ظاهرشان وی.

حاکم رحمه الله فرمائی.چه دوی «مَروالروذ» فتح کړې وو.ددوی په لښکر کښې حضرت حسن بصری اومحمد بن سيرين رحمهما الله هم وو.

ددوی دوفات په موقعه حضرت مصعب بن زبير رحمه الله رامنډې وهلې.اوتوره دهغوی په بدن

---

[1] المصدر السابق)_
[2] تقريب التهذيب(ص.١٦٠) رقم ١٢٢٧)_
[3] المصدر السابق)_
[4] دحضرت حسن بصری رحمه الله د تفصيلی حالاتو دپاره اوګورئ طبقات ابن سعد(١٥٦\٧. ١٧٨) وتهذيب الاسماء واللغات (١٦١\١١. ١٦٢) وسير أعلام النبلاء (٥٦٣\٤. ٥٨٨) وتهذيب الكمال(٩٥\٦. ١٢٦)_

پوزې لګيدله.د هغوی په بدن باندې څه ځادرهم نه وو اوبې اختياره به ئې ونيل.((ذهب الحزم والرأى))چه نن د احتياط او رائې خاتمه اوشوه

امام محمدبن سعد رحمه الله دوی د بصرې په طبقه اولی کښې شمار کړی دی. اوفرمائيلی ئې دی.((وکان ثقة مأمونا فى الحديث))دغه شان عجلى رحمه الله فرمائى. ((بصرى تابعى، ثقة))

په کال ٦٧هـ کښې وفات شوې وو.(١) رحمه الله رحمة واسعة.

قوله: قَالَ ذَهَبْتُ لِأَنْصُرَ هَذَا الرَّجُلَ: احنف بن قيس رحمه الله فرمائى.زه ددې سړی د مدد دپاره لاړم.

ددې کس نه مراد حضرت على رضى الله عنه دې.څکه هم په صحيح بخارى کښې په کتاب الفتن کښې روايت دې.((أريد نصر ابن عم رسول الله))(٢) اودمسلم په روايت کښې دی.((أريد نصر ابن عم رسول الله صلى الله عليه وسلم يعنى عليا))(٣)

دا د جنګ جمل واقعه ده.کومه چه په ٣٦هـ کښې شوې وه.(٤)

قوله: فَلَقِيَنِي أَبُوبَكْرَةَ: ماته ابوبکره رضى الله عنه ملاؤ شو.

قوله: حضرت ابوبکره رضى الله عنه: دوی مشهور صحابی حضرت نفيع بن الحارث بن کلده رضى الله عنه دی.بعضې حضراتو نفيع بن مسروح رضى الله عنه خودلې دې.(٥)

دطائف دغزوې په موقعه باندې کله چه نبی اکرم صلى الله عليه وسلم اعلان اوکړو.چه دطائف کوم غلام چه مونږ ته راغلو.هغه به آزاد وی.نودوی د يوې چرخې (هغه څيزچه د کوهی نه پرې اوبه راويستې شی) په ذريعه د طائف د قلعې نه راکوزشو.چرخې ته په عربۍ کښې ((بکرة)) وائی.ددې وجې د ابوبکره په کنيت سره مشهور شو.(٦)

امام احمد بن عبدالله عجلى رحمه الله فرمائى.((کان من خيار أصحاب النبى صلى الله عليه وسلم))(٧)

حافظ ابونعيم فرمائى.((کان رجلا صالحا ورعا))(٨)

---

(١) تهذيب الکمال(٢\٢٨٢. ٢٧٨) وخلاصة الخزرجى (ص.٤٤) وعمدة القارى(١\٢١١) وتقريب (ص.٩٦) رقم ٢٨٨)_

(٢) صحيح بخارى کتاب الفتن باب إذا إلتقى المسلمان بسيفيهما رقم ٧٠٨٣)_

(٣) صحيح مسلم کتاب الفتن وأشراط الساعة باب إذا توجه المسلمان بسيفهما رقم ٢٨٨٨)_

(٤) دتفصيل دپاره اوګورئ البداية والنهاية (٧\٢٣٠. ٢٤٥) إبتداء واقعة جمل)_

(٥) تهذيب الکمال(٣٠\٥) وسير أعلام النبلاء (٣\٥)_

(٦) المصدر السابق)_

(٧) تهذيب الکمال(٣٠\٦)_

(٨) المصدار السابق)_

حافظ ابن حجر رحمه الله ليکي. ((وكان من فضلاء الصحابة رضي الله عنهم))(۱)

حضرت حسن بصري رحمه الله فرمائي. ((لم ينزل البصرة أفضل من أبي بكرة وعمران بن حصين رضي الله عنهما))(۲)

حافظ ذهبي رحمه الله ليکي. ((سكن البصرة وكان من فقهاء الصحابة رضي الله عنهم))(۳)

حضرت ابوبكره رضي الله عنه به هم د نورو صحابه كرامو رضي الله عنهم پشان هر وخت د دين دپاره فكر مند وو.

ددوی قول دې. ((إني أخشى أن أدرك زماناً لا أستطيع أن آمر بمعروف ولا أنهى عن منكر وما خير يومئذ))(۴)

د ورع او احتياط نې دا كيفيت وو.چه زياد يوځل ديوكس نه دهغه لرګى اوغوستل .هغه كس دځرخولو نه انكار اوكړو.زياد په زور باندې واخستل.اود بصرې دجمات په چبوتره كښې نې اولګول.حضرت ابوبكره رضي الله عنه په هغې كښې ترهغه وخته پورې مونځ اونكړو. ترڅو پورې چه نې هغه لرګى لرې كړى نه وو.(۵)

دوفات په وخت كښې نې وصيت ليكلې وو((هذا ما أوصى به نفيع الحبشي مولى رسول الله ﷺ وهويشهد أن الله ربه،وأن محمداً نبيه، وأن الإسلام دينه، وأن الكعبة قبلته،وأنه يرجو من الله ما يرجوه المعترفون بتوحيده، المقرون بربوبيته الموقنون بوعده ووعيده،الخائفون لعذابه ،المشفقون من عقابه،المؤملون لرحمته إنه أرحم الراحمين))(۶)

په ۵۱ھ يا ۵۲ھ كښې وفات شوى وو.او ددوى د وصيت مطابق حضرت ابوبرزه اسلمى رضي الله عنه ددوى جنازه اوكړه.(۷)(۸)

---

(۱) الإصابة (۵۷۲\۳)_

(۲) سير أعلام النبلاء(۱۰\۳)_

(۳) سير أعلام النبلاء (۶\۳)_

(۴) سير أعلام النبلاء (۷\۳)_

(۵) سير أعلام النبلاء (۷\۳)_

(۶) تهذيب الكمال(۸\۳۰)_

(۷) تهذيب الكمال(۹\۳۰) وتقريب التهذيب(ص.۵۶۵) رقم ۷۱۸۰)_

(۸) يوخبرداري: بعضي دنتيجي نه ناخبره خلقو دحضرت ابوبكره رضي الله عنه په يوحديث كوم چه په صحيح بخارى وغيره كښې مروى دې. باندې تحقيق كړې دې.((لن يفلح قوم ولو أمرهم إمرأة)) اودحضرت ابوبكره رضي الله عنه په حق كښې نې د ډيرې زرورتيا نه كاراخستې دې.دوى ته نې غيرعادل او فاسق ونيلى دى

په اصل كښې ددې بنياد يوه واقعه ده.چه خلاصه نې دا ده.چه حضرت ابوبكره رضي الله عنه شبل بن معبد.اونافع بن الحارث د حضرت عمر رضي الله عنه مخامخ د مغيره بن شعبه رضي الله عنه خلاف ګواهي وركړه.چه دوى د يوې ښځې سره زنا كړى ده.درې كسانوصحيح ګواهي وركړه.البته چه زيادت ګواهي وركونه نودځه شكونو اظهارنې اوكړو.په دې باندې حضرت عمر رضي الله عنه دحضرت زياد نه سوا په باقي

دي كسانو باندي حد قذف جاري كړو بيا حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمايل که تاسو توبه اوباسئ نوآئنده دپاره به زه ستاسو گواهي قبلوم كښي نه.نونافع او شبل بن معبد د توبې اظهاراوكړو او حضرت ابوبكره په خپل موقف باندي قائم وو اوهلته هغوی د توبې اظهار اونكړو

ددې واقعه په بنياد باندې ((عورت كى حكمرانى اوابوبرده كى روايت)) د ښځې حكمرانى او حضرت ابوبكره رضي الله عنه مصنف ليكى

قذف په شريعت كښې په يقين سره حرام دې په دې وجه دا گناه كبيره ده دقاذف سزا اتيا كوړې دى.ده گواهي همېشه دپاره مردود شى.اودې فاسق گرځولې شى دې به دنيا اوآخرت كښي د دردناكې سزا مستحق وى البته دا چه توبه اوباسى نودده گواهى قبلولې شى اودې فاسق نشى گنړلې.خوامام ابوحنيفه رحمه الله مسلك دا دې چه دتوبې ويستلو نه پس هم دې مردود الشهادت دې.البته دې به فاسق نشى گنړلې

بيا دڅوآياتونوذكر كولو نه پس ليكى حضرت عمر رضي الله عنه دشريعت اسلامى عين مطابق د ټولوخلقو په وړاندې چه په هغوى كښې دحضرت على رضي الله عنه غوندې دفقه ادراك كونكې صحابه هم موجود وو دمقدمې سماعت كړې وو.كله چه گواهي پوره نشوه نود قرآن پاك د نص قطعى مطابق ئې په دروغه تهمت لگونكوته سزا وركړه.اوپه هغوى ئې توبه اوويستله.چاچه توبه اوويسته دهغوى گواهي آئنده دپاره مقبوله شوه.اوچاچه د توبې ويستلو نه انكار اوكړو نودهغوى گواهي مردوده شوه دقران احكام ښكاره دى.په كوموكښې چه د تاويل څه گنجائش نشته

وړاندې ليكى.دحضرت ابوبكره رضي الله عنه واقعه په تاريخ اسلام كښې منفرد حيثيت لرى چونكه هغه د توبې ويستلو نه انكاراوكړو.نوپه هغه باندې دقرآن حكيم بيان كړې دړې واړه سزاگانې نافذ كيږى.يعنى اتيا كوړې.دشهادت مردود كيدل.اوفاسق گرځول.دحديث د راوى دپاره عدالت شرط دې اودمحدثينو رحمهم الله په نيز ټول صحابه كرام رضي الله عنهم عدول دى.خوفسوق د عدل ضد دې.دحضرت عمر رضي الله عنه د فيصلې په موجودگئ كښې.اود قرآن حكيم د نص قطعى مطابق حضرت ابوبكره عدول نه پاتې كيږى

بيا ..دبحث خلاصه.. په عنوان سره ليكى.

ددې حديث اولنې راوى حضرت ابوبكره رضي الله عنه د قرآنى هداياتو عين مطابق حضرت عمر رضي الله عنه مردودالشهادة گرځولې وو يعنى ددوى گواهي ئې همېشه دپاره رد كړه اود قرآنى تعليمات مطابق هغه عادل هم پاتې نشو

دلته دغورقابله خبره دا ده چه مصنف مذكور د ذكرشوې واقعه په بنياد د نبى صلى الله عليه وسلم صحابى فاسق گرځولې دې اوبيا دهغوى دعدالت باقى نه پاتې كيدو چه كومه نظريه ئې پيش كړې ده هغه تركوم حده پورې صحيح ده؟

حقيقت دا دې چه عصمت خود حضرات انبياء عليهم السلام سره خاص دې.حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم دپاره عصمت نشته ددوى نه گناه صادريدې شى اويقينى ده چه د بعضې صحابو رضي الله عنهم نه لوئې گناهونه صادر شوى دى خو تر ننه ورځې پورې دهغه گناهونو د صادريدو په وجه نه خو چا نبى صلى الله عليه وسلم په صحابى باندې د فاسق حكم لگولې دې.اونه دعلوم حديث په امامانو كښې د كليه نه دچا صحابى استثناء كړې ده

دحضرات صحابه كرامو رضي الله عنهم عدالت اجماعى دې په دوى كښې دچا استثناء نشته.په دې ټكو نفسونو باندې يا په دوى كښې په يوصحابى رضي الله عنه باندې د فاسق حكم لگول يا دفسق تهمت

لګول خپل آخرت بربادول دی
ددې وجه دا ده چه دحضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم تعدیل خودالله تعالی د طرفه دې حافظ سیوطی رحمه الله فرمائی ((الصحابة كلهم عدول من لابس الفتن وغيرهم باجماع من يعتدبه قال تعالى ﴿ وكذلك جعلناكم أمة وسطة ﴾ أي عدولاً وقال تعالى ﴿ كنتم خير أمة أخرجت للناس ..﴾ والخطاب فيها للموجودين حينئذ .. (تدريب الراوى (۲\۲۱٤)..
علامه ابن اثیرجزری رحمه الله فرمائی دغه شان په قرآن کریم کښې ارشاد دې ((الصحابة رضی الله عنهم أجمعين جميعهم عدول بتعديل الله تعالى ورسوله ﷺ لا يحتاجون إلى بحث عن عدالتهم وعلى هذا القول معظم المسلمين من الأئمة والعلماء من السلف والخلف (جامع الأصول (۱\۱۳۳)
امام نووی فرمائی ((ولهذا إتفق أهل الحق ومن يعتد به في الإجماع على قبول شهاداتهم و رواياتهم وكمال عدالتهم رضى الله عنهم أجمعين (شرح نووى على صحيح مسلم (۲\۲۷۲)..
دغه شان په قرآن کریم کښې ارشاد دې ﴿ محمد رسول الله والذين معه أشداء على الكفار رحماء بينهم.. وعدالله الذين آمنو وعملوا الصالحات منهم مغفرة وأجراً عظيما ﴾ (الفتح :۲۹)..
دغه شان ارشاد دې ﴿ والسابقون الأولون من المهاجرين والأنصار والذين اتبعوهم بإحسان رضى الله عنهم ورضوا عنه وأعد لهم جنات تجرى تحتها الأنهار خالدين فيها أبداً ذلك الفوز العظيم ﴾ التوبة:۱۰۰)..
دغه شان ارشاد دې ﴿ لا يستوى منكم من أنفق قبل الفتح وقاتل أولئک أعظم درجة من الذين أنفقوا من بعد وقاتلوا. وكلاً وعدالله الحسنى ﴾ (الحديد:۱۰)..
په دې آیتونو کښې ټول صحابه کرام رضی الله عنهم جنتیان ګرځولی شوی دی خکه چه په یویل آیت مبارکه کښې دی.
﴿ إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُم مِّنَّا الْحُسْنَى أُولَئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ۝ لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنفُسُهُمْ خَالِدُونَ ۝ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ هَذَا يَوْمُكُمُ الَّذِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴾ (الأنبياء:۱۰۱و ۱۰۳).
نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی. ((لاتسبوا أصحابى فوالذى نفسى بيده لو أن أحدكم أنفق مثل أحد ذهباً ما أدرک مد أحدهم ولا نصيفه صحيح بخارى (۱۱\۵۱۸) كتاب فضائل أصحاب النبى ﷺ.. باب قول النبى ﷺ لوكنت متخذاً خليلاً رقم ۳۶۷۳)..
دنبی ﷺ ارشاد دې ((إذا رأيتم الرجل ينتقص أحدا من أصحابى فقولوا لعنة الله على شركم)) (جامع ترمذى كتاب المناقب باب بلا ترجمة قبل باب فضل فاطمة بنت محمد ﷺ (رقم ۳۸۶۶)..
بیا دامت په دې باندې هم اجماع ده چه چا ته د دې خبرې اجازت نشته چه دصحابه کرامو تنقیص یا په هغوی کښې نقص اولټوی بلکه دهغوی دمحاسنو ذکرکولو اوهغوی په خپل مینځ کښې د جنګونونه نظراړول ضروری دی
امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی ((إذا رأيت الرجل ينتقص أحداً من أصحاب النبى ﷺ فاعلم أنه زنديق وذلک أن الرسول ﷺ حق والقرآن الكريم حق وما جاء به حق وإنما أدى إلينا ذلک كله :الصحابة وهولاء الزنادقة يريدون أن يجرحهم ليبطلوا الكتاب والسنة فالجرح بهم أولى)..

دغه شان امام احمد رحمه الله فرمائي ((ثم أصحاب رسول الله ﷺ بعد هولاء الأربعة خيرالناس لا يجوز لأحد أن يذكر شيأ من مساويهم ولا يطعن على أحد منهم بعيب ولا نقص فمن فعل ذلک قد وجب تاديبه وعقوبته ليس له أن يعفو عنه بل يعاقبه ويستتبه فمن تاب قبل منه وإن ثبت أعاد عليه العقوبة وخلده في الحبس حتى يموت أو يراجع))

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله ليکلي دي. ((وهذا مما لا نعلم فيه خلافاً بين أهل الفقه والعلم من أصحاب رسول الله ﷺ والتابعين لهم بإحسان وسائرأهل السنة والجماعة فإنهم مجمعون على أن الواجب الثناء عليهم والإستغفار لهم والترحم عليهم والترضي عنهم وإعتقاد محبتهم وموالاتهم وعقوبة من أساء فهيم القول _ الصارم المسلول على شاتم الرسول (ص.۵۸۰) الأدلة من السنة على عدم جواز سب الصحابة رضي الله عنهم).

امام تيميه رحمه الله دټول اهل سنت والجماعت عقيده بيانوي.اوليکي.

((ويقولون هذه الآثار المروية في مساويهم منها ما هو كذب ومنها ما زيد فيها ونقص وغير وجهه والصحيح منه هم فيه معذورون إما مجتهدون مصيبون .وإما مجتهدون مخطئون وهم مع ذلک لا يعتقدون أن كل واحد من الصحابة معصوم من كبائر الإثم و صغائره بل يجوز عليهم الذنوب في الجملة ولهم من الفضائل والسوابق ما يوجب مغفرة ما يصدر منهم حتى إنهم يغفر لهم من السيئات ما لا يغفر لمن بعدهم))

اوترکومې پورې چه د ګواهئ ورکولو واقعه تعلق دې.نوددې په باره کښې ونيلې شي.چه دحضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه نه دا ګناه نه وه شوې.خوچه چا ليدلې وو.هغه غلط شوی وو.په هغوی کښې نافع اوشبل بن معبد خپله ګواهي دروغ کړه.خوحضرت ابوبکره رضي الله عنه ته په خپل موقف باندې دومره يقين وو.چه هغوی خپل ځان دروغژن نکړلو.هم دا وجه ده.چه حافظ ابن حجر رحمه الله ليکي.((لم يقبل منه أبوبكرة ما أمره به لعلمه بصدقه عند نفسه والله أعلم)) فتح الباري (۲۵۸\۵) كتاب الشهادات باب شهادة القاذف والسارق والزاني)) حدقذف د شهادت د نصاب نه پوره کيدو په وجه باندې جاري شو.هم دا وجه وه.چه حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه دحضرت عمر رضي الله عنه په خدمت کښې عرض اوکړو. ((إشفني من الأعبد)) يعنې ددې غلامانو نه بدله واخله.اوزړه پرې يخ کړه.نوحضرت عمر رضي الله عنه ورته اوفرمائيل ((أسكت أسكت الله فاک. والله لو تمت الشهادة لرجمناک بأحجارک (البداية والنهاية (۸۲\۷)_

دکومې واقعه په بيان چه مصنف مذکور دوی لره مردود الشهادة ګرځولې وو ددې واقعه روايت کونکي روايات څه واني.لږ خودا هم اوګورئ.

دروايت په آخري الفاظو باندې غوراوکړئ.حضرت سعيد بن مسيب رحمه الله چه دا واقعه ذکرکوي.نود حضرت ابوبکره دانکار ذکرکولونه پس په آخر کښې فرمائي. دا په ظاهره هم په دې خبره باندې تنبيه ورکولوډپاره ده.چه څوک ددې واقعه په وجه په هغوی باندې طعن اونکړي

دې طرف ته د اشارې کولوډپاره حافظ ابن کثير رحمه الله ددې واقعه نقل کولونه پس ليکي.

داخبره دې ښکاره وي.چه حضرت ابوبکره رضي الله عنه دلته دحضرت عمر رضي الله عنه په وړاندې دخپل ځان دروغژن کولونه انکارکړې وو.خوددې نه داچرته لازميږي.چه هغوی به توبه نه وی کړې.مهلب واني. بيا دا چه کله مونږ د معزز ترين کس په باره کښې څه الزام واورو. نوبيا خواول دهغې د انکار کوشش کوو اوکه يقيني طور ثابته شي.نوبيا دبهتر نه بهتر تاويل کوو آيا د رسول الله ﷺ د دې

صحابى ﷺ دومره حق هم نشته چه موږ په هغوی باندې حسن ظن اوکړو اودهغوی د څه لغزش څه مناسب تاویل اوکړو حافظ ابن حجرهیثمی مکی ﷫ فرمائی ((والواجب أيضاً على كل من سمع شيأ من ذلك أن يتثبت فيه ولا ينسبه إلى أحد منهم بمجرد رؤيته في كتاب أو سمعه من شخص بل لا بد أن يبحث عنه حتى يصح عنده نسبته إلى أحدهم فحينئذ الواجب أن يلتمس أحسن التاويلات (الصواعق المحرقة ص.١٢٩)).

ددې نه علاوه محقق مذکور دې خبرې ته هم خیال نه دې کړې چه دا واقعه په ۱۷ﻫ کښې واقع شوې وه اودحضرت ابوبکره وفات د صحیح قول مطابق په ۵۲ﻫ کښې شوې وو آیا په دې دومره موده کښې به هغوی ته د توبې توفیق نه وی ملاؤ شوې چا څه بنه وئیلی دی

وعين الرضا عن كل عيب كليلة كما أن عين السخط تبدي المساويا **

افسوس چه محقق مذکور هغه وصیت دنظرونه اندې ساتلې وو کوم چه حضرت ابوبکره ﷺ په آخری وخت کښې لیکلې وو.

((هذا ما أوصى به نفيع الحبشي مولى رسول الله ﷺ وهو يشهد أن الله ربه وأن محمدا نبيه وأن الإسلام دينه وأن الكعبة قبلته وأنه يرجو من الله ما يرجوه المعترفون بتوحيده والمقرون بربوبيته، الموقنون بوعده ووعيده ،الخائفون لعذابه و المشفقون من عقابه والمؤملون لرحمته إنه أرحم الراحمين (تهذيب الكمال (٨\١٣٠)).

په آخرکښې موږ دحضرات صحابه کرامو د عدالت په باره کښې د مفتی اعظم پاکستان مولانامفتی محمد شفیع قدس الله روحه یو جامع او قول فیصل ذکرکوو.دوی په معارف القرآن کښې ذکر کوی. (معارف القرآن (۸\۱۰۶ و ۱۰۷) کښې فرمائی.

علامه آلوسی په روح المعانی کښې فرمائیلی دی.په دې باره کښې حق خبره هغه ده کوم طرف ته چه جمهور عالمان ﷫ تلی دی.چه صحابه کرام ﷺ معصوم نه دی ددوی نه ګناه کبیره هم صادریدې شی.کوم چه فسق دې. اودهغه ګناه په وخت کښې به دهغوی سره هم هغه معامله کولې شی.دکومې چه هغوی مستحق وی یعنی شرعی سزا به پرې جاری کولې شی اوکه کذب وی. نوددوی شهادت به رد کولې شی.خود اهل سنت والجماعت عقیده د قرآن اوسنت د نصوصو په وجه دا ده.چه دصحابی نه ګناه کیږی.لیکن داسې صحابی ﷺ نشته.چه د ګناه نه د توبې ویستو په وجه پاك شوې نه وی قرآن کریم علی الاطلاق د دوی په باره کښې د رضی الله عنهم فیصله اوروَلې ده.فرمائی ((رضى الله عنهم ورضوا عنه))اودالله تعالی رضا د ګناهونودمعافئ نه بغیرنشی راتلې. لکه چه قاضی ابویعلی ﷫ فرمائیلی دی.چه رضا دالله تعالی یو صفت قدیمی دی.هغه ددې اعلان صرف دهغه چا دپاره کوی.دچا په باره کښې چه هغه پیژنی چه د دوی وفات به په موجبات رضا باندې وی (كذا في الصارم المسلول لابن تيمية)

خلاصه دا چه د صحابه کرامو ﷺ په عظیم الشانه ډله کښې د یوځو په شمیرکسانو نه ګناه صادره شوې هم ده خوهغوی ته سمدستی د توبې توفیق هم نصیب شوې دې الله تعالی دنبی ﷺ د صحبت په وجه هغوی داسې ګرځولی وو چه شریعت دهغوی طبیعت جوړ شوې وو.خلاف شرع څه کاریاګناه صدریدل به ډیرشاذ ونادر وو دهغوی نیك اعمال.په نبی کریم ﷺ او دین اسلام باندې ځبل ځانونه قربنول اوپه هرکار کښې دالله تعالی اودهغه د رسول اتباع دهغوی د ژوند وظیفه وه

قوله فَقَالَ أَيْنَ تُرِيدُ: حضرت ابوبكره رضي الله عنه تپوس اوكړو دكوم ځائې اراده دې ده؟

قوله قُلْتُ أَنْصُرُ هَذَا الرَّجُلَ: ما ورته اوونيل دددې كس د مددپه اراده باندې راونې يم

قوله قَالَ ارْجِعْ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا إلخ: هغوى راته اوفرمائيل.واپس شه.ځكه چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه فرمائيلى ئې.چه كله دوه مسلمانان په خپل مينځ كښې تورې راوباسى نوقاتل اومقتول د دواړو ځائې جهنم دې.

دحديث باب نه استدلال په دې طريقه دې چه دوه مسلمانان چه په خپل مينځ كښې انځتې دى.د ګناه كبيرې ارتكاب كوى.خوددې باوجود نبى كريم ﷺ ورته مسلمانان وائى نو: معتزلو خيال هم غلط شو.چه سړې د ګناه كبيرې په ارتكاب سره د ايمان نه خارجيږى او: خوارجو خيال هم غلط ثابت شو.چه سړې كافر كيږى.اودمرجئو ترديدخودې ځكه چه دوى معصيت مضر نه ګنړى.نوپه حديث كښې داور وعيد ذكرشوې دې.

اودهغوى داسې عبادات كول چه دهغې نظيريه پخوانو امتونوكښې نه ملاويږى.ددې بې شميره نيكواعمالواوفضائلو كمالاتو په مقابله كښې كه په ټول عمركښې دهغوى نه يوه نيمه ګناه څرګنده شى.هغه پخپله ختموى.

بله دالله تعالى او د هغه د رسول ﷺ محبت او عظمت لو د معمولى ګناه په وخت كښې د هغوى خوف او خشيت او سمدستى توبه ويستل بلكه خپل ځان سزا ته وړاندې كول كله خپل ځان : مسجد نبوى په ستن پورې تړل.وغيره د حديثو په رواياتو كښې معروف او مشهور دى.اود حديث په حكم د ګناه نه توبه ويستونكې داسې دې.چه ده هډو ګناه كړې نه وى.د قرآن پاك د ارشاد مطابق ((نيك اعمال او حسنات پخپله د ګناهونو دپاره كفاره ګرځى (إن الحسنات يذهبن السيات) بيا خصوصا چه د هغوى نيكئ د عامو خلقو پشان نه وى.بلكه د هغې دا حال وى.كوم چه ابوداود او ترمذى د حضرت سعيد بن زيد نه نقل كړى دى ((والله لمشهد رجل منهم مع النبى ﷺ يغبر فيه وجهه خير من عمل أحدكم ولو عمّر عمر نوح)) په الله قسم په دوى كښې د يو كس د نبى ﷺ سره په جهاد كښې شريكيدل.چه په هغې كښې د هغه په مخ باندې ګرد غوړزيدلې وى.ستاسو د ټول عمر دعبادت او طاعت نه غوره دې اګرچه ده ته دنوح ؑ عمر ملاو شى ځكه چه دهغوى نه د ګناه د صادريدو په وخت كښې هغوى سره هم د هغه سزا معامله كولې شوه كومه چه د دغه جرم دپاره وه خو ددې باوجود روسته چا دپاره دا جائز نه دى چه په هغوى كښې چاته منافق اووائى.ځكه كه د نبى ﷺ په زمانه كښې د يو صحابى نه يوه ګناه موجب فسق هم شوې وى اوپه هغه وخت كښې هغه ته فاسق هم ونيلې شوى وى خو ددې نه دا جواز نه معلوميږى چه هغه فسق دهغه دپاره جارى اوګنړلې شى او معاذ الله فاسق ورته اوونيلې شى (كذا فى الروح)

اللهم إهدنا الصراط المستقيم ,وارزقنا حب رسولك العظيم.عليه أفضل الصلوات والتسليم.وحب أصحابه خيرة الخلق بعد الأنبياء وأحشرنا معهم برحمتك يا أرحم الراحمين أمين.)_

كه په مسلمانانو كښې اختلاف پيدا شي نواعتزال اختيارول پكار دى اوكه يوې اړخ ته ميلان كول؟
ددې حديث نه معلومه شوه چه دحضرت ابوبكره رضي الله عنه رائې دا وه چه كله مسلمانان په خپل مينځ كښې مختلف شي نودټولونه جدا كيدل پكار دى په دې مسئله كښې اختلاف دې.
دصحابه كرامو رضي الله عنهم يوه لويه ډله حضرت سعدبن ابى وقاص، حضرت عبدالله بن عمر، حضرت ابوبكره، حضرت محمد بن مسلمه، حضرت ابوسعيد خدرى، او حضرت عمران بن حصين رضي الله عنهم ددوى رائې دا ده چه مطلقاً خانله اوسيدل پكار دى.
بيا په دې كښې اختلاف دې چه مدافعت دې كولې شي كه نه؟ دحضرت ابوبكره رضي الله عنه دا رائې ده چه مدافعت دې هم نشي كولې. اودحضرت عمران بن حصين. اوحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهم رائې دا ده چه مدافعانه جواب دې وركړې شي
دغه شان په دوى كښې د يوې ډلې رائې دا ده چه په كورونوكښې دې كينى او بعضو رائې دا ده چه په كوم ښاركښې فتنه وى هغه دې پريږدى اوبل ځائې ته دې لاړ شى.(١)
خود جمهورصحابو رضي الله عنهم اوتابعينو رحمهم الله رائې دا ده چه كه محق اومبطل كښې امتياز نه وى نوبيه هغه وخت كښې هم دا طريقه اختيارول پكار دى هيڅ چا سره ډله كيدل نه دى پكار.
اوكه دحق اوباطل امتياز وى نواهل حق سره دې ملګرې شي اواهل باطل سره دې قتال اوكړې شى ځكه چه الله تعالى فرمائيلى دى. ﴿فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ﴾(٢)
اوترڅويورې چه د منعې احاديث دى په كوموكښې چه دقتال نه منع شوې ده. نوهغه خويا دحق اوباطل په عدم امتياز باندې محمول دى اويا په دې خبره محمول دى چه په فريقينو كښې يوفريق هم د دينى مقصد دپاره نه جنګيږى.(٣)
ايا د جمل په واقعه كښې صحابه كرام رضي الله عنهم د دنيوى مقصددپاره جنګيدل دلته اشكال دا دى چه حضرت ابوبكره رضي الله عنه حضرت احنف بن قيس رحمه الله كوم چه دحضرت على رضي الله عنه د مدد دپاره روان وو. حضرت ابوبكره رضي الله عنه ورته دنبى صلى الله عليه وسلم دغه ذكرشوې حديث واورول. اوهغه ئې منع كړلو. حالانكه هلته يوطرف ته حضرت على رضي الله عنه او بل طرف ته حضرت عائشه حضرت طلحه، اوحضرت زبير رضي الله عنهم وو. ښكاره ده چه په حديث باب كښې كوم وعيد بيان شوې دې دهغې نه هغه خلق مراد دى ځوك چه د نفسانى اغراضو دپاره قتال كوى. اودځه دنياوى مقصد د حاصلولودپاره جنګيږى. ذكرشوى صحابه كرام رضي الله عنهم هرګز ددې حديث مصداق نه دى ځكه چه حضرت على رضي الله عنه هم د انفع للاسلام او اصلح للدين دپاره جنګيدلو اوددوى مقابل حضرت عائشه، حضرت طلحه او حضرت زبير رضي الله عنهم هم مقلد د اسلام اصلاح او خير

---

(١) عمدة القارى(١\٢١٢) وفتح البارى(١٣\٣١) كتاب الفتن باب تكون فتنة القاعد فيها خيرمن القائم (١٣\٣٣، ٣٤) كتاب الفتن باب إذا إلتقى المسلمان بسيفهما وشرح نووى على صحيح مسلم (٢\٣٨٩) كتاب الفتن وأشراط الساعة)_
(٢) الحجرات:٩)_
(٣) عمدة القارى(١\٢١٢) وفتح البارى(١٣: ٣١، ٢٣، ٣٤)_

وو څه ذاتي غرض يا دنياوى فائده نه وه.نوسوال دا دې چه بيا حضرت ابوبكره رضي الله عنه دوى ته ولې د واپس كيدو حكم كوى اوپه استدلال كښې حديث مذكور پيش كوى
ددې جواب دا دې چه وړاندې د حضرت ابوبكره رضي الله عنه مسلك خودلې شوې دې چه هغوى د فتنې په موقعه د پوره اعتزال قائل وو حضرت ابوبكره رضي الله عنه احنف بن قيس رحمه الله ته دا حديث ددې دپاره واورولو.چه ددې د ظاهرى الفاظو نه مرعوب شى اوپه دې جنګ كښې د شركت اراده پريږدى
دحضرت ابوبكره رضي الله عنه مقصد هرګز دا نه وو چه دكوموكسانو په مينځ كښې دا جنګ كيږى هغوى ټول ددې حديث مصداق دى.بلكه د هغوى مقصد دا وو چه په دې جنګ كښې څومره كسان شريكيږى نوهومره به ددې جنګ اور خوريږى اوپه نقصانتوكښې به زياتت كيږى نوزيات نه زيات كوشش دې د دې خبرې اوكړى شى چه خلق په دې كښې شريك نشى چونكه احنف بن قيس رحمه الله ني په دې جنګ كښې د شركت نه منع كول غوښتل نوځكه ني ورته د نبى ﷺ داسې الفاظ بيان كړل.چه هغه واورى.اودې سمدستى مرعوب شى اوپه جنګ كښې د شركت كولونه منع شى
اوترڅوپورې چه ددې خبرې تعلق دې چه دجنګ جمل شركاء ددې حديث مصداق وو اوكه نه؟ نودا بيخى بله خبره ده.حضرت ابوبكره رضي الله عنه ښه پيژندل.چه دوى ددې حديث مصداق نه دى.دغه شان هغوى ته ددې خبرې هم پوره علم وو.چه حضرت احنف بن قيس رحمه الله به هم دا غلطى نه كوى.چه دا حضرات به ددې حديث مصداق اوګنړى.اوحقيقت هم دا دې چه هغوى دغه حضرات ددې حديث مصداق نه وو ګنړلى.ځكه چه په جنګ جمل كښې خوهغوى دهيڅ ولې سره شريك نشو.خوچه كله د جنګ صفين واقعه راغله.نوحضرت احنف بن قيس رحمه الله په هغې كښې شريك شو.اودحضرت على رضي الله عنه سره ملګرې شو اودحضرت معاويه رضي الله عنه سره ني قتال اوكړو.نومعلومه شوه چه هغوى هم دا حضرات ددې حديث مصداق نه ګنړل.(١)

دصحابو رضى الله عنهم د مشاجراتو په باره كښې د امت موقف دحضرات صحابه كرام رضي الله عنهم په مينځ كښې چه كوم واقعات پيښ شوى وو د هغې په باره كښې د اهل السنت والجماعت موقف دا دې چه اول خودې دغه واقعات د طعن او تشنيع په حيثيت سره نشى بيانولې اوبيا دې د دغه حضراتو په باره كښې حسن ظن ساتلې شى اودهغوى نه چه كوم جنګ صادرشوې دې دهغې په باره كښې دې تاويل كولې شى چه هغوى دګناه په قصد يا د څه دنياوى مقصد دپاره جنګ نه وو كړې بلكه د ټولو وړاندې د دين ترقى وه.ددې وجې په هغوى باندې قتال لازم شوې وو په هغوى كښې يوفريق مصيب وى اوبل فريق مخطى معذور.ځكه چه د اجتهاد نه پس داداسې خطاء شوه چه په هغې باندې ګناه خو لويه خبره

(١) فتح البارى (١/٨٦) وارشاد السارى (١/١١٧)

ده بلکه اجر ملاویږی.()

ب: دامام طبری رحمه الله رائې خوداده چه په دوی کښې محق څوك وو اومخالف څوك وو، په دې کښې توقف کول پکار دی دیوتعین نه دی کول پکار.

ج: دجمهور رحمهم الله رائې دا ده چه په تعین کښې څه حرج نشته دواړو ډلو اجتهاد کړې وو او حضرت علی رضی الله عنه په خپل اجتهاد کښې په حق وو اود دوی مخالفین په خطاء وو ()والله أعلم.

قوله فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ: قاتل اومقتول دواړه به جهنم ته ځي

قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه داهل السنت والجماعت په نیزددې مطلب دا دې که الله تعالی سزا ورکول غواړی نو سزا ورکولې شی ددې دواړو اصل بدله هم دا ده دا بیله خبره ده که الله تعالی دواړه معاف کوی نومعاف کولې شی ()

یا «فالقاتل والمقتول فی النار» په هغه صورت محمول دې چه دتاویل شائغ نه بغیرقتال وی مثلاد څه ګناه په کار یا په داسې بله معامله باندې قتال وی نودا حکم دې ()

قوله: فَقُلْتُ يَارَسُولَ اللهِ هَذَا الْقَاتِلُ فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ: ماعرض اوکړو اې رسول الله دقاتل جهنم ته تلل خو په ذهن کښې راځي خو مقتول ولې جهنم ته غورځولې شي؟

قوله: قَالَ إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ)):() نبی ﷺ اوفرمائیل هغه دخپل ملګری دقتل کولو کلك قصد کړې وو.

ددې نه معلومه شوه چه لکه څنګه د معصیت ارتکاب د ګناه موجب دې دغه شان کلکه اراده هم موجب د مواخذه ده.او آیت کریمه ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾()نه هم دا معلومیږی.

() په دې کښې هغه حدیث ته اشاره ده چه مجتهد اجتهاد اوکړی اودې حق ته اورسیدلو نوده دپاره دوه اجرونه دی.اوکه په خپل اجتهاد کښې خطاء شو نودده د کوشش اوسعی یو ثواب ورته بیا هم ملاویږی کما فی کتب أصول الفقه فی جوازالإجتهاد.ازمترجم شاه فیصل)_

() عمدة القاری(۱۱\۲۱۲) وشرح نووی علی صحیح مسلم (۲\۲۷۲) کتاب فضائل الصحابة رضی الله عنهم (۲:۳۹۶) کتاب الفتن وأشراط الساعة)_

() عمدة القاری(۱۱\۲۱۲)_

() عمدة القاری(۱۱\۲۱۲) وإرشاد الساری(۱۱\۱۱۷)_

() الحدیث أخرجه البخاری أیضاً فی کتاب الدیات باب قول الله تعالی: «ومن أحیاها » رقم ۶۸۷۵) وفی کتاب الفتن باب إذا إلتقی المسلمان بسیفیهما رقم ۷۰۸۳ ومسلم فی صحیحه (۲\۳۸۹) کتاب الفتن وأشراط الساعة والنسائی فی سننه (۲\۱۷۵) کتاب المحاربة باب تحریم القتل وأبوداود فی کتاب الفتن باب النهی عن القتال فی الفتنة رقم ۴۲۶۸) وابن ماجه فی سننه فی کتاب الفتن باب إذا إلتقی المسلمان بسیفیهما رقم ۳۹۶۵)_

() النور: ۱۹_

امام نووی رحمه الله دامام مازری رحمه الله نه نقل کړی دی هغوی فرمائي چه دقاضي ابوبکربن الطیب رحمه الله مذهب هم دا دې که د گناه اراده په زړه کښې پخه وی نوپه دې باندې مواخذه شته اوترڅوپورې چه په حدیث کښې د «إن الله تجاوز لي عن أمتي ما وسوست به صدورها مالم تعمل أوتكلم»[1] دغه شان بل حدیث «إذا هم عبدي بسيئة فلا تكتبوها عليه فإن عملها فاكتبوها سيئة وإذا هم بحسنة فلم يعملها فاكتبوها حسنة فإن عملها فاكتبوها عشراً»[2] اودغه شان دنورو احادیثو تعلق دې نودا ټول احادیث په دې صورت باندې محمول دی چه قصد کلك نه وی دقصد نه بغیر نې خیال په زړه کښې تیرشی.[3] امام مازری رحمه الله فرمائي چه دا د قاضي ابوبکر رحمه الله مسلك دې حالانکه ډیرفقهاء اومحدثین رحمهم الله د دوی مخالفت کړې دې اوهغوی د ذکرشوو احادیثو په ظاهرباندې استدلال کړې دې اودا مسلك ئې اختیارکړې دې چه ترڅو پورې فعل صادر شوې نه وی نو صرف خیال او عزم باندې مواخذه نشته.[4]

قاضي عیاض رحمه الله فرمائي چه دعامة السلف، فقهاؤ، محدثینواواکثراهل علم مسلك هم هغه دې کوم چه قاضي ابوبکر رحمه الله بیان کړې دې البته عالمانو رحمهم الله ددې تصریح کړې ده چه په کوم عزم باندې مواخذه شته اوهغه د گناه په طور لیکلې شی هغه صرف عزم دې اوپه دې باندې مواخذه شته په هغه گناه باندې مواخذه نشته چه په هغې باندې عزم نه وی خکه چه دمعصیت ارتکاب خو نه دې شوې.[5]

امام نووی رحمه الله فرمائي چه په عزم د قلب باندې مواخذه په نصوصو د شریعت سره ثبته ده لکه آیت کریمه ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾[6] دغه شان دالله تعالی ارشاد دې ﴿اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ﴾[7] ددې نه علاوه نور هم ډیر آیاتونه دی. یا حسد، احتقارالمسلمین، وغیره اعمال دکومو تعلق چه د زړه سره دې د هغې په حرمت باندې د شریعت نصوص ناطق دی اوپه دې باندې په مواخذه باندې د عالمانو رحمهم الله اجماع هم ده معلومه شوه چه په عزم مصمم باندې مواخذه شته.[8]

---

[1]) صحیح بخاری کتاب العتق باب الخطاء والنسیان فی العتاقة والطلاق ونحوه رقم ۲۵۲۸ کتاب الطلاق باب الطلاق فی الإغلاق.. رقم ۵۲۶۹ وکتاب الأیمان والنذور باب إذا حنث ناسیاً فی الأیمان رقم ۶۶۶۴ وصحیح مسلم (۷۸\۱) کتاب الإیمان باب بیان تجاوزالله تعالی عن حدیث النفس والخواطر..)_

[2]) صحیح مسلم (۷۸\۱) کتاب الإیمان باب بیان تجاوز الله تعالی عن حدیث النفس والخواطر..)_

[3]) شرح نووی علی صحیح مسلم (۷۸\۱)_

[4]) شرح نووی علی صحیح مسلم (۷۸\۱)_

[5]) شرح نووی علی صحیح مسلم (۷۸\۱، ۷۹)_

[6]) سورة النور:۱۹)_

[7]) سورة الحجرات:۱۲)_

[8]) شرح نووی (۷۹\۱)_

خوعلامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله فرمائى چه زما په نيزيه عزم باندې ترهغه وخته پورې مواخذه نشته ترڅوچه په هغې باندې عمل نه وى شوې «حريص» كوم چه په حديث كښې ذكردې د دې په باره كښې زما په پوهه كښې راځى چه ددې مرتبه دعزم نه پورته ده اوپه دې باندې عذاب ضرور شته.دحريص مطلب دا دې چه دې كوشش اوكړى اسباب پوره كړى اوپه كوشش كښې لګيا وى.اودا دعزم نه پورته مرتبه ده په عزم كښې حب يا حسد وغيره داخلول صحيح نه دى.ځكه چه هغه داخلاق رذيله دقبيلې څنې دى دهغې تعلق د باطن او قلب سره دې هغه د عزم معصيت د مشهورې معنى سره شاملولې نشى هم دا مفهوم دې ددې آيت ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ﴾ دا حب داشاعت فحش. د عذاب سبب دې دعزم نه دې.(١)

دقصد مراتب بعضې عالمانو رحمهم الله دقصد پنځه مرتبې بيان كړى دى اودا ئې فرمائيلى دى.چه په دې كښې څلورمرتبې خو معفو عنهادى.البته آخرى مرتبه قابل مواخذه ده لكه څنګه چه د جمهورو مذهب دې.دغه پنځه مرتبې يوشاعرداسې بيان كړى دى.

مراتب القصد خمس : هاجس ذكروا : فخاطر، فحديث النفس فاستمعا

يليه هم ، فعزم ، كلها رفعت : سوى الأخير ففيه الأخذ قد وقعا

يعنى دقصداوهاجس ارادى پنځه مراتب دى.① هاجس.② خاطر.③ حديث النفس④ هم ⑤ عزم.دا ټول معاف دى.په دې كښې مواخذه نشته.سوادآخرى مرتبې يعنى عزم نه.ځكه چه په دې كښې مواخذه شته.

① هاجس: دا د قصد اولنۍ درجه ده.چه يوڅيز په زړه كښې راشى.اوسمدستى ختم شى

② خاطر:دا د قصددويمه درجه ده.چه يوڅيز په زړه كښې راشى. او ايسار شى. خو زړه څه فيصله نه وى كړې.

③ حديث النفس:دا د قصد دريمه درجه ده.چه يوه خبره په زړه كښې راشى. او ايساره شى.اوزړه په فعل اوترك كښې متردد وى.يوطرف ته ميلان نه وى.

④ هم:دا څلورمه درجه ده.چه په دې كښې فعل يا ترك ته ميلان خو وى.خوپه دې كښې پوخوالې نه وى.

⑤ عزم:دا آخرى درجه ده.چه په دې كښې صرف ميلان نه وى.بلكه پوخوالې هم وى.اوهم په دې باندې مواخذه ده.(٢)والله أعلم.

---

١) فتح الملهم (٢٧٨\١) كتاب الإيمان باب بيان تجاوزالله تعالى عن حديث النفس والخواطر - درس بخارى (٢٢٢\١) وفضل البارى(٤٢٨\١)_

٢) په قصد او اراده باندې دمواخذې او عدم مواخذې باندې د تفصيل دپاره اوګورئ.(فتح البارى(١١\٣٢٣، ٣٢٩) كتاب الرقاق باب من هم بحسنة أو سيئة وفتح الملهم (١\٢٧٦، ٢٧٩) كتاب الإيمان باب بيان تجاوز الله تعالى عن حديث النفس والخواطر - والتعليق الصبيح (٥٩\١) باب فى الوسوسة)_

[۳۱] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ وَاصِلٍ الأَحْدَبِ عَنْ الْمَعْرُورِ قَالَ لَقِيتُ أَبَا ذَرٍّ بِالرَّبَذَةِ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ وَعَلَى غُلَامِهِ حُلَّةٌ فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ إِنِّي سَابَبْتُ رَجُلًا فَعَيَّرْتُهُ بِأُمِّهِ فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا ذَرٍّ أَعَيَّرْتَهُ بِأُمِّهِ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ إِخْوَانُكُمْ خَوَلُكُمْ جَعَلَهُمْ اللَّهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ فَمَنْ كَانَ أَخُوهُ تَحْتَ يَدِهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ وَلَا تُكَلِّفُوهُمْ مَا يَغْلِبُهُمْ فَإِنْ كَلَّفْتُمُوهُمْ فَأَعِينُوهُمْ [۲۴۰۷،۲۴۰۳،۵۷۰۳]

رجال الحديث

حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ: دسیلمان بن حرب رحمه الله حالات د «باب من کره أن یعود فی الکفر کما یکره أن یلقی فی النار من الإیمان» لاندې تیرشوی دی.

حَدَّثَنَا شُعْبَةُ: دوی شعبه بن حجاج رحمه الله دی ددوی حالات وړاندې د «باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده» لاندې تیرشوی دی.

حَدَّثَنَا واصل الأحدب: دوی واصل بن حیان احدب اسدی کوفی دی دابراهیم نخعی.زرین بن حبیش. قاضی شریح.شقیق بن سلمه.امام مجاهد.معروربن سوید.اوابوبرده رحمهم الله وغیره نه ئې حدیث روایت کړې دې.

اود دوی نه په روایت کونکوکښې .سفیان ثوری.شعبه بن الحجاج.مسعربن کدام. زهیربن معاویه.عطاء بن مسلم اومهدی بن میمون رحمهم الله وغیره دی.

امام یحیی بن معین.ابوداود اونسائی رحمهم الله دوی له ثقه ګرخولی دی.

ابوحاتم رحمه الله فرمائی.«صدوق صالح الحدیث»

ابن حبان رحمه الله دوی له په کتاب الثقات کښې ذکرکړی دی.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.«ثقة ثبت»

په کال ۱۲۰هـ کښې وفات شوې وو.اصحاب صحاح سته ددوی نه د احادیثو تخریج کړې دې.()

عَنْ الْمَعْرُورِ: دوی ابوامیه معروربن سویداسدی کوفی دی.دوی د کوفې په ثقات تابعینو رحمهم الله کښې دی دحضرت خریم بن فاتك.حضرت عبدالله بن مسعود .حضرت عمربن الخطاب.حضرت ابوذرغفاری.اوام المومنین حضرت ام سلمې رضی الله عنهم نه روایت کوی د دوی نه روایت کونکی امام اعمش.عصام بن بهدله.واصل احدب .مغیره بن عبدالله یشکری رحمهم الله وغیره دی

) تهذیب الکمال(۳۰\۴۰۰، ۴۰۱) وعمدة القاری (۱\۲۰۵) وخلاصة الخزرجی. (۴۱۴) وتقریب (ص.۵۷۹) رقم ۷۳۸۲)_

ابوحاتم رحمه الله فرمائی ما دوی په شپږ شلو کالو په عمرکښې لیدلې وو په هغه وخت کښې هم ددوی دسراو ږیرې وختـه تور وو

یحیی بن معین او ابوحاتم رحمهما الله دوی لره ثقه ګرځولی دی ابن حبان هم دوی په کتاب الثقات کښې ذکرکړی دی

دشپږ شلو کالو په عمرکښې وفات شوې وو اصحاب اصول سته ددوی نه روایات اخستی دی (۱)

قَالَ لَقِيتُ أَبَاذَرّ: (۲) دوی مشهورصحابی ابوذرغفاری رضی الله عنه دی ددوی په نوم اوپیا ددوی د پلار په نوم کښې ډیر اختلاف دې داصح قول مطابق د دوی نوم جندب بن جناده وو

حضرت ابوذر رضی الله عنه په څلورم نمبر ایمان راوړې وو دوی پخپله فرمائی «أنا رابع الإسلام» دیو قول مطابق پنځم سړې وو چه ایمان ئې راوړې وو په مکه معظمه کښې په اسلام باندې مشرف شوې وو اوبیا دنبی صلی الله علیه وسلم په اجازت باندې خپلې ته واپس شو اوهلته ئې د دعوت کار کولو روسته ئې مدینې منورې تـه هجرت اوکړو قدیم الاسلام وو خوپه هجرت کښې د تاخیرپه وجه په بدر احد اوخندق کښې نه وو شریك شوې

ددوی فضائل بې شمیره دی نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی «ما أظلت الخضراء ولا أقلت الغبراء أصدق من أبي ذر» (۳)

دحضرت بریده رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی «أمرت أحب أربعة من أصحابي، وأخبرني الله أنه يحبهم» نوحضرت بریده رضی الله عنه تپوس اوکړو یا رسول الله دغه څوك دی؟ نبی صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل «علي، وأبوذر، وسلمان، والمقداد» (۴)

حضرت علی رضی الله عنه فرمائی «سمعت النبي صلی الله علیه وسلم يقول: أعطي كل نبي سبعة نجباء ورفقاء وأعطيت أنا أربعة عشر نجيباً ورفيقاً» په دوی کښې د حضرت ابوذر رضی الله عنه ذکر هم کړې دې (۵)

---

(۱) تهذيب الكمال (۲۸\۲۶۲و ۲۶۳) وعمدة القارى (۱\۲۰۵) وخلاصة الخزرجى. (ص.۳۹۷) وتقريب (ص.۵٤۰) رقم ۶۷۹۰)-

(۲) الحديث أخرجه البخاري في صحيحه ی كتاب العتق باب قول النبي صلی الله علیه وسلم العبيد إخوانكم فأطعموهم مما تأكلون رقم (۲۵٤۵) وفي كتاب الأدب باب ما ينهى عن السباب واللعان رقم ۶۰۵۰) ومسلم (۲\۵۲) كتاب الإيمان باب صبة المماليك – وأبوداود في سننه في كتب الأدب باب في حق المملوك رقم ۵۱۵۷) ۵۱۵۸) والترمذي في جامعه في كتب البر والصلة باب ما جآء في الإحسان إلى الخدم رقم ۱۹٤۵) وابن ماجه في سننه في كتاب الأدب باب الإحسان إلى المماليك رقم ۳۶۹۰)_

(۳) سنن ترمذیؒ كتاب المناقب باب مناقب أبي ذر رضی الله عنه رقم ۳۸۰۱) و(۳۸۰۲)_

(۴) مسند أحمد(۵\۳۵۱)_

(۵) جامع ترمذي كتاب المناقب باب مناقب الحسن والحسين رضی الله عنهما رقم ۳۷۸۵)_

حضرت علي رضي الله عنه فرمائي «أبوذر رضي الله عنه وعاء ملئ علماً»[1]

ابوداود فرمائي «كان يوازي ابن مسعود في العلم»[2]

دحضرت ابوذر رضي الله عنه داحاديثو پوره شمار دوه سوه اتيا (۲۸۰) دي په دې كښې دولس احاديث متفق عليه دي اوامام بخاري رحمه الله په دوو حديثو كښې اوامام مسلم په نورلس حديثوكښې متفرد دي[3] والله أعلم.

دوى په زهداو تقوى ،صدق اوعفاف، علم اوعمل كښې ډيرلوړ مقام حاصل كړې وو بنكاره به ئې د حق اظهاركولو په امربالمعروف اونهي عن المنكركښې دوى چرته هم د ملامتيا ګرد ملامتيا پوراه نه ده ساتلې.

دالله تعالى په لاركښې به ئې ډيرخرچ كولو اومال جمع كول ئې نه خوښولو

دوى اول په مدينه منوره كښې اوسيدلو او بيا شام ته لاړو اوبيا دحضرت عثمان رضي الله عنه په مشوره ربذه ته لاړلو نبي كريم ﷺ هم دې طرف ته اشاره كړې وه. حضرت اسماء رضي الله عنها فرمائي چه حضرت ابوذر رضي الله عنه به د نبي ﷺ خدمت كولو اوكله چه به د خدمت نه اوزګار شو جمات ته به لاړلو اوهم جمات ئې خپل كور جوړ كړې وو يوځل نبي ﷺ جمات ته داخل شو اودې ئې په زمكه باندې ملاست اوليدلو نبي ﷺ دوى په خپله پښه مباركه باندې اوخوزولو دوى راپاسيدل نبي ﷺ ورته اوفرمائيل دلته خوب كوې نودوى ورته عرض اوكړو زما كورخو هم دا ده نور په كوم ځائې كښې اوده شم نبي ﷺ دوى سره كيناستل اووې فرمائيل «كيف أنت إذا أخرجوك منه؟» يعني ستا به څه حال وي كله چه ته د دې ځائې نه ويستلې شې. دوى عرض اوكړو زه به شام ته لاړ شم نبي ﷺ ورته اوفرمائيل چه د شام نه هم اوويستې شې بيا به څه كوې نودوى عرض اوكړو دوباره به مسجد نبوي د خپلې استوګنې ځائې جوړ كړم نونبي ﷺ ورته اوفرمائيل چه ددې ځائې نه يوځل بيا اوويستې شې؟نو دوى عرض اوكړو چه زه به بيا خپله توره راواخلم اوترمرګه پورې به جنګيږم.

نو نبي ورته اوفرمائيل «أدلك على خير من ذلك؟» دوى عرض اوكړو «بلى بأبي أنت وأمي يا رسول الله» نبي ﷺ ورته اوفرمائيل «تنقاد لهم حيث قادوك حتى تلقاني وأنت على ذلك» يعني خلق چه تا كوم

---

[1] سير أعلام النبلاء (۶۰\۲) وتهذيب الكمال (۲۹۷\۳۳)_

[2] تهذيب الكمال (۲۹۷\۳۳)

[3] امام نووي رحمه الله د مسلم د منفرد احاديثو شمار اوولس خودلې دې اوعلامه عيني رحمه الله هم د دوى اتباع كړې ده.اوګورئ تهذيب الأسماء واللغات (۲۲۹\۲) وعمدة القاري(۲۰۵\۱) اوصاحب د خلاصة الخزرجي په خلاصه كښې (ص.۴۴۹) اوحافظ ذهبي رحمه الله په سير أعلام النبلاء (۷۵\۲) كښې نورلس ذكركړي دي په كوموكښې چه امام مسلم منفرد دې اوپه (ذخائرالمواريث في الدلالة على مواضع الحديث)) (۱۶۲\۳. ۱۹) كښې دي اود شيخ محمد فواد عبدالباقي دتحقيق كرده مسلم د فهرست نه په تتبع او تلاش سره يووويشت دوويشت احاديث راوځي په كوموكښې چه امام مسلم منفرد دې.

خاني په تلو باندې مجبوره كوى. هلته لاړ شه.ترڅو چه هم په دغه حال كښې ته ماسره ملاو شې (١)

حضرت ابوذر رضي الله عنه په غزوه تبوك كښې دخپلې څه مجبورئ د وجې د نبى ﷺ سره شركت نشو كولې.روسته چه كله ورته سورلى ملاو نشوه نوپه خپله شا باندې ئې سامان باركړل. اوپيدل روان شو.د نبى ﷺ په صحابوﷺ كښې چا د لرې نه ددوى صورت اوليدلو نو عرض ئې اوكړويارسول الله څوك سړې راروان دې.نبى ﷺ اوفرمائيل.((كن أباذر))خلقوچه په ځور سره اوكتل.نوواقعى هغه ابوذر رضي الله عنه وو.په دغه موقع باندې نبى ﷺ اوفرمائيل ((رحم الله أباذر يمشى وحده ويموت وحده ويبعث وحده)) (٢)

څه موده پس څه وخت چه دوى په ربذه كښې وو.اود وفات وخت ئې راغلو نو دوى خپلې بى بى اوخادم ته اوفرمائيل.زمادمرګ نه پس چه زما دغسل او تكفين نه فارغ شئ.نومئ په لاره باندې كيږدئ.كومه اوله قافله چه په دې خانې باندې تيريږى.نوهغوى ته اووائې چه دا ابوذر رضي الله عنه دې.

هم داسې اوشوه.چه د هلته نه حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د اهل كوفې د يوې قافلې سره تيريدل.هغوى ته اوخودلى شو.چه دا د حضرت ابوذر رضي الله عنه جنازه ده. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په ژړا شو.اودائې اوفرمائيل. ((رحم الله أباذر يمشى وحده ويموت وحده ويبعث وحده)) نوهغوى د دوى جنازه اوكړه.اودفن ئې كړو.(٣)

دحضرت ابوذر رضي الله عنه شماريه عالمانوصحابه كرامو رضي الله عنهم كښې كيږى.حضرت عمر رضي الله عنه دوى د قراء په درجه كښې ګرخولې وو.په علم كښې دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د درجې وو. په ۳۲ھ كښې وفات شوې وو. رضى الله عنه وأرضاه.(٤)

قوله: بِالرَّبَذَةِ: د راء اوباء موحده په فتحې سره.اوددې نه پس ذال معجمه مفتوحه. د مدينې منورې نه درې ميله لرې داهل عراق دميقات ذات عرق سره نزدې ديوخانې نوم دې.(٥)

قوله: وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ وَعَلَى غُلَامِهِ حُلَّةٌ: اويوه حله دشوى اويوه حله ددوى غلام اغوستې وه.

---

(١) مسند أحمد(٦\٤٥٧)_

(٢) السيرة النبوية لابن هشام (٢\٣١٩) عزوة تبوك)_

(٣) المصدر السابق)_

(٤) د تفصيلى حالاتودپاره اوګورئ ((سيرأعلام النبلاء (٢\٤٦. ٧٨) وطبقات ابن سعد(٤\٢١٩. ٢٣٧) وحلية الأولياء (١\١٥٦. ١٧٠) وتهذيب الكمال (٣٣\٢٩٤. ٢٩٨) وخلاصة الخزرجى (ص.٤٤٩) وعمدة القارى(١\٢٠٥) وتقريب (ص.٦٣٨) رقم ٨٠٨٧)_

(٥) عمدة القارى(١\٢٠٦)_

حُله وائی لنګ او څادر ته.چه دواړه د یوجنس څنی وی ()

امام بخاری رحمه الله په کتاب الادب کښې هم دا روایت نقل کړې دې.دهغې الفاظ دا دی ((رأیت علیه بردا وعلی غلامه بردا فقلت له لوأخذت هذا فلبسته کانت حلة وأعطیته ثوبا آخر)) ()

دا سمعیلی په روایت کښې دی ((أتیت أباذر فإذا حلة علیه منها ثوب وعلی عبده منها ثوب)) ()

دمسلم په روایت کښې دی ((فقلنا یا أباذر لوجمعت بینهما کانت حلة)) ()

دابوداود روایت کښې دی ((یا أباذر:لوأخذت الذی علی غلامك فجعلته مع الذی علیك لکانت حلة)) ()

لکه چه په حدیث الباب اونورو روایاتوکښې یوقسم تعارض دې.څکه چه د حدیث باب مطابق په دوی کښې هریوباندې پوره حله وه.او د نورو روایاتونه معلومیږی چه دهریو حله نه وه.بلکه صورت دا وو.چه دحضرت ابوذر رضی الله عنه په بدن باندې یوه جامه وه.اوهم دهغه جنس نه یوه جامه دده دغلام سره وه.لکه چه پوره حله دچا سره هم نه وه.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه په دواړه قسم روایاتوکښې د تطبیق صورت دا کیدې شی چه دحضرت ابوذر رضی الله عنه په بدن باندې یوه جامه وه.کومه چه ښه قیمتی وه.اوبله کپړه هغوی لنګ په طور لاندې اغوستې وه.کومه چه هم دهغې دجنس څنی وه.خوزړه او ورسته وه.هم دا صورتحال دده د غلام هم وو.نواوس به د ((لوأخذت هذا فلبسته کانت حلة)) یا ددې پشان دنورو الفاظو مطلب به دا وی.چه ((لوأخذت البرد الجید فأضفته إلی البرد الجید الذی علیك وأعطیت الغلام البرد الخلق بدله، لکانت حلة جیدة)) لکه چه دامام بخاری د کتاب الادب په روایت کښې چه کوم ((لوکانت حلة)) راغلی دی.نوپه هغې کښې تنوین دتعظیم دپاره دې.اومطلب دا دې چه ((کانت حلة کاملة الجودة)) والله أعلم.()

قوله: فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ: ما دې سبب معلوم کړو چه تاسو دخپل غلام سره مساوات فی اللباس ولې اختیارکړې دې؟

قوله: فَقَالَ إِنِّي سَابَبْتُ رَجُلًا: وې فرمائیل.ما یوسړی ته بد رد ونیلی وو.

() النهایة (۴۳۲/۱)_

() صحیح بخاری کتاب الأدب باب ما ینهی عن السباب واللعن رقم ۶۰۵۰)_

() فتح الباری(۸۶/۱)_

() صحیح مسلم (۵۲/۲) کتاب الأیمان باب صحبة الممالیک)_

() سنن أبی داود کتاب الأدب باب فی حق المملوک رقم ۵۱۵۷)_

() فتح الباری(۸۶/۱)_

«ساببت» د باب مفاعله نه دې په دې کښې چه د مشارکت خاصیت وی مطلب دا دې چه هغه ماته څه ونیلی وو اوما هغه ته څه ونیلی وو اوپه دغه ونیلو کښې ما هغه ته دهغه د مور ذکر کړې وو

قوله فَعَيَّرْتُهُ بِأُمِّهِ: ماهغه ته دهغه دمور پیغور ورکړې وو اوهغه ته مې دهغه دمور په حبشیت باندې پیغور ورکړې وو په یو روایت کښې دی چه ما هغه ته «یاابن السوداء» ونیلی وو ()

حافظ ابن حجر رحمه الله نقل کړی دی چه دغه کس چاته چه پیغور شوې وو حضرت بلال رضی الله عنه وو د ولید بن مسلم په روایت کښې منقطعا هم دا مروي دی ()

قوله فَقَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا ذَرٍّ أَعَيَّرْتَهُ بِأُمِّهِ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ: ماته نبی ﷺ اوفرمائیل اې ابوذر! تا ده ته دده د مور په حبشیت باندې پیغور ورکړو ته خو داسې کس ئې چه په تا کښې جاهلیت دې.

علامه کرمانی رحمه الله لیکلی دی چه حضرت ابوذر رضی الله عنه حضرت بلال رضی الله عنه ته د هغه دمور په حبشیت باندې پیغور ورکړو نوحضرت بلال رضی الله عنه نبی ﷺ ته په ګیله لاړلو نبی ﷺ حضرت ابوذر رضی الله عنه راغوښتلو او ورته ئې اوفرمائیل «شتمت بلالاً وعيرته بسواد أمه» نوحضرت ابوذر رضی الله عنه جواب ورکړو «نعم» نبی ﷺ ورته اوفرمائیل «ما كنت أحسب أنه بقي في صدرك من كبر الجاهلية شيء» یعنی زما دا ګمان نه وو چه ستاسو په زړه کښې به د جاهلیت د تکبر نه تراوسه پورې څه خیز پاتې شوې وی حضرت ابوذر رضی الله عنه سمدستی په زمکه پریوتلو او خپل مخ ئې په زمکه کیخودو اووې ونیل «والله لا أرفع خدي منها حتى يطأ بلال خدي بقدميه» یعنی په الله قسم چه زه به ترهغه وخته پورې د زمکې نه خپل مخ اوچت نکړم ترڅوچه حضرت بلال زما په مخ باندې خپل قدمونه نه وی کیخودې نودحضرت بلال رضی الله عنه د قدم کیخود نه پس دوی خپل مخ اوچت کړو ()

دمسلم شریف په روایت کښې دی () چه کله نبی ﷺ دوی ته اوفرمائیل «إنك امرؤ فيك جاهلية» نوهغوی عرض اوکړو «على حال ساعتي من الكبر؟» مطلب دا دې چه ددې باوجود چه زه د دومره عمر شوم اود اسلام قبلولو نه پس څومره زیاته موده تیره شوه ددې باوجود په

---

[1]) کما فی فتح الباری (۱۱\۸۶)_

[2]) فتح الباری (۱۱\۸۶)_

[3]) شرح کرمانی (۱۱\۱۴۰، ۱۴۱)_

[4]) (مسلم (۲\۵۲) کتاب الایمان باب صحبة الممالیک)_

مكښې د جاهليت خوئي بوني شته؟نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل «نعم» تراوسه پورې په تا کښې دجاهليت خوئي بوني شته.اوهم ددې اثردې چه تا ده ته د مور دحبشيت پيغور ورکړو معلومه شوه چه دمخفي مرضونولکه کبر ددې علم سړی ته په خپله نه کيږی. بلکه د کامل شيخ اومربی د ګوته کولوضرورت وی.دشيخ په اصلاح سره ددې مرضونوازاله کيږی.والله أعلم.

بهرحال په حديث کښې «انك إمرؤ فيك جاهلية» نه امام بخاری رحمه الله په دې استدلال کوی چه معاصی داموږجاهليت خنی دی.اوجاهليت «کفردون کفر» دې په حضرت ابوذر رضي الله عنه کښې ددې باوجود چه دا خوئي موجود وو.هم نبي ﷺ هغه د ايمان نه خارج نکړو.نومعلومه شوه چه د کبيرې په ارتکاب سره سړې د ايمان نه خارجيږی نه.(١)

علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.چه ددې حديث نه د مصنف رحمه الله استدلال مشکل دې.ځکه چه تعيير ګناه کبيره نه ده.خوارج په صغائرو سره تکفير نه کوی. (٢)

د دې جواب دا دې چه نورو حضراتو ددې تصريح کړې ده.چه دخوارجو په نيز ټول ګناهونه کبائر دی.د صغائرو اوکبائرو فرق داهل سنت والجماعت دې.

اوکه اومنلې شی.چه خوارج د صغيرې اوکبيرې فرق کوی.نود مصنف رحمه الله د طرفه دا جواب دې چه د روايت نه دومره ضرور معلوميږی.چه معاصی د امور جاهليت خنی دی.اوهم دا د مصنف رحمه الله دعوه ده.البته ددوی دويمه دعوه چه «ولايکفرصاحبها بإرتکابها» ده.ددې ثبوت د حضرت ابوبکره رضي الله عنه د حديث نه کيږی. والله أعلم.

قوله: إِخْوَانُكُمْ خَوَلُكُمْ: ستاسو ورونړه ستاسوخادمان دی.

خول ..خادمانوته وائی.دا دواحد په طور هم استعماليږی.اوددې اطلاق په مذکر اومونث دواړو باندې کيږی.په دې صورت کښې ددې واحد «خائل» راځی.

دا خو يا د تخويل نه ماخوذ دی.چه معنی ئې تمليك ده.لکه چه د خول معنی مملوك شوه اويا د «تخوّل» نه ماخوذ دې دکوم معنی چه اصلاح کول دی.لکه چه «خول» خادمانو او غلامانو ته ددې وجې وائی.چه دوی په صحيح طريقه باندې کار کوی.(٣)

بيا د «إخوانكم خولكم» ترکيب کښې دا احتمال هم شته.چه «إخوانكم» خبر مقدم دې.او«خولكم» مبتدا مؤخره ده.په دې صورت کښې دخبر تقديم د اخوت داهميت داظهار دپاره دې.اودا هم احتمال دې.چه دا دواړه لفظونه خبر وی. او د هريودپاره مبتدا محذوف وی.لکه چه تقديربه دا وی «إخوانكم هم خولكم»

---

(١) الأبواب والتراجم لصحيح البخاری(ص.٣٥)_

(٢) شرح الكرمانی(١١٠-١٤)

(٣) النهاية :٢٨٨) ومجمع بحار الأنوار(٢\١٢٤)_

علامه زركشى رحمه الله دا دواړه لفظونه منصوب ګرځولي دى اوتقدير ئې راويستې دې. ((احفظوا إخوانكم خولكم))ابوالبقاء دا د ټولو نه غوره توجيه ګرځولې ده خودبخارى په يو روايت كښې ((إخوانكم هم خولكم)) راغلى دى دكوم نه چه د رفع تقدير راجح كيږى (۱)
خلاصه دا چه ستاسودا خادمان ستاسو وروڼه دى اوهركله چه دوى ستاسو وروڼه دى. نو دوى سره د ورورولئ سلوك كول پكار دي هم ددې ورورولئ د اهميت ښكاره كولودپاره ((إخوانكم)) په ((خولكم))مقدم كړې شوې دې (۲)

قوله جَعَلَهُمُ اللَّهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ: الله تعالى دوى ستاسودلاسونو اوتصرف لاندې ګرځولي دى

قوله فَمَنْ كَانَ أَخُوهُ تَحْتَ يَدِهِ فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ: دكوم كس لاندې چه دده ورور وى نوهغه ته دهغه څه نه خوراك وركول پكار دى دڅه نه چه هغه په خپله خوراك كوى اودهغه څه نه اغوستل پكار دى كومې جامې چه په خپله اغوندى.
ددې حديث په بنياد د ابن حزم رحمه الله دا رائې ده چه خپل غلام دهغه څه نه خوراك وركول واجب دى كوم چه سړې پخپله خورى اګركه يوه نونمړئ وى دغه شان دهغه جامو نه غلام ته اغوستول هم واجب دى كومې چه سړې په خپله اغوندى اګرچه داخترپه موقع باندې وى (۳)
خوامام نووى رحمه الله فرمائى ((والأمر بإطعامهم مما يأكل وإلباسهم مما يلبس محمول على الإستحباب لا على الإيجاب وهذا بإجماع المسلمين)) (۴) يعنى غلام ته چه دهغه خوراك نه د خوراك حكم دې كوم چه مولى په خپله خورى دغه شان د هغه پوشاك اغوستولوحكم دې كوم چه مولى په خپله استعمالوى نودا حكم په استحباب باندې محمول دې اوايجاب باندې نه دې اوپه دې باندې د ټولومسلمانانو اجماع ده
اوترخوبورې چه حضرت ابوذر رضي الله عنه د عمل اوحديث باب تعلق دې نوپوهه شئ چه دحضرت ابوذر رضي الله عنه نه چه كوم لغزش شوې وو چه هغوى د ((ابن السوداء)) پيغور وركړې وو نو هغې متعلق كله چه هغه د نبى ﷺ نه حديث واوريدو نونه يواځې دا چه دهغه نه ئې خپله غلطى معاف كړه بلكه ددې سره سره هغوى دخپل كمال تقوى اوپرهيزګارئ د وجه دغلامانوسره د پوره مساوات عمل هم كولو كوم چه انفرادى طوريو افضل عمل دې ګنى دحديث باب

---

(۱) ارشاد السارى (۱۱۶/۱)_
(۲) فتح البارى (۱۷٤/۵)-
(۳) المحلى لابن حزم رحمه الله (۹۲۵/۰) مسألة :وفرض على السيد أن يكسو مملوكه ومملوكته مما يلبس.. (۱۰۹۷، ۹۸) مسألة وينفق الرجل والمرأة على ممالكيهما ...)_
(۴) شرح نووى على صحيح مسلم (۵۲/۲) كتاب الإيمان باب صحبة المماليک)_

مفهوم خو دا دې چه د خپلو ماتحتو سره د مواسات عمل وي.مساوات لازم نه دې.()

په يوبل حديث کښې دی ((إذا صنع لأحدکم خادمه طعامه ثم جاء به وقد ولي حرّه ودخانه فليقعده معه فليأكل فإن كان الطعام مشفوها قليلاً فليضع في يده منه أكلة أو أكلتين))()

دغه شان په يوبل حديث کښې راغلى دى ((للمملوك طعامه وكسوته بالمعروف))()
معلومه شوه چه دعرف مطابق دغلام دپاره طعام اوکسوة واجب ده البته که دعرف نه يوزيات يوکس خپل غلام ته خوراک څکاک اواغوستول کوی نودا تطوع ده واجب نه دی.()والله أعلم.
خلاصه دا چه د جمهورو عالمانو په نيزدماتحتو سره دمواسات حکم ضروری دې او مساوات حکم عمومي حکم نه دې.ځکه چه ددې په وجه به بيا ټول نظم ګډ وډ شی به مواسات کښې نظام هم ښه پاتې کيږی.اوتطييب قلب هم وی د نوروخيال ساتلوسره نظم هم برقرار پاتې کيږی.اوکه دمساوات عمومي طور حکم ورکړې شی نوددې په وجه به نظم کښې فرق راشي.البته که يوکس انفرادی طور په مساوات باندې عمل کوی نوبيا ښه عمل دې.اوپه هغه باندې انکار نشته.اونه په دې سره عام فساد پيدا کيږی

والله سبحانه وتعالىٰ أعلم.

٢٢ = بَاب ظُلْمٌ دُونَ ظُلْمٍ

د ترجمة الباب مقصد اودماقبل سره ربط امام بخاری رحمه الله په وړاندې باب کښې : ((كفر دون كفر)) ذکرکړې وو. اودا ئې خودلی وو.چه په کفرکښې درجات اومراتب مختلف دی.نودغه شان به د دې په نقيض يعني ايمان کښې هم مراتب اودرجات مختلف وی اوکله چه په ايمان کښې درجات او مراتب مختلف وی.نودې ته به مرکب ونيلی شی.اوزائد اوناقص به ورته هم ونيلی شی.دغه شان دلته په ((ظلم دون ظلم)) کښې هم دا ښائی.چه دا ظلم هم دايمان نقيض دې اوپه ظلم کښې هم مختلف مراتب دی.نوظلم دون ظلم ثابت شو.اوايمان چونکه ددې نقيض دې.نودغه به په ايمان کښې هم دمراتبو اودرجاتو تفاوت ثابت شی.

دا خبره په نوروالفاظو کښې داسې زده کړئ.چه دلته ((دون))په معنی د ادنی او اسفل دې اوددې مطلب دا دې.چه ظلم يوکلی څيزدې اوددې لاندې ډير افراددی.بعضې اعلیٰ دی اوبعضې ادنی دی.هم دا دامام بخاری رحمه الله د طرز موافق هم دې.ځکه چه دهغوی رائې دا ده.چه ايمان کوم چه اصل دې هغه خو تصديق اواقراربالسان دې اويو ددې فرع ده.په کوم

() المصدر السابق)_
() صحيح مسلم (٥٢\٢) کتاب الأيمان باب صحبة المماليک)_
() موطا امام مالک کتاب الإستيذان باب الأمر بالرفق بالمملوک رقم ٤٠)_
() فتح الباری(٥\١٧٤) کتاب العتق باب قول النبي ﷺ العبيد إخوانكم فأطعموهم مما تأكلون)_

سره چه دايمان تكميل كيږي هغه فرع اعمال دي دغه شان د امام بخارى رحمه الله رائي دا هم ده چه د كفر، شرك او ظلم يو اصل دې اوهغه دې كفرنه كوم چه د ايمان بالله ضد دې اويو ددې فرع ده كوم چه معاصى دى په كوم سره چه په كفركښې قوت اوزيادت راځي دا ټول خو كفردې خويواصل دې اويوفرع ده داصل په ارتكاب سره سړې به دايمان نه خارجيږى اودفرع په ارتكاب سره دكفر په يود شعبه كښې داخليږى كافرنه ګرځى لكه چه امام بخارى رحمه الله دلته دا ښائى چه دظلم مراتب مختلف دى ددې د ټولو نه اوچته مرتبه خوشرك دې دكوم په وجه چه سړې مومن نه پاتې كيږى او ددې لاندې ډيرې مرتبې دى چه دهغې په ارتكاب سره سړې دايمان نه نه خارجيږى البته په ده كښې دكفرڅخونه اوشعبې راځى.[1]

علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى چه دامام بخارى رحمه الله دترجمې د انعقاد نه مقصود دا دې چه د ايمان تكميل په اعمالو سره كيږى اوپه ايمان كښې دګناهونو په ارتكاب سره نقصان پيدا كيږى په هغې سره سړې په كفركښې نه داخليږى اود معاصى د صغراوكبر په اعتبارسره په خلقوكښې تفاوت او اختلاف پيدا كيږى.[2]

[۳۲]حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ ح قَالَ وحَدَّثَنِي بِشْرُ بْنُ خَالِدٍ أَبُو مُحَمَّدٍ الْعَسْكَرِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ شُعْبَةَ عَنْ سُلَيْمَانَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ

[۳۱۸۱، ۳۲۴۵، ۳۲۴، ۴۳۵۳، ۴۴۹۸، ۶۵۲۰، ۶۵۳۸]

رجال الحديث

حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ: دوى ابوالوليد هشام بن عبدالملك طيالسى باهلى بصرى رحمه الله دى دوى مختصرحالات مخكښې د «باب علامة الإيمان حب الأنصار» لاندې تيرشوى دى.

قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ: د امام شعبه بن الحجاج رحمه الله تذكره وړاندې په «باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده» لاندې تيره شوې ده.

ح قَالَ وحَدَّثَنِي بِشْرٌ: دا «حاء» دلته چه واقع شوې ده كه دا حاء دتصنيف جزء وى نودا حائې تحويل ده دكوم تفصيل چه تيرشوې دې اوكه ورسته چا زياتى كړې وى نوحافظ ابن حجراوعلامه عينى رحمهما الله فرمائى چه دوه احتماله دى كيدې شى حائې د تحويل وى اودا هم كيدې شى چه خاء معجمه وى كوم چه دامام بخارى رحمه الله رمز دې خوپه دې بانديې اشكال كيږى چه دحاء تحويل د اصل كتاب په يوراوى كښې د داخلولو څه ضرورت

1) اوګورئ فتح البارى (۸۷/۱) وعمدة القارى (۲۱۳/۱)

2) عمدة القارى (۲۱۳/۱)

دې.راوي دمؤلف په كتاب كښې دخپل طرف نه د څه څيز داخلول نښې كولې.اوچه كوم څيزداخلوي نوهغه ښكاره كوي.

دوه اهمې فائدې ① بهرحال دلته امام بخاري رحمه الله حديث باب په دوو سندونو سره نقل كوي.په يوسند كښې ددوي استاذ ابوالوليد دې.كوم چه دامام شعبه شاګردې.اوپه بل سند كښې ددوي استاذ بشربن خالد عسكري دې.دوي دمحمد بن جعفرغندرپه واسطه سره امام شعبه نه روايت كوي.كله چه اولنې سند عالي دې.اودويم سند د هغې په مقابله كښې نازل دې.چونكه محمد بن جعفرالمعروف بغندر.دامام شعبه نه په روايت كولوكښې اثبت دې.ددې وجې امام بخاري د سندعالي باوجود سندنازل هم ذكركړلو.

② دويمه اهمه فائده دا ده.چه دامام بخاري تقريباً عادت مطرده دې.چه كله دوي تحويل كوي.نود دويم سند الفاظ ذكركوي.اود اول سند الفاظ په بل خائې كښې راوړي.دلته ني هم داسې كړې دي.چه دحديث الفاظ دسند ثاني دي.اوداول سند الفاظ په كتاب الانبياء كښې راخي.البته بعضې وخت كښې داسې هم كيږي.چه تحويل كوي.اود اول سند الفاظ نقل كوي.اود سند ثاني الفاظ په كتاب كښې په بل خائې ذكركوي.داسې مثالونه ډير كم دي

بِشْرُبْنُ خَالِدٍأَبُو مُحَمَّدٍالْعَسْكَرِيُّ: دوي ابومحمدبشربن خالد عسكري فرائضي دي.دوي د شبابه بن سوار . محمدبن جعفرغندر.وليدبن عقبه.شيباني.يحى بن آدم.اويزيد بن هارون رحمهم الله وغيره نه روايت كوي.اوددوي په شاګرانوكښې امام بخاري.امام مسلم.امام ابوداود.نسائي اوامام محمد بن اسحاق بن خزيمه رحمهم الله وغيره دي.

امام نسائي رحمه الله دوي ثقه ګرخوي.

امام ابن حبان رحمه الله دوي په كتاب الثقات كښې ذكركړې دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.((ثقة يغرب))

حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي.((وكان ثقة مأموناً))

په بخاري مسلم ابوداو اونسائي كښې ددوي روايات دي.

په كال ۲۵۳هـ يا ۲۵۵هـ كښې وفات شوي وو.رحمه الله تعالى[1]

قَالَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدٌ: دوي ابوعبدالله محمد بن جعفر هذلي دي.د غندر په لقب سره مشهور دي.

د حسين معلم.سعيدبن ابي عروبه.سفيانين.شعبه.ابن جريج.اومعمربن راشد رحمهم الله وغيره نه ني دحديث روايت كړې دې.

---

[1]) تهذيب الكمال(١١٧\٤، ١١٨) وعمدة القاري(٢١٣\١) وتقريب التهذيب (١٢٣) رقم ٦٨٤) وخلاصة الخزرجي(ص،٤٨)_

ددوى په شاګردانوكښې امام احمدبن حنبل.امام ابن المدينى.امام ابن معين.امام اسحاق بن راهويه.اوامام قتيبه رحمهم الله غوندې جبال حديث دى

ابوحاتم رحمه الله فرمائى «كان صدوقاً وكان مؤدباً وفي حديث شعبة ثقة» ابن حبان دوى په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى اوليكلې ئې دى «كان من خيار عباد الله على غفلة فيه»

محمد بن جعفرغندردامام شعبه بن الحجاج ربيب (پركتې) وو هغوى ددوى نه شلوكالو پورې مسلسل استفاده كوله دهغوى په احاديثوكښې دوى د ټولونه اثبت وو عبدالرحمن بن مهدى رحمه الله فرمائى «غندر في شعبة أثبت مني»

امام عبدالله بن مبارك رحمه الله فرمائى «إذا اختلف الناس في حديث شعبة فكتاب غندر حكم بينهم»

امام ابن معين رحمه الله فرمائى «كان من أصح الناس كتاباً وأراد بعضهم أن يخطئه فلم يقدر عليه»

امام على بن مدينى رحمه الله فرمائى «هو أحب إلي من عبد الرحمن في شعبة»

عبدالرحمن بن مهدى رحمه الله فرمائى «كنا نستفيد من كتب غندر في حياة شعبة»

محمد بن جعفر رحمه الله به دعبادت خاص ذوق لرلو.امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى دوى د پنځوس كالو راسې په صوم داؤدى باندې عمل كونكې وو.يوه ورځ به ئې روژه نيوله اوبله ورځ به ئې كوژه كوله.

امام ابن معين رحمه الله فرمائى.چه امام محمد بن جعفرغندر به د ميناړې دپاسه كيناستلو اود فقيرانوكښې به ئې د زكاة پيسې تقسيمولې.كله چه به د دوى تپوس اوشو نو فرمائيل به ئې.«أرغب الناس في إخراج الزكاة»

دغندرلقب ورته امام ابن جريج رحمه الله وركړې دې.په اصل كښې واقعه دا وه چه حضرت ابن جريج رحمه الله بصرې ته تشريف يوړلو.اوهلته ئې دحضرت حسن بصرى رحمه الله يوحديث بيان كړو نو خلقو پرې انكاراوكړو.چه مونږ خودا حديث نه دې اوريدلې.هغوى ورته اووئيل په دې كښې دانكارڅه وجه ده.زه د عطاء بن ابى رباح رحمه الله سره شل كاله پاتې شوې يم.ددې باوجود به يوكس دهغوى يوداسې حديث واورولو.چه هغه به مانه وو اوريدلې په دغه موقع باندې د ابن جريج په مخكښې محمد بن جعفر رحمه الله ډيرشور جوړ كړې وو نوابن جريج رحمه الله دوى ته خطاب اوكړو.او ورته ئې اووئيل.«أسكت يا غندر» دهغه وخت نه دوى د غندر په لقب سره مشهور شو.

غندر د غين په ضمې اونون په سكون او دال په فتحه او ضمې سره دې.اوددې نه پس راء مهمله .اهل حجاز هغه چاته غندروائى.چه زيات شور كوى

په كال ۱۹۳ه يا ۱۹۴ه كښې وفات شوى وو.(۱)

---

(۱) تهذيب الكمال(۲۵\۵-۹) وعمدة القارى(۲۱۳، ۲۱۴) وتقريب (۴۷۲) رقم (۵۷۸۷) وخلاصة الخزرجى (ص۳۳۰، ۳۳۱)_

عَنْ سُلَيْمَانَ: دوی ابومحمد سلیمان بن مهران اسدی کوفی دی چه د اعمش په لقب سره مشهور دی.
دوی د حضرت انس رضی الله عنه زیارت کړې وو البته د هغوی نه د دوی سماع ثابته نه ده.
دزید بن وهب. ابووائل ابراهیم تیمی او شعبی رحمهم الله وغیره نه د حدیثو روایت کوی.
اود دوی نه روایت کونکو کښې شعبه. سفیان ب. زادنه او وکیع وغیره دی
امام علی بن المدینی رحمه الله فرمائی امت محمدی ته په محفوظ طریقه د علم رسونکی خلور حضرات دی په هغوی کښې یوسلیمان بن مهران اعمش رحمه الله دې.

قاسم بن عبدالرحمن رحمه الله فرمائی. ((هذا الشيخ أعلم الناس بقول عبدالله بن مسعود رضی الله عنه))

سفیان بن عیینه رحمه الله فرمائی. ((سبق أعمش أصحابه بأربع خصال، كان أقرئهم للقرآن وأحفظهم للحديث وأعلمهم بالفرائض وذكر خصلة أخرى))

زهیربن معاویه رحمه الله فرمائی. ((ما رأيت أحدا أعقل من الأعمش ومغيرة))

امام احمد رحمه الله فرمائی ((أبواسحاق وأعمش رجلا أهل الكوفة))

امام شعبه رحمه الله فرمائی. ((ما شفاني أحد ما شفاني الأعمش)) يعنی په حدیثو کښې دامام اعمش رحمه الله په شان بل چا زما تشفی نه ده کړې.
امام شعبه رحمه الله چه به کله د امام اعمش رحمه الله ذکرکولو نو دهغوی د صدق اودیانت په وجه به ئې ((المصحف، المصحف)) وئیلو.

احمد بن عبدالله عجلی رحمه الله فرمائی. ((كان ثقة ثبتاً في الحديث))
دامام یحیی القطان رحمه الله په وړاندې چه به کله دامام اعمش رحمه الله ذکراوشو نو فرمائیل به ئې. ((كان من النساك وكان محافظاً على الصلاة في جماعة، وعلى الصف الأول)) دغسې دوی به فرمائیل ((هوعلامة الإسلام))
امام وکیع رحمه الله فرمائی چه امام اعمش د اویا کالوعمر ته نزدې شوې وو. خودهغوی نه تکبیر اولی چرته فوت شوې نه وو.
عبدالله بن داود خریبی فرمائی په کومه ورځ چه امام اعمش وفات شو په هغه ورځ ددوی نه زیات عبادتګذار څوك نه وو.

امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی. ((الأعمش ثقة))

امام نسائی رحمه الله فرمائی. ((ثقة ثبت))

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی. ((ثقة حافظ، عارف بالقراءات ورع لكنه يدلس))

امام ذهبی رحمه الله فرمائی. ((أحد الأئمة الثقات عداده في صغار التابعين، ما نقموا عليه إلا التدليس))

مغیره رحمه الله فرمائی. ((أهلك أهل الكوفة أبواسحاق وأعيمشكم هذا))

حافظ ذهبی رحمه الله په دوی باندې تبصره کوی اوفرمائی «كأنه عنى الرواية عمن جاء وإلا فالأعمش عدل صادق ثبت صاحب قرآن وسنة يحسن الظن بمن يحدثه ويروى عنه ولا يمكننا أن نقطع عليه بأنه علم ضعف ذلك الذى يدلسه فإن هذا حرام»

دغه شان دوی فرمائی «وهويدلس وربما دلس عن ضعيف ولا يدرى به فمتى قال حدثنا فلا كلام ومتى قال عن تطرق إليه احتمال التدليس إلا فى شيوخ له أكثرعنهم كإبراهيم وابن ابى وائل وأبى صالح السمان، فإن روايته عن هذا الصنف محمولة على الإتصال» يعنى دوى به تدليس كولو اوتدليس به ئې هم کله د ضعيف راوى نه كولو خودوى به خبر نه وو نوكه دوى په «حدثنا» سره حديث روايت كړی نو ددې په قبوليت كښې څه كلام نشته.اوكه په عنعنه سره روايت اوكړى نوپه دې كښې دتدليس احتمال شته.البته دا چه دهغه شيوخو استاذانو چه دې دهغوى نه زيات احاديث بيانوى.نو ددوى نه د عنعنه كولوباوجود به دا په سماع باندې محمول وى والله أعلم.

امام اعمش رحمه الله د ۶۱ھ په اوائلوكښې پيدا شوې وو.اوپه ۱۴۷ھ يا ۱۴۸ھ كښې وفات شوى وو. رحمه الله تعالى رحمة واسعة.(۱)

عَنْ إِبْرَاهِيمَ: دوى دكوفې مشهور تابعی فقيه.ابوعمران ابراهيم بن يزيد بن قيس بن اسود نخعی رحمه الله دى.ددوى مورمليكه بنت يزيد ده.اوعبدالرحمن بن يزيد خور وه (۲) دخپلو دواړو ماماګانو نه علاوه ئې دحضرت عبيده سلمانى.اوهمام بن الحارث .علقمه بن قيس نخعى.اومسروق بن الاجدع رحمهم الله وغيره نه روايت د حديثو كړې دې.(۳)

ددوى نه په روايت كونكوكښې حكم بن عتبه.حماد بن ابى سليمان. بيداليامى اوامام اعمش رحمهم الله وغيره دى.(۴) امام اعمش رحمه الله فرمائی «كان ابراهيم صيرفى الحديث»(۵)

امام شعبى رحمه الله فرمائی «أما أنه ماترك أحداً أعلم منه أو أفقه منه قلت: القائل هوشعيب بن الحجاب ولا الحسن ولا ابن سيرين؟ قال: ولا الحسن ولا ابن سيرين، ولا من أهل البصرة ولا من أهل الكوفة ولا من أهل الحجاز، وفى رواية ولا بالشام»(۶)

---

(۱) تهذيب الكمال(۱۲\۷۶، ۹۲) وعمدة القارى(۱\۲۱۴) وميزان الإعتدال(۲\۲۲۴) رقم ۳۵۱۷) و تقريب(ص.۲۵۴) رقم ۲۶۱۵) وخلاصة الخزرجى(ص.۱۵۵)_

(۲) تهذيب الكمال(۲\۲۳۳، ۲۳۴)_

(۳) تهذيب الكمال(۲\۲۳۴) وخلاصة الخزرجى(۲۳.) وعمدة القارى(۱\۲۱۴)_

(۴) المصادر السابقة)_

(۵) تهذيب الكمال(۲\۲۳۸) وسير أعلام النبلاء (۴\۵۲۱)_

(۶) تهذيب الكمال(۲\۲۳۸) وسير أعلام النبلاء(۴\۵۲۷)_

مغيره بن مقسم رحمه الله فرمائى ((كنا نهاب من إبراهيم كما يهاب من الأمير))(١)
امام اعمش رحمه الله فرمائى چه امام نخعى رحمه الله به همشيه دپاره د شهرت او نام نمود نه خان بچ ساتل تردې چه دستنې وغيره سره به نې د درس حلقه نه جوړوله.(٢)
احمد بن عبدالله عجلى رحمه الله فرمائى ((لم يحدث عن أحد من أصحاب النبى ﷺ وقد أدرك جماعة ورأى عائشة رؤيا وكان مفتى أهل الكوفة هو والشعبى فى زمانهما وكان رجلا صالحاً فقيهاً متوقياً قليل التكلف))(٣)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ((ثقة إلا أنه كان يرسل كثيراً))(٤)
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى ((إبراهيم بن يزيد النخعى أحد الأعلام يرسل عن جماعة))(٥)
دغه شان فرمائى ((استقر الأمر على أن إبراهيم حجة وأنه إذا أرسل عن ابن مسعود وغيره فليس ذلك بحجة))(٦)يعنى ابراهيم نخعى فى نفسه حجت دې البته چه كله مرسل روايت اوكړى نو دده مرسل روايت حجت نه دې.برابره ده كه دابن مسعود رضى الله عنه نه ارسال اوكړى اوكه د بل چانه.
خودحافظ ابن حجر رحمه الله دا قول محل داشكال دې.خكه چه يحيى بن معين رحمه الله فرمائى ((مراسيل نخعى أحب إلى من مراسيل شعبى))(٧)اودامام شعبى رحمه الله د مراسيلو په باره كښې امام عجلى رحمه الله فرمائى ((ومرسل الشعبى صحيح لا يكاد يرسل إلا صحيحاً))(٨)
بيا امام ترمذى رحمه الله په كتاب العلل كښې دامام اعمش رحمه الله نه نقل كوى. ((قلت لإبراهيم النخعى أسند لى عن عبدالله بن مسعود رضى الله عنه فقال إبراهيم إذا حدثتك عن رجل عن عبدالله فهو الذى سميت، وإذا قلت قال عبدالله فهو عن غير واحد عن عبدالله))(٩) مطلب دا دې كه ابراهيم نخعى رحمه الله د عبدالله بن مسعود رضى الله عنه نه مسنداً روايت كوى. نو د دې مطلب به دا وى چه صرف په دې يو سند سره دغه مروى دې.اوكه مرسلاً روايت كوى.نوددې مطلب به دا وى چه دحضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه نه دا حديث څو كسانو روايت كړې دې.
په دې بنياد باندې حافظ ابن رجب رحمه الله فرمائى ((وهذا يقتضى ترجيح المرسل على المسند لكن عن

---

(١) خلاصة الخزرجى(ص.٢٣) وسير أعلام النبلاء (٤\٥٢٢)_
(٢) خلاصة الخزرجى(ص.٢٣)_
(٣) تهذيب الكمال(٢\٢٣٧) وتهذيب التهذيب (١\١٧٧)_
(٤) تقريب التهذيب(ص.٩٥) رقم ٢٧٠)_
(٥) ميزان الإعتدال(١\٧٥)_
(٦) ميزان الإعتدال(١\٧٤)_
(٧) تهذيب الكمال(٢\٢٣٨) وتهذيب التهذيب(١\١٧٧) وسير أعلام النبلاء (٤\٥٢٢)_
(٨) تهذيب الكمال(١٤\٣٥) ترجمة عامر بن شراحيل الشعبى وخلاصة الخزرجى(ص.١٨٤)_
(٩) كتاب العلل للترمذى فى آخر كتابه الجامع (٢\٢٣٧)_

النخعي خاصة فيما أرسله عن ابن مسعود خاصة وقد قال أحمد في مراسيل النخعي لا بأس بها وقال ابن معين مرسلات ابراهيم صحيحة إلا حديث تاجر البحرين وحديث الضحك في الصلاة وقال أيضاً إبراهيم أعجب إلي مرسلات من سالم والقاسم وسعيد بن المسيب»(١)

دغه شان حافظ ابوسعيد علائي فرمائي «هو مكثر من الإرسال وجماعة من الأئمة صححوا مراسيله وخص البيهقي بما أرسله عن ابن مسعود رضي الله عنه»(٢)

ددې عبارتونو او نصوصونه معلومه شوه چه دابراهيم نخعي مراسيل مطلقاً رد كول صحيح نه دي بيا خاص كركله چه هغوى د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه ارسال كوى څكه چه حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي «وكان بصيراً بعلم ابن مسعود رضي الله عنه واسع الرواية فقيه النفس كبير الشأن كثير المحاسن رحمه الله تعالى»(٣)

په آخرى عمر كښې دحجاج بن يوسف دطرفه ددوى لټون جارى وو اودوى پټ شوى وو هم په دغه حالت كښې اول دحجاج بن يوسف اوبيا وريسې څه وخت پس ددوى وفات اوشو(٤)

په آخرى وخت كښې ډيرپريشانه وو خلقو ترې تپوس اوكړو چه ولې څه خطره درته پيښه شوې ده.دوى ورته اوفرمائيل.په دې وخت كښې چه زه كومې لوئې خطرې سره مخامخ يم.ددې نه لويه خطره بله كومه كيدې شى.اوس به زما د رب قاصد راشى.اوزما ځائې خو به يا جنت شى.اويا به جهنم شى.په الله قسم زما خواهش دا دې چه زما روح ترقيامته پورې په حلق كښې وى.(٥)

په كال ٩٦ھ كښې وفات شوى وو. رحمه الله رحمة واسعة(٦)

عَنْ عَلْقَمَةَ: دوى د كوفې مشهور تابعي فقيه .امام ابوشبل علقمه بن قيس بن عبدالله بن مالك نخعي دى.دوى دابراهيم نخعي رحمه الله د مور اود ماما اسود بن يزيداو عبدالرحمن بن يزيد تره وو.

دنبى اكرم صلى الله عليه وسلم په ژوند كښې پيدا شوې وو.خونبى صلى الله عليه وسلم ئې نه وو ليدلى.ددې وجې ددوى شمار په مخضرمينو كښې كيږى.

دعلم دپاره ئې سفرونه كړى وو.د حضرات خلفاء راشدينو نه علاوه دحضرت سلمان.حضرت ابوالدرداء حضرت خالد بن وليد .حضرت حذيفه.حضرت خباب. حضرت عائشې.حضرت

---

(١) انظر تعليقات محقق كتاب تهذيب الكمال(٢\٢٣٩، ٢٤٠)_
(٢) تهذيب الكمال(١\١٧٨، ١٧٩)_
(٣) سير أعلام النبلاء (٤\٥٢١)_
(٤) تهذيب الكمال(٢\٢٣٧) وحاشية تهذيب الكمال(٢\٢٤٠)_
(٥) سير أعلام النبلاء (٤\٥٢٨)_
(٦) سير أعلام النبلاء (٤\٥٢٧) وتهذيب الكمال(٢\٢٤٠) وتقريب (ص.٩٥) وخلاصة الخزرجي (ص.٢٣)_

سعد. حضرت عمار. اوحضرت ابومسعود بدرى رضي الله عنهم وغيره نه ئي نه د حديث روايت كړې دې په كوفه كښې مقيم شوې وو. اوحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه سره ئې صحبت اختيار كړې وو. ترديې چه دعلم او عمل روښانه مناره ترې جوړه شوه. لويو لويو عالمانو رحمهم الله ددوى نه علم فقه حاصل كړه. او ددوى نوم لرې لرې پورې خور شو.

د دوى نه چا چا استفاده كړې ده. په هغوى كښې حضرت امام ابراهيم نخعى. امام شعبى. سلمه بن كهيل. ابووائل شقيق بن سلمه او ابواسحاق سبيعى. رحمهم الله وغيره ډيرحضرات دى.

ددوى اولاد وغيره نه وو. حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ددوى كنيت. ((ابوشبل)) كيخودې وو حضرت علقمه د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دټولو نه خاص ترين شاګرد وو. ترديې چه په اخلاقو اوعاداتو كښې هم دهغوى سره مشابه وو.

هم دا وجه ده چه رباح ليثى رحمه الله فرمائى. ((فإذا رأيت علقمة فلا تضرك أن لا ترى عبدالله فإنه أشبه الناس به هدياً وسمتاً))

دنوم نهاداوشهرت نه به لرې لرې اوسيدو. عبدالرحمن بن يزيد رحمه الله فرمائى. چه مونږ حضرت علقمه ته عرض اوكړو. كه تاسو په جمات كښې كينئ. اومونږ ستاسونه هلته استفاده كوو نودا به ښه وى. نودوى اوفرمائيل. زما دا نه ده خوښه. چه خلق ماطرف ته اشاره كوى. اووائى چه دا علقمه دې. خلقو ورته اووئيل. كه تاسو اميرانو اوحاكمانو ته تلئ. راتلئ. نوستاسو به ډير قدر وو. دوى ورته اوفرمائيل. ((أخاف أن ينتقصوا مني أكثر ما أنتقص منهم))

قرآن كريم به ئې ډير په خوږ آواز لوستل. حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دوى نه دقرآن پاك د لوستلو مطالبه كوله. اوهغوى به اوريدلو. اوفرمائيل به ئې. ((زدنا فداك أبي وأمي فإني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: إن حسن الصوت زينة القرآن))

قابوس بن ابوظبيان دخپل پلار نه تپوس اوكړو. چه ته دنبى صلى الله عليه وسلم دصحابو رضي الله عنهم مجلسونه پريږدې اوحضرت علقمه په مجلس كښې كينې. نوابوظبيان ورته جواب وركړو. چه ما په خپله د نبى صلى الله عليه وسلم صحابه كرام رضي الله عنهم ليدلى دى. چه دده نه به ئې تپوس كولو. اواستفاده به ئې ترې كوله. امام احمدبن حنبل رحمه الله ددوى په باره كښې فرمائى. ((ثقة من أهل الخير))
امام يحيى بن معين رحمه الله دوى لره ثقه ګرخولى دى.

حافظ ابن حجر رحمه الله ليكى. ((ثقة ثبت فقيه عابد))
حضرت علقمه رحمه الله وصيت كړې وو چه كله زما د زنكدن وخت شى نوداسې كس ماسره كينوئ چه ما ته د ((لا إله إلا الله)) تلقين كوى. اودوفات نه پس ما زر دفن كړئ. خلقو كښې اعلان مكوئ. هسې نه چه د جاهليت طريقه شى.(۱)

---

۱) سير أعلام النبلاء (۶۱\۵۳\۴) وتهذيب الكمال (۳۰۸\۳۰۰\۲۰) وتقريب التهذيب (ص.۳۹۷) رقم ۴۶۸۱) وخلاصة الخزرجي (ص.۲۷۱)-

د دوی وفات د ۶۰ هـ یا ۷۰ هـ نه پس شوی وو رحمه الله تعالی رضی عنه وأرضاه۔

عَنْ عَبْدِاللّٰهِ: (دوی مشهور صحابی حضرت عبدالله بن مسعود بن غافل بن حبیب هذلی رضی الله عنه دی. ابو عبدالرحمن د دوی کنیت دے

په سابقین اولینو کښې د دوی شمارکیږی په بدر وغیره غزاګانو کښې شریك شوی وو. د حبشې او مدینې دواړه هجرتونه ئې کړی دی په عالمانو صحابو رضی الله عنهم کښې وو د دوی نه په صحابو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله کښې یو جم غفیر علم حاصل کړی دے

په حضرات صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې حضرت ابوموسی اشعری. حضرت ابوهریره حضرت ابن عباس. حضرت ابن عمر. حضرت عمران بن حصین. حضرت جابر. حضرت انس. حضرت ابوامامه رضی الله عنهم وغیره د دوی نه روایت کړی دے

په حضرات تابعینو رحمهم الله کښې چه کومو حضراتو د دوی نه استفاده کړی ده. هغوی کښې دا حضرات مشهور دی. حضرت علقمه. اسود مسروق. عبیده. ابووائله. قیس بن ابی حازم رحمهم الله وغیره.(۲)

د حضرت عمر رضی الله عنه نه ئې وړاندې اسلام راوړې وو. په خپله فرمائی ((لقد رأیتنی سادس ستة وما علی ظهر الأرض مسلم غیرنا))(۳)

د دوی مور ہی هم صحابیه رضی الله عنها وه. هغوی ته به ام عبد وئیلی شی. هم په دې نسبت سره دوی ته هم ابن ام عبد رضی الله عنه وئیلی شی.(۴)

دوی دواړو موراوځوی د نبی ﷺ سره خصوصی تعلق ساتل. حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمائی ((قدمت أنا وأخی من الیمن فمکثنا حیناً ما نری ابن مسعود رضی الله عنه وأمه إلا من أهل البیت من کثرة دخولهم ولزومهم له))(۵)

---

(۱) الحدیث أخرجه البخاری فی صحیحه فی کتاب الأنبیاء أیضاً باب قول الله تعالی:(واتخذالله إبراهیم خلیلاً رقم ۴۳۶۰ وباب قول الله تعالی:(ولقد آتینا لقمان الحکمة .. رقم ۳۴۲۸) و(۳۴۲۹) وفی کتاب التفسیر تفسیر سورة الأنعام باب قوله: (ولم یلبسوا إیمانهم بظلم) رقم ۴۶۲۹ وسورة لقمان باب قوله: (لاتشرک بالله إن الشرک لظلم عظیم) رقم ۴۷۷۶ وفی کتاب إستتابة المرتدین والمعاندین وقتالهم باب إثم من أشرک بالله وعقوبته فی الدنیا والآخرة رقم ۶۹۱۸ وباب ما جاء فی المتأولین رقم ۶۹۳۷ ومسلم فی صحیحه (۱\۷۷) کتاب الإیمان باب صدق الإیمان وإخلاصه والترمذی فی جامعه فی کتاب تفسیر القرآن ومن سورة الأنعام رقم ۳۰۶۷)-

(۲) سیر أعلام النبلاء (۱\۴۱۶. ۴۶۲) وتهذیب الأسماء واللغات (۱\۲۸۹) وتهذیب الکمال(۱۶\۱۲۱. ۱۲۶)_

(۳) المستدرک للحاکم(۳\۳۱۳)_

(۴) سیر أعلام النبلاء(۱\۴۶۲) وتهذیب الأسماء واللغات(ت ۱\۲۸۸)-

(۵) صحیح بخاری(۱\۵۳۱) کتاب المناقب باب مناقب عبدالله بن مسعود (۲\۶۲۹) کتاب المغازی باب قدوم الأشعریین وأهل الیمن وصحیح مسلم(۲\۲۹۲) کتاب الفضائل باب من فضائل عبدالله بن مسعود وأمه رضی الله عنهما)

په سفركښې به د نبى ﷺ پنړې مباركې ،مسواك ،بستره .د اودس سامان د دوى سره وو په عامو ورځو كښې به هم دوى نبى ﷺ ته پنړې اچولې .اوكله چه به نبى ﷺ پنړې اوويستلې نو دوى به هغه دخپلو لستونړو په جيب كښې اچولې .(١)

دبدر په ورځ چه كله ابوجهل دوو وړو ماشومانو زخمى كړو .نونبى ﷺ هم دوى دهغه د قتل كولودپاره اوليږل .دوى ددې امت فرعون قتل كړلو .نبى ﷺ دوى ته دجنت زيرې وركړو.

د نبى ﷺ سره د ربط اوتعلق اندازه ددې نه اولګوئ .چه پخپله فرمائى «علمنى رسول الله ﷺ وكفى بين كفيه، التشهد كما يعلمنى السورة من القرآن»(٢)

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى .چه نبى ﷺ ماته حكم اوكړو چه زه هغوى ته قرآن كريم واوروم .ماورته عرض اوكړو .يارسول الله زه تاسو ته قرآن پاك اولولم .حالانكه په تاسوباندې خو قرآن نازل شوې دې .نو نبى ﷺ راته اوفرمائيل .زه دبل د خولې نه قرآن اوريدل خوښوم .نوما سورة نساء شروع كړه كله چه دې ځائې ته راورسيدم ﴿ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا ﴾ نو نبى ﷺ زه اودرولم .اوراته ئې اوفرمائيل .پس دومره كافى دې .چه هغوى ته مې اوكتل .نودهغوى د سترګو نه اوښكې جارى وې .(٣)

دوى پخپله فرمائى «والذى لا إله غيره، ما من كتاب الله سورة إلا أنا أعلم حيث نزلت وما من آية إلا أنا أعلم فيما نزلت ولو أعلم أحداً هو أعلم بكتاب الله منى تبلغه الإبل لركبت إليه»(٤)

يوځل نبى ﷺ دحضرت ابوبكراوحضرت عمر رضي الله عنهما په خواه كښې تيرشو . اوحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قرآن لوستلو .نبى ﷺ اوفرمائيل .«من أحب أن يقرأ القرآن غضاً كما أنزل فليقرأ قراءة ابن ام عبد» بياحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په دعا كښې مشغول شو .«اللهم إنى أسألكم إيماناً لا يرتد ونعيماً لا ينفد ومرافقة نبيك محمد ﷺ فى أعلى جنان الخلد» نبى ﷺ ددوى په دعا باندې فرمائيل .«سل تعط»(٥)

حضرت حذيفه رضي الله عنه فرمائى .چه حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په اخلاقو . عاداتو ،قضاء او

---

(١) طبقات ابن سعد(١٥٣\٣)_

(٢) صحيح بخارى كتاب الإستيذان باب الأخذ باليدرقم ٦٢٦٥ وصحيح مسلم (١٧٤\١) كتاب الصلاة باب التشهد فى الصلاة)_

(٣) صحيح بخارى (٧٥٥\٢) كتاب فضائل القرآن باب من أحب أن يسمع القرآن من غيره وباب قول المقرئ للقارئ حسبك و(٧٥٦\٢) باب البكاء عند قراءة القرآن بوصحيح مسلم (٢٧٠\١) كتاب فضائل القرآن باب فضل إستماع القرآن ..)_

(٤) صحيح مسلم (٢٩٣\٢) كتاب الفضائل باب من فضائل عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وأمه رضي الله عنها)_

(٥) مسند أحمد(٤٤٥\١، ٤٥٤)_

خطبه وغيره كښې نبى ﷺ مشابه وو دغه شان فرمائى «ولقد علم المتهجدون من أصحاب محمد ﷺ أن عبدالله من أقربهم عندالله وسيلة يوم القيامة (قال الذهبي رحمه الله كذا قال المتهجدون ولعله المجتهدون)» ( )

حضرت عمربن الخطاب رضي الله عنه دوى كوفې ته اوليږلو اودكوفې خلقو ته ليكلى وو «بعثت إليكم عماراً أميراً وعبدالله بن مسعود معلماً و وزيراً وهما من النجباء من أصحاب رسول الله ﷺ ومن أهل بدر فاقتدوا بهما وقد آثرتكم بعبدالله على نفسى» ( )

حضرت عمر رضي الله عنه دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه په باره كښې فرمائى «كنيف ( ) ملئ علماً» ( ) چه دوى يو لوې لوښې دې چه د لبالب (دسرنه ويخه پورې د) علم نه ترسره پورې ډك دې

يوځل حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيمارشو نوحضرت عثمان ذوالنورين رضي الله عنه ئې بيمارپرسئ ته تشريف يوړلو.

تپوس ئې ترې اوكړو «ماتشتكى؟» تاسوته څه تكليف دې؟

وې فرمائيل «ذنوبى» ماته زما دګناهونود احساس تكليف دې

تپوس ئې ترې اوكړو «فما تشتهى؟» تاسوڅه خواهش دې؟

وې فرمائيل «رحمة ربى» زه دخپل پروردګار د رحمت طلبګاريم.

تپوس ئې تراوكړو «ألا آمرلك بطبيب؟» آيا زه ستا دپاره د طبيب انتظام اوكړم

وې فرمائيل «الطبيب أمرضنى» زما دپاره به د طبيب څه انتظام اوكړئ اصل طبيب خوزه بيمار كړې يم.

تپوس ئې اوكړو «ألا آمرلك بعطاء؟» آيا ستاسودپاره د څه پيسو بندوبست اوكړم

وې فرمائيل «لاحاجة لى فيه» ماته ددې څه ضرورت نشته.

حضرت عثمان رضي الله عنه اوفرمائيل كه تاسوته ضرورت نه وى نوستاسو نه پس به ستاسود لونړو دپاره پكار راشى.

حضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل تاسوته زما د لونړو په باره كښې د فقيرئ ويره ده داسې خبره نه ده ځكه چه ماهغوى ته روزانه د شپې د سورة واقعه د لوستلو تلقين كړې دې اوما د رسول الله ﷺ نه اوريدلى دى چه هغوى فرمائيلى دى.

( ) سير أعلام النبلاء (۱۱\٤٧۰)-
( ) تهذيب الأسماء واللغات (۱۱\۲۹۰)-
( ) وهو تصغير تعظيم للكنف بمعنى الوعاء انظر النهاية لابن الأثير (٤\۱۰۵)-
( ) تهذيب الأسماء واللغات (۱۱\۲۹۰) وسير أعلام النبلاء (۱۱\٤۹۱)-

((من قرأ سورة الواقعة كل ليلة لم تصبه فاقة أبداً))(١)

دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه ټول اته سوه اته څلويښت احاديث مروى دى په دې كښې څلورشپيته متفق عليه دى اوامام بخارى رحمه الله په يوويشت احاديثوكښې متفرد دې اوامام مسلم په پنځه ديرش احاديث كښې متفرد دې.

په ٣٢ھ يا ٣٣ھ كښې دوى وفات شوى وو.(٢) رضى الله عنه وأرضاه(٣)

فائده دا خبره دې ياده وى چه دحديث صحت او ضعف په اصل اسناد باندې وى كوم سند چه څومره شرائطو لره جامع وى نوهم هغه هومره به په هغې كښې قوت راځي اويه كوم سندكښې چه د شروط دصحت نه څومره كمې راځي نوهم هغه هومره به هغه حديث ضعيف وى.ددې وجې په يوخاص سند باندې د أصح الاسانيد اطلاق كول نه دى پكار. خوبيا هم بعضي اكابرينو رحمهم الله په بعضي اسنادو باندې د اصح الاسانيد اطلاق كړى دې.(٤) په داسې اسانيدوكښې يوسند دا هم دې په كوم سره چه حديث باب مروى دى.((عن الأعمش عن ابراهيم، عن علقمة، عن عبدالله))امام يحيى بن معين رحمه الله دې سند لره اصح الاسانيد گرځولې دې.(٥)

قوله قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ﴾ قَالَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ : حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائى چه كله دا آيت نازل شو ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ﴾ نود رسول الله ﷺ صحابوﷺ عرض اوكړو.په مونږ كښې به څوك وى.چه هغه به ظلم نه وى كړى؟

مطلب دا چه آيت ظاهرى معنى ئې اوكتله.نوصحابه كرام رضي الله عنهم اوويريدل چه په دې كښې امن او اهتداء صرف دهغه كسانودپاره ده.چه دخپل ايمان سره ظلم ملاؤ نكړى اويه مونږ كښې به څوك داسې وى.چه دهغه نه به څه ناڅه ظلم نه وى شوې.نوددې آيت مطابق مونږ دامن او هدايت نه محروم شو.

---

(١) تهذيب الأسماء واللغات (٢٩٠/١١) وحديث من قرأ ... أخرجه أبوعبيد في فضائله وابن الضريس والحارث بن أبي أسامة وأبويعلى.وابن مردويه.والبيهقي في شعب الإيمان عن ابن مسعود رضي الله عنه قاله السيوطي في الدرالمنثور (١٥٣/٦) فاتحة سورة الواقعة)-

(٢) تهذيب الأسماء واللغات (٢٨٨/١١) وخلاصة الخزرجي (٢١٤) وقال الذهبي رحمه الله في سيرأعلام النبلاء.(٤٦٢/١١) وله عند بقي بالمكرر ثماني مائة وأربعون حديثاً والله أعلم)-

(٣) د تفصيلى حالاتو دپاره اوگورئ.طبقات ابن سعد.(٢/٢٤٢. ٣٤٤) و(٣/١٥٠. ١٦١) و(٦/١٣و ١٤) وتهذيب الأسماء واللغات (٢٨٨/١١. ٢٩٠) وسير أعلام النبلاء.(٣٦١٣)

(٤) مقدمة ابن الصلاح (ص.٨) النوع الأول معرفة الصحيح)-

(٥) تقريب مع (١/٧٧. ٧٨) ومقدمة ابن الصلاح (ص.٨)

دحضرات صحابه كراموﷺ د ويرې سبب صحابه كرامﷺ ولې اوويردل.ددې وجه مونږ اوس اوخودله البته مختلفو حضراتو ددې مختلف تعبيرات كړى دى

① امام خطابى رحمه الله فرمائى«إنما قالت الصحابة هذا القول لأنهم التمسوا من الظلم ظاهره الذى هو الافتيات بحقوق الناس أو الظلم الذى ظلموا به أنفسهم من ركوب معصية أوإتيان محرم كقوله عزوجل ﴿وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ﴾ الآية وذلك حق الظاهر فيما كان يصلح له هذا الإسم ويحتمله المعنى عندهم ولم تكن الآية نزلت بتسمية الشرك ظلماً وكان الشرك عندهم أعظم من أن يلقب بهذا الإسم فسألوا رسول الله ﷺ عن ذلك...»(١)

يعنى حضرات صحابه كراموﷺ دظلم هغه مطلب واخستلو.كوم چه عام دې. يعنى دخلقو حق اخستل،يا دمعاصى اوحرامو ارتكاب كول اوبه خپل خان ظلم كول.ددې حضراتو په نيز دا لفظ هم ددې معنى دپاره ظاهر وو.اوصرف ددې معنى په دې كښې احتمال وو.په هغه وخت كښې داسې آيت نه وو نازل شوې.چه شرك ته ئې د ظلم نوم وركړې وو.بيا دهغوى په نيز دشرك مقام ددې نه اوچت وو. چه هغې ته د ظلم نوم وركړې شى.ددې وجې هغوى ويريدل.اود نبى ﷺ نه ئې د تفصيل تپوس اوكړو.

② حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه ظاهره خبره داده.چه صحابه كراموﷺ ..ظلم.. عام گنړلې وو.ځكه چه دا نكره ده.چه د نفى لاندې واقع شوې ده.اوكومه نكره چه د نفى لاندې راشى.هغه د عموم فائده وركوى.نوهغوى دا اوگنړله.چه د ظلم هرفرد به مراد وى.اودا ناممكن ده.ځكه چه پيغمبران عليهم السلام نه سوا يوكس هم د ظلم دهرفرد نه بچ كيدل ناممكن دى.اوهركله چه هركس نه د ظلم تحقق كيږى.نود آيت دتصريح مطابق بيا به نه هغه ته امن ملاويږى.اونه به ده ته هدايت حاصليږى. ددې وجې حضرات صحابه كرامﷺ اوويريدل.نو نبى ﷺ هغوى ته اوخودل.چه دلته د ظلم نه دټولونه اعلى فرد مراد دې.او ..ظلم.. كښې تنوين دپاره د تعظيم دې.اوددې قرينه د سورة لقمان آيت دې.په كوم كښې چه الله تعالى فرمائى.

﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾ په دې آيت كښې شرك ته ظلم عظيم وئيلې شوې دې.(٢)

په ايت كښې د ظلم نه د شرک مراد اخستلو قرينه څه ده؟ دعالمانو ﷺ په مينځ كښې په دې باندې بحث شوې دې.چه آيا په دې تفسيرباندې چه د ظلم نه مراد شرك دې.څه قرينه دلالت كوى.اوكه نبى ﷺ دخپل طرف نه تفسير كړې دې؟

بعضې حضرات فرمائى.چه دا سوال كول نامعقول دې.ځكه چه پخپله نبى ﷺ صاحب وحى وو.پخپله دمتكلم دطرفه په هغوى باندې وحى راتله.دوى اولنې مخاطب وو.هغوى ته هرڅه ښكاره وو.هغوى ته دقرينې څه ضرورت وو؟.قرينه خو د روند د هما پشان ده.كومه چه

---

(١) أعلام الحديث للخطابى (١\١٦٢، ١٦٣)_

(٢) فتح البارى(١\٨٨)_

دضرورت په وجه اخستې شي بيا ته د همسا څه ضرورت دې؟
خومحققين حضرات ﷭ فرمائي چه دا خبره ټيك ده چه نبي ﷺ ته د څه قرينې ضرورت نه وو خوكه څه قرينه هم موجود شي نوپه دې كښې څه قباحت دې؟
حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي اوحضرت مولانا رشيد احمد گنگوهي رحمهما الله فرمائي چه په دې آيت كښې چه د ظلم نه مراد شرك مراد اخستې شي.په دې باندې لفظ د ،،لبس،، دې كوم چه په دې خبره دال دې چه دلته د ظلم نه مراد عام معاصي نه دي بلكه شرك مراد دې.ځكه چه د ،،لبس،، معنى ده.دوه څيزونه په خپل مينځ كښې داسې خلط كول چه دهغې په مينځ كښې امتياز باقي پاتې نشي.دې ته وائي.اودا په هغه وخت كښې كيدې شي چه د دواړو محل يو وي. او دمحل اتحاد په ايمان او شرك كښې كيدې شي.ځكه چه قلب لكه څنگه چه د ايمان محل دې.دغه شان د شرك محل هم دې.حالانكه د نورو معاصي محل اكثراندامونه وي.قلب دهغې محل نه وي.ځكه نبي ﷺ دالله تعالى د مراد تعين په شرك سره اوكړو.مثلاً د شربت جوړيدو دپاره ضروري دى.چه چيني او اوبه دواړه په يومحل كښې وي.كه دواړه په دوو گلاسونوكښې جدا جدا وي.نوهلته خلط نه وي.كوم چه د شربت جوړيدو دپاره ضروري وي.

دا حضرات فرمائي.هركله چه نې دلته لفظ د «لبس»اووئيل.نومعلومه شوه. چه ايمان او ظلم دواړه به دواړه په يومحل كښې وي.اودا خبره ثابته شوې ده.چه محل دايمان قلب دې لكه څنگه چه نصوص په دې باندې ناطق دى.ځكه به د ظلم نه مراد هم هغه ظلم وي. دكوم محل چه زړه دې.اودكوم ظلم محل چه زړه دې.هغه شرك دې.دمعاصي تعلق اكثرد جوارحو سره وي.نولكه چه دا لفظ د ((لبس)) په دې باندې قرينه ده.چه دلته د ظلم نه مراد شرك دې. خوچونكه قرينه قطعي الدلالت څيز نه وي.بلكه ددې خلاف څيز ته هم ذهنونه متوجه كيدې شي.نوپه دې مقام كښې لكه چه جوارح او قلب دواړه جدا جدا محلونه دى.خوچه دا دواړه جدا جدا محل شمارل.دا يوه دقيقه مسئله ده.كه يوكس دا دواړه مجازاً او توسعاً په يوكس كښې محل واحد شماركړي.نوپه دې صورت كښې هم خلط متحقق كيږي.صحابه كرامو ﷡ هم دا اوگڼړل.اوهغوى په شبه كښې پريوتل.خونبي ﷺ داصل حقيقت خيال اوساتلو.اووې خودل چه شرك مراددې (١)

دايت د تفسيرپه سلسله كښې د معتزلو موقف اودهغې ترديد علامه زمخشري ددې آيت لاندې ليكلى دى(**الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ**) دى. **لم يخلطوا ايمانهم بمعصية تفسقهم وأبى تفسير الظلم بالكفر لفظ اللبس**»(٢)مطلب دا دې چه په آيت كښې كوم ظلم راغلې دې.ددې نه مراد معاصي دى.شرك اوكفر ترې مراد نه دې.ځكه چه دلته لفظ د ،،لبس،، استعمال شوې

(١) لامع الدراري (١\٥٧٢،٥٧٣) وفضل الباري(١\٤٣٣)
(٢) الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل (٢\٤٣) سورة الأنعام)

دي.دکوم معنى چه گډ وډ کول دی چونکه ایمان اوکفردواړه ضدین دی.په دواړوکښې اجتماع ممکن نه ده نود اختلاط سوال نه پیدا کیږی.اوهرکله چه اختلاط ممکن نه دې.نود ظلم نه د شرك اوكفر معنى اخستلو په ځائې به معاصى مراد اخستې شي.چونکه په دې آیت کښې داسې خلق چه دخپل ایمان سره ظلم خلط کوی غیرمامون او غیرمهتدی گرځولی شوی دی نوونیلې به شي.چه مرتکب د کبیرې به خارج عن الایمان اومخلد فی النار وی

بیا چونکه په حدیث کښې د ظلم تفسیر په صراحت سره په شرك سره شوې دې ددې دپاره معتزلو دا وئیلی دی.اوحدیث ئې رد کړې دې چه دا خبرواحد دې اودعقل نه خلاف دې.د هغوی په خیال کښې لکه څنگه چه دا حدیث د عقل نه خلاف دې دغه شان د قرآن کریم ددې آیت نه هم خلاف دې.څکه چه دایمان اوكفر خلط اولبس محال دې.څکه چه لبس اوخلط په هغه وخت کښې متحقق کیږی.چه د دواړو محل یو وی اوایمان اوشرك چونکه ضدین دی.اوضدینو اجتماع په محل واحد کښې په یووخت کښې ناممکن ده.نوهرکله چه فی نفسه دایمان او شرك لبس محال شو.نودظلم تفسیر په شرك سره څنگه کیدې شي؟

اهل سنت والجماعت یو الزامی جواب ورکړې دې.اووئیلې ئې دی چه تاسو وائې چه دایمان او شرك اجتماع محال ده.اودا اجتماع د نقیضینو ده.نوموږ ستاسو نه دا تپوس کوو.که ایمان اوشرك نقیضین دی.نوبیا ستاسو په نیز خو معصیت هم د ایمان نقیض دې.دارتکاب معصیت په وجه سړې دایمان نه خارجیږی.نوبیا دایمان اومعصیت اجتماع څنگه ممکن ده؟ اوبیا ددې چه په قرآن کریم کښې د ﴿وَلَمْ يَلْبِسُوٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ﴾ نفی شوې ده.ددې فائده څه ده؟کله چه اجتماع ممکن نه ده.نوددې نفی به عبث گرځولې شی

دغه شان که حدیث ته خبر واحد اووئیلې شی.نودهغه نص قرآنی به څه جواب وی په کوم کښې چه په صراحت سره ایمان او شرك جمع کړې شوې دې. فرمائی. ﴿وَمَا يُؤْمِنُ اَكْثَرُهُمْ بِاللّٰهِ اِلَّا وَهُمْ مُّشْرِكُوْنَ﴾(۱)

که معتزله دا جواب ورکړی.چه دلته د ایمان نه د دې لغوی معنی یعنی تصدیق بالقلب مراد ده.چه محل ئې قلب دې.اودا د معصیت سره جمع کیدې شی.څکه چه ددې محل جوارح دی.

نوهم دا جواب موږ هم ورکولې شو.چه ﴿اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ﴾ کښې دایمان نه ددې لغوی معنی یعنی صرف تصدیق مراد دې.اوشرك دایمان شرعی ضد دې.ددې سره نشی جمع کیدې.دایمان لغوی سره جمع کیدې شی.نواوس به د آیت مطلب دا شی.چه کوموخلقو یقین کړې دې.چه الله تعالی موجود دې.هغه خالق اومالك دې.هغه د ټولونه لوئې دې په دې طریقه چه دهغه د یقین سره د شرك ملاوټ نه وی.مثلاً داسې قسم عقیده نه لری چه الله تعالی خو د ټولونه لوئې دې.اود هغه سره واړه واړه معبودان هم شته.چاته چه

---

(۱) سورة يوسف:۱۰۶)_

په تکوینیاتوکښې په څه درجه د مستقل نفاذ اختیار شته.حالانکه د مشرکین مکه عقیده هم دا وه.یا دالله تعالی متعلق نې عقیده تړله صحیح وی.خوپه تشریع کښې دچا دپاره مستقل اختیار ثابت کړی.لکه یهود او نصاری چه د احبارواو رهبانیانو دپاره ثابتوی نو کوم کس چه ایمان راوړی.اوهغه په هغه طریقه اومنی اوبیا دې تسلیم سره دداسې قسم شرك بیخی ملاوټ اونکړی.نوصرف هغه خلق مامون او مهتدی کیدې شی.اوکه په الله تعالی باندې د یقین کولوباوجود شرك نه پریږدی.لکه څنګه چه دمشرکانو حالت وو.وڅنګه چه یهودواو نصاراؤ کولو.نوهغه یقین نه ایمان شرعی دې اونه دهغې په ذریعه امن او هدایت نصیب کیدې شی.

معلومه شوه چه د ظلم معنی شرك واخستې شی.دا خبره نه د عقل نه خلاف ده.اونه د قرآن کریم خلاف لازمیږی.بلکه چه دشرك معنی واخستې شی.نو د آیت معنی بیخی ښانسته او بې اعتراضه سمون خوری.

ددې نه علاوه که چرته د دې حدیث نه قطع نظراوکړې شی.نوبیا هم چه سیاق اوسباق ته نظراوکړې شی.نودا متعین کیږی چه دلته د ظلم نه مراد شرك دې.

ددې تفصیل دا دې چه ددې آیت نه د وړاندې رکوع په شروع کښې د شرك د رد بیان دې ﴿ قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا ﴾

(۱) بیا هم ددې مضمون په تائید کښې دحضرت ابراهیم عليه السلام واقعه ذکرشوې ده﴿وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً﴾ (۲) ددې لاندې دهغوی دخپل پلار سره مکالمه ذکرشوې ده اوبیا دتوحید په موثرانداز کښې اظهاربیان دې.وړاندې دحضرت ابراهیم عليه السلام په خپل قوم باندې انکار ذکرشوې دې.چاچه دوی سره حجت بازی کوله ﴿ اَتُحَآجُّوْنِّيْ فِي اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ وَلَآ اَخَافُ مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖ ﴾ (۳) ددې نه پس حضرت ابراهیم عليه السلام د استعجاب په طور فرمائی ﴿ وَكَيْفَ اَخَافُ مَآ اَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا ﴾(۴) ددې نه پس بطور تبکیت فرمائی﴿فَاَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ اَحَقُّ بِالْاَمْنِ﴾ (۵)

حضرت ابراهیم عليه السلام اووفرمائیل.ما ولې ویروئ.غور اوکړئ.چه چاته ویره پکار ده.هغه چاته چه دالله تعالی سره شرك کوی؟ یا څوك چه هغه د توحید علمبردار دې.اوس اوښائې.چه امن د چا دپاره پکار دې.لهذ ویرې څوك مستحق دې؟دلته د فریقنو مصداق ښکاره دې.چه یو حضرت ابراهیم عليه السلام دې.اوبل دهغوی قوم دې.څوك چه په شرك کښې اخته وو.اوحضرت

(۱) سورة الأنعام: ۷۱)
(۲) سورة الأنعام: ۷۴)
(۳) سورة الأنعام: ۸۰)
(۴) سورة الأنعام: ۸۱)
(۵) سورة الأنعام: ۸۱)

ابراهيم عليه السلام نې هم هغه طرف ته رابللو خکه چه خبره دلته هم ددغه خلقو سره کيږي.اود پورتنو تولو آياتونو مخاطبين هم دغه خلق دي.نود فريقينو مصداق دلته يقيني طورمتعين دي چه يوحضرت ابراهيم عليه السلام دي چه توحيد طرف نې رابلل کولو اودويمه ډله دهغوی قوم وو چه په شرك کښې اخته وو.ددغه فريقينو په باره کښې استفسارکولې شی.چه ﴿فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ﴾ هم ددې استفساريه جواب کښې الله تعالى فرمائی ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُم بِظُلْمٍ أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ﴾ اوس پخپله په غورسره اوګورئ چه دلته د ظلم نه څه مراد اخستل پکار دي.نوښکاره ده.چه تبوله رکوع د شرك په بيان کښې ده.اوهم په دې باره کښې سوال اوجواب ذکرکولې شی.ددې نه بيخي ښکاره کيږي چه دلته د ظلم نه مراد شرك دې.ګنی دسوال د جواب سره مطابقت نه راځي.

بيا که چيرته مونږ د لږ وخت دپاره دا خبره اومنو چه دلته دظلم نه مراد معصيت دې شرك نه دې.نوبيا هم د معتزلو دا دعوه نه ثابتيږي چه مرتکب د کبيرة مخلدفی النار دی

ددې وجه دا ده.چه په «وَهُم مُّهْتَدُونَ» کښې دوه احتماله دی.يو «أمن من الدخول فی العذاب» يعنی دنفس عذاب نه په امن کيدل.اوبل«أمن من الخلود فی العذاب» يعنی د هميشه عذاب نه په امن کيدل.معتزله دخپل مسلك دپاره په دې آيت باندې په هغه وخت کښې استدلال کولې شی.چه په ﴿أُولَٰئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ﴾ کښې په يقين سره دا متعين کړی.چه دلته د ..امن.. نه «أمن من الخلود» مراد دې.اومعتزله دا په يقين سره نشی ثابتولې.خکه چه دلته دويم احتمال «أمن من الدخول» هم دې.کوم چه په دې خبره باندې دلالت کوی.چه مرتکب د کبيرې مونږ د «دخول فی النار» مستحق ګڼړو.حالانکه د معتزلو دعوه د خلود فی النار ده. دکوم چه په يقين سره اثبات دلته نشی کيدې.() والله أعلم بالصواب.

فَأَنْزَلَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ: () يعنی کله چه حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم اوويريدل.اوهغوی سره فکرشو.نوتپوس نې اوکړو. چه په مونږ کښې به څوك داسې وی. چه هغه به ظلم نه وی کړې.نوالله تعالى آيت نازل کړو.﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾

ددې سياق نه معلوميږی.چه د آيت د نزول سبب د صحابه کرامو رضی الله عنهم تپوس اواستفسار وو.حالانکه ددې حديث د نورو طرقو نه معلوميږی.چه د ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾ آيت ددې نه وړاندې نازل شوې وو.خکه چه په صحيح بخاری کتاب التفسير د روايت الفاظ دا دی.

«إنه ليس بذاك ألا تسمع إلى قول لقمان لابنه ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾» ()

() دا تول تفصيل د فضل البارى(۱۱\۴۳۴و ۴۳۶) نه ماخوذ دې۔

() سورة لقمان:۱۳)۔

() صحيح بخاری(۱۲\۷۰۴)کتاب التفسير تفسير سورة لقمان باب قوله﴿ لاتشرک بالله إن الشرک لظلم عظيم﴾

دغه شان د دواړو په سياق كښې تعارض راځي.
په دې دواړو سياقونوكښې د جمع اوتطبيق صورت دا دې چه كله صحابه كرامونځ اشكال اوكړو.نوهم په هغه وخت كښې سمدستي د سورة لقمان آيت نازل شو.نو نبیﷺ صحابه كرامونځ ته جواب وركړواودا تعبير ئې اختيار كړو.((إنه ليس بذاك ألا تسمع إلى قول لقمان..))(١) والله أعلم.
علامه شبيراحمدعثماني رحمه الله د دې دواړو په مينځ كښې داسې تطبيق كړې دې چه په حديث مبارك كښې د((فأنزل الله)) اطلاق توسعاً شوې دې.لكه څنگه چه مونږ يو زناكاره وايو.چه ستاسو په حق كښې الله تعالى دا آيت نازل كړې دې.﴿ اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ﴾
يا يوغل ته اووئيلى شي.چه ستا په حق كښې دا حد الله تعالى نازل كړې دې﴿ وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْا اَيْدِيَهُمَا ﴾ هرسړې په دې پوهيږى.چه ددې نه مراد دا دې.چه ته هم ددې آيت مصداق ئې.اوستاد معاملې فيصله اوحكم ددې آيت نه معلوميږى.حالانكه آيت د زنا او د غلا د نن نه تقريباً څوارلس سوه كاله وړاندې نازل شوى دى.په دې ځائې كښې هم د ((فأنزل الله))نه هم دا مراد دې.چه تاسوته كومه شبه يا اشكال راغلو.نو ددې اشكال فيصله ددې آيت نه معلوميږى.(٢) والله أعلم.
دحديث الباب د ترجمة الباب سره مطابقت. دحديث دترجمة الباب سره څنگه مطابقت دې؟ نوحضرت علامه عيني رحمه الله فرمائى.چه صحابه كرامونځ معاصى ظلم اوگنړل.اونبیﷺ كفراوشرك ظلم اوگرځولو .نومعلومه شوه.چه بعضې ظلم كفر دې اوبعضې ظلم كفر نه دې.په دې سره د مراتبو فرق په پوهه كښې راځي.او((ظلم دون ظلم))ثابتيږى.(٣)
شيخ الاسلام علامه شبيراحمدعثماني رحمه الله فرمائى.چه د مطابقت د اثبات دپاره دومره لرې تلو ته ضرورت نشته.په ﴿ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيْمٌ ﴾ كښې د ((عظيم)) لفظ په مراتبو باندې صراحة دلالت كوى.ددې نه معلوميږى.چه وركوټې ظلم هم شته.كوم چه ((مادون الشرك)) دې.(٤)والله أعلم.

---

(١) فتح البارى(١١\٨٨)_
(٢) فضل البارى(١١\٤٣٢)_
(٣) عمدة القارى(١١\٢١٣)_
(٤) فضل البارى(١١\٤٣٣)_

٢٣ = باب علامة المنافق

منافق د نفاق نه اسم فاعل دې نفاق وائى دباطن د ظاهر نه مخالفت ته. د شرع په اصطلاح كښې نفاق دا دې چه سړې په ظاهره مسلمان وى اوپه باطن كښې كافر وى.(١)
ددې دوه مأخذ خودلې شوى دى
① ياخودا د ..نفق.. نه ماخوذ دې اونفق سوړنګ ته وائى لكه څنګه چه سړې په سوړنګ كښې ورننوځى اوبل طرف ته اوځى دغه شان منافق هم په ظاهره ځان مسلمان ښكاره كوى اوپه باطن كښې كفرپټوى اوپه دننه لاره كښې د ايمان نه اوځى.(٢)
② يادا د ..نافقاء.. نه ماخوذ دې اونافقاء دصحرا د مږې سوړې ته وائى په اصل كښې صحرائى مږه چه كومه سوړه جوړوى نود هغې دوه سرونه وى په يوطرف په سوړه كښې ورننوځى اوددې بلې سوړې خوله لږه غوندې پټه وى اوبيخى چه دواړو طرفونو ته سوړې وى د دې په ځائې داسې وى چه دپاسه پرې د خاورې لږه غوندې حصه باقى وى نوښكاره خولې ته ئې قاصعاء وائى اوكومه چه پټه وى هغې ته ..نافقاء.. وائى كله چه ښكارى راشى نو مږه د قاصعاء په ذريعه دننه ورځى اونافقاء په خپله خوله په زوره سره اووهى په هغې باندې چه كومه لږه غوندې خاوره وى هغه لرې شى اوهغه د دننه نه رابهرشى دغه شان منافق په ظاهرى لاره په ايمان كښې داخليږى اوپه باطنى لاره د ايمان نه اوځى.(٣)
دترجمې مقصود امام نووى رحمه الله فرمائى چه دامام بخارى رحمه الله ددې ترجمې نه مقصود دا خودل دى چه په معاصى سره په ايمان كښې كمې راځى لكه څنګه چه په طاعاتو سره په ايمان كښې زيادت راځى.(٤)
علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله دا خودل غواړى چه د نفاق ډيرې نښې دى اوس چه په چا كښې څومره نښې وى هغه هومره به هغه منافق وى نود نفاق مختلفې مرتبې دى لكه څنګه چه د كفر اوظلم مختلف مراتب دى بعضې مرتبې خوداسې دى چه دهغې په ارتكاب سره سړې دايمان نه بهرته اوځى لكه چه د زړه نه په الله تعالى باندې ايمان نه ساتى اګرچه په ظاهره باندې خپل ځان مومن ښكاره كوى اوبعضې مرتبې داسې دى چه دهغې په ارتكاب سره سړې دايمان نه نه خارجيږى البته دا ده چه په هغې كښې دمنافقانو بعضې صفات راځى لكه «كذب فى الحديث ، اخلاف فى الوعد، خيانت فى الأمانة، غدر فى المعاهدة، فجور فى الخصومة» دا اوصاف په احاديثو كښې ذكرشوى دى.(٥)

---

(١) فتح البارى (٨٩/١)_
(٢) النهاية فى غريب الحديث (٩٨/٥) ومعجم مقاييس اللغة (٤٥٥/٥)_
(٣) المصدر السابق)_
(٤) فتح البارى (٨٩/١)_
(٥) شرح كرمانى (١٥٢/١)_

دا هم ممکن ده چه د باب نه دامام بخاری رحمه الله د مرجئو تردید وی هغه داسې چه گوری ناسو وائي چه معصیت مضر نه دې اودلته بعضې گناهونه د نفاق نښې خودلې شوې دی نبی ﷺ د داسې صفاتوپه حاملینوباندې دمنافق حکم لگولې دې نودا خبره چه معصیت مضرنه دې غلطه ده که چیرته معصیت مضر نه وو. نو په دوی به د منافق حکم نشو لگولې.()

[۳۳] حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ أَبُو الرَّبِيعِ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ أَبُو سُهَيْلٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ [۵۴۲۳،۲۵۹۸،۲۵۳۶]

رجال الحديث

قوله: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ أَبُو الرَّبِيعِ: دوی ابوالربیع سلیمان بن داؤد عتکی زهرانی بصری نزیل بغداد دی.د امام مالك.فلیح بن سلیمان.حماد بن زید .ابوعوانه. اواسماعیل بن جندب رحمهم الله وغیره نه ئې روایت کوی.

امام بخاری.امام مسلم.امام ابوداؤد .امام احمد اوامام اسحاق رحمهم الله ددوی نه احادیث نقل کړی دی.

امام یحیی بن معین.ابوزرعه.ابوحاتم. اونسائی رحمهم الله دوی لره ثقه گرځولې دې

عبدالرحمن بن یوسف بن خراش رحمه الله فرمائی.((تکلم الناس فیه وهو صدوق)) یعنی محدثینو رحمهم الله په ده باندې کلام کړې دې.خودې صدوق دې.

خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.((ثقة لم یتکلم فیه أحد بحجة)) یعنی دوی ثقه دی.په دوی باندې په دلیل سره چا هم کلام نه دې کړې.

په ۲۳۴ھ کښې وفات شوی وو.()

قوله: قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ: دوی ابواسحاق بن جعفربن ابی کثیرانصاری زرقی مدنی دی.د اهل مدینې قاری وو.

دوی د سهیل بن ابی صالح.علاء بن عبدالرحمن بن یعقوب.عبدالله بن دینا . نافع بن مالك بن ابی عامر رحمهم الله وغیره نه روایت کوی.اوددوی نه روایت کونکوکښې قتیبه بن علی بن حجر.یحیی بن یحیی رحمهم الله وغیره دی.

امام احمد .ابوزرعه.اونسائی رحمهم الله فرمائی،،ثقة،،

) فضل الباری(۱\۴۳۷)-

) تهذیب الکمال(۱۱\۴۲۳، ۴۲۵) وعمدة القاری(۱\۲۱۸) وخلاصة الخزرجی (۱۵۱) وتقریب التهذیب (۲۵۱) رقم ۲۵۵۶)_

محمدبن سعد رحمه الله فرمائي: «ثقة وهو من أهل المدينة قدم بغداد فلم يزل بها حتى مات وهو صاحب الخمس مائة حديث التي سمعها منه الناس»

اصحاب اصول ستة ددوى نه احاديث نقل كړى دى.

دوى په بغداد كښې په كال ١٨٠هـ كښې وفات شوې وو (١)

قوله قَالَ حَدَّثَنَا نَافِعُ بْنُ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ أَبُو سُهَيْلٍ: دوى ابوسهيل نافع بن مالك بن ابى عامراصبحى تيمى مدنى رحمه الله دى. كوم چه د بنو تيم حليف اودامام مالك رحمه الله تره وو.

دحضرت انس بن مالك. حضرت سهل بن سعد الساعدى. حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه دغه شان دحضرت سعيدبن المسيب. حضرت على بن الحسين. حضرت عمربن عبدالعزيز. حضرت قاسم بن محمد بن ابى بكر الصديق اودخپل پلار مالك بن ابى عامر اوابوبرده بن ابى موسى الاشعرى رحمهم الله نه ئې دحديثو روايت كړې دې.

ددوى نه اسماعيل بن جعفر بن ابى كثيرسليمان بن بلال. عبدالعزيزدرآوردى. امام مالك او امام زهرى رحمهم الله وغيره محدثين روايت كړې دې.

امام احمد. ابوحاتم. اونسائى رحمهم الله دوى لره ثقه ګرخولى دى. ابن حبان رحمه الله دوى په خپل كتاب كښې ثقه ګرخولى دى. اصحاب اصول سته ددوى نه روايات نقل كړى دى.

د ١٤٠هـ نه پس ددوى وفات شوې دې. (٢) رحمه الله تعالى.

عَنْ أَبِيهِ: دوى ابوانس مالك بن ابى عامر اصبحى مدنى دى. ابومحمد هم ددوى كنيت دې. دوى دامام مالك رحمه الله نيكه وو.

دحضرت عمر. حضرت عثمان. حضرت طلحه بن عبيدالله. حضرت ابوهريره. او حضرت عائشې رضي الله عنهم نه ئې دحديثو روايت كړې دې.

ددوى نه ددوى خوى انس بن مالك بن ابى عامر. ربيع او ابوسهيل. نه علاوه سالم ابو النضر. سليمان بن يسار. اومحمد بن ابراهيم تيمى رحمهم الله روايت كړې دې

محمدبن سعد رحمه الله فرمائي. «كان ثقة وله أحاديث صالحة» عجلى رحمه الله فرمائي. «مدني تابعي ثقة»

امام نسائى هم ددوى توثيق كړې دې.

د صحيح قول مطابق ددوى وفات په ٧٤هـ كښې شوې دې. اوواقدى رحمه الله فرمائي. چه ددوى وفات په ١١٢هـ كښې د اويا يا دوه اويا كالو په عمر كښې شوې دې.

---

(١) تهذيب الكمال(٣\٥٦- ٦٠) وعمدة القارى(١\٢١٨) وخلاصة الخزرجى (ص.٣٣) وتقريب التهذيب (١٠٦) رقم ٤٣١)_

(٢) تهذيب الكمال(٢٩\٢٩٠. ٢٩١) وعمدة القارى (١\٢١٨) وخلاصة الخزرجى(ص.٣٩٠) وتقريب (ص.٥٥٨) رقم ٧٠٨١)_

خوحافظ منذرى رحمه الله فرمائى چه دا خبره بيخى غلطه ده ددې په غلطئ كښې څه شك نشته ځكه چه دوى دحضرت عمر رضي الله عنه اودهغوى نه روسته حضراتو نه د حديث روايت كړى دې.كه په ۱۱۲ﻫ كښې د دوه اويا كالو په عمركښې ددوى وفات اومنلې شى.نوددوى پيدائش به په ۴۰ﻫ كښې منل پكاروى.حالانكه دحضرت عمر رضي الله عنه شهادت په ۲۳ﻫ كښې شوې دې اودحضرت عثمان رضي الله عنه شهادت په ۳۵ﻫ كښې شوې دې اودحضرت طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه شهادت د جنګ جمل ۳۶ﻫ په موقع شوې دې اوددوى سماع ددې ټولو حضراتو ثابته ده.

علامه عينى رحمه الله د واقدى رحمه الله دقول د صحت دپاره دا تاويل كړې دې. چه واقدى چه څه ونيلى دى.چه «توفي ثنتى عشرة ومائة وهو ابن سبعين أو اثنتين وسبعين سنة» په دې كښې ..سبعين.. په اصل كښې د..تسعين.. تصحيف دې.اوپه اصل كښې ..تسعين.. دې كه د دوى پيدائش نوى يا دوه نوى كالو په عمر كښې اومنلې شى.نو د دوى د پيدائش كال به ۲۰ﻫ وى. (۱)خوښكاره ده.چه په دې صورت كښې دحضرت عمر رضي الله عنه مطلق روايت ثابتيږى د روايت ثبوت مشكل دې.والله أعلم.

قوله: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ :(۲) دحضرت ابوهريره رضي الله عنه تفصيلى حالات وړاندې د «باب أمورالإيمان»لاندې تير شوى دى.

قوله: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ : حضرت ابوهريره رضي الله عنه د نبى صلى الله عليه وسلم نه نقل كوى.چه نبى صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى.د منافق نښې درې دى.

دلته «آية»مفرد دې.اومبتدء ده.او«ثلاث»خبر دې.په ده كښې تعدد دې. اودا قاعد ده چه په مفرد او جمع كښې او په مبتدا او خبر كښې مطابقت ضرورى وى.دلته په مبتدا او خبره مينځ كښې د افراد او جمعې په اعتبارسره مطابقت نشته.

ددې يو جواب دا دې.چه دلته د «آية»نه مراد جنس دې.نو د «ثلاث»حمل په «آية»باندې صحيح دې.ابوعوانه رحمه الله په خپل صحيح كښې د «علامات المنافق»په الفاظو سره روايت نقل

---

(۱) تهذيب الكمال(۲۷ \ ۱۴۸، ۱۵۰) وعمدة القارى(۱\۲۱۸، ۲۱۹) وخلاصة الخزرجى (ص.۳۶۷) وتقريب(۵۱۷) رقم ۶۴۴۳) دا خبره دې ياده وى.چه په خلاصة الخزرجى كښې ددوى د وفات په باره كښې ليكلى دى.قيل توفى سنة أربع وتسعين..كيدې شى.چه دا د سبعين نه تصحيف وى) والله أعلم)

(۲) الحديث أخرجه البخارى فى كتاب الشهادات باب من أمر بإنجاز الوعد رقم ۲۶۸۲ وفى كتاب الوصايا باب قول الله عزوجل ﴿من بعد وصية يوصى بها أو دين﴾ رقم ۲۷۴۹ وفى كتاب الأدب باب قول الله تعالى ﴿ يايهاالذين آمنو اتقوا الله وكونوا مع الصادقين ﴾ رقم ۶۰۹۵ ومسلم فى صحيحه (۱\۵۶) كتاب الإيمان باب خصال المنافق والنسائى فى سننه (۲\۲۷۰) فى كتاب الإيمان وشرائعه باب علامة المنافق والترمذى فى جامعه فى كتاب الإيمان باب ما جاء فى علامة المنافق رقم ۲۶۳۱)_

کړي دي.(١)

بعضي حضراتو دا جواب ورکړي دي چه د «ثلاث» مطلب دا دي چه دا دري واړه یو ځائې شي نو یوه نښه ده (٢)خودا جواب لرې دي ظاهره دا ده چه دري واړه جدا جدا مستقل طور د نفاق نښې دی. والله أعلم.

قوله: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ: کله چه خبرې کوی نو دروغ وائی

قوله: وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ: اوکله چه وعده اوکړی نو وعده ماتوی.

که د «وعد» لفظ که مفعول ذکرکړي شی نوخیراوشردواړه کښې استعمالیږی اوکه مفعول حذف کړي شي نو «وعد» د خیر دپاره او «ایعاد» او«وعید» د شر دپاره استعمالیږی.(٣)

البته ابن الاعرابی رحمه الله وائی چه د«ایعاد» استعمال دخیردپاره هم کیږی خودا کله کله وی.(٤)

بیا دلته په یوه بله خبره باندې پوهه شئ چه وعده خلافی په هغه وخت کښې مذموم او د نفاق نښه ده کله چه د وعدې کولو په وخت کښې د وعدې د مخالفت اراده وی که د وعدې په وخت کښې ئې د پوره کولو نیت وی او روسته د څه مجبورئ په وجه ئې پوره نکړي شی نودا نقصان نه دي په سنن ابی داؤد او جامع ترمذی کښې د حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه نه روایت دي «إذا وعد الرجل أخاه ومن نیته أن یفی له فلم یف ولم یجئ للمیعاد فلا إثم علیه(٥)» اللفظ لأبي داود.

دغه شان د حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه نه مرفوعاً مروی دی «وإذا وعد وهو یحدث نفسه أنه یخلف»(٦)

---

(١) فتح الباری(١\٨٩) وشرح کرمانی(١\١٤٧)-

(٢) المصدرالسابق)_

(٣) قال الفراء:یقال وعدته خیراً ووعدته شراً فإذا أسقطو ا الخیر والشر قالوا فی الخیر والوعد. والعدة- وفی الشر الإیعاد والوعید کذا فی مختار الصحاح (٧٢٨) وعمدة القاری(١\٢٢٠)_

(٤) عمدة القاری(١\٢٢٠)_

(٥) سنن أبي داود کتاب الأدب باب فی العدة رقم ٤٩٩٥ وجامع ترمذی کتاب الإیمان باب ما جاء فی علامة المناق رقم ٢٦٣٣) ددې حدیث په سند کښې ابوالنعمان او ابو وقاص دی دې دواړو په باره کښې امام ترمذی فرمانی.((ولا یعرف أبوالنعمان ولا أبو وقاص وهما مجهولان))-

(٦)معجم طبرانی کبیر(٦\٢٧٠) رقم ٦١٨٦) ومجمع الزوائد (١\١٠٨) کتاب الإیمان باب فی النفاق وعلاماته وذکر المنافقین) ددې حدیث په سند کښې هم ابوالنعمان او ابو وقاص دی کوم چه مجهول دی تعجب دې چه حافظ ابن حجر رحمه الله دا دواړه په تقریب التهذیب ،٦٧٩و ٦٨٢، کښې مجهول گرځولی دی اوددې باوجود په فتح الباری کښې لیکی (١\٩٠)، وإسناده لا بأس به لیس فیهم من أجمع علی ترکه))_

قوله: وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ: اوكله چه ده سره امانت كيخودې شى نوخيانت كوى.
بعضې عالمانودا درې واړه علامات د نفاق نښه ګرځولو دپاره يوه نكته بيان كړې ده.چه د
دين انحصار په درې څيزونو باندې دې قول فعل او نيت.نو په فساد قول باندې ..كذب..
سره او په فساد فعل باندې ئې په ..خيانت.. سره او په فساد نيت باندې ئې په ..اخلاف
وعده.. تنبيه وركړه (١)
ددې حديث سره متعلقه څه ابحاث د راوړان حديث په تشريح كښې راځى.

[٣٤]حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ عُقْبَةَ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ عَنِ الْأَعْمَشِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُرَّةَ عَنْ مَسْرُوقٍ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ تَابَعَهُ شُعْبَةُ عَنِ الْأَعْمَشِ [٢٣٢٧،٣٠٠٧]

رجال الحديث

قوله: حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ بْنُ عُقْبَةَ: دوى قبيصه بن عقبه بن محمد بن سفيان السوائى كوفى دى.ابوعامر ئې كنيت دې.(٢)
د اسرائيل بن يونس،حماد بن سلمه ،سفيان ثورى.شعبه.فطربن خليفه.مالك بن مغول او د ابو رجاء رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.(٣)
دوى نه په روايت كونكو كښې امام بخارى،اما احمد بن حنبل،محمود بن غيلان، او عباس دورى رحمهم الله وغيره محدثين عظام دى.
دوى په زهد او ورع. صلاح او استغناء باندې موصوف وو.حفص بن عمر رحمه الله فرمائى.((ما رأيت مثل قبيصة بن عقبة ما رأيته مبتسما قط من عباد الله الصالحين))(٤)
دهناد بن السرى رحمه الله وراندې چه به كله ددوى ذكر اوشو.نو په ژړا به شو.او فرمائيل به ئې.((الرجل الصالح))(٥)
جعفربن حمدويه رحمه الله بيان كوى.چه مونږ د قبيصه د دروازې سره ولاړ وو. زمونږ سره دلف

---

(١)فتح البارى (١\٩٠)_
(٢) تهذيب الكمال(٢٣\٤٨١)و ٤٨٣) وخلاصة الخزرجى(٣١٤)_
(٣) المصدر السابق)_
(٤) تهذيب الكمال(٢٣\٤٨٧)_
(٥) المصدر السابق)_

بن ابى دلف هم وو اودهغه سره ډير خادمان هم وو هغه دروازه اوتكوله قبيصه په راووتلو كښې وخت اولګولو نو خادمانو دوباره آواز وركړو او وې وئيل «ابن ملك الجبل على الباب وأنت لاتخرج إليه» چه دا ئې واوريدو نو قبيصه راووتلو په داسې حالت كښې چه د هغوى د ځادر په پلوسكى پورې د روټۍ ټكړې وې چه راغلو نو وې فرمائيل «رجل قد رضي من الدنيا بهذا ما يصنع بابن ملك الجبل؟» يعنى كوم كس چه قناعت اختياركړى وى دچا ګذاره چه په دې ټكړو باندې كيږى هغه به د شهزاده نه څه واخلى؟ددې نه پس ئې اوفرمائيل «والله لا حدثته» په الله قسم زه ده ته احاديث نه اوروم اوبيا ئې ورته وانه رول. (۱)

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى «كثير الغلط وكان ثقة صالحاً لا بأس به» (۲)

امام يحيى بن معين رحمه الله فرمائى «هو ثقة إلا في حديث الثورى» (۳)

دغه شان دوى فرمائى «ليس بذاك القوى وقال ثقة في كل شئ إلا في سفيان» (۴)

ابن القطان رحمه الله فرمائى «يروى عبد الحق في أحكامه لقبيصة ولا يعرض له وهو عندهم كثير الخطأ» (۵)

امام احمد رحمه الله فرمائى «كان صغيراً لا يضبط وكان صالحاً ثقة» (۶)

ددې اقوالوخلاصه دا ده چه عالمانود رجالو رحمهم الله ده لره «كثير الغلط، كثير الخطأ، ضعيف في حديث الثورى» ګرځولې دې.

تركومې پورې چه د سفيان ثورى رحمه الله په حديث كښې دضعف خبره ده نودا ددې وجې قابل تسليم نه ده چه ددوى عمر په هغه وخت كښې شپاړس كاله وو كله چه دوى د سفيان ثورى رحمه الله نه سماع كوله اومسلسل درې كاله ئې د هغوى نه سماع كړې وه (۷) اوښكاره خبره ده چه دشپاړس كالو عمرد تحصيل حديث دپاره كم نه دې.

اوبياكومو كسانو چه دوى لره د سفيان ثورى رحمه الله په حديث كښې ضعيف ګرځولې دې نو ورسره بعضې نورو محدثينو رحمهم الله ددوى توثيق هم كړې دې. او دسفيان ثورى رحمه الله نه ئې روايت كول معتبر ګرځولى دى ابوحاتم رحمه الله فرمائى «لم أر من المحدثين من يحفظ ويأتى بالحديث

---

(۱) تهذيب الكمال (۲۳\۴۸۸)_

(۲) ميزان الإعتدال (۳\۳۸۳)_

(۳) المصدر السابق)_

(۴) المصدر السابق)_

(۵) ميزان الإعتدال (۳\۳۸۴)_

(۶) المصدر السابق)_

(۷) تهذيب الكمال (۲۳\۴۸۸) وميزان الإعتدال (۳\۳۸۴)_

على لفظه لايغيره سوى قبيصة وأبى نعيم فى حديث سفيان...»(١)

دفريابى رحمه الله نه تپوس اوشو «رأيت قبيصة عند سفيان؟» نوهغوى اوونيل «نعم رأيته صغيرا» مطلب دا دې كله چه هغوى د سفيان ثورى رحمه الله نه سماع كوله نو وړكوټې وو. ددې وجې به ددوى روايت قبول نه وى. ابوزرعه رحمه الله فرمائى. چه ما دا خبره محمدبن عبدالله بن نمير رحمه الله ته ذكركړه. نو هغوى اوفرمائيل. «لوحدثنا قبيصة عن النخعى لقبلنا منه» يعنى د سفيان ثورى رحمه الله نه خو ددوى سماع ثابته ده. ددوى نه لوئې عالم چه حضرت ابراهيم نخعى رحمه الله دې كه قبيصه دهغه نه هم روايت اوكړى. مونږ به ئې قبلوو.(٢)

امام ابوداود فرمائى. «كان قبيصة لايحفظ ثم حفظ بعد»(٣)

د فضل بن سهل رحمه الله بيان دې. «كان قبيصة يحدث بحديث سفيان على الولاء درساً درساً حفظاً»(٤)

امام نسائى رحمه الله فرمائى. «ليس به بأس»(٥)

امام اسحاق بن سيارنصيبى رحمه الله فرمائى(٦)

تركومې چه دكثيرالغلط والخطاء تعلق دې نوحافظ ذهبى رحمه الله فرمائى. «بل هو محتج به عندهم موثق مع وجود غلطه»(٧)

بيا كه دسفيان ثورى رحمه الله په احاديثوكښې دوى لره ضعيف هم ګڼړلې شى. نودا څه نقصان نه دې. ځكه چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى. «من كبار شيوخ البخارى أخرج عنه أحاديث عن سفيان الثورى، وافقه عليها غيره»(٨) يعنى ددوى دكومواحاديثو تخريج چه امام بخارى رحمه الله كړې دې. نودهغې احاديثو موافقت او متابعت نورو كړې دې. په دې مقام كښې امام شعبه رحمه الله د دوى متابع دې. «كما سيأتى»

دصحيح قول مطابق په ٢١٥ هـ كښې دوى وفات شوى دى.(٩) رحمه الله رحمة واسعة

---

(١) ميزان الإعتدال(٣\٣٨٣) وتهذيب الكمال(٢٣\٤٨٦)_
(٢) تهذيب الكمال(٢٣\٤٨٥) وميزان الإعتدال(٣\٣٨٤)_
(٣) هدى السارى(ص.٤٣٦) وميزان الإعتدال(٣\٣٨٤) وتهذيب الكمال(٢٣\٤٨٦)_
(٤) تهذيب ا لكمال(٢٣\٤٨٧) وهدى السارى(٤٣٦)_
(٥) تهذيب الكمال(٢٣\٤٨٧) وميزان الإعتدال(٣\٣٨٤) وهدى السارى(ص.٤٣٦)_
(٦) ما رأيت من الشيوخ أحفظ من قبصية بن عقبة)) () ميزان الإعتدال(٣\٣٨٤) وتهذيب الكمال٢٣\٤٨٦)_
(٧) ميزان الإعتدال(٣\٣٨٤)_
(٨) هدى السارى(ص.٤٣٦)-
(٩) عمدة القارى(١\٢٢٣) وتقريب التهذيب(٤٥٣) رقم ٥٥١٣)_

قوله قَالَ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ: دوى مشهور امام حديث تبع تابعى ابوعبدالله سفيان بن سعيد بن مسروق ثورى كوفى رحمه الله دى
زيادبن علاقه، حبيب بن ابى ثابت، اسود بن قيس، حمادبن ابى سليمان او زيد بن اسلم رحمهم الله غوندې په سوونو اساطين علم نه ئې حديث حاصل كړى دى
بخپله ددوى نه د روايت كونكو شمار زرګونو ته رسى دوى مستقل د يو فقهى مكتب نكرامام وو د مذاهب اربعه پشان ددوى په مذهب باندې هم عمل كولې شو خو روسته ددوى متبعين ختم شول اومذاهب اربعه ته الله تعالى دوام نصيب كړو
ددوى په جلالت قدر، كثرت علوم، صلابت دين، توثق وامانت، زهد وصلاح او حفظ واتقان باندې د ټولوعالمانو رحمهم الله اتفاق دې
امام شعبه، سفيان بن عيينه، ابا عاصم النبيل، يحيى بن معين رحمهم الله نه علاوه نورو حضراتو هم دوى لره ((أميرالمؤمنين في الحديث)) ګرځولى دى
امام عبدالله بن المبارك رحمه الله فرمائى ((كتبت عن ألف ومئة شيخ ماكتبت عن أفضل من سفيان))
حافظه ئې ډيره مضبوطه وه، كومه خبره چه به ئې يوځل واوريده هغه به ورته هميشه دپاره ياده وه، بخپله فرمائى ((مااستودعت قلبى شيأقط فخانى))
امام شعبه رحمه الله فرمائى ((إن سفيان سادالناس بالورع والعلم))
قبيصه بن عقبه رحمه الله فرمائى ((ما جلست مع سفيان مجلساً إلا ذكرت الموت وما رأيت أحداً كان أكثر ذكرللموت منه))
يوسف بن اسباط رحمه الله فرمائى چه سفيان ثورى رحمه الله دماخوستن دمنځه نه پس ماته اوفرمائيل چه ماته د اودس دپاره لوټه راكړه، ماورته لوټه وركړه هغوى د ښى لاس باندې لوټه اونيوله اوكيڼ ګس لاس ئې په خپله سينه باندې كيخودو زه خولاړم اوده شوم، اود صبا راختو نه پس چه ما اوكتل نوهغوى هم په دغه حالت كښې وو ما هغوى ته عرض اوكړو حضرت صبا راختلې دې، نو وې فرمائيل ما دغه وخت نه تراوسه پورې د آخرت په باره كښې سوچ كولو.
سفيان ثورى رحمه الله به د امراء او حاكمانونه هميشه دپاره اجتناب كولو اوعلمى وقارئې هميشه دپاره حفاظت كولو.
يوكس دوى سره څه اشرفئ اوليدې نو وې ونيل ((تمسك هذه الدنانير)) نو دوى اوفرمائيل ((أسكت فلولا هذه الدنانير لتمندل بنا هولاء الملوك))
ددوى په زرينو اقوالو كښې دى ((أحب أن يكون صاحب العلم في كفاية فإن الآفات إليه أسرع والألسنة إليه أسرع)) يعنى پكار ده چه صاحب علم اسوده حال وى ځكه چه مصيبتونه ده طرف په تيزئ سره راځى اوپه ده باندې اعتراضونه هم زر شروع كيږى.

بهرحال ددوى فضائل اومناقب بيشميره دى خطيب بغدادى رحمه الله ليكى صحيح ونبلي دى «كان إماماً من أئمة المسلمين وعلماً من أعلام الدين مجمعاً على أمانته بحيث يستغنى عن تزكيته مع الإتقان والحفظ والمعرفة والضبط والورع والزهد»

ابوجعفرمنصور چه كله د حج دپاره مكې ته روان شو نوهغه خپل نوكرانوته اووئيل چه سفيان ثورى رحمه الله بنديوان كړئ اوپه سولئ ئې كړئ نود پهانسئ تخته تياره كړې شوه او ددوى د نيولودپاره اعلان اوشو په هغه وخت كښې د دوى سر د فضيل بن عياض رحمه الله په غيږ كښې وو اودواړه پښې ئې د سفيان بن عيينه رحمه الله په غيږ كښې وې دغه دواړه حضراتو دوى ته عرض اوكړو ابوعبدالله دالله دپاره تاسو پټ شئ الله دې نكړى چه په تاسو مصيبت راشى. نوپه مونږ تولوپورې به دشمنان خندا كوى چه دا ئې واوريدل نوحضرت سفيان ثورى رحمه الله پاسيدلو د بيت الله غلاف ئې اونيولو اوقسم ئې اوخوړلو چه ابوجعفربه مكې ته نه داخليږى. نو بيا څه وو «رب أشعث مدفوع بالأبواب لو أقسم على الله لأبره»(١) مصداق جوړ شو ابوجعفر منصورمكې ته ورنزدې شوې وو لاداخل شوې نه وو چه مړ شو.

ددوى پيدائش په ۹۷ه كښې شوې وو او وفات ئې په ۱۶۱ه كښې شوې وو.

سعيربن خمس. فرمائى چه د وفات نه پس ما سفيان ثورى رحمه الله په خوب كښې اوليدو چه: يوې ونې نه بلې ونې ته الوزى. اودا آيت وائى. ﴿ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي صَدَقَنَا وَعْدَهُ وَأَوْرَثَنَا الْأَرْضَ نَتَبَوَّأُ مِنَ الْجَنَّةِ حَيْثُ نَشَاءُ فَنِعْمَ أَجْرُ الْعَامِلِينَ ﴾ (سورة الزمر:۷۴) رحمه الله تعالى رحمة واسعة(٢)

قوله: عَنِ الْأَعْمَشِ: دامام اعمش حالات وړاندې د «باب ظلم دون ظلم» لاندې تيرشوى دى

قوله: عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مُرَّةَ: دوى عبدالله بن مره همدانى خارفى كوفى دى دوى تابعى دى. د حضرت عبدالله بن عمر حضرت براء بن عازب رضي الله عنهم نه به ئې روايت كولو او ددوى نه د حديث اوريدونكوكښې امام اعمش اومنصوربن المعتمر رحمهما الله وغيره دى امام يحيى بن معين ابوزرعه اونسائى رحمهم الله دوى لره ثقه گرخولى دى

ابن سعد رحمه الله فرمائى «كان ثقة وله أحاديث صالحة» عجلى رحمه الله فرمائى «تابعي ثقة»

ابن حبان رحمه الله دوى په كتاب الثقات كښې ذكركړې دى.

په ۱۰۰ه كښې وفات شوى وو (٣) رحمه الله تعالى.

---

(١) صحيح مسلم (۲\۳۲۹) كتاب البر والصلة باب فضل الضعفاء والخاملين.

(٢) د ذكرشوو حالاتو دغه شان دنورو زياتى تفصيل دپاره اوگورئ سيرأعلام النبلاء (۷\۲۲۹، ۲۷۹) وتهذيب الكمال (۱۱\۱۵٤ او ۱۶۹) وعمدة القارى (۱\۲۲۳) وخلاصة الخزرجى (۱٤۵) وتقريب التهذيب (۲٤٤) رقم ۲٤٤۵) والأعلام للزركلى (۳\۱۰٤، ۱۰۵)

(٣) طبقات ابن سعد (۶\۲۹۰) وتهذيب الكمال (۱۶\۱۱٤) وخلاصة الخزرجى (۲۱٤) وعمدة القارى (۱\۲۲۳) وتقريب التهذيب (۳۲۲) رقم ۳۶۰۷).

عَنْ مَسْرُوقٍ: دوى مشهور مخضرم تابعى رحمه الله . امام ابوعائشه.مسروق بن الاجدع بن مالك بن اميه وداعى همدانى كوفى دى.
دوى دنبى ﷺ په زمانه كښې په اسلام مشرف شوى وو خونبى ﷺ سره د ملاقات سعادت ورته نه وو نصيب شوې عمروبن معديكرب ددوى ماما وو اددوى پلار د يمن په مشهورو شهسوارانوكښې وو
ونيلى شى چه په وركوتوالى كښې چا دې غلا كړې وو اوبيا ملاؤ شو او بوتلې وو.ددې وجې ددوى نوم مسروق كيخودې شو.
حضرت عمر رضی الله عنه ددوى د پلار نوم د ..اجدع.. په ځانې ..عبدالرحمن.. كيخودې وو نود مسروق نوم په سركارى ديوان كښې ..مسروق بن عبدالرحمن،، وو.
دوى د كبارصحابه كرامو رضی الله عنهم ليدل كړى دى.اودهغوى نه ئې احاديث اوريدلى دى دحضرت ابوبكرصديق.حضرت عمرفاروق.حضرت عثمان.حضرت على. حضرت عبدالله بن عمر. حضرت عبدالله بن عمرو.حضرت عبدالله بن مسعود. حضرت زيد بن ثابت. حضرت ابى بن كعب.حضرت خباب بن ارت.حضرت معاذ بن جبل.حضرت مغيره بن شعبه، حضرت معقل بن سنان اشجعى.حضرت عائشې.حضرت ام رومان او دحضرت ام سلمې رضی الله عنهم نه روايت حاصل كړى دى.
البته على بن المدينى رحمه الله فرمائى دى.چه په حضرت ابوبكرصديق رضی الله عنه پسې دوى مونځ كړې دې.اودحضرت عثمان رضی الله عنه نه د دوى څه روايت نشته.
او د دوى نه چه چا روايت كړې دې.په هغوى كښې ابراهيم نخعى.انس بن سيرين.ابووائل شقيق بن سلمه.عبدالرحمن بن عبدالله بن مسعود.عبيدبن فضله .مكحول شامى. اودهغوى اهليه قميربنت عمرو. رحمهم الله دى.

مره رحمه الله فرمائى.«ماولدت همدانية مثل مسروق»

امام شعبى رحمه الله فرمائى.«ماعلمت أن أحداكان أطلب للعلم فى أفق من الآفاق من مسروق»
ددوى شميردحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په هغه قابلوشاگردانوكښې دې.چاچه به خلقو ته علم وركولو.اوحديث اورول.
ډيرزيات عبادت گزاراود شپې تهجدگزار وو.ددوى بى بى فرمائى.چه دومره زيات عبادت به ئې كولو.چه پښې به ئې اوپړسيدې.كله كله به چه ما د دوى حالت ته كتل.نو د رحم په وجه به پرې ژړا راتله.
دوى داسې حج كړې وو.چه د ټول حج په دوران كښې په ملاسته خوب نه وو كړې.بس په سجده كښې ئې چه به ئې څومره خوب كولې شو.هغه هومره به ئې كولو.
حضرت عائشې رضی الله عنها دوى لره خپل ځوئې گرځولې وو.نودام المومنين رضی الله عنها په نوم باندې دوى د خپلې لور نوم هم عائشه كيخودې وو.دخپلې دې لورهره خبره به ئې منله.اوخواهش به ئې ورله پوره كولو.يوه ورځ په ډيرو سختو گرمو ورځوكښې دوى روژه وو.ددوى لور راغله.او وې ونيل.باباجانه تاسو اوڅكئ.اوروژه ماته كړئ.دوى ترې تپوس اوكړو.لورې ته داسې ولې

كول غواړي نوهغې ورته اووئيل بابجانه په تاسو باندې ماته رحم راځي غواړم چه تاسو ته خه آرام ملاؤ شي.نو دوی ورته اووئيل لوږي زه ددې ورځې دا تكليف د هغه ورځې د آرام دپاره برداشت كوم چه په هغې كښې به يوه ورځ د پنځوس زره كالوبرابر وی.

امام يحيی بن معين رحمه الله فرمائی.((ثقة لايسأل عنه مثله))

امام علی بن المدينی رحمه الله فرمائی.((ماأقدم علی مسروق أحداً من أصحاب عبدالله))

امام عجلی رحمه الله فرمائی.((كوفی تابعی ثقة))

امام محمدبن سعد رحمه الله فرمائی.((كان ثقة وله أحاديث صالحة))

په كال ۶۲ھ يا ۶۳ھ كښې دوی وفات شوی وو.() رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

قوله: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو: () دحضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنهما حالات وړاندې په كتاب الايمان ((باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده))لاندې تيرشوی دی.

قوله: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ..إلخ: نبی كريم ﷺ فرمائيلی دی.څلور خصلتونه داسې دی.چه په كوم كس كښې موجود شی.هغه به خالص منافق وی.

يواشكال اودهغې جواب دباب اولنې حديث كوم چه دحضرت ابوهريره رضی الله عنه دې.په هغې كښې دنفاق درې نښې ذكرشوی دی.اودحضرت عبدالله بن عمروبن العاص رضی الله عنهما په دې حديث كښې څلورخصلتونه ذكرشوی دی.لكه چه د دريو اوڅلورو په مينځ كښې تعارض دې

علامه قرطبی رحمه الله ددې نه دا جواب كړې دې.چه دا ((من باب التجدد فی العلم))د قبيلې څنې دې. يعنی نبی ﷺ ته اول د دريو علم وركړې شوې وو.اوبيا د څلورو.()

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه په دواړو احاديثوكښې تعارض نشته.څكه چه په دې كښې يو زياتی مذموم خصلت كوم چه په كمال نفاق باندې دلالت كوی.ددې نه دا نه لازميږی.چه دا هم د نفاق نښه ده.څكه چه ممكن ده.چه اصلی نښې درې وی.اودزياتی خصلت په وجه

() تهذيب الكمال(۲۷\٤٥١، ٤٥٧) وطبقات ابن سعد(۶\۷۶، ۸٤) وسير أعلام النبلاء(٤\۶۳ و۶۹) وعمدة القاری(۱\۲۲۳) وخلاصة الخزرجی(ت ۳۷٤) وتقريب التهذيب(۵۲۸) رقم ۶۶۰۱)_

() الحديث أخرجه البخاری فی كتاب المظالم باب إذا خاصم فجر رقم ۲٤۵۹ وفی كتاب الجزية والموادعة باب إثم من عاهد د ثم غدر رقم ۳۱۷۸ ومسلم فی صحيحه (۱\۵۶) كتاب الإيمان باب خصال المنافق والنسائی فی سننه (۲\۲۷۰) كتاب الإيمان وشرائعه باب علامة المنافق وأبوداود فی سننه فی كتاب السنة باب الدليل علی زيادة الإيمان ونقصانه رقم ٤۶۸۸ والترمذی فی جامعه فی كتاب الإيمان باب ما جاء فی علامة المنافق رقم ۲۶۳۲)_

() فتح الباری(۱\۸۹)_

باندې په دې نفاق کښې خلوص پيدا کيږي مطلب دا دې چه دړې خو دنفس نفاق نښې دي اوڅه څلورمه ورسره ملاؤ شي نو دخلوص نفاق نښه ترې جوړه شي (١)

يوجواب دا هم ورکولې شي چه مفهوم دعدد معتبر نه دې ځکه چه عدد اقل دعدد اکثر نفي نه کوي (٢)

يوجواب داهم ورکولې شي چه په مسلم شريف کښې دحضرت ابوهريره رضي الله عنه په حديث کښې په يوطريق کښې د «من علامات المنافق» الفاظ راغلي دي (٣) ددې نه معلوميږي چه په دړې يا څلوروکښې انحصار مقصود نه دې بلکه دموقع اومحل په مناسبت سره کله نبي ﷺ د درې نښو بيانولوضرورت محسوس کړې دې اودړې نښې ئې بيان کړې دي اوکله ئې د څلورو خصلتونو ضرورت محسوس کړې دې او څلور ئې بيان کړې دي (٤)

په دواړوحديثونوکښې د ذکرشوي مجموعي نښو شمار ددې نه پس پوهه شئ چه امام قرطبي اوامام نووي رحمهما الله فرماني چه ددې دواړو احاديثو د جمع کولونه مجموعي طور دنفاق پنځه نښې جوړيږي دوه نښې په دواړو حديثونو کښې مشترک دي يو «کذب فى الحديث» اودويم «خيانت فى الأمانة» اودابوهريره رضي الله عنه په حديث کښې «إخلاف فى الوعد» زياتي دې اودحضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما په حديث کښې «غدر فى المعاهدة» او «فجور فى الخصومة» زياتي دي (٥)

بيا دلته په دې باندې هم پوهه شئ چه امام بخاري رحمه الله کله دا حديث په «كتاب المظالم» (٦) اوپه «كتاب الجزية» (٧) کښې ذکرکړې دې نوهلته ئې د «إذا أوتمن خان» په ځائې «إذا وعد أخلف» ذکرکړې دې دغه شان امام مسلم هم په خپل صحيح کښې د «أمانت» په ځائې «إخلاف وعد» ذکرکړې دې (٨)

په دې صورت کښې به مجموعي نښې پنځه وي ځکه چه دواړه حديثونه «كذب فى الحديث»

(١) فتح البارى (١\٨٩ و ٩٠)_
(٢) شرح كرمانى (١\١٥١)_
(٣) صحيح مسلم (١\٥٦) كتاب الإيمان باب خصال المنافق)_
(٤) فتح البارى (١\٩٠)_
(٥) فتح البارى (١\٩٠)_
(٦) باب إذا خاصم فجر.رقم ٢٤٥٩) -
(٧) باب إثم من عاهد ثم غدر رقم ٣١٧٨) -
(٨) صحيح مسلم (١\٥٦)_

او ((إخلاف وعد)) كښې دی.اودحضرت ابوهريره رضي الله عنه په حديث كښې ((خيانة في الأمانة)) زياتي دي.اود حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما روايت كښې دواړه يعنى ((غدر في المعاهدة)) او((فجور في الخصومة)) زياتي دي

امام نووی رحمه الله فرمائي.چه ((وإذا عاهد غدر)) په ((وإذا أؤتمن خان)) كښې داخل دی.() په دې طريقه ټولي خلورنښي شوې

علامه كرمانى رحمه الله فرمائي.كه چيرته داسې ادخال وی.نوبيا ټولې هم درې نښې پكار دی.خكه چه ((كذب في الحديث،إخلاف وعد،غدر في المعاهدة)) دا درې واړه د قول سره تعلق ساتي نواصلى نښې ((كذب في الحديث،إخلاف وعد،او غدر في المعاهدة)) دا درې واړه دقول سره تعلق ساتي.نواصلى نښې ((كذب في الحديث،خيانة في الأمانة،فجور في الخصومة)) دی.()

بلكه ((فجور في الخصومة)) هم په ((كذب في الحديث)) كښې داخل دې.نوبه دې طريقه دوه نښې پاتې شوې.يو((كذب في الحديث)) اوبل ((خيانة في الأمانة)).

خوچونكه په دې كښې د هريومستقل حيثيت دې.اودهر يو قباحت هم ډير زيات دې.ددې وجې په عرف كښې دا جدا جدا ګڼرلې شی.()نومناسب دا دی.چه دا په يوبل كښې داخل نكړې شی.

البته چه دا په يوبل كښې مدغم كړې شی.نوبيا هم هغه صورت مناسب معلوميږی.كومه چه وړاندې تير شو.چه اعمال ياخود قول سره تعلق ساتي.اويا د فعل سره.اويا نيت سره.په فساد قول كښې ((كذب في الحديث)) او((فجور في الخصومة)) داخل دی.اوپه ((فساد فعل)) كښې ((خيانة في الأمانة)) او((غدر في المعاهدة)) اوپه فساد نيت كښې ((فساد نيت .اخلاف في ا لوعد))

والله سبحانه أعلم.

ايا چه ذكرشوې نښې په مومن كښې موجود شی نوهغه به په حقيقت كښې منافق وی؟ دلته يوغټ سوال دا دې.چه ذكرشوی خصلتونه كله په مون كښې هم موجود وی.دخوارجو او معتزلو خو به څه نه وائي.خكه چه دا خلق خو د معصيت په ارتكاب سره سرې سمدستي د ايمان نه اوباسي.خواشكال په اهل سنت والجماعت باندې دې.خكه چه ددې دواړو حديثونو ظاهر دا وائي.چه داسې كس منافق دې .خكه چه په ده كښې دنفاق خويونه اوخصلتونه موجود دی.حالانكه په اتفاق سره دغه كس دايمان نه خارج نه دې.اوده ته منافق نشي ونيلې؟ ددې اشكال مختلف جوابونه وركړې شوی دی

() شرح نووی على صحيح مسلم(۵۶/۱) كتاب الإيمان باب خصال المنافق)_

() شرح كرمانى(۱۵۱/۱)_

() المصدرالسابق)_

① امام العصرحضرت مولانا انورشاه كشميرى رحمه الله خودا فرمائي چه دعلامت په موجودوالي سره د صاحب علامت وجود نه لازميږي ګورئ حرارت د بدن د تبې علامت وى خودا ضروري نه ده چه كله بدن ګرم وى نوتبه به وى بعضې وخت په نمر كښې زيات وخت كيناستو سره هم بدن ګرميږي حالانكه هغه تبه نه وى (١)

② دشيخ الاسلام علامه ابن تيميه رحمه الله دتحقيق مطابق چه دنفاق خصلتونه په مومن كښې موجود شي ددې نه منافق كيدل نه لازميږي لكه څنګه چه دكفربعضې افراد كله په مومن كښې موجود شي نوددې نه دهغه كافركيدل نه لازميږي نودغه شان د نفاق هم مختلف درجې دى لكه چه دلته د «نفاق دون نفاق» بيان دې دايمان سره ددې اجتماع ممكن ده په دواړو كښې تضاد نشته چه جمع ئې ممكن نه ده (٢)

③ امام نووى رحمه الله فرمائي چه داكثرومحققينوعالمانو رحمهم الله په رائې كښې ددې معنى دا ده چه دا خصلتونه دنفاق خصلتونه دى اوكوم كس چه په دې متصف وى هغه د منافقانو سره مشابه دې اودهغوى اخلاق خپلونكې به ګڼړلې شى ددې نه دكفرانوهغه نفاق مراد نه دې كوم چه به په «فى الدرك الأسفل من النار» وى په دې صورت كښې به د نفاق نه حقيقى نفاق مراد وى خوكلام به په تشبيه باندې محمول وى اود نبى صلى الله عليه وسلم د ارشاد مطلب چه «كان منافقاً خالصاً» مطلب به دا وى چه «كان شديد التشبيه بالمنافقين» (٣)

④ امام ترمذى رحمه الله فرمائي چه «معنى هذا عند أهل العلم نفاق العمل وإنما كان نفاق التكذيب على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم» (٤) يعنى دلته د نفاق نه. نفاق عملى مراد دې نفاق تكذيب يعنى «نفاق فى العقيدة» مراد نه دې.

دا جواب امام قرطبى اوحافظ ابن حجر رحمهما الله خوښ كړې دې (٥)

⑤ امام خطابى رحمه الله فرمائي چه ددې نه مقصود انذاراوتحذيردې يعنى دمسلمانانو ويرول مقصود دى چه ددې خصلتونه عاديان جوړ نشى دامطلب نه دې كه په دې خصلتونو كښې يوخصلت اتفاقى طور ښكاره شى نوددې په وجه پرې دنفاق حكم لګولې شى (٦)

⑥ بعضې عالمان رحمهم الله فرمائي چه ددې نه مراد اعتياد دې يعنى كه يوكس ددې خصلتونه

---

(١) فيض البارى (١\١٢٤)_
(٢) فيض البارى (١ ١٢٤)_
(٣) شرح نووى على صحيح مسلم (١ ٥٦) كتاب الإيمان باب خصال المنافق)_
(٤) جامع ترمذى كتاب الإيمان باب ماجاء فى علامة المنافق رقم ٢٦٣٢)_
(٥) فتح البارى (١\٩٠.٩١)_
(٦) أعلام الحديث للخطابى (١\١٦٥)_

عادي شي نوهغه منافق دي څكه چه هميشه دپاره په دې خصلتونوعمل كول دمومن كار دي دمومن د شان نه دا خبره ډلري ده چه هميشه دپاره دروغ وائي هميشه دپاره وعده ماتوي هميشه دپاره خيانت كوي اوكنځلې كوي ()

د اعتياد اوعموم دا معنى دكوم ځائې نه راوخى

علامه طيبي رحمه الله فرمائي چه دلته ئې جمله شرطيه د «إذا» سره مقترنه راوړې ده كوم چه «تحقق وقوع عادة» باندې دلالت كوي نومطلب دا شو چه ددې خصلتونو وقوع يعنى ظهور بطور عادت كيږي.()

امام خطابي رحمه الله فرمائي چه د «إذا» لفظ دتكرار فعل مقتضي دې اوكله چه دفعل صدور بار باركيږي.نوهغه دده عادت جوړ شي د عادت جوړيدونه پس په ده باندې د منافق اطلاق كيدې شي.البته داعتياد نه بغير د نفاق صفت ممكن نه وي.نوځكه منافق نشي كرځولې ()

علامه كرماني رحمه الله فرمائي.چه د اعتياد اوعموم دپاره د «إذا» په لفظ اخستل تطويل دي.مناسب دا دى.چه داسې اووئيلى شي چه دحذف مفعول نه دعموم معنى راوځى.لكه چه د «إذا حدث كذب» مطلب دا دې.چه «إذا حدث في كل شيء كذب فيه» يا «إذا وجد ماهية التحديث كذب»()

④علامه كرماني رحمه الله فرمائي.چه ددې نه نفاق شرعى مراد نه دې.بلكه نفاق عرفي مراد دې.يوشرعي نفاق دې.يعني چه دپورته نه اسلام ظاهروي.اودننه ئې كفر پټ كړې وي او يو نفاق عرفي دې.چه په ظاهراوباطن كښې ئې عمل برابر نه وي.بلكه بعضې وخت د ايمان قلبي عملاً مخالفت كيږي.نودلته هم دغه عرفي نفاق مراد دې.ايمان شرعي مراد نه دې ()

⑤بعضې حضرات فرمائي.دحديث په الفاظوكښې اګرچه عموم دې.خوددې خاص اومعين شخص مراد وو.()

تركومې پورې چه دعمومي تعبيرتعلق دې.نوددې وجه دا ده.چه د نبي ﷺ دا عادت مباركه وو.چه كله به ئې څوك په غلطۍ باندې اوليدلو.نودخصوصي خطاب په ځائې به ئې عمومي

() أعلام الحديث (١\١٦٥) وفتح الباري(١\٩٠)_

() الكاشف عن حقائق السنن (١\١٩١) كتاب الإيمان باب الكبائروعلامات النفاق الفصل الأول رقم الحديث ٥٥)_

() أعلام الحديث للخطابي(١\١٦٨)_

() شرح كرماني(١\١٤٨)_

() شرح كرماني(١\١٤٩)_

() أعلام الحديث للخطابي(١\١٦٦) وفتح الباري(١\٩١) وعمدة القاري(١\٢٢٢)_

خطاب كولو مثلا داسي به ئي فرمائيل ((ما بال أقوام يفعلون كذا))[1]

ددي عمومي تعبيرپه اختيارولوكښي حكمت اومصلحت دا وو چه په خصوصي خطاب سره صرف دمخصوص كس اصلاح كيږي اوپه عمومي خطاب سره د نوروخلقو د ويرولو سره سره په خصوصيت سره ددغه كس داصلاح فائده حاصليږي

⑨ عطاء بن ابى رباح او سعيد بن جبير رحمهما الله نه منقول دى چه د دي نه دعهد نبوت منافقان مراد دى حضرت حسن بصرى رحمه الله هم دي قول ته رجوع كړي ده (۲)

ونيلي شى چه يوكس دحج دپاره د بصرې نه مكې ته لاړلو هلته ئي دحضرت حسن بصرى رحمه الله قول دعطا رحمه الله په وړاندې نقل كړو چه هغوى فرمائى ((من كان فيه ثلاث خصال لم أتحرج أن أقول إنه منافق)) يعنى چه په چا كښي دا درې خويونه موجود وى دهغه په باره كښې زه دمنافق كيدو حكم لګوم اوپه دي حكم لګولوكښي زه څه حرج نه ويره نه كوم حضرت عطاء رحمه الله چه كله دا خبره واوريده نودهغه كس په ذريعه ئي حضرت حسن بصرى رحمه الله ته دا اوليږلو. ((إن عطاء يقرئك السلام ويقول لك ما تقول في بني يعقوب عليه السلام إخوة يوسف عليه السلام إذ حدثوا فكذبوا، ووعدوا فأخلفوا، وأوتمنوا فخانوا، أفكانوا منافقين؟)) يعنى چه په چا كښي دا خصلتونه وى نوهغه به منافق وى.نوبيا دحضرت يعقوب عليه السلام د ځامنو په باره كښي به څه حكم وى هغوى دروغ ونيلي وو.وعده خلافى ئي كړې وه.اوپه امانت كښي ئي خيانت كړې وو آيا په هغوى به د منافقت حكم لګولې شى؟

كله چه دا خبره حضرت حسن بصرى رحمه الله ته اورسيده.نوهغوى دخپلې خبرې نه رجوع اوكړه او وې فرمائيل.((جزاك الله خيراً)) بيا ئي اوفرمائيل ((إذا سمعتم مني حديثاً فاصنعوا مثل ما صنع أخوكم حدثوا به العلماء فما كان منه صواباً فحسن وما كان غير ذلك ردوا على جوابه))[3]

بيا دا قول چه ددې حديث تعلق دعهد نبوت دمنافقانوسره دې.دحضرت عبدالله بن عمر اوحضرت عبدالله بن عباس رضى الله عنهم نه هم منقول دې.(۴)

مقاتل بن حيان رحمه الله فرمائى چه ما حضرت سعيدبن جبير رحمه الله ته اوونيل.دې حديث زما آرام او اطمينان برباد كړې دى.ځكه چه دا ټول خصلتونه يا بعضې خصلتونه په ما كښې دى.حضرت سعيدبن جبير رحمه الله ورته اوفرمائيل.هم دا اشكال ماته هم وو.نوزه حضرت عبدالله بن عمر اوحضرت ابن عباس رضى الله عنهم ته ورغلم اوخپله مدعا مې ورته عرض كړه.چه دا ئي واوريده.نوهغوى په خندا شول. او وې فرمائيل هم دا فكرمونږ سره هم شوې وو.نومونږ

---

۱) عمدة القارى(۱۱/۲۲۲)_
۲) شرح نووى على صحيح مسلم (۱/۵۶)_
۳) شرح كرمانى(۱/۱۴۹)_
۴) شرح نووى على صحيح مسلم (۱/۵۶)_

نبي ﷺ ته خپل اشکال پیش کړلو نبي ﷺ چه زمونږ خبره واوریده نومسکې شو اوونې فرمائیل په دې حدیث کښې ستاسو خه ذکر نشته ځکه چه ما کوم «إذا حدث کذب» وئیلی دی په دې کښې هغه آیت ته اشاره ده په کوم کښې چه وئیلی شوی دی. ﴿ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ﴾ (۱) د غه شان د «وإذا وعد أخلف» مصداق تاسوخلق نه ئې بلکه هغه کس دې دچا په باره کښې چه دا آیت نازل شوې دې ﴿ فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ إِلٰى يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ بِمَا أَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ ﴾ (۲) په اصل کښې ثعلبه بن حاطب یوکس وو هغه نبي ﷺ ته راغلو اوعرض ئې اوکړو چه یارسول الله زما دپاره دعا اوکړه چه الله تعالی ماته مال راکړي. نبي ﷺ دهغه د بار بار وئیلو نه پس دعا اوکړه نوالله تعالی هغه ته بنه مال ورکړو څه موده پس نبي ﷺ دوه کسان هغه ته اولیږل چه زکاة ترې واخلی نوهغه ددې نه انکار اوکړو. اودا ئې اووئیل چه ماته خودا جزیه معلومیږی. زه پخپله د رسول الله ﷺ سره خبره کوم. کله چه نبي ﷺ ته دا خبره معلومه شوه نو وې فرمائیل «ويح ثعلبة بن حاطب» په دې باندې دا آیت نازل شو ﴿وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ لَئِنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝ فَلَمَّاۤ اٰتٰىهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ وَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ ۝ فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ إِلٰى يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ بِمَاۤ أَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ۝﴾ (۳)

کله چه دا آیاتونه نازل شول نو دهغه خپلوانو هغه ملامته کړو. اودا ئې ورته اووئیل چه ستا په باره کښې دقرآن پاك دا آیاتونه نازل شوی دی. هغه اوویریدلو. او په منډه منډه نبي ﷺ ته راغلو. اودزکاة مال ئې پیش کړل نو نبي ﷺ ورته اوفرمائیل. زه الله تعالی ددې د قبلولو نه منع کړې یم. اوس هغه بنه ژړا اوفریاد شروع کړو. اوپه خپل سر ئې خاورې اچولې. نبي ﷺ اوفرمائیل. په دې کښې دچا څه قصور دې. تول هرڅه ستا خپل عمل دې. تا زما خبره اونه منله. چه سزا ئې دا شوه.

بیا هغه دحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه په زمانه کښې زکاة پیش کړلو. خودرسول الله ﷺ خلیفه هغه رد کړو. اودهغې د قبلولو نه ئې انکار اوکړو. دحضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کښې ئې هم د زکاة مال پیش کړو. خوحضرت عمر رضي الله عنه هم دهغې د قبلولونه انکار اوکړو. تردې چه دحضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کښې هغه مړ شو. (۴)

لکه په «وإذا وعد أخلف» سره اشاره هغه کس ته ده. بیا نبي ﷺ اوفرمائیل. اوما چه کوم «وإذا أوتمن خان» وئیلی وو نو دهغې کښې ﴿إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ

---

(۱) سورة المنافقون:۱)_

(۲) سورة التوبة:۷۷)_

(۳) سورة التوبة:۷۵و ۷۷)_

(۴) الدرالمنثورفي التفسير بالمأثور(۳/۲۶۰و ۲۶۱)-

تحملنها﴾(۱)ته اشاره ده.تاسو خلق ددې تولوخصلتونو نه خلاص نې (۲)
خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په دې سلسله کښې کوم احادیث پیش کولی شی.هغه ټول ضعیف دی که په دې.کښې یوحدیث هم صحیح ثابت شی نوبیا به د حدیث محمل متعین شی (۳)والله سبحانه وتعالی أعلم.

قوله تَابَعَهُ شُعْبَةُ عَنْ الأَعْمَشِ : دامام شعبه رحمه الله روایت کوم چه دامام اعمش رحمه الله نه مروی دې.امام بخاری رحمه الله موصولا په کتاب المظالم کښې ذکرکړې دې (۴)
ترکومې پورې چه د حدیث الباب تعلق دې.نوچونکه دا د «قبيصة بن عقبه عن سفيان» په طریق سره مروی دې.ددې وجې امام یحی بن معین رحمه الله دا سند ضعیف ګرځولې دې.ځکه چه دهغوی وینا دا ده.چه قبیصه د سفیان ثوری رحمه الله نه په ماشوموالی کښې سماع کړې ده ددې وجې دوی غلطی کوی.(۵)
امام نووی رحمه الله فرمائی.چه امام بخاری رحمه الله دلته د قبیصه په وساطت سره کوم روایت نقل کړې دې.دا اصالة نه دې.بلکه د متابعت او استشهاد دپاره ئې نقل کړې دې.(۶)
په دې باندې علامه کرمانی رحمه الله اشکال کړې دې.چه دا د حضرت ابوهریره رضي الله عنه د حدیث «آية المنافق ثلاث» دپاره متابع ګرځول صحیح نه دی.ځکه چه په دواړو حدیثونوکښې لفظاً اومعناً مخالفت دې.لکه دحضرت ابوهریره رضي الله عنه په روایت کښې د«ثلاث»ذکردې.اود حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما په روایت کښې د «أربع»ذکردې.دغه شان د «أربع»په حدیث کښې د «خالصاً» زیادت دې.نودا متابع ګرځول صحیح نه دی.بلکه اصالةً امام بخاری رحمه الله دا درج کړې دې.(۷)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.چه علامه کرمانی رحمه الله ته دلته غلط فهمی شوې ده.چه دوی دحضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما روایت دحضرت ابوهریره رضي الله عنه د روایت دپاره متابع ګرځوی.حالانکه داسې نه ده.ځکه که چیرته داسې وه.نودې ته بیا شاهدوئیل پکار وو.متابع نه.بلکه امام نووی رحمه الله چه دې ته متابع وئیلې دې.دهغې منشا دا ده.چه دا حدیث د حضرت قبیصه

---

(۱) سورة الأحزاب :۷۲_
(۲) شرح کرمانی(۱۴۹۱۱)_
(۳) فتح الباری(۹۱۱۱)_
(۴) کتاب المظالم باب إذا خاصم فجر رقم ۲۴۵۹_
(۵) فتح الباری(۹۱۱۱) مخکښې د قبیصه بن عقبه رحمه الله حالات په تفصیل سره تیرشوی دی.)_
(۶) فتح الباری(۹۱۱۱)_
(۷) شرح کرمانی(۱۴۹۱۱)_

ﷺ نه علاوه د سفيان ثورى ﷺ نه نورو حضراتو هم نقل كړې دې په مسلم شريف كښې وكيع ﷺ د سفيان ثورى ﷺ نه ددې روايت كړې دې اوقبيصه نې متابعت تامه كړې دې (۱)

دغه شان دامام اعمش نه امام شعبه اوجرير رحمهما الله نقل كړې دې(۲)په دې طريقه د قبيصه متابعت ناقص كيږى.خكه چه دا حديث د قبيصه د طريق نه په نورو قوى سندونو سره ثبت دې ددې وجې كه د قبيصه ﷺ په طريق كښې بالفرض كه ضعف هم وى نوبيا هم دا متابع گرخولې شى اوپه دې كښې څه حرج نشته.(۳)

خو داخبره دې ښكاره وى چه د قبيصه ﷺ دا حديث ضعيف گرخول صحيح نه دى.خكه چه وړاندې مونږ دوى په حالاتوكښې په تفصيل سره ذكر كړل چه دوى ثقه او محتج به راوى دې بلكه دا چه په بخارى كښې ددوى د ټولو رواياتو موافقت نورو حضراتوكړې دې والله سبحانه وتعالى أعلم وعلمه أتم وأحكم.

۲۴-بَابُ قِيَامُ لَيْلَةِ الْقَدْرِ مِنَ الْإِيمَانِ

د ابواب سابقه سره ربط اومناسبت علامه عينى ﷺ فرمائى.چه امام بخارى ﷺ په كتاب الايمان كښې دامور الايمان بيان كولو.چه په كښې ((باب إفشاء السلام من الإسلام)) نه پس نې د كفرمراتب بيانول شروع كړل.خكه چه كفرد ايمان ضد دې.اويوخيز په خپل ضد سره ښه ښكاره كيږى.نوپه مينځ كښې نې څو ابواب استطراداً د كفرذكر كړل اواوس دوباره امورالايمان ته واپس كيږى.

دغه دوى فرمائى.چه ((باب إفشاء السلام من الإسلام))او((باب قيام ليلة القدر من الإيمان)) كښې په دې اعتبارسره مناسبت شته.چه ((باب إفشاء السلام من الإسلام)) كښې إفشاء دسلام دامور الايمان نه گرخولې شوې ده.اوپه ليلة القدركښې هم افشاء السلام وى.فرشتې مومنانونه سلام كوى.دالله تعالى ارشاد دې ﴿سَلٰمٌ هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ﴾(۴)

دماقبل سره داسې هم مناسبت ښكاره كولې شى.چه ددې نه وړاندې د منافقانو ذكر راغلې وو.دهغوى صفت دې ﴿وَاِذَا قَامُوْٓا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا﴾ (۵)

---

(۱) صحيح مسلم (۱\۵۶) كتاب الإيمان باب خصال المنافق_

(۲) شعبة عن أعمش د روايت دپاره ا وگورئ ((صحيح بخارى كتاب المظالم باب إذا خاصم فجر رقم ۲۴۵۹) اود (جرير عن الأعمش)) د روايت دپاره اوگورئ- صحيح بخارى كتاب الجزية والموادعة باب إثم من عاهد ثم غدر رقم ۳۱۷۸)_

(۳) فتح البارى(۱\۹۱)_

(۴) سورة القدر:۵) وعمدة القارى(۱\۲۲۵)_

(۵) النساء:۱۴۲)_

اوپه دې باب کښې په ليلة القدر کښې هم دقيام ذکر دې کوم چه يو ګران کار دې اودمنافق دوس کارنه دې ځکه چه په ليلة القدر کښې دقيام شوق داهل ايمان وی منافقين ددې شوق نه ساتی دا هم ونيلی شی چه په ماقبل کښې دنفاق دعلاماتو ذکر وو اودلته دايمان د علامت يعنی قيام ليلة القدربيان دې

[۳۵] حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ عَنِ الْأَعْرَجِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَقُمْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ [۱۹۱۰۱۸۰۲]

رجال الحديث

حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ: دابواليمان الحكم بن نافع بهرانی حمصی تذكره په ..بدء الوحی.. كښې د شپږم حديث لاندې ذكرشوې ده

قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ: دابوبشرشعيب بن ابی جمره قرشی اموی رحمه الله حالات هم د ..بدء الوحی.. شپږم نمبر حديث لاندې تيرشوی دی

قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو الزِّنَادِ: دوی عبدالله بن ذکوان مدنی قرشی رحمه الله دی ددوی تذكره مونږ په كتاب الايمان كښې د «باب حب الرسول من الإيمان» لاندې ذكركړې ده

عَنِ الْأَعْرَجِ: دوی عبدالرحمن بن هرمز اعرج مدنی قرشی دی ددوی ذکرهم د «باب حب الرسول من الإيمان» لاندې تيرشوې دې.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه: () دحضرت ابوهريره رضی الله عنه تفصيلی حالات په «باب أمور الإيمان» کښې د «شعب الإيمان» لاندې تير شوی دی.

) الحديث أخرجه البخاری فی هذا الكتاب باب تطوع قيام رمضان من الإيمان رقم ۳۷ وباب صوم رمضان إحتساباً من الإيمان رقم ۳۸ وفی كتاب الصوم باب من صام رمضان إيماناً وإحتساباً ونية رقم ۱۹۰۱ وفی كتاب صلاة التراويح باب فضل من قام رمضان رقم ۲۰۰۸ و۲۰۰۹ وفی كتاب فضل ليلة القدرباب فضل ليلة القدر رقم ۲۰۱٤ ومسلم فی صحيحه(۲۵۹\۱) كتاب صلاة المسافرين باب الترغيب فی قيام رمضان وهو التراويح والنسائی فی سننه (۳۰۷\۱) كتاب الصيام باب ثواب من قام رمضان وصامه إيماناً وإحتساباً وأبوداودفی سننه فی كتاب الصلاة باب تفريع أبواب شهر رمضان باب فی قيام شهر رمضان رقم ۱۳۷۱ و ۱۳۷۲) والترمذی فی جامعه فی كتاب الصوم باب الترغيب فی قيام رمضان وما جاء فيه من الفضل رقم ۸۰۸) وابن ماجه فی سننه كتاب إقامة الصلاة باب ما جاء فی قيام شهر رمضان ر٤م ۱۳۲۶) وفی كتاب الصيام باب ما جآء فی فضل شهر رمضان رقم ۱۶٤۱) .

قوله قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَقُمْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ: رسول الله ﷺ فرمائيلي دي. كوم كس چه په ليلة القدر كښې په ايمان او احتساب سره قيام اوكړي نودده مخكنى گناهونه به معاف شي.

دقيام نه مراد دلته دعبادت دپاره مستعد اوتياريدل دى. لكه څنگه چه په ﴿قُمْ فَأَنْذِرْ﴾ كښې هم دا معنى ده.

دليلة القدروجه تسميه قدركه دتقدير نه وى. نوددې شپې په «قدر» سره د نامدار كولو وجه به دا وى. چه په دې شپه كښې فرشتوته ددې كال سره متعلق د تقديراتو علم وركولې شى يعنى په دغه كال كښې چه كوم حوادث پيښيږي. يعنى مرگ او ژوند. عروج او زوال. مالدارى اوفقيرى وغيره وغيره. دا ټولې خبرې په دې شپه كښې فرشتو ته خودلې شى. ددې وجې دې ته «ليلة القدر» وئيلې شى.

دقدرمعنى دعزت هم ده. لكه چه د «ليلة القدر» معنى شوه د عزت شپه.

دا عزت د شپې سره هم متعلق كيدې شى. په دغه وخت كښې به مفهوم دا وى. چه دا شپه دټولو شپو نه ممتاز ده. اود ټولو شپونه زيات وزن لرى. اودا عزت دعبادتگذارسره هم متعلق كيدې شى. په دې صورت كښې به مطلب دا وى. چه په دې شپه كښې د عبادت گذار ډير عزت كولې شى. دغه شان ددې عزت تعلق دنفس عبادت سره هم كيدې شى. يعنى په دې شپه كښې چه كوم عبادت كيږي. هغه د نورو ټولوشپود عبادت په مقابله كښې دعزت او قدر وړدې.(١)

بيا دليلة القدر په باره كښې دعالمانو ﷺ ډيراختلاف دې. كوم چه به انشاء الله مونږ په كتاب الصوم په آخره كښې چرته چه امام بخارى رحمه الله د ليلة القدرباَبونه ذكركړى دى. هلته په تفصيل سره بيان كړو.

د «إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا» مطلب عامو شارحينو ﷺ دايمان او احتساب مطلب دا بيان كړې دې. چه دايمان نه خو متعارفه معنى مراد ده. يعنى فى نفسه دغه كس مومن وى. په الله او دهغه په رسول ايمان راوړى. اوددوى په وعدو يقين ساتى. اوداحتساب د شرط مطلب دا دې. چه كوم طاعت كوى. په هغې كښې مقصود دالله تعالى رضا اودهغه ثواب وى. دنيوى مال اومتاع يا جاه اوجلال مقصود نه وى. اونه ريا اوسمعت وى.(٢)

خوشيخ الاسلام علامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله فرمائى. چه زما په نيزپه دې كښې صرف دومره خبره مقصود نه ده. چه دې مومن وى. اودهغه عقائدصحيح وى. اوپه دې كښې ريا وغيره نه وى. بلكه ددې نه وړاندې يوه مرتبه مقصود ده.

---

(١) فضل البارى(١\٤٤٥)_

(٢) شرح كرمانى(١\١٥٣. ١٥٤)_

هغه دا چه ایمان او احتساب دعین عمل په وخت کښې محرك اوباعث وی یعنی هغه کس چه په کوم محنت اومشقت فعل کوی نوهغه کوم محرك اوداعی دې چه هغه ددې فعل سبب جوړ شو بالفعل دغه دواړه څیزونه دده په ذهن کښې مستحضروی اودهغې استحضارد فعل دپاره منشاء او باعث جوړ شوې وی.اوهم دا خیال دعین فعل په وخت کښې دې دغه طرف ته راکاږی.دا نه چه صرف د رسم اورواج او عادت په طور سره صرف د ذمه وارئ پوره کولودپاره فعل کوی.

اوس دا څیز داولنی مطلب نه یوزیاتی څیزدې.ځکه چه کیدې شی یوکس فی نفسه مومن وی دده عقائد صحیح وی اونیت ئې هم صحیح وی.خود عین فعل په وخت کښې ده ته دغه څیزونه مستحضر نه وی.چه په دې عمل باندې دالله تعالی اودهغه د رسول حکم دې.او دهغه دطرفه د اجراوثواب وعده ده.اودغه څیزونه ددې فعل دپاره باعث اومنشا جوړه نشی اونه دا څیزونه د دغه فعل کولوطرف ته رابنکل کوی.بلکه چه وخت کله راشی نود ډیوټئ ادا کولو په طور باندې کارکوی.اګرچه په دغه کښې ئې هم نیت صحیح وی.فاسد نه وی.

مثلاً یوهلك دې.هغه رنځور وی.اودده پلار ډاکټر وی.اوپه هغه باندې ډیرمهربان اوشفیق وی.اوپلارخپل ځوني بیماراووینی.نود شفقت اومهربانئ نه ورته اووائی بچیه ته په فلانی وخت کښې دا دوائی استعمالوه.نوته به صحتمند شې.اوزه به تاته انعام هم درکړم.نوپه شروع کښې چه کله هغه دوائی استعمالوی نودعین شروع په وخت کښې به هغه ته ددې خبرې استحضار وی.چه د دوائی په خوراك کښې زما دپلاردحکم منل دی.اودهغه خوشحالی ده.اودانعام امید هم وی. دې وجې وائی. راوړئ چه دوائی اوخورم.خوانسانی فطرت دې.چه کله څو ورځې داسې اوکړی.نواوس یوڅیزعادت جوړ شی.د وخت په راتلو د ډیوټئ په طور هغه عادت پوره کوی.

هم دغه حال زمونږ دمونځ روژې وغیره دې.مونږ دمونځ کولوپه وخت کښې دا سوچ نه کوو.چه دا دالله تعالی حکم پوره کول دی.ددې په کولوبه مونږ ته دالله تعالی رضا اوخوشحالی حاصله شی.اومونږ ته به روحانی صحت ملاؤ شی.مونږ خو بس یوعادت پوره کوو. اومونځ کوو.دغه شان روژه هم زمونږ عادت جوړ شوې دې.چه کله رمضان راشی.نو مونږ دخپل عادت مطابق روژې نیسو.

حضرت شیخ الاسلام رحمه الله فرمائی.چه دلته د «إيمانا واحتسابا» قید مطلب دا دې.چه «قيام ليلة القدر» د عادت په بناء باندې نه وی.بلکه ددې عمل دپاره ایمان اواحتساب محرك او داعی وی.اودعمل په وخت کښې دا څیزونه مستحضر وی. نوپه دې سره به یقیناً په ثواب کښې زیادت کیږی.(۱)والله أعلم.

په شرط اوجزا کښې د صیغود اختلاف وجه بیا دلته د «من يقم ليلة القدر إيمانا واحتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه» کښې د شرط په ځائې «يقم» دمضارع صیغه ده.اوجزا «غفر له» دماضی

(۱) فضل الباری(۱\٤٤٥و ٤٤٦)_

صيغه ده اودا مختلف فيه مسئله ده چه شرط د مضارع صيغه وي اوجزا د ماضي صيغه وي. فراء رحمه الله ددې اجازت ورکړې دې اوابن مالك رحمه الله ددوی متابعت کړې دې او جمهورو نحاتو د ضرورت په وجه ددې اجازت ورکړې دې عام اجازت ئې نه دې ورکړې [١]
کوم حضرات چه دا جائزګرځوی هغوی په آيت کريمه ﴿إِن نَّشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِم مِّنَ السَّمَاءِ آيَةً فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِينَ﴾ [٢]اوحديث باب باندې استدلال کوی

په آيت باندې داسې استدلال دې اګرچه ((إن نشأ)) شرط دې اوددې جزاء ((ننزل)) دې کوم چه مضارع ده اوچه دواړه مضارع وی نوپه دې کښې څه کلام نشته خو وړاندې ((فظلت)) کښې ماضي صيغه ده.د دې عطف په ((ننزل)) باندې دې لکه چه دا دهغې تابع دې اود جزاء نيع هم جزاء وی.[٣]
اوترکومې پورې چه دحديث باب تعلق دې نوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه په دې باندې استدلال زما په نيز کمزورې دې.خکه چه زه ګنړم چه په دې کښې د راويانوطرفه تصرف شوې دې.خکه چه دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه کوم روايات په دې باره کښې مشهور دی په هغې تولوکښې شرط اوجزاء په دواړو مقماتوکښې دمضارع صيغې دی.امام نسائي رحمه الله دخپل استاذ محمد بن على بن ميمون رحمه الله په واسطه .امام بخاری رحمه الله د شيخ ابواليمن رحمه الله په دې سند سره روايت نقل کړې دې.په هغې کښې په شرط اوجزاء کښې څه تغيرنشته بلکه په دواړو ځايونوکښې د مضارع صيغې دی.او((من يقم ليلة القدريغفرله)) الفاظ مروی دی.[٤]معلومه شوه.چه دحديث مخرج يودې.د راوی د تصرف په وجه تبديلی راغلې ده.[٥]
که د راوی تصرف اونه منلې شي.نودحديث تخريج د فراء اوابن مالك رحمهما الله په قول باندې منل دی.اوپه دې صورت کښې به مقام شرط کښې مضارع اوپه مقام د جزاء دماضی صيغه راوړلو نکته هغه وی.کومه چه علامه کرمانی رحمه الله ليکلې ده.
علامه کرمانی رحمه الله فرمائي.چه په دې حديث کښې ئې ((من يقم)) فرمائيلی دی.اوددې نه پس چه کوم احاديث راځی.نوپه هغې کښې د ماضی په صيغو سره ((من قام رمضان))او ((من صام رمضان ..)) ذکردی.په دې کښې نکته دا ده چه قيام رمضان اوصيام رمضان متحقق الوقوع دی.نوددې دپاره هغه صيغې استعمال کړې شوې.کومې چه په تحقق الوقوع باندې

---

[١] همع الهوامع شرح جمع الجوامع للسيوطى(٥٨\٢)_
[٢] الشعراء:٤)_
[٣] فتح البارى(٩١\١)_
[٤] فتح البارى(٩١\١) وتحفة الأشراف (١٧٤\١٠) رقم ١٣٧٣٠)_
[٥] فتح البارى(٩١\١. ٩٢)-

رئت كوي اود ليلة القدر قيام غير متيقن دي ددې وجې نې ددې نه د مضارع په صيغې سره تعبير اوكړو اوبيا په جزاء كښې دماضي دصيغې استعمال كښې دې طرف ته اشاره ده چه جزاء متحقق الوقوع ده (١)

د «ما تقدم من ذنبه» نه كوم گناهونه مراد دى؟ د ماتقدم نه صغائر مراد دى اوكه كبائرهم په دې كښې داخل دى؟ په دې كښې اختلاف دې

امام الحرمين، امام نووى اونور فقهاء رحمهم الله فرمائى چه ددې نه صرف صغائر مراد دى (٢)

حافظ ابن عبدالبر رحمه الله هم دا قول اختيار كړې دې (٣) قاضى عياض رحمه الله دا قول اهل سنت طرف ته منسوب كړې دې (٤) وجه دا ده چه د كبائرو دمعاف كيدو دپاره اصل قاعده توبه ده اگرچه ممكن ده چه الله تعالى په خپل فضل او كرم سره بغير د توبې نه نې معاف كړى

خوابن المنذر رحمه الله رائې دا ده چه كيدې شى صغائر اوكبائرټول معاف شى (٥)

ابن عبدالبر رحمه الله دخپلو بعضې معاصرينو نه هم دا نقل كړى اوبيا نې په هغوى باندې رد كړې دې فرمائى «وهذا جهل بين، وموافقة للمرجئة فيما ذهبوا إليه من ذلك وكيف يجوز لذى لب أن يحمل هذه الآثار على عمومها وهو يسمع قول الله تعالى ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا﴾ وقوله تبارك وتعالى ﴿وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ فى آى كثيرة من كتابه» (٦)

مطلب دا دې چه داحاديثو د عموم په وجه ددې خبرې قائل كيدل چه په دې سره به كبائر معاف شى ښكاره جهالت دې اودا دمرجئو مسلك دې دغه شان دوى فرمائى «ولوكانت الطهارة والصلاة وأعمال البر مكفرة للكبائر، والمتطهر المصلى غير ذاكر لذنبه الموبق، ولا قاصد إليه، ولا حضره فى حينه ذلك أنه نادم عليه، ولا خطرت خطيئته المحيطة به بباله، لما كان لأمر الله عزوجل بالتوبة معنى، ولكان كل من توضأ وصلى يشهد له بالجنة بإثر سلامه من الصلاة وإن ارتكب قبلها ماشاء من الموبقات الكبائر، وهذا لا يقوله أحد ممن له فهم صحيح وقد أجمع المسلمون أن التوبة على المذنب فرض والفروض لا يصح أداء شئ منها إلا بقصد ونية واعتقاد أن لا عودة فأما أن يصلى وهو غير ذاكر لما ارتكب من الكبائر ولا نادم

---

(١) شرح كرمانى (١٥٣/١)_

(٢) أوجز المسالك (٢٩٠/٢) الترغيب فى الصلاة فى رمضان)_

(٣) التمهيد لما فى الموطاء من المعانى والأسانيد (٤٤/٤-٤٩) حديث تاسع لزيد بن أسلم (١٠٦/٧) حديث رابع لابن شهاب عن أبى سلمة)_

(٤) شرح نووى على صحيح مسلم (١٢١/١) كتاب الطهارة باب فضل الوضوء والصلاة عقبه)_

(٥) أوجز المسالك (٢٩٠/٢)_

(٦) التمهيد (٤٤/٤)_

على ذلك، فمحال وقد قال رسول الله ﷺ الندم توبة وقال ﷺ الصلوات الخمس والجمعة إلى الجمعة كفارة لما بينهن ما اجتنبت الكبائر»(١)

بعضي عالمان ﷫ فرماني چه په اصل کښې خو صغائر مراد دی خوکيدې شي چه دچا صغائر نه وی يا ډيرې کمې وی نوممکن ده چه په کبائروکښې تخفيف اوشي.(٢)

خوحقيقت دا دې چه قاعده جدا څيزدې اوعدل اواحسان جدا څيزدې قاعده خو هم دغه ده چه کله سړې توبه اوباسي نومعافي کيږي کنی نه کيږي خودخسرود مهربانواو د شاهي احساناتو معامله جدا خبره ده که الله تعالى سبحانه وتعالى دچا په قيام ليلة القدر باندې دهغه د کبائرومعافي اوکړي نوخوك تپوس کولووالا شته؟ البته دا خبره شته چه قيام خو هم قيام وی داسې قيام وی چه په هغې باندې الله تعالى خوشحاله شي گناهونه پرې معاف کيږي خوپه دې اعتماد باندې داسې هرگز نه دی کول پکار چه گناه کوی يا گناه کوی اوتوبه نه اوباسي دا څومره د بې حيائي خبره ده چه د رب کريم نافرمانی کوی اوهغه ته دپښيمانتيا ښې نه ښکته کوی!!

د ترجمة الباب اثبات دحديث نه ترجمة الباب داسې ثابتيږي چه دڅيز کوم اثروی هغه د هغې څيز سره ملحق وی چونکه دلته قيام دايمان اثردې اوپه دې باندې مرتب دې نوځکه دا دايمان سره ملحق کولې شي اوددې جزء گنړلې شي په دې طريقه چه «قيام ليلة القدر» ثابته شي چه دا د امورالايمان څخه دې.(٣)

علامه کرماني ﷫ فرمائي چه «ايماناً واحتساباً» يا مفعول له دې اويا تمييز دې که تميز اومنلې شي نومطلب به دا وی چه کوم کس «على وجه الايمان والإحتساب» قيام اوکړی دده مغفرت به کيږي اوښکاره ده چه کوم قيام على وجه الايمان وی نوهغه پخپله ايمان وی اوکه مفعول له اومنلې شي نومطلب به دا وی چه «من قام للحصول على الإيمان» ظاهره ده چه کوم کاردايمان دحصول دپاره کيږي هغه ايمان وی يعنی دايمان شعبه وی.(٤)

علامه عيني ﷫ فرمائي چه دا تمييز يا مفعول له گرځول صحيح نه دی البته چه حال اوگرځولې شي نوبيا ټيك دې اود ترجمې اثبات داسې کيږي چه ترجمه يعنی «قيام ليلة القدر» د «غفران الذنوب» سبب دې اوکوم عمل چه د غفران الذنوب سبب وی هغه دايمان د شعبوڅخه وی.(٥)

---

١) التمهيد(٤٤/١٤، ٤٥)_
٢) أوجز المسالك(٢٩٠/١٢)_
٣) الأبواب والتراجم لصحيح البخاري (ص.٣٦)_
٤) شرح کرماني(١٥٤/١)_
٥) عمدة القاري(٢٢٦/١، ٢٢٧)_

حضرت شاه ولی الله رحمه الله فرمائی چه دا مفعول مطلق دی او «من یقم لیلة القدر ایمانا» دا دې مطلب دا دی چه «من یقم لیلة القدر قیاما ایمانا» ښکاره دا ده چه قیام په ایمان سره موصوف کولی شی نو قیام د امور الایمان څخه دی () والله أعلم.

۲۵ = باب الجهاد من الایمان

دذکرشوی باب دماقبل اومابعد بابونوسره تعلق ددې باب نه د امام بخاری رحمه الله مقصد ښکاره دې چه دوی د امور الایمان تذکره کوی او جهاد هم د ایمان په شعبوکښې یوه شعبه ده ددې وجې ددې باب د ماقبل بابونوسره مناسبت ښکاره دې

خودلته سوال دا دې چه امام بخاری رحمه الله وړاندې «باب قیام لیلة القدر من الایمان» قائم کړلو اودې نه پس نې دا باب قائم کړلو او روستو مسلسل «باب تطوع قیام رمضان من الایمان» او«باب صوم رمضان احتسابا من الایمان» قائم کړی دی په «قیام لیلة القدر» و«قیام رمضان وصیام رمضان» کښې خومناسبت ښکاره دې په مینځ کښې نې د «الجهاد من الایمان» ترجمه ولې قائمه کړه؟

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په دې سره امام بخاری رحمه الله دې طرف ته اشاره کوی چه سړی لره پکاردی چه دلیلة القدر په تحصیل کښې مجاهده اوکړی لکه څنګه چه مجاهد فی سبیل الله مجاهده کوی دغه شان دې طرف ته هم اشاره ده چه ضروری نه ده چه په مجاهده سره لیلة القدر حاصل شی لکه څنګه چه مسلمان په جهاد کښې شرکت کوی دده مطلوب شهادت وی خوبعضې وخت شهادت حاصل شی اوبعضې وخت حاصل نشی

بهرحال د «قیام لیلة القدر» اوجهاد کښې مناسبت دا دې چه په دواړوکښې مجاهده ده ویه دواړو کښې دمقصود لټون دې کله مقصود حاصل شی اوکله حاصل نشی بیا داسې هم مناسبت دې چه په لیلة القدر کښې قیام کونکې په هرحال کښې ماجوردې اوکه موافقت دلیلة القدرهم اوشی نوپه اجرکښې نورزیادت کیږی دغه شان مجاهدهم په هرصورت کښې ماجوردې اوکه مقصود یعنی شهادت ورته هم حاصل شی نوبیا ورته نورزیات اجر ملاویږی

بهرحال امام بخاری رحمه الله د ذکرشوی مناسبت په وجه جهاد ضمنا واستطرادا ذکر کړو اوبیا قیام رمضان او صیام رمضان طرف نې عود اوکړو دقیام رمضان ذکرنکه چه عموم بعد الخصوص دې اوبیا چونکه د صیام تعلق د تروک سره دې اوقیام دافعالو سره تعلق لری نوځکه نې قیام په صیام باندې مقدم کړو اوددې وجې هم چه قیام په شپه کښې وی اوصیام په ورځ کښې اولیل په نهارباندې مقدمه ده ()

) رسالة شرح تراجم أبواب صحيح بخاري مطبوعة مع صحيح بخاری ١٤ باب تطوع قيام رمضان من الإيمان)

) فتح الباری(۹۲/۱)_

علامه شبیراحمدعثماني رحمه الله فرمائي چه په اصل کښې امام بخاري رحمه الله چه د «قیام لیلة القدر» د باب نه پس د «جهاد» باب قائم کړې دې نو په دې کښې دې طرف ته اشاره ده چه په قیام لیلة القدر کښې مجاهده مع النفس ده اوپه جهادکښې جهاد مع الکفار دې لکه چه جهاد مع الکفار دارومدار په جهاد مع النفس سره دې که نفس دمرضیات الهیه تابع وی نو کافرو سره به جهاد هم کولې شی کوم چه حقیقي جهاددې په قرآن پاك کښې ئې جهاد حقیقي دجهادمع النفس نه پس ذکرکړې دې ارشاد خداوندي دې ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوا أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَآتُوا الزَّكَوٰةَ﴾(۱)

په مکه معظمه کښې به کافرانومسلمانانوته ډیرتکلیفونه ورکول اوپه دوی به ئې ظلمونه کول مسلمانان به دنبی ﷺ په خدمت کښې حاضریدل اواجازت به ئې غوښتل چه موږ به کافرو سره اوجنګیږو اودهغوی نه دظلم بدله واخلو نبی ﷺ به مسلمانان دجنګ نه منع کول چه اوس لا دجهاد حکم نه دې شوې صبرکوئ اود معافي نه کاراخلئ اوفرمائیل به ئې چه د مونځ اوزکاة کوم حکم تاسو ته شوې دې ددې پابندي کوئ ځکه چه ترڅوپورې سړې دالله تعالی په اطاعت کښې دخپل نفس سره دمجاهدې کولو اوبدني تکلیفونو برداشت کولو چل نه وی ورغلې اودخپل مال دخرچ کولوعادت ئې نه وی جوړ شوې نودهغه دپاره جهاد کول اودخپل ځان قربانول ډیرګران وی د تعلیم دا حصه په جهاد مع النفس باندې مشتمل وه دکومې چه د جهاد مع الکفارنه وړاندې تلقین شوې وو.

دلته هم امام بخاري رحمه الله دغه قرآني ترتیب طرف ته اشاره کړې ده چه وړاندې د قیام لیلة القدر په ذریعه دخپل نفس سره جهاد اوکړئ اوخپل ځان د جهاد مع الکفاردپاره تیار کړئ اوبیا به دجهاد مع الکفارنمبر راشي.(۲)

دا هم ممکن ده چه امام بخاري رحمه الله دقیام لیلة القدر او صوم رمضان او قیام رمضان بابونوپه مینځ کښې د«جهاد»باب قائم کړلو دې طرف ته ئې اشاره اوکړه چه که په رمضان کښې جهاد واقع شی نودا به د زیات اجر اوثواب موجب وی. والله أعلم.

[۳۶] حَدَّثَنَا حَرَمِيُّ بْنُ حَفْصٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ قَالَ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو زُرْعَةَ بْنُ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ انْتَدَبَ اللَّهُ عز وجل لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا إِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ أَوْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ وَلَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي مَا قَعَدْتُ خَلْفَ سَرِيَّةٍ وَلَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ

[۲۶۳۵و ۲۷۴۱و ۲۹۵۵و ۷۰۱۹و ۷۰۲۵و انظر ۲۳۵و ۲۶۴۴]

---

(۱) سورة النساء:۷۷.

(۲) فضل الباري (۱\۴۴۷، ۴۴۸).

رجال الحديث

حَدَّثَنَا حَرَمِيُّ بْنُ حَفْصٍ: دوى ابوعلي حرمي بن حفص بن عمر عتكي بصري دي دابان بن يزيد عطار، حماد بن سلمه. اوعبدالواحد بن زياد رحمهم الله وغيره نه ئې احاديث اوريدلي دي

ددوى نه امام بخاري، ابراهيم بن اسحاق حربي، ابوبكراحمد بن محمد اثرم، عباس دوري، اوعمروبن علي فلاس رحمهم الله وغيره ډيروحضراتو روايت كړې دي

ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكركړى دى

حافظ ذهبي اوحافظ ابن حجر رحمهما الله دوى لره ثقه ګرخولى دى

په ۲۲۳ھ يا ۲۲۶ھ كښې وفات شوى وو.(١) رحمه الله رحمة واسعة.

قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ: دوى عبدالواحد بن زياد عبدي بصري دى كنيت ئې ابوبشريا ابوعبيده دې

د ليث بن ابى سليم، عاصم بن كليب، او يونس بن عبيد رحمهم الله وغيره نه ئې روايت كړې دې

اود دوى نه ابوداؤد طيالسي، عبدالرحمن بن مهدي، عفان بن مسلم، قتيبه بن سعيد، مسدد بن مسرهد، اويونس مودب رحمهم الله نه علاوه نورو ډيرو كسانو روايت كړې دې (٢)

په دوى باندې بعضې حضراتو كلام كړې دې امام يحيى بن سعيد القطان رحمه الله فرمائى «ما رأيته يطلب حديثاً بالبصرة ولابالكوفة قط وكنت أجلس على بابه يوم الجمعة بعدالصلاة أذاكره حديث الأعمش لايعرف منه حرفاً» (٣)

ابوداود رحمه الله فرمائى «عمد عبدالواحد إلى أحاديث كان يرسلها الأعمش فوصلها يقول حدثنا الأعمش حدثنا مجاهد في كذا وكذا» (٤) عثمان بن سعيد رحمه الله دامام يحيى بن معين رحمه الله نه نقل كړى دى چه هغوى فرمائيل «ليس بشئ» (٥)

خوحقيقت دا دې چه دا ثقه راوى دې محمد بن سعد رحمه الله فرمائى «وكان ثقة كثيرالحديث» (٦)

---

(١) تهذيب الكمال(۵۵۳\۵و ۵۵۵) والكاشف (۲۱۳\۱) وعمدة القارى(۲۲۹\۱) وتقريب التهذيب(۱۵۶) رقم الترجمة (۱۱۷۷) وخلاصة الخزرجي(ص.۵۵) _

(٢) تهذب الكمال(۱۸\۴۵۰، ۴۵۲) _

(٣)ميزان الإعتدال(۶۷۲\۲) _

(٤) المصدرالسابق) _

(٥) المصدرالسابق) _

(٦) طبقات ابن سعد(۲۸۹\۷)

امام ابوزرعه.اما ابوحاتم.امام نسائى.امام ابوداود.امام عجلى.اوامام دراقطنى رحمهم الله ددوى توثيق كړې دې (١)

تردې چه امام ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى.((لاخلاف بينهم أنه ثقة ثبت))(٢)

حافظ ابن عدى رحمه الله فرمائى ((وعبدالواحد من أجلة أهل البصرة وقد حدث عنه الثقات المعروفون بأحاديث مستقيمة عن الأعمش وغيره وهو ممن يصدق فى الروايات))(٣)

ابن القطان فاسى رحمه الله فرمائى.((ثقة لم يعتل عليه بقادح))(٤) يعنى ثقه وو.په دوى كښې نه علت قادحه نه وو.

تركومې پورې چه دامام يحى بن معين رحمه الله فرمان دې.((ليس بشئ)) نود هغوى مقصد دهغوى ضعيف ګرځول نه دى.بلكه دوى د اعمش په نورو شاګردانو كښې كمزورې ګرځولې دى.اګرچه فى نفسه دوى ثقه دى.هم دا وجه ده چه كله دامام يحيى بن معين رحمه الله نه تپوس اوشو.((من أثبت أصحاب الأعمش؟)) نوهغوى جواب وركړو.((بعد سفيان وشعبة أبومعاوية الضرير،وبعده عبدالواحد بن زياد))(٥)

دغه شان عثمان بن سعيددرامى رحمه الله دامام يحى بن معين رحمه الله نه تپوس كړې وو.((أبوعوانة أحب إليك أوعبدالواحد بن زياد؟)) نوهغوى ورته جواب وركړې وو.((أبوعوانة أحب إلى وعبدالواحد ثقة))(٦)

بيا دحديث اعمش په باره كښې چه كوم اعتراضات دى.نودهغې په باره كښې دا وئيلى شى.چه دغه اعتراضات قابل قبول نه دى.خكه چه ددې تقاضا دا ده.چه دوى ته دامام اعمش رحمه الله روايات ياد نه وو.خوچونكه دوى صاحب كتاب وو.اوهم دكتاب نه به ئې دامام اعمش رحمه الله داحاديثو روايت كولو.نوځكه دا علت قادحه نه دې.هم دا وجه ده.چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((وهذا غيرقادح لأنه كان صاحب كتاب وقد أحتج به الجماعة))(٧)

البته ددوى په باره كښې دائمه جرح وتعديل توثيق اوكلام ته چه اوكتلې شى.نود محتاط اوداعتدال خبره هم هغه معلوميږى.كومه چه حافظ رحمه الله په ((تقريب التهذيب)) كښې كړې

---

(١) تهذيب الكمال(٤٥٣\١٨و ٤٥٤) وهدى السارى(٤٢٢)_
(٢) هدى السارى(٤٢٢)_
(٣) الكامل لابن عدى(١٠٠\٥)_
(٤) تهذيب التهذيب(٤٣٥\٦) وفتح البارى(٩٣\١١)_
(٥) تهذيب الكمال(٤٥٣\١٨)_
(٦) المصدرالسابق)_
(٧) هدى السارى(٤٢٢)_

ده چه «ثقة لي حديثه عن الأعمش وحده مقال»(۱)دوی ثقه دی البته داعمش نه په روایت کولو کښې که دې متفرد وی نوپه دې کښې کلام کولې شی والله أعلم.
په کال ۱۴۷هه کښې یا ددې نه پس ددوی وفات شوې وو (۲)رحمه الله تعالی.

قَالَ حَدَّثَنَا عُمَارَةُ: دوی عماره بن القعقاع بن شبرمه ضبی کوفی دی. دعبدالله بن شبرمه ورارهٔ وو خودخپل تره نه په عمرکښې دغه شان په مرتبه کښې هم اوچت وو
دوی داخنس بن خلیفه ضبی. حارث عکلی. عبدالرحمن بن ابی نعیم بجلی. اوابوزرعه بن عمروبن جریرنه روایت کوی
ددوی نه په روایت کونکوکښې هم ددوی شیخ حارث عکلی دې ددوی نه علاوه سفیانین. اعمش. شریك بن عبدالله. عبدالواحد بن زیاد اوجریربن عبدالحمید رحمهم الله وغیره دی
امام علی بن المدینی رحمه الله فرمائی چه ددوی تقریباً دیرش احادیث دی
امام یحی بن معین اوامام نسائی دوی لره ثقه گرځولی دی.
ابوحاتم رحمه الله فرمائی. «صالح الحدیث»
ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړی دی.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی «ثقة أرسل عن ابن مسعود»(۳)

قَالَ حَدَّثَنَا أَبُوزُرْعَةَ بْنُ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ: دې دحضرت جریربن عبدالله بجلی رضی الله عنه نمسې دې. ددوی دنوم په باره کښې ډیراقوال دی هرم. عبدالله. عبدالرحمن. عمرو. جریر. دا ټول نومونه خودلی شوی دی. دوی په خپل کنیت سره مشهور وو.
دحضرت عبدالله بن عمروبن العاص. حضرت معاویه. حضرت ابوهریره. اودخپل نیکه حضر عبدالله بجلی رضی الله عنه نه د حدیثو روایت کوی.
اودوی نه روایت کونکوکښې ددوی تره ابراهیم بن جریربن عبدالله بجلی. حارث عکلی. طلق بن معاویه. ابراهیم نخعی. عبدالله بن شبرمه ضبی. عمارة بن القعقاع. اوفضیل بن غزوان ضبی رحمهم الله دی.
واقدی رحمه الله فرمائی چه دوی حضرت علی رضی الله عنه لیدلې وو. حضرت ابوهریره رضی الله عنه سره به هروخت وو اودخپل نیکهٔ نه ئې احادیث اوریدلی دی. دوی په تابعینو عالمانوکښې دی.
ابراهیم نخعی رحمه الله یوځل حضرت عمارة بن القعقاع رحمه الله ته اوونیل. «إذا حدثتني فحدثني عن أبي زرعة فإني سألته عن حديث ثم سألته بعد ذلك بسنة فلم يخرم منه حرفاً»

---

(۱) تقریب(۳۶۷) رقم ۴۲۴۰ _
(۲) المصدر السابق)
(۳) دتفصیل دپاره اوگورئ تهذیب الکمال(۲۱/۲۶۴) وعمدة القاری(۱/۲۲۹) والکاشف(۲/۳۰۴) وتقریب(۴۰۹) رقم ۴۸۵۹) وخلاصة الخزرجی(۲۸۰و ۲۸۱) _

امام يحيى بن معين رحمه الله اوابن خراش رحمهما الله دوى لره ثقه ګرځولى دى دغه شان حافظ ذهبي رحمه الله اوحافظ ابن حجر رحمه الله هم ددوى توثيق کړې دې.(١) رحمه الله رحمة واسعة.

قوله سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: (٢) دحضرت ابوهريرة تذكره په «باب أمور الإيمان» كښې د «الإيمان بضع وستون شعبة» لاندې تيره شوې ده.

قوله اِنْتَدَبَ اللّٰهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ: الله تعالى د هغه كس ذمه وارى اخستې ده چه چه دهغه په لار كښې اوځى

«انتدب» د باب افتعال نه دې په دې كښې د مطاوعت خاصيت دې ونيلى شى «ندبت فلانا لكذا فانتدب» يعنى ما فلانې راوبلل نو هغه دعوت قبول كړلو (٣) اوس به د «انتدب الله» معنى به وى «أجاب الله إلى غفرانه» (٤)

ددې معنى تعبيرشارحين ددې د تفسير «سارع بثوابه وحسن جزائه» نه كوى.(٥)

اوكيدې شى چه «انتدب» د «تكفل» په معنى كښې وى دبخارى په يو روايت كښې د «انتدب» په ځاې «تكفل» راغلى دى.(٦)

اودمسلم شريف په روايت كښې د «تضمن» لفظ هم راغلي دې.(٧)

---

١) تهذيب الكمال (٣٢٣\٣٣، ٣٢٦) والكاشف (٣٣٧\٣) رقم ٨١٠٣) وعمدة القارى (٢٢٩\١) وتقريب (ص.٦٤١) رقم (٨١٠٣) وخلاصة الخزرجي(٤٥٠)_

٢) الحديث قد أخرجه البخارى فى كتاب الجهاد باب أفضل الناس مؤمن مجاهد بنفسه وماله فى سبيل الله رقم ٢٧٨٧ وباب تمنى الشهادة رقم ٢٧٩٧ وباب الجعائل والحملان فى السبيل رقم ٢٩٧٢ وفى كتاب فرض الخمس باب قول النبى ﷺ أحلت لكم الغنائم رقم ٣١٢٣ وفى فاتحة كتاب التمنى باب ما جآء فى التمنى ومن تمنى الشهادة رقم ٧٢٢٦و٧٢٢٧ وكتاب التوحيد باب قوله تعالى : ولقد سبقت كلمتنا لعبادنا المرسلين رقم ٧٤٥٧ وباب قول الله تعالى((قل لو كان البحر مداداً لكمات ربى لنفد البحر قبل أن تنفد كلمات ربى ولو جئنا بمثله مدداً رقم ٧٤٦٣ وأخرجه مسلم (١٣٣\٢، ١٣٤) فى كتاب الإمارة باب فضل الجهاد والخروج فى سبيل الله والنسائى فى سننه (٥٥\٢) كتاب الجهاد باب ما تكفل الله عزو جل لمن جاهد فى سبيله وفى (٢٧١\٢) كتاب الإيمان وشرائعه باب الجهاد وابن ماجه فى سننه فى كتاب الجهاد باب فضل الجهاد فى سبيل الله رقم ٥٧٢٣)_

٣) مختار الصحاح (٦٥١.)_

٤) النهاية (٣٤\٥)_

٥) فتح البارى(٩٣\١)_

٦) صحيح بخارى (٤٤٠\١) كتاب الجهاد باب قول النبى ﷺ أحلت لكم الغنائم رقم ٣١٢٣)_

٧) صحيح مسلم (١٣٣\٢) كتاب الإمارة باب فضل الجهاد والخروج فى سبيل الله)-

قوله لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا إِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي: دې په ما باندې ايمان او په رسولانو باندې تصديق راوباسي

مطلب دا دې چه مجاهدکوم چه دالله تعالى په لار کښې اوځي نوهغه باندې بل څه وجه باعث نه وى بلکه په الله تعالى باندې ايمان او د رسولانود تصديق د وجې راوځي.

دلته ايمان مرفوع دې اود «لايخرجه» فاعل دې ددې حديث په بل سند كښې «ايماناً» په نصب سره دى په دې صورت كښې به «ايماناً» مفعول له گرخولې شى اوتقدير د عبارت به دا وى «لايخرجه مخرج الا للإيمان بي» يعنى ده لره د ايمان په وجه څوك راويستونكې راوباسى (١)

بيا علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه وړاندې په بعضې نسخوكښې د «وتصديق برسلي» په ځائې «أوتصديق برسلي» دى (٢) د «أو» په صورت كښې اشكال كيدې شى چه دايمان بالله دپاره تصديق بالرسل لازمى دې اود دواړو كيدل ضرورى دې.نوبيا ئې «أو»ولې اوفرمائيلى شو علامه كرمانى رحمه الله جواب وركړى چه دا «او» دمانعة الخلو دپاره دې كوم چه دجمع نه مانع نه دې.(٣)

خوحافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په اصل كښې د «أو» روايت ثابت نه دې.نودجواب وركولو تكلف ته ضرورت نشته.(٤)بيا خاص كرچه كله «أو» دمانعة الخلو دپاره اوگرخولې شى نود دواړو په مينځ كښې لزوم نه ثابتيږى.

البته دا ممكن ده.چه دا «أو» د شك دپاره وى.يعنى په دې كښې شك دې چه راوى «الإيمان بي» يا «لا تصديق برسلي» وئيلى دى.

بهرحال د ايمان بالله دپاره تصديق بالرسل لازم دې.د تصديق بالرسل نه بغيرپه الله تعالى باندې صحيح ايمان نشى حاصليدې.اودتصديق بالرسل دپاره ايمان بالله ضرورى دې.ځكه هغوى په الله تعالى باندې د ايمان راوړلو دعوت وركوى.

قوله أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ أَوْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ: يعنى الله تعالى دهغه كس كفالت كړې دې.څوك چه دهغه په لاركښې اووتلو.چه دې به داجر سره راواپس كوى.اويا به ئې د غنيمت سره راواپس كوى.يا به دې جنت ته داخلوى.

---

(١) فتح البارى(٩٣\١) وشرح نووى على صحيح مسلم (١٣٣\٢) كتاب الإمارة باب فضل الجهاد والخروج فى سبيل الله_

(٢) شرح الكرمانى (١٥٥\١)_

(٣) المصدرالسابق)_

(٤) فتح البارى(٩٣\١)_

((أرجع)) مجرد دې. د باب ضرب نه استعماليږي كله چه ددې مصدر يعنى رجوع وى نودا لازم وى اوكله چه ددې مصدر رجع وى نودا متعدى وى.[1] دلته متعدى دې.

ددې جملې حاصل دا دې چه كوم كس صرف دالله تعالى د رضا دپاره دايمان بالله او تصديق بالرسل سره ميدان جهاد ته لاړشى.نوياخو به شهيد شى.اوجنت ته به لاړ شى.اويا به ژوندې پاتې شى او واپس به راشى.په دې صورت كښې به ورسره يا اجر وى.اويا به مال غنيمت وى.

يو اشكال ددې خو مطلب دا شو.كه مجاهد ژوندې راواپس شو.نوده سره به په دوو څيزونو كښې صرف يو څيز وى.يا به ورته اجر ملاويږى.اويا به مال غنيمت ورته ملاويږى. حالانكه داسې كيږى.چه مجاهد صرف اجر سره واپس كيږى.مال غنيمت ورته نه وى حاصل شوې. اوكله داسې كيږى چه غنيمت سره واپس شى.اواجر ورسره هم وى.څكه چه كله مجاهد دالله تعالى د رضا دپاره د اعلاء كلمة الله په غرض جنګيږى.نوبهرحال هغه ته به دده په جهاد باندې اجر ملاويږى.

نوددې درې جوابونه وركړې شوى دى.

دعلامه كرمانى رحمه الله جواب علامه كرمانى رحمه الله دا ارشاد فرمائيلې دې.چه دا ((أو)) د مانعة الخلو دپاره دې.يعنى په دواړو كښې به يو خامخا وى.اودواړه جمع كيدې شى.[2]

د ابن عبدالبر،قرطبى اوتورپشتى رحمهم الله رائې حافظ ابن عبدالبر.اوعلامه قرطبى رحمه الله رائې دا دې.چه دا ((أو))په معنى د ((واو))دې.هم دې قول ته حافظ فضل الله تورپشتى رحمه الله ترجيح وركړې ده.[3] اوددې قرينه دا ده.چه د مسلم شريف په يو سند كښې ((يحيى بن يحيى عن مغيرة بن عبدالرحمن عن أبي الزناد عن الأعرج عن أبي هريرة))په واو سره يعنى ((أجروغنيمة))نقل دى.[4] دغه شان په نسائى كښې ((الزهرى عن سعيد بن المسيب عن أبي هريرة رضي الله عنه))په سند كښې او((عطاء بن ميناء عن أبي هريرة رضي الله عنه)) په روايت كښې په ((واو)) سره راغلى دى.[5] بيا په ابوداود كښې دحضرت ابوامامه رضي الله عنه د روايت الفاظ دا دى ((.. رجل خرج غازيا في سبيل الله فهو ضامن على الله حتى يتوفاه فيدخله الجنة أويرده بما نال من أجروغنيمة))[6]

---

[1] تاج العروس (٥\٣٤٨)_
[2] شرح كرمانى(١\١٥٦)_
[3] فتح البارى(٦\٨) كتاب الجهاد باب أفضل الناس مؤمن مجاهد بنفسه وماله فى سبيل الله)_
[4] صحيح مسلم (٢\١٣٣) كتاب الإمارة باب فضل الجهاد والخروج فى سبيل الله)_
[5] سنن نسائى (٢\٥٥) كتاب الجهاد باب ما تكفل الله عزوجل لمن جاهد فى سبيله)_
[6] سنن سنن أبى داود فى كتاب الجهاد باب فضل ا لغزو فى البحررقم ٢٤٩٤)_

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی که دا روايات ثابت شی نوبيا به دا متيعن شی چه ((أو)) په معنی د ((واو)) کښې دې (١)
خو حافظ ابن حجر رحمه الله په دې جواب باندې دا اشکال کړې دی چه کوم مجاهد ژوندې واپس راشی نو هغه به د اجر او غنيمت دواړو سره واپس راشی حالانکه په بعضې وخت کښې سړې بغير د غنيمت نه واپس راشی.(٢)
ددې دا جواب ورکړې شوې دې چه د اجر او غنيمت دواړو په يو ځائې راوړلو مطلب دا دې چه فی الجمله دواړه په يو ځائې راشی. او س ددې دوه صورتونه دی يو صورت خو دا دې چه دواړو سره واپس راشی. او دويم صورت دا دې چه په دې دواړو کښې په يو سره واپس راشی. يعنی اجر سره راشی.(٣)
دحافظ ابن حجر رحمه الله جواب دحافظ ابن حجر رحمه الله رائې دا ده چه په اصل کښې د غنيمت سره کوم اجر وی. هغه لږ وی. ددې وجې ددې تذکره نه ده شوې. امام مسلم د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه مرفوعاً يو روايت دا نقل کړې دې. **((ما من غازية تغزو فی سبيل الله فيصيبون الغنيمة إلا تعجلوا ثلثی أجرهم من الآخرة ويبقى لهم الثلث، وإن لم يصيبوا غنيمة تم لهم أجرهم))** (٤)
يعنی که د مجاهدينو يو لښکر د جهاد دپاره لاړ شی. او د غنيمت سره واپس راشی. نو دوی ته دوه حصې اجر په دنيا کښې ملاويږی. او يوه حصه ئې آخرت ته باقی پاتې شی. او که جهاد او کړی. د غنيمت نه بغير را واپس شی. نو د دوی ټول اجر آخرت دپاره ذخيره شی (٥)
خو په دې دا اشکال دې چه ددې مطلب خو دا دې چه غنيمت ملاويدل د ثواب د نقصان سبب دې. حالانکه نبی ﷺ د غنيمت حلالوالې په ځائې د احسان کښې ذکر کړی دی (چه دا په دې امت باندې دالله تعالی احسان دې. ازمترجم) او خپل خصوصيت ئې بيان کړې دې. نبی ﷺ فرمائيلی دی. **((وأحلت لی الغنايم ولم تحل لأحد من قبلی))** (٦)
دويم اشکال دا دې چه بيا خو ددې حديث په رڼا کښې د اهل احد درجه د اهل بدر نه اوچته ده. ځکه چه اهل بدرته غنيمت ملاؤ شوې وو. او اهل احد ته نه وو ملاؤ شوې.

---

١) فتح الباری (٨\٦) کتاب الجهاد باب أفضل الناس مؤمن مجاهد بنفسه وماله فی سبيل الله)_
٢) المصدر السابق)_
٣) أنظر شرح نووی علی صحيح مسلم (١٣٣\٢) کتاب الإمارة باب فضل الجهاد والخروج فی سبيل الله)_
٤) صحيح مسلم (١٤٠\٢) کتاب الإمارة باب بيان قدر ثواب من غزا فغنم ومن لم يغنم وسنن النسائی (٥٦\٢) کتاب الجهاد باب ثواب السرية التی تحقيق وسنن أبی داود کتاب الجهاد باب فی السرية تحقيق رقم ٢٤٩٧ وسنن ابن ماجه کتاب الجهاد باب النية فی القتال رقم ٢٧٨٥ وأحمد فی مسنده (١٦٩\١)_
٥) فتح الباری (١٦٩\٦)_
٦) صحيح بخاری (٤٧\١) کتاب التيمم)_

بعضې خلق د اشكالاتو نه ويريدلى دى.اودا ئې ونيلى دى.چه «ما من غازية تغزوا فى سبيل الله فيصيبون الغنيمة إلا تعجلوا ثلثى أجرهم من الآخرة» دا حديث ضعيف دې.ځكه چه په دې كښې يو راوى ابوهانى حميد بن هانى مجهول دې.(١)

خودا خبره صحيح نه ده.هم دا وجه ده.چه امام نووى رحمه الله فرمائيلى دى.دوى مجهول ګرځول غټه غلطى ده بلكه دوى مشهور ثقه راوى دې ددوى نه ليث بن سعد ،حيوه بن شريح او ابن وهب نه علاوه نورو ډيرو خلقو روايت كړې دې.ددوى د توثيق دپاره دا خبره كافى ده چه امام مسلم په خپل صحيح كښې ددوى په حديث باندې استدلال كوى.(٢)

بيا ابوحاتم رحمه الله دوى په باره كښې فرمائى.«صالح»(٣)

امام نسائى رحمه الله فرمائى.«ليس به بأس»(٤)

امام دراقطنى رحمه الله فرمائى.«لابأس به»بيا فرمائى.«ثقة»(٥)

حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائى.«هوعندهم صالح الحديث لابأس به»(٦)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى«ثقة»(٧)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكر كړى دى.(٨)

بعضې خلق دا وائى.چه ددې نه هغه غنميت مراد دې.كوم چه په ناجائزه طريقه باندې اخستې شوې وى.خودا خبره ددې وجې غلطه ده.چه بيا خو به ورته ثلث اجر هم نه ملاويږى. بلكه هيڅ اجر به ورته نه ملاويږى.(٩)

بعضې خلق وائى.چه ددې نه دجهاد هغه سفر مراد دې.چه په هغې كښې د ابتداء نه د اعلاء كلمة الله نيت نه وى.اوبيا روسته په كښې اخلاص پيدا شوې وى.

خو دا جواب هم صحيح نه دې.ځكه كه نيت صحيح نه وى.نواجر به مطلقاً نه ملاويږى.اوكه نيت ئې صحيح شى.نوبيا به ورته پوره اجر ملاويږى.په اول كښې د نيت د فساد اوپه آخر

---

(١) حكاه قاضى عياض رحمه الله عن بعضهم كما فى شرح النووى على صحيح مسلم (١٤٠/١٢) كتاب الإمارة باب بيان قدر ثواب من غزا فغنم ومن لم يغنم)_

(٢) شرح النووى على صحيح مسلم (١٤٠/١٢)_

(٣) تهذيب الكمال (٤٠٢/٧) وتهذيب التهذيب (٥١/٣)_

(٤) المصدر السابق)_

(٥) المصدر السابق)_

(٦) تهذيب التهذيب (٥١/٣)_

(٧) الكاشف(٢٥٨/١)_

(٨) الثقات لإبن حبان (١٤٩/٤)_

(٩) فتح البارى (٩/٦) كتاب الجهاد باب أفضل الناس مؤمن مجاهد بنفسه وماله فى سبيل الله)_

کښې د نیت د صحت دوجې نه د ثلثین او ثلث تقسیم صحیح نه دې.بیا خاص کر په غزواتو کښې د اجرداورومدار په ((لایخرجه إلاإیمان بی وتصدیق برسلی)) باندې دې.ددې نه دا معلومیږي. چه د سفر د شروع نه د نیت اخلاص ضروری دې. (١)

داولنی اشکال صحیح جواب داولنی اشکال صحیح جواب دا دې چه ((حل الغنائم)) یقیناً د نبی ﷺ خصوصیت دې.اونبی ﷺ دا خبره د مدح په مقام کښې ذکرکړې ده خودا امر مباح دې اودا ضروری نه ده.چه امرمباح دې د ثواب د حاصلولو سبب وی.دا صحیح ده.چه الله تعالی زمونږ عجز اوضعف ته کتلی دی.اوغنیمتونه نې زمونږ دپاره حلال کړی دی.(لکه څنګه چه په حدیث کښې راغلی دی(٢) خوددې نه دا چرته معلومیږی چه ددې په وجه به اجر اوثواب هم زیات وی.اوکمې به په کښې نه راځی.د دنیا د حاصلیدو نه پس د اجر کمیدل یوه معقوله خبره معلومیږی.(٣)

د دویم اشکال جواب اوترڅو پورې چه د اهل بدراواهل احد اشکال دې.نوددې جواب دا دې. چه د اهل احد او اهل بدر په مینځ کښې د تقابل په ځائې د اهل بدر په خپل مینځ کښې تقابل پکار دې.مطلب دا دې.چه خود د اهل بدر د دوو حالتونو په مینځ کښې موازنه کول پکار دی.اوکتل پکار دی.که هغوی ته غنیمت نه وو ملاؤ شوې.نوبیا به دهغوی اجر څومره وو؟

مثال په طورداسې پوهه شه.چه د غنیمت نه بغیرد بدری اجر شپږ سوه دې.اود احدی اجر بغیرد غنیمت نه سل دې.نوبدری ته چونکه غنیمت ملاؤ شوې دې.ددې وجې دده اجر د شپږو سوو ثلث یعنی دوه سوه به وی.نوبنکاره ده.چه دا دوه سوه کومه چه د بدری اجر دې.هغه د احدی دهغه اجر په دوچند دې.کوم چه د غنیمت نه بغیرهغه ته ملاؤ شوې وو.(٤)

وَلَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلٰی أُمَّتِي مَا قَعَدْتُ خَلْفَ سَرِيَّةٍ: که ما سره دا ویره نه وه.چه زما امت به په مشقت کښې اخته شي.نوزه به د یولښکرنه هم بغیرګډونه نه ووم پاتې شوې.په هره سریه کښې به مې شرکت کولو.خود مشقت د ویرې د وجې زه په هره سریه کښې شرکت نه کوم.

د مشقت وجوه ① یومشقت خو دا دې.که نبی ﷺ د جهاد دپاره تلو.نود مدینې منورې په انتظامی امورو اومعاملاتوکښې به تعطل پیدا شوې وو.ځکه چه نبی ﷺ په خپله موجود نه وو.نو روسته چه کوم واقعات راتلل.اوکوم حالات واقع کیدل.دهغې فیصله اوتصفیه به

---

(١) المصدرالسابق۔
(٢) قال رسول الله ﷺ فلم تحل الغنائم لأحد من قبلنا ذلک بأن الله رأى ضعفنا وعجزنا فطيبها لنا أخرجه مسلم فی صحیحه (٢\٨٥) کتاب الجهاد والسیرباب تحلیل الغنائم لهذه الأمة خاصة)۔
(٣) فتح الباری(٦\٩)۔
(٤) المصدرالسابق)۔

خنګه کیده؟نود معاملاتوددي تعطل په وجه به خلق په مشکل اوپریشانۍ کښې وو.

④دویمه وجه دا کیدې شي که نبی ﷺ په خپله جهاد ته تشریف اوړلو.نوددې مطلب به دا وو چه د امیر دپاره په جهاد کښې شرکت ضروری دې.نو روسته چه کوم خلفاء راتلل دهغوی دپاره به ګرانه وه.چه هغوی به په هرجهاد کښې وتل.اوښکاره خبره ده.چه په دې کښې مشقت دې.

⑤دریمه وجه دا کیدې شي.چه نبی ﷺ به کله جهاد ته تشریف اوړلو.نوبه اهل ایمان کښې به څوك هم په مدینه منوره کښې ایساریدو باندې راضی نه وو.په هغوی کښې به د هریو دا خواهش وو.چه هغه د نبی ﷺ سره په جهاد کښې شریك شي.اوچه ټولو د تلو خواهش کولو نو د ټولو دپاره به په سورلۍ انتظام کول ګران وو.اوتکلیف اومشقت به پیش کیدلو.قرآن مجید دې ذکرکړې دې﴿وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوْا وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ﴾([1])

دې حضراتو به د نبی ﷺ سره په مدینه منوره کښې شرکت غوستل.خود دوی دپاره به انتظام کول ګران وو.ددې خیال نې ا وساتلو اوبه بعضو مواقعوکښې نبی ﷺ لښکر سره تشریف یونړلو.چه دوی ته څه اطمینان اوتسلی اوشي.که مونږ لاړلو.نو نبی ﷺ خو هم نه دې تلې. اوکه نبی ﷺ په هره موقع باندې تشریف اوړلو.نو د دوی د بې چینۍ .خفګان او پریشانۍ څه اندازه باقی نه وه.نوځکه نبی ﷺ اوفرمائیل.

«لولا أن أشق على أمتي ما قعدت خلف سرية»([2])

سریه هغه لښکرته وائي.چه په هغې کښې زیات نه زیات څلور سوه کسان وي.([3])د سریه وجه تسمیه دا ده.چه دا د «سری» نه ماخوذ ده.ددې معنی ده،، ښه څیز،، چونکه په سریه کښې هم چانړشوی کسان لیږلی شي.نوځکه ورته ،،سریه،، وائي. ([4])

بیا په اصطلاح کښې په غزوه او سریه کښې فرق مشهور دې.چه غزوه هغه جنګ ته وائي چه په هغې کښې نبی ﷺ پخپله موجود وي.اوسریه هغه لښکر ته وائي.چه هغوی سره نبی ﷺ پخپله تشریف فرما نه وي.([5])والله أعلم.

قوله: وَلَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا ثُمَّ أُقْتَلُ:

زما ارمان دې.چه زه د الله تعالى په لارکښې قتل کړې شم.اوبیا راژوندې کړې شم.بیا قتل کړې شم.او بیا راژوندې کړې شم.ا.بیا زه د الله تعالى په لارکښې شهید کړې شم.

---

[1]) التوبة:۹۲)_

[2]) د دې ټولوتوجیهاتو دپاره اوګورئ (فضل الباری (۱\۴۴۹، ۴۵۰)_

[3]) النهایه لابن الأثیر(۲\۳۶۳)_

[4])المصدرالسابق)_

[5]) کشاف إصطلاحات الفنون (۲\۱۰۹۹) مادة الغزو)_

دلته كښې اشكال دې هغه دا چه د نبى ﷺ مرتبه خو د شهيدانو د مرتبې نه زياته اوچته ده.
نو بيا نبى ﷺ د شهادت ارمان ولې كولو
خودا څه عجيبه خبره نه ده.ځكه چه په بعضې وختونوكښې لوئې سړى ته د معمولى معمولى څيزونو خواهش هم وى.ګورئ يوكس ته مخامخ بريانى (په روژو كښې مالګه مصالحه مرچكئ وغيره واچوى.اوګډ وډ ئې كړى) قورمه اومتنجن (يوقسم خوږ پولاؤ) اونبه نبه څيزونه موجود وى.ددې باوجود هغه وانى اچار اوچتنى راوړئ.نوددې نبه قسم خوراكونو په مقابله كښې د اچار اوچتنۍ څه حيثيت دې؟ خوهغه بيا هم د اچار اوچتنى مطالبه كوى.
نبى ﷺ ته چه الله تعالى كوم مقام اومرتبه وركړې ده هغه په څوځوچنده د شهادت د مرتبې نه اعلى او اوچت دې.خوشهادت هم اګرچه ددوى دمقام نه كم دې هم د فضيلت يوڅيز ضرور دې.نوځكه نبى ﷺ ددې تمنا كړې ده.(١)
ددې نه علاوه د نبى ﷺ ددې تمنا كولو مقصود د شهداؤ اجر اوثواب حاصلول نه دى ځكه چه اجراوثواب خو نبى ﷺ ته د شهادت نه بغيرهم ددې نه زيات ملاؤ شوې ده.بلكه حقيقت حال دا دې چه نبى ﷺ د شهادت تمنا ددې دپاره اوكړله.چه په دې كښې يوخاص لذت دې

وہ کم ہیں تڑپنے میں جنہیں ملتی ہے لذت
یوں آپ کی شمشیر کے بسمل تو بہت ہیں

كه د شهادت مرتبه حاصلول ئې مقصود وو.نويوځل شهيد كيدل به كافى وو.خونبى ﷺ چه باربار د شهادت تمنا كوى.نودا په دې خبره دال دې چه په شهادت كښې يوخاص خوند دې.كوم چه نبى ﷺ يوځل نه بلكه باربارحاصلول غواړى.(٢)
بيا د نبى ﷺ ددې تمنا يوه وجه دا هم كيدې شى.چه بيشكه د نبوت مقام او مرتبه اوددې اجر او ثواب ډير زيات دې.خود شهادت هم ډيرلوئې مقام او فضيلت دې. د نبى ﷺ ارشاد دې.چه د شهيد د وينې نه زمكه وچه شوې هم نه وى.چه حورې دې اوچت كړى.(٣)
د شهيدانو روحونه تولږه ورځ په جنت كښې چرته چه ئې خوښه وى ګرځى راګرځى.او د شپې د عرش سره زوړندو قنديلو سره هغوى ته ځائې ملاويږى.(٤)
دغه شان بې شميره فضيلتونه الله تعالى د شهادت اوشهيد دپاره مختص كړى دى.(٥)

---

(١) فضل البارى (١\٤٥٠)_
(٢) المصدرالسابق)_
(٣) عن أبى هريرة ﷺ عن النبى ﷺ قال ذكر الشهداء عندالنبى ﷺ فقال لاتجف الأرض من دم الشهيد حتى تبتدره زوجتاه ..أخرجه ابن ماجه فى سننه فى كتاب الجهاد باب فضل الشهادة فى سبيل الله (٢٧٩٨)_
(٤)انظرالصحيح لمسلم (١٣٥\٢) كتاب الإمارة باب فى بيان أرواح الشهداء فى الجنة ...)_
(٥) الدرالمنثور(ص٩٤\٢تا ١٠٠) د (ولاتحسبن الذين قتلوا فى سبيل الله أمواتا) كښې.

نوكه نبی ﷺ ددې فضيلتونو اومناقبو په وجه د شهادت تمنا کړې وی.نو په دې کښې څه قباحت يا تعجب نشته

ايا د نبی ﷺ د شهادت تمنا کولو سره د کفر غلبه لازميږی دلته يو سوال دا دې چه په دې حديث کښې نبی ﷺ باربار د شهادت تمنا کوی.اوشهادت ملاويږی کافرانو سره په جنګ کولو.نولکه چه نبی ﷺ دا تمنا کوله.چه کفر دې هميشه دپاره باقی وی.؟

دا سوال ډيرسطحی دې.څکه چه د حديث مقصد دجهاد اوشهادت عظمت،مزيت اوفضيلت اظهار دې.دا عنوان د جهاد عظمت بيانول اودشهادت فضيلت ښکاره کولودپاره اختيار کړې شوې دې ددې نه دا تمنا کول چه نبی ﷺ د کفرد بقاء تمنا هم کوله.ډيرلغو اوباطل اعتراض دې.

بيا تکوينی طور دا معلومه ده.چه کفربه په ترقيامته پورې باقی وی.نوکه ددې په وجه نبی ﷺ د شهادت فی سبيل الله تمنا کړې وی.نوبيا نبی ﷺ ته د کفرد تمنا نسبت څنګه صحيح کيدې شی.څکه چه نبی ﷺ خو ددې وجې تمنا کړې ده چه کفربه هسې هم ترقيامته پورې باقی وی.

دغه شان دا هم وئيلی شوی دی.چه نبی ﷺ د کفرد بقاء دپاره نه بلکه دامت په خلقو کښې د شهادت شوق پيدا کولو دپاره دا فرمائيلی دی.(۱)والله أعلم.

۲۲-بَاب تَطَوُّعُ قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ الْإِيمَانِ

د ترجمې مقصد امام بخاری رحمه الله فرمائی.چه قيام رمضان خو تطوع ده.دا دايمان يوه شعبه ده.په دې سره امام بخاری رحمه الله دوو خبرو طرف ته اشاره اوکړله.يوه دا چه قيام رمضان سنت دې. واجب نه دې.دويمه دا چه لکه څنګه طاعات مفروضه په ايمان کښې داخل دی.دغه شان عبادات مندوبه هم داخل دی.

عبادات مندوبه په ايمان کښې داخل دی که نه؟ دا مسئله مختلف فيها ده..اهل سنت والجماعت طاعات مفروضه ومندوبه ټول په ايمان کښې داخل ګنړی.اود معتزلو يوه ډله دا وائی.چه طاعات مفروضه په ايمان کښې داخل دی.خوطاعات مندوبه نه دی داخل.(۲)

امام بخاری رحمه الله په دې ترجمه کښې د «تطوع» لفظ زياتی کړلو.اودې اختلاف طرف ته ئې اشاره اوکړه.اود اهل سنت تائيد ئې کړې دې

[۳۷] حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ [۱۹۰۲،۱۹۰۵،۲۰۰۸]

---

(۱) فضل الباری (۴۵۲/۱)_

(۲) الأبواب والتراجم (۳۶) از حضرت شيخ الحديث قدس سره)_

رجال الحديث

حدثنا اسماعيل: دوى اسماعيل بن ابى اويس مدنى دي ددوى حالات وړاندي په باب «تفاضل أهل الإيمان في الأعمال» كښي تيرشوى دى.

قال حدثني مالك: دامام مالك رحمه الله حالات په «باب من الدين الفرار من الفتن» كښي تيرشوى دى.

عن ابن شهاب: دوى امام زهرى رحمه الله دى.ددوى حالات په بدء الوحى كښي د دريم حديث لاندي تيرشوى دى.

عن حميد بن عبدالرحمن: دوى د مشهورصحابى احدالعشرة المبشرة حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه خوئي دي.د دوى كنيت ابوابراهيم دي.بعضو ابوعبدالرحمن خودلي دي. او بعضوابوعثمان ذكركړي دي.ددوى مور ام كلثوم بنت عقبه بن ابى معيط ده.دا د حضرت عثمان مورشريكه خور وه.اوبيخى په اول كښي ئي د مكي مكرمي نه مديني منوري ته هجرت كړي زنانوكښي ده.(١)

دوى د خپل پلارحضرت عبدالرحمن بن عوف. اوخپلي مور حضرت ام كلثوم نه علاوه د حضرت ابن عباس،حضرت عبدالله بن عمر،حضرت عبدالله بن عمرو،حضرت ابوهريره، حضرت ابوسعيدخدرى رضي الله عنهم وغيره نه احاديث اوريدلى دى.

اوددوى نه چه چا روايت كړي دي.نوپه هغوى كښي سعدبن ابراهيم،صفوان بن سليم، اسماعيل بن محمد بن سعدبن ابى وقاص،عبدالرحمن بن هرمزالاعرج اوامام زهرى رحمهم الله وغيره حضرات دى.(٢)

احمدبن عبدالله عجلى،اب، زرعه . او ابن خراش رحمهم الله ددوى په باره كښي فرمائى «ثقة»(٣)

محمدبن سعددامام واقدى رحمه الله نه نقل كړى دى.چه «وكان ثقة عالما كثيرالحديث»(٤)

واقدى رحمه الله فرمائى.چه ددوى وفات په مدينه منوره كښي په كال ۹۵ھ كښي شوي دي (٥)

ابن سعد رحمه الله فرمائى.چه بعضي عالمانو ددوى د وفات كال ۱۰۵ھ نقل كړي دي.خودا غلط دي.(٦)

---

(١) تهذيب الكمال(۱۷\۳۷۸.. ۳۷۹)_

(٢) المصدرالسابق)_

(٣) تهذيب الكمال(۱۷\۳۸۰)

(٤) طبقات ابن سعد(۵\۱۵٤)_

(٥)طبقات ابن سعد (۵\۱۵۵) دغه شان اوګورئ (حاشية تهذيب الكمال (۱۷\۳۸۱)_

(٦) المصدرالسابق)_

عن أبي هريرة رضي الله عنه: (١) دحضرت ابوهريره تفصيلي حالات په «باب أمور الإيمان» كښې تيرشوي دي

قوله أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ: يعنى نبى ﷺ فرمانيلى دى. كوم كس چه په رمضان كښې په ايمان اودثواب په نيت سره قيام اوكړى. نودده ټول مخكنى ګناهونه به معاف كړې شى

ددې حديث سره د متعلقه مباحثو تشريح وړاندې په «من يقم ليلة القدر إيماناً واحتساباً غفرله ما تقدم من ذنبه» لاندې تيره شوې ده.

٢٧ = بَاب صَوْمُ رَمَضَانَ احْتِسَابًا مِنَ الْإِيمَانِ

د قيام رمضان په صوم رمضان باندې د تقديم څو وجوه امام بخارى رحمه الله فرمائى چه احتساب يعنى دالله تعالى نه د اجر اوثواب طلبولو دپاره د رمضان روژه نيول دايمان شعبه ده.

دلته سوال دا دې چه امام بخارى رحمه الله د «صوم رمضان» ترجمه د «قيام رمضان» نه پس ذكر كړه حالانكه صوم فرض دې اوقيام رمضان سنت دې دصوم فرضت ددې خبرې متقاضى دې چه وړاندې ئې د دې ترجمه راوړې وې او ورسته ئې د قيام رمضان ترجمه منعقد كړې وې.

ددې سوال جواب مونږ وړاندې د باب «الجهاد من الإيمان» په شروع كښې ذكر كړې دې خودلته لږ په تفصيل سره ذكر كولې شى.

① د دې يوجواب دا دې چه قيام رمضان فعلى عبادت دې اوصوم رمضان تركى عبادت دې اود ترك نمبر د فعل نه پس وى نوځكه ئې اول فعلى عبادت ذكر كړلو اوبيا ئې تركى عبادت ذكر كړو. (٢)

② دويم جواب دا دې چه قيام رمضان په شپه كښې وى او صوم رمضان په ورځ كښې وى. اول قيام كيږى اوبيا صوم. ګورئ نه چه كله د رمضان مياشت اوليدې شى نواول تراويح كولى شى ځكه چه اول شپه وى نوځكه ددې عبادت ادا كولې شى اوبيا روژه نيولې شى ځكه چه د شپې نه پس د رمضان اولنې تاريخ وى اودغې عبادت ادا كولې شى. نو چونكه د زمانې په لحاظ سره قيام رمضان په صوم رمضان باندې مقدم دې نوځكه منصف رحمه الله په ذكر كښې هم مقدم كړلو. (٣)

③ دريم جوا دا دې چه قيام رمضان سنت دې اوصوم رمضان فرض دې اوپه فرائضو كښې

---

(١) قد سبق تخريج هذا الحديث تحت باب قيام ليلة القدر من الإيمان) فارجع إليه إن شئت)_
(٢) فتح البارى(١\٩٢)_
(٣) المصدر السابق)_

عام طور داخليدل په سنتو سره كيږى لكه چه قيام رمضان په منزله د سنت قبليه دى خكه مصنف رحمه الله دا وړاندې ذكركړلو (۱)

۞ څلورم جواب دا دې چه قيام رمضان د روژې تمهيد دې خكه چه د روژې يوه حصه تراويح دى اويه دې كښې تهجد، ذكر، نوافل دعا وغيره هم داخل دى بنكاره خبره ده چه كله څوك قيام كوى نود پيشمنى وخت به راخى نويه دې طريقه به دا قيام د روژې تمهيد شى اوتمهيد وړاندې وى خكه امام بخارى رحمه الله قيام رمضان وړاندې او صوم رمضان روسته ذكركړه (۲) والله أعلم

[۳۸] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَامٍ قَالَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ عَنْ أَبِي سَلَمَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ [۱۹۱۰، ۱۸۰۲]

رجال الحديث

ابن سلام: دوى محمدبن سلام بيكندى رحمه الله دى. ددوى حالات وړاندې دكتاب الايمان كښې د «باب قول النبى ﷺ أنا أعلمكم بالله وأن المعرفة فعل القلب» لاندې تيرشوى دى

محمدبن فضيل: دوى ابوعبدالرحمن محمدبن فضيل بن غزوان بن جريرضبى كوفى دې. دوى دمغيره بن مقسم ضبى، مختاربن فلفل، بيان بن بشر احمسى رحمهم الله اوددوى نه علاوه د نورو حضراتونه احاديث اوريدلى دى.

اودوى نه چه چا روايت كړې دې په هغوى كښې امام سفيان ثورى رحمه الله هم دې چه د دوى نه لوئې دې. د ده نه علاوه امام احمد، امام اسحاق بن راهويه اوعمروبن على الفلاس رحمهم الله غوندې حضرات دى. (۳)

امام نسائى رحمه الله فرمائى. «ليس به بأس» (۴)

امام ابوزرعه رحمه الله فرمائى. «صدوق من أهل العلم» (۵)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى «شيخ» (۶)

---

۱) امدادالبارى (۵۹۵\۱٤)_
۲) المصدرالسابق)_
۳) تهذيب الكمال (۲۹۳\۲۶، ۲۹۶) وخلاصة الخزرجى (۳۵۶) وعمدة القارى (۲۳٤\۱)_
٤) تهذيب الكمال (۲۹۷\۲۶) وخلاصة الخزرجى (۳۵۶)_
۵) تهذيب الكمال (۲۹۷\۲۶)_
۶) المصدرالسابق)_

امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی«ثقة»[1]
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی«وکان من علماء هذا الشأن»[2]
امام احمد رحمه الله فرمائی«کان یتشیع وکان حسن الحدیث»[3]
امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائی«وکان ثقة کثیر الحدیث متشیعاً وبعضهم لا یحتج به»[4]
امام ابوداود فرمائی«کان شیعیاً محترقا»[5]
حافظ صفی الدین خزرجی رحمه الله فرمائی.«شیعی غال باطنه لا یسب»[6]
علامه سمعانی رحمه الله فرمائی«وکان یغلوفی التشیع»[7]
د محمدبن فضیل رحمه الله په باره کښې چه کوم اقوال ذکرشول ددې خلاصه دا ده چه دوی په حدیثو کښې امام اوحافظ وو.د دوی په احادیثوباندې لویو لویو عالمانو رحمهم الله اعتماد کړې دې.البته ددوی په باره کښې چه کومه جرح ده.هغه دا ده.چه دوی شیعه وو.اوبیا بعضې حضراتو دوی له کټرشیعه ګرځولې دې.
خوحقیقت دا دې.چه دوی غالی شیعه نه وو.بلکه صرف حضرت علی رضي الله عنه به ئې غوره ګڼړلو اوحضراتو شیخینو رضي الله عنهما به ئې تعظیم کولو اوحضرت عثمان رضي الله عنه به ئې په ترحم سره ذکرکولو.
هم دا وجه ده.چه د حضرت امام احمد رحمه الله په قول «وکان یتشیع» باندې چه امام ذهبی رحمه الله تبصره کوی.نو فرمائی.«قلت کان متوالیاً فقط»[8]
دغه شان دامام ابوداود رحمه الله په قول «کان شیعیاً محترقاً» باندې حافظ ذهبی رحمه الله تبصره کوی.اوفرمائی«قلت تحرقه علی من حارب أو نازع الأمر علیاً رضي الله عنه وهو معظم للشیخین رضي الله عنهما»[9]
دامام محمد بن سعد رحمه الله په قول «وبعضهم لا یحتج به»باندې تبصره کوی.حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی«إنما توقف فیه من توقف لتشیعه»[10] یعنی په دوی باندې چه چا د عدم اعتماد اظهار

---

[1]) المصدر السابق)_
[2]) تذکرة الحفاظ (۱\۳۱۵)-
[3]) تهذیب الکمال(۲۶\۲۹۷) وتذکرة الحفاظ (۱\۳۱۵) وسیر أعلام النبلاء (۹\۱۷۴)_
[4]) طبقات ابن سعد(۶\۳۸۹)_
[5]) تهذیب الکمال(۲۶\۲۹۷) وتذکرة الحفاظ (۱\۳۱۵) وسیر أعلام النبلاء (۹\۱۷۴)_
[6]) خلاصة الخزرجی(۳۵۶)_
[7]) الأنساب للسمعانی (۴\۱۱)_
[8])تذکرة الحفاظ(۱\۳۱۵)_
[9])سیر أعلام النبلاء(۹\۱۷۴)_
[10]) هدی الساری(۴۴۱)_

کړې دي.نو هغه ددوی د تشیع د وجې دي.خوددوی تشیع د غلو حد ته نه وو رسیدلې.اونه دوی د تشیع داعی وو.نوځکه دا طعن نشی قبلولې.

دا خبره دې یاده وی.چه بعضې حضراتو د یحیی حمانی نه نقل کړې ده.چه محمدبن منکدر پلار وائی.ما خپل خوئې محمدبن فضیل رحمه الله ته دشپې نه واخله تر صبا پورې په دې خبره باندې زورنه ورکړه.چه ته په حضرت عثمان رضی الله عنه باندې ترحم اوکړه.خو ده انکار کولو (۱)

خودا واقعه صحیح نه معلومیږی.ځکه چه امام یحیی بن معین رحمه الله نقل کوی.چه زه د محمد بن فضیل رحمه الله سره ناست ووم.چه یوکس زاغلو.اواوئیل چه مروان فزاری دا وائی چه ستاسو پلار توله شپه دا کوشش اوکړلو.چه تاسو د حضرت عثمان رضی الله عنه په حق کښې د استغفار کلمات اووائې.خوتاسو برابر انکار کولو.په دې باندې حضرت محمد بن فضیل رحمه الله اوفرمائیل.((لا والله ماعلم الله هذا منی قط، وما ذکرت عثمان رضی الله عنه قط إلا بخیر)) (۲)

دغه شان ابوهاشم د محمد بن فضیل رحمه الله نه نقل کوی.چه دوی فرمائیلی دی ((رحم الله عثمان رضی الله عنه ولا رحم الله من لایترحم علیه)) (۳)

دغه شان فرمائی.((ورأیت علیه آثار أهل السنة والجماعة رحمه الله تعالی)) (۴)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی((وقد احتج به أرباب الصحاح)) (۵)

حافظ ذهبی رحمه الله ددوی د شاګردانو یو فهرس ذکرکړې دې.اوددې نه پس ئې په دوی باندې یوه جامع تبصره کړې ده.فرمائی.((حدث عنه أحمد وأبوعبید، وعدد کثیر وهم غفیر، علی تشیع کان فیه،إلا أنه کان من علماء الحدیث والکمال عزیز)) (۶)

خلاصه دا شوه.چه محمدبن فضیل ثقه راوی دې.ددوی د روایاتوپه قبلولو کښې توقف نه دې پکار.اوترڅو پورې چه د دوی د تشیع خبره ده.نو اول خودا چه دوی داعی نه وو.اوبیا شیعیت هم ددوی معمولی وو.په دوی کښې غلو نه وه.بلکه د ابوهاشم د قول مطابق په دوی باندې د اهل سنت والجماعت آثار ښکاره وو.والله أعلم

امام بخاری رحمه الله فرمائی.چه د دوی وفات په کال ۱۹۵ه کښې شوې وو (۷)

---

(۱) سیرأعلام النبلاء (۹\۱۷٤)_
(۲) حاشیة تهذیب الکمال(۲۶\۲۹۷)_
(۳) هدی الساری(٤٤۱)_
(۴) المصدرالسابق)_
(۵) سیرأعلام النبلاء(۹\۱۷۵)_
(۶) سیرأعلاء النبلاء (۹\۱۷۳)_
(۷) التاریخ الکبیرللبخاری(۱\۲۰۸) رقم الترجمة (۶۵۲)_

③ يحيى بن سعيد: دوى مشهور تابعى محدث يحيى بن سعيد بن قيس بن عمرو الانصارى المدنى دى ددوى تذكره اګرچه د وړاندينى حديث په ضمن كښې راغلې ده خو هلته چونكه ډير اختصار وو نوځكه دلته لږ غوندې په تفصيل سره ددوى بيان كوو

يحيى بن سعيدانصارى رحمه الله په خپله زمانه كښې عالم او قاضى او دفقهاء سبعه خوږ شاګرد وو ددوى ولادت د حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه په زمانه كښې شوې وو.()

دوى دحضرت انس بن مالك، سائب يزيد، او ابوامامه بن سهل رضي الله عنهم نه علاوه حضرت سعيد بن المسيب، قاسم بن محمد، عراك بن مالك رحمهم الله نور ډيرو حضراتو نه احاديث اوريدلى دى.() -

ددوى نه چه كومو حضراتو احاديث اوريدلى دى. دهغوى فهرس هم ډير اوږد دې. د دوى خپل شيخ حضرت امام زهرى رحمه الله نه علاوه د هشام بن عروه، حميد الطويل، ايوب سختيانى، عبيدالله بن عمر، امام شعبه، امام مالك، امام سفيان ثورى، سفيان بن عيينه، حمادبن زيد، حمادبن سلمه، جريربن حازم، جريربن عبد الحميد، عبدالله بن المبارك او يحيى القطان رحمهم الله دى.()

محمد بن سعد رحمه الله فرمائى. «وكان ثقة كثير الحديث حجة ثبتاً»()

امام احمد رحمه الله فرمائى. «يحيى بن سعيد الانصارى أثبت الناس»()

سعيدبن عبدالرحمن جمحى رحمه الله فرمائى «ما رأيت أحداً أقرب شبهاً بابن شهاب من يحيى بن سعيد الأنصارى ولولاهما لذهب كثير من السنن»()

على بن مدينى رحمه الله فرمائى «لم يكن بالمدينة بعد كبار التابعين أعلم من ابن شهاب ويحيى بن سعيد الأنصارى وأبى الزناد وبكير بن عبدالله بن الأشج»()

دغه شان دوى فرمائى. «أصحاب صحة الحديث وثقاته ومن ليس فى النفس من حديثهم شئ أيوب بالبصرة ومنصور بالكوفة ويحيى بن سعيد بالمدينة وعمرو بن دينار بمكة»()

() سير أعلام النبلاء (۵\۴۶۸)_
() تهذيب الكمال (۳۱\۳۴۷، ۳۴۹) وخلاصة الخزرجى (۴۲۴)_
() تهذيب الكمال (۳۱\۳۴۹-۳۵۱) وسير أعلام النبلاء (۵\۴۷۰) وتذكرة الحفاظ (۱\۱۳۷) وخلاصة الخزرجى (۴۲۴)_
() تهذيب الكمال (۳۱\۳۵۱)_
() تذكرة الحفاظ (۱\۱۳۸) وسير أعلام النبلاء (۵\۴۷۱) وتهذيب الكمال (۳۱\۳۵۶)_
() تهذيب الكمال (۳۱\۳۵۲)_
() تهذيب الكمال (۳۱\۳۵۳)_
() تهذيب الكمال (۳۱\۳۵۵)_

محمدبن عبدالله عمار موصلی رحمه الله فرمائی «موازين أصحاب الحديث من الكوفيين والمدنيين عبدالملك بن أبي سليمان، وعاصم الأحول وعبيدالله بن عمر، ويحيى بن سعيد الأنصارى»[1]

امام یحیی القطان رحمه الله په اهل حجازکښې یحیی بن سعیدانصاری رحمه الله باندې چاته هم فوقیت نه ورکوی کله چه د هغوی نه تپوس اوشو چه امام زهری رحمه الله ته هم فوقیت نه دې حاصل؟ نو هغوی اوفرمائیل «الزهرى يختلف عنه ويحيى بن سعيد لم يختلف عنه»[2]

امام احمدابوخیثمه، یحیی بن معین، ابوزرعه، اوابوحاتم رازی رحمهم الله فرمائی «ثقة»[3]

امام عجلی رحمه الله فرمائی «مدنى تابعى ثقة، وكان له فقه وكان رجلاً صالحاً»[4]

امام نسائی فرمائی «ثقة ثبت»[5]

دغه شان فرمائی «ثقة مأمون»[6]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی. «يحيى يوازى الزهرى»[7]

سفیان ثوری رحمه الله فرمائی «كان يحيى بن سعيد الأنصارى، أجل عند أهل المدينة من الزهرى»[8]

جریر بن عبدالحمید رحمه الله فرمائی «لم أر من المحدثين إنساناً كان أنبل عندى من يحيى بن سعيد الأنصارى»[9]

د دوی ژوند په اول کښې ډیر په سختئ کښې تیریدو. خو خلیفه ابوجعفر منصور دوی عراق ته راوغوښتلو اوهلته ئې قاضی مقرر کړلو. ددې نه پس سختی ختمه شوه. خو ددوی په حالاتو کښې څه تبدیلی رانغله. هم دا وجه ده. چه محمد بن القاسم هاشمی رحمه الله فرمائی. «كان يحيى بن سعيد خفيف الحال، فاستقضاه ابوجعفر وارتفع شأنه فلم يتغيرحاله فقيل له في ذلك فقال من كانت نفسه واحدة لم يغيره المال»[10]

---

[1] المصدر السابق)_
[2] المصدر السابق)_
[3] تهذیب الکمال (۳۱\۳۵۶)_
[4] المصدر السابق)_
[5] المصدر السابق)_
[6] المصدر السابق)_
[7] تهذیب الکمال (۳۱\۳۵۳)_
[8] المصدر السابق)_
[9] تهذیب المال (۳۱\۳۵۲)_
[10] تهذیب الکمال(۳۱\۳۵۷)_

دغه شان امام مالك رحمه الله فرمائی ((ما خرج منا أحد إلى العراق إلا تغير غير يحيى بن سعيد، ولم يرجع من ماكان عليه إلا يحيى بن سعيد))(١)

تولواصحاب سته ددوی احاديث نقل کړی دی.(٢)

په کال ١٤٣ھ يا ١٤٤ھ يا ددې نه پس وفات شوې دې.(٣) رحمه الله تعالى.

ابوسلمه: دوی دحضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه خوئې دې.اود مدينې منورې په اووه فقهاؤ کښې يو دې.اومشهورتابعی محدث دې.(٤)

امام مالك رحمه الله فرمائی.ددوی دا کنيت هم ددوی نوم دې.(٥) حالانکه بعضې نورو فقهاؤ ددوی نوم عبدالله خودلې دې.اوبعضې نورو حضراتو ددوی نوم اسماعيل بيان کړې دې.(٦)

په ٢٠ھ نه روستو پيدا شوی وو.(٧)

دخپل پلارحضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نه ئې روايت کړې دې.خو کم دی. خکه چه دوی واړه وو.چه پلار ئې وفات شوې وو.(٨)

---

(١) المصدرالسابق)_

(٢) تهذيب الكمال(٣١\٥٣٩)_

(٣) تهذيب الكمال(٣١\٣٥٨) وخلاصة الخزرجی (٤٢٤) وتقريب (٥٩١) رقم ٧٥٥٩)_

(٤) تهذيب الأسماء واللغات (٢\٢٤٠)_

(٥) تذكرة الحفاظ (١\٦٣) وتهذيب الكمال(٣٣\٣٧٥)_

(٦) تهذيب الكمال (٣٣\٣٧١) وسيرأعلام النبلاء (٤\٢٨٧) قال النووی والصحيح المشهور هو الأول انظر تهذيب الأسماء واللغات (٢\٢٤٠)_

(٧) ولد سنة بضع وعشرين قاله الذهبی فی السير(٤\٢٨٧) وانظرالتقريب (٦٤٥) رقم الترجمة (٨١٤٢)_

(٨) سيرأعلام النبلاء (٤\٢٨٧) وقال سبط ابن العجمی الحلبی ((قال ابن معين والبخاری لم يسمع من أبيه شيأ انظر حاشيته على الكاشف للذهبی (٢\٤٣١)..

دغه شان امام علی بن المدينی.امام احمد.يحيى بن معين.ابوحاتم.يعقوب بن شيبه، اوابوداود رحمهم الله فرمائی.چه دوی د خپل پلار نه کوم روايت کوی.نوهغه مرسل وی.خکه چه دوی دخپل پلارنه سماع نه ده کړې.(تهذيب التهذيب (١٢\١١٧)..

خوپه دې باندې اشکال کيږی.چه امام نسائی د نضربن شيبان په سند سره ددوی نه نقل کړی دی.په کوم کښې چه دوی د خپل پلار نه روايت کوی.اوپه هغې کښې صيغه د تحديث ده.((سنن نسائی.(١\٣٠٨) كتاب الصيام باب ثواب من قام رمضان وصامه إيماناً وإحتساباً ذكر إختلاف يحيى بن ابی كثير والنضربن شيبان فيه)) د دې نه معلوميږی.چه ددوی دخپل پلار نه سماع ثابته ده)..

ددې جواب دا دې.چه دې حديث ته امام نسائی خطا ونيلې ده.فرمائی.((قال ابوعبدالرحمن هذا خطأ والصواب أبوسلمة عن أبی هريرة رضي الله عنه.)) هم دا وجه ده.چه حافظ ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی((لم يسمع من أبيه وحديث النضربن شيبان فی سماع أبی سلمة عن أبيه لايصححونه)) تهذيب التهذيب (١٢\١١٧)_

د دوی نه علاوه د حضرت عبدالله بن سلام، حضرت عبدالله بن عمر، حضرت عبدالله بن عباس، حضرت عبدالله بن عمروبن العاص، حضرت جابر، حضرت ابوسعید خدری، حضرت ابواسید، حضرت معاویه بن الحکم حضرت ربیعه بن کعب حضرت عائشې اوحضرت ام سلمې رضي الله عنهما نه علاوه نورو صحابو رضي الله عنهم نه ئې سماع کړې ده.[1]

په تابعینو رحمهم الله کښې حضرت عطاء بن ابی رباح، عروه بن زبیر، بشیربن سعید، اوحضرت عمربن عبدالعزیز رحمهم الله نه روایت کوی.[2]

د دوی نه چه چا روایت کړې دې په هغوی کښې امام شعبی، عبدالرحمن الاعرج، عراك بن مالك، عمروبن دینار، ابوحازم، زهری، یحی الانصاری اویحیی بن ابی کثیر رحمهم الله نه علاوه نورو ډیرو حضراتو احادیث روایت کړې دی.[3]

ابن سعد رحمه الله فرمائی: «كان ثقة فقيها كثير الحديث».[4]

ابواسحاق رحمه الله فرمائی: «أبوسلمة في زمانه خير من ابن عمر في زمانه».[5]

ابوزرعه رحمه الله فرمائی: «ثقة إمام».[6]

ابراهیم بن عبدالله بن قارظ رحمه الله د امام زهری رحمه الله نه نقل کوی: «لقد تركت رجلين من قومك لا أعلم أكثر حديثاً منهما عروة بن الزبير وأبوسلمة بن عبدالرحمن».[7]

امام زهری رحمه الله فرمائی: «أربعة من قريش وجدتهم بحوراً: عروة بن الزبير، وابن المسيب، وأبوسلمة وعبيدالله بن عبدالله».[8] حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: «وكان من كبار أئمة التابعين غزير العلم ثقة عالماً».[9]

دغه شان دوی فرمائی: «كان طلابة للعلم فقيهاً مجتهداً كبير القدر رحمه».[10]

هیثم بن عدی رحمه الله فرمائی چه دوی په کال ۹۴هـ کښې وفات شوی وو.[11]

---

[1] تهذيب الأسماء واللغات (٢٤١\٢) وتهذيب الكمال (٣٧١\٣٣، ٣٧٢) وسير أعلام النبلاء (٢٨٧\٤)_
[2] المصدر السابق)_
[3] المصدر السابق)_
[4] تهذيب الأسماء (٢٤١\٢) وتهذيب الكمال (٣٧٤\٣٣) وسير أعلام النبلاء (٢٨٧\٤)_
[5] سير أعلام النبلاء (ق\ص٨٨)-
[6] تهذيب الكمال (٣٧٥\٣٣) وسير أعلام النبلاء (٢٨٩\٤)_
[7] تهذيب الكمال (٣٧٥\٣٣) وسير أعلام النبلاء (٢٨٩\٤)_
[8] تهذيب الكمال (٣٧٥\٣٣) وسير أعلام النبلاء (٢٨٩\٤) وتذكرة الحفاظ (٦٣\١)_
[9] تذكرة الحفاظ (٦٣\١)_
[10] سير أعلام النبلاء (٢٨٧\٤)_
[11] تهذيب الكمال (٣٧٦\٣٣) وسير أعلام النبلاء (٢٩٠\٤)_

ابن سعد رحمه الله فرمائى چه ددوى وفات د دوه اويا كالو په عمر كښې په مدينه منوره كښې په كال ۹۴ھ كښې شوې وو (١)

او امام واقدى رحمه الله فرمائيلى دى «مات سنة أربع ومائة وهو ابن اثنتين وسبعين سنة» (٢)

حافظ ذهبى رحمه الله د واقدى قول ضعيف كړې دې (٣) رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه تفصيلى حالات د «باب أمور الإيمان» په ضمن كښې تير شوى دى.

قوله قال رسول الله ﷺ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ: (٤) رسول الله ﷺ فرمائيلى دى كوم كس چه په رمضان كښې په ايمان او احتساب سره روژه اونيسى نو دده مخكنى ټول ګناهونه به معاف شى.

دلته تاسو د حديث په الفاظو كښې ګورئ چه د «من صام رمضان» سره «إيمانا واحتسابا» قيد لګولى شوې دې دغه شان د تيرشوى باب په حديث كښې هم «من قام رمضان..» سره «إيمانا واحتسابا» قيد موجود دې حالانكه په ترجمه كښې امام بخارى رحمه الله صرف د «من صام رمضان» حديث سره د «احتسابا» قيد لګولى دې او د «من قام رمضان ..» په حديث كښې دا قيد نشته ددې تفريق څه وجه ده؟

ددې جواب دا دې چه خود د قيام رمضان هئيت مذكردې كوم چه طلب او احتساب يادوى اوپه روژه كښې چونكه پريخودل وى د خوراك څكاك او جماع نوځكه دا په هئيت مذكره باندې نه دې نوچه په كوم ځائې كښې ئې د تراويح او قيام رمضان ذكركړې وى نوهلته ئې د احتسابا قيد ئې په ترجمه كښې نه دې لګولې ځكه چه دغه عمل په خپله د احتساب دپاره مذكر دې او كوم ځائې كښې چه ئې د صوم رمضان ترجمه قائمه كړې ده نو د احتسابا قيد ئې په ترجمه كښې ذكركړې دې. (٥)

....

---

(١) تهذيب الأسماء (٢٤١\٢) وتهذيب الكمال (٣٧٦\٣٣)_

(٢) تهذيب الكمال (٣٧٦\٣٣) وسير أعلام النبلاء (٢٩٠\١٤)_

(٣) سير أعلام النبلاء (٢٩٠\١٤)_

(٤) قد سبق تخريج هذا الحديث تحت باب قيام ليلة القدر من الإيمان)_

(٥) إمداد البارى (٥٩٥\١٤)_

۲۸ = بَاب الدِّينُ يُسْرٌ وَقَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الدِّينِ إِلَى اللّٰهِ الْحَنِيفِيَّةُ السَّمْحَةُ

ما قبل سره ربط امام بخاری رحمه الله په ((تطوع قيام رمضان من الايمان)) او ((صوم رمضان احتساباً من الايمان)) نه پس د ((الدين يسر)) ترجمه قائمه کړه په دې کښې ئې د قرآن مجيد د اسلوب اتباع کړې ده.دالله تعالى ارشاد دې ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْٓ اُنْزِلَ فِيْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ ۚ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ ۖ وَمَنْ كَانَ مَرِيْضًا اَوْ عَلٰى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ ۗ يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾[1]چونکه د رمضان د روزو د ذکر نه پس وړاندې ئې ﴿يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ﴾ فرمائيلى دى.ددې وجې امام بخاری رحمه الله ددې خيال ساتلې دې او دا ترجمه ئې د ((صوم رمضان احتساباً من الايمان)) نه پس دلته قائمه کړې ده.[2]

علامه عينى رحمه الله فرمائى چه په ماقبل او دې باب کښې مناسبت په دې طريقه دې چه په صوم رمضان کښې د ((يسر)) معنى موجود ده.خکه چه مسافر اومريض ته د رمضان روژې روستو کولو اجازت شته.په خلاف د مونځ .دغه شان د شيخ فانى په حق کښې خو صوم بيخى ساقط شوې ده.اوددې په ځائې په ده باندې فديه لازميږى.په خلاف د مانځه خکه چه دا نه معاف کيږى. ښکاره ده.چه دا ((يسر))دې.بيا صوم په دوولسو مياشتو کښې صرف يوه مياشت وى.او مونځونه په شپه او ورځ کښې پنځه وخته کولې شى.دا هم ((يسر))دې.د صوم دې يسر طرف ته متوجه کولو دپاره امام بخارى رحمه الله دلته د ((الدين يسر))باب قائم کړو.[3]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه ماقبل کښې امام بخارى رحمه الله کوم احاديث ذکرکړل.په هغې کښې د ..قيام.. صيام. او ..جهاد.. ذکر وو.دا ټول دمشقت کارونه دى.او ښکاره ده چه د مشقت کار کول او دهغې پابندى کول عام طور ګران وى.داسې اعمال پابندئ سره کولونه طبيعت کښې ستى او فتور پيدا کيږى.او سړې عمل پريږدى.بيا نتيجه دا راويستې شى.چه داسې مشکل او ګران اعمال کول خو ډير ګران دى.چونکه دا د دين اعمال دى.ددې وجې ونيلى شى.چه دين ګران دې.نو امام بخارى رحمه الله د ((الدين يسر)) باب قائم کړو.اوددې لاندې ئې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث چه ((الدين يسر)) دې.ذکر کړو.اوددې غلط فهمئ ازاله ئې اوکړه.اودا ئې اوفرمائيل چه شريعت ددې اعمالو ترغيب خو ورکړې دې. او ددې

---

[1] سورة البقرة:۱۸۵)_

[2] درس بخارى از شبير احمد عثمانى رحمه الله (۲٤۲ وفضل البارى (۱\٤٥۶، ٤٥۹) والأبواب والتراجم از علامه محمد ادريس کاندهلوى رحمه الله (۱۰۷)_

[3] عمدة القارى(۱\۲۳٤، ۲۳۵)_

حکم خو ئې ورکړې دې.خوبه دې بانديې په اعتدال او میانه روئ سره عمل کول مقصود دې.مشکل اوګرانوالې په هغه وخت کښې وی.چه کله سړې میانه روی او اعتدال پریږدی.شریعت خو د اعتدال او میانه روئ اختیارولو حکم ورکړې دې.نو سړی لره د خپل قوت مناسب کوشش کول پکار دی.دومره زیاته مجاهده دې نه کوی.چه کوم لړاو مختصرعمل ئې کولو.دهغې نه هم پاتې شی.په دین کښې یسر دې عسر نه دې.(۱)

حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمائی چه په دې باب کښې د معتزلو او خوارجو تشدداتو طرف ته تعریض دې.خکه چه دوی دین دومره سخت کړې وو.تردې که د یو وخت مونځ ئې پریخود.نو د ایمان نه خارج شو .یا کافر شو.نو امام بخاری رحمه الله فرمائی چه دین دومره سخت نه دې.لکه څومره چه دوی سخت کړې دې.بلکه دین آسمان دې.(۲)

کتاب الایمان سره ددې باب مناسبت امام بخاری رحمه الله ددې نه وړاندې شعب ایمانیه بیان کړې.او اوس دلته فرمائی.چه دین آسان دې.په ظاهره دا د ایمان شعبه نه ده.نو بیا د کتاب الایمان سره ددې څه مناسبت دې؟

ددې جواب دا دې.چه «الدین یسر»اګرچه شعب ایمانیه څنې نه ده.خو ددې د کتاب الایمان سره تعلق خامخا شته.خکه چه په «الدین» کښې الف لام د عهد دپاره دی.اوددې نه مراد دین اسلام دې.لکه چه دلته د دین اسلام نه په یسر سره تعبیر شوې دې.اود دین اسلام یسر یقیناً د اعمالو په یسر باندې مبنی دې.خکه چه اعمال سهل او آسان دی.خکه به دین اسلام هم آسان وی.او دا ثابته شوې ده.چه د اعمالو د ایمان سره ژور تعلق دې.ددې په عسر سره په دین کښې عسر راځی.او ددې په یسر سره په دین کښې یسر راځی.

د امام بخاری رحمه الله د نقطه نظر نه دا معلومیږی.چه دا اعمال د دین جزء دې. اوهر کله چه اعمال د دین جزء دې.اوپه اعمالوکښې یسر دې.نو په دین کښې به هم یسر وی.

قوله: وَقَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحَبُّ الدِّينِ إِلَى اللَّهِ الْحَنِيفِيَّةُ: یعنی د نبی کریم ﷺ فرمان دې.چه د الله تعالی په نیز د ټولو نه غوره دین هغه دې.کوم چه نیغ او آسان وی.مطلب دا دې.چه د الله تعالی په نیز د دین ټول اعمال اواحکام خو محبوب دی.البته چه په دې کښې کوم آسان وی.هغه ورته زیات خوښ دې.یا دا مطلب دې.چه الله تعالی ته ټول دینونه محبوب دی.خوبه دې کښې هغه دین زیات خوښ دې.کوم چه د حنیفیت او آسانتیا په صفتونو موصوف وی.(۳)

---

(۱)فتح الباری (۱۱\۹۵)_

(۲) الأبواب والتراجم لصحیح البخاری (۳۶ وإمداد الباری (۱٤\۵۹۸) وتقریر بخاری شریف (۱\۱٤۱،۱٤۲)_

(۳) فتح الباری(۱\۹۳، ۹٤)_

قوله حنيفية: دا د «حنيف» طرف ته منسوب دې اوحنيف هغې ته وائی چه د ټولو نه ختم شی الله تعالی طرف ته متوجه شی اوصرف الله تعالی طرف ته مائله شی.(۱)

د حنیف لفظ په قرآن پاك كښې د حضرت ابراهیم ﷺ دپاره استعمال شوې دې.(۲)

حضرت ابراهیم ﷺ ته د حنيف ونيلو وجه هم دا ده چه دوی په خپله زمانه کښې د ټولونه اولنې توحید پرست وو. کورنې پریخودې وو پلار نې پریخودې وو. وطن او قوم نې پریخودې وو. صرف حضرت لوط ﷺ نې خان سره کړې وو. اوهجرت نې کړې وو ددې نه پس ورته د حضرت هاجره بی بی دخپل خوی سره په یوه دشت بیابان میدان کښې د پریخودو حکم شوې وو. نو سمدستی نې حکم اومنل. په حدیث کښې دی. چه حضرت ابراهیم ﷺ کله بی بی هاجره پریخوده. نو هغې ورته اووئیل. دا تاسو چه مونږ دلته خانله پریږدئ. نو دا دالله تعالی په حکم سره دی. اوکه په خپلې رائې سره؟ نو ابراهیم ﷺ ورته اوفرمائیل. د الله تعالی په حکم سره. نو هغې ورته اووئیل. خه اوس تاسو تلې شئ. خه پرواه نشته.(۳)

بیا د ذبحې معامله راپیښه شوه. نوڅنګه ثابت قدم په کښې اوختلو. په څومره سوالونو باندې ئې حضرت اسماعیل ﷺ غوستې وو خوچه کله دالله تعالیٰ حکم راغلو. نوبغیرد څه سوچ نه ئې هغه پوره کړو.(۴)

کله چه نمرود په اور کښې واچولو. نوجبرئیل ﷺ ورته اووئیل. مونږ درسره مدد اوکړو دوی ورته جواب ورکړو. «أما إليك فلا وأما إلى الله فبلى»(۵) دغه شان په بخاری کښې دحضرت ابن عباس ﷺ نه نقل دی. «كان آخر قول إبراهيم ﷺ حين ألقي في النار حسبي الله ونعم الوكيل»(۶)

---

(۱) الحنيف :هو المائل إلى الإسلام الثابت عليه والحنيف عند العرب من كان على دين إبراهيم عليه السلام وأصل الحنف الميل كذا فى النهاية(۱\۴۵۱)_

(۲) قال الله تعالى:(ما كان إبراهيم يهودياً ولا نصرانياً ولكن كان حنيفاً مسلماً (آل عمران:۶۷) وقال الله تعالى:(إن إبراهيم كان أمة قانتاً لله حنيفاً ولم يكن من المشركين) (النحل\۱۲۰)_

(۳) صحيح بخارى شريف (۱\۴۷۴) كتاب الأنبياء باب بلا ترجمة بعد باب قول الله عزو جل (واتخذالله إبراهيم خليلاً) کښې دحضرت ابن عباس ﷺ نه یو اوږد حدیث کښې دی ((ثم جاء بها إبراهيم وبابنها إسماعيل وهي ترضعه حتى وضعها عندالبيت عند دوحة فوق زمزم فى أعلى المسجد وليس بمكة يومئذ أحد وليس بها ماء فوضعهما هنالک ووضع عندهما جراباً فيه تمر وسقاء فيه ماء ثم قفى إبراهيم ﷺ منطلقاً فتبعته أم إسماعيل ﷺ فقالت يا إبراهيم أين تذهب وتتركنا فى هذا الوادي الذي ليس فيه أنيس ولا شئ ؟ فقالت له ذلک مراراً وجعل لا يلتفت إليها فقالت له آلله أمرک بهذا ؟ قال نعم قالت إذن لا يضيعنا..))_

(۴) د واقعه د تفصيل دپاره اوګورئ قصص القرآن (۱\۲۳۵. ۲۴۰) حضرت اسماعيل ﷺ)_

(۵) ذكره بعض السلف كما حكاه الحافظ ابن كثير ﷺ فى تفسيره (۳\۱۸۴)_

(۶) صحيح البخارى (۲\۶۵۵) كتاب التفسير سورة آل عمران باب إن الناس قد جمعوا لكم ..الآية)_

دحضرت ابراهیم علیه السلام هر قسمه امتحان اوشو او دوی په هر امتحان کښې کامیاب شو دې ته ئې فرمائیلی دی ﴿وَاِذِ ابْتَلٰٓی اِبْرٰهٖمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ﴾ (۱) او فرمائیلی ئې دی ﴿اِذْ قَالَ لَهٗ رَبُّهٗٓ اَسْلِمْ قَالَ اَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعٰلَمِیْنَ﴾ (۲)

شیخ فریدالدین عطار رحمه الله دا واقعه څومره په ښه انداز کښې بیان کړې ده.

از یکے و وز همه یکسوئے باش یک دل ویک قبله ویک روئے باش (۳)

هم د یو ذات نه سوال کوه. اودباقی ټولونه ډډه اوکړه صرف یو ذات طرف ته متوجه شه. توجه قبله هم هغه دې چه زړه دې چرته خطا نشی.

بهرحال حضرت ابراهیم علیه السلام ټولې دنیا ته لته ورکړه. او الله تعالی طرف ته متوجه شو ځکه ورته حنیف وئیلې شی. د هغوی د اتباع نبی ﷺ ته حکم شوې دې ﴿ثُمَّ اَوْحَیْنَآ اِلَیْكَ اَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا﴾ (۴) دغه شان دالله ئې فرمائیلی دی. ﴿قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا﴾ (۵) تعالی ارشاد دې. ﴿وَقَالُوْا كُوْنُوْا هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰی تَهْتَدُوْا قُلْ بَلْ مِلَّةَ اِبْرٰهِیْمَ حَنِیْفًا﴾ (۶) دغه شان نبی ﷺ فرمائیلی دی. «إنی لم أبعث بالیهودیة ولا بالنصرانیة ولکنی بعثت بحنفیة سمحة» (۷)

دغه شان ئې فرمائیلی دی. «إنی أرسلت بحنیفة السمحة» (۸)

قوله: السمحة: ددې معنی «سهلة» ده. (۹) دې ته «سهلة» او «سمحة» ځکه وائی چه په دې کښې د بنی اسرائیلو د دین پشان تشدیدات نشته. حضرات مفسرینو رحمهم الله لیکلی دی چه په بنی اسرائیلو باندې پنځوس مونځونه فرض شوی وو. په زکاة کښې دهغوی نه د څلورمې حصې مطالبه وه. که په جامه به ئې پلیتی اولګیده. هغه به ئې کټ کوله. په هیره به په دنیا کښې سزا ورکولې شوه. دګناه کولو په صورت کښې به وربانديې بعضې حلال خوراکونه حرامیدل. هغوی به د خنزیر او شادو په شکل کښې مسخ کولی شول. (۱۰)

---

(۱) البقرة: ۱۲٤)_
(۲) البقرة: ۱۳۱)_
(۳) درس بخاری از شیخ الاسلام علام شبیر احمد عثمانی رحمه الله (۲٤۳)_
(٤) النحل: ۱۲۳)_
(۵) آل عمران: ۹۵)_
(٦) البقرة: ۱۳۵)_
(۷) مسند أحمد (۵\۲٦٦) من حدیث أبی أمامة)_
(۸) مسند أحمد (٦\۱۱٦، ۲۳۳) من حدیث عائشة #)_
(۹) فتح الباری (۱\۹٤)_
(۱۰) التفسیر الکبیر للرازی (۷\۱۵٦ و ۱۵۷)_

اودهغوی توبه به ترهغه وخته پورې نه قبليده ترڅوچه به نې خپل ځان قتل کړې نه وو (۱)
شريعت محمديه د افراط او تفريط په مېنځ مېنځ کښې دې دلته نه بيخي آزادي ده اونه بيخي مواخذه.اومطالبه ده اويه دې کښې چه کوم احکام تکليفيه دي هغه داسې دي چه انسان په کښې آساني برداشت کولې شي په هغه باندې بوج نه غورزيږي

په بخارى شريف کښې د معلقاتو نوعيت دا حديث د هغه احاديثو څخه دې کوم چه امام بخاری په خپل صحيح کښې تعليقاً درج کړی دی داسې قسم احاديث په دوه قسمه دی بعضې خو هغه احاديث دی کوم چه نې صرف تعليقاً راوړی دی په خپل صحيح کښې نې چرته هم موصولاً نه دی ذکر کړی.اودويم قسم هغه احاديث دی کوم چه امام بخاری په يوځاې کښې تعليقاً ذکرکړی دی خوپه بل ځاې کښې نې موصولاً ذکر کړی دی

دا دويم قسم احاديث د بخاری د شرط موافق دی اوددې تعليقاً راوړلو غرض نې دا وی چه امام بخاری رحمه الله باربار هم په يوصورت کښې د يوحديث د نقل کولونه احتراز کوی اوبله دا چه بعضې وخت کښې نې اختصاراوتخفيف مقصود وی نوغواړی چه په مختصره طريقه تولې خبرې اوکړی.نوددې په ځاې چه پوره حديث سنداًاومتناً ذکرکړی هغه مختصر ذکر کوی اوکوم احاديث چه صرف تعليقاً ذکرکوی.اود خپل کتاب په بل ځاې کښې هغه موصولاً نه ذکر کوی.نوهغه دامام بخاری رحمه الله د شرط مطابق نه وی (۲) داسې احاديث لکه څنګه چه مونږ د کشف الباری په مقدمه کښې ذکر کړی دی ټول يوسل يوکم شپيته (۱۵۹) دی او هغه تعليقات کوم چه په بل ځاې کښې ذکر شوی دی د هغې شمار يوزر دری سوه يوځلويښت دی.(۳)

دذکرشوی تعليق تخريج دا حديث اګرچه امام بخاری رحمه الله په خپل صحيح کښې چرته موصولاً نه دې ذکر کړې .خوپه خپل بل کتاب ((الأدب المفرد)) (۴)کښې او دغه شان امام احمد رحمه الله په خپل مسند کښې هم دا حديث د محمدبن اسحاق عن داود بن الحصين عن عكرمة عن ابن عباس رضي الله عنهما کښې موصولاً تخريج کړې دې ((قيل لرسول الله صلى الله عليه وسلم أى الأديان أحب إلى الله صلى الله عليه وسلم قال الحنيفية السمحة))(۵)

---

(۱) الدرالمنثور(۱\۳۷۷)_
(۲) هدی الساری مقدمة فتح الباری (۱۵. ۱۶) الفصل الثالث (ص.۱۷) الفصل الرابع)_
(۳) فتح الباری(۱\۹٤) وتغليق التعليق (۲\٤۱)_
(٤) فتح الباری(۱\۸٤) وتغليق التعليق (۲\٤۱)
(۵) قال الحافظ رحمه الله فى فتح البارى (۱\۹٤) وإسناده حسن)..
وقال أيضاً وهكذا رواه عبدالأعلى وعبدالرحمن بن مغراء وعلى بن مجاهد وغيرهم عن محمد بن اسحاق ولم أره من حديثه إلا معنعناً وله شاهد من مرسل صحيح الإسناد قال ابن سعد فى الطبقات أنا عارم بن الفضل ثنا حماد بن زيد .ثنا معاوية بن عياش الجرمى .عن أبى قلابة .فذكره فى قصة.(بقيه حاشيه په راروان مخ..

[۳۹] حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ مُطَهَّرٍ قَالَ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ عَنْ مَعْنِ بْنِ مُحَمَّدٍ الْغِفَارِيِّ عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (١) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَأَبْشِرُوا وَاسْتَعِينُوا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ

يعنى نبى ﷺ فرمائيلى دى.بيشكه دين آسان دې.په دين كښې كه څوك سخته لاړ پيدا كړى.نو دين به هغه مغلوب كړى.نو ځكه د افراط او تفريط نه بغير صحيح او د اعتدال لاړ اختيار كړئ.كه په پوره افضل باندې نشئ تلې.نو د هغې سره نزدې نزدې اوسئ.د ثواب په اميد باندې خوشحاله اوسئ.او نورو ته هم خوشخبرى اوروئ.چه دالله تعالى دپاره په اخلاص سره د عمل كولو مقام ډير اوچت دې.اګرچه هغه عمل لږ ولې نه وى.د صبا دوخت نه اود مابنام د وخت نه او د شپې د آخرى څه حصې نه مدد واخلئ.يعنى په دې وختونو: خوشحالئ كښې دالله تعالى عبادت كوى.

رجال الحديث

① عبدالسلام بن مطهر: مطهر د تطهير نه د اسم مفعول په وزن دې.(٢) دوى ابوظفر بفتح الظاء المعجمة والفاء (٣) عبدالسلام بن مطهر بن حسام بن مصك بكسر الميم وفتح الصاد المهملة وتشديد الكاف الأزدى البصرى دى.(٤)

دوى دامام شعبه،جريربن حازم، مبارك بن فضاله،موسى بن خلف العمى اوسليمان بن المغيره ﷺ نه دحديثو روايت كوى.(٥)

...د تيرمخ بقيه حاشيه) وله شاهد آخر صحيح مرسل أيضاً .. عن عمربن عبدالعزيزعن أبيه ..عن النبى ﷺ رواه أحمد فى الزهد ورواه عبدالله بن احمد فى زيادات الزهد .. و رواه البزار فى مسنده من حديث عمربن عبدالعزيز عن أبيه جده وفى إسناده عبدالعزيز بن أبان وهو متروك ولم يخرج الحديث عن كونه مرسلاً لأن مروان جد عمربن عبدالعزيز لا يصح له صحبة ولا سماع

وله شاهد آخرمرسل عند عبدالرزاق وفى الباب عن عائشة وابى بن كعب و جابر وابن عمر وأبى أمامة وأبى هريرة وأسعد بن عبدالله الخزاعى ﷺ وغيرهم انظر تغليق التعليق (٢\٤١، ٤٣)_

١) قوله :عن أبى هريرة ﷺ الحديث أخرجه البخارى أيضا فى كتاب المرضى باب تمنى المريض الموت رقم ٥٦٧٣ وفى كتاب الرقاق باب القصد والمداومة على العمل رقم ٦٤٦٣ وأخرجه النسائى فى سننه (٢\٢٧٢) فى كتاب الإيمان وشرائعه باب الدين يسر وانظر الصحيح لمسلم (٢\٣٧٦، ٣٧٧) كتاب صفة المنافقين باب لن يدخل أحد الجنة بعمله بل برحمة الله تعالى)_

٢) عمدة القارى (١\٢٣٦)_

٣) فتح البارى(١\٩٤)_

٤) فتح البارى (١\٩٤) وتهذيب الكمال (١٨\٩١) والكاشف (١\٦٥٣) وسيرأعلام النبلاء (١٠\٤٣٦)_

٥) تهذيب الكمال(١٨ \ ٩٢) وخلاصة الخزرجى (ص٢٣٨) وسيرأعلام النبلاء (١٠\٤٣٦)_

د دوی نه امام بخاری، امام ابوداود، ابوحاتم، ابراهیم حربی او ابوخلیفه مکی رحمهم الله وغیره د حدیث روایت کړې دې (۱)

امام ابوحاتم رحمه الله د دوی په باره کښې فرمائی ((صدوق)) (۲)
ابن حبان رحمه الله دوی په کتاب الثقات کښې ذکر کړی دی. (۳)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی ((عبدالسلام بن مطهر بن مصك بن ظالم بن شيطان، الإمام الثقة أبوظفر الأزدي البصري..)) (۴)

دغه شان دوی په ..الكاشف.. کښې هم دوی ته ثقه ونیلی دی. (۵)

په رجب ۲۲۴هـ کښې وفات شوی وو. حالانکه د دوی عمرلس کم سلو کالو ته رسیدلې وو. (۶)

④ عمر بن علي : دوی عمر بن علی بن عطاء بن مقدم بروزن محمد (۷) المقدمي بضم الميم وفتح القاف وتشديد الدال المهملة المفتوحة وبعدها ميم (۸) البصری دې. د دوی کنیت ابوحفص وو. (۹)

دوی د هشام بن عروه، ابوحازم، خالد الحذاء، اسماعیل بن ابی خالد، اعمش، سفیان ثوری رحمهم الله وغیره نه روایت د حدیث کوی.
د دوی په شاګردانو کښې حضرت امام احمد، عمرو بن علی، ابن المدینی، خلیفه بن خیاط او محمد بن بشار بندار رحمهم الله وغیره حضرات دی. (۱۰)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی. ((لايحتج به)) (۱۱)

---

(۱) تهذيب الكمال (۱۸\۹۲) وسير أعلام النبلاء (۱۰\۴۳۶) وخلاصة الخزرجي (ص.۲۳۸)_
(۲) تهذيب الكمال(۱۸\۹۳) وخلاصة الخزرجي (۲۳۸) وسير أعلام النبلاء (۱۰\۴۳۶)_
(۳) كتاب الثقات لابن حبان (۸\۴۲۸)_
(۴) سير أعلام النبلاء (۱۰\۴۳۶)_
(۵) الكاشف (۱\۶۵۳) رقم ۳۳۷۳)_
(۶) تهذيب الكمال(۱۸\۹۳) وتقريب التهذيب (۳۵۵) رقم ۴۰۷۵) والكاشف (۱\۶۵۳) رقم ۳۳۷۳ وسير أعلام النبلاء (۱۰\۴۳۷)_
(۷) المغنى (ص.۷۴) وشرح الكرماني(۱\۱۶۰)_
(۸) المغنى (ص.۷۷)_
(۹) تهذيب الكمال(۲۱\۴۷۰، ۴۷۱)_
(۱۰) تهذيب الكمال(۲۱\۴۷۱، ۴۷۲) وسير أعلام النبلاء (۸\۵۱۳) وتهذيب التهذيب(۷\۴۸۵، ۴۸۶)_
(۱۱) سير أعلام النبلاء ((۸\۵۱۳). وميزان الإعتدال (۳\۲۱۴)_

امام ابن معين رحمه الله فرمائى «لم أكتب عنه شيأ وأصله واسطي نزل البصرة وكان يدلس وما كان به بأس»(١)
امام ابن عدى رحمه الله فرمائى «ولعمربن على أحاديث حسان وأرجو أنه لا بأس به»(٢)
امام ابن سعد رحمه الله فرمائى «وكان ثقة وكان يدلس تدليسا شديدا وكان يقول سمعت وحدثنا ثم يسكت ثم يقول هشام بن عروة والأعمش»(٣)
امام عفان بن مسلم رحمه الله فرمائى «كان عمربن على رجلا صالحا ولم يكونوا ينقمون عليه شيأ غير أنه كان مدلسا وأما غير ذلك فلا، ولم أكن أقبل منه حتى يقول حدثنا»(٤)
امام عبدالله بن احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى «سمعت أبى وذكر عمربن على فأثنى عليه خيرا وقال كان يدلس»(٥)
امام دارقطنى رحمه الله دوى لره «من الرفعاء الثقات» گرخولى دى.(٦)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى «ثقة وكان يدلس شديدا»(٧)
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى «رجل صالح موثق يدلس»(٨)
دغه شان حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى «ثقة شهير لكنه رجل مدلس»(٩)
دغه شان دوى فرمائى...«الإمام الحافظ الحجة المدلس»(١٠)
د دې ټولو اقوالو خلاصه دا ده چه دا راوى ثقه اوقابل احتجاج دې.البته صرف امام ابوحاتم دوى «لايحتج به» گرځولې دې.
امام ابوحاتم رحمه الله چه دوى رد كړې دې.نو ددې وجه هم دا ده چه دوى به تدليس كولو او تدليس هم دومره زيات چه د «سمعت» او «حدثنا» الفاظ به ئې استعمالول.اوبيا به چپ شو او بيا ئې براه راست د مروى عنه شيخ په ځائې پورته څوك ثقه راوى ذكر كولو.(١١) كه د دوى

---

١) تهذيب الكمال(٢١\٤٧٣) والكامل لابن عدى (٥\٤٥) والضعفاء الكبير للعقيلى (٣\١٧٩)_
٢) الكامل (٥\٤٦)_
٣) الطبقات الكبرى لابن سعد (٧\٢٩١)_
٤) طبقات ابن سعد(٧\٢٩١) وتهذيب الكمال (٢١\٤٧٣) _
٥) الضعفاء الكبير للعقيلى (٣\١٧٩) وتهذيب ا لكمال (٢١\٤٧٢) والكامل لابن عدى (٥\٤٥)_
٦) سنن دارقطنى (١\١٧٢) كتاب الطهارة باب أحاديث القهقهة فى الصلاة وعللها)_
٧) تقريب التهذيب (٤١٦) رقم ٤٩٥٢)_
٨) الكاشف (٢\٦٧) رقم ٤٠٨٩)_
٩) ميزان الإعتدلال(٣\٢١٤)_
١٠) سير أعلام النبلاء (٨\٥١٣)_
١١) طبقات (٧\٢٩١)_

تدلیس نه وو د دوی په نیز به هم دې ثقه او قابل استدلال وو خپله بیان کوی ((محله الصدق، ولولا تدلیسه لحکمنا له إذا جاء بزیادة غیر أنا نخاف أن یکون أخذه من غیر ثقة)) یعنی په حقیقت کښې خود دوی مقام صدق دې که تدلیس نه وو نود دوی ..زیادت.. به قابل قبول وو چونکه تدلیس به نې کولو ځکه ددوی په څه زیادت باندې اعتماد نشی کولې بې چه کله د ځا ضعیف نه نقل وی.

ددې نه معلومه شوه چه دامام ابوحاتم رحمه الله په نیز باندې هم ددوی هغه روایت قابل قبول ود استدلال قابل دی په کوموکښې چه د نورو متابعت موجود وی

هم دا وجه ده چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ((قد احتمل أهل الصحاح تدلیسه ورضوا به))

دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ((ولم أر له في الصحیح إلا ما توبع علیه واحتج به الباقون))

په کال ۱۹۰ھ یا ۱۹۲ھ کښې دوی وفات شوی وو () رحمه الله رحمة واسعة.

④ معن بن محمد الغفاري: دوی معن بن محمد بن معن بن نضله بن عمرو غفاری دی.()

دسعید مقبری او حنظله بن علی اسلمی نه دوی روایت کوی.()

ددوی نه چه چا روایت کړې دی په هغوی کښې عبدالله بن عبدالله اموی. عبدالملک بن جریج. عمروبن علی مقدمی او ددوی خوئې محمد بن معن غفاری رحمهم الله دی ()

امام بخاری ددوی تذکره په تاریخ کبیر کښې کړې ده.()

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ((مقبول))()

ابن حبان رحمه الله دوی لره په ثقاتو کښې ذکر کړی دی.()

④ سعید بن ابی سعید المقبري: دوی ابوسعد سعید بن ابی سعید کیسان مقبری مدنی

) تهذیب الکمال (۲۱\۴۷۳) ومیزان الإعتدال (۳\۲۱۴)_

) سیر أعلام النبلاء (۸\۵۱۴)_

) هدی الساری (۴۳۱)_

) تهذیب الکمال (۲۱\۴۷۴)_

) تهذیب الکمال (۲۸\۳۴۱) وتقریب التهذیب (۵۴۲) رقم ۲۸۲۲ والکاشف (۲\۲۸۴)_

) تهذیب الکمال (۲۸\۳۴۱) وخلاصة الخزرجي (۳۸۴)_

) تهذیب الکمال (۲۸\۳۴۱)_

) التاریخ الکبیر (۷\۳۹۰) رقم ۱۶۹۹)_

) تقریب التهذیب (۵۴۲) رقم ۲۸۲۲)_

) الثقات لابن حبان (۷\۴۹۰)_

دى ددوى د پلار ابوسعيد نوم كيسان وو.اودوى په مدنيه منوره كښې د بنو ليث بن بكر
يوې ښځې مكاتب وو.(۱)
ددوى نسبت مقبرى د ميم فتحه .اوقاف سكون .اوباء ضمه ده.ددې نه پس راء مهمله او په
آخر كښې يائې نسبتى ده.بعضې حضراتو په باء باندې فتحه لوستې ده.(۲)كوم چه مقبرې
طرف ته منسوب دې.دا نسبت په اصل كښې دوى د والد ابوسعيد دې.(۳)دوى ته مقبرى
ولې وئيلى شى.په دې كښې ځو اقوال دى.

① بعضې حضرات فرمائى.چه دوى به په مدينه منوره كښې د ((مقبرة بنى دينار))نگرانى
اوحفاظت كولو.دوى ته دا خبر رسيدلې وو.چه ددې مقبرې نه به شپيته زره جنتيان كښې
پاسيږى.(۴)
② بعضې حضرات فرمائى.چه دوى د قبرستان منجور وو.څكه ورته مقبرى وائى.(۵)
③ بعضې حضرات فرمائى.چه د دوى كور د مقبرې سره نزدې وو.ددې وجې دنسبت په وجه
مقبرى شو.(۶)
④ بعضې حضراتو فرمائيلى دى.چه حضرت عمر رضي الله عنه دوى ته د قبر كنولو كار حواله كړې
وو.ددې وجې روته مقبرى وائى.(۷)
علامه عينى رحمه الله فرمائى.چه څه لرې نه ده.چه دا ټولې خبرې جمع شوى وى.چه منجور هم
وو.اود دوى كور د مقبرې سره نزدې هم وو.اودوى د قبر كنولو په كار باندې مامور هم وو
ددې ټولووجوهو نه ده ته مقبرى وائى.(۸)

حضرت سعيدبن ابى سعيد مقبرى رحمه الله په صحابو رضي الله عنهم كښې دحضرت انس.حضرت جابربن عبدالله
حضرت سعدبن ابى وقاص،حضرت عبدالله بن عمر،حضرت معاويه بن ابى سفيان.حضرت
ابوسعيدالخدرى ،حضرت ابوهريره.حضرت حضرت عائشې اوحضرت ام سلمې رضي الله عنهن نه

(۱) تهذيب الكمال (۱۰\۴۶۷) وتهذيب الأسماء واللغات (۱\۲۱۹)_
(۲) الأنساب للسمعانى (۵\۳۶۱و ۳۶۲) وتهذيب الأسماء واللغات (۱\۲۱۹) وعمدة القارى(۱\۲۳۶)_
(۳) عمدة القارى(۱\۲۳۶)_
(۴) الأنساب للسمعانى (۵\۳۶۲)_
(۵) عمدة القارى(۱\۲۳۶)_
(۶) تهذيب الأسماء واللغات (۱\۲۱۹) وعمدة القارى(۱\۲۳۶)_
(۷) المصدرالسابق)_
(۸) عمدة(۱\۲۳۶) البته حافظ ذهبى رحمه الله د سعيدبن ابى سعيد المقبرى تذكره ليكى. او فرمائى.((كان يسكن بمقبرة البقيع)) لكه چه يوه پنځمه وجه دا وه.چه د بقيع سره ددوى استوگنه وه.څكه ورته مقبرى وائى.والله أعلم.سيرأعلام النبلاء (۵\۲۱۶)_

احاديث روايت كرى دى.[١]

البته دحضرت عائشې رضي الله عنها او ام سلمې رضي الله عنها نه د دوى روايات مرسل دى.ځكه چه د دوى سره دده ملاقات ثابت نه دې.[٢]

بيا په تابعينو رحمهم الله كښې دځپل پلارحضرت ابوسعيدمقبرى.عوره بن زبير .ابوسلمه بن عبدالرحمن بن عوف رحمهم الله نه علاوه د نورو حضراتو نه دوى روايت كړې دې.[٣]

د دوى نه چه چا روايت كړې دې.په هغوى كښې امام مالك.ليث.بن سعد. شعبه بن الحجاج.محمد بن اسحاق.يحيى بن سعيدانصارى.اومحمدبن عبد الرحمن بن ابى ذئب رحمهم الله غوندې ډيرحضرات دى.[٤]

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائى.((ليس به بأس))[٥]

امام على بن مدينى.محمد بن سعد.عجلى.ابوزرعه.نسائى.عبدالرحمن بن يوسف بن خراش رحمهم الله فرمائى.))ثقة))[٦]

ابن خراش زياتى دا فرمائى.((ثقة جليل أثبت الناس فيه الليث بن سعد))[٧]

ابوحاتم رازى رحمه الله فرمائى.((صدوق))[٨]

واقدى رحمه الله فرمائى.((كان قد كبرحتى إختلط قبل موته بأربع سنين))[٩]

يعقوب بن شيبه فرمائى((قد كان تغير وكبر واختلط قبل موته يقال بأربع سنين حتى استثنى بعض المحدثين عنه ما كتب عنه فى كبره مما كتب قبله فكان شعبة يقول حدثنا سعيد المقبرى بعد ما كبر))[١٠]

ددې ټولواقوالوخلاصه دا شوه.چه د حديث د دې ټولواممانو رحمهم الله په نيزدوى ثقه اوقابل احتجاج راوى دې.البته په آخرى عمركښې كله چه ددوى وفات ته څلورکاله پاتې شو.ددوى په حافظه كښې فرق راغلو.نود تغيرنه پس چه كوم احاديث دى.هغه به قبول نه وى.

---

[١] تهذيب الكمال(١٠\٤٦٧. ٤٦٨)_
[٢] تهذيب الكمال(٤٠\١٤) وتقريب التهذيب (٢٣٦) رقم ٢٣٢١)_
[٣] تهذيب الكمال(١٠\٤٦٨٩. ٤٦٩)_
[٤] المصدرالسابق)_
[٥] الكاشف (١\٤٣٧) رقم ١٨٩٦) وتهذيب الكمال(١٠\٤٦٩)_
[٦] تهذيب التهذيب (٤\١٤٠٣٨ وتهذيب الكمال(١٠\٤٧٠) وسير أعلام النبلاء(٥\٢١٦)_
[٧] تهذيب الكمال(١٠\٤٧٠) وتهذيب الكمال(٤\٣٨٤)_
[٨] تهذيب التهذيب(٤\٣٨) وتهذيب الكمال(١٠\٤٧٠) وسير أعلام النبلاء (٥\٢١٦)_
[٩] تهذيب الكمال(١٠\٤٧٠)_
[١٠] المصدرالسابق)_

خوحقيقت دا دې چه د دوی په جلالت شان او ثقاهت باندې باندې اتفاق دې «كما قاله النووى وابن حجر»(١)

اوترڅو پورې چه د دوی د اختلاط تعلق دې نود اختلاط ذكرصرف واقدى كړې دې اوابن سعد .يعقوب بن شيبه اوابن حبان د واقدى اتباع كړې ده.اوباقى چه څومره دحديث ناقدين دي.هغوی ددوی د مختلط کیدو او متغیرکیدونه انکار کوی.(٢)

بيا د دوی د تحديث بعدالاختلاط والكبر ذكر صرف امام شعبه كړې دې. هغوی فرمائی «أخبرنا سعيد بن أبى سعيد المقبرى وكان قد كبر»(٣)

خوحافظ ابن عدى رحمه الله دوی په خپل کتاب «الكامل فى ضعفاء الرجال» کښې د دوی ذکرکولونه پس فرمائی.«وإنما ذكرت سعيد المقبرى فى جملة من إسمه سعيد، لأن شعبة يقول: ثنا سعيد بعد ما كبر وأرجو أن سعيد (كذا فى الأصل سعيد وهو خطأ والصواب سعيداً) من أهل الصدق وقد قبله الناس وروى عنه الأئمة الثقات من الناس وما تكلم فيه أحد إلا بخير»(٤) يعنى ما د دوی ذکر په دې کتاب کښې چه (دضعيفو راويانو سره خاص دې) كړې دې.نو ددوی وجه دامام شعبه قول دې چه «حدثنا سعيد بعد ما كبر» کښې زما رائې دا ده.چه سعيد مقبرى داهل صدق څنې دې.خلقو دې قبول كړې دې.ائمه ثقات محدثين د دوی نه روايت كوی.چا هم د خيرنه سوا د دوی ذکر نه دې كړې.

دغه شان حافظ ذهبى رحمه الله ته هم په دې خبره باندې يقين دې.چه دوی د اختلاط نه پس حديث څه روايت نه دې كړې.دوی فرمائی.«ما أحسبه روى شيأ فى مدة إختلاطه وكذلك لا يوجد له شئ منكر»(٥)

يعنى نه خو دوی په مدة د اختلاط کښې څه روايت كړې دې.اونه د دوی په احاديثو کښې څه منکر روايت موجود دې.

دغه شان دوی فرمائی.«ما أحسب أن أحداً أخذ عنه فى الإختلاط فإن ابن عيينة أتاه فرأى لعابه يسيل، فلم يحمل عنه»(٦)

---

(١) قال النووى رحمه الله فى تهذيب الأسماء (٢١٩\١) واتفقوا على توثيقه وقال ابن حجر رحمه الله فى هدى السارى(ص.٤٠٥) مجمع على ثقته)_

(٢) هدى السارى(٤٠٥)_

(٣) الكامل لابن عدى(٣٩١\٣)_

(٤)الكمال (٣٩١\٣، ٣٩٢)_

(٥) سير أعلام النبلاء (٢١٧\٥)_

(٦) ميزان الإعتدال(١٤٠\٢)_

حافظ ذهبى رحمه الله هم په دې وجه مطلقا توثيق كوى اوفرمائى.((ثقة حجة شاخ ووقع فى الهرم ولم يختلط))(۱) بيا دامام يحيى بن معين رحمه الله نه مروى دى ((أثبت الناس فيه ابن أبى ذئب))(۲) اودابن خراش رحمه الله قول دې.((أثبت الناس فيه الليث بن سعد))(۳) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((أكثر ما أخرج له البخارى من حديث هذين عنه وأخرجه أيضاً من حديث مالك واسماعيل بن أمية وعبيدالله بن عمر العمرى وغيرهم من الكبار وروى له الباقون ولم يخرجوا من حديث شعبة عنه شيأ)(۴) يعنى امام بخارى رحمه الله چه په خپل صحيح كښې د دوى كوم روايات تخريج كړى دى.نوپه دې كښې اكثرهم د دې دواړو په واسطه سره دى.كوم چه په ددوى په رواياتوكښې((أثبت الناس)) دى.ددوى نه علامه امام مالك.اسماعيل بن اميه.عبيدالله بن عمر عمرى. وغيره دحديث د لويو راويانو په واسطو سره هم روايات شته.بيا باقى حضرات يعنى سنن اربعه كښې هم د دوى روايات شته.په دوى كښې په چا كښې هم د شعبه رحمه الله واسطه نشته.چه دهغوى په رواياتوكښې بعد الاختلاط د روايت كونكوصراحت موجود وى.

اوتركومې پورې چه دامام شعبه رحمه الله د رواياتو تعلق دې.نوپه هغې كښې دوه احاديث داسې دى.په كومو كښې چه دوى بعدالاختلاط د روايت كونكو تصريح كړې ده.يو((حديث الإزار)) دې.((ما أسفل من الكعبين من الإزار ففى النار))او دويم حديث ((لأن يطأ أحدكم على جمر خيرله من أن يطأ على قبر)) دې.

نوحافظ ابن عدى رحمه الله فرمائى.چه ((وليس لشعبة عن سعيد المقبرى غير هذين الحديثين ،الأول حديث الإزار مشهور والحديث الثانى ،يأتى به الجارود عنه (۵) يعنى شعبه د سعيدالمقبرى رحمه الله نه صرف دوه حديثونه روايت كوى.يوحديث الازاردې .كوم چه مشهور دې.نوپه دې كښې د اختلاط څه اثر نشته.اوبل حديث ((لأن يطأ ...الخ)) دې.اودا د شعبه رحمه الله نه صرف جارود بن يزيد روايت كوى.اوجارود بن يزيدضعيف بلكه كذاب راوى دې.(۶)

نوخلاصه دا شوه.چه سعيد مقبرى كبير السن اوضعيف شوې ضرور وو. خو مختلط شوې نه وو.اوكه اختلاط پرې راغلې هم وى.خود تغير نه پس د هغوى نه څوك روايت كونكې

---

(۱) ميزان الإعتدال(۲\۱۳۹)_

(۲) هدى السارى(۴۰۵)_

(۳) هدى السارى(۴۰۵) وقد سبق نقله عن تهذيب الكمال وتهذيب التهذيب وسير أعلام النبلاء)_

(۴) هدى السارى(۴۰۵)_

(۵) الكامل لابن عدى(۳\۳۹۱)_

(۶) قال الذهبى رحمه الله فى الميزان(۱\۳۷۴) كذبه أبوأسامة وضعفه على وقال يحيى ليس بشئ .وقال أبوداود غير ثقة .وقال النسائى والدارقطنى متروك وقال ابوحاتم كذاب ...)_

نشته بې په صحيحينو بلکه په صحاح سته کښې د شعبه د واسطې نه بغير بل څه دوی نه حديث نه دی نقل کړې والله أعلم.
دوی وفات په مدينه منوره کښې شوې وو د وفات په کال کښې نې ډير اقوال منقول دی خو راجح دا دی چه په ۱۲۳هـ يا ۱۲۵هـ کښې وفات شوی دی (۱)
⑤ د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حالات په کتاب الايمان کښې د «باب أمور الإيمان» لاندې تيرشوی دی (۲)

قوله إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ: په «الدين» کښې الف لام د پاره دعهد دې مراد ترې اسلام دې او «يسر» مصدر دې او ددې حمل په «الدين» باندې کيږی نو يا خو دا حمل په مبالغه باندې محمول دې لکه څنګه چه «زيدعدل» کښې مبالغه ده په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه دين تول بس آسان دې او يا «يسر» د «ذويسر» په معنی کښې دې نود «الدين ذو يسر» مطلب به دا وی چه دين اسلام د آسانتيا دين دې (۳)

دين په کوم حيثيت سره اسان دې؟ په دين کښې چه کوم يسر بيان شوې دې نو دا يسر خود نورو دينونو په مقابله کښې دې چه په نورو دينونو کښې تشديدات او افراد او تفريط دې او اسلام دهغې په مقابله کښې آسان دې اود افراد او تفريط نه هم دا دين خالی دې «کما سبق تفصيل ذلك قريباً»
دغه شان يسر په خپله د دين اسلام د اعمالو په اعتبارسره هم دې چه د دين په احکامو کښې عزائم هم دی او رخصتونه هم يعنی څه اعمال هغه دی کوم چه د عزيمت په درجه کښې دی اوڅه اعمال هغه دی کوم چه د رخصت په مرتبه کښې دې چه کوم اعمال د رخصت په درجه کښې راځی نوپه هغې کښې خو بس آسانی ده څکه چه رخصت په يسر باندې مبنی وی اوکوم اعمال چه د عزيمت په درجه کښې راځی نوپه هغې کښې هم چونکه د ميانه روئ او اعتدال خيال ساتلې شوې دې نوددې وجې ونيلې شی چه دين اسلام دخپلو احکامو په اعتبارسره د آسانتيا دين دې.
د اسلام داعمالود آسانتيا څه تفصيل او وضاحت باندې داسې پوهه شئ:
چه يوه سلسله د الله تعالی د نعمتونو ده اويوه د عباداتو سلسله ده الله تعالی انعام کوی اوبنده عبادت کوی که دالله تعالی په نعمتونو باندې نظر واچولې شی نو دا بيحده او بې حسابه دی ﴿وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا﴾ (۴)

---

(۱) تهذيب الكمال(۱۰/۴۷۲) والكاشف (۱/۴۳۷)رقم ۱۸۹۶)_
(۲) كشف الباری(۱/۶۵۹، ۶۶۳)_
(۳) فتح الباری(۱/۹۳)_
(۴) ابراهيم: ۳۴ والنحل:۱۸)_

گورئ كله چه ماشوم د مور په خيټه كښې په دريو تيرو كښې وى (۱) نوالله تعالى هلته هم دده د تربيت اهتمام كوى.اوكله چه بيا دنيا ته راشى نودده د جسمانى او تربيت ټول انتظامات پوره كړى په هغه وخت كښې هغه نه خبرې كولې شى اونه اشاره كولې شى.اونه دخپلو ضروورياتو اظهاركولې شى خوالله تعالى د مور په صورت كښې دة ته يوه داسې هستى وركړى څوك چه دده دپاره د رحمت مجسمه وى.چه دده معمولى تكليف هم نشى برداشت كولې الله تعالى دهغې په سينوكښې پئ پيدا كړى.اوددې په زړه كښې مهربانى پيدا كړى هغه د گرمئ يخنئ.لوږې تندې.بيمارئ اوپريشانئ. د هرخيزنه د حفاظت دپاره خپل ځان په خطره كښې اچوى دا ټول دالله تعالى احسانات دى.
بيا دده د ژوند دپاره د هوا ضرورت وى د اوبو ضرورت وى.دجامو او خوراك ضرورت وى.دعلاج معالجې ضرورت وى دا ټول څيزونه ورته ملاويږى.
بيا دې د تربيت څومره مرحلو نه تير شى.اودالله تعالى د بې حسابه اوبې شميره نعمتونونه په هره گړئ كښې فائده اخلى.تردې چه څوان.طاقتوراو مضبوط سړې ترې جوړ شى بيا په دغه وخت كښې هم دالله تعالى نعمتونه مسلسل ده سره وى.دا ټول دالله تعالى هغه انعامات او احسانات دى.چه ددې شمارنشى كيدې.
ددې نعمتونو تقاضا خو دا وه.چه په هروخت كښې بغير د څه فترت او انقطاع نه دالله تعالى شكر ادا كولې شو.اود عباداتو سلسله قائمه ولې.خوكومه د عباداتو سلسله چه ده هغه څومره معمولى او آسانه ده.دهغې اندازه په آسانتيا سره لگولې شى
نوكوم ذات چه مونږ ته وجود راكړې دې.رزق ئې راكړې دې.اود تربيت ذمه وارى ئې اخستې ده.چه هغه وحده لاشريك اوگڼلې شى.بس هم د هغه د خالقيت اومالكيت منلو حكم دې.اوپه نورو ايمانياتو باندې يقين ساتلو.اوهغه په زړه كښې د كينولوحكم وركړې شوې دې.
بيا مونږ راواخلى.ددې په ځاى چه په هر وخت كښې ئې عبادت كول فرض كړې وو نوصرف پنځه مونځونه ئې فررض كړى دى.اوپه دې كښې ئې هم د هغه وختونوانتخاب كړې دې.چه دسړى طبيعت په كښې پريشانه نه وى.په څلورويشت گهنټونه د مونځونو وختونه نفى كړې شى.نوپه مشكله سره يوه گنټه يوه نيمه گنټه جوړيږى.لكه چه الله رب العزت د څلورويشت گنټوعبادت فرض كولو په ځاى صرف يوه نيمه گنټه په خپل دربار كښې دحاضرئ دپاره مقرركړې ده.اوپه نور ټول وخت كښې ئې د كاروبار.آرام او راحت كولواجازت وركړې دې. ښكاره خبره ده.چه دا يسر دې
بيا كه څوك رنځور وى.نودهغه دپاره اودس كول ضرورى نه دى.بلكه د تيمم كولواجازت ورته شته.(۲) اوكه رنځو وى په ولاړه مونځ نشى كولې.نوپه ناسته د مونځ كولو اجازت

---

(۱) إشارة إلى قوله تعالى. يخلقكم في بطون أمهاتكم خلقاً بعد خلق في ظلمات ثلاث﴾الزمر:۶)_
(۲) قال الله تعالى:﴿ وإن كنتم مرضى أو على سفر أوجاء أحدمنكم من الغائط اولامستم النساء فلم تجدوا ماءً فتيمموا صعيداً طيباً فامسحوا بوجوهكم وأيديكم﴾ النساء:۴۳)_

ورکړې شوې دې.اوکه په ناسته باندې هم د مونځ کولوقدرت نه وی.نو په ملاسته دې کوی.(۱)
دجمات د پابندئ نه هم دې مستثنی دې.او دجماعت پابندی هم په ده باندې لازم نه ده.(۲)
بيا که يوکس په سفرکښې وی.نوهم دده دپاره خاص رعايتونه دی.سنن مؤکده دده دپاره غيرمؤکده شی.(۳)خلور رکعته مونځ دده په حق کښې دوه رکعته شی.(۴)
که يوکس په سورلئ سور دې.اوهغه نفل کول غواړی.نودهغه دپاره د استقبال قبلې شرط ختم کړې شوې دې.(۵)
دغه شان د زکاة معامله هم تولمه په آسانتيا باندې مبنی ده.چه په هريوکس باندې دا فرض نه دې.بلکه ضروری ده.چه دې د نصاب مالك وی.اودمال يو خاص مقدار دده په ملکيت کښې وی.اوپه هرقسم مال باندې هم نه دې واجب ،بلکه ددې دپاره د نامی کيدو شرط دې.دغه شان د وجوب په کال کښې يو خل وی.چه په مال پوره يوکال تيرشی.نو زکاة فرض شی.کنی نه به وی.بيا نوره آسانتيا دا شوې ده.چه تول اخراجات اوقرضې چه اوويستې شی.نودهغې نه پس که نصاب باقی پاتې شی.زکاة به فرض وی.کنی نه به وی.بيا چه کوم زکاة ورکولې شی.هغه هم تول مال نه دې.بلکه ددې صرف خلوېښتمه حصه ده.(۶) بيا اجراوثواب ئې په هغه صورت کښې زيات مقرر کړې دې.چه د زکاة په مال باندې سړې د خپلو خپلوانو سره مدد اوکړی.يعنې چه د چا خيال ساتل په ده باندې لازم وو.هم په هغوی باندې د استعمال اجازت ئې ورکړې دې.(۷)
د رمضان المبارك روژې دی.نوپه دې کښې هم خومره رعايتونه دی.اوخومره يسردې.په تول

---

۱) بدائع الصنائع (۱\۱۰۵، ۱۰۶)_ فصل أركان الإصلاة)_
۲) بدائع الصنائع (۱\۱۵۵) فصل وأما بيان من تجب عليه الجماعة)_
۳) قال ابن نجيم رحمه الله واختلفوا في ترك السنن في السفر.فقيل الأفضل هوالترك ترخيصاً وقيل الفعل تقرباً وقال الهندواني الفعل حال النزول والترك حال السير.وقيل يصلي سنة الفجرخاصة وقيل سنة المغرب أيضاً وفي التجنيس والمختار أنه إن كان حال أمن وقرار يأتي بها لأنها شرعت مكملات والمسافر إليه محتاج وإن كان حال خوف لا يأتي بها لأنه ترك بعذر البحر الرائق (۲\۱۳۰) باب المسافر)_
۴) البحرالرائق (۲\۱۲۸) وغيره)_
۵) كنزالدقائق وشرحه البحرالرائق (۲\۱۶٤) باب الوتروالنوافل)_
۶) بدائع الصنائع (۲\٤، ۳۲، ۵۰، ۵۱)_
۷) قال في الدرالمختار:ولا إلى من بينهما ولاد قال الشامي وقيد بالولاد لجوازه لبقية الأقارب كالإخوة والأعمام والأخوال الفقراء بل هم أولى لأنه صلة وصدقة وفي الظهيرية ويبدأ في الصدقات بالأقارب ثم الموالي ثم الجيران ولودفع زكاته إلى من نفقته واجبة عليه من الأقارب جاز إذا لم يحسبها من النفقة انظر الدرالمحتار مع ردالمختار(۲\۶۹) كتاب الزكاة باب المصرف)_

کال کښې صرف يوه مياشت روژې فرض دی.(۱)او هغه هم صرف په ورځ کښې فرض دي.په شپه کښې دخوراك څكاك پوره آزادی شته.(۲) اوحکم دې چه پيشمنې اوكړئ.او روژه اونيسئ.(۳)كه يوسړې بيمار وی.نود جوړيدونه پس هغه ته د روژې نيولواجازت شته.دغه شان د مسافر دپاره هم دا گنجائش شته.چه درمضان نه پس قضا راوړی.(۴)

حج راواخله.په ټول ژوند کښې صرف يوځل فرض شوې دې.(۵)اودا هم په هغه خلقوچه هغوی سره ډير مال وی.چه دکور خرچه ترې لرې کړی.اوهغه دپاره تگ راتگ ممکن وی.لاره د امن وی.سختئ اومشکلات نه وی.نوبه ده باندې حج فرض.دې.گنی نه دې.(۶)
معلومه شوه.چه دالله تعالى د طرفه د نعمتونو كومه سلسله ده.هغه بې حسابه ده.اودهغې په مقابله كښې عبادات ډيركم دی.اوبيايه دې عباداتوكښې خوبس آسانتيا اوآسانتيا ده.(۷)

قوله: وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ: څوك چه په دين كښې شدت اختيار كړى.اوپه دې باندې غلبه كول غواړى.نو دين به په ده باندې غلبه كوى.«يشاد»عامل نصب «لن»په وجه منصوب دې.دا د باب مفاعله څخې دې.ددې معنى د مقابلې ده(۸)

«أحد» دا لفظ د «يشاد»فاعل دې.دابن سكن په روايت كښې او د اصيلى په بعضې رواياتو كښې دا لفظ راغلې دې.اسماعيلى او ابونعيم او ابن حبان رحمهم الله هم ددې حديث په طرقو

---

۱) قال الله تعالى ﴿ فمن شهد منكم الشهر فليصمه﴾البقرة:۱۸۵)_
۲) قال الله تعالى ﴿ وكلوا واشربوا حتى يتبين لكم الخيط الأبيض من الخيط الأسود من الفجر ثم أتموا الصيام إلى الليل﴾ (البقرة:۱۸۷)_
۳) عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال قال النبى صلى الله عليه وسلم تسحروا فإن فى السحور بركة صحيح البخارى(۱\۲۵۷) كتاب الصوم باب بركة السحور من غير إيجاب)_
۴) قال الله تعالى:﴿فمن كان منكم مريضاً أو على سفر فعدة من أيام أخر﴾ البقرة: ۱۸۴)_
۵) عن ابن عباس رضي الله عنهما أن الأقرع بن حابس سأل النبى فقال يا رسول الله الحج فى كل سنة أو مرة واحدة؟ قال بل مرة واحدة فمن زاد فهو تطوع رواه أبوداود فاتحة كتاب المناسک باب فرض الحج رقم ۱۷۲۱)_
۶) عن أنس رضي الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم فى قوله تعال﴿ولله على الناس حج البيت من استطاع إليه سبيلاً ﴾ قال قيل: يا رسول الله ماالسبيل؟ قال الزاد والراحلة وراه الحاكم فى المستدرک (۱\۴۴۲) فى كتاب المناسک باب السبيل: الزاد والراحلة وقال هذا حديث صحيح عى شرط الشيخين ولم يخرجاه وقد تابع حمادبن سلمة سعيداً على روايته عن قتادة وأقره الذهبى وقال الكاسانى رحمه الله وأما تفسير الزاد والراحلة فهو أن يملک ممن المال مقدار ما يبلغه إلى مكة ذاهباً وجائياً راكبا لا ماشياً بنفقة وسط لاإسراف فيها ولا تقتير فاضلاً عن مسكنه وخادمه وفرسه وسلاحه وثيابه وأثاثه ونفقة عياله وخدمه وكسوتهم وقضاء ديونه .. بدائع (۲\۱۲۲)_
۷) فضل البارى (۱\۴۵۹- ۴۶۰)_
۸) والمشادة بالتشديد- المغالبة ياقل :شاده إذا قاواه كذا فى فتح البارى(۱\۹۴)_

کښې د «أحد» لفظ ذکرکړې دې اوپه بعضې نسخوکښې دلته د «أحد» لفظ موجود نه دې نولکه چه په دې صورت کښې به د «يشاد» فاعل مذکور نه وی.اوداسې به ګڼړلې شی. چه چونکه فاعل معلوم دې نوځکه دا حذف کړې شو ()
بیا دې نه پس په «الدين» کښې اختلاف دې بعضې حضرات خودا مرفوع لولی او«لن يشاد» فعل مجهول ګرځوی اودا مفعول مالم يسم فاعله ګرځوی او بعضې دا منصوب لولی او «لن يشاد» فعل معروف ګرځوی او«الدين» مفعول ګرځوی ()
صاحب دمطالع رحمه الله ليکلی دی () چه په اکثرو روایاتوکښې «الدين» مرفوع دې ددې په مقابله کښې امام نووی رحمه الله فرمائی چه په اکثرو روایاتوکښې الدين منصوب دې ()
په دواړو اقوالوکښې دجمعې اوتطبیق صورت دا دې چه صاحب د مطالع د خپلې علاقې د خلقو یعنی د مغاربو روایت نقل کړې دې اوامام نووی رحمه الله د خپلې علاقې دخلقو یعنی مشرقو روایت نقل کړې دې «فلاتعارض بين النقلين»() البته د مسند احمد حدیث «فإنه من يشاد هذا الدين يغلبه»() نه د نصب تائید کیږی.والله أعلم.
نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی.کوم کس چه په دین کښې شدت اختیارکړی.اوپه دین باندې غلبه کول غواړی.نواودا غواړی.چه د دین ټول اعمال من کل الوجوه پوره ادا کړی.اوهمیشه دپاره په عزیمت عمل کوی.نودین به په ده باندې غالب کیږی. یعنی داسې کس به مغلوبه شی.اوپه لږو ورځو کښې به بیا په اعمالوکښې کوتاهی شروع کړی.ځکه چه قاعده دا ده.کله چه په نفس باندې زیات بوج واچولې شی.نوڅو ورځو پورې خو اوچلیږی اوددې نه پس یودم متنفر شی او سرکشی اختیارکړی نواعتدال او میانه روی اختیارول ضروری دی
ګوروئ که څوك دا سوچ اوکړی چه زه صائم الدهراوقائم الليل جوړیږم او د تجرد ژوند اختیاروم نوهغه به ترکومې پورې داسې کوی دمسلسل قیام او صیام په وجه به په ده کښې کمزوری زیاتیږی.اوعمل به نشی پوره کولې نومیانه روی اختیارول پکار دی ځکه چه هغه عمل غوره دې کوم باندې چه مداومت اوکړې شی. اګرچه په مقدار کښې کم ولې نه وی.

) فتح الباری(۱/ ۹٤)_
) فتح الباری(۱۹٤)_
) هوإبراهيم بن يوسف بن أدهم الوهرانى الحمزى أبوإسحاق بن قرقول عالم بالحديث من أدباء الأندلس انظر الرسالة المستطرفة (ص.۱۲۹) والأعلام للزركلى(۱ ۸۱ ۸۲)_
) فتح الباری(۱/ ۹٤)_
) عمدة القاری(۱/ ۲۳۸) وفتح الباری(۱/ ۹٤)_
) مسندأحمد(۱٤/ ۳۵۰) من حديث بريدة الأسلمى رضي الله عنه)_

دالله تعالى ارشاد دي ﴿الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِندَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنجِيلِ يَأْمُرُهُم بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ﴾ ()

په دې آيت مبارکه کښې د رسول اللهﷺ صفت بيان شوې دې چه د دوی حال په تورات اوانجيل کښې مکتوب دې ددوی شان دا وو چه امر بالمعروف اونهی عن المنکر ئې کولو. د طيباتو حلالونکې او خبائثو حرامونکې وو اوهغه بوج کوم چه زمونږ نه په وړاندينی امتونو باندې ب‌اروو دهغې اوچتونکې او پورته کونکې وو اودغه شان د هغه بيړو خلاصونکې هم وو کومې چه په دوی باندې وې

د يهوديانو د نافرمانو اوشرارت په وجه بعضې هغه طيبات هم په هغوی حرام شول کوم چه دوی دپاره حلال وو اودوی دخپل شرارت په وجه دخپل خن دپاره بعضې خبائب حلال کړی وو الله تعالى فرمائى ﴿فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَاتٍ أُحِلَّتْ لَهُمْ﴾ () حالانکه نبیﷺ د طيباتو دحلت اعلان کړې دې.

معلومه شوه چه په شريعت محمدی کښې عسر بيخی نشته.بس يسر او يسر دې.دا خبره الله تعالى بيان کړې ده﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾ () يعنی ستاسو په دين کښې څه تنګی نشته.

نولازم ده چه په دين کښې د تشديداتو اختيارول نه دی پکار.چه دې خبره دې نوبت ته اورسی.چه سړې د اصلی عمل نه هم پاتې شی.نود ميانه روئ او اعتدال اختيارول ضروری دی.ګنی چه د دين په معاملاتواواحکاماتو کښې سختی اختيارکړې شی.نوبه خپله به مغلوب شی.

خوددې دا مطلب نه دې.چه سړې اعلی او اکمل پريږدی.اوپه دې باندې عمل نه کوی.بلکه ددې مطلب دا دې.چه د افراط نه دې احتراز کوی.افراط يو ځيز دې. () اود اولی او اکمل اختيارول بل ځيز دې.

دمثال په توګه که يوکس بيمار وی.اوس ده دپاره د تيمم کولوشرعاً اجازت شته .خوکه دې غواړی چه زه د تيمم په ځائې غسل کوم.نوکيدې شی چه د غسل په وجه د ده بيماری نوره زياته شی.نوکوم لړ غوندې اعمال چه د تيمم په ادا کولوباندې ده هغه ادا کولی شو.دهغې نه به هم عاجز شی.چونکه شريعت ده ته د تيمم اجازت ورکړې دې.اوغسل دده دپاره نقصانی دې.نوکه دې تيمم پريږدی .اوغسل اوکړی.نودې ته افراط وئيلی شی.اودا مذموم دې.

) سورة الأعراف:١٥٧)_
) سورة النساء:١٦٠)_
) سورة الحج:٧٨)_
) فتح البارى(١\٩٤)_

اوكه يوسړي داسې وي.چه دې په اعلى او اكمل باندې عمل كول غواړي. اوشريعت په د، باندې څه پابندى نه وى لګولې.لكه مسح على الخفين مباح ده.كه كول غواړى نو مسح دې اوكړى.اوكه كول نه غواړى.نونه دې كوى. خوغسل الرجلين افضل اوغوره دى.نوكه صحتمند سړې وى.اود اوبو استعمال ده ته تكليف نه رسوى.اواوبه هم په آسانتيا سره ملاويږى.اوهغه ددې خبرې اهتمام كوى.چه د مسح على الخفين په ځائې غسل الرجلين كوى. نوپه دې كښې څه حرج نشته.والله أعلم.

په مسند احمد كښې يو روايت دې.«إن هذا الدين متين فأوغلوا فيه برفق»(١) «ايغال»معنى ده.

«دخول في الشيء» يعنى دا داين ډير مضبوط دې.په دې كښې په نرمۍ او آسانتيا سره ورداخليدل پكار دى.مطلب دا دې.چه سړې لره پكار دى. چه دځپل نفس سورلۍ سره بنه سلوك اود نرمۍ معامله كوى.اوكه يوكس په دې باندې ډير زيات بوج واچوى.نوبيا به دهغه مسافر پشان شى.چه هغه سورلۍ ته د هغې د طاقت نه زياته منډه وركړى.نو نه منزل مقصود ته اورسى.اونه سورلى پاتې شى.ځكه چه كيدې شى.سورلى عاجزه شى.اوناجوړه يا مړه شى.نوځكه سړى ته پكار دى.چه داعتدال او ميانه روئ لار اختياركړى.

قوله: فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا: يعنى نيغه لاراختياركړئ.اونزدې نزدې شئ.

د «سددوا» مطلب دا دې.چه نيغه او صحيح طريقه اختياركړئ.چه نه په كښې افراط وى اونه په كښې تفريط وى.(٢)

«قاربوا»حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه ددې معنى دا ده.كه تاسو په اكمل باندې عمل نشى كولې.يا داعتدال په طريقه پوره نه چليږئ.نوكم ازكم دا كوشش كوئ.چه هغې سره نزدې نزدې نې.(٣) علامه تيمى رحمه الله فرمائى.چه د«قاربوا»دوه معانى كيدې شى.

يوه معنى دا ده.چه «قاربوا في العبادة ولا تباعدوا فيها فإنكم إن باعدتم في ذلك لم تبلغوه» يعنى په عباداتوكښې ميانه روى اختياركړئ.په دې كښې مبالغه مكوئ. ځكه كه مبالغه مو اوكړه. نومنزل ته به اونه رسئ. اوپه صحيح طريقه به نې پوره نكړې شئ.

دويمه معنى د «قاربوا» ده«ساعدوا» يعنى معاونت او مدد كول.ونيلى شى.«قاربت فلانا»أى ساعدته» يعنى ما دهغه سره مدد اوكړو.اوس مطلب دا شو .چه د دين په معاملاتوكښې د يوبل سره مدد كوئ.په دې كښې اولنۍ معنى ددې مقام سره زياته مناسب ده.(٤)

---

١) مسند أحمد(١٩٩\٣) من أحاديث سيدنا أنس بن مالك رضي الله عنه_

٢) فتح البارى(٩٥\١)_

٣) فتح البارى(٩٥\١) وعمدة القارى(٢٣٧\١)_

٤) شرح الكرمانى(١٦٢\١)_

قوله: <u>وَأَبْشِرُوا</u>: زيرې قبول کړئ اوخوشحاله شئ.
دا لفظ ياخو دباب افعال نه د امر صيغه ده.اوهمزه قطعي دي.اويا دا د باب نصر نه د امر صيغه ده.په دې صورت کښې به ددې همزه وصلي وي.قطعي به نه وي.معنى په دواړو صورتو کښې يوه ده.(۱)خواولنئ معنى زياته راجحه ده.ځکه چه کثيرالاستعمال هم دا ده.

د حديث ددې جملې مطلب دا دې.چه ((أبشروا بالثواب على العمل الدائم وإن قل)) يعنى تاسو ته زيرې دې.په دوام سره عبادت کولوکښې ثواب زيات دې. اګرچه عمل کم وى.لکه چه نبى ﷺ هغه کس ته زيرې ورکوى.څوک چه په اکمل باندې د عمل کولونه عاجز وى.اګرچه هغه عاجز کيدل قصداً نه وى.نوبيا به هم ده ته پوره اجر ملاويږى.دده په ثواب کښې به څه کمې نشى کيدې.(۲)

قوله: <u>وَاسْتَعِينُوا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ</u>: اودصبا اوماښام او د شپې په آخرى حصه کښې په خپل طاعت،عبادت او نوروکارونوکښې مدد حاصل کړئ.

((غدوة))د غين په فتحه د ((غدو)) نه اسم مره،دې.ددې معنى د ورځې په اوله حصه کښې تلو ته وائى.او دغين په ضمې سره ((ما بين صلاة الغداة إلى طلوع الشمس))وخت ته وئيلې شى.(۳)

((روحة))دا د ((رواح))نه اسم مره،دې.د زوال نه پس تلو ته وائى.(۴)

((دلجة)) بضم الدال وفتحها وإسكان اللام،،دا د ((إدلاج))باب افعال نه هم اسم دې.اود ((إدلاج))باب افتعال نه هم اسم دې.که د ((أدلج))باب افعال نه وى. نوددې معنى د شپې په اوله حصه کښې تلل دى.اوکه د ((أدلج)) باب أفتعال نه وى.نود دې معنى د شپې په آخرى حصه کښې تلل دى.اوبعضې حضراتو وئيلى دى.چه ((دلجة))په ټوله شپه کښې تلو ته وائى.(۵)
شيخ الاسلام علامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله فرمائى.په دې جملوباندې انسان په پابندئ سره عمل اوکړو.نو ولې ترې جوړيدې شى.خبره ئې خلاصه کړې ده.چه دا درې وختونه بس دى.
مولانا ګنګوهى رحمه الله فرمائى.د ډيرشو کالوتجربې نه پس معلومه شوې ده. چه کوم څيز خومره ګران وى.ډيره په آسانتيا سره حاصليدې شى.اوبيا ئې دا حديث واورول. ((واستعينوا بالغدوة والروحة وشيء من الدلجة))څوک چه غواړى.نوددې تجربه دې اوکړى.بيا دې اوګورى.چه

---

(۱) شرح کرمانى(۱\۱۶۲)_
(۲) فتح البارى(۱\۹۵)_
(۳) النهاية (۳\۳۴۶)_
(۴) مختارالصحاح (ص.۲۶۲)_
(۵) النهاية فى غريب الحديث والأثر(۲\۱۲۹) وشرح الکرمانى(۱\۱۶۲)_

څه کیفیت دي (١)
علامه شبیراحمدعثماني رحمه الله فرماني چه زړه د ټولو اندامونو بادشاه دې.که دې مضبوط وی نوټول اندامونه به په خپلو کارونوکښې چست او چابك وی.اوکه دا بادشاه کمزورې شی نوبیاقي اندامونه څه هم نشی کولې هرکارد زړه په طاقت سره کیږی.اودزړه ته طاقت په مانځه او د الله تعالی په ذکرسره ملاویږی.د نبی ﷺ په دې ارشاد کښې د مونځونو وختونو ته اشاره ده نبی ﷺ د تقویت قلب دا عمل په مختلفو وختونو باندې تقسیم کړې دې کوم چه په ټوله شپه او ورځ کښې د فرح او نشاط وختونه دی دټولونه اول د صبا وخت دی د خوشحالئ په وختونوکښې د ټولونه زیات هم دا وخت دې.د شپې په آرام کولو سره د ټولې ورځې ستومانتیا او ستړې والې ختم شی.اوانسان په هرحیثیت سره تروتازه شی.دویم وخت «دوحة» د زوال نه پس دې.په قیلولة کولو سره په دې کښې هم د ستړی والی بوج کم شی.دریم وخت د دلجة دې.کوم چه د خوشحالئ په ټولو وختونوکښې خپل خصوصیت لری.په اولنی وخت کښې د صبا مونځ په دویم وخت کښې د ماسپخین اومازیگرمونځ او په دریم وخت کښې د ماښام او ماخستن مونځ دې.نبی ﷺ دا د استعانت طریقه په مقصد کښې دکامیابئ دپاره خودلې ده (٢)
علامه کرماني رحمه الله وغیره لیکلی دی چه نبی ﷺ لکه چه یومسافر ته خطاب کولو.چه هغه دخپل نشاط(خوشحالئ) د وختونو خیال دې ساتی.او سفر دې کوی.دصبا په وخت کښې انسان تازه وی.اودهغه وخت هم یخ وی.دغه شان د زوال نه پس هم گرمی کمه شی.اود تازگئ وخت په مزه مزه زیاتیږی.اودې سره سره تازگی هم زیاتیږی.دغه شان د شپې په آخری حصه کښې تازگی وی.ځکه چه انسان تر دهغه وخته پورې څه خوب کړې وی.نفس ته دهغه حق ملاؤ شوې وی. نولکه چه رسول الله ﷺ انسان د ژوند مسافرگرځوی.اودا ورته ښائی چه لکه څنگه د دنیا مسافرد خپل نشاط د وختونو خیال ساتی.اوپه هغې کښې سفر کوی.دغه شان اې د دین مسافروتاسوهم د نشاط د وختونو خیال ساتئ.اوخپل دینی اعمال هم په دې وختونو کښې کوئ.(٣)والله سبحانه وتعالى أعلم وعلمه أتم وأحكم.
یواشکال اودهغې جواب په دې حدیث باندې یواشکال دا کیدې شی.چه دا حدیث د عمربن علی مقدمی په واسطه سره نقل شوې دې.اود ده په باره کښې د ائمه اورجال حدیث اتفاق دې.چه سخت مدلس دې (٤)اوبیا دلته دې عنعنه کوی.نوددې تقاضا دا ده.چه دا روایت دې صحیح نه وی

---

١) فضل البارى(١:٤٦٣)_
٢) فضل البارى(١:٤٦٤)_
٣) شرح كرمانى(١:١٦٢)_
٤) ددې باب په شروع کښې مونږ دده په حالاتوکښې دده د تدلیس کیفیت بیان کړې دې.فارجع إليه إن شئت)_

د دې جواب دا دې چه اول خو چه په صحيحينوكښې څومره مدلسين عنعنه كوى.هغه په سماع باندې محمول دى.(١)
بيا عمربن على مقدمى په دې روايت كښې د سماع تصريح هم كړې ده كومه چه ابن حبان روايت كړې ده.(٢) هم دا وجه ده.چه حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى ((قد إحتمل أهل الصحاح تدليسه ورضوابه))(٣) دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ((ولم أرله فى الصحيح إلا ماتوبع عليه))(٤)
يوبل اشكال اودهغې جواب دلته يواشكال دا هم شوې دې چه دا روايت د ((معن بن محمد عن سعيد المقبرى)) په سند سره مروى دې.اوسعيد په آخرى عمركښې مختلط شوې وو
علامه عينى رحمه الله فرمائى((سماع معن عن سعيد كان قبل إختلاطه ولولم يصح ذلك عندالبخارى لما أودعه فى كتابه الذى سماه صحيحاً))(٥)
خو وړاندې مونږ د سعيدمقبرى په حالاتوكښې تفصيلاً او تحقيقاً بيان كړى دى چه سعيدمقبرى معمر او كبيرالسن ضرور ګرځيدلې وو.خومختلط شوې نه وو اوكه اختلاط راغلې هم وو.نودتغير نه پس د دوى نه چا روايت نه دې كړې .والله أعلم.

۲۹=بَابُ الصَّلَاةُ مِنَ الْإِيمَانِ وَقَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى: وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ﴾(٦) يَعْنِي صَلَاتَكُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ

لفظ د ((باب)) مرفوع دې.اودمبتدا محذوف ((هذا)) دپاره خبردې.اوپه لفظ د باب باندې تنوين وئيل هم جائز دى اوبغيرتنوين نه مضاف ګرځول هم صحيح دى.
((الصلاة)) مرفوع دې.ځكه چه دا مبتدا ده.((من الإيمان)) د دې دپاره خبر دې .كه باب مضاف اوګرځولې شى.نو هم به ((الصلاة)) مرفوع وئيلى شى.ځكه چه د ..باب.. مضاف اليه صرف لفظ د ،،الصلاة،، نه دې.بلكه د ،،الصلاة من الإيمان،، پوره جمله ددې دپاره مضاف اليه ده.
بيا د ((قول الله تعالى)) عطف په ((الصلاة)) باندې دې.ځكه مرفوع دې.خودا په هغه صورت كښې دې.چه په ((باب)) باندې تنوين اووئيلى شى.اودا مضاف اونشى ګرځولې.اود تنوين نه

---

(١) عمدة القارى(١\٢٣٦)_
(٢) فتح البارى(١\٩٤) وعمدة القارى(١\٢٣٦)_
(٣) سيرأعلام النبلاء(٨\٥١٤)_
(٤) هدى السارى(٤٣١)_
(٥) عمدة القارى(١\٢٣٦)_
(٦) البقرة:١٤٣)_

بغير ونيلو په صورت کښې به «قول الله..»د مضاف اليه په کيدو باندې مجرور وی.(١)

د ترجمة الباب دماقبل بابونو سره ربط د ذکرشوی باب دماقبل سره ربط په دې طريقه دې چه وړاندې د استعانت بالاوقات ذکر راغلې وو.چه په دې درې وختونوسره په عبادت کښې مدد حاصل کړئ.اوپه دې وختونوکښې دټولونه افضل بدنی عبادت چه کوم ادا کيږی پنځه مونځونه دی.دکومو په ادا کولوکښې په دې وختونوسره مدد حاصليدې شی. نوځکه په دواړو بابونوکښې مناسبت او ربط بيخی ښکاره دې.(٢)

د دې نه علاوه داسې هم ونيلی شی.چه دماقبل باب «باب الدين يسر» ضمناً او استطراداً راوړې وو.اوامام بخاری ﷫ د شروع نه شعب ايمانيه بيانوی. نو د دې ضمنی باب نه پس دوباره شعب ايمانيه بيانوی.نوپه «باب الصلاة من الإيمان» او«صام رمضان احتساباً من الإيمان» کښې مناسب لټول پکاردی.دا مناسبت بيخی ښکاره دې.چه دواړه دعظيم بدنی عبادتونو څخه دی.(٣)

دترجمة الباب مقصد د ترجمة الباب مقصد وړاندې ضمناً بيان شو.چه په اصل کښې امام بخاری ﷫ شعب ايمانيه شماری.چونکه ددې نه وړاندې باب ئې تبعاً د خاص مصلحت دپاره ذکرکړې وو.نواوس بيا شعب ايمانيه طرف ته رجوع کوی.اودا خبره چه مونځ دايمان شعبه ده.بيخی ښکاره خبره ده.بلکه مونځ ددې اهم ترينه شعبه ده.دتوحيد او رسالت داقرار نه پس د مونځ درجه ده.امام بخاری ﷫ چه لکه څنګه د نورو تراجمو په ذريعه تنبيه ورکړې وه.چه هغه دايمان په شعبو کښې دی.دغه شان دلته هم د «صلاة» په باره کښې هم تنبيه ورکوی.(٤)

دا هم ممکن ده.چه دامام بخاری ﷫ ددې ترجمې د انعقاد نه په امام ابوحنيفه﷫ باندې رد کول مقصود وی.ځکه چه هغوی اعمال په ايمان کښې داخل نه ګڼړی.نوامام بخاری ﷫ دلته «الصلاة من الإيمان» اوونيل.اودا ئې ثابته کړه.چه مونځ د ايمان يوجزء دې.ځکه چه په دې کښې «من»د تبعيض دپاره دې. اوددې نه دا هم معلومه شوه.چه ايمان مرکب دې.اعمال په دې کښې داخل دی.بيا چونکه د مونځ ادا کولوکيفيات دهرکس په باره کښې مختلف وی. نو ځکه په دې سره په ايمان کښې د کمی او زيادت ثبوت هم اوشو.

وړاندې ئې د قرآن کريم آيت ذکرکړې دې چه ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ﴾ په دې باندې د ټولو محدثينو ﷭ اتفاق دې.چه د ايمان نه مراد صلاة دې. او شان نزول هم په دې باندې دلالت

---

(١) عمدة القاری(۱\۲۳۹)_

(٢) المصدرالسابق)_

(٣) فتح الباری(۱\۹۵) کتاب الإيمان باب الدين يسر، وعمدة القاری(۱\۲۳۹)_

(٤) عمدة القاری(۱\۲۳۹)_

كوى.(زربه مونږ شان نزول ذكر كړو.) نوپه مونځ باندې دايمان اطلاق د((اطلاق الكل على الجزء)) د قبيل نه دې.( )

خومونږ په جواب كښې وئيلى شو چه په ((الصلاة من الإيمان)) كښې من تبعيضيه نه دې.بلكه ابتدائيه دې.اومطلب دا دې چه مونځ دايمان د متعلقاتو او ثمراتو ځنې دې.
اوترڅو پورې چه په آيت كښې په مانځه باندې دايمان د اطلاق تعلق دې. نو ددې په باره كښې وئيلى شى.چه د ((اطلاق الكل على الجزء))د قبيلې ځنې نه دې.د ((اطلاق الأصل على الفرع))د قبيلې ځنې دې.
بيا وړاندې مونږ د كتاب الايمان په مباحثوكښې په تفصيل سره هغه ټولې خبرې بيان كړى دى.په كوموكښې چه داهل حق اهل سنت والجماعت اختلاف دې. حقيقت دا دې چه د اهل حق په مينځ كښې كوم اختلاف دې.چه هغه د لفظى اختلاف سره مشابه دې.ځكه چه جمهوردرې وړاره اَمامان چه دا فرمائى.چه اعمال په ايمان كښې داخل دى.هغوى ددې سره دا هم وائى.چه د اعمالو تارك د ايمان نه خاجرى نه.البته د ترك اعمالو په وجه هغه مستحق د مواخذۀ دې.حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله چه دا فرمائى.چه اعمال په ايمان كښې داخل نه دى.هغوى هم دا فرمائى.چه تارك د اعمالو مستحق د مواخذۀ دې.اوكه دده په تقديركښې وى.ده ته به عذاب ملاويږى.
البته دلته دا وئيلى شى.چه امام بخارى رحمه الله دلته د مرجئو ترديد كوى. ځوك چه د اعمالو داهميت نه بيخى منكر دى.والله أعلم.

د ايت كريمه شان نزول: آيت كريمه ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ﴾ دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه دا مروى دې.چه كعبه قبله كړې شوه.اوبيت المقدس ته به مونځ كولې شو ددې نه وړاندې څه كسان وفات شوى وو.په كوموكښې چه ابوامامه اسعدبن زراره.اوبراء بن معرور رضي الله عنهما وو.(٢) كله چه كعبه دوباره قبله اوګرځولې شوه.نوددې حضراتو خپلوان د نبى عليه السلام په خدمت كښې حاضرشول. اوعرض ئې اوكړو.

---

(١) تقريربخارى (١٤٢\١)_
(٢) وفى العمدة (٢٤٠\١١) منهم سعدبن زراره.وأبوامامة أحد بنى النجار والبراء بن معرور أحد بنى سلمة ففيه تحريفان :الأول: أنه أسعد بن زراره.لا سعد بن زراره.فإنه هوالذى مات قبل تحويل القبلة من بيت المقدس إلى الكعبة.والتحريف الثانى:أنه زاد ههنا واو العطف قبل أبوامامة ويعلم من ذكل أن الذين ماتوا هم ثلاثةرجال. والحق أنه اثنان .ابوامامة كنيته اسعد بن زرارة .فلذلک أتى بقوله ((أحد بنى النجار)) توضيحاً فالصواب.منهم أسعد بن زرارة وأمامامة أحد بنى النجار والبراء بن معرور أحد بنى سلمة)).
قال الحافظ فى الفتح (٩٨\١١) والذين ماتوا بعد فرض الصلاة وقبل تحويل القبلة من المسلمين عشرة أنفس فبمكة .. وبأرض الحبشة .. ومن الأنصار بالمدينة : البراء بن معرور- بمهملات- وأسعد بن زرارة و هو الذى ذكره أصحاب السير أنه توفى فى شوال على رأس تسعة أشهر (بقيه حاشيه په راروان مخ....

چه «یارسول الله توفي إخواننا وهم یصلون إلى القبلة الأولى وقد صرفك الله تعالى إلى قبلة إبراهيم ﷺ فكيف بإخواننا في ذلك» یعنی یارسول الله زمونږ ډیرو رونړو اولنئ قبلې بیت المقدس ته مونځونه کړی وو. اوس الله تعالی تاسو ته د حضرت ابراهیم ﷺ قبلې ته د مخ کولوحکم اوکړو نو زمونږ ددغه ورونړو د مونځونو به څه حکم وی. یا دهغوی په ثواب کښې خوبه څه کمې نه کیږی نوپه دې باندې دا آیت نازل شو چه کله تاسو بیت المقدس طرف ته مونځونه صرف دالله تعالی د رضا دپاره اود ایمان په تقاضا باندې دعمل کولودپاره کړی دی.نوستاسوهغه مونځونو په اجراوثواب کښې به څه کمې نشی راوستې.(۱)

یواشکال اودهغې جواب دلته یواشکال دې.هغه دا چه آخر صحابه کرامو ﷺ ته د تحویل قبلې په وجه په مونځوکښې اشکال ولې پیښ شوې وو.اود تردد اصلی بنیاد څه وو.

دحضرت ابن عباس ﷺ نه منقول دی.چه په اسلام کښې د ټولونه اولنئ نسخ د قبلې شوې وه.(۲)

صحابه کرام ﷺ د نسخې نه واقف نه وو.د نسخې په اول ځل پیښ شوې وو. نو پکار ده چه هغوی ته اشکال پیښ شوې وو.چه دکومو نوروحضراتو په ژوند کښې دا حکم نه وو راغلې.نودهغوی به څه حال وی؟

خوصحیح دا ده.چه د حضرت ابن عباس ﷺ دا ارشاد دهغوی دخپل علم مطابق وو.ځکه چه دنسخې صورت ددې نه وړاندې هم پیښ شوې وو.(۳)

اوس اشکال نور هم قوی کیږی.چه هرکله ددې نه وړاندې هم د نسخې صورت پیښ شوې وو.اوپه دې کښې څه قسم تردد نه وو.نوپه دې کښې دا صورت ولې راپیښ شو؟

.....د تیرمخ بقیه) من الهجرة ومسجد رسول الله ﷺ یومئذ یبنی وذلک قبل بدر کما فی الطبقات الکبری لابن سعد (۶۱۱\۳) والإصابة فی تمییز الصحابة (۳۵\۱) والإستیعاب بهامش الإصابة (۸۳\۱) وقدنقل فیه ما نقلناه آنفاً من أنه توفی فی شوال علی رأس تسعة أشهر .. إلا أن فی الإستیعاب .. علی رأس ستة أشهر..فلیحرر)...

وأما سعد بن زرارة فهو أخو أسعد بن زرارة المذکور فقد ذکره أبوحاتم والباوردی وابن شاهین فی الصحابة کما فی الإصابة (۲۷\۲) ولم یذکر الحافظ ابن حجر ﷺ تاریخ وفاته وإنه لو کان صحابیا فهو غیر مشهور حتی قالابن عبدالبر فی الإستیعاب (۴۲\۲) وأخشی أن لا یکون أدرک الإسلام لأن أکثرهم لم یذکره)_

(۱) عمدة القاری(۲۴۰\۱) وجامع البیان فی تفسیر القرآن للطبری(۱۱\۲) والدرالمنثور(۱۴۶\۱) وتفسیر عثمانی(ص.۲۸)_

(۲) قال علی بن طلحة عن ابن عباس ﷺ کان أول ما نسخ من القرآن القبلة:تفسیرالقرآن العظیم لابن کثیر(۱۹۲\۱) وأخرجه البیهقی فی سننه الکبری (۱۲\۱) کتاب الصلاة باب إستبیان الخطأ بعد الأجتهاد)_

(۳) قال الشیخ هبة الله بن سلامة فی رسالته الناسخ والمنسوخ:اعلم ان اول النسخ فی الشریعة أمر الصلاة ثم أمرالقبلة ثم الصیام الأول ثم الإعراض عن المشرکین .. إنظرروائع البیان فی تفسیر آیات الأحکام للشیخ محمد علی الصابونی (۱۰۴\۱)_

دحضرت شيخ الهند رحمه الله جواب حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائي چه داحاديثو په تولو ذخيره كښي داسې د دوو موقعو ذكر دې يوخودا دتحويل قبلې موقع وه اوبله د حرمت خمر په موقع باندې دا سوال پيدا شوې وو صحابوكرامو رضي الله عنهم عرض اوكړو يا رسول الله ﷺ بعضي كسان په جنګ بدر اوجنګ احد كښي شهيدان شوي وو دهغوى په خيټوكښي شراب موجود وو اګرچه شراب روسته حرام شوى وو خوبيا هم دا سوال شوې وو دهغې په جواب كښي دا آيت نازل شو ﴿لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا إِذَا مَا اتَّقَوا....الخ﴾[1]

حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائي چه دا دواړه خيزونه داسې وو چه ددې نسخ دترقب اوانتظار نه پس وه مسلمانانوته اندازه وه چه اوس صبا يا بيګاه حكم رانلونكي دې نو د خمر په باره كښي د ټولو نه اول دا آيت نازل شوې وو ﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ﴾[2] كله چه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه دا آيت واوريدلو نو وې وئيل «اللهم بين لنا فى الخمر بياناً شافياً» ددې نه پس دا آيت نازل شو ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَاةَ وَأَنتُمْ سُكَارَىٰ﴾[3] ددې نه پس حضرت عمر رضي الله عنه هم هغه خبره اوكړه چه «اللهم بين لنا فى الخمر بياناً شافياً» ددې نه دا معلومه شوه چه خلقو ته انتظار وو چه حرمت به خامخا راځي اود حرمت آخرى حكم رانلونكي دې نو بيا په دريم ځل دا آيت نازل شو ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝ إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَاةِ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ ۝﴾[4] كله چه دا آيت نازل شو نو هله حضرت عمر رضي الله عنه اوفرمائيل «انتهينا انتهينا»[5] اوس انتظار ختم شو.

بلكه په شعب الايمان دبيهقى كښي يو روايت كښې بخيله د نبى ﷺ نه دې خبرې طرف ته اشاره منقول ده چه شراب به روسته حرام شي حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمائي

---

[1] سورة المائدة \٩٣) والحديث أخرجه النسائي فى سننه الكبرى (٦:٣٣٧) كتاب التفسير.سورة المائدة باب قوله تعالى ﴿ إنما الخمر والميسر... ﴾ طولاً عن ابن عباس رضي الله عنهما وفيه فقا ناس هي رجس فى بطن فلان قتل يوم بدر وفلان قتل يوم أحد فأنزالله عزوجل ﴿ليس على الذين آمنوا وعملوا الصالحات جناح فيما طعموا إذا ما إتقوا وآمنو وعملوالصالحات)) وانظر الدرالمنثور (٢:٣١٥)_

[2] البقرة:٢١٩)_

[3] النساء:٤٣)_

[4] المائدة:٩٠. ٩١)_

[5] سنن النسائى (٢\٣٢٢) كتاب الأشربة باب تحريم الخمر وانظر السنن لابى داؤد كتاب الأشربة باب فى تحريم الخمر رقم ٣٦٧٠ والجامع للإمام الترمذى كتاب التفسير باب ومن سورة المائدة رقم ٤٩و ٣٠) والدرالمنثور فى التفسير بالماثور (١\٢٥٢)_

((قام رسول الله ﷺ فقال: يا أهل المدينة إن الله يعرض على الخمر تعريضاً لا أدري لعله سينزل فيها أمر..))(١)
دغه شان په تحويل قبله كښې هم شوى وو. دلته هم قرائن موجود وو. ددې وجې هر كس هر وخت كښې په انتظار وو چه دا دې د تحويل قبلې حكم راغلو. امام طبرى رحمه الله روايت كړې دې. ((عن ابن عباس رضي الله عنهما أن رسول الله ﷺ لما هاجر إلى المدينة وكان أكثر أهلها اليهود أمره الله عزوجل أن يستقبل بيت المقدس ففرحت اليهود فاستقبلها رسول الله ﷺ ستة عشر شهراً فكان رسول الله ﷺ يحب قبلة إبراهيم عليه السلام فكان يدعو وينظر إلى السماء فأنزل الله عزوجل: ﴿قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ﴾ الآية))(٢)
په دې پوره واقعه په اختصارسره داسې پوهه شي چه اول دمسلمانانو قبله خانه كعبه وه. ددې نه پس د امتحان دپاره څو ورځې (شپاړس يا اوولس مياشتې) بيت المقدس قبله اوګرځولې شوه. اوښكاره ده چه امتحان په هغه څيزكښې وى. كوم چه په نفس باندې ګران وى. الله تعالى فرمائى. ﴿وَاِنْ كَانَتْ لَكَبِيْرَةً اِلَّا عَلَى الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ﴾(٣) يعنى دا خبره ګرانه ده مګر په هغه كسانو نه ده. چاته چه الله تعالى هدايت كړې وى. په عامو مسلمانانو باندې خودا خبره ځكه ګرانه شوه. چه په هغوى كښې زيات قريش وو. اوقريشو د كعبې په فضيلت باندې اعتماد وو. نو هركله چه دهغې په خلاف حكم ورته اوشونو ګران وو ورته. خويه زړه كښې ئې خيال پاتې وو. اوخواصو ته ځكه ګران وو. چه دا حكم د ملت ابراهيمى خلاف دې اودوى په ملت ابراهيمى مامور وو. الله تعالى فرمائيلى دى. ﴿مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا﴾(٤) اواخص الخواص چه چا ذوق سليم لرلو. اوچاته چه د مراتبوپه پيژندګلو كښې امتياز كولوصلاحيت وركړې شوې وو. هغوى دا ترقى معكوس ګڼرله. خو دهغوى نه پورته چاته چه الله تعالى د حكمتونو اواسرارو ته د رسيدو علم وركړې وو. او چا چه حقيقت بيت المقدس او حقيقت خانه كعبې ته دخپل فراست په نور كښې كتل. كوم چه الله تعالى دوى ته وركړې وو. هغوى دا جدا جدا ګڼرل. هغوى ته ددې علم وو. چه نبى ﷺ دټولو پيغمبرانوعليهم السلام جامع دې. او ددوى رسالت ټول جهان او ټولو امتونو ته شامل دې. نوځكه په حكمت الهى كښې دا ضرورى ده. چه بيت المقدس ته استقبال هم د څو ورځو دپاره ضرور اوكړې شى. ددې وجې هغوى څه پريشانه نه وو. كله چه امتحان اوشو. اودالله تعالى حكمت پوره شو. نوحكم اوشو چه اوس كعبې طرف ته مخ كوئ. نوچونكه د وړاندې نه انتظار وو. اوخلقوګڼرل چه قبله به بدليږى. اود نبى كريم ﷺ آرزو هم دا وه. كومه چه پوره شوه. اودالله تعالى د حكمت تقاضا هم وه. ځكه چه څنګه ورته حكم ملاؤ شو. نو سمدستى ئې تعميل اوكړو.
خلاصه دا چه د بيت الله قبله ګرځولو ګڼر وجوهات دى.

---

(١) شعب الإيمان باب (٥\٤) رقم (٥٥٦٩) باب فى المطاعم والمشارب)_
(٢) جامع البيان للطبرى(١٣\٢)_
(٣) البقرة:١٤٣)_
(٤) سورة الحج:٧٨)_

اولنی وجه دا چه ددې خبرې نه قطع نظر چه مکه معظمه د نبی ﷺ وطن وو. اود وطن سره اود وطن د هرڅيز سره طبعاً محبت وی.نبی ﷺ دټولو پيغمبرانوعليهم السلام سردار جوړ کړې شوې وو.اوددوی دا سرداری په عالم بالا ر کښې مقرر شوې وه.د دوی ددې شان په لحاظ سره قبله هم هغه پکار وه.چه په هغې کښې د اوليت او سيادت شان وی.په قرآن کرآن کريم کښې د بيت الله د واوليت په باره کښې ارشاد دې ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِلْعَالَمِينَ﴾(١)

(٢) دويمه وجه دا ده.چه بيت الله ته (د جعرافې په لحاظ سره) مرکزيت حاصل دې. په بعضې رواياتوکښې راغلی دی.چه بيت الله د زمکې په نوم باندې قائم دې (٢)چونکه بيت الله د زمکې په وسط باندې واقع دې.اوهرڅيزخپل مرکز طرف ته بالطبع مائل وی ددې وجې بيت الله ته د نبی ﷺ د زړه رجحان د طبعيت عين مطابق او د عقل سليم عين موافق دې.
بيا يواځې دا نه چه بيت الله ته د اوليت او مرکزيت حاصل دې.بلکه د مبدا عالم کيدو سره سره دا مدارعالم هم دې.په قرآ کريم کښې دې ته ﴿قِيَامًا لِلنَّاسِ﴾(٣)
وئيلی شوی دی.يعنی بيت الله د دنيا دپاره د قيام او ثبات وه ده.د نبی ﷺذات په ټول جهان کښې د اوليت او دکمالاتو د مرکزيت شان لری.دغه شان د نبی ﷺ وجود د دنيا د بقاء دپاره سامان هم دې.اود مرکز د مرکز سره مناسبت ښکاره دې.بيت الله د ظاهر مرکز دې.اونبی ﷺ د باطن مرکز دې.

(٣) دريمه وجه دا ده.چه ددوی ملت ابراهيمی دې.اوحضرت ابراهيم ﷺ قبله خانه کعبه وه.دملت په اعتبارسره هم مناسبت دا وو.چه بيت الله د نبی ﷺ قبله وی.

(٤) څلورمه وجه دا ده.چه د بيت الله په قبله جوړولوکښې د عربو تاليف وو.ځکه چه داهل عرب قبله بيت الله وه.او د نبی ﷺ د ټولونه وړاندې دعوت رسول هم دوی ته وو.
صحابه کرامو ﷺ ته دا ټوله نقشه د سترګو وړاندې وه.اوهغوی ته دا خبره ښه معلومه وه.چه دځو مصلحتونو په وجه عارضی طور بيت المقدس ته د مخ کولوحکم شوې دې ګنی اصلی قبله خو خانه کعبه ده.هغسې هم د ﴿فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا﴾(٤)نه پس پوره يقين پيدا شو. که نن نه وی صبا ته به مخامخ بيت الله قبله ګرځی.
هم دا وجه وه.چه کله بيت الله ته د استقبال حکم راغلو اودا عارضی قبله منسوخ کړې شوه. نواشکال پيښ شو.چه زمونږ دهغه مونځونو به څه حکم وی کوم چه عارضی قبلې طرف ته ادا شوی دی.هغه به د مفضول قبلې طرف ته د ادا کولو په وجه مفضول وی؟بيا چه کوم کسان ژوندی دی.نوهغه خو چه استقبال دقبلې اوکړی.نوتدارک او تلافی کولې شی.خوچه

---

(١) سورة آل عمران:٩٦)_
(٢) قال الرازی فی التفسير الکبير(١٠٦\٤) قالو:الکعبة سرة الأرض ووسطها)_
(٣) قال الله تعالی(جعل الله الکعبة البيت الحرام قياماً للناس .. المائدة (٩٧)_
(٤) البقرة:١٤٤)_

كوم كسان وفات شوى دى دهغوى به څه انجام وى؟نوآيت نازل شو چه الله تعالى دا يمان ضائع كونكې نه دې
غرض دا چه د نسخې په وجه اشكال نه وو راغلې بلكه چونكه د ناسخ ترقب اوانتظار وو او دا خبره هغوى ته معلومه وه چه بيت المقدس عارضى اومفضوله قبله ده.ددې وجې د معاملې نوعيت هم دا وو.چه دهغې نه اشكال پيدا شو.والله أعلم.(١)

قوله يَعْنِي صَلَاتَكُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ: دلته امام بخارى رحمه الله د ((ايمانكم)) تفسير په ((صلاتكم)) سره اوكړو او ورسره ئې د ((عندالبيت)) اضافه هم اوكړه.ددې وجې دلته لوې اشكال پيدا شوې دې.خكه چه د رواياتو نه معلوميږى.چه نبى ﷺ كله مدينې منورې ته هجرت اوكړو نو شپاړس يا اوولس مياشتې ئې بيت المقدس ته استقبال كړې وو (٢) بيا ئې خانه كعبې ته استقبال اوكړو.په دغه دوران كښې څه صحابه كرام رضي الله عنهم وفات شوى وو.په دې باره كښې بعضې يهودو په مسلمانانو باندې اعتراض اوكړو.اود بعضې مسلمانانو په زړونوكښې شبه پيدا شوه.چه داستقبال قبلې نه وړاندې زمونږ كوم مسلمانان ورنړه وفات شوى دى.دهغوى د مونځونو به څه حال وى.يعنى بيت المقدس ته چه كوم مونځونه شوى وو.په هغوى كښې هغوى ته تردد پيښ شو.نوالله تعالى د تسلى دپاره دا آيت نازل كړو.﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ﴾ چه حاصل ئې دا دې.چه په مدينه منوره كښې بيت المقدس ته كوم مونځونه شوى دى.الله تعالى به هغه ضائع نكړى.

په دې صورت كښې په ظاهره دامام بخارى رحمه الله تفسير صحيح نه معلوميږى.خكه چه كله : بيت لفظ مطلقاً اووئيلى شى.نو مراد ترې بيت الله يعنى خانه كعبه وى.په قرآن پاك كښې دى.﴿وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً﴾(٣)

خوچه بيت الله مراد واخستې شى.نو په دې صورت كښې به دترجمة الباب حاصل دا وى.چه تاسو كوم مونځونه خانه كعبې ته كړى دى.هغه به ضائع نشى.په دې صورت كښې په سوال او جواب كښې څه مناسبت نه پاتې كيږى.

بيا دا چه دا تفسيردهغه روايت نه هم خلاف دې.په كوم كښې چه ددې تفسيرپه ((صلاتكم إلى بيت المقدس)) سره شوې دې.(٤)

---

(١) درس بخارى (٢٥١/١، ٢٥٣) وإيضاح البخارى (٣٥٦/٤، ٣٦٢)_

(٢) كما في حديث الباب_

(٣) سورة الأنفال:٣٥)_

(٤) كما أخرج الطيالسى عن طريق شريك، وجريج عن أبى إسحاق عن البراء قال مات قوم كانوا يصلون نحو بيت المقدس فأنزل الله عزوجل ﴿ وما كان الله ليضيع إيمانكم﴾ أى صلاتكم إلى بيت المقدس (مسند أبى داود الطيالسى ص.٩٨ رقم ٧٢٢ وانظرالسنن الكبرى للنسائى (٢٩١/٦) كتاب التفسير باب قوله تعالى: ﴿ قد نرى تقلب وجهك فى السماء فلنولينك قبلة ترضاها﴾ رقم ١١٠٠٣)_

ددې اشکال څو جوابونه ددې اشکال څو جوابونه ورکړې شوی دی.

① بعضې حضراتو دا وئیلی دی چه دلته تصحیف شوې دې په اصل کښې ((لغیرالبیت)) وو په کتابت کښې دغلطئ په وجه ((عندالبیت))شوی دې.(۱)

په دې تاویل سره خو به عبارت صحیح شی خوچه ترکومې پورې دتصحیف دعوه ده نوهغه بغیردلیل نه ده خکه چه دبخاری شریف په ټولونسخوکښې دا لفظ هم داسې دې.(۲) که په یوه نسخه کښې هم دا لفظ وو نو مونږ به منلی وو چه په نورو نسخوکښې غلطی شوې ده.

② دویم جواب دا ورکړې شوې دې چه ((عند)) د ((الی)) په معنی دې اود ((بیت))نه مراد ((بیت المقدس)) دې.اوس دعبارت مطلب دا شو.((صلاتکم الی بیت المقدس)) (۳)

③ امام نووی رحمه الله فرمائی چه دا عبارت مشکل دې خکه ((صلاتکم الی بیت المقدس)) وئیل پکار وو.خکه چه هم دا دامام بخاری رحمه الله مراد دې.خکه به دوی په دې کلام کښې تاویل کولې شی.چه دامام بخاری رحمه الله په قول ((عندالبیت)) کښې خود بیت نه مراد بیت الله دې.اود((عندالبیت)) نه مراد دبیت الله د گاونډ علاقه ده.یعنی مکه مکرمه.اومطلب دا دې چه کوم مونځونه تاسو دبیت الله په جوار کښې یعنی بیت المقدس ته ادا کړی دی الله تعالی به هغه ضائع نکړی.(۴)

خوپه دې توجیه سره هم اشکال نه ختمیږی.خکه چه سوال خو په مونځونو کښې دې کوم چه په مدینه منوره کښې بیت المقدس طرف ته شوی وو.نوپه ((صلاة بمکة)) سره به اشکال څنگه ختم شی.

④ علامه سندهی رحمه الله فرمائی.چه دا ټول اشکال خکه راغلو.چه ((عندالبیت)) د ((صلاتکم)) متعلق گرځولې شوې دې.حالانکه دا د ((لیضیع)) سره متعلق دې. او تقدیر دکلام دا دې (

((وماکان الله لیضیع صلاتکم قبل استقبال البیت أی عند استقبال البیت لایبطل صلاتکم حین استقبلتم البیت فإن استقبال البیت خیر فلایترتب علیه فساد الأعمال السابقة والله تعالی أعلم))(۵)

مطلب دا دې.چه د بیت الله د استقبال دحکم نه وړاندې چه تاسو کوم مونځونه کړی دی.د بیت الله داستقبال حکم راتلونه پس الله تعالی هغه مونځونه نه ضائع کوی خکه چه استقبال بیت یو امر خیر وو.نودا به د سابقه اعمال خیرد ضیاع دپاره څنگه سبب اوگرځی؟.

خودعلامه سندهی رحمه الله دا توجیه دتکلف نه خالی نه ده.اونه په دې توجیه باندې څه قرینه شته.

---

(۱) نقله فی الفتح(۹۶/۱)_

(۲) فتح الباری(۹۶/۱)_

(۳) إمداد الباری(۶۰۹/٤)_

(٤) شرح کرمانی(۱۶۳/۱)_

(۵) حاشیة السندی علی صحیح البخاری(۲۸/۱، ۲۹)_

⑤ حافظ ابن حجر رحمه الله دامام نووى رحمه الله دتوجيه سره نزدې نزدې توجيه بيان كړې ده البته هغوى ددې تقرير په بل انداز كښې كړې دې فرمانى چه دامام بخارى رحمه الله نظر د برعمينق اودهغوى مقاصد ډير ژور وى

هغه دا چه لكه څنګه دامام بخارى رحمه الله د «ليضيع ايمانكم» تفسير مقصود دې دغه شان دهغوى د نظر وړاندې په يوه بله اختلافى مسئله كښې داصح قول په ګوته كول هم مقصود دى

په دې خبره كښې اختلاف دې چه دهجرت نه وړاندې كوم طرف ته په مانځه كښې استقبال كولې شو.

① نوبعضې حضرات فرمانى چه نبى ﷺ بيت المقدس ته استقبال كړې وو.[1]

بعضې آثارهم داسې وارد دى دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه منقول دى «أول ما نسخ من القرآن فيما ذكرنا والله أعلم شأن القبلة تبارك وتعالى: ﴿وَلِلَّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللَّهِ﴾ فاستقبل رسول الله فصلى نحو بيت المقدس وترك البيت العتيق فقال الله تعالى: ﴿سَيَقُولُ السُّفَهَاءُ مِنَ النَّاسِ مَا وَلَّاهُمْ عَنْ قِبْلَتِهِمُ الَّتِي كَانُوا عَلَيْهَا﴾ يعنون بيت المقدس فنسخها فصرفه الله تعالى إلى البيت العتيق فقال الله تعالى ﴿وَمِنْ حَيْثُ خَرَجْتَ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ﴾»[2]

ددې اثرنه معلومه شوه چه اول به نبى ﷺ خانه كعبې ته مخ كول اومونځ به ئې كولو. روسته بيت المقدس ته د استقبال حكم راغلوخكه چه په دې كښې دى. «فصلى نحو بيت المقدس وترك البيت العتيق» دا دې خبرې لره مستلزم ده. چه اول دوى بيت الله ته مخ كولو اوبيا ئې هغه پريخوده. اوبيت المقدس ته ئې مخ كول شروع كړو.

② دويم قول دا دې چه نبى ﷺ به د هجرت نه وړاندې بيت المقدس ته استقبال كولو[3] بيا په دې كښې اختلاف دې چه نبى ﷺ به بيت المقدس ته مخ كولو. نوبيت الله ته به ئې هم استقبال كولو. اوكه بيت الله ته به ئې استدبار كولو؟[4]

كه چرته نبى ﷺ استدبار كولو. نوپه ظاهره معلوميږى چه دوى به ميزاب طرف ته شا كړې اودريدلو. خكه چه ميزاب رحمت د شمال طرف ته دې. اوهم دې طرف ته بيت المقدس دې. اوكه دوى بيت الله ته استدبار نه كولو. نوبيا به د ركنين يمانيين مينځ كښې اودريدلو. خكه

---

[1] قال ابن عبدالبر رحمه الله: وقال آخرون: إنما صلى رسول الله ﷺ أول ما إفترضت عليه الصلاة إلى الكعبة ولم يزل يصلي إلى الكعبة طول مقامه بمكة ثم لما قدم المدينة صلى إلى بيت المقدس ثمنية عشر شهراً (وفي الأصل ثانية عشر وهو تحريف) أ. ستة عشر شهراً ثم صرفه الله إلى الكعبة) التمهيد لما في الموطا من المعاني والأسانيد(١٧\٤٩، ٥٠)_

[2] المستدرک على الصحيحين للحاكم (٢\٢٦٧، ٢٦٨) كتاب التفسير والسنن الكبرى للبيهقي (٢\١٢) كتاب الصلاة باب إستبيان الخطاء بعد الإجتهاد)_

[3] التمهيد لابن عبدالبر(١٧\٤٩) وفتح الباري(١\٩٦)_

[4] فتح الباري(١\٩٦)_

چه دا طرف جنوب ته واقع دې په دې صورت کښې به خانه کعبه ددوی او بيت المقدس په مينځ کښې واقع وه (١)
امام محمدبن سعد رحمه الله هم دا صورت د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړې دې.(٢) اوهم دا حافظ ابن حجر رحمه الله اختيارکړې دې.ځکه که اولنې صورت اومنلې شي.نو حافظ رحمه الله فرمائي چه په دې صورت کښې به نسخ القبله مرتين لازميږي.ځکه چه وړاندې د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اثر تيرشوې وو چه د هجرت نه وړاندې دوی خانه کعبې ته مونځ کولو.اوبيا وړته بيت المقدس ته د مونځ کولوحکم اوشو.اودبيت الله قبله منسوخه شوه.اوبيا چه کله نبي صلى الله عليه وسلم مديني منورې ته هجرت اوکړو.نودوباره بيت المقدس قبله منسوخه شوه اوبيت الله قبله جوړه کړې شوه.نومعلومه شوه چه نسخ څو ځله واقع شوې ده اوهرکله چه د نسخې دتعدد نه ځان ساتل ممکن وی.نود نسخ تکرارثابتولوته څه ضرورت نشته.(٣)
هرکله چه په دې خبره باندې پوهه شوئ.نواوس په دې باندې پوهه شئ.چه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.چه امام بخاری رحمه الله ((عندالبيت)) اووئيل.نودې خبرې ته ئې اشاره اوکړه ((ان الصلاة لما كانت عندالبيت كانت إلى بيت المقدس)) يعنى په مکه مکرمه کښې چه کله نبي صلى الله عليه وسلم د کعبې په ګاونډ کښې ووبه هغه وخت کښې به بيت المقدس ته مونځ کولې شو اګرچه کعبې ته استدبار به هغه وخت کښې هم نه وو.
خوبه دې باندې بيا هم هغه اشکال واپس راځي.کوم چه داامام نووی رحمه الله په ذکرکړې توجيه باندې کيدل.چه په اصل کښې سوال اوجواب خو دهغه مونځونو په باره کښې وه.کوم چه په مدينه منوره کښې بيت المقدس طرف ته شوی وو.دمکې معظمې د مونځونوپه باره کښې نه وو.نوچه ((عندالبيت)) ئې اووئيل.ددې د دغه متعلقه شبهې سره د تعلق څه مطلب دې.
حافظ ابن حجر رحمه الله ددې جواب ورکوی.((واختصر على ذلك إكتفاءً بالأولية لأن صلاتهم إلى غيرجهة البيت وهم عندالبيت إذا كانت لا تضيع فأحرى أن لا تضيع إذا بعدوا عنه)) (٤)يعنى امام بخاری رحمه الله چه عندالبيت اووئيل.نوبه دې سره صرف دمکې دمونځونوبه ذکر باندې اکتفا اوکړه.ځکه چه دمکې معظمې مونځونه په دې اعتبارسره چه د بيت الله په ګاونډ کښې ادا کيږی.د مدينې منورې د مونځونو نه غوره دی.نوددې ادنی په ذکرسره هغوی اکتفاء اوکړه.يعنى پکار دا وه.چه د بيت الله په جوارکښې چه اوسيږی.اودې ته مخ کړې شي.ددې په ځائې دا مقصود جوړه کړې شي.اوبل طرف ته مخ کولې شي.چه داسې اونشي.خوچونکه دالله تعالى حکم دې.چه بيت المقدس طرف ته مخ کړې شي.اومونځونه ادا کړې شي.ددې وجې د بيت الله په جوار کښې د کيدو باوجود دې په ځائې په استقبال کښې بالذات د بيت المقدس قصد

---

١) شرح الزرقانى على موطا الإمام المالک(١\٣٩٧) کتاب القبلة باب ما جاء فى القبلة)_
٢) طبقات ابن سعد(١\٢٤٣) ذکر صرف القبلة عن بيت المقدس إى الكعبة والتمهيد (١٧\٤٩)_
٣) فتح البارى(١\٩۶)_
٤) فتح البارى(١\٩۶)-

اوكړې شو.لكه چه د بيت الله هم خيال ساتلى شي. خو ضمنا اوتبعا د داسې مونځونو په باره كښې امام بخارى ﷫ فرمائي چه دا مونځونه ضائع نه دى اوكله چه بيت الله سره دوې طرف ته دمخ كولو په خاني بل طرف مقصود جوړ كړې شي.او مونځونه ورته ادا كولې شي.اوهغه نه ضائع كيږى. نو دكعبې نه لرې د مدينې منورې مونځونه به ولې ضائع كيږى. والله اعلم.

خلاصه دا چه امام بخارى ﷫ ((عندالبيت)) اوونيل.دوو فائدو ته ئې اشاره كړې ده

①يوه فائده دا چه په ابتدائى زمانه د تحويل كښې ارجح الاقوال ته اشاره اوكړې شوه چه: هجرت نه وړاندې په مكه معظمه كښې بيت المقدس طرف ته تحويل شوې وو اوهغه هم په دې طريقه چه دوى به مونځ خو بيت المقدس ته كولو.خوبيت الله به ئې په مينځ كښې ساتلو.چه بيت الله ته مواجه هم فوت نشى.

②دويمه فائده دا اوشوه.چه مدينې منورې ته د راتلونه پس چه بيت المقدس ته كوم مونځونه شوى دى.په هغې په طريق أولى سره حكم ثابت دې.چه هركله په مكه معظمه كښې اوسيږى.اوبيت الله كومه چه اصلى قبله ده.دهغې په ګاونډ كښې بيت المقدس ته شوى مونځونه نه ضائع كيږى.نود بيت الله نه لرې په مدينه منورې كښې چه كوم مونځونه بيت المقدس ته ادا شوى دى.هغه به ولې ضائع شي.

لكه چه د حافظ په نيز تقديردكلام دا دې.((يعنى صلاتكم التى صليتموها عند البيت إلى بيت المقدس))[1]

دحافظ د تحقيق حاصل دا شو.چه نبى ﷺ په مكه معظمه كښې بيت المقدس ته په استقبال باندې مامور وو.خودوى د بيت الله د استقبال هم خيال ساتلو.اوس چه كله ئې مدينې منورې ته تشريف يوړلو.نو بيت الله ته د استقبال امكان باقى پاتې نشو.خكه چه د مدينې منورې نه بيت ا لمقدس شمال طرف ته دې.اود مكه معظمه جنوب طرف ته.نوخكه به ئې هلته صرف استقبال د بيت المقدس كولو.

دحافظ﷫ په دې تحقيق سره داحاديثو په مينځ كښې تطبيق هم كيدې شي.اونسخ القبلة مرتين منل هم نه لازميږى.

خودلته يواشكال دا كيږى.چه حديث د امامت جبرئيل﷤ [2]كوم چه د حضرت ابن عباس ﷠ نه مروى دې.په بعضې طرقوكښې راغلى دى.((أمنى جبرئيل عند باب البيت))[3]چه

---

[1] المصدرالسابق)-

[2]انظرالسنن لأبى داود كتاب الصلاة باب فى المواقيت رقم ٣٩٣ و ٣٩٤ والجامع للترمذى كتاب الصلاة باب ما جاء فى مواقيت الصلاة رقم ١٤٩ وانظر أيضاً نصب الراية (٢٢١\١و ٢٢٦) كتاب الصلاة باب المواقيت والتلخيص الحبير (١٧٣\١و ١٧٤) كتاب الصلاة باب أوقات الصلاة رقم ٢٤٢)_

[3] قال الحافظ فى التلخيص الحبير(١٧٣\١) رواه الشافعى هكذا .. وهكذا رواه البيهقى والطحاوى فى مشكل الآثار بهذا اللفظ)-

حضرت جبرئيل ﷺ د بيت الله د دروازې سره مونځ کړې وو په دې صورت کښې صرف کعبې ته استقبال کيدې شي

ددې حديث په رڼا کښې دا خبره فيصله کيږي چه اول کعبه قبله ګرځولې شوې وه بيا دا منسوخ کړې شوې وه اوبيت المقدس قبله جوړه کړې شوه روسته چه مدينې منورې ته لاړل نودوباره بيت الله قبله مقررکړې شوه په دې لحاظ سره دوه ځله نسخ منل لازمي دي.

ترکومې پورې چه د نسخې د تکرارتعلق دې.نودا په هرځائې معيوبه خبره نه ده.دا په هغه وخت کښې معيوبه ګڼړلې شي چه څه حکمت په کښې نه وي اوکه حکمت وي نودنسخې په تکرار کښې څه عيب نشته.هم دا وجه ده چه صرف د قبلې په باره کښې نه بلکه په څو نورو مسئلو کښې هم بعضې حضرات د نسخې قائل دي.قاضي ابن العربي ﷫ فرمائي ((نسخ الله القبلة مرتين ونكاح المتعة مرتين وتحريم الحمر الأهلية مرتين ولا أحفظ رابعاً وهو سبحانه يمحو ما يشاء ويثبت وينسخ الله ما أراد ويبدل ولا يبدل القول لديه))[1]

علامه زرقاني ﷫ فرمائي ((وزاد غيره والوضوء مما مست النار)) يعني دابن العربي ﷫ نه علاوه نوروحضراتو په ((وضوء مما مست النار)) کښې هم تکرار د نسخې منلې دې[2]

بعضې حضراتو د ((كلام فى الصلاة)) مسئله هم په دې مسئلو کښې شمار کړې ده په کوموکښې چه نسخ مکرر شوې ده.

البته کوم حضرات چه دتکرار نسخ فى القبله ددې قائل نه دي.دهغوى د طرفه ((أمنى جبريل ﷺ عند باب البيت)) هغه توجيه مناسب معلوميږي.کومه چه علامه شبيراحمد عثماني ﷫ کړې ده.دوى فرمائي.زما په ذهن کښې يوه بله خبره راځي.چه په اول کښې نبي ﷺ څه خاص قبلې ته په مخ کولوباندې مامور نه وو.نه د بيت الله په استقبال اونه د بيت المقدس په استقبال.بلکه دوى ته اختيار وو.لکه څنګه چه ډير احکام داسې دي.چه په ابتداء داسلام کښې دهغې څه تحديد او تعين نه وو.روسته تحديد او تعين اوشو.خويه هغه وخت کښې نبي ﷺ د فطرت د تقاضې مطابق بيت الله ته مونځونه کول.چونکه قريشو د پخوا زمانې راسې د خانه کعبې احترام کولو.او د ټولو نه لويه خبره دا وه.چه پخپله دحضرت ابراهيم ﷺ او روسته په ملت ابراهيمي کښې هميشه دپاره خانه کعبه قبله پاتې شوې ده.اوچونکه نبي ﷺ هم په ملت ابراهيم باندې وو.ددې وجې نبي ﷺ فطرتى طور دې طرف ته مائل وو.او دوى به هم دې طرف ته مونځ کولو.اوس چونکه نبي ﷺ د خپلې فطرتى تقاضې مطابق خانه کعبه قبله ګرځولې وه.او دوى هم دې طرف ته مونځ کولو لکه چه دالله تعالى د طرف نه خاص دې طرف ته په استقبال باندې مامور نه وو نوکله چه ورته حضرت جبريل ﷺ امامتى وکړه نو هم دې طرف ته مونځ اوکړو کوم طرف ته چه نبي ﷺ هميشه دپاره مونځونه

---

[1]) عارضة الأحوذى (۱۳۹\۲) أبواب الصلاة باب ما جاء فى إبتداء القبلة)_

[2]) شرح الزرقاني على الموطاء.(۳۹۷\۱) كتاب القبلة باب ما جاء فى القبلة)-

كول.ځكه چه دالله تعالى د طرفه خو متعين قبله نه وه.د مودې راسې هم دا حال وو چه نبى ﷺ به خانه كعبې ته استقبال كولو.خودالله تعالى د طرفه مامور نه وو.بلكه د فطرت دتقاضا مطابق به دا عمل كيدلو.د هجرت نه درې كاله وړاندې نبى ﷺ بيت المقدس ته په استقبال باندې مامور شو.() په تعين د قبله كښې هم دا د ټولو نه اولنى دالله تعالى حكم وو.نوبيا نبى ﷺ هغه صورت اختيار كړلو.چه دواړو طرفونو ته به ئې استقبال كولو.لكه ځنګه چه د حضرت ابن عباس ﷺ په روايت كښې تيرشو.اودا صورت په مكه معظمه كښې بغير د څه تكلف نه ممكن وو.بيا چه كله نبى ﷺ مدينې منورې ته تشريف يوړو.نودلته د جمعې صورت ممكن پاتې نشو.ځكه چه اهل مدينه په اعتبارسره د كعبې او بيت المقدس طرفونه يو بل ته مخامخ دى.نواوس دالله تعالى په حكم باندې عمل پاتې شو.يعنى استقبال بيت المقدس.خودفطرتى د تقاضې په وجه ئې په زړه كښې شوق وو.بيت الله قبله مقرر كړې شى.نوددې نه پس تحويل د قبلې اوشو.

دالله په فضل په دې تقرير سره ټول اشكالات لرې شول.نه په دې د تكرار نسخ ضرورت پېښيږى.ځكه چه ما اووئيل.چه په ابتداء كښې به نبى ﷺ استقبال د كعبې كولو.نوهغه دالله تعالى حكم نه وو.بلكه د نبى ﷺ فطرى جذبه وه.اونه دحضرت ابن عباس ﷺ په حديث «أمنى جبريل ﷺ عند باب البيت» سره څه اشكال راځى.ځكه چه روايت د ابن عباس ﷺ كښې د نبى ﷺ دهغه عمل ذكر دې. كوم چه نبى ﷺ د مكې د اوسيدو په ژوند كښې نبى ﷺ استقبال بيت المقدس دحكم نه پس اختيار كړې وو.اوامام جبريل ﷺ واقعه د دې نه څو كاله وړاندې ده.([2])

علامه انورشاه كشميرى ﷫ فرمائى.چه بيت الله او بيت المقدس ته د مونځونو ادا كولو عمل د تقسيم بلاد په اصولو باندې مبنى دې.كله چه نبى ﷺ مكه معظمه كښې اوسيدل نوخانه كعبې ته ئې مخ كولو.ځكه چه د مكې خلق دحضرت اسماعيل ﷺ اولاد وو.او د هغوى قبله بيت الله وه.اوكله چه نبى ﷺ مدينې منورې ته تشريف يوړلو.نو دوى بيت المقدس ته استقبال اوكړو.ځكه چه په مدينه كښې اهل كتاب يهود آباد وو.اودهغوى قبله بيت المقدس وو.دا دواړه د پخوا زمانې راسې قبلې راروانې وې.مكه دحضرت اسماعيل ﷺ قربانګاه وه.اوبيت المقدس دحضرت اسحاق ﷺ قربانګاه وه.اودواړه مقدس ځايونه دى.بيا دتقسيم بلاد د عمل د نبى ﷺ اختيارى هم كيدې شى.اوپه امر خداوندى هم كيدې.

په دې صورت كښې نه تكرارد نسخې لازميږى.اونه داصرف اجتهادى معامله جوړيږى.([3])

---

[1]) داستقبال قبلې حكم د الله تعالى په حكم سره شوې وو.اوكه د نبى ﷺ په اجتهاد سره،ددې تفصيل وړاندې راتلونكې دې۔

[2]) فضل البارى(۴۷۵\۱) و درس بخارى(۲۵۴\۱، ۲۵۶)_

[3]) فيض البارى(۱۳۲\۱، ۱۳۳)_

[٤٠] حدثنا عمرو بن خالد قال حدثنا زهير قال حدثنا أبو إسحاق عن البراء (١) أن النبي صلى الله عليه وسلم كان أول ما قدم المدينة نزل على أجداده أو قال أخواله من الأنصار وأنه صلى قبل بيت المقدس ستة عشر شهرا أو سبعة عشر شهرا وكان يعجبه أن تكون قبلته قبل البيت وأنه صلى أول صلاة صلاها صلاة العصر وصلى معه قوم فخرج رجل ممن صلى معه فمر على أهل مسجد وهم راكعون فقال أشهد بالله لقد صليت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم قبل مكة فداروا كما هم قبل البيت وكانت اليهود قد أعجبهم إذ كان يصلي قبل بيت المقدس وأهل الكتاب فلما ولى وجهه قبل البيت أنكروا ذلك قال زهير حدثنا أبو إسحاق عن البراء في حديثه هذا أنه مات على القبلة قبل أن تحول رجال وقتلوا فلم ندر ما نقول فيهم فأنزل الله تعالى وما كان الله ليضيع إيمانكم

[٣٩٠، ٤٢١٦، ٤٢٢٢، ٦٨٢٥]

رجال الحديث

① عمرو بن خالد: دوى ابوالحسن عمرو بن خالد بن فروخ بن سعيد تميمى حنظلى جزرى حرانى مصرى دي.(٢)

دوى دحماد بن سلمه.لث بن سعد.ابن لهيعه. ﷺ وغيره ډيرولويو محدثينونه ر وايت كوى.(٣)

اوددوى نه سماع كونكو كښې امام بخارى ﷺ محمد بن يحيى ذهلى.او ابوزرعه عبيدالله بن عبدالكريم رازى ﷺ غوندې محدثين دى.(٤)

---

(١) قوله عن البراء ﷺ :الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى كتاب الصلاة باب قول الله تعالى: ﴿ واتخذوا من مقام ابراهيم مصلى﴾ رقم ٣٩٩) وفى كتاب التفسير.سورة البقرة باب سيقول السفهاء من الناس ما ولاهم عن قبلتهم التى كانوا عليها رقم ٤٤٨٦ وباب ﴿ولكل وجهة هو موليها فاستبقوا الخيرات﴾ رقم ٤٤٩٢ وفى كتاب أخبارالآحاد بَب ما جاء فى إجازة خبرالواحد الصدوق فى الأذان والصلاة والصوم والفرائض والأحكام رقم ٧٢٥٢ ومسلم فى صحيحه فى (٢٠٠\١) كتاب المساجد باب تحويل القبلة من القدس إلى الكعبة والنسائى فى سننه (٨٤\١و ٨٥) كتاب الصلاة باب فرض القبلة (١٢١\١و ١٢٢) كتاب القبلة باب إستقبال القبلة والترمذى فى جامعه فى كتاب الصلاة باب ما جاء فى إبتداء القبلة رقم ٣٤٠ وفى كتاب التفسير باب ومن سورة البقرة رقم ٢٩٦٢ وابن ماجه فى سننه فى كتاب إقامة الصلاة والسنة باب القبلة رقم ١٠١٠)۔

(٢) فتح البارى (٩٦\١) وعمدة القارى(٢٤١\١) وتهذيب الكمال ت(٦٠١\٢١)۔

(٣) تهذيب الكمال(٦٠١\٢١، ٦٠٢) وخلاصة الخزرجى (٢٨٨) والكاشف (٧٥\٢) رقم ٤١٤٩)۔

(٤) المصادرالسابقة)۔

اما ابوحاتم رحمه الله فرمائی ((صدوق))(۱)
عجلی رحمه الله فرمائی ((مصری ثبت ثقة))(۲)
امام بخاری رحمه الله فرمائی ((مات بمصر سنة تسع وعشرين ومائتين))(۳)
تنبیه دا خبره دې معلومه وی چه د بخاری په بعضې نسخوکښې په دې ځائې کښې د عمروبن خالد (مع الواو) په ځائې عمربن خالد (بدون الواو) راغلې دې دا تصحیف دې په قدماؤ کښې ابوعلی غسانی رحمه الله په دې باندې تنبیه کړې ده دعمربن خالد په نوم راوی دامام بخاری په شیوخو یا رجالوکښې خولړې خبره ده د صحاح سته په رجالوکښې هم د چ راوی نوم عمربن خالد نشته.(۴)
البته دعمروبن خالد په نوم باندې دوه راویان نور دی.
یو عمروبن خالد قرشی کوفی نزیل واسط دې کوم چه متروک دې بلکه بعضې حضراتو کذاب گرخولې دې او دې د ابن ماجه په رجالوکښې دې (۵)
دويم عمروبن خالد ابوحفص اعشی دې دې منکر الحدیث دې اودده هیڅ روایت د اصول سته په یوکتاب کښې هم نشته.(۶)

۲ زهیر: دوی زهیر- بالتصغیر-(۷) بن معاویه بن حدیج (بضم الحاء المهملة وفتح الدال المهملة وبالجيم)(۸) بن الرحیل (بضم الراء المهملة وفتح الحاء المهملة)(۹) بن زهیربن خیثمه جعفی کوفی دی. ددوی کنیت ابوخیثمه دې.(۱۰)
دوی دحمید الطویل. زیاد بن علاقه. ابوحازم سلمه بن دینار. اعمش. سلیمان تیمی.

---

(۱) تهذیب الکمال(۲۱\۶۰۳)_
(۲) تهذیب الکمال(۲۱\۶۰۳) والکاشف(۲\۷۶) رقم ۴۱۴۹ وخلاصة الخزرجی (ص.۲۸۸)_
(۳) التاریخ الکبیر(۶\۳۲۷) رقم ۲۵۴۲)_
(۴) فتح الباری(۱\۹۶) وعمدة القاری(۱\۲۴۱)_
(۵) تهذیب الکمال(۲۱\۶۰۳. ۶۰۶) وتقریب التهذیب(ص.۴۲۱)_
(۶) تهذیب الکمال(۲۱\۶۰۷. ۶۰۶) وتقریب (ص.۴۲۱)_
(۷) عمدة القاری(۱\۲۴۱)_
(۸) عمدة القاری(۱\۲۴۱) وخلاصة الخزرجی (ص.۱۲۳)_
(۹) عمدة القاری(۲۴۱) وتوضیح المشتبه لابن ناصرالدین الدمشقی (۴\۲۹) والمغنی للفتنی (ص.۳۳) دا خبره دې معلومه وه چه صاحب د ((خلاصة تذهیب تهذیب الکمال)) د ..الرحیل.. په ضبط سره لیکلې دی ..بجیم مصغر.. یعنی لفظ ..رجیل.. دې د جیم سره نه چه د حاء مهملة سره. خودا خبره د ټولومراجع او مصادرو نه خلاف ده فتنبه
(۱۰) تهذیب الکمال(۹\۴۲۰. ۴۲۱) وعمدة القاری(۱\۲۴۱) وسیر أعلام النبلاء(۸\۱۸۱)_

سماك بن حرب.سهيل ابی صالح.ابواسحاق سبیعی.منصور بن المعتمر. او موسی بن عقبه رحمهم الله وغیره حضراتو نه د حدیثو روایت کړي دي
او ددوی نه دحدیثو اوریدونکو په نومونوکښې امام یحیی القطان.یحیی بن آدم. عمروبن خالد شعیب بن حرب مدائني او ابونعیم رحمهم الله وغیره ډیرحضرات دی (۱)
امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی.((کان من معادن الصدق))(۲)
امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی.((ثقة))(۳)
امام احمد بن عبدالله عجلی رحمه الله فرمائی((ثقة مأمون))(۴)
امام نسائی فرمائی.))ثقة ثبت))(۵)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.((کان من أوعیة العلم صاحب حفظ وإتقان))(۶)
امام یحیی بن معین رحمه الله فرمائی.((زهیرأحفظ من إسرائیل وهما ثقتان))(۷)
یوخل شعیب بن حرب د زهیر او شعبه په طریق سره یو حدیث واورلو.اوپه سند کښې ئې زهیرمقدم کړو.ددوی نه خلقوتپوس اوکړو.چه تاسو زهیرپه امام شعبه باندې مقدم کوئ په دې باندې شعیب بن حرب رحمه الله اوفرمائیل.((کان زهیرأحفظ من عشرین مثل شعبة)) یعنی امام زهیر د شعبه په مقابله کښې یوپه شل چنده زیات حافظ دی.(۸)
معاذبن معاذ رحمه الله فرمائی.((إذا سمعت الحدیث من زهیرلا أبالی أن لا أسمعه من سفیان الثوری))(۹)
دوی به د حدیث د تثبت دومره خیال ساتلو.چه عام طور به ئې یوحدیث د استاذ نه دوه خله اوریدل.حمید الرواسی فرمائی.((کان زهیرإذا سمع الحدیث من المحدث مرتین کتب علیه فرغت)) یعنی کله چه به ئې د استاذ نه حدیث دوه خله واوریدلو.نو په هغه حدیث به ئې د نښې په طورسره اولیکل.چه ددې حدیث د یادولو او تثبت نه زه فارغ شوم.(۱۰)

---

(۱) داستاذانو اوشاګردانود تفصیل دپاره اوګورئی تهذیب الکمال(۹\۴۲۱. ۴۲۳) وسیرأعلام النبلاء(۸\۱۸۱) —
(۲)تهذیب الکمال(۹\۴۲۴) وسیرأعلام النبلاء(۸\۱۸۳)_
(۳) تهذیب الکمال(۹\۴۲۴) وسیرأعلام النبلاء (۸\۱۸۱)_
(۴) المصدرالسابق)_
(۵) المصدرالسابق)-
(۶)سیرأعلام النبلاء(۸\۱۸۱)_
(۷)سیرأعلام النبلاء(۸\۱۸۲)_
(۸) تهذیب الکمال(۹\۴۲۳. ۴۲۴) وسیرأعلام النبلاء(۸\۱۸۲)_
(۹)سیرأعلام النبلاء(۸\۱۸۲) وتهذیب الکمال(۹\۴۲۳)_
(۱۰)سیرأعلام النبلاء(۸\۱۸۲)_

سفيان بن عيينه رحمه الله خپل يوشاګرد ته فرمائى ((عليك بزهير بن معاوية فما بالكوفة مثله))(١)
خوكوم روايات چه زهيربن معاويه د ابواسحاق سبيعى رحمه الله نه روايت كوى نو په هغې باندې محدثين اظهار د اعتماد نه كوى ترخوپورې چه بل ثقه راوى دده متابعت نه وى كړې هم دا وجه ده چه امام احمد رحمه الله فرمائى ((زهير فيما روى عن المشائخ ثبت بخ بخ، في حديثه من أبي إسحاق لين، سمع منه بأخرة))(٢)
امام ابوزرعه رحمه الله فرمائى ((ثقة إلا أنه سمع من أبي إسحاق بعد الإختلاط))(٣)
امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى ((زهير أحب إلي من إسرائيل في كل شيء إلا في حديث أبي إسحاق .. وزهير ثقة متقن صاحب سنة تأخر سماعه من أبي إسحاق))(٤)
د دوى پيدائش په ٩٥هـ كښې شوې وو.اود وفات په باره كښې ١٧٢هـ ١٧٣هـ ١٧٤هـ او١٧٧هـ مختلف اقوال ملاويږى.(٥)حافظ ذهبى رحمه الله ١٧٣هـ ته ترجيح وركړې ده.(٦)
تنبيه: دزهيربن معاويه مبحوث عنه روايت هم د ابواسحاق په طريق سره مروى دې. اواوس نو وړاندې مونږ ذكر اوكړو.چه چونكه د زهيرسماع د ابواسحاق نه دهغوى د اختلاط نه پس شوې وه.ددې وجې محدثين رحمهم الله ددوى داسې روايات ضعيف ګرځوى.
خودا خبره دې معلومه شوه.چه هم په بخارى كښې كښې ددې متابعت سفيان ثورى اود ابواسحاق نمسى اسرائيل كړې دې.(٧) نو روايت باب بې غباره دې.څه قسم اشكال پرې نشته.والله أعلم.

④ ابواسحاق: دوى ابواسحاق عمروبن عبدالله بن عبيد سبيعى (بفتح السين المهملة وكسر الباء المنقوطة بواحدة وسكون الياء المنقوطة من تحتها باثنتين وفي آخرها العين المهملة)(٨)كوفى دې.ددوى د نيكه نوم بعضې حضراتود عبيد په ځاې على اوبعضې حضراتو ابوشعيرة

---

(١) سير أعلام النبلاء(١٨٤\٨) وتهذيب الكمال(٤٢٤\٩)_
(٢) تهذيب الكمال(٤٢٤\٩)_
(٣) تهذيب الكمال(٤٢٤\٩) وسير أعلام النبلاء(١٨٤\٨)_
(٤) تهذيب الكمال(٤٢٤\٩و ٤٢٥)-
(٥) تهذيب الكمال(٤٢٥\٩) وتقريب التهذيب(٢١٨،) رقم ٢٠٥١)_
(٦) الكاشف (٤٠٨\١) رقم ١٦٦٨) وسير أعلام النبلاء(١٨٤\٨)_
(٧) أنظرلما تابعه عليه سفيان كتاب التفسير سورة البقرة باب ﴿ ولكل وجهة هو موليها﴾ رقم ٤٤٩٢) وانظرلما تابعه عليه إسرائيل كتاب الصلاة باب قول الله تعالى ﴿ واتخذوا من مقام إبراهيم مصلى﴾ رقم ٣٩٩) وكتاب أخبار الآحاد باب ما جاء في إجازة خبرالواحد رقم ٧٢٥٢)_
(٨) كتاب الأنساب للسمعاني(٢١٨\٣)_

خودلې دې.اود ابوشعيرة نوم ..ذوالخمد همدانى.. دې.(١)
سبيعى، سبع بن صعب بن معاويه طرف ته منسوب دې.(٢) حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى. «لم أظفرله بنسب متصل إلى السبيع وهومن ذرية سبيع بن صعب بن معاوية ...»دې.(٣) يعنى ابواسحاق بن سبيعى رحمه الله اګرچه د سبيع بن صعب په اولاد كښې دې.خوماته د سبيع پورې دده متصل نسب نامه ملاؤ نشوه.
بيا دې كوفې په يوه محله كښې دا قبيله استوګنه شوه.خكه ددهغه محلې نوم ..سبيع.. شو.(٤)
دحضرت عثمان رضي الله عنه په دور خلاف كښې دوه كاله باقى وو.په هغه وخت كښې دوى پيدا شو.(٥)
دوى د حضرت على بن ابى طالب،حضرت اسامه بن زيد.اوحضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنهم زيارت كړې دې.خوددې حضراتو نه ددوى سماع ثابته نه ده.(٦)
البته په حضرات صحابه كرامو رضي الله عنهم كښې د حضرت ابن عباس،حضرت ابن عمر،حضرت عبدالله بن زبير،حضرت معاويه،حضرت عمروبن يزيد خطمى . حضرت نعمان بن بشير، حضرت عمروبن الحارث،حضرت عموربن حريث،حضرت زيدبن ارقم،حضرت براء بن عازب،حضرت سلمان بن صرد .حضرت حارثه بن وهب،حضرت عدى بن حاتم،حضرت جابربن سمره،حضرت رافع بن خديج .حضرت عروه بارقى .حضرت ابوجحيفه،حضرت عماربن روميه .حضرت خالد بن عرفطه،حضرت جريربن عبدالله،حضرت اشعث بن قيس .حضرت حبشى بن جناده،حضرت سلمه بن قيس،حضرت مسور بن مخرمه،حضرت ذوالجوشن .حضرت عبدالرحمن بن ابزى رضي الله عنهم اوددې نه علاوه د نورو ډيرو صحابه كرامو رضي الله عنهم نه روايت كوى.(٧)
په حضرات تابعينو رحمهم الله كښې د ډيرو حضراتو نه دوى سماع كړې ده. چه په هغوى كښې حضرت عمروبن ميمون،اسود بن يزيد،عوف بن مالك، مسروق،عبدالرحمن بن يزيد، عبدالرحمن بن الاسود .سعيد بن جبير اوامام شعبى رحمهم الله وغيره دى.(٨)

---

(١) تهذيب الكمال(٢٢\١٠٢و ١٠٣)_
(٢) تهذيب الكمال(٢٢\١٠٣)_
(٣) سيرأعلام النبلاء(٥\٣٩٢. ٣٩٣)_
(٤) الأنساب للسمعانى(٣\٢١٨)_
(٥) سيرأعلام النبلاء(ت٥\٣٩٣)_
(٦) تهذيب الأسماء واللغات (٢\١٧١) وتهذيب الكمال(٢٢\١٠٣.١٠٨)_
(٧) المصادرالسابقة)_
(٨) المصادرالسابقة)_

د دوی نه په روایت کونکو کښې سلیمان تیمی. اعمش. اسماعیل بن ابی خالد. قتاده. شریک بن عبدالله منصوربن المعتمر. سفیان ثوری. یوسف بن ابی اسحاق سبیعی. یونس بن ابی اسحاق سبیعی. اسرائیل بن یونس. زهیربن معاویه. ابوبکربن عیاش. اوزائده ﷺ وغیره دی ()

امام احمدبن حنبل. یحیی بن معین اوامام نسائی ﷺ فرمائی. ((ثقة))()

امام احمد بن عبدالله عجلی رحمه الله فرمائی ((کوفی تابعی، ثقة سمع ثمانیة وثلاثین من أصحاب النبی ﷺ))()

ابوحاتم رحمه الله فرمائی. ((ثقة وهو أحفظ من أبی اسحاق الشیبانی، ویشبه الزهری، فی کثرة الروایة واتساعه فی الرجال))()

دامام شعبه رحمه الله نه چا تپوس اوکړو آیا د ابواسحاق سبیعی رحمه الله د امام مجاهد نه سماع حصله ده؟ نو هغوی جواب ورکړو. ((ما کان یصنع بمجاهد؟ کان هوأحسن حدیثاً من مجاهد رحمه الله، ومن الحسن وابن سیرین))()

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی. ((وکان رحمه الله من العلماء العاملین ومن جلة التابعین))()

دغه شان فرمائی. ((وکان طلابة للعلم کبیرالقدر))()

علی بن مدینی رحمه الله فرمائی. ((حفظ العلم علی الأمة ستة فلأهل الکوفة: أبواسحاق والأعمش ولأهل البصرة قتادة ویحیی بن أبی کثیر، ولأهل المدینة الزهری، () ولأهل مکة عمروبن دینار))()

علی بن المدینی رحمه الله فرمائی. ((روی أبواسحاق عن سبعین رجلاً أو ثمانین رجلاً لم یرو عنهم غیره، وأحصیت مشیخته نحواً من ثلاثمائة شیخ، وقال علی فی موضع آخر: أربع مائة شیخ))()

() تهذیب الأسماء واللغات (۱۷۱\۲ و ۱۷۲) وتهذیب الکمال(۱۰۸\۲۲ و ۱۱۰)_
() تهذیب الکمال(۱۱۰\۲۲) وسیرأعلام النبلاء.(۳۹۹\۵)_
() تهذیب الکمال(۱۱۱\۲۲)_
() تهذیب الکمال(۱۱۱\۲۲)_
() تهذیب الکمال(۱۱۱\۲۲ و ۱۱۲) وسیرأعلام النبلاء.(۳۹۸\۵)_
() سیرأعلام النبلاء.(۳۹۳\۵)_
() المصدرالسابق)_
() سیرأعلام النبلاء.(۳۹۹\۵)_
() ذکره الذهبی فی التاریخ کما فی هامش سیرأعلام النبلاء.(۳۹۹\۵)_
() تهذیب الکمال(۱۱۱\۲۲) وسیرأعلام النبلاء.(۳۹٤\۵)_

دعبادت خاص کرد تلاوت ئې زيات ذوق لرلو فضيل رحمه الله فرمائی ((كان أبو اسحاق يقرأ القرآن في كل ثلاث))(١) هم پخپله فرمائی ((ما أقلت عينى غمضاً منذ أربعين سنة))(٢)
هم ددوی د سروزرو په اوبو دليکلو قابل قول دې ((يا معشر الشباب اغتنموا يعنى قوتكم وشبابكم قلما مرت بي ليلة إلا وأنا أقرأ فيها ألف آية وإنى لأقرء البقرة في ركعة وإنى لأصوم الأشهر الحرم، وثلاثة أيام من كل شهر، والإثنين والخميس))(٣)
دغه شان دوی فرمائی ((ذهبت الصلاة منى وضعفت وإنى لأصلى فما أقرأ وأنا قائم إلا بالبقرة وآل عمران))(٤)
علاء بن سالم عبدی فرمائی چه ابواسحق سبيعى دخپل وفات نه دوه کاله وړاندې ډېر کمزورې شوې وو تردې چه بغير د سهارې نه به اودريدې نشو خوچه کله به اودريدو نو يوزر (١٠٠٠) آياتونه به ئې ونيل (٥)
بيا دوی د زهد او عبادت علم او پرهيزګارئ سره سره په جهاد کښې هم حصه اخستله. پخپله فرمائی ((غزوت في زمن زياد يعنى ابن أبيه — ست غزوات أو سبع غزوات))(٦)
غرض دا چه ابواسحاق سبيعى رحمه الله يو جليل القدر ثقه تابعى عالم وو په اصول سته کښې ددوی روايات موجود دی (٧) امام نووی رحمه الله فرمائی ((وأجمعوا على توثيقه وجلالته))(٨)
البته د مغيره قول دې ((ما أفسد حديث أهل الكوفة غير أبي أسحاق والأعمش))(٩)
اول خو دا جرح مبهمه ده او چه تعديل وی نو د جرحې مبهمې څه حيثيت نه وی (١٠)
بيا دويمه خبره داده چه حافظ ذهبی رحمه الله د مغيره رحمه الله دا قول نقل کوی اوليکی ((قلت لا يسمع قول الأقران بعضهم في بعض وحديث أبي إسحاق محتج به في دواوين الإسلام ويقع لنا من عواليه))(١١)

---

(١) سير أعلام النبلاء (٥\٣٩٤)_
(٢) سير أعلام النبلاء (٥\٣٩٦)_
(٣) سير أعلام النبلاء (٥\٣٩٧)_
(٤) المصدر السابق)_
(٥) المصدر السابق)_
(٦) سير أعلام النبلاء (٥\٣٩٥)_
(٧) تهذيب الكمال (٢٢\١١٣)_
(٨) تهذيب الأسماء واللغات (٢\١٧٢)_
(٩) ميزان الإعتدال (٣\٢٧٠) وسير أعلام النبلاء (٥\٣٩٩)_
(١٠) قال الحافظ في نزهة النظر (ص.١٣٦) والجرح مقدم على التعديل وأطلق ذلك جماعة ولكن محله إن صدر مبيناً من عارف بأسبابه لأنه إن كان غير مفسر لم يقدح في من ثبتت عدالته)_
(١١) سير أعلام النبلاء (٥\٣٩٩)

یعنی داقرانواو د یوې زمانې دخلقو قول به دخپلې زمانې دخلقو خلاف نشی اوریدې او په ابواسحاق باندې په معتمدو کتابونوکښې اعتماد دلیل نیولې شوې دې. او مونږ ته ددوی عالی سند احادیث هم ملاؤ شوی دی.

په دوی باندې دویم اعتراض دا شوې دې.چه دوی په آخری عمرکښې مختلط شوی وو.(۱) نوددوی نقل کړی احادیث قابل داحتجاج نه دی پکار.

نوددې جواب دا دی.چه اول خود مختلط داحادیثو په باره کښې تفصیل دا دې که دماقبل الاختلاط اومابعدالاختلاط په احادیثوکښې تمیز نشو کیدې.نوپه هغې کښې به توقف کولې شی.اوکه امتیاز په کښې کیدې شی.نوکوم احادیث چه د قبل الاختلاط وی.هغه به مقبول وی.(۲)

دابواسحاق د روایاتوپه باره کښې فیصله ده.چه کومو راویانو ترې بعد الاختلاط احادیث اوریدلی دی.اوکومو راویانو قبل الاختلاط.(۳)

بیا حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.((وهوثقة حجة بلانزاع وقدكبروتغيرحفظه تغيرالسن ولم يختلط))(۴) یعنی دې ثقه دې.اوبغیردځه نزاع او جګړې نه حجت دې. د بوډاتوپ عمرته رسیدلې وو.اود دوی په حافظه کښې د عمردتقاضا مطابق لږ ډیر فرق راغلې وو.خوپه احادیثوکښې اختلاط ترې نه ووشوې.

دغه شان حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.((لا أنه شاخ ونسى ولم يختلط))(۵) یعنی دوی بوډا شوی وو.اوځه هیره ترې شروع شوې وه.خوداختلاط مرتبې ته نه وو رسیدلې.

حافظ ابن حجررحمه الله فرمائی.((أحد الأعلام الأثبات قبل إختلاطه ولم أرفى البخارى من الرواية عنه إلا عن القدماء من أصحابه كالثورى وشعبة لا عن المتأخرين كابن عيينه وغيره،احتج به الجماعة))(۶) یعنی ابواسحاق سبیعی رحمه الله د لویو عالمانو رحمهم الله څخه نی وو.داختلاط نه وړاندې ..ثبت..وو.په بخاری شریف کښې ماته ددوی د زړو شاګردانو روایات ملاویږی.لکه سفیان ثوری او امام شعبه رحمهما الله وغیره.اود دوی د متاخرینو شاګردانو مثلاً ابن عیینه وغیره روایات په

---

(۱) قال الحافظ فى التقريب (ص.۴۲۳) ثقة مكثر عابد من الثالثة إختلط بأخره)_

(۲) قال الحافظ فى النزهة (ص.۹۱) والحكم فيه أن ما حدث به قبل الإختلاط إذا تميز قبل وإذا لم يتميز توقف فيه)_

(۳) نوکوموپه شمارځوکسانوچه ددوی نه بعد الاختلاط روایاتونه اخستی دی. محدثینو رحمهم الله دهغوی تعین اوتصریح کړې ده.اوګوری تهذیب الكمال (۱۱۰\۲۲) وتهذيب التهذيب(۸\۶۴، ۶۵) وميزان الإعتدال(۲۷۰\۳)_

(۴) سير أعلام النبلاء(۳۹۴\۵)_

(۵) ميزان الإعتدال(۲۷۰\۵)_

(۶) هدى السارى(ص.۴۳۱)_

بخاري شريف كښې نشته.
ذکرشوې حدیث باب اګرچه د زهیربن معاویه عن ابی اسحاق په طریق سره مروی دې.او زهیرددوی د روستنو شاګردانوکښې دې خومونږ وړاندې تنبیه وکړې ده.چه ددوی د روایت متابعت شوې دې

دویم اعتراض په دوی باندې شوې دې.چه دا مدلس دې (١) بیا په حدیث باب کښې د سماع تصریح هم نشته.
ددې جواب دا دې.چه دسفیان په طریق کښې د ابواسحاق د حضرت براء بن عازب نه د سماع تصریح موجود ده.(٢)دابواسحاق سبیعی رحمه الله وفات په ١٢٦هـ یا ١٢٧هـ یا ١٢٨هـ یا ١٢٩هـ کښې شوې وو.(٣)والله أعلم.

⑩ البراء رضی الله عنه:دا مشهور صحابی براء - بفتح الباء الموحدة والراء المهملة المخففة وبعدها ألف ممدودة(٤) بن عازب (٥)بن الحارث بن عدی انصاری حارثی اوسی دی کنیت ئې ابوعماره دې. اوبعضې حضراتو ابوعمرو ونیلې دې اوبعضو ابوالطفیل.. (٦)
دوی د نبی کریم ﷺ نه علاوه دحضرت ابوبکرصدیق.حضرت عمرفاروق. حضرت علی بن ابی طالب.حضرت بلال.حضرت ثابت بن ودیعه انصاری.حضرت حسان بن ثابت.اود حضرت ابوایوب رضی الله عنهم نه روایت کړې دې.(٧)

---

(١) قال ابن حبان فی کتاب الثقات (١٧٧\٥) وکان مدلساً وقال الحافظ فی تهذیب التهذیب(٦٦\٨) وکذا ذکره فی المدلسین حسین الکرابیسی وأبوجعفرالطبری.وقال علی بن المدینی رحمه الله فی العلل قال شعبة سمعت أبا إسحاق یحدث عن الحارث بن الأزمع بحدیث فقلت له سمعته منه؟ فقال حدثنی به مجالد عن الشعبی قال شعبة وکان أبوإسحاق إذا أخبرنی عن رجل قلت له هذا أکبر منک فإن قال نعم.علمت أنه لقی وإن قال أنا أکبر منه ترکته)_

(٢) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة البقرة باب (ولکل وجهة هو مولیها) رقم ٤٤٩٢) وعمدة القاری(٢٤٢\١)_

(٣) تهذیب الأسماء (١٧٢\٢) وتهذیب الکمال(١١٢\٢٢) وسیرأعلام النبلاء(٤٠٠\٥) وخلاصة الخزرجی (ص.٢٩١) وتقریب التهذیب(ص.٤٢٣) رقم ٥٠٦٥) والکاشف (٨٢\٢) رقم (٤١٨٥)_

(٤) المغنی (ص.٩) وقال العینی رحمه الله فی العمدة علی المشهور وقال النووی فی تهذیب الأسماء واللغات (١٣٢\١)وحکی فیه القصر)_

(٥) بالعین المهملة والزای کما فی المغنی (ص.٥٠) وشرح ا لکرمانی(١٦٣\١) صحابی .ذکره ابن سعد فی الطبقات (٣٦٥\٤) قال العینی رحمه الله فی العمدة (٢٤٢\١) ولیس فی الصحابة عازب غیره ولا فیهم البراء بن عازب سوی ولده)_

(٦) تهذیب الأسماء واللغات (١٣٢\١) وتهذیب الکمال(٣٤\٤و ٣٥)_

(٧) تهذیب الکمال(٣٥\٤و ٣٦)_

د دوى نه په روايت كونكوكښې حضرت عبدالله بن يزيد خطمى.اب.جحيفه وهب بن عبدالله السوائى رضي الله عنهما نه علاوه ډيرتابعين رحمهم الله دى چه په هغوى كښې امام شعبى.ابن ابى ليلى.اوابواسحاق سبيعى رحمهم الله وغيره مشهور دي.[1]

دوى دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما همزولي وو.[2] د بدر په موقع د كم عمرئ په وجه شريك شوې نه وو [3] البته ددې نه پس نې په ټولوغزاګانوكښې شركت كړې دې.[4]

دابوعمروشيبانى رحمه الله د قول مطابق هم دوى د ((رى)) فاتح دې.دحضرت ابوموسى اشعرى رضي الله عنه سره د ((تستر)) په غزا كښې شريك وو.د صفين.جمل اوقتال خوارج په موقع باندې دحضرت على رضي الله عنه سره ملګرې وو.[5] په آخره كښې ئې په كوفه كښې استوګنه اختيار كړې وه.[6]

د دوى نه دڼې سوه پنځه احاديث مروى دى.په كوم كښې چه متفق عليه دوه ويشت احاديث دى.اوبخارى انفرادى احاديث پنځلس اود مسلم انفرادى احاديث شپږ دى.[7] دوى د مصعب بن زبير په زمانه كښې د ٧١ هـ يا ٧٢هـ كښې وفات شوى وو.[8] رضى الله عنه وارضاه

قوله: <u>أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَوَّلَ مَا قَدِمَ الْمَدِينَةَ نَزَلَ عَلَى أَجْدَادِهِ أَوْقَالَ أَخْوَالِهِ مِنْ الْأَنْصَارِ</u>: يعنى نبى كريم ﷺ چه د ټولونه وړاندې كله مدينې منورې ته تشريف يوړلو. نودټولونه وړاندې دخپلونيكونو(دمورد طرفه) يا ماماګانوكره ډيره شو.كوم چه د انصارونه وو.

په دې جمله كښې د((كان أول ما قدم..))پوره جمله د لفظ((أن))دپاره خبر دې .اوپه محل د رفع كښې دې.بيا ((أول)) بنا برظرفيت منصوب دې.اوپه ((ما قدم)) كښې ..ما.. مصدريه

---

[1]) تهذيب الكمال(١٤\٣٦و ٣٧)_

[2]) أخرجه ابن سعد فى طبقاته (١٤\٣٦٨) بسنده عن البراء رضي الله عنه .. وأنا وعبدالله بن عمر رضي الله عنهما لدة.. وانظر تقريب التهذيب(١٢١) رقم ٦٤٨)_

[3]) عن البراء رضي الله عنه قال إستصغرت أنا وابن عمر يوم بدر. رواه البخارى فى صحيحه فى كتاب المغازى باب عدة أصحاب بدر رقم ٣٩٥٥ و٣٩٥٦ وابن سعد فى طبقاته (١٤\٣٦٧و ٣٦٨)_

[4]) عمدة القارى (١١\٢٤٧) وتهذيب الأسماء (١١\١٣٢) وأخرج البخارى فى صحيحه (٢\٦٤٢) فى خاتمة كتاب المغازى باب كم غزالنبى ﷺ عن أبى إسحاق قال حدثنا البراء قال غزوت مع النبى ﷺ خمس عشرة وانظر المسند لأبى داود الطيالسى رحمه الله (ص.٩٨) رقم ٧٢ وطبقات ابن سعد(٤ ٣٦٨) والإصابة (١\١٤٢)_

[5]) الإصابة (١\١٤٢) وعمدة القارى(١\٢٤٢) وتهذيب الأسماء (١\١٣٣)_

[6]) طبقات ابن سعد(١٤\٣٦٨) والإصابة (١\١٤٢) وتهذيب الأسماء (١\١٣٢)_

[7]) خلاصة الخزرجى (ص.٤٦) وعمدة القارى(١\٢٤١. ٢٤٢) وتهذيب الأسماء (١\١٣٢)_

[8])طبقات ابن سعد (١٤\٣٦٨) وخلاصة الخزرجى (ص.٤٦) وتهذيب الأسماء (١\١٣٢) وتقريب التهذيب (ص.١٢١) رقم ٦٤٨) وتعليقات تهذيب الكمال (١٤\٣٥)_

دي «المدينة» د «قدم» فعل دپاره مفعول فيه دي اود «نزل على أجداده» جمله د «كان» دپاره خبردي اوددي اسم «ضمير» دي كوم چه نبي ﷺ ته راجع كيږي اوپه «من الأنصار» كښې «من» بيانيه دي نوتقديرعبارت داسې شو «أن النبي ﷺ كان أول قدومه المدينة نزل..»[1]

قوله نَزَلَ عَلَى أَجْدَادِهِ أَوْقَالَ أَخْوَالِهِ مِنْ الأَنْصَارِ: دوى دخپلو نيكونو (دمورد طرفه) يا ماماگانوكره ډيره شو. كوم چه د انصارو نه وو.

دلته «أو» دشك دپاره دي اودا شك ابواسحاق ته شوي دي.[2]

دلته د «أجداد» او«أخوال» نه براه راست د نبي ﷺ نيكونه (دموردطرفه) يا ماماگان مراد نه دي خكه چه ددوى موربي بي آمنه بنت وهب قريشيه وه بلكه دلته ددوى د نيكه عبدالمطلب نيكونه او ماماگان مراد دي.[3] خكه چه د دوى پلارهاشم په مدينه منوره كښې د بني عدي بن نجاركښې وادۀ كړې وو.[4]

د نبي كريم د قرنيكه هاشم د نكاح واقعه د نبي كريم ﷺ قرنيكۀ هاشم مديني منورې ته تلى وو.هلته ئې د د بنوعدي بن نجارديوې ښځې سره (چه دهغې نوم سلمى بنت عمرو وو) د نكاح اراده پيدا شوه.هغه اول د أحيحه بن الجلاح په نكاح كښې وه.دوى د ممتاز اومنفردو صفاتومالكه ميرمن وه.په خپل خاندان اوخپل قوم كښې ورته سيادت اوشرافت حاصل وو.ددې وجې هغې دنكاح دپاره شرط كيخودو چه د ناخوښئ اوخفگان په صورت كښې به دې ته دخپل خاوندنه دجدا كيدو اختيار وى.
بهرحال دهاشم بن عبدمناف سره ددوى نكاح اوشوه.اوهلته عبدالمطلب پيدا شو.
عبدالمطلب د نبي ﷺ د نيكۀ اصلي نوم نه وو.بلكه ددوى اصلي نوم شيبة الحمد وو.هاشم د شام دسفرپه دوران كښې وفات شو.دهغوى نه پس «سقايه» او«رفاده» يعني حاجيانوته اوبه وركول اودهغوى ملمستيا كول.ددې ذمه وارى دهغوى ورور مطلب بن عبدمناف باندې راغله.
مطلب دخپل وراره د راوستلو دپاره مديني منورې ته لاړو.نوسلمى بنت عمرو ورسره د خوى د پريخود نه انكار اوكړو.هغوى پوهه كړه.چه زما وراره په يوپردى قوم كښې تربيت حاصلوى.اوبالغ كيږي.مونږ دعزت شرافت اوسيادت خاوندان يو.دخلقوذمه وراياني په مونږ باندې دى.دده دپاره دده قوم،خاندان او ښار ددې ځائې نه غوره دي.

---

[1] عمدة القاري(۱۱\۲٤۳)_
[2] فتح الباري(۱۱\۹٦)_
[3] المصدرالسابق)_
[4] المصدرالسابق وسيرت ابن هشام مع الروض الأنف (۱۱\۹٥)_

يوطرف ته شيبه(مطلب) خپل تره ته اوونيل چه زه دخپلې موردااجازت نه بغيرنشم تلې.دې نه پس ورته مور اجازت ورکړو.اودوى خپل وراره په خپله سورلئ باندې خان سره روسته سوز کړو او روان شو.کله چه د قريشوخلقو شيبه په داسې حال کښې اوليدو.نووې ونيل مطلب دا غلام اخستې دې.نوخلقو شيبه دعبدالمطلب په نوم باندې يادول شروع کړل. او مطلب به ونيل.«ويحكم إنما هو ابن أخي هاشم» يعنى دې زما د وروهاشم خونې دې.(١)

خلاصه دا شوه.چه دلته د اجداد يا اخوال نسبت کوم نبى ﷺ ته شوې دې.نو دا مجازاً دې حقيقة نه دى.

په دې مقام کښې دويم مجاز دا هم دې.چه د اجداد اواخوال نه مراد بنومالك بن نجاردى او ددوى د نيکه ماماخيل بنوعدى بن النجار وو.کوم چه دمالك عدى ورو وو.ددې وجې هغه ته هم نيکونه يا ماماخيل اوونيلى شو.يا ورته ددې وجې اوونيلى شو.چه د دوارړوکورونه نزدې نزدې وو.(٢)

بيا دلته دې دا خبره هم ښکاره وى.چه د اجداد يا اخوال په لفظ کښې د راوى شك دې.خوپه دوارو کښې ښکاره ده.چه څه تعارض نشته.ځکه چه دنکيه کور هم دماماگانوکور وى.(٣)

قوله: وَأَنَّهُ صَلَّى قِبَلَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ سِتَّةَ عَشَرَ شَهْرًا أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا: يعنى نبى ﷺ بيت المقدس طرف ته شپاړس يا اوولس مياشتو پورې مونځونه کول.

«بيت المقدس»په،،المقدس،،کښې دوه لغته مشهور دى.

يودا چه دا د «مَفْعِل»په وزن مصدرميمى يا ظرف مكان دې.دويم لغت دا دې.چه دا د باب تفعيل نه داسم مفعول صيغه ده.(٤)

بيا دا په اضافت سره هم مستعمل دې.په دې صورت کښې به دا د «إضافة الموصوف إلى الصفة» دقبيلې څنى وى.لکه څنګه چه په «مسجد الجامع» کښې هم دا صورت دې.دغه شان «البيت المقدس»هم مستعمل دې.په دې صورت کښې به موصوف اوصفت وى.بهرحال ددې مفهوم هغه ځائې دې.چرته چه دګناهونو نه تطهيراوپاکى حاصليږى.(٥)

علامه كرمانى رحمه الله «المقدس»په صيغه د اسم فاعل ازباب تفعيل احتمال هم ذکرکړې دې.

---

(١) دتفصيل دپاره اوګورئ السيرة النبوية لابن هشام مع الروض الأنف للسهيلى(١\٩٥)_

(٢) فتح البارى(١\٩٦) وعمدة القارى(٢٤٣)_

(٣) تقرير بخارى شريف(١\١٤٣)_

(٤) شرح كرمانى(١\١٦٤) والنهاية (٤\٢٣و ٢٤) وعمدة القارى(١\٢٤٢) وتهذيب التهذيب الأسماء واللغات(٣\١٠٩) حرف القاف فصل فى أسماء المواضع)_

(٥) المصادرالسابقة)_

دکوم مفهوم چه هم ښکاره دی.[1]

بیت المقدس ته د استقبال موده په روایاتوکښې په دې خبره کښې اختلاف دې چه نبی ﷺ دهجرت نه پس څومره مودهٔ بیت المقدس ته استقبال کړې وو

دبخاری شریف په ټولو روایاتوکښې په تردد سره «ستة عشر شهراً أو سبعة عشر شهراً» راغلی دی[2] دمسلم شریف یو روایت د بخاری پشان په تردد سره راغلې دې اوبل روایت په جزم سره «ستة عشر شهراً» راغلې دې.[3]

په سنن نسائی کښې هم یو روایت په تردد سره[4]

اوبل روایت کښې «ستة عشر شهراً» په جزم سره د الفاظ راغلی دی.[5]

په جامع ترمذی کښې هم د بخاری شریف پشان په تردد سره الفاظ راغلی دی[6] اوپه مسند احمد ،معجم کبیرطبرانی او بزارکښې هم په یو روایت کښې په جزم سره «ستة عشر شهراً» الفاظ راغلی دی.[7]

اومعجم طبرانی اوبزارپه دویم روایت کښې په جزم سره «سبعة عشر شهراً» الفاظ راغلی دی.[8] ددې روایاتونه علاوه څه بعضې نور روایات هم دی.چه په هغې کښې په بعضو کښې د اتلس میاشتو[9] په بعضو کښې د دوو کالو[10] اوپه بعضو کښې د دیارلسو میاشتو[11] په

---

[1] شرح کرمانی(۱\۱۶۴) وعمدة القاری(۱\۲۴۲)_

[2] روایت دباب اوکتاب الصلاة باب قول الله تعالی:(واتخذوا من مقام إبراهیم مصلی) رقم ۳۹۹) وکتاب التفسیرسورة البقرة باب (سیقول السفهاء من الناس..) رقم ۴۴۸۶) وباب (ولکل وجهة هو مولیها) رقم ۴۴۹۲) وکتاب أخبارالآحاد باب ما جاء فی إجازة خبرالواحد الصدوق ..) رقم ۷۲۵۲)_

[3] صحیح مسلم (۱\۲۰۰) کتاب المساجد باب تحویل القبلة من القدس إلی الکعبة)_

[4] سنن نسائی.(۱\۸۵) کتاب الصلاة باب فرض القبلة)_

[5] سنن نسائی(۱\۱۲۱، ۱۲۲) کتاب القبلة باب إستقبال القبلة)_

[6] جامع ترمذی کتاب الصلاة باب ما جاء فی إبتداء القبلة رقم ۳۴۰) وکتاب التفسیرباب ومن سورة البقرة رقم ۲۹۶۲)_

[7] مسندأحمد(۱\۲۵۰و ۳۵۷) أحادیث سیدنا عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وکشف الأستارعن زوائد البزار (۱\۲۱۰ و ۲۱۱) کتاب الصلاة باب ما جاء فی القبلة رقم ۴۱۸) ومجمع الزوائد (۲\۱۲) کتاب الصلاة باب ما جاء فی القبلة)

[8] کشف الأستار (۱\۲۱۰) کتاب الصلاة باب ما جاء فی القبلة رقم ۴۱۷) ومجمع الزوائد(۲\۱۳و ۱۴) کتاب الصلاة باب ماجاء فی القبلة)_

[9] أخرجه ابن ماجه فی کتاب إقامة الصلاة والسنة فیها باب القبلة رقم ۱۰۱۰)_

[10] حکاه الحافظ فی الفتح (۱\۹۷) والعینی فی العمدة (۱\۲۴۵)_

[11] رواه ابن جریرفی جامع البیان(۲\۴)_

بعضو كښې په تردد سره دنهو يا لسو مياشتو (۱)اوپه بعضوكښې صرف د دوو مياشتو (۲) تصريحات ملاويږى.
په دې كښې د شپاړسو مياشتو يا د اوولسو مياشتو يا په تردد سره شپاړس يا اوولس مياشتو روايات صحيح دى.اوباقى روايات ضعيف دى.(۳)
تركومې پورې چه د شپاړسو يا د اوولسواوشپاړسو مياشتودتردد او شك د رواياتوتعلق دې نوپه هغې كښې جمع ممكن ده.
حافظ ابن حجر رحمه الله په دې كښې د تطبيق دا صورت اختيار كړې دې.چه «من جزم بستة عشر لفق من شهر القدوم وشهرالتحويل شهراً وألغى الزائد ومن جزم بسبعة عشر عدهما معاً ومن شك تردد فى ذلك»(۴)
مطلب دا دې.چه چونكه نبى ﷺ په دولسم ربيع الاول مدينې منورې ته هجرت كړې وو او رسيدلې وو.بيا په بل كال دصحيح قول مطابق د رجب په نصف كښې دتحويل قبلې حكم راغلې وو.(۵)د دولسم ربيع الاول نه ترپنځلسم رجب پورې د شمارولو يوصورت دا دى.چه: دولس ربيع الاول نه پس خومره ورځې دى.هغه هم واخستې شى.اود رجب پنځلس ورځې هم واخستې شى.چه جمع كړې شى.اوكسر ترې حذف كړې شى.نوچه حساب اولګولې شى.دا ټولې شپاړس مياشتې جوړيږى
اوكه د ربيع الاول روځې پوره مياشت حساب كړې شى.اود رجب پنځلس ورځې هم پوره مياشت حساب كړې شى.نوبيا ټولې اوولس مياشتې جوړيږى.
نواوس دحافظ رحمه الله وغيره حضراتود توجيه مطلب دا دې.چه په كومو رواياتوكښې د شپاړس مياشتوذكر راغلې دې.نوپه هغې كښې دهجرت د مياشتې د ورځو او د تحويل قبلې د مياشتې د ورځو حساب لګولې شوې دې. او چه خومره ورځې دمياشتې نه زياتې جوړيدې هغه ئې ترې حذف كړى دى.لكه چه د ربيع الاول اورجب دواړه مياشتې ئې ملاؤ كړى دى.يوه مياشت ئې شماركړې ده.اوباقى د ربيع الثانى نه واخله تر جمادى الثانى دا ټولې پنځلس مياشتې جوړيږى.په دې طريقه ددې رواياتو مطابق مدينې منورې ته د رسيدو نه پس د استقبال قبلې ټوله مودهٔ شپاړس مياشتې جوړيږى.
اوپه كومو رواياتوكښې چه داوولس مياشتو ذكردې.په هغې كښې د قدوم مدينې مياشت اود تحويل قبلې مياشت جداجدا مياشتې شمارلى شوى دى.په دې طريقه د ربيع الاول نه

---

(۱) كما فى الفتح (۱\۹۷) والعينى فى العمدة (۱\۲۴۵)_
(۲) انظرفتح البارى(۱\۹۷)_
(۳) المصدرالسابق)_
(۴) فتح البارى(۱\۹۶)_
(۵) فتح البارى(۱\۹۶و۹۷)_

واخله تر رجب پورې تولې اوولس مياشتې جوړيږي
اوپه چه په کومو رواياتوکښې په شك اوترود سره شپاړس يا اوولس مياشتې خودلې شوی دی په حقيقت کښې دهغې راويانوچه کله کتلی دی.چه په يو اعتبارسره دې مودې ته شپاړس مياشتې ونيلې شی اوپه بل اعتبارسره ورته اوولس مياشتې ونيلې شی.نوهغوی په «او» سره تعبيرکړې دي

د تحويل قبلې حکم په کومه مياشت کښې راغلې وو؟ بيا ددې رواياتوپه بنياد په عالمانو ﷺ کښې هم اختلاف پيدا شوې دې. چه د تحويل قبلې حکم په کومه مياشت کښې شوې وو؟
جمهورعالمان ﷺ فرمائی.چه د رجب په نيمه ۲ﻫ کښې تحويل قبله شوې وه (۱) هم دا امام حاکم رحمه الله دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه په صحيح سند سره نقل کړې دی.(۲)ددې قول مطابق تحويل د قبلې په اوولس مياشتوکښې شوې وو.لکه چه دوی د قدوم او د تحويل مياشتې جدا جدا شمارلې دی.
موسى بن عقبه رحمه الله فرمائی.چه د تحويل قبلې حکم په جمادی الثانيه کښې راغلې وو (۳)
ددې قول مطابق استقبال دبيت المقدس شپاړس مياشتې بيان شوې دې.(۴)خکه چه د قدوم او تحويل مياشتې جدا جدا شمار کړې شی. نو ددې نه شپاړس مياشتې جوړيږی.
اود محمد بن حبيب د قول مطابق تحويل د قبلې په نصف شعبان کښې شوې وو.(۵)ددې قول تائيد دهغه روايت نه کيږی.په کوم کښې چه د استقبال بيت المقدس مودة اتلس مياشتې بيان شوی دی.(۶) خکه چه شهرقدوم او شهر تحويل جدا جدا شمار کړې شی.نو د دې نه اتلس مياشتې جوړيږی. ابن حبان رحمه الله فرمائی.چه دتحويل قبلې حکم اوولس مياشتې او درې ورخې پس راغلې وو.(۷)
حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن حبان رحمه الله دقول توجيه کړې ده.چه ددې نه شپاړس مياشتې او درې ورخې جوړيږی.اوولس مياشتې اودرې ورخې نه جوړيږی .خکه چه دوی دجمهورو دقول (چه تحويل دقبلې درجب نيمې ته شوې وو.اوددوی قدوم په ربيع الاول کښې شوې وو) ذکرکولو نه پس فرمائی.«وقال ابن حبان سبعة عشر شهراً وثلاثة أيام وهو مبنی علی أن القدوم فی ثانی عشر شهر ربيع الأول»(۸) اود ربيع الاول د دولس تاريخ نه د دويم کال رجب پنخلسم تاريخ پورې شپاړس

---

(۱) فتح البارى(۱\۹۷) وعمدة القارى(۱\۲۴۵)_
(۲) المصادرالسابقة)_
(۳) المصادرالسابقة)_
(۴) أخرجه ابن ماجه فى كتاب إقامة الصلاة والسنة فيها باب القبلة رقم ۱۰۱۰)_
(۵) المصادرالسابقة)_
(۶) خرجه ابن ماجه فى سننه فى كتاب إقامة الصلاة والسنة فيها باب القبلة رقم ۱۰۱۰)
(۷) فتح البارى(۱\۹۷) وعمدة القارى(۱\۲۴۵)_
(۸) فتح البارى(۱\۹۷)_

مياشتې اودرې ورځې جوړيږي.
البته علامى عينى رحمه الله فرمائى چه دابن حبان رحمه الله قول په هغه قول باندې مبنى دې دکوم مطابق چه تحويل په نصف شعبان کښې شوې وو.په دې صورت کښې بنکاره ده.چه ټوله موده اوولس مياشتې او درې ورځې جوړيږي.(١)والله أعلم وعلمه أتم وأحكم.

نبى كريم ﷺ بيت المقدس ته استقبال په قرانى حكم باندې كړې ووكه په خپل اجتهاد سره؟

نبى كريم ﷺ چه بيت المقدس ته كوم مونځونه كول.هغه ئې په خپلې رائې سره كړى وو اوكه دقرآن په حكم سره.

دشوافع حضراتو رحمهم الله دواړه قولونه دى.لكه څنګه چه ماوردى رحمه الله په «الحاوى» كښې نقل كړى دى.(٢)

قاضى عياض رحمه الله فرمائى.چه داكثرو عالمانو رحمهم الله رائې دا ده.چه نبى ﷺ په خپل اجتهاد او رائې سره داسې كړى وو.(٣)د نبى ﷺ مقصود ديهودو تاليف قلب وو.نبى ﷺ به دا سوچ كړې وى.كه زه ددوى قبلې طرف ته استقبال اوكړم.نودوى به زما دين طرف ته مائل شى خو يهوديان ډيرسخت مزاجه اوتنګ نظروو.هغوى نبى ﷺ ته چرته مائل كيدل.كله چه نبى ﷺ ته دا اندازه اوشوه.چه ددې تاليف په وجه هغوى اسلام طرف ته نه مائل كيږى.نودنبى ﷺ زړه دا غوښتل شروع كړل.چه دخپل پلار(حضرت ابراهيم عليه السلام) قبلې طرف ته متوجه شى.خوچونكه د نبى ﷺ اجتهاد باقى پريخودې شوې وو.نودالله تعالى دطرفه حكم راغلو.ددې وجې نبى ﷺ په خپلې ارادې سره بيت المقدس نه وو پريخودې.بلكه دالله تعالى دحكم انتظار ئې كولو.په دې انتظاركښې به نبى ﷺ آسمان طرف ته نظرپورته كول.هم دا الله تعالى په آيت كريمه ﴿ قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَآءِ ۚ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضٰىهَا ﴾(٤) كښې ذكركړه.اوددې نه پس الله تعالى بيا د بيت المقدس قبله منسوخ كړه. اوكعبه ئې قبله اوګرځوله.(٥)

ددې تقرير نه معلومه شوه.چه بيت المقدس الله تعالى قبله مقرركړې وه. او بيت المقدس كومه چه نبى كريم ﷺ دخپل طرف نه قبله جوړه كړې وه.هغه منسوخ كړه.په دې سره دا لازمه شوه.چه په قرآن سره د سنت نسخ كيږى.

بيا دلته دوه بحثونه دى.

① اول دا چه په احكام شرعيه كښې نسخ كيدې شى كه نه؟

---

(١) عمدة القارى(١\٢٤٥)_
(٢) حكاه النووى فى شرح مسلم (١\٢٠٠) كتاب المساجد باب تحويل القبلة من القدس إلى الكعبة)_
(٣) المصدرالسابق)_
(٤) البقرة: ١٤٤)_
(٥) جامع البيان فى تفسيرالقرآن (٢\١٣) القول فى تأويل قوله تعالى ﴿ قد نرى تقلب وجهك..﴾)_

۲ دویم دا چه نسخ السنة بالقرآن جانزده که نه؟
اولنې بحث د نسخ د واقع کیدو امکان په دې مسئله کښې داهل حق په مینځ کښې څو هدو اختلاف نشته.البته یهود دا وائی چه دالله تعالی په احکاموکښې.اودالله تعالی په کلام کښې نسخ نشی کیدې.ځکه چه دنسخ منلو مطلب دا دې.چه الله تعالی ته د وړاندې نه د دویم حکم پته نه وه.ځکه که چیرته الله تعالی ته د دویم حکم علم وو.نو داول نه به ئې دویم حکم نازل کړې وو.اودې څیزته «بداء» وائی.یعنی چه د یوڅیز په باره کښې د وړاندې نه علم نه وی.روسته ورته دهغې علم اودهغې په مصلحتونو باندې علم اوشی او..بداء» دالله تعالی په حق کښې محال ده.ځکه چه دا خو نعوذ بالله دالله تعالی جهل لره مستلزم ده.(۱)
خوحقیقت دا دې.چه په قرآن اوحدیث کښې په احکام خداوندی کښې د نسخې واقع کیدل ثابت دی.الله تعالی فرمانیلی دی. ﴿مَانَنۡسَخۡ مِنۡ اٰیَةٍ اَوۡ نُنۡسِهَا نَاۡتِ بِخَیۡرٍ مِّنۡهَآ اَوۡ مِثۡلِهَا﴾(۲)
بیا دنسخ په امکان او وقوع باندې دا ډیر لوئې دلیل دې.چه دنبی ﷺ په نبوت باندې یقینی دلائل قائم دی.اوچه ترڅو پورې شرائع سابقه منسوخ اونه گنړلی شی.نود نبی ﷺ نبوت نشی ثابت کیدې.نومعلومه شوه.چه د نسخ قائل کیدل لازمی اوضروری څیزدې.(۳)
ددې نه علاوه په شرائع سابقه کښې هم نسخ واقع شوې ده.هم په تورات کښې دی.چه حضرت آدم ﷺ ته حکم شوې وو.چه هغوی دخپلو لوڼړو نکاح دخپلو ځامنو سره اوکړی او روسته دا حکم په اتفاق سره منسوخ شوې دې.(۴)
دغه شان دحدیث مبحوث عنه نه هم ښکاره معلومیږی.چه د هجرت نه وړاندې بیت المقدس قبله وه.بیا هغه منسوخ شوه.اوکعبه قبله اوګرځولې شوه.
ترکومې پورې چه د یهودیانود اعتراض تعلق دې.چه دنسخ نه دا معلومیږی. چه الله تعالی وړاندې کوم حکم مناسب ګنړلې وو.روسته ورته (معاذالله) دخپلې غلطئ احساس اوشو. اوهغه ئې واپس کړو.نودا ډیرسطحی قسم اعتراض دې.اولږ غورکولونه پس ددې غلطی ښکاره کیږی.
ځکه چه نسخ مطلب د رائې بدلیدل نه دی.بلکه په هرزمانه کښې دهغه دور مناسب احکامات ورکول دی.دناسخ کاردانه وی.چه هغه منسوخ غلط اوګرځوی .بلکه دهغه کار دا وی.چه دحکم د مودې نفاذ متعین کړی.دا اوښائی . چه اولنې حکم ترڅومره مودې پورې نافذ وو.ترهغه مودې پورې هغه مناسب وو. خواوس دحالاتود تبدیلئ په وجه د نوی حکم

---

(۱) التفسیرالکبیرللرازی(۲۲۷\۳) تفسیرآیت (مانسخ من آیة أوننسها) المسألة الخامسة وعلوم القرآن (۱۵۹و ۱۶۰) باب چهارم ناسخ ومنسوخ ـ
(۲) البقرة:۱۰۶)_
(۳) تفسیر کبیر(۲۲۷\۳)-
(۴) المصدرالسابق)_

ضرورت دي.كوم كس چه هم په مناسب فكرسره غور اوكړي.نوهغه دې نتيجې ته د رسيدو نه بغيرنشي پاتې كيدې.چه دا تبديلي دحكمت الهى عين مطابق ده.اودې ته په هيڅ اعتبارسره عيب نشي وئيلې.حكيم هغه نه وي.چه په هرقسم حالاتوكښې يوقسم نسخه وركوي.بلكه حكيم هغه وي.چه د مريض اومرض د حالت په بدليدو باندې ژورسوچ كوي او د هغې مناسب سره سره په نسخه كښې تبديلي راولي.

گورئ په مخلوقات كښې داسې وي.چه يوحكم اوقانون چه جارى كړي.نوكله خو هغه ددې وجې بيا منسوخ كوي.چه ددې قانون په ټولوارخونو باندې غورنه وو شوې.اوس دځه وخت تيريدو نه پس غلطي ښكاره شوه.ددې وجې د دغه قانون منسوخ كولوته خبره اورسيده.او دا وجه وي.چه داسې قسم حالات راتلونكي وي.كوم چه دقانون جوړونكو اوجارى كونكو په علم كښې نه وو.څه وخت تيريدو نه پس په حالاتوكښې داسې تبديلي راغله.چه هغه قانون نشي چليدې.ځكه په قانون كښې تبديلي كوي.

بل طرف ته الله تعالى خو عليم اوخبيرذات دې.دهيڅ څيز هيڅ يوارخ دهغه نه پټه نه وي اونه د راروانو حالاتونه هغه بې خبره دې.ددې وجې دا ممكن نه ده.چه نسخ د څه لاعلمئ په بنياد باندې ياد غلطئ ښكاره كيدو په وجه اوشي.

البته دنسخ مثال باندې داسې پوهيدې شئ.چه يوهوښياراوقابل حكيم د مريض معائنه اوكړه.اودمرض تشخيص وكړو.اوس حكيم صاحب ته معلومه شوه. چه دده دپاره په اولنو پنځلسو ورځو كښې فلانئ نسخه فائده منده ده.اود روستو دپاره فلانئ نسخه فائده منده ده.اوس هغه هوښيارطبيب يوصورت خودا اختيارولې شي.چه پنځلس ورځې دا نسخه استعمال كړه.اوددې نه پس دومره ورځې دا بله نسخه استعمال كړه.خوحكيم اوحاذق طبيب په خپل مريض باندې ذهنى دباؤ اچولوپه ځائې دا اوكړي.چه هغه ته يوه دارو وركړي.اودا ورته اووائي.چه پنځلس ورځو پورې دا دوائى استعمال كړه.اوددې نه پس ماته خبر اوښايه.اوپنځلس ورځې پس هغه مريض ته دويمه دوائى وركړي.نودنسخې دا تبديلئ دهرچا په نيز هم عيب نه بلكه هوښيارتيا اوپه مصلحت حكمت باندې مبنى گڼړلې شي.

دغه شان دالله تعالى په علم كښې هم يو حكم تريوې مودې پورې مقرر وي. د هغې په باره كښې د وړاندې نشي خودلې.ددغه مودې تيريدو نه پس د مصلحت او حكمت په مقتضا باندې الله تعالى دويم حكم وركوي.دا ديوحكم منسوخ كول اوبل حكم وركول دالله تعالى په كمال علم اوكمال حكمت باندې مبنى وي.

اودا خبره صرف شرعى احكامو پورې مخصوص نه ده.دكائنات ټوله كارخانه هم په دې اصولوباندې روانه ده.الله تعالى خپل حكمت بالغه سره په موسمونو كښې تبديلي راولي. كله يخنى كله گرمى.كله پسرلې كله خزان.كله باران كله خشك سالى.دا ټول تغيرات دالله تعالى دحكمت بالغه عين مطابق دى.اوكه يوكس دې ته ..بداء.. وائى.اودا اعتراض كوي.چه په دې سره معاذالله دالله تعالى په رائې كښې تبديلي راتلل لازميږي.چه هغوى په يووخت كښې يخنى خوښه كړې وه.او ورسته ورته دخپلې غلطئ احساس اوشو.اودهغې په

خاني ني گرمي کړه نوهغه ته به په د احمق نه سوا بل څه ونيلي شي.هم دغه معامله د شرعي احکامو د نسخ هم ده چه دې ته ((بداء)) ونيل اودا عيب گنړل ډيره لويه کوتاه نظري اودحقائقونه ناواقفيت دې.

بيا دې دلته يوه خبره دا هم معلومه وي چه مونږ مخکښې ذکرکړې دی.چه د نسخ په امکان کښې دا هل اسلام څه اختلاف نشته.نودغه شان په وقوع کښې هم څه اختلاف نشته.البته په معتزلو کښې صرف د ابومسلم اصفهانی رائې دا ده.چه د نسخ امکان شته.خوپه قرآن کريم کښې چرته هم نسخ نه ده واقع شوې.

خوحقيقت دا دې چه دا موقف د دلائلو په لحاظ سره ډيرکمزورې دې.اوکه دا رائې اختيار کړې شي.نوددې نه پس د قرآن کريم په بعضې آياتونوکښې د داسې تاويلاتوضرورت پيښيږي.کوم چه د اصول تفسيرنه بيخی خلاف دی.

په اصل کښې چه کوم کسان په قرآن کريم کښې د نسخ قائل نه دی.نودهغوی په زړونوکښې دا خبره ناسته ده.چه نسخ يوقسم عيب دې.دکوم نه چه قرآن کريم خالی ساتل پکار دی.
حالانکه نسخ عيب گنړل دعقل کمزوری ده.

بياعجيبه دا ده.چه ابومسلم اصفهانی اودده متبعين عام طور د يهوديانو پشان ددې خبرې نه انکار نه کوی.چه دالله تعالی په ډيرواحکاموکښې نسخ واقع شوې ده.بلکه هغوی صرف دا وائي.چه په قرآن کريم کښې نسخ نشته.اوس که نسخ عيب وی.نوپه غيرقرآنی احکامو کښې دا عيب ولې پيدا شوې دې؟حالانکه هغه هم دالله تعالی احکام دی.اوکه دا عيب نه وی.نو کوم څيز چه د قرآنی احکامو نه سوا په نورو کښې عيب نه وی.نوپه قرآنی احکامو کښې ولې عيب گرځولې شی؟

حاصل د کلام دا دې.چه دجمهورو اهل اسلام په نيز احکام شرعيه برابره ده که قرآنی احکام وی. اوکه غيرقرآنی.په دې کښې يواځې دنسخ امکان نه بلکه واقع شوې هم ده.اوپه يهودو کښې بعضې خو بيخی دامکان نه انکارکوی. او بعضې صرف د واقع کيدو نه انکار کوی.
او جمهوراهل اسلام په دې خبره متفق دی.چه دنسخ صرف امکان نه بلکه وقوع هم شته.
البته په معتزلو کښې صرف ابومسلم اصفهانی اودهغه متبعينوکښې د يو څو اهل تجدد رائې دا ده.چه دنسخ وقوع په نورشرعی احکاموکښې شته.البته په قرآن کريم کښې د نسخ وقوع نشته.والله أعلم.

دويم بحث نسخ السنت بالقران جائز ده که نه؟ په دې بحث باندې د پوهيدلو نه وړاندې په دې پوهه شی.چه دنسخې څلورصورتونه دی.

① نسخ الكتاب بالكتاب.② نسخ السنة بالسنة.
③ نسخ الكتاب بالسنة.④ نسخ السنة بالكتاب.

په دې كښې اولنۍ صورت يعنى نسخ الكتاب بالكتاب متفق عليه دى.[1] البته لكه څنګه چه مونږ وړاندې بيان كړې دې.په دې كښې اختلاف ضرور شته.چه په قرآن كريم كښې نسخ واقع شوې ده كه نه ده.نوجمهور اهل سنت ددې قائل دى.اوابومسلم اصفهانى معتزلى اودهغه څه متبعين ددې نه انكاركوى.

دويم قسم نسخ السنة بالسنة دى.ددې څلور صورتونه دى.

① نسخ المتواتر بالمتواتر ② نسخ الآحاد بالآحاد ③ نسخ الآحاد بالمتواتر ④ نسخ المتواتر بالآحاد.

ظاهريه اوطوفى حنبلى خود هر صورت د جواز قائل دى.اوجمهور ﷭ داولنو درې صورتونو د جواز قائل دى.البته د څلورم صورت يعنى نسخ المتواتر بالآحاد ددې نه انكار كوى.[2] څكه چه متواترقطعى وى.اوخبرواحد ظنى.اوظنى دقطعى دپاره ناسخ نشى جوړيدې.څكه چه ناسخ دپاره پكار ده.چه كم ازكم د منسوخ سره برابر وى.الله تعالى فرمانيلى دى.﴿مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا﴾[3]

په دې باندې اشكال كيږى.چه احناف بعضې وخت حديث صحيح په حديث حسن باندې منسوخ كوى.حالانكه د صحيح درجه د حسن نه پورته ده.

ددې جواب دا دې.چه دخبرواحد او په ظنيت كښې دواړه سره برابر دى.(كه حديث حسن دې اوكه حديث صحيح دواړه ظنى اواخبار آحاد دى)اوكيدې شى.چه حديث حسن په بعضې قرائنو سره د حديث صحيح دپاره ناسخ شى.والله أعلم.

---

[1] أصول البزدوى مع كشف الأسرار(۱۷۵\۳و ۱۷۶)..
وقال الكلوذانى الحنبلى يجوز نسخ القرآن بالقرآن والسنة المتواترة بمثلها والآحاد بالآحاد التمهيد فى أصول الفقه ۳۶۸\۲) وقال محققه فى تعليقاته كل هذا بالإتفاق بين القائلين بالنسخ كما قال الآمدى فى الأحكام (۱۴۶\۳) ..
دغه شان اوګورئ الإعتبارفى الناسخ والمنسوخ من الآثارللحازمى (ص.۹۹) مسائل النسخ)_

[2] قال ابن النجار الحنبلى فى شرح الكوكب المنير(۵۵۹\۳و ۳۶۱و۵۶۲) ويجوز نسخ قران ونسخ سنة متواتر بمثلهما ونسخ سنة بقرآن ونسخ آحادمن السنة وهى الحديث غير المتواتربمثله أى بحديث غيرمتواتر. ونسخ آحاد بمتواترويجوز عقلاً لا شرعاً نسخ سنة متواترة بآحاد عند الجمهور وحكاه بعضهم إجماعاً وقال الطوفى من أصحابه والظاهرية يجوز واختارهذا القول الباجى ولكن فى زمن النبى ﷺ وقال لايجوز بعده إجماعاً لأنه ﷺ كان يبعث الآحاد بالنسخ إلى أطراف البلاد قال ابن قاضى الجبل: واختاره أيضاً القرطبى المالكى.
وقال ابن الحاجب فى مختصر المنتهى مع شرحه بيان المختصر (۵۳۵\۲) يجوز نسخ القرآن بالقرآن كالعدتين والمتواتر بالمتواتر والآحاد بالآحاد والآحاد بالمتواتر.وأما نسخ المتواتر بالآحاد فنفاه الأكثرون.
واحتج المصنف على عدم جواز نسخ الخبر المتواتر بالآحاد بأن الخبر المتواتر مقطوع والآحاد مظنون والمظنون لا يقابل المقطوع بل يطرح المظنون ويعمل بالمقطوع)_

[3] البقرة:۱۰۶)_

دريم قسم نسخ الكتاب بالسنة ده.په دې كښې اختلاف دې.
دجمهورو فقهاؤ اومتكلمينو رحمهم الله په نيز دا جائز دې دامام شافعي رحمه الله محققينو ملګروهم دا مذهب دې.
امام شافعي رحمه الله په خپلو عاموكتابونوكښې ليكلي دي.چه دا صحيح نه ده.هم دا داكثرو محدثينو رحمهم الله قول دې.
بيا دمانعينواختلاف دې.بعضې وائي.چه عقلاً هم دا صحيح نه ده دامام شافعي رحمه الله ظاهر مذهب هم دا دې.اوهم دا د حارث محاسبي.عبدالله بن سعيد اوقلانسي رحمهم الله رائې ده. اود امام احمد بن حنبل رحمه الله نه يو روايت هم دا دې.
بعضې نورحضرات فرماني.چه عقلاً خوجائزده.البته په شريعت كښې واقع شوې نه ده.كه په شريعت كښې ددې څه مثال موندې شو.نوبيا به جائز وه.دابن شريح په دوو روايتونوكښې يو روايت دا دې.
څلورم قسم نسخ السنة بالكتاب دې.په دې كښې هم اختلاف دې جمهورخو قائل دي.نوكوم حضرات چه د نسخ الكتاب بالسنة قائل دي.نودهغوى نه علاوه هغه حضرات هم د نسخ السنة بالكتاب قائل دي.كوم چه د نسخ الكتاب بالسنة قائل نه دي.په دوى كښې عبدالقادر بغدادي اوابوالمظفرسمعاني هم دي.اوامام شافعي رحمه الله د اولنۍ مسئلې پشان دلته هم د جواز نه انكار كړې دې.
دا خبره دې ياده وي.چه امام شافعي رحمه الله په بعضې مقاماتوكښې داسې كلام كړې دې. چه دهغې نه عدم جوازمعلوميږي.اوبعضې ځايونو د كلام نه جواز مفهوم كيږي.هم ددې وجې نه دهغوى ملګرودهغوى نه دواړه اقوال نقل كړي دي.(١) والله أعلم.

قوله: <u>وَأَنَّهُ صَلَّى أَوَّلَ صَلَاةٍ صَلَّاهَا صَلَاةَ الْعَصْرِ</u>: نبي ﷺ دبيتولونه وړاندې دمازيګرمونځ كړې وو.

تحويل دقبلې په كوم جمات كښې اوپه كوم مونځ كښې شوې وو؟ تحويل دقبلې د ماسپخين په مانځه كښې شوې وو.يا د مازيګرپه مانځه كښې.دغه شان په مسجد نبوي كښې شوې وو.كه په مسجدالقبلتين كښې؟په دې كښې اختلاف دې.
د واقدي.ابن سعد.اوابن الجوزي رحمهم الله رائې دا ده.چه تحويل په مسجد القبلتين كښې د ماسپخين په مانځه كښې شوې وو.واقعه داسې پيښه شوه.چه نبي كريم ﷺ د بشربن براء بن معرور د مورد زيارت دپاره دهغوى قبيلې بنوسلمه ته تشريف اوړې وو.هغوى ددوى دپاره روټۍ تياره كړه.اوهلته دماسپخين دمانځه وخت شو.نبي ﷺ دوه ركعته مونځ وركړې وو.چه

(١) د نسخ په دې څلوروصورتونوكښې دتفصيل اود مبسوط دلائلودپاره أصول البزدوى مع شرح كشف الأسرار(٣\١٧٥و ١٨٦) باب تقسيم الناسخ والتمهيد فى أصول الفقه (٢\٣٦٨و ٨٧) والإعتبارفى الناسخ والمنسوخ من الآثار(٩٩و١٠٩) وبيان المختصرشرح مختصر المنتهى لإبن الحاجب (٢\٥٣٥و٥٥١) والرسالة للإمام الشافعى (١٠٦-١١٣) إبتداء الناسخ والمنسوخ وشرح الكواكب المنير(٣\٥٥٩و ٥٦٣)_

دتحويل حكم راغلو نونبي ﷺ كعبې طرف ته مخ كړو.(١)

دحضرت عماره بن روبيه رضي الله عنه نه مروى دى چه «كنا مع النبي ﷺ في إحدى صلاتي العشي حين صرفت القبلة فدار ودرنا معه في ركعتين»(٢)

امام بزار رحمه الله دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت نقل كړې دې «انصرف رسول الله نحو بيت المقدس وهو يصلي الظهر وانصرف بوجهه إلى الكعبة»(٣)

امام طبراني هم دا مفهوم په خپل سند سره دحضرت انس رضي الله عنه نه نقل كړې دې.(٤)

ددې تولوروايا تونه معلوميږي چه تحويل د قبلې دماسپخين په مانځه كښې شوې وو خو دې روايا توكښې يوروايت هم د ضعف نه خالي نه دې.(٥)

دبعضې عالمانو رحمهم الله رائې دا ده چه تحويل خودماسپخين په مانځه كښې شوې وو البته: حضرات دا وائي چه په مسجدالقبلتين كښې نه بلكه په مسجد نبوى كښې دتحويل قبلې حكم راغلې وو.اونبي ﷺ خپل مخ كعبې طرف ته كړو.هم دا دعلامه سيوطى اوعلامه آلوسى رحمهما الله رائې ده.(٦)

ددې حضراتودليل دحضرت ابوسعيد بن المعلى رضي الله عنه روايت دې.دوى فرمائي. «كنا نغدو للسوق على عهد رسول الله ﷺ فنمر على المسجد فنصلي فيه، فمررنا يوماً ورسول الله ﷺ قاعد على المنبر فقلت لقد حدث أمر فجلست فقرأ رسول الله ﷺ ﴿قد نرى تقلب وجهك في السماء﴾ حتى فرغ من الآية قلت لصاحبي تعال نركع ركعتين قبل أن ينزل رسول الله ﷺ لنكون أول من صلى فتوارينا فصلينا ثم نزل رسول الله ﷺ فصلى للناس الظهر يومئذ»(٧)

---

(١) طبقات ابن سعد(٢٤١\١و٢٤٢) ذكر صرف القبلة عن بيت المقدس إلى الكعبة وأوجز المسالك (٤ ٩٥)

(٢) أخرجه ابن أبي داود بسند ضعيف قاله الحافظ في الفتح (٥٠٣\١) كتاب الصلاة باب التوجه نحو القبلة حيث كان وأخرجه ابن سعد في طبقاته (٢٤٣\١) عن عمارة بن أوس)_

(٣) كشف الأستار عن زوائد البزار(٢١٢\١) كتاب الصلاة باب ما جاء في القبلة رقم ٤٢٠) ومجمع الزوائد (١٣\٢) باب ما جاء في القبلة قال الهيثمي وفيه عثمان بن سعيد ضعفه يحيى القطان وابن معين وأبوزرعه ووثقه أبونعيم الحافظ وقال أبوحاتم شيخ)_

(٤) فتح الباري(٥٠٣\١ كتاب الصلاة باب التوجه نحو القبلة حيث كان)_

(٥) قاله الحافظ في الفتح (٥٠٣\١)_

(٦) روح المعاني (١٠\٢) وأوجز المسالك (٩٥\٤) ما جاء في القبلة)_

(٧) السنن الكبرى للنسائي (٢٩١\٦) كتاب التفسير سورة البقرة باب قوله تعالى:(قد نرى تقلب وجهك في السماء فلنولينك قبلة ترضاها) رقم ١١٠٠٤٠)_

حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائی «والمشهور أن أول صلاة صلاها إلى الكعبة صلاة العصر» یعنی مشهوره دا ده چه اولنی مونځ کوم چه نبی ﷺ دتحویل قبلې نه پس کعبې ته کړې وو هغه د مازیګر مونځ وو فرمائی هم دا وجه ده چه اهل قبا ته په دغه ورځ دتحویل قبلې علم اونشو بلکه په راروانه ورځ دصبا په مانځه کښې اوشو.(۱)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی تحقیق دا دې چه تحویل قبلې نه پس چه نبی ﷺ کوم اولنی مونځ کعبې ته کړې وو هغه دماسپخین مونځ وو اودا مونځ نبی ﷺ د بنو سلمه په جمات کښې کړې وو کوم ته چه نن هم مسجدالقبلتین وائی دوی هلته د براء بن معرور دوفات په باره کښې تشریف اوړې وو.(۲)

دا مونځ نبی ﷺ دوه رکعته بیت المقدس طرف مخ کړې ادا کړی وو او باقی دوه رکعته ئې بیت الله ته مخ کړې ادا کړی وو او په مسجد نبی ﷺ کښې چه نبی ﷺ د ټولونه اولنی کوم مونځ ادا کړې وو هغه د مازیګر وو.(۳)

دحافظ ابن حجر رحمه الله په دې تقریرسره د واقدی وغیره په بیاناتو اومختلفو روایاتو مینځ کښې تطبیق کیږی.

قوله: <u>وَصَلَّى مَعَهُ قَوْمٌ فَخَرَجَ رَجُلٌ مِمَّنْ صَلَّى مَعَهُ فَمَرَّ عَلَى أَهْلِ مَسْجِدٍ وَهُمْ رَاكِعُونَ</u>: دنبی ﷺ سره څه کسانو مونځ ادا کړو بیا دوی سره چه چا مونځ کړې وو په هغوی کښې یوکس اووتل اودجمات دخلقو په خواه کښې تیرشو هغه خلق په رکوع کښې وو یعنی په مانځه کښې مشغول وو.

نوروخلقو ته دتحویل قبلې خبرورکونکې څوک وو؟ دنبی ﷺ سره چه ئې مونځ کړې وو اوبیا وتلې وو دا څوک وو؟بعضې عالمان رحمهم الله فرمائی چه دا عبادبن بشربن قیظی رضی الله عنه وو.(۴)

اوبعضې عالمان رحمهم الله فرمائی دا دوی عبادبن نهیک (بفتح النون وکسر الهاء) وو.(۵)

---

(۱) تفسیرالقرآن العظیم(۱۹۳/۱)_

(۲) فتح الباری(۹۷/۱) کښې دحضرت براء بن معرور د خوی بشردوفات ذکردې حالانکه دا صحیح نه ده ځکه چه د قبلې دتبدیلې نه وړاندې چه څوک وفات شوی وو هغه براءبن معرور وو دهغه خوئې نه وو هم په دې باب کښې دآیت کریمه د نزول لاندې ذکر راغلې دې چه دتحویل قبلې نه وړاندې په انصاروکښې د دوو حضراتو وفات واقع شوې وو یواسعد بن زراره اوبل هم دا حضرت براء بن معرور وو رضی الله عنهما اوحضرت براء بن معرور رضی الله عنه خوئې دحضرت بشروفات د غزوه خیبر نه پس شوې وو فتنبه الإصابة (۱۵۰/۱)_

(۳)فتح الباری (۹۷/۱)_

(۴) كما رواه ابن منده من حديث تويلة بنت أسلم كذا فی فتح الباری(۹۷/۱) والأصابة (۲۶۳/۲)_

(۵) فتح الباری(۹۷/۱) والإصابة (۲۶۶/۲) والسعاية (۹۲/۲)_

داولنی نوم تصريح تويله [۱] بنت اسلم يا مسلم انصاريه حارثيه رضي الله عنها په روايت كښې راغلى دى.هغوى فرمائى.((جاء رجل من بنى حارثة يقال له عباد بن بشر بن قيظى فقال إن النبى ﷺ قد استقبل البيت الحرام فتحولوا إليه)) [۲]

د دويم جمات نه كوم جمات مراد دې؟ بيا په دې روايت كښې چه كوم روايت وارد شوې دې چه هغه ديوجمات په خلقو تيرشو.ددې جمات نه كوم جمات مراد دې؟

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه دا واقعه دبنومسلمه دجمات وه.[۳]

خويه دې جواب باندې دا اعتراض دې.چه كله نبى ﷺ پخپله مسجد بنوسلمه كښې يعنې ذوالقبلتين كښې موجود وو.نوبيا يوكس ته دبنومسلمه دجمات خلقو ته د خبر وركولو ضرورت وو؟

حقيقت دا دې.چه حافظ رحمه الله د بنوسلمه دكوم جمات نوم ليكلې دې.دا دهغوى خپل گمان دې.كوم چه ئې په ..قيل،. سره وئيلى دى.اوددې ئې څه سند هم نه دې ذكر كړې. صحيح دا ده.چه د بنوحارثه دجمات واقعه ده.لكه څنگه چه تويله بنت د اسلم رضي الله عنها په روايت كښې تصريح موجود ده.هغه فرمائى.((صلينا الظهر أوالعصر فى مسجد بنى حارثة فاستقبلنا مسجد إيلياء فصلينا ركعتين)) [۴]

يواشكال اودهغې جواب.دلته يواشكال بل كيږى.هغه دا چه په كتاب الصلاة كښې دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما روايت راځى.په هغې كښې دى.((بينا الناس بقباء فى صلاة الصبح إذ جاءهم آت..)) [۵] ددې روايت نه معلوميږى.چه راتلونكى كس بنوعمروبن عوف ته خبر وركړې وو.كوم چه په قباء كښې آباد وو.اوهغوى دصبا مونځ كولو.

دلته د حافظ ابوالفضل بن طاهر رحمه الله دنقل مطابق خبر وركونكې كس عبادبن بشر رضي الله عنه وو.[۶] اوس په دې رواياتوكښې تعارض راځى.چه آيا د بنوحارثه جمات ته خبر وركونكې كس

---

[۱])ددې نوم تويله (نون سره مصغراً) هم راغلې دې.او تويله (تائے مثناة فوقانيه) سره هم راغلې دې. فتح البارى (۹۷\۱) كښې ((طويلة)) واقع دې.او (۵۰۳\۱) كښې ((ثويلة)) (بالثاء المثلثة) واقع دې. دا دواړه غلط دى.اوگورئ (الإصابة (۲۵۶\۴و ۲۵۷) و(۴۲۰\۴) حافظ په ((الإصابة)) كښې ((نويلة)) (بالنون) راجح گرځولې دې)_

[۲]) الإصابة (۲۶۳\۲) والتمهيد(۴۶\۱۷)_

[۳]) قال الحافظ رحمه الله فى الفتح (۹۷\۱)وأهل المسجد الذين مر بهم قيل هم من بنى سلمة..)_

[۴]) رواه الحافظ أبوبكربن مردويه كما فى تفسيرابن كثير(۱۹۳\۱) وأبوحاتم فى تفسيره كما فى الفتح (۵۰۳\۱)_

[۵]) صحيح بخارى كتاب الصلاة باب ما جاء فى القبلة رقم ۴۰۳)_

[۶]) فتح البارى(۵۰۶\۱) كتاب الصلاة باب ما جاء فى القبلة)_

عباد بن بشر رضي الله عنه وو اوكه دمسجد قباء مخبر وو؟بيا دا چه دا د مازيگردمونځ واقعه وه اوكه دصبا دمونځ.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه د حضرت براء په حديث باب كښې چه دجماعت دخلقو ذكردې.هغه بنوحارثه وو.چونكه هغوى په مدينه منوره كښې دننه اوسيدل.خكه هغوى ته د مازيگرپه مانځه كښې خبر ملاؤ شو.اوهغوى ته خبر وركونكې عبادبن بشريا عبادن بن نهيك رضي الله عنهما وو دحضرت براء رضي الله عنه په حديث باب كښې هم ددې ذكردې.

دقباء خلق چونكه د مدينې منورې نه بهراوسيدل.ددې وجې هغوى ته به خبر رسيدو كښې روستوالي اوشو.په دويمه ورځ دصبا په مونځ كښې هغوى ته خبر اوشو.هغوى ته دخبر رسونكى نوم معلوم نه دې.په ظاهره دعبادبن بشر رضي الله عنه نه علاوه بل صحابى رضي الله عنه معلوميږى.

خكه چه عباد بن بشر رضي الله عنه د بنوحارثه سره تعلق ساتلو.اود مسلم په روايت كښې اهل قباء ته د خبر ورنكونكى كس ذكر «رجل من بني سلمة»په الفاظوسره راغلې دې.دحضرت انس رضي الله عنه په روايت كښې دى.«فمررجل من بني سلمة وهم ركوع في صلاة الفجروقد صلوا ركعة ..»(¹)اودا خبره يقينى ده.چه بنو حارثه اوبنو مسلمه دواړه جدا جدا قبيلې دى.(²)

خلاصه دا شوه.چه دتحويل قبلې حكم دټولو نه وړاندې دماسپخين په مانځه كښې راغلې وو.په دغه وخت كښې نبى صلى الله عليه وسلم په مسجد ذوالقبلتين كښې وو.چه دمانځه په حالت كښې نبى صلى الله عليه وسلم اوټولومونځگذارو كعبې طرف ته مخ كړل.(³)

تركومې پورې چه دحضرت ابوسعيدبن المعلى رضي الله عنه د روايت تعلق دې.دكوم نه چه معلوميږى. چه دتحويل حكم دماسپخين په مانځه كښې په مسجد نبوى كښې راغلې وو. نوداحديث مونږ د دويمې ورځې په واقعه باندې حمل كولې شو.يعنى مطلب دا دې.چه حضرت ابوسعيدبن المعلى رضي الله عنه ته د تحويل قبلې داول نه علم نه وو.په دويمه ورځ كله چه نبى صلى الله عليه وسلم د څه ضرورت دپاره د ماسپخين نه وړاندې خطبه وركوله.په هغې كښې د تحويل قبلې ذكر هم راغلو.اوآيت مذكوره ئې هم واورولو.په دغه وخت كښې دوى مسجد نبوى ته راورسيدل.اودا ئې اوگڼړل .چه دا حكم اوس نازل شو.نود «أول من صلى»جوړيدو دپاره ئې خپل ملگرى سره يوځائې مونځ اوكړو.ددې نه پس نبى صلى الله عليه وسلم دماسپخين دمونځ امامتى وركړه.كومه چه ښكاره خبره ده.خانه كعبې طرف ته ئې مخ كړې وو.اومونځ ئې كړې وو.

چه دا احتمال موجود وى.نوددې باوجود دا حديث ددې خبرې دپاره د دليل په طور پيش كول صحيح نه دى.چه اولنې مونځ په مسجد نبوى كښې دماسپخين شوې وو.حالانكه د صحيح بخارى په روايت كښې اولنې مونځ د مازيگرخودلې شوې دې.

---

¹) صحيح مسلم (١\٢٠٠) كتاب المساجد باب تحويل القبلة من القدس إلى الكعبة)_

²) فتح البارى(١\٥٠٦) كتاب الصلاة باب ما جاء فى القبلة)-

³) كما حكاه ذلك ابن سعد فى الطبقات (١\٢٤١و ٢٤٢) ذكر صرف القبلة عن بيت المقدس إلى الكعبة)_

ددې نه پس په مسجد نبوى كښې پوره مونځ دمازيګرخانه كعبې طرف ته شوې دې[1] په دې مونځ كښې د بنوحارثه امام[2] عبادبن بشر رضي الله عنه وو.دوى چه د مانځه نه فارغ شونو نو راووتلو.اودخپل قوم جمات ته اورسيدلو.هغه وخت هلته مونځ كيدو.هغوى مونځګذارو ته خبر وركړو چه قبله بدله شوې ده.نوخلقو هم په هغه وخت كښې خپل طرف بدل كړل.[3]
چونكه مسجد بنى عمروبن عوف د مدينې منورې نه بهر په قبا كښې وو.دغه حضراتو ته په دغه ورځ خبر اونه رسيدل.په دويمه ورځ د بنو سلمه يو سړې دصبا په مانځه كښې قبا ته اورسيدل. اوهغه خلقو ته ئې د قبلې بدليدو خبر اورسولو[4] په دې طريقه په ټولو روايتو كښې تطبيق راځى.والعلم عندالله سبحانه.
تنبيه حافظ ابن حجر رحمه الله دلته اوپه كتاب الصلاة كښې دحضرت براء بن عازب رضي الله عنه د حديث په تحقيق كښې هم دا ذكركړى دى.چه دا كس حضرت عبادبن بشر رضي الله عنه يا عباد بن نهيك رضي الله عنه وو.[5] خوچه كله د بخارى په آخر كښې «كتاب أخبار الآحاد» ته رسيدلې دې نو ليكى. «وقد تقدم شرحه فى كتاب العلم وفى أبواب إستقبال القبلة أيضاً وبينت هناك أن الراجح أن الذى أخبر فى حديث البراء رضي الله عنه بالتحويل لم يعرف إسمه»[6] يعنى روسته بيانيږى.چه دحديث براء رضي الله عنه د مخبر نوم معلوم نه دې.حالانكه پخپله دحافظ رحمه الله دتحقيق مطابق هلته عبادبن بشر رضي الله عنه مراد دې.البته دحضرت ابن عمر رضي الله عنهما په روايت كښې چه دكوم مخبر ذكردې.حافظ رحمه الله دهغوى په باره كښې دلاعلمئ اظهار كړې دې.[7] فانتبه والله سبحانه أعلم.
داهل قباء د منسوخ قبلې طرف ته د مونځ د ادا كولوحكم: د وړانديني تقريرنه تاسو ته معلومه شوه.چه تحويل دماسپخين په مانځه كښې شوې وو. اهل قباء په دغه ورځ د مازيګر،ماښام اوماخستن مونځ بيت المقدس طرف ته كړى وو. تردې چه په دويمه ورځ د صبا په مانځه كښې ورته خبر كيږى.
اوس سوال دا دې.چه دهغوى دهغه مونځونو به څه حكم وى.كوم چه هغوى منسوخ قبلې ته كړى وو آيا دهغې د راګرځولې حكم به ورته شوې وو.اوكه دهغوى دپاره به اعاده لازم نه وه.

---

[1] كما فى حديث الباب)_
[2] وكان يؤم بنى حارثة كذا فى الإصابة(٢\٢٦٣)_
[3] كما فى حديث تويلة بنت أسلم عند ابن مردويه وابن أبى حاتم انظرتفسير ابن كثير(١\١٩٣) وفتح البارى (١\٥٠٣)_
[4] يدل على ذلک ما رواه مسلم فى صحيحه (١\٢٠٠) كتاب المساجد باب تحويل القبلة من القدس إلى الكعبة)_
[5] فتح البارى(١\٩٧) و(١\٥٠٦)_
[6] فتح البارى(١٣\٢٣٨) كتاب أخبارالآحاد باب ما جاء فى إجازة خبرالواحد الصدوق..)_
[7] فتح البارى(١\٥٠٦)_

په دې مسئله کښې دواړه قولونه دی البته په دې کښې اختلاف نشته چه د منسوخ کیدو نه پس او د حضرت جبریل علیه السلام د تبلیغ نه وړاندې حکم نه لازمیږی
امام طحاوی رحمه الله فرمائی چاته چه دعوت نه وی رسیدلې او هغه ته د فرضیت خداوندی علم نه وی او نه دا ممکن وی چه دچا نه علم حاصل کړی په داسې صورت کښې دهغه په ذمه فرض نه لازمیږی (١)
په دارالحرب کښې داسلام قبلونکی حکم ددې خانې دعالمانو رحمهم الله په مینځ کښې دا اختلاف پیدا شوې دې چه کوم کس په دارالکفر کښې یا د دارالاسلام په اطرافو او مضافاتو کښې مسلمان شوې وی او په هغه ځائې کښې داسې بل څوك موجود نه وی دچا نه چه دشریعت علم حاصلیدې شی اونه هغه ته دا معلومه وی چه الله تعالی کوم څیزونه فرض کړی دی دځه مودې نه پس هغه ته د هغې د فرضیت علم اوشی نودهغه په ذمه به د مونځونو قضا وی که نه؟
دامام مالك . شافعی او څو نورو حضراتو رحمهم الله رائې دا ده چه دده روژو او مونځونو قضا به دده په ذمه لازم وی ځکه چه هغه دمعلومولو دپاره په وتلو او په کوشش کولو قادر وو
امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه دده په ذمه به دغه عبادات اوفرائض په هغه وخت کښې لازم وی کله چه هغه ددې باوجود چه دعلم حاصلول ممکن وو خوده کوشش نه وی کړې او کوتاهی ئې کړې وی او که ده ته داسې کس نه وی رسیدلې دچا نه چه ده د شریعت علوم حاصلولی شول نود هغه په ذمه څه لازم نه دی (٢) والله أعلم
قوله: فَقَالَ أَشْهَدُ بِاللَّهِ لَقَدْ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ مَكَّةَ فَدَارُوا كَمَا هُمْ قِبَلَ الْبَيْتِ: هغوی اووئیل زه الله تعالی ګواه جوړوم او وایم چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مکې مکرمې ته مخ کړې مونځ کړې دې هغوی ټول هم په دغه حالت کښې بیت الله طرف ته تاؤ شول
ددې تاویدو صورت د تویله بنت اسلم رضی الله عنها په حدیث کښې راغلې دې ((فتحول النساء مكان الرجال والرجال مكان النساء)) (٣)
په ظاهره دا صورت شوې وو چه کله د بیت المقدس په ځائې بیت الله شریف قبله جوړه کړې شوه نونبی صلی الله علیه وسلم دخپل ځائې نه اخوا شوه او دجمات آخری حصې ته راغلو او سړی دښځو ځایونو ته لاړل او ښځې دسړو ځایونو ته ځکه چه بیت المقدس شمال کښې دې او مکه معظمه جنوب کښې په مینځ کښې مدینه منوره وه نو کله چه به ئې بیت المقدس طرف ته مخ کولو نونبی صلی الله علیه وسلم به دجمات شمالی دیوال ته مخ په لور مونځ ورکولو او کله چه کعبه ددوی

---

(١) عمدة القاری (١\٢٤٧و٢٤٨)_
(٢) عمدة القاری (١\٢٤٨)_
(٣) تفسیر ابن کثیر (١\١٩٣) والإصابة (٤\٢٥٧)_

قبله مقرر کړې شوه نو خواه مخواه نبی ﷺ دخپل ځائې نه اخوا شو اودهغې مخالف طرف جنوبي ديوال طرف ته لاړلو اوهغې طرف ته ئې مخ کړو اوادريدلو اوښځې دسړو ځائې نه اوسړي دښځو ځائې ته لاړل.(۱)

ايا په مانځه کښې په مخ ګرځولوسره عمل کثيرنه راځی؟ تاسوګورئ چه په دې صورت کښې امام دخپل ځائې نه خې.اومخامخ ديوال طرف ته منتقل کيږی دغه شان په مقتديانو کښې سړی دښځو ځائې ته اوښځې د سړو ځائې منتقل کيږی. اګرچه سړی مقتديان په خپل ځائې ولاړ وی.نوترڅه حده پورې خپل مخ بدلولې شی خوڅه نه څه عمل هغوی هم ضرور کوی.اوامام اوښځودپاره خودخپل ځائې په بدلولوکښې د ډيرعمل ضرورت وی نوآيا : عمل مفسد د مانځه نه دې؟

ددې خوجوابات ورکړې شوی دی.

① يوجواب دا ورکړې شوې دې.چه دا دهغه وخت واقعه ده.چه عمل کثيرمفسد د صلاة نه وو. ② دويم جواب دا دې.چه هغه مشی اوعمل مفسد دصلاة وی چه هغه متوالی اوپرله پسې وی.حالانکه دلته مشی متوالی نه وه.بلکه په توقف سره وه.

③دريم جواب چه زړه پرې مطمئن کيږی.هغه دا دې چه عمل کثيراګرچه مفسد د صلاة دې. خوددې نه د ضرورت مواضع مستثنی دی.ګورئ د محدث دپاره ..بناء.. جائزده ترهغه وخته پورې چه په مينځ کښې کلام نه وی شوې حالانکه د بناء دپاره هغه د مشی اودس وغيره اعمال کوی.دغه شان دلته هم دا د مواضع ضرورت څنې دې.نواجازت به وی ځکه چه قاعده ده.«الضرورات تبيح المحظورات» بيا خاص کرپه داسې موقع خوددې اعتراض هډو ضرورت نشته.چه دا عمل د نبی ﷺ اوصحابه نه صادرشوې دې.(۲)

ديوکس په خبر باندې قطعی قبله پريخودل څنګه جائز شو؟ دلته په حديث باب کښې تاسوګورئ چه يوکس دجمات خلقو په خواه کښې تيريږی. اودا خبر ورکوی چه قبله بدله شوه.اوددغه يوکس په خبر باندې يقين کوی .اوټول مونځګذار خپل مخ بل طرف ته اړوی اوس سوال دا دې.چه دبيت المقدس قبله خوپه يقينی دليل سره ثابته وه صحابه کرامو ﷺ نبی اکرم ﷺ په خپلو سترګوباندې بيت المقدس طرف ته په استقبال کولوباندې ليدلې وو.نوصرف ديوکس په خبرباندې دې حضراتوقطعی قبله څنګه پريخوده.اوکعبې طرف ته ئې مخ کړل؟

ددې جواب دا دې.چه خبر واحدکه محتف بالقرائن وی.يعنی هغې سره قرائن شامل شی نوهغه د قطعيت فائده ورکوی.(۳)

---

(۱) فتح البارى(۱۱\۵۰۷) كتاب الصلاة باب ماجاء فى القبلة)۔

(۲) فتح البارى(۱۱\۵۰۷) كتاب الصلاة باب ما جاء فى القبلة او السعاية فى كشف ما فى شرح الوقاية (۲\۱۶۳)

(۳) نزهة النظرفى توضيح نخبة الفكر(۲۴\۲۷)_

دلته اوګورئ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته دا معلومه وه چه د نبی کریم ﷺ خواهش اوآرزو بلکه ډیرخواهش اوآرزو دا ده چه بیت الله قبله جوړه کړې شي اوبیا دهغه مناسبتونو هم هغوی ته علم وو کوم چه د نبی ﷺ د خانه کعبې سره وو ددې وجې هغوی ته دا معلومه شوه چه دا حکم خامخا راتلونکې دې ددې وجې دا محتف بالقرائن وو اوپه دې سره د قطعیت فائده حاصله شوه ددې وجې صحابه کرامو رضي الله عنهم دیوکس په خبر باندې عمل اوکړو والله أعلم[1]

آیاچه د خارج نه دیوخیز تلقین اوشی اوپه هغې باندې عمل اوشی په دې مونځ نه فاسدیږی؟
دلته یوه خبره دا ده چه دخارج نه یوکس مونځګذار ته تلقین اوکړی اوهغه پرې عمل اوکړی نوپه دې سره مونځ فاسدیږی حالانکه دلته دخارج نه یوکس د بنو عمروبن عوف په جماعت کښې یعنی مسجد قباء کښې اومسجد بنی حارثه کښې مونګذارته دا بنائی چه قبله بدله شوې ده خپل مخ واړوئ اوخلقوهغه دهغه کس تلقین قبلول کړو اوخپل مخونه ئې بیت الله ته واړول آیا په دې باندې مونځ فاسد نشو؟
ددې جواب دا دې که یوکس دخارج نه مونځګذار ته څه هدایت ورکړی او مونځګذار دهغه په هدایت باندې بغیردڅه چون چراء اوبغیرد سوچ غورنه عمل اوکړی نومونځ فاسدیږی اوکه دهغه په هدایت باندې مونځګذار پخپله عمل اوکړی اودغور کولونه هغه ته خپله غلطی معلومه شی اوبیا هغه ددې اصلاح اوکړی نوپه داسې صورت کښې مونځ نه فاسدیږی[2]
دلته به هم دا صورت راپیښ شوې وی چه چونکه د داسې حکم د راتلو امید وو ددې وجې دخبر ملاویدونه پس به هغوی سوچ کړې وی چه دخبرپه صحت باندې ئې یقین راغلې وی نوبیا به ئې خپل مخونه اړولی وی والله أعلم بالصواب.

قوله: وَكَانَتِ الْيَهُودُ قَدْ أَعْجَبَهُمْ إِذْ كَانَ يُصَلِّي قِبَلَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ وَأَهْلُ الْكِتَابِ: یهودوته نبی ﷺ په هغه وخت کښې خوښ وو په کوم وخت کښې چه نبی ﷺ بیت المقدس طرف ته مخ کولو اواهل کتاب هم خوشحاله وو.
یعنی دیهودو دا خبره خوښه وه چه نبی ﷺ بیت المقدس طرف ته مونځ کوی څکه چه بیت المقدس دهغوی قبله وه.
دلته په «وأهل الکتاب» کښې «أهل» مرفوع دې اوددې عطف په «الیهود» باندې دې سوال دا

---

[1] فتح الباری(۱\۵۰۷) کتاب الصلاة باب ماجاء فی القبلة)_
[2] قال ابن العابدین رحمه الله فی ردالمحتار(۱\۴۲۲) وفی القنیة قیل لمصل منفرد تقدم فتقدم بأمره أو دخل فرجة الصف فتقدم المصلی حتی وسع المکان علیه فسدت صلاته وینبغی أن یمکث ساعة ثم یتقدم برأی نفسه وعلله فی شرح القدوری بأنه إمتثال لغیرأمرالله تعالی)..
وقال فی الدرالمختار(۱\۴۵۹و۴۶۰) .. لوإمتثل أمرغیره .فقیل له تقدم فتقدم أو دخل فرجة الصف أحد فوسع له فسدت بل یمکث ساعة ثم یتقدم برأیه قهستانی معزیاً للزاهدی)_

دي چه داهل کتابونه کوم خلق مراد دي؟قرين قياس دا دی چه داهل کتاب نه نصارئ مراد دی خواشكال دا دي که انصارئ مراد وی نود يهودو د خوشحاليدو يوه جانزه وجه دا وه چه دهغوی دقبلې استقبال كولې شو خو د نصارئ دخوشحالئ دپاره په دې كښې څه سامان نه وو خكه چه دهغوی قبله بيت المقدس نه وو بلكه بيت اللحم وو كوم چه دهغه خانې نه جنوبى طرف ته واقع وو.

خوونيلى شي چه نبی ﷺ بيت المقدس ته مخ كولو نوبه دې كښې نصارو ته په دوو وجوهو خوشحالى كيدې شوه.

يوه وجه خودا چه كوم كس په مدينه كښې بيت المقدس ته مخ كوى نودهغه مخ تبعاً بيت اللحم ته هم راځى خكه چه دمدينې منورې نه دواړه په يوطرف وو.

دويمه وجه دا ده چه نصارئ هم د دين موسوى اودتورات د احكامو مامور وو خكه چه په انجيل كښې احكام ډير كم وو زياتې قصې اومواعظ وو نوخكه د قوانينواواحكامو اصل مجموعه د نصارو دپاره تورات وو چونكه د اهل تورات قبله هم بيت المقدس وو نوخكه نصارئ ورسره هم خوشحاله شول.

دنصارو دخوشحالئ يوه وجه دا هم كيدې شي چه داسلام په مقابله كښې ټول امتونه يو دی نصارئ دا سوچ كولو چه زمونږ قبله دې متعين نه وی خوچه كومه قبله دمسلمانانو دپاره د سكون باعث وه چه هغه خو هم جوړه نشى.

اوكه د «أهل كتاب» نه نصارئ مراد نه وی نوبيا به بيا عطف الخاص على العام وی اوپه دې صورت كښې به د ..يهود.. نه مراد عوام اوداهل كتاب نه مراد ديهودوعالمان وی اوداهل كتاب نه هغه يهود هم مراد كيدې شي كومو چه اسلام قبول كړې وو يا داسلام قبلونكى جوړيدل دهغوى دخوشحالئ يوه وجه دا هم كيدې شوه چه هغوى ته دخپل ايمان دپاره يوه نښه ملاؤ شوه خكه چه د نبی ﷺ د نبوت په نښوكښې يوه نښه دا هم وه چه دځه ورځودپاره به د بيت المقدس استقبال هم كوى.(۱)

علامه كرمانى رحمه الله ونيلى دی چه دا هم كيدې شي چه په «وأهل الكتاب» كښې واو د ..مع.. په معنى وی اوددې نه روسته دمفعول معه په وجه منصوب وی اوس به تقديرد عبارت دا وی «كان يصلى نحو بيت المقدس مع أهل الكتاب» يعنى يهودو ته به دا ښه معلوميده چه نبی ﷺ د اهل كتاب يعنى يهوديانوسره بيت المقدس ته مونځ كوى علامه كرمانى رحمه الله فرمائى «وهذا هو الأظهر لو صح رواية النصب»(۲)

---

۱) ددې ټولوتفصيلاتو دپاره اوګورئ شرح كرمانى(۱\۱۶۵) وفتح البارى(۱\۹۷) وعمدة القارى (۱\۲٤٤) وفضل البارى(۱\٤۷۶) وإيضاح البخارى(٤\۳۶۳)۔

۲) شرح كرمانى(۱\۱۶۵) وعمدة القارى(۱\۲٤٤)۔

قوله فَلَمَّا وَلَّى وَجْهَهُ قِبَلَ الْبَيْتِ أَنْكَرُوا ذَلِكَ: بيا كله چه نبي ﷺ بيت الله طرف ته مخ كړو نويهودو اعتراض كول شروع كړو دانكار دا صورت هم كيدې شي چه د دوى تراوسه پورې كوم عمل وو يا به هغه صحيح وو اويا چه اوس څه كوى دا به صحيح وى.نوكه د ماضى عمل ئې صحيح وو.نواوس چه كوم عمل كوى.دا غلط دې اوكه دا عمل صحيح وى نوبيا د ماضى عمل به غلط وو.

ددې جواب دا دې چه تراوسه پورې نبي ﷺ دالله تعالى په حكم باندې بيت المقدس ته مخ كولو اوپه دې استقبال كښې ستاسوتاليف مقصود وو خوددې نه پس الله تعالى بيت الله قبله اوګرځوله.خكه چه ستاسودپاره تاليف مفيد نشو. اوكعبه چونكه د نبي ﷺ د جدامجد حضرت ابراهيم ﷺ قبله ده.او د هغوى قبله پاتې شوې ده.نونبي ﷺ دخپل مورث اعلى قبلې طرف ته واړولې شو.

د انكاردا صورت هم كيدې شي.چه هغوى وئيلى وى.دوى بيت المقدس ولې پريخودو او خانه كعبه ئې قبله جوړه كړه.حالانكه بيت المقدس خودانبياء سابقينوعليهم السلام قبله وه ددې جواب دا دې.چه بيت المقدس اګرچه دانبياء بني اسرائيل عليهم السلام قبله وه خو خانه كعبه دحضرت ابراهيم او حضرت اسماعيل عليهما السلام قبله ده.نودواړه د پيغمبرانوعليهم السلام قبلې شوې.اوكعبې ته ددې وجې هم ترجيح حاصل ده.چه دا د محمد ﷺ جدامجد حضرت اسماعيل اوحضرت ابراهيم عليهما السلام قبله پاتې شوې ده.والله أعلم.

قوله قَالَ زُهَيْرٌ حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ عَنِ الْبَرَاءِ فِي حَدِيثِهِ هَذَا: علامه كرمانى ﷫ فرمائى.چه په دې كښې يواحتمال خو دا دې.چه امام بخارى ﷫ دا دتعليق په طورذكركړې وى.اودا احتمال هم شته.چه د حديث سابق د لاندې دا داخل وى.بيا خاص كركله چه حرف عطف مقدرمنل هم جائز اوګرځولې شى.((كما هومذهب بعض النحاة)) (١)

حافظ ابن حجر ﷫ په جزم سره فرمائيلى دى.چه دا دحديث سابق د لاندې دې.امام بخارى ﷫ دخپل عادت مطابق حرف عطف حذف كړې دې.اودا ئې ذكركړې دې.كوموحضراتوچه دا تعليق ګرځولې دې.دهغوى نه غلطى شوې ده. خكه چه امام بخارى ﷫ په كتاب التفسيركښې دا ټكړه د پورتنى حديث سره «عن أبي نعيم عن زهير» په طريق سره مكمل نقل كړې دې.(٢)

علامه عينى ﷫ اول خو په علامه كرمانى ﷫ باندې رد كړې دې.چه هغوى تقديرحرف عطف منلې دې.اودا ئې مسند ګرځولې دې.حالانكه دصحيح مذهب مطابق د حرف عطف تقدير صحيح نه دې.

---

(١) شرح الكرمانى(١١٦٥١)_

(٢) فتح البارى(١١٩٨١)_

اوبيا نې په حافظ ابن حجر رحمه الله باندې په دې طريقه رد کړې دې چه هغوی دتعليق احتمال بيخي رد کړې دې علامه عينی رحمه الله فرمائي چه په دې کښې هيڅ شك نشته چه ددې صورت هم د تعليق دې اومعلق کيدو احتمال هم موجود دې خکه چه په دې ټکړه کښې اوپه ماقبل حديث کښې داسې څه څيز نشته کوم چه لازمي طور دواړه يوګرځول ضروري وی اوترکومې پورې چه په تفسيرکښې هم په يوسياق سره د ذکرکولوتعلق دې نودهغې نه دا نه لازميږی چه په دې مقام کښې تعليق نه دې.

زهيربن معاويه چه دلته دحضرت براء رضي الله عنه حديث ذکرکړې دې ددې تخريج امام ترمذی او ابوداود د ابن عباس رضي الله عنهما نه کړې دې (١) «قال لما وجه النبى ﷺ إلى الكعبة قالوا: يارسول الله ﷺ كيف بإخواننا الذين ماتوا وهم يصلون إلى بيت المقدس فأنزل الله تعالى (وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيْعَ اِيْمَانَكُمْ)» (اللفظ للترمذى) ددې تخريج ابن حبان هم په خپل صحيح کښې کړې دې (٢) اوامام حاکم رحمه الله په مستدرك (٣) کښې کړې دې (٤)

قوله: أَنَّهُ مَاتَ عَلَى الْقِبْلَةِ قَبْلَ أَنْ تُحَوَّلَ رِجَالٌ وَقُتِلُوا: يعنى د بيت المقدس نه بيت الله طرف ته دقبلې بدليدو نه وړاندې څه حضرات وفات شوی وو اوقتل کړې شوی وو

د «أنه» ضمير ضمير شان دې اود «مات» فعل، فاعل «رجال» دې په مينځ کښې «قبل أن تحول» دفعل اوفاعل په مينځ کښې دجمله معترضه په طور سره ده. اود «قتلوا» عطف په «مات» باندې دې اود «القبلة» نه مراد «القبلة المنسوخة» يعنى بيت المقدس مراد ده (٥)

دفرضيت صلاة نه پس اوتحويل قبلې نه مخکښې چه کوم حضرات وفات شوی وو هغه ټول لس کسان وو په هغوی کښې د دريوکسانو وفات، عبدالله بن شهاب زهری، مطلب بن ازهر زهری. او سکران بن عمروعامری رضي الله عنهم په مکه کښې شوې وو اودپنځوحضراتو، حطاب حای مهملې سره- بن حارث جمحی، عمروبن اميه اسدی، عبدالله بن حارث سهمی، عروه بن عبدالعزی عدوی، اوعدی بن نضله عدوی رضي الله عنهم وفات په حبشه کښې شوې وو اود دوو حضراتو حضرت براء بن معرور اواسعدبن زراره رضي الله عنهما وفات دچا تعلق چه د مدينې د انصارو سره وو په مدينه کښې شوې وو.

په دغه موده کښې يوکس اياس بن معاذ شهلی رضي الله عنه هم وفا شوې وو. خو دهغوی اسلام

---

(١) سنن أبي داود كتاب السنة باب الدليل على زيادة الإيمان ونقصانه رقم ٤٦٨٠) وجامع ترمذی كتاب التفسيرباب ومن سورة البقرة رقم ٢٩٦٤)_

(٢) مواردالظمآن إلى زوائد ابن حبان(ص.٤٢٥) كتاب التفسير.سورة البقرة رقم ١٧١٨)_

(٣) مستدرک للحاكم(٢\٢٦٩) كتاب التفسير)_

(٤) عمدة القارى(١\٢٤٨و٢٤٩)_

(٥) عمدة القارى(١\٢٤٩)_

مختلف فيه دي.(١)

ياد ساتي:چه دلته د ((مات رجال)) سره ((وقتلوا)) هم ونيلى شوى دى د ((قتلوا)) دا لفظ دزهيرد طريق نه سوا په بل طريق كښې نشته بلكه په ټولو روايتونوكښې د((موت)) ذكرراغلې دې.(٢)

ددې وجې علامه عينى رحمه الله فرمائى. ((فيحتمل أن تكون هذه غيرمحفوظة))(٣) يعنى ددې خبرې احتمال شته چه دا لفظ غيرمحفوظ وى.

حافظ ابن حجررحمه الله فرمائى.چه ماته چرته هم داخبر نه دې ملاؤ شوې چه دتحويل قبلې نه وړاندې يومسلمان هم قتل شوې وى.خودعدم ذكرنه عدم وقوع نه لازميږى ددې وجې كه دا لفظ د ((قتلوا)) محفوظ وى.نوپه دې به محمول وى.چه په دغه مودا كښې څه غيرمعروف مسلمانان قتل شوى وو.دهغوى د نومونو اهتمام ځكه نه دې كړې شوې.چه په هغه زمانه كښې د تاريخ زيات اهتمام نه وو.

حافظ رحمه الله فرمائى.چه ماته په مغازى ابن اسحاق كښې د يوكس سويدبن الصامت ذكرملاؤ شوې دې.ابن اسحاق رحمه الله فرمائى.چه دا كس نبى ﷺ سره دهغه وخت نه وړاندې ملاؤ شوې وو.كله چه انصارد نبى ﷺ سره په عقبه اولى كښې ملاؤ شوى وو.نبى ﷺ هغه ته داسلام دعوت وركړو.په دې باندې هغه اوونيل.((إن هذا القول حسن))ددې نه پس هغه مدينې منورې ته واپس شو.اوهلته د ،بعاث، (په باء ضمه اوعين مهمله مفتوحه اوددې نه پس الف اوپه آخركښې ثاثې مثلثه) (٤)كښې قتل شوې وو.دا دهجرت نه وړاندې واقعه ده.دده قوم به ونيل.((لقدقتل وهومسلم))(٥) كيدې شى.چه د ((قتلوا)) دا كس مراد وى.(٦)

خوعلامه عينى رحمه الله فرمائى.چه اول خودا ټول كلام په هغه وخت كښې دې. چه دا لفظ محفوظ وى.اوددې محفوظ كيدل يواحتمالى امردې.اوپه احتمال باندې حكم لګول صحيح نه دى.

اوبيا تركومې پورې چه دحافظ رحمه الله ددې قول تعلق دې.چه په هغه وخت كښې تاريخ زيات اهتمام نه وو.نودا نشى منلې.ګورئ نه د فرضيت صلاة نه پس اود تحويل قبلې نه وړاندې په كوم ملك كښې اوپه كوم ښاركښې څوك په خپل مرګ مړه شوى وو.دهغې هم څومره اهتمام سره ذكرشوې دې.نوكه څوك په دغه وخت كښې قتل شوى وو.نويقيناً دهغې ذكربه هم په يقين سره زيات په اهتمام سره وې.ځكه چه خپل مرګ د قتل نه يقيناً غيرمعمولى دې.

---

(١) فتح البارى(١١٩٨) وعمدة القارى(١١٢٤٩)_
(٢) المصادرالسابقة)_
(٣) عمدة القارى(١١٢٤٩)_
(٤) معجم البلدان(١١٤٥١)_
(٥) السيرة النبوية لابن هشام (١١٢٦٥و ٢٦٦)_
(٦) فتح البارى(١١٩٨)_

اوترکومې پورې چه د سویدبن الصامت دواقعه تعلق دې.نوهغه دلیل جوړول دې وجه صحیح نه دي.چه ددغه کس اسلام متفق علیه نه دې.بیا بله دغوړ خبره دا ده چه دلته «قتلوا»صیغه د جمعې ده.اوهغه صرف یوکس دې.دیوکس دپاره دجمعې دصیغې استعمال څنګه صحیح کیدې شي؟

بیا دلته دا خبره هم دغور قابله ده.چه دصغاني وغیره د تصریح مطابق ..بعاث.. د مدینې منورې نه د دوو ورځو په مسافت باندې یوځائې دې.چرته چه په جاهلیت په زمانه کښې اوس اوخزرج جنګ شوې وو.په هغه وخت کښې اسلام نه وو.په داسې زمانه کښې دیوکس په قتل باندې څنګه استدلال کولې شي.چه دهغه قتل په هغه وخت کښې شوې وو کله چه بیت المقدس قبله وه.([1])

حافظ ابن حجر رحمه الله دخپلې زمانې دبعضې فضلاؤ په حوالې سره لیکي.چه ممکن ده «قتلوا»نه مراد په مکه معظمه کښې ضعیفه مسلمانان مراد وی.لکه دعمار رضی الله عنه مورپلار. حافظ رحمه الله فرمائی.چه دا مراد اوګرځولې شي.نودې دپاره ددې ثبوت ضروری دې چه دهغوی شهادت داسراء نه پس یعنې د فرضیت صلاة نه پس شوې وو.([2])والله أعلم

قوله: فَلَمْ نَدْرِ مَا نَقُولُ فِيهِمْ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ:

مونږ ته نه معلومیده.چه مونږ د داسې خلقوپه باره کښې څه اووایو.آیا دهغوی په ثواب کښې خوبه څه کمې نه وی راغلې.نوالله تعالی دا آیت نازل کړو.

دذکرشوی آیت شان نزول اوددې سره متعلقه ټولوتفصیلاتوباندې په ترجمة الباب کښې وړاندې کلام شوې دې.

۳۰ =بَابٌ حُسْنُ إِسْلَامِ الْمَرْءِ

دماقبل سره ربط: حافظ ابن حجر رحمه الله دماقبل باب «الصلاة من الإيمان» او باب «حسن إسلام المرأ» په مینځ کښې دامناسبت بیان کړې دې.چه په ماقبل باب کښې دصحابه کرامو رضی الله عنهم ددینی حرص دهغوی دشغف ذکروو.چه هغوی سره دا فکرپیدا شوې وو. چه قبله خو بدله شوه.زمونږ دهغه وروڼو په څه کیږی.چاچه اولنۍ قبلې ته مونځونه کول.آیا دهغوی په ثواب کښې خوبه کمې نه وی راغلې.دامام بخاری رحمه الله ذهن ددې ځائې نه دتحریم خمر واقعه نه

---

[1]) عمدة القاری(۱\۲۴۹)..

معلومه دې وی.چه علامه عینی رحمه الله په حافظ باندې رد په دې طریقه کړې دې.چه د ((بعاث)) واقعه دجاهلیت په زمانه کښې راغلې وه.اودسویدبن الصامت قتل د بعاث په موقع شوې وو.اوپه سیرت ابن هشام (۱\۲۶۶) کښې دی.((وکان قتله قبل یوم بعاث)) چه د سوید قتل د یوم بعاث نه وړاندې شوې وو په دې طریقه دعلامه عینی رحمه الله اشکال نور هم سختیږی.والله أعلم.)_

[2]) فتح الباری(۱\۹۸)_

منتقل شو چه هم داسې قسم اشكال دتحريم خمريه واقعه كښې هم پيښ شوې وو چه دشراب څكلواول اجازت وو او روسته دهغې حرمت نازل شو.خوپه دغه دوران كښې بعضې صحابه كرام رضي الله عنهم وفات شوى وو اوبعضې شهيدان شوى وو اودهغوى په خېټوكښې شراب موجود وو.دهغوى حال به څه وى؟ په هغې باندې آيت نازل شوې وو ﴿لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاَحْسَنُوْا ۭ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ﴾(١)په هغې كښې ذكرراغلې وو چه دمحسنينودپاره د ويرې څه خبره نشته.دغه شان دالله تعالى ارشاد دې﴿اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ مَنْ اَحْسَنَ عَمَلًا﴾(٢) يعنى الله تعالى د نيكانو خلقودعمل ثواب نه ضائع كوى.صحابه كرامو رضي الله عنهم خو نيك عمل كونكى وو دهغوى عمل به ولې ضائع كيږى. نوددې احسان نه انتقال د ذهن اوشو اوترجمه ئې قائمه كړه ((باب حسن إسلام المرء))(٣)

حافظ رحمه الله چه كوم مناسبت بيان كړې دې.دا ډير لرې مناسبت دې.ددې نه غوره توجيه هغه ده.كومه چه علامه عينى رحمه الله بيان كړې ده.هغوى فرمائى چه وړاندې : ((الصلاة من الإيمان)) ذكروو.اوپه دې باب كښې ((من حسن إسلام المرء)) ذكردې.اودا معلومه ده. چه ((لايحسن إسلام المرء إلا بإقامة الصلاة))چه په مانځه سره د سړى په اسلام كښې حسن راځى.نوپه دې طريقه په دواړو بابونوكښې مناسبت موجود شو.(٤)

د ترجمة الباب مقصد: دترجمة الباب مقصد دمعمول مطابق په ايمان كښې دزيادت اونقصان اثبات دې. او ورسره ورسره په مرجئو،معتزلواوخوارجوباندې رد هم دې

تركومې چه په ايمان كښې زيادت اونقصان تعلق دې.نوپه دې باندې داسې پوهه شئ چه يودې اسلام اويو دې په ددې حسن.داسلام معنى ده.اطاعت.نوكه د ظاهرسره په باطن كښې هم اطاعت وى.نوپه اسلام كښې يوقسم حسن پيدا شو. اوكه دې سره مزيدانشراح پيدا شى.نوپه اسلام كښې دحسن نوره اضافه هم اوشى .اوكه دطاعتواواعمال صالحه په ذريعه په ايمان كښې نورنورانيت اوورحانيت پيدا شى.نوددې حسن به نورهم زيات شى.غرض دا چه اسلام حسن قبلوى. او دحسن مختلف مراتب دى.ددې نه معلومه شوه چه په اسلام كښې كمې اوزياتې كيږى.اواسلام او ايمان يوځيزدې.نوهركله چه په اسلام كښې تفاوت ثابت شو.نوپه ايمان كښې هم ثابت شو.والله أعلم.

دمرجئوترديد په دې طريقه كيږى.چه چونكه داسلام حسن په اعمالو سره راځى.اوپه دې

---

(١) المائدة:۹۳)_

(٢) الكهف:۳۰)_

(٣) فتح البارى(۹۸\۱)قبيل باب حسن إسلام المرء)_

(٤) عمدة القارى(۲٤۹\۱)_

حسن كښې په اعمالوكښې دتفاوت په وجه كمې زياتې راخي.نودا ثابته شوه چه اعمال دايمان او اسلام دپاره جزء دي.نوپه دې طريقه د مرجئو هم ترديداوشو.خكه چه دهغوى په نيزداعمال په وجود اونه وجود كښې څه فرق نشته.
دمعتزلوٓ اوخوارجوترديد داسې دې چه په اعمالوكښې د زيادت په صورت كښې به د اسلام او ايمان په حسن كښې زيادت كيږى.او په اعمالو كښې به كمى راخي.دايمان اواسلام نفي نه كيږى. والله أعلم بالصواب.

[۴۱] قَالَ مَالِكٌ أَخْبَرَنِي زَيْدُ بْنُ أَسْلَمَ أَنَّ عَطَاءَ بْنَ يَسَارٍ أَخْبَرَهُ أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ (١) أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا أَسْلَمَ الْعَبْدُ فَحَسُنَ إِسْلَامُهُ يُكَفِّرُ اللَّهُ عَنْهُ كُلَّ سَيِّئَةٍ كَانَ زَلَفَهَا وَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ الْقِصَاصُ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ اللَّهُ عَنْهَا .

رجال الحديث

① مالك:دوى امام مالك بن انس رحمه الله دى.ددوى حالات د«باب من الدين الفرار من الفتن» لاندې تيرشوى دى.

② زيد بن اسلم:ددوى حالات د«باب كفران العشير وكفر دون كفر»لاندې تيرشوى دى.

③ عطاء بن يسار:دوى حالات وړاندې «باب كفران العشير وكفر دون كفر»لاندې تيرشوى دى.

④ حضرت ابوسعيد الخدرى رضى الله عنه: ددوى حالات وړاندې «من الدين الفرار من الفتن»لاندې تيرشوى دى.

قَالَ مَالِكٌ:دا تعليق دې.خكه چه دبخارى رحمه الله دامام مالك رحمه الله نه سماع ثابته نه ده.امام بخارى رحمه الله دلته دا تعليقاً ذكركړې دې.اوبيا ئې دا په خپل كتاب كښې موصولاً چرته هم نه دې ذكركړې.د داسې رواياتوشماريوسل يوكم شپيته دى.لكه څنګه چه مونږ دكشف البارى په مقدمه كښې ذكركړى دى.(٢)
علامه ابن حزم رحمه الله فرمائى.چه دا چونكه معلق روايت دې.اوپه تعليق كښې انقطاع وى. نودا انقطاع به قادح وى.اودا به صحيح نشي ګرخولې.(٣)
خوعلامه عينى رحمه الله فرمائى.چه دعلامه ابن حزم رحمه الله خبره صحيح نه ده. خكه چه دا اګرچه دلته تعليقاً مروى دې.ليكن په ګڼرو طرقو سره دا موصولاً مروى دې.امام بخارى رحمه الله

---

(١) الحديث أخرجه النسائى فى سننه (١٢/٢٦٦و ٢٦٧) كتاب الإيمان وشرائعه باب حسن إسلام المرء)_
(٢) كشف البارى(١/١٥٨) مقدمة الكتاب تعداد روايات بخارى)_
(٣) عمدة القارى(١/٢٥٠)_

دشهرت د وجې هغه طرق ذكرنكړل.بله دا چه دامام بخارى رحمه الله عادت اوطريقه معلومه ده. چه دوى بغيرد ثبوت اود تثبت نه په جزم سره روايت نه نقل كوى.اوبيا دلته دوى ((قال مالك)) فرمائيلى دى.په جزم سره روايت كوى.بيا هرمنقطع قادح فى الصحة خو نه وى.نو په ذكرشوى روايت باندې اگرچه اصطلاحاً د انقطاع اطلاق كولې شى خوپه حقيقت كښې دمتصل په حكم كښې دې.خكه چه دا روايت صحيح دې.(۱)

دا تعليق ابوذرهروى رحمه الله په بعضونسخوكښې (۲)امام نسائى په خپل سنن كښې(۳) امام اسماعيلى رحمه الله په خپل مستخرج كښې (۴)امام بزارپه خپله مسندكښې (۵)امام بيهقى په شعب الايمان كښې (۶)امام دارقطنى رحمه الله په غرائب مالك كښې (۷) حسن بن سفيان رحمه الله په خپل مسند كښې(۸) اوامام اسماعيل بن عبدالله سمويه رحمه الله په خپلو..فوائد.. كښې (۹) نقل كړې دې.

دوه اشكالات اوهغې جوابونه. په دې سند باندې دوه اشكال خودا كيږى.چه دا روايت معن بن عيسى رحمه الله د،، مالك عن زيد عن عطاء عن أبى هريرة رضى الله عنه))په طريق سره نقل كوى.لكه چه په دې خبره كښې شك دې.چه دا روايت د حضرت ابوسعيد رضى الله عنه نه مروى دې.اوكه د حضرت ابوهريره رضى الله عنه نه؟ (۱۰)

دويم اشكال دا دې.چه سفيان بن عيينه رحمه الله دا روايت د ((زيدبن أسلم عن عطاء))په طريق سره مرسلاً نقل كوى.په هغې كښې نه دحضرت ابوسعيدخدرى رضى الله عنه ذكرشته. اونه دحضرت ابوهريره رضى الله عنه(۱۱) امام بزار رحمه الله فرمائى.((لانعلم رواه عن زيدبن أسلم عن عطاء عن أبى سعيد إلا مالك))(۱۲)

---

(۱) المصدرالسابق)_
(۲) كما فى الفتح (۱\۹۸) والعمدة (۱\۲۵۰) وتغليق التعليق(۲\۴۴) وهدى السارى(ص.۲۰)_
(۳) سنن نسائى (۲\۲۶۶و ۲۶۷) كتاب الإيمان وشرائعه باب حسن إسلام المسلم)_
(۴) فتح البارى(۱\۹۸) وعمدة القارى(۱\۲۵۰) وهدى السارى(.۲۰) وتغليق التعليق(۲\۴۴و ۴۵)-
(۵) المصادرالسابقة)_
(۶) شعب الإيمان للبيهقى (۱\۵۸و ۵۹) باب الدليل على أن الإيمان والإسلام على الإطلاق وعبارتان عن دين واحد رقم ۲۴)_
(۷) فتح البارى(۱\۹۹) وعمدة القارى(۱\۲۵۰) وهدى السارى (ص.۲۰) وتغليق التعليق(۲\۴۵و ۴۸)_
(۸)المصادرالسابقة)_
(۹) تغليق التعليق (۲\۴۶) وهدى السارى(ص.۲۰)-
(۱۰) فتح البارى(۱\۹۹) وعمدة القارى(۱\۲۵۰) وتغليق التعليق(۲\۴۸)_
(۱۱) المصادالسابقة)_
(۱۲) تغليق التعليق(۲\۴۶)_

ترکومې پوړې چه داونی اشکال تعلق دې نوهغه ددې وجې قابل اعتناء نه دې.چه امام دارقطنی رحمه الله فرمائیلی دی معن بن عیسی کوم چه دا روایت د حضرت ابوسعیدخدری رضی الله عنه په ځائې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه نقل کوی دا د نورو ټولوطرقو نه خلاف دې.څکه چه کم نه کم نهه حضرات ، ابن وهب، ولیدبن مسلم، طلحه بن یحیی، زیدبن شعیب، اسحاق بن فروی، سعید زبیری، عبدالله بن نافع، ابراهیم المختار، اوعبدالعزیزبن یحیی رحمهم الله د «مالك عن زید، عن عطاء عن أبي سعيد» په طریق باندې اتفاق کوی نو د معن بن عیسی طریق شاذ دې.دکوم چه څه اعتبار نشته.(۱) ددې نه علاوه چه د معن بن عیسی نه روایت کونکې راوی هم ضعیف دې(۲)

بې ترکومې پوړې چه دوصل اوارسال تعلق دې.نودا هم قادح نه دې.څکه چه سفیان بن عیینه رحمه الله اگرچه ثقه دې.خوامام مالك رحمه الله د اهل مدینې داحادیثوپه معامله کښې اتقن او احفظ دې.نود نورو په مقابله کښې به ددوی قول ته ترجیح وی.اوددوی تفرد دکوم طرف ته چه امام بزار رحمه الله اشاره کړې ده.هغه به هیڅ مضر نه وی.(۳)

هم دا وجه ده.چه خطیب بغدادی رحمه الله «الرواة عن مالك» کښې لیکی.«هذا الحديث ثابت من حديث مالك»(۴) اوابن بطال رحمه الله فرمائی «هوحديث مشهور من رواية مالك في غيرالموطا»(۵)

قوله: إِذَاأَسْلَمَ الْعَبْدُ فَحَسُنَ إِسْلَامُهُ يُكَفِّرُ اللَّهُ عَنْهُ كُلَّ سَيِّئَةٍ كَانَ زَلَفَهَا: بنده چه کله مسلمان وی.اودده اسلام حسن وی.یعنی هغه ښه مسلمان جوړ شی.نوالله تعالی دهغه هرهغه ګناه معاف کړی.کومه چه هغه کړې وی.

قوله: زَلَفَهَا: علامه خطابی رحمه الله فرمائی.چه «زلف» (ازباب تفعيل) او «أزلف» (ازباب إفعال) دواړه یوه معنی لری.یعنی «أسلفها وقدمها»(۶)

صاحب محکم ابن سیده رحمه الله لیکلی دی.«زلفه» (مخففاً ازباب نصر) او «زلّفه» (مشدداً از باب تفعيل) ددې معنی ده.«قدمه»، اود «ازلفه» (ازباب افعال معنی «قربه» راځی.(۷)

ددې نه پس به دې باندې پوهه شی.چه زمونږ په نسخوکښې «زلفها» دې.په دې کښې اختلاف دې چه دا بالتخفیف دې اوکه بالتشدید؟

---

(۱) تغليق التعليق(۲\۴۸) وفتح الباری(۱\۹۹) وعمدة القاری(۱\۲۵۰)_
(۲) تغليق التعليق(۲\۴۸)_
(۳) فتح الباری(۱\۹۹) وعمدة القاری(۱\۲۵۰) وتغليق التعليق(۲\۴۹)_
(۴) تغليق التعليق(۲\۴۷) وفتح الباری(۱\۹۹) وعمدة القاری(۱\۲۵۰)-
(۵) عمدة القاری(۱\۲۵۰)_
(۶) عمدة القاری(۱\۲۵۱)_
(۷) المصدرالسابق)_

صاحب دمشارق بالتخيف ضبط كړې دې اوامام نووى رحمه الله بالتشديد.[۱] والله أعلم.

په حديث باب كښې دامام بخارى رحمه الله تصرف ددې حديث دوه حصې دى.يوه حصه خودا ده كومه چه ستاسو وړاندې ده. اوبله حصه امام بخارى رحمه الله حذف كړې ده.پوره حديث داسې دې:«إذا أسلم العبد فحسن إسلامه كفر الله عنه كل سيئة كان زلفها وكتب له كل حسنة كان زلفها..»

[۲] لكه چه امام بخارى رحمه الله ددې دويم جزء يعنى «وكتب له كل حسنة كان زلفها» كومه چه كتابت حسنه سره متعلق ده.حذف كړې ده.

دكتابت حسنه سره د متعلقه حصې حذف كولووجه بعضې عالمانو رحمهم الله فرمائيلى دى.چه امام بخارى رحمه الله د كتابت حسنه سره متعلقه حصه ځكه حذف كړې ده چه هغه د قواعدخلاف وه يعنى داسلام راوړلو نه پس د سيئاتو معاف كيدل خو ښكاره خبره ده.اوپه نصوص كښې مصرحه ده.[۳] ودمسلمانيدو په صورت كښې دكفر دزمانې اعمال حسنه باندې د اجر او ثواب ترتب دا د قواعدو خلاف خبره ده.[۴]

په طاعاتو،قرباتو،اوعباداتو د اجراوثواب ترتب دا خبره چه دا د قواعدو نه خلاف ده په دې باندې د پوهيدو دپاره اول په يوه مقدمه باندې ځان پوهه كړئ.ګورئ درې څيزونه دى طاعات. قربات او عبادات .په طاعاتوكښې دثواب حصول په موافقة الامرباندې موقوف وى.ځكه چه د طاعاتوحقيقت هم دا موافقة الامردې.[۵] په قرباتوكښې ثواب په هغه وخت كښې حاصليږى.چه متقرب ته د «من يتقرب إليه» معرفت حاصل وى.اوپه عباداتوكښې ثواب په هغه وخت كښې وى.چه دمعرفت سره نيت هم وى.[۶]

دطاعت مثال دالله تعالى دمعرفت حصول دې.اوكافردالله تعالى دمعرفت حصولو مامور دې.نوكه ده د الله تعالى معرفت حاصل كړو.ده ته به اجراوثواب ملاويږى

دقربت مثال صدقات نافله دى.دلته صرف د متقرب اليه معرفت كافى دې

دعباداتومثال صلاة .زكاة. صوم اوحج وغيره دى.په دې اموروكښې د متقرب اليه د معرفت سره سره نيت هم ضرورى دې

اوس په دې باندې پوهه شئ.چه كافرته نه معرفت حاصل دې اونه دده د نيت څه اعتبار شته.كه ده ته دالله تعالى معرفت حاصل وو.ده به كفر ولې كولو بيا هركله چه هغه د معرفت

---

[۱] المصدر السابق)-

[۲] تغليق التعليق (۴۵/۲) وسنن نسائى (۲۶۶/۲و ۲۶۷) كتاب الإيمان وشرائعه باب حسن إسلام المسلم)_

[۳] كما سيأتى تفصيله قريباً إن شاء الله تعالى)_

[۴] فتح البارى(۹۹/۱) وعمدة القارى(۲۵۲/۱)_

[۵] شرح نووى على صحيح مسلم (۷۶/۱) كتاب الإيمان باب بيان حكم عمل الكافر إذا أسلم بعده)_

[۶] شرح نووى (۷۶/۱) وفتح البارى(۹۹/۱) وعمدة القارى(۲۵۲/۱) وكشف البارى(۲۶۶/۱)_

نه خالي دي.كوم چه د قربت دپاره موقوف عليه ده. نو عبادت ته به څنګه رسې کوم څو کښې چه يوه درجه پورته بله ده.يعنى د معرفت نه پس د نيت وجود هم شرط دې.معلومه شوه.چه دکافرد قرباتو او عباداتو څه اعتبار نشته.

د كفر په زمانه كښې په اعمال حسنه باندې داجراوثواب ترتب خلاف قواعد نه دى

زياتومحققينوپه دې خبره باندې كلام كړې دې.د كفر په زمانه كښې په اعمال حسنه باندې ترتب دثواب خلاف قواعد دې.دا حضرات فرمائي.چه دا خبره صحيح نه ده.څكه چه خلاف قاعده خودا خبره ده.چه په زمانه دكفركښې كوم نيك اعمال اوشى.په هغه وخت كښې هغه ليكلى شى.حالانكه دحديث نه دا نه ثابتيږى.بلكه د حديث نه دا ثابتيږى كه په زمانه دكفركښې بعضې اعمال صالحه اوكړى.اوبيا مسلمان شى نواوس به دغه اعمال مضبه شمارلى شى.اوپه زمانه داسلام كښې هغه اعمال صالحه ليكل كوم چه په زمانه دكفركښې شوى وو.د قواعدو خلاف نه دى.دغه شان دا هم كيدې شى.چه دا اعمال غيرمعتبر وو خو داسلام په بركت الله تعالى هغه قبول كړى.اوپه هغې باندې داجراوثواب ترتب اوكړى.ديوې ډلې رايۀ ده.كه كافرپه حالت دكفركښې نيك اعمال كړى وى.اوبيا هغه مسلمان شى نوهغه ته به په دغه اعمال صالحه باندې اجراوثواب ملاويږى. (١)

امام نووى رحمه الله فرمائى.چه دمحققينو رحمهم الله په دې باندې اجماع ده.كه كافرد تقرب الى الله دپاره نيه اعمال كړى وى.لكه صدقات،صله رحمى.اواعتاق وغيره.اوبيا هغه اسلام راوړى.نودا ټول اعمال به ليكلى شى.اوكه داسلام په حالت كښې ورته مرګ راشى نوپه دې به ورته اجراوثواب هم ملاويږى.نودا خبره خلاف عقل هم نه ده.اوپه شريعت كښې دا خبره راغلې هم ده.(لكه چه مونږ به ئې وړاندې ذكراوكړو) نوددې خبرې قبولو ضرورى دى اودې ته دقواعدنه خلاف وئيل دمنلو خبره نه ده.(٢)

تركومې پورې چه دهغه فقهاؤ دقول تعلق دى.څوك چه دا وائى چه دكافرهيڅ عبادت صحيح نه دې.اوكه هغه اسلام راوړى.نوهم دهغې شمارنه كيږى.نودهغوى مراد دا دې چه د دنياوى احكامو په اعتبارسره دهغې څه اعتبارنشته.باقى پاتې شوه دا خبره چه په دې به په آخرت كښې ثواب وى اوكه نه؟ دفقهاؤ په قول كښې دې سره څه تعرض نشته.(٣)بيا دا هم يوحقيقت دې.چه دكافرد بعضې اعمالوپه دنيا كښې هم اعتبارشته.كه دكافره په ذمه كفاره ظهار لازمه شى.اوهغه هم په حالت دكفركښې كفاره ادا كړى.نودا به دهغه دپاره كافى وى.داسلام راوړلونه پس په ده باندې دهغې اعاده لازم نه ده.(٤)

(١) عمدة القارى(٢٥٣\١)-
(٢) عمدة القارى(٢٥٣\١) وفتح البارى(٩٩\١)_
(٣) شرح نووى على صحيح مسلم(٧٧\١) وعمدة القارى(٢٥٣\١)_
(٤) المصادرالسابقة)_

ابراهيم حربي، ابن بطال، قرطبي، اوابن منير رحمهم الله هم ددې قائل دی.[1]

ابن المنير رحمه الله فرمائی چه دقواعدوخلاف خودا خبره ده چه په زمانه د کفرکښې هغه اولیکلی شی اوترکومې پورې چه ددې صورت تعلق دې چه الله تعالی دهغه د اسلام راوړلو نه پس په نیکوکښې دهغه نیکواعمالو د ثواب زیادت اوکړی.کوم چه ده په حالت دکفر کښې کړې وی نوددې دپاره څه مانع موجود نشته.لکه څنګه چه دالله تعالی دپاره په دې خبره کښې څه مانع نشته.چه په یوبنده باندې بغیردڅه عمل نه فضل اوکړی.ګورئ هغه کس ته پوره ثواب ملاویږی.کوم کس چه د بیمارئ یا دڅه عذر په وجه خپل معمولات ادا نکړې شی. هرکله چه الله تعالی دمعدوم عمل ثواب لیکلی شی.نود موجود عمل ثواب به ولې نشی لیکلې؟ اګرچه په هغې کښې شروط نه وی.[2]

ابن بطال رحمه الله فرمائی.چه الله تعالی ته هرقسم اختیارشته.چه په خپلو بندګانو باندې څه قسم فضل اوکړی.چاته داعتراض کولوڅه حق نشته.[3]

دکفردزمانې په نیکو اعمالو داسلام راوړلو نه پس د اجراوثواب دترتیب دلائل په زمانه دکفر کښې چه کوم اعمال حسنه شوی وی.په هغې باندې داجراوثواب دحصول دلائل لاندې دی

① اولنې دلیل خوهم دا د ابوسعید خدری رضی الله عنه حدیث باب دې.کوم چه په دې مسئله کښې صریح دې.[4]

② دویم دلیل دحضرت حکیم بن حزام رضی الله عنه روایت دې.هغوی فرمائی.«یارسول الله أرأیت أشیاء کنت أتحنث بها فی الجاهلیة من صدقة أوعتاقة ومن صلة رحم فهل فیها من أجر؟ فقال النبی صلی الله علیه وسلم أسلمت علی ماسلف من خیر» اودمسلم په روایت کښې دی«أسلمت علی ما أسلفت من خیر»[5] یعنی په ماضی کښې چه تاسوکوم نیک اعمال کړی دی.تاسودهغې سره مسلمانان شوی ئې یعنی هغه اعمال عبث نه څی.

خوکوم حضرات چه دکفرد زمانې اعمال غیرمعتبرګنړی.هغوی ددې روایت په باره کښې فرمائی.چه ددې حدیث مطلب دا کیدې شی.چه تاسو دکفرپه زمانه کښې کوم ښه خصلتونه اوخویونه اختیارکړی وو.اوښه ښه اعمال موکړی وو. د هغې په وجه تاسو ته ملکه حاصله

---

[1] عمدة القاری(۲۵۳/۱) وفتح الباری(۹۹/۱و ۱۰۰)_

[2] عمدة القاری(۲۵۳/۱) وفتح الباری(۱۰۰/۱)_

[3] شرح نووی علی صحیح مسلم(۷۷/۱) وفتح الباری(۱۰۰/۱) وعمدة القاری(۲۵۳/۱)_

[4] وقد سبق تخریج الحدیث سابقاً مفصلاً)_

[5] انظرالصحیح البخاری کتاب الزکاة باب من تصدق فی الشرک ثم أسلم رقم (۱۴۳۶) وکتاب البیوع باب شراء المملوک من الحربی وهبته وعتقه رقم ۲۲۲۰) کتاب العتاق باب عتق المشرک رقم ۲۵۳۸) وکتاب الأدب باب من وصل رحمه فی الشرک ثم أسلم رقم ۵۹۹۲) والصحیح لمسلم (۷۶/۱) کتاب الإیمان باب بیان حکم عمل الکافرإذا أسلم بعده)_

شوې ده اوس دهغه ملكة په وجه تاسو په اسلام كښې هم نفع اخلئ نوكه دكفرپه زمانه كښې مو صدقات كول نواوس دهغې ملكه پيدا شوې ده چه داسلام په زمانه كښې به هم هغه ملكه تاسو صدقه كولوته اماده كوى يا غلامان مو آزادول نواوس په اسلام كښې به هم دهغې تقاضا وى.(۱)

بعضې حضراتوددې دويم مطلب بيان كړې دې هغوى فرمائى چه ددې حديث مطلب دا دې چه تاسودكفرپه زمانه كښې كوم نيك اعمال كړى دى په هغې باندې ستاسوتعريف كيږى تاسودهغې په وجه ثناء جميل حاصله كړې ده. خلقو ستاسو مدح اوتعريفونه كړى دى هغه بنه تعريفونه به تاسوته اوس په اسلام كښې هم حاصل وى.(۲)

بعضې حضراتوددې دا تاويل كړې دې چه «أسلمت ببركة ما أسلفت» يعنى دهغه نيكواوبنه اعمالوپه وجه تاته د مسلمانيدو توفيق ملاؤ شو «لأن المبادئ عنوان الغايات» خكه چه ابتدائى آثار د عاقبت دليل اوعنوان وى مشهوره ده چه نيكى. نيكى راكاږى نودبنه اعمالوپه وجه طبعيت ايمان طرف ته خى.(۳)

بعضې حضرات فرمائى چه ددې مطلب دا دې دهغه اعمالوپه بركت تاسوته په اسلام كښې رزق واسع ملاويږى.(۴)

خودا ټول معانى اوتاويلات دتبادر نه خلاف دى كه يوكس خالى الذهن وى. اودا حديث اووائى يا ئې واورى نوسمدستى به هغه په ذهن كښې هم دا راخى چه دكفرپه زمانه كښې كوم نيك اعمال شوى وى دمسلمانيدونه پس به دهغې اعتبار وى په دې صورت كښې به ددې معنى دا وى چه «أسلمت مع ما أسلفت» تادهغه نيكو اعمالو سره مسلمان شوې ئې كوم چه دې په تيره شوې زمانه كښې كړى دى. يعنى هغه به عبث اوضائع كيږى نه.

③ دريم دليل دمسلم شريف يوحديث دې حضرت عائشې ﵂ نبى كريم ﷺ ته عرض اوكړو «يارسول الله ابن جدعان كان فى الجاهلية يصل الرحم ويطعم المسكين فهل ذاك نافعه؟ قال ﷺ لا ينفعه إنه لم يقل يوماً رب اغفرلى خطيئتى يوم الدين»(۵) يعنى ابن جدعان به د جاهليت په زمانه كښې صله رحمى هم كوله مسكينانوته به ئې روټئ هم وركوله آيا دا اعمال به دهغوى دپاره نافع وى. نبى ﷺ اوفرمائيل دا به نافع نه وى خكه چه هغه يوه ورخ هم دا نه وو وئيلى چه «رب اغفرلى خطيئتى يوم الدين» ددې مطلب حضرات محدثين دا بيانوى چه چونكه هغه په بعث

---

(۱) شرح النووى على صحيح مسلم(۷۶/۱) وفتح البارى (۳۰۲/۳) كتاب الزكاة باب من تصدق فى الشرك ثم أسلم

(۲) المصادر السابقة)_

(۳) شرح نووى(۷۷/۱) وفتح البارى(۳۰۲/۳) وعمدة القارى(۲۵۳/۱)_

(۴) فتح البارى(۳۰۲/۳)-

(۵) صحيح مسلم(۱۱۵/۱)كتاب الإيمان باب الدليل على أن من مات على الكفر لاينفعه عمل)_

بعد الموت باندې ايمان نه ساتلو ددې وجې هغه كافر وو اودكفرپه حالت كښې مړ شوې وو. اودكفرپه حالت كښې په مرگ سره دا اعمال فائده نه ورکوی (۱)

معلومه شوه كه هغه ((رب اغفرلي خطيئتي يوم الدين)) ونيلي وو يعنى كه هغه په آخرت باندې ايمان راوړلو نودهغه نيك اعمال به دهغه په حق كښې ليكلى شول اودهغې ثواب به ورته ملاويدل والله سبحانه وتعالى أعلم.

دكفردزمانې په معاصى او جرائمو به داسلام راوړلونه پس مواخذه وى بيا په زمانه دكفركښې چه ئې كوم گناهونه اومعاصى كړى وى آيا د اسلام قبلولونه پس به په هغې باندې مواخذه وى اوكه كهاته به ختمه وى؟

جمهورعالمان رحمهم الله چه په هغوى كښې ائمه ثلاثه يعنى امام ابوحنيفه.امام مالك اوامام شافعى رحمهم الله هم داخل دى.ددوى رائې دا ده كه كافرد زړه په اخلاص سره مسلمان شى نود كفرسره معاصى هم ختميږى.(۲)

اوامام احمدبن حنبل رحمه الله (۳) په شوافعوكښې ابوعبدالله حليمى رحمه الله (۴) او ابوبكربيهقى رحمه الله (۵)اوپه ظاهريه كښې ابومحمدبن حزم رحمه الله (۶)واحنافو رحمهم الله په متاخرينوكښې علامه انورشاه كشميرى رحمه الله (۷)رائې دا ده چه په دې كښې تفصيل دې.كه داسلام نه پس لكه څنگه چه د كفر نه توبه اوويستله.دغه شان ئې د گناهونو نه هم توبه اوويستله.نواسلام لكه څنگه چه دكفرهادم دې.دغه شان به دگناهونو جرائموهم هادم وى.اوكه صرف دكفر نه ئې توبه اوويستله.اوپه معاصى اوجرائموكښې اوس هم مشغول وو.نوبيا به وړاندينى گناهونه نه معاف كيږى.اود روستنو جرائموسره به ترې د وړاندينو گناهونو هم تپوس كيږى.

---

(۱) شرح نووى على صحيح مسلم(۱۱۵\۱)_

(۲) أنظرفتح الملهم (۲۷۲\۱) كتاب الإيمان باب كون الإسلام يهدم ما قبله وكذا الحج والهجرة وفيه تفصيل حسن فراجعه لزاماً)_

(۳) فتح البارى(۲۶۶\۱۲و ۲۶۷) كتاب إستتابة المرتدين باب إثم من أشرك بالله وعقوبته في الدنيا والآخرة)

(۴) المصدرالسابق وشعب الإيمان للبيهقى(۵۸\۱) باب الدليل على أن الإيمان والإسلام على الإطلاق عبارتان عن دين واحد)_

(۵) قال البيهقى فى سننه الكبرى (۱۲۳\۹) كتاب السير.باب ترك أخذ المشركين لما أصابوا) بعد ذكر حديث ابن مسعود رضي الله عنه وكأنه جعل الإيمان كفارة لما مضى من كفره وجعل العمل الصالح بعدكفارة لما مضى من ذنوبه سوى كفره)_

(۶) قال ابن حزم فى ..المحلى.. (۳۹\۱) مسألة :ومن عمل فى كفره عملا سيئاً ثم أسلم فإن تمارى على تلك الإساءة حوسب وجوزى فى الآخرة بما عمل من ذلك فى شركه وإسلامه)-

(۷) فيض البارى(۱\۱۳۵و۱۳۶)_

امام احمد رحمه الله اود دوى د متبعينو رحمهم الله، دلائل امام احمداوددوى هم خيال عالمانو رحمهم الله په صحيحينو كښې د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په يو روايت باندې استدلال كړې دې «قال قال رجل يا رسول الله ﷺ أنؤاخذ بما عملنا في الجاهلية قال: من أحسن في الإسلام لم يؤاخذ بما عمل في الجاهلية ومن أساء في الإسلام أخذ بالأول والآخر»(١)

دمسلم شريف په يوروايت كښې دى «ومن أساء أخذ بعمله في الجاهلية والإسلام»(٢)
ددې حديث نه معلومه شوه چه كوم كس په زمانه داسلام كښې ګناهونه اختيار كړى هغه به د كفرد زمانې په معاصى اوجرائمو باندې هم نيولې شى

ابن حزم ظاهرى رحمه الله دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما په حديث باندې استدلال كړې دې «إن ناسا من أهل الشرك قتلوا فأكثروا، وزنوا فأكثروا، ثم أتوا محمدا ﷺ فقالوا: إن الذى تقول وتدعوا إليه لحسن، ولوتخبرنا أن لما عملنا كفارة، فنزلت ﴿وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِىْ حَرَّمَ اللهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُوْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ اَثَامًا ۙ يُّضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَيَخْلُدْ فِيْهٖ مُهَانًا ۙ اِلَّا مَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا﴾»(٣)

ابن حزم رحمه الله فرمانى چه په دې آيت كښې الله تعالى داعمال سيئه اسقاط په ايمان. عمل توبه اوعمل صالح باندې مرتب كړې دې.نوكه د مسلمانيدو نه پس عمل صالح نه كوى. بلكه كفرد زمانې پشان په ګناهونو كښې اخته وى.نودهغه زمانې په ګناهونوبه هم مواخذه وى.(٤)

دجمهورود طرفه دذكرشوو دلائلوجواب. جمهورعالمان رحمهم الله دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د روايت په جواب كښې فرمائى.چه دا حديث محتمل دې.د يو محتمل روايت په وجه نورتول روايات مقيد كول صحيح نه دى.

① په دې كښې اولنې احتمال هغه دې.كوم چه امام طحاوى رحمه الله بيان كړې دې. دكوم خلاصه چه دا ده.چه د «إحسان في الإسلام» معنى دا ده.چه داسلام زمانه لاندې كړى.اومسلمان شى.اود «إساءت في الإسلام» معنى دا ده.چه داسلام زمانه لاندې كړى.اواسلام قبول نكړى.(٥)

---

(١) صحيح البخارى كتاب إستتابة المرتدين والمعاندين وقتالهم باب إثم من أشرك بالله وعقوبته في الدنيا والآخرة رقم ٦٩٢١) وصحيح مسلم (٧٥\١) كتاب الإيمان باب هل يؤاخذ بأعمال الجاهلية)_

(٢) صحيح مسلم و المصدرالسابق)_

(٣) صحيح البخارى (٧١٠\٢ و ٧١١) كتاب التفسير.سورة الزمراء باب قوله ﴿ياعبادى الذين أسرفوا على أنفسهم لا تقنطوا من رحمة الله..﴾ وصحيح مسلم (٧٦\١) كتاب الإيمان باب كون الإسلام يهدم ما قبله وكذا الحج والهجرة وسنن النسائى الصغرى(١٦٣\٢) كتاب المحاربة باب تعظيم الدم وسنن النسائى الكبرى (٤٤٦\٦) كتاب التفسير.سورة الزمر.باب قوله تعالى:﴿ياعبادى الذين أسرفوا على أنفسهم﴾ رقم ١١٤٤٩) وسنن أبي داود كتاب الفتن والملاحم باب في تعظيم قتل المؤمن رقم ٤٢٧٣ و ٤٢٧٤)_

(٤) المحلى لإبن حزم(٣٦\١١)_

(٥) شرح مشكل الآثار للطحاوى(٤٢١\١١ و ٤٤٣)_

② دویم احتمال ابوحاتم بن حبان بستی[1] عبدالملک بونی (قرطبی[2]) اوامام نووی رحمه الله[3]
بیان کړی دی.دا حضرات فرمائی چه «إحسان فی الإسلام» دا دې چه د زړه په اخلاص سره اسلام کښې داخل شی او«إساءت فی الإسلام» دا دې چه په ظاهره مسلمان وی اوپه باطن کښې منافق وی

③ مهلب.اوامام طبری رحمهماالله دا احتمال بیان کړې دې چه «إحسان فی الإسلام» دا دې چه دمسلمانیدو نه پس په اسلام قائم پاتې شی او«إساءت فی الإسلام» دا دې چه د مسلمانیدو نه پس بیرته مرتد شی.[4]

دامام بخاری رحمه الله رجحان هم دې طرف ته معلومیږی خکه چه دوی دا حدیث په «کتاب إستتابة المرتدین» کښې راوړې دې.والله أعلم.

④ ددې حدیث څلورم مطلب امام خطابی رحمه الله بیان کړې دې چه دلته د مواخذه نه مراد تعذیب نه دې.بلکه د جاهلیت جرائم ئې ورته وریاد کړی دی.اویوقسم زجراوزورنه ورکول مقصود دی.[5]مطلب دا دې چه ده ته به دا وئیل شی.چه اې بې غیرته دا سلام نه وړاندې هم تا دا جرائم کول.اودمسلمانیدونه پس هم ته دا جرائم کوې.اسلام ته ددې جرائمونه منع نکړې تاته حیا اوشرم نه راځی.!!

ترکومې پورې چه د ابن حزم رحمه الله په آیت قرآنی ﴿إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا﴾ په مفهوم باندې د استدلال تعلق دې.نواول خودا وئیلی شی.چه ددې مفهوم هم هغه دې کوم چه د

---

[1]) الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان (١٠٥\٢) باب الإخلاص وأعمال السر وقد بوب على هذا الحديث بقوله ..ذكرالأخباربأن المرء المسلم ينفعه إخلاصه حتى يحبط ماكان قبل الإسلام من السيئة وأن نفاقه لا تنفعه معه الأعمال الصالحة)_

[2]) فتح البارى(١٢\٢٦٦) كتاب إستتابة المرتدين .. باب إثم من أشرك بالله وعقوبته فى الدنيا والآخرة)_

[3]) المصدرالسابق)_

[4]) شرح نووى على صحيح مسلم(١\٧٥) كتاب الإيمان باب هل يؤاخذبأعمال الجاهلية)_

[5]) فتح البارى(١٢\٢٦٦)_

[6]) قال الخطابى رحمه الله فى أعلام الحديث(٤\٢٣١١و ٢٣١٢) ظاهر هذا الحكم خلاف ما أجمعت عليه الأمة من أن الإسلام يجب ما قبله قال الله تعالى:﴿ قل للذين كفرو إن ينتهوا يغفرلهم ما قد سلف﴾ ووجه هذا الحديث وتأويله أنه إذا أسلم مرة لم يواخذ بما كان سلف من كفره ولم يعاقب عليه وإن أساء فى الإسلام غاية الإساءة وركب أشد ما يكون من المعاصى ما دام ثابتاً على إسلامه وإنما يوخذ بما جناه فى الإسلام من المعصية ويعير بما كان منه فى الكفر ويبكت به كأنه يقال له أليس قد فعلت كيت وكيت وأنت كافر؟ فهلا منعک إسلامک من معاودة مثله.إذا أسلمت؟ ثم يعاقب على قدر ما يستحقه من المعصية التى إكتسبها فى الإسلام ولايجوز أن يعاقب عقوبة الكفارلأن المسلم لا يخلدفى الناروالكافرمخلد فيها أبداً)_

حديث ((ومن أساء أخذ بعمله في الجاهلية والإسلام)) دې اوبه دې كښې هغه ټول تاويلات كيدې شي كوم چه وړاندې تيرشول

دويمه خبره دا ده چه ابوحيان ((الا من تاب..)) استثناء منقطع گرځولې ده.(١)نو ((الا)) د ((لكن)) په معنى كښې دې او ﴿إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا﴾ مبتدا ده.او ﴿فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ﴾ دهغې خبردې.(٢)د دې تاويل نه پس دابن حزم رحمه الله ټول استدلال ختميږي.څكه چه دهغوى د استدلال بنياد د استثنا په اتصال باندې دې. اوكله چه استثناء منقطع شوه او؛ ماقبل سره متعلق نه ده.بلكه مستقل كلام دې. نود سيئات داسقاط دپاره د ايمان او اسلا نه سوا توبه او عمل صالح ددې دپاره موقوف عليه نشى گرځولې.والله أعلم.

د جمهورو دلائل ① دجمهورو يودليل خود قرآن پاك دا آيت دې ﴿قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا قَدْ سَلَفَ﴾ (٣) ددې آيت نه معلومه شوه.كه دكفرنه منع شو اواسلام ئې قبول كړو نومخكنى ټول گناهونه اوجرائم به ورته معاف شى.

بعضې حنابلو په آيت كښې تاويل كړې دې.چه دسابقه نصوص په رڼړا كښې ددې نه مراد ((ماقد سلف مما إنتهوا عنه)) دې.يعنى هغه سابقه گناهونه به ئې معاف شى.دكومونه چه دې منع شوې دې.اوتوبه ئې ويستې ده.څكه چه توبه وائى. ((ندامت على الذنب إقلاع عن الذنب)) او ((عزم على عدم العود)) ته.اوس كه يوكس مسلمان شى.اودعدم عود الى الفاحشه عزم نه لرى نو دده توبه مكمل نه ده.نوبه سابقه فواحش اومعاصى باندې به دده مواخذه كولې شى.

خوددې جواب دا دې چه آيت د محتمل رواياتوبه بناء باندې مقيد كول صحيح نه دى.

تركومې پورې چه دده د توبې نه قبليدو تعلق دې.نودا خبره څكه صحيح نه ده.چه د توبې دا ټول شرائط دمسلمان دپاره دى.دكافر صرف مسلمانيدل د ټولو گناهونه معاف كيدو دپاره كافى دى.هغه چه اسلام راوړى.نوداسې معصوم شى. لكه چه نن پيدا شوې دې.د نصوص نه هم دا مستفاد كيږى.((كما سيأتي))

② دويم دليل دحضرت عمروبن العاص رضي الله عنه حديث دې.چه نبى صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى ((أما علمت يا عمرو أن الإسلام يهدم ما كان قبله؟)) (٤) په دې روايت كښې مطلقاً دماقبل ټولو گناهونو د منهدم كيدو ذكر راغلې دې.

---

(١) كما فى روح المعانى(١٩\٤٩)_

(٢) وقرنت الجملة بالفاء لوقوعها خبراً عن الموصول كما فى قولک الذى يأتينى فله درهم انظرروح المعانى (١٩\٤٩) وانظرأيضاً بيان القرآن (١٤\٥٨)_

(٣) سورة الأنفال:٣٨)_

(٤) صحيح مسلم (١\٧٦) كتاب الإيمان باب كون الإسلام يهدم ما قبله وكذا الحج والهجرة)_

③دريم دليل دحضرت اسامه رضی الله عنه قصه ده (١)په كوم كښې چه دا راغلي دي چه دوى يوكس د «لااله إلا الله» ونيلو نه پس قتل كړې وو نونبى ﷺ دخفګان اظهار اوكړو اووې فرمائيل. «أقتلته بعد ما قال لاإله إلا الله» دوى به معذرت پيش كولو خو نبى ﷺ به هم دا ارشاد كولو. «أقتلته بعدما قال لاإله الا الله» حضرت اسامه رضی الله عنه فرمائى «حتى تمنيت أنى لم أكن أسلمت قبل ذلك اليوم»زما دا تمنا پيدا شو چه كاش ددې نه وړاندې زه مسلمان شوې نه ووم ددې نه معلوميږى چه دصحابه كرامو رضی الله عنهم په ذهنونوكښې دا خبره پريوتې وه چه اسلام سابقه ګناهونه ختموى والله أعلم.

قوله وَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ الْقِصَاصُ الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ: ددې نه پس به برابر په برابر معامله كيږى.اوددې صورت به دا وى چه د يوې نيكۍ په بدله كښې به لس نيكۍ ملاويږى.دا خو اولنۍ درجه ده.اوچه اوچتيږى نواووه سوو ته رسى ګورۍ دا داسلام حسن او دسړى اخلاص دې چه يوه نيكى د يونه متجاوز شى اولس بلكه اووه سوو ته رسى.

ايا په نيكۍ كښې صرف د اووه سوو پورې زيادت كيږى؟ دلته يوسوال دا پيدا كيږى چه ددې حديث نه معلوميږى چه زيادت تراووه سوو پورې كيږى.حالانكه په آيت قرآنى كښې دى. ﴿مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِائَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ﴾(٢)ددې نه معلوميږى چه د اووه سوونه هم زياتيدې شى.

دحديث باب په رڼاكښې د بعضې عالمانو رحمهم الله دا رائې ده.چه زيادت صرف اووه سوو پورې كيږى.ددې نه زيات نه كيږى.اوتركومې چه د آيت قرآنى تعلق دې نودهغې مفهوم د دوى په نيز دا دې چه د «يضاعف» نه د اووه سوو زيادت مراد دې خكه چه اګرچه الله تعالى په مشيت اواختياركښې دى چه ددې نه زياته اضافه اوزيادت اوكړى خوچه كومه اضافه كولې شى.هغه به د اووه سوو پورې وى.

حالانكه دجمهورو عالمانو رحمهم الله دا رائې ده.چه ديوې نيكۍ په اووه سوو پورې تحديدلازمى نه دې.ددې نه زياته اضافه هم كيدې شى.(٣) دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما په حديث كښې دى.

---

(١) انظرصحيح بخارى (٦١٢\٢) كتاب المغازى باب بعث النبى ﷺ أسامة بن زيدالى الخرقات من جهينة (١٠١٥\٢) كتاب الديات باب قول الله ﴿ومن أحياها..﴾ وصحيح مسلم (٦٧\١و ٦٨) كتاب الإيمان باب تحريم قتل الكافر بعد قوله ((لااله إلا الله))وسنن أبى داود كتاب الجهاد باب على ما يقاتل المشركون رقم (٢٦٤٣)_

(٢) سورة البقرة:٢٦١)_

(٣) فتح البارى(١٠٠\١) وعمدة القارى(٢٥٢\١)_

«کتبها الله له بها عنده عشر حسنات إلی سبعمائة ضعف إلی أضعاف کثیرة»(١)
دغه شان بن ابی عاصم النبیل ﷺ په «کتاب العلم» کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث نقل کړی دی «إن الله تعالی یعطي بالحسنة ألف ألف حسنة»(٢) یعنی الله تعالی د یوې نیکۍ په بدله کښې شل لاکهه نیکۍ ورکوی
په یوحدیث کښې دی «من تصدق بعدل تمرة من کسب طیب ... ولا یقبل الله إلا الطیب .. فإن الله یتقبلها بیمینه ثم یربیها لصاحبه کما یربي أحدکم فلوه حتی تکون مثل الجبل»(٣)
یعنی کوم کس چه خپلې پاکې حلالې کټې نه د قجورې یوه حصه صدقه کړی نو الله تعالی هغه په خپل ښی لاس سره قبلوی اوبیا د هغې تربیت کوی اوبیا هغه زیاتوی او دهغې خصمانه کوی لکه څنګه چه په تاسو کښې یوکس د آسپې د بچی خصمانه کوی تردې هغه قجوره په دهغې برابرځیږد غرهومره شی ښکاره ده که قجوره د غرهومره زیاتیدې شی نو په هغې کښې به صرف داووه سوواضافه نه کیږی بلکه ددې نه به زیاته اضافه کیږی والله أعلم
قوله: وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ اللَّهُ عَنْهَا: اوګناه به صرف یوه ګناه ګڼړلی شی په هغې کښې به اضافه نه کیږی البته دالله تعالی په اختیارکښې دی چه هغه معاف کړی په دې صورت کښې به هغه یوه ګناه هم نه پاتې کیږی
الله تعالی ډیررحیم اوکریم دې دمومن سره دالله تعالی خاص رعایت وی تردې چه دقیامت په ورځ به داسې هم وی چه د سړی ګناهونه به معاف کړی اود هغې په ځای به ورله نیکۍ اونیکلی شی
دحضرت ابوذر رضی الله عنه نه مروی دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی «عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ آخر أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ وآخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا رجل يؤتى به يوم القيامة فيقال أعرضوا عليه صغار ذنوبه فيقال عملت يوم كذا وكذا : كذا وكذا؟ فيقول نعم لا يستطيع أن ينكر، وهو مشفق من كبار ذنوبه أن تعرض عليه فيقال له فإن لك مكان كل سيئة حسنة فيقول رب قد عملت أشياء لا أراها ههنا فلقد رأيت رسول الله ﷺ ضحك حتى بدت نواجذه»(٤)

---

(١) والحديث بتمامه :عن ابن عباس رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم فيما يروي عن ربه قال قال إن الله تعالى كتب الحسنات والسيئات ثم بين ذلك فمن هم بحسنة فلم يعملها كتبها الله له عنده حسنة كاملة فإن هو هم بها فعملها كتبها الله له بها عنده عشر حسنات إلى سبع مائة ضعف إلى أضعاف كثيرة ومن هم بسيئة فلم يعملها كتبها الله له عنده حسنة كاملة فإن هو هم بها فعملها كتبها الله له سيئة واحدة)) صحيح البخاري (١٢/٩٦٠و ٩٦١)كتاب الرقاق باب من هم بحسنة أو سيئة وانظر الصحيح لمسلم (٧٨/١) كتاب الإيمان باب بيان تجاوز الله تعالى عن حديث النفس ..)_
(٢) عمدة القاري(٢٥٢/١)_
(٣) صحيح البخاري(١٨٩/١) كتاب الزكاة باب صدقة من كسب طيب)_
(٤) صحيح مسلم (١٠٦/١) كتاب الإيمان باب إثبات الشفاعة وإخراج الموحدين من النار وجامع الترمذي كتاب صفة جهنم باب منه بعد باب ما جاء أن للنار نفسين وما ذكر من يخرج من النار من أهل التوحيدرقم ٢٥٩٦)

يعنى كله چه الله تعالى دهغه واړه گناهونه د هغه وړاندې پيش كړى نوهغه به ويره محسوس كړى چه دا خو زما واړه گناهونه دى كوم چه يويه يومحفوظ دى اولوئ گناهونه به وړپسې شمارلې شى معلومه نه ده چه دهغې نه پس به زما څه حشر وى خوالله تعالى به نه خپل فضل اوكرم سره دهغه گناهونه په نيكو بدل كړى اوس به دهغه حوصله زياته شى اوعرض به اوكړى چه يا الله ما خو نور لوئ لوئ گناهونه كړى وو زه هغه دلته نه وينم هغه ته به دا اميد وى چه دهغې په بدله كښې به هم نيكئ راكړې شى

[٣٢] حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ هَمَّامٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ (١) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَحْسَنَ أَحَدُكُمْ إِسْلَامَهُ فَكُلُّ حَسَنَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ وَكُلُّ سَيِّئَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ لَهُ بِمِثْلِهَا

رجال الحديث

① اسحاق بن منصور: دوى ابويعقوب اسحاق بن منصور بن بهرام (٢) كوسج تميمى مروزى نيشاپورى دى.

حاكم رحمه الله فرمائى چه دوى په مرو كښې پيدا شوى وو اوددوى خسانه په نيشاپور كښې شوې وه هم هلته ددوى اولاد خوارۀ شوى وو اووفات شوى وو. د حديث په امامانو كښې يوامام اوپه زاهدانو كښې يوزاهد وو دسنتو سخت پابند وو (٣)

دعلم دتثبيت به ئې ډير زيات اهتمام كولو وئيلې شى چه دوى د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه څه مسائل ليكلي وې چا ورته اووئيل چه امام احمد رحمه الله په دې مسائلو كښې د بعضو نه رجوع كړې ده دوى سمدستى هغه ټول مسائل په يوه تيله كښې واچول اوپه خپل شا باندې باركړل اوبغداد ته پيدل روان شو چه هلته اورسيدل نودوباره ئې امام احمد رحمه الله ته هغه مسائل وړاندې كړل هغوى دهغې بيا تائيد اوكړو امام احمد رحمه الله ته ددوى دا عمل ډير زيات خوښ شو (٤)

دوى دامام احمد، اسحاق بن راهويه، ابواليمان الحكم بن نافع، سفيان بن عيينه، ابوداود طيالسى، عبدالرزاق بن همام، عفان بن مسلم، يحيى بن سعيد القطان، او يزيدبن هارون رحمهم الله نه داحاديثو روايت كړې دې (٥)

---

١) الحديث أخرجه مسلم فى صحيحه (٧٨\١) فى كتاب الإيمان باب بيان تجاوز الله تعالى عن حديث النفس)

٢) قال النووى: بكسر الباء الموحدة. والمشهور فتح باء بهرام انظ شرح الكرمانى (١٧٠\١) وعمدة القارى (٢٥٣\١) والمغنى (ص١٢)

٣) تهذيب الكمال (٤٧٧\٢)_

٤) المصدر السابق)_

٥) تهذيب الكمال (٤٧٤\٢ و ٤٧٦)_

اوددوى نه په روايت كونكوكښې دابوداود رحمه الله نه سوا داصول سته نولو مصنفينو. ابراهيم بن حربى. عبدالله بن احمدبن حنبل. ابوزرعه. اوابوحاتم رازى رحمهم الله وغيره حضرات دى.[1]

امام مسلم رحمه الله فرمائى «ثقة مأمون أحد الأئمة من أصحاب الحديث»[2]

امام نسائى رحمه الله فرمائى «ثقة ثبت»[3]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى «صدوق»[4]

خطيب بغدادى رحمه الله ليكى «كان فقيهاً عالماً وهوالذى دون عن أحمد بن حنبل وإسحاق بن راهويه: المسائل»[5]

امام بخارى رحمه الله فرمائى په جمادلى الاولى ۲۵۱ھ كښې د ګل په ورځ دوى وفات شوى وو او په راروانه د نبنې په ورځ دفن شوى وو [6] رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

② عبدالرزاق: دوى ابوبكرعبدالرزاق بن همام بن نافع صنعانى يمانى دى. په ۱۲۶ھ دوى پيدا شوى وو.[7]

دوى د اسرائيل بن يونس. ثوربن يزيد. سفيان ثورى. سفيان بن عيينه. عبدالله بن المبارك. امام اوزاعى. فضيل بن عياض. مالك بن انس. مثنى بن الصباح. معمربن راشد. ابومعشر نجيح بن عبدالرحمن اوهشيم بن بشير رحمهم الله وغيره نه سماع دحديث كړې ده.[8]

اوددوى نه په سماع كونكوكښې امام احمد. امام اسحاق بن راهويه. اسحاق بن منصور. ابوخيثمه. زهيربن حرب. سفيان بن عيينه (دا ددوى په شيوخوكښې هم دى) سليمان بن داود الشاذ كونى وعباس بن عبدالعظيم عنبرى. على بن المدينى. محمدبن يحى ذهلى. معتمربن سليمان (دې ددوى په شيوخوكښې دې) وكيع بن الجراح (دا دوى په اقرانوكښې دې) اويحيى بن معين رحمهم الله وغيره ډيرمحدثين دى.[9]

---

[1] تهذيب الكمال(۲\۴۷۶)_

[2] تهذيب الكمال(۲\۴۷۶)_

[3] المصدرالسابق)_

[4] المصدرالسابق)_

[5] تهذيب الكمال(۲\۴۷۷)-

[6] التاريخ الصغير(ص.۲۳۸) والتاريخ الكبير(۱\۴۰۴) رقم ۱۲۹۱) وتهذيب الكمال(۲\۴۷۷) وعمدة القارى(۱\۲۵۳) والكاشف للذهبى(۱\۲۳۹) رقم ۳۲۲) وتقريب التهذيب(۱۰۳) وخلاصة الخزرجى(۳۰)

[7] تهذيب الكمال (۱۸\۶۱) وسيرأعلام النبلاء(۹\۵۶۵)_

[8] تهذيب الكمال (۱۸\۵۲و ۵۴)_

[9] تهذيب الكمال (۱۸\۵۴و ۵۶)_

دامام احمدبن حنبل رحمه الله نه احمدبن صالح مصری رحمه الله تپوس اوکړو «رأیت أحداً أحسن حدیثاً من عبدالرزاق؟» نوهغوی جواب ورکړو «لا»(١)

امام ابوزرعه رحمه الله فرمائی «عبدالرزاق أحد من ثبت حدیثه»(٢)

ددوی استاذ معمربن راشد رحمه الله فرمائی «وأما ابن همام فإن عاش فخلیق أن تضرب إلیه أکباد الإبل»(٣) یعنی ددوی استاذ ددوی د طالبعلمئ په زمانه کښې پیشنګوئی کړې وه که دې ژوندې پاتې شو نوددې قابل دې چه دلرې لرې نه به خلق ده ته رارسیږی

هشام بن یوسف رحمه الله فرمائی «کان عبدالرزاق أعلمنا وأحفظنا»(٤)

امام ذهلی رحمه الله فرمائی «وکان أیقظهم فی الحدیث وکان یحفظ»(٥)

د ائمه رجال اومحدثین عظام رحمهم الله ددې نقولونه معلومه شوه چه حافظ عبدالرزاق بن همام صنعانی رحمه الله په محدثینو رحمهم الله کښې یوډیر لوئې امام د حدیث په حافظانوکښې ډیرلوئې حافظ وو.د احادیثو د روایت په سلسله کښې په دوی باندې د محدثینو رحمهم الله اعتماد وو.

البته بعضې حضراتوددوی دحافظې په باره کښې کلام کړې دې دغه شان څه حضراتو په دوی باندې د تشیع الزام هم لګولې دې.دغه شان ددوی نه د اهل بیتو په فضائلوکښې اودڅه نورو حضراتوپه مناقبوکښې منکر روایات هم مروی دی.

ابن حبان رحمه الله فرمائی «وکان ممن جمع وصنف وحفظ وکان ممن یخطئ إذا حدث من حفظه علی تشیع فیه»(٦)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی «ثقة حافظ مصنف شهیرعمی فی آخر عمره فتغیروکان یتشیع»(٧)

امام نسائی رحمه الله فرمائی «فیه نظرلمن کتب عنه بأخرة وروی عنه أحادیث مناکیر»(٨)

ترکومې پورې چه د حافظې د تغیرتعلق دې نودا یوحقیقت دې چه ددوی حافظه په آخری عمرکښې متغیره شوې وه.په آخری عمرکښې چه به کله دوی حدیث بیانولو نوپه هغې کښې به ئې غلطی کوله.ددې وجې دهغه حضراتو د روایت اعتبارنه دی کول پکار.چه ددوی نه په آخری عمر کښې روایت کړې دې.

---

(١) تهذيب الكمال(٥٧\١٨) وسير أعلام النبلاء(٥٦٩\٩)_
(٢) تهذيب الكمال(٥٧\١٨) وتهذيب التهذيب(٣١١\٦)_
(٣) المصدر السابق وتهذيب التهذيب(٣١٢\٦)_
(٤) سير أعلام النبلاء(٥٦٦\٩- ٥٨٠) وتهذيب الكمال(٥٨\١٨) وتهذيب التهذيب(٣١٢\٦)-
(٥) تهذيب التهذيب(٣١٤\٦) وهدى السارى(٤١٩)_
(٦) الثقات لابن حبان(٤١٢\٨)_
(٧) تقريب التهذيب(ص.٣٥٤) رقم ٤٠٦٤)_
(٨) ميزان الإعتدال(٦١٠\٢)_

امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی: «أتينا عبدالرزاق قبل المائتين وهو صحيح البصر ومن سمع منه بعد ما ذهب بصره فهو ضعيف السماع»[1]

دغه شان د یحیی بن معین رحمه الله نه چه کله عبدالله بن احمد رحمه الله تپوس اوکړو «تخش السن من عبدالرزاق؟» نو هغوی جواب ورکړو: «أما حيث رأيناه فما كان بلغ الشمانين نحو من سمعين»[2] یعنی څ وخت چه مونږ د هغوی نه احادیث اوریدل هغه وخت کښې هغوی اتیا کالوته نه وو رسیدلی بلکه اویا سره نزدې نزدې وو.

بیا د مختلط د روایاتوپه باره کښې محدثینو رحمهم الله اصول بیان کړی دی چه کوموحضراتو قبل الاختلاط روایتونه نقل کړی دی هغه مقبول دی اوچا چه بعدالاختلاط روایات نقل کړی دی هغه مردود دی. دامام عبدالرزاق رحمه الله احادیث هم ممیز دی. حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی «احتج به الشيخان في جملة من حديث من سمع منه قبل الإختلاط، وضابط ذلك من سمع منه قبل المائتين فأما بعدها فكان قد تغير»[3]

دلته دا خبره هم په ذهن کښې اچول پکار دی چه امام عبدالرزاق رحمه الله د «المصنف» سره نوروکتابونوتصنیف د اختلاط نه وړاندې کړې دې نوداختلاط په وجه په دې کتابونوکښې د یوکتاب روایت رد کول ټیک نه دی هم دا وجه ده چه امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی «من سمع من الكتب فهو أصح»[4]

دامام احمد رحمه الله قول دې «من سمع منه بعد ما عمي فليس بشيء وما كان في كتبه فهو صحيح وما ليس في كتبه فإنه كان يلقن فيتلقن»[5]

هم امام احمد رحمه الله فرمائی «كان يتعاهد كتبه»[6]

دامام بخاری رحمه الله قول هم دې «ماحدث من كتابه فهو أصح»[7]

ترکومې پورې چه د تشیع تعلق دې نودا حقیقت دې که په امام عبدالرزاق کښې که څه تشیع وو نوهغه داسې نه وو چه دطعن سبب جوړشوې وو ځکه چه هغه بدعت سبب د ضعف

---

[1] تهذيب الكمال(١٨\٥٨) وسير أعلام النبلاء(١٩\٥٦٥) وتهذيب التهذيب(٦\٣١٢)_

[2] كتاب الضعفاء الكبير للعقيلي (٣\١٠٨) وسير أعلام النبلاء(١٩\٥٧٠)_

[3] هدى السارى(٤٠٩ و ٤٢٠)_

[4] تهذيب الكمال(١٨\٥٨) وتهذيب التهذيب(٦\٣١٢)_

[5] هدى السارى(٤١٩)_

[6] تهذيب الكمال(١٨\٥٧) وتهذيب التهذيب(٦\٣١٢)_

[7] التاريخ الكبير(٦\١٣٠) وسير أعلام النبلاء(١٩\٥٧١) وميزان الإعتدال(١٢\٦١٠)-

دې چه دهغې متصف داعی هم وی.اوبیا که اومنلې شی چه هغه متشیع وو.نودهغوی ددې نه رجوع هم ثابته ده

دامام احمد رحمه الله نه دهغوی خوني عبدالله بن احمد رحمه الله تپوس اوکړو «عبدالرزاق كان يتشيع ويفرط في التشيع؟» نوهغوی جواب ورکړو.«أما أنا فلم أسمع منه في هذا شيأ ولكن كان رجلاً تعجبه أخبار الناس أوالأخبار»(١)يعني ماته دهغوی د شيعيت په باره کښې څه علم نشته.البته دا ده چه هغوی د خلقو دواقعاتو سره شوق زيات ساتل.اوهغه به ئې نقل کولې.کیدې شی.په داسې واقعاتوکښې داسې څه خبره راغلې وی.په کومو باندې چه دهغوی په تشيع باندې استدلال کړې شوې وی.

پخپله دامام عبدالرزاق رحمه الله نه منقول دی.«والله ما انشرح صدری قط أن أفضل علياً على أبي بكر وعمر، رحم الله أبابكر، ورحم الله عمر، ورحم الله عثمان، ورحم الله علياً، من لم يحبهم فما هو مؤمن وقال أوثق عملي حبي إياهم»(٢)

دغه شان دهغوی نه دا هم منقول دی «أفضل الشيخين بتفضيل علي رضي الله عنه إياهما على نفسه ولولم يفضلهما لم أفضلهما كفى بي إزراء أن أحب علياً ثم أخالف قوله»(٣)
بيا امام احمد رحمه الله نقل کړی دی.چه امام عبدالرزاق د شيعيت نه رجوع کړې وه.حافظ ابن حجر رحمه الله د عبيدالله بن موسى رحمه الله په حالاتوکښې ليکلی دی.«تركه أحمد لتشيعه وقد عوتب أحمد على روايته عن عبدالرزاق فذكر أن عبدالرزاق رجع»(٤)يعني امام احمد رحمه الله چه کله عبيدالله بن موسى دتشيع په وجه باندې پريخودو.نوپه هغوی باندې اعتراض اوشو.چه تاسو د عبدالرزاق نه ولې روايتونه کړی دی.په دې باندې هغوی اوونيل.چه امام عبدالرزاق د شيعيت نه رجوع کړې وه.(٥)
دا خبره دې معلومه وی.چه دامام عبدالرزاق په باره کښې د بعضې نورو حضراتو نه کلام منقول دې.

---

(١) تهذيب الكمال(٦٠/١٨) وتهذيب التهذيب(٣١٣/٦) وميزان الإعتدال(٦١٠/٢) وسير أعلام النبلاء (٥٧٠/٩)-

(٢) تهذيب الكمال(٦٠/١٨) وتهذيب التهذيب(٣١٣/٦) وسير أعلام النبلاء(٥٧٤/٩)_

(٣)المصادر السابقة والكامل لابن عدى(٣١٢/٥)_

(٤) تهذيب التهذيب(٥٣/٧)-

(٥) قال الشيخ محمد عوامة حفظه الله تعال:والتشيع في عرفهم محبة علي رضي الله عنه وتقديمه على الصحابة إلا أبا بكروعمر.فإن قدمه عليهما رضي الله عنهم جميعاً كان غالياً في تشيعه وعلي رضي الله عنه مقدم عند أهل السنة على الصحابة جميعاً إلا أبابكروعمر وعثمان رضي الله عنهم حسبما تقرر رأيهم عليه فيكون خلاف عبدالرزاق مع غيره في تقديمه علي رضي الله عنه على عثمان أولاً كذا في تعليقاته على الكاشف للذهبي(٦٥٢/١)_

سفيان بن عيينه رحمه الله فرمائي «أخاف أن يكون من الذين ضل سعيهم في الحياة الدنيا»[١]
دغه شان عباس بن عبدالعظيم عنبري رحمه الله فرمائي «والله الذي لا إله إلا هو إن عبدالرزاق كذاب والواقدي أصدق منه»[٢]
هم دي عباس بن عبدالعظيم د زيدبن المبارك نه نقل كړى دى «كان عبدالرزاق كذابا يسرق الحديث»[٣]
تركومې پوري چه دسفيان بن عيينه رحمه الله دقول تعلق دي نولكه څنګه چه ښكاره ده چه دا جرح مبهم وى هغوى ددې څه وجه نه ده ذكركړې دې اوكومه جرح چه مبهم وه اودهغې په مقابله كښې دائمه جرح والتعديل نه دهغه راوى په باره كښې تعديل اوتوثيق منقول وى نوداسې جرح مقبول نه وى.
بيا ممكن ده چه ددوى د قول اعتماد هم هغه تشيع وو كوم چه مونږ اوس رد كړو نوځكه دا قول دهغوى په حق كښې جارح نه دې
عباس بن عبدالعظيم چه په قسم سره دوى ته كذاب ونيلى دى نوحفاظو دحديث دا قول رد كړي دې
حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي «هذا ما وافق العباس عليه مسلم بل سائر الحفاظ وأئمة العلم يحتجون به إلا تلك المناكير المعدودة في سعة ما روى»[٤]
دغه شان دوى فرمائي «بل والله ما بر عباس في يمينه ولبئس ما قال يعمد إلى شيخ الإسلام ومحدث الوقت ومن احتج به كل أرباب الصحاح وإن كان له أوهام مغمورة وغيره أبرع في الحديث منه فيرميه بالكذب ويقدم عليه الواقدي الذي أجمعت الحفاظ على تركه؟ فهو في مقالته هذه خارق للإجماع بيقين»[٥]
هم دا الزام زيدبن المبارك هم لګولې وو نودهغې جواب هم په دې كښې راغلو په اصل كښې داسې معلوميږي چه زيدبن المبارك ته امام عبدالرزاق د يوې جملې په وجه نه ناخوښه شوې وو په هغې باندې دوى دهغوى كتابونه اوشلول اودهغه ځائې نه لاړل. دهغې نه پس هغوى دامام عبدالرزاق په حق كښې خپله دغه ذكرشوې رائې قائمه كړه.
پوره واقعه امام عقيلي رحمه الله په كتاب الضعفاء كښې ذكركړې دې «كان زيد بن المبارك قد لزم عبدالرزاق فأكثر عنه ثم خرق كتبه ولزم محمدبن ثور، فقيل له في ذلك فقال كنا عند عبدالرزاق فحدثنا

---

[١]) الضعفاء الكبير للعقيلي (١٠٩/٣) وميزان الإعتدال (٦١٠/٢) وسير أعلام النبلاء (ت ٥٧١/٩)۔
[٢]) الضعفاء للعقيلي (١٠٩/٣) وميزان الإعتدال (٦١١/٢) وتهذيب التهذيب (٣١٤/٦) وسير أعلام النبلاء (٥٧١/٩) والكامل لابن عدي (٣١١/٥)۔
[٣]) تهذيب التهذيب (٣١٥/٦) وسير أعلام النبلاء (٥٧٤/٩)۔
[٤]) ميزان الإعتدال (٦١١/٢)۔
[٥]) سير أعلام النبلاء (٥٧١/٩ و ٥٧٢)۔

بحديث معمر عن الزهري عن مالك بن أوس بن الحدثان.. الحديث الطويل فلما قرأ قول عمر لعلي والعباس فجئت أنت تطلب ميراثك من ابن أخيك وجاء هذا يطلب ميراث إمرأته حيث قال عبد الرزاق إنظروا إلى الأنوك (١) يقول تطلب ميراثك من ابن أخيك ويطلب هذا ميراث زوجته من أبيها لايقول رسول الله ﷺ قال زيد بن المبارك فلم أعد إليه ولا أروى عنه (٢)

يعني عبدالرزاق د اميرالمومنين سيد حضرت عمرالفاروق رضي الله عنه په باره كښې د «أنوك» شنيع لفظ استعمال كړو.اوګستاخي ئې اوكړه ددې وجې ئې دهغوی نه روايتونه اخستل پريخودل.

حافظ ذهبي رحمه الله په دې واقعه باندې تبصره كوی.اوفرمائي.عبدالرزاق چه دحضرت عمر رضي الله عنه په حق كښې داسې شنيع لفظ استعمال كړو.نودېره بده ئې كړې ده حالانكه كه هغه تبصره كوله.نوېكارده چه داسې ئې وئيلې وو.«قال أميرالمؤمنين عمرالفاروق» اګرچه هغوی ته ددې تبصرې كولوحق هم نه وو.خكه چه اول خو دحضرت عمر رضي الله عنه مقام اودهغوی عزت اوعظمت منلې شوې دې.بيا دا چه حضرت عمر رضي الله عنه دشان مصطفى ﷺ نه زيات خبر وو.روسته راتلونكې دهغوی پشان څنګه كيدې شي.بيا حضرت عمر رضي الله عنه دلته مقام عنومت اوبنوت (يعني دميراث احكام)بيانول.په دې مقام باندې «رسول الله ﷺ» وئيل مناسب نه وو. خكه چه د ميراث استحقاق دحضرت عباس رضي الله عنه دهغوی دتره ولې اودحضرت فاطمې رضي الله عنها د لورتوب په وجه ظاهرولې شو.د رسالت په وجه نه.ددې وجې حضرت عمر رضي الله عنه د ميراث په مسئله كښې د ميراث اصطلاح استعمال كړه.په كوم كښې چه څه قباحت نه وو.ددې وجې د عبدالرزاق دا رائې بيخي غلطه وه.

خوددې باوجود ددې واقعه په بنياد هغه بيخي مجروح ګرځول او«كذاب يسرق الحديث»وئيل ورته صحيح نه دي.دوی فرمائي.«وبكل حال فنستغفرالله لنا ولعبدالرزاق فإنه مأمون على حديث رسول الله ﷺ صادق»(٣)

دامام عبدالرزاق رحمه الله په احاديثوباندې دمحدثينو رحمهم الله خومره اعتماد وو.ددې اندازه ددې واقعه نه لګولې شي.

ابوصالح محمدبن اسماعيل ضراری رحمه الله فرمائي كله چه مونږ امام عبدالرزاق رحمه الله ته دهغوی نه دحديث اوريدو دپاره صنعاء ته اورسيدو.نوهلته راته دچانه معلومه شوه.چه

---

(١) الأنوک الأحمق والجمع النوکی كذا فی لسان العرب (١١١٠/٥٠)_
(٢) الضعفاء الكبير للعقيلي(١١٠/٣)_
(٣) سيرأعلام النبلاء.(٥٧٢/٩و ٥٧٣) قال الذهبي في ميزان الإعتدال(٦١١/٢) في هذه الحكاية إرسال والله أعلم بصحتها ولا أعترض على الفاروق رضي الله عنه فيها فإنه تكلم بلسان قسمة التركات)-

زمونږ لویو محدثینو یحیی بن معین اواحمد بن حنبل رحمهما الله دهغوی نه احادیث اوریدل پریخی دی.اودا چه دا حضرات هغه نه خوښوی.کله چه مونږ دا واوریدل نومونږ ډیرزیات خفه شو.نوهسې مو دومره خرچه اوکړه سفر مو اوکړو اومشقت مو برداشت کړو.هم په دغه وخت کښې دحج زمانه راغله.زه مکې مکرمې ته اورسیدم.هلته مې دامام یحیی بن معین رحمه الله سره ملاقات اوشو.ما ورته اووئیل.اې ابوزکریا! مونږ اوریدلی دی.چه تاسو د عبدالرزاق احادیث پریخی دی.اودهغه نه مو اعراض کړې دې.نوهغوی اووئیل:((یاأباصالح لو ارتدعبدالرزاق عن الإسلام ماترکناحدیثه))[1]یعنی که عبدالرزاق والعیاذبالله مرتد شی.نوبیا هم دهغوی احادیث دومره قوی دی.چه مونږ هغه نه پریږدو.

خلاصه دا چه امام عبدالرزاق بن همام رحمه الله په ائمه حدیث کښې یوجلیل القدر ثقه امام دې.البته دهغوی په حافظه کښې په آخری عمر کښې تغیرراغلې وو.ددې وجې دهغوی هغه روایت قابل قبول نه دی.کوم چه هغوی د ۲۰۰ھ نه پس کړی دی.دغه شان دهغوی نه څه منکر احادیث هم مروی دی.کوم چه حفاظ حدیث په ګوته کړی دی.

ترکومې پورې چه دهغوی د شیعیت تعلق دې.نواول خو هغه ثابت نه دی. اوکه ثابت هم شی.نومضرنه دی.

حافظ ابن عدی رحمه الله دهغوی په باره کښې خپله کومه رائې لیکی.هغه ډیر معتدل او قول فیصل دې.هغوی فرمائی.((ولعبدالرزاق أصناف وحدیث کثیر وقد رحل إلیه ثقات المسلمین وأئمتهم وکتبوا عنه ولم یروا بحدیثه بأساً إلا أنهم نسبوه إلی التشیع، وقد روی أحادیث فی الفضائل مما لایوافقه علیها أحد من الثقات فهذا أعظم ما رموه به من روایته لهذه الأحادیث ولما رواه فی مثالب غیرهم مما لم أذکره فی کتابی هذا وأما فی باب الصدق فأرجوا أنه لابأس به إلا أنه قد سبق منه أحادیث فی فضائل أهل البیت ومثالب آخرین مناکیر))[2]

په شوال ۲۱۱ھ کښې وفات شوی وو.[3] رحمه الله رحمة واسعة

③ **معمر**:دوی معمربن راشد ازدی دی.ددوی مختصرحالات د((بدءالوحی)) کښې دڅلورم نمبر حدیث لاندې تیرشوی دی.[4]

④ **همام**:دوی همام بن منبه[اسم فاعل از تفعیل][5] بن کامل بن سیبح [بکسر السین المهملة

---

[1]) الضعفاء الکبیر للعقیلی (۱۱۰\۳) ومیزان الإعتدال(۶۱۲\۲) وسیرأعلام النبلاء(۵۷۳\۹) وتهذیب التهذیب(۳۱٤\۶) والکامل لابن عدی(۳۱۱\۵)_

[2]) الکامل فی ضعفاء الرجال لابن عدی(۳۱۶\۵)-

[3]) تهذیب الکمال(۶۱\۱۸) والتاریخ الکبیر(۱۳۰\۶) والثقات لابن حبان(٤۱۲\۸) وطبقات ابن سعد(۵٤۸\۵)

[4]) کشف الباری(٤۶۵\۱و [illegible])_

[5]) المغنی فی ضبط أسماء الرجال (ص [illegible])

وسكون التحتية وبجيم وقيل بفتح السين) (١)يماني صنعاني (٢)ابناوي (٣) دي.د دوى كنيت بوعقبه دي.وهب بن منبه.معقل بن منبه.اوغيلان بن منبه د دوى ورنړه دي.
همام بن منبه دحضرت عبدالله بن زبير.حضرت عبدالله بن عباس.حضرت عبدالله بن عمربن الخطاب.حضرت معاويه بن ابى سفيان.اوحضرت ابوهريرهﷺ وغيره نه روايت كړې دې.
ددوى نه ددوى ورو وهب بن منبه.اووراوه عقيل بن معقل منبه.على بن الحسن اومعمربن راشد رحمه الله روايت كوى.(٤)
ابن حبان رحمه الله دوى په ،،ثقات،، كښې ذكركړې دى.(٥)
امام يحيى بن معين رحمه الله فرمانى.((ثقة))(٦)
امام عجلى رحمه الله فرمانى.((يمانى تابعى ثقة))(٧)
دا هغه همام بن منبه رحمه الله دې.دچا حديثوكتابچه د ،،صحيفه همام بن منبه،، په نوم سره مشهوره وه.دا صحيفه دوى براه راست د حضرت ابوهريرهﷺ نه اوريدلې اوليكلې وه.
د دې احاديثو د ضبط واقعه امام احمد رحمه الله بيان كړې ده.چه همام بن منبه به هميشه دپاره په جهاد كښې شركت كولو.اودخپل ورور وهب بن منبه رحمه الله دپاره به ئې كتابونه اخستل. هغوى په مدينه منوره كښې دحضرت ابوهريرهﷺ په مجلسونوكښې ناسته اختياركړه. اوهلته ئې دا احاديث واوريدل.اودا ئې ضبط كړل.دا يوسل څلويښتو ته نزدې احاديث وو.د معمربن راشد ملاقات ددوى سره په يمن كښې په هغه وخت كښې اوشو.كوم وخت چه هغوى ډيركمزورى شوى وو. تردې چه دهغوى وريځې دهغوى په ستركوباندې راغلې وې.په داسې وخت كښې معمر رحمه الله دهغوى نه دا صحيفه واوريده.كيفيت ئې دا وو چه كله به په اورولو اورولوهمام رحمه الله ستړې شو.نومعمرباقى احاديث هغوى ته واورول.(٨)

---

(١) المغنى(ص.٤١)_
(٢) الصنعاني:نسبة إلى صنعاء مدينة باليمن بزيادة النون فى آخره والقياس أن يقال صنعاوى ومن العرب من يقوله .فأبدلوا من الهمزةالنون كذا فى العمدة (٢٥٤\١١)_
(٣) الأبناوى بفتح الهمزة وسكون الباء الموحدة وفتح النون نسبة إلى الأبناء وهم قوم باليمن من ولد الفرس الذين جهزهم كسرى مع سيف بن ذى يزن إلى ملك الحبشة فغلبوا الحبشة وأقاموا باليمن وقال أبوحاتم بن حبان كل من ولد باليمن من أولادالفرس وليس من العرب يقال أبناوى وهم الأبناويون كذا فى العمدة(٢٥٤\١١)
(٤) تهذيب الكمال(٢٩٨\٣٠و ٢٩٩)_
(٥) كتاب الثقات لابن حبان(٥١٠\٥)_
(٦) تهذيب الكمال(٢٩٩\٣٠)-
(٧) تهذيب التهذيب(٦٧\١١)_
(٨) تهذيب الكمال(٢٩٩\٣٠) وسيرأعلام النبلاء(٣١٢\٥)_

دا صحيفه امام عبدالرزاق د معمرنه روايت كوله اومعمربن دهمام بن منبه اوهغه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت كوله

امام احمد رحمه الله (دوى دامام عبدالرزاق بن همام رحمه الله خاص شاگرد وو) دا ټوله صحيفه په خپل مسندكښې نقل كړې ده.په مسنداحمدكښې ددې ټولو احاديثو تعداد يوسل شپږديرش دى ددې صحيفه يوه مخطوطه نسخه كومه چه حافظ احمد بن يوسف سلمى نيشاپورى متوفى (۲۶۴هـ) روايت دې په مكتبه ظاهريه دمشق كښې شته. مشهورمحقق ډاكټرمحمدحميدالله حيدرآبادى ددې مخطوطه تحقيق كړې دې. اوپه ۱۳۷۲هـ مطابق ۱۹۵۳م كښې ئې په دمشق كښې شائع كړې وه.جزاه الله تعالى خيراً.

محمدبن سعد رحمه الله فرمائى چه ددوى وفات په ۱۳۱هـ كښې شوې وو()

امام بخارى رحمه الله دعلى بن المدينى رحمه الله په واسطه سره نقل كړې دى چه دهمام بن منبه وفات په ۱۳۲هـ كښې شوې وو.()والله أعلم، رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

⑤ دحضرت ابوهريره رضي الله عنه تفصيلى حالات كتاب الايمان د «باب أمورالإيمان» لاندې تيرشوى دى.()

قوله: إِذَا أَحْسَنَ أَحَدُكُمْ إِسْلَامَهُ فَكُلُّ حَسَنَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ وَكُلُّ سَيِّئَةٍ يَعْمَلُهَا تُكْتَبُ لَهُ بِمِثْلِهَا: كله چه په تاسوكښې يوكس په خپل اسلام كښې ښه والې اوخوبيانې پيدا كړى.اواطاعت اختياركړى.نوهرهغه نيك كاركوم چه هغه كوى.دلس چند نه واخله تراووه سوو پورې ليكلى شى.اوهربدعمل چه هغه كوى.نوهغه صرف يو ليكلى شى.

ددې حديث سره متعلق ټول تفصيلات په مخكنى حديث كښې تيرشوى دى.

۳۱-بَاب أَحَبُّ الدِّينِ إِلَى اللهِ أَدْوَمُهُ

د مخكنى باب سره ددې باب ربط حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه ددې باب د مخكنى باب سره مناسبت داسې دې. چه په ماقبل كښې داسلام دحسن بيان وو.او اوس دلته حدبندى كولې شى. چه په اسلام كښې دحسن تصوركولونه پس دې داسې نه وى.چه يوكس په اعمالوكښې دغلو اوتجاوز عن الحدود ارتكاب شروع كړى.ځكه كه تجاوزعن الحدود اوغلواختيار كړې شى.نوپه آخركښې به دسترى والى د وجې عمل بيخى پريږدى.ددې وجې

() تهذيب الكمال(۳۰۰/۱۳۰) وطبقات ابن سعد(۵/۴۴۵) خودطبقات په مطبوعه نسخه كښې ((مات سنة إحدى أوإثنتين ومائة)) دا الفاظ ډاكټربشار عواد معروف محقق تهذيب الكمال نقل كوى.او ليكى. (وهو تحريف)_

() التاريخ الكبير(۲۳۶/۸) رقم ۲۸۴۷)_

() كشف البارى (۵۹۱/۱و ۶۶۳)_

دلته دا اوخودلې شوه چه بيشكه داعمالو په ذريعه په اسلام كښې حسن راځي خوميانه روى اختيار كړئ اومداومت اختيار كړئ نوهله به هغه حسن قائم پاتې شي (١)

علامه عينى رحمه الله فرمائى چه په ماقبل كښې داسلام دپاره دحسن يعنى «امتثال اوامر، اجتناب عن النواهى اوشفقة على خلق الله» بيان وو او اوس په هغې باندې د مداومت اومواظبت بيانول مطلوب دى خكه چه كله بنده مداومت اومواظبت اختيار كړى نوداﷲ تعالى په محبت كښې زيادت كيږى اوداسلام حسن دائمى وى (٢) دا مناسبت زيات ښكاره دې

دترجمة الباب مقصد حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دامام بخارى رحمه الله ددې ترجمې نه مقصد دا دې چه دايمان اطلاق په عمل باندې صحيح دې خكه چه ترجمه ئې قائمه كړې ده «أحب الدين إلى الله أدومه» دين دعمل په معنى دې اومطلب دا دې چه داﷲ تعالى په نيزدتولونه محبوب عمل هغه دې په كوم باندې چه مداومت اوشى ددې نه معلومه شوه چه اعمال په دين كښې داخل دى اودمصنف رحمه الله په نيزدايمان اسلام اودين اطلاق په يوحقيقت باندې كيږى نوهركله چه دا ثابته شوه چه اعمال په دين كښې دى نوپه ايمان او اسلام كښې داخليدل ئې هم ثابت شو (٣)

ابن بطال رحمه الله فرمائى چه د ترجمة د انعقاد نه دامام بخارى رحمه الله مقصود په مرجئو باندې رد دې چه تاسو وائې چه داعمالو د ايمان او دين سره څه تعلق نشته حالانكه دلته عمل ته دين وئيلې شوې دې اوپه دې باندې د مداومت ترغيب وركړې شوې دې (٤)

[٤٣] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ هِشَامٍ قَالَ أَخْبَرَنِى أَبِى عَنْ عَائِشَةَ (٥) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا امْرَأَةٌ قَالَ مَنْ هَذِهِ قَالَتْ فُلَانَةُ تَذْكُرُ مِنْ صَلَاتِهَا قَالَ مَهْ عَلَيْكُمْ بِمَا تُطِيقُونَ فَوَاللَّهِ لَا يَمَلُّ اللَّهُ حَتَّى تَمَلُّوا وَكَانَ أَحَبَّ الدِّينِ إِلَيْهِ مَا دَامَ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ [١١٠٠، وانظر: ١٨٦٩]

---

(١) فتح البارى (١\١٠١)_
(٢) عمدة القارى (١\٢٥٥)_
(٣) فتح البارى (١\١٠١)_
(٤) شرح كرمانى (١\١٧٣)_
(٥) الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى كتاب التهجد باب ما يكره من التشديد فى العبادة رقم ١١٥١) ومسلم فى صحيحه (١\٢٦٧) كتاب صلاة المسافرين باب فضيلة العمل الدائم من قيام الليل وغيره .. والنسائى فى سننه (١\١٤٣) كتاب قيام الليل وتطوع النهار باب الإختلاف على عايشة رضى الله عنها فى إحياء الليل وابن ماجه فى سننه فى كتاب الزهد باب المداومة على العمل رقم ٤٢٣٨)_

رجال الحديث

① محمدبن مثنى: دوى ابوموسى محمدبن المثنى بن عبيد عنزى بصرى دى ددوى حالات مخكښې د «كتاب الإيمان، باب حلاوة الإيمان» لاندې تيرشوى دى

② يحى: دوى مشهورمحدث امام يحيى بن سعيدالقطان تميمى رحمه الله دى ددوى حالات د«كتاب الإيمان، باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه» لاندې تيرشوى دى

③ هشام: ددوى حالات په كشف البارى(۱\۲۹۱اردو) كښې مختصرراغلى دى. خو چونكه دوى دصحاح سته په اهم ترينو راويانوكښې دې. ددې وجې لږ په تفصيل سره ددوى حالات دوباره ذكركولى شى. دوى هشام بن عروه بن الزبيربن العوام قرشى اسدى مدنى رحمه الله دى. ددوى كنيت ابوالمنذر دې. بعضې حضراتو ئې كنيت ابوعبدالله ذكركړې دې.[۱]
دحضرت انس، حضرت جابربن عبدالله، حضرت سهل بن سعد. حضرت ابن عمر رضي الله عنهم زيارت ئې كړې دې. خوروايت ئې ترې نه دې كړې. دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په باره كښې خودا هم منقول دى. چه هغوى دهشام په سر باندې لاس رانبكلې وو. اودعا ئې ورته كړې وه.[۲]
په صغارتابعينوكښې ددوى شماركيږى.[۳] دخپل پلارعروه نه علاوه ئې دخپل تره عبدالله بن زبير رضي الله عنه دخپلې بى بى فاطمه بنت المنذر. عبدالله بن عروه بن الزبير. ابن شهاب زهرى. يزيدبن رومان، عبدالرحمن بن القاسم بن محمدبن ابى بكرالصديق. ابوالزبير محمدبن مسلم مكى. اوابوسلمه بن عبدالرحمن بن عوف رحمهم الله نه روايت كړى دى.[۴]
ددوى نه روايت كونكوكښې امام شعبه. امام مالك. سفيان ثورى. اسرائيل بن يونس. اسماعيل بن عليه. ايوب سختيانى. حمادبن زيد. حمادبن سلمه. داود بن نصيرطائى. عبدالله بن المبارك. وكيع بن الجراح اويحيى بن سيعدالقطان رحمهم الله وغيره مشهور محدثين دى.[۵]

امام عجلى رحمه الله فرمائى. «كان ثقة»[۶]

امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائى. «وكان ثقة ثبتا كثيرالحديث حجة»[۷]

---

(۱) تهذيب الكمال(۳۰\۲۳۲و ۲۳۳)_
(۲) المصدرالسابق وسيرأعلام النبلاء(۶\۳۵)_
(۳) هدى السارى(ص.۴۴۸)-
(۴) تهذيب الكمال(۳۰\۲۳۳و ۲۳۴)_
(۵) تهذيب الكمال(۳۰\۲۳۴و ۲۳۷)-
(۶) تهذيب الكمال(۳۰\۲۳۸)_
(۷) طبقات ابن سعد (ج۷،ص۳۲۱))-

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی «ثقة إمام الحديث»(١)
ابن حبان فرمائی «كان حافظا متقنا ورعا فاضلا»(٢)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی «الإمام الثقة شيخ الإسلام....»(٣)
او هم دوی فرمائی «أحد الأعلام حجة إمام»(٤)
دغه شان دوی فرمائی «الإمام الحافظ الحجة...»(٥)
په هشام بن عروه باندې امام مالك، يعقوب بن شيبه او ابوالحسن بن القطان رحمهم الله كلام كړې دې ابوالحسن بن القطان رحمه الله فرمائيلی دی «هو وسهيل بن أبي صالح اختلطا وتغيرا»(٦)
يعنی ددوی په حافظه كښې دومره تغير راغلې وو چه هغه مختلط (گډ وډ) شوې وو.
دغه شان يعقوب بن شيبه رحمه الله فرمائی «ثبت، ثقة، لم ينكر عليه شئ إلا بعد ما صار إلى العراق، فإنه انبسط في الرواية عن أبيه، فأنكر ذالك عليه أهل بلده، والذي يرى أن هشاما يسهل لأهل العراق أنه كان لا يحدث عن أبيه إلا بما سمعه منه، فكان تسهله أنه أرسل عن أبيه مما كان يسمعه من غير أبيه عن أبيه»(٧)
يعنی د هشام اصل عادت دا وو چه هغه به د خپل پلار نه براه راست (بې واسطې) اوريدلې شوی احاديث روايت كول، خو كله چه هغه عراق ته لاړو نو هلته ئې د عراق خلقو دپاره څه داسې آسانی اوكړله چه بعضې هغه احاديث كوم چه دوی د خپل پلار نه براه راست نه وو اوريدلی خو دچا په واسطې سره ئې اوريدلی وو اسې احاديثو كښې به دوی واسطه حذف كوله او براه راست به ئې د خپل پلار نه روايت كول.
دغه شان عبدالرحمن بن يوسف بن خراش رحمه الله فرمائی «كان مالك لا يرضاه... بلغني أن مالكا نقم عليه حديثه لأهل العراق، قدم الكوفة ثلاث مرات، قدمة كان يقول: «حدثني أبي قال: سمعت عائشة رضي الله عنها»، وقدم الثانية فكان يقول: «أخبرني أبي عن عائشة»، وقدم الثالثة فكان يقول: «أبي عن عائشة رضي الله عنها»، يعني يرسل عن أبيه»(٨)

---

(١) تذكرة الحفاظ للذهبي (١\١٤٤) وتهذيب الكمال (٣٠٢٣٨) وسير أعلام النبلاء (٦\٣٥)_
(٢) الثقات لابن حبان (ج٥.ص٥٠٢))-
(٣) سير أعلام النبلاء (ج٦.ص٣٤))-
(٤) ميزان الإعتدال (ج٤.ص٣٠١))-
(٥) تذكرة الحفاظ (ج١.ص١٤٤))
(٦) ميزان الإعتدال (ج٤.ص٣٠١) وسير أعلام النبلاء (ج٦.ص٣٥)-
(٧) تهذيب الكمال (ج٣٠.ص٢٣٨)-
(٨) اوګوري. سير أعلام النبلاء (ج٦.ص٣٥). وتهذيب الكمال (ج٣٠.ص٢٣٩). وميزان الإعتدال (ج٤.ص٣٠٢). وهدی الساري (ص٤٤٨))-

ترکومې پورې چه د ابوالحسن بن القطان رحمه الله د کلام تعلق دې چه هغه مختلط شوې وو نو حافظ ذهبي رحمه الله ددوی زبردست رد کړې دې دوی په ميزان الاعتدال کښې فرمائي «أحد الأعلام حجة إمام لكن في الكبر ناقص حفظه، ولم يختلط أبداً، ولا عبرة بما قاله أبوالحسن ابن القطان من أنه وسهيل بن أبي صالح اختلطا و تغيرا، نعم، الرجل تغير قليلاً، ولم يبق حفظه فهو في حال الشبيبة، فنسي بعض محفوظه أو وهم، فكان ماذا؟ أهو معصوم من النسيان؟ ولما قدم العراق في آخر عمره حدث بجملة كثيرة من العلم، في غضون ذلك يسير أحاديث لم يجودها، و مثل هذا يقع لمالك، ولشعبة، ولوكيع، ولكبار الثقات، فدع عنك الخبط، وذر خلط الأئمة الأثبات بالضعفاء و المختلطين، فهشام شيخ الإسلام، ولكن أحسن الله عزاءنا فيك يا ابن القطان»(١)

د حافظ ذهبي رحمه الله د کلام خلاصه دا ده چه د هشام په حافظه کښې بالکل آخري عمر کښې لږ ډیر تغیر ضرور راغلې وو خو هغه د «مختلط» درجې ته نه وو رسیدلې دا تغیرهم بوډاتوب په وجه لازمیږی څکه دا خبره بالکل ښکاره ده چه د ځوانۍ په زمانه کښې کومه زبردسته حافظه وی هغه د بوډاتوب په زمانه کښې نه وی ترکومې پورې چه آخري عمر کښې په عراق کښې د بعضو داسې حدیثونو تعلق دې چه هغې کښې څه خامیانې او خرابیانې) وی نو د داسې خامیانو نه خو لوئې لوئې ثقات ائمه هم خالي نه وی. لکه چه داسې وهمونه د امام مالك. امام شعبه او امام وکیع بن الجراح رحمهم الله پشان د علم حدیث بادشاهانو ته هم لاحق شوی وو نو د داسې معمولي وهمونو په وجه ثقات ضعیفانو او مختلطینو سره ملاوول هیڅ کله هم مناسب نه دی.

هم دا خبره دوی په «سیر اعلام النبلاء» کښې هم لیکلې ده بلکه په دې کښې دا زیادت هم شته چه «وما هذا التغير بضار أصلاً، وإنما الذي يضر الإختلاط، وهشام فلم يختلط قط، هذا أمر مقطوع به، وحديثه محتج به في الموطا، والصحاح، و السنن، فقول ابن القطان: «إنه اختلط» قول مردود مرذول، فأين إماماً من الكبار سلم من الخطإ و الوهم، فهذا شعبة، وهو في الذروة، له أوهام، وكذالك معمر، والأوزاعي ومالك رحمهم الله»(٢)

یعنی مطلق تغیر مضر او قادح نه دې بلکه مضر او قادح «اختلاط» دې او د هشام په باره کښې دا امر فیصله شوې او یقیني دې چه هغه د ژوند په هیڅ مرحله کښې «مختلط» شوې نه وو هم دا وجه ده چه ددوی د حدیثونو نه په مؤطا. کتب صحاح. او په سنن کښې استدلال او احتجاج شوې دې نو د ابن القطان رحمه الله قول چه هغه مختلط شوې وو نا قابل قبول دې ترکومې پورې چه د معمولي وهم تعلق دې نو ددې نه د شعبه .معمر. اوزاعي او مالك رحمهم الله پشان امامان هم محفوظ نه دی

---

(١) ميزان الإعتدال (ج ٤.ص ٣٠١.٣٠٢)) -

(٢) سير أعلام النبلاء (ج ٦ص ٣٥. ٣٦)) -

ترکومې پورې چه د يعقوب بن شيبه رحمه الله دا وينا ده چه دوى به واسطه حذف کوله.او د خپل پلار نه به ئې ارسالاً روايت کولو نو دا تدليس دې (١) خو ياد ساتئ چه دوى هميشه تدليس نه کولو.ددوى عادت مستقل د تدليس نه وو: بلکه کله کله به ئې داسې کول.لکه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى «ثقة فقيه ربما دلس»(٢) يعنى دې ثقه دې اوفقيه دې کله کله به ئې تدليس کولو.

حافظ ذهبى رحمه الله د يعقوب بن شيبه ددې قول نقل کولو نه پس فرمائى «فى حديث العراقيين عن هشام أوهام تحتمل، كما وقع فى حديثهم عن معمر أوهام»(٣) يعنى د عراق خلق چه د هشام نه کوم روايات نقل کوى.هغې کښې معمولى اوهام دى.چه دا برداشت کيدې شى.هم دغه شان اوهام د معمر په روايتونو کښې هم دى.کوم چه د عراق خلق ددوى نه روايت کوى

بيا ترکومې پورې چه د عبدالرحمن بن يوسف بن خراش رحمه الله د قول تعلق دې چه امام مالک رحمه الله به دا نه خوښول.او دوى به د هغوى په حديثونو تنقيد کولو کوم چه به د عراق خلقو روايت کول.نو دا تنقيد هم د هغه وهمونو او نا آشنا تدليس په وجه وو.کوم چه به هغوى کولو.داسې وهمونه هم قادح (او قابل د جرحې) نه دى.او داسې تدليس هم قابل د برداشت دې.

هم دا وجه ده.چه حافظ رحمه الله ددوى ذکر هغه مدلسينو کښې کړې دې.کومو چه به کله کله تدليس کولو.او ددوى تدليس برداشت کولې شى.(٤)

د مذکوره ټول تقرير او اقوالو خلاصه دا شوه.چه د هشام بن عروه رحمه الله ثقاهت. تثبت. او فقاهت مجمع عليه دې.په آخرى عمر کښې ددوى په حافظه کښې معمولى تغير ضرور پيدا شوې وو.خوهغه د اختلاط په درجه کښې نه وو. البته هغه به کله کله تدليس کولو.خو دا تدليس داسې نه دې.چه ددوى رواياتو دپاره قادح جوړ شى.هم دا وجه ده.چه سره د امام مالک رحمه الله. ټولو مشهورو د حديثو مصنفينو ددوى روايات د احتجاج او استدلال په طور پخپلو کتابونو کښې ليکلى دى.والله اعلم.

په عامو حالاتو کښې هم په قول او فعل کښې ددوى د صدق عادت وو.ددې اندازه دهغه واقعې نه کيږى.کومه چه ددوى په حالاتو کښې اصحاب د سير او تراجمو رانقل کړې ده.چه: خليفه منصور هشام بن عروه ته اووئيل.چه اې ابو المنذر! تاسو ته هغه ورځ ياده ده.په کومه ورځ چه زه سره د خپلو رونړو تاسو ته راغلې ووم.تاسو د يو لرګى په پيالئ کښې ستوان اوبو کښې ګډ کړى وو.او تاسو څکل؟ مونږ چه کله ستاسو نه اووتلو.نو زمونږ پلار مونږ ته اووئيل.چه ددې لوئې حضرت د حقوقو خيال ساتئ.څکه چه ترکومې پورې دې

---

(١) قاله الحافظ فى هدى السارى(ص٤٤٨))-
(٢) تقريب التهذيب(ص٥٧٣ رقم:٧٣٠٢))-
(٣) سير أعلام النبلاء(ج٦ص٤٦))-
(٤) تعريف أهل التقديس بمراتب الموصوفين بالتدليس(ص١٨) او اوګورئ:تعليقات الشيخ محمد عوامة على الكاشف للذهبى (ج٢.ص٣٣٧))-

ژوندې دې ستاسو په قوم کښې به څه نا څه خير وى هشام اوفرمائيل چه اميرالمؤمنين ماته دا واقعه بالکل ياده نه ده.
کله چه دوى د منصور د دربار نه اووتل نو چا دوى ملامته کړل او وې ونيل چه تاسو هم عجيبه يئ؛ اميرالمؤمنين تاسو ته داسې واقعه يادوى چه ددې په حواله سره تاسو نور قربت حاصلولې شو خو تاسو صفا انکار کوئ هشام بن عروه اوفرمائيل چه هرکله ماته دا واقعه ياده نه ده نو زه ولې ووايم چه ماته ياده ده د الله تعالى خو زما سره دا معامله ده چه صرف صدق سره ئې خير ايخودې دې.(١)

ابوجعفر منصور به ددوى ډير زيات اکرام کولو يو خل هشام بن عروه د خليفه منصور لاسونه ښکلول اوغوښتل نو خليفه اوونيل.«يا ابن عروة! إنا نكرم ذالك، إنا نكرمك عنها ونكرمها عن غيرك»(٢) يعنى اى ابن عروه! مونږ ته دا خوښه نه ده چه زمونږ لاسونه ښکل کړې شى په اصل کښې مونږ خپل لاسونه ددې قابل نه ګڼړو چه تاسو دا ښکل کړئ او نور خلق ددې قابل نه ګڼړو چه هغوى دا لاسونه ښکل کړى په دې وجه مونږ تاسو ددې نه بچ کوو او دا ستاسو نه سوا د نورو خلقو نه بچ کوو.

په ١۴٥ ه يا ١۴٦ ه يا ١۴٧ ه کښې ددوى وفات په بغداد کښې اوشو رحمه الله رحمة واسعة(٣)

③ **عروة:** د حضرت عروه رحمه الله حالات هم په ..کشف البارى ړومبى جلد..(١/٢٩١)(اردو) کښې په ډير مختصر انداز کښې مونږ ذکرکړى دى خو چونکه دا د حديث په راويانو کښې اساطين (ښان د ستنو) دى په دې وجه ددوى حالات لږ تفصيل سره دلته ذکرکولې شى.

دا مشهور تابعى د مدينې منورې په فقهاء سبعه (٤)کښې يو فقيه. حضرت عروه بن الزبير بن العوام بن خويلد بن أسد بن عبدالعزى بن قصى قرشى اسدى مدنى دې ابوعبدالله ددوى کنيت دې.(٥)

---

١) تاريخ بغداد(ج١٤،ص٣٩) و وفيات الأعيان لابن خلكان (ج٦،ص٨١) و سيرأعلام النبلاء (ج٦،ص٤٤، ٤٥) و تهذيب الكمال(ج٣٠،ص٢٣٩))-

٢) تاريخ بغداد(ج١٤،ص٣٩)وتهذيب الكمال(ج٣٠،ص٢٣٩، ٢٤٠) و سيرأعلام النبلاء(ج٦،ص٤٩)) ووفيات الأعيان(ج٦،ص٨١، ٨٢))-

٣) تاريخ بغداد(ج١٤،ص٤١، ٤٢) وتهذيب الكمال(ج٣٠،ص٢٤٠، ٢٤١)و سيرأعلام النبلاء (ج٦،ص٤٦)و وفيات الأعيان(ج٦،ص٨٠))-

٤) وهم سعيد بن المسيب، وعروه بن الزبير،والقاسم بن محمد، وعبيدالله بن عبدالله بن عتبة بن مسعود، وخارجة بن زيد، وسليمان بن يسار، وفى السابع ثلاثة أقوال،فقيل:سالم بن عبدالله بن عمر، وقيل:أبوسلمة بن عبدالرحمن، وقيل: أبوبكر بن عبدالرحمن بن الحارث بن هشام،كذا فى تهذيب الأسماء واللغات للنووى(ج١ ص١٧٢) ترجمة خارجة بن زيد)-

٥) تهذيب الأسماء(ج١،ص٣٣١) وتهذيب الكمال(ج٢٠،ص١١، ١٢) وغيره كتب تراجم)-

الله تعالى دوى ته لونى نسبى او خاندانى شرف وركړې وو د نبى كريم ﷺ په ..حوارى..
عشره مبشره كښې يو جليل القدر صحابى حضرت زبيربن العوام رضي الله عنه ددوى پلار محترم.د
رسول كريم ﷺ خليفه صديق اكبر رضي الله عنه ددوى نيكه (د مور پلار) وو.او ذات النطاقين
حضرت اسماء بنت ابى بكر الصديق رضي الله عنها ددوى مور محترمه.او حضوراكرم ﷺ ددوى
مامارد تروږخاوند) او حضرت عائشه رضي الله عنها ددوى تروږ ده.([1])

دوى د خپل پلار حضرت زبير بن العوام. د خپلې مور اسماء بنت ابى بكر الصديق.د خپلې
تروږ حضرت عائشه. حضرت سعيد بن زيد. حضرت على بن ابى طالب. سهل بن ابى
حثمه. سفيان بن عبدالله الثقفى. حضرت جابر.حضرت حسن. حضرت حسين.محمد بن
مسلمه. حضرت ابوهريره. حضرت ابن عباس. حضرت زيد بن ثابت. حضرت ابوايوب
انصارى. حضرت مغيره بن شعبه. حضرت اسامه بن زيد.حضرت معاويه. حضرت عمرو
بن العاص. حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص. حضرت ام هانى بنت ابى طالب. او د
حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه علاوه د نورو صحابهٔ كرامو رضي الله عنهم نه هم روايت كوى.([2])

ددوى نه په روايت كونكو خلقو كښې ددوى د خامنو يحى. عثمان. هشام. او د محمد نه
علاوه سليمان بن يسار، ابوسلمه بن عبدالرحمن. ابن شهاب زهرى . صفوان بن سليم.
ابوالزناد، صالح بن كيسان، او محمد بن المنكدر رحمهم الله وغيره ډير محدثين دى.([3])

د اصح قول مطابق په ۲۳ھ كښې ددوى ولادت شوې دې.([4])

امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائى:«كان ثقة كثيرالحديث فقيهاً عالماً([5]) مأموناً ثبتاً»([6])

امام احمد بن عبدالله عجلى رحمه الله فرمائى.«مدنى تابعى ثقة وكان رجلاً صالحاً، لم يدخل فى شئ من
الفتن»([7])امام زهرى رحمه الله فرمائى.«عروة بحر لاينزف»([8])

هشام بن عروه رحمهما الله فرمائى.«والله ما تعلمنا جزء أمن ألف جزء، وفى رواية: من ألفى جزء— من
أحاديثه]—([9])

---

[1]) اوګورئ عمده القارى(ج۱.ص۳۸) بدء الوحى)ــ
[2]) سيراعلام النبلاء(ج ٤.ص٤٢١، ٤٢٢) وتهذيب الكمال(ج ٢٠.ص١٢، ١٤))-
[3]) سير اعلام النبلاء(ج ٤.ص٤٢٢)وتهذيب الكمال(ج ٢٠.ص١٤، ١٥))-
[4]) سير أعلام النبلاء(ج ٤.ص٤٢٢))-
[5]) كذا فى السير(ج ٤.ص٤٢٢) وتهذيب الكمال(ج ٢٠.ص١٥) والكاشف(ج٢.ص١٨، رقم:٣٧٧٥)وتهذيب الأسماء واللغات(ج١.ص٣٣٢) وخلاصة الخزرجى(ص٢٦٥))-
[6]) (الطبقات لابن سعد(ج٥.ص١٧٩) وفى المطبوع من كتاب الطبقات:.. عالياً..(بالياء بعد اللام) ولعله تصحيف من .. عالماً.. كما فى المراجع الأخرى التى سبقت آنفاً.والله أعلم)-
[7]) تهذيب الكمال(ج ٢٠.ص١٥، ١٦) و سير أعلام النبلاء(ج ٤.ص٤٣٣، ٤٣٦))-
[8]) تهذيب الكمال(ج ٢٠.ص١٦) وسير أعلام النبلاء(ج ٤.ص٤٣٦) والتاريخ الكبير(ج٧.ص٣١))-
[9]) و تهذيب الكمال(ج ٢٠.ص١٦)وسير أعلام النبلاء(ج ٤.ص٤٢٥)و التاريخ الكبير(ج٧.ص٣٢))-

پخپله حضرت عروه بن الزبير رحمه الله فرمائي «ما ماتت عائشة حتى تركتها قبل ذالك بثلاث سنين»[1] يعني د حضرت عائشې رضي الله عنها د وفات نه درې کاله وړاندې پورې ما ددوی ټول حديثونه اوريدلي وو

حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله فرمائي «ما أحد أعلم من عروة ابن الزبير وما أعلمه يعلم شيئاً أجهله»[2]

امام زهری رحمه الله فرمائي «كان عروة بحراً لا تكدره الدلاء»[3] يعنې حضرت عروه رحمه الله يو لوئې سمندر وو په ډولچو سره هغه ګنده کيدونکې نه وو

سفيان بن عيينه رحمه الله فرمائي «كان أعلم الناس بحديث عائشة ثلاثة: ألقاسم بن محمد، وعروة بن الزبير، وعمرة بنت عبدالرحمان»[4]

عبدالرحمن بن حميد بن عبدالرحمن بن عوف فرمائي چه زه خپل پلار سره جمات ته داخل شوم اومې کتل چه ډير زيات خلق د يو سړی ګيرچاپيره راجمع دی زما پلار ماته اووئيل چه خويه! اوګوره دا څوك دې؟ ما اوکتل نو هغه عروه بن الزبير وو ما خپل پلار ته په ونيلو کښې تعجب ښکاره کړو نو هغوی اوفرمائيل «يا بني لا تعجب، فوالله لقد رأيت أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم وانهم ليسألونه»[5]

هشام بن عروه رحمه الله فرمائي «ما سمعت أحداً من أهل الأهواء يذكر عروة إلا بخير»[6]

حضرت عروه بن الزبير رحمه الله چه څنګه د فقهې او حديث بحرزخار (لوئې سمندر) وو نو داسې سره سره د زهد او تقوی، عبادت او طاعت، او د صبر او تحمل هم يو لوئې مثال وو ددوی په يوه خپه کښې داسې تکليف پيدا شو چه د هغې کټ کول او جدا کول لازمی شو په دغه موقعه باندې دوی د صبر او تحمل، د ذکروانابت، اود رضا بالقضاء يوه لويه مظهره اوکړله. ټولو اصحاب سير د دوی واقعه ذکرکړې ده مونږ دلته اختصار سره دا ذکرکوو

حضرت عروه بن الزبير رحمه الله خپل خوئې محمد بن عروه خان سره کړو او وليد بن عبدالملك ته لاړل محمد بن عروه دغه کار دپاره غوجل (دخاروو تړلو ځائې) ته لاړو هلته يو خاروی دوی اووهلو ددوی هم په دغه وخت وفات اوشو د حضرت عروه رحمه الله پخپله خپه باندې يو دانه راوختله ددې تکليف زيات شو د طبيبانو (ډاکټرانو) سره مشوره اوکړې شوه نو ټولو

---

[1] وسير أعلام النبلاء (ج٤، ص٤٢٤) و تهذيب الكمال (ج٢٠، ص١٧)) -
[2] و تهذيب الكمال (ج٢٠، ص١٧) وسير أعلام النبلاء (ج٤، ص٤٢٥)) -
[3] و تهذيب الكمال (ج٢٠، ص١٨) وسير أعلام النبلاء (ج٤، ص٤٢٥) وتهذيب الأسماء (ج١، ص٣٣٢)) -
[4] و تهذيب الكمال (ج٢٠، ص١٨) وتهذيب الأسماء (ج١، ص٣٣٢)) -
[5] تهذيب الكمال (ج٢٠، ص١٨، ١٩) وسير أعلام النبلاء (ج٤، ص٤٢٥)) -
[6] تهذيب الكمال (ج٢٠، ص٢١) وسير أعلام النبلاء (ج٤، ص٤٣٣)) -

په اتفاق سره راضي وركړله چه د خپې كټ كولو نه بغير خلاصي نشته كله چه طبيبانو راجمع شو او كار شروع شو نو طبيبانو اووئيل چه مونږ تاته لږ شان شراب څكول غواړو دوى جواب وركړو چه زه د صحت حاصلولو دپاره حرام څيز نه استعمالوم دوى اووئيل چه بيا ده مونږ نه د خوب راوستلو دوائى دركوو نو دوى اوفرمائيل ((ما أحب أن أسب عضواً من أعضائي وأنا لا أجد ألم ذالك فلأحتسبه)) دغه شان ئې د خوب راوستلو دوايئ نه هم انكار اوكړو بيا څه اجنبي نسمه خلق ئې اوكتل نو دوى تپوس اوكړو چه دا څوك دى؟ اووئيلې شو چه دا خلق ددې عمل په دوران ستاسو د نيولو دپاره راغلي دى څكه ممكن ده چه تكليف د نا قابل برداشت شي دوى اوفرمائيل ما ته اميد دې چه ددې ضرورت به نه راپيښيږي بيا دوى په تسبيح و تهليل كښې مشغوله شو او طبيبانو خپل كار شروع كړو مخكښې ئې څه حصه په چاقو سره كټ كړله بيا ئې هډوكي د آرې په ذريعه كټ كړو په دې دوران كښې دوى په تكبيراو تهليل كښې مشغوله وو هيڅ جزع فزع (او فرياد) ئې اونكړو ترديې چه ددې عمل په دوران خليفه وليد بن عبدالملك هلته چې سره خبرې كولې طبيبانو د خپل عمل نه فارغ شو او خليفه ته خبر هم اونشو بيا ګرم تيل راوړلى شو او د وينې بندولو دپاره په دې كښې خپه كيخودې شوه په دې موقعه دوى باندې بې هوشي راغله په هوش كښې راتلو سره ئې د مخ نه خولې اوچې كړې او وې فرمائيل ((لقد لقينا من سفرنا هذا نصباً)) كله چه دوى خپل كټ كړې شوى قدم ته اوكتل نو پخپلو لاسونو كښې ئې التيه پلتيه كړو او وې فرمائيل ((أما والذى حملني عليك، إنه ليعلم أنى ما مشيتُ بك إلى حرام، أو قال معصية))
په داسې موقعه دوى ته د خپل خوئى د حادثاتى مرګ اطلاع ملاو شوه خو هغوى په قضاء راضي پاتې شو د جزع فزع هيڅ كلمه ئې د ژبې نه اونښكله كله چه مدينې منورې ته اورسيدو نو د الله تعالى شكر ئې ادا كړو وې فرمائيل ((أللهم كان لى بنون سبعة، فأخذت واحداً، وأبقيت لى ستة، وكان لى اطراف أربعة، فأخذت طرفاً وأبقيت ثلاثة، ولئن ابتليت لقد عافيت، ولئن أخذت لقد أبقيت))(١)
د عبادت داسې ذوق وو چه روزانه به ئې مصحف ته په كتلو څلورمه حصه قرآن تلاوت كولو بيا ئې د شپې دا په مانځه كښې لوستلو البته په كومه شپه چه ددوى خپه كټ كړې شوه په دغه شپه ئې دا معمول پوره نكړې شو حالانكه نور معمولات ئې په دغه ورځ هم پرې نخودل
هشام بن عروه فرمائى ((كان يصوم الدهر كله إلا يوم الفطر، ويوم النحر، ومات وهو صائم))(٢)

---

(١) اوګورئ وفيات الأعيان(ج٣،ص٢٥٥، ٢٥٧) وتهذيب الكمال(ج٢٠،ص٢٠، ٢١) و سير أعلام النبلاء (ج٤/٤٢٩-٤٣١))-
(٢) تهذيب الكمال(ج٢٠،ص٢١))-

قاضي ابن خلكان رحمه الله ليکي چه دحضرت معاويه رضي الله عنه په عهد خلافت کښې په مسجد حرام کښې د عبدالملك بن مروان، عبدالله بن الزبير، مصعب بن الزبير او د عروه بن الزبير رحمه الله اجتماع اوشوه.هر يو د خپلې تمنا او آرزو اظهار اوکړو
حضرت عبدالله بن الزبير رضي الله عنه اوفرمائيل.. زما آرزو دا ده چه په حرمين شريفين باندې زما حکومت وي او ماته خلافت ملاو شي..
مصعب بن الزبير اوفرمائيل.. زما آرزو دا ده چه د عراقينو حکومت ماته ملاو شي او د قريشو دوه د ټولو نه شريفې او عقلمندې ښځې سکينه بنت الحسين او عائشه بنت طلحه په خپله نکاح کښې راولم..
عبدالملك بن مروان اووئيل.زما آرزو دا ده چه زه د ټولې زمکې مالك جوړ شم او د معاويه رضي الله عنه خليفه زه جوړ شم..
حضرت عروه بن الزبير رحمه الله اوفرمائيل.((لست لى شئ مما أنتم فيه، منيتي الزهد فى الدنيا، والفوز بالجنة فى الآخرة، و أن أكون ممن يروى عنه هذا العلم))،يعنى ما ته د هغه څيزونو هيڅ تمنا نشته دکومو چه تاسو تمنا کوئ.زما آرزو خو دا ده چه د دنيانه بې رغبته اوسيږم.په آخرت کښې د جنت کاميابى ملاو شي.او ددې علم يعنى د حديثو روايت زما نه اوکړې شي.
د خدائې کول هم داسې اوشو.چه هر يو ته د هغه آرزو ملاو شوه.عبدالملك بن مروان به وئيل. ((من سره أن ينظر إلى رجل من أهل الجنة فلينظر إلى عروة بن الزبير))[1]
ددوى د وفات په باره کښې مختلف اقوال دى.چه په هغې کښې اصح قول ۹۳ه او ۹۴ه دي.[2]((والله اعلم، رحمه الله تعالى و رضى عنه و جزاه عن العلم و أهله خيراً))۔

⑤ **عـائشه رضي الله عنها:** دا ام المؤمنين حضرت عائشه الصديقه بنت حضرت ابوبکر الصديق رضي الله عنهما ده.ددوى مختصر حالات د ,,بدء الوحى،، د دويم حديث لاندې تير شوى دى.[3]

قوله: عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيْهَا وَعِنْدَهَا امْرَأَةٌ:
يعنى حضوراکرم صلى الله عليه وسلم حضرت عائشه رضي الله عنها خواته تشريف راوړو.دوى سره په دغه وخت يوه ښځه وه..

---

[1]) اوګورئ:وفيات الأعيان(ج٣.ص٢٥٨) وسيرأعلام النبلاء(ج٤.ص١٤١)ترجمة مصعب بن الزبير (ج٤.ص٤٣١) ترجمة عروه بن الزبير. وفيه ذكر ابن عمر. وقد تمنى المغفرة)۔

[2]) اوګورئ: الكاشف للذهبي(ج٢.ص١٨) رقم(٣٧٧٥)وسيرأعلام النبلاء(ج٤.ص٤٣٤)و تهذيب الكمال(ج٢٠.ص٢٣. ٢٤)وطبقات إبن سعد(ج٥.ص١٨٢)و وفيات الأعيان(ج٣.ص٢٥٨))۔

[3]) اوګورئ:كشف البارى(ج١.ص٢٩١.٢٩٥) د حضرت عائشې رضى الله عنها تفصيلى حالاتو دپاره اوګورئ: طبقات إبن سعد(ج٨ص٥٨. ٨١)وحلية الأولياء(ج٢.ص٤٣)و تاريخ الإسلام للذهبي (ج٢.ص٢٩٤)والبدايه والنهاية(ج٨ص٩١. ٩٤)و تهذيب التهذيب(ج١٢.ص٤٣٣. ٤٣٦)و شذرات الذهب (ج١.ص٦١.٩.٦٣) وسيرأعلام النبلاء(ج٢.ص١٣٥. ٢٠١))۔

امام بخاری رحمه الله په كتاب التهجد كښې هم دا روايت نقل كړې دې په هغې كښې «كانت عندى إمرأة من بنى أسد» راغلى دى (۱) حالانكه مسلم شريف كښې د امام زهرى رحمه الله په طريق سره روايت رانقل دې هغې كښې دى «أن الحولاء بنت تُويت بن حبيب بن أسد بن عبد العزى مرت بها وعندها رسول الله ﷺ فقلت: هذه الحولاء بنت تويت....» (۲) معلومه شوه چه دا ښځه حولاء بنت تويت ده ددوى تعلق د حضرت خديجه رضي الله عنها قبيلې سره دې (۳)
دلته يو اشكال دا كيږى چه د حديث باب نه معلوميږى چه دا حولاء بنت تويت د حضرت عائشې رضي الله عنها سره ناسته وه په دې حال كښې حضوراكرم ﷺ تشريف راوړو حالانكه د زهرى روايت كوم چه امام مسلم نقل كړې دې هغې كښې دى «مرت بها وعندها رسول الله ﷺ» په ښكاره دواړو حديثونو كښې تعارض دې. لكه چه ددې احتمال اظهار هم شوې دې چه دا دوه مختلف قصې وى او د كومې ښځې ذكر چه په دې دواړو حديثونو كښې راغلې دې دا يوه ښځه نه وى بلكه دوه جدا جدا ښځې وى (۴) او دا احتمال هم ښكاره كړې شوې دې چه قصې دواړه جدا جدا دى خو ښځه هم هغه يوه ده. گويا ددې سره واقعه دوه خله راپيښه شوې ده (۵)
خو علامه عينى او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه نه خو قصې جدا جدا دى او نه ښځې جدا جدا دى خو دا روايت بالمعنى دې اصل روايت محمد بن نصر په.. قيام الليل.. كښې د..محمد بن اسحاق عن هشام.. طريق سره نقل كړې دې هغې كښې دى «مرت برسول الله ﷺ الحولاء بنت تويت» (۶)
يعنى.. حولاء بنت تويت رضي الله عنها د حضور ﷺ په خواكښې تيره شوه..د تطبيق صورت دا دې چه دا حولاء بنت تويت رضي الله عنها مخكښې د حضرت عائشه رضي الله عنها سره وه كله چه حضوراكرم ﷺ حضرت عائشې رضي الله عنها خواته تشريف يوړو نو هغه پاسيدله او لاړه كله چه تلله نو د حضور ﷺ په خواكښې تيره شوه په دې طريقه د حديث باب «أن النبى ﷺ دخل عليها وعندها إمرأة» مفهوم هم صحيح كيږى چه په شروع كښې دا ښځه د حضرت عائشې رضي الله عنها سره ناسته وه او د مسلم د روايت «مرت بها وعندها رسول الله ﷺ» معنى هم صحيح كيږى خكه چه دا د

---

(۱) صحيح بخارى..كتاب التهجد.. باب ما يكره من التشديد فى العبادة(رقم:۱۱۵۱))-
(۲) صحيح مسلم(ج۱.ص۲۶۷) كتاب صلاة المسافرين. باب فضيلة العمل الدائم)-
(۳) فتح البارى(ج۱.ص۱۰۱))-
(۴) فتح البارى(ج۱.ص۱۰۱) و عمدة القارى(ج۱.ص۲۵۶))-
(۵) پورتنى حواله جات)-
(۶) پورتنى حواله جات)-

هغه وخت ذكردې كله چه حضور ﷺ راغې. اوحضرت عائشې ﷺ سره كيناستلو او هغه د حضرت عائشې ﷺ د خوانه پاسيدله او لاړله. كله چه تلله نو د حضور ﷺ په خواكښې تيره شوه چه دا محمد بن نصر مروزى په ((مرت برسول الله ﷺ الحولاء بنت تويت)) الفاظو سره ذكر كړې ده (١) والله اعلم.

قوله قَالَ مَنْ هَذِهِ قَالَتْ فُلَانَةُ تَذْكُرُ مِنْ صَلَاتِهَا: دوى (ﷺ) تپوس اوكړو چه: ښخه څوك ده؟ حضرت عائشې ﷺ جواب وركړو چه دا فلانئ ښخه ده. بيا دوى د هغوى مونځ سره د شوق ذكر اوكړو.

د ((فلانة)) لفظ چونكه د علم مونث نه كنايه دې په دې وجه غير منصرف دې (٢)

((تذكر)) د مضارع معروف نه د واحد مونث غائب صيغه ده او د دې ضمير حضرت عائشې ﷺ طرف ته راجع دې (٣) مطلب دا دې چه حضرت عائشې ﷺ ددوى د مونځ كيفيت. ددې اوګدوالي وغيره ئې ذكركړو. ځكه چه دا مونځ سره په ډير زيات شوق سره موصوفه وه. مونځونه به ئې ډير كول. ترڅو چه ددې شناخت به د مونځ په ذريعه كيدلو.

په بعضو نسخو كښې ((يذكر)) (د واحد مذكر غائب مضارع مجهول) روايت راغلې دې (٤) اوس به ددې مطلب دا وى چه ښخه داسې وه چه ددوى مونځ ډير مشهور وو خلقو به ددوى د مونځ ډير ذكركولو.

د دويمې نسخې مطابق ددوى په باره كښې د تعريفي كلماتو صدور به د خلقو د طرفه ګنړلې شى. او په رومبى صورت كښې به ددوى د تعريفي كلماتو صدور د حضرت عائشه ﷺ نه ګنړلې شى.

دحضرت عائشې ﷺ نه د تعريفي كلماتو د صدور منلو په صورت كښې اشكال كيږى دوى دهغوى په مخكښې ځنګه تعريف اوكړو حالانكه ددې ممانعت په حديث كښې واردشوې دې؟ (٥)

ابن التين رحمه الله فرمائى ممكن ده چه حضرت عائشې ﷺ ته ددوى په باره كښې مكمل

---

(١) اوګورئ: عمدة القارى (ج١،ص٢٥٦) و فتح البارى (ج١ص١٠١)).

(٢) فتح البارى (ج١،ص١٠١) وعمدة القارى (ج١،ص٢٥٦))

(٣) فتح البارى (ج١،ص١٠١) وعمدة القارى (ج١،ص٢٥٧))

(٤) پورتنى حواله جات)

(٥) عن أبى بكرة ﷺ قال: مدح رجل رجلاً عند النبى ﷺ قال ويحك! قطعت عنق صاحبك! قطعت عنق صاحبك! مراراً. إذا كان أحدكم مادحاً صاحبه لا محالة فليقل: أحسب فلاناً. والله حسيبه. ولا أزكى على الله أحداً. احسبه. إن كان يعلم ذاك.كذا وكذا.. صحيح مسلم (ج٢،ص٤١٤) كتاب الزهد. باب النهى عن المدح إذاكان فيه إفراط و خيف منه فتنة على الممدوح. و راجعه لأحاديث أخر فى هذا الموضوع)-

اطمينان وى چه د تعريف په وجه به په دوى كښې هيڅ اثر نه كيږى په دې وجه نې د هغوى په وړاندې تعريف اوكړو (١)

خو حافظ ابن حجر او علامه عينى رحمهما الله د حسن بن سفيان د مسند په حواله د..حماد بن سلمه عن هشام.. طريق سره روايت نقل كړې دې «كانت عندى إمرأة، فلما قامت قال رسول الله ﷺ :من هذه يا عائشة؟ قلت يا رسول الله،هذه فلانة، وهى أعبد أهل المدينة» (٢) ددې نه معلوميږى چه دا تعريف دهغوى په وړاندې نه وو شوې والله اعلم

قوله قَالَ مَهْ عَلَيْكُمْ بِمَا تُطِيقُونَ : ..نبى كريم ﷺ اوفرمائيل بس كړه! په كومو اعمالو چه د هميشوالى طاقت وى هغه لازم اونيسى..

«مه» اسم فعل دې. چه د «اكفف» په معنى كښې دې او دا په يو خبره باندې د زجر دپاره استعماليږى.دلته دا هم ممكن ده چه خطاب حضرت عائشې رضي الله عنها ته وى اومقصود دا وى چه ددې ښځې تعريف مه كوه.او دا هم ممكن ده چه د عمل بما لا يطاق (د وس نه د بهر عمل) زجر مقصود وى.(٣)

بيا دلته اګرچه مقام ښځو ته د خطاب دې نو «عليكن بما تطقن» وئيل پكار وو خو چونكه حكم د پوره امت دپاره عام كول مقصود وو په دې وجه نې سړى غالب كړل.او ښځې نې په دې كښې شاملې كړلې.او وې فرمائيل «عليكم بما تطيقون»(٤)

بيا د «عليكم بما تطيقون» وئيلو تقاضا خو ښكاره ده.چه په هغه اعمالو باندې د اقتصار حكم دې د كوم چه طاقت وى.او ددې مفهوم دا دې چه هغه اعمال اونكړې شى كوم چه د طاقت نه بهر وى.قاضى عياض رحمه الله فرمائى ممكن ده چه دا حكم صرف ،،صلاة الليل،، سره مخصوص وى.يعنى د ،،صلاة الليل،، په سلسله كښې داسې انداز اختيار نكړې شى چه دهغې روستو طاقت نه وى.او دا احتمال هم شته چه دا حكم صرف د ،،صلاة الليل،، نه وى بلكه ټولو احكام شرعيه ته عام وى.(٥)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه اګرچه د حديث باب د ورود سبب مونځ دې خكه چه د حولاء بنت تويت رضي الله عنها د مانځه كيفيت مخې ته د راتللو نه پس حضور ﷺ دا ارشاد فرمائيلې وو. خو د حديث شريف الفاظ عام دى.او اعتبار د الفاظو دعموم وى خصوصاً هم ددې تعميم

---

(١) فتح البارى(ج١.ص١٠١) وعمدة القارى(ج١.ص٢٥٧))-
(٢) پورتنى حواله جات)-
(٣) فتح البارى(ج١.ص١٠٢) وعمدة القارى(ج١.ص٢٥٦))-
(٤) فتح البارى(ج١.ص١٠٢)و عمدة القارى(ج١.ص٢٥٧))-
(٥) پورتنى حواله جات)_

په لحاظ سره د ،،عليكن....،، ونيلو په ځاني د،،عليكم....،، تعبير اختيار کړې شوې دې[١]
والله اعلم

قوله فَوَاللّٰهِ: ..په خدائې..
ددې نه عالمانو دا استنباط کړې دې چه د استحلاف نه بغير حلف اخستل جائز دی خصوصا کله چه په دينې امورو کښې د يو امر فخامت شان (او عظمت) بيانول مقصود وی يا ددې ترغيب ورکول مقصود وي يا د يو محزور(ممنوع) نه متنفره کول مقصود وی[٢]

قوله لَا يَمَلُّ اللّٰهُ حَتَّى تَمَلُّوا: ..الله تعالى ثواب تر هغه وخته پورې نه قطع کوی ترکومې پورې چه تاسو ناراسته نه شئ او عمل پرې نږدئ.

،،ملّ يملّ،، د باب ،،سمع،، ځنې دې ..ملال.. وائى د يو څيز د خوښولو او رغبت کولو نه پس د نفس ددې نه متنفر کيدل. او دا ګران ګڼړل[٣]دا خو په انسانانو کښې کيږی ځکه چه دا يو انفعالى کيفيت دې خو بالاتفاق الله تعالى دپاره دا کيفيت يا صفت محال دې ځکه چه الله تعالى د انفعالاتو نه پاك دې[٤]
اوس چه دلته الله تعالى دپاره د .. ملال.. لفظ استعمال کړې شوې دې. د دې په باره کښې د امام اسماعيلى، امام ابن عبدالبر. او د محققينو وينا دا ده. چه د مشاکلت او ازدواج په طور باندې دلته الله تعالى دپاره د .. ملال.. لفظ استعمال شوې دې لکه څنګه چه د الله تعالى ارشاد دې ﴿وَجَزَٰٓؤُا۟ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا﴾[٥] يعنى د بدئ بدله هم ددې پشان بدى ده دلته: .. سيئة.. اطلاق حقيقتا نه دې بلکه مشاکلت کړې شوې دې ځکه چه د سيئه بدله سيئه نه ده ځکه چه د بدلې په طور چه کومه بدى اوکړې شى هغه حقيقتا نه وى صرف صورت بدى وى دغه شان د الله تعالى ارشاد دې ﴿فَٱعْتَدُوا۟ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا ٱعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ﴾[٦] يعنى ..چه چه په تاسو زياتې اوکړو نو تاسو هم په هغوى زياتې اوکړئ لکه څنګه چه هغوى کړې دې.. مطلب دا دې که کافران د مکې په حرم کښې. د حرمت په مياشت کښې. او ستاسو د احرام په حالت کښې په جنګ رضامند شى نو تاسو هم د هيڅ حرمت خيال مه ساتئ دلته د اسلام د منکرينو د .. اعتداء.. په جواب کښې کومه د حق کاروائى ده هغې ته هم .. اعتداء.. ونيلې شوې ده حالانکه دا په حقيقت کښې اعتداء نه ده محض صورتا اعتداء ده

[١]) فتح البارى(١٠٢/١)
[٢]) فتح البارى(ج١ص١٠٢))
[٣]) فتح البارى(ج١ص١٠٢))
[٤]) پورتنى حواله)
[٥]) الشورى ٤٠)
[٦]) البقرة ١٩٤)

دلته د الله تعالى د ..ملال.. نه ثواب قطع كول مراد دى ثواب قطع كول د الله تعالى .. ملال.. سره تعبير كړې شو چه بنده د ملال په وجه عمل قطع كوى په دې باندې د ثواب انقطاع مرتب كيږى ځكه چه ملال د عمل قطع كولو سبب دې او عمل قطع كول د ثواب قطع كولو سبب دې په دې وجه ثواب قطع كولو باندې د ملال اطلاق اوكړې شو (۱)

علامه هروى رحمه الله فرمائى چه د «لا يمل الله حتى تملوا» مطلب دې «لا يقطع منكم فضله حتى تملوا سؤاله فتزهدوا فى الرغبة إليه»(۲)

بعضې حضرات فرمائى چه ددې معنى ده «لا يتناهى حقه عليكم فى الطاعة حتى يتناهى جهدكم»(۳) يعنى تركومې پورې چه ستاسو طاقت باقى دې تر هغه وخته پورې به د هغه حق په تاسو باندې وى

دا ټول تاويلات په دې صورت كښې دى كله چه .. حتى.. ددې په اصل معنى يعنى د غايت انتهاء دپاره واخستلې شى حالانكه بعضو حضراتو دا د انتهائى غايت په معنى كښې نه دې اخستې.

لكه چه بعضو حضراتو د «لا يمل الله حتى تملوا» معنى كړې ده «لا يمل الله إذا مللتم» يعنى كه ستړى شئ نو بيا هم الله تعالى ته ..ملال.. نه راځى (۴) په كلام دعربو كښې ددې ډير مثالونه ملاويږى لكه وئيلې شى «لا أفعل كذا حتى يبيض القار» يا وئيلې شى «لا أفعل كذا حتى يشيب الغراب» يعنى كه قار (تاركول\ تور تيل) سپين شى نو بيا به هم اونكړم دغه شان كه كارغه سپين شى بيا به هم دا كار اونكړم.

دغه شان د بليغ سړى په باره كښې وئيلې كيږى «لا ينقطع حتى ينقطع خصومه»(۵) يعنى كه د ده په مقابله كښې خلق خاموش شى بيا هم دې نه خاموشه كيږى. دا مطلب نه دې چه كله د ده مقابل خاموش شى نو دې هم خاموش كيږى. ځكه چه په دې صورت كښې به ده له په هغوى باندې هيڅ فضيلت نه حاصليږى.

---

(۱) اوګورئ: ألتمهيد(ج۱.ص۱۹۴. ۱۹۵) و أعلام الحديث للخطابى(ج۱.ص۱۷۳) و فتح البارى (ج۱.ص۱۰۲)وعمدة القارى(ج۱.ص۲۵۷))-

(۲) فتح البارى(ج۱.ص۱۰۲))-

(۳) نقله الخطابى فى أعلام الحديث(ج۱.ص۱۷۴) و إبن حجر فى الفتح(ج۱.ص۱۰۲) والعينى فى العمدة(ج۱.ص۲۵۷))-

(۴) اوګورئ:أعلام الحديث للخطابى(ج۱.ص۱۷۳. ۱۷۴) فتح البارى(ج۱.ص۱۰۲)و عمدة القارى (ج۱.ص۲۵۷))-

(۵) قال الحافظ:و هذا المثال أشبه من الذى قبله. لأن شيب الغراب ليس ممكناً عادةً. بخلاف الملل من العابد.. فتح البارى(ج۱.ص۱۰۲))-

علامه مازرى رحمه الله فرمائى چه ،،حتى،، دلته د .. واو.. په معنى كښې دې نو د ((لايمل الله حتى تملوا)) معنى به دا وى چه ((لايمل الله وتملون)) گويا چه د الله تعالى نه د ملال نفى اوكړې شوه او خلقو دپاره دا ثابت كړې شوې دې (١)

بعضو خلقو ونيلى دى چه ..حتى.. د ..حين.. په معنى كښې دې او مطلب دا دې ((لايمل الله حين تملون)) (٢)

ابن حبان رحمه الله پخپل .. صحيح.. كښې فرمائى ((لايسأم الله حتى تسأموا من ألفاظ التعارف التى لا يتهيأ للمخاطب أن يعرف القصد فيما يخاطب به إلا بهذه الألفاظ)) (٣) يعنى دا د هغه قسم متعارف الفاظو څخه دى چه ددې مراد هم ددې الفاظو نه بغير پيژندل زمونږ دپاره ممكن نه دى وجه دا ده چه د عقائد الهيه دتعبير دپاره زمونږ سره متعين بالكل متعين الفاظ نشته څكه چه زمونږ د الفاظو لمنه ډيره تنګه ده.په دې وجه چه مونږ كله ددې عقائدو تعبير كوو نو ددې دپاره هم هغه الفاظو استعمالوو.كوم چه مونږ پخپل عرف كښې استعمالوو

ابن حبان رحمه الله په ټولو متشابهاتو كښې هم دا مذهب اختيار كړې دې.(٤) والله اعلم

قوله: وَكَانَ أَحَبَّ الدِّينِ إِلَيْهِ مَادَامَ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ: ..د الله تعالى په نيز هغه عمل زيات محبوب دې.په كوم چه عمل كونكې مداومت او هميشوالې اوكړى..

د،،إليه،،ضمير لكه څنګه چه دترجمې نه ښكاره دې.الله جل جلاله طرف ته راګرځى هم دې څنې كښې دمستملى په روايت كښې د ،،إلى الله،،تصريح موجود ده.(٥)ددې نه علاوه اسحاق بن راهويه پخپل مسند كښې د ،،عبدة عن هشام،، په طريق سره. امام بخارى او مسلم د،،أبو سلمه عن عائشة،، طريق سره، اومسلم د .. قاسم عن عائشة.. طريق سره دغه شان روايت نقل كړې دې.ترجمة الباب هم ددې روايتونو مطابق قائم دې (٦)

حالانكه د هشام نه روايت كونكو نورو راويانو د ،،إليه،، ضمير حضوراكرم صلى الله عليه وسلم طرف ته راګرځولې ې.لكه څنګه چه امام بخارى رحمه الله په .. كتاب الرقاق.. كښې د .. مالك عن

---

(١) فتح البارى(ج١.ص١٠٢))-

(٢) فتح البارى(ج١.ص١٠٢) قال العينى رحمه الله فى العمدة(ج١.ص٢٥٧) و حكى الماوردى أن ..حتى.. ههنا بمعنى ..حين.. أو بمعنى الواو. وهذا ضعيف جدا..)-

(٣) أنظر: ..الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان(ج٢.ص ٦٤). ذكر الإخبار عما يجب على المرء من الرفق فى الطاعات و ترك الحمل على النفس ما لا تطيق..)-

(٤) فتح البارى(ج١.ص١٠٢))-

(٥) فتح البارى(ج١.ص١٠٢))-

(٦) فتح البارى(ج١.ص١٠٢.١٠٣))-

هشام.. په طريق کښې ددې تصريح کړې ده ()
خو ياد ساتئ چه په دواړو روايتونو کښې هيڅ تعارض نشته خکه چه کوم څيز د الله تعالى په نيز خوښ وى هغه به د الله تعالى د رسول په نيز لازما محبوب وى ()
ابن الجوزى رحمه الله فرمائى چه د دائمى عمل خوښيدو دوه وجې دى. ① يوه داچه کوم سړى عمل شروع کولو نه پس بيا پريږدى نو هغه ګويا د وصال حاصليدو نه پس اعراض کوى. په دې وجه هغه د مذمت مستحق کيږى. هم دا وجه ده چه دهغه سړى په باره کښې وعيد وارد شوې دې. کوم چه د يو آيت يادولو نه پس بيا هيروى حالانکه ددې د يادولو نه وړاندې هغه د وعيد او مذمت مستحق نه وو.
② دويمه وجه دا ده چه په خير باندې هميشوالې کونکې ګويا داسې دې لکه چه يو کس هر وخت خدمت دپاره حاضر او تيار ولاړ وى. ښکاره ده. يو هغه سړې دې چه هغه روزانه په يو متعين وخت کښې حاضريږى. او يو هغه سړې دې چه هغه يوه ورځ مکمل حاضرى ورکوى بيا مستقل غائب وى. يقينا چه په دواړو کښې به لوئې فرق وى ()
امام نووى رحمه الله فرمائى چه په قليل عمل کښې د دوام فائده دا ده چه د ذکر .مراقبې. اخلاص. او اقبال على الله پشان د طاعاتو سلسله هميشه جارى وى په خلاف دهغه عمل کوم چه ګران وى. چه د هغې سلسله ډيره پورې نه چليږى. بيا نتيجه دا راوخى چه هغه لږ چه هميشه وى. زياتيږى. او د هغه ډير نه چه منقطع شى. ډير زياتيږى. ()والله اعلم

٣٢ = بَابُ زِيَادَةِ الْإِيمَانِ وَنُقْصَانِهِ

وَقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿وَزِدْنَاهُمْ هُدًى﴾ (الكهف:١٣) ﴿وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا﴾ (المدثر:٣١) ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ﴾ (المائدة:٣) ((فَإِذَا تَرَكَ شَيْئًا مِنَ الْكَمَالِ فَهُوَ نَاقِصٌ))

د وړاندې سره ربط او مناسبت وړاندې امام بخارى رحمه الله په اعمالو کښې دوام .. احب الى الله .. کيدل بيان کړى وو. او اوس ئې باب قائم کړې دې د .. ايمان د نقصان او د زيادت.. او په دې کښې هيڅ شك نشته چه د اعمالو په دوام سره ايمان کښې زياتوالې کيږى. او په هميشوالى پريخودو سره ايمان کښې کمې راځى. وړاندې د مداومت او هميشوالى ترغيب او تلقين وو. او د هغې په نتيجه کښې چونکه ايمان کښې زياتوالې کيږى. او په هميشوالى پريخودو سره ايمان کښې نقصان راځى. په دې وجه امام بخارى رحمه الله دا ترجمه قائم کړې ده.

) پورتنئ حواله)-
) مخکنئ حواله)-
) تيره حواله)-
) شرح النووى على صحيح مسلم(ج١.ص٢٦٦) كتاب صلاة المسافرين. باب فضيلة العمل الدائم)-

بيا زياتي او كمې د امام بخاري او د محدثينو د جماعت په نيز واضح دي. كوم حضران چه د زيادت او نقصان قائل نه دى.د هغوى د رائې مطابق هم دلته په ايمان كښې زيادت او نقصان منلې كيدې شى.البته ددوى په نيز نفس ايمان كښې د زيادت او نقصان په ځائې به صفت ايمان كښې زيادت او نقصان مراد وى.يعنى په انشراح او بشاشت كښې زياتې او كمې. يا به د ايمان د نور زياتې او كمې مراد وى.(۱)و الله اعلم.

د ترجمې مكرر كيدو اشكال او د هغې جواب امام بخارى رحمه الله د كتاب الايمان ابتداء په «**باب قول النبى ﷺ: بنى الإسلام على خمس وهو قول وفعل، ويزيد وينقص**» سره كړې ده.ګويا په زيادت او نقصان باندې وړاندې باب قائم شوې دې.اوس دلته «**باب زيادة الإيمان ونقصانه**» ونيل عين تكرار دې.

هم دا اشكال په «**باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال**» كښې راپيښ شوې وو. هلته ددې جواب وركړې شوى دى.د هغې خلاصه دا ده.چه ① د «**بنى الإسلام على خمس..الخ**» ترجمه. ترجمهٔ جامعه ده.او راروان تراجم ددې تفصيل او توضيح دې.

② دويم جواب دا دې.چه په شروع د ،، كتاب الايمان،، كښې د زيادت او نقصان بحث تبعاً او ضمناً ذكر كړې شوې وو.او په «**باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال**» او په دې باب كښې استقلالاً ذكركړې شوې دې.(د«**باب تفاضل أهل الإيمان**» او د«**باب زيادة الإيمان ونقصانه**» په مينځ كښې د تكرار اشكال روستو ختمولې شى)

خكه چه په شروع د ،، كتاب الايمان،، كښې اصل مقصود د ايمان تركيب ثابتول وو.لكه چه امام بخارى رحمه الله په «**وهو قول وفعل**» ونيلو سره دتركيب دعوه كړې وه.بيا ئې «**يزيد وينقص**» ضمناً او تبعاً ذكركړل.هم دا وجه ده.چه امام بخارى رحمه الله كوم روايت د حضرت عبدالله بن عمر رضى الله عنهما پيش كړې دې.هغه په تركيب دلالت كوى.خو په زيادت او نقصان نه كوى. خو دا جواب څه كمزورې شان دې.خكه چه ښكاره هم دا ده.چه هلته امام بخارى رحمه الله درې دعوې كړې وې:

① «**بنى الإسلام على خمس.....**» ② «**وهو قول وفعل**» ③«**ويزيد وينقص**» په دې كښې هره يوه دعوه روستو راتلونكې دعوې دپاره علت دې.چه «**بنى الإسلام....**» د«**وهو قول وفعل**»دپاره، او «**وهو قول وفعل**» د «**يزيد وينقص**» دپاره علت دې.يا داسې اووئيلې شى.چه هره روستو راتلونكې دعوه په وړاندينۍ دعوې باندې متفرع او د هغې نتيجه جوړيږى.لكه كله ئې چه «**بنى الإسلام...**» اووئيل.نو په دې باندې «**وهو قول وفعل**» مرتب او متفرع شو.او كله ئې چه «**وهو قول وفعل**» اووئيل.نو په دې باندې «**يزيد وينقص**»مرتب او متفرع شو.

---

(۱) عمدة القارى(ج۱،ص۲۵۸))-

ددې تقرير نه معلومه شوه چه «يزيد و ينقص» تبعاً او ضمناً نه دې بلکه اصلاً او استقلالاً ذکر کړې شوې دې نو بهتره دا ده چه داسې اوونيلې شي چه ② په اصل کښې امام بخاری رحمه الله هلته د اسلام متعلق درې دعوې کړې وی ① «بنى الإسلام على خمس.....» ② «و هو قول و فعل» ③ «و يزيد و ينقص» په دې کښې ..هو..ضمير او د «يزيد و ينقص» ضميرونه اسلام طرف ته راګرځي اګرچه د امام بخاری رحمه الله په نيز ايمان او اسلام متحد يا متلازم دی خو مرجنه نه ددې ونيلو موقعه ملاويدله چه هلته تاسو ترکيب او زيادت او نقصان تاسو په اسلام کښې ثابت کړې دې او مونږه ترکيب او زيادت او نقصان انکار د ايمان په باره کښې کوو د ايمان په باره کښې تاسو زيادت او نقصان نه دې ثابت کړې امام بخاری رحمه الله ددې دپاره دا عنوان کيخودو «باب زيادة الإيمان و نقصانه» چه مونږ په ايمان کښې هم زيادت او نقصان ثابتوو کله چه په ايمان کښې زيادت او نقصان راشي نو ښکاره ده چه ترکيب به هم راځي والله اعلم.

بيا اشکال کيږي چه وړاندې امام بخاری رحمه الله د زيادت او نقصان د بحث دپاره مستقلاً د «باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال» ترجمه منعقد کړې ده او اوس دلته «باب زيادة الإيمان و نقصانه» کښې بعينه هم هغه مسئله مستقلاً ذکر کوی نو دا تکرار دې؟

ددې اشکال جواب هم د «باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال» د شرح لاندې مونږ وړکړې دې د هغې خلاصه دا ده: ① يو جواب دا دې چه په دې باب کښې اعمالو کښې د اهل ايمان تفاوت بيانول مقصود دی او دلته پخپله ايمان يعنی په نفس تصديق کښې کمې او زياتې بيان کړې شوې دې.(1)

② دويم جواب دا ورکړې شوې دې چه هغه باب کښې د نفس ايمان کمې او زياتې بيان کړې شوې دې او دلته ئې د مؤمن به په اعتبار سره کمې او زياتې ثابت کړې دې.(2)

③ دريم جواب دا دې چه چونکه دايمان کمی زياتی مسئله مختلف فيها ده او د امام بخاری رحمه الله عادت دې چه په کومه مسئله کښې اختلاف وی او سخت او مشهور وی او د امام بخاری رحمه الله رجحان يو طرف ته وی او د بل طرف خلق دلائل پيش کوی نو امام بخاری رحمه الله د خپلې دعوې ثابتولو دپاره د تعبير مختلفې طريقې اختياروی او ددې يوې مسئلې ثابتولو دپاره مختلف انداز سره، مختلف بابونه قائموی دلته هم دوی دغه شان کړی دی والله اعلم.

---

(1) فتح البارى (ج ١، ص ١٠٣)-

(2) لامع الدرارى (ج ١، ص ٥٩١) والأبواب والتراجم لصحيح البخارى (٣٧). ددې جواب سره متعلق تفصيل دپاره شاته د ..باب تفاضل أهل الإيمان فى الأعمال..تشريح ته رجوع اوکړئ.-

د حافظ ابن حجر رحمه الله رجحان په دې کښې ړومبنی جواب طرف ته دې چه دلته په نفس تصدیق کښې کمې او زیاتې بیانول مقصود دی (١)

اوس که دا اومنلې شی نو مسئله به اختلافی وی.ددې تفصیل وړاندې د.. کتاب الایمان.. په ابتداء کښې تیر شوې دې.چه جمهور محدثین په دې کښې د کمی زیاتی قائل دی خکه چه تصدیق د باطنی عقیدې نوم دې او عقیده د زړه غوټې ته وائی او غوټه که سسته وی او کله مضبوطه وی.او دا ممکن ده.چه تصدیق کښې کمې او زیاتې دعلم د زیاتوالی او مشاهدې په اعتبار سره اوشی.په قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی ﴿أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا﴾ (٢)ددې نه هم زیاتوالې په اعتبار د معانئ او مشاهدې ثابتیږی

حالانکه د امام ابوحنیفه رحمه الله او د عامو متکلمینو رائې دا ده.چه په ایمان یعنی نفس تصدیق کښې کمې او زیاتې نه کیږی.

دا حضرات فرمائی چه په نصوصو کښې چه تصدیق کښې کوم کمې زیاتې معلومیږی هغه په ذاتیاتو کښې د کمی او زیاتی په لحاظ سره نه دې.بلکه د خارجی امورو په اعتبار سره دې. د اعمال صالحه په ذریعه ایمان کښې جلاء (رڼا) اوقلب کښې نورانیت پیدا کیږی زړه کښې انشراح (فراخی) حاصلیږی.ددې انشراح.رڼا او نورانیت په وجه سړی ته د معلومیږی. چه ایمان کښې اضافه اوشوه. حالانکه ایمان خو نفس تصدیق دې.هغه خو پخپل حال دې.البته په دې کښې څه رڼا او نورانیت پیدا شوې دې.

شیخ الحدیث مولانا محمد یونس صاحب رحمه الله فرمائی.چه .. د انصاف خبره دا ده.چه څنګه د اعمالو په اعتبار سره ایمان کښې کمې او زیاتې کیږی پخپله تصدیق کښې هم کمې او زیاتې کیږی.خکه چه تصدیق د زړه د غوټې نوم دې.او د غوټې مضبوطه او کمزورې کیدل بنکاره خبره ده.یوه غوټه خو داسې وی.چه دا خو بچې هم کلاوولې شی او بله غوټه داسې وی.چه دا یو پهلوان هم نشی کلاوولې.

دغه شان کافر پخپله عقیده کښې دومره کمزورې وی.چه دا په معمولی خبرې سره متزلزل (خویولې) کیدې شی.او هغه د خپلې نظرئې او خیالاتو نه اړولې کیدې شی.او دویم ده په مقابل کښې دومره پوخ وی.چه هغه په هیڅ شان سره د خپلې رائې نه اوړیدو ته تیار نه وی

هم دا حال د مسلمان دې.چه یو مسلمان د دومره کمزورې عقیدې والا وی. چه هغه په معمولی خبره د خپل ځائې نه اخوا کیږی دمال په لالچ سره دین بدلوی او په بعضو وختونو کښې د تورې د ویرې نه دین بدلوی لکه څنګه چه عام طور دفتنو په موقعو کښې کیږی.او بعضې دومره پاخه او سخت وی چه نه د مال لالچ هغوی د دین نه اړولې شی.اونه د تورې یره هغه د خپل ځائې نه خوزولې شی والعلم عندالله سبحانه

خو حقیقت دا دې.چه په نفس تصدیق کښې کمې زیاتې ممکن دې.ترکومې پورې چه

---

(١) اوګورئ: فتح الباری(ج١.ص١٠٣، ١٠٤)).

(٢) سورة التوبة:١٢٤)

تصدیق د غوټې او د زړه د عقد په معنی کښې د کېدو او ددې د مضبوط او کمزور کېدو تعلق دې نو دا د زړه د عقد د مضبوطۍ او کمزورۍ د اوصافو ځنې دې.دا ددې عقد په ذات او نفس کښې تبدیلی او کمې زیاتې نه دې.کله کله داسې مواقع او حالات راپېښیږي.چه د زړه د عقد په اوصافو کښې کمې اوکمزوري راځي او کله ددې په اوصافو کښې مضبوطي پیدا کیږي

البته ددې خبرې نه انکار نشته.چه دا غوټه او د زړه عقد بالکل کلاویږي اوکله نه کلاویږي کله چه دمسلمان د زړه عقد کلاویږي.نو کفر طرف ته منتقل کیږي او کله چه د کافر د زړه عقد کلاویږي.نو دا بل ملت طرف ته منتقل کیږي نو د اوصافو د کمې زیاتې په وجه په نفس تصدیق کښې د کمې زیاتې قائل کېدل صحیح نه معلومیږي والله اعلم

وَقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالٰی ﴿وَزِدْنٰهُمْ هُدًى﴾ (الکهف:۳) ﴿وَيَزْدَادَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِيْمَانًا﴾ (المدثر:۳۱) ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾ (المائدة:۳) ((فَاِذَا تَرَكَ شَيْئًا مِنَ الْكَمَالِ فَهُوَ نَاقِصٌ))

امام بخاری رحمه الله دلته درې آیتونه ذکر کړی دی.ړومبی دواړه آیتونه د کتاب الایمان په شروع کښې تیر شوی دی.خو دلته دوی دغه دواړه آیتونه د تمهید په طور ذکر کړی دی په اصل کښې امام بخاری رحمه الله په ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾ (۱) سره د خپلې مدعا یعنی د ایمان زیادت او نقصان ثابتول غواړی .خو په دې سره د ایمان زیادت او نقصان نصاً نه ثابتیږی. نو امام بخاری رحمه الله د تمهید په طور ړومبی دواړه آیتونه ذکرکړی دی.چه په دې کښې د ایمان او هدایت زیادت صراحتاً او نصاً مذکور دې.او کوم څیز چه قابل د زیادت وی هغه قابل د نقصان هم وی.ځکه چه زیادت او نقصان د اضافی امورو ځنې دې. هرکله چه په ړومبی دوو آیتونو سره دا معلومه شوه.چه په ایمان او هدایت کښې زیاتوالې کیدې شی.نو استلزاماً دا هم معلومه شوه.چه په دې کښې کمی هم کیږی.بیا په دریم آیت کښې د کمال ذکر دې.او د کمال مقابل نقص دې.معلومه شوه.چه کمال په معنی د .. الزیادة.. دې.هم دا د امام بخاری رحمه الله د ارشاد((فإذاترك شيئاً من الكمال فهوناقص))مطلب دې.

حاصل دا دې.چه په ړومبی دوو آیتونو سره نصاً د ایمان او هدایت زیاتوالې معلومیږی.او استلزاماً نقص (هم ثابتیږی).او په دریم آیت کښې هم دا زیاتوالې کمال سره تعبیر کړې شوې دې.ځکه چه د کمال مقابل نقص دې.ځکه که کمال پریخودلې شی.نو نقص به پیدا کیږی.نو معلومه شوه.چه د کمال نه مراد زیاتوالې دې.والله اعلم

هم دا مضمون حافظ رحمه الله په دې طریقه بیان کړې دې.چه چونکه په ړومبی دواړه آیتونه د توطئه او تمهید په طور راوړلی شوی دی.او ددې نه زیاتوالی نصاً مستفاد کیږی.چه دا نقص ته مستلزم دې.حالانکه په دریم آیت کښې چه د ..کمال.. کوم ذکر دې.هغه د زیادت په معنی کښې صریح نه دې.بلکه صرف د نقص معنی ته مستلزم دې.او د نقص دا استلزام

---

(۱) المائدة-۳)_

د زيادت قبلولو مستدعی دې.په دې وجه امام بخاری رحمه الله په «فإذا ترك شيئاً من الكمال فهو ناقص» وئيلو سره ددې تشريح فرمائيلې ده.او هم ددې نکتې په وجه ئې د دريم آيت او رومبی دواړو آيتونو ذکر کولو په انداز کښې تفاوت کړې دې چه د رومبی دواړو په شروع کښې ئې ،، وقول الله تعالى،، اوفرمائيل.او د دريم آيت په شروع کښې ئې ،، وقال، اوفرمائيل.(١)

يو اشکال او دهغې جواب بعضو عالمانو دلته اشکال کړې دې.چه په ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ﴾ د ايمان په کمی او زياتی باندې استدلال کول صحيح نه دې.په دې وجه چه دا يو محتمل آيت دې.خکه کيدې شی.چه په دې آيت کښې د ..اکمال.. نه «إظهار الحجة على المخالفين» مراد وی.يعنی د مخالفينو په مقابله کښې حجت اسلام غالب کول.اودا هم کيدې شی.چه دا د«إظهار أهل الدين على المشركين» په معنی کښې وی.يعنی مسلمانان دغيرمسلمو په مقابله کښې غالب کول.په دې دواړو صورتونو کښې د امام بخاری رحمه الله مدعا نه ثابتيږی.خکه چه په دې کښې د ايمان د کمی او زياتی معنی نشته.

البته د.. اکمال.. په معنی کښې يو دا احتمال هم شته.چه ددې نه اکمال د فرائضو مقصود وی.په دې صورت کښې ددوی مدعا ثابتيږی.خو ددې معنی د اختيارولو په صورت کښې دا لازميږی.چه تر اوسه پورې دين ناقص وو.او څومره صحابۀ کرام رضي الله عنهم هم چه ددې آيت د نزول نه مخکښې مخکښې وفات شوی دی.ټول ..العياذ بالله..ناقص الايمان وو.حالانکه دا خبره صحيح نه ده.ايمان په هره موقعه کامل پاتې شوې دې؟

ددې اشکال جواب دا دې.چه قرآن کريم د الله ﷻ يو جامع کلام دې.نو کيدې شی.چه دا ټولې معانې مراد وی.

په دريمه معنی چه کوم اشکال کيږی.د هغې جواب دا دې.چه نقص يو اضافی څيز دې.د نقص يو صورت هغه دې.کوم چه قابل د مذمت دې.او يو صورت هغه دې.کوم چه قابل د مدح وی.

قابل د مذمت نقص هغه دې.کوم چه اختياری وی.لکه يوکس ته دا علم شته. چه زما په ذمه ددې فرائضو او واجباتو ادا کول دی.بيا هغه په قصد سره دا پريږدی.

او ددې په مقابله کښې دويم قسم کوم چه قابل د مدح او تعريف دې.هغه نقص دې.کوم چه غير اختياری دې.لکه يوکس ته د فرائضو او ذمه دارئ علم نه وې شوې.يا علم شوې وی.خو هغه غير مکلف وی.د نقص دا صورت قابل د مذمت خو څه جوړيږی.چه په دې جهت سره قابل د مدح هم دې.چه ددې سرې زړه مطمئن کيږی.او ددې خبرې منتظر وی.چه روستو به کوم احکام راخی.مونږ به هغه منو.د حضرات صحابۀ کرامو رضي الله عنهم شان هم دا وو.چه دوی په حضوراکرم ﷺ باندې ايمان راوړو.او ورسره ئې دا عزم هم کړې وو.چه روستو به

---

١) اوګورئ: فتح الباری(ج١،ص١٠٤)).

كوم څه په تاسو نازليږى هغه به منو او دكومو اعمالو چه مونږه مكلف كولې شو په هغې بندې به مونږه عمال كوو «لو زيد لقبل ولو كلف لعمل» ددوى شان وو
بهرحال دلته د..اكمال.. نه مراد اكمال د فرائضو دې خو ددې نه نه لازميږى چه كله شريعت ناقص پاتې شوې وى بلكه شريعت مخكښې هم كامل وو اوس اكمل شو دا داسې ده لكه ونيلې شى چه دين محمدى د دين عيسوى او دين موسوى نه اكمل دې حالانكه هغه شريعتونه هم پخپله زمانه كښې هم كامل وو خو شريعت محمديه پخپله زمانه كښې د هغې نه اكمل دې څكه چه كومه د خوبئ (خصلت) خبره هغه شريعتونو كښې وه د هغې سره زياتې نورې د خوبيانو (او خصلتونو) خبرې په دې كښې جمع كړې شوى دى (١)

٤٤- حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ حَدَّثَنَا هِشَامٌ قَالَ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ عَنْ أَنَسٍ (٢) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ شَعِيرَةٍ مِنْ خَيْرٍ وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ بُرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ قَالَ أَبَانُ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسٌ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِيمَانٍ مَكَانَ مِنْ خَيْرٍ [أنظر: ٧٥٠٧، ٧٥٠٩]

رجال الحديث

① مسلم بن ابراهيم: دا مسلم بن ابراهيم القصاب ازدى فراهيدى بصرى دې ابوعمرو د دوى كنيت دې (٣) شحام نوم سره هم مشهور دې (٤)
د عبدالله بن عون. قره بن خالد. مالك بن مغول. سعيد بن ابى عروبه. هشام دستوائى. شعبة بن الحجاج او د مبارك بن فضاله ﷺ وغيره نه ئې روايت كړې دې (٥)

---

(١) اوګورئ: فتح البارى (ج١.ص١٠٤)-
(٢) الحديث اخرجه البخارى فى صحيحه أيضاً. فى كتاب التفسير.سورة البقرة. باب قول الله تعالى: ﴿وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا﴾ رقم(٤٤٧٦) وفى كتاب الرقاق. باب صفة الجنة والنار.رقم(٦٥٦٥) وفى كتاب التوحيد. باب قول الله تعالى ﴿لِمَا خَلَقْتُ بِيَدَيَّ﴾ رقم(٧٤١٠)و باب قول الله تعالى ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ﴾ رقم(٧٤٤٠)و باب كلام الرب عزوجل يوم القيامة مع الأنبياء وغيرهم .رقم(٧٥٠٩)و(٧٥١٠) وباب ماجاء فى قوله عزوجل: ﴿وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا﴾ رقم(٧٥١٦) ومسلم فى صحيحه(ج١.ص١٠٨. ١٠٩) كتاب الإيمان. باب إثبات الشفاعة و إخراج الموحدين من النار.و الترمذى فى جامعه فى كتاب صفة جهنم. باب ما جاء أن للنار نفسين. وما ذكر من يخرج من النار من أهل التوحيد. و إبن ماجه فى سننه. فى كتاب الزهد. باب ذكر الشفاعة. رقم(٤٣١٢)-
(٣) تهذيب الكمال(ج٢٧.ص٤٨٧)-
(٤) طبقات ابن سعد(٧/٣٠٤)_
(٥) اوګورئ: تهذيب الكمال(ج٢٧.ص٤٨٧. ٤٨٩) وسير أعلام النبلاء(ج١٠.ص٣١٥)-

دوى نه په روايت كونكو كښې امام بخارى. امام ابوداؤد. يحى بن معين. نصر بن على. امام عبدالله بن عبدالرحمن دارمى. ابوزرعه. ابوحاتم. او ابومسلم كجى رحمهم الله وغيره ډير آئمه محدثين دى (۱)

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى ،،ثقة مأمون،،(۲)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى ،،ثقة صدوق،،(۳)

امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائى ،،كان ثقة كثير الحديث،،(۴)

امام حبان رحمه الله فرمائى ،،وكان من المتقنين،،(۵)

علامه سمعانى رحمه الله فرمائى ،،من الثقات المتقنين،،(۶)

امام عجلى رحمه الله فرمائى ،،كان ثقة عمى بأخرة،،(۷)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ،،ثقة مأمون مكثر عمى بأخرة،،(۸)

دا مسلم بن ابراهيم بصرى دې د طلب حديث په سلسله كښې د بصرې نه كله هم او نه وتلو (۹) ددې باوجود محدثينو دوى په .. مكثرينو.. كښې شمار كړې دې لكه څنګه چه شاته نقلونو نه معلوميږى.

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائى ((ما رحل مسلم إلى أحد، وكتب عن قريب من ألف شيخ....))(۱۰)

پخپله فرمائى ((كتبت عن ثمان مائة شيخ، ما جزت الجسر))(۱۱) يعنى ما د اتو سوو شيوخو نه حديثونه روايت كړى دى.ما ته د بصرې د پل نه اوړيدل لازمى شو.

د علم جرح ئې دومره زيات وو.چه په كثرت سره ئې د ښځو نه هم روايتونه اوكړل.لكه امام عجلى رحمه الله فرمائى چه.،،وروى عن سبعين إمرأة،،(۱۲)

---

(۱) تهذيب الكمال(ج۲۷.ص۴۸۹. ۴۹۰) وسير أعلام النبلاء(ج۱۰.ص۳۱۵))-
(۲) تهذيب الكمال(ج۲۷.ص۴۹۰)وسير أعلام النبلاء(ج۱۰.ص۳۱۵)والكاشف)_
(۳) تهذيب الكمال(ج۲۷.ص۴۹۱) وسير أعلام النبلاء(ج۱۰.ص۳۱۶)وتهذيب التهذيب(ج۱۰.ص۱۲۲))-
(۴) الطبقات لابن سعد(ج۷.ص۳۰۴))-
(۵) الثقات لابن حبان(ج۹.ص۱۵۷))-
(۶) الأنساب للسمعانى(ج۴.ص۳۵۷) نسبت ..فراهيدى..)-
(۷) تهذيب الكمال(ج۲۷.ص۴۹۰. ۴۹۱)وتهذيب التهذيب(ج۱۰.ص۱۲۲) وسير أعلام النبلاء (ج۱۰.ص۳۱۶))-
(۸) تقريب التهذيب(ص۵۲۹)رقم(۶۶۱۶))-
(۹) الكاشف(ج۲.ص۲۵۷)رقم(۵۴۰۵))-
(۱۰) تهذيب الكمال(ج۲۷.ص۴۹۱) وسير أعلام النبلاء(ج۱۰.ص۳۱۵))-
(۱۱) پورتنى حواله جات-
(۱۲) تهذيب الكمال(ج۲۷.ص۴۹۱)وسير أعلام النبلاء(ج۱۰.ص۳۱۶)والخلاصة للخزرجى(ص۳۷۴))-

د حدیث په نشر و اشاعت کښې دومره مصروف وو چه د واده حاجت هم رانغلو پخپله فرمائی «ما أتیت حلالاً ولا حراماً قط»(١)

ابو حاتم رحمه الله فرمائی «کان لا یحتاج إلیه، یعنی الجماع»(٢) یعنې دوی دعلم نه داسې خپل مشغله جوړه کړې وه چه د سړو د فطری خواهش تقاضا نې ختمه شوې وه

دوی په ۱۳۳ھ کښې پیداشوی وو او په ۲۲۲ھ کښې وفات شو (٣) رحمه الله تعالیٰ رحمة واسعة.

④ **هشام:** دا ابوبکر هشام بن ابوعبدالله سنبر بصری دستوانی دې (٤)

«دستوا، بفتح الدال و سکون السین المهملتین، وضم التاء ثالث الحروف، وفتح الواو، وفی آخره الألف (٥) وقیل: بفتح التاء المثناة من فوق(٦) په اهواز کښې د یو وړوکی ښار کلی نوم دې (٧) چونکه هشام بن ابی عبدالله به د هغه ځائې نه درآمد شوې کپړې خرخولې په دې وجه هغه ته ..دستوائی.. ونیلې شی.(٨)

دوی د یحي بن ابی کثیر. قتاده. ایوب سختیانی. حماد بن ابی سلیمان فقیه. ابوالزبیر. عبدالله بن ابی نجیح او د عاصم بن بهدله رحمهم الله وغیره نه د حدیثو علم حاصل کړې دې (٩) ددوی په شاګردانو کښې ددوی د دوو ځامنو معاذ بن هشام او د عبدالله بن هشام نه علاوه امام شعبه. ابن المبارک. یزید بن زریع. اسماعیل بن علیه یحي القطان. وکیع بن الجراح. عبدالرحمن بن مهدی. یزید بن هارون. ابوداؤد طیالسی. او ابونعیم الفضل بن دکین رحمهم الله وغیره ډیر اساطین (د دین د ستنو پشان عالمان) د علم حدیث شامل دی (١٠)

امام شعبه بن الحجاج رحمه الله فرمائی «کان هشام الدستوائی أحفظ منی عن قتادة»(١١) او فرمائی «هشام الدستوائی أعلم بحدیث قتادة منی وأکثر مجالسة له منی»(١٢)

---

(١) تهذیب الکمال(ج۲۷.ص۴۹۱)وتهذیب التهذیب(ج۱۰.ص۱۲۲)وسیر أعلام النبلاء(ج۱۰.ص۳۱۶))-
(٢) سیر أعلام النبلاء(ج۱۰.ص۳۱۶)و تهذیب الکمال(ج۲۷.ص۴۹۱))-
(٣) طبقات ابن سعد(۳۰۴\۷) والثقات لابن حبان(۱۵۷\۹))-
(٤) تهذیب الکمال(ج۳.ص۲۱۵. ۲۱۶))-
(٥) الأنساب للسمعانی(ج۲.ص۴۷۶))-
(٦) تقریب التهذیب(ص۵۷۳)رقم(۷۲۹۹))-
(٧) الأنساب للسمعانی(ج۲.ص۴۷۶)و تهذیب الکمال(۲۱۶\۳۰) والکاشف(ج۲.ص۳۳۷)رقم(۵۹۶۹)
(٨) پورتنی حواله جات)-
(٩) تهذیب الکمال(ج۳۰.ص۲۱۶)وسیر أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۴۹. ۱۵۰))-
(١٠) تهذیب الکمال(ج۳۰.ص۲۱۶. ۲۱۷)وسیر أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۵۰))-
(١١) تهذیب الکمال(ج۳۰.ص۲۱۸)وسیر أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۵۰)وهدی الساری(ص۴۴۸))-
(١٢) تهذیب الکمال(ج۳۰.ص۲۱۸)وسیر أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۵۰))-

د ابن عليه رحمه الله نه معلی بن منصور رحمه الله د بصري د حفاظو په باره کښې تپوس وکړو
دوی د بصري په حفاظو کښې د هشام دستوائی رحمه الله ذکر هم اوکړو (١)
امام وکیع رحمه الله فرمائی.«حدثنا هشام الدستوائی،،وکان ثبتاً،،»(٢)
یحي بن سعید القطان رحمه الله چه به کله د هشام نه حدیث اوریدل نو بیا به دوی نه د نورو
حدیث د بل چا نه د اوریدو پرواه نه وه (٣)
ابوداؤد طیالسی رحمه الله فرمائی.«کان هشام الدستوائی أمیرالمؤمنین فی الحدیث»(٤)
د امام احمد بن حنبل رحمه الله نه چه کله د امام اوزاعی رحمه الله او د هشام رحمه الله په باره کښې تپوس
اوکړې شو.«أیهما أثبت فی یحی بن أبی کثیر» چه د یحي بن ابی کثیر په حدیثونو کښې په دوی
دواړو کښې کوم یو زیات مضبوط دې؟ نو دوی جواب ورکړو «ألدستوائی لا تسأل عنه أحداً. ما
أری الناس یروون عن أحد أثبت منه مثله عسی، و أما أثبت منه فلا»(٥) یعنی دوی جواب ورکړو چه
دستوائی زیات مضبوط دې.ددوی په باره کښې دچا نه دتپوس ضرورت نشته زه نه پیژنم
چه د دوی نه زیات د یو مضبوط راوی نه خلق روایت کوی ددې پشان کیدې شی خو
وی.خو ددوی نه څوك زیات شی.هیڅ څوك داسې نشته
او امام احمد رحمه الله فرمائی.«أکبر من فی یحی بن ابی کثیر من أهل البصرة هشام الدستوائی»(٦)
امام علی بن المدینی رحمه الله فرمائی.«هشام الدستوائی ثبت»(٧)
امام عجلی رحمه الله فرمائی.«هشام الدستوائی بصری، ثقة ثبت فی الحدیث»(٨)
خلاصه دا چه هشام دستوائی رحمه الله د صحاح سته د ثقه ترین راویانو کښې دې.ددوی په
ثقاهت او تثبت باندې هیڅ چا کلام نه دې کړې.خصوصاً د یحي بن ابی کثیر او قتادة
رحمهما الله په حدیثونو کښې خو دوی ته ددې حضراتو په ټولو شاګردانو باندې فوقیت
حاصل دې.البته بعضو خلقو ده لره .. قدری.. ګرځولې دې.لکه څنګه چه.
امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائی «وکان ثقة ثبتاً فی الحدیث حجة، إلا أنه یرمی بالقدر»(٩)

---

(١) پورتنی حواله جات.)-
(٢) تهذیب الکمال(ج٣٠.ص٢١٩)وسیر أعلام النبلاء(ج٧.ص١٥١))-
(٣) پورتنی حواله جات.)-
(٤) تهذیب الکمال(ج٣٠.ص٢٢٠)وسیر أعلام النبلاء(ج٧.ص١٥١) والکاشف(ج٢.ص٣٣٧) رقم (٥٩٦٩)
وخلاصة الخزرجی(ص٤١٠))-
(٥) تهذیب الکمال(ج٣٠. ٢٢٠)وسیر أعلام النبلاء(ج٧.ص١٥١)او اوګورئ هدی الساری(ص٤٤٨))-
(٦) تهذیب الکمال(ج٣٠.ص٢٢٠) وسیر أعلام النبلاء(ج٧.ص١٥١))-
(٧) تهذیب الکمال(ج٣٠.ص٢٢٠))-
(٨) تهذیب الکمال(ج٣٠.ص٢٢١)وسیر أعلام النبلاء(ج٧.ص١٥١)وهدی الساری(ص٤٤٨))-
(٩) الطبقات لابن سعد(ج٧.ص٢٧٩))-

دغه شان امام عجلی رحمه الله فرمائی ((کان یقول بالقدر، ولم یکن یدعوالیه))[1]

دغه شان د امام یحیي بن معین رحمه الله نه هم دا خبره نقل کیږی.[2]

خو اول د هشام دستوائی رحمه الله په باره کښې حافظ رحمه الله دا یو قول نقل کړې دې چه هغوی د خپلې فاسدې عقیدې نه رجوع کړې وه.[3]

دویمه خبره دا ده چه مونږه بار بار ذکرکړې دی چه .. بدعت.. مطلقاً د روایت قبلولو دپاره قادح نه دې بلکه دهغه مبتدع روایت رد کولې شی چه هغه داعی هم وی.[4] حالانکه هشام رحمه الله ته چه کومو حضراتو ..قدری.. وئیلی دی هغوی ددې خبرې اقرار کوی چه هغه داعی نه وو.

لکه چه د امام عجلی رحمه الله قول تیر شوې دې.((ولم یکن یدعوالیه)).

دغه شان د امام یحیي بن معین رحمه الله نه حافظ محمد بن البرقی رحمه الله تپوس اوکړو ((أرأیت من یری بالقدر یکتب حدیثه؟)) نو امام یحیي بن معین رحمه الله جواب ورکړو ((نعم، قد کان قتادة، وهشام الدستوائی، سعید بن أبي عروبة، وعبدالوارث، وذکر جماعة، یقولون بالقدر، وهم ثقات، یکتب حدیثهم، مالم یدعوالی شيء))[5]

هم دا وجه ده چه حافظ ابن حجر رحمه الله ددوی تصدیق کړې دې او فرمائیلې ئې دی ((أحد الأثبات، مجمع علی ثقة وإتقانه.....))[6] ددې نه پس چه ابن سعد او عجلی رحمهما الله کوم ددوی په باره کښې کلام کړې دې هغه ئې نقل کړې دې او ددې الزام غیر معتبر کیدل ئې په دې طریقه ښکاره کړې دی.فرمائی: ((قلت: إحتج به الأئمة))[7] یعنی په دوی چه د .. بدعت.. کوم الزام دې هغه قادح او د روایت قبلولو نه مانع نه دې.په دې وجه ټولو ائمهٔ حدیث ددوی

---

[1]) تهذیب الکمال(ج۳۰.ص۲۲۱) وسیر أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۵۱))-
[2]) قاله الذهبی فی المیزان(ج٤.ص۳۰۰)رقم(۹۲۲۹))-
[3]) میزان الإعتدال(ج٤.ص۳۰۰)رقم(۹۲۲۹))-
[4]) قال الذهبی رحمه الله فی السیر(ج۷.ص۱٥٤):.....فیجمع تصرفات أئمة الحدیث تؤذن بأن المبتدع إذا لم تبح بدعته خروجه من دائرة الإسلام. ولم تبح دمه.فإن قبول ما رواه سائغ. وهذه المسألة لم تتبرهن لی کما ینبغی. والذی اتضح لی منها أن من دخل فی بدعة، ولم یعد من رؤوسها ولا أمعن فیها: یقبل حدیثه، کما مثل الحافظ أبو زکریا. أی یحی بن معین. بأولئک المذکورین. وسیأتی فی المتن قریباً. وحدیثهم فی کتب الإسلام لصدقهم وحفظهم..)-
[5]) وسیر أعلام النبلاء(ج۷.ص۱٥۳، ۱٥٤))-
[6]) هدی الساری(ص٤٤۸))-
[7]) پورتنی: حواله)-

روايات قبول كړې دى او دهغې نه ئې استدلال كړې دې والله اعلم
هشام دستوائى رحمه الله ډير زيات نرم زړه او د اخلاص مالك وو د خپل نفس به ئې همېشه محاسبه كوله
امام محمد بن سعد رحمه الله ليكلى دى چه كله به د شپې فوراً ډيوه مړه شوه نو هشام رحمه الله به بستره باندې زبيدو ددوى كور والا چه به كله ډيوه اولګوله نو دوى ته به آرام كيدو يو ځلې ددوى بى بى په دې باره كښې ددوى نه تپوس اوكړو نو وې فرمائيل ((إني إذا فقدت السراج ذكرت ظلمة القبر))[1] يعنى چه ډيوه مړه شى او تياره جوړه شى نو ماته د قبر تياره را پهډ يږى بيا ماته آرام نه راځى
دومره زيات به ئې ژړل چه ددې په وجه ئې نظر ختم شوې وو بس سترګې به ئې كلاوېږې خو څه به ئې نه ليدل[2]
پخپله به ئې ونيل ((ليتنا تنجو لا علينا ولا لنا))[3] كاش! معامله برابر سرابر شوې وه او په خه طريقه خلاص شوې وې!!
امام شعبه رحمه الله به فرمائيل ((ما من الناس أحد أقول: إنه طلب الحديث يريد به الله، إلا هشام صاحب الدستوائي....))[4]
د دومره زيات اخلاص باوجود به ئې د خپل نفس احتساب په دې طريقه كولو چه پخپله به ئې فرمائيل ((والله ما أستطيع أن أقول: إني ذهبت يوما قط أطلب الحديث أريد به وجه الله عزوجل))[5]
دهشام دستوائى رحمه الله د وفات په باره كښې مختلف اقوال منقول دى راجح دا دې چه به ۱۵۴ هـ كښې ددوى وفات شوې دې[6] رحمه الله تعالى رحمة واسعة _
۳ قتادة: دا مشهور تابعى محدث حضرت قتاده بن دعامه سدوسى رحمه الله دې د دوى مختصر حالات د ،،باب من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه،، لاندې تير شوى دى
۴ انس: دا د حضوراكرم ﷺ خادم خاص حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې ددوى مختصر حالات هم شاته د ،،باب الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه،، لاندې ذكر شوى دى

---

[1] الطبقات(ج۷.ص۲۷۹)و تهذيب الكمال(ج۳۰.ص۲۲۲)وسير أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۵۲)) -
[2] تهذيب الكمال(ج۳۰.ص۲۲۲)وسير أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۵۲)) -
[3] تهذيب الكمال(ج۳۰.ص۲۱۸)وسير أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۵۲)) -
[4] سير أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۵۰)و تهذيب الكمال(ج۳۰.ص۲۱۸)) -
[5] وسير أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۵۲))
[6] اوګورئ تهذيب الكمال مع حاشيه(ج۳۰.ص۲۲۲، ۲۲۳)والأنساب للسمعانى(ج۲.ص۴۷۶)و طبقات ابن سعد(ج۷.ص۲۸۰)وسير أعلام النبلاء(ج۷.ص۱۵۵)والكاشف مع التعليق(ج۲.ص۳۳۷) رقم(۵۹۶۹)و تقريب التهذيب(ص۵۷۳)رقم(۷۲۹۹) وخلاصة الخزرجى(ص۴۱۰)) -

قوله قَالَ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ شَعِيرَةٍ مِنْ خَيْرٍ وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ بُرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ وَيَخْرُجُ مِنَ النَّارِ مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَفِي قَلْبِهِ وَزْنُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ: كوم كس چه لا اله الا الله ونيلې وى او دده په زړه كښې د اوربشې برابر خير (ايمان) وى نو يوه نه يوه ورځ به ضرور د جهنم نه راوځى او كوم كس چه كلمه ونيلې وى او دده په زړه كښې د غنمو برابر خير يعنى ايمان وى نو هغه به ضرور دجهنم نه راوځى دغه شان چه كوم كس كلمه ونيلې وى او دهغه په زړه كښې د ذرې برابر خير يعنى ايمان وى نو هغه به د جهنم نه ضرور راوځى.

"يخرج" د مجرد نه د معروف صيغه ده دا "يخرج" (د باب افعال نه مجهول) هم ونيلې شوې ده د تائيد دهغه روايت نه كيږى په كوم كښې چه "أخرجوا" صيغه راغلې ده (١)

په دې حديث كښې چه د "خير" كومې مختلف درجې "شعيرة، برة" او "ذرة" سره تعبير كړې شوى دى. ددې نه د عمل مختلفې درجې مراد دى او كه د تصديق؟ په دې كښې اختلاف دې.

د علامه مهلب بن ابى صفره رحمه الله رائې دا ده چه په دې سره د اعمالو مختلفې درجې بيان كړې شوى دى او ددې نسبت قلب طرف ته كړې شوې دې. ځكه چه عمل په نيت بندې موقوف دې او دا د قلب فعل دې (٢)

د بعضو نورو حضراتو رائې دا ده ممكن ده چه ددې نه د تصديق مختلفې درجې مراد وى ددې قرينه داده چه د ټولو درجو اضافت قلب طرف ته شوې دې او په تصديق كښې په زيادت د علم او مشاهدې سره اضافه كيږى. (٣) والله اعلم.

ذرة: دا لفظ د ذال معجمه فتحې او په راء مشدده سره دې حالانكه د شعبه په روايت كښې كوم چه امام مسلم رحمه الله نقل كړې دې (٤) هغوى دا "ذرة" (بضم الذال المعجمة و تخفيف الراء المهملة) ونيلې دې كوم چه تصحيف دې (٥)

بيا د "ذرة" مختلفې معانې بيان كړې شوى دى يو قول دا دې چه په موزونى څيزونو كښې د ټولو نه كمتر څيز ته وائى.

دويم قول دادې چه ذره هغې بوسرى (ريزې) ته ونيلې شى كوم چه په شعاع كښې په نظر راځى.

---

(١) فتح البارى (ج ١ ص ١٠٤) عمدة القارى (ج ١ ص ٢٦٠) وشرح الكرمانى (ج ١ ص ١٧٤))-
(٢) فتح البارى (ج ١ ص ١٠٤) وعمدة القارى (ج ١ ص ٢٦١) و شرح الكرمانى (ج ١ ص ١٧٥))-
(٣) بورتنى حواله جات)
(٤) صحيح مسلم (ج ١ ص ١٠٩) كتاب الايمان. باب اثبات الشفاعة و اخراج الموحدين من النار.)
(٥) فتح البارى (ج ١ ص ١٠٤))

دريم قول دا دې چه وركوټى ميږى ته وائى.
د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دى چه كه ته په خاورو كښې لاس اولګې او خپل لاس اوڅنډې نو د لاسونو نه چه كوم دوړيږى هغه به ذره وى.
يو قول دا هم دې چه د څلورو ذرو ملاويدو نه پس يو ,, خردل ,, جوړيږى.(١)
بيا په دې حديث كښې د ,,لااله‌الاالله،، نه مراد پوره كلمه ده لكه ونيلې شى چه ((قرأت: قل هوالله أحد)) اوددې نه پوره سورت مراد وى نو دا اشكال كيدل پكار نه دى چه په ,,لااله‌الا الله،، كښې صرف توحيد دې د رسالت اقرار نشته په دې وجه به دده نجات د ايمان بالرسالة نه بغير څنګه كيږى؟ چونكه ,,لااله‌الاالله،، د كلمې عنوان دې نو پوره كلمه مراد ده چه په دې كښې رسالت او رسول سره د ملاو شوو ټولو عقائدو بيان داخل دې.(٢)والله أعلم.

قوله: قَالَ أَبُوعَبْدِاللّٰهِ قَالَ أَبَانُ حَدَّثَنَا قَتَادَةُ حَدَّثَنَا أَنَسٌ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِيمَانٍ مَكَانَ مِنْ خَيْرٍ: د ابو عبدالله نه مراد پخپله امام بخارى رحمه الله دې په بعضو نسخو كښې ,,قال أبوعبدالله،، موجود نه دې بلكه په ,,وقال أبان.....،، ونيلو سره ددې تعليق ذكركړې شوې دې.(٣)
دا حديث د امام بخارى رحمه الله د تعليقاتو څنې دې چه دا امام حاكم رحمه الله پخپل كتاب ,, كتاب الاربعين ,, كښې د ,,أبوسلمة موسى بن إسماعيل قال حدثنا أبان.....،، طريق سره موصولاً روايت كړې دې.(٤)دغه شان امام بيهقى رحمه الله هم د حاكم رحمه الله طريق سره پخپل ,,كتاب الاعتقاد ,, كښې موصولاً نقل كړې دې.(٥)

د مذكوره تعليق مقصد ددې تعليق ذكركولو سره د امام بخارى رحمه الله دوه بنيادى مقصدونه دى
① يو مقصد خو دا دې چه د حضرت انس رضي الله عنه دا حديث كوم چه د هشام طريق سره نقل دې هغې كښې قتاده د حضرت انس رضي الله عنه نه عنعنه سره روايت كوى او قتاده مدلس دې ددوى عنعنه مقبول نه ده تر هغه وخته پورې چه د تحديث صراحت ملاو نشى دلته چه امام بخارى رحمه الله د ابان كوم طريق نقل كړې دې په دې كښې قتاده د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت كولو

---

(١) ددې ټولو اقوالو دپاره اوګورئ: فتح البارى(ج١ص ١٠٤) و عمدة القارى(ج١ص ٢٦٠))-
(٢) فتح البارى(ج١ص ١٠٤) وعمدة القارى(ج١ص ٢٦٠))-
(٣) عمدة القارى(ج١ص ٢٦١))-
(٤) عمدة القارى(ج١ص ٢٦١)و فتح البارى(ج١ص ١٠٤) وهدى السارى(ص٢٠) و تغليق التعليق (ج٢ص ٤٩))-
(٥) هدى السارى(ص٢٠) وتغليق التعليق(ج٢ص ٥٠))-

سره د تحديث صراحت کړې دې نو د حضرت انس رضي الله عنه دا حديث بې غباره (او محفوظ) دې.
ددې مقصد دپاره ئې دويم طريق سره ددې متابعت ذکر کړې دې.(١)

② دويم مقصد دا دې چه د هشام دستوائى رحمه الله په طريق کښې ،،من خير،، دې.
او د ابان رحمه الله په طريق کښې ،، من ايمان،، دې مؤلف رحمه الله دا اوښودل چه دهشام په روايت کښې د ،،خير،، نه مراد ،،ايمان،، دې لکه څنګه چه د ابان په روايت کښې واقع شوې دې.(٢)
ددې دواړو مقصدونو نه علاوه د متابعت يوه عمومى فائده تقويت هم وى نو دلته دا متابعت تقويت دپاره هم ګرځولې شى.(٣)

يو اشکال او دهغې جواب دلته دا اشکال کيږى چه امام بخارى رحمه الله مخکښې د عنعنې روايت ذکرکړو بيا ئې تحديث والا طريق نقل کړو دغه شان ئې مخکښې د ،،من خير،، والا روايت نقل کړو ددې نه پس ئې د ،،من ايمان،، تفسير والا روايت ذکر کړو دومره اوږده طريقه ئې ولې اختيار کړله؟ حالانکه دا ممکنه وه چه اصلاً ئې د ابان طريق سره موصولاً حديث نقل کړې وې چه هغې کښې دتحديث تصريح هم شته او د ..ايمان تصريح هم؟!
ددې جواب دا دې چه اصل کښې د هشام په روايت کښې اګرچه عنعنه ده خو هغه د ابان په مقابله کښې اوثق او احفظ دې په دې وجه امام بخارى رحمه الله دهشام روايت وړاندې نقل کړو او د ابان روايت ئې متعابعة ذکرکړو په دې طريقه اصلاً د اتقن او اضبط راوى روايت راغلو او استشهاداً هغه روايت ذکر کړې شو په کوم کښې چه د تحديث صراحت او د مخکنى حديث تفسير دې.(٤) والله أعلم.

رجال الحديث

① ابان: دا ابو يزيد ابان بن يزيد عطار بصرى دې.(٥)
دا دحضرت حسن بصرى، عاصم بن بهدله، عبيدالله بن عمر القواريرى، عمرو بن دينار، قتاده بن دعامه، مالك بن دينار، هشام بن عروه، يحي بن سعيد انصارى او يحي بن ابى کثير رحمهم الله وغيره نه روايت کوى.(٦)
ددوى نه ابوداؤد طيالسى، سهل بن بکار، عبدالله بن المبارك، عبيدالله بن موسى، عفان

(١) فتح البارى (ج١،ص١٠٥) وعمدة القارى(ج١،ص٢٦١))-
(٢) پورتنى حواله جات.)-
(٣) عمدة القارى(ج١،ص٢٦١))-
(٤) فتح البارى(ج١،ص١٠٥) وعمدة القارى(ج١،ص٢٦١))-
(٥) تهذيب الكمال(٢\٤١٢)وسير أعلام النبلاء(ج٧\٤٣١) وغيره كتب رجال))-
(٦) تهذيب الكمال(٢\٤١٢)وسير أعلام النبلاء(ج٧\٤٣٢) وتهذيب التهذيب(ج١\١٠١))-

بن مسلم. مسلم بن ابراهیم. ابوالولید هشام بن عبدالملک طیالسی. وکیع بن الجراح. یحي القطان. او یزید بن هارون رحمهم الله روایت کوی ()

امام احمد رحمه الله فرمائی ((ثبت فی کل المشایخ)) ()

امام یحي بن معین رحمه الله فرمائی ((ثقة)) ()

امام نسائی رحمه الله فرمائی ((ثقة)) ()

امام علی بن المدینی رحمه الله فرمائی ((کان عندنا ثقة)) ()

امام عجلی رحمه الله فرمائی ((بصری ثقة، وکان یری القدر ولا یتکلم فیه)) ()

ابن شاهین ددوی توثیق کړې دې ()

ابن حبان رحمه الله دې په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې ()

ابوحاتم رحمه الله فرمائی ((صالح الحدیث)) ()

ددې اقوالو نه معلومه شوه چه ابان بن یزید عطار ثقه راوی دې البته په دوی باندې بعضو محدثینو کلام هم کړې دې لکه:

د امام عجلی رحمه الله قول اوس تیر شو ((وکان یری القدر ولا یتکلم فیه)).

خو ددې جواب بالکل واضح دې خکه چه دوی پخپله تصریح هم اوکړله چه هغوی به په دې سلسله کښې هیڅ بحث نه کولو او وړاندې بار بار مونږ ذکر کړی دی چه .. بدعت .. په هغه صورت کښې قادح وی کله چه صاحب د بدعت داعی هم وی.

دغه شان ابن عدی رحمه الله دوی پخپل کتاب .. الکامل .. کښې ذکرکړی دی. او ددوی یو خو غریب حدیثونه ئې نقل کړی دی ددې نه پس هغوی فرمائیلی دی: ((و أبان بن یزید العطار، له

) تهذیب الکمال(۲۵\۲)وتهذیب التهذیب(ج۱۰۱\۱) وسیر أعلام النبلاء(ج۴۳۲\۷))-

) تهذیب الکمال(۲۵\۲)وتهذیب التهذیب(ج۱۰۱\۱) وسیر أعلام النبلاء(ج۴۳۲\۷) والکاشف (ج۲۰۷\۱)رقم(۱۱۱) وخلاصة الخزرجی(ص۱۵) وهدی الساری(ص۳۸۷))-

) تهذیب الکمال(۲۵\۲)وتهذیب التهذیب(ج۱۰۱\۱) وهدی الساری(ص۳۸۷) وسیر أعلام النبلاء (ج۴۳۲\۷))-

) تهذیب الکمال و تهذیب التهذیب وسیر أعلام النبلاء ..پورتنی حواله جات..)-

۱۰۰\۱۰۰))-

۱۰۲) وسیر أعلام النبلاء(ج۴۳۲\۷))-

-)

روايات غير ما ذكرت، وهو حسن الحديث، متماسك، يكتب حديثه، وله أحاديث صالحة من قتادة وغيره، وعامتها مستقيمة، وأرجو أنه من أهل الصدق»(١)

د ابن عدي رحمه الله دا مذكوره عبارت اګرچه په توثيق باندې دلالت کوي خو چونکه د دير زيات توثيق الفاظ نه دي د کوم چه هغه يقيناً چه مستحق وو. په دې وجه حافظ ذهبي رحمه الله ددې عبارت نقل کولو نه پس ليکلي دي: «قلتُ: بل هو ثقة حجة، ناهيك أن أحمد بن حنبل ذكره، فقال: كان ثبتاً في كل المشايخ، وقال ابن معين والنسائي: ثقة»(٢)

بيا ابن الجوزي رحمه الله هم دوی په کتاب الضعفاء کښې ذکر کړې دې. او د کديمي په طريق ئې نقل کړی دی. چه يحيي بن سعيد القطان به ددوی نه روايت نه کولو (٣)

خو دا جرح بالکل مردود ده. څکه چه اول خو دا جرح مبهم ده. څکه دا معلومه نه ده چه يحيي القطان رحمه الله به ولې روايت نه کولو؟ ددې هيڅ وجه نه ده بيان کړې شوې.

دويمه خبره دا چه کديمي پخپله ضعيف (٤) او غيرمعتمد دی. (٥)

دريمه خبره دا ده. چه د کديمي بالکل خلاف امام يحيي بن معين رحمه الله ددوی توثيق کړې دې. فرمائي: «ثقة كان يحيى بن سعيد يروي عنه»(٦)

حافظ ذهبي رحمه الله په ابن الجوزي رحمه الله باندې د خپل خفګان اظهار کړې دې. ددوی ترديد ئې کړې دې. او فرمائيلي ئې دي: «وقد أورده أيضاً العلامة أبو الفرج ابن الجوزي في الضعفاء، ولم يذكر فيه أقوال من وثقه وهذا من عيوب كتابه: يسرد الجرح ويسكت عن التوثيق»(٧)

---

(١) الكامل في ضعفاء الرجال(ج١،ص٣٩٠، ٣٩١))-

(٢) ميزان الإعتدال(ج١،ص١٦))-

(٣) اوګورئ: ميزان الإعتدال (ج١\١٦) وتهذيب التهذيب(ج١\١٠٢) وسير أعلام النبلاء(ج٧\٤٣٢))-

(٤) قال الحافظ في هدى السارى(ص٣٨٧): وهذا مردود، لأن الكديمي ضعيف..وانظر تقريب التهذيب (٥١٥)رقم(٦٤١٩))-

(٥) قال الذهبي في الميزان(ج١،ص١٦):... روى الكديمي، وليس بمعتمد: سمعت علياً يقول سمعت يحى بن سعيد قول: لا أروى عن أبا العطار..وقال ابن حجر في تهذيب التهذيب(١\١٠٢) والكديمي ليس بمعتمد.. وقد أسلفنا قول ابن معين، أن القطان كان يروى عنه، فهو المعتمد،والله أعلم))-

(٦) تهذيب الكمال(٢\٢٥)وتهذيب التهذيب(ج١\١٠١) وهدى السارى(ص٣٨٧) وقال الذهبي في سير أعلام النبلاء (ج٧،ص٤٣٢) بعد ما نقل عن طريق الكديمي عن ابن المديني عن القطان أن ليس أبانا،و قال لا أحدث عنه فإن صح هذا فقد كان لا يروى عنه.ثم روى عنه، وتغير اجتهاده.فقد روى عباس الدوري عن يحي بن معين قال: مات يحى بن سعيد، وهو يروى عن أبان بن يزيد))-

(٧) ميزان الإعتدال(ج١،ص١٦)،هذا وقد نقل الحافظ ابن حجر قول الذهبي هذا في تهذيب التهذيب(١\١٠٢) من غيرعزو إليه ولا إشارة له، وكأنه من كلامه، وقد نبه على ذالک الدكتور بشار عواد معروف في تعليقاته على تهذيب الكمال(٢\٢٥))-

بيا دلته دا وضاحت هم ضروری دې چه امام بخاری رحمه الله ددوی نه ډیر کم روایتونه نقل کړی دی او هر ځائې کښې ئې ددوی روایتونه استشهاداً نقل کړی دی.(١) البته صرف په یو مقام باندې ددوی یو روایت موصولاً راغلې دې چه په هغې کښې هغوی فرمائی.((قال لنا مسلم بن إبراهيم: حدثنا أبان.....))(٢) والله أعلم.

ددوی وفات د ١۶٠ھ نه پس (یعنی په دویمه صدئ کښې د شپیتو او اویا د لسو په مینځ کښې) شوې دې (٣) رحمه الله تعالى رحمة واسعة_

فائده ,,ابان،، منصرف دې او که غیر منصرف؟ په دې کښې اختلاف دې

علامه عینی رحمه الله فرمائی چه ددې وزن ،، فعال،، دې پس دا منصرف دې او د دې په شروع کښې چه کومه همزه ده هغه اصلی ده.هم دا صحیح او مشهور قول دې اکثر حضرات هم ددې قائل دی.حالانکه ابن مالك نحوی رحمه الله فرمائی چه دا غیرمنصرف دې خکه چه : ,,افعل،، په وزن دې.ګویا په دې کښې د غیر منصرف دوه سببونه وزن فعل او علمیت موجود دی.(٤)

تنبیه دې باب سره متعلق ضروری تفصیلات په ،،باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال،، کښې تیر شوی دی.ددې باب ،،پنځم بحث،، ته ضرور مراجعت کول پکار دی

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ سَمِعَ جَعْفَرَ بْنَ عَوْنٍ حَدَّثَنَا أَبُو الْعُمَيْسِ أَخْبَرَنَا قَيْسُ بْنُ مُسْلِمٍ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ (٥) أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ قَالَ لَهُ يَا أَمِيرَ

---

(١) هدى السارى(ص٣٨٧) وفتح البارى(ج٥،ص٣) كتاب الحرث والمزارعة باب فضل الزرع والغرس إذا أكل منه.)-

(٢) صحيح بخارى. كتاب الحرث والمزارعة. باب فضل الزرع و الغرس إذا أكل منه.)-

(٣) اوګورئ حاشيه د :الكاشف لسبط ابن العجمى(ج١،ص٢٠٧)، تقريب التهذيب(ج وخلاصة الخزرجى (ص١٥)

(٤) عمدة القارى(ج١،ص٢٦١)، وقال الزبيدى فى تاج العروس(ج٩،ص١١٧ مادة: أبن): و أبان كسحاب. مصروفة. اسم رجل. وهو ،،فعال،، والهمزة أصلية كماجرى عليه المصنف (أى الفيروز آبادى صاحب القاموس) وحققه الدمليني. و ابن مالک. وجزم به ابن شيب الحرانى فى جامع الفنون.. وأكثر النحاة والمحدثين على منعه من الصرف للعملية والوزن. وبحث المحققون فى الوزن. لأنه إذا كان ماضياً فلا يكون خاصاً. أو اسم تفضيل فالقياس فى مثله،،أبين،، وقال بعض ائمة اللغة: من لم يعرف صرف،،أبان،،فهو أتان، نقله الشهاب رحمه الله فى شرح الشفا))-

(٥) الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى صحيحه فى كتاب المغازى. باب حجة الوداع. رقم(٤٤٠٧)وفى كتاب التفسير. سورة المائدة. باب ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ.....الخ﴾ رقم(٤۶٠۶) وفى فاتحة كتاب الإعتصام بالكتاب والسنة. رقم(٧٢۶٨)و مسلم فى صحيحه(ج٢. ص٤١٩، ٤٢٠) فواتح كتاب التفسير. والنسائى فى سننه(ج٢،ص٤٣) كتاب مناسک الحج. باب ماذكر فى يوم عرفة. وفى (٢۶٩\١٢) كتاب الإيمان وشرائعه، باب زيادة الإيمان. والترمذى فى جامعه. فى كتاب التفسير. باب ومن سورة المائدة. رقم(٣٠٤٣))-

الْمُؤْمِنِينَ آيَةٌ فِي كِتَابِكُمْ تَقْرَءُونَهَا لَوْ عَلَيْنَا مَعْشَرَ الْيَهُودِ نَزَلَتْ لَاتَّخَذْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ عِيدًا قَالَ أَيُّ آيَةٍ قَالَ ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ قَالَ عُمَرُ قَدْ عَرَفْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ وَالْمَكَانَ الَّذِي نَزَلَتْ فِيهِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ قَائِمٌ بِعَرَفَةَ يَوْمَ جُمُعَةٍ [۴۳۰۷،۴۳۳۰،۶۸۴۰]

حضرت عمر بن الخطاب ﷺ ته د يهودو يو سړى اوونيل چه اى اميرالمومنين! ستاسو په كتاب كښې يو داسې آيت دې كه هغه په مونږ يهوديانو باندې نازل شوې وې نو په دغه ورځ به مونږ اختر كولو.حضرت عمر ﷺ اوفرمائيل.هغه كوم يو آيت دې؟ وې ونيل چه هغه ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ.....الخ﴾ والا آيت دې.يعنى ما نن ورځ ستاسو دپاره ستاسو دين مكمل كړو.او خپل نعمت مې په تاسو باندې تمام كړو.او ستاسو دپاره ما دين اسلام خوښ كړو.حضرت عمر ﷺ جواب وركړو .چه مونږ ته هغه ورځ هم معلومه ده.او هغه ځائې هم معلوم دې.كوم ځائې چه دا آيت په حضوراكرم ﷺ باندې نازل شوې وو هغوى ﷺ په عرفات كښې ولاړ وو.او هغه د جمعې ورځ وه.

رجال الحديث

① الحسن بن الصباح: دا ابوعلى الحسن بن الصباح ،، بتشديد الباء الموحدة،،[1] بن محمد البزار ،،بزاى بعدها راء[2]الواسطى ثم البغدادى دې.[3]

دا دامام احمد بن حنبل، جعفر بن عون، سفيان بن عيينه، على بن المدينى او وكيع بن الجراح ﷺ وغيره د ډيرو لويو محدثينو نه روايت كوى.[4]

ددوى نه په روايت كونكو كښې امام بخارى، امام ابوداؤد ، امام ترمذى، ابراهيم حربى، ابويعلى موصلى، او حسن بن سفيان ﷺ وغيره ائمه حديث دى.[5]

امام احمد ﷺ فرمائى.«ثقة، صاحب سنة»[6]

امام ابوحاتم ﷺ فرمائى.«صدوق، وكانت له جلالة عجيبة ببغداد، كان أحمد بن حنبل يرفع من قدره ويجله»[7]

---

[1] عمدة القارى(ج١.ص٢٦٢))-

[2] پورتنۍ حواله-

[3] تهذيب الكمال(١٩١\٦)-

[4] تهذيب الكمال(ج٦.ص١٩١.١٩٢) وسير أعلام النبلاء(١٩٢\١٢)وغيره.)-

[5] تهذيب الكمال(١٩٢\٦و١٩٣) وسير أعلام النبلاء(١٩٣\١٢))-

[6] تهذيب الكمال(١٩٣\٦) والكاشف(٣٢٦\١) رقم(١٠٣٨)وسير أعلام النبلاء(١٩٤\١٢) وتهذيب التهذيب (٢٩٠\١٢) ميزان الإعتدال (٤٩٩\١) والخلاصة(ص٧٩))-

[7] تهذيب الكمال(١٩٤\٦) والكاشف(٣٢٦\١) رقم ١٠٣٨) وتذكرة الحفاظ(٤٧٦\٢) ميزان الإعتدال (٤٩٩\١)

ابن حبان رحمه الله دوى په كتاب الثقات كښې ذكر كړې دې.[1]

دحسن بن الصباح تقريباً ټولو ائمه محدثينو توثيق كړې دې.البته امام نسائی رحمه الله پخپل كتاب الكنى كښې ددې په باره كښې ليكلى دى.،، ليس بالقوى،، حالانكه د خپلو شيوخو نمونه ئې شمار كړى.او فرمائيلى ئې دى.«بغدادى صالح»(٨٠)[2]

حافظ ابن حجر رحمه الله د امام نسائی رحمه الله قول ،، ليس بالقوى،، نقل كړې دې. او فرمائيلى ئې دى.«هذا تليين هين، وقد روى عنه البخاري و أصحاب السنن إلا ابن ماجه، ولم يكثر عنه البخاري»[3]

مطلب دا دې.چه امام نسائی رحمه الله كوم تضعيف كړې دې.دا معمولى تضعيف دې.چه ددې تحمل (برداشت) كيدې شى.خصوصاً كله چه په استثناء د ابن ماجه. د امام بخارى رحمه الله سره نورو اصحاب سنن ددوى د رواياتو نه استدلال كړې دې.بيا امام بخارى رحمه الله چه ددوى نه كوم روايات اخستې دى.هغه ډير كم دى.

حسن بن الصباح په عبادت او صلاح او تقوى كښې مشهور وو.لكه چه حافظ ابن قريش محمد بن جمعه رحمه الله فرمائى.«وكان أحد الصالحين»[4]

ابو العباس سراج رحمه الله فرمائى.«كان من خيار الناس ببغداد»[5]

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى.«ما يأتى على ابن البزار يوم إلا وهو يعمل فيه خيراً، ولقد كنا نختلف إلى فلان المحدث، وسماه، قال: وكنا نقعد نتذاكر الحديث إلى خروج الشيخ، و ابن البزار قائم يصلى إلى خروج الشيخ، وما يأتى عليه يوم إلا وهو يعمل فيه الخير»[6]

په ٢۴٩ه كښې ددوى وفات شوې دې.[7]رحمة الله عليه _

② جعفربن عون: دا جعفر بن عون عمرو بن حريث قرشى مخزومى كوفى دې.ابو عون ددوى كنيت دې.[8]

---

[1] كتاب الثقات(١٧۶\٨))-

[2] تهذيب الكمال(١٩٤\۶)وتهذيب التهذيب(٢٩٠\٢) ميزان الإعتدال (٤٩٩\١))-

[3] هدى السارى(ص٣٩٧) وقال فيه(ص ٤۶١):..الحسن بن الصباح البزار: تعنت فيه النسائى..)-

[4] تهذيب الكمال(١٩٤\۶) وتهذيب التهذيب(٢٩٠\٢)-

[5] وتهذيب التهذيب(٢٩٠\٢) وسير أعلام النبلاء(١٩٤\١٢) و ميزان الإعتدال (٤٩٩\١)-

[6] تهذيب الكمال(١٩٣\۶-١٩٤وتذكرة الحفاظ(٤٧۶\٢وسير أعلام النبلاء(١٩٣\١٢)_

[7] كتاب الثقات لابن حبان (١٧٣\١)تهذيب الكمال(١٩٤\۶و ١٩٥)وتذكرة الحفاظ(٤٧۶\٢) وسير أعلام النبلاء(١٩٥\١٢)-

[8] تهذيب الكمال(٧٠\٥و ٧١) وسيرأعلام النبلاء(٤٣٩\١و ٤٤٠)وغيره)-

د امام ابو حنیفه، سفیان ثوری، اعمش، مسعر بن کدام، یحي بن سعید انصاری او دهشام بن عروه ﷭ وغیره نه روایت کوی.[1]

ددوی نه اسحاق بن راهویه، اسحاق کوسج، حسن بن الصباح البزار، ابوخیثمه زهیر بن حرب او احمد بن الفرات ﷭ وغیره ډیرو د اهل علمو حدیثونه روایت کړی دی.[2]

امام احمد ﷫ فرمائی. «رجل صالح لیس به بأس»[3]

امام یحي بن معین ﷫ فرمائی. «ثقة»[4]

امام ابوحاتم ﷫ فرمائی. «صدوق»[5]

ابن حبان[6] او ابن شاهین[7] ﷭ دوی لره په ،ثقاتو، کښې ذکر کړې دې.

ابن قانع ﷫ فرمائی. «كان ثقة»[8]

حافظ ذهبی ﷫ هم دوی لره .. ثقه.. ګرخولې دې.[9]

محمد بن سعد ﷫ فرمائی. «وكان ثقة كثير الحديث»[10]

دغه شان ابن خلفون او عجلی رحمهما الله هم دوی لره ثقه ګرخولې دې.[11]

په ۲۰۶ﻫ یا ۲۰۷ﻫ کښې تقریباً ۹۷ کالو په عمر کښې ددوی وفات اوشو.[12] رحمه الله تعالی رحمة واسعة_

---

[1] تهذیب الکمال(٧١\٥) وسیر أعلام النبلاء(٤٤٠\١))-
[2] تهذیب الکمال٧١\٥و٧٢)وسیرأعلام النبلاء(٤٤٠\٩)_
[3] تهذیب الکمال(٧٢\٥) وسیرأعلام النبلاء(٤٤٠\١) وتهذیب التهذیب(١٠١\٢)_
[4] تهذیب الکمال(٧٣\٥) وتهذیب التهذیب(١٠١\٢) وخلاصة الخزرجی(٦٣)_
[5] تهذیب الکمال(٧٣\٥) وسیرأعلام النبلاء(٤٤٠\١) وتهذیب التهذیب(١٠١\٢)_
[6] کتاب الثقات(١٤١\٦)_
[7] وتهذیب التهذیب(تهذیب التهذیب(١٠١\٢)_
[8] پورتنئ حواله.)-
[9] الکاشف للذهبی(٢٩٥\١)رقم(٧٩٦))-
[10] طبقات إبن سعد (٣٩٦\٦)-
[11] تعلیقات على تهذیب الکمال(٧٣\٥)_
[12] تهذیب الکمال(٧٣\٥) وسیر أعلام النبلاء(٤٤٠\١، ٤٤١) وتهذیب التهذیب(١٠١\٢) والکاشف للذهبی(٢٩٥\١)کتاب الثقات لابن حبان (١٤١\٦) تقریب التهذیب(ص،١٤١) رقم(٩٤٨) والخلاصة(ص٦٣))-

② **ابوالعميس**: دا ابوالعميس عتبه بن عبدالله بن عتبه بن عبدالله بن مسعود الهذلي المسعودی الکوفی دي (1)

د امام عامر بن شراحيل شعبی، عبدالله بن عبدالله بن جبر انصاری، ابن ابی مليکه، قيس بن مسلم جدلی او د ابو اسحاق سبيعی رحمهم الله وغيره نه ئې حديث حاصل کړو (2)

د دوی نه جعفر بن عون، حفص بن غياث، ابو اسامه، سفيان بن عيينه، شعبه، ابو نعيم او وکيع بن الجراح رحمهم الله روايت کړې دي (3)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی: ((ثقة)) (4)

امام يحي بن معين رحمه الله هم دوی لره .. ثقه .. ګرځولي دي (5)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی: ((صالح الحديث)) (6)

ابن سعد رحمه الله فرمائی: ((وکان ثقة)) (7)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: ((ثقة)) (8)

امام عجلی رحمه الله فرمائی: ((کوفی ثقة)) (9)

ابن حبان رحمه الله هم دوی لره په .. کتاب الثقات .. کښې ذکر کړې دي (10)

حافظ ذهبی رحمه الله په .. تهذيب .. کښې ليکلی دی: ((موته قريب من موت الأعمش)) او د امام اعمش رحمه الله وفات په ۱۴۸ھ کښې شوې دې. او علامه سراج الدين ابن الملقن رحمه الله فرمائيلی دی چه د دوی وفات په ۱۲۰ھ کښې شوې دې (11) والله أعلم، رحمه الله تعالی رحمة واسعة_

③ **قيس بن مسلم**: دا ابو عمرو قيس بن مسلم جدلی (12) عدوانی کوفی دې (13)

---

(1) تهذيب الکمال(۳۰۹\۱۹)_
(2) تهذيب الکمال(۳۰۹\۱۹و ۳۱۰) سير أعلام النبلاء(۲۰\۷)_
(3) تهذيب الکمال(۳۱۰\۱۹) سير أعلام النبلاء(۲۰\۷)_
(4) تهذيب الکمال(۳۱۰\۱۹) سير أعلام النبلاء(۲۰\۷)_
(5) پورتنۍ حواله.)-
(6) پورتنۍ حواله.)-
(7) الطبقات لابن سعد(۳۶۶\۶)-
(8) تقريب التهذيب(ص.۳۸۱) رقم ۴۴۳۲)_
(9) تعليقات على تهذيب الکمال(۳۱۰\۱۹)_
(10) کتاب الثقات(۲۶۹\۷))-
(11) اوګورئ حاشيه دالکاشف لسبط ابن العجمی رحمه الله (۱۱ \ ۶۹۶)رقم(۳۶۶۴))-
(12) دا جديله قبيلې طرف ته نسبت دې.اوګورئ: الأنساب للسمعانی(۳۰\۱۲، ۳۱))-
(13) تهذيب الکمال(۸۱\۲۴))-

دا د حضرت طارق بن شهاب رضی الله عنه نه علاوه د سعيد بن جبير. مجاهد. عبدالرحمن بن ابى ليلى. حسن بن محمد الحنفيه او د ابراهيم بن جرير بن عبدالله بجلى رحمهم الله نه د حديثو روايت كوى (١)

ددوى نه په احاديثو اوريدونكو كښې سفيان ثورى. امام ابوحنيفه. مسعر بن كدام. ابوالعميس. امام اعمش او ابراهيم بن محمد بن المنتشر رحمهم الله وغيره دى (٢)

امام احمد رحمه الله فرمائى: ((ثقة فى الحديث)) (٣)

امام يحي بن معين او ابو حاتم رحمهما الله فرمائيلى دى ,,ثقة،، (٤)

امام نسائى رحمه الله فرمائى: ((ثقة وكان يرى الارجاء)) (٥)

امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائى: ((وكان ثقة ثبتاً له حديث صالح)) (٦)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى: ((ثبت)) (٧)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په ..كتاب الثقات.. كښې ذكركړې دې. (٨)

امام عجلى رحمه الله فرمائى: ((كوفى ثقة)) (٩)

امام يعقوب بن سفيان رحمه الله فرمائى: ((ثقة ثقة وكان مرجئاً)) (١٠)

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائى: ((كان مرجئاً)) (١١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى: ((ثقة رمى بالارجاء)) (١٢)

ددوى وفات په ١٢٠ ه كښې اوشو. (١٣) رحمه الله تعالى رحمة واسعة _

---

(١) تهذيب الكمال(٢٤\٨٢))-
(٢) پورتنئ حوالې.)-
(٣) تهذيب المكمال(٢٤\٨٢) وتهذيب التهذيب(٨\٤٠٣)_
(٤) تهذيب الكمال(٢٤\٨٣) وتهذيب التهذيب(٨\٤٠٤))-
(٥) پورتنئ حواله.)-
(٦) طبقات إبن سعد (ج٦\٣١٧))-
(٧) الكاشف(٢\١٤١)رقم(٤٦١٦))-
(٨) كتاب الثقات لإبن حبان (ج٧\٣٢٦))-
(٩) وتهذيب التهذيب(ج٨\٤٠٤))-
(١٠) پورتنئ حواله.)-
(١١) تهذيب الكمال(٢٤\٨٢) وتهذيب التهذيب(٨\٤٠٤)وسير أعلام النبلاء(٥\١٦٥))-
(١٢) تقريب التهذيب(٤٥٨)رقم(٥٥٩١))-
(١٣) الطبقات لإبن سعد(٦\٣١٧)وكتاب الثقات لإبن حبان (٧\٣٢٦)و تهذيب الكمال(٢٤\٨٣)وغيره)-

تنبيه دا خبره په ذهن كښې كينول پكار دى.چه د صاحب بدعت روايت هغه مردود وى.كله چه هغه داعى وى.دلته د قيس بن مسلم په باره كښې تقريباً دټولو ائمه رجال اتفاق دې.چه هغه ثقه وو.البته بعضو حضراتو دوى براه راست ،، مرجى،، گرځولې دې.او بعضو حضراتو د ،، رمى بالإرجاء،، تعبير اختيار كړې دې.خو يوكس هم دوى لره په ((دعاة الى البدعة)) كښې نه دې شمار كړې.والله اعلم.

⑤ طارق بن شهاب: دا حضرت طارق بن شهاب بن عبد شمس كوفى بجلى احمسى رضي الله عنه دې.ابو عبدالله ددوى كنيت دې.(۱)

دوى د خلفاء اربعه نه علاوه د حضرت بلال، حضرت حذيفه، حضرت خالد بن الوليد، حضرت رافع بن عمرو طائى، حضرت سعد بن ابى وقاص، حضرت سلمان فارسى، حضرت كعب بن عجره، حضرت مقداد بن الاسود، حضرت ابو سعيد خدرى، او د حضرت ابو موسى اشعرى رضي الله عنهم نه روايت حديث كړې دې.(۲)

ددوى نه روايت كونكوكښې ابراهيم بن مهاجر، اسماعيل بن ابى خالد، سليمان احول، سماك بن حرب او قيس بن مسلم جدلى رحمهم الله وغيره حضرات تابعين دى.(۳)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى.((ليست له صحبة))(۴)

حالانكه حقيقت دا دې.چه دوى د جاهليت زمانه هم موندلې ده.او د اسلام زمانه هم. د حضوراكرم صلى الله عليه وسلم زيارت ئې كړې دې.خو د هغوى(صلى الله عليه وسلم) نه هيڅ حديث نه دې اوريدلې.نو كوم روايتونه چه ددوى د حضوراكرم صلى الله عليه وسلم نه براه راست رانقل دى.هغه د صحابو د مراسيلو قبيل ځنې دې.(۵)چه دا بالاتفاق مقبول دى.(كما مر غير مرة)

پخپله فرمائى.((رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم وغزوت فى خلافة أبى بكر فى السرايا وغيرها))(۶)

په يو بل طريق كښې دى.((وغزوت فى خلافة أبى بكر وعمر، بضعاً وأربعين، بين غزوة وسرية))(۷)

دغه شان ددوى نه نقل دى.((قدم وفد بجيلة على النبى صلى الله عليه وسلم فقال: ابدأوا بالأحمسيين، ودعالنا))(۸)

---

(۱) تهذيب الكمال(۱۳\۳٤۱)وغيره)-

(۲) تهذيب الكمال(۱۳\۳٤۲) وتهذيب الأسماء واللغات للنوى(۱\ ۲٥۱) طبقات إبن سعد (۶\۶۶))-

(۳) تهذيب الكمال(۱۳\۳٤۲) وتهذيب التهذيب(۵\۳))-

(۴) الاصابة(۲.۲۲۰\۱) وتهذيب التهذيب(۵\٤))-

(۵) اوگورئ: تهذيب الكمال(۱۳\۳٤۱) والإصابة(ج۲.ص۲۲۰) وتهذيب التهذيب(۵\٤)وتهذيب الأسماء واللغات(۱\۲٥۱) وخلاصة الخزرجى(ص۱۷۸))-

(۶) مسند أبى داؤد الطيالسى(ص۱۸۰)رقم(۱۲۸۰))-

(۷) طبقات إبن سعد (ج۶\۶۶))-

(۸) مسند أبى داؤد الطيالسى(ص۱۸۱))-

امام ابو داؤد رحمه الله فرمائي. «قد رأى النبي ﷺ ولم يسمع منه شيئاً»[1]
امام يحيٰ بن معين او عجلي رحمهما الله دوى ،، ثقه،، ګرځولې دې.[2]
ددوى وفات په ۸۲ھ يا ۸۳ھ يا ۸۴ھ کښې شوې دې. بعضو حضراتو ۱۲۳ھ سن وفات نقل کړې دې. چه دا صحيح نه دې.[3]
تنبيه دا وضاحت ضروري دې. چه کوم سړي ته د صحابي کيدو شرف حاصل شي. هغه ته دچا دتعديل ضرورت نه وي. ځکه چه الله تعالى پخپله هغه عادل ګرځولې دې.[4]
دلته د ابن معين او عجلي رحمهما الله قول د هغه مفروضې په صورت کښې نقل کړې شوې دې. کوم چه ابو حاتم رحمه الله فرمائي. چه دوى ته د،، صحبت،، شرف حاصل نه دې. اګرچه حقيقت دا دې. چه پخپله ابوحاتم رحمه الله دا خبره مني. چه د حضرت طارق بن شهاب رضي الله عنه نه صراحت سره نقل دى. چه دوى د حضوراکرم ﷺ زيارت کړې دې.[5] والله أعلم.

⑨ عمر بن الخطاب: دا حضرت عمر بن الخطاب بن نفيل بن عبدالعزى عدوى دې. ابوحفص ددوى کنيت دې.
دوى په فقهاو صحابو کښې يو فقيه، ثانى الخلفاء الراشدين، او د عشره مبشره ځنې دې. په خلفاو کښې دټولو نه مخکښې دوى ته د ،، اميرالمؤمنين،، لقب ورکړې شو.
دوى د څلويښتو کسانو نه روستو په اسلام مشرف شو.[6] ددوى په اسلام راوړلو سره اسلام او اهل اسلام ته تقويت حاصل شو. د بدر نه واخله په ټولو غزواتو او مشاهدو کښې شريک پاتې شوې دې. د حضرت ابوبکر رضي الله عنه نه پس دوى خليفه منتخب شو. ددوى په عهد (زمانه خلافت) کښې ډير ملکونه فتح شو.
د ذوالحجه ۲۳ھ په آخر آخر کښې دوى باندې ابولؤلؤه مجوسى وار اوکړو. چه ددې په نتيجه کښې دوى شهيد شو. او په محرم ۲۴ھ کښې ددوى تدفين په حجره مبارکه کښې د حضوراکرم ﷺ او د خپل پيشوا حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په اړخ کښې عمل کښې راغې.

---

[1] تهذيب الكمال(۳٤۲\۱۳)وتهذيب التهذيب(ج۵\٤) والإصابة(ج۲،ص۲۲۰))-
[2] تهذيب الكمال(۳٤۲\۱۱)وتهذيب التهذيب(ج۵\٤))-
[3] اوګورئ: الثقات لابن حبان (ج۳\۲۰۱) تهذيب الكمال(۳٤۳\۱۳)وتهذيب التهذيب(ج۵\٤) تقريب التهذيب(ص۲۸۱)، وخلاصة الخزرجى(ص۱۷۸) وعمدة القارى(ج۱ص۲۶۲))-
[4] انظر الفصل الثالث فى بيان حال الصحابة من العدالة. من مقدمة الإصابة(ج۱،ص۹، ۱۲))-
[5] اوګورئ: الإصابة (ج۲،ص۲۲۰) تهذيب الكمال(۵\٤))-
[6] كذا فى خلاصة الخزرجى(ص۲۸۲)و قيل: بعد أربعين رجلاً وعشر نسوة. وقيل بعد خمسة وأربعين رجلاً و إحدى عشرة إمرأة. كذا فى صفة الصفوة لابن الجوزى(ج۱،ص۲۷۳، ۲۷٤))-

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي ((كان إسلام عمر فتحاً، وكانت هجرته نصراً، وكانت إمارته رحمة))[1]

حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه چه د تدفين نه فارغ شو نو وې فرمائيل ((ذهب اليوم بتسعة أعشار العلم)) يعنې حضرت عمر رضي الله عنه دعلم په لسو حصو كښې نهه حصې خپل ځان سره يوړې ددوى نه تقريباً پنځه سوه او يوكم څلويښت حديثونه نقل دى چه په دې كښې لس متفق عليه دى بيا په نهه حديثونو كښې امام بخارى رحمه الله متفرد دې او په پنځلسو احاديثو كښې امام مسلم رحمه الله متفرد دې [2]

ددوى فضائل او مناقب بې شماره ده [3] رضي الله عنه وأرضاه_

<u>سَمِعَ جَعْفَرَ بْنَ عَوْنٍ</u>: دا هم دغه شان يعنې ،، سمع جعفر بن عون،، ليكلې كيږى خو په وئيلو كښې ،،أنه سمع.....،، وئيلې كيږى د محدثينو عادت دې چه په داسې موقعه بندې كتابتاً ،،أنه،،حذف كوى.البته نطقاً او قراءةً (په وئيلو كښې) دا ښكاره كوى.لكه څنګه چه عام طور د ،،حدثنا،، او،،أخبرنا،، نه وړاندې،،قال،، كتابتاً حذف كوى. خو نطقاً ددې قراءت ضرور كوى. [4]

<u>أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْيَهُودِ قَالَ لَهُ</u>: يعنې په يهودو كښې يو سړى حضرت عمر رضي الله عنه ته اووئيل

مسدد رحمه الله پخپل مسند كښې. امام طبرانى رحمه الله په معجم اوسط كښې او ابن جرير طبرى رحمه الله پخپل تفسير [5] كښې دا روايت نقل كړې دې.ددوى په طريق كښې ددې سړى د نوم تصريح موجود ده.چه دا كعب احبار وو [6]

خو بيا اشكال كيږى.چه امام بخارى رحمه الله هم دا روايت په كتاب المغازى كښې نقل كړې دې.په هغې كښې ذكر دى.((أن أناساً من اليهود.....))[7] دغه شان دوى چه په كتاب التفسير كښې كوم روايت نقل كړې دې.هغې كښې ،،قالت اليهود،، الفاظ دى.[8] نو د حديث باب او د

---

[1] طبقات إبن سعد (ج٣\٢٧٠))-
[2] دا ټول تفصيلات د خلاصة الخزرجي(ج١.ص٢٨٢) نه ماخوذ دى)-
[3] ددوى تفصيلي حالاتو دپاره اوګورئ: طبقات إبن سعد (ج٣\٢٦٥-٣٧٦)وحلية الأولياء(١\٣٨-٥٥)وصفة الصفوة(١\٢٦٨-٢٩٣) و تهذيب الأسماء واللغات(ج٢.ص٣-١٥) تهذيب الكمال(٢١\٣١٦-٣٢٦)وتهذيب التهذيب(ج٧\٤٣٨-٤٤١) وخلاصة الخزرجي(ص٢٨٢))-
[4] فتح البارى(١\١٠٥)و عمدة القارى(١\٢٦٣))-
[5] جامع البيان في تفسير القرآن(٦\٥٣-٥٤)
[6] فتح البارى(١\١٠٥)و عمدة القارى(١\٢٩٣) (_
[7] صحيح البخارى.كتاب المغازى. باب حجة الوداع.رقم(٤٤٠٧))_
[8] صحيح البخارى. كتاب التفسير.سورة المائدة. باب﴿ اليوم أكملت لكم دينكم.....الخ﴾ رقم:(٤٦٠٩))-

مغازي او تفسير روايت په مينځ كښې تعارض راځي.

نو جواب دا دې چه ددې روايتونو په مينځ كښې هيڅ تعارض نشته.ځكه چه تطبيق ممكن دې.ددې صورت دا دې.چه سوال كونكې خو په حقيقت كښې كعب احبار وو.البته ددې سوال كولو په وخت دغه وخت د يهودو يو جماعت وو.چه د هغوى په نمائندګئ كولو سره دوى دا خبره كړې وه.په حديث كښې چه «أن رجلا من اليهود» ونيلې شوى دى.په دې كښې حقيقى نسبت قائل طرف ته دې.او په باقى دوارو روايتونو كښې چه د قول نسبت .. يهودو.. طرف ته كوم شوې دې.هغه په دې وجه چه هم دغه خلقو خبره كول غوښتل.او دهغوى نمائندګى كعب احبار كوله.(١)والله أعلم_

قوله: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ آيَةٌ فِي كِتَابِكُمْ تَقْرَءُونَهَا لَوْ عَلَيْنَا مَعْشَرَ الْيَهُودِ نَزَلَتْ لَاتَّخَذْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ عِيدًا قَالَ أَيُّ آيَةٍ قَالَ ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾: يعنى اې اميرالمؤمنين! ستاسو په كتاب (قرآن كريم) كښې يو داسې ايت دې.كه دا آيت په مونږه يهودو باندې نازل شوې وې.نو دغه ورځ به مونږه اختر جوړ كړې وو.حضرت عمر رضی الله عنه تپوس اوكړو.هغه كوم يو آيت دې؟ نو وې ونيل. ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ....﴾

مطلب دا دې.چه په دې آيت كښې الله ﷻ دې امت ته ډير لوئې اعزاز وركړو.او په ده باندې ئې د خپل خاص انعام ذكر اوفرمائيلو.يو خو دا چه ستاسو دين ئې مكمل كړو.په دې طريقه ئې د دين اسلام د كمال زيرې وركړو.دويم ئې د نعمت د اتمام ذكر اوكړو.چه په تاسو باندې مونږه خپل نعمت مكمل كړو.او بيا ئې دټولو نه آخر كښې دا اوفرمائيل. ﴿وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ يعنى ستا په دين اسلام سره زه راضي يم.دا زما خوښ دين دې.ګويا په ټولو آسمانى دينونو كښې د ين اسلامى الله تعالى منتخب كړې دې.دا دومره لوئې بشارت چه په كومه ورځ ملاو شوې دې.كه مونږ ته داسې بشارت ملاو شوې وې.نو مونږه به د دغه ورځې دومره تعظيم كولو.چه ددې ورځې نه به مو اختر جوړ كړې وې.

قوله: قَالَ عُمَرُ قَدْ عَرَفْنَا ذَلِكَ الْيَوْمَ وَالْمَكَانَ الَّذِي نَزَلَتْ فِيهِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ قَائِمٌ بِعَرَفَةَ يَوْمَ جُمُعَةٍ: حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل.مونږ د دغه ورځې او دهغه مقام نه ښه خبر يو.چه په كومه ورځ او په كوم مقام باندې به نبى كريم ﷺ باندې دا آيت نازل شو.په دغه وخت هغوى په عرفات كښې ولاړ وو.او د جمعې ورځ وه.

ايا د حضرت عمر رضی الله عنه جواب، سوال سره مطابقت لرى په ښكاره د حضرت عمر رضی الله عنه جواب د سائل سوال سره مطابقت نه لرى.ځكه چه سائل پخپل سوال كښې ونيلى وو.چه مونږ به دا ورځ اختر جوړه كړې وه.حالانكه حضرت عمر رضی الله عنه په جواب كښې د زمان او مكان

(١) فتح البارى(١٠٥/١)و عمدة القارى(٢٦٣/١)_

معلوميدو خبره.ذكركړې ده.په جواب كښې دا ونيل پكار وو.چه مونږ ته هغه وخت او هغه مقام معلوم دې.او زمونږ دپاره هغه ورځ د اختر ورځ ده؟

ددې جواب دا دې.چه په اصل كښې د حضرت عمر رضي الله عنه د جواب مطلب دا دې.چه دجمعې ورځ او د عرفې ورځ زمونږ په نيز اختر شمارلې كيږي.په دې وجه مونږ هم په دې آيت باندې د خوشحالئ اظهار كوو.په حديث باب كښې چه د حضرت عمر رضي الله عنه كوم جواب منقول دې هغه مختصر دې.حالانكه د ،،إسحق عن قبيصه،،په طريق سره چه كوم روايت منقول دې.هغې كښې تفصيلي جواب موجود دې.چه حضرت عمر رضي الله عنه جواب وركړو.«قد علمت اليوم الذي انزلت فيه، والمكان الذي انزلت فيه يوم جمعة ويوم عرفة بحمد الله لنا عيد» [١] دغه شان په دې طريق كښې حافظ ابن حجر رحمه الله د طبري او طبراني په حوالې سره الفاظ نقل كړي دي.«وهما لنا عيدان» [٢] دغه شان امام ترمذي رحمه الله د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت نقل كړې دې.«قرأ ابن عباس: ﴿اليوم أكملت لكم دينكم وأتممت عليكم نعمتي ورضيت لكم الإسلام دينا﴾ وعنده يهودي فقال: لو انزلت هذه الآية علينا لاتخذنا يومها عيداً، فقال ابن عباس: فإنها نزلت في يوم عيدين: في يوم الجمعة ويوم عرفة» [٣] يعنى حضرت ابن عباس رضي الله عنهما جواب وركړو.چه دا آيت خو په هغه ورځ نازل شوې دې.چه زمونږ يو خو څه چه دوه اخترونه وو. جمعه هم وه.او عرفه هم وه.چه دا تفصيلي روايات مخې ته وي.نو په سوال او جواب كښې د عدم مطابقت اشكال ختميږي.

ورځ د عرفې ئې څنګه اختر اوګرځوله؟ بيا دلته اشكال كيږي.چه ورځ د جمعې اختر ګرځول صحيح دې.څكه چه دا د هفتې په ورځو كښې د اختر ورځ ده.خو ورځ دعرفې خو د اختر ورځ نه ده.بلكه د اختر ورځ خو يوم النحر (د قربانئ ورځ) ده؟

ددې جواب دا دې.چه د عرفې د ورځې نه پس چه كومه ورځ راځي.هغې نه پس متصلاً ورځ د قربانئ راځي.نو ورځ د قربانئ د عرفې ورځې سره متصل او ملاو ده.او څه څيز سره چه نزدې او متصل كوم څيز وي.هغې ته هم ددغه څيز حكم وركولې شي.لكه څنګه چه حديث كښې وارد شوى دى.« شهرا عيد لا ينقصان: رمضان و ذوالحجة» [٤] ذوالحجه خو ,,مياشت د اختر،، ده.خو رمضان خو،، مياشت د اختر،، نه ده.د ,,اختر مياشت،، خو د شوال مياشت

---

[١] تفسير طبرى(٥٣/٦ و ٥٤)

[٢] فتح البارى(١٠٥/١)

[٣] جامع ترمذى(١٣٤/٢)، كتاب التفسير.باب ومن سورة المائدة.رقم(٣٠٤٤)

[٤] صحيح البخارى.كتاب الصوم باب: شهرا عيد لاينقصان.رقم(١٩١٢)والصحيح لمسلم(٣٤٩/١) كتاب الصيام. باب معنى قوله ﷺ شهراعيد لا ينقصان، وسنن ابوداؤد. كتاب الصوم. باب الشهر يكون تسعاً وعشرين. رقم(٢٣٢٣)، وجامع الترمذى. كتاب الصوم. باب ماجاء: شهرا عيد لا ينقصان.رقم(٦٩٢) و سنن ابن ماجه. كتاب الصيام. باب ماجاء فى شهرى العيد. رقم(١٦٥٩)

ده په دې حديث کښې نبی کريم ﷺ رمضان .. داختر مياشت.. خکه گرځولې ده.خکه چه اختر ددې سره متصل دې دغه شان ورځ د عرفې چونکه ورځ د نحر سره متصل ده. نو هم دا ورځ د اختر گرځولې شوې ده (١)
ب: چونکه د آیت نزول د صحيح روايت مطابق د مازيګر نه پس شوې وو.په دې وجه پخپله ورځ د عرفې اختر جوړه نکړې شوه خکه چه د اختر تحقق د اول د ورځې نه کيږی.د آخر د ورځې نه نه کيږی.په دې وجه فقهاء وائی چه «رؤية الهلال بالنهار لليلة المستقبلة» يعنی د اختر په ورځ (د زوال نه روستو) که د سپوږمۍ رؤيت متحقق شی.نو دا به د راروانې ورځې سپوږمۍ ګڼړلې شی. (٢)
: عرفې ورځ .د اختر ورځ گرځولو وجه دا هم کيدې شی چه ورځ د قربانۍ ورځ د اختر ده.خو د عرفې ورځ هم د خلقو دپاره خصوصاً د حاجيانو دپاره ورځ د اختر ده خکه چه په دې ورځ د حج اصل رکن .. وقوف عرفه.. اداکيږی.د حاجيانو د دعګانو په برکت سره د خلقو ګناهونه معاف کيږی.د حاجيانو مراتب او درجې اوچتيږی.په دې وجه دا ورځ هم په حقيقت کښې د اختر ورځ ده.(٣)والله اعلم.

٣٣ =بَابُ الزَّكَاةُ مِنَ الْإِسْلَامِ

وَقَوْلُهُ عزوجل ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴾ البينه:٥)

تيرو شوو بابونو سره ربط لکه څنګه چه امام بخاری رحمه الله په مخکنو نورو ایمانی شعبو باندې مستقل تراجم قائم کړی دی.او د «الصلاة من الإيمان» او د «الجهاد من الإيمان» تراجم ئې راوړلی دی.هم دغه شان ئې دا ترجمه هم قائم کړې ده. (٤)
ددې نه وړاندې ئې بدنی عبادات ذکرکړی وو.او اوس مالی عبادات ذکر کوی. (٥) بيا د مذکوره ترجمې نه وړاندې امام بخاری رحمه الله «الصلاة من الإيمان» ذکر کړو.او،، صلاة ،، سره متعلق ابواب ئې ذکرکړی دی.او ددې نه پس اوس «الزكاة من الإسلام» ذکرکوی.خکه چه ،،صلاة او زکاة،، توامين دی.او په قران او حديث کښې ددې ذکرعام طورباندې يوځائې کيږی.
بيا خاص طور باندې ددې باب ما قبل باب«زيادة الإيمان ونقصانه» سره خاص مناسبت دې.

---

(١)فتح الباری(١١٠٥)
(٢) أنظر عمدة القاری(١/٢٦٤)
(٣) أنظرشرح النووی علی صحیح مسلم(٢/٤٢٠) کتاب التفسیر . وعمدة القاری(١/٢٦٤)
(٤) اوګورئ: فتح الباری(١/١٠٦)
(٥) فضل الباری(١/٤٩٨)و إيضاح البخاری(١/٣٨١) _

چه وراندې بنودلی شوی وو چه اعمالو سره ایمان کښې زیادت متحقق کیږی او د اعمالو ترك سره نقصان لازمیږی اوس په مذکوره باب کښې دا بیان کړې شوی دی چه زکاة ادا کول د اسلام جزء دې نوکله چه زکاة اداکیږی نو اسلام به کامل وی او که ددې ادائیګی نه کیږی نو ناقص به وی (١)والله اعلم

د ترجمة الباب مقصود د مذکوره ترجمة الباب مقصود هم اعمال د ایمان جزء ګرځول. او د ایمان ترکیب ثابتول دی. ګویا امام بخاری رحمه الله په ،،الزکاة من الإسلام،، ونیلو سره دا بنودلی ده چه زکاة په اسلام کښې داخل دې او اسلام او ایمان یو دې نو زکاة په ایمان کښې داخل او ددې شعبه شوه (٢)

دغه شان د مرجئه تردید هم مقصود کیدې شی چه هغوی اعمالو ته هیڅ وقعت او حیثیت نه ورکوی امام بخاری رحمه الله ثابته کړله چه اعمال د دین شعبې او اجزاء دی ددې نه بغیر دین او ایمان ناقص کیږی (٣)والله أعلم

قوله: ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴾: دوی ته دا حکم ورکړې شوې وو چه دوی یکسوئی او اخلاص سره صرف د الله تعالی عبادت اوکړی او د مونځ پابندی اوکړی او زکاة ادا کړی هم دا سیدها او مستحکم دین دې.

﴿وَذَٰلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ﴾ کښې ﴿الْقَيِّمَةِ﴾ د ،،المستقیمة،، په معنی کښې دې (٤)او دا د ..الملة.. صفت دې ،،أی دین الملة المستقیمة،، (٥)او د ،،ذالك،، اشاره عبادت خالص د الله دپاره، اقامت صلاة. او زکاة ورکولو طرف ته ده (٦)معلومه شوه چه دا ټول څیزونه په دین اسلام کښې داخل دی نو د مصنف ترجمه ثابته شوه.

بیا چونکه امام بخاری رحمه الله وراندې د صلاة مسئله ذکرکړې وه په دې وجه ئې دې آیت کښې صرف ،،زکاة،، باندې ترجمه قائم کړې ده (٧)والله أعلم

---

(١) عمدة القارى(٢٦٤/١) _
(٢) اوګورئ ایضاح البخارى(٣٨/٤)و تقریر بخارى شریف(١٤٧/١) _
(٣) فضل البارى(٤٩٨/١) و إیضاح البخارى(٣٨/٤) _
(٤) فتح البارى(١٠٦/١) وعمدة القارى(٢٦٤/١) _
(٥) عمدة القارى(٢٦٤/١) _
(٦) پورتنئ حواله_
(٧) فتح البارى(١٠٦/١) وعمدة القارى(٢٦٤/١) _

حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ قَالَ حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ عَمِّهِ أَبِي سُهَيْلِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ طَلْحَةَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ ( )يَقُولُ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرَ الرَّأْسِ يُسْمَعُ دَوِيُّ صَوْتِهِ وَلَا يُفْقَهُ مَا يَقُولُ حَتَّى دَنَا فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا قَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِيَامُ رَمَضَانَ قَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ قَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ قَالَ وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الزَّكَاةَ قَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا قَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ قَالَ فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ وَاللَّهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلَا أَنْقُصُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ [ ]

رجال الحديث

① **اسماعيل:** دا ابوعبدالله اسمعيل بن ابى اويس عبدالله بن عبدالله بن اويس بن مالك بن ابى عامر اصبحى مدنى دې.دا د امام مالك رحمه الله خورئې دې ددوى حالات وړاندې د ،، باب تفاضل أهل الإيمان في الأعمال،، لاندې تير شوى دى.

② **مالك بن انس:** دا امام دارالهجرة مالك ابن انس بن مالك بن ابى عامر بن عمرو اصبحى مدنى دې. ددوى حالات ،، باب من الدين الفرار من الفتن،، لاندې تير شوى دى

③ **ابوسهيل بن مالك:** دا ابوسهيل نافع بن مالك بن ابى عامر اصبحى تيمى مدنى دې.د امام مالك رحمه الله تره دې.ددوى حالات هم وړاندې د،، باب علامة المنافق،، لاندې تير شوى دى.

④ **أبيه،،:** دا ابو انس او ابو محمد مالك بن ابى عامر بن عمرو اصبحى مدنى دې. دا د امام مالك رحمه الله نيكه (د پلار پلار) دې.ددوى حالات هم د،، باب علامة المنافق،، لاندې تير شوى دى.

) الحديث اخرجه البخارى ايضاً فى فاتحة كتاب الصوم. باب وجوب صوم رمضان. رقم(١٨٩١) وفى كتاب الشهادات. باب كيف يستخلف؟ رقم(٢٦٧٨) وفى كتاب الحيل. باب فى الزكاة و أن لا يفرق بين مجتمع ولا يجمع بين متفرق خشية الصدقة. رقم(٦٩٥٦) و مسلم فى صحيحه (٣٠/١١) فى كتاب الإيمان باب بيان الصلوات التى هى أحد أركان الإسلام. رقم(١٠٩ . ١١٠) و النسائى فى سننه (٧٩/١١) فى كتاب الصلاة باب كم فرضت في اليوم والليلة (٢٩٧/١١) و فى كتاب الصيام. باب وجوب الصيام. (٢٧١/١٢) فى كتاب الإيمان وشرائعه. باب الزكاة و أبوداؤد فى سننه. فى كتاب الصلاة باب فرض الصلاة. رقم(٣٩١، ٣٩٢) ــ

⑤ طلحه بن عبيدالله: دا مشهور صحابى حضرت طلحه بن عبيدالله بن عثمان بن عمرو بن كعب بن سعد بن تيم بن مره بن كعب بن لوئ بن غالب قرشى تيمى مدنى دې.ابومحمد ددوى كنيت دې.(١)

دوى د هغه لسو خوش نصيبو صحابه كرامو ﷺ څخه دې.كومو ته چه نبى كريم ﷺ د جنت خوشخبرى وركړې وه.د هغه اتو حضراتو څخه دې.چاته چه په اسلام كښې د وړاندې والى سعادت ملاو دې.په هغه پنځو كسانو كښې دې.چاچه د حضرت ابوبكر صديق ﷺ په لاسونو اسلام قبول كړې دې.او د شورى په هغه شپږو كسانو كښې دې.دچا نه چه د رضامندئ په حالت كښې حضوراكرم ﷺ ددې دنيا نه رخصت شو.(٢)

دوى د حضوراكرم ﷺ نه علاوه د حضرت ابوبكر صديق او د حضرت عمر بن الخطاب ﷺ نه روايت كوى.(٣)

ددوى نه په روايت كونكو كښې ددوى د خامنو يحى، موسى، او عيسى نه علاوه سائب بن يزيد، مالك بن اوس بن الحدثان، ابوعثمان نهدى، قيس بن ابى حازم، مالك بن ابى عامر اصبحى، عامر بن شراحيل شعبى، احنف بن قيس. ابو سلمه بن عبدالرحمن بن عوف ﷺ وغيره حضرات دى.(٤)

دوى په غزوهٔ بدر كښې عملاً نه وو شريك شوى.خو حضوراكرم ﷺ دوى ته هم په غنيمت كښې حصه وركړې وه.او د اجر خوشخبرى ئې هم وركړې وه.او د غزوهٔ احد نه واخله په باقى ټولو غزواتو او مشاهدو كښې شريك شوې دې.(٥)

د غزوهٔ احد چه به كله هم ذكر راتلو.نو حضرت ابوبكرصديق ﷺ به ددوى جان نثارئ او قربانيانې يادولې.او فرمائيل به ئې چه«ذاك كله يوم طلحة»(٦)

سخاوت ددوى فطرت جوړ شوې وو.حضوراكرم ﷺ دوى په ،،طلحة الخير طلحة الجود،، او ،،طلحة الفياض،، نوم سره ياد كړى دى.(٧)

---

(١) تهذيب الأسماء واللغات(٢٥١\١، ٢٥٢) وتهذيب الكمال(١٣، ٤١٢) وغيره_

(٢) حواله بالا._

(٣) تهذيب الكمال(٤١٣\١٣) _

(٤) تهذيب الكمال(٤١٣\١٣) و تهذيب الأسماء واللغات(٢٥٢\١) و سيرأعلام النبلاء(٢٤\١) _

(٥) تهذيب الأسماء واللغات(٢٥٢\١) _

(٦) مسند أبى داؤد الطيالسى(ص٣) أحاديث ابى بكر الصديق ﷺ)_

(٧) عن موسى بن طلحة عن أبيه قال:لما كان يوم أحد سماه النبى ﷺ طلحة الخير. وفى غزوة ذى العشيرة، طلحة الفياض. ويوم خيبر: طلحة الجود. سيرأعلام النبلاء(ص٣٠) _

قبیصه بن جابر رحمه الله فرمائی «صحبت طلحة، فما رأیت أعطی لجزیل مال من غیر مسألة منه»(۱) یعنی زه د حضرت طلحه رضي الله عنه په صحبت کښې پاتې شوې یم ما بغیر د سوال نه ددوی نه زیات خوګ ورکونکې نه دې کتلې

حضور کریم ﷺ فرمائیلی دی «أوجب طلحة»(۲) او هم دوی فرمائیلی دی «طلحة ممن قضی نحبه»(۳)

یو ځل حضور کریم ﷺ حضرت ابوبکر، حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علی، حضرت طلحه او حضرت زبیر رضي الله عنهم په حراء غر باندې اوختل هلته یو ګټ حرکت شروع کړو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل «اهدأ، إنما علیك نبي أو صدیق أو شهید»(٤)

د حضرت طلحه بن عبیدالله رضي الله عنه نه اته دیرش حدیثونه نقل دی چه په دې کښې دوه حدیثونه متفق علیه دی او په دوو حدیثونو کښې امام بخاری رحمه الله متفرد دې او په دریو حدیثونو کښې امام مسلم رحمه الله متفرد دې (۵)

د جمل واقعې په موقعه باندې په لسم د جمادی الاولی ۲۶ھ کښې دوی شهید شو (۶)

ددوی د تدفین نه څه دیرش کاله پس ددوی لور خپل پلار په خوب کښې اوکتلو چه هغه د زمکې د نمدوالې شکایت کوی دغه وخت قبر اوکستلې شو او د هغه ځائې نه بل ځائې ته منتقل کړې شو او دفن کړې شو ددوی د سر د ویښتو هغه حصه کومې سره چه د زمکې نمدوالې لګیدلې وو معمولی شان متاثر شوې وه باقی هیڅ قسمه تغیر ئې په پوره بدن کښې نه وو راغلې (۷) رضی الله عنه وأرضاه۔

قوله جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرَ الرَّأْسِ يُسْمَعُ دَوِيُّ صَوْتِهِ وَلَا يُفْقَهُ مَا يَقُولُ حَتَّى دَنَا فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ: د اهل نجد نه یو سړې کوم چه وړ ویښتو والا. د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو ددوی د آواز بنبناهټ خو اوریدې شو خو دغه سړی څه وئیل هیڅ پوهه کښې نه راتلل تردې چه هغه نزدې شو نو هغه د اسلام په باره کښې د نبی کریم ﷺ نه څه تپوس کولو

---

(۱) سیر أعلام النبلاء (۱\۳۰) _
(۲) جامع ترمذی. کتاب المناقب. باب مناقب طلحة بن عبیدالله رضي الله عنه. رقم (۳۷۳۸) _
(۳) جامع ترمذی. کتاب المناقب. باب مناقب طلحة بن عبیدالله رضي الله عنه رقم (۳۷٤۰) _
(٤) جامع ترمذی. کتاب المناقب. باب مناقب عثمان بن عفان رضي الله عنه رقم (۳۶۹۶) _
(۵) تهذیب الأسماء واللغات (۱\۲۵۲) وخلاصة الخزرجی (ص ۱۸۰) _
(۶) تهذیب الأسماء (۱\۲۵۲) خلاصة الخزرجی (ص ۱۸۰) _
(۷) تهذیب الأسماء (۱\۲۵۲) و قیل إن الذی رأی فی المنام رجل أتی ابنته عائشة. و أخبرها بما رأی . وانظر تهذیب الکمال (۱۳\٤۲۳) _

د ،،رجل،، نه څوک مراد دي؟ په حديث باب کښې چه د کوم .. رجل مبهم.. ذکر راغلې دې د هغه په باره کښې ابن عبدالبر، ابن بطال، قاضي عياض، ابن العربي او منذري ﷺ فرمائي. چه دا ضمام بن ثعلبه دې (١). علامه سهيلي رحمه الله هم ددې تصريح کړې ده (٢)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه ددې حضراتو د قول بنياد په دې خبره دې. چه امام مسلم رحمه الله د حضرت طلحه رضي الله عنه د مذکوره حديث نه فورا پس د حضرت انس رضي الله عنه حديث نقل کړې دې چه په دې کښې د ضمام بن ثعلبه قصه مذکور ده. په دواړو حديثونو کښې يو څو خيزونه مشترک دی. دواړو خايونو کښې سائل بانديچی دې. دغه شان په آخر کښې «لاأزيد على هذا ولاأنقص» هم دواړو خايونو کښې وارد شوي دې (٣)
خو امام قرطبي، شيخ الاسلام سراج الدين بلقيني، امام نووي، حافظ ابن حجر، او علامه عيني ﷺ وغيره شارحينو په نيز دا دواړه واقعې جدا جدا دی. د دوی وينا دا ده چه د دواړو حديثونو سياق هم مختلف دې او د دواړو سائلينو سوالات هم متباين دی (٤) والله أعلم

قوله: مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ: .. نجد .. اوچتې زمکې ته وائی. د نجد په مقابله کښې .. غور .. دې بنکته زمکې ته وائی. دې ته .. تهامه .. وائی. دلته د نجد نه د حجاز او عراق په مينځ کښې اوچته حصه مراد ده. (٥)

قوله: ثَائِرَ الرَّأْسِ: د .. ثائر .. لفظ مرفوع هم ونيلې شي او منصوب هم. که مرفوع وی نو د .. رجل .. صفت به ګرځولې شي. خکه چه اضافت لفظيه دې. په دې وجه دا نکره دې او د .. رجل .. صفت جوړيدو کښې هيڅ مانع نشته. او که منصوب وی نو دا به د .. رجل .. نه حال ګرځولې شي. خکه چه ذوالحال نکره مخصصه ده. په دې وجه دا حال جوړول صحيح دی (٦)
بيا په .. ثائر الراس .. کښې د .. راس .. نه يا خو د مبالغې په طور .. شعر .. مراددي او يا .. محل .. ونيلو سره حال مراد اخستې شوي دې. خکه چه .. راس .. د ويختو راختلو محل دې. (٧)

---

(١) اوګورئ شرح الزرقاني على مؤطإ الإمام مالک(٣٥٧/١) جامع الترغيب في الصلاة. و هدى الساري (ص ٢٥٠) و أوجز المسالک(٣٢٤/٣) _
(٢) الروض الأنف(٣٣٩/٢) قدوم ضمام بن ثعلبة وافدا عن بني سعد بن بكر) _
(٣) فتح الباري(١٠٦/١) _
(٤) اوګورئ: هدى الساري(ص ٢٥٠) وشرح الزرقاني (٣٥٧/١) و أوجزالمسالک(٣٢٤/٣ و٣٢٥) وفتح الباري(١٠٦/١) وعمدة القاري(٢٦٧/١) _
(٥) عمدة القاري(٢٦٦/١) _
(٦) عمدة القاري(٢٦٦/١ و٢٦٧) وفتح الباري(١٠٦/١)
(٧) فتح الباري(١٠٦/١) _

قوله يُسْمَعُ دَوِيُّ صَوْتِهِ وَلَا يُفْقَهُ مَا يَقُولُ: ..يسمع.. او.. يفقه.. كښې دوه روايتونه دي يو په واحد مذكر غائب مجهول صيغې سره. په دې صورت كښې د..يسمع.. نائب فاعل ..دوى صوته.. وى او د..يفقه..نائب فاعل به ..مايقول.. وى دويم روايت د جمع متكلم معروف صيغې سره دې په دې صورت كښې به ،،دوى صوته،، د ،،نسمع،، مفعول وى او ،،مايقول،، به د ،،نفقه،، مفعول وى په دې دواړو روايتونو كښې د جمع متكلم روايت زيات مشهور دې ()

،،دَوِيّ،، (بفتح الدال، وكسر الواو، وتشديد الياء التحتانية) ضبط كړې شوې دې البته بعضو حضراتو په ضمې د دال سره هم ضبط كړې دې ()

علامه خطابي رحمه الله د ..دوى.. تشريح كولو كښې فرمائي ((صوت مرتفع متكرر لا يفهم)) ()
يعني دا ،،دوى،، هغه اوچت آواز دې چه هغې كښې تكرار وى او په پوهه كښې نه راځي

قوله وَلَا يُفْقَهُ مَا يَقُولُ: يعني بنبناهټ خو اوريدې شو خو هغه څه وائي هغه خبره په پوهه كښې نه راتلله دا بانديچې سرې وو د خپل قوم د طرفه نمائنده جوړ شوې وو او راغلې وو په ظاهر كښې دا سړې د مخصوصو سوالونو تپوسونو دپاره راليږلې شوې وو چه ددې رټه (ګوټه) ئې لګوله او رازوان وو چه كوم يو سوال هيرنشي چه د كومو تپوس كول پكار دې د هغې ټولو تپوس اوكړى

قوله حَتَّى دَنَا: ترڅو چه هغه نزدې راغې دا د ،،لايفقه،، غايت دې يعني دده خبره په پوهه كښې نه راتله ترڅو چه هغه نزدې راغې نو دده خبره په پوهه كښې راغله

قوله فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ: نو هغه د اسلام متعلق سوال كولو.
علامه كرماني رحمه الله فرمائي چه د اسلام نه مراد شرائع او احكام داسلام دى نو د ،،شهادتين،، ذكر ئې ځكه اونكړو چه هغوى ته معلومه وه چه دا سړې د شرائع اسلام په باره كښې تپوس كول غوښتل ()

او فرمائي دا احتمال هم شته چه ددې سړى سوال حقيقت داسلام سره متعلق وى په دې صورت كښې د ..شهادتين.. ذكركول پكار وو نو ددې تاويل دا كيدې شي چه ممكن ده د ..شهادتينو.. دوى ذكر كړې وى خو حضرت طلحه رضي الله عنه چونكه لرې وو ځكه ئې اوريدلې نه

() فتح الباري(١\١٠۶). وعمدة القاري(١\٢۶٧) -
() عمدة القاري(١\٢۶۶)وفتح الباري(١\١٠۶) -
() عمدة القاري(١\٢۶۶)وفتح الباري(١\١٠۶)-
() شرح الكرماني(١\١٨١) -

وى حالانكه دا هم ممكن ده چه د .. شهادتينو.. د شهرت په وجه ئې د نقل كولو ضرورت نه وى گڼرلې (١)

خو علامه عينى رحمه الله په دې باندې اشكال كړې دې او فرمائيلى ئې دى كه د حقيقت دا سلام په باره كښې سوال وې نو د .. شهادتينو.. ذكر به خامخا وو ترڅومې پورې چه د حضرت طلحه رضي الله عنه ددې جزء د نه اوريدو يا د ضرورى نه گڼرلو تعلق دې نو دا ډيره لرې (خبره) ده او د رسول صلى الله عليه وسلم يو صحابى طرف ته بې دځه وجې د تقصير (كوتاهئ) نسبت كول دى حالانكه دوى ټولو حضراتو دا معلومه ده چه د رسول كريم صلى الله عليه وسلم د حديث رسولو څومره اهميت دې او په څومره قدرې په دې باندې اجر و ثواب مرتب كيږى (٢)

حقيقت دا دې چه علامه كرمانى رحمه الله كوم احتمال ذكر كړى دى ددې امكان ضرور شته خو اقرب هغه خبره ده كومه چه علامه عينى رحمه الله فرمائى چه اصل سوال د اسلام د شرائعو او احكامو متعلق وه والله اعلم.

قوله فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ: نبى كريم صلى الله عليه وسلم ارشاد اوفرمائيلو چه په شپه او ورځ كښې پنځه مونځونه د شرائع اسلام څخې دى.

علامه عينى رحمه الله فرمائى چه په ،، خمس صلوات،، باندې رفع، نصب، جر درې واړه اعراب وئيلې كيدې شى.

رفع ځكه چه دا د مبتداء محذوف دپاره خبر واقع دې يعنى ،،هى خمس صلوات،، يا ،،شرائع الإسلام خمس صلوات،، دا هم ممكن ده چه دخبر مخذوف دپاره مبتداء اوگرځولې شى يعنى ،،من شرائع الإسلام خمس صلوات،،.

دنصب وئيلو وجه دا كيدې شى چه د ،،خذ،، يا ،،هاك،، يا ددې پشان د يو فعل دپاره مفعول اوگرځولې شى.

او دجر وئيلو صورت به دا وى چه په ،، فإذا هو يسأل عن الإسلام،، كښې كوم ،،الإسلام،، دې ددې نه بدل اوگرځولې شى هسې هم دلته د ،،خمس صلوات،، نه وړاندې د ،،إقامة،، لفظ محذوف دې چه ددې په وجه حقيقت كښې ټولو صورتونو كښې ،،خمس صلوات،، د مضاف اليه كيدو په وجه حالت جرى كښې دې (٣)

---

(١) پورتنئ حواله۔
(٢) عمدة القارى(١\٢٦٧) ۔
(٣) عمدة القارى(١\٢٦٧) ۔

خو د بدل جوړولو صورت صحيح نه معلومېږي ځکه چه ملا علي قاري رحمه الله فرمائي چه ① رومبي خو روايت سره ددې تائيد نه کيږي لکه څومره چه هم تصحيح شده نسخې دي په هغې کښې يوه کښې هم د جر روايت نشته ② دويمه خبره دا ده چه بدل او مبدل منه دواړه د يو سړي په کلام کښې وي په جدا جدا کلام کښې نه وي حالانکه دلته ،، فاذا هو يسأل عن الإسلام،، د راوي کلام دې او ،،خمس صلوات،، د نبي کريم ﷺ (کلام دې، () والله اعلم۔

قوله فَقَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا قَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ: دغه سړي اووئيل چه ما باندې ددې پنځو مونځو نه علاوه نور هم څه فرض شته؟ نبي کريم ﷺ اوفرمائيل نشته خو که نه نفل کول غواړې نو کولې شې

دلته به د دوو مسئلو تحقيق کيږي يو دا چه وتر واجب دي او که نه؟ دويمه مسئله دا ده چه د نفل مونځ شروع کولو نه پس ددې پوره کول واجب دي او که نه؟

د وتر د وجوب بحث حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي د حديث باب نه معلومېږي چه په شپه ورځ کښې صرف پنځه مونځونه فرض دي نو دا حديث د هغه حضراتو خلاف دې ځوک چه وتر، يا د فجر دوه رکعتونه يا صلاة الضحى يا د اختر مونځ يا د مانبام نه روستو دوو رکعتونو ته واجب وائي. ()

احناف د وتر د وجوب قائل دي.

د شوافعو استدلال د حديث باب نه دې چه په دې کښې صرف پنځه مونځونه فرض ګرځولي شوي دي. که وتر ته واجب اووئيلې شي نو شپږ مونځونه به شي.

احناف ددې جواب ورکوي. چه ① ممکن ده چه دا حديث د وتر د وجوب د حکم نه وړاندې وي. نو ددې نه په عدم وجوب باندې استدلال صحيح نه دې. ()

هم دا وجه ده چه علامه شوکاني رحمه الله فرمائي. چه((وفي جعل هذا الحديث دليلاً على عدم وجوب ما ذكر، نظر عندي، لأن ما وقع في مبادئ التعليم لا يصح التعلق به في صرف ما ورد بعده، وإلا لزم قصر واجبات الشريعة بأسرها على الخمس المذكورة، وإنه خرق للإجماع، وإبطال لجمهور الشريعة، فالحق أنه يؤخذ بالدليل المتأخر إذا ورد موردا صحيحاً، ويعمل بما يقتضيه من وجوب أو ندب أو نحوهما)) ()

يعني ددې حديث نه د ذکر شوو مونځونو په عدم وجوب باندې استدلال کول زما په نيز محل نظر(او قابل اعتراض) دي. ځکه چه دا حديث ابتدائي حکم سره متعلق دې. او د روستو واردېدونکو احاديثو په مقابله کښې د ابتدائي حکم والا حديث نه استدلال صحيح

() اوګورئ: مرقاة المفاتيح(۱/۸۶) ـ

() فتح الباري(۱/۱۰۷) ـ

() مرقاة المفاتيح(۱/۸۶) ـ

() نيل الأوطار(۱/۳۳۶) کتاب الصلاة. باب افتراضها ومتى كان؟

نه دې کنې پوره شریعت به په دې پنځو مونځونو کښې منحصر کول لازمي شي بلکه ده چه دا خرق اجماع ده او د اکثرو شریعتونو باطلونکې خبره ده حقه دا ده چه کله صحیح طور باندې يو دليل وارد شوې وى نو هغه اختيارول پکار دى او ددې نه چه د وجوب يا ندب يا کوم حکم هم مستفاد سى هغې باندې عمل کول پکار دى

③ دا هم ممکن ده چه په حديث باب کښې د وتر ذکر په دې وجه اونکړې شو چه دا د ماسخوتن د توابعو ځنې دى لکه څنګه چه ملا علي قارى رحمه الله تصريح کړې ده (). ځکه چه ددې دپاره مستقل وخت نشته بلکه د ماسخوتن وخت ددې دپاره وخت دې ددې دپاره اذان او اقامت هم نشته بلکه د ماسخوتن اذان او اقامت ددې دپاره کافى کيږى

④ يو جواب دا هم ورکيدې شى چه حديث باب د حنفيانو خلاف نه دې ځکه چه حنفيان وتر شپږم فرض نه ګرځوى بلکه ددې د وجوب قائل دى که دا نې فرض ګرځولې نو په ،،خمس صلوات...،، سره اعتراض کيدې شو او په فرض او واجب کښې ډير فرق دې ()

د وتر د وجوب متعلق په امام اعظم رحمه الله باندې اعتراض او د هغې جواب امام محمد بن نصر مروزى رحمه الله پخپل کتاب ،،قيام الليل،، کښې يو حکايت نقل کړې دې چه يو سړې د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په خدمت کښې حاضر شو او تپوس نې اوکړو چه په شپه او ورځ کښې څومره مونځونه فرض دى؟ نو دوى جواب ورکړو چه پنځه مونځونه فرض دى بيا نې تپوس اوکړو چه د وترو په باره کښې ستاسو څه رائې ده؟ آيا دا فرض دى اوکه نه دى؟ وى فرمائيل فرض دى (يعنى عملاً فرض دى) بيا نې تپوس اوکړو چه د فرض مونځونو تعداد څومره دې دوى اوفرمائيل پنځه دى وې ونيل چه په شمار نې راته اوښايئ دوى په شمار وراوخودل چه سحر، ماسپښين، مازيګر، ماښام، ماسخوتن، تپوس نې اوکړو وتر فرض دى او که سنت دى؟ وې فرمائيل چه فرض دى بيا نې تپوس اوکړو چه څومره مونځونه فرض دى وې فرمائيل پنځه دى هغه آخر کښې عاجزه شو او وې ونيل ،،فأنت لاتحسن الحساب،، يعنى تا له بنه حساب نه درځى دا نې اوونيل او لاړلو ()

په اصل کښې دا مسکين د امام اعظم رحمه الله په خبره پوهه نشو دوى په اصل کښې دا ښودل غوښتل چه وتر د ماسخوتن د توابعو ځنې دې او ضرورى دې دوى فرمائيل چه د فرضو دوه قسمونه دى يو اعتقادى او دويم عملى. کوم ځائې چه امام اعظم رحمه الله پنځه فرض اوښودل ددې مقصد اعتقادى وو او کوم ځائې نې چه شپږ اوفرمائيل د هغې مراد عملى وو.

د يوسف بن خالد سمتى رحمه الله واقعه هم داسې قسم واقعه د يوسف بن خالد سمتى (د امام ابوحنيفه رحمه الله شاګرد) هم ده دا هم د امام ابوحنيفه رحمه الله شاګرد نه وو جوړ شوې چه د امام

() اوګورئ: مرقاة المفاتيح (۱/۸۶) ـ

() اوګورئ: أوجز المسالک (۲/۳۴۶) ـ

() اوګورئ: فتح الملهم (۱/۵۰۰) کتاب الايمان. باب الصلوات التى هى احد أركان الإسلام. ـ

ابوحنيفه رحمه الله نه ئې د وتر په باره کښې تپوس اوکړو دوی اوفرمائيل واجب دی.يوسف بن خالد سمتي اووئيل ،، كفرت يا أبي حنيفة،، اې ابوحنيفه! تا کفر اوکړو هغه دا اوګنړله چه امام ابوحنيفه رحمه الله وتر فرض ګنړی.او ګويا چه د فرائضو د پنځو نه د زيات کيدو دعوه کوی.

خو امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی ((أيهولنى إكفارك إياى، وأنا أعرف الفرق بين الواجب والفرض، كفرق ما بين السماء والأرض)) يعنى ته زما تکفير کوې.ما يرول غواړې؟ حالانکه ما ته د فرض او واجب په مينځ کښې داسې فرق معلوم دې.لکه څنګه چه په د آسمان او زمکې په مينځ کښې فرق دې. ددې نه پس امام ابوحنيفه رحمه الله فرق بيان کړو او هغه مطمئن شو.روستو هغه د امام ابوحنيفه رحمه الله د شاګردانو په حلقه کښې شامل شو.او د بصرې په اعيان فقهاؤ کښې دده شمار اوشو.(١)

په ظاهره به امام ابوحنيفه رحمه الله دا فرق بيان کړې وی چه شرعی دلائل څلور قسمه دی.
① قطعی الثبوت. قطعی الدلالة ② ظنی الثبوت ظنی الدلالة ③ قطعی الثبوت. ظنی الدلالة ④ ظنی الثبوت قطعی الدلالة
کوم خانې چه دواړو طرفو ته قطعيت وی.د هغې نه به د امر په طرف کښې ،،فرضيت،، او د نهی په طرف کښې ،،حرمت،، لازم وی او کوم خانې چه دواړو طرفو ته ظنيت وی.هلته به ددې نه استحباب او سنيت ثابتيږی. او چرته چه يو طرف کښې قطعيت او دويم طرف کښې ظنيت وی.نو هلته په طرف د امر کښې د وجوب يا د سنت مؤکده ثبوت کيږی او په طرف د نهی کښې د کراهت تحريمی ثبوت کيږی.
غالباً امام ابوحنيفه رحمه الله به دا فرق بيان کړې وی.چه د وترو ثبوت دليل ظنی سره دې په دې وجه دا واجب دې.او ددې درجه د فرض نه کمه ده.والله اعلم.
④ دا هم ممکن ده.چه نبی کريم ﷺ دلته د هغه مونځونو ذکر کړې وی.کوم چه قطعی الثبوت دليلونو سره ثابت دی.يعنی د مطلقه کامله مونځونو ذکر ئې کړې دې.د وترو ذکر ئې ځکه اونکړو.ځکه چه ددې ثبوت ظنی دلائلو سره دې.چونکه دا په مطلقه مونځونو کښې داخل نه دې.او ددې دلائل قطعی نه دی.په دې وجه نبی کريم ﷺ ددې ذکر اونکړو.
⑤ بيا دلته دا خبره هم د غور قابله ده.چه د وتر د وجوب په قول کښې صرف امام ابوحنيفه رحمه الله متفرد نه دې.بلکه نور امامان هم ددې قائل دی.البته دومره فرق دې.چه امام اعظم رحمه الله په ,,وجوب،، سره تعبير کړو.حالانکه بعضو حضراتو هم د ,,وجوب،، تعبير اختيار کړې دې.او څه نورو حضراتو ددې د مؤکد کيدو په بل يو عنوان سره ذکر کړل.
لکه چه د حضرت عبدالله بن مسعود. حضرت حذيفه رحمهما الله . ابراهيم نخعی. يوسف بن خالد سمتی (شيخ الشافعی). امام مجاهد. سحنون. اصبغ بن الفرج. او قاضی ابوبکر بن العربی رحمه الله نه د ,,وجوب،، قول نقل دې.(٢)

(١) اوګورئ:بدائع الصنائع فی ترتيب الشرائع(٢٧١/١) کتاب الصلاة.فصل فی الصلاة الواجبة.
(٢) عمدة القاری(١١/٧) کتاب الوتر. باب ليجعل آخر صلاته وتراً.

دغه شان د سعيد بن المسيب. ابو عبيده بن عبدالله بن مسعود. اوضحاك ﷺ نه هم د وجوب قول منقول دې (١)

د امام مالك رحمه الله نه منقول دی چه «من ترکه أدب وکانت جرحة فی شهادته» (٢)

امام احمد رحمه الله فرمائی. «من ترك الوتر عمداً فهو رجل سوء ولا ينبغي أن تقبل له شهادة» (٣)

امام شافعی رحمه الله د سحر د سنتو او د وترو په باره کښې فرمائی. «ولا أرخص لمسلم في ترك واحدة منهما وإن لم أوجبهما» (٤)

معلومه شوه چه وتر ضروری گرځولو کښې ټول حضرات د امام ابوحنیفه رحمه الله سره شریك دی نوکه حدیث باب سره د وترو د وجوب او ضروری کیدو نفی کیږی نو د ټولو په ذمه ددې جواب لازم دې

⑥ بیا روستو په دې حدیث کښې د زکاة په سلسله کښې صرف د ..زکاة.. ذکر دې د صدقة الفطر ذکر نشته حالانکه صدقة الفطر امام شافعی رحمه الله فرض گرځوی (٥) بیا به په دې حدیث کښې د تاویل کولو ضرورت راپیښیږی چه دا د زکاة د توابعو ځنې دې حالانکه د غور کولو خبره ده چه وتر د ماسخوتن د مونځ تابع گرځول بالکل واضح دی حالانکه صدقة الفطر د زکاة د توابعو ځنې گرځول بالکل د تبادر او اصولو خلاف دی بیا څه وجه ده چه وتر د ماسخوتن د توابعو ځنې نشی گرځولې کیدې او صدقة الفطر د زکاة د توابعو ځنې گرځیدې شی؟

اوکه داسې اووئیلی شی چه د صدقة الفطر فرضیت روستو شوې دې نو بعینه هم دا جواب مونږ د وترو د وجوب په باره کښې هم ورکولې شو چه ددې وجوب روستو شوې دې

پاتې شو د وترو د وجوب د دلائلو وغیره تعلق. نو ددې ذکر به انشاءالله مونږه د .. وترو.. په بحث کښې کوو

د نفل عبادت شروع کولو نه پس ددې پوره کول واجب دی اوکه نه؟ او که فاسد ئې کړی نو قضاء به لازم وی اوکه نه؟ دې مقام سره متعلق دویمه اهمه مسئله دا ده چه د یو نفل عبادت شروع کولو نه پس ددې ماتول جائز دی اوکه ددې پوره کول لازم او ضروری دی بیا د فاسد کولو په صورت کښې به دده په ذمه ددې عبادت قضاء لازم وی اوکه نه؟

د امام مالك رحمه الله رائې دا ده چه د نفل عبادت شروع کولو نه پس. د عذر نه بغیر ددې ماتول جائز نه دی که څوك ئې عمداً فاسد کړی نو دده په ذمه به قضاء لازم وی البته که د څه عذر

---

(١) پورتنی حواله۔

(٢) حواله بالا۔

(٣) اوگوری: المغنی لابن قدامة (١\٤٥٢) حکم صلاة الوتر ووقتها۔

(٤) کتاب الأم (١\١٤٢) باب فی الوتر۔

(٥) اوگوری: فتح الباری (١\٣٦٧و٣٦٨)۔

په وجه مجبوره شي نو ددې نفل عبادت ماتول هم اجازت شته او ددې قضاء لازم ده.(١)
امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د عذر نه بغير د ماتولو اجازت نشته البته كه دعذر په وجه وى.
او كه بغير د عذر نه. كه مات ئې كړې نو په دواړو صورتونو كښې به قضاء لازم وى.(٢)
امام شافعى او امام احمد رحمهما الله په نيز د نفل عبادت شروع كولو نه پس ددې پوره
كول لازم نه دى.د ماتولو نه پس بيا ددې قضاء لازم نه ده.(٣)
البته دامام احمد رحمه الله په نيز د عالمانو د اختلاف نه د وتلو دپاره قضاء راوړل مسنون دى.(٤)
تنبيه دلته ددې خبرې لحاظ پكار دې چه د نفلى حج او نفلى عمرې په باره كښې دټولو
اتفاق دې چه د شروع كولو نه پس ددې پوره كول لازميږى.او د فساد په صورت كښې ددې
قضاء هم د ټولو په نيز لازميږى.(٥)

تنبيه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه دلته د مسئلې مدار د ،،إلاأن تطوع،، د استثناء په
نوعيت كښې دې.كه دا مستثنى متصل اوګرځولې شى نو دا د حنفيانودليل دې.او كه
مستثنى منقطع اوګرځولې شى.نو د حنفيانو دليل نه جوړيږى. د شوافعو رائې هم دا ده چه
دلته استثناء متصل نه ده.بلكه منقطع ده.په دې صورت كښې به مطلب دا وى.چه «لايجب
عليك شئ إلا إن أردت أن تطوع، فذالك لك» يعنى ددې پنځو مونځونو نه علاوه بل هيڅ څيز واجب
نه دې.البته كه ته تطوع كول غواړې.نو ددې تاته اختيار دې.
معلومه شوه چه ددې حديث نه د نفل پوره كول واجبيدل. يا د فاسد كولو په صورت كښې
ددې قضاء لازميدل نه ثابتيږى.نو ددې دپاره د مستقل دلائلو ضرورت دې چه هغه دا دى:
په سنن نسائى كښې دى.«أن النبى ﷺ كان أحيانا ينوى صوم التطوع، ثم يفطر»(٦)

---

(١) اوګورئ:أوجزالمسالک(٣٢٧\٣). جامع الترغيب فى الصلاة. و مؤطا امام مالک(٣٠٦\١و٣٠٧) كتاب الصيام. باب الصيام التطوع.ـ
(٢) أوجزالمسالک(٣٢٧\٣) ـ
(٣) حواله سابقه.ـ
(٤) حواله بالا.ـ
(٥) پورتنئ حواله.ـ
(٦) الحديث لم أجده بهذا اللفظ فى سنن النسائى.ولعل الحافظ ذكر معنى الحديث الذى فى سننه. (٣١٩\١)فى كتاب الصيام. باب النية فى الصيام. والإختلاف على طلحة بن يحى بن طلحة. فى خبرعائشة فيه :..عن عائشة قالت:دخل علىّ رسول الله ﷺ يوماً. فقال:هل عندكم من شئ؟ فقلت لا. قال: فإنى صائم. ثم مر بى بعد ذالک اليوم. وقد أهدى الىّ حيس. فخبأت له منه. وكان يحب الحيس. قالت: يا رسول الله. إنه أهدى لنا حيس. فخبأت لک منه. قال: أدنيه. أما إنى قد أصبحت و أنا صائم. فأكل منه.. وفيه طريق أخرى لهذا الحديث. ولكن ليس في ظاهره ما يستدل به الشافعية فإن قوله ﷺ.. إنى قد أصبحت و أنا صائم..... معناه: إنى قد أصبحت و أنا أريد الصوم. ولم يشرع فى الصوم. ويستأنس على ذالک بقوله ﷺ.. فإنى صائم.. لما لم يجد عندها شيئًا يتناوله. والله اعلم. ـ

دغه شان په بخارى كښې دى چه حضرت جويريه بنت الحارث ﷞ ته نبى كريم ﷺ د روژې ماتولو حكم فرمائيلې وو حالانكه هغې د جمعې په ورځ روژه شروع كړې وه.(١)معلومه شوه چه د نفل عبادت شروع كولو سره ددې اتمام نه لازميږى.دا خبره خو د روژو په باره كښې د نص نه معلومه شوه او په باقى نفلى عباداتو كښې به دا حكم قياس سره ثابتولې شى (٢)والله اعلم

خو د حافظ ﷫ استدلال ډير زيات كمزورې دې:① څكه چه دوى ددې مسئلې مدار د استثناء په نوعيت باندې ګرځولې دې.حالانكه د مسئلې مدار په دې استثناء باندې نه دې بلكه په نورو دلائلو باندې دې.چه ددې ذكر به ان شاء الله مونږه ډير زر اوكړو.البته دا استثناء د يو تائيد حيثيت لرى.

② حافظ ﷫ چه كوم دوه روايتونه ذكركړى دى.په هغې كښې د قضاء راوړلو نفى نشته بلكه سكوت دې.د هغوى دا خبره د دليل په طور پيش كول چه .. قضاء نه لازميږى.. صحيح نه ده.

③ په دې دواړو روايتونو كښې روميې روايت كښې خو دومره تصريح هم نشته چه هغوى به روژه نيولو نه پس ماتوله.بلكه د «كان أحياناً ينوى صوم التطوع ثم يفطر» ظاهرى الفاظو په لحاظ سره ددې معنى قوى امكان شته چه دوى به د روژې نيولو اراده كوله.خو بيا به ئې نه شروع كوله.

④ په دې رواياتو كښې كه دا اومنلې شى.چه دوى به روژه ماتوله.او حضرت جويريه ﷞ ته ئې د روژې ماتولو حكم وركړې وو.نو په دې سره دا نه لازميږى.چه دا عمل د عذر نه بغير شوې وى.

څكه چه علامه عينى او علامه زرقانى رحمهما الله ليكلى دى.چه عين ممكن ده. چه ددوى روژه ماتول د څه عذر په وجه وى.(٣)دغه شان ئې چه حضرت جويريه ﷞ ته د روژې ماتولو كوم حكم وركړې وو.هغه په دې وجه وى.چه هغوى د نبى كريم ﷺ د اجازت نه بغير روژه نيولې وى او نبى كريم ﷺ د خپل څه ضرورت په وجه هغوى ته د روژې ماتولو حكم وركړې وى.(٤)او دا هم ممكن ده.چه نبى كريم ﷺ چونكه د جمعې په ورځ د منفرداً روژې ساتلو نه منع فرمائيلې وه.او هغوى دغه شان د جمعې په ورځ روژه ساتلې وه.چه نه ئې خو ددې نه

---

(١) عن جويرة بنت الحارث رضى الله عنها أن النبى ﷺ دخل عليها يوم الجمعة. وهى صائمة فقال: أصمت أمس؟ قالت لا. قال:تريدين أن تصومى غداً؟ قالت لا. قال:فأفطرى. أخرجه البخارى فى كتاب الصوم، باب صوم يوم الجمعة، و إذا أصبح صائماً يوم الجمعة فعليه أن يفطر._

(٢) اوګورئ:فتح البارى(١\١٠٧) _

(٣) عمدة القارى(١\٢٦٨)، شرح الزرقانى على الموطا(١\٣٥٨)، جامع الترغيب فى الصلاة. _

(٤) شرح الزرقانى(١\٣٥٨) _

مخكښې يعنې د زيارت په ورځ روژه ساتلې وه او نه ئې ددې نه روستو د خالي په ورځ د روژې نيولو اراده وه په دې وجه نبي كريم ﷺ حكم وركړو چه روژه ماته كړه (١)

⑤ علامه زرقاني رحمه الله فرمائي چه دا دواړه واقعې كومې چه حافظ رحمه الله ذكر كړي دي جزئي واقعات دي چه ددې نه عمومي حكم نه مستنبط كيږي حالانكه ددې په خلاف هغه دلائل هم موجود دي د كومونه چه كلي قوانين مستنبط كيږي (٢)لكه څنګه چه به اوس مونږه ذكر كوو د شوافعو يو دليل د حضرت ام هاني رضي الله عنها حديث دې چه په هغې كښې دوي د نبي كريم ﷺ څكلو شوو اوبو څكلو دپاره روژه ماته كړې وه.روستو چه كله نبي كريم ﷺ ته اطلاع اوشوه نو نبي كريم ﷺ اوفرمائيل ((الصائم المتطوع أمير نفسه، إن شاء صام، وإن شاء أفطر))(٣)

خودا حديث قابل د استدلال نه دې.لكه چه صاحب د ،، الجواهر النقي،، ثابت كړې دي چه دا حديث اسناداً او متناً مضطرب دې.(٤) حافظ زيلعي رحمه الله فرمائي. ((وفي سنده إختلاف وفي لفظه إختلاف،،(٥) دغه شان امام نسائي رحمه الله په سنن كبرى كښې په دې باندې تفصيل سره كلام كړې دې.او ثابت كړې ئې دي.چه ددې حديث نه استدلال صحيح نه دې (٦)اوكه بالفرض دا حديث صحيح هم وي.نو ددې مطلب دا دې چه نفلي روژې نيونكي ته اختيار وي.چه روژه نيسي اوكه نه نيسي.تركومې پورې چه د روژې نيولو او د عذر نه بغير د ماتولو خبره ده نو ددې نه دا خبره نه ثابتيږي.او نه په دې حديث كښې د قضاء نفي شته. (٧)والله اعلم.

د حنفيانو دلائل: ① په قرآن كريم كښې د الله تعالى ارشاد دې. ﴿وَلَا تُبْطِلُوٓا أَعْمَالَكُمْ﴾ (٨)

---

(١) كما ورد في حديث البخاري الذي سبق تخريجه قريباً. ـ
(٢) أنظرشرح الزرقاني(١\٣٥٨) ـ
(٣) أخرجه الترمذي في سننه. في كتاب الصوم. باب ماجاء في إفطار الصائم المتطوع.رقم(٧٣١و ٧٣٢) و أبوداؤد في سننه. في كتاب الصوم. باب في الرخصة في ذالك.رقم(٢٤٥٦). وأبوداؤد الطيالسي في مسنده(ص٢٢٥) رقم(١٦١٨)و أحمدفي مسنده٣٤٣) والحاكم في المستدرك(١\٤٣٩) صوم التطوع. والبيهقي في سننه الكبرى(٤\٢٧٦) كتاب الصيام. باب صيام التطوع والخروج منه قبل تمامه و النسائي في سننه الكبرى (٢\٢٤٩و ٢٥٢)كتاب الصيام. باب الرخصة للصائم المتطوع أن يفطر. وذكر اختلاف الناقلين لحديث أم هاني في ذالك)رقم(٣٣٠٢. ٣٣٠٩)
(٤) حاشية نصب الرايه(٢\٤٦٩) أحاديث الفطر في التطوع) ـ
(٥) نصب الرايه(٢\٤٦٩)_
(٦) اوګورئ:السنن الكبرى للنسائي(٢\٢٥١و ٢٥٢) ـ
(٧) ددې حديث سره متعلق زياتي تفصيل دپاره اوګورئ:إعلاء السنن(١\١٤١و ١٤٢) كتاب الصوم. باب وجوب قضاء صوم التطوع إذا أفسده) ـ
(٨) سورة محمد:٣٣

ددې مطلب دا دې چه کوم عمل تا شروع کړې دې.هغه مه باطلوه.دلته د يو نفل عبادت شروع کولو نه د وړاندې حکم بيان نکړې شو.بلکه ددې د شروع کولو نه د روستو حکم دې.
چه هرکله دې شروع کړو.نو اوس ئې مه باطلوه.نوکه يو سړې نفل شروع کړی.نو ددې د باطلولو ممانعت دې.او ددې پوره کول واجب دی.که باطل ئې کړی.نو د وجوب ترک کولو په وجه به ددې قضاء لازم وی.(١)

② صاحب د بدائع د ملك العلماء علامه کاساني رحمه الله د نفل عبادت شروع کولو نه پس ددې حيثيت بيان کړې دې.چه دا د نذر پشان دې.گويا چه د نذر دوه قسمونه دی.يو نذر قولي . او بل نذر فعلي يو کس ژبې سره وائي ،، لله علیّ کذا،، نو د الله تعالی د حرمت قائم ساتلو دپاره ئې چه کوم نفل عبادت پخپل ځان باندې لازم کړلو.هغه به واجب وی.هغه فرمائي.چه لکه څنګه ددې قولي نذر په وجه نفلي عبادت لازميږی.دغه شان که يوکس عملاً او فعلاً يو نفلي عبادت شروع کړو.نو دا نفل شروع کول هم د الله تعالی دپاره دی.نو د الله تعالی دنوم حرمت به دلته هم باقي ساتل ضروری وی.او ددې عبارت پوره کول به واجب وی.او د فاسد کولو په صورت کښې به قضاء لازم وی.(٢) حضرت علامه انورشاه کشميری رحمه الله د صاحب بدائع استدلال د ټولو نه غوره ګرځولې دې.(٣)

③ د حنفيانو د مسلك تائيد ددې خبرې نه هم کيږی.چه د ټولو امامانو اجماع ده.چه د نفلي حج او نفلي عمرې شروع کولو نه پس ددې پوره کول لازميږی.او د فاسدکولو په صورت کښې قضاء لازميږی.نو د مونځ او روژې شروع کولو نه پس به هم پوره کول واجب وی.او د فاسد کولو په صورت کښې به قضاء راوړل لازم ګرځولې شی.(٣)

حافظ ابن حجر رحمه الله په دې باندې اعتراض کړې دې.چه په حج باندې قياس کول صحيح نه دی.ځکه چه د حج دا خصوصيت دې.چه که دا فاسد شي.نو باقي اعمال او مناسك نشي پريخودې.بلکه دا پوره کوی.حالانکه د نورو عبادتونو د فاسد کيدو په صورت کښې ددې د مکمل کولو حکم نشته.او نفلي حج په دې اعتبار سره هم ممتاز دې.چه د فرض حج پشان په دې کښې هم کفاره لازميږی.(٥)

خو حقيقت دا دې.چه د فاسد حج باقي اعمال ادا کولو باندې چونکه نص وارد دې.(١)په دې وجه ددې په پوره کولو او بيا په قضاء راوړلو باندې خو اجماع ده.خو د نورو عبادتونو په

---

(١) بدائع الصنائع (٢٩٠\١) فصل فی صلاة التطوع) _
(٢) المصدرالسابق) _
(٣) فيض الباری(١٣٨\١ وأنوار الباری(١٥٢\٢) _
(٤) عمدة القاری(٢٦٨\١) _
(٥) فتح الباری (١٠٧\١) _
(٦) نصب الرأية (١٢٥\٣ . ١٢٧) کتاب الحج باب الجنايات فصل فی حکم من جامع قبل الوقوف) _

دې باندې قياس كولو نه هيڅ مانع موجود نه دې. ځكه چه د دې حج د تطوع او نفل كيدو په وجه نور عبادات په دې باندې قياس كيدې شي خصوصاً ځكه چه د نورو دلائلو په رڼړا كښې د نفلي عبادتونو د پوره كولو وجوب معلوميږي او د فساد په صورت كښې د قضاء لزوم هم معلوميږي. البته د فاسد حج پوره كول چه لازم دى باقي عبادات په دې باندې ځكه نشي قياس كيدې. ځكه چه د دې د پوره كولو وجوب نص سره ثابت شوې دې او دا غير مدرك بالقياس دې په دې وجه د باقي عبادتونو فاسد كيدو په صورت كښې د دې پوره كول مونږ لازم نه ګرځوو. صرف قضاء ضروري ګرځوو والله اعلم.

④ امام احمد، امام مالك، ابوداؤد، ترمذي، نسائي او ابن حبان ﷺ د حضرت عائشې ﷺ نه روايت نقل كړې دې «أن عائشة وحفصة زوجي النبي ﷺ أصبحتا صائمتين متطوعتين، فأهدي لهما طعام، فأفطرتا عليه، فدخل عليهما رسول الله ﷺ قالت عائشة: فقالت حفصة، وبدرتني بالكلام، وكانت بنت أبيها، يا رسول الله إني أصبحت أنا وعائشة صائمتين متطوعتين، فأهدي إلينا طعام، فأفطرنا عليه، فقال رسول الله ﷺ، اقضيا مكانه يوماً آخر» [1] (اللفظ لمالك ﷺ)

⑤ دغه شان دارقطني د حضرت ام سلمه ﷺ په باره كښې نقل كړى دى «أنها صامت يوماً تطوعاً، فأفطرت، فأمرها رسول الله ﷺ أن يقضي يوماً مكانه» [2]

خو ابن الجوزي ﷺ دا حديث ذكر كړې دې او نا قابل احتجاج ئې ګرځولې دې. [3]

⑥ حضرت ابن عباس ﷺ فرمائي. «يقضي يوماً مكانه» [4]

⑦ د حضرت انس بن سيرين ﷺ نه نقل دى. «أنه صام يوم عرفة فعطش عطشاً شديداً، فأفطر فسأل عدة من أصحاب النبي ﷺ فأمروه أن يقضي يوماً مكانه» [5]

---

[1]) الموطا للمالک (۳۰۶\۱) كتاب الصيام باب قضاء التطوع وأبوداود في سننه في كتاب الصوم با من رأى عليه القضاء رقم ۲٤٥۷ والترمذي في جامعه في كتاب الصوم باب ما جاء في إيجاب القضاء عليه رقم ۷۳٥ والنسائي في سننه الكبرى (۲٤۷\۲، ۲٤۹) رقم ۳۲۹۰، ۳۳۰۱) والإحسان بترتيب صحيح ابن حبان (۲۱۱\٦) كتاب الصوم باب ذكر الأمر بالقضاء لمن نوى صيام التطوع ثم أفطر رقم ۳٥۰۸) وموردالظمآن (۲۳٦) كتاب الصيام باب في الصائم المتطوع يفطر رقم (٥۱) ـ

[2]) ذكره الزيلعي ﷺ في نصب الرأية (٤٦۷\۲) كتاب الصوم أحاديث الفطر في التطوع ولم أجد في سنن الدارقطني رغم بحثي الطويل والله أعلم) ـ

[3]) انظر العلل المتناهية في الأحاديث الواهية (٥٤٤\۲) كتاب الصيام باب حديث فيمن أفطر من تطوع رقم (۸۹٤) ـ

[4]) رواه ابن أبي شيبة (۲۹\۳) كتاب الصيام باب في الرجل يصوم تطوعاً ثم يفطر قال المارديني ﷺ في الجوهر النقي (۲۷۷\٤) وهذا سند صحيح) ـ

[5]) أخرجه ابن ابي شيبة في مصنفه (۲۹\۳) قال المارديني في الجهر (۲۷۷\٤) وهذا سند على شرط الشيخين ما خلا التيمي فإنه أخرج له أصحاب الأربعة ووثقه أبن سعد وابن سفيان والدارقطني) ـ

⑧ په حديث باب کښې د ،،إلاأن تطوع،، الفاظو نه هم د حنفيانو تائيد کيږي

علامه قرطبى رحمه الله فرمائى چه په دې جمله کښې د ،، ماتطوع به،، نه علاوه د بل څه څيز د وجوب نفى شوې ده او د نفى نه استثناء د اثبات فائده ورکوى نو چونکه د شروع فى التطوع د وجوب څوک هم قائل نه دى نو دلته دا متعين ده چه ددې نه مراد «إلا أن تشرع فى التطوع» وى او دا معلوميږى چه کوم سړى نفل شروع کړى وى د هغه په ذمه لازم دى چه دا مکمل کړى (١)

علامه طيبى رحمه الله د علامه قرطبى رحمه الله دا استدلال رد کړې دې او فرمائيلى ئې دى «هذا مغالطة لأن هذا الإستثناء من وادى قول الله تعالى ﴿وَلَا تَنكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم مِّنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ﴾ وقوله تعالى: ﴿لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ﴾»

يعنى دلته استثناء منقطع ده او مطلب دا دې چه «لا يجب عليك شئ قط إلا أن تطوع، وقد علم أن التطوع ليس بواجب، فيلزم أن لا يجب عليه شئ قط» (٢)

د حنفيانو د استدلال حاصل دا دې چه دوى ،،إلاأن تطوع،، کښې استثناء متصل ګرځوى او فرمائى چه تطوع اګرچه ابتداء کښې واجب نه دى خو د شروع کولو نه پس ددې پوره کول واجبيږى حالانکه شافعيه دا استثناء منقطع ګرځوى اوفرمائى چه تطوع نه ابتداء واجبيږى او نه بقاء واجبيږى.

خو حقيقت دادې چه د علامه طيبى رحمه الله اعتراض صحيح نه دې خکه چه دا خبره د مسلماتو څنې ده چه په استثناء کښې اصل اتصال دې انقطاع اصل نه ده. (٣) ترکومې پورې چه دا په استثناء باندې محمول کيدې شى انقطاع باندې به محمول کول صحيح نه وى ددې داصل کيدو اقرار حافظ ابن حجر رحمه الله پخپله فرمائى لکه چه هغوى ليکى «فمن قال: إنه متصل، تمسك بالأصل» (٤)

البته حافظ ابن حجر رحمه الله ددې د متصل منلو په صورت کښې دا اعتراض کړې دې چه ددې متصل ګرځول خکه صحيح نه دى چه مستثنى د متصل کيدو په صورت کښې مستثنى په مستثنى منه کښې داخليږى او ددې د جنس څنې کيږى حالانکه دلته داسې نه ده خکه چه مستثنى منه خو فرائض دى او مستثنى منه واجب دى د دواړو جنس يو نه دې نو د

---

(١) فتح البارى (١٠٧/١)-
(٢) الكاشف عن حقائق السنن (١٣٦/١) كتاب الإيمان) _
(٣) أصول البزدوى مع شرح كشف الأسرار(١٣١/٣) باب بيان التغير) _
(٤) فتح البارى(١٠٧/١) _

واجبو استثناء به د فرض نه منقطعه گرخولې شي متصل به نه وي (١)
ددې جواب ملا علي قاري رحمه الله وركړې دې چه په اصل كښې دواړه فرض دي البته په دې كښې يو فرض عملي كيدو سره سره اعتقادي هم دې او دويم فرض اعتقادي نه دې بلكه صرف عملي دې نو د فرض كيدو په اعتبار سره د دواړو جنس يو شو په دې وجه دلته استثناء متصل منل پكار دي (٢)
حافظ ابن حجر رحمه الله په دې مقام باندې يو اعتراض بل كړې دې هغه دا چه د حنفيانو استدلال په ،،إلا أن تطوع،، سره صحيح نه دې خكه چه دا استدلال هغه وخت صحيح كيدې شي كله چه دا اومنلې شي چه د استثناء من النفي نه د اثبات فائده حاصليږي حالانكه د حنفيانو په نيز د استثناء من النفي نه د اثبات فائده نه حاصليږي بلكه د مستثنى حكم مسكوت عنه وي. (٣)
شيخ الاسلام علامه شبير احمد عثماني رحمه الله فرمائي چه د استثناء من النفي نه د اثبات فائده نه حاصليدل. دا د بعضو حنفيانو مسلك ضرور دې خو د جمهور حنفيانو په نيز چه په دوى كښې امام فخرالاسلام بزدوى رحمه الله او ددوى متبعين دي چه د ،،إلا،، نه روستو كښې د نقيض حكم لګى كه اثباتا وى او كه نفيا وى هم دا رائې زياته قوى او معقوله ده علامه ابن الهمام رحمه الله ددې خبرې تصريح هم كړې ده.او ددې دلائل ئې هم بيان كړى دى (٤)
بيا ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي كه اومنلې شي چه د استثناء من النفي نه د اثبات فائده نه حاصليږى.او دا چه دلته استثناء منقطع ده.بيا هم د حنفيانو استدلال په دې جمله باندې موقوف نه دې.خكه چه ددوى استدلال خو اصل د آيت او بيا د اجماع نه دې چه حديث باب ئې د آيت او اجماع مطابق معنى باندې محمول كړې دې.او د استثناء من النفي نه چه د اثبات دفائدې حاصليدو كومه خبره ده.هغه خو مخالفينو ته د الزام وركولو دپاره ده.چه اوګورئ! ستاسو په نيز خو د استثناء من النفي نه د اثبات فائده حاصليږى بيا ولې تاسو دا مستثنى متصل نه ګرخوئ؟ (٥)

يو سوال او د هغې جواب دلته يو سوال دا كيدې شي چه كه دلته ،،إلا أن تطوع،، مستثنى متصل اوګرخولې شي.نو بيا روستو د زكاة د بيان نه پس كوم ،،لا إلا أن تطوع،، راروان دې هغې كښې هم متصل ګرخول پكار دى حالانكه هلته بالاتفاق منقطع دې؟

---

(١) المصدر السابق) _
(٢) مرقاة المفاتيح (١\٨٧)_
(٣) فتح البارى ١\٩١-١٠٧) _
(٤) فتح الملهم (١\٥٠٢، ٥٠٣) كتاب الإيمان باب بيان الصلوات التى هى أحد أركان الإسلام بحث إتمام العبادة بعد الشروع فيها ولو كانت نفلاً) _
(٥) مرقاة المفاتيح (١\٨٧) _

ددې جواب دا دې چه مونځ او روژه په زكاة باندې قياس كول صحيح نه دى خكه چه په زكاة كښې د ابتداء او انتهاء هيڅ صورت نشته ترکومې پورې چه زكاة مستحق پورې اونه رسولې شى نه ادا كيږى كله چه اورسيږى نو ادا كيږى په دې كښې چونكه امتداد نشته په دې وجه د زكاة په معامله كښې مستثنى متصل كيدې نشى ددې مجبورئ په وجه مستثنى منقطع منلې شوې ده خكه چه دا مجاز دې چه دا د ضرورت په وخت منلې كيږى او په مونځ روژه كښې هيڅ مجبورى نه وى په دې وجه به هلته مستثنى متصل منلې كيږى بې دويمه خبره داده چه په زكاة كښې هيڅ نظم او ترتيب نه وى بلكه وركونكى ته اختيار وى چه څه نن وركړى او څه صباله وركړى په خلاف د مونځ او روژې. چه په دې كښې اختيار نه وى چه نن يو ركعت اوكړې شى او صباله دويم ركعت ادا كړې شى يا نن د نيمې ورځې روژه اونيولې شى او صباله د نيمې ورځې. نو په مونځ او روژه كښې چونكه اتصال او ترتيب دې په دې وجه به په دې كښې مستثنى متصل منلې كيږى او په زكاة كښې انفصال كيدې شى په دې وجه به په دې كښې مستثنى منقطع ګرخولې كيږى.(١)

د حنفيانو دمذهب وجوه ترجيح علامه عينى رحمه الله فرمائى. ((ولووقع التعارض بين الأخبار فالترجيح معنا لثلاثة أوجه: أحدها اجماع الصحابة، والثانى أن أحاديثنا مثبتة وأحاديثهم نافية، والمثبت مقدم، والثالث أنه احتياط فى العبادة فافهم))(٢)

يعنى د حنفيانو د مسلك د تعارض منلو په صورت كښې درې وجوه ترجيح دى.① رومبئ خبره د صحابو رضى الله عنهم اجماع ده.② دويمه خبره دا ده.چه زمونږ مستدل روايات مثبت دى او دهغوى روايات يا خو نافى دى.يا ساكت دى.او مثبت ته په نافى او ساكت باندې ترجيح حاصل وى.③ دريمه خبره دا ده.چه دا دعبادت معامله ده.او په دې كښې په قضاء راوړلو كښې احتياط دې.والله اعلم.

قوله: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصِيَامُ رَمَضَانَ قَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ؟ قَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ: نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.د رمضان المبارك روژې هم په فرائضو كښې داخل دى.دغه سړى تپوس اوكړو چه آيا په ما باندې ددې روژو نه علاوه هم څه فرض دى؟ وې فرمائيل چه نه. خو كه دا نفلى ساتل غواړې.نو ساتلې شې ابتداء كښې اختيار دې خو په شروع كولو سره به دا واجب كيږى.

ايا د ,,رمضان،، لفظ سره د ,,شهر،، لفظ استعمالول ضرورى دې؟ په حديث باب كښې ,,رمضان،، سره لفظ د ,,شهر،، استعمال نكړې شو ددې نه دا خبره معلومه شوه.چه دا د ,,شهر،، لفظ استعمالولونه بغير جائز دې.(٣)

---

(١) إمدادالبارى (٤\٦٦٩) _
(٢) عمدة القارى (١\٢٦٨) _
(٣) عمدة القارى (١\٢٦٩) _

اصل كښې په دې كښې د عالمانو درې اقواله دى.

① د جمهورو محققينو په نيز ،، رمضان،، د،، شهر،، لفظ نه بغير استعمالول بغير د كراهته جائز دى [1] هم دا د اكثرو حنفيانو رائې ده.[2]

② مالكيان د كراهت قائل دى.هم دا د امام مجاهد او حسن رحمهماالله نه ضعيف سند سره او د امام عطاء نه نقل دى.[3]

③ د قاضى ابوبكربن الطيب باقلانى او د ډيرو شوافعو مذهب دا دې.كه دې لفظ سره څه قرينه داسې وى چه دهغې نه دامعلومه شى چه ،،رمضان،، ونيلو سره مياشت مراد اخستلې شوې ده بياخو لفظ د،،رمضان،، بغير د كراهت نه د،،شهر،، لفظ نه بغير استعمالولې شى. گنې مكروه دې.[4] والله اعلم.

قوله: قَالَ وَذَكَرَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الزَّكَاةَ قَالَ هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا قَالَ لَا إِلَّا أَنْ تَطَوَّعَ: رسول الله ﷺ هغه ته د زكاة ذكر اوفرمائيلو.چه زكاة هم د اسلام د فرائضو څخه دې.نو دغه سړى اووئيل.چه د زكاة نه علاوه هم په ما باندې څه فرض شته؟نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه نا . سوا ددې نه چه څه نفلى د الله په لاره كښې وركړې.

دلته د ،،قال،، فاعل ،،الراوى،، دې.بيا د «وذكر له رسول الله ﷺ الزكاة» تعبير اختيار كړې شوې دې.ددې وجه په ښكاره د راوى احتياط دې.ځكه ممكن ده.چه راوى ته د نبى كريم ﷺ الفاظ بعينه ياد نه وى پاتې شوې.په دې وجه ئې دې الفاظو سره تعبير اوكړو.[5]

امام نووى رحمه الله فرمائى.چه د ،،لاإلاأن تطوع،، الفاظو نه د زكاة نه سوا د هرقسمه مالى حق د وجوب نفى كيږى.[6]

علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى.كه دا خبره اومنلې شى.نو د صدقة الفطر د وجوب هم نفى كيږى.حالانكه شوافع ددې د فرضيت قائل دى.نو ددوى دپاره ددې اشكال نه خلاصونكې هم هغه دې.كوم چه حنفيانو د وترو د وجوب په سلسله كښې پيش كړې دې. والله اعلم.[7]

---

[1] عمدة القارى((١٠\٢۶٥) وفتح البارى (٤\١١٣) كتاب الصوم باب هل يقال رمضان أو شهر رمضان ومن رأى كله واسعاً)

[2] أوجز المسالك (٥\٧) كتاب الصيام باب ما جاء فى رؤية الهلال للصيام والفطر فى رمضان) _

[3] فتح البارى(٤\١١٣) عمدة القارى١٠\٢۶٥) _

[4] حواله جات بالا) وأجز المسالك (٥\۶ ٧) _

[5] أوجزالمسالك (٣\٢٩٣) جامع الترغيب فى الصلاة) _

[6] شرح النووى على صحيح مسلم (١\٣٠) كتاب الإيمان باب بيان الصلوات التى هى أحد أركان الإسلام) _

[7] فتح الملهم (١\٣٠٥) _

په دوو حديثونو كښې تعارض او ددې دفعيه لكه څنګه چه مونږه وړاندې بيان كړې دى چه امام طحاوى رحمه الله د ،،لا إلا أن تطوع،، نه په دې خبره باندې استدلال كړې دې چه په مال باندې سوا د زكاة نه بل څه واجب نه دى.هم په دې مفهوم باندې د حضرت فاطمه بنت قيس رضي الله عنها مرفوع حديث. امام ابن ماجه رحمه الله پخپل سنن كښې نقل كړې دې «ليس في المال حق سوى الزكاة»(۱)

ددې بالكل په عكس امام ترمذى رحمه الله د حضرت فاطمه بنت قيس رضي الله عنها نه روايت نقل كړې دې «إن في المال لحقاً سوى الزكاة»(۲)

دحضرت فاطمه بنت قيس رضي الله عنها دا روايت محدثينو په متعارضو احاديثو كښې شمار كړې دې.لكه چه بعضوددې نه ديو روايت صحت انكاركړې دې اوبعضوحضراتوتطبيق كړې دې امام بيهقى رحمه الله فرمائى.چه زمونږ اصحاب يعنى شوافعو پخپلو كتابونو كښې تعليقاً ،، ليس في المال حق سوى الزكاة،،والا روايت ذكر كړې دې.خو ماته د دې هيڅ سند ياد نه دې.(۳) په اصل كښې امام بيهقى رحمه الله د سنن ابن ماجه روايت مطالعه نكړې شو.په دې وجه دوى دهغې د صحت انكار كړې دې.

كومو حضراتو چه دې دواړو روايتونو كښې تطبيق وركړې دې.هغوى فرمائى.چه په،،ليس في المال حق سوى الزكاة،،كښې چه د كوم حق انكار دې.د هغې نه دائمى حق مراد دې.او پاتې شو د نورو حقوقو تعلق كوم چه وختى طور باندې واجبيږى.هغه په نورو نصوصو سره ثابتيږى.لكه چه علامه مناوى رحمه الله د ،، ليس في المال حق سوى الزكاة،، په شرح كښې فرمائى:« كفكاك الأسير، وإطعام المضطر، وسقي الظمآن، وعدم منع الماء و الملح والنار، وإنقاذ محترم أشرف على الهلاك، ونحو ذالك. قال عبد الحق : فهذه حقوق قام الإجماع على وجوبها وإجبار الأغنياء عليها»(۴)

مطلب دا دې.چه دا ټول حقوق د زكاة نه علاوه دى.حالانكه ددې په وجوب باندې اجماع ده.خو ښكاره ده.چه دا څيزونه دائمى او متعين نه دى.او زكاة دائمى او متعين څيز دې.نو په دواړو نصوصو كښې تعارض او تدافع نشته.والله اعلم.

په حديث باب كښې ئې فريضه د حج ولې ذكر نكړله؟ تاسوګورئ.چه په روايت د باب كښې د ،،حج،ذكر نشته.حالانكه دا بالاتفاق د اركان اسلام او د دين د فرائضو څنې دې؟ ددې مختلف جوابونه وركړې شوى دى.

---

(۱) سنن ابن ماجه (۱۲۸) كتاب الزكاة باب ما أدى زكاته ليس بكنزرقم ۱۷۸۹) _
(۲) جامع الترمذى (۱۴۳\۱) كتاب الزكاة باب ما جآء أن في المال حقاً سوى الزكاة) _
(۳) السنن الكبرى للبيهقى (۸۴\۴) كتاب الزكاة باب الدليل على أن من أدى فرض الله فى الزكاة فليس عليه أكثر منه إلا أن يتطوع سوى ما مضى فى الباب قبله) _
(۴) فيض القديرشرح الجامع الصغير(۴۷۲\۵) _

① يو جواب دا دې چه په دې طريق کښې اختصار دې ګنې نبي کريم ﷺ د حج ذکر هم فرمائيلې وو ددې دليل دادې چه ددې حديث په دويم طريق کښې راغلي دی.«فأخبره رسول الله ﷺ بشرائع الإسلام»[1] ګويانبي کريم ﷺ داسلام دټولو شرائعواو احکام ذکر اوفرمائيلو.[2]

② دويم جواب دا دې چه دا په اصل کښې د راويانو تصرف دې.بعضو راويانو بعضې څيزونه ذکرکړل.او نورو راويانو دا پريخودل.او نور څيزونه ئې ذکرکړل ګويا کوم کس ته چه کومه حصه ياده شوه.د هغې ذکر ئې اوکړو.او په دې طريقه دې روايت کښې د حج ذکر رانغلو.ګنې نبي کريم ﷺ دا هم ذکر فرمائيلې وو.[3]

③ بعضې عالمان حضرات فرمائي.چه داسې بې بنياد طور باندې راويانو طرف ته نسبت کول صحيح نه معلوميږي.بلکه دلته به دا وئيلې شي.چه تر اوسه پورې چونکه حج فرض شوې نه وو.په دې وجه دې روايت کښې د حج ذکر رانغلو.[4]

په دې خبره داسې پوهه شئ.چه نبي کريم ﷺ پخپلو مختلفو ارشاداتو کښې ارکان د اسلام بيان کړل.بيا ئې په دې کښې په بعضو ارشاداتو کښې څه ارکان ذکرکړل.او په بعضو کښې ئې د نورو ارکانو. دا اختلاف د راويانو د تصرف او ددوی په حفظ او ضبط کښې د کمی زياتي په بنياد سره نه دې.بلکه پخپله په دې احاديثو کښې دا اختلاف موجود دې.او ددې نه د ارکانو د فرضيت په تاريخ باندې دلالت مقصود دې.

مثلاً د ټولو نه وړاندې د کلمې دعوت ورکړې شو.بيا په مکه مکرمه کښې د ليلة الاسراء په موقعه باندې مونځونه فرض شو.بيا د هجرت نه روستو زکاة او روژه فرض شوه.بيا په آخر کښې د مشهور قول مطابق ۶ھ کښې او د تحقيقی قول مطابق ۹ھ کښې د حج فرضيت نازل شو.

اوس چه کله د نبي کريم ﷺ په بعضو ارشاداتو کښې د بعضو ارکانو ذکر کولې شي.او د بعضو ارکانو ذکر نه کيږي.ددې وجه هم دا وی.چه د ذکر شوو ارکانو حکم راغلی دې.او د متروکه ارکانو اوسه پورې حکم نه دې نازل شوې.عادت مبارك هم دا وو.که د ارکانو بيان مقصود وو.نو د ټولو ارکانو ذکر به ئې فرمائيلې وو.کوم چه فرض شوی دی.حج تر اوسه پورې نه وو فرض شوې.په دې وجه دا ذکر نکړې شو.او د دعوت په موقعه به ئې د شهادتينو نه پس د مونځ او زکاة ذکر فرمائيلو.

دلته هم دا صورت دې.چه دې سړی ته ئې د اسلام په ارکانو کښې د مونځ او د زکاة او د روژې حکم ورکړو.خو د حج فرضيت چونکه تر اوسه پورې نه وو نازل شوې.په دې وجه ئې ددې ذکر اونه فرمائيلو.والله اعلم.

---

[1] صحيح بخاری کتاب الصوم باب وجوب صوم رمضان رقم (۱۸۹۱) ـ
[2] فتح الباری (۱۰۷\۱) ـ
[3] شرح النووی علی صحيح مسلم (۳۰\۱) وعمدة القاری(۲۶۹\۱) ـ
[4] عمدة القاری (۲۶۹\۱) وفتح الباری(۱۰۷\۱) ـ

④ دا هم ممكن ده چه چونكه دغه سړى د خپل خان په باره كښې تپوس كولو او دده دحال نه نبى كريم ﷺ ته علم شوې وو چه په ده باندې حج واجب نه دې په دې وجه نبى كريم ﷺ دسره دحج ذكر اونه فرمائيلو.(١)

قوله: قَالَ فَأَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُولُ وَاللَّهِ لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا وَلَا أَنْقُصُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ: راوى فرمائى چه بيا دغه سړى د ونيل او شاته شو چه په خدائې قسم! زه به نه په دې باندې اضافه كوم او نه به كمى كوم نبى كريم ﷺ اوفرمائيل كه دې سړى رشتيا ونيلى دى نو دا كامياب دې.

ايا د مذكوره فرائضو نه علاوه نور واجبات ادا كول ضرورى نه دى؟ دلته يو سوال دا دې چه دې سړى ددې كارونو نه د زياتى د بل كار كولو نه انكار كړې دې او په دې باندې نبى كريم ﷺ د .. فلاح.. بشارت وركړې دې نو آيا نور واجبات اداكول فلاح دپاره ضرورى نه دى؟

ددې جواب دا دې چه ممكن ده اوسه پورې بل څه څيز واجب شوې نه وى په دې وجه ئې د بل څه څيز ذكر اونكړو او دا هم ممكن ده چه نبى كريم ﷺ د سائل او د حاضرينو رعايت ساتلې وى. والله اعلم.

ايا «فلاح» دپاره د منهياتو پريخودل ضرورى نه دى؟ دغه شان يو اشكال دلته دا هم كيږى چه نبى كريم ﷺ دلته د منهياتو نه د بچ كيدو حكم اونه فرمائيلو او دې سړى سوا د مذكوره احكامو نه د نورو كارونو د كولو نه انكار كړې دې. ددې مطلب دا شو چه دده په ذمه د منهياتو نه بچ كيدل هم لازم نه دى. ددې جواب ابن بطال رحمه الله دا وركړې دې چه ممكن ده چه دغه وخت فرائض د نهى نه وى نازل شوى.(٢)

په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله د تعجب اظهار كوى. ليكى چه دا څنګه ممكن ده؟ حالانكه ددوى په نيز دا سائل ضمام بن ثعلبه رضي الله عنه دې او ددوى په باره كښې دا فيصله ده چه په ٥هـ كښې يا ددې نه روستو راغلې وو. حالانكه د اكثرو منهياتو احكام ددې نه وړاندې نازل شوى وو.(٣)

حافظ رحمه الله فرمائى. صحيح جواب دا دې چه په حقيقت كښې نبى كريم ﷺ د منهياتو ذكر هم فرمائيلې وو. چه هغه دلته ذكر نه دې. دا اجمالاً د اسماعيل بن جعفر په روايت كښې په «فأخبره رسول الله ﷺ بشرائع الإسلام»(٤) الفاظو سره بيان كړې شوى دى.

---

(١) عمدة القارى(٢٦٩١١)_
(٢) فتح البارى(١٠٨١١) وفتح البارى(١٠٨١١)_
(٣) صحيح بخارى كتاب الصوم باب وجوب صوم رمضان)_
(٤) إكمال المعلم شرح صحيح مسلم (٨٠١١)_

خو علامه أبى رحمه الله د حافظ رحمه الله جواب رد كړي دې او فرمائيلى ئې دى چه «فأخبره رسول الله ﷺ بشرائع الإسلام» يو اجمالى روايت دې چه ددې تفصيل هم هغه دې كوم چه د ،، خمس صلوات،، او ،، زكاة،، او د ،، صيام،، عنوانانو سره ذكر شوې دې نو د ،، شرائع الإسلام،، نه تول اوامر او نواهى په دې حديث كښې مراد اخستل صحيح نه دى.(١) والله اعلم
حافظ رحمه الله چه كوم جواب وركړې دې هغه پخپل ځائې مناسب دې خو علامه أبى رحمه الله چه په دې كښې كومه خطره ښكاره كړې ده هغه هم لرې نه ده.په دې وجه صحيح جواب هم هغه معلوميږى كوم چه ابن بطال رحمه الله وركړې دې چه دا روايت هغه زمانې سره متعلق دې كله چه د نهى د فرائضو نزول نه وو شوې.البته په دې صورت كښې به سائل لره ضمام بن ثعلبه گرځول صحيح نه وى.بلكه بل څوك سړې به وى او دا واقعه به بالكل د شروع وى والله أعلم وعلمه أتم وأحكم_

ايا د سنن رواتب پريخودو گنجائش شته؟ په حديث باب كښې تاسو گورئ چه نبى كريم ﷺ صرف په فرائضو باندې د فلاح حكم مرتب كړې دې.حالانكه فرائضو سره سره سنن هم مطلوب دى؟

په نورو الفاظو كښې داسې پوهه شئ.چه دغه سړى «لا أزيد على هذا ولا أنقص» ونيلى دى چه په دې باندې نبى كريم ﷺ ،، أفلح إن صدق،، اوفرمائيل چه په ،، لا أنقص،، باندې د فلاح ترتب په پوهه كښې راځى.خو په ،، لا أزيد،، باندې د فلاح مرتب كولو بالكل په پوهه كښې نه راځى.بلكه په دې باندې به د فلاح مرتب كولو دا مطلب وى.چه د سنتو پريخودو ترغيب وركولې كيږى؟

(١) بعضو عالمانو خو ددې جواب وركړې دې.چه د«أفلح إن صدق» تعلق د«لا أنقص» سره دې.«لا أزيد» سره نه دې.(٢) خو د عبارت د سياق نه ددې جواب تائيد نه كيږى.

(٢) امام نووى رحمه الله فرمائى.چه نبى كريم ﷺ ددې سړى دپاره په دې وجه د .. فلاح .. حكم مرتب كړې دې.چه ده فرائض ادا كړى دى.په دې كښې داخبره نشته.چه كه اضافه اوكړى.نو فلاح به نه حاصليږى.ځكه چه دا خبره معلومه ده.چه هركله صرف په واجباتو ادا كولو سره فلاح حاصليدل يقينى دى.نو واجباتو سره سره كه څوك په مندوباتو باندې هم عمل اوكړى نو يقيناً په درجه اولى به دده دپاره فلاح ثابتيږى.(٣)
امام نووى رحمه الله فرمائى.چه كه يو كس صرف فرائض مكمل طور باندې ادا كړى.نو هغه

---

(١) نقله النووى فى شرحه لصحيح مسلم (٣٠١١) كتاب الإيمان باب بيان الصلوات التى هى أحد أركان الإسلام)
(٢) شرح نووى على صحيح مسلم (٣٠١١) _
(٣) المصدر السابق) _

دپاره فلاح يقيني ده.د فلاح دپاره د سنتو او مندوباتو پخپله ضرورت نشته.(١) البته انسان چونکه د سرنه تر خپو پورې تولې خاميانې دى.دده نه فرائض كمال درجې سره نشى ادا كيدې په دې وجه ددې دتكميل دپاره مخكنى او روستنى سنت مشروع شوى دى.
خلاصه دا چه د نبى كريم ﷺ ددې سړى دپاره صرف په فرائضو او واجباتو ادا كولو باندې د .. فلاح.. خوشخبرى وركول بالكل په حقه وو.كوم سړې چه فرائض او واجبات مكمل طور باندې ادا كوى.د فلاح د حصول دپاره په ده باندې د سنتو او مندوباتو ادا كول لازم نه وى.او د سنتو وغيره د پريخودو په وجه به دې گنهگار نه وى.اگرچه هغه سړې به د زياتې فلاح مالك وى.ځوك چه ددې سنتواو مستحباتو هم التزام كوى.
علامه أبى رحمه الله فرمائى.چه د امام نووى رحمه الله د جواب نه دا معلوميږى.چه د سنتو د پريخودو باوجود به ده ته فلاح حاصليږى.ځكه چه د فرائضو پوره كولو په وجه هغه گنهگار پاتې نشو.خو اصل اشكال دا نه دې.بلكه اشكال خو دا دې.چه د فرائضو نه كوم زياتى سنت او مستحبات دى.د هغې په پريخودو باندې فلاح مرتب كولو سره د سنتو پريخودو ترغيب او تشويق لازميږى.(٢)
③ علامه قرطبى رحمه الله فرمائى.چه نبى كريم ﷺ ددې سړى دپاره د هميشوالى په طور سنت پريخودل جائز او نه گرځول.البته چونكه هغه د اسلام زمانې سره ډير نزدې وو.په دې وجه ئې د واجباتو په بيان او هم په دې باندې د فلاح مرتب كولو باندې اكتفاء كړې ده.او د سنتو او مندوباتو ذكر ئې مؤخر كړې دې.چه هغه مطمئن شى.او په كلاو زړه سره د خير كارونو طرفته رغبت پيدا شى.بيا به دغه وخت د سنتو او مندوباتو ادا كول دده دپاره آسان شى.(٣)
④ علامه طيبى رحمه الله فرمائى.ممكن ده چه د «لا أزيد على هذا ولا أنقص» نه په تصديق او قبول كښې غلبه مراد وى.«أى قبلت كلامك قبولاً لا مزيد عليه من جهة السؤال، ولا نقصان فيه من جهة القبول» يعنى زه ستا خبره مكمل طور باندې قبلوم.په يو سوال كښې به هم اضافه نه كوم.او نه به په عمل كولو كښې كمى كوم.(٤)
⑤ علامه ابن المنير رحمه الله فرمائى.ممكن ده.چه د «لا أزيد على هذا ولا أنقص» تعلق تبليغ سره وى. ځكه چه هغه د يو قوم د طرفه ددې كار دپاره راليږلې شوې وو.چه د اسلام د شرائعو علم حاصل كړى.او د خپل قوم خلقو ته ئې اوښائى.نو اوس به ددې جملې مطلب دا وى.چه زه به په تبليغ كښې كمې زياتې نه كوم.تاسو چه څنگه بيان كړى دى.او څومره دې بيان كړى

---

(١) إكمال إكمال المعلم شرح مسلم (٨٠/١) ـ
(٢) شرح الزرقانى على المؤطا (٢٥٩/١) ـ
(٣) شرح الطيبى (١٣٣/١) تحت شرح حديث أبى هريرة رضي الله عنه رقم ١٤ ـ
(٤) شرح الطيبى (١٣٢/١) رقم ١٤ وفتح البارى (١٠٨/١) ـ

دی بغیر د څه کمی زیاتی نه. دغه شان چه لاړ شم.نو خلقوته به ئې بیانوم.(١)

⑨ بعضو عالمانو فرمائیلی دی.چه د«لا أزید علی هذا ولا أنقص» مطلب دا دی.چه زه به د فرائضو په صفاتو کښې هیڅ تبدیلی نه کوم مثلاً دا چه د ماسپښین په مونځ کښې به د یو رکعت کمی اوکړې شی یا د ماښام په مانځه کښې د یو رکعت کمی اضافه اوکړې شی.داسې به نه کوم.(٢)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله مذکوره درې واړه احتمالات رد کړی دی.ددې وجه دا ده.چه د اسمعیل بن جعفر په روایت کښې د «لا أتطوع شیئاً ولا أنقص مما فرض الله علی» الفاظ وارد شوی دی.(٣)

ددې نه معلومه شوه چه نه خو دا د تصدیق او قبول نه کنایه ده.او نه بغیر د کمی زیاتی نه د تبلیغ او ابلاغ نه کنایه ده.او نه ددې فرائضو تعداد زیاتول یا کمول مراد دی.بلکه ددې صفا معنی دا ده.چه زه به صرف په فرائضو باندې اکتفاء کوم.نوافل به نه ادا کوم.(٤)

علامه باجي مالکي رحمه الله د امام مالك او اسمعیل بن جعفر رحمهما الله ددې دواړو طرقو په مینځ کښې موازنه کړې ده.او د امام مالك رحمه الله طریق ته ئې ترجیح ورکړې ده.هغه فرمائی.چه د امام مالك رحمه الله روایت اصح دې.ځکه چه هغه د اسمعیل په مقابله کښې احفظ دې.او نورو راویانو ددوی متابعت هم کړې دې.او ممکن ده.چه اسمعیل روایت بالمعنی کړې وی.(٥)

خو په دې طریقه ترجیح اختیارول صحیح نه معلومیږی.ځکه چه ترجیح هغه ځائې کښې اختیارولې شی.کوم ځائې چه جمع او تطبیق ممکن نه وی.حالانکه دلته جمع ممکن ده.لکه چه علامه باجي رحمه الله پخپله فرمائی.«ولو صح احتمل المعنی لا أتطوع بشیء ألتزمه واجباً»(٦) یعنی که د اسمعیل روایت ثابت شی.نو ددې معنی به دا وی.چه زه به د کوم څیز د واجب په طور التزام کوم.نو هغه به تطوع نه جوړوم.مطلقاً د تطوع نه انکار نه دې.

⑩ دا توجیه هم ممکن ده.چه نوافل او مستحبات او سنن رواتب په حقیقت کښې فرائضو دپاره د مکملاتو حیثیت لری.دا څه مستقل جدا څیز نه دې.نو د ،،لا أزید علی هذا،، سره هیڅ تعارض نه دې.ځکه چه نوافل او سنت خو په فرائضو کښې داخل دی.څه زیاتې څیز نه دې.

---

(١) فتح الباري (١١ ١٠٨) _
(٢) شرح الطیبی (١١ ١٣٢) رقم الحدیث ١٤) وفتح الباري (١١ ١٠٨) _
(٣) صحیح بخاری کتاب الصوم باب وجوب صوم رمضان رقم ١٨٩١) _
(٤) فتح الباري (١١ ١٠٨) وأوجز المسالک (١٣ ٣٣) _
(٥) شرح الزرقانی (١١ ٣٥٩) وأوجز المسالک (١٣ ٣٣) _
(٦) المصادر السابقة) _

په دې وجه چه کله دې سړی «لا أزيد على هذا ولا أنقص» اووئيل.نو نبی کريم ﷺ نکير اونه فرمائيلو.بلکه اجازت ئې ورکړو.او د فلاح خوشخبری ئې واوروله.[1]

⑧ امام العصر علامه کشميری رحمه الله فرمائی.ممکن ده چه نبی کريم ﷺ د ټولو فرائضو او شرائعو په باره کښې هدايت فرمائيلې وو.ددې نه پس سنن مؤکدات وغيره پاتې کيږی.چه د هغې مقرر کول او متعين کول.د نبی کريم ﷺ د آخری لمحاتو پورې شوی دی.هم دهغې په باره کښې نبی کريم ﷺ دغه سړې مستثنی اوګرځولو.اودا د شارع ﷺ منصب وو ددې په ثبوت کښې ډير واقعات ملاويږی:

لکه چه نبی کريم ﷺ د يو سړی دپاره په قربانۍ کښې د يوکال نه د کم عمر چيلۍ اجازت ورکړو.او وې فرمائيل.چه ستا نه پس به بل سړی دپاره اجازت نه وی.[2]

دغه شان يو سړی د رمضان روژه د جماع په وجه ماته کړله.نبی کريم ﷺ د غلام آزادولو.بيا د شپيتو روژو نيولو، بيا شپيتو مسکينانو ته د خوراك خوړلو حکم ورکړو.خو هغه به عذر کولو.بيا نبی کريم ﷺ د کفارې کجورې ورکړلې.چه دا صدقه کړه.هغه اووئيل.حضور زما نه زيات مسکين په مدينه طيبه کښې نشته.نبی کريم ﷺ اوفرمائيل.هم ته ئې خرچ کړه.خو دغه شان به بل چا دپاره جائز نه وی.[3]

غرض دا چه ددې واقعاتو پشان دلته هم دا ممکن ده.چه نبی کريم ﷺ دا سړې د سنتو نه مستثنی ګرځولې وی.[4]

علامه کشميری رحمه الله فرمائی.چه ددې توجيه په وجه دا ونه ګڼړئ.چه نبی کريم ﷺ به به فرائضو او واجباتو کښې هم څوك مستثنی کولی شو.لکه څنګه چه علامه سيوطی رحمه الله ګڼړلی دی.

امام ابوداؤد رحمه الله پخپل سنن کښې د حضرت فضاله رضی الله عنه حديث نقل کړې دې.هغه فرمائی

---

[1]) أوجز المسالک (٣٣١\١) _

[2]) قال ابن ابی عدی خطبنا رسول الله ﷺ فقال لا يذبحن أحد قبل أن نصلی فقام إليه خالی وقال يارسول الله هذا يوم اللحم وفيه كثير قال ابن أبی عدی مكروه وإنی ذبحت نسكی قبل ليأكل أهلی وجيرانی وعندی عناق لبن خيرمن شاتی لحم فاذبحها؟ قال نعم ولا تجزیء جذعة عن أحد بعدك وهی خير نسكتك أخرجه أحمد فی مسنده ٢٩٧\٤. ٢٩٨) _ مسند البراء بن عازب رضی الله عنه) _

[3]) انظر سنن أبی داودكتاب الصوم باب كفارة من أتی أهله فی رمضان (رقم(٢٣٩٠ . ٢٣٩٥) وزاد الزهری فی رواية وإنما كان هذا رخصة له خاصة فلو أن رجالاً فعل ذالك اليوم لم يكن له بد من التكفير أخرجها أبوداود فی كتاب الصوم باب كفارة من أتی أهله فی رمضان رقم(٢٣٩١) . تنبيه: قال الزيلعی رحمه الله فی نصب الراية (٤٥٣\٢) وقوله فی الكتاب (أی فی الهداية) تجزنك لا تجزیء احداً بعدك لم أجده فی شیء من طرق الحديث) _

[4]) فيض الباری (١٣٧\١) وأنوارالباری (١٥٣\٢) _

«علمني رسول الله فكان فيما علمني وحافظ على الصلوات الخمس، قال: قلت إن هذه ساعات، لي فيها أشغال، فمرني بأمر جامع إذا أنا فعلته أجزأ عني، فقال: حافظ على العصرين، وما كانت من لغتنا، فقلت وما العصر؟ قال: صلاة قبل طلوع الشمس وصلاة قبل غروبها»(١)

علامه سيوطى رحمه الله ددې حديث لاندې فرمانيلي دى.چه كيدې شي.سائل دپاره نبى كريم ﷺ د سائل دپاره درې فرض مونځونه معاف كړى وى.او د عام حكم نه ئې مستثنى ګرځولې وو دا خبره صحيح نه ده.ځكه چه نبى كريم ﷺ د خپل خصوصى امتياز په وجه دا كولى شو.چه دچا دپاره د نجات او فلاح مدار صرف ادا كول اوبنائى.او هم دا حديث د فضاله ﷺ محمل دې.خو د فرائضو نه مستثنى كولو اختيار ثابتول مشكل دى.(٢)

لكه چه امام بيهقى رحمه الله ددې تاويل كوى.فرمائى.«كأنه أراد،، والله أعلم،، حافظ عليهن في أوائل أوقاتهن، فاعتذر بالأشغال المفضية إلى تأخيرها عن أوائل أوقاتهن، فأمره بالمحافظة على هاتين الصلاتين بتعجيلهما في أوائل وقتيهما، وبالله التوفيق»(٣)

يعنى نبى كريم ﷺ چه كله د ټولو نه مخكښې دوى ته «حافظ على الصلوات الخمس» اوفرمائيل.او د مونځونو د پابندئ حكم ئې وركړو.نو ددې مطلب دا وو. چه ددې مونځونو پخپلو مستحب وختونو كښې په شروع كښې د ادا كولو اهتمام كوه.خو كله چه دوى عذر پيش كړو.چه زما بعضې مصروفيات داسې دى.چه د اول وختونو التزام به زما دپاره مشكل وى.تاسو زما دپاره د خصوصى رعايت صورت راوباسئ.نو نبى كريم ﷺ د ..عصرين.. يعنى د سحر او د مازيګر په باره كښې هم دا تاكيدپخپل حال اوساتلو.البته د باقى مونځونو په باره كښې ئې رعايت اوفرمائيلو.چه په دې كښې څه تاخير اوشى.نو هيڅ بك نشته.خو مطلقاً معاف نه دى.

⑨ حضرت مولانا محمد ادريس صاحب كاندهلوى رحمه الله فرمائى.چه بعضو عالمانو د «لا أزيد ولا أنقص» مطلب بيان كړې دې.چه «لا أزيد على هذا السؤال، ولم يبق لي فيما سألت: إشكال وشك، حتى أحتاج إلى زيادة السؤال، ولا أنقص منه، أي لا أترك شيئاً مما أمرتني به، بل آتي بجميعه» (٤) مطلب دا دې.چه زما سوالونه ختم شو.هيڅ شك او شبه پاتې نشوه. په دې وجه به زياتى سوالونه نه كوم.او كوم څه چه تاسو حكم فرمائيلې دې.په هغې به مكمل عمل كوم.د خپل طرفه به هيڅ قسمه تبديلى نه كوم.دا هم دغه شان ده.لكه څنګه چه قرآن كريم كښې ارشاد دې.

---

١) سنن أبي داود (٦١/١) كتاب الصلاة باب المحافظة على الصلوات رقم ٤٢٨) _

٢) انظر فيض البارى (٣٨/١) وأنوار البارى (١٥٣/٢) _

٣) السنن الكبرى للبيهقى (٤٦٦/١) كتاب الصلاة باب من قال هى (الصلاة الوسطى) الصبح) _

٤) التعليق الصبيح (٣١/١) _

﴿قُلْ مَا يَكُوْنُ لِيْٓ اَنْ اُبَدِّلَهٗ مِنْ تِلْقَاۗئِ نَفْسِيْ ۚ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ ۚ﴾ (١)

Ⓑ بعضې حضرات فرمائي چه اصل کښې ددې قول تعلق اعتقاد سره دې چه کوم څيزونه تاسو فرض گرځولی دی هغې دپاره به زه د فرض عقيده ساتم او کوم څيزونه چه تاسو نفل گرځولی دی هغه به عقيدتاً نفل گڼړم په دې عقيده کښې به هيڅ تبديلی ، زياتې يا کمې نه کوم (٢)

Ⓐ او حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائي چه کله کله مقصود د يو څيز نفی وی خو ورسره ددې د ضد نفی هم کولې شی داسې صرف د کلام د تحسين يا د تاکيد او مبالغې دپاره کولې شی لکه چه د اخستلو او خرڅولو په وخت بائع يو نرخ ښائی نو اخستونکې تپوس کوی چه په دې کښې به څه کمې زياتې نه کيږی ښکاره ده چه دلته کمې مقصود دې زياتې مقصود نه دې دغه شان بائع ددې په جواب کښې وائی کمې او زياتې هيڅ به نه کيږی دغه شان د يوڅيز د تللو په وخت اخستونکې بائع ته وائی په ښه شان ئې اوتله چه کمې زياتې درنه اونشی دلته هم د کمولو نفی کول مقصود وی که څه زياتی ورکړی نو مشتری به ئې هيڅ چرې منع نکړی دغه شان دلته کښې مقصود ،،لاأنقص،،دې د ،،لاأزيد،، ذکر صرف د کلام دتحسين يا د ،، لاأنقص،، د تاکيد دپاره دې چه پوره پوره به ئې ادا کوم ذره برابر به هم کمې نه کوم (٣)

په قرآن کريم کښې د الله تعالى ارشاد دې ﴿ اِذَا جَاۗءَ اَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴾ (٤) يعنی کله چه ددوی مقرر وخت راشی نو نه به يو ساعت شاته کيدې شی او نه به وړاندې کيدې شی

دلته مشهور اشکال دې چه نيټه راشی نو دغه وخت .. استيخار .. خو عقلاً ممکن دې نو ددې نفی کول صحيح ده او مفيد هم ده مگر .. استقدام .. خو عقلاً دسره ممکن نه دې ځکه چه دا محال دې چه يو سړې د نن نه دوه کاله يا څلور کاله وړاندې مړ شی ددې نفی هيڅ فائده نشته ځکه چه ددې عقلاً تصور هم نشی کيدې؟

حضرات مفسرينو ددې مختلف جوابونه ورکړی دی خو د ټولو نه غوره جواب هم دا دې چه اصل مقصود د ﴿فَلَا يَسْتَاْخِرُوْنَ﴾ والا نفی ده او ﴿وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ﴾ د کلام د تحسين يا تاکيد دپاره راوړلې شوې دې (٥) والله أعلم وعلمه أتم وأحكم

---

(١) يونس:١٥) ـ
(٢) قاله الباجي .كذا في شرح الزرقاني على الموطا (٣٥٩١١) ـ
(٣) فضل البارى (٥٠٥١١) ـ
(٤) يونس: ٤٩) ـ
(٥) فضل البارى(٥٥١١) ـ

ايا د امر خير په پريخودو باندې قسم خوړل صحيح دی؟ دلته يو اشكال دا كيږی چه ده ،،لا أزيد ولا أنقص،، ونيلو سره حلف (قسم) هم قسم خوړلې دې گويا مطلب دا شو چه په خدائې قسم چه زه به زياتی تطوع وغيره نه كوم سوال دا دې چه مدار د نجات او فلاح اگرچه فرائض دی خو تطوع يود خير امر دې ددې په پريخودو باندې نې ولې قسم او خوړلو؟

ددې جواب دا دې چه د امر خير په پريخودو باندې حلف اوچتول هغه وخت ممنوع دی كله چه د امر خير پريخودل. او ددې نه بچ كيدل د كراهت په وجه. يا د سنت نه بې رغبتئ په وجه سره وی كه د فرصت نه كيدو په وجه يا د مشغولتيا په وجه وی نو ممنوع نه دې.(١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه ((ذالك مختلف باختلاف الأحوال والأشخاص)) يعنی دا ممانعت مطلقاً نه دې بلكه د مختلف احوالو په اعتبار سره دې دغه شان دمختلفو اشخاصو(او افرادو) په اعتبار سره ددې ممانعت ختميدې هم شي.(٢)والله اعلم

قوله: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ: نبی كريم ﷺ اوفرمائيل كه دا سړې رشتيا وائی نو كامياب دې ددې حديث په بعضو طرقو كښې د ،،أفلح وأبيه إن صدق،، الفاظ راغلی دی.(٣)

ايا د غير الله قسم خوړل صحيح دی؟ په دې باندې اشكال دا دې چه نبی كريم ﷺ د غيرالله د قسم خوړلو نه منع فرمائيلې ده ارشاد ئې فرمائيلې دې چه ((ألا إن الله ينهاكم أن تحلفوا بآبائكم، فمن كان حالفاً فليحلف بالله، وإلا فليصمت)) دغه شان د نبی كريم ﷺ ارشاد دې ((من حلف بغير الله فقد كفر أو أشرك))(٤)نو بيا ئې ،،وأبيه،، څنگه ارشاد اوفرمائيلو؟

عالمانو ددې مختلف جوابونه وركړی دی: ① بعضې حضرات فرمائی چه دا الفاظ د هغه كلماتو څخې دی د كومو نه چه ظاهری معنی مقصود نه وی لكه چه يوه ښځه تكليف رسونكې يا منحوسه وی نو اهل عرب وائی ((،،عقرى،، أی عقرها الله)) (الله تعالی دې ددې كونتې (خپې) ماتې كړی) دغه شان ((،،حلقى،، أی حلقها الله)) (يعنی الله تعالی دې دا گنجې كړی) يا ((تربت يمينك)) (ستا لاس دې په خاورو كښې ككړ شی) وئيلې شی دلته هم دغه شان د ،،وأبيه،، نه حلف مقصود نه دې.(٥)

---

(١) حواله جات بالا)-
(٢) فتح البارى(١٠٨١١) _
(٣) صحيح مسلم (٣٠١١) كتاب الإيمان باب بيان الصلوات التی هی أحد أركان الإسلام) _
(٤) صحيح البخارى (٩٨٣١٢) كتاب الأيمان والنذور باب لاتحلفوا بآبائكم) _
(٥) فتح البارى(١٠٧١٩١) عمدة القارى(٢٦٩١١) _

② بعضې عالمان فرمائي چه دلته مضاف محذوف دې.تقدير د عبارت داسې دې.،،ورب أبيه،، نو دا د غيرالله حلف نه دې.([1])

③ بعضې حضرات فرمائي.چه دا د نبی كريم ﷺ خصوصيت دې.يعنی هغوی دپاره جائز دی.بل چا دپاره اجازت نشته.([2])

علامه زرقانی رحمه الله فرمائي. چه په پلارانو سره د قسم خوړلو ممانعت د غيرالله د تعظيم د يرې نه شوې دې.او د نبی كريم ﷺ په باره كښې د غيرالله د تعظيم توهم او تصور هم ممكن نه دې.په دې وجه هغوی دپاره د ممانعت حكم پاتې نشو.([3])

خو حافظ ابن حجر رحمه الله د خصوصيت والا قول باندې اعتراض كوی. فرمائي.،،ويحتاج إلى دليل،،([4])يعنی د خصوصيت منلو دپاره د خصوصی دليل ضرورت دې.

④ حافظ ابوالقاسم سهيلی رحمه الله د خپلو بعضو مشائخو رحمهم الله نه نقل كړی دی.چه په ،،وأبيه،، كښې اصل كښې تصحيف دې.په دې طريقه چه په اصل كښې ،، والله،، وو.كاتب : دواړو لامونو سرونه واړه كړل.د نقطو چونكه خاص اهتمام نه وو.په دې وجه دا ،،وأبيه، اوونيلې شو.([5])

خو علامه قرطبی رحمه الله دا توجيه منكر گرځولې ده.فرمائي.چه «إنه يخرم الثقة بالروايات الصحيحة»([6])يعنی داسې احتمالات د صحيح رواياتو د ثقاهت دپاره نقصان ده دی.

⑤ علامه قرافی رحمه الله ددې اشكال نه د خلاصی دپاره د.،،وأبيه،، د ورود د سره انكار كړې دې.لكه فرمائي.چه په موطا كښې چونكه دا لفظ نشته.په دې وجه دا لفظ د سره ثابت نه دې.([7])

خو ددوی قول باطل دې.څكه چه د يو لفظ په مؤطاكښې نه كيدل، ددې نه د نه ثابتيدو دليل نه دې. حالانكه دا لفظ په معتبر طرقو سره ثابت دې.([8])

---

[1]) فتح الباري(۱۰۷/۱۱) وعمدة القاری (۲۷۰/۱۱) _

[2]) المصادرالسابقة) _

[3]) شرح الزرقانی(۳۵۹/۱۱)-

[4]) فتح الباري(۱۰۷/۱۱) وعمدة القاری(۲۷۰/۱۱) _

[5]) فتح الباري(۱۰۸،۱۰۷/۱۱) _

[6]) المصدرالسابق) _

[7]) المصدرالسابق) _

[8]) المصدرالسابق) _

① بعضې حضرات فرمائي چه د داسې قسمه حلف وړاندې ممانعت نه وو.روستو دا حلف منسوخ شو.د نبي كريم ﷺ د حلف واقعه وړاندې ده.د ممانعت نه روستو نه ده.(¹)
خو دا جواب حافظ فضل الله توربشتي رحمه الله رد كړې دې علامه انورشاه كشميري رحمه الله د دوى كلام نقل كړې دې.فرمائي چه هغوى فرمائيلي دي چه بعضو حضراتو دلته د نبي كريم ﷺ او د صحابهٔ كرامو رضي الله عنهم نه كوم قسمونه منقول دي.په دې كښې او د ممانعت والا حديثونو كښې د تطبيق وركولو دپاره د نسخ دعوه كړې ده.خو دا ددې عالمانو خطاء ده خكه چه نسخ په داسې خيزونو كښې كيږي.كوم چه په حد د جواز كښې وي.او په روايت كښې حلف د غير الله شرك ګرخولې شوې دې.شرك په هرحالت كښې او هميشه دپاره حرام پاتې شوې دې.او كومې خبرې چه په دين كښې اخلاص پيدا كونكې دي.او توحيد د شرك جلي او خفي د شبهاتو نه لرې كونكې دي.هغه په ټولو دينونو كښې ضروري او واجب پاتې شوې دي.نو د نسخ والا جواب بالكل صحيح نه دې.(²)
علامه توربشتي رحمه الله فرمائي.چه ددې بهتر جواب دا دې.چه دا ،، وأبيه،، دسره حلف نه دې.بلكه دوى دا لفظ صرف د كلام د مضبوطوالي دپاره استعمال كړې دې.(³)
پاتې شوه دا خبره چه نبي كريم ﷺ ته د نورو خلقو په نسبت د نور هم زيات احتياط ضرورت وو.چه د داسې كلماتو تلفظ هم اونه فرمائي.بيا هم دوى ځو ځو خله داسې كلمات ارشاد فرمائيلي دي.نو ښكاره دا ده.چه دا كلمات به هغوى د ممانعت نه وړاندې فرمائيلي وي.او ددې نه پس به ئې بالكليه ددې نه هم احتراز فرمائيلې وي.چه نور ناخبره خلق ددې نه په څه غلط فهمئ كښې مبتلا نشي.(⁴) والله اعلم.
⑥ امام العصر حضرت علامه كشميري رحمه الله فرمائي.چه دټولو نه غوره جواب د روم فاضل حسن چلپي رحمه الله د مطول په حاشيه كښې وركړې دې.(⁵) او علامه ابن عابدين شامي رحمه الله هم دا د ،،رد المحتار،، په شروع كښې نقل كړې دې.(⁶)ددې جواب خلاصه دا ده چه:
،،لعمري،، وغيره پشان د قسم الفاظو نه ممكن ده.چه د قسم صورت مراد وي.او ددې نه صرف د كلام تاكيد مقصود وي.خكه چه دا صوري قسم د كلام د تاكيد دپاره د ټولو نه زيات موثر دې.او د شرعي قسم د تاكيد په مقابله كښې په دې كښې احتياط هم دې.خكه

¹) فتح الباري(١\١٠٧) وعمدة القاري(١\٢٦٩) ـ
²) البدرالساري إلى فيض الباري(١\١٣٩) وأنوارالباري(٢\١٥٧) ـ
³) المصادرالسابقة)-
⁴) أنوارالباري (٢\١٥٧) والبدرالساري حاشيه فيض الباري(١\١٤٠) ـ
⁵) حاشية المطول لحسن الجلبي (٣٦) منشورات الرضى .قم. ايران) ـ
⁶) ردالمحتار على الدرالمحتار.فواتح الكتاب(١\١٣، ١٤) ـ

چه شرعي قسم پوره كول ضروري او واجب وي.دلته شرعي قسم مراد نه دې.او نه غيرالله ته په عظمت او لوئې شان كښې الله تعالى سره تشبيه وركول مقصود دى.چه د «من حلف بغير الله فقد أشرك» ممانعت. مخالفت لازم شي.

حاصل دا چه په ،، وأبيه،، كښې لغوى او صورى قسم دې.شرعي قسم نه دې.د رومبى نه مقصود كلام ښائسته كول. او مؤكد كول وى.د محلوف به هيڅ تعظيم مقصود نه وى او په دويم قسم سره د كلام تاكيد سره سره د محلوف به تعظيم هم مقصود وى.ممانعت په دې دويم قسم كښې دې.رومبى كښې نه دې.(١)

امام العصر علامه كشميرى رحمه الله فرمائى.چه ددې لغوى قسم ممانعت اگرچه نشته خو زما په نيز ددې نه هم د منع كيدو ضرورت دې.چه خلق په دې معامله كښې د كوتاهۍ نه كار وانخلى.(٢)

تر كومه پورې چه ددې خبرې د ثبوت تعلق دې.چه لغوى قسم سره صرف دكلام تاكيد. او ښائست مقصود وى.د محلوف به تعظيم ملحوظ نه وى.نو ددې دليل دا دې.چه د ډيرو شاعرانو په كلام كښې د دشمنانو او مذمومو خلقو دپاره هم ددوى د پلارانو سره د حلف طريقه مستعمل شوې ده.ښكاره ده.چه د چا هجو (ذم بيانول) مقصود وى.يا د هغوى د بدو ذكر وى.نو په داسې مقام باندې د ،، وأبيه،، يا ،، وأبيهم،، پشان الفاظو نه ددوى تعظيم هيڅ كله مقصود نشى كيدې. البته د كلام تزئين (او ښائست) ملحوظ كيدې شى.لكه چه د ابن مياده شعر دې:

أظنت سفاها من سفاهة رأيها لأهجوها لما هجتني محارب

فلا و أبيها ، إنني بعشيرتي ونفسي عن ذاك المقام لراغب (٣)

(يعنى محارب چه كله زما هجو اوكړه.(زما بد ئې اوويل).نو هغه د خپلې ناپوهتيا او جهالت په وجه باندې دا اوگنڑل.چه زه به دهغه هجو كوم.نه نه! زه خپل خان او خپل خاندان ددې حركت نه ډير اوچت گڼرم).

په قرآن كريم كښې د وارد شوو قسمونو په باره كښې د قاضى بيضاوى m تحقيق حضرت علامه كشميرى رحمه الله د قاضى بيضاوى رحمه الله نه په قرآن كريم كښې د وارد شوو قسمونو په سلسله كښې يو تحقيق رانقل كړې دى.د هغې حاصل دا دې چه: قرآن كريم كښې الله تعالى خومره قسمونه هم ذكر كړى دى.ښكاره ده.چه په هغې كښې الله تعالى ته د هغې تعظيم مقصود نه دې.بلكه هلته مقصد دغه څيزونه د شهادت په طور پيش كول دى.چه د روستو

---

(١) البدرالسارى (١١\١٣٩) وأنوارالبارى(١٢\١٥٧) _

(٢) أنوارالبارى(١٢\١٥٨) _

(٣) البدرى السارى(١١\١٤٠) وأنوارالبارى(١٢\١٥٨) _

ذكر كيدونكى خيز ثبوت او وضاحت ددې په رنړا كښې اوشى.هلته چه د فقهاو په نيز چه د معروف حلف كوم صورت دې هغه مقصود نه دې.()
حضرت شاه صاحب رحمه الله فرمائى.چه د قاضى بيضاوى رحمه الله دا تحقيق ډير ښه دې.ددې د منلو په صورت كښې به دا منل ضرورى وى.چه غلطى د نحويانو نه كيږى.چه هغوى دا ،، واو،، هم د قسم په واو كښې داخل كړې دې.چه په دې سره معهود .. واو.. طرف ته ذهن ګرځيږى.كه ددې په ځائې نې دا .. واو.. ..واو د شهادت.. ګرځولې وې نو هيڅ اعتراض به نه كيدو.او نه به داصل حقيقت په پيژندلو كښې هيڅ مشكل راپيښيدو ()،، والله أعلم و علمه أتم وأحكم،،_

٣٤ =بَاب اتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ مِنْ الْإِيمَانِ

د ذكر شوى باب د ماقبل سره مناسبت ددې نه وړاندې د،،باب الزكاة من الإسلام،، ذكر وو.ددې نه پس ،،اتباع الجنائز،، ذكر كولو كښې دې طرف ته اشاره كيدې شى.چه لكه څنګه چه زكاة سره د مسلمانانو فقيرانو حقوق ادا كولې شى.دغه شان .. اتباع الجنائز.. سره هم د مسلمانانو حق ادا كولې شى.()
يا دا اووايې:چه دواړو بابونو كښې دا قدر مشترك دې.چه زكاة هغه مسلمان ته وركولې شى.چه هغه معذور او مجبور وى.او د احتياج په وجه د مرى پشان دې.او عام طور باندې مړې هم مجبور او لاچار وى.()
علامه عينى رحمه الله فرمائى.چه په دواړو بابونو كښې مناسبت په دې طريقه دې.چه د انسان دوه حالتونه وى.حالت د ژوند او حالت د مرګ، په مخكنى باب كښې د دين دهغه اركانو ذكر دې.كوم چه بغير د واسطې نه په عمل كښې راوستلې شى.او ثواب حاصلولې شى.او په دې باب كښې هغه ثواب ذكر كړې شوې دې.كوم چه په واسطې د مړو ژوندو ته ملاويږى.()
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه امام بخارى رحمه الله د ايمانى شعبو ذكر فرمائى.تقريباً د اكثرو تراجمونه فارغ شو.اوس دوى په آخر كښې هم په دې سلسله كښې ،،بَاب اتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ مِنْ الْإِيمَانِ،، قائم كړې دې.څكه چه دا دټولونه آخرى عمل دې.كوم چه مومن سره په دنيا كښې راپيښيږى.()

) أنوارالبارى(١٥٨\٢) والبدرالسارى(١٤\١١) _
) المصادرالسابقة)
) إمدادالبارى(٦٧٩\١٤) _
) المصدرالسابق) وفضل البارى(٥٠٨\١١) _
) عمدة القارى(٢٧٠\١١) _
) فتح البارى(١٠٨\١١)

حافظ رحمه الله فرمائی چه امام بخاری رحمه الله ،،باب أداء الخمس من الإیمان،، ددې نه هم مؤخر کړې دې.چه ددې وجه به زه روستو بیان کړم.(۱) خو حافظ رحمه الله ددې وجه چرته هم نه ده ذکر کړې شیخ الحدیث مولانا محمد یونس صاحب مظاهری رحمه الله فرمائی.چه ددې توجیه زما په ذهن کښې دا راځي.چه اصل کښې جهاد کښې غنیمت راځي.او ددې نه خمس اوبنکلې کیږي.او قاعده دا ده.چه د جهاد ختمیدو نه پس دټولو نه وړاندې شهیدان دفن کولې شي او ددې نه پس غنیمتونه تقسیمیږي.او خمس وغیره اوبنکلې کیږي.چونکه د خمس اداکول په میدان جهاد کښې د شهیدانو د دفن کولو نه پس کیږي.په دې وجه امام بخاری رحمه الله د ،،اتباع الجنائز،، د ترجمې نه پس د ،،أداء الخمس،، ترجمه قائم کړې ده.والله تعالی اعلم.

٤٧_حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَلِيٍّ الْمَنْجُوفِيُّ قَالَ حَدَّثَنَا رَوْحٌ قَالَ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنِ الْحَسَنِ وَمُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ(۲) أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ (مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا وَيَفْرُغَ مِنْ دَفْنِهَا فَإِنَّهُ يَرْجِعُ مِنَ الْأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ أَنْ تُدْفَنَ فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ تَابَعَهُ عُثْمَانُ الْمُؤَذِّنُ قَالَ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ.[١٢٦١،١٢٦٠]

رجال الحديث

① احمد بن عبدالله بن علی المنجوفی:دا ابوبکر احمد بن عبدالله بن علی بن سوید بن منجوف سدوسی منجوفی بصری دي.کله اختصار کولو سره علی بن عبدالله بن منجوف هم ونیلې کیږي.(۳)

دوی د روح بن عباده. سعید بن عامر ضُبعی. ابوداؤد طیالسی. ابو عاصم ضحاک بن

---

۱) المصدر السابق) _

۲) الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی صحيحه فی كتاب الجنائز. باب فضل إتباع الجنائز رقم ١٣٢٣ وباب من انتظر حتی تدفن رقم ١٣٢٥ ومسلم فی صحيحه (٣٠٧\١) كتاب الجنائز باب فی حصول ثواب القيراط بالصلاة علی الميت والقيراطين بالرجوع بعد دفنه والنسائی فی سننه (٢٧٥\١) كتاب الجنائز باب فضل من تبع جنازة وفی (٢٧١\٢) وكتاب الإيمان وشرائعه باب شهود الجنائز وأبوداود فی سننه فی كتاب الجنائز باب فضل الصلاة علی الجنائز وتشييعها رقم(٣١٦٨ و ٣١٦٩)والترمذی فی جامعه فی كتاب الجنائز باب ما جاء فی فضل الصلاة علی الجنازة رقم(١٠٤٠) وابن ماجه فی سننه فی كتاب الجنائز باب ما جاء فی ثواب من صلی علی جنازة ومن انتظر دفنها رقم ١٥٣٩) _

۳) تهذيب الكمال(٣٦٥\١) وتهذيب التهذيب(٤٨\١) _

مخلد. عبدالرحمن بن مهدی. عبدالملک قریب اصمعی. او یحي بن سعید القطان رحمهم الله وغیر نه روایت د حدیث کوی.[1]
ددوی نه امام بخاری. امام ابوداؤد. امام نسائی. محمد بن اسحاق بن خزیمه. او یحي بن محمد صاعد رحمهم الله وغیره روایت کوی.[2]
ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې.[3]
ابن اسحاق الحبال رحمه الله فرمائی.،،بصری ثقة،،[4]
امام نسائی رحمه الله فرمائی.،،صالح،،[5]
حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی.،،صدوق،،[6]
په ۲۵۲ھ کښې ددوی وفات شوې دې.[7] رحمة الله علیه.

④ روح: دا ابومحمد روح (بفتح الراء المهملة) بن عباده (بضم العین المهملة) بن العلاء بن حسان بن عمرو بن مرثد قیسی بصری دې.[8]
دوی د اسامه بن زید مدنی. حسین معلم. عوف اعرابی. علی بن سوید بن منجوف. سعید بن ابی عروبه. حجاج الصواف. حماد بن سلمه. حماد بن زید. سفیان ثوری. سفیان بن عیینه. شعبه بن الحجاج. محمد بن عبدالرحمن بن ابی ذئب. مالک بن انس. امام اوزاعی. او ابن جریج رحمهم الله وغیره نه حدیث حاصل کړی دی.[9]
ددوی نه د مدحدثینو یو لوئې جماعت فیض حاصل کړې دې چه په دې کښې ابراهیم بن دینار. ابراهیم بن سعید جوهری، ابراهیم بن یعقوب جوزجانی، احمد بن عبدالله منجوفی، اسحاق بن راهویه، اسحاق بن منصور الکوسج، حسن بن الصباح البزار. حجاج بن الشاعر. حسن بن علی الحلوانی، ابو خیثمه زهیر بن حرب، عبدالله بن محمد المسندی، ابو قلابه عبدالملک بن محمد الرقاشی. عبد بن حمید، علی بن المدینی. او یعقوب بن

---

[1] المصدرالسابق) _
[2] المصادرالسابقة)
[3] الثقات لابن حبان(۸\۲۰۸) _
[4] تهذیب التهذیب(۱۱\۴۸) _
[5] تهذیب الکمال (۳۶۶\۱۱) وتهذیب التهذیب (۱۱\۴۸) والکاشف (۱۹۷\۱۱) رقم ۴۹ وخلاصة الخزرجی (ص.۸)
[6] تقریب التهذیب (ص.۸۱) رقم ۵۸) _
[7] تهذیب الکمال (۳۶۶\۱۱) وغیره کتب رجال) _
[8] تهذیب الکمال(۲۳۸\۹) وغیره)-
[9] تهذیب الکمال(۲۳۹\۹) وسیرأعلام النبلاء (۴۰۲\۹.۴۰۳) _

شيبه سدوسی رحمه الله وغیره دی.(۱)

محمد بن سعد رحمه الله فرمائی.،،وكان ثقة إن شاء الله،،(۲)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.،،الحافظ الصدوق الإمام.....،،(۳)

ذهبی رحمه الله لیکلی دی.،،ثقة مشهور، حافظ من علماء أهل البصرة،،(۴)

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.(۵)

حافظ ا بن حجر رحمه الله فرمائی.،،ثقة فاضل له تصانيف،،(۶)

حافظ خطیب بغدادی رحمه الله فرمائی.«وكان كثير الحديث، وصنف الكتب في السنن والأحكام، وجمع التفسير، وكان ثقة»(۷)

امام یحي بن معین رحمه الله فرمائی.«صدوق وليس به بأس، حديثه يدل على صدقه.....»(۸) دغه شان ددوی نه نقل دی.،،روح بن عبادة صدوق ثقة،،(۹)

امام احمد رحمه الله فرمائی.«لم يكن به بأس، لم يكن متهما بشئ من هذا، يعني الكذب»(۱۰)

امام ابن المدینی رحمه الله فرمائی.«من المحدثين قوم لم يزالوا الحديث، لم يشغلوا عنه نشأوا، فطلبوا، ثم صنفوا، ثم حدثوا، منهم: روح بن عبادة»(۱۱)

خلاصه دا چه روح بن عباده رحمه الله د جمهورو محدثینو او د جرح او تعدیل امامانو په نیز ثقه او فاضل محدث دې.

البته بعضو حضراتو په دوی باندې کلام کړې دې.خو عام طور باندې محدثینو دا سې کلام رد کړې دې.لکه چه د امام یحي القطان رحمه الله په باره کښې ونیلې شی.چه دوی د روح په باره کښې کلام کړې دې.

---

۱) تهذيب الكمال (۱۰ ۲۴۰. ۲۴۱) وسير أعلام النبلاء (۹ ۴۰۲) _
۲) طبقات ابن سعد(۷ ۲۶۹) _
۳) سير أعلام النبلاء(۹ ۴۰۲) _
۴) ميزان الإعتدال (۲ ۵۸) _
۵) الثقات لابن حبان(۸ ۲۴۳) _
۶) تقريب التهذيب(۲۱۱) رقم ۱۹۶۲) _
۷) تاريخ بغداد(۸ ۴۰۱) رقم ۴۵۰۳) _
۸) سير أعلام النبلاء (۹ ۴۰۴) وتاريخ بغداد(۸ ۴۰۴) _
۹) تاريخ بغداد(۸ ۴۰۶) _
۱۰) تاريخ بغداد(۸ ۴۰۵) _
۱۱) تاريخ بغداد (۸ ۴۰۳. ۴۰۴)وتهذيب الكمال(۹ ۲۴۲) _

خو يحي بن معين رحمه الله ددوی تردید کړې دې او فرمائيلي ئې دی.«باطل، ما تكلم يحي القطان فيه بشئ هو صدوق»([1])

دغه شان د عبدالله قواريري نه منقول دی چه دوی به د روح بن عباده نه روايت نه کولو.

امام يحي بن معين رحمه الله ددوی تردید کوی.فرمائی چه «القواريري يعني عبيدالله يحدث من عشرين شيخاً من الكذابين، ثم يقول، لا أحدث عن روح بن عبادة»([2])

مطلب دا دې چه د عبيدالله قواريري دا وئيل جرح نه ده.چه زه د روح بن عباده نه روايت نه کوم خکه چه ددوی مقام داسې نه دې چه ددوی قول قبول کړې شی.خکه چه دې خو د شلو دروغجنو شيخانو نه روايت کوی.دوی دپاره په روح باندې د جرح کولو څه جواز جوړيږی؟

دغه شان عفان بن مسلم هم په دوی باندې جرح کړې ده.فرمائيلی ئې دی.«هو أحسن حديثاً عندي من خالد بن الحارث، و أحسن حديثاً من يزيد بن زريع،فلم تركناه يعني كأنه يطعن عليه»مطلب دا دې چه عفان بن مسلم په دوی باندې جرح کولو کښې فرمائيلي دی چه دوی د خالد بن الحارث او يزد بن زريع نه غوره دی.ددې باوجود مونږ هغه پريخودو.آخر څه خبره خو به وی!!

دا کلام ابو خيثمه رحمه الله رد کړې ده.فرمائيلی ئې دی.«ليس هذا بحجة كل من تركته أنت ينبغي أن يترك؟» يعني دا خو څه حجت او دليل نه دې چه کوم کس تاسو پريږدئ.هغه دې نا قابل اعتبار جوړ شی.

يعقوب بن شيبه رحمه الله ددې واقعې نقل کولو نه پس فرمائيلی دی.«و أحسب أن عفان لو كان عنده حجة مما يسقط بها روح بن عبادة لاحتج بها في ذالك الوقت»([3]) يعنی که په دې موقعه باندې عفان بن مسلم سره څه يقيني او خاص دليل وې.نو ضرور به ئې ذکرکړې وې.خو چونکه څه داسې خبره نه وه.په دې وجه ئې پيش نکړې شوه.

بيا دلته دا وضاحت هم ضروری دې.چه يعقوب بن شيبه د عفان بن مسلم په باره کښې نقل کړی دی.چه دوی روح بن عباده روستو قوی ګرځولي دې.([4])

دغه شان د عبدالرحمن بن مهدی رحمه الله نه په يو سند کښې د وهم په بنياد باندې ددوی نه جرح منقول ده.حافظ ذهبی رحمه الله په دې باندې تبصره کولو کښې فرمائی:«و هذا تعنت وقلة إنصاف في حق حافظ قد روى ألوفاً كثيرة من الحديث، فوهم في إسناد، فروح لو أخطأ في عدة أحاديث في سعة علمه:

---

[1]) تاريخ بغداد (۸\۴۰۴) وتهذيب الكمال(۹\۲۴۲) وسير أعلام النبلاء(۹\۴۰۴) _

[2]) تاريخ بغداد(۸\۴۰۳) وتهذيب الكمال(۹\۲۴۳) وسير أعلام النبلاء(۴۰۴، ۴۰۵) وميزان الإعتدال(۲\۵۹)

[3]) تاريخ بغداد (۸\۴۰۳) وتهذيب الكمال(۹\۲۴۳، ۲۴۴) وسير أعلام النبلاء (۹\۴۰۵) _

[4]) ميزان الإعتدال(۲\۵۹) _

لاختفى له ذالك، أسوة نظرائه ولسنا نقول: إن رتبة روح في الحفظ و الإتقان كرتبة يحى القطان، بل ما هو بدون عبدالرزاق ولا أبي النضر» (۱)

حاصل د مطلب دا دې چه روح بن عباده صرف د یو حدیث په سند کښې د وهم په وجه مجروح ګرځول د تشدد انتهاء ده. او ددوی په حق کښې سخته نا انصافي ده چه هغه په زرګاو حدیثونه نقل کوی. ددوی نه صرف په یو کښې نه. که په ګڼړو احادیثو کښې هم غلطي شوې وه نو ددوی په مثل د نورو محدثینو پشان به دا هم قبلولې شو خو زمونږ د دې دفاع مطلب دا نه دې چه دا د یحي القطان د مرتبې دې بلکه مونږ خو صرف دا وایو چه د امام عبدالرزاق او د أبو النضر نه کمتر هم نه دې.

دغه شان ابوحاتم رازی رحمه الله فرمائی. ،،لايحتج به،، (۲)

خو ښکاره ده چه دا قول د جرح او تعدیل هغه ټولو امامانو په مقابله کښې حجت نشي جوړیدې. کومو چه ددوی توثیق او تعدیل کړې دې. او دا ئې مقبول ګرځولې دې.

دغه شان امام نسائی رحمه الله فرمائی. ،، روح ليس بالقوى،، (۳)

خو اول خو د نورو محدثینو په مقابله کښې ددې هم څه خاص اهمیت نشته. بیا ددې خبرې لحاظ ساتل هم پکار دی. چه ممکن ده. چه امام نسائی رحمه الله دوی ته،،ليس بالقوى،، ونیلو سره د قوت او وثاقت اعلی درجه کښې کیدو نه انکار کړې وی. او ددې خبرې نه هیڅ څوك انکار نه کوی. هم دا وجه ده. چه حافظ ذهبی رحمه الله د امام نسائی رحمه الله قول نقل کوی. او فرمائی چه «قلت نعم، عبدالرحمن بن مهدى أقوى منه، وأما هو، فصدوق صاحب حديث» (۴)

په آخر کښې مونږ د خلاصې په طور د حافظ ابن حجر رحمه الله کلام نقل کوو. چه په دې سره به واضحه شی چه روح بن عباده د محتج به راویانو څنې دې. هغه فرمائی. «وكان أحد الأئمة وثقه على بن المديني، ويحى بن معين، ويعقوب بن شيبة، وأبوعاصم، وابن سعد، والبزار، وأثنى عليه أحمد وغيره وكان عفان يطعن عليه، فرد ذالك عليه ابوخيثمة فسكت عنه، وقال أبو مسعود: طعن عليه إثنا عشر رجلا فلم ينفذ قولهم فيه قلت، القائل ابن حجر، احتج به الأئمة كلهم» (۵)

د روح بن عباده رحمه الله وفات په ۲۰۵ھ یا ۲۰۷ھ کښې اوشو. رومبې قول اصح دې. (۶) والله اعلم. رحمه الله تعالى رحمة واسعة.

---

(۱) سير أعلام النبلاء (۹\۴۰۹) ـ
(۲) ميزان الإعتدالا (۲\۵۹) ـ وسير أعلام النبلاء (۹\۴۰۶)
(۳) المصادر السابقة) ـ
(۴) ميزان الإعتدال (۲\۵۹) ـ
(۵) هدى السارى (ص ۴۰۲) ـ
(۶) تهذيب اكمال (۲۴۵\۱) وتاريخ بغداد (۴۰۶\۱) وغيره كتب رجال) ـ

④ عوف: دا عوف بن ابی جمیلة العبدی الهجری البصری دی.ابوسهل ددوی کنیت دی.د عوف اعرابی په نوم سره مشهور دی دی د اعرابو څخه نه وو.[1] ددوی د فصاحت په وجه [2] یا په اعرابو کښې دتللو په وجه دوی ته اعرابی ویلې شی.[3]
ددوی د پلار ابوجمیله نوم بعضو حضراتو رزینه خودلې دی.او بعضو حضراتو بندویه یاد کړې دی.او د بعضو حضراتو وینا ده.چه ددوی د پلار نوم خو رزینه ده.او بندویه ددوی د پلار نوم دی.[4]
دوی حدیثونه د اسحاق بن سوید عدوی. انس بن سیرین. محمد بن سیرین. حسن بصری. ابو رجاء العطاردی. ابوالعالیه. ابو عثمان نهدی. ابو نضره عبدی. علقمه بن وائل بن حجر او د سعید بن ابی الحسن بصری رحمهم الله وغیره نه اوریدلی دی.[5]
ددوی نه د حدیثو علم حاصلونکو کښې اسحاق بن یوسف الازرق. اسماعیل بن علیه. بشربن المفضل. روح بن عباده. شعبه بن الحجاج. ابو عاصم ضحاك بن مخلد. عبدالله بن المبارك. عثمان بن الهیثم المؤذن. فضیل بن عیاض. محمد به جعفر بن غندر. محمد بن عبدالله انصاری. معتمر بن سلیمان. نضر بن شمیل. هوذه بن خلیفه. یحي بن سعید القطان. یزید بن زریع. ابوزید انصاری نحوی او ابوسفیان حمیری رحمهم الله وغیره دی.[6]
امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی.،،ثقة صالح الحدیث،،[7]
امام یحي بن معین رحمه الله فرمائی.،،ثقة،،[8]
امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.،،صدوق صالح،،[9]
امام نسائی رحمه الله فرمائی.،،ثقة ثبت،،[10]
امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائی.((وکان ثقة کثیرالحدیث وقال بعضهم یرفع أمره ویقول: إنه لیجیئ عن

---

[1] تهذیب اکمال(۲۲\۴۳۷) _
[2] فتح الباری(۱\۱۰۹) وعمدة القاری(۱\۲۷۱) _
[3] قال الإمام برهان الدین سبط ابن العجمی :إنما قیل له الأعرابی لدخوله درب الأعراب قاله ابن دقیق العید حاشیة الکاشف (۲\۱۰۱) _
[4] تهذیب الکمال(۲۲\۴۳۷، ۴۳۸)
[5] تهذیب الکمال(۲۲\۴۳۸ والکاشف (۲\۱۰۱) رقم ۴۳۰۹)
[6] تهذیب الکمال(۲۲\۴۳۹)
[7] تهذیب اکمال(۲۲\۴۴۰) وتهذیب التهذیب(۸\۱۶۷)
[8] المصادرالسابقة)
[9] المصادرالسابقة)-
[10] المصادرالسابقة) والکاشف (۲\۱۰۱) رقم ۴۳۰۹) -

الحسن بشئ مايجئ به أحد»[1]
مروان بن معاويه رحمه الله فرمائى.،،كان يسمى الصدوق،،[2]
محمد بن عبدالله انصارى رحمه الله فرمائى.،،وكان يقال له : عوف الصدوق»[3]
امام ابن حبان رحمه الله دوى لره په كتاب الثقات كښې ذكر كړى دې.[4]
عوف اعرابى باوجود د ثقه او صالح كيدو قدرى وو.او په دوى كښې څه معمولى تشيع هم وه.لكه محمد بن سعد رحمه الله فرمائى.،،وكان يتشيع،،[5]
محمد بن عبدالله انصارى رحمه الله فرمائى.«رأيت داؤد بن أبى هند يضرب عوفاً الأعرابى ويقول: ويلك يا قدرى، ويلك يا قدرى»[6]
بندار رحمه الله فرمائى.«والله لقد كان عوف قدرياً رافضياً شيطاناً»[7]
د حضرت عبدالله بن المبارك رحمه الله نه نقل دى.«والله ما رضى عوف ببدعة، حتى كانت فيه بدعتان: كان قدرياً وكان شيعياً»[8]
خو چونكه په دې خپل بدعت كښې غلو كونكې او داعى نه وو. [9]
او ددوى په صدق و امانت باندې اتفاق وو.په دې وجه اصحابو د اصول سته اونورو محدثينو ددوى روايات قبول كړى دى.او قابل د استدلال او احتجاج ئې شمار كړى دى.
لكه چه امام مسلم رحمه الله د خپل صحيح په مقدمه كښې قول فيصل ذكر كړې دې.هغه فرمائى «إذا وازنت بين الأقران كابن عون و أيوب السختيانى، مع عوف بن أبى جميلة و أشعث الحمرانى، وهما صاحبا الحسن وابن سيرين، كما أن ابن عون و أيوب صاحباهما، إلا أن البون بينهما و بين هذين بعيد فى كمال الفضل و صحة النقل، وإن كان عوف و أشعث غير مدفوعين، عن صدق و أمانة عند أهل العلم...»[10]

---

[1]) طبقات ابن سعد(٧\٢٥٨)
[2]) تهذيب الكمال(٢٢\٤٤٠) وتهذيب التهذيب(١٦٧\١)
[3]) المصادر السابقة) ـ
[4]) الثقات لابن حبان (٧\٢٩٦) ـ
[5]) الطبقات لابن سعد(٧\٢٥٨) ـ
[6]) ميزان الإعتدال(٣\٣٠٥) وتهذيب التهذيب(١٦٧\٨)
[7]) ميزان الإعتدال(٣\٣٠٥) وتهذيب التهذيب(١٦٧\٨)
[8]) ميزان الاعتدال(٣\٣٠٥) وتهذيب التهذيب(١٦٧\١)
[9]) قال العباس الدورى سمعت رجلاً سأل روح بن عبادة فقال أبا محمد عوف الأعرابى كان يتشيع ؟ فسكت روح هنيهة ثم قال والله لقد كان يذكر فضائل عثمان كثيراً (تاريخ الدورى(١٢\٤٦٠) كذا فى تعليقات تهذيب الكمال(٢٢\٤٤٠)
[10]) مقدمة صحيح مسلم (٤\١١)

دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ،،احتج به الجماعة،،(۱)
په ۱۴۶ه يا ۱۴۷ه كښې ددوى وفات اوشو (۲)

④ الحسن: دا مشهور تابعى حضرت ابو سعيد الحسن بن ابى الحسن يسار بصرى دې. ددوى تفصيلى حالات په ،،باب المعاصي من أمر الجاهلية،، كښې تير شوى دى.

⑤ محمد: دا مشهور تابعى عالم. امام. شيخ الاسلام ابوبكر محمد بن سيرين انصارى بصرى دې. ددوى پلار سيرين دعين التمر نه قيدى راغلې وو. حضرت انس رضي الله عنه دوى مكاتب جوړ كړل. په بدل كتابت ادا كولو سره دا آزاد شو. د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه آزادې شوې وينځې سره ددوى نكاح اوشوه.(۳)
ددې نكاح خصوصيت دا وو. چه صفيه رخصتيدو په وخت دريو ازواج مطهراتو تياره كړله. خوشبو ئې اولګوله. او دعاګانې ورته اوكړې. او په دې نكاح كښې اتلس بدرى صحابه كرام رضي الله عنهم شريك شو. حضرت ابى بن كعب رضي الله عنه دعا اوكړله. او باقى حضراتو به آمين ونيلې.(۴)
د امام محمد بن سيرين رحمه الله ولادت د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په آخر كښې اوشو. كله چه ددوى د خلافت دوه كاله باقى وو.(۵) او دوى تقريباً د ديرشو صحابه كرامو زيارت كړې دې. (۶)
امام محمد بن سيرين رحمه الله د حضرت انس. حضرت جندب بن عبدالله بجلى. حضرت حذيفه بن اليمان. حضرت حسن بن على بن ابى طالب. حضرت رافع بن خديج. حضرت زيد بن ثابت. حضرت ثمره بن جندب. حضرت عبدالله بن الزبير. حضرت عبدالله بن عمر. حضرت عدى بن حاتم. حضرت معاويه بن ابى سفيان. حضرت ابوبكره. حضرت ابوهريره. او د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنهم نه علاوه په تابعينو كښې د عبيده سلمانى. قاضى شريح. عكرمه مولى ابن عباس. علقمه بن قيس نخعى. د خپل رور معبد بن سيرين او د خپلې خور حفصه بنت سيرين رحمهم الله نه حديثونه روايت كړى دى. (۷)
ددوى نه خالد حذاء. اشعث بن سوار. ايوب سختيانى. ثابت بنانى. جرير بن حازم. دواؤد بن ابى هند. ربيع بن صبيح. سليمان تيمى. عاصم احول. امام شعبى. عبدالله بن شبرمه.

---

۱) هدى السارى(۴۳۳)
۲) طبقات ابن سعد(۲۵۸\۷) وتهذيب الكمال(۴۴۱\۲۲) وغيره)
۳) تهذيب الأسماء واللغات (۸۳\۱) ووفيات الأعيان (۱۸۱\۴) وطبقات ابن سعد(۱۹۳\۷)
۴) المصادرالسابقة)
۵) تذكرة الحافظ (۷۸\۱) وسيرأعلام النبلاء (۶۰۷\۴) وتهذيب الأسماء (۸۳\۱) ووفيات الأعيان (۱۸۲\۴) والثقات لابن حبان(۳۴۹\۵)
۶) تهذيب الكمال(۳۴۸\۲۵) سيرأعلام النبلاء (۶۰۷\۴) وتهذيب الأسماء(۸۳\۱)
۷) تهذيب الكمال(۳۴۵\۲۵، ۳۴۷) وسيرأعلاء النبلاء (۶۰۶\۴) وتذكرة الحفاظ(۷۸\۱) وتهذيب الأسماء (۸۳\۱)

عبدالله بن عون، امام اوزاعى، عمران القطان، عوف اعرابى، قتاده بن دعامه، مالك بن دينار، هشام بن حسان، يونس بن عبيد، او ابوهلال راسبى رحمهم الله نه علاوه ډير حضراتو علم حديث حاصل كړې دې.(١)

دوى چه د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه كوم روايتونه كوى په هغې كښې عام طور باندې ،،نبئت عن ابن عباس،، وائى.د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه چونكه ددوى سماع نشته.په دې وجه داسې ټول روايتونه غير موصوله دى.او په مينځ كښې د عكرمه مولى ابن عباس واسطه ده.(٢)

بعضو حضراتو ددوى د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنهما نه د سماع انكار كړې دې.خو ددوى دا انكار صحيح نه دى.(٣)

د امامحمد بن سيرين رحمه الله په ثقاهت او جلالت او امامت باندې اتفاق دې. دوى د احاديث بالمعنى روايت كولو هم قائل نه وو.بلكه بلفظه به ئې روايت كولو.(٤)

هشام بن حسان رحمه الله به فرمائيل.((حدثني أصدق من أدركت من البشر: محمد بن سيرين))(٥)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى.((محمد بن سيرين من الثقات))(٦)

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى.،،ثقة،،(٧)

امام عجلى رحمه الله فرمائى.((بصرى، تابعى، ثقة وهو من أروى الناس عن شريح وعبيدة))(٨)

امام محمدبن سعد رحمه الله فرمائى.((وكان ثقة، مأموناً، عالياً، رفيعاً، فقيهاً، اماماً، كثير العلم، ورعاً))(٩)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.((ثقة، حجة كبير العلم، ورع، بعيد الصيت))(١٠)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.((وكان فقيهاً، اماماً، غزير العلم، ثقة، ثبتاً، علامة فى التعبير، رأساً فى الورع))(١١)

---

(١) المصادرالسابقة)
(٢) تهذيب الكمال(٣٤٩\٢٥) وتهذيب الأسماء (٨٣\١١) وطبقات ابن سعد(١٩٤\٧)
(٣) حاشية ابن العجمى وتعليقات الشيخ محمد عوامة على الكاشف للذهبى(١٧٨\٢. ١٨٠)
(٤) طبقات ابن سعد(١٩٤\٧) وتهذيب الكمال(٣٤٩\٢٥. ٣٥٠)
(٥)تهذيب الكمال(٣٥٠ \١٢٥) وسيرأعلام النبلاء (٦٠٨\٤)
(٦) تهذيب الكمال(٣٥٠\١٢)
(٧) المصادرالسابقة)
(٨) المصادرالسابقه)_
(٩)طبقات ابن سعد(١٩٣\٧)
(١٠)الكاشف (١٧٨\٢) رقم ٤٨٩٨)
(١١) تذكرة الحفاظ (٧٨\١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ((ثقة، ثبت، عابد، كبير القدر، كان لايرى الرواية بالمعنى))([1])
امام محمد بن سيرين رحمه الله چه لکه څنګه په حدیث کښې د جبال علم(لويو عالمانو) څخه وو دغه شان په زهد او تقوى. خشيت الهى. خوف آخرت. کثرت عبادت او احتياط فى الدين کښې د لوئې شان مالك وو
امام محمد بن جرير طبرى رحمه الله بالکل صحيح فرمائيلى دى ((كان ابن سيرين فقيهاً، عالماً، ورعاً، اديباً، كثير الحديث، صدوقاً، شهد له أهل العلم، والفضل، بذالك، وهو حجة))([2])
امام ابن سيرين رحمه الله ته الله تعالى د خوبونو د تعبير خاص ملکه ورکړې وه په دې سلسله کښې ددوى ډير واقعات مشهور دى.([3]) ددوى يو کتاب هم د .. تعبير منام .. په موضوع سره چاپ شوې دې.چه ددې نوم ابن النديم .. تعبير الرؤيا .. ليکلې دې.([4]) او صاحب د کشف الظنون او صاحب د هدية العارفين په .. جوامع التعبير .. کښې ليکلى دى.([5]) دلته ددې وضاحت هم ضرورى دې. چه د خوبونو د تعبير په موضوع باندې ددوى طرف ته منسوب د ،،منتخب الكلام فى تفسير الأحكام،، نوم سره هم يو کتاب چاپ شوې ملاويږى چه دا په حقيقت کښې ددوى نه دې.([6])
په شوال ۱۱۰ه کښې ددوى وفات اوشو.([7]) رحمه الله تعالى رحمة واسعة۔
⑨ حضرت ابوهريره رضی الله عنه تفصيلى حالات د ،،باب أمور الإيمان،، لاندې تير شوى دى.([8])

قوله: حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنْ الْحَسَنِ وَمُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: عوف اعرابى د حسن بصرى او محمد بن سيرين نه روايت کوى.او حسن بصرى او محمد بن سيرين دواړه د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت کوى.
وړاندې په ،،باب المعاصى من أمر الجاهلية،، کښې د حضرت حسن بصرى رحمه الله د حالاتو لاندې دا خبره تيره شوې ده.چه د حضرت حسن بصرى رحمه الله سماع د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه ثابت نه ده.
البته محمد بن سيرين رحمه الله ته ددوى نه د سماع شرف حاصل دې.دلته د امام بخارى رحمه الله

---

[1] تقريب التهذيب(۴۸۳) رقم ۵۹۴۷)
[2] سير أعلام النبلاء (۴\۶۱۱)
[3] د يو څو واقعاتو دپاره اوګورئ سير أعلام النبلاء (۴\۶۱۷، ۶۱۸)
[4] كتاب الفهرست لابن النديم (ص.۳۷۸)
[5] كشف الظنون (۱\۶۱۱) وهدية العارفين(۶\۷)
[6] سير أعلام النبلاء للزركلى (۶\۱۵۴)
[7] وفيات الأعيان (۴\۱۸۲) وطبقات ابن سعد(۷\۲۰۶) وغيره كتب رجال)
[8] كشف البارى(ج۱\۶۵۹، ۶۶۳)

اعتماد د محمد بن سیرین رحمه الله په روایت باندې دې.خو چونکه عوف اعرابی رحمه الله په دې روایت نقل کولو کښې د دواړو ذکرکوی.په دې وجه امام بخاری رحمه الله هم دواړه ذکر کړل

قوله أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اتَّبَعَ جَنَازَةَ مُسْلِمٍ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا وَيَفْرُغَ مِنْ دَفْنِهَا فَإِنَّهُ يَرْجِعُ مِنَ الْأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ: یعنی رسول الله ﷺ اوفرمائیل.چه کوم سړې ایمان او احتساب. یعنی د ثواب په امید او یقین سره د یو مسلمان جنازې پسې شاته لاړ شی.هغه سره د مونځ کولو او دفن نه د فارغ کیدو پورې پاتې شی.نو هغه به دوه قیراطه ثواب اخلی.او واپس کیږی به.

..اتباع.. په عرف کښې شاته تللو ته وائی.هم ددې نه بعضو عالمانو استدلال کړې دې او فرمائیلی ئې دی.چه په جنازو کښې مړی پسې شاته تلل افضل دی.اوهم دادحنفیانومسلک دې

جنازې پسې شاته تلل افضل دی اوکه وړاندې په دې مسئله کښې اختلاف دې.چه په جنازو کښې مړی پسې شاته تلل افضل دی.اوکه وړاندې تلل افضل دی:① دسفیان ثوری رحمه الله په نیز دواړو صورتونو کښې اختیار دې.هیڅ صورت ته په بل باندې افضلیت حاصل نه دې. امام بخاری رحمه الله هم دې رائې طرف ته مائل دې.② امام احمد او امام مالک رحمهما الله فرمائی. چه پیدل تلونکې به وړاندې ځی.او سور به شاته ځی.③ د امام شافعی رحمه الله په نیز که سور وی او که پیدل وی.مطلقاً وړاندې تلل افضل دی.④ د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز مطلقاً شاته تلل افضل دی. (۱)

د فقهاو دلائل دامام سفیان ثوری رحمه الله استدلال د حضرت انس رضی الله عنه د اثر نه دې.هغه فرمائی

«إنما أنت مشيع، فامش إن شئت أمامها، وإن شئت خلفها، وإن شئت عن يمينها، وإن شئت عن يسارها» (۲)

د امام احمد او امام مالک رحمهما الله دلیل غالباً د حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه روایت دې.

«أن النبي ﷺ قال: الراكب يسير خلف الجنازة، والماشي خلفها، وأمامها، وعن يمينها، وعن يسارها قريبا منها....» (۳)

د حضرت امام شافعی رحمه الله او ددوی د اصحابو استدلال د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روایت نه دې.**«رأيت النبي ﷺ وأبا بكر وعمر يمشون أمام الجنازة»** (۴)

---

۱) دمذاهبو د تفصیل دپاره اوګورئ (التعليق الممجد على مؤطاء الإمام حمد (ص.۱۶۸) أبواب الجنائز باب المشى بالجنائز ولامشى معها وأوجز المسالك (۴\۲۰۸. ۲۰۹) المشى أمام الجناة)

۲) مصنف عبدالرزاق (۳\۴۴۵) كتاب الجنائز. باب المشى أمام الجنازة)

۳) سنن أبى داود كتاب الجنائز. باب امشى أمام الجنازة رقم ۳۱۸۰)

۴) سنن النسائى (۱\۲۷۵) كتاب الجنائز مكان امشاى من الجنازة وسنن أبى داود كتاب الجنائز باب المشى أمام الجنازة رقم ۳۱۷۹) وجامع الترمذى كتاب الجنائز باب ما جاء فى المشى أمام الجنازة رقم ۱۰۰۷ (و۱۰۰۸. ۱۰۰۹) وسنن ابن ماجه كتاب الجنائز باب ما جاء فى المشى أمام الجنازة رقم ۱۴۸۲)

حضرات شوافع دا هم فرمائي چه جنازه اوړونکی په اصل کښې شفعاء دی.او شفعاء د مشفوع له وړاندې خی.نو د جنازې نه وړاندې تلل به افضل وی.(١)

د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله او ددوی د اصحابو استدلال د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه مرفوع روایت نه دې.((الجنازة متبوعة ولا تتبع وليس منا من تقدمها))(٢)

په یو طریق کښې ددوی الفاظ دا دی.((إنما هي متبوعة وليست بتابعة وليس معها من تقدمها))(٣)

دغه شان د طاؤس رحمه الله نه نقل دی.((ما مشى رسول الله ﷺ في جنازة حتى مات، إلا خلف الجنازة))(٤)

د حضرت علی رضی الله عنه نه نقل دی.((إن فضل الماشي خلفها على الذي يمشي أمامها كفضل صلاة الجماعة على الفذ....))(٥)

ترکومې پورې چه د حضرت انس رضی الله عنه د اثر تعلق دې.چه په دې کښې هر طرف ته د تللو اختیار ورکړې شوې دې.نو دا د جواز د بیان دپاره دې.چه ددې قول قائل دی.پاتې شو د افضلیت تعلق نو ددې دپاره چونکه نور روایات وارد شوی دی.په دې وجه به دا روایات فیصل ګرځولې شی.

دغه شان د مغیره بن شعبه رضی الله عنه روایت هم په بیان جواز باندې محمول دې.ددې نه هم د افضلیت ثبوت نه کیږی.

د حضرت امام شافعی رحمه الله مستدل روایت کوم چه د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه مرفوعاً نقل دې.په دې باره کښې کلام دې.خکه چه امام ترمذی رحمه الله تصریح کړې ده.چه دا حدیث مرفوع نه دې.بلکه د امام زهری رحمه الله نه مرسلاً نقل دې.او هم دا اصح دې. (٦) او شوافع عام طور باندې مراسیل حجت نه منی.

او که قابل د استدلال اومنلې شی.نو ددې نه د افضلیت اثبات نشی کیدې. بلکه په بیان جواز باندې محمول کیدې شی.دغه شان په دې کښې تاویل هم کیدې شی.چه دځه عذر په وجه ئې داسې کړې وی.لکه څنګه چه د حضرت علی رضی الله عنه نه منقول دی.عبدالرحمن بن ابزاء فرمائی:((كنت مع علي في جنازة قال: وعلي آخذ بيدي، ونحن خلفها، وأبوبكر وعمر يمشيان أمامها، فقال،

---

(١) بدائع الصنائع (١\٣١٠) فصل في حمله على الجنازة)

(٢) جامع الترمذي كتاب الجنائز باب ما جاء في المشي خالف الجنازة رقم(١٠١١)

(٣) مصنف عبدالرزاق (٣\٤٤٦) باب المشي أمام الجنازة رقم ٦٢٦٥) وسنن أبي داود كتاب الجنائز. باب إسراع الجنازة)وسنن ابن ماجه كتاب الجنائز باب ماجاء في المشي امام الجنازة رقم(١٤٨٤)

(٤) مصنف عبدالرزاق (٣\٤٤٥) باب المشي أمام الجنازة رقم (٦٢٦٢)

(٥) مصنف عبدالرزاق (٣\٤٤٦)رقم ٦٢٦٣)

(٦) قال الترمذي في جامعه في كتاب الجنائزباب ما جاء في المشي أمام الجنازة وأهل الحديث كلهم يرون أن الحديث المرسل في ذالك أصح وقال النسائي تفي سننه (١\٢٧٥) هذا خطأ والصواب مرسل)

إن فضل الماشي خلفها على الذي يمشي أمامها، كفضل صلاة الجماعة على صلاة الفذ، وإنهما ليعلمان من ذالك ما أعلم، ولكنهما لايحبان أن يشقا على الناس»(١)
بيا دلته ددې خبرې لحاظ هم ساتل پكار دى.چه حضرات شوافعو جنازې سره تلونكى خلق كوم شفعاء گرځولې دى.دا خبره په پوهه كښې نه راځي.ځكه ددې مطلب خو دا دې.چه مړې د مجرم په طور پيش كولې شى.په دې صورت كښې خو مناسب دا وه.چه ده لره نې په زړو شليدلو كپړو كښې په خراب حالت كښې. خيرن (گډ وډ) ويخته بوتللې.بيا په مونځ كولو كښې هم نې ده لره شاته ايخودو.مخې ته نې نه ايخودو. حالانكه د شريعت حكم دې.چه په ښه طريقه اولامبوئ.صفا ستره ئې كړئ.ښائسته او نوې كپړې ورته واغوستوئ.خوشبو ورته اولگوئ.او د كور نه نې ښه په تعظيم او عزت او احترام سره يوسئ.بيا نې دمونځ په وخت هم مخې ته ايږدي.او د مغفرت په دعاگانو وغيره كښې هغه سره خپل ځان هم شاملوى.په دې طريقه ئې د آخرت په سفر باندې رخصتوى.د خپلو خلقو نه يو ايمانداره بنده د الله تعالى په دربار كښې خپل ځان دپاره هم د آخرت توښه گنړى.او وړاندې ئې ليگى.او هغه ته وداع (توښه) وائى.نو ښكاره ده.چه په داسې موقعه باندې شاته كيدل مناسب دى.هغه لره د شاته ايخودو خبره خو قلب موضوع ده!!
ددې نه علاوه د جنازې وړونكو په شاته كيدو كښې د نورو شرعى مصلحتونو هم لحاظ ساتلې كيږى. مثلاً دا چه په داسې صورت كښې به جنازه د خلقو مخې ته وى.چه ددې نه به قدم په قدم عبرت حاصليږى.چه دې پرون خومره د اختيار خاوند وو.نن دې څنگه مجبوره او لاچاره دې.چه د نورو په سهارا(او مدد) د الله تعالى په دربار كښې حاضريږى.صباله به زمونږه هم دا حال وى.په دې موقعه به د تقوى او د آخرت د ياد حصول زيات نه زيات وى.د قيامت حالات. او په مړى باندې د راتلونكو كيفياتو تصور به هم كيږى.او دده د سختو منزلونو د آسانتيا او د گناهونو د معافئ به مسلسل دعاگانې كوى.بيا د شاته تللو په صورت كښې كه ضرورت راپيښ شى.نو امداد هم سهولت سره كولې شى.ښكاره خبره ده.چه جنازه شاته كيخودې شى.نو په دې اندازه استحضار. احساس او ددې فوائد نشى حاصليدى.(٢) والله اعلم.

د حديث باب نه په مذكوره مسئلې باندې استدلال احنافو حضراتو پخپل مسلك باندې د حديث باب د جملې ،،من أتبعه،، نه هم استدلال كړې دې.ځكه چه د ،،إتبعه،، يوه معنى د شاته تللو هم ده.(٣)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه ددې نه استدلال صحيح نه دې.ځكه چه د ،،تبعه،، او د ،،اتبعه،، يوه معنى خو ،،مشى خلفه،، ده.خو دويمه معنى ئې دده سره تلل دى.كه وړاندې ځى.او

١) مصنف عبدالرزاق (٣\٤٤٦) رقم ٦٢٦٣)
٢) أنوارالبارى(١٢\١٦١. ١٦٢)
٣) عمدة القارى(١\٢٧٣)-

که روستو خې لکه چه د ،،تبعه،، معنی دا هم بیان کړې شوې ده چه ،، مربه لمشی معه،، معلومه شوه چه ،،تبع،،او ،،اتبع،، د دواړو معانو دپاره مشترك دي بیا د حضرت ابن عمر ﷺ کوم روایت چه ابن حبان رحمه الله تخریج کړې دې په هغې کښې د وړاندې تللو تصریح ده نو د ،،اتبع،، نه د روستو تللو معنی مراد اخستل. او ددې نه د حنفیانو استدلال کول صحیح نه دی ()

خو دا د حافظ رحمه الله مغالطه ده حقیقت هم دا دې چه ،،تبع،،او ،،اتبع،، د دواړو معانو دپاره بالاشتراك مستعمل دې اوس که دلته په رومبئ معنی یعنی د شاته تللو په معنی کښې وی نو زمونږ استدلال خو صحیح دې او که دویمه معنی وی نو هغوی دپاره خو حجت نه دې خو د حنفیانو خلاف هم نه دې خکه چه په دې کښې د ورسرې (یو ځائې) تللو معنی ده او یو ځائې والې شاته تللو سره هم ممکن دې او وړاندې تللو سره هم. او ورسره ورسره تللو سره هم نو دا معنی به مونږ په شاته تللو باندې محمول کوو ()خصوص د حضرت علی ﷺ د صریح قول او مرفوع روایت په وجه چه په دې کښې شاته تللو ته افضل ونیلی شوی دی

پاتې شو د حضرت ابن عمر ﷺ د روایت نه استدلال او ددې په رڼړا کښې د ،،اتبع،،معنی .. وړاندې تللو.. سره کول. نو ددې روایت په باره کښې مونږه وړاندې ونیلی دی چه اول خو دا روایت مرفوعًا ثابت نه دې بله دا چه په دې کښې د افضلیت تصریح نشته او دریمه دا چه دا په څه عذر باندې محمول کیدې شی والله اعلم.

قوله: إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا: ایمان. الله باندې یقین. د هغه په وعدو باندې یقین. او احتساب یعنی کوم کار چه اوکړې شی صرف د الله تعالی د رضا دپاره اوکړې شی د ثواب د حصول دپاره اوکړې شی ریاء او ښودنه (نمائش) مقصود نه وی.

د ایمان او احتساب تشریح وړاندې د،،ومن قام ليلة القدر إيماناً واحتساباً، لاندې تیره شوې ده.،،فارجع إليه إن شئت،،

د ترجمة الباب اثبات هم ددې نه امام بخاری رحمه الله د ترجمة الباب اثبات کړې دې په دې طریقه چه : ① اتباع جنائز(جنازې پسې تلل) د ایمان اثر دې او دا په ایمان باندې مرتب کیږی. په دې وجه به دا ایمان سره ملحق او ددې جزء گرځولې شی په دې طریقه به جنازې پسې تلل د ایمان د امورو ځنې کیدل ثابتیږی. ② یا داسې ونیلې شی چه ،،ایماناً،،مفعول مطلق دې او تقدیر د عبارت داسې دې.((من اتبع جنازة مسلم اتباعاً ایماناً ....)) دلته اتباع ایمان

() فتح الباري(۱۰۹۱۱)

() عمدة القاري(۲۷۳۱۱)

سره مصنف كولې شي نو ..اتباع جنائز.. به د ايمان د امورو او د ايماني شعبو څخه ګرځولې شي والله أعلم.

قوله وَكَانَ مَعَهُ حَتَّى يُصَلَّى عَلَيْهَا وَيَفْرُغَ مِنْ دَفْنِهَا: ،،يصلى،، او ،،يفرغ،، معروف هم وئيلې شوى دى او مجهول هم.د معروف وئيلو په صورت كښې به د دواړو افعالو ضميرونه په ،،من اتبع،، كښې ،،من،، طرف ته راجع كيږى. او د مجهول وئيلو په صورت كښې به ،،عليها،، د ،،يصلى،، نائب فاعل او ،،من دفنها،، به د ،،يفرغ،، نائب فاعل وى.(١)

قوله فَإِنَّهُ يَرْجِعُ مِنَ الْأَجْرِ بِقِيرَاطَيْنِ كُلُّ قِيرَاطٍ مِثْلُ أُحُدٍ وَمَنْ صَلَّى عَلَيْهَا ثُمَّ رَجَعَ قَبْلَ أَنْ تُدْفَنَ فَإِنَّهُ يَرْجِعُ بِقِيرَاطٍ: دوه اجرونه به په دې طريقه حاصليږى چه يو اجر به د ،،اتباع،، نه واخله تر د ،،صلوة،، پورې وى او دويم اجر به په دفن كښې په شركت كولو باندې وى.(٢)

بعضو حضراتو د يو روايت الفاظو ته اوكتل(٣) او دا ئې اوګڼړل چه په مونځ باندې يو قيراط او په دفن كښې په شركت كولو باندې به مستقل دوه قيراطه ملاويږى خو حديث باب په دې سلسله كښې صريح دې چه ټول به دوه قيراطه ملاويږى.درې قيراطه به نه ملاويږى.(٤)

د قيراط تحقيق قيراط په اصل كښې ،،قرّاط،، (په تشديد د راء سره) وو.څكه چه ددې جمع ،،قراريط.. راځى.لكه د ،،دينار.. اصل چه ،،دنّار،، (په تشديد د نون سره) دې. په دې وجه ددې جمع دنانير راځى.(٥)

بيا ،،قيراط.. په اكثرو ښارونو كښې د يو دينار شلمې حصې ته وئيلې شى. او په بعضو ښارونو كښې څليريشتمې حصې ته وائى.(٦) خو دلته دا مخصوص مقدار مراد نه دې په دې وجه نبى كريم ﷺ اوفرمائيل. ((كل قيراط مثل أحد))(٧)

بيا دلته دا وضاحت هم ضرورى دې چه ((كل قيراط مثل أحد)) ئې چه اوفرمائيل .دا كلام تمثيلى دې.ګنى الله تعالى چه به مؤمنانو ته په قولى او فعلى طاعاتو باندې كوم ثواب وركوى.هغه

---

١) عمدة القارى(٢٧٢/١)
٢) شرح النووى على صحيح مسلم (٣٠٧/١)
٣) أخرجه البخارى فى صحيحه فى كتاب الجنائز باب من انتظر حتى دفن رقم ١٣٢٥ عن أبى هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من شهد الجنازة حتى يصلى فله قيراط ومن شهد حتى تدفن كان له قيراطان)
٤) شرح النووى(٣٠٧/١) وفتح البارى(١٠٩/١) و(١٩٧/٣) وعمدة القارى(٢٧٣/١)
٥) عمدة القارى(٢٧٢/١)
٦) وفيه أقوال أخرى راجع عمدة القارى(٢٧٢/١)
٧) شرح النووى (٣٠٧/١)

په ډير زيات وي.لکه په حديث شريف کښې راځي «الطهور شطر الإيمان، والحمد لله تملأ الميزان، وسبحان الله و الحمدلله تملآن أو تملأ ما بين السماوات والأرض»() دغه شان په روايت کښې دي «القيراط أعظم من أحد»() د مستدرک په يو روايت کښې دي «والذي نفسي بيده، لهما في الميزان أثقل من أحد»()

خلاصه دا چه دلته قيراط د احد برابر ګرځولې شوې دې.دا تمثيلا دې. تحقيقي مقدار بيانول مقصود نه دي.

دلته دا خبره هم يادول پکار دي.چه د .. قيراط.. ذکر لکه څنګه چه د جنازې په بيان کښې راغلې دې.دغه شان په .. اقتناء کلب..(د سپي ساتلو) په سلسله کښې هم راغلې دې.لکه د نبي کريم ﷺ ارشاد دې.چه « من اقتنى كلباً ، إلا كلب صيد، أو ماشية، فإنه ينقص من أجره كل يوم قيراطان»() په يو بل روايت کښې د .. يو قيراط.. ذکر دې.()

دلته د يادولو خبره دا ده.چه د جنازې په باره کښې کوم .. قيراط.. وارد شوې دې.ددې نه په نص د حديث د ثواب يوه لويه حصه مراد ده.چه ددې ني د احد غر سره تشبيه ورکړې ده.

خو د سپي پاللو په سلسله کښې چه د .. قيراط.. کوم ذکر راغلې دې.د هغې نه ډيره کمه درجه مراد ده.څکه چه د جنازې د روايت تعلق د ثواب باب سره دې.او په ثواب کښې د الله تعالى فضل ملحوظ وي.او د سپي پاللو د روايت تعلق د عقاب باب سره دې.او په ګرفتارولو کښې الله تعالى ډيره زياته کرم او بخښنه وړاندې ساتي.او کم نه کم عذاب ورکوي. ﴿مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ۖ وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا﴾ () بيا که الله تعالى هم دغه شان بغير د څه ګرفتارئ نه معاف کړي.نو هيڅ څوك تپوس کولو والا نشته.

قوله: تَابَعَهُ عُثْمَانُ الْمُؤَذِّنُ قَالَ حَدَّثَنَا عَوْفٌ عَنْ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ: د ,,تابعه.. ضمير مفعول روح طرف ته واپس کيږي.او مطلب دا دې.چه ددې روايت د عوف نه په نقل کولو کښې عثمان موذن د روح متابعت کړې دې.()

) صحيح مسلم (١١٨\١) فاتحة كتاب الطهارة باب فضل الوضوء)
) تاريخ بغدادللخطيب(٣٨٥\١٤) ترجمة أبي بكربن مروان الأسيدي رقم ٧٧٩٩)
) المستدرک على الصحيحين (٣١٧\٣) كتاب معرفة الصحابة ﷺ)
) صحيح بخاري كتاب الذبائح والصيد باب من أقتنى كلباً ليس بكل صيد او ماشية رقم ٥٤٨٠، ٥٤٨٢)
) صحيح البخاري كتاب الحرث والمزارعة باب إقتناء الكلب للحرث رقم ٢٣٢٣)
) الأنعام: ١٦٠)
) عمدة القاري(١١ ٢٧٤) وفتح الباري(١٠٩\١)

بيا د عثمان موذن رحمه الله نه امام بخاري رحمه الله براه راست هم نقل كړي دي او په واسطې سره هم. كه امام بخاري رحمه الله د عثمان موذن رحمه الله نه په واسطې سره اوريدلې وي نو دا طريق به يوه اعلى درجه شي ځكه چه د منجوفي طريق خماسي دې او دا رباعي دې دلته د عثمان موذن د طريق اعلى كيدو باوجود مخكښې د منجوفي د طريق ذكر كولو وجه دا ده چه منجوفي په ثقاهت او اتقان كښې د موذن نه د اوچتې درجې دې په دې وجه ئې اصلاً ددوى روايت ذكركړو او بيا چونكه د منجوفي په طريق كښې ،،حسن و محمد عن أبي هريرة،، دې گويا چه په دې طريق كښې حسن بصرى رحمه الله د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت كوى خو چونكه د حسن بصرى رحمه الله سماع . راجح دا ده چه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه نه ده په دې وجه ئې دعثمان موذن متابعت ذكر كړو چه په دې كښې د حسن ذكر نشته دغه شان امام بخاري رحمه الله دا اوښودل چه زمونږ اعتماد په دې دويم طريق باندې دې.(١)

بيا دلته په آخر كښې امام بخاري رحمه الله د ،،نحوه،، لفظ ذكركړې دې دغه شان يو لفظ ،،مثله،، هم استعماليږي خو لكه څنگه چه مونږه وړاندې ذكركړي دى چه د دواړو په مفهوم كښې معمولى شان فرق دې. ،،مثله،، هغه ځائې كښې استمالوى چرته چه د حديث په الفاظو كښې هيڅ فرق نه وى او د ،،نحوه،، لفظ په داسې موقعه باندې استعمالوى چرته چه چه الفاظو كښې څه تفاوت (فرق) وى.

دلته هم د دواړو طريق په الفاظو كښې تفاوت دې د عثمان موذن په طريق كښې چه ابونعيم په مستخرج كښې ذكركړې دې چه د ،،وكان معه،، په ځائې ،،فلزمها،، او د ،،حتى يفرغ من دفنها،، په ځائې ،،حتى تدفن،، او د ،،فإنه يرجع بقيراط،، په ځائې ،،فله قيراط،، الفاظ دى باقي الفاظ هم دغه دى.(٢)

قوله: عثمان المؤذن: دا عثمان بن الهيثم بن جهم بن عيسى العصرى العبدى البصرى دې.

د بصرې د جامع جمات موذن وو په دې وجه ورته عثمان موذن وئيلې شى. ابو عمرو ددوى كنيت دې.(٣)

دځپل پلار هيثم بن جهم. جعفر بن الزبير. عبدالملك بن جريج. روبة بن العجاج. مبارك بن فضاله. عوف اعرابى او د محبوب بن هلال مزنى رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.(٤)

ددوى نه امام بخارى. ابراهيم بن صالح شيرازى. محمد بن يحي ذهلى. ابراهيم بن يعقوب جوزجانى. خليفه بن خياط. محمد بن الاشعث سجستانى. عبدالله بن الصباح العطار، او

---

(١) عمدة القارى (٢٧٤) وفتح البارى (١\١٠٩)
(٢) المصادر السابقة)
(٣) تهذيب الكمال (١٩\٢. ٥٠٣. ٥)
(٤) المصدر السابق)

د ابراهيم بن مرزوق رحمه الله نه علاوه ډيرو محدثينو د احاديثو سماع کړې ده.(١)
امام ابن حبان رحمه الله دوی په ..کتاب الثقات.. کښې ذکرکړی دی.(٢)
امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.«کان صدوقا غیر انه بأخرة کان یتلقن مایلقن»(٣)
امام دارقطنی رحمه الله فرمائی.«کان صدوقا کثیر الخطاء»(٤)
امام احمد رحمه الله ددوی نه روایت نه دې کړی.او دا رائې نې ښکاره کړې ده.چه هغه ثبت نه وو.(٥)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.«ثقة تغیر فصار یتلقن»(٦)
خو حافظ رحمه الله دوی لره ..ثقه.. ګرځولې دې.دا صحیح نه معلومیږی.خکه چه باقی د رجالو امامانو دوی لره زیات نه زیات صدوق ګرځولې دې.البته صرف ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې. ددې نه لازمیږی.چه د .. ثقه.. ګرځولو مستحق شی.(٧) پاتې شوه دا خبره چه په صحیح بخاری شریف کښې ددوی روایت منقول دی.نو دا خو یو څو د شمیر روایات دی.په دې کښې هم عام طور باندې متابعات موجود دی. (٨) والله اعلم.
په ٢٢٠ھ کښې ددوی وفات اوشو.(٩).رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

٣٥=بَاب خَوْفِ الْمُؤْمِنِ مِنْ أَنْ يَحْبَطَ عَمَلُهُ وَهُوَ لَا يَشْعُرُ

وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ التَّيْمِيُّ مَا عَرَضْتُ قَوْلِي عَلَى عَمَلِي إِلَّا خَشِيتُ أَنْ أَكُونَ مُكَذِّبًا وَقَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ أَدْرَكْتُ ثَلَاثِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَخَافُ النِّفَاقَ عَلَى نَفْسِهِ مَا مِنْهُمْ أَحَدٌ يَقُولُ إِنَّهُ عَلَى إِيمَانِ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَيُذْكَرُ عَنْ الْحَسَنِ مَا خَافَهُ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا أَمِنَهُ إِلَّا مُنَافِقٌ وَمَا يُحْذَرُ مِنْ الْإِصْرَارِ عَلَى النِّفَاقِ وَالْعِصْيَانِ مِنْ غَيْرِ تَوْبَةٍ لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى ﴿وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾

---

(١) تهذيب الكمال(١١٩\٥٠٣. ٥٠٤)-
(٢) الثقات لابن حبان (٨\٤٥٣. ٤٥٤)
(٣) تهذيب الكمال(١١٩\٥٠٤) وسير أعلام النبلاء (١٠\٢١٠)
(٤) هدی الساری(٤٢٤) وميزان الإعتدال(٣\٥٩)
(٥) هدی الساری(ص.٤٢٤)
(٦) تقريب التهذيب (٢.٣٨٧) رقم ٤٥٢٥
(٧) تعليقات الشيخ محمد عوامة على الكاشف للذهبى(٢\١٤١)
(٨) هدی الساری(ص.٤٢٤)
(٩) تهذيب الكمال(١١٩\٥٠٤)

ددې باب ماقبل باب سره مناسبت امام بخاري رحمه الله ددې باب نه وړاندې ،،**باب اتباع الجنائز من الإيمان**،، منعقد کړې وو.د هغې نه پس ئې دا باب راوړلې دې.ددې د تيرشوى باب سره مناسبت دا دې.چه د جنازې اتباع مختلفو اغراضو لاندې کيږي.کله د رشته دارو د رضا لحاظ ساتلې شي.کله د مړى د خپلوانو د رضا خيال ساتلې کيږي.او کله د دواړو خبرو لحاظ ساتلې شي.او په بعضو وختونو کښې صرف د الله تعالى رضا مقصود وى.او هم دا مطلوب دې.لکه څنګه چه حديث کښې په ،،ايماناً او احتساباً،، سره دې طرف ته اشاره کړې شوې ده.خو کله کله داسې کيږي.چه سړې د الله تعالى د رضا دپاره کار کوى.خو بعضې داسې خيزونه او خرابيانې ورسره شاملې شي.چه هغه د انسان عمل بربادوى.

امام بخاري رحمه الله دا مذکوره باب په دې خبره خبردارې ورکړې دې.چه سړې کله هم څه عمل کوى.نو د نفس د دهوکې نه دې ځان ساتى.هسې نه چه څه داسې خيز شامل شي.چه هغې سره عمل عبث شي.[1]

امام بخاري رحمه الله چه تر اوسه پورې څومره تراجم منعقد کړل.په هغې کښې ئې مرجئو باندې رد کړې دې.او ددې سره سره ئې په نورو فرقو، مثلاً د خوارجو او معتزله ئې هم ترديد کړې دې.دا باب امام بخاري رحمه الله خاص طور باندې د مرجئيه د ترديد دپاره منعقد کړې دې.هغه خلق دا وائى.چه مؤمن دپاره معصيت مضر نه دې.امام بخاري رحمه الله په رواياتو او آثارو سره ثابتوى.چه معصيت مضر دې.بعضې وختونو کښې د معصيت په وجه د انسان عمل بربادېږي. او ده ته پته هم نه لګى.په دې وجه معصيت باندې اصرار(کلکيدل) سخت مضر دى. او خطره ده چه داسې سړې فلاح او نه مومى.

په ترجمة الباب کښې امام بخاري رحمه الله دوه جزء ايخودى دى.يو ((خَوْفِ الْمُؤْمِنِ مِنْ أَنْ يَحْبَطَ عَمَلُهُ)) او دويم جزء دې.((وَمَا يُحْذَرُ مِنَ الْإِصْرَارِ عَلَى النِّفَاقِ وَالْعِصْيَانِ مِنْ غَيْرِ تَوْبَةٍ)) د دواړو اجزاو مقصود په مرجئه باندې رد کول دى.په ړومبى جزء سره ئې دا اوښودل.چه مؤمن له هميشه يريدل پکار دى.او د مرجئه خلقو دا خيال دې.چه بس ،، لا إله إلا الله محمد رسول الله،، ويلو سره سړې معصوم شو.دا غلطه ده.او په دويم جزء سره ئې دا اوښودل.چه په معاصيو باندې بغير د توبې نه اصرار کول مضر دى.او د مرجئه خلقو دا وينا چه د ايمان موجود کيدو سره ګناهونه مضر نه دى.[2]

آيا د امام بخاري رحمه الله مقصد د احباطيه تاکيد دې؟

بعضې خلقو دا اوګڼرل.چه امام بخاري رحمه الله په دې ترجمة الباب سره د احباطيه يعنى د معتزله تائيد کوى.چه دا وائى.چه معصيت کولو سره د انسان عمل بربادېږي.او د هميشه

[1]) عمدة القارى(١١/٢٧٤) وفتح البارى(١١٠/١)

[2]) فتح البارى (١١٠/١)

عذاب مستحق جوړيږي.خکه چه امام بخاري رحمه الله دلته فرمائي.((خَوْفِ الْمُؤْمِنِ مِنْ أَنْ يَحْبَطَ عَمَلُهُ وَهُوَ لَا يَشْعُرُ)) يعني سړی له پريدل پکار دی.چه چرته دده عمل برباد شي.او ده ته پته هم اونه لگي.([1])
خو دا خبره صحيح نه ده.امام بخاري رحمه الله دلته د مرجئه ترديد کړې دې.د معتزله تائيد ئې نه دې کړې.او دلته ددوی په کلام کښې د ,,احباط.. نه مراد احباط د ثواب دې.کفر نه دې.
لکه قاضي ابن العربي رحمه الله فرمائي.چه د ,,احباط.. دوه قسمونه دی.يو ،،احباطِ ابطال،، دې.
لکه څنگه چه ايمان کفر باطلوی.او کفر ايمان باطلوی.او دويم ،،احباطِ موازنه،، ده.يعني کله چه د قيامت په ورځ نيکئ او بدئ تللې کيږي.که د نيکو تله درنه شوه.نو د نيکو خاوند به مفلح وی.اوکه د بدو تله درنه شوه.نو که په دې صورت کښې الله تعالی معاف نکړی.نو دې به په تاوان کښې وی.اوکه معاف کړی.بيا هم د لږ وخت دپاره ..احباط.. او موندې شو.خکه چه څومره وخت توقف اوشو.تر دومره وخته پورې دې سړی ته د خپل عمل نه هيڅ فائده اونشوه.او که خدائې مکړه معافي اونشوه.بلکه عذاب ورکول مقرر شو.نو تر کوم وخته پورې چه په جهنم کښې پروت وی.تر هغومره ورځو پورې به هغه ته د خپل عمل نه فائده نه رسيږي.خو کله چه راوځی.نو هغه ته به د خپلو نيکو عملونو اجر او ثواب ملاويږي .بهرحال احباط اوموندې شو.لکه څنگه چه د مکمل احباط په صورت کښې انسان ته د خپل عمل هيڅ فائده نه رسيږي.دغه شان دکوم کس په حق کښې چه مکمل احباط وی.هغه ته في الجملة فائده حاصل نشوه.([2]) والله اعلم.
ايا په بې علمئ کښې د کفر د کلمې اطلاق موجب د کفر دې؟ امام نووی رحمه الله فرمائي.چه دلته د،،احباط،، نه مراد د ايمان نقصان او د بعضو عبادتونو باطليدل دی.کفر مراد نه دې.خکه که په بې علمئ کښې يوکس داسې عمل اوکړی.چه هغه د کفر وی.نو هغه به کافر نه وی([3])
خو علامه کرماني رحمه الله دا رد کړې دې.او وئيلی ئې دی.چه د جمهورو په نيز که بې علمئ کښې څه داسې عمل اوکړی.يا څه داسې خبره اوکړی.چه هغه موجب د کفر وی.نو کافر کيږي.([4])
صاحب د بحر نقل کړی دی.که يو سړې په قصد سره د کفر کلمه ووائي.چه په مزاح (توقو) کښې ولې نه وی.نو کافر کيږي.او که په خطاء يا زبردستئ سره اووئيلې شي.نو د هيڅ چا په نيز به کافر نه وی.او که پخپل اختيار سره ئې کلمه د کفر اووئيله.خو هغه ددې خبرې نه

---

[1] فتح الباري(١١٠/١)
[2] المصدر السابق)
[3] شرح الكرماني(١٨٧/١) وعمدة القاري (١٢٤)
[4] المصادر السابقة)

جاهل دي چه دا كلمه د كفر ده نو په دې كښې د مشائخو اختلاف دې چه كافر كيږي به اوكه نه؟[١]

د ترجمة الباب ماخذ دا ترجمه امام بخارى رحمه الله د قرآن كريم د آيت ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ﴾[٢] نه اخذ كړې ده په دې آيت كښې د ..رفع صوت فوق صوت النبى.. او د ..جهر بالقول.. نه منع كړې شوې ده چه په دې حركت سره عين ممكن ده چه ستاسو عملونه برباد شى هم دې نه امام بخارى رحمه الله د ((خوف المؤمن أن يحبط عمله وهو لا يشعر)) ترجمه قائم كړله او دا ئې واضحه كړله چه ..د نبى ﷺ په آواز باندې خپل اواز پورته كول.. ښكاره ده چه يو معصيت دې او معصيت سره د عملونو ضائع كيدو خطره متعلق كيږى په داسې صورت كښې دا وئيل چه معصيت ايمان دپاره مضر نه دې دا به څنګه صحيح وى؟[٣]

د مذكوره ايت نه د علامه زمخشرى غلط استدلال علامه زمخشرى د اعتزال مسلك ته تقويت وركولو دپاره د مذكوره آيت د ظاهرى سطحې نه استدلال كړې دې وئيلې ئې دى چه معاصى مطلقاً كه هغه كفر ته متعدى وى او كه د كفر نه كم وى د اعمالو بربادونكى او د ايمان نه خارجونكى دى.[٤] حالانكه د اهل سنت والجماعت په دې خبره اتفاق دې چه ..مادون الكفر.. هيڅ يوه ګناه د اعمالو بربادونكى نه ده.

عالمانو د علامه زمخشرى د استدلال ډير جوابونه وركړى دى خو د ټولو نه غوره جواب علامه احمد بن المنير مالكى اسكندرى رحمه الله وركړې دې ددوى جواب په دوو مقدمتو باندې مبنى دې.

① يو دا چه رفع د صوت كله كله د ايذا سبب جوړيږى او دا د مشاهدې نه ثابته ده لكه د استاد په وړاندې د شاګرد. د مرشد په وړاندې د مريد. او د مشر په موجودګئ كښې د كشر آواز پورته كول او شور شغب كول او ښكاره ده چه د استاد. پير. او د لوئې نه د لوئې وجاهت (او مرتبه) هم د نبى كريم ﷺ د وجاهت په وړاندې هيڅ او خاورې دى.

② دويمه دا چه د اهل السنة والجماعة په نيز دا متفق عليه ده چه نبى كريم ﷺ ته ايذاء ور رسول كفر دې.

ددې دواړو مقدماتو ملاوولو نه نتيجه دا راووتله چه د رفع صوت (آواز پورته كولو) دوه قسمونه دى يو قسم هغه دې كوم چه كفر ته متعدى دې او دا هغه آواز دې په كوم كښې چه نبى كريم ﷺ ته ايذاء رسول ثابتول نو دا كفر دې او كفر بالاتفاق عملونه بربادوى دويم

---

[١] البحر الرائق (١٢٥\٥) كتاب السير باب أحكام المرتدين)

[٢] سورة الحجرات:٢)

[٣] فضل البارى(٥١٠\١)

[٤] الكشاف (٣٥٤\٤، ٣٥٥)

قسم هغه دې.كوم چه كفر ته متعدى نه دې. يعنى په كوم كښې چه نبى كريم ﷺ ته ايذاء رسول نه ثابتيږى.

سوال: دلته دا سوال پيدا كيږى.چه هركله هر رفع صوت كفر ته متعدى او عملونه بربادونكې نه دې.نو مطلقاً د ﴿لَا تَرْفَعُوْٓا﴾حكم څنګه وركړې شو؟

جواب: ددې دا دې چه هر رفع صوت اګرچه مفضى الى الكفر او د اعمالو بربادونكې نه دې. خو دا متعين نه ده.چه كوم يو رفع د صوت به ايذاء وركونكې وى.او كوم يو به نه وى.او كه په واقع كښې متميز او متعين كړې شى.بيا هم د بې خيالئ په وجه تميز نه پاتې كيږى.او د حد نه تجاوز كيږى.په دې وجه عين ممكن ده.چه يو صورت مونږه موذى او نه ګڼړو.او هغه په واقع كښې موذى شي.او د كفر حده پورې اورسيږى.او د ايذاء ددې صورت نه بچكيدو دپاره ئې مطلقًا ﴿لَا تَرْفَعُوْٓا﴾ او فرمائيل.او د مطلق رفع صوت نه منع كړې شوې ده.او ددې ممانعت علت بيان كړې شوې دې. ﴿وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ۝﴾چه په لا علمئ كښې ستاسو ټول اعمال برباد شى.يعنى په بې خبرئ كښې هغه صورت متحقق شى.په كوم كښې چه ايذاء وى.چه دا كفر دې.او په دې سره به ټول عملونه برباد شى.

هم ددې شبهې په وجه چه كوم يو صورت موذى او محبط دې.ددې پته نه لګى.ددې نه د بچ كيدو دپاره د مظنه ايذاء يعنى د هر رفع صوت نه ممانعت اوكړې شو.چه په بې خيالئ او بې علمئ سره په هغې رفع صوت كښې مبتلا شى. كوم چه كفر او د عملونو بربادونكې دې.دا بعينه هم دغه شان ده.لكه چه په يو بل آيت كښې وئيلى شوى دى.

﴿اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ ۡ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ﴾ [1] دلته د,,كثير ظن،، نه د بچكيدو حكم دې.او ددې علت بيان كړې شوې دې.چه ،، بعضې ګمان ګناه وى،، په ظاهره دلته تقريب تام نه دې. څكه چه هركله ,,بعضې ګمان،، ګناه ده.نو هم ددې نه د بچ كيدو ضرورت دې.د هغه ګمانونو نه بچكيدل ضرورى نه دى.كوم چه ګمانونه نه دى.خو دلته هم دا وئيلې كيږى.چه په كومو بعضو ګمانونو كښې اثم او ګناه ده.چونكه دغه بعض متميز او متعين نه دى.نو ممكن ده.چه څه بعضو لره مونږه ګناه اونه ګڼړو.او هغه په واقع كښې ګناه وى.په داسې صورت كښې به بې علمئ كښې ګناه كښې مبتلا كيدل وى.په دې وجه د،،كثير ظن،، نه د بچكيدو حكم وركړې شو.چه په دې كښې د واقع كيدو نوبت رانشى.

بيادلته دا خبره هم د غور قابله ده.چه علامه زمخشرى پخپلې باطلې مدعا باندې د استدلال كولو دپاره د آيت كوم مطلب اخلى.چه على الاطلاق هر رفع د صوت محبط دې.ددې مطلب په بناء د ﴿وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ۝﴾ لطافت بلكه افاديت هم ختميږى.څكه چه هركله هر قسمه رفع صوت محبط شو.نو كله چه يوكس ددې ارتكاب اوكړو.نو دده د عملونو حبط كيدل متعين او معلوم دى.او رفع صوت هم څه مخفى امر نه دې.چه ددې شعور نه كيږى.نو بيا به د ﴿لَا تَشْعُرُوْنَ۝﴾ څه مطلب وى؟ او د اهل سنت والجماعة د موقف

---

[1] سورة الحجرات:١٢)

مطابق چه د آيت كوم تقرير اوكړې شو.په دې بنياد باندې د ﴿لَا تَشْعُرُونَ﴾ لطافت ښكاره دې.او د محاورې بالكل موافق دې. (١) والله اعلم.

د حافظ ابن القيم رحمه الله په دې مسئله كښې د معتزله تائيد او ددوى رد حافظ ابن القيم رحمه الله په دې مسئله كښې د اهل السنة والجماعة سره اختلاف كړې دې.او د معتزله موافقت نې كړې دې.او ډير په كلكو الفاظو سره دوى ليكلى دى.چه دا څه ضرورى ده.چه په هره خبره كښې د معتزله خلاف اوكړې شى.كه ددوى يوه مسئله د قرآن او سنت موافق وى.نو هسې بيسه په تاويلاتو پسې كيدل، او ددوى د خلاف كولو ضرورت نشته.

بيا دوى په دې مسئله كښې د معتزله تائيد كولو دپاره لاندينى دليلونه پيش كړى دى:

① آيت د قرآن ﴿لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَىٰ﴾ (٢)يعنى ,,د خپلو صدقاتو په احسان كولو او په ايذاء رسولوسره ابطال مه كوئ،، معلومه شوه.چه په ,,من او اذى،، سره صدقه باطليږى.

② د حضرت بريده رضى الله عنه مرفوع حديث دې.«من ترك صلاة العصر فقد حبط عمله» (٣) معلومه شوه.چه د مازيگر مونځ پريخودل چه دا يو معصيت دې.ددې په وجه عمل ضائع كيږى.

③ دوى ,,حديث الموازنه،، هم پيش كړې دې.چه په هغې كښې دى.چه د قيامت په ورځ به د نيكئ او گناه موازنه كيږى.كه نيكى غالب شوه.لو جنت ته به ځى.او كه گناه غالبه شوه.نو جهنم ته به ځى.(٤) معلومه شوه.چه دده نيكى به ضائع كيږى.گنى جهنم ته به ولې داخليدو؟

خو حافظ ابن القيم رحمه الله چه كوم دليلونه پيش كړى دى.هغه صحيح نه دى. ړومبې دليل نې د ﴿لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ...الخ﴾ پيش كړې دې.ددې نه دلته استدلال صحيح نه دې. ځكه چه دلته خبره او بحث په دې كښې دې.چه كومه يوه گناه على الاطلاق ټول نيك اعمال ضائع كولې شى او كه نه؟ باقى پاتې شو دا صورت چه يو خاص نيك عمل كوم سره چه ددې گناه تعلق وى.بيا دغه گناه سره دا هم ښكاره شى.چه دا نيك عمل په اصل كښې حسنه نه وه.بلكه د حسنه يو صورت وو.په دې كښې د حسنه روح او حقيقت نه وو.په داسې صورت كښې ددې گناه ددې خاص نيكئ دپاره محبط كيدل منو.او ددې آيت نه هم دا صورت ثابتيږى. چه ,,من،، او ,,اذى،،چه كوم خاص حسنه سره متعلق دى.يعنى صدقات، هغه به

---

(١) الإنتصاف بهامش الكشاف (٣٥٤/٤، ٣٥٥)

(٢) سورة البقرة: ٢٦٤)

(٣) صحيح البخارى(٧٨/١) كتاب مواقيت الصلاة باب إثم من ترك صلاة العصروسنن النسائى (٨٣/١) كتاب الصلاة باب من ترك صلاة العصر)

(٤) أخرج ابن أبى حاتم عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: يحاسب الناس يوم القيامة فمن كانت حسناته أكثر من سيئاته بواحدة دخل الجنة ومن كانت سيئاته أكثر من حسناته بواحدة دخل النار.. وأخرجه ابوالشيخ عن جابر رضى الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يوضع الميزان يوم القيامة فيوزن الحسنات والسيئات فمن رجحت حسناته على سيئاته دخل الجنة ومن رجحت سيئاته على حسناته دخل النار(الدرالمنثر (٦٩/٣، ٧٠) سورة الأعراف)

دې سره باطل او بربادیږی.او دا حبط او باطلیدل بالکل په ځاني دی.ځکه چه ..من او اذی،، اوښودل.چه دا صدقه په اصل کښې هډو صدقه نه وه.صرف د صدقې يو صورت وو. په دې کښې روح او حقیقت نه وو.

بیا ددوی دحدیث الموازنه نه استدلال هم بې فائدې دې.ځکه چه ددې نه دا نه ثابتیږی. چه ټول نیك عملونه به باطلیږی.زیات نه زیات دومره خبره ثابتیدې شی.چه د ګناهونو د غلبې په وجه به فی الحال دده نیك عملونه نفع نه رسوی.او په فی الحال نفع نه رسولو سره حبط نه لازمیږی.بلکه فی الحال به دا محفوظ ساتلې کیږی.کله چه دې د خپلو ګناهونو سزا اوزغمی.او پاك صفا شی.بیا به هم ددې حسناتو په وجه ده ته جنت او اوچتې مرتبې نصیب کیږی.که د ګناهونو په وجه ټول نیك عملونه برباد شی.نو بیا به ګناهګارو مؤمنانو ته په جنت کښې مختلفې مرتبې به څنګه ملاویږی؟

ترکومې پورې چه د «من ترك صلاة العصر فقد حبط عمله» تعلق دې.نو ددې نه په ظاهره ددوی دموقف تائید کیږی.خو جمهور دا په زجر او توبیخ او زورنې باندې محمول کوی.

په دې داسې پوهه شئ:چه د ..حبط،، لغوی معنی دا ده.چه څاروی ته ښه چراګاه (ورشی) ملاوشی.او په هغې کښې هغه ښه اوخریږی.تردې چه هغه هضم نکړې شی.ددې خیټه او کلمې اوپړسیږی.دغه شان د خیټې او کلمو پړسیدو ته ..حبط،، وئیلې شی.(۱)

اوګورئ! په دې غرض سره ګیاه کښې څرن کوی.چه ددې ژوند باقی پاتې شی.او صحت او طاقت ئې بحال پاتې شی.اوس د يو عارض او بې قاعدګئ په وجه هغه نفع حاصله نشوه. بلکه ډیر کرته خو ددې نه مرګ هم واقع کیږی.او کله کله مړه کیږی نه، خو د ګیاه خوړلو چه کومه نفع حاصلیدل پکار وو.هغه نفع نه حاصلیږی.د ..حبط،، اصل معنی خو دا ده.

اوس ددې نه ..حبط د اعمالو،، مراد واخستلې شو.ځکه چه په دې کښې هم دا کیږی.چه د اعمالو نه چه کوم اصلی مقصود دې.یعنی ثواب او اجر او د الله تعالی رضامندی، هغه د څه عارض په وجه نه حاصلیږی.په دې کښې هم دوه وجې دی.کله خو داسې عارض راپیښیږی.چه په دې کښې ټول عملونه واقعی بالکل بې کاره او عبث کیږی.لکه مثلاً یوکس د کفر ارتکاب اوکړو.او کله دا صورت کیږی. چه داسې عارض راپیښیږی.چه په دې سره عملونه بالکل برباد او بې کاره کیږی نه، خو ددې نه څه خاص فائده نه حاصلیږی.یا کوم برکت چه ددې نه حاصلیدل پکار دی.هغه نه حاصلیږی.دې ته هم په يوه درجه کښې ..حبط،، وئیلې شی.په عرف کښې هم کله چه د يو سړی په کار کښې خرابی پیدا شی.او ددې په وجه دده خاص نفع ختمه شی.یا په څومره اندازه فائده چه مطلوب وه.هغه حاصله نشی.نو وئیلې شی.چه د .. فلانی ټول کړه اوړه برباد شو،،نو په نصوصو کښې چه کله د یوې ګناه په وجه د .. حبط،، ذکر راشی.هلته هم دا دویم صورت مراد دی.

---

(۱) النهاية فى غريب الحديث(۱/۳۳۱)

هم په دې بنياد د«من ترك صلاة العصر فقد حبط عمله» مطلب دا دې چه د مازيګر د مونځ پريخودل دومره لوئې جرم دې چه ددې په وجه دده د عملونو کومه مطلوب خاص نفع حاصلول وو هغه به نه حاصليږى او ده ته به سخت نقصان رسيږى لکه څنګه چه دويم روايت کښې دى «من فاتته صلاة العصر فكأنما وُتر أهله وماله»(١)

بعينه هم دغه شان د﴿ لَا تَرْفَعُوٓا أَصْوَاتَكُمْ......إلخ﴾ مطلب دا دې چه د نبى كريم ﷺ په صحبت مبارك كښې چه به صحابه كرامو ﷺ ته كوم خاص بركت حاصليدو چه په دې سره به په معمولى عمل كښې دوى ته عظيم اجر او كثيره نفع حاصليدله هغه به فوت كيږى كوم چه ډير لوى تاوان او نقصان دې

په حديث شريف كښې راځى چه .. كه زما يو صحابى نصف مد صدقه اوكړى نو په تاسو كښې د يوكس د غر برابر سره زر صدقه كول هم ددې برابر نشى كيدې..(٢)

وجه ددې هم دا ده چه د نبى كريم ﷺ د بركته او د صحبت د فيض نه به دوى ته په اكمله درجه اخلاص حاصليدو كوم چه د عمل روح دې اوس كه څوك سړې داسې څه كار اوكړى كوم چه د دربار رسالت تهذيب او د ادب خلاف وى نو ډيره ممكن ده چه ددې نحوست سره ددې فيوضو او بركاتو راتلل بند شى او دې محروم پاتې شى نو كوم سړې چه د مذكوره فيوضو او بركاتو نه مستفيض كيدلو اوس كه هغه ددې نه محروم پاتې شى نو عرفاً ده ته داسې وئيلې شى چه ،،دده كړه اوړه ټول بې كاره شو،، څكه چه هركله هغه فيض او بركت پاتې نشو نو ګويا ده ته هيڅ نفع اونشوه.

ددې تشريح نه دا خبره واضحه شوه چه په دې مواقعو كښې د .. حبط .. نه بالكل بيكاره كيدل مراد نه دى څكه چه داسې ارتكاب د كفر په وجه كيږى بلكه د زياتې نفعې او بركاتو حبط كيدل مراد دى.(٣) والله اعلم.

قوله: وَقَالَ إِبْرَاهِيمُ التَّيْمِىُّ: ابراهيم تيمى رحمه الله اوفرمائيل:

دا ابو اسماء ابراهيم بن يزيد بن شريك تيمى كوفى دې عابد، زاهد، اود شپې بيدارو او واعظانو بزرګانو كښې وو.(٤)

د حضرت انس، حضرت حارث بن سويد، عمرو بن ميمون، عبدالرحمن بن ابى ليلى او يزيد بن شريك رحمه الله نه روايت كوى د حضرت عائشې رضي الله عنها نه هم مرسلاً روايت كوى.(٥)

---

(١) رواه النسائى فى سننه (٨٣\١) كتاب الصلاة باب صلاة العصر فى السفر)

(٢) عن أبى سعيد الخدرى رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لاتسبوا أصحابى فلو أن أحدكم انفق مثل احد ذهباً ما بلغ مد أحدهم ولا نصيفه أخرجه البخارى فى صحيحه(٥١٨\١) كتاب فضائل اصحاب النبى ﷺ باب بلاترجمة بعد باب قول النبى ﷺ لوكنت متخذاً خليلاً)

(٣) دا ټول بحث د فضل البارى(ج١\٥١٢، ٥١٣) نه ماخوذ دې.

(٤) تهذيب الكمال(٢٣٢\٢)

(٥) المصدر السابق)

ددوى نه په روايت كونكو كښې بيان بن بشر احمسى. حسن بن عبيدالله نخعى. حكم بن عتيبه. زبيد بن الحارث اليامى. سالم بن ابى حفصه. سلمه بن كهيل. سليمان الاعمش او يونس بن عبيد رحمهم الله وغيره دى.(١)

امام يحيي بن معين رحمه الله فرمائى.،،ثقة،،(٢)

امام ابو زرعه رحمه الله فرمائى.((ثقة مرجئ))(٣)

امام ابو حاتم رحمه الله فرمائى.،،صالح الحديث،،(٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.((ثقة إلا أنه يرسل ويدلس))(٥)

حجاج بن يوسف دوى لره قيد كړې وو.ددوى واقعه هم د ايثار په تاريخ كښې يوه خاص نمونه ده.واقعه دا وه.حجاج بن يوسف د حضرت ابراهيم نخعى رحمه الله گرفتارولو دپاره پوليس راوليگل.دا پوليس ابراهيم تيمى رحمه الله ته اورسيدل.او وې ونيل چه..ابراهيم مطلوب دې.. دوى ددې علم باوجود چه ددوى مطلوب حضرت ابراهيم نخعى رحمه الله دې.وې ونيل چه هم زه ابراهيم يم.ددوى تقوى او ايثاراجازت ورنكړو چه دوى د ابراهيم نخعى رحمه الله د گرفتارولو په باره كښې معمولى مدد هم اوكړى.نو دوى ئې گرفتار كړل.او د حجاج د زمانې په بدنام جيل كښې ئې واچولو.دا جيل خانه حجاج جوړه كړې وه.چه په دې كښې نه د گرمئ نه د بچ كيدو څه سامان وو.او نه د يخنئ د بچ كيدو څه ځائې وو.د كلاؤ اسمان لاندې به ئې دوه سړى په يو يو زنځير كښې تړلى گيرول.د ابراهيم تيمى رحمه الله په يو څو ورځو كښې شكل وصورت متغير شو.ترذې چه ددوى مور ددوى د كتلو دپاره راغلله.نو وې نه پيژندلو.كله چه دوى پخپله خبره اوكړله.نو وې پيژندلو.هم په دې حال كښې ددوى وفات اوشو.

په كومه شپه ئې چه وفات اوشو.حجاج بن يوسف په خوب كښې اوكتل.چه يو سړې وائى.چه نن شپه په دې ښار كښې د يو جنتى سړى وفات شوې دې.حجاج چه د سحر پاسيدو.نو تپوس ئې اوكړو.چه آيا نن په واسط ښار كښې دڅا وفات شوې دې؟ خلقواوونيل.چه آو! نن په جيل كښې د ابراهيم تيمى رحمه الله وفات شوې دې.حجاج فوراً دا اوونيل.چه دا خوب د شيطان په وسوسو كښې يوه وسوسه ده.او خبره ئې ټال كړله. ددې نه پس دده په حكم سره دوى په ډيران كښې اوغورځولى شو.(٦)

---

(١) المصدرالسابق)
(٢) المصدرالسابق) وخلاصة الخزرجى(ص.٢٣)
(٣) المصادرالسابقة)
(٤) تهذيب الكمال(٢\٢٣٣)
(٥) تقريب التهذيب رقم ٢٦٩) (ص٩٥)۔
(٦) طبقات ابن سعد(٦\٢٨٥)

په ۹۲ھ کښې ددوی وفات اوشو.ددوی د عمر د څلویښتو کالو هم پوره شوې نه وو.(١) رحمة واسعة.

قوله مَا عَرَضْتُ قَوْلِي عَلَى عَمَلِي إِلَّا خَشِيتُ أَنْ أَكُونَ مُكَذِّبًا: چه کله هم ما خپل قول پخپل عمل باندې پیش کړو.یعنی د دواړو موازنه مې اوکړله.نو ماته دا یره شوه.چه هسې نه دروغژن اوګڼړلې شم.

ابراهیم تیمی د قول تخریج د ابراهیم تیمی دا اثر ابن سعد په ..طبقات.. کښې (٢)امام احمد په ..کتاب الزهد.. کښې(٣) ابونعیم پخپل ..تاریخ.. کښې(٤) ابن ابی شیبه پخپل ..مصنف..کښې (٥)ابوالقاسم لالکائی پخپل ..سنن..کښې (٦)او امام بخاری پخپل ..تاریخ کبیر..کښې (٧) موصولاً نقل کړې دې.

ددې قول مطلب: د ابراهیم تیمی په دې قول کښې ،،مکذباً،، په صیغې د اسم فاعل او په صیغې د اسم مفعول دواړه شان نقل کړې شوې دې.(٨)

که د اسم فاعل صیغه واخستلې شی.نو مطلب به دا وی.چه کله هم د خپل قول او نعل موازنه کوم.نو زه یریږم.چه زه پخپله خپل عمل سره د خپل قول تکذیب کونکې جوړ نشم.
علامه شبیر احمد عثمانی فرمائی.دا داسې ده.لکه څنګه چه امام غزالی یو مثل بیان کړې دې.چه یو سړې د لوخی نه حلوه اوچتوی.او مزې سره ئې خوری.او خلقو ته وائی.چه ګورئ! دا مه خورئ.دې کښې زهر ملاو شوی دی.نو ښکاره ده.چه خلق به دده تکذیب کوی.او دې پخپله هم خپل عمل سره د خپل ځان تکذیب کوی.لکه حافظ شیرازی فرمائی:

واعظاں کیں جلوہ بر محراب و منبر می کنند
چون بخلوت می روند آں کار دیگر می کنند
مشکلے دارم ز دانشمند مجلس باز پرس

---

(١) الکشاف(٢٢٧\١) رقم ٢٢٠)
(٢) طبقات ابن سعد(٢٨٥\٦)
(٣) فتح الباری(١١٠\١٩١) وعمدة القاری(٢٧٥\١١)
(٤) المصادرالسابقة)
(٥) تغلیق التعلیق(٥٢\٢)
(٦) عمدة القاری(٢٧٥\١١)
(٧) تاریخ کبیر(٣٣٥\١١) رقم ١٠٥٣)
(٨) عمدة القاری (٢٧٥\١١) وفتح الباری(١١٠\١١)

توبه فرمايان چرا توبه كمتر مى كنند
گوئيا باور نمى دارند روز داورى
كاين همه قلب و دغل دركار داور مى كنند

يعنى دا واعظان خلق كوم چه په محراب او منبر باندې كينى وعظ كوى او د زهد او دنيا نه د بې رغبتى خبرې كوى.كله چه په خلوت كښې شى نو ددوى عمل څه بل شان وى ماته خو اشكال دې لږ شان د مجلس د هوښيارانو نه تپوس اوكړه چه د توبې تلقين كونكى پخپله توبه ولې كمه اوباسى؟ گويا دوى ته په ورځ د جزاء باندې يقين نشته چه سره د دليلونو او د حجتونو د الله تعالى د عدل په كارونو كښې گوتې وهى او د دخل اندازئ كوشش كوى.

ابراهيم تيمى رحمه الله ډير زيات متقى او ډير محتاط انسان وو خو د يرې او خشيت او تواضع نه ،،خشيت أن أكون مكذباً،، وائى.معلومه شوه چه د كامل ايمان باوجود يرېدل او ريېدل پكار دى.ددوى اشاره دې آيت طرف ته ده. ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ○ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ○﴾ [1] يعنى پخپله خولې د قانون د اطاعت اعلان كول.او بې عمل نه كول.په دې سره د الله تعالى غضب په جوش كښې راځى

،،مكذباً،، د اسم فاعل په صيغې سره د ونيلو په صورت كښې دا معنى هم كيدې شى چه د عمل په اعتبار سره د دين تكذيب كونكو سره د مشابهت په وجه زما شمير هم د شريعت په دروغژن كونكو كښې اوشى.څكه چه په كافرانو كښې د منافقانو په ژبه كښې خو ډير زيات طاقت وى.خو د عمل په ميدان كښې هغوى صفر وى.

او كه ،،مكذباً،، اسم مفعول اوونيلې شى.نو مطلب به دا وى.چه زه يريږم د الله تعالى نه.چه هغه زما تكذيب اونكړى.څكه چه هركله عمل د قول مخالف دې.نو عمل كتلو سره به خلق دروغژن وائى.ابراهيم تيمى رحمه الله چونكه ډير عابد.زاهد او متقى وو وعظ به ئې كولو ددوى مقصد دا دې.چه هركله زه د خپلو اقوالو په رڼرا كښې د خپل عمل جائزه اخلم نو ماته يره كيږى.چه زما تكذيب اونكړې شى.[2] والله اعلم

قوله: وَقَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ: او ابن ابى مليكه اوونيل

دا ابوبكر عبدالله بن عبيدالله بن ابى مليكه زهير بن عبدالله بن جدعان تيمى قرشى دې ابومحمد هم ددوى كنيت دې.[3]

دحضرت عائشې.حضرت عبدالله بن عباس.حضرت عبدالله بن عمر.حضرت عبدالله بن

---

[1] سورة الصف:٢.٣)

[2] فضل البارى(١\٥١٣.٥١٤) وعمدة القارى (١\٢٧٥) وفتح البارى(١\١١٠)

[3] تهذيب الكمال(١٥\٢٥٦) وتقريب التهذيب (ص.٣١٢) اوپه طبقات ابن سعد(٥\٤٧٢) كښې ددوى نسب نامه لږه غونډې مختلف ده حالانكه په عامو مراجعو كښې هم هغه شان ده لكه څنگه چه په تهذيب الكمال كښې نقل شوې ده)

عمرو بن العاص، حضرت عبدالله بن الزهیر، حضرت ابو محذوره، حضرت ام سلمه او د حضرت اسماء بنت ابی بکر صدیق رضي الله عنهم نه روایت کوی (۱)

ددوی نه علاوه نې ډیر حضرات کتلی دی خو دهغوی نه نې روایت نه دی کړی. مثلاً علی بن ابی طالب. اوحضرت سعدبن ابی وقاص رضي الله عنهما نې کتلی دی. خوددوی نه نې روایت نه دی کړی.

ددوی نه ایوب سختیانی، جریر بن حازم، حمید الطویل، عبدالعزیز بن جریج، عبدالملك بن عبدالعزیز بن جریج، عطاء ابن رباح، لیث بن سعد، لیث بن ابی سلیم او یزید بن ابراهیم تستری رحمهم الله وغیره روایت د حدیث کوی. (۲)

امام ابوزرعه او امام ابوحاتم رحمهما الله فرمائی.،،ثقة،،(۳)

ابن سعد رحمه الله فرمائی.،،وکان ثقة کثیرالحدیث،،(۴)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.،،وکان عالماً مفتیاً صاحب حدیث وإتقان، معدود فی طبقة عطاء، وقد ولی القضاء لابن الزبیر، والأذان أیضاً،،(۵)

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.(۶)

امام عجلی رحمه الله فرمائی.،،تابعی ثقة،،(۷)

ابن خلفون رحمه الله فرمائی.،،رجل صالح جلیل ثقة،،(۸)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.،،ثقة فقیه،،(۹)

په ۱۱۷ هـ کښې ددوی وفات اوشو.(۱۰)

قوله: أَدْرَكْتُ ثَلَاثِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: زه د نبی کریم ﷺ په اصحابو کښې دیرشو حضراتو سره ملاو شوی یم.

د ابن ابی ملیکه رحمه الله ددې اثر تخریج دابن ابی ملیکه رحمه الله دا اثر ابوخیثمه رحمه الله پخپل ،،تاریخ،، کښې(۱۱)محمدبن نصر مروزی رحمه الله پخپل ،،کتاب الایمان،، کښې(۱۲)، ابو زرعه

---

(۱) تهذیب الکمال(۱۵\۲۵۶)
(۲) المرجع السابق)
(۳) تهذیب الکمال(۱۵\۲۵۸)
(۴) طبقات ابن سعد(۵\۴۷۳)
(۵) سیر أعلام النبلاء(۵\۸۹)
(۶) الثقات لابن حبان (۵\۲)
(۷) تعلیقات تهذیب الکمال(۱۵\۲۵۹)
(۸) المرجع السابق)
(۹) تقریب التهذیب(ص. ۳۱۲) رقم ۳۴۵۴)
(۱۰) سیر أعلام النبلاء (۵\۹۰)
(۱۱) فتح الباری(۱\۱۱۰) وعمدة القاری (۱\۲۷۵)
(۱۲) المراجع السابقة)-

دمشقي رحمه الله پخپل ..تاريخ.. كښې.(۱) او امام بخاري رحمه الله پخپل ..تاريخ كبير.. كښې (۲) موصولاً نقل كړې دې.

په دې طرق كښې په يو طريق كښې هم ددې اصحابو كرامو رضي الله عنهم نوم نه دې اخستلې شوې.د كومو په باره كښې چه دلته ذكر دې البته ابن ابى ملكيه چه كومو صحابهٔ كرامو رضي الله عنهم سره زيات ملاقات كړې دې.هغوى كښې حضرت عائشه. حضرت اسماء. عبادله اربعهٔ. حضرت ابوهريره. حضرت عقبه بن الحارث. او حضرت مسور بن مخرمه رضي الله عنهم دى.او ددوى نه ئې روايت هم كړې دې.(۳)

قوله: كُلُّهُمْ يَخَافُ النِّفَاقَ عَلَى نَفْسِهِ: دوى ټول به د خپل خان په باره كښې د نفاق نه يريدل. ددې يرې منشاء زياته ورع (تقوى) وه.خكه چه دا حضرات ډير زيات متقى او پرهيزګاران وو.په دې وجه به هر څيز كښې دوى ته خطره كيدله.يريدل به چه چرته ددوى يو قول او عمل د منافقانو د قول او عمل مشابه نشي.حضرت عمر رضي الله عنه سره ددې چه ډيره لويه مرتبه ئې وه.د رسول الله صلى الله عليه وسلم رازدار حضرت حذيفه رضي الله عنه له به ورتلو او ونيل به يې:چه په ما كښې خو څه د نفاق عمل نشته؟ (۴)

علامه ابن بطال رحمه الله فرمائى.چه په اصل كښې حضرات صحابهٔ كرام رضي الله عنهم اوږد عمر موندلې دې.او خپل مخې ته په شريعت كښې د تغير مشاهده كړې ده.خو د قدرت نه كيدو په وجه ئې انكار نه دې كړې.په دې وجه به دوى ته دا خطره وه.چه چرته دا خاموشي په مداهنت (يعنى د حق پټولو) كښې داخل نه وى.او ددوى په دې طريقه خاموش پاتې كيدل د نفاق څه څيز نه وى.(۵)

قوله: مَا مِنْهُمْ أَحَدٌ يَقُولُ إِنَّهُ عَلَى إِيمَانِ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ: په دوى كښې به چا هم نه ونيل.چه دده ايمان د جبرئيل او ميكائيل عليهما السلام د ايمان په شان دې. يعنى لكه څنګه چه د جبرئيل او ميكائيل عليهما السلام ايمان مكمل دې.خكه چه ددوى ايمان شهودى دې.په دوى كښې به يو سړى هم د خان په باره كښې داسې ګمان نه كولو.بلكه هر يو ته به دا ويره وه.چه دده په ايمان كښې چرته د يو طرفه كمى نه وى راغلې.دده د نفاق څه عمل نه وى صادر شوې.د نفاق څه خبره ئې د ژبې نه نه وى وتلې.

---

(۱) فتح البارى (۱۱۰\۱) وتغليق التعليق (۵۲\۲)
(۲) التاريخ الكبير(۱۳۷\۵) رقم الترجمة (۴۱۲)
(۳) فتح البارى (۱۱۰\۱، ۱۱۱)
(۴) عن زيد بن وهب قال مات رجل من المنافقين فلم يصل عليه حذيفة فقال له عمرأمن القوم هذا ؟ قال نعم.قال بالله أمنهم أنا؟ قال لا ولن أخبربه بعدك أحداً (رواه ستة فى الإيمان) كذا فى كنزالعمال (۳۴۴\۱۳) رقم ۳۶۹۶۲ ورقم ۳۶۹۶۱)
(۵) عمدة القارى(۲۷۵\۱) وفتح البارى(۱۱۱\۱)-

بعضې حضرات ارشاد فرمائي.چه د امام بخاري رحمه الله مقصود ددې جملې نقل كولو سره امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله باندې تعريض دې.ځكه د امام ابوحنيفه رحمه الله نه منقول دى. ،،إيمانى كإيمان جبرئيل،، خو دا خبره په مشهورو شارحينو نووى، كرمان،عينى، عسقلانى، قسطلانى وغيره كښې چا هم نه ده ذكركړې.نو دا وئيل چه په دې سره امام ابوحنيفه رحمه الله باندې تعريض مقصود دې.صحيح نه معلوميږى .(١)

ددې يوه قرينه دا هم د ه.چه دلته د امام بخارى رحمه الله الفاظ دى.،،...على إيمان جبرئيل و ميكائيل،، حالانكه دامام ابوحنيفه رحمه الله نه چرته هم د ،، ميكائيل،، لفظ منقول نه دې.
په دې وجه څه لرې نه ده.چه د امام بخاري رحمه الله مقصود د خپل يو معاصر ترديد وى.چه هغه مرجى صاحب بدعت وى.چه د هغه نه دا قول منقول وى.(٢)

ايا ،،ايمانى كايمان جبرئيل،، جمله د امام ابوحنيفه رحمه الله نه ثابت ده؟ دلته دا خبره هم قابل غور ده.چه دا جمله د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله نه ثابته هم ده اوكه نه؟
ملا على قارى رحمه الله په ،،شرح الفقه الاكبر،، كښې او علامه ابن عابدين شامى رحمه الله په ،،ردالمختار،، كښې د ،،خلاصة،، په حوالې سره،د امام محمد رحمه الله په طريق سره د امام ابوحنيفه رحمه الله قول نقل كړې دې.((أكره أن يقول الرجل: إيمانى كإيمان جبرئيل، ولكن يقول: آمنت بما آمن به جبرئيل))(٣)

دغه شان حافظ ذهبى رحمه الله د امام ابويوسف رحمه الله قول نقل كړې دې.((من قال إيمانى كإيمان جبرئيل فهوصاحب بدعة))(٤)

نو هركله چه د امام اعظم رحمه الله نه صاحبين رحمهما الله (چه دوى د هغوى د علومو حافظان او ناشر دى) نقل كوى.چه ،،إيمانى كإيمان جبرئيل،، وئيل خوښ نه دى. نو امام صاحب رحمه الله به دا څنگه خوښولو؟

ملا على قارى رحمه الله فرمائي.((وكذا لا يجوز أن يقول أحد: إيمانى كإيمان الأنبياء عليهم السلام، بل ولا ينبغى أن يقول: إيمانى كإيمان أبى بكر وعمر رضي الله عنهما وأمثالهما))(٥)
او كه اومنلې شى.چه د امام اعظم رحمه الله نه دا جمله منقول ده.نو دا تفصيل پيژندل پكار دى.چه د امام صاحب رحمه الله نه په دې مقام درې قسمه جملې نقل كړې شوى دى.

---

(١) انظر تعليقات لامع الدرارى(١\٥٩٩)-
(٢) امدادالبارى(٤\٦٩٩)-
(٣) شرح الفقه الأكبرعلى القارى (ص.٨٧. ٨٨) وردالمحتار(٢\٤٨٥)-
(٤) تذكرة الحفاظ (١\٢٩٣) ترجمة القاضى أبى يوسف الإمام العلامة)
(٥) شرح الفقه الأكبر للقارى(ص.٨٨)

① يو لفظ صاحب د بحر نقل كړې دې ((ايماني كايمان جبريل، ولا تقول: ايماني مثل ايمان جبريل صلوات الله عليه وسلامه)) (¹)

② دويم لفظ صاحب د خلاصې نقل كړې دې ((أكره أن يقول الرجل إيماني كإيمان جبريل، ولكن يقول: آمنت بما آمن به جبريل)) (²)

③ دريم لفظ په ،،كتاب العالم والمتعلم،، كښې منقول دې ((إن إيماننا مثل إيمان الملائكة، لأنا آمنا بوحدانية الله تعالى وقدرته وما جاء من عند الله عزوجل بمثل ما أقرت به الملائكة وصدقت به الأنبياء والرسل، فمن هنا إيماننا مثل إيمانهم، لأنا آمنا، بكل شئ آمنت به الملائكة مما عاينته من عجائب الله تعالى ولم نعاينه نحن، ولهم بعد ذالك علينا فضائل، في الثواب على الإيمان وجميع العبادات.....)) (³)

وس دلته دري عبارتونه شول او په دريو واړو كښې په ظاهره تعارض دې. علامه ابن كمال پاشا رحمه الله يوه مستقله رساله كښې دا مسئله ښه واضحه كړې ده او د ټولو عبارتونو محملونه (مقامات) ئې متعين كړي دی. علامه شامي رحمه الله ددې خلاصه رانقل كړې ده چه د هغې حاصل دا دې چه په دې كښې رومبې عبارت د علمائو په حق كښې دې چه دوی په ..كاف.. او ..مثل.. كښې فرق كوی ځكه چه ..كاف.. خو مطلق دتشبيه دپاره راځي يا داسې اووايئ چه د تشبيه في الذات دپاره استعماليږی او ..مثل.. د تشبيه في الذات سره سره د تشبيه في الصفت دپاره هم راځي نو ګويا په رومبی عبارت كښې امام ابوحنيفه رحمه الله د تشبيه في الذات اجازت وركړې دې خو تشبيه في الصفات ئې مكروه ګرځولي دې او ددې اجازت ئې نه دې وركړې ځكه دا ډيره لرې ده چه د انسانانو ايمان د ملائكو د ايمان من كل الوجوه په ټولو صفاتو كښې مشابه شی ځكه چه ملائكو ته خو حضور او شهود حاصل دې او انسان ته دا خبره حاصل نه ده.

دويم عبارت دعوامو په اعتبار سره دې چه په دې كښې د ،كاف، استعمالولو نه هم منع كړې شوې ده. ځكه چه دوی په ،،كاف،، او ،،مثل،، كښې د فرق نه ناخبره وی.

دريم عبارت په كوم كښې چه د ،،مثل،، استعمال دې په دې كښې دا واضحه كړې شوې ده چه د جبريل او ملائكو ايمان سره د مشابهت او تشبيه څه وجه ده او هغه وجه دا ده چه د دواړو مؤمن به يو دې په كومو څيزونو چه ملائك ايمان لری .هم هغه څيزونو باندې انسانان او پيريان هم ايمان ساتی چونكه وجه د تشبيه ذكركړې شوې ده په دې وجه من كل الوجوه مشابهت كيدل نه لازميږی په دې وجه ئې ددې تصريح هم اوكړله چه ((ولهم بعد ذالك علينا فضائل في الثواب....)) يعنی ددوی او زمونږه ايمان برابر نشی كيدې هغوی ته فضيلت زيات

---

¹) البحرالرائق (۲۸۷\۳) باب الطلاق فصل في إضافة الطلاق إلى الزمان)

²) ردالمحتار(۴۸۵\۲)

³) المصدرالسابق)

حاصل دي.خكه چه ددوى ايمان شهودي او حضوري دې.(١) والله اعلم.
حضرت گنگوهى رحمه الله په ،،لامع،، كښې په دې سلسله كښې ډير جوابونه وركړى دى.،،من شاء التفصيل فليراجع إليه،،(٢)

قوله: وَيُذْكَرُ عَنِ الْحَسَنِ مَا خَافَهُ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا أَمِنَهُ إِلَّا مُنَافِقٌ :د حضرت حسن بصرى رحمه الله نه منقول دى.چه د نفاق نه مؤمن يريږى.او منافق خودذي نه هروخت مطمئن اوسيږى.

،،خافه،،او،،أمنه،، كښې ضمير مرفوع كوم طرف ته راجع دې؟ امام نووى رحمه الله فرمائى چه دا ضمير لفظ الجلاله ،،الله،، طرف ته راګرځى.او مطلب دا دې.چه د الله تعالى نه خو مؤمن يريږى.او منافق بې يرې وى.د ابن التين رحمه الله او د متاخرينو د يو جماعت رائې هم دا ده.(٣) ، علامه كرمانى رحمه الله هم دا راجح ګرځولې ده.فرمائيلى ئې دى.چه د ،،ما خافه إلا مؤمن،، مطلب دې.چه ،، ماخاف من الله إلا مؤمن،، ګويا په دې كښې حرف جار ،،من،، حذف كړې شوې دې.او فعل ئې مفعول سره ملاو شوې دې.يعنى هم دا تفصيل په ،، امنه،، كښې هم دې.(٤)

خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه مطلب په دې صورت كښې اګرچه صحيح دې.خو دا نه د حضرت حسن بصرى رحمه الله مقصود دې.او نه د امام بخارى رحمه الله مراد دې.خكه چه دلته كښې اختصار دې.چه ددې په وجه غلط فهمى كيږى.كنى كومو حضراتو چه دا اثر موصولاً نقل كړې دې.ددوى ټولو چه د دې اثر كوم الفاظ نقل كړى دى.د هغې نه معلوميږى.چه دا ضمير لفظ ،،الله،، طرف ته نه راجع كيږى.بلكه نفاق طرف ته راګرځى.(٥) لكه چه روستو به مونږ ددې الفاظ ذكر كړو.

د حضرت حسن بصرى رحمه الله د فرمان مطلب دا دې.چه مؤمن ته د نفاق يره وى.چه چرې ددهٔ په عمل كښې نفاق نه وى داخل شوې.البته منافق د نفاق نه بې يرې وى.

د حضرت حسن بصرى رحمه الله د اثر تخريج د حضرت حسن بصرى رحمه الله دا اثر امام جعفر بن محمد فريابى رحمه الله پخپل كتاب ،،صفة المنافق،، موصولاً تخريج كړې دې.معلى بن زياد رحمه الله فرمائى: ((سمعت الحسن يحلف فى هذا المسجد: بالله الذى لا إله إلا هو، ما مضى مؤمن قط ولا بقى، إلا وهو

---

(١) ردالمحتار على الدرالمختار(٤٨٥/٢) كتاب الطلاق مطلب فى قول الإمام إيمانى كإيمان جبريل عليه السلام)
(٢) لامع الدرارى (٦٠٠/١، ٦٠٥)
(٣) فتح البارى(١١١/١)
(٤) شرح كرمانى(١٨٨/١) علامه عينى رحمه الله دعلامه كرمانى رحمه الله خبره رد كړې ده.اوليكلى ئې دى.((إذا كان الفعل متعديا بنفسه فلا يحتاج إلى تقديرحرف يوصل به الفعل إلا فى موضع يحتاج فيه إلى تضمين معنى فعل بمعنى فعل آخروههنا ليس كذلك عمدة القارى(٢٧٦/١)
(٥) فتح البارى(١١١/١)

من النفاق مشفق، ولا مضى منافق قط ولا بقى إلا وهو من النفاق آمن» دغه شان دا الفاظ هم منقول دى.«من لم يخلف النفاق على نفسه فهو منافق»([1])

دغه شان جعفر فريابى رحمه الله پخپل سند سره د حضرت حسن بصرى رحمه الله نه نقل كړى دى.«لا والله ما أصبح ولا أمسى مؤمن إلا وهو يخاف النفاق على نفسه»([2])

امام احمد رحمه الله پخپل ،،كتاب الايمان،، كښې د حضرت حسن رحمه الله نه نقل كړى دى.«والله ما مضى مؤمن ولا بقى، إلا يخاف النفاق، وما أمنه إلا منافق»([3])

علامه عينى رحمه الله په دې سلسله كښې ددوى نه نور الفاظ هم نقل كړى دى.([4])
په دې ټولو طرقو كښې د ،،نفاق،، صراحت ذكر دې.امام بخارى رحمه الله چه كوم الفاظ ذكر كړى دى.هغې كښې روايت بالمعنى دې.او اختصار دې.نو ضمير ،، نفاق،،طرف ته ګرځول پكار دى.ددې نه وړاندې د ابن ابى مليكه رحمه الله قول تيرشوې دې.«كلهم يخاف النفاق على نفسه» ددې سره به هم مطابقت هغه وخت وى .كله چه ضمير ،،نفاق،، طرف ته اوګرځولې شى.دغه شان د «خوف المؤمن أن يحبط عمله وهو لا يشعر» سره به هم مطابقت هغه وخت وى.كله چه نفاق طرف ته ضمير اوګرځولې شى.والله اعلم.

د حضرت حسن بصرى رحمه الله قول ئې په صيغې د تمريض سره ولې ذكركړې دې؟ دلته يو اشكال دا دې.چه دا خبره مشهوره ده.چه امام بخارى رحمه الله كله صيغه د معروف استعمالوى. او په الفاظو د جزم سره يو روايت ذكر كوى.نو دا د دې د ،،صحت،، دليل وى.([5])
دلته چه كله امام بخارى رحمه الله د ابراهيم تيمى او د ابن ابى مليكه رحمهما الله آثار نقل كړل.نو د ،،قال،، صيغه ئې استعمال كړله.چه دا د جزم دپاره ده.په دې سره ددې د ،،اثارو،، صحيح كيدو طرف ته اشاره اوشوه.خو كله ئې چه د حضرت حسن بصرى رحمه الله اثر نقل كړې دې. نو دا ئې په صيغې د تمريض ،،يذكر،، سره نقل كړې دې.ددې څه وجه ده؟

ددې جواب حافظ ابن حجر رحمه الله په ،، تغليق التعليق،، كښې دا وركړې دې.چه ددې په سند كښې جعفر بن سليمان دې.دا چونكه مضبوط راوى نه دې.په دې وجه ئې د جزم صيغه استعمال نكړله.([6])

---

[1] فتح البارى(۱۱۱۱) وعمدة القارى(۲۷۶۱۱) وتغليق التعليق(۵۳۱۲)
[2] عمدة القارى(۲۷۶۱۱) وتغليق التعليق(۵۴۱۲)
[3] فتح البارى(۱۱۱۱) وعمدة القارى(۲۷۶۱۱) وتغليق التعليق(۵۴۱۲)
[4] عمدة القارى (۲۷۶۱۱)
[5] تقريب النواوى بشرح تدريب الراوى(۱۱۷۱۱. ۱۱۸)
[6] تغليق التعليق(۵۳۱۲)-

حافظ رحمه الله فرمائي كه جعفر بن سليمان زيات مضبوط نه وى نو بيا به هم ددې اثر په صحت باندې څه نقصان نه راځي ځكه چه دا متفرد نه دې (¹)

ددې نه هم ښه جواب حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى كښې وركړې دې. هغه فرمائي چه لكه څنګه د امام بخارى رحمه الله د جزم او د تمريض صيغې استعمالولو معمول. د ضعف او قوت په بنياد باندې دې دغه شان كله كله دا صيغې د بوې بلې قاعدې لاندې هم استعماليږى لكه چه حافظ د خپل استاد حافظ ابوالفضل بن الحسين عراقى رحمه الله په حواله سره قاعده ليكلې ده «إن البخارى لايخص صيغة التمريض بضعف الإسناد، بل إذا ذكر المتن بالمعنى أو اختصره، أتى بها أيضاً، كما علم من الخلاف فى ذالك فهنا كذالك»(²) يعنى امام بخارى رحمه الله صيغه دتمريض صرف د اسناد د ضعف په موقعه باندې نه استعمالوى بلكه په دې موقعه ئې هم راولى. كله ئې چه روايت بلفظه نه وى راوړلې بالمعنى ئې راوړلې وى يا ئې اختصار سره د روايت ذكركړې وى. نو دلته هم بالمعنى او اختصار سره دا اثر ذكركړې شوې دې. په دې وجه ئې ,,يذكر،، د مجهول صيغه استعمال كړې ده. والله اعلم.

قوله: وَمَا يُحْذَرُ مِنَ الإِصْرَارِ عَلَى التَّقَاتُلِ وَالْعِصْيَانِ مِنْ غَيْرِ تَوْبَةٍ لِقَوْلِ اللّٰهِ تَعَالَى وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ: او د هغه څيزونو بيان د كوم نه چه مؤمن له بچ كيدل پكار دى. مثلاً خپل مينځ كښې جنګ جګړې. او په ګناهونو باندې د توبې نه بغير اصرار (او هميشوالې) كول. د الله ﷻ ارشاد دې چه (د مؤمنانو شان دا دې چه: دا خلق په قصد سره ګناهونو باندې هميشوالې نه كوى.

دا د ,,ترجمې،، دويم جزء دې. په دې كښې ,,يحذر،، مجهول صيغه ده. او ذال بالتشديد او بالتخفيف دواړه شان وئيلې شى. (³) په اكثرو رواياتو كښې دلته ,,التقاتل،، دې. حديث باب سره هم دا مناسب دې. حالانكه په بعضو رواياتو كښې د ,,التقاتل،، په ځائې د ,,النفاق،، لفظ دې. حافظ رحمه الله فرمائي چه دلته د ,,النفاق،، لفظ اګرچه روايتاً ثابت نه دې خو معنى صحيح دې. (⁴)

ددې ترجمې د اثبات دپاره امام بخارى رحمه الله ﴿وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ آيت نقل كړې دې. چه په دې كښې ګناهونو باندې د اصرار نه كونكو مدح (تعريف) فرمائيلې شوې دې.

---

¹) المصدر السابق. دا خبره دې ياده وى چه جعفربن سليمان اګرچه فى نفسه ثقه وو. هم ددې وجې امام مسلم او اصحاب سنن اربعه ددوى روايات نقل كړى دى. خودوى شيعه وو. ددې وجې حافظ ذهبى رحمه الله ليكلى دى. ثقة فيه شئ مع كثرة علمه قيل كان أمياً وهو من زهاد الشيعة) ګورئ الكاشف (۱/۲۹۴) رقم ۷۹۲) دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله دوى له صدوق ګرځولى دى. تقريب التهذيب (ص. ۱۴۰، رقم ۹۴۲)

²) فتح البارى (۱/۱۱۱)

³) فتح البارى (۱/۱۱۱) وعمدة القارى (۱/۲۷۷)

⁴) فتح البارى (۱/۱۱۲) وعمدة القارى (۱/۲۷۷)

په ګناهونو باندې د اصرار نقصانات په ګناهونو باندې اصرار ډير خطرناك څيز دې. كه په ګناه صغيره باندې اصرار كيږى.نو دا كبيره جوړيږى.او كه په ګناه كبيره باندې اصرار كيږى.نو ډير خله كفر پورې نوبت رسيږى. په دې اصرار سره زړه كښې ظلمت راځى.او په ده كښې د نيكئ قبلولو استعداد (او طاقت) باقى نه پاتې كيږى.او طاعاتو طرف ته د دوباره رجوع كولو اميد ختميږى. الله ﷻ د بنى اسرائيلو متعلق فرمائيلى دى. ﴿فَلَمَّا زَاغُوٓا أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْ﴾ (١) يعنى كله چه دوى په كوږ چال تلل.او په معاصيو باندې ددوى اصرار باقى پاتې شو.نو الله ﷻ ددوى زړونه كاږه كړل.

دغه شان ارشاد دې. ﴿وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَٰرَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ (٢) په زړه او نظر كښې داسې انقلاب راځى.لكه چه ګويا وړاندې د ايمان د سره توفيق نه وو ملاو شوې

د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما مرفوع حديث دې.«ويل للمصرين الذين يصرون على ما فعلوا وهم يعلمون» (٣)

او كله چه يو سړې ګناه كوى.خو په دې باندې اصرار نه كوى.بلكه توبه اوباسى.نو دده دغه شان خراب حالت نه وى.د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه نه مرفوعاً نقل دى.«ما أصر من استغفر وإن عاد فى اليوم سبعين مرة» (٤) يعنى كه يو سړې يوه ګناه په ورځ كښې اويا خله كوى.او د اويا خله كولو باوجود په مينځ كښې توبه اوباسى.نو هغه لره به معصيت باندې اصرار كونكې نشى وئيلې.

د ترجمې مقصود سره انطباق وړاندې مونږ بيان كړى دى.چه د ترجمة الباب دواړو اجزاو سره د مرجئه ترديد مقصود دې.په دې جزء سره د مرجئه ترديد په دې طريقه كيږى.چه هغه وائى. چه معصيت مضر نه دې.او دلته په معصيت باندې د اصرار نه يره وركولې شى.هركله چه يو څيز مضر نه دې.نو كه په هغې باندې هر څنګه اصرار وى.په هغې كښې د يريدو هيڅ خبره نشته.خو دلته يره وركړې شوې ده.معلومه شوه چه معصيت مضر وى.(٥) والله اعلم بالصواب.

---

(١) سورة الصف:٥)
(٢) سورة الأنعام:١١٠)
(٣) مسند أحمد (١٦٥/٢. ٢١٩) مسند عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما)
(٤) السنن لأبى داود كتاب الصلاة باب فى الإستغفار رقم ١٥١٤ والجامع للترمذى كتاب الدعوات باب رقم ١٠٧ رقم ٣٥٥٩)
(٥) عمدة القارى(٢٧٧/١)

۳۸- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَرْعَرَةَ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ زُبَيْدٍ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا وَائِلٍ عَنِ الْمُرْجِئَةِ فَقَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ(۱) أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ[۶۰۴۴، ۷۰۷۶]

رجال الحديث

① محمد بن عرعرة: دا محمد بن عرعره (بالعين و الراء المهملتين فى كلا الموضعين، على وزن فعللة) بن البرند (بكسر الباء الموحدة و الراء المكسورة و يقال بفتحهما، و سكون النون و فى آخره دال مهملة) القرشى السامى (بالسين المهملة) البصرى دې. ددوى كنيت ابو عبدالله. يا ابو ابراهيم. يا ابو عمرو دې.(۲)

دا اسماعيل بن مسلم عبدى، جرير بن حازم. عبدالله بن عون. عمر بن ابى زائده. او مبارك بن فضاله رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.(۳)

ددوى نه په روايت كونكو كښې امام بخارى. محمد بن بشار بندار. محمد بن المثنى. ابراهيم بن عبدالله كُجى او پخپله ددوى څوئې ابراهيم بن محمد بن عرعره رحمهم الله وغيره حضرات دى.(۴)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى.،،ثقة صدوق،،(۵)

امام نسائى رحمه الله فرمائى.،،ليس به بأس،،(۶)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په .. كتاب الثقات.. كښې ذكركړې دې.(۷)

---

(۱) الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى كتاب الأدب باب ما ينهى عن السباب واللعن رقم ۶۰۴۴ وفى كتاب الفتن باب قول النبى ﷺ لا ترجعوا بعدى كفاراً يضرب بعضكم رقاب بعض رقم ۷۰۷۶) وأخرجه مسلم فى صحيحه (۵۸\۱) كتاب الإيمان باب بيان قول النبى ﷺ سباب المسلم فسوق وقتاله كفر والنسائى فى سننه (۱۷۴\۲) كتاب المحاربة،باب قتل المسلم_ والترمذى فى جامعه فى كتاب البر والصلة باب (بدون ترجمة بعد باب ما جاء فى الشتم) رقم ۱۹۸۳ وفى كتاب الإيمان باب ما جاء سباب المؤمن فسوق رقم(۲۶۳۴، ۲۶۳۵) وابن ماجه فى سننه فى المقدمة باب فى الإيمان رقم ۶۹ وفى كتاب الفتن باب سباب المسلم فسوق وقتاله كفر رقم (۳۹۳۹)

(۲) تهذيب الكمال(۱۰۸\۲۶، ۱۰۹) وعمدة القارى(۲۷۷\۱)

(۳) تهذيب الكمال(۱۰۹\۲۶)

(۴) تهذيب الكمال(۱۰۹\۲۶)

(۵) المصدرالسابق)-

(۶) المصدرالسابق)-

(۷) الثقات لابن حبان (۶۹\۹)

امام حاكم او ابن قانع رحمه الله فرمائى ،،ثقة،،(١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ،،ثقة،،(٢)

په ٢١٣هـ كښې ددوى وفات اوشو (٣)رحمه الله تعالى رحمةً واسعةً،

④ شعبه: دا اميرالمؤمنين فى الحديث شعبه بن الحجاج بن الورد عتكى بصرى دې.ددوى مختصر حالات د ،،باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده،، لاندې تير شوى دى.(٤)

⑤ زبيد: دا زبيد (بالباء الموحدة مصغراً) بن الحارث بن عبدالكريم بن عمرو بن كعب اليامى (بالياء المثناة من تحت) الكوفى دې.ددوى كنيت ابو عبدالرحمن يا ابو عبدالله دې.

ددوى په نسبت كښې د ،،يامى،، په ځائې ،،ايامى،، هم ونيلې كيږى.(٥)

دا د ابراهيم بن سويد نخعى، ابراهيم بن يزيد نخعى، ابراهيم تيمى، سعيد بن جبير، ابو وائل شقيق بن سلمه، امام شعبى، عبدالرحمن بن ابى ليلى او مجاهد بن جبر رحمهم الله وغيره نه روايت كوى.(٦)

ددوى نه په روايت كونكو كښې جرير بن حازم، حسن بن عبيدالله، زهير بن معاويه، سفيان ثورى، سليمان الاعمش، مالك بن مغول، مسعر بن كدام، او منصور بن المعتمر رحمهم الله وغيره حضرات دى.(٧)

امام يحي بن سعيد القطان رحمه الله فرمائى ،،ثبت،،(٨)

امم يحي بن معين، ابوحاتم او امام نسائى رحمهم الله فرمائى ،،ثقة،،(٩)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى ،،حجة قانت لله،،(١٠)

حافظ بن حجر رحمه الله فرمائى ،،ثقة ثبت عابد،،(١١)

---

(١) تهذيب التهذيب (٣٤٣/٩)

(٢) تقريب التهذيب (ص.٤٩٦) رقم (٦١٣٧)

(٣) طبقات ابن سعد(٣٠٥/٧) والثقات لابن حبان (٦٩/٩) والكاشف (٢٠١/٢) رقم (٥٠٤٧)

(٤) كشف البارى(٦٧٨/١)

(٥) تقريب التهذيب (٢١٣) رقم ١٩٨٩) وتهذيب الكمال(٢٨٩/٩، ٢٩٠)

(٦) تهذيب الكمال(٢٩٠/٩)

(٧) تهذيب الكمال(٢٩١/٩)-

(٨) تهذيب الكمال(٢٩٢/٩) وسير اعلام النبلاء(٢٩٧/٥)-

(٩) المصادر السابقة)

(١٠) الكاشف للذهبى(٤٠١/١) رقم ١٦١٤)-

(١١) تقريب التهذيب(ص.٢١٣) رقم ١٩٨٩)-

امام مجاهد رحمه الله فرماني: «أعجب أهل الكوفة إلي أربعة: محمد بن عبدالرحمن بن يزيد، وأبوعبيدة بن عبدالرحمن بن عبد الله...

عباد، وطلحة، وزبيد»[1]

دوی خپله شپه په دريو حصو کښي تقسيم کړي وه.په دې طريقه چه ټوله شپه عبادت اوکړې شی چه په يوه حصه کښې به ئې پخپله عبادت کولو.په دويمه حصه کښې به ددوی خوئي عبدالرحمن پاسيدو.او په دريمه حصه کښې به ددوی دويم خوئې پاسيدو. بيا ډېر کرته به داسې کيدل چه دوی به خپله حصه مکمل کړله.او خپل خوئي عبدالرحمن به ئې پاسولو.نو هغه به څه سستي کوله.نو د هغوی په ځائې به پخپله عبادت کښې مشغوليدو.او بيا به ئې عبدالرحمن پاسولو.که هغه به هم سستي کوله.نو ددوی په ځائې به هم پخپله عبادت کښې لګيا کيدو.دغه شان به کله کله ټوله شپه په ولاړه تيريدله.[2]

په ۱۲۲ھ يا ۱۲۴ھ کښې ددوی وفات شوې دې.[3] رحمه الله تعالى رحمة واسعة،

⑥ ابووائل: دا مشهور مخضرم تابعي حضرت ابو وائل شقيق بن سلمه اسدی کوفی دې. دوی د نبی کريم ﷺ زمانه موندلې ده.خو ددوی د زيارت سعادت (او شرف) نه دې حاصل شوې.[4]

دا د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه نه روايت کوی.خو دا روايات مرسل دی.او دوی ته د حضرت عمر، حضرت عثمان، حضرت علی، حضرت عبدالله بن مسعود، حضرت عمار بن ياسر، حضرت خباب بن الارت، حضرت سعد بن ابی وقاص، حضرت ابو موسی اشعری، حضرت اسامه بن زيد، حضرت عبدالله بن عمر، حضرت عبدالله بن عباس،حضرت عبدالله بن الزبير، حضرت ابو الدرداء، حضرت ابو مسعود بدری، حضرت براء بن عازب،حضرت مغيره بن شعبه، حضرت جرير بن عبدالله بجلی، حضرت کعب بن عجره، حضرت ابوهريره، حضرت عائشه، حضرت ام سلمه، حضرت معاذ بن جبل، او حضرت ابو سعيد خدری رضی الله عنهم نه علاوه نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه هم د حديث اوريدو سعادت حاصل شوې دې.[5]

ددوی نه په روايت کونکو کښې د جامع بن ابی راشد، حبيب بن ابی ثابت، حماد بن ابی سليمان الفقيه، زبيد اليامی، سعيد بن مسروق ثوری، سليمان الاعمش، سلمة بن کهيل، عاصم بن بهدله، عامر بن شراحيل شعبی، منصور بن المعتمر، ابو اسحاق سبيعی، او مغيره بن مقسم ضبی رحمهم الله پشان ډېر عالمان او اساطين حديث رحمهم الله دی.[6]

---

[1] تهذيب الكمال(۱۹\۲۹۱) وسير أعلام النبلاء(۵\۲۹۶)_

[2] تهذيب الكمال(۱۹\۲۹۲)وسير أعلام النبلاء(۵\۲۹۶)_

[3] تهذيب الكمال (۱۹\۲۹۲)_

[4] تهذيب الكمال (۱۲\۵٤۸) وتهذيب النووی (۱\۲٤۷) وسير أعلام النبلاء (٤\۱۶۱)

[5] المصادر السابقة)

[6] المصادر السابقة)-

امام وكيع بن الجراح رحمه الله فرمائى ،،كان ثقة،،(١)
امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى ،،ثقة لا يسأل عن مثله،،(٢)
امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائى ،،كان ثقة كثير الحديث،،(٣)
عمرو بن مره رحمه الله فرمائى «قلت لأبي عبيدة، من أعلم أهل الكوفة بحديث عبدالله؟ قال: ابو وائل»(٤)
ابراهيم نخعي رحمه الله فرمائى «عليك بشقيق، فإني أدركت الناس وهم متوافرون، وإنهم ليعدونه من خيارهم»(٥)
دوى د ډيرو اوچتو شريفانه اخلاقو مالك وو.عاصم بن بهدله رحمه الله فرمائى «ما سمعت أبا وائل سب إنسانا قط ولا بهيمة»(٦)
ددوى د زرينو اقوالو خنى دا دي چه «نعم الرب ربنا، لو أطعناه ما عصانا»(٧)
دغه شان ددوى ارشاد دي «ما في أمرائنا هؤلاء، واحدة من اثنتين ما فيهم تقوى أهل الإسلام، ولا عقول أهل الجاهلية»(٨)
په ٨٢ھ كښې ددوى وفات اوشو.(٩)،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،
⑤ عبدالله: دا مشهور صحابى حضرت عبدالله بن مسعود هذلى رضي الله عنه دي.ددوى حالت وراندې په ،،باب ظلم دون ظلم،، كښې تير شوى دى.
قوله: سَأَلْتُ أَبَا وَائِلٍ عَنِ الْمُرْجِئَةِ: زبيد وائى چه ما د ابو وائل نه د ،، مرجئه،، په باره كښې تپوس اوكړو. مطلب دا دي چه د مرجئه چه كوم دا خيال دي چه د ايمان په موجودګۍ كښې معاصى كول، او عمل پريخودل مضر نه دي.صحيح دي او كه نه؟ نو ابو وائل رحمه الله په ځانې ددې چه د خپل طرفه ئې څه جواب وركړې وې.د حضرت عبدالله بن

(١) تهذيب الكمال (١٢\٥٥٣)
(٢) تهذيب الكمال (١٢\٥٥٣) وسير أعلام النبلاء(٤\١٦٤)
(٣) طبقات ابن سعد(٦\١٠٢)
(٤) تهذيب الكمال (١٢\٥٥٢) وسير أعلام النبلاء(٤\١٦٣) وتهذيب النووى(١\٢٤٧)
(٥) تهذيب النووى (١\٢٤٧) وتهذيب الكمال(١٢\٥٥٢) وسير أعلام النبلاء(٤\١٦٣) وطبقات ابن سعد(٦\٩٩)
(٦) تهذيب الكمال(١٢\٥٥٢)
(٧) تهذيب الكمال(١٢\٥٥٣) وسير أعلام النبلاء (٤\١٦٤)
(٨) المصادر السابقة)-
(٩) تهذيب الكمال(١٢\٥٥٤) والكاشف (١\٤٨٩) رقم ٢٣٠٣)٠

مسعود ﷺ په حوالې سره نې د نبی کریم ﷺ یو حدیث نقل کړو چه دا په یو وخت کښې دعوه هم ده.او دلیل هم دې.یعنی د مرجئه مذهب باطل دې.خکه چه نبی کریم ﷺ ..سباب.. فسق او .. قتال.. کفر گرخوی.

د ارجاء نه څه مراد دې؟ د ..ارجاء.. معنی په لغت کښې د مؤخر کولو راخی.او په اصطلاح کښې ..ارجاء.. د اعمالو مؤخر کولو ته وائی.مرجئه دا وائی چه د ایمان حقیقت صرف تصدیق دې.او په دوی کښې بعضې د تصدیق او اقرار مجموعې ته ایمان وائی.خو عمل تول د ایمان نه خارج گرخوی.د مطلق ارجاء نه هم دا ،،إرجاء في الإيمان،، مراد اخلی.

ضروری تنبیه بعضې حضراتو نقل کړی دی.چه د تولو نه وړاندې د ارجاء قول اختیارونکې حسن بن محمد بن الحنفیه وو.لکه ابن سعد ﷺ لیکلی دی.چه ((وهو أول من تكلم في الإرجاء))[1]

دغه شان ایوب سختیانی ﷺ نه نقل دی.((إن أول من تكلم في الإرجاء رجل من أهل المدينة يقال له: الحسن بن محمد))[2]

د مغیره ﷺ نه منقول دی.((أول من تكلم في الإرجاء الحسن بن محمد بن الحنفية))[3]

دغه شان حافظ ذهبی ﷺ لیکلی دی.،، وهو أول المرجئة،،[4]

خو حقیقت دا دې.چه دوی د ،،مرجئه،، بانی مقررول بالکل صحیح نه دی. خکه چه دوی د،، ارجاء في الإيمان،، قول نه دې اختیار کړې.بلکه دوی لره په ،، مرجئه،، کښې د شمارلو وجه دا وه.چه دوی دا رائې بنکاره کړې وه.چه مونږ د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر ﷺ سره محبت لرو.خکه چه ددوی په وجه امت کښې د قتال نوبت رانغې.او ددوی په باره کښې هیڅ چاته کله هم شك نه وو.حالانکه ددوی نه روستو چه کوم حضرات راغلی دی.د هغوی په زمانه کښې د مسلمانانو په مینځ کښې قتال اوشو.او فتنې پیدا شوې.په دې وجه مونږ ددوی معامله ،،مؤخر،، کوو.او الله تعالی ته نې حواله کوو.نه دوی سره د دوستئ اظهار کوو.او نه اعلان د برا‌ءت کوو.

حافظ مزی ﷺ د عثمان بن ابراهیم بن محمد بن حاطب نه نقل کړی دی. ((أول من تكلم في الإرجاء الأول الحسن بن محمد بن الحنفية، كنت حاضراً يوم تكلم و كنت في حلقته مع عمي، وكان في الحلقة جحدب و قوم معه، فتكلموا في علي و عثمان و طلحة و الزبير، فأكثروا و الحسن ساكت،ثم تكلم، فقال، قد سمعت مقالتكم، ولم أر شيئاً أمثل من أن يرجأ علي، وعثمان، وطلحة والزبير فلا يتولوا ولا يتبرأ منهم...))[5]

---

[1] طبقات ابن سعد(۳۲۸\۵)-
[2] تهذیب الکمال(۳۲۱\۶)
[3] المصدر السابق)
[4] الکاشف (۳۳۰\۱) رقم ۱۰۶۵)
[5] تهذیب الکمال(۳۲۱\۶)

دغه شان دوی چه کومه رساله لیکلې ده د هغې په آخر کښې دی «وتولى أبابكر وعمر رضي الله عنهما ونجاهد فيهما، ولأنهما لم تقتتل عليهما الأمة، ولم تشك في أمرهما، ونرجئ من بعدهما ممن دخل في الفتنة، فنكل أمرهم إلى الله.....»(۱)

تردې چه کله ددوی دا خبره حضرت محمد بن الحنفیه رحمه الله ته اورسیدله نو هغه نې ملامته کړو او زخمی نې کړو. او وې ونیل.«لا تتولى أباك عليا؟»(۲) آیا ته خپل نیکه حضرت علی رضي الله عنه سره محبت نه کوې؟ ددې نه پس دوی دغه رساله اولیکله.چه په دې کښې دوی خپلې رایې بنکاره کړله.

محمد بن سعد رحمه الله نقل کړی دی.چه دوی ته پخپل دې تصنیف باندې افسوس وو.او کله چه زاذان او میسره دوی ته راغلل.او دوی نې په ذکر شوې رائې باندې ملامته کړل.نو وې ونیل: «لوددت أني كنت مت ولم أكتبه»(۳)

خلاصه دا چه حسن بن الحنفیه لره مرجئه په معنی د ،، الإرجاء في الإيمان،، باندی گرخول صحیح نه دی.لکه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.«المراد بالإرجاء الذي تكلم الحسن بن محمد فيه غير الإرجاء الذي يعيبه أهل السنة المتعلق بالإيمان....» وریسې لیکلی.«المعنى الذي تكلم فيه الحسن أنه كان يرى عدم القطع على إحدى الطائفتين المقتتلتين في الفتنة بكونه مخطئا أو مصيبا، وكان يرى أنه يرجئ الأمر فيهما، وأما الإرجاء الذي يتعلق بالإيمان، فلم يعرج عليه، فلا يلحقه بذلك عاب، والله اعلم»(۴)

دغه شان حافظ ذهبی رحمه الله لیکلی دی.«الإرجاء الذي تكلم به معناه أنه يرجئ أمر عثمان وعلي إلى الله ليفعل فيهم ما يشاء»(۵) والله أعلم وعلمه أتم وأحكم،،

قوله: فَقَالَ حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ: ابو وائل رحمه الله وائی.چه ماته حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حدیث واورولو.چه رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائیل: مسلمان ته کنځلې کول (بدې ردې ونیل) فسق دې.او جنګ جګړې کول کفر دې.

سباب: دا خو یا د ،، سب یسب،، نه اسم مصدر دې.یا د باب مفاعله نه مصدر دې.چه دا مشارکت غواړی.(۱)

---

(۱) تهذيب التهذيب (۲/۳۲۱)
(۲) تهذيب الكمال(۶/۳۲۲)
(۳) طبقات بن سعد(۵/۳۲۸)
(۴) تهذيب التهذيب (۲/۳۲۱)-
(۵) حاشية تهذيب الكمال(۶/۳۲۳) نقلاً عن تاريخ الإسلام للذهبي)
(۱) عمدة القاري(۱/۲۷۸)

د ،،سبّ،، معنى په لغت كښې د ،،قطع،، يعنى د ،،كټ كولو،، راځى.او كنځلې كول چونكه د تعلق كټ كولو سبب جوړيږى.په دې وجه دې ته ،، سب ،، وائى.(١)
بعضو عالمانو وئيلى دى.چه دا د ،،سبة،، نه ماخوذ دې.چه ددې معنى ،،حلقة الدبر،، ده چونكه كنځلې كونكې د مسبوب (چاته چه كنځلې كوى دهغه) عورات (پټ اندامونه) او عيبونه ښكاره كوى.په دې وجه دې ته ،،سب،، وائى.(٢)
،،المسلم،، په اكثرو رواياتو كښې دلته د ،،المسلم،، لفظ دې.البته امام احمد رحمه الله د ،،غندر عن شعبة،، په طريق يو روايت نقل كړې دې.چه په هغې كښې ،، المؤمن،، راغلې دې.په ظاهره درست روايت د ،، المسلم،، دې.چه دا د اكثرو راويانو روايت دې.او د ،،المؤمن،، روايت بالمعنى نقل كړې شوې دې.(٣)والله اعلم.
،،فسوق،،دفسق معنى په لغت كښې،،خروج،، راځى.او د شريعت په اصطلاح كښې د ،،خروج عن الطاعة،، په معنى كښې راځى.ګويا نافرمان سړې د شريعت د حدودو نه بهر اووتلو.(٤)
د فسق درجه د ،،عصيان،، نه اوچته ده.قال الله تعالى: ﴿وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ﴾ (٥) فسوق ئې د كفر او عصيان په مينځ كښې ذكر كړو. يعنى ددې درجه د كفر نه روستو ده. او د عصيان نه وړاندې ده.(٦)
،، وقتاله كفر،، او مسلمانانو سره قتال كول د كفر عمل دې.دلته حقيقتاً قتال هم ممكن دې.او دا امكان هم شته.چه د قتال نه ،، مخاصمت،، مراد وى.(٧)
د مرجئه ترديد: دې حديث سره د مرجئه ترديد اوشو.په دې طريقه چه كنځلې كول ګناه ده.چه دا ،،فسوق،، سره تعبير كړې شوې دې.او ،،فسوق،، مضر دې.دغه شان ،، قتال ،،هم يوه ګناه ده.چه دا د ،،سباب،، نه زياته ده.او دا نبى كريم ﷺ ،كفر،سره تعبير كړې ده.او كفر هم مضر دې.معلومه شوه.چه معاصى د ايمان دپاره مضر دى. نو د مرجئه دا وينا چه ايمان سره معاصى مضر نه دى.غلط او بې اصل دى.

١) تاج العروس (٢٩٢\١١) وعمدة القارى(٢٧٨\١١)
٢) تاج العروس (٢٩٢\١١) وعمدة القارى(٢٧٨\١١)-
٣) فتح البارى(١١٢\١١)
٤) فتح البار(١١٢\١١) وعمدة القارى(٢٧٨\١١)
٥) سورة الحجرات:٧)
٦) فتح البارى(١١٢\١١)
٧) عمدة القارى(٢٧٨\١١)-

ايا دې حديث سره د خوارجو تائيد كيږي؟ ددې حديث د ظاهر نه خوارجو استدلال كړې دې چه د ګناه كبيره يعنى د ،، قتال مسلم،، په ارتكاب باندې حديث كښې د ،،كفر،، اطلاق كړې شوې دې.نو معلومه شوه.چه د ګناه كبيره په ارتكاب سره سړې د ايمان نه خارجيږي.او په كفر كښې داخليږي.

د خوارجو د استدلال الزامى جواب: خو مونږه الزاماً دوى ته وايو.چه كه د كبيره ګناه ارتكاب موجب د تكفير دې.نو نبى كريم ﷺ په دې حديث كښې،،سباب المسلم فسوق،،ولې اوفرمائيل؟ حالانكه ،،سب د مسلم،، هم ګناه كبيره ده.دې ته ئې كفر ولې اونه فرمائيل؟ حالانګه ستاسو د قانون مطابق دواړو باندې د كفر اطلاق كيدل پكار دى.

تحقيقى جواب د ،،وقتاله كفر،، جواب دا دې.چه دا پخپل ظاهر باندې محمول نه دې.نو په دې كښې به تاويل كولې شى.

① د تولو نه غوره تاويل دا دې.چه داسې اووئيلې شى.چه ددې نه كفر اصلى يعنى داسې كفر مراد نه دې.چه د دين نه خارجونكې وى.بلكه كفر فرعى عملى مراد دې.(¹)

په دې داسې پوهه شئ.چه د ايمان يو اصل دې.چه هغه تصديق قلبى دې.او اعمال ددې فرع دى.دغه شان د كفر هم يو اصل دې.چه هغه كفر بالله دې.او اعمال كفريه او معاصى ددې فرع دى.سړې به په كفر كښې هغه وخت داخليږي.كله چه كفر اصلى اوموندې شى.لكه څنګه چه په ايمان كښې به هغه وخت داخليږي.كله چه تصديق قلبى اوموندې شى.كه د فرعى امورو نه څه څيز اوموندې شو.خو د اصلى ايمان وجود نشته.نو دا به مؤمن نه وى.مثلاً يو سړې په الله تعالى باندې ايمان نه لرى.خو په ده كښې د توكل صفت شته.يا په ده كښې جود او سخاوت دې.حيا، حلم او بردبارى ده.دا ټول ايمانى اعمال په ده كښې موجود دى.چونكه دا ټول فرع دى.اصل ايمان نه دې.په دې وجه به دې اوصافو والا سړى ته ،،مؤمن،، نه وئيلې كيږي.

دغه شان كه د يو ايمان او تصديق والا انسان كښې داسې اوصاف اوموندې شى.كوم چه ايمانى اوصاف نه دى.بلكه د كافرانو اوصاف دى.لكه كنځلې، مؤمن سره قتال، په نسبونو كښې طعن لګول، او نوحه كول (په مړو كښې په چغو ژړل) وغيره.ددې اوصافو د موجود كيدو په وجه به مؤمن د ايمان نه نه خارجيږي.دې به د دين د دائرې نه خارج نشى ګرځولې.بلكه مؤمن به وى.البته داسې به وئيلې شى .چه په ده كښې بعضې اوصاف د كافرانو راغلى دى.

اوس په دې حديث پاك پوهه شئ.چه دلته د كفر نه، كفر فرعى مراد دې.يعنى د كفر عمل او د معصيت كفر مراد دې.او معاصى د كافرانو د اعمالو څنې دى. هم دا توجيه به په هغه ټولو مواقعو كښې چليږي.كوم ځائې چه يو عمل ته شارع ﷺ كفر وئيلې دې.امام بخارى رحمه الله وراندې په ،،باب كفران العشير وكفر دون كفر،، كښې هم دا بيان فرمائيلې دې.

¹) فتح البارى(١١٢/١) وعمدة القارى(٢٧٩/١)

② بعضې عالمانو وئيلي دي چه ..قتال.. لره د ..كفر.. كرخولو وجه دا ده چه دا عمل د ..كفر.. مشابه دې خكه چه مؤمن سره قتال كول د كافر كار نه دې.(١) ددې تاويل حاصل هم د رومبى تاويل پشان دې
③ بعضې عالمان فرمائى چه دلته د كفر نه. كفر لغوى مراد دې په لغت كښې د .كفر. معنى.ستر.راخى.كافر ته كافر خكه وئيلې شى چه دې د الله تعالى ربوبيت مستور كوى (پټوى).د هغه وحدانيت. رزاقيت. خالقيت. او مخصوص صفات مستور كوى او د غيرو خلقو دپاره ئې ثابتوى.
دلته مسلمان سره قتال كولو ته كفر وئيلې شوې دې.دا خكه چه دا سړي نعمت د اسلام مستور كوى.اسلام خو د ..سلم.. نه ماخوذ دې چه ددې معنى صلح .امن او سلامتيا ده د اسلام تقاضه خودا وه چه مسلمانانو سره مصالحت او سلامتيا سره اوسيدو.دا نه چه ددوى په مقابله كښې توره راوباسى.كويا قتال كولوسره ده دمسلمان اوداسلام حق مستور كړو.(٢)
④ علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه ,,إنه يؤول إلى الكفر لشؤمه,, يعنى قتال د خپل نحوست په وجه بالآخر كفر ته رسوى.(٣)
⑤ امام خطابى رحمه الله دا په استحلال (حلال كنړلو) باندې محمول كړې دې.يعنى مطلب دا دې چه مسلمان سره قتال كول كفر دې.او قتال كونكې به كافر كيږى.په دې شرط چه دده عقيده دا وى چه مسلمان مباح الدم دې.او دا خبره نه منى چه اسلام دده وينه معصوم كرخولې ده.او دده وينه بهيول حرام دى.(٤)
خوپه دې باندې اشكال كيږى.چه بيا په دې كښې د يو معصيت تخصيص ولې دې؟ لكه څنګه چه قتال د استحلال په وجه د تكفير سبب دې.دغه شان كنځلې (بدې ردې) هم د استحلال په وجه باعث د تكفير دې.حالانكه شارع ﷺ ..سباب.. فسق او ..قتال.. كفر كرخوى.معلومه شوه چه شارع ﷺ د استحلال صورت مراد نه دې اخستې.(٥)

يو اشكال او د هغې جواب دلته دا اشكال كيږى.چه هركله په دې حديث كښې په ,,وقتاله كفر,, كښې د ,,كفر,,نه مراد كفر فرعى دې.اصلى كفر مراد نه دې.او د اهل السنة والجماعة په نيز د كبيره معصيت ارتكاب سره انسان د ايمان نه. نه خارجيږى.نو بيا چه لكه څنګه رسول الله ﷺ د ..سباب.. دپاره د ..كفر.. عنوان اختيار او نه فرمائيلو .نو قتال دپاره به هم نبى كريم ﷺ د ..كفر..عنوان نه اختيارولو.نبى كريم ﷺ د كفر عنوان ولې تجويز كړو؟

---

(١) المصادر السابقة)
(٢) فتح البارى(١١٢/١) وعمدة القارى(٢٧٩/١)
(٣) شرح الكرمانى(١٩٠/١)
(٤) أعالم الحديث للخطابى(١٧٨/١) وفتح البارى(١١٢/١) وعمدة القارى(٢٧٩/١)
(٥) فتح البارى(ج١/١١٣)_

دي جواب دا دي چه چونكه ..قتال..د..سباب..په مقابله كښې ..اغلظ.. دي.يا چونكه
د كفرانو د اعمالو سره زيات مشابه دي په دې وجه دي باندې نبى كريمﷺ د كفر
اطلاق اوفرمائيلو او د ..سباب.. درجه چونكه ددې نه كم تر ده. په دې وجه ئې ددې دپاره
د ..فسوق.. عنوان اختيار كړو (١)

په دې داسې پوهه شئ چه قاعده ده.چه كله دوه څيزونه د يو نوع وى.خو ددې په مراتبو
كښې فرق وى د يو مرتبه كمه وى او د بل مرتبه زياته وى.نو هلته بلغاء په عنوان كښې فرق
كوى چه ددې متفاوتو درجو طرف ته اشاره اوكړې شى.

دلته هم چونكه ..قتال.. او ..سباب.. په حيثيت د معصيت د دواړو يوه نوع ده خو په دې
كښې د قتال حيثيت د سباب په مقابله كښې اشد دې ددې د متفاوت درجو طرف ته اشاره
كولو دپاره رسول اللهﷺ يو دپاره د سپك يعني د .. فسوق..عنوان اختيار اوفرمائيلو او
دويم دپاره ئې سخت يعني د ..كفر.. عنوان اختيار كړو اگرچه دواړه د ..كفر دون كفر.. د
قبيل څني دى.(٢) والله اعلم_

د مرجئه دوه مغالطې او د هغې ازاله مرجئه چه دا وائى.چه دنجات دپاره صرف ايمان كافى
دې.د خپلې دې فاسد عقيدې ښكاره كولو دپاره دوه جملې پيش كوى.چه دا په ظاهره ډيرې
اثرناكې دى:① يوه دا چه لكه څنګه طاعت كفر سره نافع نه دى.دغه شان ايمان سره
معصيت هم مضر كيدل پكار نه دى.په ظاهره دا جمله د غور قابله ښكارى.خو په حقيقت
كښې دا يوه دهوكه ده.مرجئه د ايمان او كفر په حقيقت نه دى پوهه شوى.

علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله په يو مثال سره د ايمان او كفر حقيقت بيان كړې دې چه په
دې سره ددوى دا مغالطه لرې كيږى.هغه فرمائى.چه .. ژوند او مرګ دوه بالمقابل څيزونه
دى.په ژوند كښې هر قسمه نقصانات او امراض موجود كيږى.چه ددې په اعتبار سره ژوند
كښې بې شميره مراتب او درجې دى.د يو پهلوان پشان صحت مند كس ته هم ژوندې انسان
ونيلې شى.او يو بوډا كوم چه د مودو راسې په بيمارئ كښې مبتلا دې.او په دې انتظار
كښې دې چه يو وخت به روح اوځى.هغه ته هم ژوندې ونيلې شى.خو په دواړو كښې بالكل
واضح فرق دې.د دواړو ژوند د يوې درجې نه دې.او هركله چه د يوې درجې ژوند هم باقى
وى.كه هغه د سترګو د رپ په اندازه ولې نه وى.هغه دپاره تدبيرونه كولې شى.او ډير خله
دا تدبيرونه نافع هم وى.هيڅ يو عاقل دا نشى ونيلې.چه په ژوند كښې چه كوم عوارض او
امراض راپيښيږى.هيڅ تدبير هغې دپاره نافع نه وى.تولو دنيا دا منى.چه تركومې پورې
ژوند باقى دې.كه په هره درجه كښې وى.تدابير نافع كيدې شى خو د مرګ راتلو نه روستو
هيڅ علاج نافع نشى كيدې.كه په اوچته پيمانه باندې تدبير ولې نه وى.

هركله چه دا خبره په دماغو كښې راغله.نو په دې پوهه شئ چه په اصطلاح د قرآن كښې

---

(١) شرح الكرمانى(١١٩٠/١) وعمدة القارى(٢٧٩/١)_
(٢) فضل البارى(٥٢١/١)

کفر او ایمان مرګ او ژوند سره تعبیر کړې شوې دې.کله د الله تعالی ارشاد دې. ﴿أَوَمَنْ كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ﴾(١) یعنی کوم چه د جهالت او ضلالت په مرګ مړ شوې وو.بیا مونږه هغه لره د ایمان او عرفان روح سره ژوندې کړو.په یو بل مقام باندې ارشاد دې.﴿ إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ﴾(٢) یعنی لکه څنګه چه یو مړی ته خطاب کول. دده په حق کښې فائده مند نه دی.هم دا حال د هغه چا دې.چه زړونه ئې مړه شوی دی.ددوی په حق کښې هیڅ نصیحت فائده مند او نافع نه دې.

د مرجئه مذکوره قول هم داسې دې.لکه چه یوکس اووائی.چه لکه څنګه چه مرګ سره هیڅ تدبیر او علاج نافع نه دې.دغه شان ژوند سره هم هیڅ بد پرهیزی مضر نشی کیدې.دا خبره سوا د مجنون (او لیونی) نه بل څوك وئیلې شي؟ د مرجئه دا خبره یقینا چه غلطه ده

② دویمه خبره چه په هغې سره دوی خلق په مغالطه کښې اچوی.هغه دا ده.چه لکه څنګه چه کفر له د یوې لمحې دپاره جنت ته تلل نشته.دغه شان ایمان له هم د یوې لمحې دپاره په دوزخ کښې تلل پکار نه دی.اوس که عصاة مؤمنین په دوزخ کښې اوغورځولې شي.نو ددې سره سره به د ایمان هم په دوزخ کښې تلل لازمی وی؟

ددې جواب صوفیه حضراتو دا ورکړې دې.چه د عصاة مؤمنینو په دوزخ کښې د غورځولو په وخت به ددوی ایمان جدا ایخودې شی.لکه څنګه قیدی لره په جیل کښې د داخلولو په وخت دده لباس وغیره اوبنکلې شی.او جدا ایخودې شی.او قیدیان په وردۍ کښې په جیل کښې ساتلې شی.بیا چه کله د سزا موده ختمه شی.نو د ایمان لباس به اچولې شی.او په جنت کښې به داخلولې شی.

اعراض به د خپل محل نه څنګه جدا کیږی؟ باقی پاتې شو دا اشکال چه ایمان او ایمانیات خو اعراض دی.دا د خپل محل نه څنګه جدا کیدې شي؟ خو ددې اشکال د سره نشته.څکه چه په کور د آخرت کښې به اعراضو نه جواهر جوړ شی.د نبی کریم ﷺ احادیث په دې خبره باندې دلالت کوی.چه ددې مادی دنیا نه علاوه یو بل داسې عالم موجود دې.چه په دې کښې به معنوی او مخفی څیزونه مثلاً صفات انسانی وغیره د خپل صفت مناسب په جسم کښې ښکاره کیږی.لکه نبی کریم ﷺ ارشاد فرمائیلې دې.«اقرءوا القرآن فإنه يأتي يوم القيامة شفيعا لأصحابه، اقرءوا الزهراوين، البقرة وسورة آل عمران، فإنهما تأتيان يوم القيامة كأنهما غمامتان، أو كأنهما غيايتان، أو كأنهما فرقان من طير صواف، تحاجان عن أصحابهما....»(٣)په دې حدیث کښې د سورة بقره او سورة آل عمران په باره کښې نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه دا دواړه سورتونه

---

(١) الأنعام: ١٢٢)

(٢) النمل: ٨٠)

(٣) صحیح مسلم (١١٠٧٢) كتاب فضائل القرآن باب فضل قراءة القرآن وسورة البقرة)

په د قيامت په ورځ د دوو وريځو، يا د دوو چترو. يا د صف په شکل کښې د مارغانو د دوو ډلو په صورت کښې راځي

دغه شان د نبی کريم ﷺ ارشاد دې ((إن الله يبعث الأيام يوم القيامة على هيأتها ويبعث الجمعة زهراء منيرا، أهلها يحفون بها كالعروس، تهدى إلى كريمها، تضيئ لهم، يمشون في ضوئها، ألوانهم كالثلج بياضا، و ريحهم يسطع كالمسك، يخوضون في جبال الكافور، ينظر إليهم الثقلان، لا يطرفون إلا تعجبا حتى يدخلون الجنة، لا يخالطهم إلا المؤذنون المحتسبون))([1])

په دې حديث شريف کښې د جمعې د ورځې په باره کښې راغلی دی چه الله تعالی به دا چمکدار او روښانه ښکاره کوی.

دغه شان د نبی کريم ﷺ ارشاد دې ((يؤتى بالموت كهيأة كبش أملح....))([2])

ددې علاوه نور هم ډير احاديث دی چه دهغې نه ثابتيږی چه ددې عالم عنصری نه علاوه نور هم ډير داسې څيزونه دی چه دهغې د عامو خلقو په نيز جسم نشته خو هغه د خپلو صفاتو مناسب جسم لری لکه مثلاً چه اعمال به تللې کيږی ([3]) او تسبيح وغيره به د اشجارو (ونو) په صورت کښې وی ([4])

حضرت شيخ الاسلام علامه شبير احمد عثمانی رحمه الله فرمانی چه ..عصاة مومنين.. لره سره د ايمان نه په دوزخ کښې غورځولو کښې څه شبه ده؟ لکه څنګه چه سره زر په بهټئ کښې اچولې شی خو اصلی سره زر نه سوځی بلکه نور خيرې وغيره فنا کيږی او خالص سره زر صفا چمکدار راوځی دغه شانْ دهوبی زياتې خيرنې کپړې په بهټئ باندې ايږدی خيرې ختميږی اوکپړه پاکه صفا راوځی دغه شان مومن لره په اور کښې غورځولو سره به دده زړه محفوظ وی چه دا د ايمان محل دی په دې باندې به هيڅ اثر نه پريوځی دده زړه به داسې د اور د اثر نه محفوظ ساتلې کيږی لکه څنګه چه حضرت خليل الله عليه السلام د خپل جسد مبارك سره په اور کښې محفوظ پاتې شوې وو ([5]) والله اعلم وعلمه أتم وأحكم.

---

[1]) المستدرک للحاکم(٢٧٧\١) کتاب الجمعة فضائل يوم الجمعة وکذلک رواه ابن خزيمه فی صحيحه کذا قال الألبانی فی سلسلة الأحاديث الصحيحة (١٢-٣٣٠، ٣٣١) رقم ٧٠٦)

[2]) صحيح البخاری(٦٩١\٢) کتاب التفسير سورة مريم باب قوله تعالی(وأنذرهم يوم الحسرة..)

[3]) قال تعالی:(والوزن يومئذالحق فمن ثقلت موازينه فأولئک هم المفلحون ومن خفت موازينه فأولئک الذين خسروا أنفسهم بما کانوا بآياتنا يظلمون (الأعراف:٨، ٩) وغيرها من الآيات)

[4]) عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لقيت إبراهيم ليلة أسری بی فقال يا محمد أقرئ أمتک منی السلام وأخبرهم أن الجنة طيبة التربة عذبة الماء وأنها قيعان وأن غراسها سبحان الله والحمد لله ولاإله إلا الله والله أکبر.. الجماع للإمام الترمذی کتاب الدعوات باب (بلاترجمة بعد باب ما جآء فی فضل التسبيح والتکبير والتهليل والتحميد) رقم ٣٤٦٢)

[5]) دمرجئو دمغالطې اود دې دازالې دپاره ټول مباحث د فضل الباری نه ماخوذ دی.(٥١٨\١- ٥٢١)

٣٠- أَخْبَرَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ حُمَيْدٍ حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ أَخْبَرَنِي عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ() أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يُخْبِرُ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَقَالَ إِنِّي خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ وَإِنَّهُ تَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ فَرُفِعَتْ وَعَسَى أَنْ يَكُونَ خَيْرًا لَكُمْ الْتَمِسُوهَا فِي السَّبْعِ وَالتِّسْعِ وَالْخَمْسِ

رجال الحديث

① قتيبه بن سعيد: ددوی حالات وړاندې د ،، باب إفشاء السلام من الإسلام،، لاندې تير شوی دی.

② اسماعيل بن جعفر: ددوی حالات هم وړاندې د ،،باب علامة المنافق،، لاندې تير شوی دی.

③ حميد: دا ابو عبيده حميد(بالتصغير) بن ابی حميد الطويل. الخزاعی. البصری دی.( ) ددوی د پلار ابوحميد په نوم کښې تقريباً لس اقوال دی.( )

دوی ته طويل ولې وئيلې کيای؟ په دې سلسله کښې يو قول دا دې.چه دا پخپله د وړوکی قد وو.خو ددوی دواړه لاسونه اوګده وو.لکه ونيلې شی.چه دې به کله مړی سره اودريدو او دواړه لاسونه به ئې اوږده کړل.نو يو لاس به ئې د هغه سر ته رسيدل.او دويم لاس به ئې دهغه پښو سره لګيدل.

يو قول دا هم دې.چه دې خو پخپله څه دومره اوګد نه وو.البته ددوی په ګاونډ کښې ددۀ په نوم يوکس اوسيدو.چه هغه به د ،، حميد قصير،، په نوم سره پيژندلې کيدو.نو دوی ته د فرق دپاره ،، حميد الطويل،، اوونيلی شو.( )

دوی د حضرت انس رضي الله عنه نه علاوه د تابعينو يو لونې جماعت نه حديثونه اوريدلی دی.چه په دوی کښې حضرت ثابت بنانی، حسن بصری، رجاء بن حيوه، عکرمه مولی ابن عباس، او نافع مولی ابن عمر رضي الله عنهما خاص طور باندې قابل ذکر دی.( )

ددوی نه روايات کونکی هم ډير اهل علم دی.چه په هغوی کښې ابو اسحاق ابراهيم بن محمد الفزاری. اسماعيل بن جعفر. اسماعيل بن عليه، حماد بن زيد. حماد بن سلمه،

( ) الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی صحيحه فی کتاب فضل ليلة القدر باب معرفة ليلة القدر لتلاحی الناس رقم ٢٠٢٣) وفی کتاب الأدب باب ما ينهی عن السباب واللعن رقم ٦٠٤٩) والنسائی فی سننه الکبری (٢٧٠١٢. ٢٧١) کتاب الإعتکاف باب التماس ليلة القدر فی التسع والسبع والخمس (٣٥٥\٧)

( ) تهذيب الکمال(٣٥٥\٧)

( ) تقريب التهذيب (١٨١) رقم ١٥٤٤)

( ) د دې تولو اقوالو دپاره اوګورئ تهذيب الأسماء واللغات (١٧٠١١) وتهذيب الکمال(٣٥٨\٧، ٣٥٩)

( ) تهذيب الأسماء (١٧٠١١) وتهذيب الکمال(٣٥٥\٧)

ربيع بن صبيح، زهير بن معاويه، سفيان بن سعيد ثوری، سفيان بن عيينه، شعبه بن الحجاج، عبدالعزيز دراوردی، عمران القطان، معاذ بن معاذ ،معتمر بن سليمان، يحي بن سعيد انصاری، يحي بن سعيد القطان او يزيد بن هارون رحمهم الله پشان اساطين (لوئي عالمان) د حديث شامل دی.(١)

ددوی په ثقاهت او جلالت باندې اتفاق دې.(٢)

لکه امام يحي بن معين رحمه الله فرمائی.،،ثقة،،(٣)

امام عجلی رحمه الله فرمائی.،،بصری تابعی ثقة،،(٤)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.،،ثقة لا بأس به،،(٥)

عبدالرحمن بن يوسف بن خراش رحمه الله فرمائی.،،ثقة صدوق،،(٦)

په حميد الطويل باندې بعضو حضراتو کلام کړې دې.په دې سلسله کښې يوه خبره خو دا ونيلې شوې ده. چه ده به تدليس کولو.لکه ابن سعد رحمه الله فرمائی. ((كان ثقة كثير الحديث، إلا أنه ربما دلس))(٧)

دغه شان ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې.او فرمائيلی ئې دی.،،و كان يدلس،،(٨)

ابن خراش رحمه الله فرمائی.((فى حديث شئ يقال :إن عامة حديثه عن أنس إنما سمعه من ثابت))(٩)

دغه شان د شعبه رحمه الله نه نقل دی.((كل شئ سمع حميد عن أنس خمسة أحاديث))(١٠)

او هم ددوی نه منقول دی.((لم يسمع حميد من أنس إلا أربعة وعشرين حديثاً، والباقى سمعها من ثابت، أوثبته فيها ثابت))(١١)

---

(١) تهذيب الأسماء (١١\١٧٠) وتهذيب الكمال(١٧\٣٥٦، ٣٥٨)

(٢)قال الحافظ فى هدى السارى(ص.٣٩٩) مشهور من الثقات المتفق على الإحتجاج بهم..)_

(٣) تهذيب الكمال(١٧\٣٥٩)

(٤) المصدر السابق)_

(٥) المصدر السابق_

(٦)المصدر السابق)_

(٧) طبقات ابن سعد(١٧\٢٥٢)

(٨) الثات لابن حبان(١٤\١٤٨)

(٩)تهذيب الكمال(١٧\٣٥٩)

(١٠) تهذيب الكمال(١٧\٣٦٠)

(١١) تهذيب الكمال(١٧\٣٦٠)

ابوبكر د بحي رحمه الله فرمانى «وأما حديث حميد فلا يحتج منه إلا بما قال: حدثنا أنس»[۱]
يوه خبره دا هم ونيلې شوې ده چه ذوى ته په هغه حديثونو كښې تميز نه وو. كوم چه دوى براه راست د حضرت انس رضي الله عنه نه اوريدلى دى او كوم حديثونه چه دوى د ..ثابت عن انس.. او .. قتادة عن انس.. په طريق سره اوريدلى دى.[۲]

امام يحي بن سعيد رحمه الله فرمانى «كان حميد الطويل إذا ذهبت تقفه على بعض حديث أنس يشك فيه»[۳]
دغه شان امام شعبه رحمه الله فرمانى چه حميدطويل ته به په بعضې احاديثو كښې شك كيدو[۴] دريمه خبره دا ونيلې شوې ده چه زانده د حميد الطويل حديثونه پريخودى وو[۵]
خو حقيقت دا دې چه دا ثقه راوى دې او په دوى باندې چه كوم كلام شوې دې د هغې په وجه به ددوى حديثونه نشى رد كولې

تركومې پورې چه ددوى د تدليس تعلق دې نو دا تدليس معتبر نه دې خكه چه په دې كښې واسطه متعين ده او دې ثقه دې لكه حافظ ابوسعيد علائى رحمه الله فرمانى «فعلى تقدير أن يكون أحاديث حميد مدلسة، فقد تبين الواسطة فيها، وهو ثقة صحيح»[۶]

تركومې پورې چه ددوى د حضرت انس رضي الله عنه نه صرف د پنځو حديثونو اوريدو تعلق دې نو دا روايت صحيح نه دې لكه چه حافظ ابن حجر رحمه الله دهغې روايت په باره كښې (كوم چه د عيسى بن عامر په واسطې سره منقول دې) فرمانى «و رواية عيسى بن عامر المتقدمة، أن حميدا لم سمع من أنس خمسة أحاديث، قول باطل، فقد صرح حميد بسماعه من أنس بشئ كثير وفي صحيح البخاري من ذلك جملة وعيسى بن عامر ما عرفته»[۷]

دغه شان دوى د عسى بن عامر په باره كښې تصريح كړې ده چه دا غيرمعتمد راوى دې.[۸]
حافظ ابن عدى رحمه الله فرمانى «وحميد له حديث كثير مستقيم، فلغنى لكثرة حديثه أن أذكر له شيئا من حديثه، وقد حدث عنه الأئمة، وأما ما ذكر عنه أنه لم يسمع من أنس إلا مقدار ما ذكر، وسمع الباقي من ثابت عنه، فإن تلك الأحاديث يميزها من كان يتهمه أنها عن ثابت عنه، لأنه قد روى عن أنس، وقد روى عن

---

[۱]) تهذيب التهذيب(۱۳۰٤)
[۲]) تهذيب الكمال(۳٦۲\۷) وتهذيب التهذيب(۳۹\۳)
[۳]) تهذيب الكمال(۳٦۱\۷)-
[۴]) تهذيب الكمال(۷\ ۳٦۰، ۳٦۱)
[۵]) تهذيب الكمال(۳٦۲\۷) -
[۶]) تهذيب التهذيب(۱۳۰٤) وحاشية سبط ابن العجمى على الكاشف(۳۵۲\۱)
[۷]) تهذيب التهذيب (۱۳۰٤)
[۸]) هدى السارى(۳۹۹)

ثابت من أنس أحاديث، فأكثر مالي باپه أن الذي رواه من أنس البعض مما يدلسه من أنس، وقد سمعه من ثابت، وقد دلس جماعة من الرواة من مشايخ قد رأوهم»(١)

ترکومې پورې چه ددوی د حضرت انس رضي الله عنه په احادیثو کښې د تمیز نه کولو تعلق دې.نو دا هم خاص مضر نه دې.ځکه چه کوم حضرات دا بحث کوی.هغوی ورسره ورسره دا هم وائی. چه په دې کښې که څه واسطه شته.نو حضرت ثابت بناني يا حضرت قتاده رحمهما الله دی.د واسطو متعين كيدو نه پس خو په دې اعتراض كښې هيڅ قوت نه پاتې كيږي.

امام يحي بن سعد رحمه الله هم د حضرت انس رضي الله عنه دحديثونو په باره کښې چه کوم دا فرمائيلی دی.چه دوی ته به شك كيدو.دا هم په دې باندې محمول دې.چه دوی به باقاعده د حضرت انس رضي الله عنه نه براه راست اوريدلې احاديثو او ددوی په واسطې سره اوريدلې احاديثو كښې تميز كولو سره روايت نه كولو.يا به ئې فرق نه كولو.تركومې پورې چه په حديث كښې د غلطئ كولو تعلق دې.نو دا خبره هيڅ چا نه ده كړې.

د امام شعبه رحمه الله خبره هم په دې باندې محمول ده.بلكه ممكن ده.چه امام شعبه رحمه الله ته غلط فهمي شوى وى.ځكه چه حافظ مزى رحمه الله د معاذ بن معاذ نه نقل كړى دى.چه مونږ د حميد طويل سره ناست وو.چه شعبه راغلو.او تپوس ئې اوكړو.چه ابوعبيده! په فلانى فلانى حديث كښې تاسو ته شك دې؟ حميد جواب وركړو. چه آ! بعضې وختونو كښې ماته شك كيږى.كله چه شعبه لاړو.نو حميد اووئيل.چه ماته په هيڅ حديث كښې هم شك نشته.خو چونكه دا لوئى كونكې او ډيرې نكتې راوبنكونكې هلك دې.په دې وجه ما اوغوښتل.چه لره شان په ده باندې سختى اوكړم.(٢)

ددې واقعې نه معلوميږى.چه امام شعبه رحمه الله چه د شك كيدو كومه خبره كړې ده.هغه په دې واقعې باندې مبنى ده.حالانكه حميد خپل خان ته د شك لاحق كيدو نه بنكاره انكار كوى.

ددې نه علاوه د حميد د حضرت انس رضي الله عنه نه براه راست اوريدلى شوى احاديث اود،،ثابت من أنس،، او ،،قتادة عن أنس،، په طريق سره اوريدلى شوى احاديثو كښې د اختلاط قول د شويب بصرى په طريق سره منقول دې.چه دوى په ،، درست،، نوم سره هم ياديږى.چه دا قابل اعتناء (او قابل توجه) نه دې.

لكه حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.«وحكاية سفيان عن درست ليست بشيء، فإن درست هالك»(٣)

تركومې پورې چه د زائده بن قدامه رحمه الله ددوى د حديثونو پريخو؛و تعلق دې.نو دا څه په داسې بنياد باندې نه دې.چه ددوى په حديثونو كښې څه عيب دې.بلكه ددې وجه دا ده.چه

---

(١) الكامل فى ضعفاء الرجال (٢٦٨/٢) بتنويب التحريفات والأخطاء فى العبارة من سير أعلام النبلاء (١٦٦/٦، ١٦٧) وتهذيب الكمال (٣٦٢/٧)

(٢) تهذيب الكمال (٣١٦/٧)

(٣) تهذيب التهذيب (٤٠/٣)

دوی د سرکاری افسرانو (پولیس) لباس او ددوی شکل اختیار کړی وو.په دې وجه د هغوی دده حدیثونه پریخودي وو

لکه چه حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی ((انما طرحه للبسه سواد الخلفاء، وزی أعوانهم، فعن مکی بن ابراهیم قال: مررت بحمید وعلیه ثیاب سود، فقال لی أخی ألا تسمع منه؟ فقلت أأسمع من الشرطی؟)[1]

بیا دلته هم وضاحت ضروری دی.چه امام بخاری رحمه الله د حمید صرف دهغه حدیثونو تخریج پخپل صحیح کښې کړې دې.په کومو کښې چه د سماع تصریح موجود ده.او داسې حدیثونه هم دوی متابعة او تعلیقاً نقل کړی دی.[2]والله اعلم

په ۱۴۲ھ کښې ددوی وفات اوشو.[3] رحمه الله تعالی رحمة واسعة.

④ انس: دا حضرت انس بن مالك رضي الله عنه دې.ددوی حالات وړاندې د ،،باب من الإیمان أن یحب لأخیه مایحب لنفسه،،لاندې تیر شوی دی.

⑤ عبادہ بن الصامت: دې هم مشهور صحابی ابو الولید حضرت عباده بن الصامت انصاری خزرجی رضي الله عنه دې.ددوی حالات هم وړاندې د ،،باب علامة الإیمان حب الأنصار،، نه روستو د ،،باب بلاترجمه،، لاندې تیر شوی دی.

قوله: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يُخْبِرُ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ: رسول الله ﷺ د لیلة القدر په باره کښې د بنودلو دپاره راووتلو.په مسلمانانو کښې دوه سړی په جګړه شو.

،،تلاحی،، منازعت او مخاصمت ته وائی.د حدیث مطلب دا دې چه نبی کریم ﷺ په متعین طور باندې دلیلة القدر د بنودلو دپاره تشریف راوړلو.نو وې کتل.چه دوه سړی په زوره زوره لګیا دی.ددوی په مینځ کښې په څه خبره باندې جګړه شروع وه.

د ابن دحیه رحمه الله د قول مطابق دا دواړه حضرات کعب بن مالك اوعبدالله بن ابی حدرد رضي الله عنهما وو.د حضرت کعب بن مالك رضي الله عنه قرض د حضرت عبدالله رضي الله عنه په ذمه وو.په دې سلسله کښې په دواړو کښې جګړه اوشوه.او په جمات کښې ددوی آوازونه اوچت شوی وو.[4]

قوله: فَقَالَ إِنِّي خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بِلَيْلَةِ الْقَدْرِ وَإِنَّهُ تَلَاحَى فُلَانٌ وَفُلَانٌ فَرُفِعَتْ وَعَسَى أَنْ يَكُونَ خَيْرًا لَكُمْ: نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.چه زه تاسو ته د لیلة القدر دتعین

---

[1] میزان الإعتدال(۱۱۰/۶۱)

[2] هدی الساری(۳۹۹)

[3] سیر اعلام النبلاء (۱۶۸/۶) وغیره)

[4] فتح الباری (۱۱۳/۱) وعمدة القاری(۲۸۱/۱)

په باره كښې د خودنې دپاره راوتلې ووم.خو فلانې فلانې په جګړه وو نو د ليلة القدر تعين اوچت كړې شو شايد هم په دې كښې ستاسو دپاره خير وى
د روافضو وينا دا ده.چه د ليلة القدر ذات اوچت كړې شو اوس د ليلة القدر هيڅ وجود نشته.(١)
دا خبره بيخى غلطه ده.كه د ليلة القدر ذات اوچت كړې شوې وې نو دلته سوال پيدا كيږى.
چه نبى كريم ﷺ ،،عسى أن يكون خيرا لكم،، ولې اوفرمائيل؟ او د ،،إلتمسوها فى السبع و التسع و الخمس،، څه مطلب دې؟(٢)
قاضى عياض رحمه الله فرمائى.چه ددې حديث نه معلومه شوه چه مخاصمت (جګړه كول) مذموم دى.او دا د معنوى عقوبت يعنى د حرمان سبب جوړيږى او دا هم معلومه شوه چه كوم خائې كښې شيطان حاضر وى.د هغه خائې نه بركت او خير اوچتولې شى (٣) خكه چه امام مسلم رحمه الله د حضرت ابوسعيد رضى الله عنه نه كوم روايت نقل كړې دې.د هغې الفاظ دى: «فجاء رجلان يحتقان معهما الشيطان»(٤) يعنى دوه سړى په دې شان راغلل.چه دوى دواړو خپل خان په حق باندې ثابتولو .دوى سره شيطان لګيدلې وو.
خودلته سوال پيدا كيږى.چه دا مخاصمت تاسو مذموم، د محروميدو باعث او د خير او بركت اوچتيدو سبب څنګه ګرخولې شئ.حالانكه نبى كريم ﷺ فرمائى. «عسى أن يكون خيرا لكم» ددې نه معلوميږى.چه دا جګړه كول د خير سبب جوړ شو؟
په دې دواړو خبرو كښې حقيقت كښې هيڅ تعارض نشته.د جګړې بې بركته او د حرمان سبب كيدل په يو اعتبار سره دى.او د نبى كريم ﷺ ارشاد په بل جهت سره دې.
قاضى عياض رحمه الله فرمائى.چه دا جګړه د رحمت د تعين ختميد باعث جوړ شو.اوكه دا تعين معلوم وې.نو ډيرو كمزورو ته به فائده رسيدلې وه.هغه به په دغه شپه ويخ پاتې كيدو.او د يو زر مياشتو نه د زيات عبادت فضيلت به نې حاصلولو.په دې اعتبار سره دا جګړه د خير پورته كيدو سبب جوړ شو.
او نبى كريم ﷺ ،،اوچتيدل،، د خير په دې لحاظ سره ګرخولې دى.كه ټولو خلقو ته ليلة القدر په تعين سره معلوم شوې وې.نو صرف هم په دې شپه كښې به نې عبادت كولو.په باقى شپو كښې به اطمينان سره كيناستلو.او په نوافلو وغيره كښې به نه مشغوليدلو.او

---

(١) فتح البارى(٤\٢٦٣) كتاب فضل ليلة القدرباب تحرى ليلة القدر فى الوتر من العشر الأواخر)
(٢) عن عبدالله بن يحنس قال قلت لأبى هريرة رضى الله عنه زعموا أن ليلة القدر قد رفعت قال كذب من قال ذلك قال قلت فهى فى كل رضمان أستقبله؟ قال نعم المصنف لعبدالرزاق (٤\٢٥٥) كتاب الصيام باب ليلة القدرو أرجع إليه لروايات وآثار اخر فى هذا الصدد)
(٣) فتح البارى(١\١١٣)-
(٤) صحيح مسلم (١\٣٧٠) كتاب الصيام باب فضل ليلة القدر والحث على طلبها)

اوس چونکه تعين اوچت کړې شو.او دا اوښودلې شو. چه ليلة القدر په آخرى عشره کښې دننه ده.نو خلق د يوې شپې په ځاني په ډيرو شپو کښې عبادت کوى.او د يوې شپې دعبادت ثواب حاصلولو په ځاني به دوى ته د ډيرو شپو دعبادت ثواب ملاويږى.
ددې نه علاوه په دې رفع (اوچتيدو) کښې د ،،خير،، نور وجوهات هم شته.انشاءالله د ،،ليلة القدر،، په مباحثو کښې به هغه ذکر کولې شى.

ايا حق طلب کول مذموم دى؟ وړاندې مونږ ذکرکړى دى.چه دا دواړه حضرات کومو چه جګړه کوله.د خپل دين (قرض) په باره کښې ئې کوله.ګويا چه د ،،حق،، مطالبه کيدله.هم دا د مسلم په روايت کښې د ،،فجاء رجلان يحتقان...،،()الفاظو سره بيان کړې شوې دې.نو د دين او حق مطالبه کول، آيا قابل مذمت او باعث د محروميدو دى؟
ددې جواب دا دې.چه مطلب حق طلب کول قابل مذمت څيز نه دې.البته په دې واقعه کښې مذموم صورت پيدا شوې دې.ځکه چه اول خو دا واقعه په جمات کښې پيښه شوه.چه دا د ذکر او عبادت ځائې دې.او بيا په مسجد نبوى کښې، چه ددې مرتبه د عامو جماتونو په مقابله کښې زياته ده.بيا زمانه هم د رمضان شريف ده. چه دا صرف او صرف د عبادت زمانه ده.بيا دا چه د نبى کريم ﷺ په موجودګئ کښې دا واقعه راپيښيږى.چه په دې کښې آواز اوچتيدل ثابتيږى.او د نبى کريم ﷺ په موجودګئ کښې آواز پورته کول د قرآن د نص په موجب، د اعمالو بربادېدو سبب دې.ددې ټولو وجوهاتو په وجه مخاصمت مذموم ګرځولې شوې دې.په دې وجه نه، چه مطلق دين او حق طلب کول مذموم دى.(٢) والله اعلم

قوله: الْتَمِسُوهَا فِي السَّبْعِ وَالتِّسْعِ وَالْخَمْسِ:دا شپه تاسو په اوومه، نهمه او پنځمه شپه کښې تلاش کړئ.
ددې جملې نه په ظاهره دا معلوميږى.چه شب قدر په اوومه، نهمه، او پنځمه شپه کښې تلاش کړې شى.خو دا مراد نه دې.بلکه ددې نه د آخرى عشرې اوومه، نهمه او پنځمه شپه مراد ده.( )
د ،،شب قدر،، په باره کښې چه څومره اختلافات دى.هغه به انشاءالله تفصيل سره پخپل مقام باندې راځى.البته دلته صرف په دومره خبره باندې پوهه شئ.چه په دې کښې اختلاف دې.چه دا پنځه، اوومه، او نهمه شپه د تيرو شوو اعتبار سره مراد دى.اوکه د باقى شپو په اعتبار سره؟ يعنى د آخرى عشرې شپې به د شروع نه شمارلې شى.اوکه د آخر طرفه؟ ()

---

(١) قد سبق تخريجه آنفاً
(٢)اوګورئ: فتح البارى(١١٣/١) دغه شان اوګورئ عمدة القارى(٢٨/١١) فقد قال العينى فيه: طلب الحق غيرمذموم لا فى المسجد ولا فى الوقت المخصوص وإنما المذمة فيها ليست راجعة إلى مجردالخصومة فى الحق وإنما هى راجعة إلى زيادة منازعة حصلت بينهما عن القدرالمحتاج اليه وتلك الزيادة هى اللغو والمسجد ليس بمحل للغو مع ما كان فيها مع رفع الصوت بحضرة النبى ﷺ فافهم)
(٣) عمدة القارى(٢٨/١١)_
(٤) فتح البارى(١١٤/١)_

بعضې حضرات خو دا وائي چه د تيرو شوو شپو په اعتبار سره به شمارلې كيږى.يعنى دا شپې به د اول نه شروع كولې شى.په دې صورت كښې به د پنځمې نه پنځيشتمه شپه، د اوومې نه اوويشتمه شپه. او د نهمې نه نهيشتمه شپه مراد وى.
او نور عالمان فرمائى.چه د باقى ورځو اعتبار به كولې شى.يعنى د آخر طرفه به دا شپې شمارلې كيږى.
په دې صورت كښې بيا بعضې عالمان فرمائى.چه مياشت به د ديرشو اخستلې شى.او بعضې فرمائى.چه مياشت به د يوكم ديرشو اخستلې شى.
كه د ديرشو مياشت واخستلې شى.نو چونكه شمار به د آخر نه كيږى.او ترتيب به داسې وى. ۳۰، ۲۹، ۲۸، ۲۷، ۲۶، ۲۵، ۲۴، ۲۳، ۲۲، ۲۱. په دې اعتبار سره د اوويشتمې نه خليرشتمه شپه. پنځمې نه شپږيشتمه شپه او د نهمې نه دوه ويشتمه شپه مراد وى اوكه د يوكم ديرشو مياشت واخستلې شى.نو د نهمې مصداق به يويشتمه شپه. د اوومې مصداق به دريشتمه شپه. او د پنځمې مصداق به پنځيشتمه شپه وى.والله اعلم
بيا دلته په دې هم پوهه شئ.چه په اكثرو رواياتو كښې ترتيب هم دا دې ،،
سبع، تسع، خمس،، په دې كښې دې خبرې طرف ته اشاره ده.چه په اوومه شپه كښې د ليلة القدر كيدل اقوى دى.اګرچه ابو نعيم رحمه الله په ،،مستخرج،، كښې كوم روايت نقل كړې دې.په هغې كښې ترتيب نزولى دې.يعنى،،تسع، سبع، خمس،،(۱) والله اعلم۔
د احاديثو او آثارو ترجمة الباب سره انطباق وړاندې مونږه بيان كړى دى.چه دلته امام بخارى رحمه الله دوه ترجمې قائمې كړى دى. ① يو ،،خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لا يشعر،، او دويمه ترجمه ده.،،ومايحذر من الإصرار على التقاتل والعصيان من غير توبة،،.ددې دواړو ترجمو لاندې امام بخارى رحمه الله درې آثاره ، يو آيت كريمه، او دوه حديثونه ذكر كړى دى.
د عامو شارحينو مطابق په دې كښې د دريو واړو آثارو تعلق رومبۍ ترجمې سره دې.او ددې مناسبت هم ترجمې سره واضح دې.ځكه چه ترجمه كښې د ،،خوف مؤمن،، ذكر دې.او د ابراهيم تيمى رحمه الله په اثر كښې ،،خشيت أن أكون مكذباً ،،كښې هم دا مفهوم دې.د ابن ابى مليكه رحمه الله په اثر كښې د ،،خوف من النفاق،، ذكر دې.دغه شان د حضرت حسن بصرى رحمه الله په اثر كښې هم دا معنى ده.
چونكه ددې آثارو تعلق رومبۍ ترجمې سره دې.په دې وجه ئې دا د ،،ترجمې ،،نه سمدستى روستو ذكركړل.ددې نه پس د آيت تعلق دويمې ترجمې سره دې.او دغه شان په دوو حديثونو كښې رومبې حديث يعنى د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حديث،، سباب المسلم فسوق.....،، تعلق هم دې ترجمې سره دې.

---

(۱)فتح البارى(۱۱٤/۱) وعمدة القارى(۲۸۱/۱)۔

ددې حديث وجه د مطابقت دا بيان كړې شوې ده.چه په دې حديث كښې د مرجئه د قول ابطال دې.چه دوى مرتكبين د گناه كبيره لره فاسق نه گرځوى.او نه په مرتكبينو د قتال باندې د كفر او كفران حكم لگوى.گويا چه ..سباب.. او ..قتال.. باندې اصرار (هميشوالې) د توبې نه بغير مضرنه گڼرى.په دې وجه امام بخارى رحمه الله ترجمه قائمه كړله.چه ((ومايحذر من الإصرار على التقاتل و العصيان من غير توبة)) حالانكه دويم حديث كوم چه د حضرت عباده بن الصامت رضي الله عنه حديث دې.د هغې تعلق مخكنئ ترجمې سره دې.

ددې حديث د ترجمة الباب ړومبى جزء سره مطابقت داسې دې.چه په دې كښې د ..تلاحى.. مذمت بيان كړې شوې دې.ځكه چه ..متلاحى..د ډيرو نيكو اعمالو نه محروم پاتې كيږى.خصوصاً كله چه په جمات كښې وى.او بيا كه دا ..تلاحى.. د نبى كريم ﷺ په موجودگئ كښې وى.نو د عمل د باطليدو بنياد هم جوړيږى.(١)

حضرت علامه كشميرى رحمه الله فرمائى.ددې حديث نه معلومه شوه.چه د تلاحى په وجه د ليلة القدر قطعى تعين اوچت كړې شو.دغه شان معصيت هم كله كله د عمل بربادېدو سبب جوړيږى.(٢)

دا خو دعامو شارحينو خبره وه.چه ددوى په نيز د دريو آثارو تعلق ړومبئ ترجمې سره دې.او د آيت او ړومبى حديث تعلق دويمې ترجمې سره دې.او د دويم حديث تعلق ړومبئ ترجمې سره دې.گويا چه ددوى په نيز لف و نشر غير مرتب دې.

حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى.چه په دې باب كښې دوه ترجمې دى.د ړومبئ د اثبات دپاره د ابراهيم تيمى رحمه الله وغيره تابعينو اقوال مذكور دى.او دويمې ترجمې سره ئې قرآنى آيت راوړلې دې.ددې نه پس ئې دوه روايتونه ذكركړى دى.چه ددې صريح تعلق دويمې ترجمې سره معلوميږى.

غالباً د ړومبئ ترجمې نه دا غرض دې.چه مؤمن له د نفاق نه ويريدل پكار دى.او د دويمې ترجمې نه صريح مقصود د معاصى نه ويريدل دى.حاصل دا چه د ضرورياتو او مكملاتو نه فارغ شو.نو د ايمان مفسدات او مضرات خودل مقصود دې.چه دا دوه څيزونه دى:

① ړومبې نفاق دې.② دويم معاصى دى سره د اصرار او توبې نه بغير.ـاصرار د توبې نه بغير چونكه د باب په رواياتو كښې مذكور نه وو.نو ددې د اثبات دپاره ئې ترجمې سره آيت بيان كړو.(٣)،،والله أعلم وعلمه أتم وأحكم،،ـ

---

(١) اوگورئ: عمدة القارى(١/٢٧٥-٢٧٩) وفتح البارى(١/١١١)ـ

(٢) فيض البارى(١/١٤٦)ـ

(٣) الأبواب والتراجم لصيحح البخارى أز شيخ الحديث مولانا زكريا صاحب قدس سره (ص.٣٨)

۳۶-بَاب سُؤَالِ جِبْرِيلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الْإِيمَانِ وَالْإِسْلَامِ وَالْإِحْسَانِ وَعِلْمِ السَّاعَةِ

وَبَيَانِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ ثُمَّ قَالَ جَاءَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ فَجَعَلَ ذَلِكَ كُلَّهُ دِينًا وَمَا بَيَّنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِوَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ مِنْ الْإِيمَانِ [ر: ۵۳] وَقَوْلِهِ تَعَالَى وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ (آل عمران: ۸۵)

په دې ترجمه کښې ،،سوال،، مصدر دې چه دا فاعل طرف ته مضاف دې او ،،النبی ﷺ،، مفعول واقع دې. ،،عن الإیمان.....إلخ،، د ،،سؤال،، سره متعلق دې د ،،وعلم الساعة،، عطف په ،،الإیمان،، باندې دې او د ،،ووقت علم الساعة،، په تقدیر کښې دې. ځکه چه د ،،ایمان،، او ،،اسلام،، او ،،احسان،، په باره کښې خو سوال کړې شوې دې. د ،،ما الإیمان،، او ،،ما الإسلام،، او ،،ما الإحسان،، عنوان سره. او د ،،الساعة،، په باره کښې په ،،ومتی الساعة،، ونیلو سره تپوس کړې شوې دې او ،،متی،، وخت سره مخصوص دې.(۱)

قوله: وَبَيَانِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَهُ: دا عطف په ،،السؤال،، باندې دې.(۲)

،،له،، ضمیر کوم طرف ته ګرځی؟ علامه کرمانی رحمه الله فرمائی چه دا ضمیر د ،،ایمان، اسلام، احسان، او علم الساعة،، مجموعې طرف ته راګرځی.(۳)

په دې باندې اشکال کیږی چه نبی کریم ﷺ خو د ،،متی الساعة،، جواب ورنکړو نو بیاد ،،له،، ضمیر دې ټولو څیزونو طرف ته څنګه ګرځیدې شی؟ علامه کرمانی رحمه الله فرمائی.

چه نبی کریم ﷺ چونکه د اکثر مسئول عنه جواب ورکړې دې نو د ،، للأکثر حکم الکل،، قاعدې مطابق ګویا د ټولو جواب ئې ورکړو. په دې وجه دې طرف ته د ضمیر ګرځیدل صحیح دی.

یا ضمیر ګرځیدل ځکه صحیح دی چه نبی کریم ﷺ د ،،متی الساعة،، په جواب کښې ،،ما المسئول عنها بأعلم من السائل،، فرمائیلو سره چه څنګه د لاعلمی اظهار اوفرمائیلو. دغه شان ئې ګویا چه الله تعالی ته حواله کړو. د الله تعالی د علم حواله کول دا هم ،،بیان،، دې. نو ضمیر د ټولو مجموعې طرف ته ګرځول صحیح شو.(۴)

---

(۱) عمدة القاری (۱/۲۸۱، ۲۸۲)

(۲) عمدة القاری (۱/۲۸۲) وفتح الباری (۱/۱۱۵) وشرح الکرمانی (۱/۱۹۲)

(۳) شرح الکرمانی (۱/۱۹۲)-

(۴) کرمانی (۱/۱۶۲)

بعينه هم دا خبره حافظ رحمه الله د كرمانى رحمه الله د حوالې نه بغير نقل كړې ده.(١)
علامه عينى رحمه الله فرمائى چه هسې بيسه په دې تكلف كښې د پريوتلو ضرورت نشته.
,,له،، ضمير,,جبرئيل،، طرف ته واپس كيږى.(٢) اوس مطلب ښكاره دې چه دا باب د حضرت جبرئيل عليه السلام د نبى كريم ﷺ نه د ايمان، اسلام، احسان او د قيامت په باره كښې د سوال،اودنبى كريم ﷺ دحضرت جبرئيل عليه السلام په وړاندې دبيانولوپه باره كښې دې.والله اعلم.

د ترجمة الباب ما قبل سره مناسبت په تير شوى باب كښې د ،،خوف المؤمن أن يحبط عمله،، ذكر وو.يعنى مؤمن له د اعمالو بربادېدو نه يرېدل پكار دى.او په دې باب كښې ددې خبرې بيان دې چه سړې به مؤمن څنګه جوړيږى.او د شريعت په نظر كښې مؤمن څوك دې؟نو په دواړو بابونو كښې مناسبت ښكاره شو.(٣)

د ترجمة الباب مقصد:امام بخارى رحمه الله د وړاندې نه په مختلفو عنوانوتو سره په دې ښودنو راروان دې چه اعمال د ايمان جزء دې.خو په عنوان كښې كله ,,ايمان،، ذكر كوى.كله ,,اسلام،، او كله ,,دين،، مثلاً فرمائى.،،حب الرسول من الإيمان،،،،من الدين الفرار من الفتن،، ,,إفشاء السلام من الإسلام،،_ اشكال كيږى.چه تاسو خو ددې قائل نې.چه اعمال د ايمان جزء دې.نو بيا د ،،من الإسلام،، يا د ،،من الدين،، عنوان څنګه صحيح كيدې شى؟
ددې جواب امام بخارى رحمه الله په دې ترجمې منعقد كولو سره وركوى.چه ،،اسلام ، ايمان، او دين،، درې واړه متحد دى.نو كه اعمالو ته د اسلام جزء اووئيلې شى.او كه د دين جزء اوګرځولې شى.او كه د ايمان جزء اوګرځولې شى.خبره يوه ده.
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.چه مخكښې دا خبره تيره شوې ده.چه د امام بخارى رحمه الله په نيز ايمان او اسلام متحد دى.خكه چه د حضرت جبرئيل عليه السلام د سوال نه،او بيا د نبى كريم ﷺ د جواب نه ښكاره دا معلوميږى.چه په دې دواړو كښې تغاير دې.په دې وجه امام بخارى رحمه الله په دې باب قائمولو سره دا ثابتول غواړى.چه په اسلام او ايمان كښې تغاير نشته.بلكه اتحاد دې.(٤)
حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى.چه امام بخارى رحمه الله دلته په ،،ترجمه،، كښې درې اجزاء ذكر كړى دى.① جبرئيل عليه السلام د نبى كريم ﷺ نه د ايمان، اسلام، احسان او د قيامت دعلم سوال اوكړو.نبى كريم ﷺ د هغوى په وړاندې دا بيان كړل. بيا نې اوفرمائيل.،، جاء يعلم الناس دينهم،، يعنى جبرئيل عليه السلام خلقو ته ددوى د ،،دين،،ښودلو دپاره راغلې وو.ګويا نبى

---

(١) فتح البارى(١١٥١١)
(٢) عمدة القارى(٢٨٢١١)
(٣) عمدة القارى(٢٨٢١١)
(٤) فتح البارى(١١٤١١)

کریم ﷺ اسلام، ایمان او احسان وغیره ټول،،دین،، اوګرځول.معلومه شوه.چه دا ټول یو دی.د ترجمې ددې رومبی جزء نه د امام بخاری رحمه الله مقصد هم دا دې.چه ټول اصول او فروع، عقائد او اعمال، ایمان او اسلام، او اخلاص او صدق ټول په ،،دین،، کښې شامل دی. هم دا دوی ،،فجعل ذالك كله دينا،، ونیلو سره واضح کړې ده.

② په دويم جزء کښې دوی حدیث د وفد عبدالقیس( ) حواله ورکړې ده.چه په دې کښې نبی کریم ﷺ د ،،ایمان،، په شرح فرمائیلو کښې هم دا څیزونه ذکرکړی دی.کوم چه په حدیث د جبرئیل کښې د ،،اسلام،، په شرح کښې مذکور دی.ددې نه هم دا معلومه شوه.چه ایمان او اسلام دواړه یو دی. ③ دریم جزء په دې ،،ترجمه،، کښې آیت کریمه دې.﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ﴾( )

په دې آیت کښې اسلام ته دین ونیلې شوې دې.ددې نه معلومیږی.چه اسلام او دین یو دی. ددې ټولو نصوصو نه معلومه شوه.چه په اسلام ،ایمان، او دین کښې د هر یو اطلاق په دویم باندې کیدې شی.او د سلفو په نیز نصوصو کښې هم وارد شوی اطلاقات خوښ دی.نو هرکله چه ددی دریو واړو استعمال او اطلاق په نصوصو کښې د یو بل په ځاې باندې شوې دې.نو دا هم دغه شان عموم او اطلاق سره ساتل پکار دی.هغوی د متاخرینو کلامی مباحث نه خوښوی.ځکه چه ددوی په نیز په دین، ایمان او اسلام کښې د هر یو جدا جدا تعریف کولې شی.په دې طریقه په دې کښې هیڅ یو د بل په معنی کښې استعمالول ممکن نه پاتې کیږی.حالانکه د نصوصو کښې نه دې کښې هر یو د بل په ځاې د استعمالولو اجازت معلومیږی. په اصل کښې د متاخرینو په نیز د عقلی مباحثو او په منطقی طریقه د استدلال د غلبې په وجه دا څیز غالب دې.چه دوی د هر یو څیز په ماهیت او کنه پسې شوی دی.ددې دپاره د جامع مانع تعریف کولو کوشش کوی.کلام الله او کلام رسول په دې عقلی اصطلاحاتو باندې کلی طور باندې نه واردیږی.بلکه په نورو معانیو باندې هم واردیږی.په دې وجه دوی په داسې مقاماتو کښې د تجوزقائل کیږی.او دوی هلته د تکلف نه کاراخلی.او متقدمین او سلف حضرات ددې حادثو اصطلاحاتو پابندی نه کوی.او نه هغوی د یونان د منطقیانو تحقیقاتو سره څه دلچسپی (او شوق) ساتی.په دې وجه هغوی الفاظ شرعیه لره د اصطلاحات حادثه په محدود جامه کښې د محدود ساتلو په ځاې نصوص لټوی.او هغه په اطلاقاتو باندې محمول ساتی.

ددې نه دا خبره هم معلومه شوه.چه وړاندې په کومو بابونو کښې کوم مختلف عنوانات اختیار کړې شوی دی.چه چرته،، من الدين كذا،، ونیلی شوی دی.او چرته ،، من الاسلام كذا،، او چرته کښې ،،من الايمان كذا،، دا ټول اطلاقات صحیح دی. ( )،،والله تعالى اعلم،،_

( ) حدیث وفد عبدالقیس نزدې په ((باب أداء الخمس من الإيمان)) کښې راځی.

( ) آل عمران:۸۵)

( ) الأبواب والتراجم لصحيح البخاری از شیخ الحدیث صاحب رحمه الله (ص.۳۸، ۳۹)

ایا د امام بخاری رحمه الله په دې دلائلو سره د حنفیه په مسلک باندې څه فرق پریوځي؟ په دې مجموعې دلائلو سره د امام بخاري رحمه الله مقصد ښه واضح شو.خو دلته په دې خبره پوهه شئ چه ددوی په دې دلائلو سره د حنفیانو په مسلك باندې هیڅ فرق نه پریوځي.ځکه چه په اطلاقاتو او استعمالاتو کښې توسع (او فراخي) وی.د توسع او مجاز په لحاظ سره د یو په بل باندې اطلاق کول. یا په تفسیر کښې د یو څیز په بل کښې ذکر کول په دې کښې هیڅ بندیز او باك نشته.(١)

ترکومې پورې چه د ایمان او د اسلام د حقیقت تعلق دې.نو دا بالکل جدا جدا دی.بلکه د حافظ ابن حجر رحمه الله تشریح سره خبره بالکل واضح کیږی.حافظ رحمه الله فرمائی چه په ټولو دلیلونو باندې د نظر کولو نه روستو، چه کوم څه واضح شو.هغه دا دی.چه د ایمان او اسلام دواړو جدا جدا شرعی حقیقت دې.لکه څنګه چه ددوی دواړو جدا جدا لغوی حقیقت هم دی.خو هر یو دواړو ته مستلزم دې.په دې لحاظ سره چه د یو بل د تکمیل باعث دی.نو لکه څنګه چه یو عامل بغیر د صحیح عقائدو کامل مسلمان نشی کیدې دغه شان د یو ښه عقیدې خاوند بغیر د عمل نه کامل مؤمن نشی کیدې.او په کوم کوم ځائې کښې چه د اسلام په ځائې د ایمان، او د ایمان په ځائې د اسلام اطلاق راځی.یا په یو ویلو سره د دواړو مجموعه مراد اخستې شي.دا په طریقه د مجاز دی.او موقعه او محل سره د مراد تعین کیږی.مثلاً که دواړه په یو ځائې د سوال په مقام کښې جمع شی.نو د دواړو حقیقی معنی به مراد وی.او که دواړه په یو ځائې نه وی.یا د سوال موقع نه وی.نو دمقامی قرائنو په لحاظ او اعتبار سره به په حقیقت یا مجاز باندې محمول کولې شی.

محمد بن نصر رحمه الله د اکثرو عالمانو نه نقل کړی دی.چه اسلام او ایمان دواړه مساوی او مترادف دی.ابن عبدالبر رحمه الله هم ددوی اتباع کړې ده.او لالکائی او ابن السمعانی رحمهما الله د اهل السنة والجماعة نه نقل کړی دی.چه ددی دواړو په مینځ کښې فرق دې محدث اسماعیلی رحمه الله د اهل السنة والجماعة نه نقل کړی دی.چه د ایمان او اسلام دواړو مدلول او مصداق په یو ځائې کښې د ذکر کیدو په صورت کښې مختلف او جدا جدا وی.اوکه جدا جدا ذکرشوې وی.نو د یو بل په ضمن کښې شاملیږی.هم ددې تفصیل په رڼا کښې د محمد بن نصر رحمه الله د کلام محمل د حدیث عبدالقیس مدلول پیژندل پکار دی په کوم چه نبی کریم ﷺ د ایمان تشریح په هغه څیزونو سره فرمائیلې ده کوم چه په حدیث د جبرئیل کښې د اسلام لاندې مذکور دی چه ددې نه د دواړو په مینځ کښې برابری معلومیږی حالانکه دلالکائی او ابن السمعانی رحمهما الله د کلام محمل د حدیث جبرئیل مدلول ګرځول پکاردی.چه په دې کښې دایمان اواسلام مصداق جدا جدا ګرځولې شوې دې.والله الموفق(٢)

تنبیه وړاندې د کتاب الایمان په شروع مباحثو کښې د اسلام او ایمان په مینځ کښې د

---

١) فضل الباری(١١\٥٢٥)۔

٢) فتح الباری(ج١١١٥)۔

نيت تفصيل ذكر شوې دې،، فارجع إليه إن شئت،،[1]

قوله وَمَا بَيَّنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِوَفْدِ عَبْدِ الْقَيْسِ مِنْ الْإِيمَانِ: په دې كښې ..واو.. د مصاحبت دپاره دې او د..مع.. په معنى كښې دې. اود..من الايمان.. مطلب دې ،،من تفصيل الايمان،، دغه شان وړيسې په ،،وقوله تعالى.....،،كښې هم ،،واو،،د معيت دپاره دې ([2])

۵-حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ أَخْبَرَنَا أَبُو حَيَّانَ التَّيْمِيُّ عَنْ أَبِي زُرْعَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ([3]) قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَارِزًا يَوْمًا لِلنَّاسِ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ مَا الْإِيمَانُ قَالَ الْإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَبِلِقَائِهِ وَرُسُلِهِ وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ قَالَ مَا الْإِسْلَامُ قَالَ الْإِسْلَامُ أَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ وَتُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ قَالَ مَا الْإِحْسَانُ قَالَ أَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ قَالَ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنْ السَّائِلِ وَسَأُخْبِرُكَ عَنْ أَشْرَاطِهَا إِذَا وَلَدَتْ الْأَمَةُ رَبَّهَا وَإِذَا تَطَاوَلَ رُعَاةُ الْإِبِلِ الْبُهْمُ فِي الْبُنْيَانِ فِي خَمْسٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا اللّٰهُ ثُمَّ تَلَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ الْآيَةَ ثُمَّ أَدْبَرَ فَقَالَ رُدُّوهُ فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا فَقَالَ هَذَا جِبْرِيلُ جَاءَ يُعَلِّمُ النَّاسَ دِينَهُمْ قَالَ أَبُو عَبْد اللّٰهِ جَعَلَ ذٰلِكَ كُلَّهُ مِنْ الْإِيمَانِ [۴۴۹۹]

رجال الحديث

① **مسدد:** دا مشهور محدث مسدد بن مسرهد رحمه الله دې.ددوى حالات د ،،باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه،،لاندې تير شوى دى.

② **اسماعيل بن ابراهيم:** دا مشهور محدث اسماعيل بن ابراهيم بن مقسم رحمه الله دې.چه

---

[1] كشف البارى(۱\۶۰۶، ۶۰۸) د زيات تفصيل دپاره اوګورئ إحياء علوم الدين مع شرح إتحاف السادة المتقين (۲۳۳\۲- ۲۴۰) الفصل الرابع فى الإيمان والإسلام وما بينهما من الإتصال والإنفصال – وعمدة القارى (۱۰۹\۱. ۱۱۰) كتاب الإيمان)

[2] شرح كرمانى (۱۹۳\۱) وعمدة القارى(۲۸۲\۱) وفتح لبارى(۱۱۴\۱)

[3] الحديث أخرجه البخارى فى صحيحه فى كتاب التفسير سورة لقمان باب (إن الله عنده علم الساعة) رقم ۴۷۷۷ ومسلم فى صحيحه (۲۹\۱) كتاب الإيمان رقم ۱۰۶) والنسائى فى سننه فى كتاب الإيمان وشرائعه باب صفة الإيمان والإسلام رقم ۴۹۹۴ وأبوداود فى سننه فى كتاب السنة باب فى القدر (۴۶۹۸) وابن ماجه فى سننه فى المقدمة باب فى الإيمان رقم ۶۴)

دا ،،ابن علیه،، په نوم مشهور دي ددوی حالات هم د ،،باب حب الرسول ﷺ من الإيمان،، لاندې ذکر شوی دی وړاندې په مذکوره باب کښې چه کله امام بخاری رحمه الله ددوی د طریق روایت نقل کړي وو هغې کښې ئې فرمائیلی وو ،،حدثنا ابن علیه،، او دلته فرمائی ،،حدثنا إسماعیل بن ابراهیم،، علامه کرمانی رحمه الله فرمائی: «وهذا دلیل علی کمال ضبط البخاری وأمانته، حیث نقل لفظ الشیوخ بعینه وأداه کما سمعه، رحمه الله تعالی»([1])

③ ابوحیان التیمی: دا یحي بن سعید بن حیان تیمی کوفی دی.([2])
دې د خپل پلار سعید بن حیان، ضحاك بن المنذر، امام شعبی، عکرمه مولی ابن عباس، یزید بن حیان تیمی، او د ابو زرعه رحمهم الله نه روایت کوی.([3])
ددوی نه ابراهیم بن عیینه، اسماعیل بن علیه، ایوب سختیانی، جریر بن عبدالحمید، حماد بن سلمه، سفیان ثوری، اعمش، شعبه، عبدالله بن المبارك، هشیم بن بشیر، او یحي بن سعید القطان رحمهم الله وغیره روایت د حدیث کوی.([4])
عبدالله بن داؤد خریبی رحمه الله فرمائی چه سفیان ثوری به ددوی تعظیم او توثیق کولو.([5])
محمد بن فضیل رحمه الله فرمائی ،،حدثنا أبوحیان التیمی وکان صدوقاً،،([6])
امام یحي بن معین رحمه الله فرمائی ،،ثقة،،([7])
امام عجلی رحمه الله فرمائی ،،ثقة، صالح، مبرز، صاحب سنة،،([8])
امام ابو حاتم رحمه الله فرمائی ،،صالح،،([9])
ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړی دی او فرمائیلې ئې دی ،،وکان من المتهجدین باللیل الطویل،،([10])

---

[1]) شرح الکرمانی(۱۱\۱۹۳)۔
[2]) تهذیب الکمال(۳۱\۳۲۳)،
[3]) تهذیب الکمال(۳۱\۳۲۳)-
[4]) تهذیب الکمال(۳۱\۳۲۳، ۳۲۴)_
[5]) تهذیب الکمال (۳۱\۳۲۴) وتهذیب التهذیب (۱۱\۲۱۵)
[6]) المصادر السابقة)
[7]) تهذیب الکمال(۳۱\۳۲۵) وتهذیب التهذیب (۱۱\۲۱۵)
[8]) المصادر السابقة)
[9]) المصادر السابقة)
[10]) کتاب الثقات (۷\۵۹۲)

ابن سعد رحمه الله فرمائى..،،وكان ثقة وله أحاديث صالحة،،(١)

امام ترمذى رحمه الله فرمائى..،،ثقة،،(٢)

يعقوب بن سفيان رحمه الله فرمائى..،،روى عنه أئمة الكوفة وهو ثقة مأمون كوفي،،(٣)

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى..،،من خيار عباد الله،،(٤)

امام مسلم رحمه الله فرمائى..،،كوفي من خيار الناس،،(٥)

امام نسائى رحمه الله فرمائى..،،ثقة ثبت،،(٦)

فلاس رحمه الله فرمائى..،،ثقة،،(٧)

حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى..،،إمام ثبت،،(٨)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى..،،ثقة عابد،،(٩)

په ۱۴۵ھ كښې ددوى وفات اوشو.(١٠) ،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

④ ابوزرعه: دا ابو زرعه بن عمرو بن جرير بجلى رحمه الله دې.ددوى حالات د ،،باب الجهاد من الإيمان،، لاندې تير شوى دى.

⑤ ابوهريرة رضي الله عنه: ددوى حالات تفصيل سره د ،،باب أمور الإيمان،،لاندې ذكر شوى دى.(١١)

حديث جبرئيل او ددې اهميت: حديث باب د ،،حديث جبريل،، په نوم سره مشهور دې.دا حديث ډير عظيم الشان دې.په دې كښې د قواعد او اصولو ډير انواع، او ډيرې اهمې فائدې بيان كړې شوى دى.لكه چه علامه قرطبى رحمه الله فرمائيلى دى.((هذا الحديث يصلح أن يقال له: أم السنة، لما تضمنه من جمل علم السنة))(١٢)يعنى دا حديث ددې قابل دې.چه دې ته

---

(١) الطبقات (٦\٣٥٣)
(٢) جامع الترمذى كتاب المناقب باب مناقب على بن أبى طالب رضي الله عنه رقم ٣٧١٤)_
(٣) حاشية تهذيب الكمال(٣١\٣٢٥) نقلاً عن المعرفة (٣\٩٤) وانظر تهذيب التهذيب (١١\٢١٥)-
(٤) حاشية تهذيب الكمال(٣١\٣٢٥) نقلاً عن المعرفة (٢\١٩٦)-
(٥) تهذيب التهذيب(١١\٢١٥)
(٦) المصدر السابق)
(٧) المصدر السابق)-
(٨) الكاشف (٢\٣٦٦) رقم ٦١٧٣) وميزان الإعتدال (٤\٣٨٠) رقم ٩٥٢١)
(٩) تقريب التهذيب (ص.٥٩٠) رقم ٧٥٥٥)
(١٠) الثقات لإبن حبان(٧\٥٩٢)
(١١) كشف البارى(١١\٦٥٩ ٦٦٣)_
(١٢) فتح البارى(١\١٢٥)

..ام السنة،، لقب ورکړې شی. ځکه چه دپوره سنت اجمالی علم په دې کښې راجمع کړې شوې دې.
علامه طیبی رحمه الله فرمائی. ((ولما اشتمل هذا الحديث على هذه المطالب العزيزة، والمقاصد السنية، التي هي أمهات أصول الدين، أودعه محي السنة في مستهل بابي كتابيه ،،شرح السنة،، و،،المصابيح،، تأسيا بالله عزوجل في تقديم الفاتحة التي هي أم القرآن المشتملة على ما بعدها إجمالاً براعة للإستهلال، والله أعلم بالأسرار))[1] مطلب دا دې چه دا حديث چونکه ډير قابل قدر او اعلى مطالبو او مقاصدو. يعنى په اهمو اصولو د دين باندې مشتمل دې. په دې وجه محى السنة بغوى رحمه الله د خپلو دواړو کتابونو ،،شرح السنة،،او ،،المصابيح،، آغاز ددې حديث نه کړې دې. ګويا لکه څنګه چه د الله تعالى د کتاب افتتاح د سورة فاتحه نه کيږی. او په دې کښې د پوره قرآن اجمالى بيان دې. دغه شان حديث جبريل ذکر کولو سره ئې د کتاب الله أتباع کړې ده. ځکه چه په دې کښې د پوره سنت خلاصه او نچوړ دې.
قاضی عياض رحمه الله فرمائيلی دی. چه ټول وظائف ظاهری او باطنی عبادات هم په دې کښې دی. او اعمال د جوارحو هم، او د نيتونو اخلاص او سرائر (خوبيانې) هم په دې کښې دی او د اعمالو د آفتونو نه حفاظت هم په دې کښې دې. تردې چه د شريعت ټول علمونه ددې نه راوتلی بناخونه دی. او دې طرف ته راجع دی.[2]

قوله: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَارِزًا يَوْمًا لِلنَّاسِ: نبى کريم صلى الله عليه وسلم يوه ورځ د خلقو په وړاندې ښکاره (مخامخ) تشريف فرما وو.
په شروع کښې به داسې کيدل. چه نبى کريم صلى الله عليه وسلم به دعبديت د غلبې او د تواضع د تعليم دپاره صحابه کرامو رضي الله عنهم سره يوشان يوځائې کيناستلو. تردې چه نوی راتلونکو ته به د نبى کريم صلى الله عليه وسلم په پيژندلو کښې مشقت وو. او تپوس به ئې کولو. نو صحابه کرامو درخواست اوکړو. چه اې د الله رسوله صلى الله عليه وسلم! تاسو دپاره ولې يو ښکاره جدا ځائې جوړ نکړو. چه په دې باندې تاسو تشريف فرما يئ. نو راتلونکو خلقو ته به تکليف نه وی. نبى کريم صلى الله عليه وسلم دا منظور کړله. حضرات صحابه کرامو د نبى کريم صلى الله عليه وسلم دپاره د خاورو يوه ډبه (موړه) جوړه کړله. په دې باندې به دوی صلى الله عليه وسلم کيناستل. او حضرات صحابه کرام رضي الله عنهم به ددوی دواړو اړخو ته کيناستل.[3]

---

[1]) الكاشف عن حقائق السنن المعروف بشرح الطيبى(١١٠\١١، ١١١)
[2]) فتح البارى(١٢٥\١)
[3]) د سنن ابى داؤد (كتاب السنة باب فى القدر. رقم ٤٦٩٨) په روايت کښې دى. ((كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يجلس بين ظهرى أصحابه فيجئ الغريب فلا يدرى أيهم هو حتى يسأل فطلبنا إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم أن نجعل له مجلساً يعرفه الغريب إذا أتاه قال فبنينا له دكاناً من طين. فجلس عليه وكنا نجلس بجنبتيه . دغه شان اوګورئ سنن نسائى (٢٦٥\٢) كتاب الإيمان وشرائعه باب صفة الإيمان والإسلام)

علامه قرطبى رحمه الله ددې نه دا حکم مستنبط کړې دې چه ضرورت وی نو عالم ته په اوچت خائې باندې کیناستل پکار دی.(۱) نبی کریم ﷺ د عبدیت غالب کیدو باوجود، دا خبره قبوله کړله او په دې بنکاره او اوچت خائې کیناستلو نو معلومه شوه چه د ضرورت په موقعه کښې دا بالکل صحیح ده.

قوله فَأَتَاهُ رجل: نو یو سړې نبی کریم ﷺ ته راغې.

په دې روایت کښې د ،،رجل،، هیڅ صفت ذکر نه دې حالانکه د نسائی په روایت کښې ((انا لجلوس و رسوله ﷺ فى مجلسه، إذ أقبل رجل أحسن الناس وجهاً، وأطيب الناس ريحاً، كأن ثيابه لم يمسها دنس))(۲) وارد شوې دې.

په صحیح مسلم کښې د حضرت عمر رضی الله عنه د روایت الفاظ دی.((بينما نحن ذات يوم عند رسول الله ﷺ، إذ طلع علينا رجل شديد بياض الثياب شديد سواد الشعر))(۳)

دابن حبان رحمه الله په روایت کښې دی.((شديد سواد اللحية، لا يرى عليه أثر السفر، ولا يعرفه منا أحد، حتى جلس إلى النبى ﷺ، وأسند ركبتيه إلى ركبتيه ووضع كفيه على فخذيه))(۴)

د سلیمان تیمی په روایت کښې دی.((ليس عليه سحناء سفر، وليس من البلد، فتخطى حتى برك بين يدى النبى ﷺ كما يجلس أحدنا فى الصلاة، ثم وضع يده على ركبتى النبى ﷺ))(۵)

ددې ،،رجل،، نه مراد حضرت جبرئیل علیه السلام دې.دې د انسان په شکل کښې راغلې وو.په دې وجه راوی د اول حال اعتبار کړې دې.او ،،رجل،، سره ئې تعبیر کړې دې.

د طلب علم اداب: د روایت ددې مختلفو الفاظو نه د طلب علم بعضې آداب معلومیږی:① یو ادب دا معلوم شو.چه د خوانئ په زمانه کښې علم حاصلول پکار دی.ځکه چه دغه وخت د انسان قوت پوره په زور کښې وی.ددې مطلب دا نه دې چه سړې دې په ماشوم توب کښې علم نه حاصلوی.بلکه مطلب دا دې چه اصل کښې داسې زمانه کښې علم حاصلول پکار دی.کله چه په انسان کښې قوت مدرکه عاقله پوره محفوظ وی.دا زمانه د علم د طلب دپاره ډیره مناسب او موزون ده.او د ماشوم والی زمانه ددې علم حاصلولو په قواعدو کښې تیرکړې شی.لکه تعلیم د قراءت، او کتابت، او د قرآن کریم د حفظ او ناظرې تعلیم.

---

(۱) فتح البارى(۱\۱۱۶) وعمدة القارى(۱\۲۸٤)
(۲) سنن النسائى (۲\۲۶۵) كتاب الإيمان وشرائعه باب صفة الإيمان والإسلام)
(۳) صحيح مسلم (۱\۲۷) كتاب الإيمان)
(۴) حكاه الحافظ فى الفتح (۱\۱۱۶) والعينى فى العمدة.(۱\۲۸٤) ولم أجده فى الإحسان بهذا اللفظ وإنما فيه إذ جاء رجل شديد سواد اللحية شديدبياض الثياب فوضع ركبته على ركبة النبى ﷺ ..أنظر(۱\۳۳۶) رقم ۱۶۸)
(۵) انظرفتح البارى(۱\۱۱۶) وعمدة القارى(۱\۲۸٤)

⑦ دويم ادب دا معلوم شو چه طالب علم له صفائي اختيارول پكار دى ،،أطيب الناس ريحاً، كأن ثيابه لم يمسها دنس،، نه هم دا خبره معلوميږي خو د صفائي مطلب دا نه دې چه جامه قيمتي وي بلكه ارزانه او معمولي جامه هم صفا كيدې شي كه دا د خيرن والي نه محفوظ اوساتلې شي ⑧ دريم ادب دا معلوم شو چه طالب علم په داسې طريقه كيني چه د استاذ خبره په ښه غور سره واوري او پوهه شي ،،وأسند ركبتيه إلى ركبتيه ووضع كفيه على فخذيه،، نه دا ادب معلوميږي.

د ،،فخذيه،، ضمير كوم طرف ته راجع دې؟ بيا د ،،فخذيه،، د ضمير په باره كښې دوه احتماله دى ① يو دا چه دا ضمير پخپله ،،رجل،، يعني جبرئيل عليه السلام طرف ته راګرځى ② او دويم احتمال دا دې چه نبى كريم ﷺ طرف ته راوګرځى.

امام نووي او علام توربشتي رحمهما الله راجح هم دا ګرځولې دې چه دا ضمير پخپله حضرت جبرئيل عليه السلام طرف ته راګرځى خكه چه ددې نه وړاندې د ،،كفيه،، ضمير هم حضرت جبرئيل عليه السلام طرف ته راګرځى او د ادب تقاضه هم دا ده چه لاسونه پخپلو كندو باندې كيخودې شى داسې نه چه د نبى كريم ﷺ په كوندو باندې كيخودې شى.(¹)

او د امام بغوى، اسماعيل تيمى، او علامه طيبى رحمهم الله وغيره رجحان دې طرف ته دې چه دا ضمير نبى كريم ﷺ طرف ته راګرځى خكه چه د سليمان تيمى په روايت كښې تصريح ده چه ،،ثم وضع يده على ركبتي النبي ﷺ،،(²)

ددې روايت نه خو دا مسئله ښكاره كيږى چه ضمير نبى كريم ﷺ طرف ته راګرځى البته دا اشكال كيږى چه په ظاهره دا صورت د أدب خلاف معلوميږى؟

ددې اشكال د ختمولو ① يو صورت دا دې چه په دې روايت كښې د يو راوى تصرف اومنلې شى او اوونيلې شى چه د ،،ركبتيه،، ونيلو په ځائې كوم يو راوى د خپلې پوهې مطابق ،،ركبتي النبي ﷺ،، ونيلې وى په دې صورت كښې به ضمير حضرت جبرئيل طرف ته ګرخول متعين وى او د خلاف ادب كيدو اشكال به نه كيږى.

⑦ دويم صورت دا دې چه ضمير خو نبى كريم ﷺ طرف ته راګرځى لكه څنګه چه مذكوره روايت كښې تصريح اوشوه البته تركومې پورې چه د خلاف ادب كيدو تعلق دې نو بعضو عالمانو فرمائيلى دى چه اصل كښې طالب علم دپاره ضرورى ده چه هغه استاذ طرف ته پوره متوجه وى او دا صورت په مكمل توجه باندې دلالت كوى.(³)

دا توجيه زړه ته ډيره ښه نه لګى ددې نه غوره توجيه هغه ده كومه چه د بعضو عالمانو ده.

---

¹) فتح البارى(١١٦١١) وعمدة القارى(٢٨٧١١) وشرح الطيبى(٩٥١١)

²) فتح البارى(١١٦١١) وعمدة القارى(٢٨٧١١) دغه شان اوګورئ شرح طيبى(٩٥١١)

³) فتح البارى(١١٦١١)-

چه دې راتلونکي د ،،تعميه،، نه کار اخستې وي.يعنې هغه دا غوښتل چه دده حال بالکل مستور (پرده کښې) پاتې شي.چاته هيڅ پته اونه لګي. خلق اوګڼړي.چه څوك عامي او بانديچي سړې دې.چه دې د ادابو نه بالکل ناخبره دې.په دې غرض سره دا سړې د خلقو په څټونو (او اوګو) باندې راواوختو.او د نبي کريمﷺ مخې ته کيناستو.(١)او په دې وجه دوی خپل لاسونه د نبي کريمﷺ په کونډو باندې کيخودل.يا دا اووئيلې شي.چه د زيات احتياج ښکاره کولو دپاره، اوددوی توجيه مکمل طور باندې خپل طرف ته راګرځولو دپاره دوی داسې اوکړل. والله اعلم.

د حضرت جبرئيل ﷺ راتلل کله شوی وو؟ د حضرت جبرئيلﷺ د انسان په شکل دا راتلل کله شوی وو؟ په دې سلسله کښې د ابن منده په روايت کښې دی.((أن رجلاً في آخر عمر النبيﷺ جاء إلى رسول الله ﷺ......))(٢)ددې روايت نه معلومه شوه.چه د نبي کريمﷺ دا راتلل د نبي کريمﷺ په آخری عمر کښې شوی وو.

د امام ابوحاتم ابن حبان بستي رحمه الله رائې داده.چه دا قصه د حجة الوداع نه وړاندې راپيښه شوې وه.(٣)هم دا د علامه توربشتي رحمه الله رائې هم ده.(٤)

او د حافظ ابن حجر رحمه الله رجحان دې طرف ته دې.چه دا واقعه د حجة الوداع نه پس راپيښه شوې ده.څکه چه هم دا((آخر عمر النبيﷺ)) دې.حضرت جبرئيلﷺ په آخر عمرکښې ددې ټولو احکامو،مسائلو او د معتقداتو د خلاصې بيانولو دپاره تشريف راوړلې وو.چه دا په متفرق طور باندې درې ويشتو کالوکښې نازل کړې شوی وو.ګويا چه د حجة الوداع نه پس،چه نبي کريمﷺ درې مياشتې هم نه وو پاتې شوې.د شريعت د استقرار نه پس ددې خلاصه او نچوړ د حضرت جبرئيلﷺ سوالونه او د نبي کريمﷺ جوابونه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په وړاندې راوستل مقصود وو.(٥)

قوله: فَقَالَ مَا الإِيمَانُ؟: ده تپوس اوکړو.چه ايمان څه څيز دې؟

د سلام نه کولو اشکال او د هغې جواب: دلته اشکال کيږي.چه جبريل امين د کلام نه وړاندې سلام ولې اونکړو؟ دا خو د اسلامي آدابو خلاف دې؟

ددې ① جواب دا ورکړې شوې دې.چه جبريل امين د حال د اخفاء په غرض سره دا صورت

---

(١) عمدة القاري(١١\٢٨٧)

(٢) فتح الباري(١١٩\١) وعمدة القاري(١١\٢٩٢، ٢٩٣)

(٣) هغوی دحضرت جبرئيل ﷺ د راتلو ددې واقعه ذکرکولونه پس فرماني.((ثم إن النبيﷺ أراد أن يحج حجة الوداع)) اوګورئ: الثقات لابن حبان(١٢\١٢٣، ١٢٤)

(٤) فقال هذه الأسئلة والأجوبة صدرت قبيل حجة الوداع في السنة العاشرة من الهجرة، قريب انقطاع الوحي و إستقرار الشرع،أنظرشرح الطيبي(١١\١١)_

(٥)فتح الباري(١١٩\١)_

اختيار كړې وو. (١) ② دويم جواب دا وركړې شوې دې چه جبريل په دې وجه سلام اونكړو چه معلومه شى چه سلام واجب نه دې. (٢)
خو دا دواړه جوابونه ضعيف دى خكه چه په نورو رواياتو كښې تصريح شته چه حضرت جبريل عليه السلام سلام كړې وو. لكه د نسائى روايت دې «حتى سلم فى طرف البساط، فقال: السلام عليك يا محمد فرد عليه السلام....» (٣) دغه شان د ابو داؤد په روايت كښې دى «حتى سلم من طرف البساط فقال: السلام عليك يا محمد، قال: فرد عليه النبى ﷺ» (٤)
په مسند امام اعظم كښې د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په روايت كښې دى. «إذ أقبل شاب جميل أبيض حسن اللمة، طيب الريح، عليه ثياب بيض، فقال: السلام عليك يا رسول الله، السلام عليكم، قال: فرد عليه رسول الله ﷺ و رددنا معه» (١)
دغه شان د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په روايت كښې هم دى. «جاء جبريل إلى النبى ﷺ فى صورة شاب عليه ثياب بياض، فقال: السلام عليك يا رسول الله.......» (٢)
ددې نصوصو نه معلومه شوه چه جبريل امين سلام كړې وو. خو ددې نه بعضو راويانو سكوت كړې دې. علامه عينى رحمه الله فرمائى. «وطريق التوفيق أن رواية من قال: سلم، مقدمة على من سكت» (٣)

په طريقه د خطاب كښې تعارض او ددې ازاله: دلته تاسو گورئ چه د نسائى او ابوداؤد په روايت كښې د «السلام عليك يا محمد» الفاظ دى حالانكه په مسند امام اعظم كښې د حضرت عبدالله بن عمر او حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنهم دواړو حضراتو په رواياتو كښې د «السلام عليك يا رسول الله» الفاظ دى. اوس په دې كښې تعارض شو.
ددې جواب دا دې چه ممكن ده جبريل امين دواړه قسمه جملې استعمال كړې وى. وړاندې ئې «السلام عليك يا محمد» وئيلې وى. او ددې نه مقصود هم دا تعميه او د حال د اخفاء (پټولو) كوشش دې چه دوى داسې طرز اختيار كړو. لكه څنگه چه د عامو كلو خلق كوى. بيا ئې روستو «السلام عليك يا رسول الله» وئيلې وى. (٤) والله اعلم.

د خطاب د طريقې اشكال او ددې جواب: دلته كه د ‹‹السلام عليك يا محمد›› الفاظ ثابت اومنلې شى نو يو اشكال دا كيږى چه په قرآن كريم كښې نبى كريم ﷺ سره د عامو خلقو پشان د

(١) فتح البارى (١١٧\١) وعمدة القارى (٢٩٢\١)_
(٢) المصادر السابقة)
(٣) سنن نسائى (٢٦٥\٢) كتاب الإيمان وشرائعه باب صفة الإيمان والإسلام)_
(٤) سنن أبى داود كتاب السنة باب فى القدر رقم ٤٦٩٨)-

خطاب کولو نه منع کړې شوې ده.د الله تعالی ارشاد دې. ﴿لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا﴾ [5] بیا حضرت جبریل ﷺ په ..یا محمد.. ونیلو سره څنګه خطاب اوکړو؟

① ددې جواب بعضو حضراتو دا ورکړې دې.چه ممکن ده.دا د ممانعت نه د وړاندې واقعه وی [6]

خو دا جواب صحیح نه دې.څکه چه وړاندې هم د ابن منده په حواله سره روایت ذکر کړې شوې دې.چه دا واقعه د نبی کریم ﷺ په آخری عمر کښې راپیښه شوې وه.ښکاره ده.چه دا آیت ددې نه وړاندې نازل شوې وو.البته د بعضو صحابهٔ کرامو نه چه کوم داسې قسمه خطاب منقول دې.هغه د ممانعت نه په وړاندې باندې محمول دې.یا د ممانعت د علم نه کیدو په وجه دې.[7]

② دویم جواب دا ورکړې شوې دې.چه دا ممانعت ددوی دې امت سره مخصوص دې.څکه چه په آیت کریمه کښې خطاب سړوته دې.فرښتو ته نه دې.او حضرت جبریل ﷺ نه صرف مقرب ترینه فرښته ده.بلکه ،،معلمه فرښته،، هم ده.[8]

③ دریم جواب دا ورکړې شوې دې.چه دلته علم مقصود نه دې.بلکه وصفی معنی مراد ده. چونکه دمکې مکرمې مشرکانو به نبی کریم ﷺ ته دضد او عناد اوعداوت په وجه ،،مذمم،، ونیلو.په دې وجه جبریل امین د هغوی د تردید دپاره د وصفی معنی په لحاظ سره د تعریف په طور ،،یا محمد،، اوونیل. ددې مطلب دا دې.چه هغه ذات کوم چه د ښائسته صفاتو او د هرقسمه قابل تعریف او د حمیده خصلتونو او صفاتو جامع دې.[9]

خو دا دواړه جوابونه هم د تکلف نه خالی نه دی.څکه چه اګرچه په آیت کریمه کښې خطاب انسانانو ته دې.او فرښتې ددې مکلف نه دی.خو په دې وخت حضرت جبریل ﷺ په انسانی شکل کښې راغلې وو.ټولو صحابهٔ کرامو تردې چه نبی کریم ﷺ پورې ټولو انسانو ده لره انسان ګنړلو.په داسې موقعه باندې خطاب د عدم احترام موهوم ضرور دې.

دغه شان د معنی وصفی لحاظ او اعتبار متبادر الی الذهن (او خلاف عقل) نه دې. خصوصاً چه دا واقعه هم د آخری عمر ده.او دنبی کریم ﷺ نوم مبارک په اوچت آواز سره د

---

[1] مسند الإمام الأعظم (ص.٤) فاتحة کتاب الإیمان والإسلام والقدر والشفاعة)_

[2] مسند الإمام الأعظم (ص.٥)_

[3] عمدة القاری(٢٩٢\١) وکذالک قاله ابن حجر فی فتح الباری(١١٧\١)_

[4] المصادرالسابقة وکذا مرقاة المفاتیح (٥١\١) والتعلیق الصبیح(١٥\١)_

[5] سورة النور:٦٣)_

[6] مرقاة المفاتیح (٥١\١)_

[7] مرقاة (٥١\١) وإمداد الباری(٧٢٩\٤)_

[8] مرقاة المفاتیح (٥١\١) والتعلیق الصبیح (١٥\١) وإمدد الباری(٧٢٩\٤)_

[9] المصادرالسابقة)_

اخستلو واقعه د اسلام د ابتداء ده.
نو صحيح جواب هم دا معلوميږي.چه جبرئيل ﷺ د تعميه په طور باندې د حال د اخفاء په غرض سره داسې كړي وو.خكه چه تولو ته پته ده.چه داسې قسمه خطاب انېرِه(او جتې) د كلو خلق كوي.(١)
د سوالونو مختلف ترتيب او ددې حكمت په دې روايت كښې رومبې د ,,ايمان،، په باره كښې سوال دې.بيا د ,,اسلام،، په باره كښې او په آخر كښې د ,,احسان،، په باره كښې دې. دمسلم شريف په يو روايت كښې بعينه هم دا ترتيب دې.حالانكه د مسلم په يو روايت كښې كوم چه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه نقل دې.هغې كښې وړاندې د اسلام بيا د ايمان او بيا د احسان متعلق سوال مذكور دې.هم دا ترتيب د حضرت عمر رضي الله عنه په روايت كښې هم دې.
كه سائل وړاندې د ايمان متعلق سوال كړې وي.بيا خو د ترتيب وجه دا ده.چه ايمان اصل دې.او ,,اسلام،،د ايمان مظهر دې.او په آخر كښې د ,, احسان،، نمبر دې.خكه چه ددې د دوارو سره تعلق دې.(٢)
علامه طيبي رحمه الله د حضرت عمر رضي الله عنه د حديث شرح كولو كښې، ددې ترتيب (اسلام،ايمان، احسان) وړاندې ايخودې دې.او دا تقرير ئې فرمائيلې دې.چه چونكه په ايمان يعنى تصديق باندې د اسلام بنياد وي.او د ايمان نه بغير د اعمالو اعتبار نه وي.په دې حيثيت سره ايمان مقدم كول پكار وو.خو چونكه دا يو باطني امر دې.او اسلام ظاهري څيز دې.د دين د شعائرو اظهار هم په دې سره كيږي.په دې وجه ترتيب د ,,اهم فالاهم،، كيدل پكار دی.چه په دې كښې د ادنى نه اعلى طرف ته ترقي وي.نو وړاندې ئې د اسلام متعلق سوال اوكړو.خكه چه ددې تعلق ظاهري عمل سره دې.او بيا ئې ترقي اوكړله.او د ايمان متعلق ئې سوال اوكړو.خكه چه ددې تعلق باطن سره دې.او بيا ئې نوره هم ترقي اوكړله.او د احسان متعلق ئې سوال اوكړو.(٣)
خو دا ټول نكات بعد الوقوع دی.او په ظاهره دا ترتيب د رواتو خپل تعبير دې.خكه چه د مطر الوراق په يو روايت كښې ترتيب د ,,اسلام، احسان،، او بيا د ,,ايمان،، هم دې.(٤) معلومه شوه.چه ترتيب واقعى به په دې كښې يو وي.خو دا تقديم او تاخير د رواتو تصرف دې.والله اعلم.
قوله: قَالَ الْإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ: نبى كريم ﷺ اوفرمائيل،,,ايمان،، دا دې.چه ته ايمان راوړې په الله باندې.....
نبى كريم ﷺ د ,,ما الايمان،، په جواب كښې ،،الايمان أن تؤمن بالله.....الخ،، فرمائيلى دى.

---

١) المصادر السابقة)-
٢) فتح البارى(١١٧١١) وعمدة القارى(٢٩٢١١)_
٣) شرح الطيبى(٩٨١١)_
٤) فتح البارى(١١٧١١) وعمدة القارى(٢٩٢١١)_

چونكه د ،،ما،، په ذريعه د څه څيز دحقيقت په باره كښې سوال كولې شى په دې وجه په ظاهر د ،،ما الإيمان،، په جواب كښې دومره ونيل كافى وو چه ،،الإيمان هو التصديق،، خو چونكه دا مجمع د عربو د خلقو وه او هغوى ته پته وه چه د ،،ايمان،، معنى تصديق ده په دې وجه د سائل مقصد صرف دومره نشى كيدې بلكه د سائل منشا دا وه چه د ايمان تعلق كومو څيزونو سره وى؟ په دې وجه نبى كريم ﷺ په جواب كښې هغه څيزونه بيان كړل كومو سره چه تصديق متعلق كيږى په دې روايت كښې چرته هم د ،،ما الإيمان،، په جواب كښې د اعمالو ذكرنشته په دې وجه ونيلې شى چه اعمال دايمان دحقيقت نه خارج دى (١) والله اعلم

يو اشكال او د هغې جواب دلته په ،،الإيمان أن تؤمن بالله......،، باندې اشكال كيږى چه د ،،ايمان،، تعريف كولې شى په ،،أن تؤمن.....،، ونيلو سره ،،أن،، مصدريه دې نو اوس مطلب دا شو چه «الإيمان هو الإيمان....» او دا ،،تعريف الشئ بنفسه،، دې يا داسې اووايئ چه په دې كښې ،،أخذ المحدود فى الحد،، لازميږى او دا صحيح نه ده؟

ددې جواب دا دې چه ،،الإيمان،، كوم چه محدود دې ددې نه شرعى او اصطلاحى ايمان مراد دې او د ،،أن تؤمن.....،، نه ايمان لغوى مراد دې يعنى

«الإيمان الشرعى الإصطلاحى أن تصدق......» (٢) اوس به هيڅ اشكال نه وارديږى

علامه طيبى رحمه الله ددې جواب دا وركړې دې چه ،،أن تؤمن،، د ،،أن تعترف،، په معنى كښې دې څكه چه روستو په صله كښې باء راغى. (٣)

خو ملا على قارى رحمه الله فرمائى چه د ،،باء،، د راتلو په وجه ،،تؤمن،، د ،،تعترف،، په معنى كښې د اخستلو ضرورت نشته څكه چه د ،،تؤمن،، په صله كښې هم ،،باء،، استعماليږى لكه په قاموس كښې دى «آمن به إيماناً: أى صدقه» البته كه په ،،تؤمن،، كښې دننه د ،،اعتراف،، معنى تضمين اومنلې شى نو دا بهتره ده په دې صورت كښې به تقدير داوى «أن تصدق معترفا......» (٤) والله اعلم.

قوله. وَمَلَائِكَتِهِ: او (ايمان راوړه) په فرښتو باندې.

---

(١) إمداد البارى (٧٣٠/١٤)-

(٢) شرح الكرمانى (١٩٤/١) وقال الحافظ فى الفتح (١١٧/١) والذى يظهر أنه إنما أعاد لفظ ،،الإيمان،، للإعتناء بشانه تفخيماً لأمره)_

(٣) شرح الطيبى (٩٧/١، ٩٨)_

(٤) مرقاة المفاتيح (٥٥/١)_

ملائکه د ..ملك.. جمع ده.فرښتو ته وائی.
د ..ملك..یا ..فرښتې.. تعریف د ..بدء الوحی.. د دویم حدیث لاندې مونږ ذکرکړې دې.(١) چه ((الملائكة هم أجسام علوية لطيفة تتشكل أى شكل أرادوا.....))(٢)
فرښتې د الله تعالی یو مستقل مخلوق دې.چه دا دنور نه پیدا کړې شوی دی.دوی د الله تعالی نافرمانی نه کوی.او په کومو کارونو باندې چه الله تعالی دوی مقرر کړی دی.په هغې کښې لګیا وی.دوی د الله تعالی معزز بنده ګان دی.د الله تعالی د حکم د خلاف ورزئ کولو څه معنی ده؟ کوم حکم چه دوی ته ورکولې شی.د هغې په کولو کښې ذره برابر سستی هم نه کوی.د ډیر زیات معزز او مقرب کیدو باوجود ئې د ادب او اطاعت دا حال دې.چه ترکومې پورې د الله تعالی مرضی او اجازت اونه مونډې شی.د هغه په وړاندې پښپله شونډې نه خوزوی.او نه یو کار.د هغه د حکم نه بغیر کولې شی.ګویا کمال عبودیت ددوی امتیاز دې.(٣)
د فرښتو په باره کښې دا عقیده ساتل ضروری دی.چه فرښتې موجود دی. د دوی تعداد د الله تعالی نه سوا بل هیڅ چاته معلوم نه دې.په دوی کښې چه دکومو فرښتو ذکر په قرآن کریم یا احادیثو کښې راغلې دې.په هغوی باندې تفصیلی او په باقی فرښتو باندې اجمالی طور باندې ایمان راوړل ضروری دی.(٤)
په دې فرښتو کښې څلور فرښتې ډیرې زیاتې مقربې او مشهورې دی.حضرت جبرئیل. حضرت میکائیل، حضرت اسرافیل او حضرت عزرائیل علیهم السلام (٥)

قوله: وَكُتُبِهِ: او (ایمان راوړه) د هغه په کتابونو باندې.
دلته د (وَكُتُبِهِ) لفظ زمونږ په نسخو کښې موجود نه دې.صرف د اصیلی په نسخه کښې دې. حالانکه په کتاب التفسیر کښې دا لفظ په اتفاق د ټولو رواتو مذکور دې.(٦)
د الله تعالی په کتابونو باندې د ایمان راوړو مطلب دا دې.چه ددې خبرې تصدیق اوکړې شی. چه دا د الله تعالی کلام دې.او دا چه څه الله تعالی فرمائیلی دی.هغه بالکل په حقه دی.(٧)
الله تعالی پخپلو نبیانو او رسولانو باندې واړه او غټ ډیر کتابونه نازل کړی دی.په هغې

---

١) کشف الباری(٣٠٩١١)_
٢) فتح الباری(٢١١١)_
٣) إمدد الباری(٧٣١١١)_
٤) مرقاة المفاتیح (٥۶١١)_
٥) المصدر السابق)-
٦) فتح الباری(١١٧١١)-
٧) فتح الباری(١١٧١١، ١١٨)_

كښې وړو كتابونو ته ..صحيفې.. وائي.او لويو كتابونو ته ..كتاب.. وائي.[1]

ا كتابونه او صحيفې څومره دي؟ په دې باره كښې هيڅ صحيح روايت ثابت نه دې.البته ابن حبان رحمه الله پخپل ..صحيح.. [2] كښې. او ابونعيم رحمه الله په ..حلية الاولياء.. [3]كښې.د حضرت ابو ذر رضي الله عنه نه يو اوږد روايت نقل كړې دې.په هغې كښې دى «يا رسول الله، كم كتاباً أنزله؟ قال مائة كتاب وأربعة كتب، أنزل على شيث خمسون صحيفة، وأنزل على أخنوخ ثلاثون صحيفة، وأنزل على إبراهيم عشر صحائف، و أنزل على موسى قبل التوراة عشر صحائف، و أنزل التوراة، والإنجيل، والزبور، والفرقان»[4]

ددې نه معلوميږى.چه د كتابونو تعداد يو سل او څلور[١٠٤] دې.دا روايت اگرچه ابن حبان پخپل ..صحيح.. كښې ذكر كړې دې.خو په دې كښې يو راوى ..ابراهيم بن هشام بن يحي بن يحي الغسانى.. دې.چه ده لره ابن حبان اگرچه ثقه گرځولې دې.[5]خو د جمهورو په نيز دې قابل اعتماد نه دې.[6]

نو صحيح دا ده.چه په كتابونو باندې د ايمان راوړلو په سلسله كښې هيڅ يو تعداد ملحوظ او نه ساتلې شى.بلكه د كومو كتابونو په باره كښې چه قطعى طور باندې علم دې.هغې باندې تفصيلاً، يعنى نوم په نوم، او د كومو په باره كښې چه علم نشته.هغې باندې اجمالاً ايمان راوړل كافى دى.[7]

قوله: وَبِلِقَائِهِ: او (ايمان راوړه) هغه سره ملاويد باندې.

دا لفظ دلته كښې د ..كتب.. او ..رسل.. په مينځ كښې واقع دې.هم دا صورت په مسلم كښې هم دې.حالانكه په باقى هيڅ يو روايت كښې دا لفظ موجود نه دې.[8]

---

[1]) إمداد البارى(٧٣٢\١٤)_

[2]) مواردالظمآن إلى زوائد ابن حبان (ص.٥٢. ٥٤) كتاب العلم باب السوال للفائدة)-

[3]) حلية الأولياء (١\١٦٦- ١٦٨) ترجمة سيدنا أبى ذرالغفارى رضي الله عنه)_

[4]) وقال على القارى فى المرقاة (١\٥٧) قيل الكتب المنزلة مائة وأربعة كتب : منها عشر صحائف نزلت على آدم وخمسون على شيث وثلاثون على إدريس وعشر على إبراهيم والأربعة السابقة..)_

[5]) كتاب الثقات (٨\٧٩) وقال الطبرانى (لم يرو هذا عن يحى إلا ولده وهم ثقات أنظر ميزان الإعتدال (١\٧٣) ولسان الميزان (١\١٢٢)_

[6]) ابوحاتم رحمه الله فرمائى.((أظنه لم يطلب العلم وهو كذاب. على بن الحسين بن الجنيد فرمائى.((ينبغى أن لا يحدث عنه .. امام ابوزرعه رحمه الله فرمائى.((كذاب)) ميزان الإعتدال(١\٧٣) ابوالطاهرمقدسى رحمه الله فرمائى. ((دمشقى ضعيف)) دغه شان حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.((إن إبراهيم هذا متروك)) لسان الميزان (١\١٢٣)

[7]) مرقاة المفاتيح (١\٥٧)_

[8]) فتح البارى (١\١١٨)-

بعضې حضرات فرمائي چه دا لفظ زائد او مكرر دې.خكه چه ددې مفهوم په ،، ايمان بالبعث،،كښې داخل دې.كوم چه روستو راروان دې.

حافظ رحمه الله فرمائي.حقه خبره دا ده.چه دا تكرار ګرځول پكار نه دى.(١)د دوارو په مفهوم كښې د فرق كولو دپاره بعضې حضراتو اوفرمائيل.چه د ،،بعث،، نه مراد،،قيام من القبور،،دې.يعنى د قبرونو نه ژوندې پاسيدل.حالانكه ،،لقاء،، د ،،بعث،، نه روستو د حساب كتاب مرحلې ته وائى.(٢)

بعضې نور حضرات فرمائي.چه د ،،لقاء،، نه مراد ،،انتقال من دار الدنيا،، يعنى مرګ دې.او د ،،بعث،، مرحله ددې نه روستو ده.(٣)ددې قول تائيد د مطر الوراق روايت نه هم كيږى.په هغې كښې دى.((وبالموت وبالبعث بعد الموت))(٤)

بيا امام خطابى رحمه الله د ،،لقاء،، معنى د الله تعالى د رؤيت كړې ده.(٥)

حالانكه امام نووى رحمه الله په دې باندې ګرفت كړې دې.چه د ،،لقاء،، تفسير ،،رؤيت،، سره كول، خكه صحيح نه دى.چه يو سړې قطعى طور باندې دا نشى وئيلې.چه ده ته به د الله تعالى رؤيت حاصليږى.خكه چه د الله تعالى د رؤيت نه مشرف كيدو دپاره ايمان باندې خاتمه كيدل ضرورى دى.او هيڅ يو سړى قطعى طور باندې نشى وئيلې.چه دده خاتمه به ضرور په ايمان باندې كيږى.نو دا د ايمان د شرط ګرځول، څنګه صحيح كيدې شى.(٦)

خو په ظاهره دامام نووى رحمه الله خبره صحيح نه معلوميږى.خكه چه د ،، لقاء،، معنى چه ،،رؤيت،، كړې شوې ده.ددې دا مطلب نه دې.چه هر سړې په دې باندې ايمان راوړى.چه ده ته يا يو خاص سړى ته به ،،رؤيت،، حاصليږى.بلكه ددې مطلب دا دې.چه دا سړې په دې خبره باندې ايمان راوړلو باندې مكلف دې.چه په آخرت كښې د ايمان خاوندانو ته رؤيت حاصليږى.دا هم دغه شان ده.لكه څنګه چه هر سړې په جنت او دوزخ باندې ايمان راوړلو باندې مكلف جوړولې شى.حالانكه د هر سړى جنت يا دوزخ ته تلل لازمى نه دى.نو د لقاء تفسير ،،رؤيت،، سره كول، او دا معنى اخستل بالكل صحيح دى.چه ،،د الله تعالى رؤيت حق دې.چه دا به په آخرت كښې مؤمنانو ته حاصليږى،،والله اعلم.

---

(١) المصدر السابق)-
(٢) شرح النووى على صحيح مسلم (٢٩١١) كتاب الإيمان)_
(٣) المصدر السابق)-
(٤) فتح البارى(١١٨١١)_
(٥) دوى فرمائي.وقوله: (أن تؤمن بلقائه فيه إثبات رؤية الله عزوجل فى الآخرة أعلام الحديث (١٨٢١١)
(٦) شرح النووى على صحيح مسلم (٢٩١١)-

علامه كرمانى رحمه الله فرمائى. «لا دخل لقطعه لنفسه، بل اللازم أن يعلم بأنه حق في نفس الأمر»[1] يعنى په دې روايت باندې قطعيت سره د رؤيت حكم لګول مقصود نه دې. بلكه دا مقصود دې چه د رؤيت په نفس الامر كښې حق كيدو باندې ايمان راوړلې شى. هم دا علامه عينى او حافظ ابن حجر رحمهما الله اختيار كړې دې.[2] بلكه حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى. «وهذا من الأدلة القوية لأهل السنة في إثبات رؤية الله تعالى في الآخرة، إذ جعلت من قواعد الإيمان»[3]
حاصل دا دې چه د. الله تعالى په لقاء باندې ايمان راوړل ضرورى دى. او ددې مطلب دا دې چه د الله تعالى د رؤيت تصديق اوكړې. او ددې خبرې اعتقاد ساتى. اودا منى چه په آخرت كښې به د الله تعالى ډير بنده ګانو ته دالله تعالى ديدار حاصليږى. والله اعلم.
د الله تعالى د رؤيت مسئله د رؤيت مسئلې په باره كښې اهل السنة والجماعة په دې خبره متفق دى چه په دنيا كښې د الله تعالى رؤيت ممكن دې خو نه واقع كيږى. او په آخرت كښې د الله تعالى رؤيت ممكن هم دې. او د الله تعالى مخصوص بنده ګانو ته به حاصليږى هم. حالانكه د معتزله، خوارجو، او په مرجئه كښې د بعضو خلقو دا وينا ده چه د الله تعالى رؤيت په دنيا او آخرت هر ځائې كښې نا ممكن او محال دې.[4]
امام نووى رحمه الله فرمائى. «وهذا الذى قالوه خطأ صريح، وجهل قبيح، وقد تظاهرت أدلة الكتاب، والسنة، وإجماع الصحابة فمن بعدهم من سلف الأمة على إثبات رؤية الله تعالى في الآخرة للمؤمنين، ورواها نحو من عشرين صحابيا عن رسول الله ﷺ و آيات القرآن فيها مشهورة»[5]
د رؤيت د مثبتينو دليلونه هغه حديثونه دى. كوم چه د نبى كريم ﷺ نه نقل كولې شى. امام دارقطنى رحمه الله په ،،كتاب الرؤية،، كښې د امام يحي بن معين نه نقل كړى دى. «عندى سبعة عشر حديثا في الرؤية صحاح»[6]
امام دارقطنى رحمه الله ،،رؤيت ،، سره متعلق د حديث طرق جمع كړى دى. چه د هغې تعداد د شلو نه زيات دې.[7]
حكيم ترمذى رحمه الله په دې سلسله كښې يوه رساله ليكلې ده. او يوويشت روايتونه ئې راجمع

---

[1] شرح الكرمانى(١٩٤١١)_
[2] عمدة القارى ٢٨٨١١) وفتح البارى(١١٨١١)_
[3] فتح البارى(١١٨١١)_
[4] شرح النووى على صحيح مسلم (٩٩١١) كتاب الإيمان باب إثبات رؤية المؤمنين فى الآخرة ربهم سبحانه وتعالى)_
[5] المصدر السابق)_
[6] فتح البارى(٤٣٤١١٣) كتاب التوحيد باب قول الله تعالى:﴿ وجوه يومئذ ناضرة إلى ربها ناظرة﴾_
[7] المصدر السابق)-

كري دي.ابن جرير طبري رحمه الله درى ويشت روايتونه ذكركړي دي.علامه قاسم بن قطلوبغا رحمه الله دحكيم ترمذي رحمه الله په رواياتو باندې د اووه رواياتو اضافه كړې ده.دغه شان ټول اته ويشت روايتونه شو.حافظ ابن القيم رحمه الله په ،،حادى الارواح الى بلاد الافراح،، كښې د رؤيت د احاديثو تعداد ديرشو ته رسولې دې.(١)

ددې نه علاوه د اهل السنة والجماعة استدلال په آيت كريمه ﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴾(٢) باندې دې.

د،،نظر،،لفظ مشترك طور باندې د،،رؤيت،تفكر،انتظار،شفقت او مهربانئ،، په معانيو كښې استعماليږى.(٣)په دې څلور معانيوكښې رومبئ معنى مراد ده.

دلته ،،نظر،، د ،،تفكر،، په معنى كښې نشى كيدې.ځكه چه اول خو دلته د ،،تفكر او اعتبار،، مقام نه دې.دويمه دا كه چرې د ،،تفكر،، په معنى كښې شى.نو عام طور باندې د ،،فى،، په صله سره راځى.(٤) حالانكه دلته د ،،الى،، په صلة سره ده.

،،نظر،په معنى د ،،انتظار،،هم دلته صحيح نه دې.ځكه چه دلته د ،،امتنان،، اظهار دې.او د ،،نضارت،،(تر وتازګئ) خوشخبرى وركولې شى.په مقام د بشارت كښې د انتظار څه مناسبت دې.په دې كښې خو نوره هم سختى ده.،،الانتظار أشد من القتل،، بيا ،،نظر،، په معنى د ،،انتظار،،د ،،الى،، په صلة سره نه استعماليږى.بلكه د صلة نه بغير متعدى بنفسه وى.لكه وئيلې شى.چه ،،نظرت فلاناً،،،،أى انتظرته،،(٥)

دغه شان دلته د ،،شفقت او رافت (مهربانئ)،، په معنى كښې هم نشى كيدې.ځكه چه بنده په الله جل جلاله باندې شفقت نشى كولې.او ددې په صله كښې هم عام طور باندې ،،لام،، استعماليږى.لكه وائى.،،نظرله،،،،أى رثى له وأعانه،،(٦)

هركله چه درې واړه معانې منتفى شوې.نو د ،،رؤيت،، معنى متعين شوه.(٧)

دغه شان د الله تعالى ارشاد ﴿ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا ﴾(٨)هم د رؤيت دليل دې.

---

١) فتح البارى(١٣\٤٣٤)_

٢) سورة القيامة (٢٢\٢٣)_

٣) تاج العروس (١٣\٥٧٣، ٥٧٤)_

٤) قال الزبيدى .. ونظرت فى كذا تاملته تاج العروس (١٣\٥٧٣)_

٥) تاج العروس (١٣\٥٧٣)_

٦) المصدرالسابق)-

٧) فتح البارى(١٣\٤٢٥) كتاب التوحيد باب قول الله تعالى ﴿ وجوه يومئذ ناضرة..)_

٨) سورة الكهف:١١٠)-

د الله تعالى په ارشاد ﴿ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ ﴾ (١) كښې د ،،زيادة،،تفسير د نبى كريم ﷺ نه په ،،رؤيت،، او ،،ديدار،، سره منقول دې.(٢)
دغه شان حديث كښې﴿ لَهُم مَّا يَشَاءُونَ فِيهَا وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ ﴾ (٣) د ،،مزيد،، تفسير په ،،رؤيت د بارى تعالى سره منقول دې.(٤)
د رؤيت مانعين آيت كريمه ﴿ لَّا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ..... ﴾(٥) د دليل په طور پيش كړې دې. خو مذكوره آيت د عدم رؤيت د دليل په طور باندې پيش كول بالكل صحيح نه دى. ځكه چه:
① په آيت كريمه كښې د ،،ادراك،، نفى كړې شوې ده.او،،ادراك،،صرف رؤيت ته نه وائى. بلكه ،،على سبيل الاحاطه،، رؤيت ته وائى.(٦)نو دآيت مطلب دا دې.چه د الله تعالى رؤيت ،،على سبيل الاحاطه،، د هيڅ چا په اختيار كښې نه دې.تر كومې پورې چه د مطلق رؤيت تعلق دې.نو د هغې نفى نه ده.(٧)
② په آيت مبارك كښې چه دكوم ،،ادراك،، نفى كړې شوې ده.هغه دنيوى ادراك دې.د آخرت د رؤيت نفى نه ده.(٨)
③ حضرت شاه عبدالقادر صاحب رحمه الله فرمائى.ددې مطلب دا دې.چه په سترګه كښې دا قوت نشته.چه هغه اووينى.البته كه هغه د لطف و كرم په طور خپل ځان چا ته خودل اوغواړى.نو په سترګو كښې به دغه شان قوت پيدا كړى.مثلاً آخرت كښې به د مراتبو موافق رؤيت وى.لكه څنګه چه د كتاب او سنت د نصوصو نه ثابته ده.(٩)
④ حضرت ابن عباس رضى الله عنهما فرمائيلى وو.،،رأى محمد ﷺ ربه،، په دې باندې د دوى شاګرد عكرمه اووئيل.((اليس الله يقول:﴿ لَّا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ ﴾ نوحضرت ا بن عباس رضى الله عنهما اوفرمائيل.((ويحك! ذاك إذا تجلى بنوره الذى هو نوره)) (١٠)يعنى د نظرونو عدم ادراك به هغه وخت وى.كله چه الله جل جلاله يو خاص نور سره تجلى اوفرمائى.

---

١) يونس:۲۶)_
٢) صحيح مسلم (۱۰۰۱) كتاب الإيمان باب إثبات رؤية المؤمنين فى الآخرة ربهم سبحانه وتعالى)_
٣) سورة ق:۳۵)_
٤) تفسير ابن كثير (۲۲۸\٤)_
٥) الأنعام:۱۰۳)_
٦) لاتدركه الأبصار لا تحيط بحقيقته انظر مجمع بحارالأنوار(۱۶۹\۲)_
٧) تفسير عثمانى(۱۸۸) آيت ﴿لاتدركه الأبصار﴾ وفتح البارى(۶۰۷\۸) كتاب التفسير سورة النجم)_
٨) فتح البارى(۴۲۶\۱۳) كتاب التوحيد باب قول الله تعالى:﴿ وجوه يومئذ ناضرة إلى ربها ناظرة)_
٩) تفسير عثمانى۱۸۸)_
١٠) جامع الترمذى كتاب تفسير القرآن باب ومن سورة والنجم رقم ۳۲۷۹)-

معلومه شوه.چه د الله ﷻ تجليات متفاوت دى.بعض ،،قاهره للبصر،، دى.او بعضې داسې نه دى.

⑧ علامه قرطبى رحمه الله فرمائى.چه په ﴿لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ﴾ كښې د ،،ابصار،، نه د كافرانو ابصار مراد دى.د مؤمنانو ابصار مراد نه دى.ځكه د مؤمنانو په باره كښې راغلى دى.چه ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ (١)او د كافرانو په باره كښې د الله ﷻ ارشاد دې. ﴿كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ﴾ (٢)

⑨ امام مالك رحمه الله فرمائى.چه د الله تعالى ذات باقى دې.او باقى پاتې كيدونكې دې. حالانكه په دې دنيا كښې انسان پخپله هم فانى دې.او دده سترګې هم فانى دى.نو په دې فانى دنيا كښې فانى سترګو سره د ،،باقى،، رؤيت نه كيږى.البته په آخرت كښې چه كله ،،باقى،، سترګې وركړې شى.نو د ،،باقى،، رؤيت،، به كيدې شى.(٣)

مانعينو د رؤيت د الله تعالى د ارشاد ﴿لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّىٰ نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً..﴾(٤)نه هم استدلال كړې دې.لكه دوى وائى چه كله د موسى عليه السلام قوم د رؤيت سوال اوكړو.نو په دوى باندې ،،صاعقه،، نازل شوه.د رؤيت په سوال باندې صاعقه نازليدل، ددې خبرې دليل دې.چه رؤيت محال دې.د محال څيز سوال كول حرام دې.په دې وجه دوى باندې د صاعقه عذاب راغې.خو ددې نه استدلال كول هم صحيح نه دې.ځكه چه مونږ دا نه منو.چه د نفس رؤيت په سوال باندې صاعقه نازل شوې وه.بلكه ددوى د ضد او عناد په وجه باندې نازل شوې وه.لكه چه په آيت كښې د ﴿لَن نُّؤْمِنَ لَكَ﴾ جمله ښكاره دلالت كوى.بيا نبى ﷺ ته دا وئيل چه ﴿لَن نُّؤْمِنَ لَكَ﴾ پخپله بې ادبى ده.

كه مطلقاً د رؤيت په سوال باندې ،،صاعقه،، نازل شوې وې.نو په موسى عليه السلام باندې هم نازليدل پكار وو.ځكه چه دوى هم د رؤيت سوال كړې وو.لكه څنګه چه قرآن كريم كښې الله تعالى ددوى قول بيان كړې دې. ﴿رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ﴾ (٥) كله چه په حضرت موسى عليه السلام باندې صاعقه نازل نه شوه.نومعلومه شوه.چه د نفس رؤيت په سوال باندې صاعقه نه وه نازل شوې.

بيا د حضرت موسى عليه السلام په دې سوال ﴿رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ﴾ او بيا د الله ﷻ په جواب ﴿قَالَ لَن تَرَانِي وَلَٰكِنِ انظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي﴾ كښې د الله تعالى د رؤيت د امكان دليل موجود دې.په دې طريقه چه حضرت موسى عليه السلام دالله تعالى نه درخواست كړې دې. ﴿رَبِّ أَرِنِي

(١) سورة القيامة:٢٢. ٢٣)_
(٢) سورة التطفيف :١٥ وفتح البارى(٦٠٧/٨)كتاب التفسير.سورة النجم)_
(٣) الجامع لأحكام ا لقرآن للقرطبى(٥٦/٧) سورة الأنعام)_
(٤) سورة البقرة:٥٥)_
(٥) سورة الأعراف:١٤٣.

انظر إليك﴾ ددې نه معلوميږي.چه رويت د الله تعالى ممكن دې.ځكه چه د ناممكن او محال سوال كول حرام دى.او چونكه حضرات انبياءكرام معصوم وى.په دې وجه د هيڅ نبى نه د حرام صدور نشى كيدې.
بيا وريسې الله تعالى ﴿وَلَكِنِ انظُرْ إِلَى الْجَبَلِ فَإِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهُ فَسَوْفَ تَرَانِي﴾ فرمائيلى دى.په دې كښې ئې د الله تعالى رويت د جبل استقرار سره معلق كړې دې. چونكه استقرار د جبل د ممكناتو څخه دې.او قاعده ده.چه كوم څيز په ممكن باندې معلق كيږى.هغه پخپله ممكن وى.نو معلومه شوه.چه رويت د الله تعالى ممكن دې. (١)
تركومې پورې چه د الله تعالى د ارشاد ﴿لَنْ تَرَانِي﴾ تعلق دې.نو په دې كښې دا بيان نه دې شوې. چه ته ما كتلې هم نشې.بلكه دا وئيلې شوى دى.چه ته به ما اونه ګورې.
مانعينو د رويت يو عقلى دليل دا هم پيش كړې دې.چه قاعده ده.چه په رائى اومرئى كښې يو خاص مخصوص قسم تقابل ضرورى دې.او چونكه الله تعالى سره تقابل نشى كيدې. ځكه چه الله ﷻ متمكن فى المكان او متحيز نه دې.په دې وجه رويت محال دې.
خو دا استدلال هم صحيح نه دې.ځكه چه دا واجب په ممكن باندې قياس كول دى.،،وقياس الغائب على الشاهد فاسد،،(٢)بيا دنن صبا سائنسى ترقو دا ښكاره كړله.چه مخصوص تقابل هم شرط نه دې.بيا چه هركله د قرآن او حديث او اجماع نه د الله تعالى د رويت د امكان ثبوت كيږى.نو ددې په مقابله كښې هيڅ عقلى دليل پيش كول صحيح نه دى ځكه چه قياس خو هغه ځائې كيږى.كوم ځائې چه نص نه وى.(٣)،،والله أعلم بالصواب،،_

قوله: وَرُسُلِهِ: او (ايمان راوړه) د هغه په رسولانو باندې.
د اصلى په نسخه كښې د،،وبرسله،، لفظ دې.(٤)
،،رسول ،، او ،،نبى،، څه ته وائى؟ ددې په مينځ كښې څه فرق دې؟ دا مونږ تفصيل سره وړاندې ذكركړى دى.(٥)
دلته د ،، ايمان بالرسل،، په مطلب باندې پوهه شئ.هغه دا چه ددې خبرې تصديق كول، چه څومره حضرات الله تعالى نبيان او رسولان جوړ كړې دى.او دخلقو دهدايت دپاره ئې راليګلى دى.هغوى ټول رشتونې دى.(٦)

(١) انظرشرح العقائد النسفية بشرح النبراس (٢٥٢و ٢٥٣)-
(٢) المصدرالسابق)_
(٣) إمداد البارى(٤\٧٣٧)_
(٤) فتح البارى(١١٨\١)-
(٥) كشف البارى (١\٢٢٢-٢٢٥)_
(٦) فتح البارى(١١٨\١)_

د انبياو او رسولانو تعداد د الله تعالى د طرفه څومره رسولانو او نبيانو تشريف راوړلي دي؟ ددوى صحيح تعداد الله تعالى ته معلوم دي.لکه چه د الله تعالى ارشاد دي. ﴿ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ﴾ [1]

البته په بعضې احاديثو کښې د انبياءکرامو او رسولانو متعين تعداد هم وارد شوي دي. لکه چه په يو روايت کښې د انبياو تعداد يو لاکه څليريشت زره وارد شوي دي.چه په دوى کښې درې سوه او ديارلس رسولان وو.[2]

په يو روايت کښې د انبياو تعداد هم دغه نقل دي.کوم چه ذکر شو.البته د رسولانو تعداد درې سوه او پنځلس منقول دي.[3]

دغه نور قسمه روايات هم منقول دى.خو دا ټول روايات د کلام نه خالى نه دى.[4]په دې وجه ددې رواياتو په بنياد باندې د انبياو او رسولانو تعداد متعين کول صحيح نه دى.ځکه چه مسئله د اعتقادياتو ده.او په دې کښې د قطعى نص ضرورت وى.

په دې وجه به دلته هم هغه شان ايمان راوړلې شى.لکه څنګه چه کتابونو باندې دايمان راوړلو په سلسله کښې ذکر شو.چه د کومو نوم معلوم دي.هغوى باندې تفصيلاً او د کومو نوم چه معلوم نه دي.هغوى باندې اجمالاً ايمان راوړلې شى.[5] ،،والله اعلم،،

قوله : وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ: او ايمان راوړه.د مرګ نه روستو په دوباره ژوندى کيدو باندې

د کتاب التفسير په روايت کښې د ،، وتؤمن بالبعث الآخر،، الفاظ دى.[6] مسلم په روايت کښې د حضرت عمر رضي الله عنه په روايت کښې د،،واليوم الآخر،، الفاظ دى.[7]

حافظ رحمه الله فرمائى.چه،،بعث،، سره د ،،آخر،، قيد يا خو د تاکيد دپاره دي.لکه ونيلې شى چه ،،أمس الذاهب،، يا په دې وجه دي.چه بعث دوه ځله واقع شوې دې.يو ځل ،،إخراج من العدم إلى الوجود،، يا ((إخراج من بطون الأمهات بعد النطفة والعلقة إلى الحياة الدنيا))دي.او دويم ځل ،، بعث من بطون القبور إلى محل الإستقرار،، دي.[8]

---

[1] سورة المؤمنين :۷۸)_

[2] رواه أحمد وابن مردويه وابن حبان عن ابى ذر رضي الله عنه كما فى تفسير ابن كثير (۱\۵۸۵، ۵۸۶)_

[3] رواه ابن ابى حاتم (المصدر السابق)-

[4] ددې رواياتو تفصيلات او په دې باندې د کلام دپاره اوګورئ تفسير ابن کثير(۱\۵۸۵، ۵۸۶) آيت ﴿ورسلاً قصصناهم عليك من قبل و رسلاً لم نقصصهم عليك﴾ سورة النساء : ۱۶٤)_

[5] تفسير عثمانى (۶۳۲)_

[6] كتاب التفسير سورة لقمان باب ﴿ إن الله عنده علم الساعة﴾ رقم ٤۷۷۷ وفى صحيح مسلم كذالک(وتؤمن بالبعث الآخر) (۱\۲۹) فواتح الإيمان)_

[7] صحيح مسلم (۱\۲۷) كتاب الإيمان)-

[8] فتح البارى(۱\۱۱۸)_

د ،،الیوم الآخر،، ونیلو وجه یا خو داده چه دا ددنیا د ورخوآخرئ ده.یا ،،آخر الأزمنة المحدودة،،
ده.()
په ورځ د آخرت یا بعث بعد الموت باندې د ایمان راوړلو مطلب یا دا دې چه د قیامت د ورځې واقع کیدو. او په دې کښې چه به کوم څه ځیزونه وی.مثلاً حساب کتاب. میزان. جنت. جهنم ددې ټولو تصدیق اوکړې شی.([2])
بیادا خبره هم قابل غور ده.چه دلته نې،،والبعث،،اوئیلو. په ما قبل الفاظو باندې د عطف
کولو په ځائې ،،وتؤمن بالبعث،،ونیلې شوې دی.
ددې یوه وجه خو دا بیان کړې شوې ده.چه د ..بعث.. وقوع به په آخرت کښې کیږی.او باقی ځیزونه اوس هم موجود دی.په دې وجه ..بعث.. سره مستقل د ..تؤمن.. اضافه کړې شوې ده.([3])
خو په دې جواب باندې اشکال کیږی چه وړاندې د ..لقاء.. ذکر هم راغلې دې.او ددې تفسیر(لکه څنګه چه وړاندې تیر شوې دې) په ..بعث بعد الموت.. سره کړې شوې دې.چه دا فی الحال موجود نه دې.بلکه په آخرت کښې به کیږی.
نو غوره جواب دا دې.چه چونکه د ..بعث بعد الموت.. مسئله د آسمانی مذهبونو او د آسمانی کتابونو د خصوصیاتو څخه ده.په غیر سماوی دینونو کښې ددې تصور نشته.او په دې مسئله کښې به د عربو مشرکانو ته ډیر زیات تعجب کیدو.په دې وجه ددې د اهمیت په لحاظ سره دلته د ..تؤمن..لفظ مستقل دوباره راوړلې شوې دې.([4]) والله اعلم.
فائده: د بخاری شریف په روایت کښې د ،،ما الإیمان؟،، په جواب کښې صرف هم دا ځیزونه دی.کوم چه مذکور شو.حالانکه امام اسماعیلی رحمه الله پخپل ..مستخرج.. کښې ددې نه پس د ..و تؤمن بالقدر.. اضافه هم نقل کړې ده.د ابو فروه په روایت کښې هم دا جمله
شته. د کهمس او سلیمان تمیمی په روایاتو کښې ،،وتؤمن بالقدر خیره وشره،، وارد شوې
دې.هم دا د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی.د ،،عطاء عن ابن عمر،، په طریق سره منقول یو
روایت کښې د ،،وحلوه ومره من الله،، اضافه هم شته.په مسلم شریف کښې د عماره بن القعقاع
په روایت کښې د ..وتؤمن بالقدر.. الفاظ راغلی دی.([5])
قدر یا تقدیر د قدر یا تقدیر معنی په لغت کښې د اندازه کولو ده.الله تعالی پخپل ازلی

---

[1] المصدر السابق)-
[2] المصدر السابق)-
[3] المصادر السابق)
[4] فتح الباری(۱۱۸\۱) إمداد الباری(۷۳۷\۱٤)_
[5] فتح الباری(۱۱۸\۱) وعمدة القاری(۲۸٤\۱)-

علم كښې د عالم (دنيا) د ټولو څيزونو. ددې د ايجاد او پيدا كولو نه وړاندې اندازه كړې وه چه دا څيزونه به فلانى وخت كښې په دې طريقه پيدا كولې شى.او دا څيز به داسې پيدا كولې شى د الله تعالى ارشاد دې﴿قَدْ جَعَلَ اللهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا﴾ (١)﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا﴾ (٢)

نو د پيدا كيدو د وخت نه واخله تر د قيامته پورې د واقع كيدونكو څيزونو دپاره د الله تعالى د حد او اندازې مقرر كولو او ددې د ليكلو نوم تقدير دې.او بيا ددې اندازې مطابق د عالم څيزونه په تدريج سره (د پرله پسې) پيدا كولو نوم قضاء ده.اول تقدير دې.او بيا قضاء ده.

اوس د..ايمان بالقدر..معنى دا شوه.چه بنده په دې خبره باندې يقين اوكړى چه په عالم كښې كوم څه خير او شر او ايمان او كفر واقع كيږى.الله تعالى ته د مخكښې نه د ټولو علم وو. او د ايجاد نه وړاندې الله تعالى دا پخپل تقدير سره مقرر فرمائيلى وو چه په فلانى وخت او په فلانى كور كښې به دا ښه يا بد څيز پيدا كيږى.هيڅ يو څيز د هغه د تقدير نه خارج نه دې.

چونكه د قضاء او قدر تعلق د الله تعالى علم او قدرت سره دې.په دې وجه په دې كښې د غلطئ او خطاء امكان نشته.

د اهل حق مذهب دا دې.چه بنده كوم څه كوى.كه نيك وى او كه بد وى.ايمان وى اوكه كفر وى. طاعت وى اوكه معصيت وى.ټول د الله تعالى په تقدير سره دى.او هم هغه ددې خالق دې.په عالم كښې چه كوم څه كيږى. دا ټول هم دده په مشيت او ارادې سره كيږى. (٣)

فرقه قدريه د حضرات صحابه كرامو رضي الله عنهم په آخره زمانه كښې يوه فرقه قدريه ښكاره شوه. چه دا د قضاء او قدر منكر دى. ددوى عقيده دا ده.چه قضاء او قدر هيڅ نه دى. بنده مختار مطلق دې.او د خپلو افعالو پخپله خالق دې.د وړاندې نه هيڅ څيز مقدر نه دې.

بيا په دوى كښې يو فريق خو تردې پورې غلو كوى.چه الله تعالى ته د وړاندې نه د بنده د افعالو علم هم نه وى.د بنده د كولو نه پس حق تعالى ته علم كيږى. معبد، جهنى، غيلان دمشقى او جعد بن درهم ددې مسلك حمايت كونكى او پيشوا وو.متاخرين صحابه كرامو رضي الله عنهم (د چا په زمانه كښې چه دا خلق ښكاره شو) ددوى نه براءت او بيزارى ښكاره كړله. لكه عبدالله بن عمر، جابر بن عبدالله، ابوهريره، ابن عباس، انس بن مالك، عبدالله بن ابى اوفى او عقبه بن عامر رضي الله عنهم به خپلو اصحابو ته وصيت كولو.چه نه قدريه ته سلام كوئ. او نه ددوى د جنازې مونځ كوئ.او نه ددوى د مريض عيادت كوئ.

---

(١) سورة الطلاق :٣)_
(٢) سورة الفرقان :٢)-
(٣) عقائدالاسلام از حضرت مولانا محمد ادريس كاندهلوى (٢٢١١-٢٦) و(٤۶١٢، ٤٩) وفتح البارى (١١٨١١، ١١٩)_ .

دویمه ډله (د قدریه) د الله تعالی د علم منکر خو نه ده البته د بنده د مختار مطلق کیدو او د خپلو افعالو د خالق کیدو په عقیده کښې روميئ ډلې سره شریك ده په دوی کښې روميئ ډله کوم چه د سره د الله تعالی دعلم منکر ده هغه خو د اسلام نه خارج ده البته کومه ډله چه بنده لره مختار مطلق او د خپلو افعالو خالق ګڼړی هغه د اسلام دائرې نه خارج خو نه ده البته مبتدع ضرور ده.(١)

قوله قَالَ مَا الْإِسْلَامُ: سائل تپوس اوکړو چه اسلام څه څيز دې؟

د مسند امام اعظم په روايتونو کښې د ،،فأخبرني عن شرائع الإسلام،، او د ،،فما شرائع الإسلام،، الفاظ دی.(٢)

قوله الْإِسْلَامُ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا تُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا: اسلام دا دې چه ته د الله تعالی عبادت اوکړې او دده هیڅ څیز سره شریك جوړ نکړې.

امام نووی رحمه الله فرمائی چه ① ممکن ده چه د ،،عبادت،، نه دلته ،،د الله تعالی معرفت،، مراد وی په دې صورت کښې به د ،،صلاة،، وغیره عطف په ،،ان تعبدالله،، بندې او ،،معرفت،، په ،،اسلام،، کښې داخل ګرځولو دپاره وی.

② اودا هم ممکن ده چه د ،، عبادت،، نه مطلق طاعت مراد وی په دا سې صورت کښې د ،،صلاة،، وغیره عطف د ،،عطف الخاص علی العام،،د قبیل څخې وی.(٣)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه روميئ احتمال بعید دې ځکه چه ،،معرفت،، د ایمان د متعلقاتو څخې دې حالانکه اسلام د قولی او بدنی اعمالو نوم دې نو ،،عبادت،، دویم احتمال یعنی مطلق طاعت مراد دې.(٤)

خو پخپله حافظ رحمه الله دویم احتمال هم رد کړې دې او فرمائیلی ئې دی صحیح خبره دا ده چه ،،أن تعبدالله،، د ،،أن توحدالله،، په معنی کښې دې خو چونکه دا معنی په ،،أن تعبدالله،، سره پوهه کښې نه راځی په دې وجه ئې وریسې ،،ولا تشرك،، اوونیل ددې تائید ددې خبرې نه کیږی چه د حضرت عمر رضي الله عنه په روایت کښې دلته «أن تشهد أن لا إله إلا الله و أن محمداً رسول الله» راغلی دی(٥) معلومه شوه چه په دې حدیث کښې د ،،عبادت،، نه ،،نطق بالشهادتين،، مراد دې.(٦) والله اعلم.

---

(١) تکمله عقائد الاسلام (١١/١٧٠، ١٧١) وفتح الباری(١١٩/١)_

(٢) مسندالإمام الأعظم (ص ٧)کتاب الإیمان والإسلام والقدر والشفاعة)_

(٣، ٤) فتح الباری(١١٩/١)_

(٥) المصدرالسابق)_

(٦) صحیح مسلم (٢٧/١) فاتحة کتاب الإیمان) -

فتح الباری(١١٩/١)_

قوله: وَتُقِيمَ الصَّلَاةَ :او (اسلام دا دې چه) تاسو مونځ قائم کړئ.
د صحيح مسلم په روايت کښې د ،،المكتوبة،، قيد هم شته.(١) چه دا د ،،المفروضة،، په معنى کښې دې ددې نه پس د((و تؤدى الزكاة المفروضة)) (٢) الفاظ دى.اګرچه ..مکتوبه.. او ..مفروضه.. دواړه په يو معنى کښې دى.خو د تفنن دپاره جدا جدا الفاظ ذکر شوى دى.(٣) دا هم ممکن ده.چه چونکه په قرآن کريم کښې ..صلاة.. سره د ..مکتوبة.. کيدو صفت مذکور دې ﴿إِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا﴾(٤) په دې وجه دلته کښې..صلاة.. سره د ..مکتوبة.. تخصيص شوې دې. (٥) والله اعلم.
په ..مکتوبه.. قيد سره د ..نافله.. نه احتراز مقصود دې.نوافل اګرچه د اسلام د اعمالو ځنې دې.خو دا د ارکانو ځنې نه دی.او چونکه دلته د اسلام د ارکانو بيان دې په دې وجه به مطلق په مقيد باندې محمول کولې شى.(٦)

قوله: وَتُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ: (او اسلام دا دې چه) ته فرض زکاة ادا کړې.

قوله: وَتَصُومَ رَمَضَانَ: او (داسلام د ارکانو ځنې دا دى چه) ته د رمضان روژې اونيسې.
ددې نه معلومه شوه.چه د ،،رمضان،، استعمال د لفظ ..شهر.. نه بغير جائز دې.لکه څنګه چه وړاندې تفصيل سره تير شو.(٧)د اسلام په ارکانو باندې بحث وړاندې د ،،باب قول النبى ﷺ بنى الإسلام على خمس،، لاندې تير شوې دې.(٨) البته دلته تاسو ګورئ.چه د ..حج.. ذکر نه دې راغلې.ددې څه وجه ده؟
بعضې حضراتو دا وئيلى دى.چه دغه وخت حج فرض شوې نه وو.(٩)خو دا خبره بالکل کمزورې ده.وړاندې مونږ وئيلى دى.چه د حضرت جبرئيل عليه السلام راتلل يا خو د حج الوداع نه لږ شان وړاندې وو.يا د حجة الوداع نه هم روستو وو.بهرحال دا
واقعه ددوى د آخرى عمر ده.او دغه وخته پورې حج فرض شوې وو.

---

(١) صحيح مسلم (١\٢٩)_
(٢) حديث باب او صحيح مسلم (١\٢٩_٩)
(٣) فتح البارى(١\١٢٠)-
(٤) سورة النساء :١٠٣_
(٥) فتح البارى(١\١٢٠)-
(٦) عمدة القارى(١\٢٨٨)_
(٧) كشف البارى(١\٦٣٩، ٦٤٠)_
(٨) كشف البارى(١\٦٣٨، ٦٣٩)-
(٩) فتح البارى(١\١١٩)-

لکه چه د حديث جبرئيل په بعضې طرقو کښې د حج ذکر هم راغلې دې ترکومې پورې چه په دې روايت کښې د ..حج.. نه ذکرکولو تعلق دې نو دا د رواتو د نسيان او هيرې په وجه دې. د کهمس په روايت کښې دی ((وتحج البيت إن استطعت إليه سبيلاً)) د حضرت انس رضي الله عنه په حديث کښې هم دغه شان دی.د عطاء خراساني په روايت کښې د ..صوم.. ذکر نشته.د ابو عامر په حديث کښې صرف د صلاة او زکاة ذکر دې.د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په حديث کښې صرف په شهادتينو باندې اکتفاء شوې ده.او سليمان تيمي نه صرف دا چه ټول ئې جمع کړی دی.بلکه د ،،وتحج البيت،، نه پس د ،،وتعتمر، وتغتسل من الجنابة وتتم الوضوء،، اضافه ئې هم کړې ده.(١)

معلومه شوه چه په حديث باب کښې د حج ذکر د راوی د عدم ضبط (او عدم حفظ) په وجه دې.والله اعلم.

قوله: قَالَ مَا الْإِحْسَانُ:سائل تپوس اوکړو ..احسان.. څه څيز دې؟

د،،احسان،، لغوی معنی او ددې قسمونه احسان متعدی بنفسه هم وی.او متعدی بحرف الجر هم وی.کله چه متعدی بنفسه وی.نو ددې معنی په لغت کښې د ..اتقان او احکام.. راځی.يعنی يو کار په ښه طريقه سره پوره کول.او که د ..الی.. په صله کښې راشی.نو ددې معنی ،،إيصال النفع إلى الغير،، راځی.(٢)

دلته رومبئ معنی مراد ده.ځکه چه د ..احسان.. مقصد دلته کښې ،، اتقان في العبادة،، دې.اګرچه د دويمې معنی احتمال هم موجود دې.په دې طريقه چه کوم سړې محسن يعنی مخلص وی.هغه به پخپل اخلاص سره خپل ځان ته نفع رسونکې هم وی.(٣)

بيا د،،احسان في العبادة،،دوه قسمونه دی.① احسان ظاهری.② احسان معنوی. بيا د احسان ظاهری دوه درجې دی.رومبئ درجه ئې فرض ده.او دا ددې ارکان. فرائض او واجبات ادا کول دی.او دويمه درجه ئې مسنون او مستحب ده.او دا عبادت لره ددې د ادابو او مستحباتو سره ادا کول دی.

احسان معنوی دا دې.چه سړې په ډير خشوع خضوع سره دالله تعالى عبادت اوکړی.په دې طريقه چه اندامونه او جوارح ،او روح او زړه ټول الله تعالى طرف ته متوجه وی.

مقام مشاهده او مقام مراقبه بيا ددې هم دوه قسمونه دی.① يو مقام مشاهده ده په دې مقام کښې عبادت ګزار په نور د بصيرت سره د الله تعالى مشاهده کوی.او په ده باندې دا حال غلبه کوی.چه الله تعالى مخامخ دې.او دې هغه لره د خپل زړه په سترګو سره وينی.② دويم مقام د مراقبة دې.په دې کښې بنده دا خيال کوی.چه الله تعالى ده لره ګوری. اودده دټولو

---

(١) ددې ټولورواياتو دتفصيل دپاره اوګورئ فتح الباري(١١٩/١. ١٢٠) وعمدة القاري(٢٩٢/١و ٢٩٣)_

(٢) فتح الباري(١٢٠/١)_

(٣) المصدرالسابق)-

حرکتو او سکناتو. او ظاهر او باطن نه پوره واقف دې.دا دویم مقام د رومبی مقام پوړۍ ده.سړې په دې مراقبې سره مونځ کوی یا بل څه عبادت کوی نو په مزه مزه دې رومبی مقام یعنی مقام د مشاهدې ته رسیږي.

قوله قَالَ أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ: نبی کریم ﷺ اوفرمائیل (احسان دا دې چه) ته د الله تعالی عبادت په دې طریقه اوکړې چه ته هغه لره وینې ځکه چه ته اګرچه هغه نشې لیدلې.نو هغه خو تا وینی.

د ,,احسان،، دوه مختلف تشریح نبی کریم ﷺ چه د احسان کوم تعریف کړې دې ددې په توجیه کښې د شارحینو دوه ډلې دی.① حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه دې جملې سره نبی کریم ﷺ هغه دوو مقاماتو او احوالو طرف ته اشاره کړې ده.د کوم ذکر چه اوس وړاندې تیر شو. چه یو مقام ..مقام مشاهده.. دې.او دویم مقام ..مقام مراقبه.. دې.

په دې کښې رومبې مقام اعلی او ارفع دې.چه په دې کښې بنده پخپل زړه سره د حق مشاهده په دې طریقه کوی.ګویا چه هغه لره خپلو سترګو سره وینی.او دویم حالت ددې نه کمتر دې.چه دده په زړه باندې د حق د مشاهدې غلبه خو نه کیږی.خو دده په زړه کښې دومره صلاحیت پیدا کیږی.چه هغه ددې امر استحضار کوی. چه الله تعالی دده هر حال نه خبردار دې.

ګویا نبی کریم ﷺ چه کوم ,,أن تعبدالله.....،، فرمائیلی دی.ددې مطلب دا دې.که رومبې حالت چاته حاصل نه وی.نو دویم کم درجې والا خو ضرور حاصلیدل پکار دی.

په دې کښې رومبۍ مرتبه په دې وجه ارفع او اعلی ده.چه دا د کمال مستغرق کیدو صورت دې.او دنفس صفت دې.او دحال درجه ده.او دویم صرف د علمی درجې څیز دې.چه ددې مرتبه د حال نه کمه ده.ځکه چه د علم کیفیت راسخ کیدو(او مضبوطیدو) نه پس د نفس صفت جوړیدو باندې حال جوړیږی.(١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه دا دواړه حالتونه په معرفت خداوندی او د حق تعالی په خوف او خشیت سره پیدا کیږی.د عماره بن القعقاع په روایت کښې هم دغه شان د حضرت انس رضی الله عنه په حدیث کښې ,,أن تخشى الله كأنك تراه.....،، وارد شوې دې.(٢)

② خو امام نووی. علامه سندهی او نورو محققینو ددې یوه بله تشریح کړې ده.او هم دا راجع ده.ددې حضراتو د تقریر حاصل دا دې.چه نبی کریم ﷺ د ..احسان.. تعریف کولو سره دوه جدا جدا مقامات نه دی بیان کړی بلکه په دواړو جملو کښې ئې یو مقصد بیان کړې دې. په رومبۍ جمله کښې خو د اصل مقصود ذکر دې.په دې کښې چونکه یوه شبه راپیښیدله. په دې وجه ئې دا په دویمه جمله کښې لرې کړله.

---

١) فتح الباری(١٢٠/١)_

٢) فتح الباری(١٢٠/١)_

په دې يو مثال سره پوهه شئ فرض کړئ. چه څه خلق په شاهي دربار کښې حاضر دی.هر سړې ښه اندازه لګولې شي.چه دا خلق به د شاهي دربار د حقوقو څومره لحاظ ساتي اوس دلته دوه څيزونه دي.يو دا چه بادشاه دوی ته ګوري دويمه دا چه دا خلق بادشاه ته ګوري.اوس قابل غور خبره دا ده.چه دا خلق چه د ادابو او حقوقو پوره رعايت او لحاظ ساتي ددې علت څه دې؟ د بادشاه دوی ته کتل. اوکه ددې خلقو بادشاه ته کتل؟ که لږشان غور اوکړې شی.نو ښه واضح کيږي.چه علت او موثر د بادشاه دوی ته کتل دی.ځکه چه فرض کړئ.که په دې خلقو کښې يوکس نابينا وی.چه هغه بادشاه نشی کتلې.هغه به د نورو خلقو په نسبت د ادابو او حقوقو په رعايت او لحاظ کښې څه قسمه کوتاهي او کمی کوی؟ هيڅ چرې به نه کوی.بلکه هغه به د نورو خلقو نه زيات محتاط اوسيږی.چه چرته د بادشاه په وړاندې څه نا معقوله حرکت او نشی.که ددې خلقو بادشاه ته کتل علت او موثر وې.نو دې نابينا ته به د رعايت او لحاظ حاجت نه وو.ځکه چه هغه خو بادشاه نه ګوری.معلومه شوه.چه د تعظيم او ادب رعايت او د ويرې او خشيت علت د بادشاه دوی ته کتل دی ددې خلقو بادشاه ته کتل علت نه دې.چونکه حاضرينو ته دا ښه پته ده.چه بادشاه مونږ ته ګوری.په دې وجه هر بينا او نا بينا لرې او نزدې پوره رعايت او لحاظ کوی.او آداب او حقوق پوره کوی.

په دې وجه امام نووی او علامه سندهي رحمهماالله وغيره حضرات فرمائي.چه نبی کريم ﷺ د دواړو جملو په مجموعه کښې يو مقصد بيانوی.چه د عبوديت وظائف په داسې طريقه ادا کړ.چه ګويا ته الله تعالى ته ګورې.او ښکاره ده.که بنده د عبادت په وخت واقعی الله تعالى ښکاره کتلې.نو د امکان حده پورې به ئې د آدابو او حقوقو په کمال رعايت او خشوع ، خضوع کښې ذره برابر کمې نه کولې.لکه ځنګه چه د شاهي دربار حاضرين دی.نبی کريم ﷺ فرمائي.چه تاسو هر وخت دغه شان د کمال رعايت او انتهائي درجې خشوع خضوع سره وظائف د عبوديت ادا کوئ.

که تاسو ته شبهه وی.چه مونږ خو الله تعالى نه وينو.او نه ئې کتلې شو.نو بيا د يو غير واقعی څيز رعايت ځنګه ممکن دې؟ نو دا خو خالص توهم او غلط فهمی ده.اګرچه ته خو الله تعالى کتلې نشې.بيا هم بعينه دغه شان د رعايت او لحاظ نه کار واخله.ځکه چه ستا د کتلو په صورت کښې چه کوم کمال رعايت او انتهائي درجه خشوع خضوع کوې.د هغې علت ستا کتل نه دی.بلکه د بادشاه کتل دی.لکه ځنګه چه په مثال کښې واضح کړې شوه.او د بادشاه کتل هر وخت متحقق دی.ځکه د الله تعالى شان دا دې.چه هغه هر وخت په هر څيز باندې خبردار دې.او هرکله چه اصلی علت او موثر يعنی د هغه کتل هر وخت متحقق دی.نو معلول يعنی کمال رعايت او انتهائي خشوع خضوع هم هر وخت پوره کول پکار دی.که ته ئې وينې او که نه وينې.ځکه چه اصل کښې ستا کتلو ته دخل نشته.بلکه د هغه کتلو ته دخل دې.او هغه موجود دې.

خلاصه دا چه اصل مقصد خو ئې په رومبۍ جمله کښې بيان کړو.چه وظائف د عبوديت په داسې طريقه اداکړئ.چه ګويا ته الله تعالى ګورې.يعنی د ادابو او حقوقو کمال رعايت او

انتهائي درجه خشوع خضوع سره ئې پوره کړه.په دويمه جمله کښې ئې د شبهې ازاله اوفرمائيله.او حقيقت ئې واضح کړو.او اصل منشاء ئې بيان کړله.([1])

نحوي اعتبار سره د دواړو تقريرونو په مينځ کښې تفريق په دواړو تقريرونو کښې چه د لفظ او معنى په لحاظ سره کوم فرق دې.هغه خو دې تفصيلي تقرير سره واضح شو.ددې نه علاوه په دې کښې لفظي او نحوي فرق هم شته.د حافظ ابن حجر رحمه الله د رائې او ددوی د تقرير مطابق په ،،فإن لم تكن تراه فإنه يراك،، کښې ،،إن،، شرطيه دې.او په ،،فإنه يراك،، کښې،فإنه، جزائيه ده.

او د نووي او سندهي رحمهما الله د تقرير مطابق ،،إن،، وصليه دې.او ،،فاء،، تعليليه ده.

ددې په تفصيل داسې پوهه شئ:چه د حافظ ابن حجر رحمه الله د رائې مطابق به د ،،فإن لم تكن تراه فإنه يراك،، ترجمه دا وی...نو که تاسو هغه نه وينئ.نو هغه تاسو وينی..

دلته دويمه درجه يعنی مقام مراقبه مذکور ده.او په ،،أن تعبد الله كأنك تراه،، کښې د مقام مشاهده ذکر وو.نو که هغه حاصل نه وی.نو ددې دويمې درجې يعنی د مراقبې اهتمام دې اوکړې شی.او ددې استحضار دې وی چه هغه مونږ او زمونږ عبادت ته ګوری.کله چه ددې عادت جوړ شی.نو پخپله به مشاهدې طرف ته ترقی اوشی.او ړومبۍ درجه به حاصله شی.

اوکله چه د امام نووي او سندهي رحمهما الله د رائې مطابق ..فاء.. تعليليه شی.او ،إن.. وصليه وی.نو ترجمه به دا وی.چونکه اګرچه تاسو هغه نشې ليدلئ. خو هغه خو تاسو وينی.په دې وجه عبادت کښې د ادب رعايت او خشوع خضوع موجود کيدل پکار دی.خکه چه په دې امورو کښې ستاسو کتلو ته دخل نشته. بلکه د الله تعالى کتلو ته دخل دې.دلته د مشاهدې او مراقبې کيفيت حاصلولو طرف ته اشاره نه ده.بلکه په عبادت کښې خشوع خضوع، اخلاص او د ادب رعايت طرف ته توجه ورکول مقصود دی.او ددې دپاره دواړه جملې برابر دی.([2])

---

[1]) شرح نووی علی صحيح مسلم (٢٨\١) وفتح الباری(١٢٠\١) وعمدة القاری (٢٨٩\١، ٢٨٨) وحاشية السندی علی البخاری (٣٣\١، ٣٤) وفتح الملهم (٤٨٢\١و ٤٨٣) وفضل الباری(٥٣١\١، ٥٣٤)_

[2]) د حافظ ابن حجر،نووی سندهی اونورو محققينو رحمهم الله رائې پورته په وضاحت سره تيره شوه. خو((فإنْ لم تكن تراه فإنه يراک)) که وصيله اوګرخولې شی.نوپه دې کښې نظردې.نو په څو وجوهو سره د((إن شرطيه)) ګرخول مناسب دی.

① يوددې وجې چه د..ان.. وصليه تصريح صرف علامه سندهي کړې ده.بل هيڅ چا نه ده کړې.

② دامام نووی رحمه الله دکلام نه معلوميږی.چه هغوی دا ان شرطيه ګرخوی.علامه عينی رحمه الله په صراحت سره بيان کړې دې.چه ((إن)) شرطيه دې.او جزاء محذوف ده.اوتقديردعبارت دا دې((فإن لكم تكن تراه فأحسن العبادة فإنه يراک)) نومعلومه شوه.چه ..ان.. شرطيه دې((إن لم تكن تراه)) شرط دې، ((فأحسن العبادة)) جزاء ده.او((فإنه يراک)) جمله تعليليه ده.اوپه دې [بقيه حاشيه په راروانه صفحه...

فائده دا وضاحت ضروری دی چه د مشاهدې او مراقبې درجې خواصو دپاره دی.عوامو دپاره ددې حاصلول مشکل دی په دې وجه د مونځ صحت په دې باندې موقوف نه دې.بلکه د احسان یوه درجه دا ده (د کوم ذکر چه مونږ وړاندې کړې دې) چه مونځ ددې د ارکانو او شرائطو رعایت سره ادا کړې شی نو هغه به صحیح وی او ذمه به بری شی () والله اعلم.

د صوفیه په نیز د«فان لم تکن تراه فانه یراک» تشریح بعضې حضرات صوفیه ددې جملې نه په مقام د محو او فناء باندې استدلال کوی او ددې ئې یوه بله تشریح کړې ده.لکه فرمائی چه په ««فإن لم تکن تراه»» کښې ««کان»» تامه دې.او معنی دا ده چه که ته فنا شې نو الله ﷻ به اووینې ()

د صوفیه حضراتو په تشریح باندې اعتراضات محققینو عالمانو په دې باندې درې قسمه اعتراضات کړی دی او دا ئې رد کړې دې

① یو دا که چرې ««لم تکن»» شرط وی.نو په دې صورت کښې به ««تراه»» ددې جزاء وی.نو دا مجزوم کیدل پکار دی.او دا ««تره»» وئیل پکار دی.

په بعضو اشعارو وغیره کښې که په داسې صورت کښې جزم نه راځی.نو هغه په ضرورت شعری باندې محمول دې.

② دویم اشکال دا دې.چه هم ددې روایت په بعضې نورو طرقو کښې نفی براه راست ..رؤیت.. باندې مسلط ده.په ..کون.. باندې نه ده.لکه چه د سلیمان تیمی او کهمس په روایت کښې ««فإنك إن لا تراه فإنه یراك»» الفاظ دی.او د ابو فروه په روایت کښې او دغه شان د حضرت انس او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په احادیثو کښې ««فإن لم تره فإنه یراك»» الفاظ دی.نو ««لم تکن»» چه کوم ««لم تصر»» معنی باندې حمل کړې شوې دې.او په مقام د فناء باندې

..دتیرمخ بقیه حاشیه] باندې فاء دتعلیل دپاره ده.دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله صاحب هم ددوی د کلام تشریح کوی.اوتقدیرراوباسی.((فإن لم تکن تراه فاستمر علی إحسان العبادة فإنه یراک)) عمدة القاری (۱۱\۲۸۵. ۲۸۷. ۲۸۸. ۲۸۹) وفتح الباری ۱۱\۱۲۰)

③ چونکه په ان کښې اصل دا دې.چه دا د شرطیت دپاره وی دوصلیت دپاره نه وی.حالانکه چه شرطیه اومنلې شی.نوپه دې صورت کښې دعلامه سندهی اونووی په رائې او تقریرکښې څه فرق هم نه راځی.ددې وجې پکار ده.چه هم شرطیه اوګرځولې شی.

④ ددې نه علاوه د ان وصلیه په اول کښې د واو دخول خو منلې شوې او مسلم دې اوپه ان وصلیه دفء دخول هم وی.دا منقول نه دی نومعلومه شوه.چه دلته شرطیه ګرځول غوره دی.والله أعلم.

بیا علامه سندهی رحمه الله چه د وصلیه تصریح کړې ده.ددې تاویل هم ممکن دې.اګرچه دا ان په نحوی اعتبارسره شرطیه دې خوکه دمعنی په اعتبار سره غوراوکړې شی.نود وصلیه پښان دې.والله أعلم وعلمه أتم وأحکم

) ارشاد الساری(۱۱\۱٤٠)_

) فتح الباری(۱۱\۱۲۰) وعمدة القاری(۱۱\۲۹)_

استدلال كړې شوې دې .دا صحيح نه دې ځكه چه په دې دويم روايت كښې د ..كون.. لفظ نه دې راغلې ۞ دريم اشكال دا دې كه ،،لم تكن،، شرط وى او ،،تراه،، جزاء وى.نو وړسې به ،،فإنه يراك،، زائد او بې فائدې وى.(¹)

د مذكوره اعتراضاتو جوابونه ددې دريو واړو اعتراضاتو جوابونه وركړې شوى دى.علامه ابراهيم كورانى رحمه الله د ړومبى اعتراض جواب وركولو كښې فرمائيلى دى چه د ،،تراه،، الف كوم چه باقى ساتلې شوې دې.دا ،،من باب إجراء المعتل مجرى الصحيح،، دې.بعضې وختونو كښې ..معتل.. سره د ..صحيح.. معامله كولې شى.لكه اوګورئ. د ..قنبل.. قراءت دې.،،إنه من يتقى ويصبر......،،(²) دلته د ..يتقى.. ..ياء.. ځكه باقى ساتلې شوې ده.چه دا كلمه معتل ده.او معتل ته د صحيح حكم وركړې شو. لكه د بخارى شريف په روايت كښې دى.،،قوموا فلأصل لكم،،(³) په دې كښې يو روايت ،،فلأصل،، جزم سره او دويم روايت ،،فلأصلي،، نصب سره دې.حالانكه دريم روايت ،،فلأصلي،،د ،،ياء،، سكون سره دې.چه ددې يو تاويل حافظ ابن حجر رحمه الله هم دا كړې دې.چه دلته ..اجراء المعتل مجرى الصحيح.. دې.او بيا ئې د ..قنبل.. روايت په دليل كښې پيش كړې دې.(⁴)

او هغه فرمائى.چه د سليمان تيمى او كهمس په روايتونو كښې ،،فإن لا تراه......،، واقع شوې دې.چه په دې كښې د ،،تراه،، الف باقى ساتلې شوې دې.حالانكه دا شرط دې.او قاعده دا ده.چه مضارع كله شرط وى.نو په دې كښې جزم واجب وى.اوس چه په شرط كښې تاسو د الف د بقاء كوم جواب وركوئ.هم هغه به مونږ په جزاء كښې د الف د بقاء جواب وركوو.كه دا وايئ چه تقدير د كلام ،،فإنك إن لا تكن تراه......،، دې.لكه څنګه چه د مسلم په يو روايت كښې هم دغه شان دى.(⁵) نو بيا به خبره هم دلته راواپس كيږى.چه مقصود د نفى ..كون.. دې. نفى د رؤيت مقصود نه دې.

په دې سره د دويم اشكال جواب هم اوشو.چه په كومو روايتونو كښې ..كون.. موجود نه دې.هغه هم د ..كون.. په تقدير باندې محمول دى.

دريم اشكال دا شوې وو.چه ،،فإنه يراك،، به زائد او بې فائدې وى.ددې به هيڅ معنى(او مطلب) نه وى؟

---

¹) دتفصيل دپاره اوګورئ.فتح البارى(١٢٠/١) وعمدة القارى (٢٩١/١)_
²) سورة يوسف:٩٠)_
³) صحيح البخارى(٥٥/١) كتاب الصلاة باب الصلاة على الحصير)_
⁴) فتح البارى(٤٩٠/١) كتاب الصلاة (باب الصلاة على الحصير)-
⁵) صحيح مسلم (٢٩/١) من حديث ابى هريرة رضي الله عنه)_

ددې جواب نې دا ورکړو چه ددې ډیره ښه او بارېك (او نفیس) معنی ده د،،فإنه یراك،، مطلب دا دې چه کله نبی کریم ﷺ دا اوفرمائیل چه کله ته فنا، شې نو الله تعالی به اوګورې نو سوال پیدا شو چه د فنا، کیدو نه روستو څنګه یو سړې الله تعالی لیدلې شی؟ نو ،،فإنه یراك،، سره ددې جواب طرف ته اشاره کړې شوې ده چه کله ته فنا، شې نو تا ته به د الله تعالی په ذریعه بقا، حاصله شي او د ،،به یبصر،، حالت به پیدا شی (۱) ستا اندامونه او جوارح به د الله تعالی تابع جوړ شی هم ددې په ذریعه به ستا ګرځیدل. وئیل او کتل شی (۲)

تبصره او محاکمه حقیقت دا دې چه هیڅ یو اشکال داسې نشته چه د هغې نه څه نا څه جواب ورنکړې شی.او د یوکلام یو نه یو توجیه او تاویل اونکړې شی خو د یو کلام او عبارت معنی معلومولو آسانه لاره دا ده.چه کوم خلق د اختلافاتو نه نا خبره دی د هغوی په وړاندې عبارت کیخودې شی.کومه معنی چه متداول (او عام) طور باندې ددوی په پوهه (او عقل) کښې راشی.هم دغه ددې صحیح معنی ده.که یو سړې ددې اختلاف نو نه ناخبره وی.او د صوفیه د استنباطاتو نه نا واقفه وی.او هغه دا جمله اووائی نو د څه تامل (او سوچ) نه بغیر به هم دا معنی په عقل کښې راځی.کومه چه حضرات محدثین بیانوی په دې وجه صحیح معنی هم هغه ده.کومه چه حضرات محدثینو بیان کړې ده.

ترکومې پورې چه د صوفیانه استنباط تعلق دې.د حدیث باب د تشریح لحاظ کونو نه بغیر دا یو مستقل حقیقت دې.داسې فنائیت او محویت چه انسان ته د هیڅ خبرې خیال نه وی.که د شریعت د حدودو نه نه اوباسی.او په اعمالو د شریعت کښې ددې په وجه خشوع خضوع پیدا کیږی.نو جائز دې.او په دې کښې هیڅ باك نشته.والله اعلم.

په قرآن کریم کښې د ایمان، اسلام او احسان ذکر لکه څنګه چه په حدیث باب کښې د ایمان. اسلام او احسان ذکر راغلې دې.دغه شان قرآن کریم کښې هم په یو مقام باندې ددې دریو واړو ذکر راغلې دې چه په هغې کښې دا اشاره هم موجود ده چه د ،،احسان،، ډیر زیات مراتب دی. لکه الله تعالی فرمائیلی دی ﴿لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهْلِ الْكِتٰبِ ۗ مَنْ يَّعْمَلْ سُوٓءًا يُّجْزَ بِهٖ ۙ وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ۝ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ

---

(۱) كما ورد فى حديث أبى هريرة رضي الله عنه قال قال رسل الله ﷺ إن الله قال من عادى لى ولياً فقد آذنته بالحرب وما تقرب إلى عبدى بشئ أحب إلى مما إفترضت عليه ولا يزال عبدى يتقرب إلى بالنوافل حتى احببته فكنت سمعه الذى يسمع به وبصره الذى يبصربه ويده التى يبطش بها ورجله التى يمشى بها .. صحيح البخارى ٢\٩٦٣) كتاب الرقاق باب التواضع)_

(۲) د پوره تفصيل دپاره اوګورئ: (الأمم لإيقاظ الهمم للعلامة إبراهيم بن حسن الكردى الكورانى رحمه الله المتوفى ١١٠٢ (١١٥، ١١٨) تحت سياق سند .منازل السائرين لشيخ الإسلام عبدالله الأنصارى مطبوعه مجلس دائرة المعارف النظامية حيدر آباد دكن ١٣٢٨هـ)-

وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا۝ وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لِلَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَاتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۗ وَاتَّخَذَ اللَّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا۝) (١)

په ړومبی دواړو آيتونو كښې د اسلام او ايمان دواړو ذكر راغلی دې په دې كښې ښودلی شوی دی چه ثواب او عذاب او نجات او گرفت د چا په اميد او آرزو باندې موقوف نه دی ځوك چه بد كوی گرفتاروليې به شی او ځوك چه نيك عمل كوی په دې شرط چه ايمان هم لرى هغه به جنت ته ځی او دځپلو اعمالو ثواب به مومی په دريم آيت كښې د ..احسان.. ذكر راغلی چه په دې كښې ئې دا اشاره هم اوكړله چه د ..احسان.. مراتب بې شميره دی او ..خلة.. د احسان د ټولو نه اعلی درجه ده.

د سوال په جواب باندې د جبرئيل امين تصديق او د صحابه كرامو تعجب په صحيح مسلم كښې د عماره بن القعقاع په روايت كښې د دريو واړو د جواب په آخر كښې د ..صدقت.. لفظ راغلی دې د ابو فروه په روايت كښې دی. ((فلما سمعنا قول الرجل: صدقت، أنكرناه)) د كهمس په روايت كښې دی. ((فعجبنا له يسأله ويصدقه)) په د مطرق په روايت كښې دی. ((أنظروا إليه كيف يسأله، وأنظروا إليه كيف يصدقه)) د حضرت انس رضي الله عنه په حديث كښې دی. ((أنظروا وهو يسأله وهو يصدقه كأنه أعلم منه)) د سليمان بن بريده په روايت كښې دی. ((قال القوم: ما رأينا رجلاً مثل هذا، كأنه يعلّم رسول الله صلى الله عليه وسلم، يقول له: صدقت صدقت)) (٢)

حضرت جبرئيل عليه السلام چه د نبی كريم صلى الله عليه وسلم كوم تصديق او تصويب كړې دې د هغې مطلب په حقيقت كښې دا دې چه د نبی كريم صلى الله عليه وسلم جوابات د الله تعالی د منشاء مطابق دی. (وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ۝) (٣) البته صحابه كرامو رضي الله عنهم ته تعجب په دې خبره باندې كيدو چه دا سړې نبی كريم صلى الله عليه وسلم سره د وړاندې نه په ملاويدونكو. او د نبی كريم صلى الله عليه وسلم د ارشاداتو نه مستفيض كيدونكو خلقو ځنې هم نه دې او يو طرف ته سوال كوی او د ځپل ځان د نا واقف كيدو اظهار كوی او بل طرف ته ..تصديق.. كوی او د ځپل ځان دعالم او عارف كيدو اثبات كوی حالانكه سوال داسې امورو سره متعلق وو چه ددې ماخذ د نبی كريم صلى الله عليه وسلم نه سوا بل ځوك نشې كيدې. (٤) والله اعلم.

قوله: قَالَ مَتَى السَّاعَةُ: جبرئيل امين تپوس اوكړو چه قيامت به كله راځی؟

قيامت سره د متعلق سوال، د ماقبل سره ربط دلته دا سوال پيدا كيږی چه تير شوی درې واړه سوالونه خو پخپل مينځ كښې مربوط دی چه هلته كښې هم د يو حقيقت يعنی د دين د

---

١) سورة النساء: ١٢٣، ١٢٥_
٢) فتح البارى (١/١٢٠، ١٢١)_
٣) سورة النجم: ٣و ٤)_
٤) فتح البارى (١٢١/١)_

نعمو او مراتبو بيان وو.او په دې دريو وارو كښې هريو په ترتيب سره پرله پسې د يو بل نه وقوع كښې راځي.،،ايمان،، چه ترقي اوكړي.نو ،،اسلام،، جوړيږي.او ،،اسلام،،چه ترقي اوكړي.نو ،،احسان،، جوړيږي.په دې كښې خو ډير ښه مناسبت او ارتباط (تعلق) شته.خو د ،،ساعة،، سوال په ظاهره غير مربوط معلوميږي.

ددې سوال اجمالاً جواب دا دې چه د ايمان، اسلام، او احسان مجموعه دين دې.اوهم دادين د كائناتو د تخليق مقصد دې.كله چه ددې دين او ددې د مقتضياتو تكميل اوشي.نو د كائناتو ټول انتظام به هم خپلې انتهاء ته اورسيږي.او هم ددې نوم ،،ساعة،، يا ،،قيامت،، دې.نو د ايمان، اسلام، او احسان نه پس د ،،ساعة،، سوال بالكل مربوط او صحيح مرتب دې.

ددې تفصيل دا دې چه فرض كړئ.يو ځائې كښې د يوې جلسې انتظام اوكړې شو او په جلسه ګاه كښې هرقسمه ساز وسامان پوره كړې شو.كه څوك نوې سړې دلته راشي چاته چه ددې انتظاماتو اطلاع نه وي.نو هغه چه راشي.رومبې سوال به دا كوي.چه دلته به څه كيږي؟ دا انتظام چا دپاره كيږي؟ د جلسې د مقصد متعلق سوالاتو ختميدو نه پس كه هغه دا تپوس هم اوكړي.چه دا جلسه به كله ختميږي؟ او دا تمبوان او پنډال وغيره به كله راغونډولې شي.نو دده دا سوال به بالكل مناسب او د طبعي ترتيب عين مطابق وي.

هركله چه په دې خبره تاسو پوهه شوئ.نو اوس دلته تاسو په يوه بله خبره پوهه شئ.چه د تخليق د عالم چه دا يو عالي شان انتظام دې.ددې نه مقصد څه دې؟ د غور كولو نه معلوميږي.چه ټول هرڅه د انسان دپاره پيدا كړې شوي دي.لكه د رب كائنات ارشاد دې.
﴿أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً﴾ (١)او بيا ئې د انسان د تخليق مقصد بيان كړې دې. ﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ (٢)او په يو مقام باندې الله ﷻ سلسله د نعمت او سلسله د عبادت دواړه جمع كړل.او وې فرمائيل: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ۝ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ (٣)

حاصل دا شو چه تخليق د عالم او ددې ټول عالي شان انتظام اصلي مقصد عبادت دې.كله چه دا مقصد مكمل شي.نو ټول آسمانونه او زمكه به راټوله كړې شي.او ټول انتظامات به درهم برهم كولې شي.او دا د ،،قيامت،، او ،،ساعت،، معنى ده.ځكه چه اوس د انتظام ضرورت پاتې نشو.مقصد مكمل طور باندې حاصل شو.هم په دې وجه نبى كريم ﷺ

---

(١) سورة لقمان: ٢٠-
(٢) سورة الذاريات: ٥٦_
(٣) سورة البقرة: ٢١، ٢٢_

فرمائي: «بعث أنا والساعة كهاتين»(۱) يعنى د نبى كريم ﷺ د ظهور نه روستو قيامت نزدې دې د عالم انتظام د باقى ساتلو هيڅ ضرورت نه پاتې كيږى خكه چه د عبادت اعلى. اكمله او پوره مرتبه په دوى باندې ختمه شوه ددوى نه وړاندې نه ددوى پشان څوك عابد پيدا شوې وو او نه به ددوى نه روستو داسې څوك پيدا شى.نو هركله چه ددوى ذات مبارك سره د عبادت تكميل اوشو.كوم چه د عالم د تخليق مقصد وو.نو بيا دا انتظام ولې باقى ساتلې شى؟ په دې وجه نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه زما بعثت او ظهور د قيامت د نزدې كيدو علامت دې

گوى د عالم دتخليق نه مقصد عبادت دې.ددې د تكميل متعلق حضرت جبرئيل ﷺ سوال كړې دې خكه چه د احسان معنى دعبادت تكميل ده.اوس هم دا سوال باقى پاتې كيږى.چه د عبادت ددې اعلى او اكملې مرتبې حاصلولو نه پس چه دې ته ..احسان.. وئيلې شى دا عالم به كله اوچتولې شى؟ او قيامت به كله راځى؟ نو د جبرئيل امين دا سوال مرتبط او د طبعي ترتيب عين مطابق دې.(۲)والله اعلم.

يوه شبه او د هغې جواب دلته يوه شبه دا پيداكيږى.چه هركله د نبى كريم ﷺ ذات گرامى سره د عبادت تكميل شوې وو.كوم چه د عالم د تخليق اصل مقصد دې.نو بيا ددوى نه پس دا عالم باقى ولې اوساتلې شو؟ پكار خو دا وه.چه هم دغه وخت دوى سره سره دا (عالم) هم اختتلې شوې وې.

ددې جواب حجة الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم صاحب نانوتوى قدس الله روحه وركړې دې.دوى فرمائى.چه عبادت په دوو طريقو سره كيږى:① يو تكميل خو د عابدانو د كثرت په اعتبار سره كماً او عدداً دې.② او دويم تكميل د عبوديت د وظائفو اداكولو په اعتبار سره كيفاً او حالاً دې.د كيفيت په اعتبار سره خو نبى كريم ﷺ تكميل اوكړو.خكه چه د پيغمبر دوه ركعتونه د امت د ټولو مونځونو په نسبت. د كيف په اعتبار سره ډير زيات دى.بيا د ..كيف.. مدار په معرفت باندې دې.د نبى كريم ﷺ معرفت سره د نورو خلقو د معرفت څه نسبت كيدې شى؟

پاتې شو د كم او عدد په اعتبارسره د عبادت د تكميل معامله. نو تر اوسه پورې ددې وقوع نه ده شوې.البته دا به روستو كيږى.كله چه د دنيا هركور د اسلام په رڼرا روښانه شى او كله چه كماً د عبادت تكميل اوشى.نو دا دنيا به راټولولې شى.لكه څنګه چه

---

(۱) أخرجه البخارى فى صحيحه (۹۶۳/۲) كتاب الرقاق باب قول النبى ﷺ بعثت أنا والساعة كهاتين من حديث أنس بن مالك وأبى هريرة ﷺ ومسلم فى صحيحه (۴۰۶/۲) كتاب الفتن باب قرب الساعة والنسائى فى سننه (۲۳۴/۱) كتاب العيدين باب كيف الخطبة من حديث جابر بن عبدالله ﷺ والترمذى فى جامعه فى كتاب الفتن باب ماجاء فى قول النبى ﷺ بعثت أنا والساعة كهاتين رقم ۲۲۱۴ وأبوداود الطيالسى فى مسنده (۲۶۶)رقم(۱۹۸۰) و(ص.۲۸۰) رقم ۲۰۸۹)_

(۲) دتفصيل دپاره اوګورئ فضل البارى(۵۳۷/۱) وفتح الملهم (۴۸۴/۱، ۴۸۵)_

دوى(ﷺ) پخپله فرمائيلى دى: «لايبقى على ظهر الأرض بيت مدر ولا وبر إلا أدخله الله كلمة الإسلام بعز عزيز أو ذل ذليل، إما يعزهم الله عزّوجل، فيجعلهم من أهلها أو يذلهم فيدينون لها»[1] او دا به د حضرت عيسى ﷺ د نزول نه پس كيږى كله چه دا تكميل اوشى نو بيا به دا انتظام اوچتولې شى. (والله اعلم)

قوله قَالَ مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ: وې فرمائيل چه د قيامت په باره كښې دچا نه تپوس كړې شوې دې هغه د تپوس كونكى نه زيات نه پوهيږى يعنى څومره چه سائل ناخبره دې هغومره مسئول ناخبره دې

امام حميدى ﷫ په ..نوادر.. كښې هم دا سوال او جواب د حضرت جبرئيل او حضرت عيسى ﷺ په مينځ كښې نقل كړې دې او هم دا امام شعبى ﷫ مرسلا روايت كړې دې البته په دې كښې سائل حضرت عيسى ﷺ وو او مسئول حضرت جبرئيل ﷺ وو هغوى په جواب كښې بعينه هم دا جمله فرمائيلې وه چه «ما المسئول عنها بأعلم من السائل»[2]

دلته نبى كريم ﷺ په جواب وركولو كښې ،،لا أدرى،،يا ،، لا أعلم،، يا ،،ما أنا بأعلم منك،، هم فرمائيلى شو خو ددې تعبيراتو په ځائې نې د «ما المسئول عنها بأعلم من السائل» تعبير اختيار كړې دې ددې وجه په اصل كښې اشاره كول دى هغه حقيقت طرف ته. چه په دې جواب كښې زما او ستا تخصيص نشته بلكه په دنيا كښې هر سائل او مسئول عنه ددې په جواب كښې په يوه سطح باندې دى هيڅ يوكس ته ددې علم نه دې وركړې شوې.[3]

بيا په دې جمله كښې ،،ما،، مشابه بليس ده ،،المسئول عنها،، ددې اسم دې په ،،بأعلم،، كښې باء زائده د نفى دتاكيد دپاره ده ،،أعلم،، خبر دې.[5]

دلته به د ،،اعلم،، اسم تفضيل كيدو په وجه دا نتيجه نشى اخذ كولې چه زه ستانه زيات پوهه نه يم او په نفس علم كښې مونږه دواړه برابر يو دا نتيجه اخستل غلط دى د نفى د تاكيد مطلب دا دې چه د نفس علم نفى مراد ده.

خلاصه دا چه ددې جملې نه اګرچه په علم كښې تساوى معلوميږى خو په حقيقت كښې تساوى په عدم علم كښې مقصود ده چه ما او تا ته ددې د وخت په باره كښې هيڅ علم هم نشته خكه چه ددې علم الله تعالى سره خاص دې لكه څنګه چه روستو ذكر دى «فى خمس لا يعلمهن إلا الله»[6]

---

[1]) مسند أحمد (٤\٦) من حديث المقداد بن الأسود ﷺ_
[2]) فتح الملهم (٤٨٦\١) وفضل البارى (٥٣٦\١)_
[3]) فتح البارى (١٢١\١) وإرشاد السارى (٥٤٠\١)_
[4]) فتح البارى (١٢١\١)
[5]) المصدر السابق)_
[6]) المصدر السابق)_

امام نووى رحمه الله ددې جملې نه استنباط كوى فرمائى چه كله د يو عالم نه څه داسې سوال اوكړې شى دكوم چه ده ته علم نه وى نو هغه له صراحت سره ونيل پكار دى چه ماته علم نشته په دې كښې دده په مرتبه او مقام كښې هيڅ نقص نه لازميږى بلكه دا دده د ورع او تقوى دليل دى (١)

امام قرطبى رحمه الله فرمائى چه ددې سوال نه اصل مقصود دا دې چه خلقو به د قيامت واقع كيدو د وخت په باره كښې ډير زيات سوالونه كول په دې وجه ددې سوال په ذريعه تول خلق منع كړې شو چه دا سوال اونكړې شى خكه چه هركله جواب ((مال المسئول عنها بأعلم من السائل)) وركړې شو نو د ټولو اميدونه منقطع شول خو كله به قيامت قائميږى حالانكه ددې نه د مخكنو سوالونو مقصود اوريدونكو ته جواب ښودل وو گويا ددې سوالونو په ذريعه خلق خبرول مقصود دى چه څنگه قسم سوالونه كولې شى او څنگه قسمه سوالونه نشى كولې (٢) والله اعلم

قوله: وَسَأُخْبِرُكَ عَنْ أَشْرَاطِهَا: زه به تاته د قيامت علامات اوښايم.

دكتاب التفسير په روايت كښې د ،،ولكن سأحدثك،، الفاظ دى (٣) او د ابو فروه په روايت كښې د ،،ولكن لها علامات تعرف بها،، (٤) الفاظ دى ددې رواياتو نه معلوميږى چه دوى پخپله دا علامات ذكركړى وو حالانكه د كهمس په روايت كښې دا الفاظ دى ((قال: فأخبرنى عن أمارتها، فأخبره بها.....)) (٥) ددې نه معلوميږى چه حضرت جبرئيل عليه السلام دعلاماتو بيانولو مطالبه كړې وه چه په دې باندې دوى دا علامات بيان كړى وو.

د دواړو په مينځ كښې به د تطبيق صورت دا وى چه رومبى نبى كريم ﷺ فرمائيلى وو چه زه به تاته علامتونه اوښايم په دې باندې هغوى مطالبه اوكړله. ددې تائيد دسليمان تيمى د روايت په الفاظو سره كيږى هغې كښې دى ((ولكن إن شئت نبأتك عن أشراطها، قال أجل)) داسې قسمه الفاظ دحضرت ابن عباس رضى الله عنهما دحديث هم دى په هغې كښې د ،،حدثنى،، اضافه هم شته (٦)

،،أشراط،، د ،،شرط،، (بفتحتين) جمع ده ددې معنى د علامت ده (٧)

---

١) المصدر السابق)_
٢) المصدر السابق)_
٣) صحيح بخارى (٤\١٢\٧٠) تفسير سورة لقمان)_
٤) فتح البارى (١٢١\١)_
٥) المصدر السابق)_
٦) المصدر السابق)_
٧) النهاية لابن الأثير (٤٦٠\٢)_

امام قرطبي رحمه الله فرمائي چه د قيامت علامات دوه قسمه دي.① يو هغه علامتونه دي چه معتاد دي.② او بل هغه علامتونه دي.كوم چه غير معتاد دي.دلته معتاد علامتونه مراد دي كوم چه د غير معتاد علامتونو مثلاً د مغرب نه د نمر راختلو وغيره نه مقدم وي.([1])
والله اعلم.

يا دلته دا اشكال شوې دې چه اشراط د جمع صيغه ده.او په جمع كښې على الاقل درې افراد وي.حالانكه دلته صرف دوه علامتونه ذكر دي؟

ددې ① يو جواب خو دا وركړې شوې دې چه اقل د جمع دوه دي.② او دويم جواب. او هم دا اصح دې.دا دې. چه اصل كښې دې روايت كښې اختصار دې دلته كښې ،،أن تلد الأمة ربها،،او د ،،إذا تطاول رعاة الإبل البهم،، ذكر دې.حالانكه په كتاب الفسير كښې ،،ولادة،، او د ،،إذا كان الحفاة العراة رؤوس الناس،،([2]) تذكره ده.او د ابن خزيمه په روايت كښې د دريو واړو علامتونو ذكر دې.امام مسلم رحمه الله ددې روايت سند د ،،محمد بن بشير،، په طريق سره ذكر كړې دې.دغه شان اسماعيلى په مستخرج كښې د ابن عليه په طريق سره نقل كړې دى.عماره بن القعقاع هم درې واړه علامتونه ذكركړى دى.او د حضرت عمر رضي الله عنه په حديث كښې هم د دريو واړو ذكر دې.([3])والله اعلم.

قوله: إِذَا وَلَدَتِ الْأَمَةُ رَبَّهَا:كله چه وينځه خپل آقا اوزيږوى.

د كتاب التفسير په روايت كښې د ،،ربتها،، لفظ دې.د حضرت عمر رضي الله عنه په حديث كښې هم دغه شان دې.د عماره او بن القعقاع او ابو فروه په روايتونو كښې د ،،إذا رأيت المرأة تلد ربها،، الفاظ دى.حالانكه د عثمان بن غياث په روايت كښې دا جمله د جمع په الفاظو سره ،،الإماء أربابهن،، راغلې ده.د مسلم شريف په يو روايت كښې ،،أن تلد الأمة بعلها،، الفاظ راغلى دى.([4])

د ،،رب،، نه مراد دلته كښې ،،سيد،، او،،مالك،، دې.كه ،،ربة،، وى.نو ددې معنى به ،،سيده،، وى.يا به د ،،نسمة،، په تاويل كښې ګرځولې شى.او مذكر او مونث دواړه به مراد اخستلې شى.د ،،بعل،، نه مراد هم ،،رب،، ،،سيد،، او ،،مالك،، دې.لكه څنګه چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما او نورو مفسرينو د ﴿أتدعون بعلا﴾(الصافات:۱۲۵)تفسير په ،،رب،،

---

[1]) فتح الباري(۱۲۱/۱)_
[2]) دا دريم علامت دې_
[3]) فتح الباري(۱۲۱/۱. ۱۲۲)
[4]) فتح الباري(۱۲۲/۱) وعمدة القاري(۲۸٤/۱)_

سره کړې دي بعضې حضرات وائي چه د ..بعل.. نه دلته کښې .. زوج.. مراد دې.(١)

د مذکوره جملې مطلبونه ددې جملې څه مطلب دې؟ په دې کښې اختلاف دې.علامه ابن التين رحمه الله فرمائي چه ددې جملې اووه مطلبونه بيان کړې شوي دي.هغوي دا اووه مطلبونه ذکر کړي دي (٢)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چه دا اووه مطلبونه اکثر متداخل دي د خلاصې په طور څلور مطلبونه راوخي

① د ټولو نه ړومبې مطلب کوم چه زيات مشهور دې.کوم چه امام خطابي رحمه الله ذکرکړې دې.(٣) او امام نووي رحمه الله دا د اکثرو عالمانو قول ګرځولې دې (٤) دا دې.چه په آخره زمانه کښې کله اسلام ښه خور شي.ملکونه او علاقې فتح کړې شي.د هغوي بچې او ښځې به قيديانې کړې شي.د هغوي نه چه کوم اولاد اوشي.هغه به د پلارانو قائم مقام وي.او د اولاد به هغه حيثيت وي.کوم چه د پلارانو وي.او د پلارانو نه پس به د هغوي د املاکو وارثان وي.په دوی کښې به د هغوي مياندې هم وي.

خو په دې باندې اشکال دا دې.چه د وينځو او قيديانو کثرت او د اسلامي حدونو وسعت خو د صحابو رضي الله عنهم په زمانه کښې اوشو.حالانکه دلته سياق د کلام ددې تقاضا کوي.چه دلته د قيامت نزدې هغه علامات بيانول مقصود دي.کوم چه تر اوسه پورې نه دي واقع شوي؟

امام وکيع رحمه الله د ابن ماجه په روايت کښې ددې جملې تفسير کولو کښې فرمائي.،،تلد العجم العرب،،(٥)چه عرب به عجم زيګوي.مطلب دا دې.چه د عرب خلق به عجم ختم کړي.د هغوي ښځې به قبضه کښې راشي.د هغوي نه به اولاد پيداکيږي.او هغوي به د خپلو پلارانو د مرګ نه پس د هغوي وارثان وي.

ابراهيم حربي رحمه الله دا په يو مخصوص صورت کښې پيش کړې دې.فرمائيلي ئې دي.((ان الإماء يلدن الملوك فتصير الأم من جملة الرعية، والملك سيد رعيته)) بيا ئې د دې معنی د نزدې کولو يو صورت دا بيان کړې دې.چه په مخکښې زمانه کښې به خلقو د حرائرو(آزادو ښځو) عزت کولو.او د وينځو نه به ئې ددوی د استفراش (صحبت) او دوی سره د نکاح کولو نه به ئې خان ساتلو.خو روستو معامله الټه شوه.خصوصاً د بنو عباس په زمانه کښې.

خو په دې باندې هم اشکال واردېږي.چه دا ټول واقعات خو ډير وړاندې اوشو.او په حديث کښې چه کوم علامتونه بيانولې شي.په ظاهره دا قيامت ته نزدې علامات دي.

---

(١) فتح الباري(١\١٢٢)وعمدة القاري(١\٢٨٩)_
(٢) فتح الباري(١\١٢٢)_
(٣) أعلام الحديث للخطابي(١\١٨٢)_
(٤) شرح النووي على صحيح مسلم(١\٢٨)_
(٥) سنن ابن ماجه ،المقدمة باب في الإيمان رقم ٦٣)_

دویم مطلب نې دا بیان کړې شوې دې چه قیامت ته نزدې به انقلاب حال وی. خلق به د مسئلو نه ناخبره وی خلق به د خپل اولاد میاندې خرڅوی بیا په یو بل خرڅولو. خرڅولو سره به دا د خوی په قبضه کښې راشی کیدې شی چه د جهالت په وجه دوی سره د خادمانو پشان معامله اوکړی یا هغې لره خپله مستفرشه (موطوءه) جوړه کړی

په دې باندې اشکال کړې شوې دې چه د ام ولد د بیع مسئله خو مختلف فیها ده.دا دلته ذکر کول نې بې معنی دی دلته خو علامات د قیامت ذکر کولی شی هم دا وجه ده.چه ددې حدیث نه بعضې عالمانو د ام ولد د بیع په جواز باندې استلال کړې دې.او بعضو په حرمت باندې. نو په دوی باندې نورو عالمانو نکیر کړې دې.چه دا خو د قیامت علامات دی.ددې حلت او حرمت سره څه تعلق دې؟ یعنی ددې نه په حلت او حرمت باندې استدلال کول صحیح نه دې

ددې جواب دا دې.چه دلته مطلقاً د امهات اولاد د بیع کثرت خودل مقصود دی.او هم دا د قیامت د نزدې کیدو علامت دې.ددې دجواز او عدم جواز او د حلت او حرمت نه بحث او مناقشه مقصود نه ده.ځکه چه د قیامت د علاماتو دپاره دا ضروری نه ده.چه دا مباح وی.یا غیر مباح وی.دا خو محض علامات دی.

بعضو عالمانو ددې یو دریم صورت دا بیان کړې دې.چه دلته مسئله د ام ولد اختلو سره متعلق نه ده.بلکه دې صورت سره متعلق ده.چه یوه وینځه ده.او ددې سره یوکس وطی بالشبهه اوکړله.چه ددې نه یو آزاد پیدا شو.یا د وینځې نکاح یو کس سره اوشوه.او د هغه نه ئې اولاد اوشو.چه غلام دې.یا دې وینځې سره یو کس زنا اوکړله.چه د هغې نه اولاد اوشو.بیا دا وینځه خرڅه کړې شوه.او دا مسلسل خرڅیدله.تردې چه دا خپل ځوی یا لور واخستله.

بعضې عالمان فرمائی.چه اصل کښې د زمانې انقلاب مقصود دې.چه اولاد به خپلو میاندو سره د بې مروتۍ او نافرمانۍ معامله کوی.ددوی د فرمانبردارۍ په ځائې به دوی سره حاکمانه انداز اختیاروی.دحافظ ابن حجر رحمه الله رجحان هم دې طرف ته دې.[1] والله اعلم.

قوله: وَإِذَا تَطَاوَلَ رُعَاةُ الْإِبِلِ الْبُهْمُ فِي الْبُنْيَانِ:او کله چه د تورو اوښانو څرونکی د کورونو په جوړولو کښې خپل مینځ کښې فخر شروع کړی.

د ,,تطاول،، معنی ,,تفاخر،، ده.[2] ,,رعاة،، د ,,راع،، جمع ده.لکه څنګه چه ,,قضاة،، د ,,قاض،، جمع ده.[3]

,,البهم،، دا د باء موحده په ضمې، او د ,,هاء،، په سکون سره دې.د ,,بهيم،، جمع ده.

---

[1]) دپوره تفصیل دپاره اوګورئ . فتح الباری (۱۲۲/۱و ۱۲۳) وعمدة القاری(۲۸۹/۱)ـ
[2]) عمدة القاری(۲۸۵/۱) وفتح الباری(۱۲۳/۱)ـ
[3]) المصادر السابقة)-

ددې معنى ،،اسود،، ده.( )دا مجرور دې.څكه چه د ،،الابل،، صفت دې.( )تور اوښ په عربو كښې حقير مال ګڼړلې كيږى.( )مطلب دا دې.چه كوم خلق حقير او كم تر وى.هغوى سره مالونه وى لونې لونې بلډنګونه او لونې لونې محلونه جوړ كړى.او تفاخر شروع كړى.

د يو بل روايت مطابق ،،البهم،، مرفوع دې.( )په دې صورت كښې به ،،رعاة،، صفت وى.( ) او ددې معنى به يا دا وى.چه دا څرونكى به توررنګې (حبشيان) وى.( )يا دا مطلب دې.چه دا به مجهول الانساب وى.( ) يعنى اوچت نسب والا به نه وى.څكه چه اوچت نسب والا سړې مشهور وى.والله اعلم.

حاصل ددې جملې دا دې.چه د قيامت د علاماتو نه يو علامت دا دې.چه حالات به بالكل بدل شى.څرونكى به د علم نه بالكل بې خبره وى.او د ښكته درجې خلق به په ښارونو باندې قابض شى.دوى سره به د مالونو كثرت وى.او ټول همت او پوره فكر به عمارتونو جوړولو او په دې باندې فخر كولو كښې صرف كيږى.،،والله أعلم بالصواب،،_

ګويا د قيامت په دې دواړو علامتونو كښې ړومبې علامت ،،إذا ولدت الأمة ربها،، كښې تدبير منزل كښې. فساد طرف ته اشاره ده.چه خانه دارى نظام به خراب شى.واړه به دغتو خبره منل پريږدى.او دوى به نافرمانه جوړ شى.او په دويمه جمله ،،إذا تطاول......،، كښې اشاره ده.مدنى سياست كښې د احوالو انقلاب طرف ته چه په انتظام د مملكت كښې به تباهى ښكاره شى.كوم خلق چه نا اهله وى.هغوى به مشران جوړشى.په يو حديث كښې راغلى دى.،،إذا وسد الأمر إلى غير أهله فانتظر الساعة،،( ) دغه شان په يو بل حديث كښې دى.«لا تقوم الساعة حتى يكون أسعد الناس بالدنيا لكع بن لكع»( )

كوم علامتونه چه نبى كريم ﷺ بيان كړى دى.دا ټول په ټول علامتونه چه نن په څومره تيزئ

( ) أعلام الحديث للخطابى(١٨٢\١)_
( ) فتح البارى(١٢٣\١) وعمدة القارى(٢٨٦\١و ٢٨٧)_
( ) فتح البارى(١٢٣\١)_
( ) عمدة القارى(٢٨٧\١) وفتح البارى (١٢٢\١)_
( ) أعلام الحديث للخطابى (١٨٢\١)_
( ) شرح النووى على صحيح مسلم (٢٩\١) وفتح البارى(١٢٣\١) وعمدة القارى(٢٨٧\١)-
( ) أعلام الحديث (١٨٢\١) والمصادر السابقة)-
( ) صحيح بخارى(١٤\١) كتاب العلم باب من سئل علماً وهو مشتغل فى حديثه فأتم الحديث ثم أجاب السائل رقم ٥٩ و(٩٦١\٢) كتاب الرقاق باب رفع الأمانة رقم ٦٤٩٦)_
( ) جامع الترمذى كتاب الفتن باب منه (أى مما جاءمن أشراط الساعة)رقم الباب (٣٧) رقم الحديث (٢٢٠٩)_

Scanned with

سره بنکاره کیږی دا د هیڅ چا نه پټ نه دی

قوله فِي خَمْسٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا اللَّهُ ثُمَّ تَلَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ الْآيَةَ: (د قیامت علم) په دې پنځو څیزونو کښې دې چه دهغې علم د الله تعالى نه سوا هيڅ چا سره نشته بيا نبى كريم ﷺ (إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ) تلاوت کړو.

دا ،،فى خمس،، دمبتدا محذوف خبر دې او ددې متعلق هم محذوف دې تقدیر به داسې وی. ((علم وقوع الساعة داخل فى خمس......)) د جار مجرور متعلق محذوف کول جائز دی لکه څنگه چه په آیت کریمه ﴿ وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوءٍ فِي تِسْعِ آيَاتٍ إِلَى فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ ﴾ (۱) کښې د ،،فى تسع آيات،، متعلق محذوف دې او تقدیر ئې داسې دې ((اذهب إلى فرعون بهذه الآية فى جملة تسع آيات)) (۲)

هغه پنځه څیزونه د کومو ذکر چه د قرآن کریم په دې آیت کښې شوې دې دا دی.

① ﴿إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ﴾ ② ﴿وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾ ③ ﴿ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ﴾

④ ﴿وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا﴾ ⑤ ﴿وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ﴾ (۳)

ایا مغیبات په پنځو امورو کښې منحصر دی؟ دلته سوال کیږی چه آیا د الله تعالى علم هم دې پنځو څیزونو سره خاص دې؟ حالانکه علم د الله تعالى غیر متناهی دې او دده د علم په وړاندې چه د ټول مخلوق علوم یوځائې شی بیا به هم متناهی وی او قاعده ده چه د غیرمتناهی نه متناهی اوخکلې شی نو بیا هم هغه غیر متناهی وی نو بیا پنځو سره د تخصیص څه وجه ده؟

ددې جواب دا دې چه علامه سیوطی رحمه الله په ،،الدر المنثور،، کښې روایت نقل کړې دې په هغې کښې راغلی دی چه دا آیت د یو سړی د سوال په جواب کښې نازل شوې وو چه هغه ددې پنځو سوالونو په باره کښې سوال کړې وو (۴) نو په جواب کښې هم دا پنځه ذکرکړې شوی دی تخصیص مقصود نه دی (۵)

بعضې حضرات فرمائی چه عام طور باندې انسان هم ددې پنځو څیزونو په باره کښې سوال کوی هم ددې شوق لری او هم دې طرف ته توجه ورکوی په دې وجه ددې تخصیص اوکړې شو.

بعضې حضرات فرمائی ،،ذکر عدد لاینفی غیره،، که دلته د بعضو تخصیص اوکړې شو نو د

---

(۱) سورة النمل:۱۳)-
(۲) فتح البارى(۱۲۳/۱) وعمدة القارى(۲۸۷/۱)_
(۳) سورة لقمان:۳٤)_
(۴) تفسيردرالمنثور(۱۶۹/۵)_
(۵) عمدة القارى(۲۹۳/۱)_

باقي نفي نه لازميږي
شيخ الاسلام شبير احمد عثماني رحمه الله فرمائي په دې آيت كښې د پنځو څيزونو ذكر شوې دې احاديثو كښې دې ته ،،مفاتيح الغيب،، فرمائيلې شوى دى.[1] چه ددې كلى علم سوال دالله تعالى نه هيڅ چاته نشته.په حقيقت كښې په دې پنځو څيزونو كښې د ټولو غيبيه اكوانو، انواعو طرف ته اشاره ده.چه په هغې كښې ټول غير متناهى مغيبات شامل دى.
مغيبات اولاً په دوه قسمه دى:① د كومو تعلق چه جنس احكامو سره وى.② يا جنس اكوان سره وى.
كوم مغيبات چه جنس احكام دى.د هغې علم كلى او اصولى د ضرورت په اندازه نبى كريم ﷺ او تيرو شوو انبياء كرامو عليهم السلام ته وركړې شوې وو.د امت اذكياو ددې تفصيل او تبويب اوكړو.ددې نه خو دلته كښې بحث نه دې.ځكه چه دا الله تعالى سره كلياً مختص پاتې نشو.
دلته بحث مغيبات اكوان سره دې.ځكه چه ددې كليات او اصول خو الله تعالى كليةً خپل ځان سره مختص ساتلى دى.البته په جزئيات منتشره باندې ئې ډيرو حضراتو ته د استعداد مطابق اطلاع وركړله.او نبى كريم ﷺ ته ددې نه هم دومره عظيم الشانه او زياته حصه ملاو شوه.چه دهغې هيڅ اندازه نشى كيدې.او دا مغيبات اكوان غير متناهى دى.خو ددې پنځه انواع دى.① مكانى، ② زمانى ،او د زمانى بيا درې انواع دى:① هغه كوم چه ماضى سره متعلق دى..② هغه كوم چه حال سره متعلق دى.③ هغه كوم چه مستقبل سره متعلق دى.مجموعى طور باندې دا څلور انواع دى.
بيا د قيامت د وخت علم اګرچه په دې څلورو كښې داخل وو.ځكه چه دا اكوان مستقبليه ځنې دې.البته دا ئې جدا ذكركړو.ځكه چه دا يوه ډيره لويه حادثه ده.چه داسې قسمه حادثه كله هم دنيا ته راپيښه نشوه.او نه به بيا راپيښه شي.هيڅ يو مخلوق ته ددې د وخت علم ورنكړې شو.په دې وجه ئې خصوصيت سره دا مستقلاً ذكركړو.
ددې پنځو څيزونو نه ﴿بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ﴾ مغيبات مكانيه طرف ته اشاره ده. او﴿وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ﴾ مغيبات زمانيه حاليه طرف ته اشاره ده. ځكه چه آثار د حمل في الحال ښكاره دى. ﴿مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا﴾ سره مغيبات زمانيه مستقبليه طرف ته اشاره ده.
اوس يو ﴿وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ﴾ پاتې شو.غالباً په دې كښې مغيبات زمانيه ماضيه طرف ته اشاره ده.يعنى باران چه راځى.نو معلوميږى.خو دا چاته معلومه نه ده.چه د مخكښې كوم داسې اسباب ښكاره شوى وو.چه ټيك هم په دې وخت ، په دې ځائې به ، په دومره اندازه باران كيږى.
حاصل دا چه ددې پنځو څيزونو ذكر سره د ټول اكوان غيبيه علم كلى طرف ته اشاره كول مقصود دى.حصر مقصود نه دې.[2]

---

[1]) صحيح بخارى(۲\۶۶۶) كتاب التفسير.سورة الأنعام باب قوله: (وعنده مفاتح الغيب لا يعلمها إلا هو)_
[2]) تفسير عثمانى (۵۵۲) حاشية وفضل البارى(۱\۵٤۰و ۵٤۱)_

آیا په کونو غیبیه باندې اطلاع حاصلیدل ممکن نه دي؟ ددې بحث په باره کښې کیدل شي
وو چه ددې پنځو څیزونو نه د هیڅ یو جزئي خبرې علم هم چا ته حاصل نشي حالانکه مونږ
په سوونو واقعات ددې په خلاف ګورو د نبي کریم ﷺ کرامتونه کثرت سره منقول
دي چه هغه ددې خصوص په خلاف باندې دلالت کوي حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ته د رحلت
حلت معلوم شوې وو او دوی د وفات نه وړاندې د خپلې حاملې ښځې متعلق فرمائیلي
وو چه ددې به لور کیږي په دې وجه دوی وصیت اوفرمائیلو چه د حمل دې جینۍ ومنلې
شي او ترکه دې تقسیم کړې شي (۱) . دغه شان په پنجاب کښې یو بزرګ وو [illegible] شاه د.
دا د حضرت میان جي نور محمد جهنجهانوي رحمه الله پیر بهائي وو او د حضرت شاه
عبدالرحیم ولایتي خلیفه مجاز وو دوی چه به د ماشوم پیدا کیدو د دارد تعویذ ورکولو نو
ورسره به ئې دا هم فرمائیل چه هلک به کیږي او که جینۍ. د دوی مشهور کرامت وو دغه
شان به منجمین او کاهنان پیشګوئي کوي چه دا کله کله د واقعې مطابق ښکاره
کیږي دغه شان ننۍ صب د جدیدو آلاتو په ذریعه دا معلوموي چه په رحم کښې دننه د بچې
جنس څه دې؟ د محکمهٔ موسمیات ماهرین د باران کیدو یا نه کیدو په باره کښې وړاندې
خبر ورکوي ددوی دا پیش ګوئي ډیر خل اکثر صحیح کیږي

ددې اشکال د جواب نه وړاندې یوه مقدمه باندې پوهه شئ که د یو څیز څه اصول وي او
څه فروع وي نو اصلي علم به هغه وخت وي کله چه ددې د اصولو علم وي فرض کړئ یو
سړې د سل دوو سوو. یا د دوه څلور زرو مرضونو او ددې نسخې ګوته او زبانی یادې
کړي نو آیا ده ته به طبیب ونیلې شي؟ بلکه طبیب به هغه کس ګڼړلې کیږي کوم چه د طب
د اصولو او ددې د فن نه خبر وي اګرچه مرضونه او نسخې ئې نه وي ګوته (یاد) کړې دغه
شان به عالم هغه کس وي کوم چه د علم د اصولو نه خبر وي فقیه هغه نه دې چاته چه صرف
جزئیات د فقهې یاد وي بلکه فقیه به هغه کس وي کوم چه په اصول او مأخذ باندې عالم
وي اګرچه جزئیات ورته یاد وي.

خلاصه د کلام دا ده چه حقیقي علم هغه دې چه ددې د اصولو نه واقف وي نو د یو څیز
عالم ته به هغه وخت ونیلې شي کله چه ددې د اصولو نه خبردار وي.

په دې مقدمه د پوهیدو نه پس په دې پوهه شئ چه د غیب جزئیات هم شته او کلیات هم
شته لکه څنګه چه د طب جزئیاتو یادولو والا ته د طب عالم او طبیب نه ونیلې کیږي دغه
شان په غیبي جزئیاتو باندې پوهیدونکي ته عالم غیب نشي ونیلې.

د کلیاتو د علم مطلب دا دې چه قاعده اوښودلې شي چه مثلاً فلاني قاعدې سره
اوپیژندلې شي چه فلاني ځائې کښې به په فلاني وخت دومره انچه باران کیږي او بیا هم
هغومره باران هغه وخت کښې اوشي د کوم چه تعین شوې وي په دې کښې تاخیر نه وي نو
څوک چه ددې قاعدې علم لري هغه ته به عالم غیب ونیلې شي او چاته چه ددې قاعدې علم
نه وي هغه ته عالم غیب نشي ونیلې کیدې.

---

(۱) صفة الصفوة لابن الجوزي (۱\۲۶۶) ذکر مرض أبي بکر ووفاته رضی الله عنه.

اوس مونږ وايو چه دنيا كښې هيڅ يوكس ته عالم غيب نشى ونيلې كيدې. خكه چه هيڅ يوكس ته هم د كليات تكوينيه علم نشى كيدې صرف يو ذات دې. او هغه د الله تعالى ذات دې چه هغه ته د تكوينياتو علم محيط حاصل دې.البته د بعضو امورو انكشاف كيږى.خو دې ته علم نشو ونيلې.كه په يوه طريقه مونږ ته معلومه شى.چه ددې په خيته كښې هلك دې.خو كه څوك تپوس اوكړى.چه هلك ولې دې؟ نو يقيناً چه مونږ سره به ددې جواب نه وى.نو د قاعدو او د غيب د اصولو علم هيڅ يو نبى. هيڅ ولى ته نشى كيدې.دا علم د الله تعالى قدرت سره مخصوص دې.كه د يوې قاعدې علم وى.نو دا مفتاح جوړيږى.د ډيرو د جزنياتو د علم. پخپله الله تعالى فرمائيلى دى:﴿وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ﴾
ددې نه معلومه شوه.چه د غيب د قواعدو او ضوابطو علم. او په تكوينياتوكښې د غيب د كلياتو علم سوا د الله تعالى نه بل چا ته نشته.البته د بعضو جزنيات خبر كيدې شى.البته د تشريعاتو په ميدان كښې د كلياتو علم غيب انبياء عليهم السلام ته شته.خكه كه دا علم دوى ته ورنكړې شى.نو ددوى په كار كښې به فرق راشى.البته دا په دومره اندازه ملاويږى. څومره چه الله تعالى د خپل حكمت موافق وركړى.
خلاصه داچه په حوادثو د زمانې باندې څوك خبريدې نشى.او د جزنياتو عالم ته عالم غيب نشى ونيلې كيدې.پاتې شو د يو جزنى علم چا باندې منكشف كيدل. نو دا بله خبره ده.او دا انبياء عليهم السلام او اولياءكرامو ﷺ دواړو ته كيږى.البته په دې دواړو كشفونو كښې فرق وى.او هغه فرق دا دې.كوم چه په سورت جن كښې فرمائيلې شوې دې. ﴿عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِ أَحَدًا ۝ إِلَّا مَنِ ارْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا﴾ (۱) يعنى هغه عالم غيب دې.او په غيب باندې څوك حاوى او مسلط كوى نه، البته انبياء او رسولانو ته چه د تشريعاتو او تكوينياتو څنې چه څومره باندې غواړى.خبروى. په دې طريقه چه هيڅ يو څيز په دې كښې نه خلل انداز كيږى.نه نفس ته څه خلل وى.نه شيطان ته، نه څه قسمه شك او شبهې ته څه خلل وى، ،غرض دا چه د هر څيز نه محفوظ وى.خكه چه ددې نه وړاندې روستو پهره دار وى.ددې نه معلومه شوه.چه نبى ته كوم كشف كيږى.يا وحى راځى.هغې سره پهره داران وى.په دې وجه دې كښې د غلطئ احتمال نشى كيدې.په خلاف د ولى د كشف.چه په دې كښې دغلطئ احتمال هم شته.اود شبهې گنجائش هم وى.په دې وجه دواړه برابر نشى كيدې.اوس دوه فرقونه شو.د نبى علم قطعى دې.او د ولى علم ظنى دې. هلته د الله تعالى ذمه دارى شته.او دلته نشته.او دا ټول د علم جزنيات دى.دكلياتوعلم دالله تعالى سره مختص دې.داعلوم نه نبى ته حاصل دى.اونه ولى ته.دوى ته چه څومره حاصليږى. كه هر څومره زيات وى.ټول جزنيات دى.په دې وجه ورته عالم غيب نشى ونيلې كيدې.
بيا دلته ددې وضاحت هم ضرورى دې.چه د ،،غيب،، معنى ده.((ما لا يقع تحت الحواس، ولا تقتضيه بداهة العقل)) او كوم غيب سره چه الله تعالى منفرد دې.په هغې كښې دومره قيد نور

---

(۱) سورة الجن\۲۶، ۲۷)-

Scanned with

هم دي. ،،ولم ينصب عليه دليل،،(١) يعنى په نظر او فكر او دليل عقلى سره هم معلومه نشى. كنى بيا به غيب نه وى.

پاتې شو نجومياتو ته علم كيدل. او پيشنگوياني وغيره كول.يا د كسوف او خسوف متعلق څه ښودل، نو دا په اصل كښې علم غيب نه دې.ځكه علم غيب هغه دې.كوم چه د عقل په ذريعه حاصل نشى.او دا نجوميان چه كوم څه وائى.دا ټول حسابى څيزونه دى.چه دا هر سړې حاصلولې شى.ځوك چه دا فن د عقل په ذريعه زده كړى.او په دې كښې د غلطئ هم هميشه احتمال وى.كه حساب صحيح شو.نو نتيجه به صحيح راوځى.كه حساب غلط شو. نو نتيجه به غلطه راوځى.

دغه شان مون سون (بادونه) كتل. او دا وئيل چه فلانى ځائې كښې به باران كيږى.او دآلاتو په ذريعه د مون سون مقدار معلومول، او دا حكم وركول چه دومره دگرى باران به كيږى.دا علم غيب نه دې.دا خو به علاماتو سره د ذى علاماتو علم حاصلول دى لكه څنگه چه نبض كتلو سره تبه معلوموى.او د تهرماميټر آلې په ذريعه د حرارت مقدار ښائى.

بيا په مون سون سره چه د باران كوم خبر وركولې شى.هغه محض تخمينى (اټكل) وى دا ډير ځل مشاهدې او تجربې سره غلط ثابتيږى.نو دا علم څرنه شو؟ صرف يوه تخمينه شوه البته يقين سره پوره تعين اوكړى.چه فلانى وخت به، په فلانئ خاص رقبه او په محدود خطه كښې خاص دومره مقدار باران كيږى.كه ټوله دنيا ملاو شى.نو بيا هم دا نشى ښودلې.

دغه شان كه بالفرض د آلاتو په ذريعه يو ډاكټر نن صبا ايكسرى اوباسى.او ،،مافى الارحام،، اوښائى.چه هلك دې او كه جينئ ده.دې ته به هم علم غيب نشى وئيلې.ځكه چه دا خو حاسه سره علم حاصلول دى.غيب څرنه پاتې شو. (٢) والله سبحانه أعلم۔

مسئله د علم غيب د قرآن او حديث د نصوصو په رڼا كښې د علم غيب په مسئله كښې د اهل حق اهل السنة والجماعة مسلك بالكل ښكاره او بې غباره دې.

علامه شبيراحمد عثمانى رحمه الله فرمائى: د كل مغيباتو علم سوا د الله تعالى نه هيڅ چاته حاصل نه دې.نه د يو غيب علم يوكس ته بالذات د الله تعالى د عطاء نه بغير كيدې شى.او نه مفاتيح غيب (د غيب هغه كنجيانې د كوم ذكر چه سورة انعام كښې تيرشو) الله تعالى يو مخلوق ته وركړې دې.البته بعض بنده گان ئې په بعضو غيبونو باندې پخپل اختيار سره خبر كړى دى.ددې وجه وئيلى شو.چه فلانى سړى ته الله تعالى په غيبو باندې خبر وركړې دې.يا ئې د غيبو خبر وركړو .خو د دومره خبرې په وجه قرآن او سنت په هيڅ يو ځائې كښې يو سړى باندې د ،،عالم الغيب،، يا د ،،فلان يعلم الغيب،، اطلاق نه دې كړې.بلكه احاديثو كښې په دې باندې انكار كړې شوې دې.ځكه چه په ښكاره دا الفاظ د الله تعالى د ذات سره دعلم غيب د اختصاص خلاف پيداكوى.په دې وجه محققين عالمان اجازت نه وركوى.

---

(١) تفسير روح المعانى(١١٤١١) تفسير قوله تعالى:(الذين يؤمنون بالغيب)۔

(٢) ددې ټولو تفصيلاتودپاره اوگورئ:فضل البارى (١١/٥٣٨، ٥٤١) درس بخارى(١١/٢٩١، ٢٩٣)۔

چه د داسې قسمه الفاظو په يو بنده باندې اطلاق اوكړې شي اگرچه لغتاً صحيح وی.
لكه د يوكس دا وينا چه ،،إن الله لايعلم الغيب،،(الله تعالى ته علم غيب نشته)سخت ناروا او بې ادبی ده. اگرچه دهغه مراد دا وی.چه د الله تعالى په اعتبار سره هيڅ يو څيز دسره غيب نه دې يا د يو كس د ،،حق،، نه مرګ. او د ،،فتنې،، نه اولاد . او د ،،رحمت،، نه باران مراد اخستل. او دا الفاظ وئيل. چه ،،إنى اكره الحق، وأحب الفتنة وأفر من الرحمة،، سخت مكروه او قبيح دی اگرچه د نيت او مراد په اعتبار سره قبيح نه دی.دغه شان ،، فلان عالم الغيب،، وغيره الفاظو اوګڼره.
او يوهه شئ چه علم غيب نه زمونږ مراد صرف ظنون او تخمينات نه دی.او نه هغه علوم مراد دی.كوم چه قرائنو او دلائلو سره حاصل كړې شي.بلكه دكوم دپاره چه څه دليل او قرينه موجود نه وی.هغه مراد دې.[1]
د اهل سنت والجماعت د عقيدې خلاصه د اهل سنت د عقيدې خلاصه دا ده.چه علم ذاتی محيط تفصيلی كوم چه بلا استثناء ټولو معلوماتو باندې حاوی وی.دا د الله تعالى دخواصو څنې دې.په دې كښې نه څوك رسول شريك دې.نه غير رسول.
بيا د الله تعالى په عطاء سره په ذريعه د وحی يا الهام د عالم شهادت پشان دعالم غيب هم ډير څيزونه د الله تعالى مقرب بندگانو ته معلوميږی.او په دې كښې دانبياء او ملائكو عليهم السلام حصه د ټولو نه زياته ده.او په ډله د انبياو كښې هم خاص كر د سيدالانبياء والمرسلين خاتم النبيين ﷺ درجه په دې كمال كښې دټولو نه زياته اوچته ده.او دوی د الله تعالى نه پس د ټولو نه زيات عالم دې.
خو ددې باوجود دا وئيل صحيح نه دی.چه نبی كريم ﷺ ته دټولو ممكناتو حاضره او غائبه علم عطاء كړې شوې دې.او دا عقيده هم صحيح نه ده.چه نبی كريم ﷺ ته د ،،ماكان وما يكون إلى يوم القيامة،، علم حاصل وو.او د عالم پيدا كولو د ابتداء نه واخله، جنت او دوزخ ته داخليدو پورې هيڅ ذره د نبی كريم ﷺ دعلم نه بهر نه ده.ځكه چه د بعضو ،،ماكان وما يكون،، علم نبی كريم ﷺ ته نه كيدل د كتاب او سنت د نصوصو نه ثابت دې.ددې نه اختلاف كول محبت نه دې.بلكه بغاوت او ضلالت دې.
د مولوی احمد رضاخان بريلوی او دده د متبعينو عقيده مولوی احمد رضاخان بريلوی چه په مختلفو كتابونو كښې كوم څه ليكلی دی.د هغې په رڼړا كښې ددوی مسلك دا دې.چه د عالم د پيدا كولو د ابتداء نه واخله تر دمحشر د هنگامې (د حساب اوكتاب وغيره) ختميدو. يا په نورو الفاظو كښې داسې چه جنت او دوزخ ته داخليدو پورې ټول واقعات جزئيه اوكليه،دينيه اودنيويه علم تفصيلی محيط، نبی كريم ﷺ ته عطاء كړې شوې دې.[2]

---

[1]) تفسيرعثمانی(٥١٠)_
[2]) أنباء المصطفى (ص،٣) والكلمة العليا(ص،٢٣)_

Scanned with

دلته د يوځيز تحقيق ضروري دی.هغه دا چه دا حضرات ددې علم حصول نبی کريمﷺ دپاره د کوم وخت نه منی؟ په دې کښې دې خلقو عجيبه خبط (او خلط) کړې دې.يوصاحب فرمانی چه نبی کريمﷺ کوم وخت دمور په خيټه کښې وو هغه وخت دوی ته دا د،،ماكان وما يكون،،علم حاصل شوې وو.لکه قاضی فضل احمد صاحب لدهيانوی پخپل کتاب ..انور آفتاب صداقت.. کښې يو روايت دا نقل کړې دې.چه نبی کريمﷺ اوفرمائيل چه ..لوح محفوظ باندې قلم چليدو.او ما اوريدو.حالانکه زه د مور په خيټه کښې ووم ....او بيا ئې ددې نه دا نتيجه راوښکلې ده.چه ..ددې نه ښکاره معلوميږی چه نبی کريمﷺ ته د مخلوق د ابتداء نه علم غيب حاصل دې.لوح محفوظ ددوی په وړاندې اوليکلې شو د مور په خيټه کښې علم غيب حاصل وو.([1])

دويم قول دا دې.چه دا علم دوی ته په شب معراج کښې حاصل شو.هم دا قاضی فضل احمد صاحب لدهيانوی په مذکوره کتاب کښې يو څو عبارتونو نقل کولو نه پس ليکی ..ددې عبارتونو حاصل دا دې.چه نبی کريمﷺ اوفرمائيل.چه په شب معراج کښې زما په حلق کښې يوه قطره (څاڅکې) واچولې شو.چه ددې په فيضان سره ماته د ،،ماكان وسيكون،، علم حاصل شو.([2])

چونکه دا دواړه قولونه د ډيرو قطعی نصوصو خلاف دی.په دې وجه مولوی احمد رضاخان بريلوی دا دواړه اقوال اختيار نکړل.بلکه ددوی په نيز نبی کريمﷺ ته دا علم د ،،ماكان وما يكون،،د ټول قرآن نازليدو نه پس حاصل شو.لکه چه مولوی احمد رضاخان بريلوی ليکی.. او دا علم د قرآن عظيم ،،تبياناً لكل شئ،، کيدو وړکړو.او بيا ښکاره ده.چه دا وصف د پوره کلام مجيد دې.د هر آيت يا سورت نه دې.نو د جميع قرآن د نزول نه وړاندې که د بعضو انبياء عليهم السلام نسبت ارشاد وی.﴿ لَمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ ﴾ د منافقينو په باب کښې اوفرمائيلی شی.﴿لا تعلمهم﴾هيڅ کله ددې آيتونو نفی او احاط د نبی کريمﷺ د علم نافی نه دی.([3])

د بريلوی حضراتو دلائل او دهغې جوابونه مولوی احمد رضاخان بريلوی او ددوی متبعينو د قرآن کريم د بعضې آيتونو او يو څو حديثونو نه ددې غلط تاويلاتو کولو سره استدلال کړې دې.مونږ دلته مختصر ددوی د اهم دليلونو جائزه اخلو.

① ددې حضراتو يو دليل د الله تعالى دا ارشاد دې.﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ وَّهُدًى وَّرَحْمَةً وَّبُشْرٰى لِلْمُسْلِمِيْنَ﴾([4])او د الله تعالى ارشاد دې.﴿مَا كَانَ حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ

---

[1] انوارآفتات صداقت از قاضی فضل احمد لدهيانوی(ص،١٣٧)-
[2] انوارآفتاب صداقت از قاضی فضل احمد لدهيانوی(ص،١٣٧)-
[3] أنباء المصطفی(ص،٤)_
[4] سورة النحل :٨٩)_

يَدَيْهِ وَتَفْصِيلَ كُلِّ شَيْءٍ....﴾ (١) دغه شان د الله تعالى فرمان دې ﴿مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ﴾ (٢)
خان صاحب ليكى چه ،،نكره په حيزدنفى كښې مفيده د عموم ده او لفظ د ،،كل،،خو
داسې عام دې چه هيڅ كله هم خاص نه مستعمليږى او عام په افاده د استغراق كښې
قطعى ده او نصوص به هميشه په ظاهر باندې محمول كيږى د دليل شرعى نه بغير د
تخصيص او تاويل اجازت نشته ګنى شريعت نه به امان اوچت شى...(٣)
هم ددې نصوصو په لحاظ سره خان صاحب بريلوى او ددوى د متبعينو په نيز ،، بې شكه
الله تعالى خپل حبيب اكرم ﷺ ته د اولين او آخرين ټولو علم وركړو .مشرق نه تر مغربه
پورې. عرش نه تر فرش پورې، ټول هر څه ئې دوى ته اوښودل د ملكوت السموات
والارض شاهد ئې جوړ كړو.د ازل د ورځې نه واخله تر د آخرت د ورځې پورې ئې ټول ماكان
و ما يكون دوى ته اوښودل.د مذكوره څيزونو نه هيڅ يوه ذره د حضور اكرم ﷺ د علم نه بهر
پاتې نشوه.علم عظيم د حبيب كريم ﷺ دې ټولو ته محيط شو نه صرف اجمالاً بلكه هر
صغير وكبير، هر رطب ويابس. كومه پاڼه چه غورځيږى.د زمكې په تيرو كښې چه كومه
دانه هر چرته غورځيږى.ټول ئې جدا جدا تفصيلاً اوپيژندل......(٤)
خو ددې حضراتو ددې آيتونو نه د نبى كريم ﷺ دپاره د كلى علم غيب دعوه كول بالكل
باطل او مردود ده.
① رومبئ وجه دا ده.چه دا درې واړه آياتونه مكى دى.[بيا دريم آيت كښې د ،،الكتاب،،
نه د بعضو حضرات مفسرينو په نيز لوح محفوظ مراد دې.قرآن كريم مراد نه دې (٥)كه ددې
مكى آيتونو نه نبى اكرم ﷺ دپاره د ذرې ذرې او پاڼې پاڼې علم ثابت شى او ددې په وجه
دوى عالم غيب وى.نو ددې نه پس نبى كريم ﷺ باندې وحى نازلول پكار نه وو څكه چه كل
غيب خو دوى ﷺ ته په دې آيتونو سره عطاء كړې شوې وو.حالانكه ددې نه پس نور احكام
خو پخپل ځائې دى.قرآن كريم به هم باقاعده نازليدو.آيا دا حضرات دا حصه په ،،ماكان وما
يكون،، كښې داخل نه ګڼرى؟
② دويمه خبره دا ده.كه په ﴿تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ﴾ آيت سره دهر هر ذرې او هر هر رطب ويابس علم
ثابتيږى.او ددوى دا دعوه ده.چه په قرآن كريم كښې دهر يو هرڅيز علم شته او بيا صرف
بيان نه. بلكه روشن بيان. او صرف مجمل نه. بلكه مفصل. نو بيا به ددې حضراتو نه دا
سوال بالكل برمحل (مناسب) وى چه په قرآن كريم كښې د مونځ د ركعتونو تعداد، او د

---

(١) سورة يوسف:(١١١)-
(٢) سورة الأنعام:٣٨)_
(٣) أنباء المصطفى (ص.٤٠)-
(٤) جاء الحق (ص.٥٢) ومقياس حنفيت (ص.٢٩٤)-
(٥) تفسير البغوى (معالم التنزيل (٩٥\٢) وتفسير كبير(٢١٥\١٢)_

زكاة د نصاب تفصيلات وغيره چرته دى؟

③ دريمه خبره دا ده چه دې حضراتو بنيادى طور باندې دلنه د لفظ ..كل.. نه استدلال كړى دې چه دا په عموم كښې نص قطعى ګڼړلې دې حالانكه حقيقت دا دې چه لفظ د ..كل.. اګرچه د خپل لغوى مفهوم په لحاظ سره عام دې خو د استعمال په لحاظ سره كل او بعض د عموم او خصوص دواړو دپاره برابر راځى كه دا د عموم او استغراق دپاره هم مستعمل وى بيا هم دموقع او محل او داخلى او خارجى قرائنو محتاج وى قرآن كريم، احاديث مبارك. او د لغت او اصولو امامانو شواهد په دې باندې موجود دى (١) او پخپله خان صاحب بريلوى په فتاوى رضيه كښې رقمطراز دې چه ..كله كله. د كل نه اكثر مراد وى..(٢)

④ څلورمه خبره دا ده چه ددې آياتونو په تفسير كښې د جمهورو عالمانو مفسرينو كلام نه معلوميږى چه دلته كل په عموم او استغراق باندې محمول نه دې او په ﴿ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ كښې ،،كل شئ،، نه مراد ..امور دين.. دى ..ماكان و مايكون ..مراد نه دى (٣)

⑤ دخان صاحب بريلوى او ددوى د متبعينو يو استدلال ددې آيت نه دې ﴿وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا﴾ (البقره: ٣١) چه حضرت آدم عليه السلام ته الله تعالى د ټولو څيزونو نومونه ښودلى وو او دا يو منلې شوې حقيقت دې چه د نبى كريم ﷺ درجه د حضرت آدم عليه السلام سره د ټولو انبياء كرامو عليهم السلام نه اوچته ده.نو نبى كريم ﷺ ته به په طريق اولى ددې ټولو څيزونو نومونه او علوم حاصل وى.خو په څو وجوه سره ددې نه استدلال باطل دې:

① رومبئ وجه دا ده.چه دلته استدلال د قياس نه دې.او د عقائدو په باب كښې دليل قطعى الثبوت والدلالة كيدل ضرورى دى.

② دويمه وجه دا ده.چه دلته هم ددې حضراتو د استدلال مدار د لفظ د ..كل.. په عموم كښې د نص قعطى كيدو باندې دې.او ددې نفى وړاندې تيره شوه

③ دريمه وجه دا ده.كه حضرت آدم عليه السلام ته په تعليم د ..اسماء.. سره ددوى عالم الغيب او د..ما كان و ما يكون.. عالم كيدل لازميږى.نو بيا ابليس ملعون دوى ته څنګه دهوكه وركړله او په دروغه قسمونو خوړلو سره ئې څنګه اوخوئيلو معلومه شوه.چه حضرت آدم عليه السلام ته علم غيب حاصل نه وو.نو په آدم عليه السلام باندې قياس كولو سره د نبى اكرم ﷺ د عالم الغيب كيدو قائل كيدل هم باطل. او ..بناء الفاسد على الفاسد..ده.

---

(١) آيات قرآني (ثم اجعل على كل جبل منهن جزء)) البقرة:٢٦٠) (فتحنا عليهم أبواب كل شئ) الأنعام:٤٤) (وأوتيت من كل شئ) النمل:٢٣) دغه شان په حديث شريف كښې دى .حصّت كلّ شئ.. (صحيح بخاري(١٣٧\١) أبواب الإستسقاء وخروج النبى ﷺ (وتاج العروس (١٠٠\٨) ونورالانوار(ص.٧٧)

(٢) فتاوى رضويه(٧٣٧\١)_

(٣) تفسيربغوى(١٧٠\٢) و روح المعانى(٢١٤\١٤)_

③ خلورمه وجه دا ده چه د ﴿وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا﴾ دا تفسير چه حضرت آدم ﷺ ته د ټولو څيزونو او ددې ټول علوم عطاء کړې شوی وو.چه ددوی علم ،،ماکان و ما يکون،، ته محيط شي دټولو مفسرينو نه خلاف بل طرف ته شاذ لاره اختيارول دی.خکه چه مفسرينو په دې مقام باندې مختلف اقوال ذکرکړی دی.خو په دې ټولو کښې قدر مشترک دا دې.چه حضرت آدم ﷺ ته الله تعالى د هغه څيزونو نومونه اوښودل.دکومو چه دوی ته ضرورت او حاجت راپيښيدو او د فرښتو حال سره ددې څيزونو هيڅ مناسبت نه وو.(١)

بيا د بعضې مفسرينو د تصريح مطابق الله تعالى حضرت آدم ﷺ ته ددې څيزونو د اجناسو علم ورکړې وو.(٢) پاتې شو ددې جنس ټول افراد، او د افرادو ټول جزئی حالات.نو ددوی په دې کښې هيڅ ذکرنشته.او که د هر هر انسان او حيوان نوم ئې هم ورته ښودلې وی.نو ددې تفصيلی حالات به بيا هم جدا وی.

④ د بريلوی حضراتو دريم استدلال د الله تعالى ددې ارشاد نه دې. ﴿عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ۙ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ۙ﴾ (٣) چه په دې کښې د استثناء ذکر دې.او ددې مطلب ددوی په قول دا دې.چه ،،د الله تعالى خاص علم غيب تردې چه د قيامت علم هم حضور ﷺ ته عطاء کړې شو.اوس کوم څيز دې.چه د مصطفى ﷺ د علم نه باقى پاتې شوې وی.(٤)

خو ددې نه استدلال هم بالکل صحيح نه دې:① رومبئ وجه دا ده.چه دا د سورة جن آيت دې.چه مکی دې.ددې نه پس د قرآن کريم ډيره حصه نازله شوه.که ددې آيت نه د علم غيب په حاصلولو باندې استدلال اوکړې شی.نو سوال کيږی.چه آيا ددې حضراتو په نيز د قرآن کريم باقى حصه په ،،علم غيب،، او په ،،ماکان وما يکون،، کښې داخل نه ده؟

② دويمه وجه دا ده.چه ددې استثناء نه کلی علم غيب مراد دې.اوکه بعض علم غيب؟په دويم صورت کښې ددوی مدعی نه ثابتيږی.اوکه رومبې صورت مراد وی .نو دې آيت سره چه په متصل آيت کښې کوم ارشاد دې. ﴿قُلْ اِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ اَمْ يَجْعَلُ لَهٗ رَبِّيْٓ اَمَدًا﴾ (٥) په دې سره ددوی د کلی علم غيب د دعوې ترديد کيږی.خکه چه ،، مَا تُوْعَدُوْنَ ،، سره د بعضې حضراتو په نيز ،،عذاب،،(٦) او د بعضو په نيز ،،قيامت،، مراد دې.(٧) که هريو مراد

---

(١) تفسير ابن كثير(٧٣\١١) وتفسير معالم التنزيل للبغوى(٦١\١١) وغيره)_
(٢) التفسير الكبيرللرازى (١٧٦\١٣)-
(٣) الجن:٢٦، ٢٧)_
(٤) جاء الحق (٥٥\١٢، ٥٦) وخالص الإعتقاد(ص،٢٤)_
(٥) الجن:٢٥)_
(٦) تفسير الجلالين(سورة الجن:٢٥)_
(٧) تفسيرالبغوى(٤٠٥\٤)_

وی څه څيز په ..ماكان وما يكون.. كښې داسې ضرور دي چه د هغې په باره كښې الله تعالى نبی كريم ﷺ ته دا اعلان كوی چه تاسو اوفرمايئ چه ماته ددې علم نشته.بيا به دا څنګه منلې شی چه بالكل متصل هم دا حكم وی چه الله تعالى نبی كريم ﷺ په ټول غيب باندې خبردار كړې وو چه په هغې كښې ..عذاب. او قيامت.. هم داخل دې.

③ دريمه وجه دا ده.چه ددې آيت نه ټولو مفسرينو بعض علم غيب مراد اخستې دې.(١)نو ددې نه په كلی علم غيب باندې استدلال شذوذ. او د جمهورو مفسرينو. او د قطعی دليلونو مخالفت دې.

③ ددې حضراتو يو استدلال د قرآن آيت ﴿وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ﴾ (٢) نه دې. لكه خان صاحب بريلوی ليكی: ..زما محبوب په غيب باندې بخيل نه دې.په كوم كښې چه استعداد بيامومی.هغه بيانوی.او ښكاره ده.چه بخيل هغه كس دې.چه هغه سره مال وی.او خرچ كوی ئې نه.او چا سره چه مال نه وی.هغه ته به څه بخيل اووئيلې شی؟ او دلته د بخيل نفی شوې ده.نو تركومې پورې ئې چه څه څيز خرچ كړې نه وی.څه فائده به وی.نو معلومه شوه.چه حضور ﷺ په غيب باندې خبردار دې.او خپلو غلامانو ته په دې باندې اطلاع وركوی.(٣)

ددې آيت نه هم ددې حضراتو استدلال قطعاً باطل او مردود دې: ① رومبئ وجه دا ده.چه دا د سورة تكوير آيت دې.او دا سورت د امام سيوطی رحمه الله د تصريح مطابق شپږم سورت دې.(٤) او دا سورت په اتفاق سره مكی دې.كه ددوی ددې آيت نه ټول علم غيب او د جميع ماكان وما يكون علم مراد دې.نو بيا ددې نه پس يو سل اته سورتونه ولې نازل شو.او بيا په دې سورتونو كښې بعضو كښې صراحت سره د علم غيب نفی ولې راغلې ده؟

② دويمه وجه دا ده.چه په ﴿وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ﴾ كښې د ..هو.. مرجع په باره كښې اختلاف دې.اكثرو مفسرينو نبی كريم ﷺ مرجع ګرځولې دې.(٥)حالانكه بعضو مفسرينو ددې مرجع ..قرآن كريم.. ګرځولې دې.(٦) نو قطعی او يقينی طور باندې ددې نه نبی كريم ﷺ دپاره علم غيب ثابتول ممكن نه دی.

③ دريمه وجه دا ده.چه د ..الغيب.. نه څه مراد دې؟ په دې كښې هم دمفسرينو اختلاف دې.البته دومره خبره متعين ده.چه په دې آيت كښې د ..الغيب.. نه وحی،قصص، اخبار او انباء وغيره داسې امور مراد دی.كوم چه د نبوت منصب سره تعلق ساتی.باقی پاتې شو هغه

---

(١) روح المعانی(٢٩\٦٩) وغيره)-
(٢) التكوير: ٢٤)-
(٣) ملفوظات (١١\٣٠)_
(٤) الإتقان فی علوم القرآن (١١\١٠)_
(٥) معالم التنزيل(١٤\٤٥٤) وتفسيرابن كثير(١٤\٤٨٠) وغيره)_
(٦) تفسير عزيزی پاره .عم.(ص.٩٠) وتفسيرحقانی(٥٤١)_

امور دكوم چه د نبوت منصب او تبليغ او تعليم سره هيڅ تعلق نشته.نو دا آيت هيڅ كله هم هغه نه ثابتوي.(١)

④ څلورمه وجه دا ده.چه په دې آيت كښې دوه قراءتونه دي.يو ..بضنين.. ضاد سره. او دويم قراءت ..بظنين.. ظاء سره دې.دواړه قراءتونه بالكل صحيح او متواتردي.(٢)د.. بضنين..(بالضاد) معنى بخيل ده.او د ..ظنين..(بالظاء) معنى متهم ده.د دويم قراءت مطابق ددې معنى دا راځي.چه هركله په معمولي معمولي خبرو كښې تاسو خلق په نبي كريمﷺ باندې د غلط بيان او دروغو تهمت نه لګوئ.نو په دومره لويه معامله كښې هغه څنګه دروغ ونيلې شي؟

افسوس دې.چه بريلوى حضراتو دا قراءت هسې هم ذكر نكړو.څكه چه په دې سره ددوى باطل موقف نه ثابتيږي.

⑤ ددې حضراتو پنځم استدلال ددې آيت نه دې. ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ يَّشَآءُ﴾ (٣)چه په دې كښې دا مذكور دي.چه الله تعالى څوك منتخب كوي.هغه ته د ..غيب.. علم عطاء كوي.

خو ددې نه هم استدلال بالكل باطل دې.① يوه وجه دا ده.چه دا د سورت آل عمران آيت دې.او د غزوهٔ احد په موقع باندې نازل شوې وو.چه دا په شوال ٣هـ كښې راپيښ شوې وو.ددې نه پس د قرآن كريم شپاړس سورتونه نازل شو.كه ددې آيت نه دوىﷺ ته د ..ما كان وما يكون.. علم حاصل شوې وو.نو ددې نه پس دا پكار وو.چه په دوى باندې هيڅ يو سورت يا آيت نه وې نازل شوې.

② دويمه وجه دا ده.چه ټولو مفسرينو ددې آيت نه بعضې علم غيب مراد اخستې دي.(٤) ټول علم غيب او جميع ماكان و ما يكون د هيڅ چا په نيز مراد نه دې.نو په دې مقام باندې ..جميع علم غيب.. مراد اخستل. باطل او مردود دي.

⑥ ددې حضراتو استدلال د ﴿وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ﴾ (٥)نه هم دې.دا حضرات وائي چه ..ددې آيت او ددې تفسيرونو نه معلومه شوه.چه حضورﷺ ته د ټولو زاروانو او تيرو شوو واقعاتو خبر وركړې شوې وو.كلمه د ..ما.. په عربئ ژبه كښې ..عموم.. دپاره ده.نو د آيت نه دا معلومه شوه.چه د شريعت احكام. د دنيا ټول واقعات. د خلقو ايماني حالات وغيره هرڅه چه ددوى په علم كښې وو ټول هرڅه ني اوښودل په دې كښې دا قيد لګول. كه ددې نه مراد

---

(١) تفسير الجلالين (٤٩٢/٢) وتفسير البغوى(٤٥٤/٤) وتفسير ابن كثير (٤٨٠/٤)-
(٢)تفسير ابن كثير (٤٨٠/٤) وتفسير القرطبى(٢٤٢/١٩)_
(٣) آل عمران:١٧٩)_
(٤) تفسير البيضاوى (٦٩٠/١) مع شيخ زاده وتفسير البغوى(٣٧٨/١) وغيره)-
(٥) النساء:١١٣)-

صرف احكام دى. دخپل طرفه قيد دي.او دا د قرآن او حديث او د امت د عقيدې خلاف دي.....(١)
خوددې آيت نه هم كلى علم غيب باندې استدلال باطل دې.
① ددې يوه وجه دا ده.چه دا د سورة نساء آيت دې.او دا د ۴ھ په شروع كښې نازل شوې وو.ددې نه پس ډير سورتونه نازل شو.چه په هغې كښې سورة توبه خاص طور باندې قابل ذكر ده.كه ټول هرڅه غيب ددې آيت نه ثابتيدو.نو ددې نه پس د هيڅ حكم. او هيڅ يو سورت نازليدو مطلقاً ضرورت نه وو.
② دويمه وجه دا ده.چه دا استدلال په دې خبره مبنى دې.چه كلمه د ,,ما،، دعموم او استغراق حقيقى دپاره ده.حالانكه دا په هر مقام او هرځائې كښې استغراق حقيقى دپاره نه وى.د الله تعالى ارشاد دې.﴿وَيُعَلِّمُكُمْ مَّا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ﴾ (٢)دغه شان ارشاد دې ﴿وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوٓا أَنتُمْ وَلَآ ءَابَآؤُكُمْ﴾ (٣) كه په دې آيتونو كښې كلمه د ,,ما،، استغراق حقيقى دپاره اومنلې شى.نو د جناب رسول الله ﷺ پشان د حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم دپاره بغير دځه واسطې نه، او د ټول امت دپاره بالواسطه ټول علم غيب كلى منل لازميږى.
③ دريمه وجه دا ده.چه تقريباً ټولو معتبرو او مستندو مفسرينو دلته د ,,ما،، مصداق احكام او امور دين ګرخولى دى.(٤) بعضو كتاب او سنت ګرځولې دې. (٥)البته كومو حضراتو چه علم غيب، خفيات الامور، او د ضمائرالقلوب ذكركړې دې.نو هغه هم پخپل مقام باندې صحيح دى.ځكه چه ددې خبرې نه هيڅ كله د هيڅ چا انكار نشته.چه نبى كريم ﷺ ته الله تعالى د بعضو غيبى امورو او خفيات الامور باندې اطلاع وركړې وه.
④ ددې حضراتو يو استدلال د﴿فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ﴾ (٦) نه هم دې. خو ددې نه استدلال ځكه بې فائدې دې.چه دلته هم استدلال په دې مبنى دې.چه كلمه د ,,ما،، عموم او استغراق حقيقى دپاره ده. حالانكه مونږه وړاندې ذكركړى دى.چه په دې كښې هر مقام باندې استغراق حقيقى موجود كيدل ضرورى نه دى. بيا دا آيت معراج سره متعلق دې. •حالانكه ددې نه پس د هجرت واقعه راپيښه شوه.ډير سورتونه نازل شو.د حلال او حرام څومره ډير احكام نازل شو.نو ددې آيت نه د كلى علم غيب ثابتيدو په صورت كښې د باقى سورتونو نازليدو، او دغه شان د حلال او حرام د احكامو نازليدو څه ضرورت پاتې كيږى؟

---

(١)جاء الحق (٤٩، ٥٠)_
(٢) البقرة:١٥١)-
(٣) الأنعام :٩٢)-
(٤) تفسير البغوى (٤٧٩\١) وغيره)-
(٥) التفسيرالكبير(٣٩\١١، ٤٠)_
(٦) النجم:١٠)-

⑧ يو استدلال ددې فريق د قرآن دا آيت دې. ﴿خَلَقَ الْإِنْسَانَ ۝ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۝﴾ (١) خو ددې نه هم په ډيرو وجو سره استدلال صحيح نه دې ① يوه وجه دا ده چه دا د سورة رحمن آيتونه دى او سورة رحمن مكى سورت دې ② دويمه وجه دا ده چه دلته په علم غيب كلى باندې استدلال په دې خبره باندې مبنى دې چه د ..الانسان.. نه نبى كريم ﷺ مراد وى حالانكه اكثر حضرات مفسرين ددې نه جنس انسان مراد اخلى (٢) او قرين قياس هم دا دې. خكه چه لفظ ..البيان.. نبى كريم ﷺ سره مخصوص نه دې او كه ددې نه نبى كريم ﷺ مراد وى بيا هم ددې نه ددوى استدلال صحيح نه دې خكه چه ..البيان.. د جميع علم غيب او د ..ما كان وما يكون.. تقاضا نه كوى. والله اعلم.

بريلوى حضرات يو څو حديثونه هم د خپل باطل مسلك په تائيد كښې د دليلونو په طور پيش كوى. دلته مونږ سرسرى طور باندې د هغې هم جائزه اخلو

① ددې حضراتو ړومبې دليل د حضرت حذيفه ﷺ حديث دې. ((قام فينا رسول الله ﷺ مقاماً، ماترك شيئاً يكون فى مقامه ذالك إلى قيام الساعة إلا حدث به، حفظه من حفظه ونسيه من نسيه)) (٣)

② دويم دليل د حضرت فاروق اعظم ﷺ حديث دې. ((قام فينا النبى ﷺ مقاماً فأخبرنا عن بدء الخلق حتى دخل أهل الجنة منازلهم، وأهل النار منازلهم، حفظ ذالك من حفظه ونسيه من نسيه)) (٤)

③ دريم دليل د حضرت عمرو بن اخطب انصارى ﷺ حديث دې. ((صلى بنا رسول الله ﷺ الفجر، وصعد المنبر، فخطبنا حتى حضرت الظهر، فنزل فصلى ثم صعد المنبر، فخطبنا حتى حضرت العصر، ثم نزل فصلى ثم صعد المنبر فخطبنا حتى غربت الشمس، فأخبرنا بما كان، وبما هو كائن، فأعلمنا أحفظنا)) (٥)

④ څلورم دليل د حضرت ابوسعيد خدرى ﷺ حديث دې. ((صلى بنا رسول الله ﷺ يوماً صلاة العصر بنهار، ثم قام خطيباً، فلم يدع شيئاً يكون إلى قيام الساعة، إلا أخبرنا به، حفظه من حفظه ونسيه من نسيه)) (٦)

خو حقيقت دا دې چه ددې رواياتو او احاديثو نه ددې حضراتو پخپل باطل مسلك باندې استدلال كول. او كلى علم غيب ثابتول بالكل مردود دى خكه چه د حضرت حذيفه ﷺ حديث چه كله ددوى د نورو تفصيلى رواياتو په وړاندې كيخودې شى نو ددې حديث مطلب

---

(١) الرحمن :٣و ٤)_
(٢) تفسير البغوى(٢٦٦\٤) وتفسير البيضاوى مع حاشية الشيخ زاده (٤٢٧\٤) وغيره)-
(٣) صحيح مسلم (٣٩٠\١٢) كتاب الفتن وأشراط الساعة)-
(٤) صحيح البخارى (٤٥٣\١) كتاب بدء الخلق باب ما جاء فى قول الله تعالى ﴿هوالذى يبدو الخلق..﴾-
(٥) صحيح مسلم (٣٩٠\١٢) كتاب الفتن وأشراط الساعة)_
(٦) جامع الترمذى (٤٢\٢) وانظر المستدرك للحاكم (٥٠٥\٤) كتاب الفتن والملاحم)_

دا راوخي.چه نبی كريم ﷺ څه بيان فرمائيلی دی.هغه ټول د فتن، او اشراطو د قيامت، او د قيامت د علاماتو په باره کښې دی.د هرهر داسې څيز په باره کښې نه دي.دکوم تعلق چه ددوی د نبوت منصب سره هم نه وو

لکه چه حضرت حذيفه رضی الله عنه پخپله فرمائی.((والله ما ترك رسول الله ﷺ من قائد فتنة إلى أن تنقضى الدنيا يبلغ من معه ثلاث مائة فصاعداً، إلاّ قد سماه لنا باسمه واسم أبيه واسم قبيلته))[1]

دغه شان دوی فرمائی.((والله إنى لأعلم بكل فتنة هى كائنة فيما بينى وبين الساعة.....))[2]

هم ددوی نه منقول دی.((أخبرنى رسول الله ﷺ بما هو كائن إلى أن تقوم الساعة، فما منه شئ إلاّ قد سألته، إلاّ أنى لم أسأله ما يخرج أهل المدينة من المدينة))[3]

ددې رواياتو نه معلومه شوه.چه نبی کريم ﷺ پخپلو جوامع کلماتو کښې اګرچه ډير زيات واقعات بيان کړل.خو دا د فتن او د قيامت د اشراطو(علاماتو) په باره کښې وو

ترکومې پورې چه د حضرت عمر رضی الله عنه د روايت تعلق دې.نو دا هم په کلی علم غيب باندې نص قطعی نه دې.ځکه چه د حضرت عمر رضی الله عنه نه نقل دی.((أن رسول الله ﷺ قبض ولم يفسرها لنا))[4] يعنی رسول الله ﷺ ددنيا نه وفات شو.خو نبی کريم ﷺ د سود تفصيلات مونږ ته بنکاره بيان نکړل.

دغه شان په يو روايت کښې دی.((ثلاث لأن يكون النبى ﷺ بينهم لنا، أحب إلىّ من الدنيا و ما فيها، الخلافة، والكلالة، والربا))[5]

معلومه شوه.چه د حضرت عمر رضی الله عنه په حديث کښې جميع علم غيب. او په ټولو جزئياتو باندې اطلاع ورکول مقصود نه دی.بيا دلته دا خبره هم د غور قابله ده.که د الله تعالی په ټولو غيوبو او په جزئياتو دغيب باندې اطلاع ورکولو سره نبی اکرم ﷺ ته عالم الغيب ونيلې کيدې شی.نو بيا د نبی کريم ﷺ حضرات صحابه کرام رضی الله عنهم په وړاندې ددې ټولو امورو بيانولو سره ددې ټولو صحابه کرام رضی الله عنهم عالم الغيب کيدل هم لازميږی.بيا د نبی کريم ﷺ تخصيص ولې دې؟

ترکومې پورې چه د حضرت عمرو بن اخطب انصاری او د حضرت ابو سعيد خدری رضی الله عنهما د حديثونو تعلق دې.نو دا به هم فتنو سره متعلق ګرځولې شی لکه چه علامه بن خلدون رحمه الله ددې قسمه احاديثو نقل کولو نه پس ليکلی دی ((وهذه الأحاديث كلها محمولة على ما ثبت فى

---

[1] السنن لأبى داود (٢٢٦\٢) كتاب الفتن باب ذكر الفتن ودلائلها)۔
[2] صحيح مسلم (٣٩٠\٢) كتاب الفتن وأشراط الساعة)-
[3] المصدر السابق)-
[4] سنن ابن ماجه (ص.١٦٤) كتاب التجارات باب التغليظ فى الرباء)-
[5] المستدرک للحاكم(٣٠٤\٢) كتاب التفسير سورة النساء والمسند لأبى داود الطيالسى (ص.١٢)۔

الصحيحين من أحاديث الفتن والأشراط، لا غير لأنه المعهود من الشارع صلوات الله و سلامه عليه في أمثال هذه العمومات»(١)

ددې حضراتو يو استدلال د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه روايت نه دې.هغې كښې دي.«...فإذا أنا بربي تبارك و تعالى في أحسن صورة، فقال يا محمد! قلت لبيك رب، قال: فيم يختصم الملأ الأعلى؟ قلت، لا أدري قالها ثلاثاً، قال فرأيته وضع كفه بين كتفي حتى وجدت برد أنامله بين ثديي، فتجلى لي كل شئ وعرفت.....»(٢)

ددې حديث امام ترمذى رحمه الله پخپله هم تصحيح او تحسين كړې دې.او د امام بخارى رحمه الله نه هم تصحيح او تحسين نقل كړې دې. (٣)

خو ددې حديث نه استدلال په يو خو وجو سره مردود دې:① رومبې په دې وجه چه دلته امام ترمذى رحمه الله دامام بخارى رحمه الله نه ددې تصحيح او تحسين نقل كړې دې.حالانكه امام بخارى رحمه الله پخپله ددې حديث د يو راوى ..عبدالرحمن بن عائش الحضرمى..(٤) په باره كښې فرمائى.«له حديث واحد، إلا أنهم يضطربون فيه»(٥) او مضطرب حديث د محدثينو په نيز ضعيف وى.نو د امام بخارى رحمه الله تصحيح او تحسين او بيا ددوى دا حديث مضطرب كرخول دواړو خبرو كښې تعارض دې.او دا د تساقط تقاضه كوى.(٦) بيا اګرچه ددې حديث متعدد طرق دى.خو امام بيهقى رحمه الله فرمائى.«قد روى من طرق كلها ضعاف، وفي ثبوته نظر»(٧) نو د داسې مضطرب يا متكلم فيه حديث په ذريعه د اعتقاد په باب كښې استدلال صحيح نه دې.ځكه چه په باب د اعتقاد كښې د دلائلو قطعى كيدل ضرورى دى.

② دويم دا كه مونږ اومنو.چه دا حديث صحيح دې.بيا هم ددې نه علم د ماكان او مايكون اود علم غيب كلى ثبوت محال دې.ځكه چه په دې طريق كښې د ،،فتجلى لي كل شئ،، الفاظ

---

(١) مقدمة ابن خلدون (ص.٣٣٣) الفصل الثالث والخمسون في إبتداء الدول والأمم في الكلام على الملاحم والكشف عن مسمى الجفر)_

(٢) جامع ترمذى (١٥٩\٢) كتاب التفسير تفسيرسورة .ص. رقم ٣٢٣٥)-

(٣) المصدر السابق)-

(٤) عبدالرحمن بن عائش شامى مختلف فى صحبته إنظر الكاشف للذهبى(٦٣٢\١) وقال ابوحاتم الرازى هو تابعى وأخطا من قال له صحبة وقال ابوزرعة الرازى ليس بمعروف كذا فى تهذيب الكمال(٢٠٣\١٧)

(٥) تهذيب الكمال(٢٠٢\١٧) ترجمة عبدالرحمن بن عائش الحضرمى)-

(٦) اګرچه محدثينو رحمهم الله ددې حديث په طرقو كښې اضطراب ذكركړې دى.اوحضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه حديث ئې راجح كړې دې.(الإستيعاب (٤١٧\٢)) خو د اعتقاد په باب كښې داسې احاديث هرګز داحتجاج قابل نه وى.كوم چه په طريق آحاد مروى وى.اوبيا لاپاتې چه هغه كښې د اضطراب اختلاف هم موجود دې.

(٧) كتاب الأسماء والصفات للبيهقى(ص.٢٢٠)-

دی.حالانکه د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه په نقل شوی یو طریق کښې «فعلمت ما فی السموات و ما فی الأرض»[۱] الفاظ دی.او هم ددوی په نقل شوی دویم طریق کښې «فعلمت ما بین المشرق و المغرب»[۲]الفاظ وارد شوی دی.او په لفظ د ..کل.. او په لفظ د ..ما.. کښې یو لفظ هم د استغراق حقیقی دپاره نص قطعی نه دې..کما سبق.. لکه حضرت شاه ولی الله رحمه الله چه فرمائی.«إن استدل بقوله ﷺ: فتجلی لی کل شئ قلنا: هو بمنزلة قوله تعالی فی التوراة: ﴿ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ﴾ والأصل فی العمومات التخصیص بما یناسب المقام.....»[۳]والله اعلم.

دا حضرات د حضرت ابوذر رضی الله عنه حدیث هم د دلیل په طور پیش کوی.«لقد ترکنا رسول الله ﷺ وما یحرك طائر جناحیه فی السماء إلا ذکرلنا منه علماً»[۴] دا حدیث د حضرت ابوالدرداء رضی الله عنه نه هم نقل دې.[۵]

ددې حدیث نه هم ددوی پخپلې مدعا باندې استدلال باطل دې.ځکه چه په دې روایت کښې اجمال دې.تفصیلی روایت په معجم طبرانی کښې دې.«فقال النبی ﷺ ما بقی شئ یقرب من الجنة و یباعد من النار إلا وقد بین لکم»[۶] گویا چه په دې حدیث کښې چه کوم دا اوښودلی شو.چه په آسمان کښې کوم مارغان په هوا کښې حرکت کوی.د هغې علم هم نبی کریم ﷺ زمونږ په وړاندې بیان کړو.ددې نه مطلق علم یعنی بجمیع جزئیات احوال الطیر مراد نه دې.بلکه ددې نه مراد د مارغانو څه داسې حالات (مثلاً حرام او حلال سره متعلق) دی.چه په هغې باندې عمل کولو سره جنت حاصلیدې شی.او دجهنم نه لرې کیدې شی.

لکه علامه ابن الاثیر جزری رحمه الله ددې حدیث په تشریح کښې لیکلی دی. «یعنی أنه استوفی بیان الشریعة وما یحتاج إلیه فی الدین، حتی لم یبق مشکل، فضرب ذالك مثلاً، وقیل: أراد أنه لم یترك شیئاً إلا بینه حتی بین لهم أحکام الطیر وما یحل منه وما یحرم، وکیف ینحر، وما الذی یفدی منه المحرم إذا أصابه، وأشباه ذالك، ولم یرد أن فی الطیر علماً سوی ذالك علمهم إیاه، أو رخص لهم أن یتعاطوا زجر الطیر کما کان یفعله أهل الجاهلیة»[۷]

---

[۱]) جامع ترمذی (۱۵۹\۲) رقم (۳۲۳۳)-
[۲]) جامع الترمذی (۱۵۹\۲) رقم ۳۲۳٤)_
[۳]) التفهیمات الإلهیة (۱\۲٤، ۲۵)-
[٤]) رواه أحمد والطبرانی کذا فی مجمع الزوائد (ج۸\۲۶۳) کتاب علامات النبوة باب فیما أوتی من العلم
[۵]) رواه الطبرانی کما فی مجمع الزوائد (۸\۲۶٤)
[۶]) مجمع الزوائد (۸\۲۶۳، ۲۶٤)-
[۷]) النهایة لابن الأثیر (۳\۱۵۰) مادة طیر وانظر مجمع بحارالأنوار(۳\٤۷۹)_

ددې عبارت نه ښکاره معلومه شوه.چه د مارغانو سره متعلق نبی کریم ﷺ هغه احکام بیان اوفرمائیل. کوم چه حلال او حرام وغیره احکامو سره تعلق ساتی.او د کومو چه په شریعت کښې بیان کول ضروری دې.ښکاره ده چه دا شرعی احکام د رسالت د منصب عین مطابق دی.والله اعلم.

ددې مستدلاتو نه علاوه یو څو نور دلیلونه هم دا حضرات پیش کوی.خو حقیقت دا دې.چه په دې کښې یو دلیل هم یا خو پخپله مدعی باندې منطق نه دې.او یا صحیح نه دې.

داهل السنت والجماعت دلیلونه وړاندې مونږ د اهل السنة والجماعة مسلك ذکر کړې دې.اوس دلته اختصار سره څه دلیلونه ذکرکولې شی.چه دې سره به ثابته شی.چه علم غیب الله تعالی سره خاص دې.په دې صفت کښې دده سره هیڅ څوك شریك نه دې. د الله تعالی ارشاد دې.① ﴿وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَیْبِ لَا یَعْلَمُهَاۤ اِلَّا هُوَ﴾[1] ② ﴿اِنَّمَا الْغَیْبُ لِلّٰهِ﴾[2] ③ ﴿وَلَاۤ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِیْ خَزَآىِٕنُ اللّٰهِ وَلَاۤ اَعْلَمُ الْغَیْبَ﴾[3] ④ ﴿وَلِلّٰهِ غَیْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾[4] ⑤ ﴿قُلْ لَّا یَعْلَمُ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَیْبَ اِلَّا اللّٰهُ﴾[5] ⑥ ﴿اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَیْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ﴾[6] ⑦ ﴿عٰلِمُ الْغَیْبِ فَلَا یُظْهِرُ عَلٰی غَیْبِهٖۤ اَحَدًا اِلَّا مَنِ ارْتَضٰی مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ یَسْلُكُ مِنْۢ بَیْنِ یَدَیْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا﴾[7]

ددې نه علاوه ډیر احادیث په دې باندې دلالت کوی.چه الله تعالی عالم الغیب دې.نبی کریم ﷺ ته کلی علم غیب حاصل نه وو.① د حدیث باب جملې «مال المسئول عنها بأعلم من السائل» او «فی خمس لا یعلمهن إلا الله» صفا دلالت کوی.چه نبی کریم ﷺ عالم الغیب نه دې.ډیر داسې خیزونه شته.چه دهغې علم سوا د الله تعالی نه هیڅ چاته نشته.② د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دې:«سمعت النبی ﷺ یقول قبل أن یموت بشهر: تسألونی عن الساعة وإنما علمها عند الله»[8]

③ دحضرت حذیفه رضی الله عنه نه نقل دی:«سئل رسول الله ﷺ عن الساعة قال: علمها عند ربی لا یجلیها لوقتها إلا هو....»[9]هم دا مفهوم د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه هم نقل دې.[10]

---

[1] الأنعام:۵۹)_
[2] یونس:۲۰)-
[3] هود :۳۱)-
[4] هود :۱۲۳)-
[5] النمل:۶۵)-
[6] فاطر:۳۸)-
[7] الجن:۲۶، ۲۷)_
[8] صحیح مسلم (۳۱۰۱۲) کتاب الفضائل باب بیان معنی قوله ﷺ علی رأس مائة سنة لا یبقی نفس منفوسة ممن هو موجود الآن)_
[9] مسندأحمد(۳۸۹۱۵)_
[10] أخرجه الطبرانی وابن مردویه کذا فی الدر المنثور(۱۵۰۱۳)-

④ حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ نه د اسراء او معراج واقعه ذکرکولو کښې د حضرت عیسی علیه السلام قول نقل کوی «أما وجبتها فلا يعلمها أحد إلا الله..»(١)

⑤ په مقام حنین باندې د هوازن قبیلې قیدیانو ازادولو دپاره نبی کریم ﷺ خطبه ورکړې وه. او فرمائیلی ئې وو چه د هوازن قبیلې د قیدیانو آزادولو ته سفارش کوم. او پخپله هم د ټولو نه وړاندې اعلان کوم. چه د بنوهاشم په حصه کښې کوم قیدیان راغلی دی. زه دا هغوی ته حواله کوم نو په تاسو کښې چه کوم خلق د معاوضې نه بغیر پخپله خوښه داسې کولې شی. نو غوره ده ګنی زمونږ وعده ده. چه په ړومبی موقعه باندې به دوی ته ددې بدله ورکړې شی. هم دغه وخت د مجمعې نه آواز پورته شو. چه مونږ پخپله خوښه آزادولو ته تیار یو. چونکه دا اواز د عام مجمعې وو. او په دې طریقه معین طور باندې د هر سړی مرضی معلومیدې نشوه. په دې وجه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل. «إنى لا أدرى من أذن منكم ممن لم يأذن، فارجعوا حتى يرفع إلينا عرفاؤكم أمركم......»(٢)

ددې نه صفا معلومه شوه. چه نبی کریم ﷺ ته علم غیب کلی حاصل نه وو. ګنی د صحابه کرامو رضی الله عنهم د زړه خبره به دوی ته ضرور معلومه شوې وه. د یو یوکس د تحقیق کولو ضرورت به ئې نه محسوسولو.

⑥ د حضرت جابر رضی الله عنه د حجة الوداع واقعه رانقل ده. په هغې کښې دنبی کریم ﷺ قول نقل کوی. «لتأخذ أمتى منسكها فإنى لا أدرى لعلى لا ألقاهم بعد عامهم هذا»(٣)

⑦ دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل دې. «إنى وجدت تمرة ساقطة فأكلتها، ثم تذكرت تمرا كان عندنا من تمر الصدقة، فلا أدرى أمن ذالك كانت التمرة أو من تمر أهلى»(٤)

⑧ د حضرت عائشه رضی الله عنها نه نقل دی. چه کله نبی کریم ﷺ د غزوه خندق نه فارغ شو. نو اسلحه ئې پرانستله. او دوی ﷺ غسل اوفرمائیلو. حضرت جبرئیل علیه السلام راغې. اوې وئیل چه تاسو اسلحه پرانستله. حالانکه مونږه (فرښتو) تر اوسه پورې نه ده پرانستې. «أخرج إليهم، قال: فإلى أين؟ قال: ههنا، وأشار إلى بنى قريظة»(٥)

که نبی کریم ﷺ ته د جمیع ماکان و ما یکون علم وې. نو آیا نبی کریم ﷺ ته به دا معلومه نه وه. چه د غزوهٔ خندق نه د فارغ کیدو نه فوراً پس بنی قریظه طرف ته تلل دی؟ بیا نبی

---

(١) مسند أحمد (١\٣٧٥) ومستدرک للحاکم (٤\٤٨٨) کتاب الفتن والملاحم مذاکرة الأنبياء فى أمر الساعة)
(٢) صحيح البخارى (١\٤٤٢) کتاب الجهاد باب إذا بعث الإمام رسولا فى حاجة)_
(٣) مسند أحمد (٣\٣٣٢)-
(٤) المستدرک للحاکم (٢\١٤) کتاب البيوع)-
(٥) صحيح البخارى (٢\٥٩٠) کتاب المغازى باب مرجع النبى ﷺ من الأحزاب ومخرجه إلى بنى قريظة ومحاصرته إياهم وصحيح مسلم (٢\٩٥) کتاب الجهاد والسير باب جواز قتال من نقض العهد)_

كريم ﷺ اسلحه ولې لرې كړله.چه حضرت جبرئيل ﷺ ورته اووئيل.او بيا ددې باوجود دوى ﷺ ته دا علم نه وو.چه كوم طرف ته تلل دى.تردې چه سوال ئې اوكړو.او ددې علم ئې حاصل كړو.

⑨ هم ددې غزوهٔ بنى قريظه په موقعه.باندې كله چه ددوى په باره كښې فيصله اوشوه.چه ښځې او ماشومان ګرفتار كړې شى.او جنګيدونكى سړى دې قتل كړې شى.نو په دې قيديانو كښې حضرت عطيه القرظى ﷺ هم وو.ددوى په باره كښې شك شو.چه بالغ شوې دې اوكه نه؟ په دې باندې نبى كريم ﷺ حكم وركړې وو.چه دده د نامه نه لاندې ويخته اوګورئ.او د بلوغ يا د عدم بلوغ فيصله اوكړئ.نو د كتلو نه پس چه كله ثابته شوه.چه دې نابالغ دې.نو دې په قيديانو كښې شامل كړې شو.(١)

كه نبى كريم ﷺ ته د ټولو جزئياتو او كلياتو غيب علم حاصل وو.نو بيا ددې كاروايۍ ضرورت ولې پيدا شوې وو؟

⑩ نبى كريم ﷺ چه كله خيبر فتح كړې وو.نو يوې يهودى ښځې دعوت اوكړو.او هغې د چيلۍ په غوښه كښې زهر ګډ كړى وو.نبى كريم ﷺ چه كله ړومبۍ نمړۍ واخستله.نو معلومه شوه.بلكه د غوښې ټكړې اووئيل.چه ما مه خوره.ما كښې زهر دى.په دې واقعه كښې حضرت بشر بن براء بن معرور ﷺ جوړشو.په نبى كريم ﷺ باندې اګرچه ددې فورى اثر اونشو.خو په آخرى عمر كښې ددې اثر ښكاره شو.(٢)كه نبى كريم ﷺ ته د ماكان وما يكون علم وې.نو نبى كريم ﷺ زهر ولې خوړل؟ او نور صحابه كرام ﷺ ئې خوراك ته ولې پريخودل؟

⑪ په يوه غزوه كښې د حضرت عائشې ﷺ هار اورك شوې وو.نبى كريم ﷺ او ددوى سره صحابه كرام ﷺ ددې د تلاش دپاره ايسار شو.په دې دوران كښې خلق ډير زيات پريشانه شو.ځكه چه دوى سره اوبه هم نه وې.او نه دا خلق اوبو ته نزدې وو.په آخر كښې د ډير زيات تلاش نه پس كله چه د هار ملاويدو نه نا اميده شو.او دا خلق لاړل.نو سوزلۍ ئې اوچته كړله.هم ددې لاندې دا هار پروت وو.(٣)

كه نبى كريم ﷺ ته د جميع ما كان وما يكون علم وې.نو دومره پريشانى به ولې پيدا كيده؟ دوى ﷺ به پخپله هار تلاش كولو دپاره ولې قيام كولو؟ او نور خلق به قيام دپاره ولې مجبوره كيدل؟ دوى د وړاندې نه ولې اونه فرمائيل.چه هار خو د اوښ لاندې پروت دې.دا راوچت كړئ؟

⑫ په حديث كښې راځى.چه د قيامت په ورځ كله بعضې خلق جهنم طرف ته بوتلې شى.دغه وخت به نبى كريم ﷺ فرمائى.چه اې زما پروردګارا دا زما ملګرى دى.الله تعالى به

---

(١) المستدرك للحاكم (١٢٣/٢) كتاب الجهاد)-
(٢) سنن أبي داود (٢٦٤/٢) كتاب الديات باب فيمن سقى رجلاً سماً أو أطعمه فمات أيقاد منه)_
(٣) صحيح البخاري(٤٨/١) كتاب التيمم باب قول الله عزوجل فلم تجدوا ماء فتيمموا)_

جواب ورکوی.((لاعلم لك بما أحدثوا بعدك))(۱)معلومه شوه.چه نبی کریم ﷺ ته د جمیع ما کان وما یکون علم نه دې ورکړې شوې.

دا یو څو حدیثونه دلته پیش کړې شوی دی.حالانکه په دې موضوع باندې ددې نه علاوه نور هم ډیر احادیث شته.چه د هغې نه دجمیع ما کان وما یکون علم نفی کیږی.

یو اهم تنبیه دلته یوه اهمه خبره د یاد ساتلو دا ده.چه نصوص قطعیه مثلاً په ﴿وَلَآ اَعْلَمُ الْغَیْبَ﴾ وغیره آیتونو کښې چونکه صراحت سره د علم غیب نفی ذکر ده.په دې وجه داسې موقعه باندې منحرف خلق د ذاتی او عطائی بې خایه تاویل کوی.او وائی.چه کوم ځائې کښې د نبی کریم ﷺ د ذات نه د علم غیب نفی راغلې ده.د هغې نه د ذاتی علم نفی مراد ده.دوی ته چه کوم د.ماکان وما یکون علم حاصل وو.هغه عطائی وو.ذاتی نه وو.او ددې نفی نه ده.

خو ددې خلقو دا وینا بې خایه او باطل ده:① رومبې په دې وجه چه وړاندې اشاره تیره شوې ده.چه هغه علم غیب کوم سره چه الله تعالی منفرد دې.هغه دا دې.((ما لایقع تحت الحواس، ولا تقتضیه بداهة العقل، ولم ینصب علیه دلیل))حالانکه مخلوقاتو ته چه څومره علم هم د الله تعالی د طرفه عطاء کیږی.هغې باندې هډو د ،،غیب،،تعریف نه صادقیږی.دچا په ښودلو او خبر ورکولو سره چه کوم علم حاصلیږی.هغې ته خو،،اخبار الغیب،، او ،،انباءالغیب،، وئیلې شی.خو علم غیب نشی وئیلې کیدې.په دواړو کښې ډیر زیات فرق دې.(۲)،،والله سبحانه وتعالی أعلم وعلمه أتم وأحکم،،

قوله: ثُمَّ أَدْبَرَ فَقَالَ رُدُّوهُ فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا فَقَالَ هَذَا جِبْرِيلُ: بیا دې سړی شا اوګرځوله.او لاړو.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.دې واپس راولئ:نو صحابوﷺ هلته هیڅ څوك اونه موندل.بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.دا جبرئیلؑ وو.

د ابوعامر په طریق کښې دا الفاظ دی.((ثم ولی فلما لم نر طریقه قال النبی ﷺ سبحان الله، هذا جبریل جاء لیعلم الناس دینهم، والذی نفس محمد بیده، ما جاءنی قط إلا وأنا أعرفه، إلا أن تکون هذه المرة))(۳)

د سلیمان تیمی په روایت کښې دی.((ثم نهض فولی فقال رسول الله ﷺ علی بالرجل، فطلبناه کل مطلب، فلم نقدر علیه، فقال: هل تدرون من هذا؟ هذا جبریل أتاکم لیعلمکم دینکم، خذوا عنه، والذی

---

(۱) صحیح البخاری (۹۷٤/۲) کتاب الحوض باب قول الله تعالی:(إنا أعطینک الکوثر)-

(۲) دعلم غیب دمکمل بحث دپاره اوګورئ ((بوارق الغیب)) مصنفه حضرت مولانا محمد منظورنعمانی او ((إزالة الریب عن عقیدة علم الغیب)) مصنفه محقق فاضل حضرت مولانا سرفراز خان صاحب صفدر مدظلهم مونږ په خپل دې بحث کښې د موخر الذکر کتاب نه استفاده کړې ده..

(۳) فتح الباری(۱۲٤/۱)_

نفس بيده، ماشبه على منذ أتانى قبل مرتى هذه، وما عرفته حتى ولى»(١)

ابن حبان رحمه الله فرمائى چه د ،، هذا عنه،، په جمله كښې سليمان تيمى منفرد دې.(٢)حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه ددوى تفرد مضر نه دې.ځكه چه دوى د ثقات اثبات ځنې دې.ددې نه علاوه ددوى تفرد صرف د ،،هذا عنه،، په تصريح كښې دې.ګنى هم دې طرف ته اشاره په دويم طريق كښې «جاء ليعلم الناس دينهم» كښې موجود ده.(٣)

ددې رواياتو نه معلوميږى.چه نبى كريم ﷺ صحابه كرامو رضي الله عنهم ته د حضرت جبرئيل عليه السلام په باره كښې هغه وخت خبر وركړو.كله چه هغوى جبرئيل عليه السلام تلاش كولو كښې ناكامه شول.

حالانكه د.كهمس په روايت كښې د حضرت عمر رضي الله عنه نه منقول دى.«قال عمر: فلبثت مليا، ثم قال: يا عمر، أتدرى من السائل؟ قلت: الله ورسوله أعلم، قال: فإنه جبريل»(٤)

ددې نه معلوميږى.چه نبى كريم ﷺ د حضرت جبرئيل عليه السلام په باره كښې روستو په يو مجلس كښې وئيلى وو.

بعضې شارحينو په دې دواړو كښې تطبيق په دې طريقه كړې دې.چه د ،،فلبثت مليا،، معنى ده. ،،فلبثت زمانا بعد انصرافه،، ګويا د حضرت جبرئيل عليه السلام د تللو نه لږ وخت پس ئې خبر وركړې دې.اودا خبر په بل يو مجلس كښې نه دې.هم په دې مجلس كښې ئې وركړې دې.(٥)

خو په دې تطبيق باندې دا اشكال دې.چه دنسائى او ترمذى په روايت كښې د ،،مليا،، په ځائې د ثلاثا تصريح ده.(٦) نو په دې صورت كښې دمجلس داتحاد قول صحيح نشى كيدې.

ددې اشكال لرې كولو دپاره بعضو حضراتو وئيلى دى.چه د ،،ثلاثا،، لفظ مصحف دې.په اصل كښې ،،مليا،،وو.چه دا د،،ثلثا،،(د لام نه پس الف نه بغير) مشابه كيدو په وجه چ ،،ثلاثا،، روايت كړو.(٧)

خو د تصحيف دعوه صحيح نه ده.ځكه چه د ابوعوانه په روايت كښې د «فلبثنا ليالى، فلقيني رسول الله ﷺ بعد ثلاث» الفاظ دى.(٨)

---

(١) الإحسان بترتيب صحيح ابن حبّان (٣٤٢\١١) رقم ١٧٣)-
(٢) الإحسان (٣٤٣\١١)-
(٣) فتح البارى(١٢٤\١١)_
(٤) صحيح مسلم (٢٧\١١) فاتحة كتاب الإيمان)-
(٥) فتح البارى(١٢٤\١١)-
(٦) سنن نسائى (٢٦٥\١٢) كتاب الإيمان وشرائعه باب نعت الإسلام وجامع الترمذى كتاب الإيمان باب ما جاء في وصف جبرئيل للنبى ﷺ الإيمان والإسلام رقم ٢٦١٠ وفيه ..فلقينى النبى ﷺ بعد ذلک بثلاث)_
(٧) نقله الحافظ فى الفتح (١٢٤\١١)-
(٨) فتح البارى(١٢٤\١١. ١٢٥)_

د ابن حبانؒ په روایت کښې د ،،بعد ثالثة،، لفظ دي.(١)او د ابن منده په روایت کښې ،،بعد ثلاثة أيام،، الفاظ دی.(٢)نو د ضعیف قول ددې روایاتو په لحاظ سره باطلیږی.
امام نوویؒ په دواړو خبرو کښې په دې طریقه تطبیق کړې دې چه نبی کریمﷺ کوم وخت دا اوفرمائیل چه ..دا جبرئیلؑ وو.چه دې خلقو ته د دین ښودلو دپاره راغلې وو.. دغه وخت نور خلق خو دهغه د تلاش نه پس راغلی وو. حضرت عمرؓ ددې مجلس نه د حضرت جبرئیلؑ د تلاش کولو. یا د خپل څه کار دپاره پاسیدلې وو نو دې وخته پورې واپس نه وو راغلې.بیا درې ورځې پس حضرت عمرؓ ته دوی هم دا خبره دوباره اوښودله. ددې دریو ورځو په دوران کښې د حضرت عمرؓ ملاقات نبی کریمﷺ سره نه وو شوې.(٣) لکه هغه فرمائی چه«فلقيني رسول اللهﷺ بعد ثلاث»(٤) دغه شان یوه قرینه دا هم ده.چه دلته نبی کریمﷺ حضرت عمرؓ ته خاص خطاب کړې وو.او فرمائیلی ئې وو. «فقال لي يا عمر! أتدري من السائل»(٥) د تطبیق دا صورت ټولو کښې بهتر دې.(٦)
فائده ددې حدیث مختلف طرقو نه (لکه څنګه چه وړاندې مونږ ذکر هم کړل) معلومیږی.چه حضرت جبرئیلؑ د یو ښائسته سړی په شکل کښې راغلې وو.خو دا شکل ټولو دپاره اجنبی وو.چا هم دا سړې نه پیژندلو.خو د نسائی په یو روایت کښې راغلی دی.«وإنه لجبريل نزل في صورة دحية الكلبي»(٧)د دې نه ښکاره معلومه شوه.چه هغه د حضرت دحیه کلبیؓ په شکل کښې راغلې وو.
د حدیث عالمانو دنسائی دا روایت ..وهم.. ګرځولې دې.(٨) څکه چه حضرت دحیهؓ مشهور وو.هغه ټولو پیژندلو.حالانکه حضرت عمرؓ دلته فرمائی. ،،لايعرفه منا أحد،،(٩)
بعضو حضراتو د نسائی روایت صحیح ګرځولو دپاره دا تاویل کړې دې.چه چونکه حضرت دحیهؓ د مخکښې نه په مجلس کښې موجود وو.هم په دې مجلس کښې چه کله ددوی یو هم شکل حاضر شو.نو ټولو ته ددې خبرې یقین اوشو.چه دا حضرت دحیه نه دې.نو د حضرت عمرؓ دا فرمان هم صحیح شو.چه ،،لايعرفه منا أحد،،۔

---

(١) الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان(١١/٣٣٦) رقم ١٦٨)-
(٢) فتح الباری(١٢٥/١)-
(٣) شرح النووی علی صحيح مسلم (٢٨/١)-
(٤) كما عند الترمذی وأبی عوانة)-
(٥) صحيح مسلم (٢٧/١)-
(٦) فتح الباری(١٢٥/١)-
(٧) سنن النسائی (٢٦٦/٢) كتاب الإيمان وشرائعه باب صفة الإيمان والإسلام)۔
(٨) فتح الباری(١٢٥/١)-
(٩) صحيح مسلم (٢٧/١)-

خو دا تاويل صحيح نه دې.ددې وجه ښکاره ده.چه هرکله دوی ته دا يقين دې. چه دا حضرت دحيه نه دې.او هم ددوی په شکل کښې حضرت جبرئيل امين تشريف راوړی.نو يقينی طور به ددوی ذهن دې خبرې طرف ته منتقل کيدو.چه دا حضرت جبرئيل ﷺ دی.دې عام طور باندې د حضرت دحيه په شکل کښې راخی.اوس هم ددوی په شکل کښې راغلې دې.په داسې صورت کښې به د حضرت عمر رضی الله عنه دا فرمان څنګه صحيح وی.چه ،،لايعرفه منا أحد،،؟ حالانکه په موجوده صورت کښې ټولو دپاره دده پيژندل لازميږی.حالانکه واقعه دا ده.چه يواځې دا نه چه چا دې او نه پيژندلو.بلکه نبی کريم ﷺ هم هغه اونه پيژوندلو.د هغوی د تلو نه پس نبی کريم ﷺ پوهه شو.او بيا صحابه کرام رضی الله عنهم خبر شو.نو د نسائی روايت ،، وإنه لجبريل نزل فى صورة دحية الكلبى،، د صحيح منلو په صورت کښې ددې د حضرت عمر رضی الله عنه حديث ،،لايعرفه منا أحد،،سره تعارض لازميږی.

علامه سندهی رحمه الله فرمائی.چه ددې روايت د..وهم.. ګرځولو هيڅ ضرورت نشته.د حضرت جبرئيل ﷺ د حضرت دحيه کلبی په صورت او شکل کښې راتلو سره دا څنګه لازميږی.چه هغوی ته دوی سره په څه څيز کښې امتياز هم نه وو. خصوصاً خارجی قرائنو سره، بلکه عين ممکن ده.چه داخلی خفيه قرائنو سره دوی ته يقين شوې وی.چه دا دحيه نه دې.(١)

خو تقريباً د ټولو رواياتو او طرق نه ښکاره دا معلوميږی.چه دا جمله ،،نزل فى صورة دحية الكلبى،، د نسائی په روايت کښې ،،وهم،، دې.ځکه چه دا د باقی ټولو رواياتو او طرقو مخالف دې.ددې نه علاوه محمد بن نصر مروزی رحمه الله پخپل ،،کتاب الايمان،، کښې د نسائی په طريق سره روايت نقل کړې دې.او دهغې په آخر کښې دی.،،فإنه جبريل جاء ليعلمكم دينكم،،(٢) حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی. چه هم دا روايت ،،محفوظ،، دې.ځکه چه باقی رواياتو سره موافق دې.(٣) والله اعلم.

قوله: جَاءَ يُعَلِّمُ النَّاسَ دِينَهُمْ: دا (حضرت جبرئيل ﷺ) خلقو ته ددوی د دين ښودلو دپاره راغلې وو.

حضرت جبرئيل ﷺ راغې.اوددين متعلق سوالونه ئې اوکړل.نبی کريم ﷺ جوابونه ورکړل.د حضرت جبرئيل ﷺ سوالونو ته نبی کريم ﷺ د دين تعليم اووئيل. معلومه شوه.چه ښه سوال علم دې.لکه نقل دی.چه ((حسن السؤال نصف العلم))(٤) چه ښه سوال نصف علم دې.دا هم

---

(١) حاشية السندي على سنن النسائى (٢٦٦\١٢)-
(٢) فتح البارى(١٢٥\١١)-
(٣) المصدرالسابق)-
(٤) علامه عجلونی رحمه الله ددې روايت ډيرشواهد ذکرکړې دی.اوپه آخرکښې ليکی.(فهذه الشواهد تقتضى حسن الحديث كشف الخفاء..اوګورئ: (١٥٨\١١، ١٥٩) رقم ٤٧٦)-

ونيلې شي.چه د جبرئيل امين د سوالونو په جواب كښې نبى كريم ﷺ علوم بيان كړل.نو د سوال كولو په وجه هغه د علوم بيانولو سبب جوړ شوې دې.په دې وجه مجازاً هغه طرف ته د تعليم نسبت شوى دې.

قوله: أَبُوعَبْدِاللّٰهِ جَعَلَ ذٰلِكَ كُلَّهُ مِنْ الْإِيمَانِ :ابوعبدالله (يعنى امام بخارى رحمه الله) فرمائى.چه نبى كريم ﷺ دې ټولو ته ايمان ونيلې دې.

د امام بخارى رحمه الله ددې قول مطلب دا دې.چه د نبى كريم ﷺ نه حضرت جبرئيل عليه السلام د ايمان. اسلام. احسان او دعلم الساعة متعلق سوال اوكړو.نبى كريم ﷺ د ټولو جوابات وركړل.او د قيامت علامات او اشراط ئې اوښودل.او بيا ئې اوفرمائيل. ((هذا جبريل جاء يعلم الناس دينهم)) نبى كريم ﷺ ټولو دين اوګرځول.او ،،دين،، او ،،اسلام،، يو دې.ځكه ارشاد دې.چه ﴿إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ﴾ (١) او ﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ.....﴾ (٢) او بيا ،،اسلام،، او ،،ايمان،، هم يو دې.ځكه چه په حديث د جبرئيل عليه السلام كښې كوم څيزونه داسلام تفصيل ګرځولى شوى دى.بعينه هم دا امور په حديث د وفد عبدالقيس كښې د ايمان شرح ښودلى شوې ده.نومعلومه شوه.چه ټول په ايمان كښې داخل دى.،،والله أعلم بالصواب،،_

باب(بلا ترجمه)

دلته د كريمه او ابوالوقت په روايتونو كښې صرف لفظ د ،،باب،، دې.او دې سره هيڅ ترجمه نشته.حالانكه د ابوذر او اصيلى وغيره رواياتو كښې د سره د ،،باب،، لفظ هم نشته.(٣)

امام نووى رحمه الله رومبئ نسخه يعنى د ،،باب،،نسخه راجح ګرځولې ده.ددې وجه دا ده.كه چرې دلته لفظ ،،باب،، نه وې.نو د حديث هرقل دا ټكړه به د تير شوى باب، باب سؤال جبريل.....،،لاندې وى.حالانكه ددې ټكړې دغه ترجمې سره هيڅ تعلق نشته.(٤)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى. چه دلته كه د ،،باب،،لفظ مذكور اونه منلې شى.بيا خو د تعلق او مناسبت كيدل ضرورى دى.اوكه د ،،باب،، لفظ مذكور اونه منلې شى.بيا هم تعلق ضرورى دې.ځكه چه په دې صورت كښې به دا ،،بلا ترجمه باب،، د تيرشوى باب د فصل پشان وى.او په دې كښې مناسبت وى.(٥)

---

١) آل عمران:١٩)_
٢) آل عمران :٨٥)-
٣) فتح البارى(١٢٥١١) وعمدة القارى(٢٩٤١١)-
٤) المصادرالسابقة)-
٥) فتح البارى(١٢٥١١)-

د باب بلا ترجمه ډیر توجیهات کولې شی ددې تفصیل مونږ په مقدمة الکتاب کښې (۱)او ددې جلد په شروع کښې د ،،باب علامة الإیمان حب الأنصار،، نه پس چه امام بخاری رحمه الله کوم ،،باب بلاترجمه،، منعقد کړې دې دهغې لاندې بیان کړې شوې دې ،،فارجع إلیه إن شئت،،

علامه کرمانی رحمه الله فرمانی چه په حدیث باب او تیره شوې ترجمه کښې مناسبت موجود دې په دې طریقه چه په ترجمه کښې ..ایمان.. لره ..دین.. ګرځول مقصود وو لکه چه په حدیث دجبرئیل علیه السلام کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم په ایمان. اسلام او احسان باندې د ..دین.. اطلاق کړې دې او په حدیث د هرقل کښې هرقل په دین باندې د ایمان اطلاق کړې دې او هغه وئیلی وو ((سألتك هل یرتد أحد سخطة لدینه بعد أن یدخل فیه؟ فزعمت أن لا، وکذالك الإیمان حین تخالط بشاشته القلوب لایسخطه أحد)) معلومه شوه چه ..دین..او ..ایمان..یو دې.(۲)

دلته اشکال کیږی چه دا د هرقل مقوله ده.ددې نه استدلال څنګه صحیح کیدې شی؟

امام نووی رحمه الله ددې دا جواب ورکړې دې چه د صحابه کرامو رضی الله عنهم په مینځ کښې دا حدیث متداول (او مسلسل) پاتې شوې دې.او هغوی پخپل مینځ کښې د هرقل دا کلام نقل کړې دې.په دې باندې هغوی هیڅ اعتراض نه دې کړې.ددې نه معلومه شوه چه د صحابو رضی الله عنهم په مینځ کښې صورت حال هم دا وو.چه دین او ایمان یو دې.ګنی که دا څیز اشکال وې نو هغوی به ضرور اعتراض وو.چه دده په دین باندې د ایمان اطلاق کول صحیح نه دی.(۳)

علامه کرمانی رحمه الله یو جواب دا ورکړې دې.چه اصل کښې هرقل د اهل کتابو څخه وو او هغه د آسمانی کتابونو عالم وو.د هغوی په شریعت کښې ..ایمان.. او ..دین.. یو دی.ښکاره هم دا ده.چه هغه څه وئیلی وو.د آسمانی کتابونو په اتباع کښې ئې وئیلی وو او ،،شرع من قبلنا،، که بغیر دځه نکیر نه زمونږ په شریعت کښې وارده وی.نوحجت دې.(۴)

علامه کرمانی رحمه الله دویم جواب دا ورکړې دې.چه د هرقل په ایمان کښې اختلاف دې یعنی که دده اسلام ثابت شی نو دده قول به حجت وی.(۵)

خو دا جواب صحیح نه دې.ځکه چه اول خو د هرقل اسلام ثابت نه دې.لکه څنګه چه مونږه وړاندې ذکرکړې دی.(۶) اوکه بالفرض دده اسلام ثابت هم شی نوهغه به زیات نه زیات تابعی وی.او د تابعی قول حجت نه دې

علامه کرمانی رحمه الله یو دریم جواب دا ورکړې دې.چه دا څه د امرشرعی بیان نه دې.بلکه د

(۱) کشف الباری(۱۷۷/۱، ۱۷۹)-
(۲) شرح الکرمانی(۲۰/۱)-
(۳) شرح الکرمانی(۲۰/۱)-
(۴) المصدرالسابق)-
(۵) المصدرالسابق)-
(۶) کشف الباری(۵۱۷/۱، ۵۱۸)_

محاورې خبره ده.او ددوی محاوره په صحيح معتبر عرف باندې مبنی ده.نو ددې نه استدلال صحيح دې.(١)

خودا هم څه ضروری نه ده چه کوم څيز په محاوره کښې مستعمل وی.هغه من وعن (هم دغه شان) په شريعت کښې هم معتبر وی.نو د امام نووی رحمه الله جواب او د علامه کرمانی رومبی جواب صحيح دې.

د حضرت شيخ الهند رحمه الله تقرير حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائی ① ممکن ده چه دا باب د تيرشوی باب نه د فصل په مرتبه کښې وی.او په دواړو کښې مناسبت دا وی.چه د ..باب بلا ترجمه.. لاندې کوم د هرقل حديث مذکور دې.په هغې کښې دوو ځايونو کښې ،،وكذالك الإيمان،، ذکر دې.لکه ده اوونيل.«**سألتك هل يزيدون أم ينقصون، فزعمت أنهم يزيدون، وكذالك الإيمان حتى يتم، و سألتك هل يرتدّ أحد سخطة لدينه بعد أن يدخل فيه، فزعمت أن لا، وكذالك الإيمان حين تخالط بشاشته القلوب، لايسخطه أحد**» په دې کښې رومبی مقام باندې ..ايمان.. د ..دين.. په معنی کښې دې.او په دويم مقام باندې د ..تصديق قلبی.. په معنی کښې استعمال شوې دې.ګويا چه په تير شوی باب کښې امام بخاری رحمه الله کومه خبره په حديث د جبرئيل سره ثابته کړې وه. هم هغه دلته کښې د هرقل د قول نه ثابتيږی.(٢)

② دا هم ممکن ده.چه نزدې کوم ،،**باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله**،، تير شوې دې.د هغه باب په ذريعه امام بخاری رحمه الله تنبيه ورکړې ده.چه د نفاق او حبط اعمال نه ويريدل پکار دی.او دا چه د ايمان په سلسله کښې خپل ځان مامون ګڼړل. د نفاق د علاماتو څخه دی.اوس په دې باب سره امام بخاری رحمه الله تسلی ورکول غواړی.او اشارة وائی.چه د نفاق وغيره خطره هر سړی دپاره نه وی.دچا په زړه کښې چه ايمان ښه مضبوط شی.د هغه په زړه کښې ايمان ښه خور شی.هغه د ايمان د دائرې نه نه خارجيږی.او د الله تعالی په حکم هغه د ارتداد نه محفوظ کيږی.

خو امام بخاری رحمه الله احتياط کړې دې.او د ذريعې بندولو دپاره ئې ددې تصريح نه ده کړې.بلکه اشاره باندې ئې اکتفاء کړې ده.(٣)

③ دا هم ممکن ده.چه دلته د ..باب.. بلا ترجمه راوړلو مقصد تشحيذ اذهان وی .يعنی تمرين دپاره ئې ترجمه حذف کړې وی.نو ممکن ده.چونکه دلته د ايمان بشاشت (او تر وتازګی) پيداکيدو باندې د ايمان قائم او دائم اوسيدو بشارت او تسلی مقصود ده.په دې وجه جديد ترجمه قائمولې شی.،،**باب قوله تعالى** ﴿**فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ أَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْإِسْلَامِ**﴾ يا

---

(١) شرح الكرمانی(١/٢٠١١)_

(٢) الأبواب والتراجم لصحيح البخاری لشيخ الحديث محمد زکريا الکاندهلوی رحمه الله (ص٣٩٠)_

(٣) المصدر السابق)-

باب قول الله تعالى ﴿وَمَنْ يُّهْدِ اللهُ فَمَالَهُ مِنْ مُّضِلٍّ﴾ (١)

دغه شان دلته کښې د جدید باب قائمولو دپاره دا مناسبت هم شته.چه امام بخاری رحمه الله وړاندې د ایمان. کفر. نفاق او ظلم وغیره مختلف مراتب بیان کړی دی.په حدیث د هرقل کښې هم د مختلفو مراتبو او په دې کښې د زیادت ذکر دې. بیا دا زیادت عین ممکن ده. چه د مومنانو د عددی زیادت په وجه وی.یا ددوی د کیفی زیادت په اعتبار سره وی. ځکه چه په دې حدیث کښې ،،هل يزيدون أم ينقصون،، سره د ،،وكذالك الإيمان حتى يتم،، ذکر دې.او په دې کښې کماً او عدداً زیادت مذکور دې.دغه شان په دې کښې د «سألتك هل يرتد أحد سخطة لدينه بعد أن يدخل فيه، فزعمت أن لا» نه پس «وكذالك الإيمان حين تخالط بشاشته القلوب، لا يسخطه أحد» مذکور دې.دلته د ایمان په کیفیت کښې زیادت مراد دې.نو کماً د ایمان د زیادت په لحاظ سره ترجمه قائمولې شی.چه ،،باب الزيادة في الإيمان بزيادة المؤمنين،، یا ونیلې شی.چه ،،الإيمان يتم بزيادة أهل الإيمان،، دغه شان د کیفاً زیادت په لحاظ سره باب قائمولې شی.چه ،،باب قوله تعالى ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ﴾ یا داسې هم ونیلې کیدې شی چه ،،باب: الإيمان يزيد حين تخالط بشاشته القلوب،،

(٣) حضرت شیخ الهند رحمه الله فرمائی.چه دا هم څه لرې نه ده.چه د امام بخاری رحمه الله په نظر کښې دا ټولې فائدې وی.نو ځکه یوې ترجمې قائمولو سره دا ټولې فائدې نشوې حاصلیدې. په دې وجه ئې تکثیراً للفوائد ،،باب،، د ترجمې نه بغیر پریخودو.(٢)،،والله أعلم بالصواب،،۔

٥-حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ قَالَ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ صَالِحٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ (٣) أَخْبَرَهُ قَالَ أَخْبَرَنِي أَبُو سُفْيَانَ بْنُ حَرْبٍ أَنَّ هِرَقْلَ قَالَ لَهُ سَأَلْتُكَ هَلْ يَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ فَزَعَمْتَ أَنَّهُمْ يَزِيدُونَ وَكَذَلِكَ الْإِيمَانُ حَتَّى يَتِمَّ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ سَخْطَةً لِدِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا وَكَذَلِكَ الْإِيمَانُ حِينَ تُخَالِطُ بَشَاشَتُهُ الْقُلُوبَ لَا يَسْخَطُهُ أَحَدٌ [ر:٧]

رجال الحديث

(١) ابراهيم بن حمزة: دا ابراهیم بن حمزه بن محمد بن حمزه بن مصعب بن عبدالله بن الزبیر قرشی اسدی زبیری مدنی دې.ددوی کنیت ابو اسحاق دې.(٤).

---

(١) المصدر السابق)-
(٢) الأبواب والتراجم لصحيح البخاري(ص.٣٩)-
(٣) قد سبق تخريج هذا الحديث انظر كشف ا لباري(١/٤٧٧) الحديث السادس)_
(٤) تهذيب الكمال(٢/٧٦)-

دوی د ابراهیم بن جعفر بن محمود، ابراهیم بن سعد زهری، اسامه بن حفص مدنی، ابوضمره، عبدالعزیز بن ابی حازم، عبدالعزیز بن محمد الدراوردی او یوسف بن یعقوب الماجشون ﷫ نه روایت د حدیث کوی.(١)
حالانکه ددوی نه امام بخاری، امام ابوداوٗد، محمد بن یحی ذهلی، ابوزرعه عبیدالله بن عبدالکریم رازی، ابو حاتم محمد بن ادریس رازی، محمدبن نصر الصائغ بغدادی او ددوی خوئي مصعب بن ابراهیم بن حمزه زبیری روایت د حدیث کوی.(٢)
امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.،،صدوق،،(٣)
امام نسائی رحمه الله فرمائی.،،لیس به بأس،،(٤)
امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائی.،،ثقة صدوق فی الحدیث،،(٥)
ابن حبان رحمه الله دوی لره پخپل ،،کتاب الثقات،، کښې ذکرکړې دې.(٦)
مسلمه بن قاسم اندلسی رحمه الله هم ددوی توثیق کړې دې.(٧)
ددوی وفات په مدینه منوره کښې ٢٣٠ھ کښې اوشو.(٨)،،رحمه الله تعالی رحمةً واسعةً،،_

③ابراهیم بن سعد:دا ابو اسحاق ابراهیم بن سعد بن ابراهیم بن عبدالرحمن بن عوف زهری مدنی دې.ددوی حالات وړاندې د،،باب تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال،، لاندې تیر شوی دی.

④ صالح:دا ابومحمد یا ابوالحارث صالح بن کیسان مدنی دې.ددوی حالات هم وړاندې ،،باب تفاضل أهل الإیمان فی الأعمال،، کښې تیرشوې دې.

⑤ ابن شهاب:دا مشهور محدث محمد بن مسلم بن عبیدالله بن عبدالله بن شهاب زهری دې.ددوی حالات د ،،بدء الوحی،، دریم حدیث لاندې تیر شوی دی.(٩)

---

(١) تهذیب الکمال(٢\٧٧)-
(٢) المصدرالسابق)-
(٣) المصدرالسابق وتهذیب التهذیب (١\١١٧) وفی تهذیب التهذیب ((وسئل أبوحاتم عنه وعن إبراهیم بن المنذر فقال کانا متقاربین ولم یکن لهما تلک المعرفة بالحدیث)_
(٤) تهذیب الکمال(٢\٧٨)-
(٥) الطبقات الکبری لابن سعد(٥\٤٤٢)-
(٦) کتاب الثقات (١\٧٢)-
(٧) تعلیقات تهذیب الکمال(٢\٧٨) بحوالة کتاب الصلة لابن قاسم الأندلسی)-
(٨) التاریخ الکبیر للبخاری (١\٢٨٣، رقم ٩١٢ وتهذیب الکمال(٢\٧٨)-
(٩) کشف الباری(١\٣٢٦)_

⑤ عبيدالله بن عبدالله: دې په فقهاء سبعه کښې مشهور فقيه عبيدالله بن عبدالله بن عتبه بن مسعود دې. ددوی مختصر حالات هم د ..بدء الوحی.. پنځم حديث لاندې ذکر شوی دی.([1])

⑥ عبدالله بن عباس: د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما حالات د ..بدء الوحی.. څلورم حديث کښې تير شوی دی.([2]) او دوی سره متعلق څه حالات وړاندې د ،،باب کفران العشير وکفر دون کفر،، لاندې ذکر شوی دی.

⑦ ابوسفيان: دحضرت ابوسفيان صخر بن حرب رضي الله عنه حالات د ..بدء الوحی.. شپږم حديث لاندې ذکر شوی دی.([3])

قوله أَنَّ هِرَقْلَ قَالَ لَهُ: هرقل دوی ته (يعنې حضرت ابو سفين رضي الله عنه) ته اووئيل چه ما ستا نه تپوس اوکړو چه دا خلق (د نبی کريم ﷺ پيروکار) کميږی او که زياتيږی؟ نو ت اووئيل چه هغوی زياتيږی. هم دا حالات د ايمان وی. تردې پورې چه دا مکمل شی. او ما ست نه تپوس اوکړو چه آيا په دوی کښې څوك ددې دين قبلولو نه پس بيا دده نه ناراضه (او ت خوښه) شوې دې. او دا ئې پريخودې هم دې؟ تا اووئيل چه نه. او هم دا کيفيت د ايمان وی کله چه ددې بشاشت (تر وتازګی) زړونو کښې ننکته شی. نو بيا ددې نه څوك نه خفه کيږی.

خرم فی الحديث دا د هرقل د حديث يوه ټکړه ده. اصل حديث ډير اوګد دې. کوم چه د ..بدء الوحی.. په آخر کښې تاسو وئيلې دې. د اوګد حديث نه په يوې ټکړې باندې اکتفاء کولو ته ،،اختصار فی الحديث،، او ،،خرم فی الحديث،، وئيلې شی.([4])

د اختصار يا خرم فی الحديث په باره کښې اختلاف دې:

① بعض حضرات ددې نه مطلقاً منع کوی. او اختصار ته ناجائز وائی. لکه څنګه چه ددې حضراتو په نيز ..روايت بالمعنی.. مطلقاً ممنوع دې.

② بعض حضرات اختصار فی الحديث ته هغه صورت کښې ناجائز وائی. چه کله دې راوی پخپله يا بل يوکس دا روايت وړاندې مکمل نه وی روايت کړې. که پخپله ده يا بل يو راوی دا مکمل روايت کړې وی. نو دوباره د اختصار کولو اجازت دې.

③ بعض حضرات بغير د څه تفصيل نه مطلقاً د اختصار فی الحديث د جواز قائل دی. که هغوی ته دا پته وی. چه د الفاظو او د بيان اسلوب بدلولو سره معنی کښې څه فرق راځی. يا هغوی په دې خبره نه پوهيږی.

---

[1]) كشف الباری(۱\۳۲۶)_
[2]) كشف الباری(۱\۳۲۵)_
[3]) كشف الباری(۱\۴۸۰)-
[4]) عمدة القاری(۱\۲۹۴)-

خو په دې صورت کښې دا هم ونيلی شوی دی چه د اختصار فی الحديث جواز په دې اندازه اطلاق سره نه دې بلکه هغه څيز سره مقيد کول پکار دی چه د محذوف جزء مذکور سره داسې تعلق نه وی کوم چه مخل بالمعنی وی لکه استثناء. شرط او غايت وغيره شو چه ددې په حذف کولو سره يقيناً په وړاندې معنی کښې خلل پيدا کيږی.په دې وجه مطلقً د جواز قائلينو ته هم دا قيد منل پکار دی وجه دا ده چه صفی هندی رحمه الله په داسې صورت کښې د اختصار فی الحديث ممنوع کيدو باندې اتفاق نقل کړې دې

④ څلورم قول او هم دا صحيح قول دې.دا دې چه د اختصار فی الحديث جواز يا عدم جواز کښې تفصيل دې.که اختصار او خرم کونکې عالم وی او هغه په داسې طريقه خرم کوی چه د محذوف معنوی تعلق مذکوره سره نه پاتې کيږی نه په بيان کښې خلل پيدا کيږی او نه په دلالت کښې څه اثر راځی.نو د داسې عالم ..اختصار.. او ..خرم.. جائز دې که روايت بالمعنی صحيح وی.اوکه نه وی.که ددې نه وړاندې ئې بالتمام پخپله يا بل چا روايت کړې وی.او که نه وی کړې.په دواړو صورتونو کښې جائز دې ځکه چه دا د دوو جدا جدا روايتونو په حکم کښې دی.او که تصرف کونکې داسې عالم نه وی.نو هغه ته د ..اختصار.. او ..خرم.. کولو اجازت نشته.

خودلته يوه خبره ياد ساتل پکار دی.که هغه صحيح تصرف کونکې عالم وی .نو هغه دپاره هم د اختصار فی الحديث اجازت په دې صورت کښې دې.کله چه دده مقام د ..تهمت.. نه بالاتر او اوچت وی.که داسې نه وی.مثلاً يو خل ده مکمل روايت نقل کړو او بيا ئې چه کله دوباره مختصراً حديث نقل کړو.نو هغه ته ويره شوه.چه زه به متهم کړې شم يا به دا ونيلې شی.چه وړمبی خل ئې کوم روايت نقل کړې دی.هغې کښې اضافه کړې ده.يا به داسې ونيلې شی.چه په دويم خل ئې کوم ناقص روايت کړې دې.دا د نسيان يا د ضبط (حفظ) د قلت په وجه دې.که د داسې تهمت يره وی.نو د داسې عالم دپاره نه ابتداء ..اختصار.. جائز دې.او نه ثانياً. [1]هم ددې قبيلې ځنې دا هم دی.چه مصنف په مختلفو بابونو کښې حديث تقطيعاً ذکر کوی.،،وهوإلى الجواز أقرب ومن المنع أبعد،،[2]

امام بخاری رحمه الله هم دلته د ..خرم.. يا ..تقطيع.. نه کار اخستې دې او هغه چه چرته هم دحديث يوه ټکره جدا بيانوی.هغه د جواز په حد کښې وی.[3]،،والله اعلم،،_

په حديث باب کښې خرم دچا د طرفه واقع شوې دې؟ دلته يو بحث دا دې.چه په دې حديث کښې ..خرم.. د امام بخاری رحمه الله د طرفه دې.اوکه د بل چا د طرفه دې؟ علامه کرمانی او قسطلانی رحمهما الله فرمانی.چه دا په ظاهره دامام بخاری رحمه الله د طرفه نه دې.بلکه د امام

---

[1]) قال السيوطى فى التدريب (١٠٤\٢) قال سليم فإن رواه ناقصاً ثم أراد روايته تاماً وكان ممن يتهم بالزيادة كان ذلك عذرا له فى تركها وكتمانها)_

[2]) تدريب الراوى (١٠٣\٢.١٠٥) النوع السادس والعشرو صفة رواية الحديث الفرع السادس)-

[3]) أنوارالبارى(١٩٢\٢) وفضل البارى(٥٤٣\١)-

زهرى رحمه الله نه شوې دې ځکه چه دواړو ځايونو کښې د امام بخارى رحمه الله شيوخ مختلف دى.د بدء الوحى په روايت کښې د امام بخارى رحمه الله شيخ ابواليمان دې او په روايت د باب کښې ابراهيم بن حمزه دې ابراهيم بن حمزه سره د امام زهرى رحمه الله صرف د ..خرم..روايت وو او د ابواليمان طريق تفصيلى دې غالباً ابراهيم بن حمزه به د ..ايمان.په.دين.. کيدو باندې استدلال کولو سره په دې ټکړې باندې اکتفاء کړې وى (١)

خو علامه عينى رحمه الله فرمائى چه دا رائې صحيح نه ده ځکه چه امام بخارى رحمه الله بعينه په دې سند سره هم دا حديث مکمل طور باندې په ،،كتاب الجهاد،، کښې ،،باب دعاء النبى ﷺ إلى الإسلام والنبوة،، کښې ذکر کړې دې.(٢) که خرم د امام زهرى رحمه الله د طرفه وې نو ابراهيم بن حمزه به هلته کښې هم ناقص روايت کړې وې په دې وجه ..خرم.. د امام بخارى رحمه الله د طرفه دې.(٣)،،والله أعلم،،_

(٣٧) بَاب فَضْلِ مَنْ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ

دا باب دهغه سړى د فضيلت په بيان کښې دې څوك چه د خپل دين دپاره د شکوك و شبهاتو نه براءت حاصل کړى.

ماقبل سره مناسبت علامه عينى رحمه الله فرمائى چه ددې باب ماقبل باب سره مناسبت دا دې چه په وړاندې باب کښې د ايمان، اسلام، او احسان بيان وو او دا چه ټول په دين کښې داخل دى.حالانکه په دې باب کښې د ،،استبراء للدين،، ذکر دې چه دا ايمان او احسان وغيره ته شامل دې.او په دې کښې هيڅ شك نشته چه ،،استبراء للدين،، هم دين دې (١)

د ترجمة الباب مقصد ① حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله د ايمان امور ذکرکوى.په ذکر شوې ترجمة الباب قائمولو سره امام بخارى رحمه الله دې خبرې طرف ته اشاره کړې ده.چه ..ورع.. او ،،اتقاء من الشبهات،، د ايمان د مکملاتو ځنې دى.(٥)

② حضرت شيخ الهند قدس روحه فرمائى چه وړاندې امام بخارى رحمه الله د اصرار على المعاصى نه ويره ورکړې وه.اوس په دې باندې ترقى کوى.او دا ښودل غواړى چه د دين د حفاظت او صفائى دپاره د مشتبه امورو نه بچ کيدل ضرورى دى او لطيفه اشاره دې خبرې طرف ته هم معلوميږى.چه توبه باندې اعتماد کولو سره معصيت کول پکار نه دى.ځکه چه معاصى او اصرار على المعاصى د توفيق سلب کولو سبب جوړيږى.چه بيا به د توبې توفيق

(١) شرح الکرمانى(١\٢٠٢) وإرشاد السارى (١\١٤٢)-
(٢) صحيح البخارى (١\٤١٢)-
(٣) عمدة القارى (١\٢٩٤)-
(٤) عمدة القارى(١\٢٩٥)-
(٥) فتح البارى(١\١٢٦)-

هم نه وی نو مسلمان ته د ابتداء نه خپل دین او عرض (ایمان) د گناهونو.او مشتبه امورو نه بچ ساتل پکار دی.(١)

④ حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی.چه امام بخاری رحمه الله دلته ایمان کښې تفاوت بیانول غواړی په دې طریقه چه په دې باب کښې د استبراء للدین بیان دې.او په استبراء کښې تفاوت وی.نو په دې سره ایمان کښې هم تفاوت ثابت شو.(٢)

⑤ حضرت شیخ الهندصاحب رحمه الله فرمائی.چه ددې نه وړاندې باب تیر شوې دې.،،باب خوف المؤمن أن یحبط عمله،، په دې کښې مؤمن د عمل د احباط نه ویرولې شوې وو.اوس په دې باب کښې امام بخاری رحمه الله داسې طریقه او لاره ښودل غواړی.چه ددې په اختیارولو سره سړې د حبط عمل نه بچ کیږی.او هغه دا لاره ده.چه خپل دین دپاره استبراء اوکړې شی.او د شبهات نه بچ شی.(٣)

⑥ حضرت شیخ الحدیث صاحب رحمه الله فرمائی.دا احتمال هم شته.چه دا باب د تیرشوی باب دپاره په منزله د تکملې وی.ځکه چه په حدیث د جبرئیل کښې د احسان بیان وو.او ددې باب نه د احسان دلارې تعلیم مقصود دې.یعنی دا ښودل غواړی.چه د احسان د حصول طریقه دا ده.چه د دین د اتباع په نیت سره د قلب د احوالو مراعات اوساتلې شی.او د شبهاتو نه اجتناب اوکړې شی.(٤)

ددین د اتباع د نیت قید ددې دپاره اولگولې شو.که دین نه وی.نو د قلب د احوالود مراعاتو، اودشبهاتو نه د بچ کیدوهیڅ فائده نشته.لکه ډیر زیات جوگیان (منجوران فقیران) ښه ډیر ریاضتونه کوی.او د ډیرو څیزونو نه پرهیز کوی.خو چونکه د دین اتباع نه وی.په دې وجه د احسان طریقه حاصلول هم ممکن نه وی.(٥)

⑦ دا هم ممکن ده.چه په دې سره دمرجئه تردید وی.هغوی وائی.چه ،،لا تضر مع الإیمان معصیة،، نو په دې باب سره ددوی تردید کولې شی.چه تاسو معصیت ته غیر مضر وائی. حالانکه د حدیث نه ښکاره ده.چه د مشتبهاتو نه نه بچ کیدل هم مضر دی.(٦)

یو اشکال او د هغې جواب: امام بخاری رحمه الله دلته د حدیث په الفاظو باب قائم کړې دې.فرمائیلی ئې دی.،،...استبرأ لدینه،، حالانکه حدیث کښې دی.،،...استبرأ لدینه وعرضه،، سوال دا دې.چه ،،وعرضه،، ئې ولې پریخودو؟

(١) الأبواب والتراجم لصحیح البخاری لشیخ الحدیث الکاندهلوی (ص٣٩)_
(٢) لامع الدراری (١\٦٠٧)-
(٣) تقریر بخاری شریف (١\١٥٣)_
(٤) الأبواب والتراجم (٣٩)-
(٥) المصدرالسابق)-
(٦) إمداد الباری(٢\٧٧٤)-

ددې جواب دا دې چه استبراء للدين. استبراء للعرض ته مستلزم دې يعنى كوم سړې چه د خپل دين حفاظت كوى.هغه به د داغدار كيدو نه بچ كوى.په دې سره به د عزت حفاظت پخپله كيږى په دې وجه ئې استبراء للعرض په مستقله ترجمه كښې د راوړلو ضرورت اونه ګڼرلو.(١) والله اعلم.

٥٠- حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ حَدَّثَنَا زَكَرِيَّاءُ عَنْ عَامِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ (٢) يَقُولُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ لَا يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى الْمُشَبَّهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى أَلَا إِنَّ حِمَى اللَّهِ فِي أَرْضِهِ مَحَارِمُهُ أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ [١٩٤٦]

رجال الحديث

① ابونعيم: دامشهور محدث ابو نعيم الفضل بن دكين الملائى الكوفى الاحول دې دكين ددوى د پلار لقب دې.د دوى . م عمرو بن حماد دې.(٣)

دوى د امام اعمش. زكريا بن ابى زائده. جعفر بن برقان. عمر بن ذر. مالك بن مغول. مسعر بن كدام. سفيان الثورى. شعبه.اسرائيل. جرير بن حازم. امام ابوحنيفه. او ابن ابى ليلى رحمهم الله وغيره نه حديثونه اوريدلى دى.(٤)

ددوى نه امام بخارى رحمه الله ډير حديثونه روايت كړى دى.ددوى نه علاوه امام احمد بن حنبل. اسحاق بن راهويه. يحي بن معين. ابوخيثمه ابوبكر بن ابى شيبه.عثمان بن ابى شيبه. امام ذهلى. امام دارمى. عبد بن حميد . عباس دورى. ابو زرعه رازى. ابوزرعه دمشقى. ابوحاتم. ابن الفرات.او ابراهيم حربى رحمهم الله وغيره ډيرو حضراتو حديثونه روايت كړى دى (٥)

---

١) عمدة القارى(١١\٢٩٥)-

٢) الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى كتاب البيوع باب الحلال بين رقم ٢٠٥١ ومسلم فى صحيحه (١٢\٢٨) كتاب البيوع والمساقاة والمزارعة باب أخذ الحلال وترك الشبهات والنسائى فى سننه (١٢\٢١٠) كتاب البيوع باب إجتناب الشبهات فى الكسب وأبوداو فى سننه فى كتاب البيوع باب فى إجتناب الشبهات رقم ٣٣٢٩ و ٣٣٣٠) والترمذى فى جامعه فى كتاب البيوع باب ما جاء فى ترك الشبهات رقم ١٢٠٥ وابن ماجه فى سننه فى كتاب الفتن باب الوقوف عند جامعه الشبهات رقم ٣٩٨٤)-

٣) تهذيب الكمال(٢٣\١٩٧) وسير أعلام النبلاء (١٠\١٤٢)_

٤) سير أعلام النبلاء ١٠\١٤٤. ١٤٥) وتهذيب الكمال(٢٣\١٩٧. ٢٠٢)-

٥) سير أعلام النبلاء (١٠\١٤٥. ١٤٦) وتهذيب الكمال(٢٣\٢٠٢. ٢٠٤)-

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائى «أبونعيم أعلم بالشيوخ وأنسابهم وبالرجال....»(١)

يعقوب بن شيبه رحمه الله فرمائى «أبونعيم ثقة، ثبت، صدوق»(٢)

امام احمد رحمه الله فرمائى ،،أبونعيم يقظان في الحديث،،(٣)

هم دا امام احمد رحمه الله فرمائى ،،كان أبونعيم ثبتاً،،(٤)

محمد بن عبدالله بن عمار موصلى رحمه الله فرمائى «أبو نعيم متقن، حافظ، إذا روى عن الثقات فحديثه حجة أحج ما يكون»(٥)

احمد بن صالح رحمه الله فرمائى «ما رأيت محدثاً أصدق من أبي نعيم»(٦)

د على بن المدينى رحمه الله نه تپوس اوشو چه ،،من أوثق أصحاب الثورى؟،، نو دوى د ابو نعيم نوم هم واخستلو.(٧)

امام عجلى رحمه الله فرمائى ،،ثقة ثبت في الحديث،،(٨)

يعقوب بن سفيان فارسى رحمه الله فرمائى «أجمع أصحابنا أن أبا نعيم كان غاية في الإتقان»(٩)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى «ثقة كان يحفظ حديث الثورى ومسعر حفظاً....كان يأتي بحديث الثورى على لفظ واحد لا يغير، ولا يلقن، وكان حافظاً متقناً»(١٠)

ابو نعيم رحمه الله پخپله فرمائى «نظر ابن المبارك في كتبي، فقال: ما رأيت أصح من كتابتك،،(١١)

ابن سعد رحمه الله فرمائى ،،كان ثقة مأموناً كثير الحديث، حجة،،(١٢)

ابن حبان رحمه الله دوى لره په ..كتاب الثقات.. كښې ذكر كړى دى او فرمائى ،،كان أتقن أهل زمانه،،(١٣)

---

(١) تهذيب الكمال(٢٣\٢٠٦) وسير أعلام النبلاء (١٠\١٤٧)-
(٢) تاريخ بغداد (١٢\٣٥٢) وتهذيب الكمال(٢٣\٢٠٦)-
(٣) تاريخ بغداد (١٢\٣٥٣) وتهذيب الكمال (٢٣\٢٠٧)-
(٤) المصادر السابقة)-
(٥) تاريخ بغداد (١٢\٣٥٤) وتهذيب الكمال(٢٣\٢١١)_
(٦) المصادر السابقة) وسير أعلام النبلاء (١٠\١٤٧)_
(٧) تهذيب الكمال(٢٣\٢١٢)-
(٨) المصدر السابق)-
(٩) المصدر السابق) وسير أعلام النبلاء (١٠\١٤٧)-
(١٠) تهذيب الكمال(٢٣\٢١٢، ٢١٣)-
(١١) تاريخ بغداد (١٢\٣٤٨) وتهذيب الكمال(٢٣\٢١٣)
(١٢) طبقات ابن سعد(٦\٤٠١)_
(١٣) الثقات لابن حبان (٧\٣١٩)-

خطيب بغدادي رحمه الله فرمائي: «كان أبونعيم مزاحاً ذا دعابة مع تدينه وثقته وأمانته»[1]

امام نسائي رحمه الله فرمائي: «أبونعيم ثقة مأمون»[2]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي: «ثقة ثبت»[3]

البته په امام ابونعيم رحمه الله باندې د «تشيع» الزام وو.لكه حافظ ذهبي رحمه الله فرمائي: «حافظ حجة، إلا أنه يتشيع من غير غلو ولا سب»[4]

دغه شان امام يحي بن معين رحمه الله فرمائي: «كان أبونعيم إذا ذكر إنساناً فقال: هو جيد، وأثنى عليه، فهو شيعي، وإذا قال: فلان كان مرجئاً فاعلم أنه صاحب سنة، لا بأس به»[5]

خو ددوی تشيع ډير خفيف (معمولي) وو.نه به ده د بدعت مؤيد روايات نقل كول.او نه داعي الى البدعت وو.په دې وجه تولو دده حديثونه قبول كړي دي.[6] پخپله فرمائي: «ما كتبت علي الحفظة أني سببت معاوية»[7]

د امام ابونعيم رحمه الله طبيعت كښې د مزاح ماده وه:

① يو ځلې يو سړي ددوی دروازه اوټكوله.ابو نعيم رحمه الله تپوس اوكړو.څوك يې؟ په جواب كښې هغه اوونيل: «أنا» دوی جواب وركړو: «من أنا؟» نو دې سړي اوونيل: «رجل من ولد آدم» ابو نعيم په جلتئ ور اووتلو. او ورجخت شو.او ښكل ئې كړو.او «مرحباً وأهلاً» ئې اوونيل.او وې وئيل چه زما د سره خيال نه وو.چه د حضرت آدم عليه السلام په نسل كښې به اوس هم څوك باقي پاتې شوې وي.[8]

② يوځلې ابو نعيم د خپل شيخ سفيان نه څه تپوس اوكړو.نو هغوی مزاحاً اوونيل: «أنت لا تبصر النجوم بالنهار» نو دوی فوراً اوونيل: «وأنت لا تبصرها كلها بالليل» په دې باندې هغه بې اختياره په خندا شو.[9]

---

[1] تاريخ بغداد (۳۴۷\۱۲) وتهذيب التهذيب (۲۷۶\۱)-
[2] تهذيب التهذيب(۲۷۶\۱)-
[3] تقريب التهذيب (ص.۴۴۶) رقم ۵۴۰۱-
[4] ميزان الإعتدال (۳۵۰\۱۳) رقم ۶۷۲۰-
[5] المصدر السابق)-
[6] هدى الساري(۴۳۴)-
[7] سير أعلام النبلاء (۱۵۱\۱۰)-
[8] تهذيب الكمال(۲۱۶\۲۳)-
[9] تاريخ بغداد (۳۴۷\۱۲) وتهذيب الكمال(۲۰۶\۲۳)-

④ دابو نعیم رحمه الله ثقاهت او قوت حفظ او د محدثینو په احتیاط باندې دلالت دپاره دا واقعه هم د ذکر قابله ده.احمد بن منصور رمادی نقل کوی.چه زه احمد بن حنبل او یحي بن معین سره د خادم په طور د امام عبدالرزاق رحمه الله نه حدیثونو اوریدو دپاره لاړم.په واپسئ چه کله مونږ کوفې ته راورسیدو.نو یحي بن معین امام احمد ته اووئیل.چه زه د ابو نعیم امتحان اخستل غواړم.امام احمد منع کړو. او وې فرمائیل.چه هغه ثقه دې.امام یحي بن معین اونه منل.په یو کاغذ کښې ئې د ابو نعیم دیرش حدیثونه اولیکل.او د هرلسو حدیثونو نه پس ئې د یو بل محدث د حدیث اضافه اوکړله.دا درې واړه ابو نعیم ته اورسیدل.دروازه ئې اوټکوله.نو هغه راووتلو.او د خپل کور دروازې مخې ته یو ډبه (موړه) باندې کیناستل.ښی طرف ته ئې احمد بن حنبل کینولو.گس طرف ته ئې یحي بن معین، او احمد بن منصور رمادی ددوی مخې ته لاندې کیناستلو.یحي بن معین کاغذ راوښکلو.او لوستل ئې شروع کړل.ابو نعیم خاموشئ سره اوریدل.کله ئې چه لس حدیثونه واورول.یوولسم حدیث ئې اولوستلو.نو هغوی تنبیه ورکړله.چه دا حدیث وران کړه.دا زما روایت نه دې.بیا ئې لس حدیثونه اووئیل.ددې نه پس ئې اضافه شوې حدیث واورولو.نو دوی بیا تنبیه اوفرمائیله.او دا ئې کټ کړو.بیا د لسو حدیثونو نه پس چه کله هم دا صورت راپیښ شو.نو ددوی مخ متغیر شو.د امام احمد مټ ئې اونیولو.او یحي بن معین ته مخاطب شو.او وې وئیل.،،أما هذا فأورع أن يفعل مثل هذا،،چه دې خو د داسې قسمه حرکت نه ډیر اوچت او برتر دې.دې داسې نشی کولې.بیا ئې د احمد بن منصور رمادی په باره کښې اووئیل.چه دده داسې جرات نشی کیدې.اوس پاتې شوې ته، نو ،،هذا من فعلك يا فاعل،،ئې اووئیل.او دوی یحي بن معین ته زور دراره لته ورکړله.چه هغه د موړې نه لاندې پریوتلو.او پاسیدو، کور ته لاړو.

امام احمد . یحي بن معین ته اووئیل.چه ما خو ته منع کړې وې.چه دا سړې ثقه دې.هسې بیسه داسې حرکت کولو سره مه اینخله.امام یحي بن معین رحمه الله اوفرمائیل.،،والله لرفسته أحب إلي من سفري،، چه په خدائې قسم! ما ته د خپل ټول سفر په مقابله کښې دا لته زیاته خوښه ده. چه ماته ددې سړی د تثبت او ثقاهت علم اوشو.(۱)

⑤ امام ابونعیم رحمه الله کثیرالعیال وو.حدیثونه به ئې اورول.او د حاکمانو امراء نه به ئې د معاوضې په طور څه اخستل.(۲) خلقو ده لره ملامته کړو.نو دوی اووئیل. «تلوموني على الأكل، ولي بيتي ثلاثة عشر، وما لي بيتي رغيف»(۳)

---

۱) تاریخ بغداد (۱۲\۳۵٤، ۳۵٤) وتهذیب الکمال(۲۳\۲۱۰، ۲۱۱) وسیر أعلام الکبلاء (۱۰\۱٤۸، ۱٤۹)

۲) سیر أعلام النبلاء (۱۰\۱۵۲)-

۳) تهذیب الکال(۲۳\۲۱۸) وسیر أعلام النبلاء (۱۰\۱۵۲)-

يو سړی دوی د مرګ نه پس په خوب کښې اوکتل.چه په حدیث باندې معاوضه اخستلو باندې الله تعالی تاسو سره څه معامله اوکړله.دوی جواب ورکړو. «نظر القاضی لى أمری، فوجدنى ذا عيال فعفا عنى»(١)

په ٢١٩ھ کښې ددوی وفات اوشو.(٢)،، رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

④ زکریا: دوی زکریا بن ابی زائده کوفی دې.(٣)د ابو زائده په نوم کښې اختلاف دې.امام بخاری رحمه الله خالد بن میمون راجح ګرځولې دې.(٤) د زکریا بن ابی زائده شمار صغار تابعینو کښې دې.البته د هیڅ یو صحابی نه ددوی روایت کول ثابت نه دی.(٥)
دوی دخالد بن سلمه، سعد بن ابراهیم، سماك بن حرب، عامر شعبی، عبدالملك بن عمیر، عطیة العوفی او ابو اسحاق سبیعی رحمهم الله وغیره نه حدیث روایت کړی دی.(٦)
ددوی نه روایت کونکو کښې سفیان ثوری، سفیان بن عیینه شعبه بن الحجاج.عبدالله بن المبارك. عبیدالله بن موسی،ابو نعیم او یحي بن سعید القطان رحمهم الله وغیره حضرات دی.(٧)

امام یحي بن معین رحمه الله فرمائی.،،صالح،،(٨)
امام ابوداؤد رحمه الله دوی لره ،،ثقه،، ګرځولې دې.(٩)
امام یحي بن سعید القطان رحمه الله فرمائی.،،لیس به بأس،،(١٠)
امام ابو زرعه رحمه الله فرمائی.،،صویلح،،(١١)
امام نسائی رحمه الله فرمائی.،،ثقة حلو الحدیث،،(١٢)
امام احمد رحمه الله فرمائی.«ثقة حلو الحدیث» (١٣)

---

١) المصادر السابقة)-
٢) المصادر السابقة)-
٣) تهذیب الکمال(٣٥٩\١٩)_
٤) التاریخ الکبیر(٤٢١\٣) رقم ١٣٩٦)-
٥) سیر أعلام النبلاء(٢٠٢\٦)-
٦) تهذیب الکمال(٣٥٩\١٩. ٣٦٠)-
٧) المصدر السابق)-
٨) تهذیب الکمال(٣٦١\١) ومیزا الإعتدال(٧٣\٢) رقم ٢٨٧٥)-
٩) تهذیب الکمال(٣٦٢\١) وتهذیب التهذیب (٣٣٠\٣)-
١٠) التاریخ الکبیر(٤٢١\٣) رقم ١٣٩٦)-
١١) سیر أعلام النبلاء (٢٠٣\٦)-
١٢) تهذیب الکمال(٣٦٢\١)-
١٣) تهذیب الکمال(٣٦١\١) ومیزان الإعتدال(٧٣\٢) رقم ٢٨٧٥)-

یعقوب بن سفیان او ابوبکر البزار رحمهما الله هم دوی ته ..ثقه.. ونیلی دی. (۱)
ابن سعد رحمه الله فرمائی ،،کان ثقة کثیر الحدیث،،(۲)
ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.(۳)
خو کوم ځائې چه دحدیث عالمانو نه ددوی په باره کښې تعدیل منقول دی.هلته ددوی په باره کښې دا تصریح هم شته.چه ده به تدلیس کولو.
حافظ ابن حجر رحمه الله دوی ته مطلقاً مدلس ونیلی دی.لکه چه لیکی،،ثقة کان یدلس،،(۴)
خو حقیقت دا دې.چه دوی لره چه ابوحاتم، ابوزرعه، او ابوداؤد مدلس گرځولی دی.تولو قید لګولې دې.چه دوی به صرف هغه روایاتو کښې تدلیس کولو.کوم چه ددوی دشیخ شعبی نه منقول دی.(۵)لکه حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی. ،،ثقة یدلس من شیخه الشعبی،،(۶)
خو ددوی د تدلیس باوجود دوی لره د حدیث امامانو قبول کړې دې.ددې ښکاره وجه دا ده. چه محذوف راوی به مجهول نه وو.بلکه معلوم به وو.لکه ابوحاتم رحمه الله فرمائی.((أن المسائل التی یرویها زکریا عن الشعبی لم یسمعها منه،إنما أخذها عن أبی حریز))(۷)
دغه شان یحي بن زکریا رحمه الله فرمائی.((لو شئت لسمیت لك من بین أبی و بین الشعبی))(۸)
البته دلته دا یاد ساتئ.چه ددوی هغه روایتونه کوم چه د ابواسحاق سبیعی نه منقول دی.هغې کښې څه حده پورې ضعف دې.ځکه چه ابو اسحاق نه ددوی سماع آخری عمر کښې شوې وه.(۹) او دې دغه وخت کښې مختلط شوې وو.(۱۰)
ددوی وفات په ۱۴۷ھ یا ۱۴۸ھ یا ۱۴۹ھ کښې شوې وو.(۱۱)،،رحمه الله تعالی رحمةً واسعةً،،_
⑥ عامر: دا مشهور تابعی محدث ابوعمر عامر بن شراحیل شعبی کوفی رحمه الله دې.ددوی مختصرحالات دکتاب الایمان"باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده"لاندې تیرشوی دی(۱۲)

---

(۱) تهذیب التهذیب(۳۳۰\۳)_
(۲) الطبقات (۳۵۵\۶)-
(۳) الثقات (۳۳٤\۶)-
(۴) تقریب التهذیب (۲۱۶) رقم ۲۰۲۲)-
(۵) تعلیقات الکاشف (٤٠۵\۱) رقم ۱۶٤۳)-
(۶) الکاشف(٤٠۵\۱) رقم ۱۶٤۳)-
(۷) تهذیب الکمال(۳۶۲\۹)-
(۸) المصدرالسابق)-
(۹) تهذیب الکمال(۳۶۱\۹)-
(۱۰) تقریب التهذیب(ص.٤۲۳) رقم۵۰۶۵)-
(۱۱) تهذیب الکمال(۳۶۲\۹. ۳۶۳)-
(۱۲) کشف الباری(۶۷۹\۱)-

⑦ النعمان بن بشير: دا مشهور صحابى حضرت ابو عبدالله نعمان بن بشير (بفتح الباء الموحده وكسر الشين المعجمة) بن سعد ثعلبه بن جلاس (بضم الجيم و تخفيف اللام) (ويقال: خلاس: بفتح الخاء المعجمة و تشديد اللام) بن زيد بن مالك بن ثعلبه بن كعب بن الخزرج انصارى مدنى دي.([1])

ددوى پلار حضرت بشير بن سعد رضي الله عنه په بيعت عقبهٔ ثانيه كښې شريك وو.دا بدرى صحابى دي.د بدر نه علاوه په نورو تولو غزواتو كښې هم شريك پاتې شوې دي.او ددوى مور د مشهور صحابى حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه خور ده.دا هم صحابيه ده.([2])

حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه د هجرت په دويم كال پيدا شو.دا د هجرت نه پس انصارو كښې ،،أوّل مولود في الإسلام،، دې.لكه څنګه چه حضرت عبدالله بن الزبير رضي الله عنهما په مهاجرينو كښې ،،أوّل مولود في الإسلام،، وو.حضرت نعمان بن بشير د حضرت عبدالله بن الزبير نه شپږ مياشتې مشر وو.([3])

حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنهما بالاتفاق صغار صحابو كښې وو.([4])په دې وجه دې خبره كښې اختلاف دې.چه دوى د نبى كريم ﷺ نه سماع كړې وه اوكه نه؟ نو د مدينې خلق د سماع انكار كوى.او د عراق خلق اثبات كوى.([5])

امام يحي بن معين رحمه الله فرمائى.چه حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنهما نه ،،سمعت النبى ﷺ،، الفاظو سره صرف يو حديث (حديث باب) منقول دې.باقى په هيڅ يو روايت كښې براه راست سماع نشته. ([6])

بهرحال دوى د نبى كريم ﷺ نه علاوه د خپل ماما حضرت عبدالله بن رواحه، حضرت عمر بن الخطاب، او د حضرت عائشه رضي الله عنها نه روايات نقل كړى دى.([7])

ددوى نه حسن بصرى، سماك بن حرب، عامر شعبى، عروه بن الزبير، ابو اسحاق سبيعى او ابو قلابه جرمى رحمهم الله وغيره ډيرو تابعينو حديثونه حاصل كړى دى.([8])

---

[1]) تهذيب الأسماء واللغات (١٢٩\٢) وتهذيب الكمال(٤١١\٢٩)-

[2]) تهذيب الأسماء واللغات(١٢٩\٢)_

[3]) الإصابة(٥٥٩\٣)-

[4]) سير أعلام النبلاء(٤١١\٣)_

[5]) تهذيب الكمال(٤١٢\٢٩)_

[6]) المصدرالسابق خودا خبره تيك نه معلوميږى.څكه د بخارى په (٩٦٩\٢) كتاب الرقاق اب صفة الجنة والنار رقم ٦٥٦١ و٦٥٦٢) كښې اود صحيح مسلم په ((١١٥\١) كتاب الإيمان باب شفاعة النبي ﷺ لأبي طالب والتخفيف عنه بسببه) كښې دحضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه نه نقل دى.دوى فرمائى ((سمعت رسول الله ﷺ فتنبه)_

[7]) تهذيب الكمال(٤١٢\٢٩)-

[8]) تهذيب الكمال(٤١٤\٢٩)-

دي شاعر هم وو.ډير زيات كريم او سخي وو.(١)
د حضرت معاويه رضي الله عنه په زمانه كښې د حمص او كوفې ګورنر پاتې شوې وو.د حضرت معاويه رضي الله عنه نه پس د يزيد بن معاويه په زمانه كښې هم ددې دواړو علاقو حاكم وو.څه موده پورې ئې په دمشق كښې د قضاء فرائض هم پوره كول.(٢)
ددوى نه ټول يوسل څوارلس روايتونه نقل دى.په دې كښې پنځه حديثونه متفق عليه دى.او په يو حديث كښې امام بخارى رحمه الله او په څلورو حديثونو كښې امام مسلم رحمه الله متفرد دې.(٣)
كله چه دې په ٢هـ كښې پيدا شو.نو دده پلار حضرت بشير بن سعد رضي الله عنه دوى نبى كريم ﷺ له راوستل.او د دعا درخواست ئې اوكړو.نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.«أما ترضى أن يبلغ ما بلغت، ثم يأتى الشام، فيقتله منافق من أهل الشام»(٤)نو هم دغه شان اوشوه.چه دوى د حضرت عبدالله بن الزبير رضي الله عنهما په زمانه كښې اووتل.په لاره كښې خالد بن خلى كلاعى نومې يو بدبخت دوى شهيد كړو.دا د ٦٤هـ واقعه ده.(٥)،،رضى الله عنه وأرضاه،،_

دحديث باب اهميت د حديث باب په عظمت شان باندې د عالمانو اجماع ده.اودا د هغه حديثونو نه يو حديث دې.په كومو چه د اسلام مدار دې.بعضې حضرات وائى.چه دا ثلث الاسلام دې.څكه چه ،،اسلام،، په دريو حديثونو كښې دائر دې.① يو حديث باب ،،الحلال بيّن....،، ② دويم حديث ،،الأعمال بالنيات...،،③ او دريم حديث ،،من حسن اسلام المرء تركه مالا يعنيه....،،(٦)
امام ابوداؤد رحمه الله فرمائى.چه ما د رسول الله ﷺ نه پنځه لاكهه حديثونه ليكلى دى.د هغې نه مې انتخاب كړې دې.او په ،،كتاب السنن،، كښې مې څلور زره او اته سوه حديثونه جمع كړى دى.چه په دې كښې صحيح هم شته.او د صحيح مشابه او مقارب هم، حالانكه د انسان د خپل دين دپاره څلور حديثونه كافى دى:

---

١) تهذيب الأسماء (١٣٠١٢)-
٢) تهذيب الكمال(٤١٤\٢٩) وسير أعلام النبلاء(٤١٢\٣)_
٣) سير أعلام النبلاء (٤١١\٣) وتهذيب الأسماء (١٢٩\٢) وعمدة القارى(٢٩٦\١١) وفى خلاصة الخزرجى (٤٠٢) له مائة وأربعة وعشرون حديثاً ولعله خطأ والصواب ما ذكرناه مائة وأربعة عشر حديثاً كما فى المصادر المذكورة والله أعلم)-
٤) تهذيب الكمال(٤١٦\٢٩)-
٥) سير أعلام النبلاء(٤١٢\٣) وتهذيب الكمال(٤١٦\٢٩، ٤١٧)_
٦) قاله العينى رحمه الله فى العمدة (٢٩٩\١١) والطيبى فى الكاشف عن حقائق السنن (٩\٦) فى كتاب البيوع باب الكسب وطلب الحلال والكرمانى فى شرحه (٢٠٣\١١) والنووى فى شرحه لمسلم (٢٨\٢) كتاب البيوع باب أخذ الحلال وترك الشبهات)_ وقال احمد أصول الإسلام ثلاثة أحاديث :هذا (أى الأعمال بالنيات..) والحلال بين ..إلخ ومن أحدث فى أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد) كذا فى الفتوحات الربانية)(٦٥\١)-

① يو ،،الأعمال بالنيات.....،، ② دويم ،،من حسن اسلام المرء تركه مالا يعنيه.....،، ③ دريم ،،لايكون المؤمن مؤمناً حتى يرضى لأخيه مايرضى لنفسه،، ④ څلورم «الحلال بيّن والحرام بيّن.....»(١)

بعضې حضراتو د دريم حديث «لا يكون المؤمن مؤمناً.....» په ځائې «ازهد فى الدنيا يحبك الله.....» ذكر كړې دې.(٢)

عالمانو د حديث باب دعظمت سبب دا بيان كړې دې چه په دې حديث كښې نبى كريم ﷺ د خوراك. څكاك. او لباس وغيره په اصلاح او بهتروالى باندې تنبيه فرمائيلې ده چه ددې څيزونو حلال كيدل ضرورى دى او نبى كريم ﷺ د حلال پيژندلو لاره ښودلې ده او د مشتبهاتو پريخودو حكم ئې وركړې دې.څكه چه هم په دې سره سړې د خپل دين او عزت حفاظت كولې شى.دا ټولې خبرې نبى كريم ﷺ د يو مثال په ذريعه بيان كړې.او بيا په آخر كښې د ټولو نه زيات اهم كار يعنى د زړه د احوالو مراعات او نګرانئ په باره كښې ئې تاكيد فرمائيلې دې.(٣)

قوله: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ما د نبى كريم ﷺ نه واوريدل.چه دوى فرمائيل...

په دې تصريح سره د هغه حضراتو ترديد اوشو.څوك چه دا وائى.چه دوى ته براه راست د نبى كريم ﷺ نه سماع حاصل نه ده.(٤)څكه چه دا د صغار صحابو څنې وو.د نبى كريم ﷺ د وفات په وخت ددوى عمر اته كاله وو.(٥)

ددې تصريح نه يو خو دا معلومه شوه.چه دوى ته سماع براه راست حاصل ده. دويمه خبره دا معلومه شوه.چه د صبى مميز تحمل معتبر دې.(٦)لكه چه دلته كښې حضرت نعمان بن بشير ﷺ په ماشوموالى كښې تحمل كړې وو.او دا ئې د بلوغ نه پس ادا كړې وو.

دلته دا خبره هم ذهن كښې كينول پكار دى.چه بعضې حضراتو ددوى سماع صرف په حديث باب كښې منلې ده.باقى په يو حديث كښې ئې هم نه ده منلې.لكه څنګه چه اوس وړاندې

---

(١) انظرتاريخ بغداد (٥٧١٥) وتهذيب الكمال(١١١٤٦٤) وسيرأعلام النبلاء(٢١٠١١٣) وشرح النووى على صحيح مسلم (٢٨١٢)_

(٢) الفتوحات الربانية (٦٤١١) وشرح النووى(٢٨١٢)_

(٣) شرح النووى(٢٨١٢) كتاب البيوع باب أخذ ا لحلال وترك الشبهات وشرح الكرمانى(٢٠٣١١) والكاشف(٩١٦) وعمدة القارى(٢٩٩١١)_

(٤) قال الحافظ: وفى هذا رد القول الواقدى ومن تبعه أن النعمان لا يصح سماعه من رسول الله... فتح البارى(١٢٦١١)

(٥) كما سبق بيان ذلك فى ترجمته آنفاً)-

(٦) فتح البارى(١٢٦١١)-

دوى په حالاتو كښې د امام يحي بن معين رحمه الله په حوالې سره مونږ ذكركړل خو دا خبره هم صحيح نه ده خكه چه ددې حديث نه علاوه نورو حديثونو كښې هم د نبي كريم ﷺ نه براه راست د سماع دوى تصريح كړې ده. (۱)

قوله الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشَبَّهَاتٌ لَا يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ:

حلال هم واضح دى او حرام هم ښكاره دى.او ددې دواړو په مينځ كښې څه مشتبه څيزونه دى چه دا ډير خلق نه پيژنى.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى «الحلال بين والحرام بين فى عينهما و وصفهما بأدلتهما الظاهرة» يعنى حلال او حرام د خپلو واضحو دليلونو په وجه د خپل ذات او وصف هر اعتبار سره بالكل ښكاره او واضح دى.(۲)

مطلب دا دې چه يو څيز به يا خو د طلب تنصيص او تصريح مع الترك په وعيد سره كولې شى يا به ددې د پريخودو په تنصيص او تصريح مع الوعيد على الفعل كولې شى.رومبې ،،حلال بين،، دې دويم ،،حرام بين،، دې.اوكه دا صورت نه وى.نود مشتبهاتو د قبيل خنې دې.او ددې نه هم بچ كيدل پكار دى.خكه د حرامو د جنس څنې دې.نوسړې به د حرامو نه محفوظ وى.اوكه د حرامو د جنس څنې نه دې.بلكه د مباح د قسم څنې دې.نو بيا هم ددې حسن نيت په وجه به ده ته اجر او ثواب ملاويږى چه دې د حرامو د ويرې نه دا پريږدى.

علامه ابوالحسن سندهى رحمه الله دلته مفصل كلام كړې دې.د هغې خلاصه دا ده.چه په دې جمله كښې يو څو احتماله كيدې شى:

① يو دا چه «كل ما هو حلال عندالله تعالى فهو بين بوصف الحل، يعرفه كل أحد بأنه حلال» :غه شان «الحرام كل ما هو حرام عند الله تعالى فهو بين بوصف الحرمة، يعرفه كل أحد بأنه حرام» يعنى كوم څيز چه په واقع كښې يعنى د الله تعالى په نيز حلال دې.هغه بالكل واضح دې.او ټولو خلقو ته معلوم دې.او كوم څيز چه فى الواقع يعنى د الله تعالى په نيز حرام دې.

هغه هم بالكل واضح دې.او ټولو خلقو ته معلوم دې.

علامه سندهى رحمه الله فرمائى.دا احتمال صحيح نه دې.خكه په څيزونو كښې كه غور اوكړې شى.نو په هغې كښې فى الواقع او د الله تعالى په نيز هيڅ قسمه اشتباه نشته.نو په واقع كښې د څيزونو دوه قسمونه جوړيږى: حلال او حرام، حالانكه په حديث باب كښې درې قسمونه بيان كړې شوى دى.① حلال ② حرام ③ مشتبهات.

② دويم احتمال دا دې.چه ددې معنى ده.«الحلال بين حكماً، وهو أنه لا يضر تناوله، وكذا الحرام بين، من حيث أنه يضر تناوله، أى مما يعرف الناس حكمهما، لكن ينبغى للناس أن يعرفوا حكم المحتمل

---

۱) قدمنا أمثلته سابقاً تحت ترجمته تعليقاً فارجع إليه إن شئت)ـ

۲) فتح البارى(۱۲۷/۱)-

المتردد بين كونه حلالاً أو حراماً...» مطلب دا دې چه د حلال حکم هم ښکاره دې.چه ددې استعمال مضر نه دې.او د حرامو حکم هم ښکاره دې.چه ددې استعمال مضر دې.کوم څيز چه د تحقيق قابل دې.هغه د مشتبهاتو په حکم کښې دې.چه ددې په حلال او حرام کيدو کښې اشتباه ده.ښکاره نه حلت معلوم دې.او نه حرمت معلوم دې.نبی کريم ﷺ ددې حکم بيان کړې دې.چه ددې نه اجتناب کوئ.علامه سندهی رحمه الله فرمائی.چه ددې جملې صحيح مطلب هم دا دې.

③ دريم احتمال دوی دا بيان کړې دې.چه «الحلال الخالص بيّن، والحرام الخالص بيّن؛ يعلمهما كل أحد، لكن المشتبه غير معلوم، لكثير من الناس» علامه سندهی رحمه الله فرمائی.چه دا احتمال هم صحيح نه دې.ځکه که ددې جملې هم دامعنی واخستلې شی.نوبه دې کښې دوه احتمالات دی.

① يو احتمال دا دې.چه د ،،الحلال الخالص،، نه مراد ،،الحلال الخالص المعلوم عند الناس،، وی. او د ،،الحرام الخالص،، نه مراد ،،الحرام الخالص المعلوم عند الناس،، وی. يعنی ،،الحلال بيّن،، او ،،الحرام بيّن،، کښې چه کوم ،،الحلال،، او،،الحرام،، واقع دی. دا حلال فی علم الناس او حرام فی علم الناس اوګرځولې شی.نو مطلب به دا شی. چه«الحلال الخالص المعلوم عند الناس بيّن و معلوم لديهم، والحرام الخالص المعلوم عند الناس بيّن و معلوم لديهم» په دې صورت کښې جمله بالکل بې معنی کيږی.ځکه چه هرکله حلال هم هغه مراد دې.کوم چه خلقو ته ښکاره دې.او حرام هم هغه مراد دې.کوم چه خلقو ته ښکاره دې.نو بيا د ،،بيّن،، وئيلوحکم لګول بې معنی دې.په دې وجه علامه سندهی رحمه الله فرمائی.چه د ،،الحلال بيّن،، معنی ،،الحلال الخالص بيّن،،ګرځول،دغه شان د ،،الحرام بيّن،، معنی ،،الحرام الخالص بيّن،، ګرځول، داسې دی.لکه چه داسې اووئيلې شی.چه ،،المعلوم بالحل معلوم بالحل،، او ،،المعلوم بالحرمة معلوم بالحرمة،، چه ددې هيڅ فائده نشته.

② ددې جملې دويم احتمال دا دې.چه د ،،الحلال بيّن،، نه مراد ،،الحلال الخالص،، وی.او د ،،الحرام بيّن،، نه مراد ،،الحرام الخالص،، وی.البته د رومبی احتمال پشان ددې حلال خالص او حرام خالص تعلق د خلقو علم سره نه وی.يعنی ،،الحلال الخالص المعلوم عند الناس،، او،، الحرام الخالص المعلوم عند الناس،، مراد نه وی.بلکه ،،الحلال الخالص عند الله وفی نفس الأمر،، او ،،الحرام الخالص عند الله وفی نفس الأمر،، مراد وی.ددې تاويل او احتمال په صورت کښې به دا معنی د هغه معنی پشان راجع وی.کومه معنی چه رومبی احتمال کښې داسې بيان شوې وه.چه «كل ما هو حلال عند الله تعالى فهو بيّن بوصف الحل، يعرفه كل أحد بأنه حلال» او «الحرام كل ما هو حرام عند الله تعالى فهو بيّن بوصف الحرمة، يعرفه كل أحد بأنه حرام» ددې حاصل دا راوځی.چه

عندالله او فى الواقع د ځيزونو دوه قسمونه دى:① حلال ② حرام._
د دريم قسم ,,مشتبهاتو،، هيڅ ګنجائش نشته.نو دا احتمال دلته مراد اخستل په دې وجه صحيح نه دى چه د حديث باب په دې جمله كښې د حرام او حلال نه علاوه دريم قسم ,,مشتبهات،، هم ذكر دى.(١)
خو په غور كولو سره راجح هم دا دريم احتمال معلوميږى.خو د ,,خالص،، نه هغه معنى مراد نه ده.كومه چه علامه سندهى رحمه الله بيانى بلكه مراد ,,حلال محض،،او ,,حرام محض،، دې.او د حديث مطلب دا دې.چه كوم ځيز حلال محض دې.هغه خو ښكاره دې.خلق پوهيږى.چه د غنمو روټئ او وريژې خوړل حلال دى.دغه شان خلقو ته هم پته ده.چه د خنزير غوښه او شراب حرام دى.البته د غور ځيزونه مشتبهات دى.چه ددې په حلت او حرمت كښې اشتباه ده. (اوپه اول نظر ئې حلت او حرمت نه معلوميږى)
امام نووى رحمه الله دحديث هم دا تشريح فرمائيلې ده.لكه هغوى فرمائى. «فمعناه أن الأشياء على ثلاثة أقسام، حلال بيّن واضح، لايخفى حله كالخبز، والفواكه، والزيت، والعسل، والسمن، ولبن مأكول اللحم، وبيضه، وغير ذالك من المطعومات، وكذلك الكلام والنظر والمشى وغير ذالك من التصرفات فيها، حلال بيّن واضح، لاشك فى حله، وأما الحرام البيّن فكالخمر، والخنزير، والميتة، والبول، والدم المسفوح، وكذالك الزنا، والكذب، والغيبة، والنميمة، والنظر إلى الأجنبية، وأشباه ذالك، وأما المشتبهات، فمعناه أنها ليست بواضحة الحل والحرمة....»(٢)
په دې دريم صورت او چه كوم دريم صورت ته علامه سندهى رحمه الله ترجيح وركړې ده.دې دواړو كښې فرق دا دې.چه دوى ,,بين،، كيدل د ځيزونو دحلت او حرمت حكم سره متعلق كړې دى.چه د حلال ځيزونو حكم واضح دې.او د حرام ځيزونو حكم هم واضح دې.البته د مشتبهاتو د حكم تحقيق او بيا ددې نه داجتناب ضرورت دې.او په دې دريم صورت كښې پخپله د يوځيز حلت او حرمت ,,بيّن،، كيدل بيان شوى دى.چه حلال محض ځيزونه هم معلوم دى.او حرام محض ځيزونه هم معلوم دى.البته د مشتهباتو په باره كښې چونكه شبه ده.په دې وجه د هغې نه بچ كيدل پكار دى.او دا مطلب د حديث جملې «الحلال بيّن والحرام بيّن وبينهما مشتبهات» نه دځه قسم تاويل كولو. او تكلف نه بغير پوهه كښې راځى.په دې وجه به هم دا معنى راجح وى.،،والله سبحانه وتعالى أعلم،،_
د,,مشتبهات،، تحقيق په ,,مشتبهات كښې پنځه روايتونه دى:① ,,مشتبهات،،د باب افتعال نه د اسم فاعل جمع مونث صيغه ده.په دې صورت كښې به ددې وجه تسميه دا

---

(١) حاشية السندى على صحيح البخارى(١١\٣٥، ٣٧)_
(٢) شرح النووى على صحيح مسلم (٢٨\١٢) كتاب البيوع باب أخذ الحلال وترك الشبهات

وی چه چونکه په دوی کښې طرفین متخالفین کښې هریو سره مشابهت موجود وی.په بعضې وختونو کښې یوطرف سره مشابهت وی.او په بعضو وختونو کښې مخالف طرف سره. نو په دې طریقه دې کښې اشتباه پیدا کیږی

② **مشتبهات**: دا د باب تفعل نه د اسم فاعل صیغه ده.په دې کښې او ړومبۍ معنی کښې هیڅ فرق نشته سواء ددې نه چه په باب تفعل کښې د تکلف معنی وی.

③ **مشتبهات** د باب تفعیل نه د اسم مفعول صیغې سره. په دې صورت کښې به د دې معنی وی.((**إنما مشتبهات بغیرها مما لم یتیقن فیه حکمها علی التعیین**)) یعنی ددې امورو داسې څیزونو سره تشبیه ورکړې شوې ده.چه هغې کښې متعین حکم یقینی نه دې.یو قول دا هم دې چه ددې معنی ده.،،**مشتبهات بالحلال**،،ددې امورو حلالو څیزونو سره تشبیه ورکړې شوې ده

④ **مشتبهات**:د باب تفعیل نه په صیغې د اسم فاعل سره. ددې معنی ده.،،**إنما تشبه أنفسها بالحلال**،،_

⑤ **مشتبهات**:د باب افعال نه په صیغې د اسم فاعل سره. ددې هم هغه معنی ده. کومه چه د خلورم معنی ده.([1])

بیا په دې خبره کښې اختلاف دې.چه دلته د ..مشتبهات.. نه څه مراد دې؟

① علامه خطابی رحمه الله فرمائی.دا امور داسې دی.چه دا په بعضې خلقو باندې خو مشتبه وی.او په بعضو باندې نه وی.دا مطلب نه دې.چه دا امور د خپل ذات په اعتبار سره مشتبه دی.او په اصولو د شریعت کښې ددې هیڅ بیان نشته.څکه چه الله تعالی دهر څیز حکم بیان کړې دې.او دلیل ئې هم قائم کړې دې.خو چونکه بیان کله کله بالکل ښکاره وی.او ټول خلق پرې پوهیږی.او کله خفی وی.خاص خاص عالمان پرې پوهیږی.چه په اصول فقه کښې مهارت لرونکی وی.د نصوصو د معانیو صحیح ادراک کونکی وی.قیاس، استنباط او یو څیز دهغې په نظیر او مثل باندې رد کولې شی.په دې وجه دې امورو کښې اشتباه پیدا کیږی.([2])

خطابی رحمه الله فرمائی.ددې خبرې دلیل چه دا امور د خپل ذات په اعتبار سره مشتبه نه دی.دا دې.چه نبی کریم ﷺ فرمائی.،،**لایعرفها کثیر من الناس**،، ددې مفهوم هم دا دې.چه بعضې خلق پوهیږی.اګرچه ډیر کم دی.نو هرکله چه د بعضو په نیز باندې دا امر معلوم دې.نو دا څیز فی نفسه مشتبه نه دې.

خطابی رحمه الله فرمائی.کوم کس ته چه داسې قسمه اشتباه راپیښه شی.هغه ته د شك لرې کولو پورې توقف کول پکار دی.او د انشراح نه بغیر دې اقدام نه کوی. څکه که د احتیاط نه

---

[1] عمدة القاری(۲۹۷/۱)-

[2] معالم السنن (۶۱/۵) کتاب البیوع باب فی إجتناب الشبهات)-

بغير اقدام اوكړې شي نو ممكن ده چه دې په حرامو كښې راګيرشي.هم دا د ..حمى.. نه د بچ كيدو مطلب دې د كوم چه دلته كښې مثال وركړې شوې دې.
د امام خطابى رحمه الله د كلام حاصل دا دې چه ددې امورو مشتبه كيدل اضافى دى.يعنى دهغې خلقو په نسبت سره دا مشتبه دى.څوك چه د حكم نه ناخبره دى.او د دوى په نيز د شبهاتو نه د بچ كيدو مطلب دا دې چه ناخبره كس د بصيرت او انشراح نه بغير اقدام اونه كړى كه بصيرت موجود وى.نو هغه اقدام كولې شى.
④دامام نووى رحمه الله د كلام نه معلوميږى چه د ..مشتبهات.. نه هغه امور مراد دى.په كوم كښې چه د حلت او حرمت دليلونه متعارض وى.ترڅو كه چرې مجتهد اجتهاد اوكړى.او د يو دليل په بنياد باندې حلت طرف ته ترجيح وركړى.بيا به هم دا امر مشتبه وى.په دې كښې ورع (احتياط) دا دې چه ددې امر ارتكاب بالكل اونكړې شى.خكه ممكن ده.چه اجتهاد كښې خطاء واقع شى.(1)
حاصل ددې قول دا دې چه د ..مشتبهات.. نه مراد هغه اجتهادى امور دى. په كوم كښې چه نص يا اجماع موجود نه وى.او د ،،توقى الشبهات،، نه مراد احتياط او ورع د تقوى په اعتبار سره اختيارول دى.د فتوى په طور اختيارول مراد نه دى.
③ علامه مازرى رحمه الله فرمائى.چه په حديث كښې د ..مشتبهات.. نه مكروه امور مراد دى.او مقصود دلته ددې مكروهاتو د ارتكاب نه بچ كيدو باندې اماده كول دى.خكه چه ډيرخلق د مكروهاتو ارتكاب كوى.او ګنړى.چه دا حرام نه دى.حالانكه دده دا عمل محرماتو ته رسولې شى.(2)
④ بعضې عالمان فرمائى.چه د ..مشتبهات.. نه دلته هغه مباح امور مراد دى. چه د هغې نه بچ كيدل او احتياط كول غوره دى.(3)هم دا وجه ده.چه نبى كريم صلى الله عليه وسلم اوددوى نه پس ددوى خلفاء او اكثر صحابه كرام رضى الله عنهم د مباحاتو نه هم په ډډه اوسيدل.لكه چه هغوى به د ښه خوراكونو. د ښه لباس. او د ښه كورونو نه هم ځان ساتلو.او د ساده ژوند تيرولو عادت ئې جوړ كړې وو.
په دې اقوالو كښې آخرى دواړه قولونه ضعيف دى.د مكروه او مباح په ..مشتبهات.. كښې دخل نشته.البته روميى دواړه صورتونه په .. مشتبهات .. كښې داخل دى.بلكه داسې معلوميږى.چه د اشتباه څومره صورتونه دى.هغه ټول په ..مشتبهات.. كښې داخل دى.د هغې ټولو نه اجتناب كول پكار دى.(4)مثلاً ① كله به دا اشتباه د دليلونو د تعارض په وجه وى.چه يو دليل په حرمت باندې دلالت كوى.او بل دليل په حلت باندې، اوس

(1) شرح النووى على صحيح مسلم (٢٨\١٢) كتاب البيوع باب أخذ الحلال وترك المشبهات)_
(2) عمدة القارى(٣٠٠\١)_
(3) فتح البارى(١٢٧\١)-
(4) تكملة فتح الملهم(٦٢٣\١)-

مجتهد ته په ترجيح وركولو كښې مشكلات وى.لكه څنګه چه د مشكوك اوبو مسئله ده.نو ددې نه بچ كيدل غوره دى.

② كله دا اشتباه په تحقيق مناط كښې د اختلاف په وجه وى.مثلاً د دارالحرب احكام يوشان دى.او د دارالاسلام احكام ددې نه جدا بل شان دى.اوس د يو ملك په باره كښې اختلاف شو چه آيا دا دارالحرب اوګرځولې شى.اوكه دارالحرب اونه ګرځولې شى.دلته چه دارالحرب كيدل كوم چه مناط حكم دې.په دې كښې اختلاف شو.په دې وجه به احكامو كښې اشتباه راپيښيږى.په داسې صورت كښې احتياط هم په دې صورت كښې دې. چه كوم څيز د دارالحرب ګرځولو په صورت كښې جائزكيدو.د هغې نه اجتناب اوكړې شى.څكه احتمال شته.چه دا دارالحرب نه وى.

③ كله اشتباه په دې بنياد باندې راپيښيږى چه يوڅيز من وجه د شريعت په نيز حلال وى.او هم دا څيز من وجه ددې په نظير كښې حرام هم وى.مثلاً حديث كښې ښځې د قبرونو د زيارت نه منع كړې شوى دى.(١)خو ورسره په يو حديث كښې دى.،،ولم يعزم علينا،،(٢) يعنى قبرستان ته نه تلل په مونږ باندې نه دى واجب كړې شوې.ددې په وجه اشتباه پيدا شوه.نو اوس به احتياط هم په دې كښې وى.چه دا پريخودې شى.

④ بعضې وخت اشتباه په دې طريقه پيدا كيږى.چه يو څيز د شريعت په نظر كښې حلال دې.خو په دې كښې دننه دحرمت هم څه قرينه موجود ده.يا حرمت دپاره حجت ناقصه موجود دې.لكه مثلاً د حضرت سعد بن ابى وقاص ﷺ او د عبد بن زمعه په مينځ كښې د زمعه د وينځې د خوى په باره كښې اختلاف پيدا شو.د عبد بن زمعه دعوه وه.چه دا زما ورور دې.،،ولد على فراش أبى،، او دحضرت سعد وينا دا وه.چه زما ورور عتبه بن ابى وقاص وصيت كړې وو.چه د زمعه د وينځې خوئې زما دې.ددوى دعوه دا وه.چه دا ماته ملاويدل پكار دى.

نبى كريم ﷺ ددوى په مينځ كښې فيصله كړې وه.،،الولد للفراش وللعاهر الحجر،، بچې به د صاحب فراش وى.او زانى دپاره حرمان دې.نو دوى دا بچې زمعه ته وركړو.ګويا چه د شريعت په نظركښې دا بچې د عبد بن زمعه ورور شو.او هم په دې نسبت سره د ام المؤمنين

(١) كما روى أبوهريرة ﷺ أن رسول الله ﷺ لعن زوارات القبور.. أخرجه الترمذى فى جامعه فى كتاب الجنائز. باب ما جاء فى كراهية زيارة القبور للنساء رقم (١٠٥٦) وابن ماجه فى سننه فى كتاب الجنائز باب ما جاء فى النهى عن زيارة النساء القبور رقم ١٥٧٦) وعن ابن عباس ﷺ قال لعن رسول الله زائرات القبور .. وأخرجه النسائى فى سننه (٢٨٧\١) فى كتاب الجنائز باب التغليظ فى إتخاذ السرج على القبور وأبوداود فى سننه فى كتاب الجنائز باب فى زيارة النساء القبوررقم ٣٢٣٦)-

(٢) عن أم عطية رضى الله عنها قالت: نهينا عن إتباع الجنائز. ولم يعزم علينا (رواه البخارى فى صحيحه فى كتاب الجنائز باب إتباع النساء الجنائز. رقم (١٢٧٨)ومثله عند مسلم (٣٠٤\١) كتاب الجنائز باب فى نهى النساء عن إتباع الجنائز. من غير عزيمة)_

حضرت سوده بنت زمعه رضي الله عنها هم ورور شو.خو دوى خپلې پاکې بى بى حضرت سوده رضي الله عنها ته حكم وركړو.،،إحتجبي منه يا سودة،، ددې وجه هم دا ده.چه يو طرف ته د شريعت په نظر كښې دده نه پرده نشته. بل طرف ته د حرمت قرينه هم موجود ده.چه دا بچې په شكل اوشباهت كښې دعتبه بن ابى وقاص مشابه وو.اگرچه شرعاً دا معتبر نه دې.خو چونكه يوه قرينه ضرورده.په دې وجه نبى كريم ﷺ حضرت سوده رضي الله عنها ته دده نه د پردې حكم وركړو. ([1])
دغه شان حضرت عقبه بن حارث رضي الله عنه د يوې ښځې سره نكاح كړې وه.د نكاح نه پس يوه ښځه راغله.او وې ونيل. چه ما خو عقبه او ددې ښځې دواړو ته پئ وركړى وو.دا دواړه رضاعى ورور اوخور دى.نو ددوى په مينځ كښې به نكاح څنگه كيږى؟ حضرت عقبه خو اوونيل.«ما أعلم أنك قد أرضعتني، ولا أخبرتني» دغه شان دده سخرگنى هم اوونيل.،،ما علمنا أرضعت صاحبتنا،، بيا دا مقدمه نبى كريم ﷺ ته پيش كړې شوه.دلته حجت تامه نشته.چه دوه سړى وى.يا يو سړې او دوه ښځې وى.بلكه حجت ناقصه دې.يعنى صرف يوه ښځه ده.خو ددې باوجود نبى كريم ﷺ هغوى ته د جداكيدو دپاره اوفرمائيل.([2]) دا حكم په دې وجه وركړې شو.چه د مشتبهاتو نه اجتناب كول پكار دى.

⑧ بعضې وختونو كښې اشتباه په دې طريقه راپيښيږى.چه يو څيز بيخى حلال دې.هيڅ قسمه اشتباه نشته.خو خلقو ته غلط فهمى پيداكيږى.لكه څنگه چه د تهمت په موقعو كښې عام طور باندې داسې كيږى.چه تاسو يو صحيح او جائز كاركوئ.خو چونكه د تهمت ځائې دې.په دې وجه نوروخلقوته مغالطه كيږى.په دې صورت كښې هم احتياط كول پكار دې. اوگورئ! نبى كريم ﷺ اعتكاف كښې وو.د شپې وخت وو.حضرت صفيه رضي الله عنها دوى له راغله.كله چه هغه لاړله.نو نبى كريم ﷺ د هغې رسولو دپاره د جمات دروازې پورې تشريف راوړلو.هلته دوه انصارى صحابه تيريدل.نبى كريم ﷺ دا خيال اوكړو.چه چرته شيطان ددوى په زړونو كښې څه وسوسه وانه چوى.وې فرمائيل. ،،هذه صفية،، گويا نبى كريم ﷺ يوه غلط فهمى لرې كړله.كومه چه پيداكيدې شوه. ([3])
حاصل دا دې.چه څومره څيزونه د اشتباه دى.د هغې ټولو نه بچ كيدل او احتياط كول پكار دې.البته دا اجتناب به كله واجب وى.او كله به مستحب وى. د دې تفصيل دا دې.چه اشتباه به يا يو عام كس ته راپيښيږى.او يا به مجتهد ته راپيښيږى.عامى ته د راپيښيدو په صورت كښې به ددې وجه يا خو دا وى.چه هغه عارف بالحكم نه دې.او نه د يو مجتهد او مفتى نه ده تپوس كړې دې.په دې صورت كښې اجتناب او ځان ساتل واجب دى.او يا به ددې وجه دا وى.چه د مجتهدينو او مفتيانو حضراتو اختلاف وى.او د علم او ورع په اعتبار

---

[1] د تفصيلى واقعه دپاره اوگورئ.صحيح البخارى(٢٧٦\١) كتاب البيوع باب تفسير المشبهات)_
[2] مشكاة المصابيح (٢٧٣\٢و ٢٧٤) كتاب النكاح باب المحرمات الفصل الأول وانظرصحيح البخارى (٢٧٦\١) كتاب البيوع باب تفسير المشبهات (٧٦٤\٢، ٧٦٥) كتاب النكاح باب شهادة المرضعة)_
[3] صحيح بخارى (٢٧٣\١) كتاب الصوم باب زيارة المرأة زوجها فى إعتكافه)_

سره يو مفتى ته په بل مفتى باندې ترجيح ورکول مشکل وى په داسې صورت کښې به د اجتناب او احتياط حکم استحباباً وى
اوکه اشتباه مجتهد ته راپيښه شوې وى نو ددې وجه به يا دا وى چه ده خصوصى ددې مسئلې په حکم باندې غور او فکر او اجتهاد نه دې کړې په دې صورت کښې دا مجتهد د ..عامى.. په حکم کښې دې او که اشتباه ده ته د دلائلو د تعارض په وجه. او د ترجيح نه ورکولو په وجه راپيښه شوې وى نو احتياط او تورع واجب دې خکه چه محرم ته په مبيح باندې ترجيح حاصل وى خوکه د دلائلو تعارض وى او اباحت ته په تحريم باندې ترجيح هم ورکړې شوې وى نو په داسې صورت کښې بچ کيدل مستحب دى [1] والله اعلم
تنبيه يوه خبره دلته د يادولو دا ده چه يو څيز دې ..مشتبهات.. او بل يو څيز دې ..وساوس.. دواړو کښې فرق دې امام بخارى رحمه الله هم فرق کړې دې لکه يو باب ئې قائم کړې دې ،،باب من يتنزه من الشبهات،،[2] دلته تلقين دې چه د ..مشتبهات نه بچ کيدل پکار دى او يوه ترجمه ئې قائم کړې دې،،باب من لم ير الوساوس ونحوها من الشبهات،،[3] يعنى وساوس په شبهات. او مشتبه څيزونو کښې داخل نه دى نو د مشتبهاتو نه د بچ کيدو حکم دې خو د وساوسو پرواه کول پکار نه دى.
ددې صورت دا کيدې شى چه يو سړې په يو څيز کښې يو داسې احتمال پيش کړى کوم چه ..ناشئ من دليل صحيح.. نه وى مثلاً د مسلمان مذبوحه خاروې دې په دې کښې خوټ احتمال راوباسى چه ممکن ده ده تسميه ونيلو سره ذبح نه وى کړې نو ددې خوراک جائز نه دې! دا وسوسه ده ددې اعتبار به نه کيږى يا مثلاً يوکس سره څه اوبه دى او هيڅ يو علامت داسې نشته چه د هغې په وجه دې اوبو ته ناپاکې اوونيلې شى خو هغه احتمال بنکاره کوى چه ممکن ده چه د کومو نلکو نه دا اوبه راوخى په هغې کښې پليتې اوبه ملاو شوى وى د داسې وسوسې
اعتبار به نه کيږى والله اعلم

قوله فَمَنِ اتَّقَى الْمُشَبَّهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ: بيا چه کوم کس د شبهې د څيزونو نه بچ کيږى هغه خپل دين اوعزت بچ کوى

ددې حديث په رومبۍ حصه ،،الحلال بين.....،، کښې احکام او مسئلو طرف ته اشاره ده چه حلال اوحرام ټول شريعت واضح کړى دى اواوس په دې دويمه حصه ،،فمن اتقى المشبهات....،، کښې حوادث او واقعاتو طرف ته اشاره ده ددې دپاره يوه عرفى ضابطه ذکر کړې شوې ده چه په عملى ژوند کښې راپيښيدونکو کوم واقعاتو سره د انسان واسطه راځى هغه

[1] تکملة فتح الملهم (۶۲۳۱۱)_
[2] کتاب البيوع (۲۷۶۱۱)_
[3] المصدر السابق)-

واقعات او حوادث كه د مشبهاتو د قبيل څني وي.نو ددې نه عرفاً هم اجتناب كول پكار دي څكه چه په دې سره د سړي دين او دده آبرو محفوظ كيږي.
حاصل دادې چه كوم سړې د مشتبهاتو نه بچ كيږي.هغه باندې به شرعي حيثيت سره هيڅ نكته چيني نه كيږي يو سړې دواني په دې شبهې سره نه څكي. چه په دې كښې ..الكحل..
دي.نو دده په دين باندې هم نكته چيني نه كيږي او دده د آبرو حفاظت هم كيږي.او كه يو سړې احتياط نه كوي.نوخلق به كم ازكم داخو واني چه دې په دې سلسله كښې احتياط نه كوي.
ددې څنې نه دا هم معلومه شوه.چه په مشتبهاتو كښې پريوتلو سره دنيوى نقصان هم دي چه خلق بدې ردې واني.او طعن او ملامتيا واني چه په دې سره بې عزتي كيږي او په دې كښې ديني نقصان هم دې.چه دين بالكل پاك نه پاتې كيږي. خطره وي.چه وړاندې تلو سره به د شيطان په دهوكو. محرمات محضه كښې واقع شي كه دې د مشتبهاتو نه بچ كيږي.نو دده عزت به هم د خلقو د عيب لګولو او د ملامته كولو نه محفوظ وي.او دين به هم د شيطان د دهوكو نه په امن كښې وي.(١)

قوله وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ:او څوك چه د شبهاتو په دې څيزونو كښې اخته شو.(نوهغه په حرامو كښې پريوتلو)دده مثال د هغه څرونكي (شپونكي) دې.كوم چه د (شاهي) چراګاه (ورشو) ګير چاپيره څرن كوي.نزدې ده.چه هغه څاروى هغې كښې داخل كړي.

د بخارى شريف په ټولو رواياتو كښې دا جمله داسې ده:،،**من وقع في الشبهات كراع**......،،(٢) كه په دې كښې ..من.. شرطيه اومنلې شي.نو جزاء به محذوف وي.،،**وقع في الحرام**،، لكه څنګه چه د مسلم شريف په روايت كښې جزاء هم دا مذكور ده.(٣) په دې صورت كښې به ،،**كراع يرعى**....،، جمله مستانفه وي.ددې مقصود مثال پيش كولو سره ..تنبيه بالشاهد على الغائب.. ده.(٤)
دويم صورت دا هم ممكن دې.چه ..من.. شرطيه نه وي.بلكه موصوله وي.په دې صورت كښې به خبر هم محذوف نه وي.او مطلب به دا وي ،،**الذى وقع في الشبهات مثل راع يرعى**.......،،(٥) خو اولى او راجح هم دا ړومبې صورت دې څكه چه دارمي د امام بخارى د شيخ ابونعيم په طريق سره د روايت تخريج كړې دې.چه هغې كښې،،**وقع في الحرام**،،مذكور دې.(٦)دغه شان په

---

(١) فضل البارى(١\٥٤٦)-
(٢) فضل البارى(١\١٢٨)_
(٣) صحيح مسلم (٢\٢٨) كتاب البيوع باب أخذ الحلال وترك الشبهات)_
(٤) فتح البارى(١\١٢٨)_
(٥) المصدرالسابق)_
(٦) سنن الدارمى(٢\٣١٩) فاتحة كتاب البيوع باب فى الحلال بين والحرام بين رقم ٢٥٣١)-

صحيح مسلم كښې هم د زكريا بن ابى زائده رحمه الله په طريق سره نقل دې.(لكه څنګه چه دلته كښې هم ددوى په طرقه سره دې).په هغې كښې هم د ،،وقع فى الحرام،،تصريح موجود ده.[1]

قوله: ،،الحمى،،: حمى محفوظ ځائې ته وئيلې شى.پخوا زمانه كښې دستور وو.چه د ملك بادشاهانو او سردارانو به د زمكې څه حصه خپل خان دپاره محصور او محفوظ كوله.[2] په دې كښې چه به كومه ګياه او شينكې وه.په دې كښې به هم ددوى څاروى څريدل.كه بل چا به هلته كښې څرول.هغوى ته به سزا وركولې شوه.بيا د څاروى خاصه دا ده.چه كله دې څرن كوى.او په څرن څرن كښې داسې ځائې ته اورسيږى.چرته چه پټى (فصل) مخې ته وى.او دننه پكښې ښه ګيا وى. هغه موقعه ګورى.او فوراً هغې ته ور داخليږى. شپونكې ئې منع كوى.خو هغه نه منع كيږى.په دې وجه هوښيار شپونكى (څرونكى) خپل څاروى ايساروى.چه پريشانى نه وى.

ددې مثال مطلب واضح دې.چه انسان خو پخپله راعى (شپونكې) دې.او دده نفس دغه څاروى دې.چه دې دا څروى.كه انسان دا څاروې ،حمى الله، يعنى د الله تعالى چراګاه كښې د ورداخليدو نه منع نكړو.نو څرونكې او څريدونكې دواړه به مجرمان وى.د الله تعالى چراګاه محرمات دى.او ددې ماحول مشتبهات دى.چاچه خپل نفس مشتبهاتو ته آزاد پريخودو.هغه يقيناً محرماتو كښې هم ورتلې شى. څكه چه محرمات سركارى چراګاه ده.شاهى چراګاه ډيره زياته ښائسته او نظر دهوكه كونكى وى.خو ددې نه بچ كيدل ضرورى وى.ددې خوشنما او دلفريب محرماتو نه بچ كيدو دپاره ضرورى ده.چه سړې د مشتبهاتو نه بچ شى.څكه چه دا د حلال او حرام په مينځ مينځ كښې دې.څوك چه ددې نه بچ شى.هغه به دحرام نه په طريقهٔ اولى بچ كيږى.څكه چه د حرامو كنده (لاره) ددې نه پس ده.بلكه كوم سړې چه په مباحاتو كښې غلو كوى.هغه مكروهاتو ته رسيږى.او څوك چه په مكروهاتو كښې احتياط نه كوى.هغه حرامو ته رسيږى.[3]

علامه ناصرالدين ابن المنير رحمه الله د خپل شيخ، د اسكندريه زاهد ابوالقاسم منصور(يا ابوالقاسم بن منصور) قبارى رحمه الله [4] نه نقل كړې دې.هغه به فرمائيل. چه ((المكروه عقبة بين

---

[1] صحيح مسلم (٢٨\٢)_

[2] النهاية لإبن الأثير(٤٤٧\١) وفتح البارى(٤٤\٥) كتاب المساقاة باب لا حمى إلا لله ولرسوله ﷺ)_

[3] فضل البارى(٥٤٧،٥٤٦\١)_

[4] ددوى نوم صاحب د قاموس ،،ابوالقاسم منصور،، ليكلې دې.علامه زبيدى ليكلى دى.((ويقال أبوالقاسم بن منصور كما فى التبصير للحافظ)) تاج العروس (٤٧٨\٣) اوحافظ ابن كثير رحمه الله د دوى پوره نوم محمد بن منصور بن يحيى ابوالقاسم قبارى ليكلې دې.

ددوى په حالاتوكښې هغوى ليكلى دى.چه دوى په خپل باغ كښې اوسيدل.هم دغه باغ ددوى د آمدن ذريعه وه.ډيرمتورع وو.خلقوياندې به ئې دهغې دميوې نه خوراك كولو.امربالمعروف اونهى عن المنكرئې كولو.حكمرانان ئې په موثره طريقه د ظلم نه منع كولو.... [باقى حاشيه په بل مخ...

العبد والحرام، فمن استكثر من المكروه تطرق إلى الحرام، والمباح عقبة بينه وبين المكروه، فمن استكثر منه تطرق إلى المكروه))[1] يعنى مكروه د بنده او حرام په مينځ كښې يوه كنده ده.څوك چه د مكروهاتو زيات ارتكاب كوي.هغه به حرام ته رسيږي.او دغه شان مباح هم د بنده او مكروه په مينځ كښې يوه كنده (لاره) ده.كوم كس چه مباحاتو كښې غلو كوي.هغه به مكروهاتو ته ضرور رسيږي

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي.([2]) چه دا مفهوم اصل كښې د يو حديث نه اخستې شوې دې.

كوم چه ابن حبان رحمه الله نقل كړې دې.((اجعلوا بينكم وبين الحرام سترة من الحلال، من فعل ذالك استبرأ لدينه وعرضه، ومن أرتع فيه كان كالمرتع إلى جنب الحمى))([3])

قوله: أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى أَلَا إِنَّ حِمَى اللَّهِ فِي أَرْضِهِ مَحَارِمُهُ: واورئ! د هر بادشاه يو مخصوص چراګاه وى.دهغې يو مخصوصه زمكه وى. چه په هغې كښې هيڅ چاته د داخليدو يا د څرولو اجازت نه وى.او د الله تعالى ،،حمى،، دهغه په زمكه كښې محارم دى.

يعنى الله تعالى چه كوم څيزونه حرام كړى دى.هغې ته د نزدې ورتلو اجازت نشته.او كه څوك ورځى.نو د سزا مستحق كيږى.دغه شان كه د الله تعالى په ،،حمى،، كښې څوك داخليږى.نو دسزا مستحق به وى.

دلته ددې خبرې وضاحت ضرورى دې.چه ،،حمى،، يا چراګاه مختص كول زمونږ په نيز جائز نه دى.البته كه د شرعى مصلحتونو په وجه ضرورت راپيښ شى.نو بله خبره ده.([4])لكه چه دنبى كريم ﷺ نه د ،،نقيع،، نه ،،حمى،، جوړول، او د حضرت عمر رضي الله عنه نه د ،،شرف،،

...د تيرمخ بقيه حاشيه] حكمرانانو به هم ددوى خبرې اوريدلې اومنلې.ددوى دزيارت دپاره به راتلل.دوى به په كړكۍ كښې اوكتل. اوهغوى سره به نې خبرې كولې.خلق به په دې باندې هم ډيرخوشحاله كيدل.دوى يوه عجيبه واقعه ډيره مشهوره ده.چه دوى خپل يوڅاروې په چا باندې خرڅ كړې وو.څو ورځې پس هغه كس هغه څاروې واپس راوستل.او وې وئيل.چه ستا څاروې مونږ سره څه نه خورى.ده دهغه نه تپوس اوكړو.چه ستا څه شغل دې.هغه اووئيل.چه زه د والى دربار ډم يم.شيخ هغه طرف ته اوكتل.او وې وئيل.زمونږ څناور حرام نه خورى.ددې نه پس نې هغه ته روپۍ واپس كړې.چونكه دراهم ګډې وډې شوې وې.اود جدا كولو څه صورت ورته په نظر نه راتلو.ددې وجې دهغې روپونه سوا نورې روپۍ ورته هم وركړې.خلقوتبرك اوګنړل.اويوه يوه روپۍ نې په درې درې روپو باندې واخستې.په ۶۶۲هـ كښې دوى وفات شوى وو.دوى تول دپنځوسو روپوسامان پريخودې وو.خلقودغه سامان په پنځويشت زره روپۍ باندې واخستل.البداية والنهاية (۱۳\۲۴۳، ۲۴۴)

[1]) فتح البارى(۱\۱۲۷)_

[2]) فتح البارى(۱\۱۲۷)_

[3]) موارد الظمآن إلى زوائد ابن حبان(ص.۶۳۳) كتاب الزهد باب فى الورع رقم ۲۵۵۱)_

[4]) عمدة القارى(۱۲\۲۱۳) –كتاب المساقاة باب لاحمى إلا لله ولرسوله ﷺ)_

نه چراګاه جوړول ثابت دی (١) او دا د دینی مصلحت په وجه وو (٢)
دلته د تشبیه نه دې ځوك دا نه ګنړی چه د ..حمی.. اختصاص جائز دې ځکه چه تشبیه سره د یوې خبرې پوهول مقصود وی.د تشبیهاتو نه مسائل نه ثابتیږی.او نه ددې نه د احکامو استنباط کیږی.نودلته چه کومه تشبیه ده.دا تشبیه المحمود بالمذموم ده (٣)والله اعلم.
فائده ابو عمرو دانی رحمه الله د بعضو عالمانو نه نقل کړی دی چه دا تمثیل د شعبی رحمه الله د طرفه ادراج دې د حدیث جزء نه دې علامه عینی او حافظ ابن حجر رحمه الله ددې خبرې تردید کړې دې او تحقیق سره ئې ثابته کړې ده.چه دا تمثیل مدرج نه دې بلکه د نبی کریم ﷺ د ارشاد جزء دې.(٤)

قوله أَلاَ وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلاَ وَهِيَ الْقَلْبُ :واورئ! په بدن کښې دننه یوه ټکړه ده.کله چه دا صحیح شی.نو ټول بدن صحیح کیږی.او کله چه دا خرابه شی.نو ټول بدن خرابیږی.واورئ! دغه ټکړه ..زړه.. دې
..مضغه.. د غوښې ټکړې ته وائی.(٥) . ..صلح.. او ..فسد.. دواړه د باب نصر نه مستعمل دی.البته ..صلح..د باب کرم نه هم مستعملیږی. (٦)

..قلب.. زړه ته وائی.کله کله ..عقل.. باندې هم د ..قلب.. اطلاق کولې شی.لکه چه قرآن د الله تعالی په ارشاد ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ﴾ (٧)کښې د ..قلب.. تفسیر ..عقل.. سره کړې دې.(٨) د بعضو حضراتو په نیز ..قلب.. فؤاد دپاره خاص دې حالانکه بعضې حضرات د دواړو د اتحاد او هم معنی کیدو قائل دی.(٩)

د ..قلب.. وجه تسمیه یا خو ددې ..متقلب فی الامور.. کیدل دی.او دا په دې وجه چه دا اصل البدن اوخلاصة البدن دې.او خلاصة الشئ ته ..قلب الشئ.. ونیلې شی.(١٠) یا ددې په بدن

---

(١) صحیح البخاری کتاب المساقاة باب لاحمی إلا لله ولرسوله)_
(٢) العمدة (٢١٣\١٢) والفتح (٤٤\٥)_
(٣) فیض الباری(١٥٤\١) وأنوارالباری(١٩٨\٢)_
(٤) عمدة القاری(٣٠٢\١. وفتح الباری(١٢٨\١)-
(٥) فتح الباری(١٢٨\١) وعمدة القاری(٢٩٨\١)_
(٦) عمدة القاری(٢٩٨\١)-
(٧) سورة ق.٣٧)_
(٨) عمدة القاری(٢٩٨\١)_
(٩) عمدة القاری(٢٩٨\١)
(١٠) فتح الباری(١٢٨\١)وعمدة القاری(٢٨٩\١)_

کښې د ..متلوب.. ايخودو په وجه دې ته ..قلب.. ونيلې شي.( )
بې چونکه ..قلب.. د ډيرو خطراتو او وارداتو د ورود ځائې وي.او ددې کيفيت يوحالت کښې نه وي په دې وجه دې ته د ..قلب.. نوم ورکړې شو.لکه چه شاعر هم دې معنى طرف ته اشاره کړې ده

ما سمي القلب الا من تقلبه فاحذر على القلب من قلب وتحويل( )

خو دننه دا وضاحت ضروري دې چه ..قلب..اصل کښې دهغه صنوبري (د غوښې دمخصوص) ټکړې نوم نه دې.کوم چه د انسان په بدن کښې دې.بلکه ..قلب..د يوې لطيفه نوم دې کوم چه په دې بدن کښې دننه دې.لکه څنګه چه دماغو کښې ټول باطني حواس شته حالانکه په بدن کښې هغه په نظر نه راځي. بلکه د دماغو تشريح کوي.ونيلې کيږي چه په فلانئ حصه کښې حس مشترک دې.په فلانئ حصه کښې حافظه ده.حالانکه که دماغ واخستلې شي او اوکتلې شي.نو سواء د دماغي بدن نه بل هيڅ هم نشته.دغه شان ..قلب.. دې.لکه څنګه چه د ټول بدني نظام حيات طبعي حيثيت سره اصل منبع ..قلب.. دې.د قلب حرکت بنديدو سره ټول نظام ختميږي دغه شان روحاني او شرعي حيثيت سره هم د ټولو اعمالو او جوارحو صحيح کيدو مدار د قلب د لطيفې په سلامتيا او صحيح کيدو باندې دې که قلبي احوال او روحاني ملکات صحيح نه وي.نو د ظاهري افعالو او اعمالو ټول نظام به خراب (او ګډ وډ) وي.( )

په ظاهره ددې جملې ماقبل سره هيڅ تعلق او ارتباط نشته.خو حقيقت دا دې.چه دا جمله ډيره حکيمانه او پرمغز ده.او ددې ماقبل سره ډير لطيف ارتباط او تعلق دې.دا ارتباط په دې طريقه دې.چه امام بخاري رحمه الله وړاندې د مشتبهاتو نه د پرهيزکولواوبچ کيدو ترغيب او تاکيد اوفرمائيلو.اوس بيانوي.چه ددې مشتبهاتو نه د بچ کيدو څه طريقه ده؟ په کومه ذريعه دا حاصليدې شي؟ نو وې فرمائيل.چه قلب کوم چه د ټولو جواهرو او کمالاتو منبع او مخزن دې.دا صحيح کړئ.بيا به د هرقسمه مشتبهاتو نه بچ شئ.يعنى که قلب صالح او صحيح وي.په دې کښې د الله تعالى ويره. او خشيت الهى وي.نو بيا د مشتبهاتو نه بچ کيدل آسان دى.ستا هر اندام به متقى او پرهيزګار جوړ شي.اوکه د قلب حال خراب شو.په دې کښې د الله تعالى ويره پاتې نشوه.نو بيا به هرڅه خراب وي.ستا هر اندام به تا ګناه او معاصي طرف ته راکاږي.اصل مشين يا انجن قلب دې.دا صحيح کړه.چه دا کوم طرف ته ځي.د اندامونو ټولې ډبې به ددې سره هم هغه طرف ته ځي.( )

بيهقي په شعب الايمان کښې يو اوږد روايت نقل کړې دې.په هغې کښې دى.«القلب ملك،

) فتح البارى(۱۲۸\۱)-
) عمدة القارى(۲۹۸\۱)_
) فضل البارى(۵٤۷\۱)-
) فضل البارى(۵٤۷\۱.۵٤۷)_

وله جنود، فإذا صلح الملك صلحت جنوده، وإذا فسد الملك، فسدت جنوده......)[1]
خلاصه دا ده.چه قلب د جسمانی حیات او د اندامونو او جوارحو صلاح دپاره د منبع (مرکز) حیثیت لری.چه په دې کښې د اختلال (او خرابۍ) په وجه په ټول بدن کښې اختلال پیدا کیږی.دغه شان د قلب په لطیفه باندې دټولو روحانی کمالاتو مداز دې.د ټولو اعمالو او افعالو شرعاً سلامتیا هم د قلب ددې لطیفې په صحیح کیدو باندې موقوف ده.د قلب په صلاح باندې د روحانیت اصلاح او ترقی، خشیت خداوندی، او د حمیده اخلاقو اهتمام موقوف دې او هم دا دنجات مدار دې.والله سبحانه اعلم.

محل عقل ابن بطال رحمه الله د حدیث باب نه په دې خبره باندې استدلال کړې دې.چه محل د عقل ،،قلب،، دې.[2] حافظ ابن حجر رحمه الله دا استدلال د استحسان په طور نقل کړې دې.[3]
او امام نووی رحمه الله فرمائی.چه ددې حدیث نه په هیڅ شان سره هم استدلال صحیح نه دې.[4]
اصل کښې په دې مسئله کښې اختلاف دې.د امام شافعی رحمه الله او متکلمینو په نیز د عقل محل قلب دې.او د امام ابوحنیفه رحمه الله او اطباؤ په نیز د عقل محل دماغ دې.[5]
د قرآن کریم د ظاهر نه د امام شافعی رحمه الله د مذهب تائید کیږی.په دې کښې دی. ﴿فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا﴾[6]او امام ابوحنیفه رحمه الله او دده هم مذهب اطباء ددې نه استدلال کوی.چه اوګورئ، د دماغو په فاسد کیدو او خرابیدو سره عقل خرابیږی. معلومه شوه.چه محل د عقل دماغ دې.[7]
حضرت شاه صاحب کشمیری رحمه الله فرمائی.چه په حقیقت کښې د عقل اصل منبع ،،قلب،، دې.[8]خو چونکه په قلب او دماغوکښې اتصال وی.په دې وجه عقل ته چه کوم ادراک کیږی.د هغې تصویر په دماغو کښې منقش کیږی.او دا بالکل داسې ده.لکه د بجلۍ بلب او بټن، کله چه د بجلۍ بټن یو ځائې کښې اووهلې شی.نو بلب بل ځائې کښې روښانه کیږی.دغه شان دلته کښې هم په قلب کښې چه کوم جنبش (او حرکت) پیدا کیږی.نو هلته د دماغو د ادراکاتو باټۍ روښانه کیږی.نو حاصل دا شو.چه د عقل محل په حقیقت کښې زړه

---

[1]) رواه البیهقی عن أبی هریرة رضی الله عنه مرفوعاً وموقوفاً بطرق مختلفة كما رواه عن أبی سعید مرفوعاً أیضاً انظر شعب الإیمان للبیهقی(۱/۱۳۲، ۱۳۴)باب فی الإیمان بالله عزوجل فصل فی حدوث العالم رقم۱۰۹) و(۱۱۰)
[2]) فتح الباری(۱/۱۲۹)_
[3]) المصدر السابق)-
[4]) عمدة القاری(۱/۳۰۲)_
[5]) عمدة القاری(۱/۳۰۲)_
[6]) الحج:۴۶)-
[7]) عمدة القاری(۱/۳۰۲)-
[8]) فیض الباری(۱/۱۵۴، ۱۵۵) ودرس بخاری(۱/۳۰۰)-

دي.او دا هم يو حقيقت دي.چه ددې عقل په محل يعنى قلب كښې د ادراكاتو انتقاش نه كيږى.بلكه دا انتقاش دماغوكښې كيږى.لكه چه د قرآني نصوصو نه هم دا معلوميږى.
﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ﴾ (١)﴿أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا﴾ (٢)﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا﴾ (٣).ددې نه معلوميږى.چه محل د عقل په حقيقت كښې قلب دې. اګرچه قلب او دماغو كښې دومره قوى اتصال دې.چه په دماغو باندې د عقل د محل كيدو ګمان كيږى.هم ددې قوت اتصال په وجه د دماغو په فاسد كيدو قلب باندې اثر پريوځى.او عقل خرابيږى.،،والله سبحانه وتعالى أعلم،،_

(٢٨) بَابُ أَدَاءُ الْخُمُسِ مِنَ الْإِيْمَانِ

د امام بخارى رحمه الله مقصد خمس [بضم الخاء والميم وبإسكانها] (٤) دغنيمت پنخمه حصه مراد ده.امام بخارى رحمه الله دا باب قائم كړې دې.چه د خمس اداكول د ايمان د شعبو ځنې دې. د دې نه د امام بخارى رحمه الله مقصد واضح دې.چه هغه د ايمان امور شمارى.

يو اشكال او د هغې جواب:ددې نه وړاندې دايمان د امورو په باره كښې ،،باب اتباع الجنائز من الإيمان،، تير شوې دې.په مينځ كښې يو څو بابونو نه پس ئې دا باب قائم كړو.سوال دا دې.چه دا باب ئې هم هلته ،،اتباع الجنائز،، سره ولې ذكر نكړو؟ په مينځ كښې ئې نور بابونه ولې ذكركړل؟
ددې جواب دا دې.چه امام بخارى رحمه الله د يوې لطيفې خبرې لحاظ كړې دې. هغه دا چه دوى وړاندې كوم اعمال ايمان يا اسلام سره متعلق ګرځولى وو.هغه خو روزمره اعمال وو.او د خمس اداكول د غنيمت د مال نه كولې شى.او مال دغنيمت په جهاد كښې ملاويږى.او جهاد په ژوند كښې كله كله او بعضو بعضو ته نصيب كيږى.په سوونو.زرګاو سرى داسې هم دى.چه هغوى ته هډو جهاد نه نصيب كيږى.په دې وجه امام بخارى ،،أداء الخمس من الإيمان،، هم جدا بيان كړې دې.(٥)
امام بخارى رحمه الله دا باب د اتباع الجنائز د باب نه پس ځكه لګولې دې.چه ډيرځله چه په جهاد كښې خلق شهيدان كيږى.نو مخكښې شهيدان دفن كولې شى.دهغې نه پس غنيمت تقسيمولې شى.او ددې نه خمس اوبنكلې كيږى.(٦) والله اعلم.

---

(١) سورة ق: ٣٧)-
(٢) الحج:٤٦)-
(٣) محمد: ٢٤)-
(٤) لسان العرب (٦\٧٠) مادة ،،خمس،،)-
(٥) إيضاح البخارى(٤\٤٢٦)-
(٦) تقرير بخارى شريف (١\١٥٤)-

ماقبل باب سره ربط او مناسبت ددې باب ماقبل باب سره مناسبت دا دې چه په ماقبل كښې د حلال او حرام ذكر دې حلال مامور به دې او حرام منهى عنه دې په مذكوره باب كښې هم دا دواړه څيزونه دى مامور به هم او منهى عنه هم. مامور به مثلاً ايمان بالله. ايمان بالرسول. اقامت صلاة. ايتاء زكاة. صيام رمضان. او اداكول د خمس. او منهى عنه مثلاً حنتم وغيره ظروف (لوخى) استعمالول.(١)

بيا دلته امام بخارى رحمه الله د ،،اداء الخمس من الايمان،، باب منعقد كړې دې. حالانكه د كتاب الجهاد په آخر كښې ئې د ،،أداء الخمس من الدين،، باب قائم كړې دې.(٢) دلته ئې د مسائلو په حيثيت سره ذكركړې دې اوهلته ئې دغنيمت د بيان په حيثيت سره ذكركړې دې والله اعلم

تنبيه وړاندې مونږ ونيلى وو چه دا لفظ د ،،خُمس،،(بضم الخاء) دې او ددې نه مراد د مال غنيمت پنځمه حصه ده. خو بعضې عالمان فرمائى چه دا لفظ د ،،خَمس،،(بفتح الخاء) دې او ددې نه مراد اركان خمسه دى او امام بخارى رحمه الله دا ښودل غواړى چه د اركان خمسه اداكول د ايمان د شعبو څخه دى.

خو دا خبره په دريو وجوه سره صحيح نه ده:

① رومبې په دې وجه چه امام بخارى رحمه الله په دې باب كښې كوم حديث ذكركړې دې په هغې كښې صرف د ..اركان خمسه.. ذكر نه دې بلكه د ..خُمس.. ذكر هم دې نو ..خُمس.. پريخودل . او باقى اركان خمسه د ايمان شعبه ګرځول په عقل كښې نه راځى.

② دويمه دا چه په حديث باب كښې د حج ذكر نشته.

③ دريمه دا چه په اركان خمسه كښې په صلاة او زكاة وغيره باندې وړاندې مستقل تراجم ذكر شوى دى.(٣) والله اعلم.

---

(١) عمدة القارى(١١\٣٠٢)_

(٢) كتاب فرض الخمس باب أداء الخمس من الدين رقم ٣٠٩٦)-

(٣) فتح البارى(١١\٢٢٩) وعمدة القارى(١١\٣٠٣)-

٥٠- حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْجَعْدِ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ عَنْ أَبِي جَمْرَةَ قَالَ كُنْتُ أَقْعُدُ مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ (١) يُجْلِسُنِي عَلَى سَرِيرِهِ فَقَالَ أَقِمْ عِنْدِي حَتَّى أَجْعَلَ لَكَ سَهْمًا مِنْ مَالِي فَأَقَمْتُ مَعَهُ شَهْرَيْنِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ لَمَّا أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ الْقَوْمُ أَوْ مَنِ الْوَفْدُ قَالُوا رَبِيعَةُ قَالَ مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ أَوْ بِالْوَفْدِ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامَى فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا لَا نَسْتَطِيعُ أَنْ نَأْتِيكَ إِلَّا فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ وَبَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هَذَا الْحَيُّ مِنْ كُفَّارِ مُضَرَ فَمُرْنَا بِأَمْرٍ فَصْلٍ نُخْبِرْ بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا وَنَدْخُلْ بِهِ الْجَنَّةَ وَسَأَلُوهُ عَنِ الْأَشْرِبَةِ فَأَمَرَهُمْ بِأَرْبَعٍ وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ أَمَرَهُمْ بِالْإِيمَانِ بِاللَّهِ وَحْدَهُ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْإِيمَانُ بِاللَّهِ وَحْدَهُ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَإِقَامُ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ وَصِيَامُ رَمَضَانَ وَأَنْ تُعْطُوا مِنَ الْمَغْنَمِ الْخُمُسَ وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ عَنِ الْحَنْتَمِ وَالدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ وَرُبَّمَا قَالَ الْمُقَيَّرِ وَقَالَ احْفَظُوهُنَّ وَأَخْبِرُوا بِهِنَّ مَنْ وَرَاءَكُمْ

[٨٧ ، ٥٠٠ ، ١٣٣٤ ، ٢٩٢٨ ، ٣٣١٩ ، ٤١١٠ ، ٤١١١ ، ٥٨٢٢ ، ٦٨٣٨ ، ٧١١٧]

رجال الحديث

① علی بن الجعد: دوی ابوالحسن علی بن الجعد بن عبید جوهری بغدادی دی (٢)

د ابراهیم بن سعد . اسرائیل بن یونس . اسماعیل بن عیاش . حماد بن سلمه . حماد بن زید . ربیع بن صبیح . سفیان ثوری . سفیان بن عیینه . شعبه . مبارک بن فضاله . او ابو اسحق فزاری رحمهم الله وغیره نه حدیث روایت کوی (٣)

---

(١) الحديث أخرجه البخاري في صحيحه في كتاب العلم باب تحريض النبي ﷺ وفد عبدالقيس على أن يحفظو الايمان والعلم ويخبروا من وراءهم رقم ٨٧) وفي كتاب مواقيت الصلاة باب منيبين إليه واتقوه.. رقم ٥٢٣ وفي كتاب الزكاة باب وجوب الزكاة رقم ١٣٩٨ وفي كتاب فرض الخمس باب أداء الخمس من الدين رقم(٣٠٩٥) وفي كتاب المناقب باب (بدون ترجمة بعد باب نسبة اليمن إلى إسماعيل رقم(٣٥١١٠) وفي كتاب المغازي باب وفد عبد القيس رقم ٤٣٦٨) وفي كتاب الأدب باب قول الرجل مرحباً رقم ٦١٧٦ وفي كتاب أخبار الآحاد باب وصاة النبي ﷺ وفود العرب أن يبلغوا من وراءهم رقم ٧٢٦٦ وفي كتاب التوحيد باب قول الله تعالى: والله خلقكم وما تعملون رقم(٧٥٥٦) ومسلم في صحيحه في كتاب الإيمان باب الأمر بالإيمان بالله تعالى رقم ١٢٤ و١٢٥ و١٢٦ والنسائي في سننه (٢٧١\١٢) في كتاب الإيمان وشرائعه باب أداء الخمس رقم٥٠٣٤ وأبوداد في سننه في كتاب الأشربة باب في الأوعية رقم ٣٦٩٢) و٣٦٩٤ و٣٦٩٦ والترمذي في جامعه في كتاب الإيمان باب في إضافة الفرائض إلى الإيمان رقم ٢٦١١ وابن ماجه في سننه في كتاب الزهد باب الحلم رقم ٤١٨٦)-

(٢) تهذيب الكمال(٣٤١\٢٠، ٣٤٢)-

(٣) تهذيب الكمال(٣٤٢\٢٠)_

ددوى نه امام بخارى، امام ابوداؤد، ابراهيم حربى، ابو يعلى موصلى، احمد بن حنبل، ابوزرعه عبيدالله بن عبدالكريم رازى، ابوبكر بن ابى شيبه، يحيي بن معين او يعقوب بن شيبه رحمهم الله وغيره د حديثو علم حاصل كړې دې.[1] په ١٣٣هـ كښې پيدا شوي دې.[2]

محمد بن حماد رحمه الله فرمائى: «سألت يحى بن معين من على بن الجعد، فقال: ثقة صدوق، ثقة صدوق»[3] دغه شان عبدالخالق بن منصور هم د امام يحيي بن معين نه ددوى ،،ثقه،، كيدل نقل كړى دى.[4]

يحيي بن معين رحمه الله فرمائى: ،،على بن الجعد أثبت البغداديين فى شعبة،،[5] هم ددوى نه نقل دى: ،،ربانى العلم،،[6]

امام ابوزرعه رحمه الله فرمائى: ،،كان صدوقاً فى الحديث،،[7]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائى: «كان متقناً صدوقاً، ولم أر من المحدثين من يحفظ ويأتى بالحديث على لفظ واحد، لا يغيّره، سوى قبيصة و أبى نعيم فى حديث الثورى، و يحى الحِمّانى فى حديث شريك، وعلى بن الجعد فى حديثه،،[8]

صالح بن محمد اسدى رحمه الله فرمائى: ،،ثقة،،[9]

امام نسائى رحمه الله فرمائى: ،،صدوق،،[10]

امام دارقطنى رحمه الله فرمائى: ،،ثقة مامون،،[11]

ابن قانع رحمه الله فرمائى: ،،ثقة ثبت،،[12]

مطين رحمه الله فرمائى: ،،ثقة،،[13]

---

[1]) تهذيب الكمال(٢٠\٣٤٣)-
[2]) وقيل سنة أربع وثلاثين ومائة وقيل سنة ست وثلاثين ومائة انظر سير أعلام النبلاء(١٠\٤٦٠)-
[3]) تهذيب الكمال(٢٠\٣٤٨) وسير أعلام النبلاء(١٠\٤٦٦)_
[4]) تهذيب الكمال(٢٠\٣٤٨)-
[5]) تهذيب الكمال(٢٠\٣٤٩)_
[6]) المصدر السابق)-
[7]) تهذيب الكمال(٢٠\٣٥٠)_
[8]) تهذيب الكمال(٢٠\٣٥٠)_
[9]) المصدر السابق)-
[10]) المصدر السابق)-
[11]) تهذيب التهذيب(٧\٢٩٢)_
[12]) المصدر السابق)-
[13]) المصدر السابق)_

حافظ ذهبی رحمه الله دوی په ،،الحافظ الثبت،،(۱) او ،،الإمام الحافظ الحجة مُسند بغداد،،(۲) القابو سره یاد کړي دي

البته ددوی په باره کښې د حدیث د رجالو نه دوه طعنه منقول دی

① یو داچه دا جهمی وو او قرآن ته به ئې مخلوق وئیلې لکه چه امام مسلم رحمه الله فرمائی: ،،ثقة لکنه جهمی،،(۳) او هم په دې بنیاد باندې امام احمد بن حنبل رحمه الله خپل دواړه خامن ددوی د سماع نه منع کړی وو.

خو حقیقت دا دې چه ددوی جهمی(۴) کیدل ثابت نه دی او نه دې د خلق قرآن قائل وو (۵) بلکه ددوی نه صرف دومره منقول دی چه ،،من قال: القرآن مخلوق لم أعنفه،،(۶)

حافظ ذهبی رحمه الله ددې ،،تجهم،، طعن نقل کولو نه پس فرمائی: ((وقد کان طائفة من المحدثین یتنطعون فی من له هفوة صغیرة تخالف السنة، وإلا فعلی: امام کبیر حجة))(۷)

دویم الزام په دوی باندې د تشیع دې لکه چه ابوغسان دوری نقل کړی دی چه زه علی بن الجعد سره ووم په دې مجلس کښې د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما حدیث ((کنا نفاضل علی عهد النبی ﷺ فنقول: خیر هذه الأمة بعد النبی ﷺ أبوبکر، وعمر، وعثمان، فیبلغ النبی ﷺ فلاینکر)) ذکر راغي نو علی بن الجعد اووئیل ((أنظروا إلی هذا الصبی، هولم یحسن أن یطلق إمرأته، یقول کنا نفاضل)) (۸) دغه شان چه کله ددوی په وړاندې د نبی کریم ﷺ حدیث ،،إن ابنی هذا سید،، (۹) ذکر کړې شو نو وې وئیل ،،ما جعله الله سیداً،،(۱۰)

ترکومې پورې چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما باندې د طعن تعلق دې نو د علی بن الجعد نه ددې انکار منقول دې لکه چه احمد بن ابراهیم دورقی وائی.

---

(۱) میزان الإعتدال(۳\۱۱۶) رقم ۷۵۹۸)-

(۲) سیر أعلام النبلاء(۱۰\۴۵۹)-

(۳) میزان الإعتدال(۳\۱۱۶) وسیر أعلام النبلاء(۱۰\۴۶۶)-

(۴) الجهمیة :من ینفی صفات الله تعالی:التی أثبتها الکتاب والسنة ویقول: إن القرآن مخلوق مقدمة الفتح (۴۵۹)_

(۵) تعلیقات الکاشف(۲\۳۶) رقم ۳۸۸۸)-

(۶) میزان الإعتدال(۳\۱۱۶) وسیر أعلام النبلاء(۱۰\۴۶۵)-

(۷) سیر أعلام النبلاء(۱۰\۴۶۶)-

(۸) سیر أعلام النبلاء(۱۰\۴۶۶) وتهذیب الکمال(۲۰\۳۴۷)-

(۹) انظر صحیح البخاری(۱\۵۳۰) کتاب المناقب باب مناقب الحسن والحسین)_

(۱۰) سیر أعلام النبلاء(۲۰\۴۶۶) وتهذیب الکمال(۲۰\۳۴۷)-

((قلت لعلى بن الجعد: بلغني أنك قلت: إبن عمر ذاك الصبي! قال: لم أقل....))(١)

دغه شان د حضرت حسن رضي الله عنه د منقبت د حديث ،،إن ابني هذا سيد،، چه كوم انكار منقول دي.ددې په باره كښې حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.چه دا روايت د ابوغسان دورى نه منقول دي.او دا سړې مجهول دې.او كه روايت صحيح اومنلې شى.نو ونيلې شى.چه على بن الجعد به ددې قبيح قول نه توبه اوښكلې وى.((بل جعله سيداً على رغم كل جاهل، فإن من أمر مثل هذا من الرد على سيد البشر يكفر بلامثنوية (أى بلا إستثناء)....)) روستو حافظ ذهبى رحمه الله د حضرت حسن رضي الله عنه سيادت او سوډد بيان كړې دې.(٢)

البته د على بن الجعد نه د حضرت معاويه رضي الله عنه (و ارضاه) په باره كښې دا قول منقول دې.((ولكن معاوية ما أكره أن يعذبه الله))(٣) دغه شان دحضرت عثمان رضي الله عنه په باره كښې هم دا قول منقول دې.چه ((أخذ من بيت المال مأة ألف درهم بغير حق))(٤) لكه چه امام ا بوداؤد رحمه الله فرمائى.((على وُسِمَ بِمِيسَم سوء، قال: ما يسوئنى أن يعذب معاوية))(٥)

په دې بنياد باندې امام احمد رحمه الله خپل خامن دوى ته د تلو نه منع كول.لكه چه عبدالله بن احمد رحمه الله فرمائى.((نهانى أبى أن أذهب إليه، وكان يبلغه عنه أنه يتناول الصحابة))(٦)

ددې تولو طعنونو حاصل دا دې.چه ده به د حضرات صحابه كرامو رضي الله عنهم په شان كښې بې باكئ سره كلام كولو.نو يا خو به د حافظ ذهبى رحمه الله د قول مطابق د دوى په باره كښې داسې ونيلې شى.چه دوى به توبه اوښكلې وى.ګنى زيات نه زيات به دې مبتدع وى.او د مبتدع روايت كه د خپل مذهب په تائيد كښې نه وى.او هغه داعى الى بدعته هم نه وى.نو هغه قبلولې شى.

حالانكه د على بن الجعد په روايت حديث كښې چه كوم مقام دې؟ ددې ذكر تاسو په تيرو شوو اقوالو كښې كتلې دې.او ابن عدى رحمه الله فرمائى.((ومع هذا كله على بن الجعد ما أرى بحديثه بأساً، ولم أرفى رواياته إذا حدث عن ثقة حديثاً منكراً فيما ذكره، والبخارى مع شدة استقصائه يروى عنه فى صحاحه))(٧)

---

(١) تهذيب الكمال(٢٠\٣٤٧) وسير أعلام النبلاء(١٠\٤٦٤)_
(٢) سير أعلام النبلاء(١٠\٤٦٤)_
(٣) سير أعلام النبلاء(١٠\٤٦٤) وتهذيب الكمال(٢٠\٣٤٧)-
(٤) المصادر السابقة)-
(٥) المصادر السابقة)-
(٦) سير أعلام النبلاء(١٠\٤٦٥)_
(٧) الكامل فى ضعفاء الرجال(٥\٢١٤٤)_

دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى ((روى عنه البخارى من حديثه من شعبة فقط، أحاديث يسيرة.....)) [1]

معلومه شوه چه ددوى د متشيع كيدو او د بعضو صحابه كرامو رضى الله عنهم په باره كښې د بې ادبئ خبرو كولو باوجود د محدثينو په نيز دې ثقه، ثبت او متقن دې خاص طور باندې چه امام بخارى رحمه الله كوم حديثونه اخستى دى.هغه نې صرف د امام شعبه نه نقل شوى حديثونه اخستى دى او دې د خپل استاد امام شعبه په حديثونو كښې ،،اثبت البغداديين،، دې.،،كما مرّسابقاً،، په ۲۳۰ھ كښې ددوى وفات اوشو [2]،سلمه الله تعالىٰ وغفرله،،_

③ **شعبه:** دوى اميرالمؤمنين فى الحديث شعبه بن الحجاج العتكى البصرى الواسطى دې.ددوى مختصر حالات د ،،باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده،، لاندې تير شوى دى. [3]

④ **أبو جمرة:** دا ابو جمره نصر بن عمران بن عصام/ عاصم بن واسع ضُبعى بصرى دې. [4] بعضې حضراتو دده د نيكه نوم نوح بن مخالد يا مخلد هم ليكلې دې. [5]

ضبعى. بنوضبيعه طرف ته نسبت دې.چه دا د عبدالقيس يو شاخ ده.،،كما جزم به الرشاطى،، د بخارى بعضې شارحينو دوى د ،،بكر بن وائل،، شاخ طرف ته منسوب گرخولې دې.دا

---

[1] هدى السارى(۴۳۰) وفى هامش الزهرة بخط ابن الطاهر:روى عنه البخارى ثلاثة عشر حديثاً كذا فى تهذيب التهذيب(۲۹۲/۷. ۲۹۳)_

[2] سيرأعلام النبلاء(۴۶۷/۱۰ وغيره)_

[3] كشف البارى(۶۷۸/۱)_

[4] تهذيب الكمال(۲۶۲/۲۹. ۳۶۳) وسيرأعلام النبلاء(۲۴۳/۵ وغيره)-

[5] حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح البارى(۱۳۰/۱) كښې د دوى نسب ذكركرې دې ((نصربن عمران بن نوح بن مخلد الضبعى..)) حالانكه په تهذيب الكمال(۳۶۲/۲۹) تهذيب التهذيب (۴۳۱/۱۰) او تقريب التهذيب(۵۶۱) رقم ۷۱۲۲) وغيره تولوكتب رجال كښې نصربن عمران بن عصام يا عاصم مذكور دې.البته علامه عينى رحمه الله په عمدة القارى (۳۰۳/۱ و ۳۰۴) كښې نسب خود عامو كتب رجال پشان دې.خود دوى د حالاتو لاندې نې ليكلى دى ((فقد روى الطبرانى وابن منده فى ترجمة نوح بن مخلد جد أبى جمرة ..) دغه شان حافظ په الإصابة) (۵۷۶/۳) رقم ۸۸۲۴) كښې ليكلى دى.((نوح بن مخلد ويقال ابن مخالد جد أبى جمرة نصربن عمران..) دغه شان حافظ په (الإصابة. ۲۷/۳ رقم ۶۰۱۱) كښې د ابوجمره دپلار په ترجمه كښې ليكلى دى.((عمران بن عصام الضبعى والد أبى جمرة بالجيم نصربن عمران كذا سمى أباه ابن عبدالبر والمعروف أن إسمه نوح بن مخالد أومخلد..))
البته دلته ابوبشردولابى ددوى كنيت ذكركرې دې.اوليكلى نې دى.((أبوجمرة نصربن عمران بن نصرعن ابن عباس رضى الله عنهما) لكه چه د ابو جمره نيكه نوم هم نصر دې.اودا خبره يقيناً ټيك نه ده.والله أعلم.

صحيح نه ده.خکه چه طبرانی او ابن منده ددوی د نیکه نوح بن مخلد د حالاتو لاندې نقل کړی د ی.((أنه قدم على رسول الله ﷺ فقال له، ممن أنت؟ قال: من ضبيعة ربيعة، فقال: خير ربيعة عبد القيس، ثم الحي الذي أنت منهم))(١)

دوی د حضرت انس بن مالك، حضرت عبدالله بن عمر، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهم زهدم جرمی، او عائذ بن عمرو مزنی وغیره مختلفو حضراتو نه حدیث روایت کړې دې.(٢)

ددوی نه ایوب سختیانی، معمر، شعبه، حماد بن سلمه، حماد بن زید، ابراهیم بن طهمان، او عباد بن عباد مهلبی رحمهم الله وغیره روایتونه اخستی دی.(٣)

امام احمد بن حنبل، یحي بن معین او ابوزرعه رحمهم الله دوی لره ،،ثقه،، ګرخولې دې.(٤)

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې.(٥)

امام ابن سعد رحمه الله فرمائی.،،كان ثقة،،(٦)

ابو حاتم رازی رحمه الله فرمائی.،،ثقة،،(٧)

ابن عبدالبر رحمه الله فرمائی.،،أجمعوا على أنه ثقة،،(٨)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.،،ثقة ثبت،،(٩)

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.،،أحد الأئمة الثقات،،(١٠)

یاد ساتئ:چه په اصول سته او په موطا کښې د ،،ابوجمره،،په کنیت بل څوك راوی ددوی نه سوا نشته.باقی ټول ،،ابو حمزه،،(بالحاء المهملة بعدها ميم) دی.بلکه بعضو حفاظو د حدیث دا قاعده ذکرکړې ده.چه امام شعبی د اووه داسې راویانو نه روایت کوی.چه هغه د حضرت ابن عباس شاګردان دی.

ټول په ټوله ،،ابوحمزه،،(بالحاء المهملة ثم الميم) دی.سوا د مترجَم له نه، چه دده کنیت ،،ابو جمره،،(بالجيم ثم الميم) دې.بیا ددې علم په دې طریقه هم کیږی. چه کوم ځائې کښې

---

(١) فتح البارى(١٣٠\١)-
(٢) تهذيب الكمال (٣٦٣\٢٩) وسير أعلام النبلاء(٢٤٣\٥)_
(٣) المصادر السابقة)-
(٤) تهذيب الكمال(٣٦٤\٢٩)-
(٥) كتاب الثقات(٤٧٦\٥)_
(٦) الطبقات الكبرى لابن سعد(٢٣٥\٧)-
(٧) تعليقات تهذيب الكمال(٣٦٥\٢٩)_
(٨) تهذيب التهذيب(٤٣٢\١٠)_
(٩) تقرب التهذيب(٥٦١) رقم ٧١٢٢)_
(١٠) سير أعلام النبلاء(٢٤٣\٥)_

ابوجمره د حضرت ابن عباس نه روايت کوی.او ددوی کنيت سره څه قيد وغيره نه وی.نو هم دوی مراد وی.اوکله چه د ..ابو حمزه.. کنيت والا حضرات وی.نو هغوی سره څه ناڅه لواحق يا سوابق وی.لکه ..ابو حمزة القصاب..(١)والله اعلم.

په ١٢٨هـ کښې سرخس کښې ددوی وفات اوشو.(٢)..رحمه الله تعالیٰ رحمةً واسعةً..

⑥ **ابن عباس:** د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ حالات د ..بدء الوحی.. د څلورم حديث لاندې (٣)او د ..كتاب الإيمان، باب كفران العشير و كفر دون كفر.. لاندې تير شوی دی.

قوله: كُنْتُ أَقْعُدُ مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ يُجْلِسُنِي عَلَى سَرِيرِهِ: زه به حضرت عبدالله بن عباس ﷺ سره کيناستم.هغه به زه به پخپل کټ باندې کينولم.

ددې اعزاز وجه څه وه؟ ددې وجه دا وه.چه په اصل کښې حضرت ابن عباس ﷺ د حضرت علی ﷺ د طرفه د بصرې گورنر وو.د بصرې په اطرافو کښې فارسی وئيلې شوه.د هغه ځائې خلقو به حضرت ابن عباس رض له خپلې مسئلې او مقدمات راوړل.او هغوی به په فارسئ کښې خبرې کولې.حضرت ابن عباس رض ته فارسی نه ورتله.او ابو جمره په فارسئ پوهيدو.په دې وجه به دوی د ترجمانئ فرائض پوره کول.(٤)هم دا وجه په کتاب العلم کښې مذکور هم ده.ځکه چه هغه ليکی.((كنت أترجم بين ابن عباس وبين الناس))(٥)

حافظ ابن الصلاح رحمه الله فرمائی.چه ..ترجمه.. په اصل کښې يو لغت. په بل لغت کښې تعبير کولو ته وائی.خو دلته زياتی عموم دې.چه د يوې ژبې نه په بله ژبه کښې تعبير کولو سره سره نورو خلقو ته د حضرت ابن عباس ﷺ خبره رسول هم مراد دی.يا خو د ازدحام (د خلقو د گڼرې او رش) په وجه، يا د فهم د کموالی په وجه، (٦)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه د ..فهم د کموالی..په وجه پوهول خو په عقل کښې راځی.د ازدحام وجه صحيح نه ده.ځکه چه هغه به پخپله هم کټ باندې ورسره کيناستلو.البته که داسې اووئيلې شی.چه حضرت ابن عباس ﷺ به په کټ باندې يو طرف ته کيناستلو.او دې به په هغه طرف کوم ځائې چه به نور خلق ناست وو.والله اعلم.

---

(١) عمدة القاری(١١/٣٠٣، ٣٠٤)_
(٢) الکاشف للذهبی(٣١٩/٢) رقم ٥٨٢١) وغيره)-
(٣) کشف الباری(٤٣٥/١)_
(٤) عمدة القاری(٣٠٨/١)_
(٥) صحيح البخاری کتاب العلم باب تحريض النبی ﷺ وفد عبدالقيس على أن يحفظو الإيمان والعلم..رقم ٨٧)
(٦) عمدة القاری(٣٠٨/١) وفتح الباری(١٣٠/١)_

قوله فَقَالَ أَقِمْ عِنْدِي حَتَّى أَجْعَلَ لَكَ سَهْمًا مِنْ مَالِي فَأَقَمْتُ مَعَهُ شَهْرَيْنِ:
حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل چه ما سره ايسار شه.چه زه تاته د خپل مال يوه حصه درکړم نو زه هغوی سره دوه مياشتې ايسار شوم.
حضرت ابن عباس رضي الله عنهما چه دوی سره د مال ورکولو کومه وعده کړې وه.هغه په کومه وجه وه؟ په دې سلسله کښې د بعضې حضراتو وينا خو دا ده.چه دا د ترجمانۍ اجرت دې.او د ترجمانی تعليم ګرځولو سره ابن التين رحمه الله دا اوښانی.چه حديث نه د اجرت على التعليم جواز ثابتيږی.(١)
① خواول ترجمانی تعليم ګرځول محل نظر(او قابل غور) دی.نو د اجرت على التعليم جواز ثابتيدو هيڅ سوال نه پيدا کيږی.② دويمه داچه د ابوجمره نه پخپله ددې وجه په صحيح بخاری کښې منقول ده چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ماته اوفرمائيل.((أقم عندی وأجعل لك سهماً من مالی)) امام شعبه رحمه الله تپوس اوکړو.،،لم ؟،، چه دوی تاسره د اقامت اختيارولو او د مال درکولو وعده ولې اوکړله؟ نو دوی جواب ورکړو:((للرؤيا التی رأيت))(٢) چه دهغه خوب په وجه کوم چه ما کتلې وو.
دا خوب امام بخاری رحمه الله نقل کړې دې.ابوجمره رحمه الله فرمانی.چه ما د تمتع احرام اوتړلو.نو خلقو منع کړم.ما د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه تپوس اوکړو.نو هغوی اجازت راکړو.ددې نه پس ما په خوب کښې اوکتل.چه څوك سړې ماته وائی.،،حج مبرور عمرة متقبلة،، ما حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ته خوب واورولو.نو ډير زيات خوشحاله شو.او وې فرمائيل. ،،سنة النبی صلى الله عليه وسلم،،(٣)
چونکه ددې خوب په وجه د حضرت ابوجمره شرافت او نجابت معلوميږی.او دا چه ددوی د الله تعالی په نيز يوه مرتبه ده.ترڅو چه د الله تعالی د طرفه ددوی د عمل مقبول کيدو بشارت او زيرې ورکړې شو.په دې وجه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ددوی اقامت اوغوښتل.او دا د الله تعالی د نيکانو بنده ګانو قاعده ده.چه کله په يو سړی کښې د نجابت او شرافت د آثارو اندازه اوکړی.نو هغه طرف ته زياته توجه ورکوی.والله سبحانه اعلم.

قوله ثُمَّ قَالَ إِنَّ وَفْدَ عَبْدِ الْقَيْسِ لَمَّا أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بيا
حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل.چه کله د عبدالقيس وفد د نبی کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې حاضر شو.

---
(١) فتح الباری(١/١٣٠)_
(٢) صحيح بخاری(١/٢١٣) کتاب الحج باب التمتع والقران والإفراد بالحج)_
(٣) المصدرالسابق)_

وفد..وافد.. جمع ده وفد هغه جماعت ته وائى كوم چه د يو قوم يا جماعت د طرفه يو بادشاه يا حاكم ته اوليګلې شى.[1]

حضرت ابن عباس h ابو جمره ته دا حديث ولې واورولو؟ ابو جمره ته حضرت ابن عباس ﷺ دا حديث واورولو.ددې د اورولو سبب امام مسلم د ،،غندرعن شعبة،، په طريق سره روايت كښې نقل كړې دې.او بيان كړې ئې دې چه ،،فأتته إمرأة تسأله عن نبيذ الجر.....،،[2]

دغه شان امام بخارى رحمه الله په كتاب المغازى كښې روايت نقل كړې دې.چه ابوجمره وائى.،،قلت لابن عباس رضي الله عنهما: إن لى جرة ينتبذ لى نبيذ فيها، فأشربه حلوا فى جر، إن أكثرت منه، فجالست القوم، فأطلت الجلوس، خشيت أن أفتضح، فقال:قدم.....،،[3]ګويا په دې مجلس كښې يوې ښځې د نبيذ جره (خاورينې چاټى) په باره كښې سوال اوكړو.نو حضرت ابن عباس رض هغه منع كړله.ددې نه پس پخپله ابوجمره د خپل ځان په باره كښې سوال اوكړو.نو حضرت ابن عباس رض دې منع كړو.او دا حديث ئې واورولو.والله اعلم.

وفد عبدالقيس د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې كله راغلې وو؟ وفد عبدالقيس د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې كله راغلې وو؟ په دې سلسله كښې ډير اقوال دى:① : واقدى [4]ابن سعد [5] ابن شاهين [6] او د قاضى عياض[7]وغيره رائې دا ده.چه دا وفد په ٨ﻫ كښې د فتح مكې په كال مكې مكرمې ته روانګى نه وړاندې راغلې وو.

② د محمد بن اسحاق [8] ابن هشام x[9]حافظ ابن القيم [10]رائې دا ده.چه په ٩ﻫ كښې راغلې وو.ابن كثير رحمه الله هم ددوى د رائې كال ٩ﻫ خودلې دې.[11]خو په آخر كښې دوى د ترد:

---

[1]) فتح البارى(١٣٠\١)_

[2]) صحيح مسلم (٣٤\١) كتاب الإيمان باب الأمر بالإيمان بالله تعالى..)_

[3]) صحيح البخارى كتاب المغازى باب وفد عبدالقيس)_

[4]) ذكره صاحب السيرة الحلبية فى كتابه ثم رد عليه انظر السيرة الحلبية (٢٢٢\٢) باب ما يذكر فيه ما يتعلق بالوفود التى وفدت عليه ﷺ ونقل الحافظ عن الواقدى فى الإصابة(٥١\١)..كان قدم الأشج ومن معه سنة عشر من الهجرة.....)_

[5]) الطبقات الكبرى لابن سعد(٣١٤\١)-

[6]) الإصابة (١٧٨\٢) ترجمة صحاربن العباس العبدى)_

[7]) شرح النووى على صحيح مسلم (٣٤\١) كتاب الإيمان باب الأمر بالإيمان بالله تعالى ورسوله ﷺ)_

[8])السيرة النبوية لابن هشام (٣٤٠\٢) خوهغوى ددې وفد قدوم د قدوم الجارود سره مقيد كړې دى..

[9]) حاشيه بالا)_

[10]) زاد المعاد(٦٠٧\٣)-

[11]) البداية والنهاية (٤٦\٥و ٤٨)_

اظهار هم کړي دي.(١)
③ ابن حبان، صاحب د تاريخ الخميس او ابن الاثير ددې وفد راتلل ١٠ه ښودلې دي.(٢)
④ د حافظ ابن حجر او علامه انور شاه کشميرى رحمهما الله په نيز ددوى راتګ دوه ځله شوې دې.البته د حافظ رحمه الله په نيز ددوى ړومبې راتګ ٥ه يا ددې نه وړاندې دې.او دويم ځل راتګ ٩ه يعنى عام الوفود کښې شوې دې.(٣) حالانکه د حضرت کشميرى رحمه الله په نيز ددوى ړومبې راتګ ٦ه کښې او دويم راتګ فتح مکې سره يعنى ٨ه کښې شوې دې.(٤)
په اصل کښې دې حديث کښې چونکه د«إنا لا نستطيع أن نأتيك إلا في الشهر الحرام، وبيننا وبينك هذا الحي من كفار مضر» جمله ده.په دې وجه واقدى، ابن سعد، ابن شاهين او قاضى عياض رحمه الله وغيره ددې خبرې قائل دى.چه دا واقعه د فتح مکې نه وړاندې ده.ځکه چه د فتح مکې نه پس خو خلق ډلې ډلې اسلام کښې داخليدل.ددې نه روستو اهل اسلام دپاره هيڅ قابل ذکر خطره نه وه پاتې شوې.
کومو مؤرخينو چه ددوى د راتګ کال ٩ه ذکرکړې دې.هغه په دې بنياد باندې دې.چه دې کال ته عام الوفود وئيلې شى.(٥) په دې کښې خلق د وفدونو په شکل کښې په دربار نبوى ﷺ کښې کثرت سره حاضرشوى وو.هم په دې وفدونو کښې د عبدالقيس وفد هم وو.
د سير کومو اصحابو چه د راتګ کال ١٠ه ليکلې دې.غالباً ددوى بنياد هم د دې قبيلې د يو کس جارود بن المعلى (٦) په راتګ باندې دې.چه هغه په ١٠ه کښې حاضر شوې وو.(٧)
خو په دې ټولو صورتونو کښې اشکال پيداکيږى.چه په دې روايت کښې د ،،حج،، هيڅ ذکر نشته.او د اصح قول مطابق د حج فرضيت ٦ه کښې شوې وو. (٨) که ددې وفد راتګ د ٦ه نه پس يعنى ٨ه يا ٩ه يا ١٠ه کښې شوې وې.نو دوى ته به نبى کريم ﷺ د اسلام نورو

---

(١) حيث قال ابن كثير (٥\٤٨) قلت لكن فى سياق ابن عباس رضي الله عنهما ما يدل على أن قدوم وفد عبدالقيس كان قبل فتح مكة لقولهم وبيننا وبينک هذا الحى من مضر لا نصل إليک إلا فى شهر حرام والله أعلم.
(٢) الثقات لابن حبان (٢\١١٥) وتاريخ الخميس (٢\١٩٤) والكامل لابن الأثير (٢\٢٠٣)_
(٣) فتح البارى(٨\٨٥ ٨٦) كتاب المغازى باب وفد عبدالقيس)-
(٤) فيض البارى(١\١٥٥)-
(٥) سيرت ابن هشام مع روض الانف(٢\٣٣٣)_
(٦) جارود ددوى لقب وو.اوددوى نوم بشر دې.دپلار په نوم کښې ئې اختلاف دې.بعضې حضراتو عمرو خودلې دې.اوبعضو المعلى اوبعضو العلاء خودلې دې.تهذيب الكمال(٤\٤٤٨) وتهذيب التهذيب(٢\٥٣) والروض الأنف مع السيرة النبوية لابن هشام (٢\٣٤٠) والإصابة (١\٢١٦) رقم ١٠٤٢) وتعليقات الكاشف (١\٢٨٨) وتقريب التهذيب(١٣٧) رقم ٨٨٣) -
(٧) قال الحافظ فى الإصابة (١\٢١٦) وقدم الجارود سنة عشر فى وفد عبدالقيس الأخير)_
(٨) انظرفتح البارى (٣\٣٧٨) كتاب الحج باب وجوب الحج وفضله)_

شرائعو سره سره د حج حکم هم ورکړې وه. (١)

هم دا وجه ده.چه حافظ ابن حجر رحمه الله ددې خبرې قائل دې.چه ددوى راتګ دوه ځله شوې دې.يو ځل د حج د فرضيت نه وړاندې ٥هـ يا ددې نه هم وړاندې. او په دويم ځل عام الوفود يعنى ٩هـ کښې شوې دې.په حديث باب کښې د ړومبى راتګ ذکر دې.(٢)

غالباً د حضرت کشميرى رحمه الله د قول بنياد هم دا خبره ده.چه چونکه د حج فرضيت ٦هـ کښې شوې دې.دا حضرات هم په دې کال د فرضيت د حج نه مخکښې مخکښې راغلل.او په دويم ځل راتګ ٨هـ کښې دې.لکه څنګه چه د قاضى عياض وغيره هم دا قول دې.

د تعدد وفود يو دليل د ابن حبان رحمه الله هغه روايت دې.په کوم کښې چه نبى کريم ﷺ ددوى نه تپوس کړې وو.((مالي أرى وجوهكم قد تغيرت؟ قالوا: يانبي الله، نحن بأرض وخمة، وكنا نتخذ من هذه الأنبذة ما يقطع اللحمان في بطوننا، فلما نهيتنا عن الظروف فذالك الذى ترى في وجوهنا....))(٣)

---

(١) په بعضې رواياتوکښې د حج ذکر هم شته.اوګورئ السنن الکبرى للبيهقى (١٩٩١٤) کتاب الصيام باب فرض صوم شهر رمضان ومسند أحمد(٣٦١١١) ددې رواياتو په باره کښې وړاندې بحث راځى.

(٢) فتح البارى(٨٥١٨ ٨٦) کتاب المغازى باب وفد عبدالقيس حافظ رحمه الله په دې مقام کښې ددويم ځل راتلو کال ٩هـ عام الوفود ذکر کړې دې.اودا ئې هم ليکلى دى.چه ((وكان عددهم حينئذ أربعين رجلاً كما في حديث أبي حيوة الصناحي (كذا في الأصل والصواب أبي خيرة بالخاء المعجمة بعدها ياء تحتانية وبعدها راء مهملة الصباحي بضم الصاد المهملة بعدها باء موحدة ثم ألف ثم حاء مهملة كما في فتح البارى(١٣١١١) الذى أخرجه ابن منده وكان فيهم الجارود العبدى.. لکه چه جارود راتګ په ٩هـ کال وو.اووړاندې د الاصابة په حوالې سره مونږ ذکرکړل.چه ددوى راتګ په ١٠هـ کال شوې وو.اوهغه آخرى راتګ وو.نوکه د ،،اصابه،،خبره تيک اوګڼلې شى.نود جمعې اوتطبيق دپاره به دا ونيلې شى.چه ددوى اولنې راتګ خود حج دفرضيت نه وړاندې شوې وو.اودويم راتګ ئې په عام الوفود يعنى ٩هـ کښې شوې وو.اودريم راتګ ئې په ١٠هـ کښې شوې وو.په کوم کښې چه د حضرت جارود د راتګ اودهغوى دايمان راوړوذکر دې.په ٩هـ او بيا په ١٠هـ کښې د راتلو دليل هغه حديث هم دې.کوم چه حضرت رسيم عبدى رضي الله عنه نه منقول دې.اوهغه په متن کښې راځى.دکوم نه چه دومره خبره ضرور معلوميږى.چه د دې حضراتو دوه ځله راتلل داسې وو.چه په دې کښې صرف د يو کال جداوالې وو.نويوقدوم د تولونه وړاندې وو.اوبل قدوم په عام الوفود کښې وو.اوبيا دريم قدوم په ١٠هـ کښې منلې شى.والله أعلم)_

(٣) مواردالظمآن (ص،٣٣٨) کتاب الأشربة باب ما جاء في الأوعية رقم ١٣٩٣) حافظ ابن حجر رحمه الله په دې کښې ((مالي أرى وجوهكم قد تغيرت)) سره استدلال کړې دې.اوفرمائى.((ففيه إشعار بأنه كان رآهم قبل التغيير)) حالانکه ددوى سوال ددې وجې هم ممکن دې.چه چونکه دې کسانو اوږد سفر کړې وو.او راغلى وو.ددې وجې په دوى باندې د سفر آثار وو.نبى ﷺ د دلجوئې دپاره تپوس اوکړو.ددې وجې اصل استدلال ددې جملې په ځائې ددې نه پس روسته جمله ((فلما نهيتنا عن الظروف فذلك الذى ترى في وجوهنا)) باندې چه اوکړې شى.څکه چه په دې کښې نهى عن الظروف ده.چه تاسو اول چونکه په دې لوښو کښې د نبيذ استعمالولو نه منع کړې وو.ددې وجې مونږ نبيذ نه دې استعمال کړې.او زمونږ زمکه داسې ده.چه هلته د نبيذ استعمال ضرورى دې.ددې وجې زمونږ په مخونوباندې دا بدلون دې.والله أعلم)_

ددې سوال او جواب نه معلومیږی چه ددې حضراتو راتګ د نبی کریم ﷺ په بارګاه کښې کم ازکم دوه ځله شوې دې والله أعلم بالصواب.
دغه شان په تعدد وفود باندې د مسنداحمد هغه حدیث هم دلالت کوی.کوم چه دوی د حضرت رسیم ابوزن عظیم وقیل مصغر ([1]) عبدی رضی الله عنه نه نقل کړې دې. ((وفدنا على رسول الله ﷺ فنهانا عن الظروف، قال: ثم قدمنا عليه فقلنا: إن أرضنا أرض وخمة......))[2] دغه شان یو بل روایت کوم چه ددوی د ځوئی نه منقول دې.د هغې نه معلومیږی.چه د دواړو راتګ په مینځ کښې صرف د یو کال فصل وو.د هغې الفاظ دا دی.((كان أبي في الوفد الذين وفدوا إلى رسول الله ﷺ من عبد قيس، فنهاهم عن هذه الأوعية، قال: فأتخمنا، ثم أتيناه العام المقبل، قال: فقلنا يا رسول الله،إنك نهيتنا عن هذه الأوعية فأتخمنا.....))[3]

د عبدالقیس قبیلې اسلام دا قبیله قدیم الاسلام ده.دا خلق د بحرین او د عراق د اطرافو اوسیدونکی وو.جواثی هم ددې حضراتو ښار دې.په کوم کښې چه د مدینې منورې نه پس د ټولو نه وړاندې د جمعې مونځ اوکړې شو.([4])
ددې قبیلې په اسلام سره د مشرف کیدو په سلسله کښې ابن شاهین رحمه الله روایت نقل کړې دې.چه د اشج عبدالقیس [چه دده نوم المنذر بن عائذ بن الحارث بن المنذر بن النعمان العبدی دې ([5]) دده یو راهب سره دوستی وه.د دواړو به هرکال ملاقات کیدو.یو ځلې راهب دوی ته اووئیل.چه په مکه مکرمه کښې به یو نبی ښکاره کیږی.هغه به صدقه نه خوری البته هدیه به قبلوی.د هغه د دواړو اوګو په مینځ کښې به د نبوت علامت وی.هغه به په ټولو دینونو باندې غالب وی.

---

[1]) الإكمال لابن ماكولا (٦٥١٤، ٦٤) والإصابة (٥١٥١١) رقم ٢٦٥٣ وتعجيل المنفعة (٥٣٢١١) رقم ٣٢١)
[2]) مسند أحمد (٤٨١١٣) حديث ابن الرسيم عن أبيه رضي الله عنهما_
[3]) المصدر السابق)_
[4]) عن ابن عباس رضي الله عنهما قال أول جمعة جمعت بعد جمعة جمعت فى مسجد رسول الله ﷺ فى مسجد عبدالقيس بجواثى يعنى قرية من البحرين صحيح البخراى كتاب البمغازى باب وفد عبدالقيس رقم ٤٣٧١٠) په دې روایت سره دحافظ ابن حجر رحمه الله تائید کیږی چه دا وفد اول ځل په ۵ه یا ددې نه وړاندې راغلې وو.ځکه چه د دې روایت نه دهغوی قدیم الاسلام کیدل معلومیږی
[5]) د دوی په نوم کښې ډیر اختلاف دې ① بعضې حضراتو خو هم دا ((المنذربن عائذ)) ذکرکړې دې ② بعضې حضرات عبدالله بن عوف ③ بعضو منذربن الحارث.④ اوبعضو عائذبن المنذر خودلې دې.اوګورئ طبقات ابن سعد (٥٥٧١٥، ٥٥٩) ⑤ بعضې حضراتو ددوی نوم منقذبن عائذ خودلې دې اوګورئ الإصابة (٤٦٠١٣) ترجمة المنذر بن عائذ.رقم(٨٢١٨) ⑥بعضې حضراتو. المنذربن عوف. خودلې دې اوګورئ عمدة القاری (٣٠٨١١)_

د راهب د وفات نه پس اشج عبدالقيس خپل زوم عمرو بن عبدالقيس ([1]) چه دا دده د خورخوني هم وو. د حال تحقيق دپاره اوليګلو هغه ته ئې څه جامې او کجورې ورکړې چه دې د سوداګر په شکل کښې سفر اوکړې شي. نو دې د يو راهنما سره اووتلو. دې مکې مکرمې ته د هجرت په کال رسيدلې وو ([2]) دوی د نبی کريم ﷺ سره ملاقات اوکړو. ټول علامات ئې معلوم کړل. او بيا هغه مسلمان شو.

په بعضو رواياتو کښې دا هم راغلی دی چه نبی کريم ﷺ ددې قبيلې د لويو لويو خلقو نومونه واخستل. او ددوی د حالاتو تپوس ئې اوکړو. ددې نه پس نبی کريم ﷺ ده ته د سورة فاتحه او سورة العلق تعليم ورکړو. هرکله چه هغه لاړو. نو هغه ته نبی کريم ﷺ د هغوی د قوم د مشرانو کسانو په نوم يو خط ورکړو. او تاکيد ئې اوفرمائيلو چه خپل مأما او سخر يعنی اشج ته د اسلام دعوت ورکړه. کله چه دې خپل کور ته اورسيدو نو هلته چه اورسيدو. نو دوی په ابتداء کښې خط پټ اوساتلو. په کور کښې ئې په پټه مونځ شروع کړو. ددوی ښځې چه کله دا حالت اوکتلو نو خپل پلار ته لاړه. او قصه ئې ورته واوروله. چه دې د کوم وخت نه راغلې دې. خپل اندامونه وينځی. او رکوع او سجدې کوی.

اشج د زوم نه تپوس اوکړو. دوی ورته ټوله واقعه واوروله. او دا ئې هم اوښودل. چه نبی کريم ﷺ د يو يو په نوم د ټولو تپوس کولو. چه دا خبرې ئې واوريدلې. نو هغه هم مسلمان شو. يو څو ورځو پورې ئې خپل اسلام پټ اوساتلو. بيا ئې د خپلې قبيلې په وړاندې اعلان اوکړو. نو دغه خلق هم مسلمانان شو. ددې نه پس د وفد په شکل کښې د نبی کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو. ([3])

---

[1]) د دوی نوم ،،عمروبن المرجوم،، رقم ٥٩٥٩) الإصابة (٥\٣) ترجمة عمروبن عبدقيس رقم ٥٩٠١ و(١٥\٣) ترجمة عمروبن المرجوم رقم ٥٩٥٩) دغه شان طبقات ابن سعد (٥٦٣\٥، ٥٦٤)_

[2]) ددې نه معلوميږی چه دا قبيله دهجرت په ابتداء کښې مسلمانه شوې وه. ځکه چه د عمروبن عبدالقيس راتګ په مکه کښې هم په هغه کال شوې وو. په کوم کال چه نبی ﷺ دهغې نه هجرت کړې وودې نه پس چه کله دې واپس لاړل نو ټوله قبيله مسلمانه شوه ددې نه هم دحافظ تائيد کيږی چه ددې خلقو په اول خل راتګ په ٥هـ يا ددې نه وړاندې وو. والله أعلم.)_

[3]) الإصابة (١٧٧\٢، ١٧٨)ترجمة صحات رقم(٤٠٤١) وطبقات ابن سعد(٥٦٤\٥) ترجمة عمروبن عبدقيس وشرح النووی علی صحيح مسلم (٣٣\١١) كتاب الإيمان باب بيان أركان الإسلام ودعائمه العظام)

تنبيه: دعبدالقيس قبيلې د اسلام قبلولوسبب څوك ګرځيدلې وو؟ اودټولو نه وړاندې نبی ﷺ ته د سوداګر په حيثيت څوك راغلی وو. ددې کس د نوم په باره کښې اختلاف موجود دې.

صاحب التحرير ددې کس نوم .منقذبن حبان (بالحاء المهملة ثم الباء الموحدة المشددة ثم الألف والنون كما فی شرح الكرمانی (٢١١\١١) خودلې دې. کوم چه امام نووی ﷫ په شرح صحيح مسلم (٣٣\١١) کښې نقل کړی دی. اوبيا په ظاهره هم ددې دوارو حضراتو په اتباع کښې نوروشارحينو ﷭ مثلاً کرمانی ﷫ په شرح د بخاری کښې (٢١١\١١)، علامه عينی ﷫ په عمدة القاری (٣٠٩\١١) کښې اوقسطلانی په ارشاد الساری (١٤٥\١١) کښې هم دا نقل کړی دی. دغه شان دا چه منقذبن حبان هم د اشج عصری خوم وو

[بقيه حاشيه په راروان مخ...

وفد عبدالقيس په څومره کسانو باندې مشتمل وو؟ صاحب د ..التحرير.. د وفد د افرادو تعداد څوارلس ښودلي دې خو ددې ئې هيڅ دليل نه دې ذکر کړې بيا ددوی نه هغه صرف د اتو کسانو نومونه ذکر کړی دی.(١)
د باقي شپږو کسانو نومونه ئې نه دی ذکر کړی.هغوی ليکلی دی چه سره د لټون، تتبع او تلاش بل يو نوم هم ملاو نشو.(٢)
البته ابن منده رحمه الله د مزيده رضي الله عنه نه يو روايت نقل کړې دې.((بينما رسول الله ﷺ يحدث أصحابه إذ قال لهم: سيطلع لكم من هذا الوجه ركب هم خير أهل المشرق، فقام عمر، فلقي ثلاثة عشر راكباً......))(٣)
ددې روايت نه معلوميږی.چه وفد کښې ديارلس کسان وو.
دولابی رحمه الله په ..كتاب الكنى والاسماء.. کښې د حضرت ابوخيره صباحی رضي الله عنه روايت نقل کړې دې.((كنت في الوفد الذين قدموا على رسول الله ﷺ من عبدالقيس، فكنا أربعين رجلاً.))(٤) ددې روايت نه معلوميږی.چه وفد کښې څلويښت کسان وو.
حافظ ابن حجر رحمه الله په کتاب الايمان کښې په دې تعدادونو کښې په دې طريقه د تطبيق کولو کوشش کړې دې.چه صاحب د ..التحرير.. چه د کومو څوارلسو کسانو تصريح کړې ده.هغې کښې او د ابن منده په روايت کښې چه په دې کښې د ديارلسو کسانو تصريح ده.په دواړو کښې تطبيق په دې طريقه دې.چه افراد د وفد خو اصل کښې څوارلس کسان وو.په دوی کښې ديارلس کسان سواره وو.اويو پياده يا رديف وو.د ټول تعداد لحاظ ساتلو سره دوی ته څوارلس اووئيلی شو.او د راکب کيدو لحاظ کولو سره چه کوم پياده يا رديف وو.هغه شمار نکړې شو.نو څکه دغه شان (يعنی ديارلس) اووئيلی شو.

....بقيه حاشيه د تيرمخ] اوبه طبقات ابن سعد(٥\٥٦٤) الإصابة (٢\١٧٨) رقم ٤٠٤١ او (٣\٥) رقم ٥٩٠١) کښې دېولونه وړاندې د تحقيق حال دپاره د راتلونکی کس نوم عمروبن عبدالقيس ليکلې دې.کوم چه د اشج عصری دخور خوني هم وو.اوخوم هم.اوّد منقذ بن حبان په باره کښې ابن سعد اوحافظ رحمهما الله ليکلی دی چه دا هم د اشج عصری د خور خوني وو.ددوی خصوصيت دا وو.چه کله دوی د وفد سره راغلو.نو نبی ﷺ ددوی په مخ باندې لاس راښکلې وو.اوګورئ طبقات ابن سعد(٥\٦٣) او الإصابة (٢\١٧٧، ١٧٨) رقم ٤٠٤١) په ظاهره هم دا صحيح معلوميږی.چه تحقيق حال دپاره عمروبن عبدقيس راليږلې شوې وو.اودهغه د مسلمانيدو او واپس کيدو نه پس ټول مسلمانان شول اوبيا ددې قبيلې وفد د اشج عصری په قيادت کښې د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوی وو والله اعلم بالصواب._

(١)ددې کسانونومونه حافظ رحمه الله دا نقل کړی دی.① المنذربن عائذ (اشج عبدالقيس) ② نقذبن حبان (بالباء الموحدة) ③ مزيدة بن مالک ④ عمروبن مرجوم⑤ الحارث بن شعيب ⑥ عبيده بن همام ⑦ الحارث بن جندب⑧ صحاربن العباس) اوګورئ فتح البارى (١\١٣٠)_

(٢) فتح البارى(١\١٣٠)-

(٣) فتح البارى(١\١٣١)_

(٤) كتاب الكنى والأسماء للدولابى(١\٢٧)_

بيا د ديارلسو او څلويښتو په مينځ کښې تطبيق کولو کښې ئې فرمائيلي دي چه دواړو کښې جمع په دې طريقه ممکن ده چه ديارلس کسان د وفد سرداران (مشران) وو اوچه دا سواره وو باقي ټول افراد اتباع وو.[1]

خو په کتاب المغازى کښې حافظ رحمه الله د ابن منده او دولابى په روايتونو کښې تطبيق کولو دپاره. دا دواړه روايتونه په جدا جدا وفدونو باندې محمول کړي دي لکه هغه فرمائى چه په ړومبى وفد کښې دا خلق په ديارلسو افرادو باندې مشتمل وو او په دې موقعه باندې د وفد رئيس اشج عبدالقيس رضي الله عنه وو او په دويم وفد کښې څلويښت کسان وو چه په دوى کښې جارود رضي الله عنه هم وو.[2]

فائده چونکه صاحب د ,,التحرير,, د وفد تعداد څوارلس ښودلې وو او بيا ئې صرف د اتو کسانو نومونه ذکر کړى وو او دا ئې وئيلي وو چه د ډير زيات تتبع (او تلاش) باوجود نور نومونه ملاونشو په دې وجه حافظ ابن حجر رحمه الله مخکښې د شپږو نومونو اضافه کړې ده او څوارلس تعداد ئې مکمل کړې دې.[3] بيا ئې په دې باندې زياتى د نهو نومونو اضافه کړې ده.[4] په دې طريقه ټول تعداد درويشت جوړيږى.

او په طبقات ابن سعد کښې چه کوم نومونه ذکرکړې شوى دى هغه دا نومونه د حافظ رحمه الله ذکرکړې شوو درويشتو نومونو سره ملاو کړې شى او مکررات خذف کړې شى نو زياتى څوارلس نومونه نور هم جوړيږى.[5] په دوى کښې د بعضو په باره کښې کلام هم کيدې شى په دې طريقه ټول تعداد اووه ديرش جوړيږى.,,والله سبحانه وتعالى أعلم,,۔

قوله: قَالَ مَنِ الْقَوْمُ أَوْمَنِ الْوَفْدُ: نبى کريم ﷺ تپوس اوکړو دا کوم يو قوم دې؟ يا نبى کريم ﷺ تپوس اوکړو ددې وفد تعلق د کوم ځائې سره دې؟

دا شك چه نبى کريم ﷺ ,,من القوم,, اوفرمائيل او که ,,من الوفد,,؟ دا په راويانو کښې دچا

---

[1]) فتح البارى (۱۳۱\۱)۔

[2]) فتح البارى (۸۵\۸، ۸۶) کتاب المغازى باب وفد عبدالقيس)۔

[3]) دحافظ ابن حجر رحمه الله چه کوم نومونه زياتى کړى دى هغه شپږ دا دى. (۱) عقبه بن جروه (۲) قيس بن النعمان (۳) الجهم بن قثم. (۴) الرسيم العبدى (۵) جويريه العبدى (۶) الزارع بن عامرالعبدى (فتح البارى ۱۳۰\۱ و ۱۳۱)۔

[4]) نور زياتى نومونه نهه دا دى. (۱) مطر (۲) ابن اخت مطر (۳) مشرج السعدى (۴) جابربن الحارث (۵) خزيمه بن عبدعمرو (۶) همام بن ربيعه (۷) جاريه بن جابر (۸) نوح بن مخلد (۹) ابوخيره الصباحى (فتح البارى (۱۳۱\۱))۔

[5]) دا څوارلس نومونه دا دى. (۱) الجارود (۲) سفيان بن خولى (۳) محارب بن مزيده (۴) الزارع بن الوازع (۵) ابان العبدى (۶) جابربن عبدالله (۷) شهاب بن المتروک (۸) طريف بن ابان (۹) عمروبن شعيث (۱۰) عامربن عبدقيس (۱۱) سفيان بن همام (۱۲) عمروبن سفيان (۱۳) همام بن معاويه (۱۴) عبيده بن مالک)۔

د طرفه دي؟ ممکن ده چه ابوجمره ته شك وي.او دا هم ممکن ده.بلکه غالب گمان هم دا دي.چه دا شك امام شعبه ته شوې وي.ځکه چه د قره وغیره په روایت کښې د شك نه بغیر روایت راغلې دې (١)

علامه کرماني رحمه الله دا د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما شك گرځولې دې.(٢)

حافظ ابن حجر او علامه عیني رحمهماالله ددوی تردید کړې دې.(٣)والله اعلم.

ابن ابي جمره رحمه الله فرمائي چه د حدیث ددې جملې نه معلومه شوه.چه د راتلونکی نه د هغه پخپله د تعارف کولو نه وړاندې سوال کول مستحب دي.چه د معرفت حاصلیدو نه پس ورسره دهغه د مرتبې اوشان مطابق معامله اوکړې شي.(٤)

قوله قَالُوارَبِیعَةُ: دوی جواب ورکړو چه مونږ ..ربیعه.. یو.

دلته مبتدا محذوف ده.،،قالوا: نحن ربیعة،،(٥) چه زمونږ تعلق ربیعه قبیلې سره دې.په دې کښې د قبیلې په بعضو افرادو باندې د پوره قبیلې اطلاق شوې دې.ځکه ښکاره ده.چه پوره قبیله خو نه وه راغلې.(٦)

بیا دلته د راوي تصرف دې.حالانکه په کتاب الصلاة کښې چه امام بخاري رحمه الله د،،عباد من أبي جمرة،، په طریق سره کوم روایت نقل کړې دې.د هغې الفاظ د یوې نسخې مطابق ،،إنا هذا الحيّ من ربیعة،، دي.(٧) په دې کښې ،،هذا الحي،، د اختصاص په وجه منصوب دې.(٨) او مطلب دا دې.،،إنا هذا الحيّ حي من ربیعة،،(٩)

،،حي،، په اصل کښې پړاو اچولو او د اقامت اختیارولو ځائې ته وائي.بیا ددې اطلاق پخپله قبیلې باندې اوشو.،،لأن بعضهم یحیا ببعض،،(١٠)بیا دلته په دې هم پوهه شئ.چه دا ،،ربیعه،، د معد بن عدنان نمسې دې.د قبیله عبدالقیس نسب نامه دا ده.،،عبدالقیس بن أفصى بن دعمي

---

(١) فتح الباري(١١٣٠/١) وعمدة القاري(١/٣٠٦)_

(٢) شرح الکرماني(١/٢٠٧) حیث قال شک من الراوي والظاهر أنه من ابن عباس رضي الله عنهما)_

(٣) فتح الباري(١/١٣٠، ١٣١) وعمدة القاري(١/٣٠٦)_

(٤) فتح الباري(١/١٣١)-

(٥) عمدة القاري(١/٣٠٦)_

(٦) فتح الباري (١/١٣١)-

(٧) صحیح البخاري(١/٧٥) کتاب مواقیت الصلاة باب قول الله تعالى ﴿ منیبین إلیه واتقوه..._

(٨) فتح الباري(١/١٣١)_

(٩) فتح الباري (١/١٣١)-

(١٠) المصدرالسابق)_

بن دعمى (بضم الدال المهملة وإسكان العين المهملة، ثم الميم وبعدها ياء النسبة) بن جديلة (بفتح الجيم بن أسد بن ربيعة بن نزار بن معد بن عدنان» (١) د نزار څلور ځامن وو ① مضر بن نزار ② ربيعة بن نزار ③ ايـد بن نزار ④ انمار بن نزار (٢) والله اعلم

قَالَ مَرْحَبًا بِالْقَوْمِ أَوْ بِالْوَفْدِ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا نَدَامَى

نبى كريم ﷺ اوفرمائيل دې قوم دپاره. يا ئې اوفرمائيل دې وفد دپاره. مرحبا او خوش آمديد. چه دا نه ذليل او رسوا شو او نه شرمنده شو

د ،،مرحبا،، لفظ د نو راتلونكى د راتلو په خوشحالئ ښكاره كولو دپاره ونيلې شى. ،،رحب،، شئ واسع، ته وائى نو د ..مرحبا.. معنى شوه ،،أتيت مكاناً رحباً،، يعنى تاسو په وسيع او كلاو ځائې كښې راغلى يئ يعنى داسې خلقو له راغلى يئ چه هغوى ستاسو په راتلو باندې خوشحالي ښكاره كوى دوى ته ستاسو په راتلو باندې خوشحالى ده ددوى زړونه خوشحاله دى (٣)

دا كلمه د تولو نه وړاندې سيف بن ذى يزن (٤) استعمال كړې وه (٥) د نبى كريم ﷺ نه په ډيرو موقعو باندې ددې استعمال منقول دې ① يوه موقعه هم دا د وفد عبدالقيس د راتګ ده چه نبى كريم ﷺ په دې وخت ،،مرحباً بالقوم أو بالوفد،، فرمائيلى وو ② د فتح مكې په موقعه باندې حضرت ام هانى تشريف راوړو نو نبى كريم ﷺ اوفرمائيل ،،مرحباً بأم هانئ،، (٦) ③ يوځل حضرت فاطمه رضي الله عنها داخله شوه نو دوى (ﷺ) اوفرمائيل ،،مرحباً يابنتى،، (٧) ④ دغه

---

(١) الأنساب للسمعانى (١٣٥١٤) نسبة ..العبدى..)_

(٢) الأنساب للسمعانى (٣٠١١) فصل فى نسب مضر)_

(٣) فتح البارى (١٣١١١) وعمدة القارى (٣٠٦١١)_

(٤) سيف بن ذى يزن حميرى د يمن په بادشاهانو كښې و د شپږمې عيسوى صدئ په اول كښې په يمن باندې د حبشو غلبه وه اوهغوى د يمن زيات اميران او بادشاهان قتل كړى وو په دې موقعه سيف بن ذى يزن اول په انطاكيه كښې د قيصر نه مدد غوښتې وو هغه ورته څه توجه ورنكړه حيره او عراق ته د كسرى ګورنر نعمان بن المنذر لاړلو اوګيله ئې اوكړه او حكايت حال ئې ورته بيان كړو نعمان سيف كسرى ته اورسولو كسرى د سيف په لاس باندې د اته سوو لښكراوليږل دا خلق چه يمن ته اورسيدل نودهغه خائې خلقو هم مدد اوكړو دغه شان جبشيانو باندې غلبه حاصله شوه اواوس په يمن باندې د فارسيانو حكومت شو البته براه راست حكمران ئې هم دا سيف بن ذى يزن وو دد تقريبا پنځويشت كاله حكومت اوكړو په يمن كښې ئې په څه جبشيانو باندې رحم راغلة اوهغوى ئې پريخودل هغوى سازش اوكړو اودې ئې قتل كړلو دهجرت نه پنځوس كاله وړاندې دا واقعه پيښه شوې وه والله أعلم الأعلام للزركلى (١٤٩١٣)

(٥) قاله العسكرى كذا فى فتح البارى (١٣١١١) وعمدة القارى (٣٠٦١١)-

(٦) صحيح البخارى (كتاب الصلاة باب الصلاة فى الثوب الواحد ملتحفا به رقم ٣٥٧)_

(٧) صحيح البخارى (٥١٢١١) كتاب المناقب باب علامات النبوة فى الإسلام)_

شان نې د حضرت عكرمه رضي الله عنه په راتلو باندې اوفرمائيل.،،مرحباً بالراكب المهاجر،، (١)

⑤ د حضرت عمار رضي الله عنه په راتلو باندې نې اوفرمائيل.،،مرحباً بالطيب المطيب،، (٢)

امام بخارى رحمه الله د دې استحباب طرف ته اشاره كولو دپاره په كتاب الادب كښې يو مستقل باب ،،باب قول الرجل مرحباً،، قائم كړې دې. (٣)

غير خزايا ولا ندامى دا خو يا منصوب دې على وجه الحال. او يا مجرور دې.په دې صورت كښې به د ..القوم.. يا ..الوفد.. صفت ګرځولې شى.خو ياد ساتئ:چه د جر صورت دلته صحيح نه معلوميږى.دلته دا حال ګرځول صحيح نه دى.هم دا مشهوره ده.(٤)د دې تائيد دصحيح بخارى په كتاب الادب كښې مذكور روايت سره هم كيږى.د هغې الفاظ دا دى.((مرحباً بالوفد الذين جاءوا غير خزايا ولا ندامى))(٥)

،،خزايا،، د خزيان جمع ده.چه دا د ..خزى.. نه دې.د دې معنى رسوائى او ذلت ده.،،خزيان،، ذليل او رسوا سړى ته وائى.(٦)

قوله: ،،ندامى،،:امام خطابى رحمه الله فرمائى.چه دلته قياساً ،،نادمين،،وئيل پكار وو.چه دا د ،،نادم،، جمع ده.او دا د ،،ندامة،، نه مشتق دې.او ،،ندامى،،د ،،ندمان،، جمع ده.او ،،ندمان،، د شرابو او لهو لعب ملګرى (هم نشين) ته وائى.البته دلته د ،،ندامى،، راوړلو وجه ،،خزايا،، سره لفظى مشاكلت دې.او داسې تصرف اهل عرب پخپل كلام كښې كوى.لكه چه وائى.،،إنه ليأتينا بالغدايا والعشايا،، دلته ،،غدايا،، د ،،غدوة،، جمع ده.چه د دې جمع ،،غدوات،، دې.،،غدايا،، نه دې.خو دلته كښې ،،اتباعاً،، ..غدايا.. اووئيلې شو.(٧)

---

(١) المعجم الكبير للطبرانى (١٧\٣٧٣، ٣٧٤) رقم ١٠٢١ و١٠٢٢ وانظر مجمع الزوائد(٩\٣٨٥) كتاب المناقب باب ما جاء فى عكرمة بن أبى جهل رضي الله عنه والمستدرك للحاكم (٣\٢٤٢) كتاب معرفة الصحابة ذكر مناقب عكرمة بن أبى جهل)_

(٢) أخرجه الترمذى فى جامعه فى كتاب المناقب باب مناقب عماربن ياسر رضي الله عنه وابن ماجه فى سننه (ص.١٤) فى المقدمة باب فضل عماربن ياسر(والحاكم فى المستدرك(٣\٣٨٨) كتاب معرفة الصحابة رضي الله عنهم ذكرمناقب عماربن ياسر رضي الله عنه)_

(٣) (٢\٩١٢)_

(٤) شرح النووى على صحيح مسلم (١\٣٤) كتاب الإيمان باب الأمر بالإيمان بالله ...)_

(٥) صحيح البخارى (٢\٩١٢) كتاب الأدب باب قول الرجل مرحباً)_

(٦) النهاية (٢\٣٠) وفتح البارى(١\١٣١) وأعلام الحديث (١\١٨٥)_

(٧) أعلام الحديث للخطابى(١\١٨٥)_

خو قزاز او جوهری وغیره اهل لغت چه د ،،ندامة،، نه خنګه ،،نادم،، ذکرکړې دې.دغه شان ئې ،،ندمان،، هم ذکرکړې دې په دې صورت کښې د ،،ندامی،، جمع دخپل اصل مطابق دې.
په دې کښې ،،اتباع،، نشته (١)

اوس ددې جملې مطلب دا شو چه عبدالقیس قبیلې خو نه رسوایئ سره مخ شوه او نه ورته شرمندګی ملاو شوه ځکه چه دا قبیله پخپله خپل شوق او رغبت سره مسلمانه شوې ده دوی سره د مسلمانانو هیڅ جنګ اونشو که څه جنګ شوې وې نو نیولی شوی به وو او راوستلی شوی به وو.نو رسوائی به ملاویدله او که مسلمانان ئې قتل کړې وې.نو شرمندګی او خپیمانتیا به وه.

قوله فَقَالُوايَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّالَا نَسْتَطِيعُ أَنْ نَأْتِيكَ إِلَّا فِي الشَّهْرِ الْحَرَامِ وَبَيْنَنَا وَبَيْنَكَ هَذَا الْحَيُّ مِنْ كُفَّارِ مُضَرَ: دوی عرض اوکړو.ائ د الله رسوله! مونږ تاسو ته صرف په ،،شهرحرام،، کښې راتلې شو.ځکه چه زمونږه او ستاسو په مینځ کښې د مضر کافرانو دا قبیله حائل ده.

په بعضو نسخو کښې دلته د ،،الشهرالحرام،،(مرکب توصیفی) په ځائې ،،شهرالحرام،،(مرکب اضافی) دې.چه دا د ،،مسجدالجامع،، او،،نساء المؤمنات،، یعنی د ،،اضافة الموصوف الی الصفة،، د قبیل څنې دې.(٢)

په ،،الشهرالحرام،، کښې دوه احتماله دی.① یا خو ددې نه مراد د ،،اشهرحرم،، نه کومه خاص میاشت مراد نه ده.په دې صورت کښې به الف لام د جنس دپاره منلې شی.او په دې کښې به څلور واړه اشهرحرم ذوالقعده، ذوالحجه، محرم او رجب مراد وی.(٣)ددې تائید ددې روایت د بعضو طرق نه کیږی.لکه چه د قره طریق مصنف په کتاب المغازی کښې نقل کړې دې.ددې الفاظ دا دی.،،إلافی أشهرالحرم،،(٤)دغه شان په کتاب المناقب کښې چه دوی د حماد بن زید په طریق سره کوم روایت ذکر کړې دې.د هغې الفاظ دی.،،إلافی کل شهرحرام،،(٥)
② دویم احتمال دا دې چه الف لام عهد دپاره وی.په دې صورت کښې به ددې نه مخصوص میاشت مراد وی.هغه مخصوص میاشت د رجب میاشت ده.(٦)چه ددې تصریح د بیهقی په

---

١) فتح الباری(١\١٣١، ١٣٢)_
٢) فتح الباری(١\١٣٢)-
٣) المصدرالسابق)_
٤) صحیح البخاری(٢\٦٢٧) کتاب المغازی باب وفد عبد القیس)_
٥) صحیح البخاری (١\٤٩٨) کتاب المناقب باب (بلاترجمة بعد باب نسبة الیمن إلی إسماعیل)_
٦) فتح الباری(١\١٣٢)_

روايت كښې ده (١)د رجب مياشت مراد اخستلو وجه خاص طور باندې دا ده.چه مضر قبيلې به ددې مياشت خاص تعظيم كولو.هم په دې وجه يو حديث كښې د رجب مياشت مضر قبيلې طرف ته منسوب كړې شوې هم ده.((ورجب مضر الذى بين جمادى وشعبان))(٢)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.ددې مطلب دا نه دې.چه مضر قبيله د باقى اشهرحرم دحرمت قائل نه وى.او په دې كښې جنګ روا ګڼرى.بلكه مطلب دا دې.چه دا خلق خو د ټولو اشهرحرم د حرمت قائل وو.البته د باقى دريو مياشتو په مقابله كښې به ئې د رجب لږ زيات احترام او تعظيم كولو.تردې چه په دې نورو مياشتو كښې به ئې خو د ..نسى.. جرم هم كولو.خو رجب سره به ئې دا سلوك نه كولو.(٣)
نوكه دوى ټولې اشهرحرم مراد اخستې وى.نو بيا هم صحيح ده.چه د مضر قبيله ددې د حرمت قائل ده.په دې وجه دې مياشتو كښې به دوى سلامتيا سره ستاسو په خدمت كښې حاضريدې شى.او كه مخصوص ..شهرحرام.. يعنى د رجب مياشت مراد وى.نو بيا هم كلام صحيح دې.چه دا خلق د رجب د مياشتې د تعظيم او احترام قائل ..او دې سره سره به ئې ددې د وړاندې روستو كولو د جرم ارتكاب نه كولو.په دې وجه به صرف په دې مياشت كښې داخلق ستاسو په خدمت كښې حاضريدې شى.

قوله: فَمُرْنَا بِأَمْرٍ فَصْلٍ نُخْبِرْ بِهِ مَنْ وَرَاءَنَا وَنَدْخُلْ بِهِ الْجَنَّةَ:نو تاسو مونږ ته داسې ښكاره او واضح حكم راكړئ.چه دا دحق او باطل په مينځ كښې فرق اوكړى.چه مونږ خپل شاته پاتې كيدونكو خلقو ته ددې خبر وركړو.او په دې باندې عمل كولو سره مونږ جنت كښې داخل شو.

په ..بأمرفصل.. كښې دواړه ..منون.. دى.دا مركب توصيفى دې.مركب اضافى نه دې.(٤)بيا ,,فصل..په معنى د فاصل هم كيدې شى.لكه څنګه چه عدل په معنى د ..عادل.. راځى.په دې صورت كښې به مطلب دا وى.((فمرنا بأمر فاصل يفصل بين الحق والباطل)) دا هم ممكن ده.چه ,,فصل..په معنى د ..مفصل.. وى.چه ددې معنى واضح.ښكاره او ظاهر ده.نو اوس به مطلب دا وى.((فمرنا بأمرواضح مكشوف....))(٥)

---

(١) ولفظه :وإنا لا نصل إليک إلا فى الشهرالحرام أو قال فى رجب ..السنن الكبرى للبيهقى (٣٠٣٦٢) كتاب قسم الفئ والغنيمة باب سهم الصفى)_
(٢) عن أبى بكرة عن النبى ﷺ قال الزمان قد إستدار كهيأة يوم خلق ا لسماوات والأرض السنة إثنا عشر شهراً منها أربعة حرم.ثلاث متواليات: ذوالقعدة ذوالحجة والمحرم ورجب مضر الذى بين جمادى وشعبان. صحيح البخارى(٤٥٤١١) كتاب بدالخلق باب ما جاءفى سبع أرضين)_
(٣) فتح البارى(١٣٢١١)-
(٤) المصدرالسابق)-
(٥) الكاشف عن حقائق السنن (١٣٨١١) كتاب الإيمان)_

علامه خطابى رحمه الله د ،،فصل،، معنى ،،بين،، كړې ده.[1]،،وقيل المحكم،،[2]

بيا په ،،نخبربه من وراءنا،، كښې هم دوه احتماله دى.① يودا چه دا مجزوم اوونيلې شى. په دې صورت كښې به د ،،مرنا....،، جواب وى.② دويم صورت دا دې چه دا مرفوع اوونيلې شى په دې صورت كښې به دا جمله د ،،امر،، دويم صفت گرخولې شى.او رومبې صفت به ،،فصل،، وى.يا بيا دې ته جمله مستانفه وئيلې شى.نو دې وخت به هم دا مرفوع وى.

د ،،ندخل به الجنة،، عطف چونكه په ،،نخبربه من وراءنا،، باندې دې.په دې وجه به په دې جمله كښې هم دا احتمالات جارى كيږى.[3]والله اعلم.

وَسَأَلُوهُ عَنِ الْأَشْرِبَةِ فَأَمَرَهُمْ بِأَرْبَعٍ وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ أَمَرَهُمْ بِالْإِيمَانِ بِاللَّهِ وَحْدَهُ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْإِيمَانُ بِاللَّهِ وَحْدَهُ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَإِقَامُ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ وَصِيَامُ رَمَضَانَ وَأَنْ تُعْطُوا مِنَ الْمَغْنَمِ الْخُمُسَ

او دوى د اشربه (د څکلو د څيزونو د لوخو) په باره كښې تپوس اوكړو. نو نبى كريم ﷺ دوى ته د څلورو څيزونو حكم اوفرمائيلو.او دڅلورو څيزونو نه ئې منع اوفرمائيله.نبى كريم ﷺ دوى ته د الله وحده (په يو حق خدائې) باندې دايمان راوړلو حكم وركړو.دوى تپوس اوكړو.چه تاسو پوهيږئ.چه په يو خدائې باندې ايمان راوړل څه دى؟ دوى جواب وركړو.چه الله او دهغه رسول ښه پوهيږى.نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.ددې خبرې گواهى وركول.چه د الله تعالى نه سوا بل څوك د عبادت لائق نشته.او محمد(ﷺ) د هغه رسول دې.او مونځ قائمول، زكاة ادا كول، د رمضان روژې نيول، او دا چه د غنيمت په مال كښې پنځمه حصه وركوئ.

په،،فأمرهم بأربع،،كښې به د ،،أربع،، معدود ،،خصال،، يا ،،جمل،، راوښكلې شى.يعنى ،،فأمرهم بأربع خصال،، يا ،،بأربع جمل،،_،،خصال،، د ،،خصلة،، جمع ده.ددې معدود جوړول خو ښكاره دى.د ،،جمل،، معدود جوړولو قرينه د مغازى د روايت دا الفاظ دى.،،حدثنا بجمل من الأمر،،[4]ددې په جواب كښې نبى كريم ﷺ اوفرمائيل.«آمركم بأربع و أنهاكم من أربع ، أى آمركم بأربع جمل......»[5]

---

[1]) قال الخطابى فى أعلام الحديث (١٨٥\١) وقولهم:مرنا بأمرفصل أى بين واضح ينفصل به المراد ولا يشكل فيه المعنى)_

[2]) فتح البارى(١٣٢\١)_

[3]) المصدرالسابق)-

[4]) صحيح البخارى(٦٢٧\٢) كتاب المغازى باب وفد عبدالقيس)_

[5]) فتح البارى(١٣٢\١)_

نبى كريمﷺ وفد ته د يو څيز حكم اوفرمائيلو اوكه د متعدد امورو؟ دلته يو سوال دا دې چه دا ټول امور كوم چه نبى كريمﷺ اوښودل دا ټول د ايمان بالله تفسير دى.لكه څنګه چه د نبى كريمﷺ د ارشـ د ،،أتـدرون مـا الإيـمان بـالله وحـده؟،، او بيا ددې د شرح ،،شـهادة أن لا إلـه إلا الله.....،، نه ښكاره ده نو اوس ماموړات څلور چرته شو.دا خو صرف يو مامور دې؟

جواب ددې جواب دا دې چه دا ټول څيزونه اګرچه د يو څيز تفسير دى.خو د افرادو په اعتبار سره دې نه متعدد ونيلى شوى دى. (١)

په ماموراتو كښې اجمال او تفصيل كښې تفاوت او ددې وضاحت دويم سوال دلته كښې دا دې چه په حديث باب كښې اجمالاً د ماموراتو عدد څلور ښودلې شوې دې.چه ،،أمرهم بـأربع،، يا ،،آمركم بـأربع،،او په تفصيل كښې پنځه مذكور دى. ① شهادتين، ② اقامت صلاة ③ ايتاء زكاة ④ صوم رمضان ⑤ د غنيمتونو نه خمس وركول.

ددې اشكال شارحينو پخپل خپل انداز باندې مختلف جوابونه وركړى دى:

① علامه قرطبى رحمه الله فرمائى.چه اصل مامور به څلور څيزونه دى.چه دا د ،،إقام الصلاة،، نه واخله ،،إعطاء الخمس،، پورې دى.تركومې پورې چه د ،،ايمان،، او شهادتينو تعلق دې.نو دا تبركاً ذكركړې شوى دى.لكه څنګه چه د غنيمت په سلسله كښې د الله تعالى ذكر تبركاً دې. ﴿وَاعْلَمُوٓا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُۥ.....﴾ (٢)

② علامه طيبى رحمه الله هم تقريباً دا جواب وركړې دې.هغه فرمائى.چه د بلغاء عادت دا وى.چه د كلام كومه حصه مقصود وى.سياق د كلام هم د هغې تابع ګرځوى.اوكوم څيز چه ضمناً راشى.د هغې نه تعرض نه كيږى.ګويا چه دا غير مذكور دې.دلته چونكه مقصود د ايمان.اعمال اربعه وو.په دې وجه ابتداء اجمالاً د ماموراتو تعداد څلور بيان كړې شو. چونكه دا خلق مسلمانان وو.په دې وجه ايمان او شهادت دلته مقصود بالذكر نه دې. (٣)

③ قاضى ابوبكر بن العربى رحمه الله فرمائى.كه د شهادتينو نه پس ،،واو،، نه وې.نو دا به ونيلې كيدل.چه دا تفسير دپاره دې.او د ايمان بالله شرح ده.او شهادتين تبركاً تصدير دپاره راوړلې شوې دې.خو د ،،واو،، كيدل. په دې خبره باندې دلالت كوى.چه دا تفسير نه دې.بلكه مستقل مقصود دې.البته داسې ونيلې كيدې شى.چه د ،،وإقام الصلاة،، عطف په ،،شهادة.....،، باندې نه دې.بلكه په ،،أمرهم بالإيمان،، باندې دې.اوس به تقدير داشى.،،أمرهم

(١) الكاشف عن حقائق السنن(١٣٩١١) كتاب الإيمان)-

(٢) سورة التوبة:٤١)_

(٣) فتح البارى(١٣٢١١)_

(٤) الكاشف عن حقائق السنن(١٣٩١١)-

بالإيمان مصدراً به و بشرطه من الشهادتين، و أمرهم بإقام الصلاة....الخ) هغه فرمائى چه ددې حذف تائيد د كتاب الادب په روايت سره كيږى.(١)چه د هغې الفاظ دا دى:((.....أربع وأربع: أقيموا الصلاة......))(٢)

خو په دې دريو وارو جوابونو باندې دا اشكال كيږى چه روايت باب به د مصنف د مدعى دپاره مثبت نه وى خكه چه ددې دريو وارو جوابونو حاصل دا شو چه د ايمان ذكر ضمناً راغلې دې اصل مقصود اعمال اربعه دى ددې نه د خمس. دايمان شعبه كيدل نه ثابتيږى حالانكه د امام بخارى رحمه الله دعوى دا ده چه ،،أداء الخمس من الإيمان،،

④ علامه ابن رشيد رحمه الله ددې جواب دا وركړې دې چه اصل كښې قوم د ايمان په باره كښې سوال نه وو كړې بلكه د داسې اعمالو سوال ئې كړې وو كوم چه جنت ته د تلو ذريعه جوړه شى او جنت ته د تلو ذريعه هم دا ايمانى اعمال دى نو په دې لحاظ سره د اداء الخمس د ايمان د شعبو څنې كيدل ثابت شو.(٣)

⑤ علامه تقى الدين سبكى رحمه الله ارشاد فرمائى چه په ،،وأن تعطوا من المغنم الخمس،، كښې يواحتمال خو دادې چه دا مجرور وى او په ،،أمرهم بالإيمان بالله وحده،، كښې ،،الإيمان،، باندې عطف وى او دويم احتمال دا دې چه په ،،شهادة أن لا إله إلا الله...،، باندې عطف وى.

په ړومبى احتمال باندې خو په اجمال او تفصيل كښې څه اشكال نه كيږى. خكه چه د ،،وأن يعطوا من المغنم الخمس،، حكم به مستقلاً وى او د امور اربعه مصداق به شهادت، اقامت صلاة، ايتاء زكاة او صوم رمضان وى البته په دويم احتمال باندې اجمال او تفصيل كښې اشكال كيږى خكه چه كله ،،شهادة....،، باندې عطف وى نو ،،إعطاء خمس،، به هم ماموراتو كښې دننه داخل وى حالانكه ماموراتو ته اجمالاً ،،أربع،، ونيلى شوى وو او دلته پنځه جوړيږى.

علامه سبكى رحمه الله فرمائى چه ړومبې احتمال صحيح نه دې خكه چه په دې صورت كښې به روايت او ترجمه كښې مطابقت نه وى خكه چه ،،أداء الخمس من المغنم،، به شعب ايمانيه كښې داخل نه وى.

دلته هم دويم احتمال مراد دې تركومې پورې چه د اجمال او تفصيل د اختلاف تعلق دې نو ددې جواب دا دې چه اصل كښې نبى كريم ﷺ د هغوى په وړاندې د ايمان تشريح فرمائيلې ده او د ايمان په تشريح كښې ئې دا فرمائيلى دى چه ايمان د قول او فعل نوم

---

(١) صحيح البخارى(٢\٩١٢) كتاب الأدب باب قول الرجل :مرحباً_

(٢) فتح البارى(١\١٣٢، ١٣٣)_

(٣) فتح البارى(١\١٣٣)-

دي.قول شهادتين دي.او فعل اعمال اربعه دي.او مقصود دلته د اعمال اربعه بيان وو.په دې وجه راوى اجمال كښې د څلورو عدد ذكر كړې دې.د علامه تقى الدين سبكى رحمه الله دا تقرير د ابن رشيد دتقرير نه زيات قوى دې.والله اعلم.
خو ددې ټولو حضراتو دتقرير حاصل د ا راوځى.چه دا شهادتين د امور اربعه څنې نه دى.او نه دا مقصود بالذكر دى.د مسند احمد يو روايت سره ددې تائيد كيږى.كوم چه د حضرت ابو سعيد خدرى رضي الله عنه نه نقل دې.((فقال آمركم بأربع، وأنهاكم عن أربع، أعبدوا الله ولا تشركوا به شيئاً، فهذا ليس من الأربع، وأقيموا الصلاة.....))[1] په دې كښې ،،فهذا ليس من الأربع،، ددې خبرې صفا دليل دې.چه شهادتين ضمناً ذكر كړې شوې دې.دا په هغه څلورو كښې شامل نه دې.د كوم چه ابتداء كښې اجمالاً ذكر راغلې دې.
خوښكاره دا ده.چه ،،فهذا ليس من الأربع،، د يو راوى كلام دې.او دا ،،وهم،، دې.ځكه چه امام مسلم رحمه الله دې سند سره هم دا روايت نقل كړې دې.په دې كښې دا زيادت موجود نه دې.[2]ددې نه علاوه پخپله امام بخارى رحمه الله په ،،كتاب اداء ا لخمس،، كښې هم دا حديث ذكركړې دې.په هغې كښې د شهادتينو ذكر كولو نه پس دى.،،وعقد بيده،،[3] يعنى نبى كريم ﷺ د ګوتې نه غوټه(ګوا دائره) جوړه كړله.يعنى شمارلو سره ئې اوښودل.ددې نه معلومه شوه.چه ،،شهادتين،، په امور اربعه كښې داخل دى.او مستقل مقصود دى.
خو په دې باندې اعتراض كيدې شى.چه امام بخارى رحمه الله په كتاب الزكاة كښې كوم روايت نقل كړې دې.د هغې الفاظ دى.،،آمركم بأربع و أنهاكم عن أربع: الإيمان بالله و شهادة أن لا إله إلا الله....،،[4] په دې كښې د شهادت نه وړاندې ،،واو،، عاطفه هم موجود دې.نو اعمال مذكوره به څلورو پورې محصور ساتلو دپاره داسې وئيلې شى.چه ،،ايمان بالله،، او ،،شهادت،، دواړه يو څيز دې.او باقى اعمال اربعه ددې تفسير او اصل مقصود دې.په دې صورت كښې به داوئيل صحيح نه وى.چه،،شهادت،، د امور اربعه يو فرد او مستقل څيز دې.
ددې جواب دا دې.چه په دې روايت كښې د ،،واو،، اضافه د امام بخارى رحمه الله د استاذ حجاج بن منهال رحمه الله د اوهامو څنې ده.[5] امام بخارى رحمه الله په دې باندې تنبيه هم فرمائيلې ده.لكه چه د حديث مذكور په آخر كښې فرمائى.((وقال سليمان و أبو النعمان عن حماد: الإيمان بالله شهادة أن لا إله إلا الله))[6] او دا د امام بخارى رحمه الله د عاداتو څنې دې.چه كله يو راوى ته ،،وهم،،

---

[1] مسند احمد(٢٣\٣)_
[2] صحيح مسلم (٣٥\١) كتاب الإيمان باب الأمربالإيمان بالله تعالى ورسوله ﷺ)_
[3] صحيح البخارى(٤٣٧\١) كتاب فرض الخمس باب أداء الخمس من الدين)-
[4] صحيح البخارى(١٨٨\١) كتاب الزكاة باب وجوب الزكاة)-
[5] فتح البارى(١٣٣\١)-
[6] صحيح البخارى(١٨٨\١) كتاب الزكاة باب وجوب الزكاة)_

اوشي.نو امام بخاري په صحيح او صواب باندې تنبيه فرمائي.
هركله چه دا خبره ثابته شوه.چه ،،شهادتين،، په امور اربعه كښې دننه داخل دى.نو وړاندې چه څومره جوابونه وركړې شو.هغه صحيح نه دى.بلكه بل يو جواب به وركول ضرورى وى.
⑥ ابن بطال. قاضى عياض او امام نووى ﷫ وغيره دا جواب وركړې دې.چه په حديث كښې د امور اربعه مصداق شهادتين. اقامت صلاة. ايتاء زكاة او صوم رمضان دې.خو چونكه دا خلق د كافرانو په ګاونډ كښې اوسيدل.او هلته به د جنګ امكانات زيات وو.په دې وجه نبى كريم ﷺ تبعاً او ضمناً د اداءِ خمس مسئله هم بيان كړله.([1])
⑦ حافظ ابن الصلاح ﷫ فرمائي.چه د ،،أن تعطوا من المغنم الخمس،، عطف په ،،شهادة...،، باندې نه دې.بلكه ،،امرهم بأربع،، كښې ،،أربع،، باندې دې.اوس به مطلب دا وى.چه ،،أمرهم بأربع.....وبأن تعطوا من المغنم الخمس،، يعنى د څلورو واړو خبرو حكم ئې وركړو.او ددې خبرې حكم ئې وركړو.چه دوى د غنيمت نه خمس اوباسى.([2])
⑧ د قاضى ابن العربى يو جواب وړاندې تير شوې دې.يو دويم جواب دوى دا وركړې دې.چه كيدې شى.صلاة او زكاة ئې يو شمار كړې وى.ځكه چه دا دواړه قرآن كريم او احاديثو كښې كثرت سره يوځائې مذكور دى.او دا هم كيدې شى.چه زكاة او اداءِ خمس ئې يو شمار كړې وى.ځكه چه دواړه د مالى حق په اعطاء كښې مشترك دى.([3])
⑨ قاضى بيضاوى ﷫ په شرح مصابيح كښې دا جواب وركړې دې.چه دلته په دې موعوده څلورو كښې صرف د يو امر ذكر دې.په دې وجه چه شهادت وغيره دا پنځه واړه څيزونه د ايمان بالله تفسير دى.نو دا پنځه واړه څيزونه په ايمان بالله كښې دننه داخل دى.او ايمان بالله ددې موعوده اربعه څنې يو امر دې.([4])

---

[1]) شرح نووى على صحيح مسلم(٢٤١١) كتاب الإيمان باب الأمربالإيمان بالله تعالى .. وفتح البارى(١٣٣١١) وإكمال إكمال العلم للآبى(٩٣١١)_
علامه سندهى ﷫ هم تقريباً هم دا جواب كړې دې.بلكه دهغوى جواب ددې حضراتو دجواب په مقابله كښې لطيف هم دې.دهغوى دجواب حاصل دا دې.چه نبى ﷺ د ((أربع)) كوم نوم اخستې دې.دا په دې اعتبار سره دې.چه دهغه مامورات اربعه دى.په كوم كښې چه صرف وفدعبدالقيس نه بلكه ټول خلق شريك دى.اوهغه شهادت.اقامت صلاة ايتاء الزكاة او صوم د رمضان ده.البته په ايمانى څيزونوكښې يوڅيز بل هم دې.په كوم كښې چه فى الحال نورخلق شريك نه دى.يعنى اداء الخمس.چه دا دجهاد سره تعلق ساتى.اوچونكه دا خلق د كفارمضر په ګاوند كښې اوسيدل.اودجهاد سره دهغوى پينه راتله.د دې وجې د اربع وينا نه پس نبى ﷺ د مامورات اربعه حكم وركړو.اوبيا ئې د يوامرايمانى نور زيادت اوكړو. (حاشية السندى على صحيح البخارى(٣٧١١)
[2]) إكمال إكمال المعلم للآبى(٩٤١١)_
[3]) فتح البارى(١٣٣١١)-
[4]) المصدرالسابق)-

دا جواب په ظاهره د امام بخاري رحمه الله د مذاق مطابق دې.ځکه چه دوی باب قائم کړې دې ،،أداء الخمس من الإيمان،، او دا باب هغه وخت ثابتيدې شي.کله چه پنځه واړه څيزونه د ايمان بالله تفسير اوګرځولې شي.او ،،أداء الخمس،، په ايمان بالله کښې داخل اوګڼړلې شي.او اوس په حديث د جبرئيل په باب کښې امام بخاري رحمه الله فرمانيلي وو.،،وما بين النبي ﷺ لوفد عبدالقيس من الإيمان،،چه د هغې نه مقصود دا وو.چه دلته د ايمان په تفسير کښې نبي کريم ﷺ اقرار بالشهادتين او صلاة او صوم او زکاة ذکر کړی وو.چه دا اعمال دی.چه ددې نوم ..اسلام.. دې. لکه څنګه چه په حديث د جبرئيل کښې هم دا امور د اسلام په تفسير کښې ذکر شوی دی.معلومه شوه.چه ايمان او اسلام متحد دی.دا مقصود هم هغه وخت حاصليدې شي.کله چه صلاة او صوم وغيره د ايمان په تفسير کښې داخل کړې شي.ګنی دا مقصود نشی حاصليدی.([1])

خو په دې باندې دا اشکال کيږی.چه بيا په موعوده امور اربعه کښې باقي درې امور چرته لاړل؟ قاضي بيضاوی رحمه الله دا اووئيل.چه باقي درې امور نسياناً. يا اختصاراً راوی حذف کړل.([2])خو دا ډير بعيد او دتعجب نه ډك تاويل دې.چه آيا يو راوی هم داسې نه وو.چه د نبي کريم ﷺ پوره کلام ئې ياد کړې وې.او مکمل ئې بيان کړې وې؟ حالانکه په يو روايت کښې هم ددې مذکوره امورو نه علاوه د څه څيز پته نه لګی.([3])

حضرت علامه شبيراحمد عثماني رحمه الله فرمائی.که غور اوکړې شي.نو د امام بخاري رحمه الله او د عامو محدثينو په مذاق باندې دا جواب ممکن هم نه دې. ځکه چه ددوی په مذاق باندې ټول اعمال په ايمان کښې داخل دی.هم په دې وجه خو تاسو دا څيزونه د ايمان تفسير ګرځوئ.او امام بخاري رحمه الله ترجمه هم په دې بنا باندې قائم کړې ده.علامه عثماني رحمه الله فرمائی.چه لکه څنګه په دې بنا باندې مونځ. روژه. زکاة او اداءالخمس دايمان تفسير ګڼړئ.نو ددې نه علاوه نور چه کوم امور مذکور وی.ټول به د اعمالو څخې وی.او هغه ټول به دغه شان د ايمان تفسير وی.داسې به کوم يو څيز راځی.کوم چه د اعمالو نه علاوه وی.او د ايمان قسم جوړ شی.نو دا جواب نه معقول دې.او نه د محدثينو په مذاق باندې منطبق کيدې شی.([4])

په دې ټولو جوابونو کښې د ټولو نه غوره جواب د حافظ ابن الصلاح رحمه الله دې.او ددوی نه پس د ابن بطال. قاضی عياض او امام نووی رحمهم الله دې.والله اعلم.

---

[1]) فضل الباری(٥٥٣١١)_
[2]) فتح الباری(١٣٣١١)_
[3]) فضل الباری(٥٥٣١١)_
[4]) المصدرالسابق)-

په حديث باب کښې د حج ذکر ولې نشته؟ دلته تاسو گورئ چه نبی کريم ﷺ وفد عبدالقيس ته د ارکان خمسه نه صرف د څلورو تعليم ورکړو.خو ..حج.. چونکه پنځم امر دې.د هغې تعليم نې ورنکړو .د دې څه وجه ده؟ ددې جواب هسې خو دا هم ورکيدې شی.چه د حج ذکر اگرچه په حديث باب کښې نشته.خو په بعضو نورو رواياتو کښې د ..حج.. ذکر هم شته.

لکه چه امام بيهقی رحمه الله په ..السنن الکبری.. کښې د «أبوقلابة الرقاشی عن أبی زيد الهروی، عن قرة، عن أبی جمرة» په طريق سره روايت نقل کړې دې.په هغې کښې د ..وتحجوا البيت الحرام.. الفاظ هم دی.[1]

دغه شان په مسند احمد کښې د «أبان بن يزيد العطار، عن قتادة عن سعيد بن المسيب وعن عکرمة عن ابن عباس» په طريق سره روايت منقول دې.په هغې کښې دی.،،وأن يحجوا البيت،،[2]
خو حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه د بيهقی روايت شاذ دې.ځکه چه په دې کښې خو يو دعدد ذکر نشته.حالانکه په ټولو رواياتو د عدد ذکر دې.ددې نه علاوه د ..قره.. په طريق سره شيخينو. د صحيحينو مستخرجينو. امام نسائی. ابن خزيمه او ابن حبان رحمهم الله د روايت تخريج کړې دې.په دوی کښې يوکس هم د حج ذکر نه دې کړې.[3]
بيا ددې روايت په سند کښې دا خبره هم قابل دغور ده.چه په دې کښې ابو قلابه رقاشی دې.[4]ددوی په آخری عمر کښې حافظه متغير شوې وه.[5]ممکن ده. چه دوی دا روايت ددې تغير نه پس روايت کړې وی.[6]

دغه شان د مسند احمد په روايت کښې هم احتمال دې.چه دا محفوظ نه وی.[7] ځکه چه حديث د وفد عبدالقيس ډيرو حضراتو تخريج کړې دې.په هغې کښې ددې دوو روايتونو نه علاوه چرته هم د حج ذکر نشته.هم دا وجه ده.چه عالمانو د ..حج.. د عدم ذکر مختلف

---

[1]) السنن الکبری للبيهقی(۱۹۹\٤) کتاب الصيام باب فرض صوم شهر رمضان)-
[2]) مسندأحمد(۲۶۱\۱)-
[3]) فتح الباری(۱۳٤\۱)-
[4]) هوعبدالملک بن محمدبن عبدالله الرقاشی بفتح الراء وتخفيف القاف ثم معجمة أبوقلابة البصری يکنی أبا محمد وأبوقلابة لقب صدوق يخطی تغير حفظه لما سکن بغداد من الحادية عشرة مات سنة ست وسبعين ومأتين وله ست وثمانون سنة تقريب التهذيب (ص،۳۶۵) رقم ٤۲۱۰) وانظر الکاشف للذهبی(۶۶۹\۱) رقم ۳٤۷۸) مع حاشية السبط وتعليقات الشيخ محمد عوامة)_
[5]) تهذيب الکمال(٤۰٤\۱۸)-
[6]) فتح الباری(۱۳٤\۱)_
[7]) المصدرالسابق) قال الحافظ فی الفتح : وعلی تقدير أن يکون ذکر الحج فيه محفوظاً فيجمع فی الجواب عنه بين الجوابين المتقدمين فيقال المراد بالأربع ما عد الشهادتين وأداء الخمس.. والله أعلم)-

توجیهات کړی دی.خو یوکس هم ددې روایتونو ذکر نه دې کړې.

① لکه چه قاضی عیاض وغیره فرمائی.چه دحج د عدم ذکر وجه دا ده.چه دغه وخته پورې حج فرض شوې نه وو.دا ددې خلقو په رائې کښې صحیح ده.خکه چه د حج فرضیت ددې حضراتو په نیز۹ھ کښې شوې دې.(۱)

② جمهور شافعی حضرات فرمائی.چه حج په ۶ھ کښې فرض شوې وو.نو ددوی د مسلك مطابق ونیلې شی.چه حج چونکه علی الفور فرض نه دې.بلکه علی التراخی فرض دې.په دې وجه نبی کریم ﷺ ددې ذکر اونکړو.(۲)

خوپه دې باندې اشکال دا دې.چه علی التراخی فرض کیدو سره دا چرته لازمیږی.چه د تعلیم په وخت ددې ذکر اونکړې شي.بلکه پکار خو داسې ده.چه تعلیم ورکړې شی.او کله چه د عمل وخت راشی.عمل اوکړی.(۳)

③ دریم جواب دا ورکړې شوې دې.چه ددوی د حج کولو هیڅ صورت نه وو.خکه چه د مضر کافران حائل وو.په دې وجه نبی‌کریم ﷺ دحج ذکر اونه فرمائیلو.(۴)

خو په دې باندې اشکال دا دې.چه دا څه ضروری ده.چه ټول عمر د مضر قبیلې حائل وی.بلکه ددوی دا وینا هم صحیح نه ده.چه دمضر کفار حائل وو.خکه چه حج خو په اشهر حرم کښې کیږی.او پخپله د عبدالقیس قبیلې حضرات تصریح کوی.چه مونږ په اشهر حرم کښې په امن یو. (۵)

④ څلورم جواب بعضو حضراتو دا ورکړې دې.چه حج چونکه مشهور څیز دې.د شهرت په وجه ئې ددې ذکر اونه فرمائیلو.(۶)خودا ډیره کمزورې خبره ده.خکه چه د حج نه هم زیات مشهور شهادتین، اقامتِ صلاة، ایتاءِ زکاة او صوم رمضان دی.نو دا ذکر کول او حج پریخودل صحیح نه معلومیږی.(۷)

⑤ پنځم جواب دا ورکړې شوې دې.چه نبی کریم ﷺ دلته صرف په هغه اوامرو او افعالو باندې اکتفاء کړې ده.د کومو کول چه هغوی دپاره فی الحال ممکن وو.او په کومو عمل کولو سره چه دوی د جنت مستحق جوړیدې شو.د ټولو اوامرو او افعالو ذکر مقصود نه وو.خکه چه دوی هم دا سوال کړې وو.چه ،،مرنا بأمر فصل نخبر به من وراءنا وندخل به الجنة،،_

---

(۱) فتح الباری(۱۳٤/۱)_
(۲) المصدر السابق)-
(۳) المصدر السابق)_
(۴) المصدر السابق)_
(۵) المصدر السابق)-
(۶) المصدر السابق)_
(۷) المصدر السابق)-

ددې تائيد ددې خبرې نه هم كيږي.چه نبى كريم ﷺ ددوى په وړاندې كوم منهيه امور ذكر اوفرمائيل.په هغې كښې صرف دهغه څيزونو خاص طور باندې ذكردې.په كومو كښې چه هغوى مبتلا وو.ګنې په منهياتو كښې د مذكوره څيزونو نه زيات حرام څيزونه هم شته.(١)
په دې تولو جوابونو كښې د تولو نه راجح رومبې جواب دې.چه حج دغه وخت پورې فرض شوې هم نه وو.خو دا جواب په دې صورت كښې صحيح كيدې شي .چه د حج فرضيت ٩هـ كښې يا د وفد راتلو نه پس اومنلې شي. دويم غوره جواب دا آخرى جواب دې.چه نبى كريم ﷺ د تولو افعالو او منهياتو استقصاء نه ده فرمائيلې.بلكه ددوى د حال په مناسبت سره ئې فى الحال د ممكن افعالو او منهياتو ذكر فرمائيلې دې.
او كه د مسنداحمد حديث محفوظ وى.نو بيا ددې تولو تكلفاتو ضرورت هم نه راپيښيږى.والله اعلم.

قوله: وَنَهَاهُمْ عَنْ أَرْبَعٍ عَنِ الْحَنْتَمِ وَالدُّبَّاءِ وَالنَّقِيرِ وَالْمُزَفَّتِ وَرُبَّمَا قَالَ الْمُقَيَّرِ: او نبى كريم ﷺ دوى د څلورو څيزونو نه منع كړل.شنه چاټى،دد (وچ) كدو د ګريدلى لرګى لوخې،او د تيلو لوخې،

قوله: حنتم: [بفتح الحاء وإسكان النون وفتح التاء المثناة من فوق ثم الميم] .
امام نووى رحمه الله ددې په تفسير كښې شپږ اقوال نقل كړى دى:
① د تولو نه صحيح او قوى قول دا دې.چه شين رنګ چاټئ ته وئيلې شى.دا قول په صحيح مسلم كښې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه منقول دې.هم دا د حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه قول دې.اكثرو عالمانو، ډيرو لغوى حضراتو، او محدثينو او فقهاء هم دا اختيار كړې دې.(٢)
② دويم قول دا دې.چه ،،حنتم،، هرقسمه چاټئ ته وئيلې شى.دا د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ، د سعيد بن جبير، او ابو سلمه رحمهماالله نه منقول دې.(٣)
③ دريم قول دا دې.چه دا مخصوص قسم چاټئ وې.چه دا به دمصر نه راوړلې كيدې.دا د حضرت انس رضي الله عنه نه نقل دى.ابن ابى ليلى هم د ،،حنتم،، يو تفسير هم دا بيان كړې دې.البته دوى د سور رنګ قيد لګولې دې.(٤)
④ څلورم قول دا دې.چه دا د سور رنګ خاص چاټئ دى.چه ددې خوله به يو اړخ كښې وى.په دې كښې به د مصر نه شراب درآمد (راغوښتلى) كولې شو.دا قول د حضرت عائشه رضي الله عنها نه منقول دې.(٥)

---

١) فتح البارى(١٣٤/١)-
٢) شرح نووى (٣٤/١) كتاب الإيمان باب الأمر بالإيمان بالله تعالى ورسوله ﷺ)_
٣) المصدرالسابق)_
٤) المصدرالسابق)_
٥) المصدرالسابق)_

⑧ د ابن ابی لیلی رحمه الله نه یوتفسیر هم دا منقول دې چه هغه چاټئ چه د هغې خولې په ډېره کنبې وي او په دې کنبې به طائف نه شراب درآمد کولي شو.بعضو خلقو به په دې کنبې نبیذ تیارول.چه په دې به شرابو سره مشابهت کیدو. (١)
⑨ شپږم قول دا دې.چه دا خاص قسم چاټئ وي.چه دا به خاوره، ویخته، او وینې ملاوولو سره تیارولې شوې.دا د عطا رحمه الله نه منقول دې.(٢)

قوله: الدباء:کدو چه به کله اوچ شو.نو ددې د مینځ نه به ئې زړی (او کچره) اوبنکله.او بعضو وختونو کنبې به ئې د کچه نه زړی اوبنکل.او دا به ئې اوچول.او په دې کنبې به ئې نبیذ تیارول. (٣)

قوله: النقیر:دا د ،منقور،، په معنی کنبې دې.د کجورې بیخ (تنه) به ئې کنستله.او لوخې به ئې جوړولو.هغې ته ،،نقیر،، وائی.(٤)بعضې حضرات وائی.چه مطلقاً لرګې یا د ونې تنه به ئې کنستله.او لوخې به ئې جوړولو.هغې ته ،،نقیر،، وائی.(٥)

قوله: المزفت: هغه لوخې په کوم چه ،،زفت،، لګولې شوی وی.(٦)،،زفت،، د تارکولو پشان یو خیز وو.چه دا به ئې په لوخو باندې لګول.او ددې مسامات (او نری سوری) به ئې بندول.
په روایت باب کنبې او دغه شان په بعضو نورو روایاتو کنبې ،،المقیر،، هم راغلې دې.
،،مقیر.په کوم چه قار، یا ،قیر،لګولې شوی وی.دا هم د تارکولو پشان یو تور خیز دې.
په مذکوره ټولو لوخو کنبې به چونکه نبیذ تیارولې شو.او په دې کنبې به سکر ډیر زر راتلو.په دې وجه د حرمتِ مسکرات لاندې په دې لوخو کنبې د نبیذ جوړولو نه په ابتداء د اسلام کنبې منع کړې شوې وه.ددې نه پس هر لوخې کنبې د نبیذ جوړولو اجازت ورکړې شو.په دې شرط چه دې کنبې دومره وخت ایسار نکړې شی.چه سکر پیدا شی.د ترمذی شریف حدیث دې.((وإنی کنت نهیتکم عن الظروف، وإن ظرفاً لا یحل شیئاً ولا یحرمه، وکل مسکر حرام))(٧)
دغه شان ابن حبان رحمه الله د اشج عصری رضی الله عنه نه روایت نقل کړې دې.((فقال النبی ﷺ إن الظروف لا تحل ولا تحرم ولکن مسکر حرام.....))(٨)

---

(١) المصدر السابق_
(٢) المصدر السابق_
(٣) شرح نووی (١١/٣٤)-
(٤) أعلام الحدیث (١١/١٨٦)_
(٥) شرح نووی (١١/٣٤)_
(٦) أعلام الحدیث (١١/١٨٦)-
(٧) جامع ترمذی(٩١٢) ابواب الأشربة باب ما جاء فی الرخصة أن ینتبذ فی الظروف)_
(٨) مواردالظمآن (ص.٣٣٨) کتاب الأشربة باب ما جاء فی الأوعیة رقم ١٣٩٣)_

د حضرت رسيم عبدى ﷺ روايت په مسند احمد كښې دې چه كله د قبيله عبدالقيس خلقو د نبيذ دنه استعمالولو په وجه د خيټې د خرابيدو او بدهضمۍ. او ددې په بنياد باندې د صحت خرابيدو شكايت اوكړو نو نبى كريم ﷺ اوفرمائيل ((انتبذوا فيما بدالكم ولا تشربوا مسكراً))[۱]،،والله سبحانه وتعالى أعلم وعلمه أتم وأحكم،،_

قوله وَقَالَ احْفَظُوهُنَّ وَأَخْبِرُوا بِهِنَّ مَنْ وَرَاءَكُمْ: او نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه دا خبرې يادې كړئ او ستاسو شاته چه كوم خلق دى يا ستاسو نه روستو چه كوم ستاسو راتلونكې اولاد دې هغوى ټولو ته دا خبرې اوښايئ.

ددې نه معلومه شوه چه چاته څومره علم وى هغه له د هغې تبليغ كول پكار دې دا ضرورى نه ده چه كوم سړې د دين دټولو امورو عالم وى هم هغه تبليغ كولې شى بل څوك نشى كولې! والله اعلم.

(۳۹) بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الْأَعْمَالَ بِالنِّيَّةِ وَالْحِسْبَةِ وَلِكُلِّ امْرِءٍ مَا نَوَى

فَدَخَلَ فِيهِ الْإِيمَانُ وَالْوُضُوءُ وَالصَّلَاةُ وَالزَّكَاةُ وَالْحَجُّ وَالصَّوْمُ وَالْأَحْكَامُ وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى ﴿قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَى شَاكِلَتِهِ﴾ (الإسراء:۸۴) عَلَى نِيَّتِهِ ((نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا صَدَقَةٌ)) وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ((وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ)) [ر:۲۰۱۴]

علامه عينى رحمه الله فرمائى چه ددې باب ماقبل باب سره مناسبت دا دې چه په ماقبل باب كښې د هغه اعمالو ذكر دې كوم چه د جنت د دخول سببونه دى. اوس په دې باب سره دا ښودل مقصود دى چه يو عمل به هغه وخت د عمل وئيلو قابل وى كله چه په دې كښې نيت او اخلاص وى گنى هغه به نه د عمل وئيلو مستحق وى او نه په دې باندې د جنت دخول مرتب كيدې شي.[۲]

د ترجمة الباب مقصد ابن بطال رحمه الله فرمائى چه ترجمة الباب سره د امام بخارى رحمه الله غرض د هغه مرجئه ترديد دې چه هغوى وائى.،،الإيمان قول باللسان دون عقد القلب،، يعنى صرف ژبې سره د ،،لااله الا الله،، وئيلو نوم ايمان دې زړه سره يقين او تصديق ضرورى نه دې.[۳]

حضرت شيخ الهند رحمه الله فرمائى چه امام بخارى رحمه الله د ايمان. اعمال. اجتناب عن المعاصى او ايمان سره متعلقه دټولو امورو نه فارغ شو نو اوس ئې دټولو نه په آخر كښې دوه بابونه قائم كړى دى په هغې كښې دا رومبې باب دې ددې غرض دا دې چه وړاندې ذكر شوى ټول

[۱] مسند احمد(۴۱۸/۲)_
[۲] عمدة القارى(۳۱۲/۱)_
[۳] عمدة القارى (۳۱۲/۱) وشرح الكرمانى(۲۱۴/۱) وانظرأيضاً المتوارى على تراجم أبواب البخارى(ص.۵۶) _

اعمال خير. چه په هغې كښې ايمان هم داخل دې.د هغې مدار او منشاء په خالص لوجه الله نيت باندې ده.هم دغه شان معاصى نه اجتناب. او دا پريخودل هغه مطلوب دى.د كوم باعث چه د الله تعالى رضا لټول وى.د صالح او صادق نيت نه بغير هيڅ يو عمل خير مفيد نه دې.او نه هغه په طاعت كښې شمارلې كيږى.په دې وجه ددې اهتمام د ټولو نه اهم امر دې والله اعلم (١)

حضرت ګنګوهى رحمه الله فرمائى.چه د امام بخارى رحمه الله غرض په دې باب سره دا بيانول دى.چه د اعمالو د ثواب مدار په نيت باندې دې.(٢)

حضرت شيخ الهند رحمه الله ددې په تشريح كښې فرمائى.چه امام بخارى رحمه الله په ترجمه كښې ..حسبة.. راوړلو سره اوښودل.چه په دې سره مجرد اراده سره د اخلاص نه مراد ده.يعنى اعمال صرف په نيت او حسبة او د ثواب په اميد باندې كولې شى.او د ثواب اميد هغه وخت كيدې شى.كله چه اعمال خالص لوجه الله وى.چونكه امام بخارى رحمه الله د نيت تفسير ..حسبة.. سره كړې دې.او حسبه احتساب ثواب طلب كولو ته وائى.نو معلومه شوه.چه پخپله د امام بخارى رحمه الله په نيز د ،،إنما الأعمال بالنيات،، مطلب ،،إنما ثواب الأعمال بالنيات،، دې.او هم دا حنفيه حضرات وائى.(٣)

دا هم ممكن ده.چه د امام بخارى رحمه الله غرض په دې باب سره دا وى.چه تر اوسه پورې دوى چرته د مرجئه په ترديد كښې. او كله د معتزله او خوارجو په ترديد كښې تراجم قائم كړل.او حديثونه ئې ذكر كړل.اوس ددې ايمانى امورو بيانولو نه د فارغ كيدو نه پس دا دوازه بابونه دوى په دې خبره د تنبيه په غرض سره قائم كړل.چه په دې ټولو امورو كښې زمونږ نيت خالص دې.دچا توهين مقصود نه دې.او نه خپل شهرت مقصود دې.بلكه په ،النصح لكل مسلم،، باندې عمل مقصود دې.(٤)والله اعلم.

د ترجمة الباب تحليل: دلته چه امام بخارى رحمه الله كوم باب قائم كړې دې.د هغې درې اجزاء دى.،،أن الأعمال بالنية،، ،،والحسبة،، او،، ولكل امرئ ما نوى،،_ په دې كښې رومبۍ حصه او دريمه حصه د يو حديث ټكړې دى.او د دويمې حصې تعلق دې حديث سره نه دې.بلكه دا د حضرت ابو مسعود بدرى رضى الله عنه د حديث «إذا أنفق الرجل على أهله يحتسبها فهوله صدقة» په دې كښې د ،،يحتسبها،،د لفظ نه ماخوذ دې.كوم چه په دې باب كښې راروان دې.(٥)

---

١) الأبواب والتراجم لصحيح البخارى(ص.٣٩)-
٢) لامع الدرارى(١١٠١٦)-
٣) حاشية لامع الدرارى(١١٠١٦)_
٤) إمدادالبارى(٤١٨٧٩)-
٥) فتح البارى(١١٣٥) وعمدة القارى(١١١١٣)_ .

دلته سوال پيدا كيږي.چه د ،،الحسبة،، عطف په ،،باب ما جاء أن الأعمال بالنية،، كښې ،،النية،، باندې دې.چونكه معطوف عليه د ،،ماجاء،، ده.نو معطوف به هم ددې لاندې وى. نو ،،ماجاء،، چه لكه څنګه ،،الأعمال بالنية،، ته شامل دې.دغه شان به ،،الحسبة،، ته هم شامل وى.ددې تقاضه دا ده.چه دا د يو حديث اجزاء وى.حالانكه د يو حديث اجزاء نه دى؟

ددې يو جواب دا دې.چه ددې دواړو د ،،ماجاء،، لاندې داخليدل منو.خو د دواړو په ټولو احكامو كښې مشترك كيدل لازم نه دى.چه دا منل لازمى شى.چه دواړه د يو حديث اجزاء دى.(¹)

بيا سوال دا دې.چه هركله ،،الأعمال بالنية،، او ،،لكل امرئ ما نوى،، د يو حديث اجزاء دى.نو دا دواړه يوځائې راوړل پكار وو.،،والحسبة،، د دواړو نه مؤخر كول پكار وو.داسې ئې ولې اونكړل؟

ددې① يو جواب دا دې.چه د ظاهر تقاضا هم دا ده.چه هم دغه شان ئې كړې وې.خو چونكه ،،الحسبة،، د ،،احتساب،، نه ماخوذ دې.او ددې معنى د اخلاص ده.نو ددې ذكر د ..نيت.. نه پس زيات مناسب دې.څكه چه ..نيت.. هم هغه معتبر او باعث د ثواب دې.په كوم كښې چه اخلاص وى.(²)

② دويم جواب دا دې.چه دلته امام بخارى رحمه الله درې تراجم قائم كړى دى.رومبئ ترجمه ،،إن الأعمال بالنية،، ده.دويمه ترجمه د ،،الحسبة،، ده.او دريمه ترجمه ،،ولكل امرئ ما نوى،، ده.او د دريو واړو تراجمو دپاره ئې د دريو حديثونو تخريج كړې دې. د حضرت عمر رضي الله عنه حديث د ،،الأعمال بالنية،، ترجمه باندې دې.د حضرت ا بومسعود رضي الله عنه حديث د ،،الحسبة،، ترجمه باندې او د حضرت سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه د حديث تخريج د ،،ولكل امرئ ما نوى،، ترجمې مطابق دې.

اوس ئې كه ،،والحسبة،، مؤخر كړې وې.او داسې ئې ونيلې وې.چه ،،باب ما جاء أن الأعمال بالنية، ولكل امرئ ما نوى والحسبة،، نو په دريو تراجمو چه كومه تنبيه ده.هغه به فوت كيدله.او صرف دوه تراجم به پوهه كښې راتلل.رومبئ ترجمه به ،،الأعمال بالنية ولكل امرئ ما نوى،، وه.څكه چه دې دواړو اجزاء باندې به د حضرت عمر رضي الله عنه حديث كافى كيدو.او بيا به دويمه ترجمه ،،الحسبة،، وه.د دريو حديثونو د تخريج په ذريعه چه په دې دريو تراجمو كومه تنبيه

---

¹) عمدة القارى(٣١١١١)_
²) عمدة القارى(٣١١١١)_

مقصود وه.هغه به فوت کیدله په دې وجه ،،الحسبة،،د رومبۍ ترجمې نه پس ذکر کړې شوې دې (١) والله اعلم

قوله فَدَخَلَ فِيهِ الْإِيمَانُ وَالْوُضُوءُ وَالصَّلَاةُ وَالزَّكَاةُ وَالْحَجُّ وَالصَّوْمُ وَالْأَحْكَامُ:نو په عمل کښې ایمان. اودس. مونځ. زکاة. حج. روژه. او ټول معاملات داخل دی.

امام بخاری رحمه الله په ماقبل باندې تفریع کولو سره تصریح فرمائی چه ،،اعمال،،دخپل عموم په وجه ایمان. اودس. صلاة. زکاة. حج. صوم. او ټولو احکامو ته شامل دې.نو په دې ټولو کښې د ثواب نیت کیدل پکار دې.دلته تاسو ګورئ. چه امام بخاری رحمه الله په ایمان کښې هم د نیت اعتبار کړې دې.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.چه دا د امام بخاری رحمه الله او دهغه خلقو په مسلك باندې صحیح دې.څوك چه اعمال په ایمان کښې داخل ګڼړی.ګویا د امام بخاری رحمه الله مطلب دا دې.چه ایمان د قول او فعل نوم دې.خو فعل هغه وخت د ایمان جزء جوړیدې شی.کله چه په دې کښې نیت او احتساب اوموندې شی.او په خلوص د زړه سره دا کار شوې وی.که دنفاق په وجه یو کار اوکړې شی.نوهغه د ایمان جزء نه دې.(٢)

حافظ رحمه الله فرمائی.چه د کومو خلقو په نیز ایمان په معنی د .تصدیق. دې .دهغوی په نیز د نیت ضرورت هم نشته.لکه څنګه چه د قلب (زړه) نورو اعمالو.مثلاً خشیت خداوندی. محبت الهی. د خالق عظمت د دپاره چه د نیت ضرورت نه وی.ځکه چه نیت خو په ریاء او اخلاص کښې د فرق کولو دپاره وی.او کله چه سړې د الله تعالی تصدیق کوی.نو تصدیق خو د الله تعالی نه سوا د بل چا شته هم نه.نو په دې کښې د نیت ضرورت نشته.(٣)

خو ونیلې شی.چه د تصدیق په وخت که د ثواب د نیت استحضار اوکړې شی. چه مونږ د الله سبحانه وتعالی د وحدانیت. په ټولو صفاتو د کمال سره د متصف کیدو. او دنقصان د ټولو شوائبو نه د منزه کیدو تصدیق کوو.نو الله تعالی به په دې باندې اجر وثواب راکوی.په دې اعتبار سره تصدیق کښې هم نیت کښې څه باك نشته.

ددې نه پس امام بخاری رحمه الله د اودس ذکر کړې دې.چه په دې کښې هم نیت ضروری دې.د اودس مسئله وړاندې تیره شوې ده.(٤) دلته په خلاصه باندې پوهه شئ. چه د اودس دوه حیثیتونه دی.① یو داچه چه دا د صلاة مفتاح جوړیدو دپاره اوکړې شی.② او یو دا چه د اجر وثواب حاصلولو دپاره اوکړې شی.ـ که د اجر وثواب حاصلولو دپاره اوکړې شی.نو بې شکه چه نیت ضروری دې.خو که د صلاة مفتاح جوړولو دپاره اوکړې شی.نو بیا په دې کښې د ماءِ طهور استعمالولو ضرورت دې.د نیت ضرورت نشته.ځکه چه ماءِ طهور مطهر

---

(١) عمدة(١١/٣١١، ٣١٢)ـ

(٢) فتح الباری(١/١٣٥)ـ

(٣) المصدر السابق)-

(٤) کشف الباری(١/٢٥٤، ٢٦٩)ـ

دى دا به اندامونو ته طهارت ورکړی.او د مفتاح صلاة جوړيدو په دې عمل کښې به صلاحيت پيدا شي. على الاطلاق اودس کښې دنيت ضرورت نشته.[1]

بيا ئې اوفرمائيل.چه مونځ هم په دې کښې داخل دې.په دې کښې د نيت په اشتراط باندې اتفاق دې.دهيڅ چا اختلاف نشته.[2] وې فرمائيل.چه په زکاة کښې هم نيت شرط دې.ياد ساتئ! چه په زکاة کښې د نيت شرط کيدل. د آئمه اربعه او جمهور امت په نيز باندې متفق عليه دى.البته د امام اوزاعى رحمه الله نه منقول دى.چه په زکاة کښې نيت شرط نه دې.لکه څنګه چه د عامو ديونو (قرضونو) په اداکولو کښې نيت شرط نه دې.[3]

د جمهورو په نيز.زکاة اداکولو دپاره نيت شرط دې.ځکه چه دا يو عبادت دې.او په عباداتو کښې فرائض هم شته.او نوافل هم شته.نو د تعين ضرورت به وى.چه دا په نيت سره ممکن دې.ترکومې پورې چه دين اداکولو باندې د قياس تعلق دې.نو دا ځکه صحيح نه دې.چه دين اداکول څه مستقل عبادت نه دې.[4]والله اعلم.

البته بعضو محققينو عالمانو حضرات د امام اوزاعى د قول توجيه کړې ده. چه ددوى مطلب دا دې.که د صدقة مطلقة نيت سره زکاة ورکړې شي.نو زکاة به ادا شي.خاص د مفروضه زکاة نيت ضرورى نه دې.لکه څنګه چه امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى.که يو سړې خپل ټول مال صدقه کړى.او د زکاة ادا کولو نيت اونکړى. نو ددې په ضمن کښې به مفروضه زکاة هم ادا شي.[5]حالانکه د شافعيه حضراتو په نيز نه اداکيږى.

وريسې امام بخارى رحمه الله فرمائى.چه حج هم په هغه اعمالو کښې داخل دې.په کوم کښې چه نيت شرط دې.په حج کښې د نيت په اشتراط باندې د ټولو اتفاق دې.البته په يو مقام باندې د حج د نيت په معتبر کيدو کښې اختلاف دې.او هغه دا دې.چه يو سړى خپل حج نه وى کړې.او د بل د طرفه حج بدل کول غواړى.د امام شافعى او امام احمد رحمهماالله په نيز دده د نيت هيڅ اعتبار نشته.بلکه دا حج به هم دده د طرفه واقع کيږى.[6]

دا حضرات په دليل کښې د شُبرمه قصه پيش کوى.**«عن ابن عباس أن النبى ﷺ سمع رجلاً يقول: لبيك عن شبرمة، قال من شبرمة، قال: أخ لى أو قريب لى، قال: حججت عن نفسك؟ قال: لا، قال: حج عن**

---

[1]) إيضاح البخارى(٤\٤٢٨، ٤٢٩)_

[2]) فتح البارى(١\١٣٥) وعمدة القارى(١\٣١٣)-

[3]) المغنى لابن قدامة (٢\٢٦٤) كتاب الزكاة مسألة:قال ولايجوز إخراج الزكاة إلا بنية رقم ١٧٥٨)_

[4]) المصدرالسابق)-

[5]) هدايه (١\١٦٨) كتاب الزكاة)-

[6]) المغنى لابن قدامة (٣\١٠٢،١٠٣) كتاب الحج مسألة قال ومن حج عن غيره ولم يكن حج عن نفسه رد ما أخذ وكانت الحجة عن نفسه رقم ٢٢٤٤)-

لنفسك، ثم حج عن شبرمة»(١) د ابن ماجه الفاظ دى: «فاجعل هذه عن نفسك ثم حج عن شبرمة»(٢)
امام مالك او امام ابوحنيفه رحمهما الله فرمائى چه حج به د آمر د طرفه واقع كيږى.(٣) ددې حضراتو دليل د خثعميه د حديث اطلاق دې.(٤) په دې كښې نبى كريم ﷺ دا تپوس نه دې كړې چه تا مخكښې حج كړې دې او كه نه دې كړې. بلكه مطلقاً ئې د حج حكم وركړې وو.
بهرحال د شبرمه د واقعې په لحاظ سره حنفيه حضراتو كښې صاحب د بدائع وغيره فرمائى چه دخپل حج كولو نه بغير حج بدل كول مكروه دى. (٥) والله اعلم.
ددې نه پس امام بخارى رحمه الله د صوم ذكر كړې دې چه په دې كښې هم نيت شرط دې. د صوم په باره كښې د ائمه اربعه او جمهورو اتفاق دې چه نيت شرط دې. البته عطاء، مجاهد او زفر رحمهم الله فرمائى كه د رمضان مياشت وى او روژه نيونكې صحت مند او مقيم وى نو بيا د نيت ضرورت نشته. ځكه چه رمضان كښې نفل صحيح نه دى نو د نيت ضرورت نشته.
د حفنيه حضراتو په نيز نيت خو د نورو امامانو پشان ضرورى دې خو د رمضان تعين لازمى نه دې. تردې كه په رمضان كښې د قضاء، نذر، يا تطوع په نيت سره هم كه روژه اونيسى نو د فرض د طرفه به اداكيږى. د نفل يا قضاء، او د نذر د طرفه به نه ادا كيږى. (٦)
والله اعلم.

په آخر كښې امام بخارى رحمه الله فرمائى.،،والأحكام،، يعنى په نورو احكامو كښې هم نيت ضرورى دې. علامه كرمانى رحمه الله فرمائى چه په دې كښې ټول معاملات داخل دى نو كه د قصد نه بغير د سبقت لسانى په طور باندې ،،بعتُ،، ،،رهنت،، ،،طلقت،، او ،،نكحت،، اووائى نو په دې كښې به يوه معامله هم صحيح نه وى. (٧)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى چه په ،،احكام،، كښې هغه ټول معاملات داخل دى په كومو كښې چه د محاكمې ضرورت راځى نو په بيوع، نكاح، اقرار وغيره كښې ټولو كښې به د نيت ضرورت وى. (٨) خو علامه عينى رحمه الله په هغه حضراتو باندې رد كړې دې او ثابته كړې

---

(١) سنن أبى داود كتاب المناسك باب الرجل يحج عن غيره)_
(٢) سنن ابن ماجه (ص،٢٠٨) كتاب المناسك باب الحج عن الميت)_
(٣) بدائع الصنائع (٢\٢١٣) والمغنى لإبن قدامة (٣\١٠٣)-
(٤) عن عبدالله بن عباس رضي الله عنهما قال كان الفضل بن عباس رضي الله عنهما رديف رسول الله ﷺ وجاءته إمرأة من خثعم تستفتيه فجعل ينظرإليها وتنظرإليه فجعل رسول الله ﷺ يصرف وجه الفضل إلى الشق الآخرفقالت يارسول الله ﷺ إن فريضة الله عزوجل على عباده فى الحج أدركت أبى شيخاً كبيراً لايستطيع أن يثبت على الراحلة أفأحج عنه؟ قال نعم وذلك فى حجة الوداع سنن أبى داود كتاب المناسك باب الرجل يحج عن غيره)_
(٥) بدائع الصنائع (٢\٢١٣)-
(٦) عمدة القارى(١\٢١٤)_
(٧) شرح الكرمانى(١\٢١١)-
(٨) فتح البارى(١\١٣٦)-

نې ده.چه دومره توسع چه په تولو احكامو كښې نيت شرط وى.دا دچا په نيز هم نشته.(١)
علامه ابن المنير رحمه الله يوه قاعده ذكركړې ده.چه نيت په كوم قسم څيزونو كښې شرط دې.او په كومو كښې شرط نه دې هغه فرمائى چه د كومو اعمالو نه مقصود يوه داسې فائده وى چه هغه آجله، مستقبله او مطلوبه فى الآخرة وى.نو هلته بالاتفاق نيت شرط دې.او د كوم چه فائده عاجله مقصود وى.هغې كښې نيت شرط نه دې.البته كه ددې سره څه داسې خبره ملحوظ وى چه په هغې باندې ثواب مرتب كيږى.لكه مثلاً يوكس كپړه وينځى.چه پاكه شى او صفا ستره كپړه واغوندى.اوكه كپړې وينځلو سره سره دا نيت اوكړى.چه پاك صفا كپړې اغوستل سنت دى.خلق د تكليف رسولو نه بچ كول دى.نو په دې صورت كښې به ثواب حاصليږى.او ددې ثواب حاصلولو دپاره به نيت شرط وى.
او بعضې اعمال داسې دى.چه هغې كښې اختلاف دې.چه فائده عاجله مقصود ده.اوكه فائده آجله. هم ددې اختلاف په وجه بعضو اعمالو كښې اختلاف شوې دې.چه نيت ضرورى دې اوكه نه؟ (٢) والله اعلم.
خو علامه عينى رحمه الله دا قاعده منقوض گرځولې ده.هغه فرمائى.چه تلاوت د قرآن، اذان او نور اذكار وغيره داسې اعمال دى.چه په دې سره فائده آجله مطلوبه فى الآخرة مقصود ده.حالانكه بغير د څه اختلاف نه په دې اعمالو كښې نيت شرط نه دې.دغه شان بيع، رهن، طلاق او نكاح وغيره اعمالو نه فائده عاجله مراد ده.خو ددوى د اصل مطابق نيت نه بغير په دې كښې يو څيز هم صحيح نه دې.(٣) والله اعلم.
نوټ: په كومو كومو څيزونو كښې نيت ضرورى دې؟ او په كومو څيزونو كښې ضرورى نه دې؟ په دې سلسله كښې مونږ وړاندې بحث كړې دې.(٤)،،فارجع اليه إن شئت،،_

قوله: وَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى ﴿قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَى شَاكِلَتِهِ﴾: د الله تعالى ارشاد دې..اووايه! چه هر سړې پخپله طريقه يعنى پخپل نيت باندې عمل كوى..
علامه كرمانى رحمه الله په ،،وقال الله تعالى،، كښې ،،واو،، حاليه گرځولې دې.يعنى ،،والحال أن الله تعالى قال.......،،(٥)حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى دا هم ممكن ده.چه دا ،،واو،، په معنى د ،،مع،، وى.مطلب به دا وى ،،مع أن الله تعالى قال......،،(٦)
خو علامه عينى رحمه الله ددوى دواړو ترديد كولو نه پس دوه احتماله ذكركړى دى: ① يو دا چه

١) عمدة القارى(١١/٢١٤)_
٢) فتح البارى(١/١٣٦) وعمدة القارى(ت١١/٣١٤)-
٣) عمدة القارى(١١/٣١٤)-
٤) كشف البارى(١١/٢٦٦، ٢٦٨)_
٥) شرح الكرمانى(١١/٢١١)-
٦) فتح البارى(١/١٣٦)_

دا ..واو.. عاطفه وي او معطوف عليه محذوف وي تقدير د عبارت به دا وي. «فدخل فيه الإيمان....و....لأنه ﷺ قال: الأعمال بالنية، وقال الله تعالى: ﴿قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِ﴾» ② دويم احتمال دا دې چه دا ..واو.. په معنى د لام تعليل وي لكه څنګه چه د علامه مازرى رحمه الله نه منقول دى چه ..واو.. په معنى د لام تعليل هم استعماليږي په دې صورت كښې به مطلب دا وى «فدخل فيه الإيمان وأخواته، لقوله تعالى ﴿قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِ﴾» (١)والله اعلم.

بيا د ،،شاكلته،، تفسير دلته امام بخارى رحمه الله په ..نية.. سره كړې دې.هم دا تفسيرد حضرت حسن بصرى، قتاده، او معاويه بن قره مزنى رحمهم الله هم منقول دې. حالانكه امام مجاهد رحمه الله ددې تفسير په ..طبيعت..او ..حدت.. سره كړې دې.ابن زيد رحمه الله په ..دين.. سره، او مقاتل رحمه الله ..جبلت.. سره كړې دې.او د امام فراء رحمه الله نه منقول دى.«طريقته و منهبه الذى جبل عليه» دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه ،،ناحيته،، منقول دې.هم دا د ضحاك رحمه الله قول دې.(٢)

بهرحال د ،،قل كل يعمل على شاكلته،، مطلب دا دې.چه هرسړى كه هغه كافر وى اوكه مؤمن وى.معرض وى اوكه مقبل وى.پخپله خپله طريقه. نيت.طبيعت او مذهب باندې روان وى.او په هغې كښې لګيا وى. ﴿فَرَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَنْ هُوَ أَهْدَىٰ سَبِيلًا﴾ (الاسراء:٨۴) خودا ياد ساتئ.چه د الله تعالى د علم محيط نه دهيڅ يو سړى هيڅ يو عمل بهر نشى كيدې.هغه د هر يو د عمل طريقه. او حركات او سكنات برابر ګورى.او ښه پوهيږى.چه كوم يوكس څومره سيدها روان دې.او په كوم كس كښې څومره كوږوالې دې.او څومره په كږه لارې دې.هر يو سره به د هغه موافق معامله كوى.(٣)

ددې تفصيل نه دا هم معلومه شوه.چه د وقال الله تعالى: ﴿قُلْ كُلٌّ يَعْمَلُ عَلَىٰ شَاكِلَتِهِ﴾ ..على نيته.. تعلق ترجمهٔ اولى ،،أن الأعمال بالنية،، سره دې.

قوله: <u>نَفَقَةُ الرَّجُلِ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا صَدَقَةٌ:</u> د سړى پخپل اهل وعيال باندې د احتساب په نيت سره خرچ كول صدقه ده.

ددې تعلق دترجمې دويم جزء ،،والحسبة،، سره دې.مطلب دا دې.چه سړې به عمل كوى.او د ثواب حاصلولو د نيت استحضار به كوى.نو دده دا عمل به صدقه حسابيږى. حالانكه دې د خپل اهل وعيال د كفالت هسې هم ذمه وار دې.خو كه د ثواب د نيت استحضار كوى.نو په دې صورت كښې به اجر كښې اضافه كيږى.ياد ساتئ چه دا جمله د حضرت ابو مسعود بدرى رضي الله عنه د حديث نه ماخوذ ده.كوم چه په دې باب كښې راروان دې.

---

(١) عمدة القارى(١\٣١٤، ٣١٥)_
(٢) الجامع لأحكام القرآن للقرطبى(١٠\٣٢٢) وفتح البارى(١\١٣۶)_
(٣) تفسير عثمانى(ص،٣٨۶) حاشية ٢)_

قوله وَقَالَ (النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وَلَكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ: او نبی کریم ﷺ اوفرمائیل.(اوس هجرت نه دې پاتې) جهاد او نیت باقی دې.

ددې جملې تعلق دترجمې دریم جزء ،،ولکل امرئ ما نوی،، سره دې.دا د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د حدیث یوه ټکړه ده.پوره حدیث امام بخاری رحمه الله د جهاد وغیره په بابونو کښې نقل کړې دې.((لاهجرة بعد الفتح، ولکن جهاد ونية، وإذا استنفرتم فانفروا))() کله چه نبی کریم ﷺ مکه مکرمه فتح کړله.نو اوس ډیر خلق مسلمانان شو.هغوی ته افسوس اوشو.چه کاش! مونږه وړاندې اسلام راوړلې وې.او دهجرت فضیلت مو حاصل کړې وې.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل. ((لاهجرة بعد الفتح، ولکن جهاد ونية)) یعنی د هجرت فضیلت خو اوس باقی نه دې پاتې شوې.او د جهاد په غرض سره د وطن پریخودو فضیلت اوس هم باقی دې.

د ،،،ونية،، ① یوه معنی خودا کیدې شی.چه د جهاد نیت کوې.نو فضیلت به ملاویږی. او ثواب به حاصلیږی. ② دویمه معنی دا کیدې شی.چه د هر یو د خیر علم نیت کوې. نو په هغې به ثواب ملاویږی.③ دریمه معنی دا کیدې شی.چه اوس اګرچه هجرت باقی پاتې نشو.خو که تاسو دا نیت اوکړئ.چه خدائې دې نکړی.که په داسې مقام کښې راګیر شو چه هلته د اسلام په احکامو باندې عمل کولو کښې آزادی نه وی.نو مونږ به د هغه ځائې نه هجرت کوو.که د هجرت دا نیت ساتئ.نو تاسو ته به اجر وثواب ملاویږی. ،،والله سبحانه وتعالی أعلم،،_

۵- حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ قَالَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ عَنْ عُمَرَ() أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْأَعْمَالُ

() صحیح بخاری کتاب الجهاد باب فضل الجهاد والسیر رقم ۲۷۸۳ وباب وجوب النفیر وما یجب من الجهاد والنیة رقم ۲۸۲۵)_

() الحدیث أخرجه البخاری هنا وفی بدء الوحی باب ﴿إنا أوحینا إلیک کما أوحینا إلی نوح والنبیین من بعده﴾ رقم ۱ وفی کتاب العتق باب الخطا والنسیان فی العتاقة والطلاق ونحوه رقم ۲۵۲۹وفی کتاب فضائل أصحاب النبی ﷺ باب هجرة النبی ﷺ وأصحابه إلی المدینة رقم ۳۸۹۸ وفی کتاب النکاح باب من هاجر أوعمل خیراً لتزویج إمرأة فله ما نوی رقم ۵۰۷۰ وفی کتاب الأیمان والنذور باب النیة فی الأیمان رقم ۶۶۸۹ وفی کتاب الحیل باب ترک الحیل وأن لکل إمرئ ما نوی رقم ۶۹۵۳ ومسلم فی صحیحه فی کتاب الإمارة باب قوله ﷺ إنما الأعمال بالنیة وأبوداود فی سننه فی کتاب الطلاق باب بما عنی به الطلاق والنیات رقم ۲۲۰۱ والترمذی فی جامعه فی کتاب فضائل الجهاد باب ما جاء فیمن یقاتل ریاء وللدنیا رقم ۱۶۴۷ والنسائی فی سننه فی کتاب الطهارة باب النیة فی الوضوء وابن ماجه فی سننه فی کتاب الزهد باب النیة رقم ۴۲۲۷)_

بالنِّيَّةِ وَلِكُلِّ امْرِءٍ مَا نَوَى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ [ر:١]

رجال الحديث

① عبدالله بن مسلمه: دا عبدالله بن مسلمه بن قعنب قعنبى حارثى بصرى رحمه الله دي. د دوى حالات وړاندي د ،،باب من الدين الفرار من الفتن،، لاندي تير شوى دى.

② مالك: دا امام مالك بن انس رحمه الله دي.ددوى حالات هم د ،،بدء الوحى،، په دويم حديث (١)او په كتاب الايمان كښي د ،،باب من الدين الفرار من الفتن،، لاندي تير شوى دى.

③ يحى بن سعيد: دا يحي بن سعيد بن قيس انصارى مدنى رحمه الله دي.ددوى حالات هم د ،،بدء الوحى،، رومبى حديث لاندي (٢) و په كتاب الايمان كښي د ،،باب صوم رمضان احتساباً من الإيمان،، لاندي تيرشوى دى.

④ محمد بن ابراهيم: (٣) دا محمد بن ابراهيم بن حارث بن خالد قرشى تيمى مدنى رحمه الله دي.ابو عبدالله ددوى كنيت دي.ددوى نيكه حضرت حارث بن خالد د رسول ﷺ صحابى او د مهاجرينو څني وو.او د حضرت ابوبكرصديق رضي الله عنه د تره ځوني وو. (٤) محمد بن ابراهيم تيمى رحمه الله د حضرت سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه زيارت كړي دي.(٥)
دي د حضرت اسامه بن زيد. حضرت اسيد بن حضير نه مرسلاً. د حضرت انس او حضرت عائشه رضي الله عنها نه علاوه تابعينو حضرات نه هم روايت د حديث كوى. (٦)
ددوى نه حديث حاصلونكو كښي يحي بن سعيد انصارى. هشام بن عروه. يحي بن ابى كثير. امام زهرى، امام اوزاعى. او اسامه بن زيد ليثى رحمهم الله وغيره ډير حضرات دى.(٧)
امام يحي بن معين، ابو حاتم، نسائى. او ابن خراش رحمهم الله فرمائى.،،ثقة،،(٨)

---

(١) كشف البارى(٢٩٠١١)-
(٢) كشف البارى(٢٣٨١١)-
(٣) ددوي ډيره مختصره تذكره په كشف البارى (٢٣٨١١) تيرشوې دي.دلته ددوى لږ غوندې په تفصيل سره حالات ليكلى شى.)
(٤) تهذيب الكمال(٢٤١٣٠١، ٣٠٢) وسير أعلام النبلاء(٢٩٤١٥)_
(٥) المصادر السابقة)_
(٦) تهذيب الكمال(٢٤١٣٠٢، ٣٠٣) وسير أعلام النبلاء(٢٩٤١٥)_
(٧) تهذيب الكمال(٢٤١٣٠٣و ٣٠٤)_
(٨) تهذيب الكمال(٢٤١٣٠٤) وتهذيب التهذيب(٦١٩) وسير أعلام النبلاء(٢٩٥١٥)_

امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائی.،،وكان ثقة كثير الحديث،،(۱)
امام علی بن المدینی رحمه الله فرمائی.((هو حسن الحديث، مستقيم الرواية، ثقة إذا روى عنه ثقة، رأيت على حديثه النور))(۲)
یعقوب بن سفیان رحمه الله فرمائی.،،مديني ثقة، يقوم حديثه مقام الحجة،،(۳)
ابن عدی رحمه الله فرمائی.((هو عندي لا بأس به، ولا أعلم له شيئاً منكراً إذا حدث عنه ثقة))(۴)
یعقوب بن شیبه رحمه الله فرمائی.،،كان ثقة،،(۵)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.،،كان فقيهاً ثقة جليل القدر،،(۶)
او هغه فرمائی.،،من ثقات التابعين،،(۷)
خو دې ټولو توثیقاتو په خلاف عقیلی رحمه الله دده ذکر په کتاب الضعفاء کښې کړې دې.(۸)
او دده په باره کښې ئې د امام احمد رحمه الله قول نقل کړې دې.((في حديثه شيء، يروي أحاديث مناكير أو منكرة))(۹)
خو حقیقت دا دې.چه د حدیثو عامو ناقدینو امام احمد رحمه الله د تضعیف دا قول نه دې قبول کړې.ددې په خلاف نه صرف دا چه ټولو دده توثیق کړې دې.بلکه د صحاح سته ټولو حضراتو او خاص طور باندې شیخینو رحمهما الله دده احادیث قابل احتجاج ګرځولی دی.لکه حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.((وثقه الناس، واحتج به الشيخان، وقفز القنطرة))(۱۰) او هم دې فرمائی.((من غرائبه المنفرد بها: حديث ،،الأعمال،، عن علقمه، عن عمر، وقد جاز القنطرة))(أى لا يؤثر فيه جرح جارح) واحتج به أهل الصحاح بلا مثنوية))(۱۱)

---

(۱) تهذيب الكمال(۳۰۵\۲۴) وتهذيب التهذيب(۶\۹)_
(۲) تعليقات تهذيب الكمال(۳۰۵\۲۴) په حواله د المعرفة والتاريخ (۴۲۶\۱)-
(۳) المصدر السابق)-
(۴) الكامل(۱۳۱\۶)_
(۵) تهذيب التهذيب(۷\۹)_
(۶) تذكرة الحفاظ (۱۲۴\۱)_
(۷) ميزان الاعتدال(۴۴۵\۳)_
(۸) كتاب الضعفاء للعقيلي (۲۰\۴) رقم (۱۵۷۴)-
(۹) المصدر السابق دغه شان تهذيب الكمال(۳۰۴\۲۴) وسير أعلام النبلاء(۲۹۵\۵) وميزان الإعتدال(۴۴۵\۳) وهدى الساري(۴۳۷)_
(۱۰) ميزان الإعتدال(۴۴۵\۳)_
(۱۱) سير أعلام النبلاء(۲۹۵\۵)_

بيا حافظ ابن حجر رحمه الله د امام احمد رحمه الله د قول ،،يروى أحاديث مناكير،، مطلب دا بيان كړې دې چه دلته د ،،منكر،، نه اصطلاحي ،،منكر،، مراد نه دې. كوم چه د ،،معروف،، مقابل دې چه ددې تعريف دادې چه ،، هغه حديث چه ددې راوى باوجود د ضعيف كيدو، د ثقات دجماعت نه مخالف روايت كوى[1]،،بلكه د امام احمد رحمه الله په نيز د ،،منكر،،اطلاق په هغه ،،فرد،، حديث باندې هم كيږى.دكوم دپاره چه هيڅ متابع موجود نه وى.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.،،فيحمل هذا على ذالك،، يعنى امام احمد رحمه الله چه دلته د ،،منكر،، اطلاق كړې دې.دا هم ددې ،،فرد،، په معنى كښې محمول كړې شى.[2] والله اعلم.

په ١٢٠هـ كښې ددوى وفات اوشو.[3]،،رحمه الله تعالى رحمة واسعة،،_

⑤ علقمه بن وقاص: دا علقمه بن وقاص بن محصن ليثى عتوارى مدنى رحمه الله دې.[4]

دا د حضرت عمر، حضرت عبدالله بن عمر، حضرت معاويه، حضرت عمرو بن العاص، حضرت عائشه او حضرت بلال بن الحارث مزنى رضي الله عنهم نه روايت كوى.[5]

ددوى نه روايت كونكو كښې ددوى خپل دواړه خامن عمرو بن علقمه، او عبدالله بن علقمه نه علاوه امام زهرى، ابن ابى مليكه، محمد بن ابراهيم تيمى، عمرو بن يحي مازنى رحمهم الله دى.[6]

امام واقدى رحمه الله فرمائى.چه دې د نبى كريم ﷺ په زمانه كښې پيدا شوې وو.[7]حافظ ابن عبدالبر رحمه الله هم دا ذكركړى دى.[8]، امام مسلم رحمه الله ده لره په هغه طبقه كښې ذكركړې دې.كومه چه په عهد نبوت كښې پيدا شوې وه.[9] تردې چه ابن منده رحمه الله دوى لره په ،،اصحابو،، كښې شمارلې دې.او ددې بنياد يو حديث دې.چه د هغې سند حسن دې.لكه چه ابن منده رحمه الله په ((عن خيثمه، عن يحى بن جعفر عن يزيد بن هارون عن محمد بن عمرو بن علقمه عن أبيه،عن جده)) طريق سره نقل كوى.((شهدت الخندق مع النبى ﷺ وكنت فى الوفد الذين وفدوا على

---

[1]) نزهة النظرشرح نخبة الفكر(ص.٥١) وخيرالأصول (١٢٠) مشموله در..آثار خير.. (مجموعه رسائل حضرت مولانا خير محمد جالندهرى رحمه الله)_

[2]) هدى السارى(٧٣)_

[3]) الكاشف (١٥٣\٢) رقم ٤٦٩٥) اونور مراجع)_

[4]) تهذيب الكمال(٣١٣\٢٠)_

[5]) تهذيب الكمال(٣١٣\٢٠) وسيرأعلام النبلاء(٦١\٤)_

[6]) تهذيب الكمال(٣١٤\٢٠) وسيرأعلام النبلاء(٦١\٤)-

[7]) الإصابة (٨١\٣) رقم الترجمة (٦٢٦٠) القسم الثانى)_

[8]) الإستيعاب بهامش الإصابة(١٢٦\٣)_

[9]) تهذيب التهذيب(٢٨٠\٧)

رسول الله ﷺ((٢٧))[1]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي. كه چرې دا حديث ثابت شي.نو علقمه به صحابي وي.خو د ټولو امامانو او عالمانو په دې خبره باندې اتفاق دې.چه علقمه تابعي دې.لکه چه حافظ ابونعيم اصبهاني رحمه الله د ابن منده روايت ،،وهم،، ګرځولې دې.[2]

پخپله حافظ ابن حجر رحمه الله دوی لره په ،،الاصابة،،کښې په،،القسم الثاني،، کښې ذکرکړې دې.[3] او هم دې فرمائي.،،أخطأ من زعم أن له صحبة،،[4]

امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائي.،،وكان ثقة قليل الحديث،،[5]

امام نسائي رحمه الله ددوی توثيق کړې دې.[6]

امام ابن حبان رحمه الله دوی لره په ،،كتاب الثقات،، کښې ذکر کړې دې.[7]

---

[1]) تهذيب التهذيب(٧\٢٨٠، ٢٨١) والإصابة (٣\٨١)

[2]) الإصابة (٣\٨١)_

[3]) حافظ ابن حجر رحمه الله په الاصابه کښې دصحابه کرامو رضی الله عنهم تذکره په څلورو قسمونوکښې مرتب کړې دې.

① اول قسم:دهغه صحابه کرامو رضی الله عنهم په تذکره کښې دې.چه دهغوی صحابيت ثابت وي.برابره ده چه ثبوت دهغوی دخپل روايت نه وي يا دهغوی نه سوا دبل چا په روايت سره وي.قطع نظرد دې نه چه دغه روايت صحيح دې يا حسن دې يا ضعيف،يا دا چه په روايت کښې مطلقاً په دې خبره دلالت وي.چه دا صحابي دې.

② دويم قسم دهغه صغارصحابه کرامو رضی الله عنهم په تذکره کښې دې.کوم چه د نبي ﷺ په ژوند کښې پيدا شوي وو.او د نبي ﷺ تروفاته پورې سن تميز ته نه وو رسيدلي.اودهغوی په باره کښې څه صريحي روايت هم نه وي.چه دوی ته د نبي ﷺ زيارت نصيب شوې دې.لکه چه ددې حضرات په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښې شمارد غالب ګمان په اعتبارسره دی.چه هرکله دوی د نبي ﷺ په زمانه کښې پيدا شوي دی.نودوی ته به دهغوی زيارت هم نصيب شوې وی.ځکه چه صحابه کرامو رضی الله عنهم به خپل اولاد د تحنيك او تبرك دپاره نبي ﷺ ته راوستل.

③ دريم قسم دمخضرمينو د تذکرو په باره کښې دې.چاچه دجاهليت او اسلام دواړه زمانې لاندې کړې وی.خودنبي ﷺ سره ئې ملاقات نه وی شوې.دا حضرات په اتفاق سره صحابه رضی الله عنهم نه دی.ددوی تذکره په صحابو رضی الله عنهم کښې د قرب زمان په اعتبارسره کولې شي.

④ څلورم قسم دهغه صحابو رضی الله عنهم په تذکره کښې دی.کوم چه په غلطئ سره بعضې کسانو په صحابو رضی الله عنهم کښې شمارکړی دی.اوګورئ ،،الإصابة (١١\٤-٦) ددې تفصيل په اعتبارسره د حضرت علقمه بن وقاص رحمه الله تذکره د اصابه په اول قسم کښې پکار وه.دغه شان ددې تفصيل نه دا هم معلومه شوه.چه دحافظ ابن حجر رحمه الله په نيزدوی په صحابه کرامو کښې شمارل صحيح دی.والله أعلم)

[4]) تقريب التهذيب(ص.٣٩٧) رقم ٤٦٨٥)_

[5]) الطبقات الكبرى(٥\٦٠)_

[6]) سير أعلام النبلاء(٤\٦١) وخلاصة الخزرجي(٢٧١)_

[7]) الثقات لابن حبان(٥\٢٠٩)_

امام عجلی رحمه الله فرمائی: ،،مدنی تابعی ثقة،،(۱)
حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی: ،،ثقة نبیل،،(۲)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی: ،،ثقة ثبت،،(۳)
د عبدالملك د خلافت په زمانه کښې د ۸۰ھ نه پس ددوی وفات اوشو.(۴) ،،رحمه الله تعالیٰ رحمةً واسعةً،،_

⑨ عمر: د امیرالمؤمنین سیدنا عمر بن الخطاب رضی الله عنه مختصر تذکره وړاندې د بدء الوحی رومبی حدیث لاندې (۵) او په کتاب الایمان کښې د ،،باب زيادة الإيمان ونقصانه،، لاندې تیره شوې ده. امام بخاری رحمه الله دلته د حضرت عمر رضی الله عنه حدیث ،،الأعمال بالنية،، راوړلې دې. په دې حدیث باندې مکمل تفصیلی کلام د بدء الوحی په ابتداء کښې شوې دې.(۶)

۵۵- حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ أَخْبَرَنِي عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ يَزِيدَ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ(۷) عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا أَنْفَقَ الرَّجُلُ عَلَى أَهْلِهِ يَحْتَسِبُهَا فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ [۵۰۳۶،۳۷۸]

رجال الحدیث

① حجاج بن منهال: دا ابو محمد حجاج بن منهال انماطی بصری دې.(۸)
دې د قره بن خالد، شعبه بن الحجاج، حماد بن سلمه، حماد بن زید، سفیان بن عیینه، عبدالعزیز بن عبدالله بن ابی سلمة الماجشون او یزید بن ابراهیم تستری رحمهم الله وغیره نه

---

(۱) تعلیقات تهذیب الکمال(۲۰\۳۱۴)_
(۲) تذکرة الحفاظ (۱\۵۳)_
(۳) تقریب التهذیب(۳۹۷) رقم ۴۶۸۵)_
(۴) تذکرة الحفاظ (۱\۵۳) وطبقات ابن سعد(۵\۶۰) وتهذیب الکمال(۲۰\۳۱۴)_
(۵) کشف الباری(۱\۲۳۹)-
(۶) کشف الباری(۱\۲۳۳، ۲۸۹)_
(۷) الحدیث أخرجه البخاری أیضاً فی کتاب المغازی باب (بلاترجمة بعدباب شهود الملائكة بدراً رقم ۴۰۰۶ وفی فاتحة كتاب النفقات باب فضل النفقة على الأهل رقم ۵۳۵۱ ومسلم فی صحیحه (۱\۳۲۴) فی کتاب الزکاة باب فضل النفقة والصدقة علی الأقربين والزوج والأولاد والوالدين ولوكانوا مشركين والنسائی فی سننه (۱\۳۵۳) فی کتاب الزكاة باب أی الصدقة أفضل والترمذی فی جامعه فی کتاب البروالصلة باب ما جاء فی النفقة فی الأهل رقم ۱۹۶۵)_
(۸) تهذیب الکمال(۵\۴۵۷)_

روایت کوی.[1]

ددوی نه روایت کونکو کښې امام بخاری، امام دارمی، محمد بن یحیٰ ذهلی، ابومسلم کجی، محمد بن بشار بندار، یعقوب بن سفیان او یعقوب بن شیبه ﷭ وغیره دی.[2]

امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی: ،،ثقة ما اری به بأساً،،[3]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی: ،،ثقة فاضل،،[4]

امام احمد بن عبدالله عجلی رحمه الله فرمائی: ،،ثقة رجل صالح،،[5]

امام نسائی رحمه الله فرمائی: ،،ثقة،،[6]

امام محمد بن سعد رحمه الله فرمائی: ،،وکان ثقة کثیر الحدیث،،[7]

ابن قانع رحمه الله فرمائی: ،،ثقة مأمون،،[8]

خلف بن محمد کُردوسی رحمه الله فرمائی: ،،کان صاحب سنة یظهرها،،[9]

فلاس رحمه الله فرمائی: ،،ما رأیت مثله فضلاً و دیناً،،[10]

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې.[11]

ددوی پیشه ،،سمسره،، (دلالی) ([12]) وه. او ددوی معمول وو چه په څومره قیمت کښې به ئې څه څیز چاته اخستلو. د یو دینار په سر به ئې صرف یوه حبه (رتی) اخستله. یو ځلې یو خراسانی مالداره سړې راغې. چه هغه د اصحابِ حدیث څنې هم وو. هغه دپاره دوی یو قالین واخستلو. دغه سړی دوی ته د اجرت په طور دیرش دیناره ورکړل. دوی تپوس اوکړو. چه دا څه دی؟ هغوی جواب ورکړو چه دا ستاسو اجرت دې. دوی اوفرمائیل: ،،دلالیتک أهون

---

[1] تهذیب الکمال(۵\۴۵۷، ۴۵۸) وسیر أعلام النبلاء(۱۰\۳۵۳)-
[2] المصادر السابقة)-
[3] تهذیب الکمال(۵\۴۵۹)_
[4] المصدر السابق وسیر أعلام النبلاء (۱۰\۳۵۳)-
[5] المصادر السابقة)-
[6] تهذیب الکمال(۵\۴۵۹)_
[7] الطبقات لابن سعد(۷\۳۰۱)_
[8] تهذیب التهذیب(۲\۲۰۷)_
[9] تهذیب الکمال(۵\۴۵۹) وسیر أعلام النبلاء (۱۰\۳۵۳)-
[10] تهذیب التهذیب(ت\۲۰۷)_
[11] کتاب الثقات لابن حبان(۲\۲۰۱)_
[12] د دلالی پیشه. په مزدوری باندې د څیزونو خرخولوپیشه ده)_

ملینا من هذا التراب، هات من دینار رحمة،، یعنی ستا د دنانیرو زمونږ په نیز څه وقعت (او عزت) نشته.مونږ ته خو فی دینار صرف یوه حبه (رتی) پکار ده.بس هم هغه راکړه.نو دیرش دیناره ئې واپس کړل.او یو دینار او څه حصه ئې وصول کړله. (۱)

په ۲۱۷ هـ کښې ددوی وفات اوشو.(۲) ،، رحمه الله تعالی رحمةً واسعةً،،_

④ شعبه: دا امیرالمؤمنین فی الحدیث امام شعبه بن الحجاج رحمه الله دې.ددوی حالات وړاندې د ،،باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده،، لاندې تیرشوی دی.(۳)

⑤ عدي بن ثابت: دا عدی بن ثابت انصاری کوفی دې.ددوی د پلار او نیکه دنوم په باره کښې کافی اختلاف دې.حافظ مغلطای او حافظ ابن حجر رحمهما الله دا اختلاف کافی تفصیل سره لیکلې دې.خو څه متعین نتیجه ئې نه ده راوښکلې.او نه په دې اختلاف کښې څه لویه فائده شته.(۴)

دوی د حضرت براء بن عازب، د خپل نیکه (د مورپلار) عبدالله بن یزید خطمی، د خپل پلار ثابت، زر بن حبیش، سعید بن جبیر،ابو حازم او ابو برده بن ابی موسی اشعری رحمهم الله نه روایت کړې دې.(۵)

ددوی نه امام اعمش، امام شعبه، ابو اسحاق سبیعی، مسعر بن کدام او یحي بن سعید انصاری رحمهم الله وغیره روایت کړې دې.(۶)

امام احمد ،نسائی اوامام احمدبن عبدالله عجلی رحمهم الله دوی لره ،،ثقه،، ګرځولې دې.(۷)

ابو حاتم رحمه الله فرمائی،،صدوق،،(۸)

ابن شاهین رحمه الله د یحي بن معین رحمه الله نه نقل کړی دی.((عدی بن ثابت الجزری لیس به بأس إذا حدث عن الثقات))(۹)

---

(۱) تهذیب الکمال(ت۵\۴۵۹) وسیر أعلام النبلاء(۱۰\۳۵۳)-

(۲) الکاشف (۱\۳۱۳) رقم ۹۴۳)_

(۳) کشف الباری(۱\۶۷۸)_

(۴) تهذیب التهذیب(۲\۱۹،۲۱) ترجمة ثابت الأنصاری والد عدی بن ثابت وحاشیة تهذیب الکمال (۴\۳۸۷) ترجمة ثابت الأنصاری)_

(۵) تهذیب الکمال(۱۹\۵۲۳)_

(۶) المصدرالسابق)_

(۷) المصدرالسابق)-

(۸) تهذیب الکمال(۱۹\۵۲۴)-

(۹) حاشیة تهذیب الکمال(۱۹\۵۲۴)-

امام دارقطنی رحمہ اللہ فرمائی ،،وعدی ثقة،،(۱)
خو ددې توثیقاتو سره سره په دوی باندې د ،،تشیع،، الزام هم دې.لکه چه امام یحیی بن معین رحمہ اللہ فرمائی. ،،شیعی مفرط،،(۲)
امام جوزجانی رحمہ اللہ فرمائی.،،مائل عن القصد،،(۳)
امام دارقطنی رحمہ اللہ فرمائی.،،ثقة إلا أنه کان غالیاً یعنی فی التشیع،،(۴)
امام احمد رحمہ اللہ فرمائی.،،ثقة إلا أنه کان یتشیع،،(۵)
امام طبری رحمہ اللہ فرمائی.،،عدی بن ثابت ممن یجب التثبت فی نقله،،(۶)
مسعودی فرمائی.«ما أدرکنا أحداً أقول بقول الشیعة من عدی بن ثابت»(۷)
ددې اقوالو نه معلومیږی.چه عدی بن ثابت نه صرف شیعی وو بلکه غالی هم وو.خو بل طرف ته دا داسې راوی دې.چه اصحاب د اصول سته دده روایات قبول کړی دی.او دا نې قابل د احتجاج ګنړلی دی.نو ددوی په باره کښې به هم دا ونیلې شی.چه اګرچه دا شیعی وو.بلکه مفرط فی التشیع وو.خو نه داعی وو.او نه نې د خپل مذهب په تائید کښې کوم روایت بیان کړې دې.او د مبتدع حکم د جمهورو په نیز هم دا دې.که هغه داعی وی.یا دا روایت د هغه د خپل مذهب په تائید کښې وی.نو مقبول نه دې.ګنی مقبول دې.(۸) لکه حافظ ابن حجر رحمہ اللہ فرمائی.«احتج به الجماعة، وما أخرج له فی الصحیح شئ مما یقوی بدعته»(۹)
په ۱۱۶هـ کښې ددوی وفات اوشو.(۱۰)،،سامحه الله وغفر له،،_

⑥ عبدالله بن یزید: دا حضرت عبدالله بن یزید بن زید بن حصین خطمی انصاری رضی اللہ عنہ دې.(۱۱)

---

(۱) المصدر السابق)_
(۲) میزان الإعتدال(۳\۶۲) و تهذیب التهذیب(۷\۱۶۶)_
(۳) میزان الإعتدال(۳\۶۲) وهدی الساری(۴۲۴)-
(۴) تهذیب التهذیب(۷\۱۶۶) وهدی الساری(ص.۴۲۴)_
(۵) تهذیب التهذیب(۷\۱۶۶)-
(۶) المصدر السابق)-
(۷) میزان الإعتدال(۳\۶۲)_
(۸) هدی الساری(ص.۳۸۵)-
(۹) هدی الساری(ص.۴۲۴)_
(۱۰) الکاشف(۲\۱۵) رقم الترجمة (۳۷۵۸)_
(۱۱) تهذیب الکمال(۱۶\۳۰۱،۳۰۲)_

بعضو حضراتو وئيلي دي چه دوى ته د ،،صحبت،، شرف حاصل نه وو.(١)خو حقيقت دا دي چه دوى ته نه صرف دا چه د ،،صحبت،، شرف حاصل وو بلكه دا د اصحاب حديبيه ځنې هم وو. اګرچه په دې موقعه باندې دوى صغير السن (كم عمره) وو.(٢)

د جمل، صفين او نهروان په موقعو كښې حضرت على رضي الله عنه سره وو. دوى د كوفې ګورنر هم پاتې شوې وو.(٣)

دوى د نبى كريم ﷺ نه علاوه د حضرت عمر بن الخطاب، حضرت براء بن عازب، حضرت حذيفه، حضرت خزيمه بن ثابت، حضرت زيد بن ثابت، حضرت عبدالله بن حنظله، حضرت

---

(١) قاله مصعب الزبيرى كما فى تهذيب الكمال(۱۶\۳۰۳)_

(٢) انظر تهذيب الكمال(۱۶\۳۰۲) والكاشف للذهبى(۱\۶۰۷) رقم ۳۰۵۵)

حافظ مزى او حافظ ذهبى رحمهما الله نقل كړى دى چه دوى د غزوه حديبيه په موقع باندې موجود وو. اوهغه وخت كښې ددوى عمر اوولس كاله وو.

ابوعبيده اجرى رحمه الله دامام ابوداود رحمه الله نه نقل كړى دى چه دا عبدالله بن يزيد خطمى رضي الله عنه هغه دې دچا مور چه د يو نابينا صحابى عميرين عدى بن خرشه رضي الله عنه غيرمسلمه ام ولده وه. دې ښځې به نبى ﷺ ته ګنځل كولو. يوځل عميرين عدى رضي الله عنه ددې په خيټه كښې چاړه ورخښه كړه. هغه په ځپله مړه شوه. اوعبدالله بن يزيدخطمى هم په دغه حالت كښې پيدا شو.(تعليقات الكاشف (۱\۶۰۸) دغه شان ددې واقعه دپاره اوګورئ سنن أبى داود كتاب الحدود باب الحكم فيمن سب النبى ﷺ وسنن نسائى (۱۲\۱۷۰) كتاب المحاربة باب الحكم فيمن سب النبى ﷺ)_

دلته اشكال دا دې چه دا وينځه د حضرت عميرين عدى ام ولده وه. نوعبدالله ته عبدالله بن عميرونيل پكار وو. عبدالله بن يزيد نه. ددې نه خو معلوميږى چه دا وينځه د يزيد خطمى سره وه؟

ددې جواب دا دې چه په اصل كښې ددې وينځې نه دحضرت عميردوه خامن پيدا شوې وو.(سنن أبى داود وسنن نسائى) ددې نه پس هغوى ددې نكاح د يزيد خطمى رضي الله عنه سره كړې وه. دهغې نه عبدالله بن يزيد ددې واقعه په نتيجه كښې پيدا شو.

بيا دلته يوه بله خبره د يادولوقابله ده. چه حافظ مزى او حافظ ذهبى رحمهما الله د حضرت عبدالله بن يزيد خطمى رضي الله عنه عمر د غزوه حديبيه په وخت كښې اوولس كاله ليكلې دې.(تهذيب الكمال(۶۱\۳۰۲) والكاشف (۱\۶۰۷) رقم ۳۰۵۵) اوحافظ ابن حجر رحمه الله دحضرت عميرين عدى رضي الله عنه د وينځې دقتل د واقعه تاريخ ۲هـ ليكلې ده.(الإصابة ۳\۳۳) اوغزوه حديبيه په ۶هـ كښې پيښه شوې وه. په دې طريقه دحضرت عبدالله بن يزيدخطمى رضي الله عنه عمر ځلوركاله جوړيږى. ددې وجې حافظ ابن حجر رحمه الله په (تهذيب التهذيب ۶\۷۸) او الاصابة (۲\۳۸۲) كښې ددوى په تذكره كښې ليكلى دى.((وشهد بيعة الرضوان وهو صغير)) هم دا اقراب الى الصواب معلوميږى. والله أعلم)_

فائده د ذكرشوى تفصيل نه د دې ښځې قتل كونكي نابينا صحابى رضي الله عنه نوم هم معلوم شو چه دوى حضرت عميرين عدى بن خرشه رضي الله عنه وو. حضرت علامه سهارنپورى رحمه الله په بذل المجهود (۱۷\۲۹۹) كتاب الحدود باب الحكم فيمن سب النبى ﷺ) كښې دحديث الفاظ ((إن أعمى كانت له أم ولد)) لاندې د نابينا صحابى په حق كښې ليكلى دى.((لم أقف على تسميته فاغتنم هذه الفائدة)-

(٣) تهذيب الكمال (۱۶\۳۰۲)-

ابو ايوب انصارى او حضرت ابو مسعود انصارى ﷺ نه روايت كوى.
ددوى نه امام شعبى، عدى بن ثابت انصارى، محارب بن دثار، محمد بن سيرين، محمد بن كعب قرظى، ابو اسحاق سبيعى، او ابوبرده بن ابى موسى اشعرى ﷺ وغيره نه روايت كوى. [1] د ۷۰ هـ نه پس د حضرت عبدالله بن الزبير ﷺ په عهد خلافت كښې ددوى وفات اوشو.[2] ،،رضى الله عنه وأرضاه،،_

۵ ابومسعود: دا مشهور صحابى عقبه بن عمرو بن ثعلبه بن اسيره [بفتح الهمزة وكسر السين المهملة وقيل بضم الهمزة و فتح السين] [3] بن عسيره (بفتح العين وكسر السين المهملتين)[4] بن عطية خزرجى انصارى ﷺ دې.د ابومسعود بدرى نوم سره مشهور دې.
دوى په اجله علماء اصحابو كښې وو.[5] په بيعت عقبه ثانيه كښې دوى هم شريك وو.په دې شريكانو كښې دې دټولو نه كشر وو.[6]
دوى د نبى كريم ﷺ نه روايت د حديث كوى.ددوى نه يوسل دوه حديثونه نقل دى.چه په دې كښې نهه حديثونه متفق عليه دى.په يو حديث كښې امام بخارى ﷺ او په اووه حديثونو كښې امام مسلم متفرد دې.[7]
ددوى نه په روايت كونكو كښې ددوى څوئې بشير، اوس بن ضمعج، علقمه، ابووائل،قيس بن ابى حازم، ربعى بن حراش، عبدالرحمن بن يزيد، عمرو بن ميمون، او امام شعبى ﷺ وغيره حضرات دى.[8] دوى په غزوة احد او ددې نه پس په ټولو غزواتو كښې شريك شوې دې.[9] په بدر كښې دوى شريك شوې وو.او كه نه؟ په دې كښې ډير اختلاف دې.لكه امام ابن شهاب زهرى [10] سعد بن ابراهيم [11] موسى بن عقبه [12] واقدى [13] ابن سعد [14] ابراهيم

[1] ددې ټولو شيوخو راويانو ﷺ دتفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال(۱۶\۳۰۲)_
[2] طبقات ابن سعد(۶\۱۸)_
[3] الإكمال لإبن ماكولا (۱\۷۹) وقيل فى هذا الإسم يسيرة بضم أوله انظر العمدة (۱\۳۱۷)_
[4] تهذيب الكمال (۲۰\۲۱۵، ۲۱۶) وسير أعلام النبلاء(۲\۴۹۴)-
[5] سير أعلام النبلاء(۲\۴۹۴)_
[6] تهذيب الكمال(۲۰\۲۱۶)-
[7] خلاصة الخزرجى (ص.۲۶۹) وعمدة القارى(۱\۳۱۷)_
[8] تهذيب الكمال(۲۰\۲۱۷) وسير أعلام النبلاء (۲\۴۹۴)_
[9] تهذيب التهذيب(۲۰\۲۴۸) والإصابة(۲\۴۹۱)_
[10] تهذيب الكمال(۲۰\۲۱۶)_
[11] المصدر السابق) وسير أعلام النبلاء(۲\۴۹۴)_
[12] المصادر السابقة)-
[13] الإصابة (۲\۴۹۱) وسير أعلام النبلاء(۲\۴۹۴)_
[14] طبقات ابن سعد(۶\۱۶)_

حربي [١] اسماعيلي [٢] او حافظ ذهبي [٣] ﷺ وغيره جمهور اهل سير او تاريخ ددوى په غزوهٔ بدر كښې حاضريدو نه انكار كوى او وائي چه دوى ته ..بدرى.. د نزيل بدركيدو په حسيب سره ويلي شي حالانكه امام بخارى [٤] امام مسلم [٥] حكم بن عتيبه [٦] ابو عبيد قاسم بن سلام [٧] ابن الكلبى [٨] طبرانى [٩] او ابو احمد الحاكم رحمهم الله [١٠] ددې خبرې قائل دى چه دې په غزوهٔ بدر كښې شريك شوې دې.
مثبتينو سره ددوى په بدر كښې د حاضريدو دليل يو خو ددوى نسبت ..بدرى.. كيدل دى. دويم دا چه د حضرت عروه رحمه الله قول دې. كوم چه بخارى كښې نقل دې چه ،،شهد بدراً،، [١١] اګرچه د اثبات دا دواړه دليلونه خاص وزن نه لرى. خو چونكه نفى كونكو سره څه خاص دليل نشته. او قاعده ده. چه ،،المثبت مقدم على النافى،، ددې نه علاوه چه هركله ټول حضرات دا منى. چه دې په بيعت د عقبه ثانيه كښې شريك وو. نو غزوهٔ بدر كښې د شريكيدو نه څه مانع هم نشته. [١٢] په دې وجه غالب ګمان دا دې. چه ددوى په غزوه بدر كښې حاضريدل راجح دى. ،،والله سبحانه وتعالى أعلم،،_
د حضرت ابو مسعود بدرى رضي الله عنه وفات د بعضو حضراتو په نيز د ۴۰هـ نه وړاندې شوې دې. او د بعضو حضراتو په نيز ۴۰هـ كښې. او د بعضو په نيز ددې نه پس شوې دې. [١٣]
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى. چه د حضرت ابو مسعود رضي الله عنه ملاقات حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه سره، ددوى د كوفې د ګورنرۍ په زمانه كښې شوې دې. او حضرت مغيره بن شعبه

---

[١]) فتح البارى(٣١٨\٧) كتاب المغازى باب (بلاترجمة بعدباب شهودالملائكة بدراً)_
[٢]) المصدر السابق)-
[٣]) سيرأعلام النبلاء(٤٩٤\٢)_
[٤]) صحيح بخارى كتاب المغازى باب (بلاترجمة بعد باب شهودالملائكة بدراً) رقم ٤٠٠٦، ٤٠٠٨)_
[٥]) الإصابة(٤٩١\٢)_ .
[٦]) تهذيب الكمال(٢١٦\٢٠) وسيرأعلام النبلاء(٤٩٤\٢)_
[٧]) ذكره البغوى فى معجمه قاله الحافظ فى الفتح (٣١٩\٧) ووقع فى الإصابة (٤٩١\٢) أبوعتبة بن سلام والظاهر أنه تحريف والصواب أبوعبيدالقاسم بن سلام.. فتنبه)_
[٨]) فتح البارى(٣١٩\٧)_
[٩]) المصدرالسابق)_
[١٠]) المصدرالسابق)-
[١١]) صحيح البخارى كتاب المغازى باب (بلاترجمة) رقم ٤٠٠٧)_
[١٢]) فتح البارى (٣١٩\٧) وعمدة القارى(١١٢\١٧) وتهذيب التهذيب(٢٤٩\٧)_
[١٣]) تهذيب الكمال(٢١٧\٢٠و ٢١٨) وسيرأعلام النبلاء(٤٩٦\٢)_

د ۴۰ھ نه پس د كوفې گورنر جوړ شوې وو.په دې وجه راجح دا ده.چه د ۴۰ھ نه پس ئې وفات شوې دې.(١)،،رضى الله عنه وأرضاه،،_

قوله إذا أنفق الرجل على أهله يحتسبها فهو له صدقة: كله چه يو سړې بخپل كور والو باندې د ثواب په نيت سره خرچ كړى.نو دا به دده دپاره صدقه وى.ده ته به د صدقې ثواب ملاويږى. دا حديث د ،،ترجمې،، دويم جزء ،،والحسبة،، سره متعلق دې.او په حديث باب كښې موجود لفظ ،،يحتسبها،، دلته مقصود دې.(٢)

امام قرطبى رحمه الله فرمائى.چه ددې حديث منطوق خو دا دې.چه په انفاق كښې به اجر د قربت قصد، او ددې په نيت سره ملاويږى.كه واجب نفقه وى.او كه مباح، ددې مفهوم دا راوخى. كه د قربت قصد نه وى.نو اجر به نه ملاويږى.خو د واجب نفقې نه به دې برى الذمه وى.(٣)

بيا دلته د ،،صدقه،،اطلاق،، نفقه،، باندې مجازاً دې.ددې نه مراد اجر دې. حقيقى معنى يعنى صدقه په دې وجه مراد نشى اخستلې.چه په دې خبره باندې اجماع ده.كه بى بى هاشميه ده.نو دهغې نفقه هم واجب ده.حالانكه په دې باندې صدقه حرام ده.(٤)والله اعلم.

٥٦-حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ نَافِعٍ قَالَ أَخْبَرَنَا شُعَيْبٌ عَنْ الزُّهْرِيِّ قَالَ حَدَّثَنِي عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ (٥) أَنَّهُ أَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللَّهِ إِلَّا أُجِرْتَ عَلَيْهَا حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فَمِ امْرَأَتِكَ

[١٢٣٣، ٢٥٩١، ٢٥٩٣، ٣٧٢١، ٤١٤٧، ٥٠٣٩، ٥٣٣٥، ٥٣٤٤، ٦٠١٢، ٦٣٥٢]

---

(١) الإصابة(٤٩١\٢)_
(٢) فتح البارى(١٣٦\١)-
(٣) المصدر السابق)-
(٤) المصدر السابق)_
(٥) الحديث أخرجه البخارى أيضاً فى كتاب الجنائز. باب رثاء النبى ﷺ سعد بن خولة رقم(١٢٩٥) وفى كتاب الوصايا باب أن يترك ورثته أغنياء خير من أن يتكففوا الناس رقم ٢٧٤٢ وباب الوصية بالثلث رقم ٢٧٤٤ وفى كتاب مناقب الأنصار باب قول الله ﷺ اللهم امض لأصحابى هجرتهم ومرثيته لمن مات بمكة رقم ٣٩٤٦ وفى كتاب المغازى باب حجة الوداع رقم ٤٤٠٩) وفى فاتحة كتاب النفقات باب فضل النفقة على الأهل رقم ٥٣٥٤ وفى كتاب المرضى باب وضع اليد على المريض رقم ٥٦٥٩ وباب ما رخص للمريض أن يقول:إنى وجع أو وارأساه. او أشتد بى الوجع رقم ٥٦٦٨وفى كتاب الدعوات باب الدعاء برفع الوباء والوجع رقم ٦٣٧٣ وفى كتاب الفرائض باب ميراث البنات رقم(٦٧٣٣) ومسلم فى صحيحه (٣٩\٢. ٤٠) فى كتاب الوصية وأبوداود فى سننه فى كتاب الوصايا باب ما جاء فيما لا يجوز للوصى فى ماله رقم ٢٨٦٤ والترمذى فى جامعه فى كتاب الجنائز باب ما جاء فى الوصية بالثلث والربع رقم ٩٧٥) والنسائى فى سننه(١٢٩\٢. ١٣٠) كتاب الوصايا باب الوصية بالثلث وابن ماجه فى سننه فى كتاب الوصايا باب الوصية بالثلث رقم ٢٧٠٨)_

رجال الحديث

① الحكم بن نافع: دا ابواليمان الحكم بن نافع بهرانى حمصى رحمه الله دي.ددوى حالات د بدء الوحى د شپږم حديث لاندې تير شوي دي.(١)

② شعيب: دا ابو بشر شعيب بن ابى حمزه قرشى اموى رحمه الله دي.ددوى حالات هم د بدء الوحى د شپږم حديث لاندې تير شوي دي.(٢)

③ الزهري: دا امام ابوبكر محمد بن مسلم عبيدالله بن عبدالله بن شهاب زهرى رحمه الله دي.ددوى مختصر حالات د بدء الوحى دريم حديث لاندې تير شوي دي.(٣)

④ عامر بن سعد: دا د حضرت سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه خوئې دي.ددوى مختصر حالات وړاندې د ،،باب إذا لم يكن الإسلام على الحقيقة،، لاندې ذكر شوى دى.

⑤ سعد بن ابي وقاص: د حضرت سعد بن ابى وقاص تذكره هم د ،،باب إذا لم يكن الإسلام على الحقيقة...،، لاندې تيره شوې ده.

قوله إِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللَّهِ إِلَّا أُجِرْتَ عَلَيْهَا حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فِي امْرَأَتِكَ: بې شكه چه ته څه هم د الله تعالى د رضامندئ دپاره خرچ كوئ.په دې به تاسو ته اجر ملاويږى.تردې چه په دې باندې هم كوم چه تاسو د خپلې ښځې په خوله كښې واچوئ.

د مذكوره حديث تعلق د ترجمة الباب دريم جزء يعنى ،،وإنما لكل امرئ ما نوى،، سره دې.او په حديث باب كښې مقصود ،،تبتغي بها وجه الله،، ده.چه ددې ،،ترجمه،، سره مناسبت واضح دې.(٤)

بيا په اكثرو رواياتو كښې ،،في امرأتك،، دې.حالانكه په بعضو رواياتو كښې ،،في فم امرأتك،، (٥)دې.قاضى عياض رحمه الله فرمائى.چه د ،،في امرأتك،، روايت اصوب (اصح) دې.ځكه چه په دې لفظ كښې اصل دا دې.چه ،،ميم،، محذوف وى.ځكه چه ددې جمع ،،افواه،،او تصغير ،،فويه،، راځى.د ،،ميم،، اثبات هلته اولى دې.چرته چه دا لفظ د اضافت نه بغير منفرداً

---

(١) كشف البارى(١١/٤٧٩و ٤٨٠)_
(٢) كشف البارى(١١/٤٨٠، ٤٨١)_
(٣) كشف البارى(١١/٣٢٦)_
(٤) فتح البارى(١١/١٣٧)_
(٥) المصدر السابق)_

راشي خو چرته چه اضافت سره استعمال وي.هلته د ..ميم.. استعمال مناسب نه دې.«إلا في لقمة الليلة»([1])

حديث باب د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه د يو اوگد حديث حصه ده. حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيمار شو.تردې چه هغه پوهيدو.چه اجل رانزدې دې.د نبی کريم ﷺ نه ئې هدايت طلب کړو.چه دخپل مال په باره کښې څه طريقه اختيار کړم.نبی کريم دوی ته تسلي ورکړله.چه اوس ستا ژوند باقي دې.په دې ضمن کښې ئې دا هدايت هم ورکړو.چه نيت بنه ساتې.نوڅه چه خرچ کوې.هغې کښې به د صدقې ثواب ملاويږي.([2])

امام نووي رحمه الله ددې حديث نه استنباط کړې دې.چه که برنبه (نوړۍ) د حق موافق وي.نو په ثواب کښې به قادح نه وي.اوگورئ! يو سړې په بعضو وختونو کښې د يو فقير. مسکين. يتيم يا د يو بچي په خوله کښې لقمه (نوړۍ) اچوي.او بعضو وختونو کښې ښځې ته ورکوي.رومبی خانې کښې شهوت نه وي.خو دويم خانې کښې شهوت يقيني وي.څکه دا ډيره لرې خبره ده.چه سړې د خپلې ښځې په خوله کښې نوړۍ ورکوي.او شهوت نه وي.خو دا لقمه د حق موافق او مطابق ده.ددې خلاف نه ده.په دې وجه به دا د اجر وثواب کميدو سبب نه جوړيږي. ([3])

بلکه که حظ (حصه) په نيت د حق وي.نو دا هم د اجر سبب دې.لکه چه حديث شريف کښې راغلی دی.«وفي بضع أحدكم صدقة، قالوا يا رسول الله، أيأتي أحدنا شهوته ويكون له فيها أجر؟ قال: أرأيتم لو وضعها في حرام أكان عليه فيها وزر؟ فكذالك إذا وضعها في الحلال كان له أجر»([4]) يعنی کله چه نبی کريم ﷺ دا اوفرمائيل.چه خپلې ښځې سره جماع کول هم صدقه او ثواب دې.نو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته تعجب اوشو.او دوی تپوس اوکړو.چه پخپل شهوت پوره کولو باندې هم اجر دې؟ نبی کريم ﷺ اوفرمائيل.چه آيا څکه که حرام خانې کښې ئې دا اوبه خرچ کړې وې.نو آيا گناه به وه؟ نو که په حرام خانې کښې خرچ کول د گناه موجب دی.نو په مقام د مباح کښې د حرام نه د بچ کيدو په نيت خرچ کول به يقيناً موجب د ثواب وي.([5])

امام نووي رحمه الله فرمائی.چه دلته په ،،ماتجعل في في امرأتك،، فرمائيلو سره د لقمې مثال ورکولو کښې، ددې قاعدې بنه وضاحت اوشو.چه کله خپلې بی بی ته چه هغه مجبوره هم نه ده.هغې ته د يوې نوړۍ ورکولو دا ثواب دې.نو هغه کس ته به څومره ثواب ملاويږي.څوک چه محتاج او مجبوره کس ته څه لقمه ورکوي.يا د طاعاتو او فرمانبردارۍ نه دومره عمل

[1]) المصدر السابق)_
[2]) دحديث تخريج لږ غونډې وړاندې شوې دې.دحوالو د تفصيل دپاره هغه اوگورئ-
[3]) شرح نووي على صحيح مسلم (۳۹\۲) کتاب الوصية)-
[4]) صحيح مسلم (۳۲۵\۱) کتاب الزكاة باب بيان أن إسم الصدقة يقع على كل نوع من المعروف)-
[5]) شرح نووي على صحيح مسلم(۳۹\۲)_

كوى.چه په هغې كښې د لقمې د قيمت نه زيات مشقت او تكليف وى.([1])
خلاصه دا ده.چه د خاوند خپلې ښځې ته د خوراك وركولو فائده پخپله خاوند طرف ته راجع ده.ځكه چه په دې خوراك سره به ددې د ښځې په بدن باندې ښه اثر پريوځى.او ددې د جسم نه به ددې خاوند نفع اخلى.او غالب دا ده.چه ښځه باندې خرچ كولو كښې د نفس او لذت حاصلولو دخل وى.نوكله چه ښځې ته په نيت د ثواب خوراك وركولو كښې اجر دې.نو نورو خلقو ته د مذكوره دواعى (اوحاجاتو) نه كيدو باوجود خوراك وركولو كښې به اجر ولې نه وى؟ (ضرور به وى). ([2]) والله اعلم.

(۴۰) بَاب قَوْلِ النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدِّينُ النَّصِيحَةُ

لِلَّهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ وَقَوْلِهِ تَعَالَى إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ (التوبة: ۹۰)

مخكنى باب سره ربط او مناسبت: ددې باب مخكنى باب سره مناسبت دا دې.چه په تيرشوى باب كښې د ،،الأعمال بالنيات،، بيان وو.او ددې خبرې ذكر وو.چه د اعمالو قبوليت به هغه وخت وى.كله چه د الله تعالى رضاء مقصود وى.او په دې كښې ريا كارى نه وى.په دې طريقه عمل كول په ،،النصيحة لله ولرسوله،، كښې داخل دې.چه سړې د رسول الله ﷺ دتعليماتو مطابق د نواهى نه مجتنب اوسيږى.او عمل كوى.([3])
بيا امام بخارى رحمه الله د كتاب الايمان په اختتام باندې په دې عظيم حديث باندې باب منعقد كړې دې.چه په دې باندې د اسلام مدار دې.لكه چه امام محمد بن اسلم طوسى رحمه الله دا حديث د هغه څلورو احاديثو نه يو حديث ګرځولې دې.په كومو چه د اسلام مدار دې.بلكه امام نووى رحمه الله فرمائى.چه دا يو حديث پوره دين ته حاوى (را چاپيره) دې.([4])
امام بخارى رحمه الله د كتاب الايمان په آخر كښې دا ،،ترجمه،، ايخودې ده.او دې خبرې طرف ته ئې اشاره فرمائيلې ده.چه مونږ په كتاب سره د نصيحت او خيرخواهئ لحاظ ساتلې دې.ددې په لحاظ دا كتاب جمع كړې شوې دې.خاص د يو فرد ترديد مقصود نه دې.
د ترجمة الباب مقصود: د امام بخارى رحمه الله مقصود د ايمان مراتب ښودل دى.چه په دې كښې تفاوت راځى.ځكه چه دلته ،،الدين النصيحة،، فرمائيلې شوې دې.د ،،النصيحة،، حمل په ،،الدين،، باندې كيږى.ګويا چه ،،دين،، او ،،نصيحت،، يو دې.بيا چونكه په ،،نصيحت،، كښې مراتب ښكاره دى.چه يو نصيحت ،،لله،، وى.يو ،،لرسول الله ﷺ،،.يو ،،لأئمة المسلمين،، او يو ،،لعامتهم،، وى.او ددې نصيحتونو په كيفياتو كښې هم كمې زياتې كيږى.نو هركله

---

[1] المصدر السابق)_
[2] فتح البارى(۱۳۷/۱)-
[3] عمدة القارى (۳۲۱/۱)_
[4] فتح البارى(۱۳۸/۱)_

چه ،،نصيحت،، كښې د مراتبو تفاوت ثابت شو.نو په ،،دين،، كښې به هم تفاوت وى.دين او ايمان چونكه يو څيز دې.په دې وجه به ايمان كښې د مراتبو او زيادت او نقصان ثبوت هم اوشى.
دغه شان دا مقصود هم كيدې شى.چه امام بخارى رحمه الله عمل په ايمان كښې داخل ګرځول غواړى.څكه چه دلته په ،،الدين،، باندې د ،،النصيحة،، حمل دې.او ،،نصيحت،، عمل دې.معلومه شوه.چه عمل په دين او ايمان كښې داخل دې.والله اعلم.
قوله الدِّينُ النَّصِيحَةُ لِلّٰهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وَعَامَّتِهِمْ: دين الله تعالى، د الله رسول، دمسلمانانو ائمه اوحاكمانو.او عامو مسلمانانو سره د خيرخواهئ نوم دې.
د مذكوره معلق حديث تخريج امام بخارى رحمه الله دلته دا حديث معلق ذكر كړې دې.حالانكه نورو حضراتو دا موصولاً نقل كړې دې.لكه چه امام مسلم رحمه الله پخپل صحيح كښې د «سهيل بن أبي صالح عن عطاء بن يزيد عن تميم الداري» په طريق سره ددې تخريج كړې دې.[1] دغه شان امام نسائى رحمه الله هم په دې طريق سره ددې حديث تخريج كړې دې.[2]او امام ابوداؤد رحمه الله هم بعينه هم په دې طريق سره دا حديث پخپل ،،سنن،، كښې نقل كړې دې.[3]
ددوى نه علاوه ابن حبان، ابن منده، او ابن خزيمه رحمهم الله هم مذكوره طريق سره ددې حديث تخريج كړې دې.[4]
امام بخارى رحمه الله موصولاً ولې ددې حديث تخريج اونكړو؟ دا حديث امام بخارى رحمه الله په ترجمة الباب كښې تعليقاً ذكر كړې دې. موصولاً ئې نه دې نقل كړې.ددې وجه دا ده.چه ددې حديث مدار په سهيل بن ابى صالح رحمه الله [5]دې.او دا د امام بخارى رحمه الله د شرط مطابق نه دې.[6]
بيا په دې كښې هم اختلاف دې.چه دا حدث دحضرت تميم دارى رضي الله عنه د مسانيدو څخې دې.اوكه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه. لكه چه بعضو حضراتو په ،،ابو سهيل عن ابيه عن أبي هريرة،،

---

[1]) صحيح مسلم (۵٤\۱) كتاب الإيمان باب بيان أن الدين النصيحة)-
[2]) سنن النسائى (۱۸۵\۲) كتاب البيعة باب النصيحة للإمام)-
[3]) سنن أبى داود فى كتاب الأدب باب فى النصيحة رقم ٤٩٤٤)_
[4]) تغليق التعليق (۵۶\۲، ۵۷) وفتح البارى(۱۳۸\۱) وعمدة القارى(۳۲۱\۱)_
[5]) قال الذهبى فى الكاشف (٤۷۱\۱) رقم ۲۱۸۳ قال ابن معين هو مثل العلاء وليسا بحجة وقال أبوحاتم لا يحتج به ووثقه ناس)_
[6]) عمدة القارى(۳۲۱\۱) وأعلام الحديث للخطابى(۱۸۷\۱) وأخرج له البخارى مقروناً بغيره أنظر تهذيب الكمال (۲۲۸\۱۲)_

طریقه سره هم دا نقل کړې دې.(۱) امام بخاری رحمه الله فرمائی چه ،،لایصح إلا من تمیم،، (۲) ددې اختلاف په وجه هم امام بخاری رحمه الله دا حدیث نقل نکړو. البته چونکه دا حدیث فی الجمله قابل د استدلال دې.په دې وجه ئې دې طرف ته اشاره کولوسره، دوی په دې باندې ترجمه قائم کړله.(۳) والله اعلم.

قوله: النصیحة: نصیحت خیر خواهئ ته وائی.

دا خو یا د ،،نصحت العسل،، نه مشتق دې.چه ددې معنی د شهدو صفا کول دی.لکه چه ،،نصح الشئ،، وائی.کله چه یو څیز صفا، شفاف او خالص شی.دغه شان کله چه اخلاص سره خبره اوکړې شی.نو وئیلې شی چه ،،نصح له القول،،_ او دا یا د ،،النصح،، نه مشتق دې.چه ددې معنی ،،منصحة،، یعنی د ستن په ذریعه ګنډل دی.ګویا لکه څنګه چه د ستن په ذریعه شلیدلې کپړه ګنډلې او صحیح کولې شی.دغه شان د نصیحت په ذریعه د خپل رور خرابوالې ختمولې او لرې کیدې شی.ددې نه ،،توبة نصوح،، هم مشتق ده.ګویا چه ګناه د دین لباس تار تار کوی.او توبه دا ګنډی او ددې اصلاح کوی.(۴)

امام خطابی رحمه الله فرمائی.چه ،،نصیحت،، یوه جامع کلمه ده.چه دا باوجود د مختصر کیدو. خپل مینځ کښې یوه جامع معنی لری.چه ددې خلاصه دا ده.چه د منصوح له دپاره د خیر تولې حصې (او برخې) جمع کول نصیحت دې.(۵) دلته ،،الدین النصیحة،، فرمائیلې شوې دې.د ،،النصیحة،، حمل ،،الدین،، باندې دې. ددې مطلب دې.،،عماد أمر الدین وقوامه إنما هو النصیحة،، یعنی د دین مدار په نصیحت او خیرخواهئ باندې دې.چه هم ددې په ذریعه دین ته قوت او مضبوطی حاصل ده.دا داسې ده.لکه څنګه چه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمان دې.،،الأعمال بالنیات،،(۶) او،،الحج عرفة،، (۷) دغه شان وئیلې شی.،،الناس تمیم،، او ،،المال الإبل،،_(۸)

---

۱) تغلیق التعلیق(۵۸\۲) وسنن النسائی (۱۸۵\۲) کتاب البیعة باب النصیحة للإمام ومسند أحمد (۲۹۷\۲)

۲) فتح الباری (۱۳۸\۱) وتغلیق التعلیق (۶۱\۲)_

۳) انظر الأبواب والتراجم لصحیح البخاری(ص۰۴۰)_

۴) فتح الباری(۱۳۸\۱) وأعلام الحدیث (۱۹۰\۱)_

۵) أعلام الحدیث (۱۸۹\۱، ۱۹۰)_

۶) انظر تخریجه قبل هذا الباب باب ما جاء أن الأعمال بالنیة والحسبة ولکل امرئ ما نوی)_

۷) انظرجامع ترمذی کاب التفسیر ،تفسیر سورة البقرة رقم ۴۰۵۸ وسنن أبی داود کتاب المناسک باب من لم یدرک عرفة رقم ۱۹۵۰ والسنن لابن ماجه کتاب المناسک باب من أتی عرفة قبل الفجر لیلة جمع رقم ۳۰۱۵)_

۸) أعلام الحدیث لخطابی(۱۹۰\۱، ۱۹۱)_

قوله: النصيحة لله: الله تعالى دپاره د نصيحت مطلب دا دې چه د الله تعالى په ذات او صفاتو باندې، د نبي كريم ﷺ د تعليماتو او هداياتو مطابق ايمان راوړل. او شرك او ددې د ټولو انواعو نه اجتناب كول. اطاعت او فرمانبرداري اختيارول. او اخلاص سره ټول احكام پوره كول. د منهياتو نه مكمل خان ساتل. د الله تعالى د انعاماتو او احساناتو اقرار كول. اوپه دې باندې شكر كول. او د الله تعالى نيكانو بنده ګانو سره د موالات او محبت تعلق ساتل. او نافرمانو خلقو سره د معادات (دښمنۍ) تعلق ساتل. [1]
بيا ددې خبرې لحاظ ساتل پكار دى.چه الله تعالى ته د هيڅ يو ناصح د نصيحت. يا د يو مرشد د ارشاد هيڅ حاجت او ضرورت نشته.د مذكوره امورو متعلق اګرچه دا ونيلې شي.چه ،،النصيحة لله تعالى،، دى.خو په حقيقت كښې دا امور پخپله د بنده منافعو طرف ته راجع دى.[2]

قوله: النصيحة لكتاب الله: بيا شارحينو په دې مقام باندې د ،،النصيحة لكتاب الله، تذكره هم كړې ده.د الله تعالى د كتاب دپاره د ،،نصيحت،، مطلب دا دې.چه په دې باندې ايمان راوړلې شى.چه دا د الله تعالى كلام او دده نازل كړې شوې وحى ده.د مخلوق كلام سره نه مشابه دې.او نه د مخلوق نه يوكس په داسې كلام باندې قادر دې.بيا هم په دې،،النصيحة لكتاب الله،، كښې دا هم داخل دى.چه ددې الفاظ او حروف صحيح كړې شى.د محرفينو د تاويلاتو ابطال اوكړې شى.د بې خايه ژبه چلونكو ژبه بنده كړې شى.ددې د بيان شوو فرائضو، سنتو، او آدابو علم حاصل كړې شى.په دې كښې چه كوم محكمات دى.په هغې عمل اوكړې شى.متشابهاتو ته سر د تابعدارۍ ښكته كړې شى.ددې د مواعظو نه عبرت حاصل كړې شى.ددې د وعدو او وعيدونو تصديق اوكړې شى.د علوم قرآن په حاصلولو كښې كوشش اوكړې شى. [3]

قوله: النصيحة للرسول ﷺ: د رسول الله ﷺ دپاره د نصيحت مطلب دا دې.چه نبي كريم ﷺ كوم څه راوړلى دى.په هغې كښې ددوى مكمل تصديق اوكړې شى.دوى چه د كوم خيز دعوت وركړې دې.هغه قبول كړې شى.دوى چه كوم شرائع او احكام ښودلى دى.او د دين تشريح ئې فرمائيلې ده.د هغې مطابق عمل اوكړې شى.ددوى احكام پوره كړې شى.او د نواهى نه اجتناب اوكړې شى.ددوى حق د ټولو مخلوقاتو په حق باندې مقدم كړې شى.او ددوى د دعوت طريقه اختيار كړې شى.[4]

---

[1] اعلام الحديث(١١٩٠/١، ١٩١)-
[2] المصدر السابق)-
[3] المصدر السابق)-
[4] أعلام الحديث (١٩٢/١) وشرح النووى على صحيح مسلم (٥٤/١) كتاب الإيمان باب بيان أن الدين النصحية وفتح البارى(١٣٨/١)_

قوله النصحية لائمة المسلمين: د ،،ائمة المسلمين،، نه مراد د مسلمانانو امراء (حاكمان او خلفاء دي.دوى سره د نصيحت او د خيرخواهئ د تعلق مطلب دا دي.چه په ،،معروف،، كښې ددى اطاعت اوكړې شي.دوى پسې مونځ اوكړې شي.دوى سره شريك شي.او د كافرانو په مقابله كښې جهاد اوكړې شي.دوى باندې خروج بالسيف اونكړې شي.اګرچه ددوى نه څه ظلم صادر شي.د غفلت په موقعو باندې دوى خبردار كړې شي.ددوى په دروغه تعريفونو سره دوى په دهوكه كښې وانه چولې شي.او ددوى د اصلاح او هدايت دپاره دعا اوكړې شي.([1])

د ،،أئمة المسلمين،، نه د دين عالمان او د امت مجتهدين هم مراد كيدې شي. دوى سره به د نصيحت د معاملې مطلب دا وى.چه ددوى علوم نشر كړې شي.(خلقو ته اورسولې شي). ددوى مناقب (او فضائل) بيان كړې شي.دوى سره ښه ګمان اوساتلې شي.او ددې تقليد اوكړې شي.([2])

قوله: النصيحة لعامة المسلمين: عامو مسلمانانو سره د ،،نصيحت،، مطلب دا دې.چه دوى ته د دين تعليم وركول. دوى لره ددوى دينى او دنيوى مصلحتونو طرف ته لاره ښودل. امر بالمعروف او نهى عن المنكر كول، دوى سره د شفقت او مهربانۍ معامله كول. لويو سره د احترام او وړو سره د شفقت (او ترحم) رويه (او سلوك) اختيارول.([3])،،والله سبحانه وتعالى أعلم، وعلمه أتم وأصوب وأحكم،،_

قوله: إذا نصحوا لله ورسوله: كله چه دوى د الله تعالى، او د الله رسول سره د خلوص او خيرخواهئ معامله اوكړى.(نو ددوى په شوو كارونو باندې به مؤاخذه نه كيږى)

دا د آيت كريمه يوه حصه ده.پوره آيت دا دې.﴿لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ لَا يَجِدُوْنَ مَا يُنْفِقُوْنَ حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوْا لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ سَبِيْلٍ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ (التوبه: ٩١)

يعنى كمزورو باندې هيڅ ګناه نشته.او نه په بيمارانو باندې، او نه په هغه خلقو باندې، چا سره چه دجهاد سامان په تيارولو كښې خرچ كولودپاره مال نه وى.كله چه دا خلق الله،اودالله رسول سره اوپه احكامو كښې خلوص ساتى.او زړه سره اطاعت كوى.نو په دې نيكى كونكى باندې هيڅ قسمه الزام نشته.ځكه چه ﴿لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا ؕ﴾ او الله تعالى ډير مغفرت والا، ډير رحمت والا دې.كه دا خلق پخپل علم كښې معذور وى.او د خپل طرفه خلوص او اطاعت كښې كوشش كوى.اوپه واقع كښې څه كمى پاتې شي.نو معاف به كړى.ددې آيت نه د مذكوره حديث تائيد او تاكيد مقصود دې.چه دا بالكل ښكاره ده.([4])والله اعلم بالصواب.

---

[1]) المصادر السابقة)-
[2]) المصادر السابقة)-
[3]) المصادر السابقة)-
[4]) عمدة القارى(١١/٣٢٢)-

٥٨\٥٧- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى عَنْ إِسْمَاعِيلَ قَالَ حَدَّثَنِي قَيْسُ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ () قَالَ بَايَعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ

رجال الحديث

① مسدد: دا مشهور محدث مسدد بن مسرهد رحمه الله دي.ددوی حالات د ،،باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه،، لاندې تير شوی دی.

② يحيى: دا مشهور حافظ حديث امام يحي بن سعيد القطان تيمى رحمه الله دې. د دوی حالات هم د ،،باب من الإيمان أن يحب لأخيه مايحب لنفسه،، لاندې تير شوی دی.

③ اسماعيل: دا تابعی محدث اسماعيل بن ابی خالد احمسی بجلی کوفی رحمه الله دي. ددوی مختصر تذکره د ،،باب المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده،، لاندې تيره شوې ده.()

④ قيس بن ابی حازم: دا مشهور مخضرم تابعی قيس بن ابی حازم احمسی بجلی کوفی رحمه الله دي.ددوی کنيت ابوعبدالله دي.() ددوی د پلار او نيکه په نوم کښې لوښې اختلاف دې.()

دوی د جاهليت زمانه موندلې ده.نبی کريم ﷺ طرف ته د هجرت په نيت سره وتلې وو.اوس په لاره کښې وو.چه ددوی وفات اوشو.دغه شان د صحبت په شرف سره مشرف نشو.اګرچه په يو روايت کښې دا هم.نقل د ی.چه دوی نبی کريم ﷺ د خطبې ونيلو په وخت کتلې دي. خو دا روايت ثابت نه دې.البته ددوی پلار حضرت ابوحازم رضي الله عنه صحابی دې.()

() الحديث أخرجه البخاری أيضاً فی كتاب مواقيت اصلاة باب البيعة على إقامة الصلاة رقم ٥٢٤ وفی كتاب الزكاة باب البيعة على إيتاء الزكاة رقم ١٤٠١ وفی كتاب البيوع باب هل يبيع حاضر لباد بغير أجر رقم ٢١٥٧ وفی كتاب الشروط باب ما يجوز من الشروط فی الإسلام والأحكام والمبايعة رقم ٢٧١٤ و٢٧١٥ وفی كتاب الأحكام باب كيف يبايع الإمام الناس رقم ٧٢٠٤ ومسلم فی صحيحه (٥٥\١) ففی كتاب الإيمان باب بيان أن الدين النصيحة والنسائی فی سننه (١٨٠\٢) كتاب البيعة باب البيعة على النصح لكل مسلم (١٨٢\٢) باب البيعة فيما أحب وكره (١٨٣\٢) باب البيعة فيما يستطيع الإنسان وأبوداود فی سننه كتاب الأدب باب فی النصيحة رقم ٤٩٤٥)-

() كشف البارى(٦٧٩\١)_

() تهذيب الكمال(١٠\٢٤و ١١)-

() المصدر السابق)-

() المصدر السابق وسير أعلام النبلاء(١٩٨\٤. ٢٠١)-

دوی د صحابه کرامو د یو لوئې جماعت نه حدیثونه روایت کړی دی.حافظ عبدالرحمن بن یوسف بن خراش. او امام حاکم رحمهما الله وغیره فرمائی.چه دوی د عشره مبشره نه روایت کړې دې.(۱) امام ابو داؤد رحمه الله فرمائي چه دې د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه نه سوا دټولو عشره مبشره نه روایت کوی.(۲) سبط ابن العجمی رحمه الله رومبی قول ته ترجیح ورکړې ده.یعنی دا چه ددوی روایت دعشره مبشره نه ثابت دې.(۳)

ددوی نه روایت نقل کونکو کښې اسماعیل بن ابی خالد، ابو بشر بیان بن بشر احمسي، حکم بن عتیبه،امام اعمش،مغیره بن شبیل.اوابواسحاق سبیعی رحمهم الله وغیره حضرات دی(۴)

امام یحي بن معین رحمه الله فرمائی.،،ثقة،،(۵)هم ددوی نه نقل دی.((قیس بن ابی حازم أوثق من الزهری ومن السائب بن یزید))(۶)

امام عبدالرحمن بن یوسف بن خراش رحمه الله فرمائی.((قیس بن أبي حازم کوفي جلیل، ولیس في التابعین أحد روی عن العشرة إلا قیس بن أبي حازم))(۷)

اسماعیل بن ابی خالد رحمه الله به ددوی نه روایت کولو په وخت ددوی د ثقاهت تاکید نې په دې طریقه کولو.((حدثنا قیس بن ابي حازم: هذه الأسطوانة))(۸) یعنی ګویا چه دې په ثقاهت او اتقان کښې د اسطوانه (ستن) پشان وو.

امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی.(اجود التابعین إسناداً قیس بن أبي حازم)(۹)

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکرکړې دې.(۱۰)

امام عجلی رحمه الله فرمائی.،،ثقة،،(۱۱)

امام ذهبی رحمه الله فرمائی.،،ثقة حجة کاد أن یکون صحابیاً،،(۱۲)

---

۱) تهذیب الأسماء واللغات (۲\۶۱)_
۲) المصدر السابق)_
۳) حاشیة الکاشف (۲\۱۳۸) رقم ۴۵۹۶)_
۴) د دوی دشیوخواو تلامذو د تفصیلاتو دپاره اوګورئ تهذیب الکمال(۲۴\۱۱ - ۱۳)_
۵) تهذیب الکال(۲۴\۱۵) وسیر أعلام النبلاء(۱۴\۲۰۰)_
۶) تهذیب الکمال(۲۴\۱۴) وسیر أعلام النبلاء(۱۴\۲۰۰)-
۷) تهذیب الکمال(۲۴\۱۴) وسیر أعلام النبلاء(۱۴\۲۰۰)_
۸) تهذیب الکمال(۲۴\۱۵) وسیر أعلام النبلاء(۱۴\۲۰۰و ۲۰۱)-
۹) تهذیب الکمال(۲۴\۱۳) وسیر أعلام النبلاء(۱۴\۱۹۹)-
۱۰) الثقات لابن حبان (۵\۳۰۷و ۳۰۸)_
۱۱) تعلیقات تهذیب الکمال(۲۴\۱۶) نقلاً عن ثقات العجلی)-
۱۲) میزان الإعتدال(۳\۳۹۲) رقم ۶۹۰۸)_

خلاصه دا چه ددوی په عدالت او ثقاهت باندې اتفاق دې.البته ددوی په باره کښې دوه الزامونه نقل کړې شوی دی: ① یو دا چه امام یحي بن سعید القطان رحمه الله فرمائی.،،لیس بن أبی حازم منکر الحدیث،،[1]

② دویم الزام دا نقل کړې شوې دې.چه ،،کان یحمل علی علی رضی الله عنه،،[2]
ترکومې پورې چه د ړومبی الزام یعنی د ..منکرالحدیث.. کیدو تعلق دې.نو د محدثینو فیصله ده.چه ددې د ..منکر..اصطلاحی مراد نه دې.بلکه تفرد مراد دې.لکه چه حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی.،،لاینکر له التفرد فی سعة ماروی،،[3] دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی.
،،ومراد القطان بالمنکر: الفرد المطلق،،[4]
او ترکومې پورې چه د دویم الزام تعلق دې.نو ددې ثبوت نشته.زیات نه زیات دومره خبره ثابت ده.چه ده به حضرت عثمان رضی الله عنه مقدم ګڼړلو.چه ددې په وجه د کوفیینو په قدماء کښې ډیرو حضراتو ددوی د روایاتو نه اجتناب کړې وو.ښکاره ده.چه حضرت عثمان رضی الله عنه مقدم ګڼړل. د اهل السنة عین مذهب دې.
حافظ یعقوب بن شیبه سدوسی په دوی باندې د عائد شوو الزاماتو تفصیل ښودلې دې.او دهغې دفاع ئې کړې ده.لکه چه هغه فرمائی: ((وقیس من قدماء التابعین، وقد روی عن أبی بکر الصدیق فمن دونه، وأدرکه وهو رجل کامل، ویقال: إنه لیس أحد من التابعین .مع أن روی عن العشرة مثله إلا عبدالرحمن بن عوف، فإنا لانعلمه روی عنه شیئاً، ثم قد روی بعد العشرة عن جماعة من أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم وکبرائهم، وهو متقن الروایة ،وقد تکلم أصحابنا فیه: فمنهم من رفع قدره وعظمه، وجعل الحدیث عنه من أصح الإسناد،
ومنهم من حمل علیه، وقال: له أحادیث مناکیر، والذین أطروه حملوا هذه الاحادیث عنه علی أنها عندهم غیر مناکیر، وقالوا: هی غرائب، ومنهم من لم یحمل علیه فی شئ من الحدیث وحمل علیه فی منهبه، وقالوا: کان یحمل علی علی رضی الله عنه وعلی جمیع الصحابة، والمشهور عنه أنه کان یقدم عثمان، ولذالك تجنب کثیر من قدماء الکوفیین الروایة عنه،
ومنهم من قال: إنه مع شهرته لم یرو عنه کبیر أحد، ولیس الأمر عندنا کما قال هؤلاء، وقد روی عنه جماعة

[1]) تهذیب الکمال(۲٤\۱۵) وسیرأعلام النبلاء(٤\۲۰۰) والکاشف (۲\۱۳۹) رقم ٤۵۹۶ ومیزان الإعتدال (۳\۳۹۲) –
[2]) تهذیب الکمال(۲٤\۱٤) وسیرأعلام النبلاء(٤\۱۹۹)_
[3]) میزان الإعتدال(۳\۳۹۳) رقم ۶۹۰۸)_
[4]) تهذیب التهذیب(۳۸۹)_

منهم، إسماعيل بن أبي خالد، وهو أرواهم عنه، وكان ثقة ثبتاً، و بيان بن بشر، وكان ثقة ثبتاً، وذكر آخرين، ثم قال: كل هؤلاء قد روى عنه»(١)

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی. «فهذا قول مبين مفصل»(٢) يعنی حافظ يعقوب بن شيبه سدوسی رحمه الله تول تفصيل اوښودلو. چه نه خودا منكر الحديث وو. او نه د مذهب په اعتبار سره دوی كښې څه كوږوالي وو. او نه دا خبره وه. چه لويو محدثينو ددوی روايتونه قبول كړی نه وی هم دا وجه ده. چه حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی. «أجمعوا على الإحتجاج به، ومن تكلم فيه فقد آذى نفسه، نسأل الله العافية وترك الهوى....»(٣)

په ۹۸هـ كښې ددوی وفات اوشو. (٤)، «رحمه الله تعالى رحمة واسعةً»_

⑤ جرير بن عبدالله: دا حضرت جرير بن عبدالله احمسی بجلی كوفی رضي الله عنه دې. (٥) دوی د نبی كريم صلى الله عليه وسلم نه علاوه د حضرت عمر بن الخطاب او حضرت معاويه بن ابی سفيان رضي الله عنهما نه هم روايت كوی.

ددوی نه روايت كونكو كښې ددوی خپل خوئې ابراهيم بن جرير. ايوب بن جرير. عبيدالله بن جرير. منذر بن جرير او نمسې ابو زرعه بن عمرو بن جرير نه علاوه زياد بن علاقه. ابو وائل شقيق بن سلمه. عامر بن سعد بجلی. عامر بن شراحبيل شعبی او ابو اسحاق سبيعی رحمهم الله وغيره دی. (٦)

په رمضان ۱۰هـ كښې په اسلام مشرف شو. دوی د خپل قوم سردار وو. كله چه نبی كريم صلى الله عليه وسلم ته حاضر شو. نو نبی كريم صلى الله عليه وسلم ددوی اكرام اوكړو. دوی ته ئې څادر وركړو. او ارشاد ئې اوفرمائيلو. «إذا جاءكم كريم قوم فأكرموه»(٧) كله چه دوی نبی كريم صلى الله عليه وسلم ته حاضريدلو. او مدينې منورې ته رانزدې شو. نو دوی لباس بدل كړو. او د نبی كريم صلى الله عليه وسلم په دربار كښې حاضر شو. نبی كريم صلى الله عليه وسلم حضرات صحابه كرامو رضي الله عنهم ته ددې نه وړاندې فرمائيلی وو. «سيدخل عليكم من هذا الفج من خير ذي يمن، ألا وإن على وجهه مسحة ملك»(٨)

---

(١) تهذيب الكمال ۱۳\۲٤ و ۱٤) وسير أعلام النبلاء (۱۹۹\٤ و ۲۰۰) وهدی الساری (ص.٤۳٦)_

(٢) هدی الساری (ص.٤۳٦)_

(٣) ميزان الإعتدال (۳۹۳\۳) رقم ٦۹۰۸)_

(٤) الكاشف (۱۳۹\۲) رقم ٤٥۹٦ وغيره كتب رجال)_

(٥) تهذيب الكمال (٥۳۳\٤)_

(٦) د شيوخو اوشاګردانود نومونود تفصيل دپاره اوګورئ تهذيب الكمال (٥۳٤\٤)_

(٧) تهذيب الكمال (٥۳٥\٤) وسير أعلام النبلاء (٥۳۲\۲) والمعجم الكبير للطبرانی (۳۰٤\۲) رقم ۲۲٦٦ و(۳۲٥\۲) رقم ۲۳٥۸)_

(٨) مسند أحمد (۳٥۹\٤ و ۳٦۰ و ۳٦٤) والمعجم الكبير للطبرانی (۲۹۱\۲) رقم ۲۲۱۰) و(۳۰۱\۲) رقم ۲۲٥۸ ومسند الحميدی (۳٥۰\۲) رقم ۸۰۰ وتهذيب الكمال (٥۳٦\٤) وسير أعلام النبلاء (٥۳۲\۲)_

نبى كريم ﷺ دوى لره د قبيله خثعم بت خانې ..ذوالخلصه.. ورانولو دپاره ليګلې وو.دوى د خپل خان سره د احمس قبيلې شهسوار واخستل او دا ئې ورانه كړله.كله چه نبى كريم ﷺ ته خبر ملاوشو نو نبى كريم ﷺ د قبيله احمس دپاره ښه دعاګانې اوكړې (١). دوى پخپله نبى كريم ﷺ ته شكايت كړې وو چه زه د اس په شا باندې كلك نشم كيناستلې.نبى كريم ﷺ ددوى په سينه بانې لاس مبارك كيخودو.او دعا ئې اوكړله «أللهم ثبته واجعله هادياً مهدياً»(٢)

د حضرت انس رضی الله عنه حضرت جرير رضی الله عنه سره يو خلې د سفر اتفاق اوشو حضرت جرير رضی الله عنه باوجود ددې چه مشر وو.د حضرت انس رضی الله عنه خدمت به ئې كولو حضرت انس رضی الله عنه دوى لره منع كړل.نو وې فرمائيل.«إنى رأيت الأنصار تصنع برسول الله ﷺ أشياء، آليت الا أصحب أحداً منهم إلا خدمته»(٣)

يوځل حضرت عمر رضی الله عنه دوى ته اوفرمائيل.چه خپل قوم واخله.او عراق ته لاړ شه.هلته جهاد اوكړه.تاته به د ټول غنيمت ربع ملاوېږى.دوى هلته لاړل.او جهاد ئې اوكړو كوم غنيمت چه حاصل شو.په هغې كښې دوى د ربع مطالبه اوكړله .حضرت سعد بن ابى وقاص رضی الله عنه حضرت عمر رضی الله عنه ته اوليكل.او په دې باره كښې ئې استفسار اوكړو.حضرت عمر رضی الله عنه اوفرمائيل.«صدق جرير، قد قلت ذالك له، فإن شاء أن يكون قاتل هو وقومه على جُعل، فأعطوه جُعله، وإن يكن إنما قاتل لله، ولدينه، وحسبه، فهو رجل من المسلمين، له مالهم، وعليه ما عليهم»كله چه دا خط حضرت سعد رضی الله عنه ته اورسيدو.نو هغوى حضرت جرير رضی الله عنه راوغوښتلو او د خط د ليكلو نه ئې خبر كړو.حضرت جرير رضی الله عنه اوفرمائيل.«صدق أمير المؤمنين، لاحاجة لى به، بل أنا رجل من المسلمين، لى مالهم وعلىّ ما عليهم»(٤)

وراندې دوى كوفې ته منتقل شو.اوهلته ئې استوګنه اختيار كړله.روستو دوى ,,قرقيسيا,, نومې علاقې ته منتقل شوې وو.ځكه چه كوفه كښې به بعضو خلقو حضرت عثمان رضی الله عنه پسې بدې ردې ونيلې.نودې دهغه خانې نه ,,لا أقيم ببلدة يشتم فيها عثمان،، ونيلو سره قرقيسيا ته منتقل شو.او ترآخرى ژوندپورې هلته مقيم وو تردې چه هم هلته دفن كړې شو.(٥)

---

(١) صحيح البخارى (٥٣٩\١) كتاب المناقب باب ذكر جريربن عبدالله البجلى رضی الله عنه وصحيح مسلم (٢٩٧\٢و ٢٩٨) كتاب الفضائل باب من فضائل جريربن عبدالله رضی الله عنه)_

(٢) صحيح مسلم (٢٩٧\٢) كتاب الفضائل باب من فضائل جريربن عبدالله رضی الله عنه وسنن ابن ماجه ١٥ المقدمة فضل جريربن عبدالله البجلى رضی الله عنه ومسند أحمد (٣٦٢\٤)_

(٣) صحيح البخارى كتاب الجهادباب فضل الخدمة فى الغزو رقم ٢٨٨٨ وصحيح مسلم (٣٠٦\٢) كتاب الفضائل باب من فضائل الأنصار رضی الله عنهم)_

(٤) تهذيب الكمال(٥٣٩\٤و ٥٤٠)_

(٥) تهذيب الكمال(٥٣٥\٤) والمعجم الكبير للطبرانى(٢٩٣\٢و) رقم ٢٢١٧)_

حضرت جرير رضي الله عنه ته الله تعالى د جسماني صحت او حسن وجمال نه كافى حصه وركړې وه.

حضرت عمر رضي الله عنه به فرمانيل.،،جرير يوسف هذه الأمة،،

كله چه اسلام باندې مشرف شو نو دوى د نبى كريم ﷺ په لاسونو باندې بيعت اوكړو.په دې موقعه د نورو امورو سره د ،،النصح لكل مسلم،، معاهده هم اوشوه.(١) ددې نتيجه دا وه.چه تول ژوند ئې ددې لحاظ ساتلو.په دې سلسله كښې ددوى يوه دلچسپه واقعه هم منقول ده.چه يو ځل دوى خپل وكيل د يو څاروى اخستلو دپاره اوليګلو.او پخپله هم ورسره شو.يو اس دده خوښ شو.ددوى وكيل د دې درې سوه درهم اولګول.د اس مالك انكار اوكړو.وكيل اوونيل چه زما آقا سره خبره اوكړه.ده دا سړې حضرت جرير رضي الله عنه له راوستلو.حضرت جرير رضي الله عنه اوفرمانيل. چه ستا اس د د ريو سوو نه د زيات قيمت دې.دغه شان به دوى قيمت زياتولو تردې چه په اووه يا اته سوه روپۍ كښې دوى دا اس واخستلو.(٢)

يو ځلې د حضرت عمر رضي الله عنه په مجلس كښې د يو سړى باد خارج شو.حضرت عمر رضي الله عنه په بدبو محسوسيدو باندې قسم وركړو.اووې فرمانيل.چه داسړې دې پاسى.او اودس دې اوكړى.حضرت جرير رضي الله عنه اوفرمانيل.اې اميرالمؤمنين! آيا دا غوره نه ده.چه مونږ ټول پاسو. او اودس اوكړو.حضرت عمر رضي الله عنه ته تنبيه اوشوه.او اوچت پاسيدو.او وې فرمانيل: ((يرحمك الله،نعم السيد كنت في الجاهلية،ونعم السيد أنت في الإسلام))(٣)

د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه كښې دوى د همدان ګورنر هم پاتې شوې دې. هلته ددوى بينائى (نظر) ختم شوې وو.(٤) دحضرت على او حضرت معاويه رضي الله عنهما په مينځ كښې چه كوم اختلافات پيدا شوى وو.د هغې نه ټوله موده بالكل جدا اوسيدلې وو.(٥)

ددوى نه تقريباً سل حديثونه نقل دى.په دې كښې اته حديثونه متفق عليه دى.په يو حديث كښې امام بخارى رحمه الله او په شپږو حديثونو كښې امام مسلم رحمه الله متفرد دې.(٦)

---

(١) كما في حديث الباب وغيره)-

(٢) المعجم الكبير للطبراني(٢\٣٣٤و ٣٣٥) رقم ٢٣٩٥)_

(٣) تهيب الكمال(٤\٥٣٩) وسير أعلام النبلاء (٢\٥٣٥)-

(٤) تهذيب الكمال(٤\٥٣٩) وسير أعلام النبلاء (٢\٥٤٠)_

(٥) سير أعلام النبلاء (٢\٥٣٦) وتهذيب الأسماء واللغات (١\١٤٧)_

(٦) تهذيب الأسماء واللغات (١\١٤٧) وشرح الكرماني(١\٢١٨) وخلاصة ذكرالخزرجي(ص،١٦)_ هذا وقد قال الذهبي وانفرد البخاري بحديثين .. (السير:٢\٥٣٧) ولعله سبق قلم ثم إن العينى رحمه الله ذكر ههنا نقلاً عن شرح قطب الدين كما نقلنا آنفاً أن لجريرمأة حديث إتفقا منها على ثمانية وانفرد البخاري بحديث،و مسلم بستة ثم حكى عن النووى أن له مائتى حديث ثم حكى عن الكرمانى لجرير عن رسول الله ﷺ مائة حديث ذكر البخارى منها تسعة وبعد ما حكاه قال وهذا غلط صريح فكأنه غلط الكرمانى مع أن كلامه صواب وواضح ولعل التخطئة ترتبط بما حكاه عن النووى أن له مائتى حديث وعزاه إلى شرح النووى له ولا ندرى مدى صحة ما نقله فإنه نوجد لدينا ولكن النووى بنفسه قد ذكر فى تهذيب الأسماء على الصواب كما ذكرنا آنفاً والله أعلم)

په ۵۱ھ یا ۵۴ھ یا ۵۶ھ کښې ددوی وفات اوشو.(۱)، رضی الله تعالی عنه وأرضاه،،_

قوله بَايَعْتُ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ: ما د نبی کریم ﷺ په لاسونو باندې د مونځ د پابندئ، د زکاة اداکولو. او هر مسلمان سره خیرخواهئ باندې بیعت کړې دې.

په دې روایت کښې تاسو ګورئ چه صرف د اقامت صلاة او ایتاء زکاة ذکر دې نه د شهادتینو ذکر شته او نه د روژو او دحج. حالانکه حضرت جریر ﷺ بالکل متاخر الاسلام وو ددې څه وجه ده؟ ددې جواب دا دې چه هم ددې روایت په بل طریق کښې د شهادتینو ذکر هم شته او په دې کښې ،،سمع و طاعت،، هم ذکر کړې شوې دې(۲) نو روژه، او حج وغیره ټول امور به په ،،سمع او طاعت،، کښې داخل وی.(۳)

اصل کښې د نبی کریم ﷺ عادت مبارك دا وو چه په بیعت کښې به ئې عام طور باندې ظاهری ارکان شهادتین، او صلاة او زکاة ذکر کول او بیا به ئې هغه بعضې امور په بیعت کښې ذکر کول د کوم ضرورت به ئې چه په بیعت کونکی کښې محسوسولو لکه چه بعضو سره ئې بیعت اوکړو نو وې فرمائیل ،،خیر خواهی کوه،،(۴) د بعضو سره ئې بیعت کولو کښې اوفرمائیل ،،جهاد کښې مه شا کوه،،(۵) غرض دا چه په چا کښې به ئې کومه خبره محسوسوله هغې باندې د تنبیه کولو دپاره به ئې بیعت اخستلو.

ددې خائې نه حضرات مشائخ، او صوفیهٔ کرام پخپلو بیعتونو کښې هغه خبرې داخلوی د کومو چه د بیعت اخستلو په وخت ضرورت محسوسیږی او کومو جرائمو شیوع کیږی دا حضرات د بیت اخستلو په وخت ددې نه د اجتناب کولو ذکر هم کوی.

دلته هم د حضرت جریر ﷺ نه د ،،نصح،، یعنی د خیرخواهئ عهد اخستې شوې دې دوی ته ددې عهد دومره قدر او لحاظ وو چه کله به ئې څه څیز خرڅولو یا به ئې اخستلو نو فرمائیل به یې: ((اعلم أن ما أخذنا منك أحب إلينا مما أعطيناكه، فاختر))(۶) د دوی داسې قسمه یوه واقعه اوس وړاندې ددوی په حالاتو کښې هم ذکر شوه.

---

(۱) تهذیب الکمال(۱۴۰۰ ۵۴)-

(۲) صحیح البخاری کتاب البیوع باب هل یبیع حاضر لباد بغیر أجر ؟ رقم ۲۱۵۷)-

(۳) فتح الباری(۱۱ا۱۳۸، ۱۳۹)_

(۴) کما فی حدیث الباب)_

(۵) عن جابر ﷺ قال لم نبایع رسول اله ﷺ علی الموت إنما بایعناه علی أن لا نفر سنن النسائی کتاب البیعة باب البیعة علی أن لا نفر رقم ۴۱۶۳)_

(۶) فتح الباری(۱۱ا۱۳۹) وعمدة القاری(۱۱ا۳۲۳)_

۵۸- حَدَّثَنَا أَبُو النُّعْمَانِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ قَالَ سَمِعْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ (١) قُولُ يَوْمَ مَاتَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ قَامَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ وَقَالَ عَلَيْكُمْ بِاتِّقَاءِ اللَّهِ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَالْوَقَارِ وَالسَّكِينَةِ حَتَّى يَأْتِيَكُمْ أَمِيرٌ فَإِنَّمَا يَأْتِيكُمُ الْآنَ ثُمَّ قَالَ اسْتَعْفُوا لِأَمِيرِكُمْ فَإِنَّهُ كَانَ يُحِبُّ الْعَفْوَ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ أُبَايِعُكَ عَلَى الْإِسْلَامِ فَشَرَطَ عَلَيَّ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ فَبَايَعْتُهُ عَلَى هَذَا وَرَبِّ هَذَا الْمَسْجِدِ إِنِّي لَنَاصِحٌ لَكُمْ ثُمَّ اسْتَغْفَرَ وَنَزَلَ [۵۰۱ ، ۱۳۳۶ ، ۲۰۴۹ ، ۲۵۶۵ ، ۲۵۶۶ ، ۶۷۷۸]

رجال الحديث

① ابوالنعمان: دا ابو النعمان محمد بن الفضل السدوسی البصری دي.دې د ..عارم.. لقب سره مشهور دي.(٢)

دوی د ثابت بن یزید الاحول. جریر بن حازم. حماد بن زید. حماد بن سلمه. عبدالله بن المبارک، عبدالعزیز بن محمد دراوردی. عبدالواحد بن زیاد. معتمر بن سلیمان. مهدی بن میمون او ابوعوانه وضاح بن عبدالله رحمهم الله وغیره نه روایت د حدیث کوی.

ددوی نه په روایت کونکو کښې امام بخاری. ابراهیم بن حرب عسکری. امام احمد بن حنبل. حجاج بن الشاعر، عبدالله بن محمد مسندی. عبد بن حمید. ابوزرعه عبیدالله بن عبدالکریم رازی، ابوحاتم رازی. محمد بن المثنی. محمد بن یحي ذهلی او یعقوب بن شیبه سیدوسی. رحمهم الله وغیره په شان کثیرخلائق دي.(٣)

امام محمد بن یحي ذهلی رحمه الله فرمائی.«حدثنا محمد بن الفضل عارم، وكان بعيداً من العرامة، صحيح الكتاب، وكان ثقة»(٤)

امام محمد بن مسلم بن واره رحمه الله فرمائی.،حدثنا عارم بن الفضل الصدوق المامون،»(٥)

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی.«إذا حدثك عارم فاختم عليه، وعارم لا يتأخر عن عفان، وكان سليمان بن حرب يقدم عارماً على نفسه، إذا خالفه عارم في شئ رجع إلى ما يقول عارم، وهو أثبت أصحاب حماد بن زيد بعد عبدالرحمن بن مهدى»(٦)

---

١) قد سبق تخريج أصل الحديث فى فواتح هذا الباب)-
٢) تهذيب الكمال(٢٦\٢٨٧، ٢٨٨)_
٣) د استاذانواوشاګردانود تفصیلی فهرس دپاره اوګورئ تهذیب الکمال(٢٦\٢٨٨و ٢٨٩)_
٤) تهذيب التهذيب(٩\٤٠٥)_
٥) تهذيب الكمال(٢٦\٢٩٠)-
٦) تهذيب الكمال(٢٦\٢٩٠) وسير أعلام النبلاء(١٠\٢٦٦)_

دغه شان چه کله د امام ابوحاتم رحمه الله نه د ابوسلمه او عارم په باره کښې تپوس اوکړې شو نو وې فرمائیل. ،،عارم أحب إلي،،(۱) او هم دوی فرمائی. ،،ثقة،،(۲)
امام يحي بن معين رحمه الله فرمائی. ،،عارم كان ماعلمت رجلاً صدوقاً مسلماً،،(۳)
امام عجلی رحمه الله فرمائی. ،،بصري، ثقة، رجل صالح،،(۴)
امام نسائی رحمه الله فرمائی. ،،كان أحد الثقات قبل أن يختلط،،(۵)
سعید بن عثمان اهوازی رحمه الله فرمائی. «حدثنا عارم ثقة إلا أنه أحد» (۶) [كذا في المطبوع، ولعلها: اختلط] (۷) حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی. ،،حافظ، صدوق، مكثر، (۸) او هم دوی فرمائی. ،،الحافظ الثبت الإمام،،(۹)
په ابو النعمان محمد بن الفضل سدوسی رحمه الله کښې آخری عمر کښې تغير راغلې وو. بیا دا تغير د اختلاط، حد ته رسیدلې وو. اوکه نه؟ په دې کښې مختلف اقوال ملاویږی.
لکه چه ابوحاتم بن حبان رحمه الله فرمائی. «اختلط في آخر عمره، وتغير حتى كان لايدري مايحدث به، فوقع في حديثه المناكير الكثيرة، فيجب التنكب عن حديثه، فيما رواه المتأخرون، فإذا لم يعلم هذا من هذا ترك الكل، ولا يحتج بشيء منها» (۱۰) او هم دوی فرمائی. «اختلط عارم في آخر عمره، وزال عقله، فمن سمع منه قبل الاختلاط فسماعه صحيح، وكتبت عنه قبل الاختلاط سنة أربع عشرة، ولم أسمع منه بعد ما اختلط، فمن سمع منه قبل سنة عشرين ومائتين، فسماعه جيد، وأبوزرعة لقيه سنة اثنتين وعشرين» (۱۱)
او امام ابوداؤد رحمه الله فرمائی. «بلغنا أن عارماً انكر سنة ثلاث عشرة، ثم راجعه عقله، و استحكم به الاختلاط سنة ست عشرة» (۱۲)

---

(۱) المصادر السابقة۔
(۲) تهذيب الكمال(۲۶\۲۹۱) وسير أعلام النبلاء (۱۰\۲۶۷)۔
(۳) تعليقات تهذيب الكمال(۲۶\۲۹۲)۔
(۴) تهذيب التهذيب(۹\۴۰۵)۔
(۵) تعليقات تهذيب الكمال(۲۶\۲۹۲)۔
(۶) تهذيب التهذيب(۹\۴۰۵)-
(۷) تعليقات تهذيب الكمال(۲۶\۲۹۲)۔
(۸) ميزان الإعتدال(۴\۷)۔
(۹) سير أعلام النبلاء(۱۰\۲۶۵)۔
(۱۰) ميزان الإعتدال (۴\۸) وسير أعلام النبلاء (۱۰\۲۶۷و ۲۶۸)۔
(۱۱) تهذيب الكمال(۲۶\۲۹۰)۔
(۱۲) تهذيب الكمال(۲۶\۲۹۱)۔

هم دغه شان امام عجلى رحمه الله فرمائى.،، خولط قبل أن يموت بسنة أو سنتين،،(۱)
او د دوى وفات په ۲۲۳ھ يا ۲۲۴ھ كښې شوې دې.،،كما سيأتى،،
امام عقيلى رحمه الله فرمائى.((اختلط فى آخر عمره، فمن سمع من عارم قبل الاختلاط فهو أحد الثقات المسلمين، وإنما الكلام فيه بعد الاختلاط))(۲)
او د امام بخارى رحمه الله محتاط قول دا دې چه په دوى كښې ..تغير.. راغلې وو.خودا داختلاط حدته نه وو رسيدلې.هم دا د محققينو قول دې لكه امام بخارى رحمه الله فرمائى چه
..كان تغير، وكان من عباد الله الصالحين،،(۳)
حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.،،تغير قبل موته فما حدث،،(۴)
حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائى.،،ثقة ثبت تغير فى آخر عمره،،(۵)
ددې اقوالو خلاصه دا ده.چه بعضې حضرات ددوى په آخر عمر كښې د .. مختلط..كيدو قائل دى.حالانكه نور بعضې حضرات صرف د..تغير..قائل دى. د..اختلاط..قائل نه دى.كه اختلاط وى.او كه تغير وى.په دې دواړو حالتونو كښې چه كوم روايتونه منقول وى.هغه قبلولې نشى.(۶)په دې اعتبار سره كه ددوى روايتونه غير متميز وى.(يعنى بعدالاختلاط او التغير والا روايات. د قبل الاختلاط او التغير والا رواياتو نه جدا نشى) نو قبلول پكار نه دى.حالانكه امام بخارى رحمه الله ددوى روايات قبلوې؟
ددې جواب دا دې.چه په دې كښې هيڅ شك نشته.چه دې په آخر عمر كښې متغير شوې وو.خو دا مونږ نه منو.چه دوى د تغير نه پس څه روايت هم كړې وى. لكه چه حافظ ذهبى رحمه الله تصريح كړې ده.،،تغير قبل موته فما حدث،، (۷)
تركومې پورې چه د ابن حبان رحمه الله ددې دعوې تعلق دې.چه ددوى نه د اختلاط نه پس ډير منكر روايتونه نقل شوى دى.نو دا دعوه د دليل نه بالكل خالى ده.حالانكه امام

---

(۱) تعليقات تهذيب الكمال(۲۶\۲۹۲) نقلاً عن ثقات العجلى)_
(۲) الضعفاء الكبير للعقيلى(۴\۱۲۳) رقم ۱۶۸۰)_
(۳) تعليقات تهذيب الكمال(۲۶\۲۹۲) نقلاً عن تاريخ البخارى الصغير(۲\۲۱۹) وقال البخارى فى تاريخه الكبير(۱\۲۰۸) رقم ۶۵۴) تغير بأخرة)-
(۴) الكاشف للذهبى(۲\۲۱۰) رقم ۵۱۱۴)_
(۵) تقريب التهذيب (۵۰۲) رقم ۶۲۲۶)_
(۶) حافظ ذهبى رحمه الله فرمائى.((والذى ينبغى أن من خلط فى كلامه كتخليط السكران أن لا يحمل عنه البتة وأن من تغير لكثرة النسيان أن لا يؤخذ عنه) وقال الشيخ محمد عوامة فى تعليقاته على الكاشف (۲\۲۱۰) التغير أخف من الأختلاط كما أن النسيان أخف من التغير حسبما يظهر للمتتبع لأقوالهم...)_
(۷) الكشاف (۲\۲۱۰) رقم ۵۱۱۴)_

دارقطني رحمه الله فرمائي: ،،تغير بأخرة، وما ظهر له بعد إختلاطه حديث منكر، وهو ثقة،، (۱)

حافظ ذهبي رحمه الله د دارقطني قول رانقل كړې دې او ليكلي ئې دي: ((فهذا قول حافظ العصر الذي لم يأت بعد النسائي مثله، فأين هذا القول من قول ابن حبان الخساف المتهور في عارم))(۲) او هم دوى فرمائي ((ولم يقدر ابن حبان أن يسوق له حديثاً منكراً، فأين ما زعم؟))(۳)

بيا ابو حاتم ابن حبان رحمه الله ۲۲۰ھ پورې د سماع كونكو روايات معتبر گرځولي دي. حالانكه امام ابوداؤد رحمه الله فرمائي چه په دوى كښې څه تغير په ۲۱۲ھ كښې پيدا شوې وو. خو بيا دوى صحيح شوى وو. روستو په ۲۱۶ھ كښې مكمل اختلاط پيدا شوې وو. گويا په قول د ابن حبان رحمه الله د ۲۲۰ھ او په قول د ابوداؤد د ۲۱۶ھ نه مخكښې مخكښې روايتونه قبلولې شي.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي: ((إنما سمع منه البخاري سنة ثلاث عشرة، قبل إختلاطه بمدة.....))(۴) نو د صحيح بخاري په رواياتو كښې هيڅ قسمه شك نشته. والله اعلم.

ددوى وفات په ۲۲۳ھ يا ۲۲۴ھ كښې شوې دې.(۵)،، رحمه الله تعالى رحمةً واسعةً،،

۲ ابوعوانه: دا ابو عوانه وضاح بن عبدالله يشكرى رحمه الله دې. ددوى مختصره تذكره د بدءالوحى د دريم حديث لاندې تيره شوې ده.(۶)

۳ زياد بن عِلاقه: دا ابومالك زياد بن علاقه (بكسر العين المهملة) بن مالك الثعلبى (بالمثلثة قبل العين المهملة) الكوفى دې. (۷)

دې د حضرت جرير بن عبدالله بجلى. حضرت مغيره بن شعبه. د خپل تره حضرت قطبه بن مالك ثعلبى او د حضرت مرداس اسلمى رضي الله عنهم وغيره نه روايت كوى. د حضرت سعد بن ابى وقاص رضي الله عنه نه روايت كوى. خو دوى ته هغوى سره لقاء حاصل نه دى.(۸) دغه شان وئيلې شي. چه دوى د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه زيارت كړې دې.(۹) اگرچه حافظ ابن حجر رحمه الله دا مستبعد گرځولې دې. (۱۰)

---

(۱) ميزان الإعتدال(ت ۸\۱٤) رقم ۸۰۵۷) وسير أعلام النبلاء(۱۰\۲۶۷)_
(۲) ميزان الإعتدال(۸\۱٤) وسير أعلام النبلاء(۱۰\۲۶۷، ۲۶۸)_
(۳) ميزان الإعتدال(۸\۱٤) وسير أعلام النبلاء(۱۰\۲۶۸)_
(۴) هدى السارى(ص۱ ٤ ٤)-
(۵) تقريب التهذيب(۵۰۲) رقم ۶۲۲۶)_
(۶) كشف البارى(۱\٤۳٤)-
(۷) تهذيب الكمال(۹\٤۹۸) وسير أعلام النبلاء (۵\۲۱۵) وتقريب التهذيب (۲۲۰) رقم ۲۰۹۲)_
(۸) تهذيب الكمال(۹\٤۹۸)_
(۹) تهذيب الكمال(۹\۵۰۰) وسير أعلام النبلاء (۵\۲۱۵)-
(۱۰) تهذيب التهذيب(۳\۳۸۱)_

ددوی نه په روایت کونکو کښې سفیان ثوری، ابوعوانه، شعبه، ابن عیینه، اعمش، سماك بن حرب (وهو من اقرانه) او مسعر بن کدام رحمهم الله وغیره نه علاوه ډیر حضرات دی.[1]

امام یحي بن معین او امام نسائی رحمهما الله دوی لره ،،ثقه،، ګرځولې دې.[2]

امام ابوحاتم رحمه الله فرمائی ،،صدوق الحدیث،،[3]

ابن حبان رحمه الله دوی لره په کتاب الثقات کښې ذکر کړې دې.[4]

حافظ ذهبی رحمه الله فرمائی ،،من الثقات المعمرین،،[5]

امام عجلی رحمه الله فرمائی ،،کان ثقة، وهو فی عداد الشیوخ،،[6]

امام یعقوب بن سفیان رحمه الله فرمائی ،،کوفی ثقة،،[7]

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی ،،ثقة، رمی بالنصب،،[8]

د زیاد بن علاقه رحمه الله په باره کښې د جرح او تعدیل د عالمانو توثیقات ستاسو په وړاندې دی.حالانکه ازدی(سامحه الله) ددوی په باره کښې لیکلی دی.((سیئ المذهب، کان منحرفاً عن أهل بیت النبوة ﷺ))[9] غالباً هم ددې قول په وجه حافظ رحمه الله ددوی توثیق سره سره ،،رمی بالنصب،، هم لیکلې دې.خو اول ددوی د دومره زیاتو توثیقاتو په مقابله کښې دا جرح مقبول نه ده.دویمه داچه ازدی پخپله متکلم فیه دې.[10] نو ددوی ددې جرح هیڅ قیمت نشته.[11]

حافظ ذهبی رحمه الله ددوی د وفات سن۱۲۵ھ یا ددې نه څه موده روستو لیکلې دې.[12]

حالانکه حافظ ابن حجر رحمه الله د صریفینی رحمه الله په حواله ۱۳۵ھ نقل کړې دې.[13]والله اعلم.

---

[1]) د استاذانواوشاګردانود فهرس دپاره اوګورئ تهذیب الکمال(۹\۴۹۸و ۴۹۹)_

[2]) تهذیب الکمال(۹\۵۰۰)_

[3]) المصدرالسابق)-

[4]) الثقات لابن حبان (٤\۲۵۸)_

[5]) سیر أعلام النبلاء(۵\۲۱۵)_

[6]) تهذیب التهذیب(۳\۳۸۱)_

[7]) المصدرالسابق)-

[8]) تقریب التهذیب(ص.۲۲۰) رقم ۲۰۹۲)_

[9]) تهذیب التهذیب(۳\۳۸۱)_

[10]) انظرمیزان الإعتدال للذهبی (۳\۵۳۲)رقم(۷٤۱۶) والأنساب للسمعانی (۱۱\۱۲۰و ۱۲۱)_

[11]) قال فی تعلیقات تهذیب الکمال(۹\۵۰۰) ولم یتابعه علیه أحد)_

[12]) الکاشف (۱\٤۱۲) رقم (۱۷۰۱) وسیرأعلام النبلاء (۵\۲۱۵)_

[13]) تهذیب الکمال(۳\۳۸۱) وتقریب التهذیب(۲۲۰) رقم ۲۰۹۲)_

④ جرير بن عبدالله: دحضرت جرير بن عبدالله بجلى رضي الله عنه تذكره اوس د تيرشوى حديث لاندې مونږ كړې ده.

قوله سَمِعْتُ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ يَوْمَ مَاتَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ قَامَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ: زياد بن علاقه رحمه الله فرمائى.چه په كومه ورځ د حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه وفات اوشو.په دغه ورځ ما د حضرت جرير بن عبدالله رضي الله عنه نه واوريدل.چه دوى اودريدل.اول ئې د الله تعالى حمد وثنا بيان كړله.

دلته د،،سمعت،،مفعول د الله تعالى حمد وثنا ده.ګويا تقدير د عبارت داسې دې.،،سمعت جريراحمدالله واثنى عليه،، باقي عبارت ددې موقعې د كيفيت تفصيل او تشريح ده.(١)

حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه د حضرت معاويه رضي الله عنه د طرفه د كوفې ګورنر وو .ددوى وفات ۵۰ه كښې اوشو.دوى عارضى طور باندې خپل خوئې عروه نائب جوړ كړې وو.يو قول دا دې چه حضرت جرير بن عبدالله رضي الله عنه ئې نائب جوړ كړې وو. په دې وجه دوى مذكوره خطبه وركړې وه.(٢)

قوله وَقَالَ عَلَيْكُمْ بِاتِّقَاءِ اللَّهِ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَالْوَقَارِ وَالسَّكِينَةِ حَتَّى يَأْتِيَكُمْ أَمِيرٌ فَإِنَّمَا يَأْتِيكُمُ الْآنَ: اووې فرمائيل.تاسود الله تعالى وحده لاشريك نه يريږئ.وقاراو سكون اختيار كړئ.تردې چه څوك امير تاسو ته راشى.ځكه چه دا (امير) اوس تاسو ته راتلو والا دې.

چونكه د امراء د وفات نه پس عام طور باندې انتشار پيدا كيږى.او خاص طور باندې د كوفې د خلقو مزاج وو.چه د امراء او خلفاء په مقابله كښې انتشار او اختلاف پيدا كړى.(٣)په دې وجه حضرت جرير رضي الله عنه د وقاراوسكون تلقين اوفرمائيلو .چه زمونږ د امير حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه وفات اوشو.ددوى په وفات باندې هيڅ بدامنى او شور شغب يا انتشار مه كوئ.تردې چه دويم امير راشى.او هغه اوس راتلل غواړى.

قوله فَإِنَّمَا يَأْتِيكُمُ الْآنَ:بعضو حضراتو خيال ښكاره كړې دې.چه ددې نه مراد پخپله د حضرت جرير رضي الله عنه ذات دې.(١)ځكه چه دوى لره حضرت مغيره رضي الله عنه خپل نائب جوړ كړې وو.،،كما سبق ذكره،، خو په ظاهره دا خيال غلط دې.ځكه چه حضرت جرير رضي الله عنه ته د دربارِ خلافت د منظورئ نه بغير پخپله د امير جوړيدو اختيار نه وو.نو ددې صحيح مطلب

١) فتح البارى (٣٩١١) وعمدة القارى(٣٢٥١١)-
٢) المصادر السابقة)-
٣) فتح البارى(١٣٩١١)_
١) عمدة القارى (٣٢٥١١)_

هم دا دي.چه د مودي نزدي کيدو په خاطر دوی خلقو ته تسلی ورکړه.او وي فرمائيل.چه اوس نزدې امير راتلو والا دې نو انتشار او هنگامه مه جوړوئ.(١) بيا چه کله حضرت معاويه ﷺ ته خبر اورسيدو.نو دوی خپل د بصرې گورنر زياد . د کوفې گورنري سنبالولو دپاره اوليګلو. (٢)

قوله ثُمَّ قَالَ اسْتَعْفُوا لِأَمِيرِكُمْ فَإِنَّهُ كَانَ يُحِبُّ الْعَفْوَ:بيا ئې اوفرمائيل.د خپل (مرحوم) امير دپاره د الله تعالى نه مغفرت غواړئ. خکه چه دوی به هم معاف کول خوښول.

چونکه قاعده ده چه ،،الجزاء بمثل العمل،، نو هرکله چه دهغه عمل د عفو کولو وو.نو د هغې بدله ورکړئ.او د الله تعالى نه د عفو درخواست اوکړئ.

قوله ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ أُبَايِعُكَ عَلَى الْإِسْلَامِ فَشَرَطَ عَلَيَّ وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ فَبَايَعْتُهُ عَلَى هَذَا:بيا ئې اوفرمائيل.اوس ددې حمد وصلاة نه پس واورئ! زه د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم.او ما عرض اوکړو.چه زه په اسلام باندې ستاسو بيعت کوم.نو دوی زمانه په اسلام باندې د قائم پاتې کيدو. او هر مسلمان سره د خيرخواهئ شرط واخستلو.ما په دې باندې بيعت اوکړو.

مطلب دا دې.چه چونکه نبی کريم ﷺ ما باندې د اسلام راوړلو په وخت د ،،نصح لکل مسلم،، شرط لګولې وو.ددې شرط پوره کولو دپاره زه ستاسو په وړاندې منبر باندې ولاړ يم.هم ددې جزېي لاندې تاسو ته وايم.چه تقوى لازم اونيسئ.او سکون. وقار او آرام سره اوسيږئ.چه هم په دې کښې خير او بهتری ده.

قوله وَرَبِّ هَذَا الْمَسْجِدِ إِنِّي لَنَاصِحٌ لَكُمْ:ددې جمات د رب قسم. زه ستاسو خيرخواه يم. دا جمله دلالت کوی.چه دا خطبه په جمات کښې ورکولې شوه.(٣) دا هم ممکن ده.چه د ،،المسجد،، نه مراد بيت الله وی.او دوی بيت الله طرف ته اشاره کړې وی.او قسم ئې خوړلې وی.ددې تائيد د طبرانی روايت سره کيږی.د هغې الفاظ دا دی.،،ورب الكعبة،،(٤) په قسم خوړولو سره ددوی مقصود دا وو.چه د مقسم به شرف چونکه مسلم دې.په دې وجه به ددوی قول زيات د قبليدو قابل وی.خلق به زر په خبره پوهه شی.او دا به قبوله کړی.(٥)

قوله ثُمَّ اسْتَغْفَرَ وَنَزَلَ:بيا ئې استغفار وئيلې.او لاندې راکوز شو.

---

(١) عمدة (١١\٣٢٥، ٣٢٦) وفتح البارى (١\١٣٩)_
(٢) المصادر السابقة)-
(٣) المصادر السابقة)-
(٤) المعجم الكبير للطبرانى (٢\٣٤٩و ٣٥٠) رقم ٢٤٦٥و ٢٤٦٦)_
(٥) فتح البارى(١\١٤٠) وعمدة القارى(١\٣٢٦)_

ددې جملې نه معلومه شوه چه دې په منبر یا ددې په شان یو اوچت ځائې باندې ولاړ وو.او خطبه ئې ورکوله.یا د ..نزل..نه مراد..قعد.. دې.ځکه چه شروع کښې ..قام فحمد الله ..... راغلې دې.د هغې په مقابله کښې دلته ..نزل.. د ..قعد..په معنی کښې اخستل مناسب دی.(١)

د کتاب الایمان خاتمه او براعت اختتام مونږ په مقدمة الکتاب کښې وئیلی دی. چه امام بخاری رحمه الله د هر..کتاب . په آخر کښې خاتمه باندې دلالت کونکې څه لفظ راوړی.چه ددې نه د کتاب اختتام طرف ته اشاره کیږی.(٢)دلته هم،استغفر ونزل،، هم په دې براعت او اختتام باندې دلالت کوی.(٣) ځکه چه د نبی کریم ﷺ معمول دا وو چه په اختتام باندې به ئې استغفار فرمائیل.لکه چه کله به ئې د مونځ سلام اړولو.نو درې ځله به ئې ،،استغفرالله،، فرمائیل.(٤)د مونځ په آخر کښې د سلام نه وړاندې ئې حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ته تلقین کړې وو.چه«اللهم إنی ظلمت نفسی ظلماً کثیراً ولا یغفر الذنوب إلا أنت......»وایه.(٥)

په قرآن کریم کښې د حج د لوئې جزء د عرفات د وقوف نه په واپسئ باندې ارشاد دې ﴿ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللهَ﴾ (٦) نبی کریم ﷺ چه به کله د بیت الخلاء نه راوتلو نو ,,غفرانك،، به ئې فرمائیل.(٧)دغه شان د اودس نه په فراغت باندې به ئې «اللهم اجعلنی من التوابین واجعلنی من المتطهرین» وئیل.(٨). په دې ټولو نصوصو کښې د استغفار او توبې ورد په آخر کښې شوې دې.معلومه شوه.چه استغفار د خاتمې دلیل دې.

---

(١) فتح الباری(١١\١٤٠) وعمدة القاری (١١\٣٢٥)_

(٢) کشف الباری(١\١٦٧)_

(٣) فتح الباری(١١\١٤٠)_

(٤) صحیح مسلم (١\٢١٨) کتاب المساجد باب إستحباب الذکر بعد الصلاة وبیان صفته وسنن نسائی (١\٩٦) کتاب السهو باب الإستغفار بعد التسلیم وسنن أبی داود کتاب الصلاة باب ما یقول الرجل إذا سلم رقم (١٥١٣) وجامع الترمذی کتاب الصلاة باب ما یقول إذا سلم من الصلاة رقم ٣٠٠) وسنن ابن ماجه کتاب إقامة الصلاة والسنة فیها باب ما یقال بعدالتسلیم رقم ٩٢٨)_

(٥) انظرالصحیح للبخاری (١\١١٥) کتاب الأذان باب الدعاء قبل السلام والصحیح لمسلم (٢\٣٤٧) کتاب الذکر والدعاء باب الدعوات والتعوذ)_

(٦) البقرة:١٩٩)_

(٧) انظرالسنن لأبی داود کتاب الطهارة باب ما یقول إذا خرج من الخلاء رقم ٣٠ وسنن الترمذی کتاب الطهارة باب ما یقول إذا خرج من الخلاء رقم ٧ وسنن ابن ماجه فی کتاب الطهارة باب ما یقول إذا خرج من الخلاء رقم ٣٠٠)_

(٨) انظرالجامع للترمذی أبواب الطهارة باب ما یقال بعد الوضوء رقم ٥٥)_

حضرت شيخ الحديث مولانا زكريا صاحب قدس سره فرمائى.چه امام بخارى رحمه الله په دې سره د ,,كتاب،، اختتام طرف ته نه. بلكه د انسان د ژوند اختتام طرف ته اشاره كوى.(١) ددې نه علاوه ،،يوم مات المغيرة بن شعبة،، اختتام باندې تصريحاً دلالت كوى.ددې نه د حافظ رحمه الله مدعا هم صراحت سره ثابتيږى.او د حضرت شيخ الحديث رحمه الله مدعا هم. ،،والله أعلم وعلمه أتم وأحكم،،_

وهذا آخر ما أردنا إيراده من شرح كتاب الإيمان، من الجامع الصحيح للإمام البخارى رحمه الله وبه تم المجلد الثانى، ويليه، بإذن الله تعالى، المجلد الثالث، وأوّله ،، كتاب العلم،،

والحمدلله الذى بنعمته تتم الصالحات، والصلاة والسلام الأتمان الأكملان على أفضل الكائنات، وعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان ما دامت الأرضون والسماوات

٥٥٥

دالله په فضل او كرم سره نن د خيالى په ورځ ١١جمادى الثانى ١٤٢٧هـ موافق ٧\٧\٢٠٠٦ د كشف البارى دويم جلد ترجمه .تصحيح او كپموزنګ وغيره مراحل تكميل ته اورسيدل.الله دې د نورو جلدونو د ترجمې پوره كولو توفيق هم راكړى.

احقر مترجم شاه فيصل غفرله

(١) تقرير بخارى شريف (١٥٩\١)_

مآخذ و مراجع

بسم الله الرحمن الرحيم

١) القرآن الكريم: كلام رب العالمين.

٢) آثار عزيز حضرت مولانا عزيز محمد صاحب رحمه الله المتوفى ١٣٩٠ه مطابق ١٩٧٠ء ادارة تاليفات أشرفيه ملتان

٣) الأبواب والتراجم: حضرت مولانا محمد ادريس كاندهلوى صاحب رحمه الله (متوفى ١٣٩٤ه) مكتبه جميل لاهور

٤) الابواب والتراجم لصحيح البخارى: شيخ الحديث مولانا محمد زكريا صاحب (متوفى ١٤٠٢ه مطابق ١٩٨٢ء) ايچ ايم سعيد كمپنى پاكستان چوك كراچى.

٥) اتحاف السادة المتقين بشرح أسرار احياء علوم الدين: علامه سيد محمد بن محمد الحسينى الزبيدى المشهور بمرتضى رحمه الله (متوفى ١٢٠٥ه) دار احياء التراث العربى

٦) الاتقان فى علوم القرآن: حافظ جلال الدين عبد الرحمن سيوطى رحمه الله (متوفى ٩١١ه) شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابى الحلبى مصر، طبع رابع (١٣٩٨ه مطابق ١٩٧٨ء)

٧) ✪ (١) الاتقان فى علوم القرآن: حافظ جلال الدين عبد الرحمن سيوطى رحمه الله (متوفى ٩١١ه) سهيل اكيدمى لاهور

٨) الإحسان بترتيب صحيح ابن حبان امام ابوحاتم محمد بن حبان بُستى رحمه الله متوفى ٣٥٤ه موسسة الرسالة بيروت.

٩) أحكام القرآن — امام ابوبكر محمد بن على رازى جصاص رحمه الله متوفى ٣٧٠ دار الكتب العربى بيروت،

١٠) إحياء علوم الدين مع شرح إتحاف السادة المتقين: امام محمد بن محمد الغزالى رحمه الله (متوفى ٥٠٥ه) دار احياء التراث العربى، بيروت،

١١) إرشاد السارى شرح صحيح البخارى: ابوالعباس شهاب الدين أحمد بن محمد القسطلانى رحمه الله (متوفى ٩٢٣ه) المطبعة الكبرى الأميرية. مصر طبع سادس ١٣٠٤ه

١٢) أرواح ثلاثه: حكيم الأمت مجدد الملت حضرت مولانا أشرف على تهانوى رحمه الله (١٣٦٢ه) دار الإشاعت كراچى

١٣) ازالة الريب عن علم الغيب حضرت مولانا اشرف على تهانوى رحمه الله متوفى ١٣٦٢ه دار الاشاعت كراچى

١٤) أساس البلاغة: جار الله ابوالقاسم محمود بن عمر الزمخشرى متوفى ٥٣٨ه). دار المعرفة للطباعة والنشر بيروت ١٣٩٩ه مطابق ١٩٧٩ء،

١٥) الإستيعاب فى اسماء الأصحاب بهامش الإصابة: ابوعمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر رحمه الله

[1]) كوم كتاب ته چه ✪ نښه مخامخ راشى ددي مطلب دا دي چه دا كتاب په بل نوم باندي په دي مصادرو كښي تير شوي دي.

(متوفی ۳۶۳ھ) دار الفکر للطباعة والنشر والتوزیع، بیروت
۱۶) الإصابة فی تمیز الصحابة: شهاب الدین ابوالفضل أحمد بن علی القسطلانی المصری المعروف بابن حجر رحمه الله (متوفی ۸۵۲ھ) دار الفکر، بیروت
۱۷) أصول البزدوی: فخر الإسلام أبوالحسن علی بن محمد البزدوی (متوفی ۴۸۲ھ) الصدف پبلشرز کراچی
۱۸) الإعتبار فی الناسخ والمنسوخ من الآثار: حافظ ابوبکر محمد بن موسی بن عثمان حازمی رحمه الله متوفی ۵۸۴ جامعة الدراسات کراچی۔
۱۹) الأعلام: خیر الدین محمود بن محمد الزرکلی رحمه الله (متوفی ۱۳۹۶ھ مطابق ۱۹۷۶ء) دار العلم للملایین
۲۰) أعلام الحدیث: إمام أبوسلیمان احمد بن محمد الخطابی رحمه الله (متوفی ۳۸۸ھ) مرکز إحیاء التراث الإسلامی جامعه أم القری مکة المکرمة،
۲۱) إعلاء السنن علامه ظفر احمد عثمانی رحمه الله متوفی ۱۳۹۴ھ ادارة القرآن کراچی
۲۲) الإکمال فی رفع الإرتیاب عن المؤتلف والمختلف فی الأسماء والکنی والألقاب — الأمیر الحافظ أبونصر علی بن هبة الله المعروف بابن ماکولا رحمه الله متوفی (۴۷۵ھ) محمد امین دمج بیروت۔
۲۳) إکمال إکمال المعلم شرح صحیح مسلم أبوعبدالله محمد بن خلفة الوشتانی الأبی المالکی رحمه الله المتوفی ۸۲۷ أو ۸۲۸ دار الکتب العلمیة بیروت۔
۲۴) إمداد الباری: حضرت مولانا عبدالجبار أعظمی رحمه الله (متوفی) مکتبه حرم مراداباد
۲۵) (أنباء المصطفی — مولوی احمد رضا خان صاحب بریلوی متوفی ۱۳۴۰ھ
۲۶) الإنتصاف بهامش الکشاف — علامه احمد بن المنیر الأسکندری رحمه الله متوفی ۶۸۳ھ دار الکتب العربی بیروت
۲۷) الأنساب أبوسعد عبدالکریم بن محمد بن منصور السمعانی رحمه الله المتوفی ۵۶۲ھ دار الجنان بیروت الطبعة الأولی ۱۴۰۸ھ ۱۹۸۸م،
۲۸) انوار آفتاب صداقت — قاضی فضل احمد لدهیانوی
۲۹) أنوار الباری: مولانا سید أحمد رضا بجنوری مد ظلهم. مدینه پریس بجنور
۳۰) أنوار التنزیل وأسرار التاویل: المعروف بتفسیر البیضاوی مع شیخ زادة ناصر الدین أبوسعید عبدالله بن عمر البیضاوی الشافی رحمه الله (متوفی ۶۹۲ھ) مکتبه یوسفی دیوبند/ مکتبه اسلامیه ترکیا۔
۳۱) أوجز المسالك إلی مؤطأ مالك: شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمه الله (متوفی ۱۴۰۲ھ) ادارة تالیفات اشرفیه ملتان،
۳۲) الأمم لإیقاظ الهمم — برهان الدین ابراهیم بن حسن الکورانی رحمه الله متوفی ۱۱۰۲ھ دائرة المعارف النظامیة حیدر آباد دکن ۱۳۲۸ھ

۳۳) إيضاح البخارى: حضرت مولانا سيد فخر الدين محمد صاحب رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۹۲ ھ) مکتبہ مجلس قاسم المعارف دیوبند

۳۴) البحر الرائق علامة زين العابدين بن ابراهيم بن نجيم رحمہ اللہ المتوفى ۹۲۶ھ أو المتوفى يا المتوفى ۹۷۰ھ مکتبہ رشیدیہ کوئٹہ

۳۵) بدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع ملك العلماء علاء الدين ابوبكر بن مسعود الكاسانى رحمہ اللہ المتوفى ۵۸۷ھ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی.

۳۶) البداية والنهاية: حافظ عماد الدين أبوالفداء إسماعيل بن عمر المعروف بابن كثير رحمہ اللہ (متوفى ۷۷۴ھ) مكتبة المعارف. بيروت. طبع ثانى ۱۹۷۷ء

۳۷) البدر السارى حاشيه فيض البارى: حضرت مولانا بدر عالم میرٹھی رحمہ اللہ (۱۳۸۵ھ) ربانی بکڈپو دھلی ۱۹۸۰ء

۳۸) بذل المجهود فى حل أبى داود: حضرت العلامه خليل أحمد سهارنپورى رحمہ اللہ (متوفى ۱۳۴۶ ھ) مطبع ندوة العلماء لكنهو. ۱۳۹۳ھ مطابق ۱۹۷۳م

۳۹) بيان القرآن: حكيم الأمت حضرت مولانا أشرف على صاحب تهانوى نور الله مرقده (متوفى ۱۳۶۲ھ) شیخ غلام علی اینڈ سنز لاهور،

۴۰) تاج العروس من جواهر القاموس: أبو الفيض سيد محمد بن محمد المعروف بالمرتضى الزبيدى رحمہ اللہ (۱۲۰۵ھ). دار مكتبة الحياة بيروت لبنان،

۴۱) تاريخ الإسلام — حافظ ابو عبدالله شمس الدين محمد بن احمد بن عثمان ذهبى رحمہ اللہ متوفى ۷۴۸ھ مؤسسة دار الكتاب العربى بيروت.

۴۲) تاريخ بغداد أو مدينة السلام: حافظ أحمد بن على المعروف بالخطيب البغدادى رحمہ اللہ (متوفى ۴۶۳ ھ). دار الكتب العربى بيروت لبنان،

۴۳) التاريخ الصغير للأمير المومنين فى الحديث محمد بن اسماعيل البخارى رحمہ اللہ المتوفى ۲۵۶ھ المكتبة الأثرية شيخ پورہ

۴۴) التاريخ الكبير: أمير المؤمنين فى الحديث محمد بن إسماعيل البخارى رحمہ اللہ (متوفى ۲۵۶ھ). دار الكتب العلمية بيروت،

۴۵) تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف أبو الحجاج جمال الدين يوسف بن عبد الرحمن المزى رحمہ اللہ (متوفى ۷۴۲ھ) المكتب الإسلامى بيروت طبع دويم ۱۴۰۳ھ مطابق ۱۹۸۳

۴۶) تدريب الراوى شرح تقريب النواوى: حافظ جلال الدين عبد الرحمن سيوطى رحمہ اللہ (متوفى ۹۱۱ھ) المكتبة العلمية مدينه منورة،

٤٧) تذکرۂ حضرت مولانا فضل الرحمن گنج مرادآبادی رحمہ اللہ حضرت مولانا سید أبوالحسن علی ندوی رحمہ اللہ .مجلس نشریات اسلام کراچی،
٤٨) تذکرۃ الحفاظ: حافظ أبوعبداللہ شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذھبی رحمہ اللہ (متوفی ٧٤٨ھ).دار المعارف العثمانیہ الھند،
٤٩) تعجیل المنفعة بزوائد رجال الأئمة الأربعة۔ حافظ احمد بن علی المعروف بابن حجر رحمہ اللہ متوفی ٨٥٢ھ دار البشارة الإسلامیة بیروت طبع اول ١٤١٦ھ مطابق ١٩٩٦
٥٠) تعریف أھل التقدیس بمراتب الموصوفین بالتدلیس: حافظ احمد بن علی المعروف بابن حجر رحمہ اللہ متوفی ٨٥٢ھ دار الکتب العلمیة بیروت.
٥١) تعلیقات علی تھذیب الکمال، للدکتور بشار عواد معروف حفظہ اللہ تعالی مؤسسة الرسالة الطبعة الأولی ١٤١٣ھ،
٥٢) تعلیقات علی الکاشف للذھبی شیخ محمد عوامة شیخ أحمد محمد نمر الخطیب حفظھما اللہ مؤسسة دار القبلة موسسة علوم القرآن الطبعة الأولی ١٤١٣ھ، ١٩٩٢م،
٥٣) تعلیقات علی لامع الدراری شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا رحمہ اللہ المتوفی ١٤٠٢ھ الموافق ١٩٨٢م، مکتبة إمدادیة مکة المکرمة۔
٥٤) التعلیق الصبیح: حضرت مولانا محمد ادریس صاحب کاندھلوی رحمہ اللہ متوفی ١٣٩٤ھ مکتبۂ عثمانیہ لاھور
٥٥) التعلیق الممجد: علامہ عبدالحی اللکھنوی رحمہ اللہ متوفی (١٣٠٤ھ) نور محمد اصح المطابع کراچی۔
٥٦) تعلیق التعلیق: حافظ أحمد بن علی المعروف بابن حجر العسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ٨٥٢ھ) المکتب الإسلامی ودار عمار،
٥٧) تفسیر البغوی: (معالم التنزیل) امام محی السنة أبومحمد الحسین بن مسعود الفراء البغوی الشافعی رحمہ اللہ متوفی ٥١٦ھ ادارۂ تالیفات اشرفیہ.
٥٨) ✪ تفسیر البیضاوی: (اوکوری أنوار التنزیل)
٥٩) تفسیر الجلالین: جلال الدین محمد بن احمد المحلی رحمہ اللہ متوفی ٨٦٤ھ و جلال الدین سیوطی رحمہ اللہ متوفی ٩١١ھ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی.
٦٠) تفسیر حقانی: حضرت مولانا عبدالحق حقانی رحمہ اللہ متوفی ١٣٣٥ھ میر محمد کراچی۔
٦١) تفسیر الطبری (جامع البیان) امام محمد بن جریر الطبری رحمہ اللہ المتوفی ٣١٠ھ دار المعرفة بیروت۔
٦٢) تفسیر عثمانی: شیخ الإسلام شبیر أحمد عثمانی رحمہ اللہ (متوفی ١٣٦٩ھ) مجمع الملک فھد سعودی عرب،

٦۳) تفسیر عزیزی: سراج الهند حضرت مولانا شاہ عبد العزیز صاحب دهلوی رحمہ اللہ متوفی ۱۲۳۹ھ
٦٤) تفسیر القرآن العظیم: حافظ أبو الفداء عماد الدین إسماعیل بن عمر ابن کثیر دمشقی رحمہ اللہ (متوفی ۷۷٤ھ) دار الفکر بیروت،
٦۵) الجامع لأحکام القرآن: (تفسیر قرطبی) إمام أبو عبد اللہ محمد بن أحمد الأنصاری القرطبی رحمہ اللہ (متوفی ٦۷۱ھ) دار الفکر بیروت،
٦٦) التفسیر الکبیر (مفاتیح الغیب): إمام أبو عبد اللہ فخر الدین محمد بن عمر الحسین رازی رحمہ اللہ (متوفی ٦۰٦ھ). مکتب الاعلام الإسلامی ایران،
٦۷) التفہیمات الإلہیة: حضرت مولانا شاہ ولی اللہ احمد بن عبد الرحیم رحمہ اللہ متوفی ۱۱۷٦ھ
٦۸) تقریب التہذیب: حافظ ابن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ۸۵۲ھ) دار الرشید حلب ۱۳۰٦ھ،
٦۹) التقریب والتیسیر لمعرفة سنن البشیر النذیر: ابو زکریا یحیی بن شرف الدین النووی رحمہ اللہ (متوفی ٦۷٦ھ) المکتبة العلمیة مدینه منورة،
۷۰) تقریر بخاری شریف اردو: شیخ الحدیث مولانا محمد زکریا صاحب متوفی رحمہ اللہ ۱۴۰۲ھ مطابق ۱۹۸۲ء، مکتبة الشیخ کراچی،
۷۱) تکملة عقائد الإسلام: حضرت مولانا محمد ادریس کاندھلوی رحمہ اللہ متوفی ۱۳۹۴ھ المطبع الإسلامی السعودی.
۷۲) تکمله فتح الملهم: شیخ الإسلام محمد تقی عثمانی مد ظلهم. مکتبه دار العلوم کراچی،
۷۳) التلخیص الحبیر فی تخریج أحادیث الرافعی الکبیر: حافظ ابن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ۸۵۲ھ). دار نشر الکتب الإسلامیه لاهور،
۷٤) تلخیص المستدرک (مع المستدرک): حافظ شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذهبی رحمہ اللہ (متوفی ۷٤۸ھ). دار الفکر بیروت،
۷۵) التمهید فی أصول الفقه: علامه محفوظ بن احمد بن الحسن ابو الخطاب الکلوذانی الحنبلی رحمہ اللہ متوفی ۵۱۰ھ جامعة أم القری مکة مکرمة.
۷٦) التمهید لما فی الموطأ من المعانی والأسانید: حافظ أبو عمر یوسف بن عبد اللہ بن محمد بن عبد البر المالکی رحمہ اللہ (متوفی ٤٦۳ھ). المکتبة التجاریة مکة المکرمه،
۷۷) تهذیب الأسماء واللغات: إمام ابو زکریا یحیی بن شرف الدین النووی رحمہ اللہ (متوفی ٦۷٦ھ) إدارة الطباعة المنیریه
۷۸) تهذیب التهذیب: حافظ ابن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی ۸۵۲ھ) دائرة المعارف النظامیه حیدر آباد دکن ۱۳۲۵ھ،

۷۹) تهذیب سنن أبی داود — حافظ شمس الدین ابوعبدالله محمد بن ابی بکر المعروف بابن القیم رحمہ اللہ متوفی ۷۵۱ھگ مطبعة أنصار السنة المحمدیة ۱۳٦۷ھگ ۱۹۳۸م

۸۰) تهذیب الکمال: حافظ جمال الدین أبوالحجاج یوسف بن عبدالرحمن مزی رحمہ اللہ (متوفی ۷٤۲ھ)۔ مؤسسة الرساله طبع اول ۱٤۱۳،

۸۱) توضیح المشتبه: شمس الدین محمد بن عبدالله المعروف بابن ناصر الدین دمشقی رحمہ اللہ متوفی ۸٤۲ھ مؤسسة الرسالة.

۸۲) تیسیر القاری شرح صحیح البخاری: مولانا نور الحق بن شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۰۷۳ھ) مطبع علوی لکھنو،

۸۳) الثقات لابن حبان: حافظ أبوحاتم محمد بن حبان بستی رحمہ اللہ (متوفی ۳۵٤ھ) دار المعارف العثمانیه حیدرآباد ۱۳۹۳ھ

۸٤) جاء الحق —

۸۵) جامع الأصول من حدیث الرسول: علامه مجدالدین أبوالسعادات المبارک بن محمد بن الأثیر الجزری رحمہ اللہ (متوفی ٦۰٦ھ) دار الفکر بیروت،

۸٦) ✿ جامع البیان (او گکورئ تفسیر الطبری)

۸۷) جامع ترمذی (سنن ترمذی): إمام أبوعیسی محمد بن عیسی بن سورة ترمذی رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۹ھ) ایچ ایم سعید کمپنی کراچی، \ دار إحیاء التراث العربی.

۸۸) ✿ الجامع لأحکام القرآن (تفسیر القرطبی) او گورئ تفسیر القرطبی

۸۹) الجوهر النقی: علامه علاء الدین بن علی بن عثمان الماردینی الشهیر بابن الترکمانی رحمہ اللہ متوفی ۷٤۵ھ ایچ ایم سعید \ دار إحیاء التراث العربی.

۹۰) ✿ حاشیة تهذیب الکمال (او گوری تعلیقات تهذیب الکمال)

۹۱) حاشیة سبط العجمی علی الکاشف للإمام برهن الدین أبو الوفاء إبراهیم بن محمد سبط ابن العجمی الحلبی رحمہ اللہ المتوفی ۸۴۱ھ، شرکة دار القبلة \ موسسة علوم القرآن)

۹۲) حاشیة السندی علی البخاری (مطبوعه مع صحیح بخاری): إمام أبوالحسن نور الدین محمد بن عبدالهادی سندهی رحمہ اللہ (متوفی ۱۱۳۸ھ). قدیمی کتب خانه کراچی،

۹۳) حاشیة السندی علی النسائی: إمام أبوالحسن نور الدین محمد بن عبد الهادی سندهی رحمہ اللہ (متوفی ۱۱۳۸ھ). قدیمی کتب خانه کراچی،

۹۴) حاشية شيخ زادة على البيضاوى: محى الدين محمد بن مصطفى القوجوى رحمه الله متوفى ۹۵۱ھ مکتبہ اسلامیہ ترکیا \ مکتبہ یوسفی دیوبند
۹۵) حاشية لامع الدرارى (اوگورئ تعليقات لامع الدرارى)
۹۶) حاشية المطول: علامه حسن بن محمد شاه بن محمد شمس الدين بن حمزة الفناوى المعروف بملا حسن چلپی رحمه الله متوفى ۸۸۶ھ منشورات الرضى، قم ایران۔
۹۷) حلية الأولياء: حافظ أبونعيم أحمد بن عبدالله بن أحمد أصبهانى شافعى (متوفى ۴۳۰ھ) دار الفكر بيروت،
۹۸) خالص الإعتقاد: مولى احمد رضا بریلوی متوفى ۱۳۴۰ھ
۹۹) خلاصة الخزرجى (خلاصة تذهيب تهذيب الكمال) للعلامة صفى الدين الخزرجى رحمه الله المتوفى د ۹۲۳ھ، نه پس مكتب المطبوعات الإسلامية بحلب)
۱۰۰) خيرالأصول (مشمولة در آثار خير) حضرت مولانا خيرمحمد صاحب جالندهرى رحمه الله متوفى (۱۳۹۰ھ) دارة تاليفات اشرفيه ملتان.
۱۰۱) درس بخارى: شيخ الإسلام شبيرأحمد عثمانى رحمه الله (متوفى ۱۳۶۹ھ) (ضبط وترتيب مولانا عبدالوحيد صديقى فتحپورى). مكتبه عارفين پاكستان چوك كراچى،
۱۰۲) الدرالمختار: علامه علاء الدين محمد بن محمد الحصكفى رحمه الله (متوفى ۱۰۸۸ھ) مكتبه رشيديه كوئته
۱۰۳) الدرالمنثور فى التفسير بالماثور: علامه حافظ جلال الدين عبدالرحمن سيوطى رحمه الله (متوفى ۹۱۱ھ) مؤسسة الرسالة،
۱۰۴) ذخائرالمواريث فى الدلالة على مواضع الحديث لعبدالغنى بن إسماعيل بن عبدالغنى النابلسى رحمه الله المتوفى (۱۱۴۳ھ، دار المعرفة بيروت \ دار كتب العلمية بيروت)
۱۰۵) ردالمحتار مع الدرالمختار: علامه محمد أمين بن عمر بن عبدالعزيز عابدين دمشقى شامى رحمه الله (متوفى ۱۲۵۲ھ) مكتبه رشيديه كوئته ايچ ايم سعيد كمپنى كراچى،
۱۰۶) الرسالة: امام محمد بن ادريس شافعى رحمه الله متوفى ۲۰۴ھ مكتبة دار التراث، قاهرة، مطبع دوم ۱۳۹۹ھ ۱۹۷۹م۔
۱۰۷) رسالة شرح تراجم أبواب البخارى رحمه الله (مطبوعه مع صحيح بخارى) حضرت مولانا شاه ولى الله رحمه الله (متوفى ۱۱۷۶ھ) قديمى كتب خانه كراچى،
۱۰۸) الرسالة المستطرفة لبيان مشهور كتب السنة المشرفة: علامه محمد بن جعفر كتانى رحمه الله (متوفى ۱۳۴۵ھ) مير محمد آرام باغ كراچى،
۱۰۹) روائع البيان فى تفسير آيات الأحكام: شيخ محمد على الصابونى حفظه الله مكتبة الغزالى دمشق طبع دوم ۱۳۹۷ھ مطابق ۱۹۷۷م.

١١٠) روح المعانی فی تفسیر القرآن العظیم والسبع المثانی: أبوالفضل شہاب الدین سید محمود آلوسی بغدادی رحمہ اللہ (متوفی ١٢٧٠ھ) مکتبہ إمدادیہ ملتان،
١١١) الروض الأنف: إمام أبوالقاسم عبدالرحمن بن عبداللہ السہیلی رحمہ اللہ (متوفی ٥٨١ھ) مکتبہ فاروقیہ ملتان ١٣٩٧
١١٢) زاد المعاد من ھدی خیر الأنام: حافظ شمس الدین ابوعبداللہ محمد بن ابی بکر المعروف بابن القیم رحمہ اللہ متوفی ٧٥١ھ مؤسسۃ الرسالۃ.
١١٣) زہرالربٰی: (مع سنن النسائی) حافظ جلال الدین عبدالرحمن سیوطی رحمہ اللہ متوفی (٩١١ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی
١١٤) السعایۃ فی کشف مافی شرح الوقایۃ: علامہ عبدالحی لکھنوی رحمہ اللہ (متوفی ١٣٠٤ھ) سہیل اکیڈمی لاہور،
١١٥) سلسلۃ الأحادیث الصحیحۃ: شیخ ناصر الدین الألبانی حفظہ اللہ. المکتب الإسلامی بیروت.
١١٦) سنن إبن ماجہ: إمام أبوعبداللہ محمد بن یزید بن ماجہ رحمہ اللہ (متوفی ٢٧٣ھ). قدیمی کتب خانہ / دار الکتب المصری قاہرہ.
١١٧) سنن ابی داوٗد: إمام أبوداوٗد سلیمان بن الأشعث السجستانی رحمہ اللہ (متوفی ٢٧٥ھ) ایچ ایم سعید کمپنی کراچی / دار إحیاء السنۃ النبویۃ،
١١٨) سنن دارقطنی: حافظ أبوالحسن علی بن عمر دارقطنی رحمہ اللہ (متوفی ٣٨٥ھ) دار نشر الکتب الإسلامیۃ لاہور
١١٩) سنن دارمی (مسند دارمی): إمام أبومحمد عبداللہ بن عبدالرحمن دارمی رحمہ اللہ (٢٥٥ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی
١٢٠) السنن الصغری للنسائی: إمام أبوعبدالرحمن أحمد بن شعیب النسائی رحمہ اللہ (٣٠٣ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،
١٢١) السنن الکبری للنسائی: إمام أبوعبدالرحمن أحمد بن شعیب النسائی رحمہ اللہ (٣٠٣ھ) نشر السنۃ ملتان)
١٢٢) السنن الکبری للبیہقی: إمام حافظ أبوبکر أحمد بن الحسین بن علی البیہقی رحمہ اللہ (متوفی ٤٥٨ھ) نشر السنۃ ملتان،
١٢٣) سیر أعلام النبلاء: حافظ أبوعبداللہ شمس الدین محمد بن أحمد بن عثمان ذہبی رحمہ اللہ (متوفی ٧٤٨ھ) مؤسسۃ الرسالۃ،
١٢٤) السیرۃ الحلبیۃ (إنسان العیون فی سیرۃ الأمین المأمون): علامہ علی بن برہان الدین الحلبی رحمہ اللہ (متوفی ١٠٤٤ھ) المکتبۃ الإسلامیہ بیروت،
١٢٥) السیرۃ النبویۃ لإبن ہشام (مع الروض الأنف) إمام أبوعبدالملک بن ہشام المعافری المصری رحمہ اللہ (متوفی ٢١٣ھ) مکتبہ فاروقیہ ملتان،
١٢٦) سیرت النبی ﷺ: علامہ شبلی نعمانی رحمہ اللہ (متوفی ١٣٣٢ھ) و مولانا سید سلیمان ندوی (متوفی ١٩٥٣م) دار الإشاعت کراچی،

۱۲۷) شذرات الذهب فی اخبار من ذهب: علامہ عبدالحی بن احمد بن محمد بن العماد العکری الحنبلی رحمۃ اللہ علیہ متوفی ۱۰۸۹ھ دار الآفاق الجدیدۃ بیروت۔

۱۲۸) بیان المختصر شرح مختصر المنتہی لابن الحاجب: ابوالثناء شمس الدین محمود بن عبدالرحمن الأصفهانی رحمۃ اللہ علیہ متوفی ۷۴۹ھ جامعۃ أم القری مکہ مکرمہ۔

۱۲۹) شرح الرضی علی الکافیۃ: (الوافیۃ شرح الکافیۃ) محمد بن الحسن الرضی الإستراباذی متوفی تقریباً ۶۸۶ھ

۱۳۰) شرح الزرقانی علی الموطاء للشیخ محمد بن عبدالباقی بن یوسف الزرقانی المصری رحمۃ اللہ علیہ المتوفی ۱۱۲۲ھ دار الفکر بیروت)

۱۳۱) شرح الطیبی: (الکاشف عن حقائق السنن) إمام شرف الدین حسین بن محمد بن عبداللہ الطیبی رحمۃ اللہ علیہ (متوفی ۷۴۳ھ) إدارۃ القرآن کراچی۔

۱۳۲) شرح العقائد النسفیۃ (مع النبراس) للعلامۃ سعد الدین مسعود بن عمر التفتازانی رحمۃ اللہ علیہ المتوفی ۷۹۳ مکتبہ حبیبیہ کوئٹہ

۱۳۳) شرح الفقہ الأکبر: علامہ نور الدین علی بن سلطان القاری رحمۃ اللہ علیہ متوفی ۱۰۱۴ھ دار الکتب العلمیۃ / قدیمی کتب خانہ کراچی۔

۱۳۴) شرح الکرمانی (الکواکب الدراری) للعلامۃ شمس الدین محمد بن یوسف الکرمانی رحمۃ اللہ علیہ المتوفی (۷۸۶ھ) دار إحیاء التراث العربی)

۱۳۵) شرح الکوکب المنیر

۱۳۶) شرح مشکل الآثار للإمام أبی جعفر أحمد بن محمد بن سلامۃ الطحاوی رحمۃ اللہ علیہ المتوفی ۳۲۱ھ مؤسسۃ الرسالۃ ۱۴۱۵ھ ۱۹۹۴م

۱۳۷) شرح النووی علی صحیح مسلم (مطبوعہ مع صحیح مسلم) إمام أبوزکریا یحیی بن شرف النووی رحمۃ اللہ علیہ (۶۷۶ھ)۔ قدیمی کتب خانہ کراچی،

۱۳۸) شعب الإیمان: إمام حافظ احمد بن الحسین بن علی البیہقی رحمۃ اللہ علیہ (متوفی ۴۵۸ھ)۔ دار الکتب العلمیۃ بیروت، ۱۴۱۰ھ

۱۳۹) الصارم المسلول: شیخ الإسلام تقی الدین ابوالعباس احمد بن عبدالحلیم المعروف بابن تیمیۃ رحمۃ اللہ علیہ متوفی (۷۲۸ھ)

۱۴۰) صحیح بخاری شریف: إمام أبوعبداللہ محمد بن إسماعیل البخاری رحمۃ اللہ علیہ (متوفی ۲۵۶ھ) قدیمی کتب خانہ کراچی،

١٣١) صحيح مسلم (مع شرح نووى) إمام أبو الحسين مسلم بن الحجاج القشيرى رحمه الله (متوفى ٢٦١ھ) قديمى كتب خانه كراچى

١٣٢) صفوة الصفوة: امام جمال الدين ابو الفرج عبد الرحمن بن على المعروف بابن الجوزى رحمه الله متوفى ٥٩٧ھ دار الوعى بحلب.

١٣٣) الصواعق المحرقة: علامه شهاب الدين احمد بن محمد بن على بن حجر الهيتمى المكى متوفى ٩٧٤ھ

١٣٤) طبقات الشافعية الكبرى: علامه تاج الدين أبو نصر عبد الوهاب بن تقى الدين على بن عبد الكافى (متوفى ٧٧١ھ). دار المعرفة بيروت،

١٣٥) طبقات الكبرى: إمام أبو عبد الله محمد بن سعد رحمه الله (متوفى ٢٣٠ھ) دار صادر بيروت

١٣٦) عارضة الأحوذى للإمام أبى بكر محمد بن عبد الله المعروف بابن العربى رحمه الله ٥٤٣ھ المطبعة المصرية بالأزهر

١٣٧) عقائد الإسلام: مولانا محمد ادريس كاندهلوى رحمه الله متوفى ١٣٩٤ھ

١٣٨) العقيدة السفارينية (لوائح الأنوار السنية ولواقح الأفكار السنية شرح قصيدة ابن أبى داود الحائية) شيخ محمد بن احمد السفارينى۔ طبعة الشيخ على آل ثانى حاكم قطر.

١٣٩) العلل المتناهية: امام جمال الدين ابو الفرج عبد الرحمن بن على المعروف بابن الجوزى رحمه الله متوفى ٥٩٧ھ دار كتب العلمية.

١٥٠) عمدة القارى شرح صحيح البخارى: إمام بدر الدين أبو محمد محمود بن أحمد العينى رحمه الله (متوفى ٨٥٥ ھ). إدارة الطباعة المنيرية،

١٥١) العناية شرح الهداية (بهامش فتح القدير) علامه اكمل الدين محمد بن محمود البابرتى رحمه الله (متوفى ٧٨٦ھ) مكتبه رشيديه كوئٹه،

١٥٢) عورت كى حكمرانى اور حضرت ابوبكرة كى روايت. خورشيد عالم مكتبه دانشوران لاهور

١٥٣) فتاوى رضويه: مولوى احمد رضا خان بريلوى متوفى ١٣٤٠ھ

١٥٤) فتح البارى شرح صحيح البخارى: حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله (متوفى ٨٥٢ھ). دار الفكر بيروت،

١٥٥) فتح القدير: إمام كمال الدين محمد بن عبد الواحد المعروف بابن الهمام رحمه الله (متوفى ٨٦١ھ) مكتبه رشيديه كوئٹه،

١٥٦) فتح الملهم بشرح صحيح مسلم: شيخ الإسلام علامه شبير احمد عثمانى رحمه الله (متوفى ١٣٦٩ ھ). مكتبة الحجاز حيدرى كراچى\ مكتبة دار العلوم كراچى

١٥٧) الفتوحات الربانية شرح الأذكار النواوية: شيخ محمد بن علان صديقى رحمه الله (متوفى ١٠٥٧ھ). المكتبة الإسلاميه

۱۵۸) فضل الباری شرح أردو صحیح البخاری: شیخ الإسلام علامہ شبیر احمد عثمانی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۶۹ھ)۔: ادارۂ علوم شرعیہ کراچی،

۱۵۹) الفوائد البہیۃ فی تراجم الحنفیۃ: علامہ أبو الحسنات عبد الحی لکھنوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۰۴ھ)۔ خیر کثیر آرام باغ کراچی،

۱۶۰) الفہرست: ابو الفرج محمد بن اسحاق الوراق المعروف بابن الندیم البغدادی رحمہ اللہ متوفی ۳۸۵ھ نور محمد کراچی۔

۱۶۱) فیض الباری: إمام العصر علامہ أنور شاہ کشمیری رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۵۲ھ)۔ ربانی بک دیو دھلی،

۱۶۲) فیض القدیر شرح الجامع الصغیر: شیخ عبد الرؤف المناوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۰۳۱ھ)۔ دار المعرفۃ بیروت

۱۶۳) قصص القرآن: مولانا حفظ الرحمن سیوھاروی رحمہ اللہ متوفی ۱۳۸۲ھ مطابق ۱۹۶۲م دار الاشاعت کراچی۔

۱۶۴) الکاشف: للإمام شمس الدین أبو عبد اللہ محمد بن أحمد بن عثمان الذہبی رحمہ اللہ المتوفی ۷۴۸ھ شرکۃ دار القبلۃ \ موسسۃ علوم القرآن الطبعۃ الأولی ۱۹۹۲م، ۱۴۱۳ھ)

۱۶۵) الکاشف عن حقائق السنن (شرح طیبی) إمام شرف الدین حسین بن محمد بن عبد اللہ الطیبی رحمہ اللہ (متوفی ۷۴۳ھ) إدارۃ القران کراچی۔

۱۶۶) الکامل فی ضعفاء الرجال: إمام أبو احمد عبد اللہ بن عدی جرجانی رحمہ اللہ (متوفی ۳۶۵ھ) دار الفکر بیروت،

۱۶۷) کتاب الأم: امام محمد بن ادریس الشافعی رحمہ اللہ متوفی ۲۰۴ھ دار المعرفۃ بیروت ۱۳۹۳ھ ۱۹۷۳

۱۶۸) کتاب الأسماء والصفات للإمام حافظ أبی بکر أحمد بن الحسین البیہقی رحمہ اللہ المتوفی ۴۵۸ھ مطبعۃ السعادۃ، مصر)

۱۶۹) کتاب الکنی والأسماء: امام حافظ ابو بشر محمد بن الحسین البیہقی رحمہ اللہ متوفی ۴۵۷ھ مطبعۃ السعادۃ اثریۃ —فوتوحید ر آباد دکن۔

۱۷۰) کتاب الضعفاء الکبیر: أبو جعفر محمد بن عمرو بن موسی بن حماد العقیلی (۱۷۲) المکی رحمہ اللہ (متوفی ھ)۔ دار الکتب العلمیہ بیروت،

۱۷۱) کتاب العلل الصغیر: إمام أبو عیسی محمد بن عیسی بن سورۃ الترمذی رحمہ اللہ (متوفی ۲۷۹ھ)۔ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی،

۱۷۲) کشاف إصطلاحات الفنون: علامہ محمد أعلی تھانوی رحمہ اللہ (متوفی ۱۱۹۱ھ) سہیل اکیڈمی لاھور،

۱۷۳) الکشاف عن حقائق غوامض التنزیل وعیون الأقاویل (تفسیر کشاف): جار اللہ ابو القاسم محمود بن عمر الزمخشری (متوفی ۵۳۸ھ)۔ دار الکتاب العربی بیروت،

۱۷۳) كشف الأستار عن زوائد البزار: إمام نور الدين على بن أبى بكر الهيثمى رحمه الله (متوفى ۸۰۷ ھ)۔ مؤسسة الرسالة طبع اول ۱۴۰۵ھ،

۱۷۵) كشف الأسرار شرح أصول البزدوى: علامه عبد العزيز بن احمد بن محمد البخارى رحمه الله (متوفى ۷۳۰ ھ)۔ الصدف پبلشرز كراچی،

۱۷۶) كشف البارى شيخ الحديث حضرت مولانا سليم الله خان مد ظلهم العالى مكتبة فاروقية كراچی۔

۱۷۷) كشف الخفاء ومزيل الإلباس شيخ إسماعيل بن محمد العجلونى رحمه الله المتوفى ۱۱۶۲ھ دار إحياء التراث العربى بيروت)

۱۷۸) كشف الظنون عن أسامى الكتب والفنون: ملا كاتب چلپى مصطفى بن عبد الله المعروف به حاجى خليفه رحمه الله (متوفى ۱۰۶۷ھ)۔ مكتبة المثنى بغداد، آفست فوتو استنبول

۱۷۹) الكلمة العليا—مولوى احمد رضا خان بريلوى متوفى ۱۳۴۰ھ

۱۸۰) كنز الدقائق (مع البحر الرائق) عبد الله بن احمد بن محمود النسفى رحمه الله متوفى ۷۱۰ھ مكتبه رشيديه كوئٹه

۱۸۱) كنز العمال فى سنن الأقوال والأفعال: علامه علاء الدين على متقى بن حسام الدين هندى برهان پورى رحمه الله (متوفى ۹۷۵ھ)۔ مكتبة التراث الإسلامى حلب،

۱۸۲) الكواكب الدرارى (شرح الكرمانى): علامه شمس الدين محمد بن يوسف بن على الكرمانى رحمه الله (متوفى ۷۸۶ ھ) دار إحياء التراث العربى

۱۸۳) لامع الدرارى: إمام ربانى حضرت مولانا رشيد أحمد گنگوهى رحمه الله (متوفى ۱۳۲۳ھ)۔ مكتبه إمداديه مكه مكرمه

۱۸۴) لسان العرب للعلامة أبى الفضل جمال الدين محمد بن مكرم ابن منظور الإفريقى المصرى رحمه الله المتوفى ۷۱۱ھ نشر أدب الحوزة قم إيران ۱۴۰۵ھ)

۱۸۵) لسان الميزان: حافظ ابن حجر عسقلانى رحمه الله (متوفى ۸۵۲ھ)۔ مؤسسة الأعلمى بيروت،

۱۸۶) موطا مالك بن انس المتوفى ۱۷۹ھ دار إحياء التراث العربى

۱۸۷) المتوارى على تراجم أبواب البخارى للعلامة ناصر الدين أحمد بن محمد المعروف بابن المنير الإسكندرانى رحمه الله المتوفى ۶۸۳ھ، مظهرى كتب خانه كراچی)

۱۸۸) مجمع بحار الأنوار فى غرائب التنزيل ولطائف الأخبار: محدث محمد طاهر پتنى رحمه الله (متوفى ۹۸۶ھ) دائرة المعارف العثمانيه حيدر آباد ۱۳۹۵ھ

۱۸۹) مجمع الزوائد ومنبع الفوائد: إمام نور الدين على بن أبى بكر الهيثمى رحمه الله (متوفى ۸۰۷ ھ)۔ دار الفكر بيروت،

۱۹۰) مجموع فتاوی شیخ الإسلام ابن تیمیة: حافظ تقی الدین أبو العباس احمد بن عبد الحلیم حرآنی رحمه الله (متوفی ۷۲۸ھ)، طبعة الملك فهد،

۱۹۱) المحلی للعلامة أبی محمد علی بن أحمد بن سعید بن حزم رحمه الله المتوفی ۴۵۶ھ المکتب التجاری بیروت \دار الکتب العلمیة بیروت)_

۱۹۲) مختار الصحاح: إمام محمد بن أبی بکر بن عبد القادر الرازی رحمه الله (متوفی ۶۶۶ھ)، نہ روستو، دار المعارف مصر،

۱۹۳) مختصر المنتهی (مع بیان المختصر للأصفهانی) جمال الدین ابو عمرو عثمان بن عمر المعروف بابن الحاجب رحمه الله متوفی ۶۴۶ھ جامعة أم القری مکه مکرمه

۱۹۴) مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح: علامه نور الدین علی بن سلطان القاری رحمه الله (متوفی ۱۰۱۴ھ). مکتبه امدادیه ملتان،

۱۹۵) المستدرك علی الصحیحین: حافظ أبو عبد الله محمد بن عبد الله حاکم نیشاپوری (متوفی ۴۰۵ھ) دار الفکر بیروت

۱۹۶) المستصفی: امام محمد بن محمد الغزالی رحمه الله متوفی ۵۰۵ھ المکتبة الکبری بمصر.

۱۹۷) مسند أبی داود الطیالسی للحافظ سلیمان بن داود بن الجارود المعروف بابن أبی داود الطیالسی رحمه الله المتوفی ۲۰۴ھ دار المعرفة بیروت)

۱۹۸) مسند أحمد: إمام أحمد بن حنبل رحمه الله (متوفی ۲۴۱ھ) المکتب الإسلامی/دار صادر بیروت،

۱۹۹) مسند الإمام الأعظم: امام أعظم ابو حنیفة نعمان بن ثابت رحمه الله متوفی ۱۵۰ھ روایة المحدث صدر الدین موسی بن زکریا الحصکفی رحمه الله متوفی ۶۵۰ھ للشیخ محمد عابد السندی رحمه الله متوفی ۱۲۵۷ھ نور محمد أصح المطابع کراچی.

۲۰۰) مسند الحمیدی: إمام أبو بکر عبد الله الزبیری الحمیدی رحمه الله (متوفی ۲۱۹ھ) المکتبة السلفیة مدینه منورة

۲۰۱) مشکوة المصابیح: شیخ أبو عبد الله ولی الدین خطیب محمد بن عبد الله رحمه الله (متوفی ۷۴۰ھ) نہ روستو، قدیمی کتب خانه کراچی،

۲۰۲) مصنف ابن أبی شیبة للحافظ عبد الله بن محمد بن أبی شیبة المعروف بأبی بکر ابن أبی شیبة رحمه الله المتوفی ۲۳۵ھ الدار السلفیة بمبئ الهند الطبعة الثانیة ۱۳۹۹ھ ۱۹۷۹م،

۲۰۳) المصنف لعبد الرزاق: إمام عبد الرزاق بن همام بن نافع الصنعانی رحمه الله (متوفی ۲۱۱ھ) مجلس علمی،

۲۰۴) معارف القرآن: مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمه الله (متوفی ۱۳۹۶ھ) ادارة المعارف کراچی

۳۰۵ معالم التنزيل (او کوری تفسیر بغوی)

۳۰۶ معالم السنن للإمام أبي سليمان أحمد بن محمد الخطابي رحمه الله المتوفى ۳۸۸ھ مطبعة أنصار السنة المحمدية ۱۳۶۷ھ، ۱۹۴۸م)

۳۰۷ معجم البلدان: علامہ أبوعبداللہ یاقوت حموی رومی رحمہ اللہ (متوفی ۶۲۶ھ). دار إحیاء التراث العربی بیروت

۳۰۸ المعجم الکبیر: امام سلیمان بن احمد بن ایوب الطبرانی رحمہ اللہ متوفی ۳۶۰ھ دار إحیاء التراث العربی

۳۰۹ معجم مقاییس اللغة: امام احمد بن فارس بن زکریا قزوینی رازی رحمہ اللہ متوفی ۳۹۵ھ دار الفکر.

۳۱۰ معجم النحو: عبدالغنی الدقر — مطبعة محمد ھاشم الکتبی ۱۳۹۵ھ ۱۹۷۵ء

۳۱۱ المغنی للإمام موفق الدین أبو محمد عبداللہ بن أحمد بن قدامة رحمہ اللہ المتوفی ۶۲۰ھ دار الفکر بیروت)

۳۱۲ المغنی فی ضبط أسماء الرجال ومعرفة کنی الرواة وألقابهم وأنسابهم للعلامة المحدث الشیخ محمد طاهر بن علی الفتنی الهندی رحمہ اللہ المتوفی ۹۸۶ھ، دار نشر الکتب الإسلامیة لاهور)

۳۱۳ المفردات فی غریب القرآن: علامہ حسین بن محمد بن الفضل الملقب بالراغب الأصفهانی رحمہ اللہ (متوفی ۵۰۲ھ). نور محمد آرام باغ کراچی

۳۱۴ مقدمة ابن الصلاح (علوم الحدیث) لحافظ تقی الدین أبوعمرو عثمان بن عبدالرحمن المعروف بابن الصلاح رحمہ اللہ المتوفی ۶۴۳ھ، دار الکتب العلمیة بیروت

۳۱۵ مقدمة فتح الباری (او کوری هدی الساری)

۳۱۶ مقدمہ فتح الملهم (مع فتح الملهم): شیخ الإسلام شبیر أحمد عثمانی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۶۹ھ). مکتبہ دار العلوم کراچی،

۳۱۷ مقدمہ لامع الدراری: شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا صاحب رحمہ اللہ (متوفی ۱۴۰۲ھ). مکتبہ إمدادیہ مکہ مکرمہ،

۳۱۸ مکاتیب رشیدیہ (مجموعہ مکتوبات إمام ربانی مولانا رشید أحمد گنگوهی رحمہ اللہ جمع کردہ حضرت مولانا عاشق الهی میرٹھی رحمہ اللہ (متوفی ۱۳۶۰ھ). مکتبہ مدینہ لاهور

۳۱۹ ملفوظات (احمد رضا خان) مولوی احمد رضا خان بریلوی متوفی ۱۳۴۰ھ.

۳۲۰ موارد الظمآن — امام نور الدین علی بن ابی بکر الهیثمی رحمہ اللہ متوفی ۸۰۷ھ دار الکتب العلمیة، بیروت

۳۲۱ موضح القرآن — حضرت مولانا عبدالقادر صاحب رحمہ اللہ متوفی ۱۲۳۰ھ .

۳۲۲ میزان الإعتدال فی نقد الرجال: حافظ شمس الدین أبوعبداللہ محمد بن احمد بن عثمان، ذهبی رحمہ اللہ (متوفی ۷۴۸ھ) دار إحیاء الکتب العربیة مصر ۱۳۸۲ھ،

۳۲۳) انبراس شرح شرح العقائد: علامہ عبدالعزیز بن احمد رحمہ اللہ (متوفی۱۲۳۹ھ نہ روستی) مکتبہ حبیبیہ کوئٹہ/مکتبہ إمدادیہ ملتان،

۳۲۴) نزهة النظر فی توضیح نخبة الفکر حافظ ابن حجر العسقلانی المتوفی ۸۵۲ھ الرحیم اکیڈمی

۳۲۵) نصب الرایة فی تخریج أحادیث الهدایة: إمام حافظ أبو محمد جمال الدین عبداللہ بن یوسف زیلعی رحمہ اللہ (متوفی۷۶۲ھ).مجلس علمی دابھیل ۱۳۵۷ھ

۳۲۶) النهایة فی غریب الحدیث والأثر: علامہ مجدالدین أبوالسعادات المبارك بن محمد بن الأثیر رحمہ اللہ (متوفی۶۰۶).دار إحیاء التراث العربی بیروت،

۳۲۷) نورالأنوار شیخ احمد بن ابی سعید بن عبیداللہ ،المعروف بملاجیون ، رحمہ اللہ متوفی ۱۱۳۰ھ ایچ ایم سعید کمپنی کراچی.

۳۲۸) نیل الأوطار: شیخ محمد بن علی الشوکانی رحمہ اللہ متوفی ۱۲۵۰ھ شرکة مکتبة ومطبعة مصطفی البابی مصر.

۳۲۹) نیل المراد فی السفر إلی گنج مراد آباد حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمہ اللہ متوفی ۱۳۶۲ھ مجلس نشریات اسلام.

۳۳۰) الوابل الصیب و رافع الکلم الطیب: شمس الدین ابوعبداللہ محمد بن ابی بکر المعروف بابن القیم رحمہ اللہ متوفی ۷۵۱ھ رئاسة ادارات البحوث العلمیة والإفتاء والدعوة والإرشاد المملکة العربیة السعودیة

۳۳۱) وفیات الأعیان وأنباء أبناء الزمان: قاضی شمس الدین أبوالعباس احمد بن محمد المعروف بابن خلکان رحمہ اللہ (متوفی۶۸۱ھ) دار صادر بیروت،

۳۳۲) الهدایة للعلامة برهان الدین أبوالحسن علی بن أبی بکر المرغینانی رحمہ اللہ المتوفی ۵۹۶ھ کتب خانہ رشیدیہ دهلی\إدارة القرآن کراتشی

۳۳۳) هدی الساری (مقدمہ فتح الباری). حافظ إبن حجر عسقلانی رحمہ اللہ (متوفی۸۵۲ھ) دار الفکر بیروت،

۳۳۴) هدیة العارفین أسماء المؤلفین وآثار المصنفین: إسماعیل باشا رحمہ اللہ (متوفی۱۳۳۹ ھ) مکتبہ المثنی بغداد آفست فوتواستنبول ۱۹۵۱ء،

۳۳۵) همع الهوامع للعلامة جلال الدین، عبدالرحمن بن أبی بکر السیوطی رحمہ اللہ المتوفی ۹۱۱ھ منشورات الرضی ،قم إیران)

۞۞۞